بسم الله الرحمن الرحیم

من يرد الله به خيرا يفقهه في الدين (الحديث)

الحق الصريح

پښتو شرح

مشكوة المصابيح

تالیف:

فضيلة الشيخ ابو محمد امين الله البشاوري حفظه الله

جمع و ترتيب: ابو زهير سيف الله غفر له

٥

مکتبه محمدیه

بیرون ګنج ګیټ منګل مارکیټ پیښور

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

من یرد اللہ بہ خیرا یفقهه فی الدین (الحدیث)

الحق الصریح

پښتو شرح

مشكوة المصابيح

تالیف:

فضیلة الشیخ ابو محمد امین اللہ البشاوری حفظہ اللہ

جمع وترتیب ابو زهیر سیف اللہ غفرلہ

۵

په دے جلد کښے د درے سوه اولس 317 / ۳۱۷ احادیثو تشریح کړے شوے ده

مكتبہ محمدیہ

بیرون گنج گیټ
منګل مارکیټ
پېښور

د کتاب نوم	الحق الصریح شرح مشکاة المصابیح پښتو
د مؤلف نوم	الشیخ العلامه ابو محمد امین الله البشاوری حفظه الله
جَمعه وترتیب	ابو زهیر سیف الله
تعداد	(۱۱۰۰) عدد
سنه طباعت	جمادی الثانیة / ۱٤۳۰ هـ موافق ۲۰۰۹/٦/۷ء
فن	الحدیث
اخراج	ابو سلمان حضرت محمد عفا الله عنه
ناشر	مکتبه محمدیه گنج پېښور

دریم ځل طباعت ۱٤۲۳ھ ۲۰۱۱ء

مکتبهٔ مُحمّدیه

بیرون گنج گیټ پهندو روډ منګل مارکیټ پېښور

زیر انتظام: ولی الله

موبائل نمبر: 03018828402

بسم الله الرحمن الرحيم

باب الجماعة وفضلها

جماعت او دَ هغې دَ فضيلت بيان

د جماعت نه مراد احکام او آداب دي او د فضيلت نه مراد زياتي ثواب دے۔

مناسبت: مخکښې کيفيت د مانځه بيان شو، اُوس وائي چه دا مونځ به د جماعت سره کوے۔

د جماعت مقصد: د جِمعے سره مونځ کولو کښې څه مقصد دے؟ نو ددے يو څو مقاصد دي ۱– يو دا چه د مسلمانانو د يو بل سره محبت او مينه پيدا شي۔ ۲– او د يو بل تپوس پوښتنه اُوکړي، د هغوی د حال نه خان خبر کړي، که جماعت نهٔ وي نو د يو بل نه به ډيره موده کښې خبريدل نه کيدے لکه ددے ښار خلقو ته اُوګوره، څوك د يو بل د حال نه ډيره موده کښې نه خبرېږي ځکه چه عام خلق مونځونو له نهٔ راځي۔

۳– دريم پدے کښې اِشاره ده اتفاق ته۔ ددے وجه نه شريعت يو څو جماعتونه مقرر کړيدي دپاره د اتفاق د مسلمانانو او اظهار د وحدت۔ ۱– يو جماعة عظيمه دے دا په حج کښې وي چه د تولے دنيا مسلمانان هغے ته راجمع کيږي۔ ۲– دويم ددے نه لږه وړه جَمعَه ده دا په يو کال کښې راځي چه د اختر په ورځ عيدګاه ته د لرے کلو خلق راجمع کيږي، ليکن مصيبت دا دے چه نن صبا خلق خپلو جماعتونو کښې مونځونه کوي، يو عيد ګاه ته نهٔ راجمع کيږي د اَختر د مانځه فائده ئے د دنيا پرستئ د وجه نه ضائع کړيده۔ ۳– او دريمه جَمعه په هفته کښې د جُمعے په ورځ وي، پدے کښې د نزدے علاقو خلق راجمع کيږي۔

٤– او څلورمه جَمعه هر مانځه ته راجمع کيدل دي۔ او پدے کښې د يوے علاقے خلق راجمع کيږي۔ او پدے ټولو کښې غرض د مسلمانانو د کلمے يو والی ته اِشاره ده۔

امام ولی الله الدهلویؒ په حجة الله (۲/ ۱۹) کښې د جماعت ډير مزيدار حکمتونه او فائدے بيان کړيدي، چه بعض دا دي: "په اِسلام کښې هر قسم خلق وي، جاهل هم وي او عالم هم، لهذا دا ډير د مصلحت خبره ده چه ټول خلق په جَمع د يو بل مخے ته دا عبادت ادا

كړي چه كه د چا نه كومه غلطي سرزد شي نو بل به ئے ورته اُوښائي گويا كه د الله عبادت يو زيور شو چه څوك ديته گوري نو كومه خرابي چه پدے كښې وي هغه به بيانوي او چه كومه عمدگي وي هغه به پسند كوي، نو دا جماعت د مانځه د تكميل دپاره يوه ښه ذريعه شوه"۔

٢– كوم خلق چه بے نمازه وي د هغوي به هم ددے نه حال كولاؤ شي او د هغوي د وعظ او نصيحت موقع به ملاوېږي"۔ ٣– "څو مسلمانان چه په يو ځائے د الله عبادت كوي او د هغه نه دعا غواړي دا د الله د رحمت د نزول او قبوليت دپاره يو عجيب خاصيت لري"۔

٤– "ددے اُمت دپاره الله دا غواړي چه د دوي كلمه بلنده شي او كلمه د كفر خكته شي او په مخ د زمكه باندے هيڅ مذهب په اسلام غالب رانشي او دا خبره هله كيدے شي چه دا طريقه مقرر كړے شي چه تمام مسلمانان برابره ده كه د هرے درجے او هرے طبقے وي، عام او خاص، مسافر او مقيم، واړه او غټ ټول د خپل يو مشهور عبادت دپاره جمع شي او د اسلام شان وشوكت او د هغه عظمت لره په خپل اجتماعيت سره ظاهر كړي، ددے ټولو مصالحو د وجه نه د شريعت پوره توجه جماعت طرفته مصروف شوه او هغے ته ترغيب وركړے شو او د هغے د پريخودو ممانعت اُوكړے شو"۔ (حجة الله)

د جماعة د مشروعيت تاريخ :

پدے كښې اختلاف دے چه جماعت كله مشروع شويدے؟۔ ابن حجر المكيّ په «تحفة المحتاج في شرح المنهاج» للنوويّ كښې پدے جزم كړيدے چه دا په مدينه كښې مشروع شويدے۔ ٢– قول ثاني دا دے چه اصل مشروعيت ئے په مكه كښې شويدے (كما في روضة المحتاجين للشيخ رضوان العدل وصلاة الجماعة ص (٢٦) للدكتور غانم السدلان) دليل دا دے چه جبريل عليه السلام نبي عليه السلام او صحابه كرامو ته د لَيْلَةُ الإِسْرَاء په صبا مونځ وركړو او نبي عليه السلام خديجه رضى الله عنها او علي ﷺ ته مونځ وركړو۔ صرف دومره وه چه په هغه زمانه كښې په ښكاره طريقه نۀ وو شوے او هميشه والے ئے پرے په مدينه كښې اُوكړو۔ پدے وجه دا وئيلے شي چه دا په مدينه كښې مشروع شويدے۔ يعني اِظهار ئے په مدينه كښې شويدے۔ او صحابه كرامو به په مكه كښې په خپلو كورونو كښې پټ مونځونه كول ځكه د مشركانو تسلط او غلبه وه"۔ انتهىٰ وكذا في المرعاة (٤٧٩/٣)

حكم الجماعة : د جماعة په حكم كښې اختلاف دے : ١– د داود ظاهريّ رأيه دا ده چه جماعت فرضِ عين دے او د صحت د مانځه دپاره شرط دے، او مونځ بغير د جماعت نه

صحيح نهٔ دے لکه د اَوداسه په شان۔ او دا يو روايت د امام اَحمدؒ نه هم نقل دے)۔ او دا ډير سخت حکم دے۔ ٢– قول ثاني دا دے چه دا فرض عين دے، او شرط د صحت د مانځه دپاره نهٔ دے، بلکه که پاتے شوه نو مونځ کيږي ليکن د فرضو په درجه کښې به گناهګار وي (لکه د سُترے نه بغير مونځ کيږي خو فرض درنه پاتے شو) او دا قول د عطاءؒ، اوزاعيؒ او امام احمدؒ او يو جماعت د محدثينو شوافعوؒ لکه ابوثورؒ او ابن خزيمةؒ او ابن المنذرؒ دے۔ (او دا رأيه د امام بخاريؒ هم ده)۔ ٣– د اِمام شافعيؒ رأيه دا ده چه دا فرض کفائي دے او دا د جمهور متقدمين شوافعو رايه هم ده۔ او ډير احناف او مالکيه هم ددے قائل دي۔ (فتح الباري)

٤– احناف وائي : جماعت سنت مؤکد دے يا واجب دے، دوه قوله کوي۔ لکه په هدايه کښې وائي : (عامة مشائخنا على انها واجبة) ـ عام مشائخ وائي دا واجب ده)۔ او کرخيؒ او طحاويؒ وغيره دا راجح کړيده چه دا فرض کفائي دے۔ مګر راجح قول ثاني دے، چه جماعت فرضِ عين دے مګر که عذر شرعي وي نو بيائے ترک جائز دے او هغه اَعذارِ شرعيَه به روستو ذکر شي او پدے کښې جمع د ټولو دلائلو ده۔

ددے قول دلائل ډير دي بعض د هغے نه دا دي :

١ - **دليل** : روستو حديث راځي (بخاري ٨٩/١) ومسلم (٢٣٢/١) : نبي عليه السلام اِراده کړيده چه زهٔ د جماعت نه د پاتے کيدونکو خلقو کورونه سيزم، نو که دا فرض کفائي وے نو کورونه ئے ولے سيزل، او دا کورونه سيزل پدے وجه کيږي چه دهٔ ګناه کبيره کړيده۔

٢ - **دليل** : په حديث د ابو هريرةؓ کښې پدے باندے اَمر راغلے دے (فَأَجِبْ) رُوستو راځي۔ (مُسلم ٢٣٢/١) او اَمر د فرضيت دپاره وي۔ ٣ - **دليل**: څوک چه جماعت ته نهٔ راځي هغه ته منافق وئيلے شويدے، روستو راځي : (وما يتخلف عنها الامنافق معلوم النفاق) (مسلم) او منافقت نه ځان ساتل فرض دي، او د منافقت حکم په ترک د فرضو سره کيږي۔

٤ - **دليل**: د اَذان نه پس چه څوک اُوځي او جماعت پريدي هغه ته د نبي عليه السلام مخالف وئيل شويدے روستو فصل ثالث کښې راځي ابو هريرةؓ اُوفرمايل : (امـا هذا فقد عصى ابا القاسم ﷺ) (دے سړي د ابوالقاسم ﷺ مخالفت اُوکړو)

٥– امام بخاريؒ (٨٩/١) باب تړي باب وجوب الجماعة ـ او په هغے کښې د حسن بصريؒ قول نقل کوي : (ان مَنَعَتْهُ اُمُّه عن العشاء في الجماعة لم يُطِعْهَا) (يعنى که مُور د ماسخُوتن مانځه نه د شفقت په وجه منع کولو نو د هغے تابعداري به نهٔ کوي) او د مُور اِطاعت کول خو فرض دي او فرض پريخودل هله جائز وي چه د هغے نه بل اَهَم فرض مخے ته راشي۔ معلومه شوه چه جماعت ډير اَهَم فرض دے۔ او بيائے دغه حديث د ابو هريرةؓ ذکر کړيدے

چه نبی علیه السلام اِراده د سیزلو کړیده. ٦- روستو حدیث د ابو الدرداءؓ کښ دی: چه که په یو کلي یا بانډه کښ درې کسان وي او جماعت نهٔ کوي نو شیطان به په هغوی باندې ضرور مسلط کیږي (ابوداود ۸۷/۱) او د شیطان د تسلط نه ځان بچ کول فرض دي.

جمهورو چه جماعت ته فرض عین نه دې وئیلې نو هغوی د یو مُجْمَل روایت نه استدلال کوي او هغه دا اَولنې راروان حدیث دې چه د جماعت نه بغیر یو ائې مونځ کښ یو درجه ثواب شته نو که جماعت فرض عین وې نو په ترك سره به ورته بالکل ثواب نهٔ ملاویدې. مګر ددې جواب دا دې چه دا حدیث ددې خبرې دپاره چلولې شویدې چه جماعت شرط نهٔ دې د صحت دمانځه دپاره او بعینهٖ دلیل دې چه جماعت فرض دې ځکه که فرض نهٔ وې نو اووه ویشت درجې ثواب به ئې نه بیانولې او هر چه یو درجه ثواب دې نو د هغې مقصد دا دې چه که یو انسان نه جماعت سره مونځ فوت شي نو هغه ته یو درجه ثواب ملاویږي او بغیر د جماعت نه د هغهٔ مونځ کیږي او دا مقصد نهٔ دې چه انسان به روغ وي او هیڅ شرعي عذر به ئې نه وي، او هغه به جماعت ته نهٔ راځي او وائي به چه زما یوه درجه کافي ده. دا هیچرې د حدیث مقصد نهٔ دې، نو دا حدیث چلولې شویدې د جماعت د فضیلت دپاره، نه ددې دپاره چه آیا جماعت فرض دې او که مستحب؟ لهذا په احادیثو کښ هیڅ تعارض نشته.

نور دلائل نشته مګر د هغه مخکنو دلائلو تاویلات کوي خپل ځائې کښ به راشي. بل دلیل دا وائي چه جماعت ځکه فرض نهٔ دې چه که دا فرض وې نو په معمولي اعذارو سره به ئې پریخودل جائز نه وې چه هغه خوف، مرض وغیره دي چه روستو به راشي. دهغې جواب دا دې چه خبره زمونږ په عام حالت کښ ده چه انسان روغ وي هیڅ عذرئې نه وي او کوم اَعذار چه شریعت ذکر کړیدي نو په هغه وخت کښ بیا جماعت ساقط دې. او دا سِرّ الشرِیعة (د شریعت راز) دې پدې کښ د چا څهٔ کار دې؟

دارنګه وائي: نبی ﷺ وافدینو (د بهر ملکونو نه راغلو میلمنو) ته د مانځه حکم کړیدې او د جماعت حکم ئې نهٔ دې کړې او تاخیر د بیان د وقت د حاجت نه جائز نه دې نو که جماعت فرض وې نو هغوی ته به ئې حکم کړې وې. (نیل الاوطار ۱۵۷/۳)

مګر ددې نه **جواب** دا دې چه د جماعت حکم هغوی ته معلوم وو. علاوه لا دا چه هغوی ته په ډیرو احادیثو کښ په جماعت باندې امر وارد شوې دې لکه حدیث د عمر بن سلمةؓ او حدیث د مالك بن الحویرثؓ شو. (ولیؤمکما اکبرکما).

اسباب ترك الجماعة :

په شريعت كښې د جماعت د پريخودو ډير اَسباب او ځايونه خودلے شوى دى : ۱- د سخت باران په وخت چه په هغې كښې إنسان مسجد ته نشى تلے۔ دليل ئے صحيح بخارى (۱/ ۹۲) مسلم (۱/ ۲٤۳) (الا صلوا فى الرحال) (كورونو كښې مونځونه اُوكړئ) والا روايت دے۔

۲- سخته هواء او سخته يخنى ۔ لكه دغه حديث پرے دليل دے۔ په هغې كښې دا الفاظ دى : (ان ابن عمر اذّن بالصلاة فى ليلة ذاتِ بردٍ وريح ثُمّ قال: اَلَا صَلُّوا فى الرِّحَالِ) ۔(ابن عمرؓ په يخنى او هواء والا شپه كښې اذان د مانځه اُوكړو او "اَلَا صَلوا فى الرحال" ئے پكښې اُووئيل)

۳- يو إنسان ړوند وى او نظر كښې ئے كمے وى نو هغه دپاره كور كښې مونځ كول جواز لرى۔ لكه بخارى (۱/ ۹۲) كښې د عتبان بن مالكؓ قصه ذكر ده چه هغه به خپل قوم ته امامتى كوله او هغه ړوند وو او نبى عليه السلام ته ئے اُوفرمايل : يارسول الله كله تياره وى او سيلابونه راشى او زه ړوند سړے يم نو زمونږ كور كښې په يو مكان كښې مونځ اُوكړه چه بيا زۀ هلته ځانله مونځ كوم نو رسول الله ﷺ ورته راغلو او ورته ئے اُوفرمايل : كوم ځائے غواړے چه مونځ اُوكړم؟ نو هغه د كور يو مكان ته إشاره اُوكړه، رسول الله ﷺ هلته مونځ اُوكړو۔

٤- كله چه خوراك حاضر شى او د إنسان زړۀ هغې ته بے صبره وى۔ (بخارى ۱/ ۹۲)

۵- سخت مرض چه د هغې سره مسجد ته نشى حاضريدے۔ (بخارى ۱/ ۹۱) باب حد المريض ان يشهد الجماعة۔

٦- مدافعة الاخبثين : واړه او غټ بَولو په وخت جماعت پريخودل جواز لرى۔ (مسلم ۱/ ۲۰۸)

۷- د هغه مريض په خدمت كښې لګيا وى چه د هغه خدمت ته ضرورت وى او بل څوك نه وى۔ دليل ئے عام حديث دے (وما العذر يارسول الله ؟ قال خوف او مرض) (ابوداود : ۱/ ۸۸) وابن حبان رقم (۲۰٦٤) ۔ دارنګه بخارى (۱/ ۹۱) راوړيدى چه عباس، على او اُسامه رضى الله عنهم د رسول الله ﷺ په خدمت كښې لګيا وو او جُمعے ته نۀ وو تلى۔

۸- خوف وى برابره ده كه په نفس وى يا په مال وى او برابره ده كه د دشمن نه وى او كه د سيلاب او درنده نه وى۔ ۹- بدبويه شے خوړلو نه پس مسجد ته نۀ تلل۔ اګركه پدے كار ګناهګار دے۔ چه مسجد ته د تلو وخت كښې ئے خورى۔

۱۰- امام مونځ دومره اُوګد كړى چه مقتديانو ته تكليف اُورسى نو مقتديانو له جماعت پريخودل جواز لرى۔ لكه يو سړے د معاذ بن جبلؓ د جماعت نه روستو پاتے كيدو

ځکه چه معاذ به مونځ ډیر اُوگد کولو۔

١١- یو مسلمان سره نورو مسلمانانو تعزیراً خبرے بندے کړی وی ځکه هغه یو نافرمانی کړی وی نو هغه له جماعت ته نهٔ راتلل جواز لری لکه دا کار هلال بن امیهؓ او مُرَارَهٔ بن ربیعؓ کړیدے کله چه د غزوهٔ تبوك نه پاتے شوی وو۔

١٢- یا اِمام مبتدع وی په بدعتِ مکفره سره۔

١٣- یا اِمام قصداً اَرکان د مانځه خراب کوی چه مقتدی د هغه سره دا طاقت نه لری چه په خشوع سره هغه اَرکان اَداء کړی۔

١٤- امام د اَوقاتِ مستحبه ؤ نه مونځ مؤخر کوی نو مقتدی له جائز دی چه یواځے مونځ اُوکړی بیا ئے که د هغه سره مونځ اُوموندلو نو ورسره کوی به ئے۔ او که موقعه ورته ملاؤ نشوه نو جماعت ترے ساقط دے۔ لکه دا خبره مخکښ په باب المواقیت کښ تیره شویده۔ ١٥- جیل ته انسان واچولے شو۔

١٦- زیات چاق انسان وی چه مزل نشي کولے۔ حدیث د عتبان بن مالكؓ پرے دلیل دے۔

١٧- دواړه خپے یا یوه خپه او لاس ئے پریکړے شوے وی چه د مزل طاقت نه لری مگر که مصنوعی خپه ئے جوړه کړی وی نو ځی به۔

١٨- یا فالج وهلے وی۔ ١٩- یو انسان د قرضوړی نه یریږی۔ لکه معاذ باندے قرض وو هغه دوه ورځے مانځه له رانغلو۔

٢٠- د مړی خخولو ته انسان حاضر شی او هلته د مانځه وخت شی نو د هغه نه جماعت ساقط دے۔ راجع فتاوی الدین الخالص (١٦٢/٥) بالتفصیل۔ نور عذرونه روستو راځی۔

الفصل الاول

١- عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ، قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «صَلٰوةُ الْجَمَاعَةِ تَفْضُلُ صَلَاةَ الْفَذِّ بِسَبْعٍ وَّعِشْرِيْنَ دَرَجَةً» . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ابن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اُوفرمایل: د جَمعے سره مونځ د یواځے مانځهٔ نه (په ثواب کښ) اُوه ویشت (٢٧) درجے زیاتیږی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح: صَلٰوةُ الْجَمَاعَةِ نه مراد د اِنسان مونځ دے د جماعت سره یعنی د یوتن مونځ چه د جَمعے سره اُوشی نو دا د اُووه ویشت درجے نه زیات دے د مونځ د یو تن نه چه یواځے ئے اُوکړی۔

اَلْفَذِّ : په معنیٰ د فرد یعنی منفرد سره یعنی یواځے مونځ کونکے۔

سوال : په بل روایت د بخاریؒ کښې پنځه ویشت درجې ثواب خودلے شویدے او دلته اُووه ویشت درجے نو ددے اِختلاف تطبیق څه دے؟ نو علماؤ ددے مختلف توجیهات ذکر کړیدی ۱- یو **جواب** : دا چه د پنځه ویشت درجې ثواب والا روایت راجح دے ځکه د هغے راویان زیات دی نو دا په درجه د محفوظ کښې شو او اُوه ویشت درجے ثواب صرف په دے یو حدیث کښې راغلے دے نو دا په درجه د شاذ کښې شو۔ لکه دے خبرے ته د امام ترمذیؒ کلام اِشاره کوی۔ لیکن دا خبره ضعیفه ده، وجه دا ده چه دواړو روایتونه بالکل صحیح دی، او دا زیادت د ثقه راوی دے او دا مقبول وی نو د شذوذ خبره کول بے ځایه دی ځکه چه شذوذ کښې مخالفت وی او دلته مخالفت نشته۔

۲- **دویم جواب** دا دے چه دا اختلاف د وحی دے اول (۲۵) درجے او بیا (۲۷) درجے ثواب شو، د الله رحم زیات شو او داسے په اَحادیثو کښې ډیر کیږی لکه دے اُمت سره الله دا کار ډیر کرت کړیدے چه اول کښې ئے یوه حصه جنتیان کړل بیا وحی اُوشوه نو نیمائی بیا دوه حصے شو۔نو قلیل نفی د کثیر نهٔ کوی۔ اقل داخل دی په اکثر کښې۔ دا هم ښهٔ جواب دے علامه شوکانیؒ راجح کړیدے۔ (نیل الاوطار ۱۵٦/۳)۔

۳- دریم دا چه دا فرق د هغه چا دپاره دے چه عظیم جماعت کښې حاضر شی نو اُووه ویشت درجے او که وړوکی جماعت کښې حاضر شی نو پنځه ویشت درجے۔

٤- یا دا چه مسجد ته نزدے وی نو د هغه به پنځه ویشت درجے وی او که وړاندے وی نو اُووه ویشت درجے۔ ٥- یا په انتظار د مانځه او غیر اِنتظار باندے حمل دے ځوك چه مخکښې راشی هغه ته (۲۷) او چه ناوخته راشی نو (۲۵) حاصلیږی۔

٦- او که په شوق او رغبت سره راشی نو هغه ته (۲۷) او که په شوق سره رانشی، سست پست وی نو کیدے شی چه یوه درجه ثواب ئے هم اُونشی۔ او چه معمولی شوق وی نو پنځه ویشت درجے به وی۔ ۷- بعض وائی : که چا د ابتداء نه تولهٔ جَمعه لاندے کړه نو هغه (۲۷) درجے او که بعض لاندے کړی نو (۲۵) درجے ثواب به ملاویږی۔

۸- یا اُووه ویشت د فجر او عشاء پورے خاص دی۔

۹- یا فجر او عصر پورے ځکه پدے کښې ملائك راجمع کیږی۔

۱۰- یا (۲۷) د جهری مونځونو پورے خاص دی او پنځه ویشت د سری پورے او دا حافظ په فتح الباری کښې راجح کړیدے۔

فائده : چا د (۲۵) او (۲۷) عدد د تخصیص حکمتونه ذکر کړیدی مگر صحیح دا ده چه دا د اَسرارو د نبوت نه دی چه عقل ددے د اِجمالی حقیقت معلومولو نه عاجز دے نو

پاتے لا د تفصیل نه او مقصود پکښې ترغیب دے مسلمانانو ته چه په اجتماعي طریقه شعار د اِسلام رابښکاره کړي چه هغه مونځ دے۔ (توربشتیؒ) (نیل)۔
تَفْضُلُ : دے الفاظو کښې دوه اِحتماله دي یو دا چه د جماعت سره د مونځ کونکی (۲۸) درجه ثواب وي یو ثواب خو د یواځے مونځ کونکي سره برابر دے او ۲۷) درجے پرے دپاسه واخله۔ او دا ظاهر احتمال دے ځکه دلته ئے «تَفْضُلُ» وئیلے دے او بل روایت کښې «تَزِيدُ» لفظ راغلے یعني په هغے باندے په (۲۷) زیات دے او یوه درجه کښې ورسره برابر دے۔
۲– دویم اِحتمال دا دے دا چه د جماعت والا مونځ اُووه ویشت درجے او یواځے مونځ کونکي یوه درجه ثواب دے۔
دَرَجَةً : ابن سید الناسؒ فرمائی : آیا دا درجات او اَجْزَاء په معنیٰ د مونځونو دي او که نه ؟ نو که درجه په معنیٰ د مونځ شي نو معنیٰ به دا شي چه د جماعت والا اُووه ویشت مونځونه شو او د یواځے مونځ کونکي یو مونځ شو۔ او که درجه په معنیٰ د جُزء سره وانخلے او ثواب مراد شي نو بیا به د جماعت والا اُووه ویشت ثوابه وي او د یواځے به یو ثواب وي۔ مګر ظاهر دا ده چه دلته مونځونه مراد دي ځکه په روایت ابو هریرهؓ کښې د درجة په ځائے «صلاة» لفظ راغلے دے (رواه مسلم والسراج) که درجه په معنیٰ د مانځه شي نو ددے نه دا فائده معلومیږي چه که څوك یواځے مونځ اُوکړي نو غاړه ئے آزادیږي اګرکه ګناهګار دے او ثواب ئے نشته۔
★– دارنګه آیا دا ثواب مسجد کښې جَمعے کیدلو پورے مختص دے او که نه ؟ ظاهر اول دے، حافظؒ وائی دا زما په نظر کښې راجح دے۔انتهیٰ۔
مګر زهٔ وایم : په مسجد کښې مونځ واجب دے نهٔ په بل ځائے کښې او صحیح خبره د اقوالو د علماؤ نه دا ده چه که په کور یا بازار کښې مونځ اُوکړے شي نو پدے سره په مسجد کښې جماعت نهٔ ساقطیږي کله چه انسان مسجد ته په حاضریدو باندے قادر وي۔ خو ددے نه معذور او مسافر مستثنیٰ دي۔ لکه دا خبره فتاوی الدین الخالص (۱۸٤/۵) او کتاب الصلاة لابن القیم ص (٤٦١) کښې اُوګوره۔
څوك چه به سره د قدرت نه مسجد ته نهٔ حاضریدل نو صحابه کرامو به په خپل دور حکومت کښې هغوی ته د ختونو وهلو دهمکی ورکوله لکه عتاب بن اسیدؓ د رسول الله ﷺ د وفات نه روستو مکے والو ته داسے وئیلی وو، چه زهٔ ستاسو ختونه وَهم او صحابه کرامؓ د هغهٔ پدے کار باندے ډیره شکریه اَدا کړه او هغهٔ ته ئے په درنو سترګو اُوکتل۔
فتح القدیر د ابن الهمام (۳٤۵/۱) کښې دي : د حلوانیؒ نه د هغهٔ چا متعلق تپوس

اُوشو چه كله نا كله خپل كور والا ته د جَمعې مونځ كوى (او مسجد ته نۀ ځى) آيا پدې سره د جماعت ثواب حاصليږى؟ نو هغۀ اُوفرمايل: "بغير د عذر نه دا كار بدعت او مكروه عمل دې، بلكه د حنابلو نه ابوالبركاتؒ وئيلى دى: ددۀ دا مونځ دُرستِ نۀ دے"۔ كما فى الانصاف للمرداوى (۲/۲۲۱)

حافظ ابن تيميهؒ فرمائى: «څوك چه جماعت سره په كور كښې مونځ كوى آيا د هغۀ نه مسجد ته حاضريدل ساقطيږى؟ پدې كښې اختلاف دې مگر مناسب دا ده چه مسجد ته حاضريدل به بغير د عذر نه نۀ پريدى۔» آه ۔ الفتاوى المصرية ص (۵۲)

پدې كښې شوافع او مالكيه ؤ اختلاف كړيدې او دا يو روايت د امام احمدؒ هم دې كما فى الام (۱/۱۳۶) والمدونة الكبرىٰ (۱/۸۶) هغوى د عموماتو نه استدلال كوى او په مرض الوفات كښې نبى ﷺ په كور كښې مونځ كړيدې۔ ليكن دا دلائل د هغوى ضعيف دى۔ ځكه دا په عذر باندې محمول دى او خبره په عدم عذر كښې ده چه كله عذر نۀ وى۔

دا حديث د هغه علماؤ دليل دې چه جماعت ته سنت وائى او فرض ئې نه گنړى، وائى كه د يواځې مونځ كونكى مونځ جائز نۀ وې نو بيا به هغه ته يو درجه فضيلت نه حاصليدې ځكه كوم شے چه مونځ اُونۀ كړځى، هسې خكته پورته كيدل وى نو هغه كښې فضيلت نۀ وى۔ او بل روايت د مسلم كښې اَفضل لفظ راغلے دې او دا صيغه د اسم تفضيل ده په نفس فضيلت كښې د اشتراك تقاضا كوى۔ (علامه باجىؒ)

نو معلومه شوه چه د يواځې مونځ كونكى هم فضيلت شته؟ مگر علامه سندىؒ ددې دا **جواب** وركړيدې، چه كوم علماء چه د فرضيت د جماعت قائل دى نو د هغوى مقصد دا دې چه په حالت د صحت كښې په مونځ كونكى باندې جماعت واجب دې كه هغه ئې بغير د عذر نه پريدى نو گناهگار به وى او دا مقصد نۀ دې چه جماعت شرط دې د صحت د مانځه دپاره۔ او دې حديث كښې دا راغلل چه يواځې هم مونځ كيږى (نفس فضيلت پكښې شته) مگر انسان به گناهگار وى په ترك د جماعت سره۔ او هغه نورو حديثونو نه د هغې فرض عين كيدل معلوميږى۔ نو ټول حديثونه راجمع شو۔

۲- **دويم جواب** دا دې چه دا حديث چلولے شويدې دپاره د بيان د زيات ثواب د جماعت او هر چه فرضيت دې نو هغه د نورو دلائلو نه معلوم دې۔

۳- دارنگه بعض علماؤ صلوٰة الفذ محمول كړيدې په معذور باندې چه يو انسان د جماعت په پريخودو كښې معذور وى نو هغه دپاره په يواځې مونځ كښې يو اَجر شته۔ مگر پدې تخصيص دليل نشته۔ ★- بله دا چه معذور ته د جماعت پوره اَجر ملاويږى لكه د

نورو احاديثونه معلومه ده. اولنے جواب اصح (ډير صحيح) دے.

۲- وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«وَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِیَدِهٖ، لَقَدْ هَمَمْتُ اَنْ آمُرَ بِحَطَبٍ، فَیُحْطَبَ، ثُمَّ آمُرَ بِالصَّلَاةِ فَیُؤَذَّنَ لَهَا، ثُمَّ آمُرَ رَجُلاً فَیَؤُمَّ النَّاسَ، ثُمَّ اُخَالِفَ اِلٰی رِجَالٍ». وَفِیْ رِوَایَةٍ :«لَایَشْهَدُوْنَ الصَّلٰوةَ فَاُحَرِّقَ عَلَیْهِمْ بُیُوْتَهُمْ، وَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِیَدِهٖ، لَوْ یَعْلَمُ اَحَدُهُمْ اَنَّهٗ یَجِدُ عَرْقاً سَمِیْناً، اَوْ مِرْمَاتَیْنِ حَسَنَتَیْنِ، لَشَهِدَ الْعِشَاءَ».رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ وَلِمُسْلِمٍ نَحْوَهٗ.

ترجمه: ابو هریره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دی :« قسم دے په هغهٔ ذات چه د هغه په لاس كښ زما نفس دے، ما اراده كړے ده چه زهٔ په لرګو (راجمع كولو څهٔ كسانوته) حكم اُوكړم چه لرګی راجمع كړی، بيا حكم په مانځهٔ اُوكړم نو د هغے دپاره اذان اُوكړے شی، بيا حكم اُوكړم يو سړی ته چه هغهٔ خلقو ته اِمامت اُوكړی بيا لاړ شم هغهٔ كسانو پسے (چه بغير د څهٔ عذر نه جَمعے ته نهٔ راځی) او په يو روايت كښ دی : « (هغه كسانو پسے) چه مانځهٔ ته نهٔ حاضريږی او په هغوی باندے كورونه اُوسيزم، او قسم دے په هغه ذات چه زما نفس د هغهٔ په لاس كښ دے، (دا كوم خلق چه جَمعے له نهٔ راځی په دوی كښ) كهٔ يو تن ته دا معلومه شی چه دا غُوَړ هډوكے يا دوه ښائسته پانچے مُومی نو ضرور به ماسخوتن مانځهٔ ته حاضريدلے»۔ (بخاریؒ، مسلمؒ)

تشريح : امام بخاریؒ او امام احمدؒ ددے حديث نه استدلال كړيدے چه جماعت واجب دے۔ او هغه مخكښ بيان شو۔ **فوائد الحديث** : ۱- هَمّ (اِراده) د نبی ﷺ هم دين دے، هغه اګركهٔ دا كار عملًا نهٔ دے كړے، مګر اِراده ئے كړيده، معلومه شوه چه د جَمعے په پريخودو نبی عليه السلام دومره خفه دے چه د تارك الجماعة كور سيزی۔ ۲- تعزير بالمال جائز دے، چه كله انسان لوئی مُجرم وی او د هغه نه په مال اخستو زور ورزی۔

سوال : دا حديث خو د جمهورو دليل كيدے شی څكه چه نبی ﷺ دلته پخپله جماعت پريخے دے ؟ **الجواب** : دلته د نبی ﷺ عذر دے او هغه دا چه كهٔ نبی ﷺ د جماعتِ اُودريدو نه مخكښ لاړ شی نو منافقان به وائی مونږ اُوس درتلو نو ددے عذر په وجه جماعت ترك شو او زمونږ خبره په هغه صورت كښ ده چه عذر نهٔ وی، دويم دا چه د نبی ﷺ پدے ځائے كښ جماعت پريخودل دليل نهٔ دے چه مطلقاً ئے پريخے دے څكه كيدے شی چه هغه جماعت سره مونځ اُوكړی مخكښ د تلو يا روستو د راتلو نه۔ نو ددے

نه دا فائده معلومه شوه چه كه يو مقام كښ څه كسان څو كيدارئ ته ولاړ وي يا يو مهم كار باندے إسلامي حكومت مصروف كړي وي نو هغوي له جماعت ترك كول جواز لرى روستو به ځانله جماعت اُوكړي يا به يواځے مونځ اُوكړي۔ دا هُم يَو عُذر دے۔

جمهور ددے حديث نه جوابونه كوي او هغه دا چه دا حديث حمل دے په زجر او زورنه باندے او حقيقت ئے مراد نهٔ دے بلكه مقصود پكښ مبالغه ده او دليل پدے باندے دا دے چه پدے كښ هغهٔ عذاب ذكر شويدے چه هغهٔ د كفارو پورے خاص دے او په اجماع د امت سره دا قسم عذاب د مسلمانانو دپاره حرام دے۔

الجواب : دا حديث واقع شويدے په هغه زمانه كښ چه په اُور باندے عذاب وركول لا حرام نه وو، نو دا وعيد په خپل حقيقت بناء دے۔بله دا چه كه دا پس د تحريم نه واقع شي نو دا به مخصص وي د هغه حكم دپاره لهذا نور چا له په اُور عذاب حرام دے مگر تارك الجماعة دپاره جائز دے۔ ۲- صحيح دا ده چه نبي ﷺ دكورونو د سيزلو اراده كړے ده، نهٔ د خلقو سيزلو۔ لهذا هيڅ تعارض نشته۔

۲- **بل جواب** دا كوي چه نبي ﷺ خو د دوي كورونه ندي سيزلي نو كه دا تهديد په خپل حقيقت وے نو ضرور به ئے سيزلي وے؟ **الجواب** : ددے نهٔ سيزلو علت په بل حديث د احمدؒ كښ ذكر دے (لولا ما في البيوت من النساء والذرية)

(يعني كه پدے كورونو كښ زنانه او ماشومان نهٔ وے نو ما به سيزلي وے) او نبي ﷺ د هغه شي إراده كوي چه هغه دپاره ئے كول جائز وي۔ ۲- يا دا چه إحتمال شته چه هغوي د جماعت د پريخودو نه منع شوي وي نو ځكه ئے كورونه ندي سيزلي۔

۳-**بل جوابَ** كوي چه دا وعيد د هغه چا په باره كښ دے چه هغوي بالكل مونځ نهٔ كوي، نو د جماعت د پريخودلو متعلق نهٔ دے۔

الجواب : په روايت د ابوداود كښ داسے الفاظ راځي (ثم آتي قوماً يصلون في بيوتهم ليست بهم علة) (بيا زهٔ راشم هغه خلقو ته چه په كورونو كښ بغير د څهٔ عذر نه مونځونه كوي او كورونه پرے اُوسيزم) او «لَا يَشْهَدُوْنَ الصَّلَاةَ» لفظ پرے هم دليل دے چه مونځ ته نهٔ حاضريږي يعني جماعت له نهٔ راځي۔ «لَا يُصَلُّوْنَ» لفظ ئے نهٔ دے وئيلے (چه مونځ نهٔ كوي) ۔او الفاظ د ابن ماجه مرفوعاً دا دے : (لينتهين رجال عن تركهم الجماعات او لاحرقن بيوتهم) (څهٔ خلق به د جماعت د پريخودلو نه منع شي گنے كورونه به ئے اُوسيزم)۔

٤- **بل جواب** كوي چه جماعة په ابتداء د اسلام كښ فرض وو دے دپاره چه د مانځه نه پاتے كيدل په منافقانو باندے بند كړي بيا منسوخ شو (قاضي عياضؒ) حافظ وائي : ددے

تائید ممکن دے پدے چه دغه وعید په اُور باندے منسوخ دے۔ نو دا حکم هم منسوخ شو۔انتهیٰ۔ مگر دا خبرے گمانی دی او حدیث نص صریح دے پدے چه ترك د جماعت سبب د سیزلو د کور دے۔ یعنی دا دومره غټ مُجرم دے چه مستحق ددے دے چه کورئے اُوسوزلے شی۔ او دلته د خلقو سیزل نهٔ دی مراد بلکه د کور سیزل مراد او هغهٔ منسوخ نهٔ دی۔

عَرْقًا : په فتحه د عین او سکون راء سره هغه هډوکے چه اکثره غوښه ئے خوړلے شوے وی او لګه غوښه پرے پاتے شوی وی جمع ئے عِرَاقٌ ده۔او اَلْعَرَقُ : خولے ته وائی چه د بدن د مساماتو نه د حرارت (گرمائش) په وخت بهیږی۔ او العِرْقُ : رګ ته وائی، او د هر شی اصل او بنیاد ته وائی جمع ئے عُرُوْقٌ، اَعْرَاقٌ او عِرَاقٌ راځی۔ دارنګه عِرق معمولی شی ته هم وائی۔ یقال : فِیْهِ عِرْقٌ مِنْ مَاءٍ۔ (پدے کښې معمولی شان اُوبه دی)

اَوْ مِرْمَاتَیْنِ : تثنیه د « مِرْمَاة » ده په کسره د میم او کله فتحه هم جائز ده۔ پانچے او ښنګری ته وائی یا هغهٔ غوښه چه د دوه ښنګرو په مینځ کښې ده۔ بعض وائی "مرماة" یو غشی ته وائی چه دا به عربو د لوبو په صورت کښې استعمالولو او د خاورو په ډیرکو به ئے گوزارونه کول چا چه به غشے په هغے کښې نال کړو هغه به غالب حسابیدو۔ نو مخکښې خوراك بیان شو اُوس د غفلت شے بیانوی۔ مگر اول قول راجح دے۔څکه عَرْق لفظ ئے ورسره یو ځائے کړیدے۔ او پدے کښې د منافقانو لالچ او حرص دنیوی ذکر دے چه منافقان داسے دنیا پرست خلق دی چه که په مشکل مانځه (عشاء) کښې ورته معمولی شان فائده معلومیدے، خوروا، او پانچه ورله ورکولے شوے نو بیا هغے ته په منډه راتلل۔ د خیټے خلق دی۔ او د منافقانو په هر عمل کښې دا خوئی دے چه که فائده ورته ملاویږی نو هلته ځان حاضروی که په جنازه کښې ورته صابون اواِسقاط ملاویږی نو په اول صف کښې ولاړ وی او که اسقاط پکښې نهٔ وی نو بیا جنازے له خوا له نهٔ راځی، که درس تدریس کوی، تعلیم تعلم کوی، که بیما پرسی کوی تول اعمالو کښې د منافق دا کار وی۔

٣- وَعَنْهُ، قَالَ: اَتَى النَّبِیَّ ﷺ رَجُلٌ أَعْمٰى، فَقَالَ : یَارَسُوْلَ اللهِ! إِنَّهُ لَیْسَ لِیْ قَائِدٌ یَقُوْدُنِیْ اِلَی الْمَسْجِدِ، فَسَأَلَ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ أَنْ یُرَخِّصَ لَهٗ فَیُصَلِّیَ فِیْ بَیْتِهٖ، فَرَخَّصَ لَهٗ، فَلَمَّا وَلّٰی دَعَاهُ، فَقَالَ:«هَلْ تَسْمَعُ النِّدَاءَ بِالصَّلٰوةِ؟» قَالَ: نَعَمْ. قَالَ:«فَأَجِبْ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او ابو هریره ﷛ فرمائی : نبی ﷺ ته یو نابینا شخص (ابن ام مکتومؓ) راغلو،

وې فرمایل : اے د الله رسوله ! زما دپاره کوم رهبر نشته چه ما مسجد طرفته بوځی، نو د رسول الله ﷺ نه ئې دا غوختل چه هغهٔ ته رخصت (اجازت) ورکړی چه په کور کښ مونځ اُوکړی، نو رسول الله ﷺ ورله رخصت ورکړو، (دے نه بعد) کله چه هغهٔ (د مجلس نبوی) نه واپس شو نو رسول الله ﷺ هغه له (بیا) راوغوختو، او ورته ئې اُوفرمایل : "آیا تهٔ اذان اَورے ؟" هغه اُووئیل: آؤ، رسول الله ﷺ اُوفرمایل : "اِجابت کوه" (ستا دپاره مسجد ته حاضریدل ضروری دی) (مسلمؒ)

تشریح : رَجُلٌ أَعْمٰی : ددے نه مراد ابن اُمِ مکتوم دے لکه په روایت د ابوداود کښ روستو راځی۔ د جمهورو مسلك دا دے چه د جماعت د ساقطیدو د اَعذارو نه یو عُذر دا هم دے چه انسان ړوند وی۔ نو بیا **سوال** دا دے چه دا مسلك خو ددے حدیث خلاف معلومیږی ځکه دلته ورته وائی اِجابت به کوے۔

الجواب : جواب دا دے چه دا اِجازه روستو راغلے ده په حدیث د بخاریؒ کښ چه د یو انسان په نظر کښ فرق وی او مسجد ته نشی راتلے نو هغه نه جماعت ساقط دے لکه مخکښ حدیث د عتبان بن مالك تیر شو۔ چه هغه نبی ﷺ ته د نظر شکایت اُوکړو نو هغه ورله په کور کښ مونځ اُوکړو او مسجد ته به نهٔ راتلو۔او هر چه دا حدیث دے نو دا یا محمول دے په استحباب باندے نو د « فَاَجِبْ » معنیٰ دا ده چه تا له اِجابت مُستحب دے۔ او که امر د وجوب دپاره شی نو بیا به دا منسوخ وی۔

۲– یا دا چه دا ددهٔ پورے خاص دے ځکه چه ددهٔ کور نزدے دے بغیر د لاؤډ سپیکر نه چه اذان اَوری نو دا به ډیر نزدے وی، نو ددهٔ دپاره کور کښ مونځ کول ندی پکار ځکه ئې ورته اِجازت ورنکړو بلکه دا چه دا سړے بار بار مسجد ته راغلے دے نو لاره ورته معلومه ده، نهٔ خطاء کیږی او نهٔ غورزیږی نو ځکه ئې ورته اِجازه ورنکړه۔ نو حاصل دا دے : کهٔ د سړی وسع کیده په راتلو سره او تکلیف ورته نهٔ وو، نو راځی به او کهٔ تکلیف ورته وو نو بیا مَعذُور دے۔

اشکال او د هغے ازاله :

اشکال دا دے چه رسول الله ﷺ څنګه ابن ام مکتوم ته رخصت په ترك د جماعت کښ ورنکړو کله چه هغهٔ ورته عذر پیش کړو لکه هغهٔ عذر روستو راروان دے۔ او عتبان بن مالك ورته عذر پیش کړو او هغهٔ له ئې رخصت ورکړو او د هغهٔ په کور کښ ئې مونځ اُوکړو چه تاته اجازت دے که جَمعے ته نهٔ حاضریږے؟۔

ازاله : ۱– ددے تطبیق کښ بعض علماء وائی: عتبان په عذر کښ سیلابونه ذکر کړل

چه زما او زما د قوم د مسجد ترمینځ حائل کیږی او دا واضح عذر دے ځکه پدے حالت کښې مسجد ته رسیدل مشکل وی او هرچه ابن ام مکتوم دے نو هغهٔ ورته دغه شان عذر پیش نهٔ کړو بلکه هغهٔ ورته د مزل مشقت ذکر کړو۔

لیکن دا تطبیق ضعیف دے ځکه چه سیلابونه خو همیشه نهٔ وی، او حال دا چه هغهٔ دپاره ئے په کور کښې مونځ په هر حال کښې جائز ګرځولے دے او د حالت د سیلابونو پورے ئے نهٔ دے خاص کړے او ابن ام مکتوم ذکر کړل چه مدینه ډیر موذی حیواناتو او حشراتو والا ده او دا د یرونکو سیلابونو قائم مقام عذر دے۔

۲- **بعض** وائی: د ابن ام مکتوم ځائے نزدے وو ځکه هغهٔ به اذان اوریدو په خلاف د عتبان بن مالك چه هغهٔ ورانده وو۔ وهو الراجح کما مر۔

۳- علامه جوزجانیؒ وائی: حدیث د ابن مکتومؓ منسوخ دے په حدیث د عتبان باندے ځکه کوم عذرونه چه ابن ام مکتوم ذکر کړی دی نو بعضے د هغے کافی دی په سقوط د حضور د مسجد کښې۔ یعنی د چا حال چه د ابن ام مکتوم په شان وی نو په هغهٔ باندے حضور مسجد ته واجب نهٔ دے۔

٤- **علامه بیهقیؒ** فرمائی: د نبی ﷺ مراد دا دے چه د ابن مکتوم دپاره په کور کښې مونځ کولو سره او د جماعت نه پاتے کیدو سره د جماعت د فضیلت لاندے کولو رخصت درله نهٔ مومم۔ یعنی که کور کښې پاتے کیږی جائز به وی لیکن د جماعت فضیلت به تربے فوت وی۔ د جماعت د فضیلت حاصلولو رخصت ورته نهٔ شته۔ او ددے تائید علامه بیهقیؒ په دے سره ذکر کړیدے چه هغهٔ د ماسخوتن او سحر مانځه کښې د قائد نهٔ موندلو شکایت اُوکړو نو نبی ﷺ ورته اُوفرمایل: که ددے دوه مونځونو د فضیلت نه ناست انسان خبر شی نو په تولیدو به ورته راتلے۔ (فتح الباری لابن رجب ۱۹۰/۳) عون المعبود (۱۸۱/۲)

خارجی فائده: بعض احادیث د رسول الله ﷺ وحی ده او بعضِ اِجتهادات دی، لکه دلته ئے دے سړی ته اَول اِجازت ورکړو او بیا ئے بیرته راوُغوختو او خبره ئے ورته بدله کړه، نو دا د نبی ﷺ اِجتهاد وو مګر الله پرے رد اُونکړو نو زمونږ دپاره دین شو۔

پدے تحقیق سره د منکرینِ حدیث استدلال باطل شو چه وائی احادیث ټوله وحی نهٔ ده۔ او په اول جلد کښې ددے تفصیل تیر شویدے۔

٤- وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ؓ، اَنَّهُ أَذَّنَ بِالصَّلٰوةِ فِيْ لَيْلَةٍ ذَاتِ بَرْدٍ وَرِيْحٍ، ثُمَّ قَالَ: «أَلَا صَلُّوْا فِي

الرِّحَالِ»، ثُمَّ قَالَ: إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَانَ يَأْمُرُ الْمُؤَذِّنَ إِذَا كَانَتْ لَيْلَةٌ ذَاتُ بَرْدٍ وَمَطَرٍ يَقُوْلُ: «أَلَا صَلُّوْا فِي الرِّحَالِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: او ابن عمر ﷺ نه روايت دے چه دۀ په يوه يَخه او هوا والا شپه کښې د مانځه اَذان اُوکړو، بيا (د اذان نه پس ئے خلقو ته) اُوفرمايل: خبردار! په خپلو خپلو کورونو کښې مونځونه اُوکړئ، بيا ئے اُوفرمايل: رسول الله ﷺ به مؤذن ته حکم کولو کله چه به يَخه او باراني شپه وه چه داسے اُووائی: «خبردار! په خپلو خپلو کورونو کښې مونځ اُوکړئ» (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح: ثُمَّ قَالَ: ١- دا يا د اذان نه پس لوستل دی لکه دا په حديث د بخاريؒ کښې دی (ثم يقول على اثره (يعني اثر الاذان). دا صريح دے چه روستو د أذان نه به ئے وائی.

٢- او يا دا چه په اذان کښې به ئے دننه وائی، او دا خبره ظاهر د حديث دے او بعض وائی د «حي على الصلاة او حي على الفلاح» په ځائے به ئے وائی لکه په روايت د ابن عباسؓ کښې په صحيحينو کښې راغلی دی. نو دواړه طريقے جائز دی. او په روايت د عبد الرزاق کښې باسناد صحيح د دواړو جمع راغلے ده چه د «حي على الفلاح» نه روستو ئے «أَلَا صَلُّوْا فِي الرِّحَالِ» وئيلے دے نو پدے کښې هم څۀ منافات نشته. وجه دا ده چه د «الصلاة في الرحال» معنیٰ به دا وی چه څوک نۀ راځی نو دهغه دپاره رُخصت دے او د «حي على الصلاة» معنیٰ به دا وی چه راتلل درله مستحب دی چه څوک اِراده لری چه کامل فضيلت حاصل کړی او مشقت پورته کړی. او ددے تائيد د حديث د جابرؓ نه کيږی چه هغه په مسلم کښې راغلے دے. چه نبی ﷺ په سفر کښې داسے اُوفرمايل: (لِيُصَلِّ مَنْ شَاءَ مِنْكُمْ فِيْ رَحْلِهِ)

معلوميږی چه دا اَمر د رُخصت دپاره دے او عزيمت نۀ دے چه خامخا نۀ راتلل به فرض وی.

حديث ئے ددے دپاره راوړو چه د جماعت د ترك دپاره يو عُذر سخته يخنی، يا هواء او باران دے. بيا ددے څۀ خاص مقدار نشته چه څومره به وی؟ خو تکليف ته به ګوری که تکليف ورته ملاويدو، چقړے زياتے وے نو نۀ دِے ځی. او کۀ لاړ شی هم څه حرج نشته. دا څۀ فرض او واجب حکم نۀ دے بلکه يو رخصت دے.

بيا بعض علماؤ وئيلی دی چه دا باران او هواء او سخته يخنی به هله عذر وی چه درے واړه راجمع شی او شپه هم وی. ليکن دا خبره ضعيفه ده، وجه دا ده چه په اَحاديثو کښې جُدا جُدا هم ذکر دی. او دا د جُمهورو مَسلك دے.

الرِّحَالِ: جمع د رَحل ده، د سری کور او هغه ځائے ته وائی چه په هغے کښې ئے سامان وی.

بعض وائی: دا حکم په سفر کښې دے ځکه چه حديث کښې ورسره د سفر قيد راغلے دے نو مطلق به حمل وی په مقيد باندے لهذا په حضر کښې به داسے نۀ وائی، او که په حضر کښې هم داسے مشقت وی نو هم وئيل ئے جائز دی۔ مگر راجح دا ده چه دلته عام حکم ذکر شويدے چه نبی ﷺ به داسے حکم مؤذن ته کولو په يخه او بارانی شپه کښې او د سفر قيد ئے ورسره نۀ دے لګولے او د سفر دپاره جُدا مستقل حکم دے۔ او دا د «وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّيْنِ مِنْ حَرَجٍ» سَره ډيره موافقه خبره ده۔ او پدے باندے دليل حديث د بيهقیؒ دے: يو صحابی نعيم بن نحام (د بنی عدی بن کعب نه) فرمائی: (يو ځل) زۀ په يخه بارانی شپه کښې د ښځے په بستره کښې وم، د سحر مانځه دپاره اذان شروع شو نو ما (زړۀ کښې بطورِ اَرمان) اُووئيل: اَرمان چه مؤذن داسے اُووائی «وَمَنْ قَعَدَ فَلَاحَرَجَ» (څوك چه په کور کښې کيناستو (او جماعت له رانغلو) په هغۀ څۀ گناه نشته)۔ نو (همدغه شان اُوشو) مؤذن همداسے د اذان په آخر کښې اُووئيل۔ (بيهقی السنن الكبرىٰ ۱/۳۹۸) وعبد الرزاق باسناد صحيح۔فتح البارى (۲/۷۸) نو اُوګوره دا کار په حضر کښې شويدے۔

۵- وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «إِذَا وُضِعَ عَشَاءُ اَحَدِكُمْ وَاُقِيْمَتِ الصَّلٰوةُ، فَابْدَءُوْا بِالْعَشَاءِ وَلَا يَعْجَلْ حَتّٰى يَفْرُغَ مِنْهُ»، وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يُوْضَعُ لَهُ الطَّعَامُ، وَتُقَامُ الصَّلٰوةُ، فَلَا يَأْتِيْهَا حَتّٰى يَفْرُغَ مِنْهُ، وَإِنَّهُ لَيَسْمَعُ قِرَاءَةَ الْإِمَامِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: او ابن عمر ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ فرمائيلی دی: کله چه ستاسو نه د يو تن مخے ته د ماښامی خوراك كيخودے شی او (په دغه وخت) د مانځه تكبير اُووئيلے شی نو خوراك شروع كړئ، او جلتی دے نۀ كوی تردے چه د هغے نه فارغ شی"۔ او ابن عمر ﷺ ته به (چه کله) طعام کيخودے شو او (بل طرفته به) مونځ به اُودرولے شو نو هغۀ به مانځه ته نۀ راتلو تردے چه د خوراك نه به فارغ شو،او هغۀ به (پدے حال کښې) د اِمام قرائت اَوريدلو"۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشريح: د عربو عادت دا وو چه هغوی به د ماښام مانځه نه مخکښې روټئ خوړله او دا ډيره مفيده وی ځکه د اُوده کيدو نه مخکښې هضم شوی وی او چه ناوخته ډوډئ اُوخوری نو ددے د وجه نه ګيس په خيټه کښې پيدا کيږی۔ مقامات حريری کښې هم راځی: «خَيْرُ الْعَشَاءِ سَوَافِرُهٗ» (بهترين ماښامے هغه دے چه وختی اُوکړے شی)۔

بیا دا حکم په هغه وخت کښې دے چه روټۍ په دسترخوان باندے کیخودے شي او سمدست مونځ تیار شي نو بیا به مونځ ساقط وي او روټۍ به مقدمه کوي خو پدے شرط باندے چه انسان به ښهٔ وږے وي او د روټۍ د نهٔ خوړلو په وجه به ئے توجه او خشوع په مانځه کښې خرابیږي او امام غزالیؒ پکښې لا دا هم زیاتي کړیدي چه هغه طعام به په تاخیر سره خرابیږي هم نهٔ۔ که خرابیدو نو بیا به طعام مخکښې کولے شي۔ او د عبد الله بن عمرؓ او ثوريؒ او احمدؒ او اسحاقؒ په نیز هیڅ قید نشته بلکه ظاهر د حدیث باندے عمل کوي۔ او دا خبره علامه عبید الله مبارکفوريؒ راجح ګنړلے ده۔

بیا دا خبره یاد ساتل پکار دي چه دا کار به کله کله وي او هر ځل به د مانځه وخت ته طعام نهٔ تیاروي۔ او پدے ټولو کښې مقصود د خشوع رعایت دے۔

ددے وجه نه امام ابوحنیفه رحمه الله څه ښهٔ خبره کړیده : (لأن يكون اَكلِيَ كُلُّهٗ صلاةً اَحَبُّ اِلَيَّ مِنْ ان يكون صلاتي كُلُّهَا اَكلًا) (که زما خوراك ټول مونځ شي دا ماته بهتره ده ددے نه چه زما ټول مونځ خوراك شي)

فَابْدَءُوا بِالْعَشَاءِ : پدے اَمر کښې اختلاف دے ١- اهل ظواهر وائي : دا حکم د فرضیت دپاره دے، تردے چه ابن حزمؒ پکښې دا اِفراط کړیدے چه د چا مخے ته طعام حاضر شو او هغه مونځ اُوکړي نو مونځ ئے باطل دے ځکه د اَمر خلاف ئے اُوکړو۔

٢- د جُمهور علماؤ په نیز دا اَمر د اِستحباب دپاره دے که روټۍ ته ئے شوق نهٔ کیدو نو مونځ دے اُوکړي لکه نبي ﷺ داسے هم کړیدي چه په دسترخوان ورته د ګډ غوښه پرته وه په مینځ د خوراك کښې اقامت اوشو نو هغه ئے پریخوده او مونځ ته پاڅیدو۔

(بخاري برواية عمرو بن امية)

بعضِ شوافعو او حنابلو د « فابدأوا » نه اِستدلال کړیدے چه دا حکم خاص دے په هغه چا پورے چه لا شروع ئے په خوراك نهٔ وي کړي او که چا شروع کړي وي بیا اِقامت اُوشي نو بیا به خوراك پریدي او مونځ ته به پاځي، لیکن دا خبره د ابن عمرؓ د عمل مخالف ده۔ اګرکه د عقل موافق ده ځکه چه دومره خوراك ئے کړیدے چه په هغے سره ددهٔ ګوزاره شوے ده، مګر پدے باب کښې اِنسان له پکار دي چه خپل حالت ته اُوګوري که روټۍ نه پاڅیدو سره ئے په مانځه کښې خشوع خرابیده نو نه دِ پاځي۔ او که ګوزاره ئے شوے وه نو بیا دِے پاځیږي۔

وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ : دا مقوله د نافع ده او پدے کښې پدے حدیث مرفوع باندے د ابن عمرؓ عمل بیانوي چه هغه پدے باندے عمل کړیدے او بیا دا حکم په هغه صورت کښې دے چه په وخت کښې فراخي وي ولے که د مانځه وخت تنګ وي نو بیا تاخیر کول حرام دي۔

او بعض علماؤ پکښې لا دا هم وئیلی دی چه که وخت تنګ وی او په خوراك باندې هغه اُوځی نو هم خوراك به مخکښې کوی دې دپاره چه خشوع فوت نشی۔ او په دې حدیث کښې دلیل دې چه فضیلت د خشوع مقدم دې په فضیلت د وقت باندې ځکه دلته شارع وَسیله د خشوع مقدم کړیده په اداء د مانځه باندې په اول وقت کښې۔

٦– وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، اَنَّهَا قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ: «لَاصَلٰوةَ بِحَضْرَةِ الطَّعَامِ وَلَا هُوَ يُدَافِعُهُ الْاَخْبَثَانِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او عائشه رضی الله عنها فرمائی: ما د رسول الله ﷺ نه اَوریدلی دی چه فرمایل ئې: "مونځ نشته په وخت د حاضریدو د طعام کښې او نۀ په هغۀ وخت کښې چه دۀ له دیکه ورکوی دوه پلیت څیزونه (یعنی واړه اوغټ بول) (مسلمؒ)

تشریح: لَاصَلٰوةَ: دا نفی ده په معنیٰ د نهی ده لکه په روایت د ابوداود کښې «لا یصلی الرجل بحضرة الطعام» لفظ راغلې دې۔ او دلته ئې د طعام لفظ راوړو په دې کښې اِشاره ده چه مخکښې حدیث کښې چه عَشَاء ذکر وه نو هغه صرف یو فرد دې ددې عام نه او تخصیص د عَشَاء پورې نشته بلکه هر وخت چه طعام حاضر شی او مونځ دپاره اِقامت اُوشی نو طعام به مخکښې کوی۔

يُدَافِعُهُ الْاَخْبَثَانِ: مدافعه باب مفاعله ده خاصیة ئې مشارکت دې۔ د «اَخْبَثَان» نه مراد بول وبَراز دی مطلب دا چه بول وبراز تا دَفعَه کوی او تۀ هغه دَفعَه کوې هغۀ ښکته زور کوی او تۀ بره زور کوې۔ او ددې مقدار دا دې چه ستا توجه خرابوی نو مونځ مۀ کوه او ځان فارغه کړه بیا مونځ اُوکړه او که داسې معمولی وی چه توجه کښې ئې فرق نه راوستو نو بیا جواز لری۔ که یو انسان بول وبراز تینګ کړې وی او په دې حال کښې مونځ اُوکړی نو د جمهورو په نیز باندې مونځ صحیح دې خو مکروه دې او که وخت باقی وی نو اِعاده ئې مستحب ده۔ (امام نوویؒ) او اهل ظواهرؒ وائی مونځ باطل شو۔ او د ظاهر د اَحادیثو په بناء همدا قول ظاهر دې۔

۷– وَعَنْ اَبِی هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اِذَا اُقِيْمَتِ الصَّلٰوةُ فَلَا صَلٰوةَ اِلَّا الْمَكْتُوْبَةَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او ابو هریره ؓ فرمائی: رسول الله ﷺ فرمائیلی دی: کله چه اِقامت د

مانځه اُوشي نو هيڅ قسمه مونځ نهٔ کيږي سوا د دغه فرضي مونځ نه (کوم دپاره چه اِقامت شوے دے) (مسلمؒ)

تشريح : اِذَا اُقِيمَتِ الصَّلٰوةُ : يعني د کوم مانځه دپاره چه اِقامت شويدے نو بس همدغه مونځ به اداء کولے شي نور مونځونه نهٔ کيږي لکه په بل روايت د احمدؒ او طحاويؒ کښ دي : (الا التی اقيمت لها) نو ددے فائده دا ده چه د دغه فرض مانځه نه علاوه په بل مانځه باندے مشغوليدل حرام دي برابره ده که قضائي وي اَو که سنت او نفل وي۔ هر چه هغه مونځ دے چه انسان يواځے کړے وي او بيا د اِمام سره شامليږي نو دا نهي هغے ته نهٔ ده شامله۔ څکه دے باره کښ روستو حديث راغلے دے۔

نو دا حديث دليل دے چه د اِقامت د مانځه په وخت نفل مانځه کښ شروع کول ندي جائز، برابره ده که عام نوافل وي او که د سحر دوه رکعاته سنت وي۔(نيل الاوطار ۲ / ۳۳۰)

امام نوويؒ فرمائي : ددے حکمت دا دے چه د فرض مانځه دپاره د اَول نه فارغ شي نو د امام سره به په تکبير تحريمه کښ شامل شي او کله چه په نفل شروع وي نو تکبير تحريمه به تربے فوت شي۔ او بعض مکملات د فرضو به تربے فوت شي، نو فرض باندے په طريقه د کمال سره شروع بهتره ده د نوافل او سننو نه۔

بله وجه دا ده چه جماعت فرض دے او هغهٔ نور نفل دي او د نفلو دپاره تاخير د فرضو خلافِ شرع دي۔ بله وجه دا ده چه دا اجتماعي عمل دے او هغهٔ انفرادي او کله چه تعارض راشي د انفرادي او اجتماعي عمل نو اجتماعي عمل به مقدم کولے شي۔

د سحر سنت د اقامت په وخت حرام دي :

اُوس که څوك بعد الاقامة سنن او نوافل کوي نو څه حکم به وي؟ نو پدے کښ اختلاف دے۔ ۱- اهل ظواهر وائي کله چه اقامت وَاوري نو د سحر په سنتو کښ داخليدل دارنګه په نورو نوافلو کښ داخليدل برابره ده که مسجد کښ وي او که بهر د مسجد نه وي باطل دي او که دا کارئے اُوکړو، ګناهګار دے۔

علامه شوکانيؒ فرمائي : دا قول ابن حزمؒ د امام شافعيؒ نه او د جمهورو سلفو نه نقل کړيدے۔ او قرطبيؒ په "مُفهم" کښ د ابو هريرهؓ نه او خطابيؒ فرمائي : د عمر فاروقؓ نه نقل دي چه هغه به پدے دوه رکعاتو باندے خلق وهل کله چه به امام په مانځه کښ وو، او دا قول علامه عبد الرحمن مبارکفوريؒ په "تحفة الاحوذي" کښ راجح کړيدے۔ ۲- شافعيؒ احمدؒ فرمائي : دا کار مکروه دے، علامه خطابيؒ د ابن عمرؓ، ابو هريرهؓ، او د سعيد بن جبيرؒ،

ابـن سيرينؒ، عروه بن الزبيرؒ، ابراهيم نخعيؒ او عطاءؒ نه نقل كړيدي او دا مذهب د شافعيؒ او احمدؒ دے۔ ظاهر دا ده چه شافعيؒ او احمدؒ د اهل ظواهرو په شان قول كوي۔

۳- **احناف** وائي : نـور سـنـن به نهٔ كوي په غير د سحر سنتو نه اگركه يو ركعت لاندے كـولے شي نو دا دوه ركعاته به كوي، دا هله چه مسجد كښې وي او كه د مسجد نه بهر وي بيا دوه ركعاته كولے شي بغير د څه شرط نه روستو به د امام سره شامل شي۔

٤- امام مالكؒ وائي : كه مسجد ته داخل شي د سنتو دپاره او اقامت اُوشي نو د امام سره بـه شـامـل شي او دا دوه ركعاته به په مسجد كښې نهٔ كوي او كه مسجد ته نهٔ وي داخل نو كه د يـو ركـعـت فـوت كيـدو خـطره نه وه نودا به بهر اُوكړي او كه د اول ركعت فوت كيدو خطره وه نو بيا به امام سره مانځه كښې شامليږي۔

دلائـل د احنافو : ۱- حـديث كښې دي : (لاتتر كوهما وان طردتكم الخيل۔ رواه ابوداود رقم (۱۲۵۸) ۔ يـعـنـي كـه اَسـونـه دربـانـدے خپې كيدي (د جهاد ميدان وي) نو هم دا دوه ركـعـاتـه مهٔ پريدئ) استدلال داسے كوي چه دا په هيڅ وخت كښې پريخودل نشته تردے چه په جهاد كښې هم ددے پريخودل نشته۔

الجواب : دا روايت ضـعـيف دے په سـنـد كـښې ئے ابن سيلان لين الحديث دے۔ ذهبيؒ فـرمـائـي: مجهول راوي دے۔ بعض وائي نوم ئے عبد ربه دے۔ حافظ ابن حجر د ابن القطان الفاسي نه نقل كړيدي چه (حاله جهالة) مجهول راوي دے۔

شيخ البانيؒ په اِرواء الغليل (۲/ ۱۸٤) كښې فرمائي : (وله طرق اخرى واهية جداً) وضعفه عبـد الحق الاشبيلي ايضاً ۔ او بـعـض احـنـافو ورته حسن وئيلے دے نو كه ثابت شي نو بيا دا مـعـارض نهٔ دے د هغه اَحاديثو سره چه روستو ذكر كيږي۔ وجه دا ده چه دلتـه اَهميت ددے سـنـت ذكر كوي، چه دا به په جهاد كښې هم نهٔ پريدے او مونږ خو بالكليه دا نهٔ پريږدو بلكه قضائي راوړو نو تعارض نشته۔ او ددے د اهميت نه خو دا نهٔ لازميږي چه د فرض د مانځه د اُودريدو په وخت كـښې بـه ئے هـم كوے۔ نو مخكښې ورته پاڅه او په سفر كښې ئے هم مهٔ پـريـده۔ اوكه هر وخت درنه پاتے شو د مانځه نه روستو ئے قضاء راوړه يا د نمر خاته په وخت كښې ئے قضاء راوړه لهذا تعارض نشته والحمد لله۔

۲- **دليل** : آثار د صـحـابـه كـرامو پيش كوي لكه ابن مسعودؓ راغلو او امام د سحر په مـانـځـه ولاړ وو نو هغه دوه ركعاته يوے ستنے ته اُوكړل (مـجـمـع الزوائد (۱/ ۱۷۲) ورجاله موثقون)۔ او دغه شان عمل د ابودرداءؓ امام طحاوي (۱/ ۲۵٦) نقل كړيدے۔

ددے **جواب** كـښې علامه عظيم آباديؒ په «اِعـلام اهل العصر في احكام ركعتي الفجر»

كښې فرمائي : «ان في طبقة الصحابة ان كان ابن مسعود وابوالدرداء يريان جواز فعلهما فعمر بن الخطاب وعبد الله بن عمر وابوهريرة وابوموسى الاشعرى وحذيفة لا يرون ذلك۔ اما عمر فيضرب الناس لاجلها، وابنه عبد الله يحصب على من يصلي، وابوهريرة ينكر على ذلك، وابوموسى وحذيفة دخلا في الصف ولم يركعا كما ركع ابن مسعود، واما ابن عباس، فقد تعارض بين روايته وفعله، والحجة في روايته دون فعله، واما في طبقة التابعين ومن بعدهم من الائمة فان كان مسروق والحسن ومجاهد ومكحول وحماد بن ابى سليمان وابوحنيفة النعمان يرون ذلك، فسعيد بن جبير وابن سيرين وعروة بن الزبير وابراهيم النخعي وعطاء، والشافعي واحمد وابن المبارك واسحاق وجمهور المحدثين لايرون ذلك ، ولنعم ما قال ابن عبد البر : والحجة عند التنازع السنة فمن ادلى بها فقد افلح الخ » (المرعاة ۵۰۱/۳)۔

(يعني که په صحابه کرامو کښې ابن مسعودؓ او ابودرداءؓ ددې رکعتينو د فِعل قائل دی نو بل طرفته عمر فاروق او عبد الله بن عمر، ابو هريره، ابو موسى اشعرى او حذيفه ﷺ دا جائز نهٔ گڼړی۔ هرچه عمرؓ دے نو هغه به (د فرض مانځه د اُودريدوپه وخت) پدے دوه رکعاتو باندے خلق وهل، او د هغه ځوی عبد الله به په کاڼړو ويشتو هغه څوك چه دا دوه رکعاته پداسے وخت کښې کوی۔ او ابو هريرةؓ به پدے کار باندے اِنکار کولو او ابو موسیٰؓ او حذيفهؓ دواړه صف کښې داخل شو او دا دوه رکعاته ئے اُونکړل لکه څنګه چه ابن مسعودؓ اُوکړل۔او هر چه ابن عباسؓ دے نو د هغه روايت او فعل متعارض راغلی دی او حجت د هغه په روايت کښې دے نهٔ په فعل کښې۔ او هرچه تابعين او نور امامان دی نو که مسروق، حسن، مجاهد، مکحول، حماد بن ابی سليمان او ابوحنيفه رحمهم الله – ددے د جواز قائل دی نو بل طرفته سعيد بن جبير، ابن سيرين، عروة بن الزبير، ابراهيم النخعی، عطاء، شافعی، احمد، ابن المبارك، اسحاق او جمهور محدثين (رحمهم الله) ددے په نهٔ کولو قائل دی۔او ابن عبد البرؒ ډيره ښهٔ خبره کړيده چه کله تنازع (او اختلاف) راشي نو ترجيح به سنت (مرفوع حديث) ته وی نو چا چه په حديثو دليل اُونيولو او هغهٔ ئے په دليل کښې پيش کړل نو هغه کامياب دے۔" اِنتهیٰ۔

لهذا کله چه د صحابه کرامو د اقوالو اختلاف راغلو نو مرفوع حديث ته رجوع کول لازم دی۔ او ددغه صحابه کرامو دا عمل مخالف دے د مرفوع احاديثو او کله چه د يو صحابی عمل د مرفوع حديث خلاف ثابت شی نو هغے له به اعتبار نهٔ وی او هغه به پدے کار کښې معذور گڼړلے شی او يا به د هغهٔ اجتهاد وِی يا به ورته مرفوع حديث نه وی رسيدلے، يا به ورله بل صحيح محمل طلب کړے شی۔لکه دا مذهب د اهل السنة

والجماعة دے۔ اُوس ددے آثارو کوم څائے تعارض دے؟ نو د دیارلس احادیثو سره ددے تعارض دے **بعض** دا دی:

١– یو دا حدیث الباب دے (اذا اقیمت الصلاة فلا صلاة الا المکتوبة)۔

٢– دویم: حدیث د مسلم (١/٢٤٧) کښې عبد الله بن سرجس ﷺ فرمائی: «یو سړے مسجد ته راداخل شو او رسول الله ﷺ په سحر مانځه ولاړ وو نو دهٔ دوه رکعاته په جانب د مسجد کښې اُوکړل بیا د رسول الله ﷺ سره په مانځه کښې شریك شو کله چه رسول الله ﷺ سلام واړولو، وے فرمایل: (یا فلان! بأي الصلاتین اعتددت ابصلاتك وحدك ام بصلاتك معنا؟)۔ (اے فلانیه! کوم مانځه ته تا اعتبار ورکړو آیا هغه مونځ چه څانله دے اُوکړو او که هغه مونځ چه مونږ سره دے اُوکړو؟)۔

امام نوویؒ فرمائی: پدے حدیث کښې رد دے د هغه چاچه وائی که انسان ته معلومه وه چه اول رکعت یا دویم رکعت لاندے کولے شی نو سنت به کوی۔

٣– **دلیل**: بخاری (١/٩١) او مسلم (١/٢٤٧) کښې عبد الله بن مالك بن بحینه ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ یو سړے اُولیدو (یعنی مالك بن بحینه) او اقامت شوے وو چه دوه رکعاته ئے کول کله چه رسول الله ﷺ سلام واړولو خلق په هغه (سړی) راجمع شو نو هغه ته رسول الله ﷺ فرمایلی وو (آالصبح اَربعاً) (آیا د سحر څلور رکعاته فرض دی) معنیٰ ددے حدیث دا ده چه نبی ﷺ په مالك باندے تیریدو نو او اِقامت شوے وو نو د هغه په غوږ کښې ئے دا خبره اُوکړه چه آیا سحر څلور رکعاته فرض دی چه هلته اقامت شوے دے او ته دلته په سنتو ولاړ ئے نو تا خو سنت د فرضو په شان اُوګنړل۔

نو صحابه کرامو د مالك نه تپوس کولو چه تا ته رسول الله ﷺ په غوږ کښې څهٔ اووئیل: هغهٔ ورته دغه الفاظ ذکر کړل۔ دا حدیث هم صریح دلیل دے پدے چه که جماعت لاندے کولے شی هم دا دوه رکعاته به د اقامت نه پس نهٔ کوی۔

پدے حدیث او د عبد الله بن سرجسؓ په حدیث کښې امام طحاویؒ یو **غلط تاویل** کړیدے چه نبی ﷺ پدے صحابو رد ځکه اُوکړو چه دوی دا دوه رکعاته د خلقو نه روستو متصل صف کښې کول نو مشابهت راتلو د اتصال د سنتو د فرضو سره په یو مکان کښې او دا خو زمونږ په نیز هم مکروه دی خو که چرته سنت د مسجد په آخر طرف کښې اُوکړی او بیا د هغه ځائے نه نقل شی اول طرف د مسجد ته راشی نو دا جائز دی»۔

نو وجه د غلطئ دا ده چه پدے خبره باندے هیڅ دلیل نشته چه د مسجد د روستو جانب نه مخکښې جانب ته نقل شی نو سنت جائز دی پدے انتقال باندے هیڅ دلیل نشته ځکه

چه دا انتقال په یو قدم اخستو سره هم کیدے شی او دارنګه دا فصل په خبرو کولو سره هم کیدے شی۔ نو بیا دے هغهٔ هم ددهٔ په نیز جائز شی۔ دارنګه پکار ده چه دا خبره په سنت د ظُهر (ماسپښین) کښې هم اُوشی، او حال دا چه د سنتو په ځائے کښې فرض اداء کول جواز لری بغیر د فصل نه۔ ظاهر دا ده چه د فصل نه مراد فصل بالزمان دے چه د اقامت او د سنتو ترمینځ به فاصله ورکولے شی او متصل د اقامت په وخت به نشی اداء کولے۔

دارنګه په حدیث د عبد الله بن سرجسؓ کښې په روایت د مسلم کښې صراحةً (فصلی فی جانب المسجد) الفاظ راغلی دی: یعنی د مسجد په یو جانب کښې ئے سنت اُوکړل) نو پدے سره تاویل د طحاویؒ باطل شوځکه چه پدے کښې فصل بالمکان راغلے دے، او بیا هم نبی ﷺ هغه منع کړو) او دغسے رد په طحاویؒ باندے علامه عبد الحی اللکهنویؒ په التعلیق الممجد ص (۸٦) کښې کړیدے: « چه د طحاویؒ دا خبره یو خوږے دلیله ده او بله دا چه د بعض روایاتو خلاف ده »۔ کما مر۔

٤- **دلیل**: ابن عباس ﷺ فرمائی: « د مانځه دپاره اِقامت اُوشو نو یو سړے سنتو ته پاڅیدو، رسول الله ﷺ هغهٔ د جامو نه راخکلو او دا ئے ورته اُوفرمایل: (اَتُصَلِّی الصُّبْحَ اَرْبَعًا؟)۔ (آیا تهٔ د سحر مونځ څلور رکعاته (فرض) کوے) اخرجه احمد قال الهیثمی ورجاله رجال الصحیح مجمع الزوائد (۲/۵)۔

۵- **دلیل**: رسول الله ﷺ اُوفرمایل: کله چه اقامت د مانځه اُوشی نو هیڅ مونځ نهٔ کیږی سِویٰ د فرض مانځه نه نو صحابه کرامو عرض اوکړو قیل: یارسول الله! ولا رکعتی الفجر؟ قال: ولا رکعتی الفجر۔) (یارسول الله! آیا د سحر سنت هم (د اِقامت نه پس) نهٔ کیږی، نبی ﷺ اُوفرمایل: د سحر سنت هم نه کیږی۔)

اخرجه البیهقی (۲/٤٨٣) واسناده حسن۔ فتح الباری (۲/۱۱۸) وتحفة الاحوذی (۲/۳۹۸) وقال الزرقانی والحافظ ابن حجر اسناده حسن وصححه السیوطیؒ فی التوشیح علی البخاری۔ دا صریح نص دے فکر پکښې اُوکړه۔

٦- ابو موسیٰ اَشعری ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ یو سړے اُولیدو چه د سحر دوه رکعاته ئے کول په هغه وخت چه مؤذن په اِقامت کښې شروع شوے وو نو رسول الله ﷺ د هغه په اُوګو باندے چونډاره اُولګوله او دا ئے ورته اوفرمایل: (الا کان هذا قبل ذا؟) ۔(دا سنت تا ددے اقامت نه مخکښې ولے نهٔ کول؟)۔

اخرجه الطبرانی فی الکبیر ورجاله موثقون کما فی المجمع (۲/۷۵)

۷- طبرانیؒ او ابو یَعلیٰ (باسناد رجالهٔ ثِقات) سره د ابن عباسؓ نه نقل کوی: « چه د سحر

مانځه اِقامت اُوشو نو زهٔ پاخیدم دا دوه رکعاته مے کول مخکښې د فرضو نه نو رسول الله ﷺ زما لاس اُونیولو او رائے خکلم او وې فرمایل: (اَتُصَلِّی الصُّبحَ اَربَعًا ؟)۔
(آیا تهٔ سحر څلور رکعاته فرض کوے) (یعنی تا خو سنت د فرضو نه ډیر اَهم اُوګرځول ځکه پرے فرض خرابوے) مجمع الزوائد (۷۵/۲) والمحلی (۱۵۰/۲)
۸– عمر فاروق ﷺ به پرے خلق وهل۔ (بیهقی ۴۸۳/۲) مصنف عبد الرزاق (۴۳٦/۲)۔
۹– نافع فرمائی: عبد الله بن عمر ﷺ یو سړے اُولیدو چه د مؤذن د اِقامت په وخت ئے دوه رکعاته کول نو هغهٔ په کانړو اُوویشتو او دائے ورته اُوفرمایل: (اَ تُصَلِّی الصُّبحَ اَربَعًا)۔(آیا تهٔ د سحر مونځ څلور رکعاته کوے) مصنف عبد الرزاق (۴۳٦/۲) والبیهقی (۴۸۳/۲)
۱۰– بیهقی (۴۸۱/۲) د جعفر بن محمد عن اَبِیهِ نه نقل کړیدی: چه نبی ﷺ راداخل شو په هغه وخت چه د سحر مانځه دپاره اقامت شوے وو نو په ابن القشبؒ باندے راتیر شو چه هغه په مانځه ولاړ وو۔ورته ئے اوفرمایل: اے ابن القشب! (اَتُصَلِّی الصُّبحَ اَربَعًا؟) (آیا تهٔ د سحر څلور رکعاته فرض کوے) دا حدیث مُرسل دے خو د ابن مالك بن بحینهٔ نه ئے متصل هُم راوړے دے۔
۱۱– ابو هریرهٔ به دا فتویٰ ورکوله چه د اِقامت نه بعد هیڅ قسم مونځ نهٔ کیږی۔
محلی (۱۵۳/۲)۔
۱۲– ابن عمر ﷺ به دا کار پخپله کولو چه د اِقامت په وخت به ئے سنت پریخودل۔ (محلی ۱۵۴/۲) د ایوب سختیانی، طاووس، ابراهیم نخعی، مسلم بن عقیل، هشام بن عروه، سعید بن جبیر، میمون، سعید بن المسیب او عطاء رحمهم الله– نه آثار موجود دی چه هغهٔ په محلیٰ د ابن حزمؒ (۱۵۲/۲) او ابن ابی شیبه (۷۷/۲) کښې کتلے شی۔
۱۳– **دلیل**: انس بن مالك ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ پداسے حالت کښې راُووتو چه اِقامت د مانځه شوے وو، (فرأی ناساً یُصَلُّونَ بِالعَاجلَةِ فَقَالَ: اَصَلاتَانِ مَعًا؟ فَنَهٰی اَنْ تُصَلَّیَا فِی الْمَسْجِدِ اذا اُقِیمتُ الصلاة)۔(نو څه خلق ئے اُولیدل چه په جلتیٔ جلتیٔ ئے دا دوه رکعاته کول۔ ورته ئے اُوفرمایل: «آیا دوه مونځونه یو ځائے کویٔ» نو په مسجد کښې ئے ددے دوه رکعاتو نه منع اُوکړه کله چه اِقامت اُوشی) ابن خزیمة (۱۷۰/۲) مسند البزار (مرعاة) عمدة القاری (۷۱۱/۱۲) نو دا صریح نص دے چه د اقامت په وخت په مسجد کښې دوه رکعاته سنت کول حرام دی او په احنافو صریح رد دے چه په مسجد کښې دا دوه رکعاته د اِقامت په وخت جائز ګنړی۔
نو **حاصل** دا شو چه دا دوه رکعاته د اِقامت په وخت کښې کول سوچه حرام دی او ددے

نصوصو خلاف كول دي برابره ده چه مسجد كښې وي او كه بهر وي، قرائت أوري يا نهٔ أوري، يا د ركعت موندلو گمان وي يا نهٔ وي۔ او د مسجد په ابتداء كښې وي او كه د ستنې شاته وي۔ پدې ټولو صورتونو كښې د دغه نصوصو مخالفت راځي۔ بلكه محققين احنافو هم ديته مكروه او بَد وئيلي دي۔

علامه عبد الحي اللكهنويؒ په التعليق الممجد ص (۸۶) كښې فرمائي: لكن يخفى على الماهر ان ظاهر الاخبار المرفوعة المنع۔ انتهىٰ (ماهر سړي باندې دا خبره نهٔ پټيږي چه د مرفوع أحاديثو په ظاهر كښې منع راغلې ده ددغه دوه ركعاتو نه په وخت د إقامت كښې)

۲– په محيط كښې دي: يكره هذا كله يعني الصلاة في داخل المسجد سواء خلف الاسطوانة، اوعند باب المسجد خلف الصف لانه بمنزلة المسجد الواحد، مخلصاً عين الهداية (۱/ ۷۳۰) (پدې ټولو صورتونو كښې دا دوه ركعاته مكروه دي كه په مسجد كښې د ستنې شاته وي يا د صف نه روستو د مسجد په دروازه كښې وي ځكه دا په منزله د يو مسجد دي) (عين الهدايه)

نو پدې تحقيق سره د ابن الملك او عينيؒ خبره باطله شوه چه هغوي وائي: «اذا اقيمت الصلاة فلا صلاة الا المكتوبة» ددې د عموم نه سنت د فجر خاص شويدي پدې قول د نبي ﷺ چه «لاتدعوهما وان طردتكم الخيل» ځكه پدې كښې جمع د دواړو فضيلتونو ده، جَمع به هم رالاندې شي او سُنت به هم پاتې نشي۔ دا خبره ځكه غلطه ده چه ددې عموم نه تخصيص صحيح نهٔ دې ځكه چه صراحةً نهي راغلې ده د سنت د سحر نه په وخت د اقامت كښې چه هيڅ قسم تاويل او احتمال نهٔ قبلوي لكه حديث د ابن سرجسؓ او ابو موسى الاشعريؓ او ابن عباسؓ او انس بن مالك تير شو۔

او كه ددې صريح نهي نه روستو ئې څوك خاص كوي نو دا معاند دې د سنت او متعصب او مُفرط دې، د خپل مذهب مدافعت كوي او په أحاديثو راخيژي، او هر چه د دواړو فضيلتونو موندلو خبره ده نو هغه ممكن ده ځكه چه اول دې جَمعه كښې شامل شي او بيا دِ د سلام نه روستو قضائي راوړي ځكه د قضاء دپاره همدا وخت هم مستحق دې۔ بله دا چه دغه روايت ضعيف دې او په ضعيف حديث تخصيص كول صحيح نهٔ دي۔ ددې مسئلې تفصيل په المرعاة (۵۰۰/۳) او فتاوى الدين الخالص (۱۶۷/۵) كښې د تفصيلي دلائلو سره أوگوره۔

۸– وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ ﷺ: «إِذَا اسْتَأْذَنَتِ امْرَأَةُ أَحَدِكُمْ إِلَى الْمَسْجِدِ فَلَا

يَمْنَعُهَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او ابن عمر ﷺ فرمائي : نبي ﷺ فرمائي : «کله چه تاسونه د يو تن نه ښځه مسجد ته د تلو اِجازت غواړي نو نهٔ دِيے ئے منع کوي». (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشريح : دا حکم هم باقي دے نهٔ دے منسوخ شوے. صرف فقه حنفي کښ ليکي : ځوانه ښځه دِے نهارِي مونځونو لره نهٔ راځي ځکه زمانه خرابه شويده، فتنه ولاړيږي. دليل پيش کوي چه عائشهؓ فرمائي : (لو ان رسول الله ﷺ رأى من النساء ما اَحْدَثْنَ لَمَنَعَهُنَّ من المسجد كما مُنِعَتْ نِسَاءُ بني اِسرائيل) (بخاري ومسلم) (که رسول الله ﷺ د زنانو حالت ليدلے وے نو د مسجد نه به ئے منع کړې وے لکه څنګه چه د بني اسرائيلو ښځے منع شوے وے) نو ددے نه معلوميږي چه د زمانے په تبدل سره تبدل په اَحکامو کښ راځي.

الجواب : دا د عائشےؓ رأيه ده او رسول الله ﷺ نهٔ ددے ښځو حالت ليدلے دے او نهٔ ئے منع کړيده لهذا په خپل اصل حالت باندے حکم پاتے شو او بدل نشو. دارنګه عائشےؓ صراحت په منع باندے ندے کړے. دارنګه نبي ﷺ ته خو دا پته وه چه روستو زمانه کښ به فسادات ډيريږي لکه هغهٔ فرمائيلي هم دي: (ما تركت بعدى فتنةً اَضَرَّ على الرجال من النساء) (په سړو باندے د زنانو نه لويه فتنه بله نشته) او دے باره کښ ئے ډير اِرشادات بيان کړيدي او سره ددينه ئے زنانه د مسجد نه ندي منع کړي، او که نبي ﷺ ته پته نه وه نو الله ته خو پته وه هغه به خپل نبي ته خبر ورکړے وے چه روستو زمانه کښ به فساد پيدا کيږي دا زنانه د مساجدو نه منع کړه (وما كان ربك نسياً) دين خود الله دے.

★ – دارنګه فساد خو د بعض زنانو نه واقع کيږي نهٔ د ټولو نه نو که چا کښ فساد وي پکار ده چه هغهٔ منع شي نو صحيح خبره دا را اُووتله چه فساد ته کتل پکار دي که په يوه زنانه کښ فساد وي نو هغه منع کول پکار دي دا وجه ده چه زنانه مساجدو ته راتلے شي خو په يو څو شرطونو سره چه هغه ورته بيان شي نو فساد ګره ښځه به پخپله منع شي.

او صحابه کرامو به ددے حديث خلاف نهٔ کولو او دا هم بعض صحابه کرامو ته بد ښکاره کيده چه ښځه مسجد ته لاړه شي پدے وجه د عمر فاروق ﷺ ښځه مسجد ته تله هغه به بده ګنړله ليکن منع کولے ئے نشوه نو په يو ماسخوتن کښ ورته په لاره کښ کيناستو او شکل ئے ورته بدل کړو او لاس ئے ورله يوړو او بيا پټ شو، نو ښځه ئے اُوويريده او منع شوه. چا ورته اُووئيل : اُوس مسجد ته ولے نه ځے؟ هغے اُووئيل : زمانه خرابه شوے ده.

د زنانو مسجد ته د تلو شرطونه

هغه شرطونه دا دي : ١- زنانه به دا يقين لري چه كور كښ مونځ بهتر دے د مسجد نه لكه په حديث كښ راغلي دي : (وبيوتهن خير لهن)

٢- عطر او خوشبوئي به نۀ استعمالوي، نرئ او ښائسته براقه جامه به نه آغوندي چه د خلقو زړونه راكاږي ورنه بيا به زانيه (زناكاره) حسابه شي لكه روستو حديثونو كښ به راشي.

٣- د خاوند نه به إجازه طلب كوي او خاوند به إجازه وركوي او خاوند خو هميشه كور كښ نۀ وي نو پدے وجه به نشي تلے او دا شرط پدے حديث كښ راغلے دے (اذا استأذنت)

٤- پرده كښ به ځي ډول او سنګار به نۀ ښكاره كوي.

٥- سړو سره به يو ځائے صف نۀ تړي.

٦- د امام د سلام نه روستو به سمدستي د مسجد نه اُوځي چه د سړو سره په لاره شريكے نۀ شي. ٧- د سړو سره به په لارو كښ اختلاط (ګډون) نۀ كوي.

٨- د لارے په مينځ به نۀ ځي. ٩- دا عقيده به ساتي چه روستني صفونه افضل دي.

١٠- پرده كښ به ځي، چه د خلقو د فتنے سبب نۀ شي. دا ټول شرطونه حديثو كښ راغلي دي كه ددے شرطونو پابندي نه وه نو نۀ به ځي او حكمت په اجازه كښ دا دے چه دين به زده كړي، اخلاق به ئے ښه شي د نورو زنانو به نصيحت واخلي نو دا مصالح معارض دي د فتنے سره نو پدے وجه شريعت دے مصالحو ته اُوكتل او منع ئے اُونكړه او دا مصالح په فتنه باندے غالب دي.

او پدے كښ د ځوانو او بوډئ ګانو فرق نۀ شته بلكه ټولے زنانه په دغه شروطو وتلے شي. او كوم علماء چه فرق كوي د هغوي سره صحيح معتمد دليل نشته. راجع فتاوى الدين الخالص (١٨١/٥)

الى المسجد قيد ئے اولګولو اشاره ده چه بازار ته ئے منع كولے شي.

٩- وَعَنْ زَيْنَبَ امْرَأَةِ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ، قَالَتْ : قَالَ لَنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«إِذَا شَهِدَتْ إِحْدَاكُنَّ الْمَسْجِدَ فَلَا تَمَسَّ طِيْباً». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او د عبد الله بن مسعودؓ بى بى زينب رضى الله عنها فرمائي: رسول الله ﷺ مونږ ته اُوفرمايل : «كله چه يو ستاسو نه مسجد ته حاضرېږي نو خوشبوئي دے نۀ لګوي». (مسلمؒ)

تعارف د زينب امرأة عبد الله : دا زينب بنت معاويه يا بنت ابي معاويه يا بنت عبد الله بن معاويه بن عتاب بن الاسود ده، د ثقيف قبيلې نه ده او د ابن مسعود زوجه بي بي ده، صحابيه ده د نبي ﷺ نه، او ابن مسعود او عمر بن الخطاب نه ئې روايتونه نقل کړي دي۔ علامه کلاباذيؒ فرمائي: ددې نوم رائطه دې او په زينب باندې مشهوره ده۔

تشريح : پدې حديث کښې يو شرط دې، چه زنانه مسجد ته ځي نو عطر او خوشبوئي به نۀ لګوي ځکه خوشبوئي شهوات راپورته کوي، نو خلق به فتنه کښې واقع کړي او يا به خپله په فتنه کښې واقع شي ۔او المسجد لفظ نه دا معلوميږي چه کور کښې ورله خوشبوئي لګول جائز دي۔ او دليل دې چه زنانه مسجد ته تلې شي خو په شروطو۔

ابن دقيق العيدؒ فرمائي: د خوشبوئۍ په حکم کښې هر هغۀ شے دې چه هغۀ سبب د شهوت راپورته کولو وي لکه ښائسته جامې، برقع، او ښائسته هيئت جوړول او هغۀ ګاڼۀ اچول چه د هغې اثر ښکاره کيږي۔ او طيباً ئې نکره راوړه دې دپاره چه هر قسم خوشبوئي ته شامل شي۔ (تحفة الاحوذی ۳/ ۱۳۱)

---

۱۰ – وَعَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :« اَيُّمَا امْرَاَةٍ اَصَابَتْ بُخُوْرًا، فَلَا تَشْهَدْ مَعَنَا الْعِشَآءَ الْآخِرَةَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي :« کومه زنانه چه بُخور (يعني خوشبوئي) اُولګوي نو هغۀ دې زمونږ سره ماسخوتن مانځه ته نۀ حاضريږي»۔ (مسلمؒ)

تشريح : اَلْعِشَآءَ الْآخِرَةَ : نه مراد د ماسخوتن مونځ دې يعني کله چه زنانه مسجد ته ماسخوتن کښې راځي نو خوشبوئي به نۀ لګوي، هر قسم خوشبوئي ته شامل ده، عطر وي او که لونګ وي يا خوشبويه تيل وي ځکه دا ډير د فتنې وخت دې تياره ده، لاره خالي ده او زنانه خوشبوئي هم لګولې ده نو کيدې شي چه منافقان او فاسقان به ګوتې وروړي۔

پدې حديث کښې دا قيد د عشاء احترازي نه دې بلکه عام اوقاتو کښې زنانه که بهر اوځي نو هغې له خوشبوئي لګول حرام دي خو دلته د عشاء قيد اتفاقي دې، او دا قيد ئې د زيات قباحت دپاره لګولې دې چه پدې کښې فتنه ډيره ده۔ مطلق هم راغلې دې نو مطلق به په خپل اطلاق جاري وي۔ لکه مخکښې تير شو۔

بخور : د يو شي د سيزلو نه لوګے اخستلو ته وائي۔ دلته ترې مراد مزيداره خوشبوئي ده چه د يو شي د سيزلو په وجه راپورته کيږي۔مراد ترې نه هر قسم خوشبوئي ده۔ اګرکه د

بُخور نه بَره درجه کښې وی هغهٔ به هم پکښې داخل وی بلکه هر هغهٔ شے چه د شهوات راپورته کولو سبب وی هغه هم پدے کښې داخل دی۔

الفصل الثانی

۱۱ – عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «لَاتَمْنَعُوْا نِسَاءَ کُمُ الْمَسَاجِدَ، وَبُيُوْتُهُنَّ خَيْرٌ لَهُنَّ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ.

ترجمه: ابن عمر رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ فرمایلی دی: «مهٔ منع کوئ ښځے خپلے د مساجدو نه او د هغوی کورونه د هغوی دپاره بهتر دی»۔ (ابوداودٓ)

تشریح: کله چه زنانه ته اُووئیل شی چه ستا دپاره په کور کښې مونځ بهتر دے نو هغه بیا مسجد ته په هله آسانه نهٔ ځی مگر که د دین زدهٔ کولو او بیان او وعظ اَوریدو دپاره ځی نو بیا بهتره ده۔او په کور کښې ورله مونځ ځکه بهتر دے چه پدے کښې دا د فتنے نه پخپله هم محفوظ وی او بل هم په کښې نهٔ اَچوی۔ او پدے کښې بل شرط ذکر دے۔ چه کور کښې مونځ به بهتر ګڼړی۔

امام ابن جریرؒ فرمائی: « زنانو دپاره جماعت ته حاضریدل مستحب دی هرکله چه شارع دوی ته د مستحب په حاصلولو کښې اجازت ورکړو نو کوم کار چه فرض وی لکه ګواهی اَداء کول یا دین زده کول، یا مؤکد مستحب کار وی لکه د یو د مور او پلار جنازے ته حاضریدل شو نو دا به په طریق اولیٰ جائز وی »۔ (فیض القدیر ۱/۹۳) للمناویؒ۔

درجة الحديث: اسناده صحيح : اخرجه احمد (۲/۷۲،۷۷) وابوداود (۵۶۷) والحاكم في المستدرك (۱/۲۰۹) وقال صحيح على شرطهما۔

---

۱۲ – وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ ﷺ: «صَلٰوةُ الْمَرْأَةِ فِيْ بَيْتِهَا أَفْضَلُ مِنْ صَلٰوتِهَا فِيْ حُجْرَتِهَا، وَصَلٰوتُهَا فِيْ مِخْدَعِهَا أَفْضَلُ مِنْ صَلٰوتِهَا فِيْ بَيْتِهَا». رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ.

ترجمه: عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی: نبی ﷺ فرمایلی دی: «د زنانه مونځ په کوټه کښې ډیر بهتر دے ددے د مانځه نه په صحن کښې او د زنانه مونځ وړوکی کوټه کښې ډیر بهتر دے د مانځه ددے نه په کولاوه کوټه کښې»۔ (مسلمٓ)۔

تشریح: بیت هغهٔ کوټے ته وائی چه د خوب دپاره تیاره شوی وی او حجره منډو (صحن) ته وائی او مُخدع (په میم باندے ضمه، فتحه، کسره درے واړه اعرابه وئیل جائز

دی) هغه وړوکې کوټې ته وائي چه په لويه کوټه کښې دننه وی لکه د باورچی خانې پشان، چه هغې کښې قیمتي سامانونه ساتلې شی د "خُدْع" نه ماخوذ دے په معنی د پټولو د یو شی سره۔ یعنی خزانه د کوټې ۔ مخدع اصل کښې د دوکې کوټې ته وائي چه غل راننوځي بهر سامان ویسي او هغه کوټه ترې پټه وی۔

حاصل د حدیث دا دے چه مونځ د زنانه د بهر منډو نه په غټه کوټه کښې بهتر دے او د غټې کوټې نه دننه په وړه تنګه کوټه کښې بهتر دے ځکه چه پرده د زنانه په دوه قسمه ده یو د خلقو نه او بله پرده لِحَقِ الصلاة ده دا د الله حق دے چه زنانه به پرده کوی اګرکه هیڅوك موجود نهٔ وی، او پدے کار سره زنانه د فتنې نه هم بڼهٔ په امن کښې وی۔

درجة الحديث : اسناده علی شرط مسلم اخرجه ابوداود (٥٧٠) والحاكم فی المستدرك (٢٠٩/١) وقال : هذا حدیث صحیح علی شرط الشیخین ولم یخرجاه ووافقه الذهبی۔

---

١٣ – وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ، قَالَ: اِنِّیْ سَمِعْتُ حِبِّیْ اَبَا الْقَاسِمِ ﷺ یَقُوْلُ: «لَا تُقْبَلُ صَلٰوةُ امْرَأَةٍ تَطَیَّبَتْ لِلْمَسْجِدِ حَتّٰی تَغْتَسِلَ غُسْلَهَا مِنَ الْجَنَابَةِ» . رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ، وَرَوٰی اَحْمَدُ وَالنَّسَائِیُّ نَحْوَهٗ۔

ترجمه : او ابو هریره رضی الله عنه فرمائی، ما د خپل محبوب ابوالقاسم ﷺ نه اُوریدلی چه فرمایل ئے : « د هغهٔ زنانه مونځ نهٔ قبلیږی چه د مسجد د تلو دپاره خوشبوئی لګوی تردے چه غسل اُوکړی لکه څنګه چه د جنابت نه غسل کیږی» ۔ (ابوداودؒ) او احمدؒ او نسائیؒ ددے په شان روایت نقل کړے دے۔

تشریح : حِب په معنی د محبوب دے، د حدیث مطلب دا دے چه زنانه که بهر مسجد وغیره دپاره ځی نو داسې خوشبوئی به نهٔ لګوی چه بوئی لری او په خلقو لګی ځکه دے کښې فساد دے او کهٔ رنګ والا خوشبوئی اُولګوی چه په چا نه لګی او هسې رنګ وی نو دا خیر دے، لکه دویم جلد کښې به حدیث راشي (طیب الرجال ما خفی لونه وظهر ریحه وطیب النساء ما ظهر لونه وخفی ریحه) (د سړو خوشبوئی کښې به رنګ نه وی او بوئی به لري او د زنانو خوشبوئی به برعکس وی) (ترمذی، نسائی باسناد صحیح)

غُسْلَهَا مِنَ الْجَنَابَةِ : ددے مطلب دا دے چه زنانه دپاره دا زجر دے چه کله ئے خوشبوئی اُولګوله نو هغه به لامبی او د جنابت په شان غسل به کوی چه ټول آثار د خوشبوئی ختم کړی ځکه چه دے ډیر نقصان کړیدے، ددے خوشبوئی به په داسې خلقو ورغلی وی چه

هغه به بے واده وی نو د هغوی فکرونه به ئے خراب کړی وی. او د ټول بدن د وينځلو امر ځکه شوے دے چه په هغهٔ زمانه کښې به خوشبوئی په بدن کښې لړول کيده.
او ترڅو چه هغې باندے خوشبوئی پرته وی نو ددے مونځ نهٔ قبليږی، يعنی ثواب به ورته په مانځه نهٔ ورکولے کيږی اگرکه فرض ئے ساقط شو او قضاء پرے نشته ليکن د زجر دپاره ئے د نفی د ثواب نهٔ تعبير اُوکړو په نفی د قبول سره دے دپاره چه زنانه اُويريږی. (فيض القدير شرح الجامع الصغير ۳/۲۰۰) للمناوی.
درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه احمد (۲/۲۴۶) (۲۹۷) (۳۶۵) (۴۴۴) وابوداود (۴۱۷۴) (۸/۱۵۳) وابن ماجه (۴۰۰۲) اخرجه البيهقي في الكبرى (۳/۱۳۳) باسنادين احدهما صحيح، يصح به الحديث لان رواية ابی داود فيها عاصم بن عبيد الله وبه يضعّف الحديث لكن الطريق الذی عند البيهقي يصح به الحديث.

---

۱۴ – وَعَنْ اَبِیْ مُوْسٰی، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «كُلُّ عَيْنٍ زَانِيَةٌ، وَاِنَّ الْمَرْاَةَ اِذَا اسْتَعْطَرَتْ فَمَرَّتْ بِالْمَجْلِسِ، فَهِيَ كَذَا وَكَذَا يَعْنِيْ زَانِيَةٌ ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَلِاَبِیْ دَاوٗدَ وَالنَّسَائِيِّ نَحْوَهٗ.

ترجمه : ابوموسیٰ ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ فرمايلی دی: « هره سترگه زنا کونکے ده (کله چه هغهٔ پردئ زنانه ته په بد نظر گوری) او يقيناً زنانه چه کله عطر اُولگوی او په يو مجلس (د سړو) ورتيره شي نو دا داسے داسے ده يعنی زنا کاره ده »۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ، نسائیؒ)
تشريح : كُلُّ عَيْنٍ زَانِيَةٌ : هره سترگه زناکاره ده کله چه پردی عورتونو ته گوری، پردو زنانو ته گوری يعنی هره سترگه چه پردئ زنانه ته د شهوت په طور اُوگوری نو دا زنا کاره شوه او پدے کښې عام خلق مبتلا دی. والعياذ بالله. د عبادتونو خوندونه ددے وجه نه ختميږی. او کله چه زنانه عطر اُولگول او په يو مجلس تيره شوه دا زناکاره ځکه شوه چه دا اگرکه د زنا نه خبره نهٔ ده، ښهٔ ښځه ده، زړهٔ کښې ئے هيڅ شهوت نشته.
ليکن دا د بل چا د زنا دپاره سبب اُوگرځيده هغهٔ سترگه به دے ته گوری نو هغهٔ سترگه ددے په وجه زناکاره شوه. ځکه په مجلس کښې به بد عمله، بے وادهٔ خلق وی هغوی ته به غلط سوچونه راشی او بيا به ددے زنانه يا د نورو زنانو په طلب کښې اُوځی نو هغه ئے په زنا کښې مبتلا کړو که دا نهٔ وے رابښکاره شوے نو د هغه خلقو توجه به دے طرفته نه وے.
نو دے حديث نه عموم معلوم شو چه جمات ته کے چه زنانه به هسے هم د خوشبوئی

په حالت نه اُووځي۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه احمد (٤٠٠/٤) والدارمي (٢٧٩/٢) والترمذي (٢٧٨٦) وقال حديث حسن صحيح وابوداود (٤١٧٣) والنسائي (١٥٣/٨) لكن دون قوله كل عين زانية واخرجه الحاكم (٣٩٦/٢) وقال صحيح الاسناد ولم يخرجاه ووافقه الذهبي۔

---

١٥ - وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، قَالَ: صَلّٰى بِنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَوْمًا الصُّبْحَ، فَلَمَّا سَلَّمَ قَالَ: « أَشَاهِدٌ فُلَانٌ ؟ ». قَالُوْا: لَا. قَالَ: « أَشَاهِدٌ فُلَانٌ؟ » قَالُوْا: لَا. قَالَ: « إِنَّ هَاتَيْنِ الصَّلَاتَيْنِ أَثْقَلُ الصَّلَوَاتِ عَلَى الْمُنَافِقِيْنَ، وَلَوْ تَعْلَمُوْنَ مَا فِيْهِمَا لَأَتَيْتُمُوْهُمَا وَلَوْ حَبْوًا عَلَى الرُّكَبِ، وَإِنَّ الصَّفَّ الْأَوَّلَ عَلٰى مِثْلِ صَفِّ الْمَلَائِكَةِ، وَلَوْ عَلِمْتُمْ مَا فَضِيْلَتُهُ لَابْتَدَرْتُمُوْهُ، وَإِنَّ صَلَاةَ الرَّجُلِ مَعَ الرَّجُلِ أَزْكٰى مِنْ صَلَاتِهِ وَحْدَهُ، وَصَلَاتُهُ مَعَ الرَّجُلَيْنِ أَزْكٰى مِنْ صَلَاتِهِ مَعَ الرَّجُلِ، وَمَا كَثُرَ فَهُوَ أَحَبُّ إِلَى اللهِ». رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: او اُبي بن كعب رضي الله عنه فرمائي : مونږ ته يوه ورځ رسول الله ﷺ د سحر مونځ اُوكړو، كله ئې چه سلام واړولو وې فرمايل : « آيا فلانے شخص حاضر دے؟ » صحابه كرامو اُوفرمايل : نه، وې فرمايل: آيا فلانے شخص حاضر دے، صحابه كرامو اُووئيل : نه، نبي ﷺ اُوفرمايل : « دا دواړه مونځونه په منافقانو باندې د ټولو نه زيات دَرانه دي، او كه تاسو ته معلومه شي هغه ثواب چه پدې دواړو مونځونو كښې دي، نو تاسو به دې ته راغلي وې اګركه د زنګونو په خپوړو سره وې، او يقيناً اول صف د ملائكو د صف په شان دے او كه تاسو ته معلوم شي هغه غوره والے چه پدې كښې دے نو تاسو به ورته په جلتئ سره راتللې۔ او د سړي مونځ د يو سړي سره ډير ثواب والا دے د ځانله مانځه د هغه نه۔ او د سړي مونځ د دوه سړو سره ډير ثواب والا دے د يو سړي سره د مانځه نه او څومره چه (مقتديان) زيات وي نو هومره الله ته زيات محبوب وي »۔ (ابوداود، نسائيؒ) ۔

تشريح : أَشَاهِدٌ فُلَانٌ ؟ : د يو منافق سړي باره كښې ئې تپوس اُوكړو بيا ئې د بل منافق باره كښې تپوس اُوكړو۔ هركله چه ورته جواب په نفي ملاؤ شو نو دغه ارشاد ئې اوفرمايلو چه دا دوه مونځونه يعني ماسخوتن او سحر مونځ په منافقانو درانه دي۔

او هاتين الصلاتين كښې اشاره ده د ماسخوتن او سحر مانځه ته سحر خو حاضر دے او هرچه ماسخوتن دے نو هغه ددے سره په ابتداء كښې متصل دے۔ يا دا چه د سحر د وجه نه

د ماسخوتن مونځ يادېږي ځکه چه ماسخوتن مونځ آخر دے او سحر مونځ اول دے۔ يا ځکه چه ماسخوتن د سحر مقابل دے ځکه چه ماسخوتن مونځ اِبتداء د خوب دے او سحر مونځ اِختتام د خوب دے۔

او حديث نه دا فائده حاصليږي چه امام له پكار دي چه د خپلو مقتديانو د احوالو تپوس اوكړي او د هغوي د حال نه ځان خبر كړي۔ او بيا هغوي ته ترغيب وركړي۔ او د هغوي د بد فعل نه نور خلق متنبه (خبردار) كړي۔

«أثقل» ئے اُووئيل اشاره ده چه مومنانو ته هم دا عمل مشكل وي ځكه دے ته راپاځيدل گران دي مگر په طبيعت ئے گران نه وي۔ بد ئے نۀ گنړي۔ ځكه يو ثقل دے بل مشقت دے، مؤمن بانديے مشقت وي ليكن ثقل نۀ وي لهذا اعتراض به نۀ كيږي چه دا مونځ خو مومن ته هم گران وي۔

وَلَوْ تَعْلَمُوْنَ مَا فِيْهِمَا : **سوال**: مونږ ته خو دا فضيلت معلوم دے او بيا هم عام انسانان سحر جَمعے له نه راځي؟۔ **الجواب**: «لو تعلمون» نه مراد تفصيلي علم دے يعني كه تاسو ته ددے تفصيلي خيرونه معلوم شي نو بيا به ورته ضرور راتلے او مونږ ته اِجمالًا علم دے ۲– يا «لوتعلمون» نه مراد (لوتعلمون علماً يقينياً) يعني كه تاسو ته په علم يقيني سره معلومه شي او پدے خبره مو يقين پيدا شي نو ضرور به راځئ او هر كله چه مونږ عمل نه كوو معلوميږي چه يقين نشته۔ او پدے كښ كامل ترغيب دے چه منافقان پدے خبره يقين او تصديق نۀ كوي ځكه دے مونځونو ته نۀ راځي نو مومنانو له پكار دي چه پدے باندے يقين اُوكړي او دے مونځونو ته په هره طريقه حاضري وركړي چه د منافقانو د طور او طريقے نه محفوظ شي۔ او دا دوه مونځونه خاصكر منافقانو ته ځكه مشكل وي چه دا په مشكل وخت كښ ادا كيږي د خوب وخت وي او د هغوي په زړه كښ ديني جوش او داعي نه وي موجود او د هغوي مقصد (رياء) په كښ نه حاصليږي ځكه تياره وي خلق ئے نۀويني او زړۀ كښ ئے خو ايمان نه وي نو ځكه ئے طبيعت باندے بد لگي۔

عَلٰى مِثْلِ صَفِّ الْمَلَائِكَةِ : يعني اول صف الله ته داسے قريب دے او د شيطان نه وړاندے دے لكه څنگه چه د ملائكو صفِ اول ته نزدے وي۔ علامه طيبيؒ ليكي: صف اول چه امام ته نزدے وي دا ئے مشابه كړو د صف د ملائكو سره چه الله ته نزدے وي۔

لَابْتَدَرْتُمُوْهُ : يعني كه تاسو ته د صف اول فضيلت تفصيلًا معلوم شي نو تاسو به ورته د يو بل نه په جلتئ سره راتلے او د يو بل نه به مو مخكښ والے كولے۔

وَمَا كَثُرَ فَهُوَ أَحَبُّ إِلَى اللهِ : ۱– ما موصوله ده په معنى د مانځه سره او ضمير لفظ د ما

ته راجع دے یعنی هغهٔ مونځ چه خلق پکښې ډیر شامل وی هغهٔ الله ته زیات محبوب دے۔
٢- یا (ما) پـه مـعنیٰ د موضع (ځائے) سره دے۔ یعنی هر هغهٔ ځائے د مساجدو نه چه په هغے کښې مونځ کونکی زیات وی هغهٔ ډیر اَفضل دے۔
دا حـدیـث دلیـل دے چـه اَقـل د جـمـاعـت دوه کسـان دی یو مقتدی او بل امام۔ او کومه جَمعه چه غټه وی په هغے کښې اَجر زیات دے۔
پـدے حـدیـث کښې مسئله دا ده چه یو غټ مسجد دے خو لرے دے بل قریب مسجد دے خـو وړوکے دے نـو پـدے کـښې حـق د خپلے محلے مسجد دے اگرچه وړوکے وی جَمعه کښې خـلـق کـم وی۔ او ددے پـه بـاره کـښې یـو حـدیـث په سلسلة الاحاديث الصحيحة کښې شيخ البانیؒ راوړیدے۔ ځکه که هر سړے غټ مسجد ته ځی نو وړوکے مسجد به شاړ شی، او که دواړه مسـجـدونه یو شان مسافت کښې وی نو بیا ډیر نفری والا مسجد ته تلل بهتر دی۔ او کـه قـریـب مسجد کښې بدعات کیږی او مونځ پکښې په سنت طریقه نهٔ کیږی نو بیا بعید مسـجـد تـه تـلـل پکار دی۔ د بدعاتو د وجه نه د خپلے محلے جومات پریخودے شی۔ اگرکه عملی بدعتی پسے مونځ جائز دے۔
درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه ابوداود (٥٥٤) واحمد (١٤٠/٥) وعبد بن حميد فـى الـمـتنخب (١٩٦/١رقم : ١٧٣) والنسائى (١٠٤/٢) وابن خزيمة فى صحيحه (١٤٧٦) وابن حبان (٢٠٥) والحاكم فى المستدرك (٢٤٧/١ـ ٢٤٨) وله شاهد قوى فى الطبرانى قاله الحافظ۔

١٦- وَعَـنْ اَبِی الدَّرْدَاءِ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :« مَـا مِنْ ثَلَاثَةٍ فِیْ قَرْيَةٍ وَّلَابَدْوٍ لَا تُقَامُ فِیْهِـمُ الـصَّلَاةُ، اِلَّا قَـدِ اسْتَـحْـوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطَانُ، فَعَلَيْكَ بِالْجَمَاعَةِ، فَاِنَّمَا يَاْكُلُ الذِّئْبُ الْقَاصِيَةَ». رواهُ اَحْمَدُ وَاَبُوْدَاوُدَ، وَالنَّسَائِیُّ.

ترجمه : او ابودرداء ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی : « نشته درے کسان په یو کـلـی یا پـه یو بانـده کـښې چه په هغوی کښې مونځ (د جماعت) سره نهٔ قائمیږی، مگر په هـغـوی بـانـدے بـه شیـطـان غلبه کوی، نو په تا باندے جماعت (رانیول) لازم دی ځکه چه شرمخ هغه گډه خوری چه (د رَمے نه) وراندے وی »۔ (اَحمدؒ، ابوداوٗدؒ، نسائیؒ)۔
سبب ورود الحديث : دا حدیث ابودرداء ﷺ پـه یوه موقعه کښې معدان بن ابی طلحة ته اُووئیـلـو چـه د هـغـهٔ نـه ئے تپوس اُوکړو چه ستا کور چرته دے؟ نو معدانؒ ورته اُووئیل: د حـمـص نه مخکښې په یو کلی کښې نو ابودرداء ﷺ ورتـه اُوفرمایل : (خبردار) ما د رسول الله

ﷺ نه اَوريدلي دي چه فرمايل ئې : او دغه ارشاد ئې ورته ذكر كړو۔او په روايت د احمد كښې ورسره دا الفاظ زيات دي : (فعليك بالمدائن ويحك يا معدان) (ښاريو كښې اُوسيږه چه مونځونه درنه خراب نهٔ شي) مقصد ئې هغهٔ ته ترغيب او تيزي وركول وو چه جماعت درنه فوت نهٔ شي۔ورنه شيطان به دربانديے مسلط شي۔

او مطلب د حديث دا دے چه كوم ځائے چه دريے كسان وي او جماعت نهٔ قائموي نو شيطان به په هغوي مسلط شي او د هغوي نه به د الله ذكر هير كړي۔ نو جماعت لازم نيول پكار دي۔دا دليل دے چه شيطان به په يواځے مونځ كونكي بانديے زيات مسلط كيږي۔خاصكر كوم كس چه عادت وي په يواځے مانځه بانديے۔ د جماعت نه مراد د مونځونو جماعت هم دے او جماعت د مسلمانانو او خلافت اسلامي هم دے۔ نو كله چه انسان د مسلمانانو د جماعت خوا له ځي راځي نو شيطان ورته وسوسے نشي اَچولے او كله چه يواځے شي نو بيا د وسوسو او غلطو دعوتونو ښكار شي۔ دا وجه ده سفر كښې اِنسان ته وسوسے زياتے وي ځكه يواځے شوے وي۔ او دغه شان كه څوك د مسلمانانو د عقيدے نه علاوه نوريے عقيدے او اَعمال اِيجاد كړي نو په دهٔ بانديے به هم شيطان ضرور تسلط كيږي۔د اولے معنىٰ دلته مناسبت ډير دے۔ دا حديث دليل دے چه جماعت قائمول فرض دي ځكه د شيطان د تسلط نه ځان ساتل فرض دي۔

«قَرْيَةٍ» نه پس ئې «بدو» ذكر كړو ځكه قَريه كښې خلق زيات وي جامع وي او بَدْو كښې خلق كم وي او مصر كښې د قريه نه زيات وي۔ بَدْو، بَادِيَة، بَادَاة، او بَدَاوَة خلاف د ښاريه ته وائي۔

فَعَلَيْكَ : دا خطاب هر مخاطب ته دے او تخصيص د يو مخاطب ئې اُونهٔ كړو دپاره د تفخيم او تعظيم۔

اَلْقَاصِيَةَ : قاصيه هغه ګډيے ته وائي چه د رَمے نه وړانديے شوے وي، يا روستو تريے پاتے شوي د وجه د حرص نه نو شرمخ دا ماته كړي ځكه د شپونكي د ستركو نه غافله شوي وي۔ نو څوك چه يواځے مونځونه كوي او جماعت پريدي نو هغه بانديے به شيطان دغه شان مسلط كيږي۔

او «ثلاثة» ئې ذكر كړل ځكه دا په عام حالاتو كښې بغير د جُمعے نه اَقله كامله درجه د جماعت ده ۔ اِشاره ده كه دومره كم خلق وي نو هم جماعت به قائموي او نن صبا اُوګورئ لوئې لوئې كلي وي په سَوُونو خلق په كښې راجمع وي او بيا هم جماعتونه نهٔ كوي او هر سړيے ځانله ځانله مونځ كوي دا ډير غټ جرم دے او د شيطان په تسلط كښې اَخته شوي دي۔

درجة الحديث: اسناده حسن: اخرجه احمد (۱۲۶/۵) وابوداود (۵۴۷) والنسائی (۱۰۶/۲-۱۰۷) وابن خزیمة (۱۴۸۶) وابن حبان (۲۰۹۸) والحاكم فی المستدرك (۲۴۶/۱) وقال النووی: اسناده صحيح۔

---

۱۷ – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَنْ سَمِعَ الْمُنَادِیَ فَلَمْ يَمْنَعْ مِنِ اتِّبَاعِهِ عُذْرٌ». قَالُوْا: وَمَا الْعُذْرُ؟ قَالَ: «خَوْفٌ اَوْ مَرَضٌ، لَمْ تُقْبَلْ مِنْهُ الصَّلَاةُ الَّتِیْ صَلّٰی». رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ، وَالدَّارِقُطْنِیُّ.

ترجمه: او ابن عباس رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ اُوفرمايل: «څوك چه د اَذان كونكی نه (اذان واوری) او د هغهٔ د تابعداری (يعنی مسجد ته د تلو نه او جماعت كښ د شريك كيدو نه) ئے څهٔ عذر منع نهٔ كړی، خلقو تپوس اُوكړو: عذر څهٔ شے دے؟ نبی عليه السلام اُوفرمايل: «يَره او مرض ـ نو ددهٔ نه به قبول نهٔ شی هغه مونځ چه كوم دهٔ اُوكړو»۔ (ابوداودؒ، دارقطنیؒ)

تشريح: مِنِ اتِّبَاعِهِ: يعنی د اذان كونكی اتباع اُونكړی د هغه دعوت عملاً قبول نكړی، او اَوريدل د اذان دا په طريقه د غالب دے څكه چه غالباً اذان اوريدلے شی كه چا نهٔ وی اوريدلے هم راځی به۔ خوف نه مراد په ځان باندے يره، يا په عزت، يا په مال وغيره باندے يا د ظالم د ظلم نه هيريږی نو دا عذر دے په ترك د جماعت كښ او مرض نه مراد دومره مرض دے چه د هغے سره مسجد ته حاضريدل ورته تكليف وركوی، طاقت نهٔ لری۔

لَمْ تُقْبَلْ: دلته قبول نه مراد په نزد د جمهورو دا دے چه ثواب به ورته نهٔ ملاويږی اگر كه ذمه ئے فارغه كيږی، او امام ترمذیؒ فرمائی: بعض اهل علم فرمائی: دا حكم بناء دے په تغليظ او تشديد باندے۔ او د داود ظاهریؒ او ابن حزمؒ په نيز معنیٰ دا ده چه مونځ ئے بالكل باطل دے، او په هغه باندے پاتے دے۔ نو عدم قبول په معنیٰ د عدم صحت سره دے۔ والاول اَرجح۔

درجة الحديث: اسناده صحيح: اخرجه ابوداود (۵۵۱) وابن ماجه (۷۹۳) والدارقطنی (۴۲۰/۱ رقم ۴) والحاكم فی المستدرك (۲۴۶/۱) قال الالبانی الحديث صحيح بدون زيادة السوال والجواب ای (من سمع النداء فلم يجبه فلا صلاة له الا من عذر) اخرجه ابن ماجه والحاكم وقال صحيح علی شرط الشيخين ووافقه الذهبی وهما كما قالا۔ (ضعيف الترغيب والترهيب رقم (۲۳۰) وتمام المنة (ص ۳۲۷) وله شواهد كثيرة۔

---

۱۸ – وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ اَرْقَمَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ: «اِذَا اُقِيْمَتِ الصَّلَاةُ

وَوَجَدَ اَحَدُكُمُ الْخَلاءَ فَلْيَبْدَأْ بِالْخَلاءِ ». رواهُ التِّرمِذِيُّ، وَرَوى مَالِكٌ، وَاَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ نَحْوَهُ.

ترجمه : او عبد الله بن ارقم ﷺ فرمائی: ما د رسول الله ﷺ نه اَوریدلی دی چه فرمایل ئے : « کله چه د مانځه اِقامت اُوشی او یو تن په تاسو کښې د قضاءِ حاجت ضرورت مومی نو هغه دِے اَول قضاءِ حاجت باندے شروع اُوکړی » (اګرکه ددۀ نه جَمعَه ترك شی) (ترمذیؒ، مالك، ابوداودؒ، نسائیؒ)

تعارف د عبد الله بن ارقم رضی الله عنه :

بن عبد یغوث بن وهب بن عبد مناف القرشی الزهری مشهور صحابی دے د نبی ﷺ د ماما نمسے دے ځکه عبد یغوث د آمنے وُرور دے، او دۀ د فتح مکے په ورځ ایمان راوړے دے او د نبی ﷺ بیا د ابوبکرؓ او عمرؓ کاتب پاتے شویدے او دا د عمر فاروقؓ او عثمانؓ په خلافت کښې په بیت المال مقرر وو بیا ئے د عثمانؓ نه اِستعفاء طلب کړه نو هغه ورله استعفاء قبوله کړه، سائب بن یزید او عبد الله بن عتبه فرمائی : ما د عبد الله بن اَرقم نه د الله نه زیات یریدونکے څوك نۀ دے لیدلے۔ او عبد الله بن زبیرؓ فرمایلی دی : نبی ﷺ د عبد الله بن اَرقم نه د لیکلو مطالبه اُوکړه نو هغه به د نبی ﷺ د طرفنه بادشاهانو ته د خطونو جوابونه ورکول او د نبی ﷺ سره دومره امانتداریٔ ته اُورسیدو چه هغه به ورته حکم اُوکړو چه بعض بادشاهانو ته خطونه اُولیکی نو هغه به لیکل او مهر به ئے پرے وهلو او د نبی ﷺ په هغه دومره اِعتماد وو چه هغه به ئے نۀ لوستل۔ حافظ منذریؒ په « مختصر السنن» کښې فرمائی : ددۀ نه صرف دا یو حدیث نقل دے۔ او د عثمانؓ په دور خلافت کښې وفات شویدے۔ او ابن حبانؒ په « ثقات» کښې لیکی : د ربیع الاول په میاشت کښې په سنه (٦٤ هـ) کښې وفات دے۔ مګر دا غلطی ده۔

تشریح : فَلْيَبْدَأْ بِالْخَلاءِ : دا په هغه وخت کښې دے چه انسان دے ته حاجت لری او ددے په پریخودو سره ئے په مانځه کښې توجه خرابیږی او که معمولی شان ګیس وغیره وی نو دا خو د انسان همیشه وی نو بیا به جماعت نه پریدی۔

او دا حدیث دلیل دے چه د جماعت د پریخودو یو عذر دا هم دے چه انسان ته قضاء حاجت تقاضیٰ رامینځ ته شی۔ او که په همدے حالت کښې مونځ اُوکړی نو اکثر ائمه کرامؒ فرمائی : مونځ ئے اُوشو سره د کراهت نه۔ علامه ابن حزمؒ فرمائی: مونځ ئے باطل دے ځکه د نص خلاف ئے اُوکړو۔ امام مالك فرمائی : مستحب دا ده چه اعاده ئے اوکړی که

وخت باقي وي او كه وتلے وي۔ (التمهيد ٢٢/٢٠٤)
درجة الحديث: اسناده صحيح: اخرجه مالك في الموطأ (٤٩) واحمد (٤٨٣/٣) والدارمي (٣٣٢/١) وابوداود (٨٨) والترمذي (٢٤٢) وقال: حديث حسن صحيح، والنسائي (١١٠/٢) وابن ماجه (٦١٦)

١٩- وَعَنْ ثَوْبَانَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «ثَلَاثٌ لَا يَحِلُّ لِأَحَدٍ اَنْ يَّفْعَلَهُنَّ: لَا يَؤُمَّنَّ رَجُلٌ قَوْمًا فَيَخُصَّ نَفْسَهٗ بِالدُّعَاءِ دُوْنَهُمْ، فَاِنْ فَعَلَ ذٰلِكَ فَقَدْ خَانَهُمْ، وَلَا يَنْظُرُ فِيْ قَعْرِ بَيْتٍ قَبْلَ اَنْ يَّسْتَاْذِنَ، فَاِنْ فَعَلَ ذٰلِكَ فَقَدْ خَانَهُمْ، وَلَا يُصَلِّ وَهُوَ حَقِنٌ حَتّٰى يَتَخَفَّفَ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ، وَلِلتِّرْمِذِيِّ نَحْوَهٗ.

ترجمه: او د ثوبان ﷺ نه روايت دے فرمائي چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «درے خيزونه دي، حلال نهٔ دي هيچا له چه هغهٔ اُوكړي۔ ١-اِمامتي نهٔ كوي يو شخص يو قوم ته چه ځان په دعاء سره خاص كړي بغير د هغوي نه (يعني صرف ځان ته دعاء كوي او مقتديانو ته ئے نهٔ كوي) كهٔ دا كارئے اُوكړو نو يقيناً د هغوي سره ئے خيانت اُوكړو۔ ٢- دويم: نهٔ گوري مينځ د يو كور ته مخكښ د اِجازت طلب كولو د هغوي نه نو كهٔ دا كار اُوكړي نو يقيناً د هغوي سره ئے خيانت اُوكړو۔ ٣- او مونځ نهٔ كوي په داسے حال كښ چه متيازو لره بندونكے وي ترد ے چه سپك شي»۔(په بول براز كولو سره) (ابوداوُد، ترمذيّ)

تشريح: دلته اِشكال دے چه امام باندے دا فرض دي چه مقتديانو ته به په دعاء كښ نو مونه اَخلي نو دا ځنګه خبره ده، مونږ خپل ځان ته دعا اُونكړه نو مقتديان خو لا په ځائے پريده؟۔ **الجواب**: حافظ ابن خزيمهؒ په خپل صحيح كښ فرمائي: د نبي ﷺ نه دعاء په لفظ د اِفراد ثابته ده په (اللهم اهدني فيمن هديت– او اللهم باعد بيني وبين خطاياي) سَره ددے نه معلوميږي چه ددے حديث دا اَوله جُمله موضوع ده۔ ليكن دا جواب ضعيف دے۔

٢- **حافظ ابن قيمؒ** په «زاد المعاد» كښ ليكي چه ما د شيخ الاسلام ابن تيميهؒ نه اَوريدلي دي چه دا خاص دے په دعاء د قنوت نازله پورے چه په هغے كښ به امام ځان او مقتديانو اوتولو خلقو ته دعاء كوي۔ انتهٰي ۔ او علامه عزيزيؒ هم وئيلي دي: «دا خاص دے په دعاء د قنوت پورے په خلاف د دعاء د اِفتتاح او ركوع او سجده او جلوس بين السجدتين اوتشهد كښ چه هغے كښ تخصيص جائز دے»۔ اِنتهٰي۔

٣- دريم دا چه ددے نه مراد هغه دعاګانے دي چه په مانځه كښ دي لكه (اهدنا الصراط المستقيم) وغيره چه پدے كښ به امام د مقتديانو نيت هم كوي او دا بعض دعاګانے

اګرکه په صیغه د مُفرد دی لیکن نیت د جمع به کوی او لفظ د جمع به د ځان نه نهٔ استعمالوی سنت به نهٔ بدلوی۔ (تحفة الاحوذی)۔

٤- یا مطلب دا دے چه صرف ځان ته دعاء اُوکړی او د نورو خلقو نه نفی اُوکړی لکه « اِرْحَمْنِيْ وَمُحَمداً وَلَا تَرْحَمْ مَعَنَا اَحَداً » پشان، نو بیا داسے دعاء منع ده، مثلًا داسے اُووائی چه اے الله ! ما ته بخښنه اُوکړه او مقتدیانِ به خپل کار کوی یا ئے هغوی ته مهٔ کوه، ځکه دلته « دُوْنَهُمْ» راغلے دے نو تخصیص منع دے۔

وَلَا يَنْظُرُ فِيْ قَعْرِ بَيْتٍ : یعنی د چا د کور مینځ ته بے اِجازته نهٔ ګوری یعنی هغه مکان ته به نهٔ ګوری چه هغه ئے د خلقو نه پټ کړے وی ځکه دا خیانت دے، هغوی ئے ددهٔ نه پټ ساتی او دا پکښې په سُوړو کښې ګوری او دا داسے دے لکه چه د هغهٔ کورته بے اِجازے داخل شی۔ د یو بل روایت نه معلومیږی چه جلد ثانی کښې به راشی چه که چا بے اِجازته یو کورته په سُوړو او چاودونو کښې اُوکتل نو هغه خلقو له پکار دی چه ددهٔ نه سترګه اُویاسی او په دهٔ باندے دیت هم نشته۔ مګر که دروازه کولاوه وه نو بیا که وے کتل څهٔ حرج به پرے نهٔ وی بلکه کور والا له پکار دی چه خپله پرده زوَرنده کړی او دروازه بنده اُوساتی۔ ځکه په کولاؤ ځائے به نظر بے اِختیاره لګی۔

وَهُوَ حَقِنٌ : د فَعِلٌ وزن دے صفت مشبه ده،حَاقِن او حَقِنٌ هغه اِنسان ته وائی چه بولو زور وَرکړے وی او دهٔ په تکلیف سره بند کړی وی، او حَاقِب هغه ته وائی چه غټ بول ئے بند کړی وی۔ او دلته حَاقِن دواړو بندولو ته شامل دے۔

طیبیؒ لیکی چه مونځ د الله سره د مناجات او د تقرب ذریعه ده او د غیر نه مشغول کیدل دی او حاقن (بولو تینګ کړے) انسان د مانځه متعلق د ځان سره خیانت کوی، او د مانځه دواړو حالتونو مینځ کښې ئے د اِجازت مسئله راوړه ځکه چه پدے کښې د حق الله او د حق العباد رعایت دے، او په حقوق العباد کښې ئے د اِستیذان مسئله خاص ذکرکړه ځکه چه څوك ددے باریکے خبرے لحاظ ساتی نو ددے نه د بَره مسئلے لحاظ به په طریقه اولیٰ ساتی۔اِنتهیٰ۔

حدیث دلیل دے د هغه چا چه وائی : چه څوك د بول وبراز د شدت په حالت کښې مونځ اُوکړی، مونځ ئے باطل دے، ځکه نهی دلالت په فساد کوی۔ او جمهور وائی : نهی په فساد د منهی عنه دلالت نهٔ کوی بلکه صرف ګناهګار دے۔

درجة الحديث : اسناده حسن : اخرجه احمد (٢٨٠/٥) ابو داود (٩٠) والترمذی (٣٥٧) وقال حدیث حسن واخرج ابن ماجه القسم الاول المتعلق بتخصيص الامام نفسه بالدعاء (٩٢٣) وضعفه الالباني لاضطرابه وجهالته (ومدار الحديث يزيد بن شريح وهو ثقة)

ولكن قال العلامة المباركفوري في المرعاة (٥١٧/٣) وسكوت ابي داود عن حديثي ثوبان وابي هريرة بعد روايتهما يدل على ان هذين الطريقين محفوظان صالحان للاحتجاج عنده واليه يميل قلبي انتهىٰ۔ بل قال الالباني صحيح الا جملة الدعوة، (صحيح ابی داود)۔

٢٠- وَعَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «لَا تُوَخِّرُوا الصَّلٰوةَ لِطَعَامٍ وَلَا لِغَيْرِهٖ». رواه فِيْ «شَرْحِ السُّنَّةِ».

ترجمه: او جابر ﷺ فرمائي، رسول الله ﷺ فرمايلي دی: «تاسو د طعام يا د بل څه وجه نه مونځ (د خپل وخت نه) مهٔ روستو کوئ»۔ (شرح السنة)۔

تشريح: دا حديث په ظاهر کښې مُعارض دے د مخکنی حديث (٦) چه هغه روايت کښې دی چه د روټئ د حاضريدو يا د بول د شدت په وخت کښې جَمعه پريده۔ او دلته وائی چه د روټئ او بولو په وجه مونځ مهٔ روستو کوئ۔ نو ددے درے جوابونه دی:

(١) **اول جواب** سندی دے چه دا روايت دومره قوی نهٔ دے او مخکنی روايتونه صحيح دی۔ (٢) **دويم جواب** دا چه ددوارو حديثونو تعارض نشته ځکه د مونځ روستو کول دوه قسمه دی يو هغه دی چه د روټئ په وجه ئے د خپل وخت نه اُوباسی نو دا کار صحيح نهٔ دے او دويم دا چه صرف جماعت فوت شی او وخت باقی پاتے وی نو دا کار جائز دے۔ نو دلته د تاخير نه مراد د وخت نه ويستل دی۔

(٣) **دريم جواب** دا دے چه د انسان دوه حالته دی کله ډير تائق (شوقين) وی چه که روټئ اُونه خوری نو مونځ کښې ئے خشوع خرابيږی نو په دغه وخت کښې به روټئ مخکښې کوی او دويم هغه دے چه څه نا څه گوزاره ئے کيږی لکه نن صبا خلق په مره خيټه خوراکونه کوی، د تلذذ دپاره ئے خوری دومره وږے نه وی چه مونځ کښې ئے توجه خرابه شی نو بيا به مونځ نهٔ روستو کوی بلکه جَمعه به کوی۔(قاله الخطابی فی معالم السنن ٢٤١/٤)

درجة الحديث: اسناده حسن: اخرجه ابوداود (٣٧٥٨) والدارقطنی (٢٦٠/١) وشرح السنة وعزو المؤلف للبغوی فی شرح السنة قصور منه رحمه الله۔ وقال المنذری فی اسناده محمد بن ميمون ابوالنضر الكوفی الزعفرانی المفلوج، قال ابوحاتم الرازی والدارقطنی: لابأس به وقال ابن معين ثقة، وقال البخاری: منكر الحديث وقال ابوزرعة: كوفی لين۔ وقال الحافظ فی التقريب: صدوق له اوهام، فالظاهر ان حديثه هذا ليس مما لا يعتبر به، فيبلغ درجة الحسن۔

الفصل الثالث

۲۱ – عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ، قَالَ: لَقَدْ رَأَيْتُنَا وَمَا يَتَخَلَّفُ عَنِ الصَّلَاةِ اِلَّا مُنَافِقٌ قَدْ عَلِمَ نِفَاقُهُ، اَوْ مَرِيْضٌ، اِنْ كَانَ الْمَرِيْضُ لَيَمْشِيْ بَيْنَ رَجُلَيْنِ حَتّٰى يَاْتِيَ الصَّلَاةَ، وَقَالَ: اِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ عَلَّمَنَا سُنَنَ الْهُدٰى، وَاِنَّ مِنْ سُنَنِ الْهُدٰى الصَّلٰوةَ فِي الْمَسْجِدِ الَّذِيْ يُؤَذَّنُ فِيْهِ. وَفِيْ رِوَايَةٍ، قَالَ: مَنْ سَرَّهُ اَنْ يَلْقَى اللهَ غَدًا مُسْلِمًا، فَلْيُحَافِظْ عَلٰى هٰذِهِ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ، حَيْثُ يُنَادٰى بِهِنَّ، فَاِنَّ اللهَ شَرَعَ لِنَبِيِّكُمْ سُنَنَ الْهُدٰى، وَاِنَّهُنَّ مِنْ سُنَنِ الْهُدٰى، وَلَوْ اَنَّكُمْ صَلَّيْتُمْ فِيْ بُيُوْتِكُمْ كَمَا يُصَلِّيْ هٰذَا الْمُتَخَلِّفُ فِيْ بَيْتِهٖ لَتَرَكْتُمْ سُنَّةَ نَبِيِّكُمْ، وَلَوْ تَرَكْتُمْ سُنَّةَ نَبِيِّكُمْ لَضَلَلْتُمْ، وَمَا مِنْ رَجُلٍ يَتَطَهَّرُ فَيُحْسِنُ الطُّهُوْرَ، ثُمَّ يَعْمِدُ اِلٰى مَسْجِدٍ مِنْ هٰذِهِ الْمَسَاجِدِ، اِلَّا كَتَبَ اللهُ لَهٗ بِكُلِّ خَطْوَةٍ يَخْطُوْهَا حَسَنَةً، وَرَفَعَهٗ بِهَا دَرَجَةً، وَحَطَّ عَنْهُ بِهَا سَيِّئَةً، وَلَقَدْ رَاَيْتُنَا وَمَا يَتَخَلَّفُ عَنْهَا اِلَّا مُنَافِقٌ مَعْلُوْمُ النِّفَاقِ، وَلَقَدْ كَانَ الرَّجُلُ يُؤْتٰى بِهٖ يُهَادٰى بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ حَتّٰى يُقَامَ فِي الصَّفِّ. رواهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائی : مونږ به خپل ځانونه لیدل چه د مانځه (د جماعت) نه به نۀ پاتے کیدو مګر منافق چه دهغۀ نفاق به معلوم وو او یا مریض (به پاتے کیدو) او یقیناً مریض به د دوه سړو په مینځ کښ (د هغوی په مدد) راروان وو تردے چه مانځه ته به راغلو۔ (دے نه بعد) عبد الله بن مسعود اُوفرمایل : رسول الله ﷺ مونږ ته د هدایت طریقے خودلی دی او د هدایت د هغۀ طریقو نه مونځ کول دی په هغۀ مسجد کښ چه په هغے کښ اذان کولے شی۔او په یو روایت کښ دی : ابن مسعودؓ اُوفرمایل : چا لره چه دا خبره خوشحالوی چه صبا له (د قیامت په ورځ) الله سره په داسے حال کښ ملاؤ شی چه مسلمان وی نو هغۀ دِے محافظت کوی پدے پنځو مونځونو باندے په هغۀ ځائے کښ چه ددے مونځونو دپاره اذان کولے شی(یعنی مساجدو کښ دِے دا مونځونه د جماعت سره په پابندئ سره اداکوی) ځکه الله تعالیٰ ستاسو د نبی دپاره د هدایت طریقے مقرر کړی دی او دا پنځه مونځونه د جماعت سره کول هم د هدایت د طریقو نه یوه طریقه ده، او کۀ چرے تاسو مونځونه په کورونو کښ کوئ (اګرکه جماعت سره وی) لکه څنګه چه دا روستو پاتے کیدونکے (منافق) په کور کښ مونځ کوی نو تاسو به د خپل نبی طریقه پریخی وی او کۀ چرته تاسو طریقه د خپل نبی پریخوده نو ضرور به ګمراه شئ او نشته یو سړے چه پاکی (اَودس) اُوکړی او ښائسته پاکی اُوکړی بیا ددے مساجدو نه یو مسجد طرفته قصد

اُوکړي مګر الله به دهٔ له په هر قدم باندې چه دې ئې اَخلي يوه نيکي ليکي او ددې په وجه به ئې يوه درجه پورته کوي او ددې په وجه به ددهٔ نه يوه ګناه معاف کيږي، او مونږ خپل ځانونه ليدلي دي چه ددې مونځونو نه به صرف منافق پاتې کيدو چه د هغهٔ منافقت به معلوم وو، او يقيناً يو سړې (مريض) به مانځه ته راوستې شو (دومره به ضعيف او کمزورې وو) چه د دوو سړو ترمينځ به راځکلې شو(د هغوی په مدد به راتلو) تردې چه په صف کښې به اُودرولې شو۔(مسلمؒ)

تشريح : رَأَيْتُنَا : دا افعال قلوب دي د فاعل او مفعول ضميرونه پکښې جمع کيدل جائز دي اګرکه يو شي ته راجع وي، مګر بعض علماؤ وئيلي دي چه دلته اتحاد د فاعل او مفعول نشته ځکه چه فاعل نه يو متکلم مراد دې او د دويم ضمير د مفعول نه دا متکلم او غير مراد دي۔يعني مونږ صحابو به ځانونه ليدل او ځانونه راته معلوم وو او پو هيدو به چه د جماعت نه به صرف منافق پاتې کيدو۔

او ددې حاصل معنیٰ دا کيږي چه (مونږ ليدلي دي)۔ دا دليل دې چه جماعت فرض دې ځکه د منافقت نه ځان ساتل فرض دي۔ او دا اګرکه قول د صحابي دې ليکن حکايت ئې کړيدې د حال د ټولو صحابونه چه هغوی به ترک د جماعت منافقت ګڼړلو۔

او مريض نه مراد سخت مريض دې چه په راتلو به بالکل قادر نهٔ وو او لږ مريض به راتلو لکه روستو وائي۔ -- اِنْ كَانَ الْمَرِيْضُ : ان مخفف من المثقل دې۔په معنی د (اِنَّهٗ) دې۔معنیٰ ئې ده : شان دا دې يقيناً ضرور)۔

لَضَلَلْتُمْ : دا حديث دليل دې په خطائي د قول د خلاصه کيداني چه سنت دې ته وائي چه په ترک ئې عتاب دې او عذاب نشته بلکه دلته وائي چه سنت چا پريخودل نو ګمراه دې، عذاب به خوري، يو مستحبات او نوافل دي چه د هغې په ترک باندې اِنسان نهٔ ګمراه کيږي هان که هغه هم سپك يا بَد اُوګڼړي نو بيا به ګمراه وي لکه د ماښام نه مخکښې دوه رکعاته مستحب دي خو که څوك ئې سپك ګڼړي يا وائي زمونږ مذهب کښې نشته۔ نو بيا به ضرور ګمراه وي۔ نو حديث دليل دې چه سنت (حديث) سره هم فرضيت ثابتيږي۔ځکه چه پيغمبر يو حکم اُوکړي او څوك هغه قصداً پريدي نو هغه نه به فرض پاتې وي۔

لَيُمْشِيْ بَيْنَ رَجُلَيْنِ : يعني دومره بيمار به وو او بدن به ئې کمزورې وو چه په دوه سړو به ئې تکيه لګولې وه او مسجد ته به روان وو۔ صحابه کرامؓ څومره په تکليف کښې هم جماعت نه دې پريخې او زمونږ معمولي په سر درد وي، بس بهانه مو جوړه وي۔

سُنَنَ الْهُدٰی : (يعني د هدايت طريقې دي)۔ دلته د فقهاؤ اِصطلاح نه ده مراد چه وائي يو

سنن هُدیٰ (زوائد) دی او بل سنن مؤکد دی، بلکه د سنن هُدیٰ نه مراد پیغمبری طریقے دی، فرض، سنت او واجب ټولو ته شامل دے، نو شرعی اصطلاح به په خپله اصطلاح باندے نشی حمل کولے۔

یُهَادیٰ : مُهَادَاۃ دیته وائی چه د دوه سړو په مینځ کښې روان وی د دواړو په اُوګو باندے ئے لاسونه اَچولی وی۔ یعنی ګوډ ووړ به راروان شوے وو۔ دا حدیث دلیل دے چه په هغهٔ مرض کښې به جماعت ته نهٔ راځی چه وسع دِ نهٔ کیږی او چه وسع دِے کیده نو ضرور به راځی اګرکه بیمارئے۔

٢٢ – وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ، عَنِ النَّبِیِّ ﷺ قَالَ:«لَوْلَا مَا فِی الْبُیُوْتِ مِنَ النِّسَآءِ وَالذُّرِّیَّةِ، أَقَمْتُ صَلٰوةَ الْعِشَاءِ وَاَمَرْتُ فِتْیَانِیْ یُحَرِّقُوْنَ مَا فِی الْبُیُوْتِ بِالنَّارِ» . رَوَاهُ اَحْمَدُ.

ترجمه : او ابو هریره ﷛ د نبی ﷺ نه نقل کوی چه هغهٔ فرمائی : «کهٔ په کورونو کښې زنانه او ماشومان نهٔ وے نو ما به د ماسخوتن مونځ قائم کړے وے او بیا به مے خپلو خادمانو ته حکم کړے وے چه دوی په اُور باندے اُوسوزی هغهٔ څهٔ چه په دے کورونو کښې دی»۔ (احمدؒ)

تشریح : دلته علت د نه سیزلو د کورونو راغلے دے چه د ماشومان او زنانو کیدل دی۔ ځکه که دا کور ورله اوسیزی اودوی پکښې وی نو بیا خو به بے ګناه خلقو ته ضرر اُورسوی او که دوی ترے بهر کړی نو بیا هم د دوی کور فوت کیږی۔ او دلیل دے چه تعزیر بالمال جائز دے، او دلیل دے چه جماعت ته حاضریدل فرض دی۔

مِنَ النِّسَآءِ بیان د (ما) دے، دا دلیل دے چه ما کله نا کله د ذوی العقولو او ذی روح دپاره هم استعمالیږی۔ --- فِتْیَانِیْ : فتیان خادمان او قوی ملګرو ته وائی۔

او تخصیص د ماسخوتن مانځه پورے نشته بلکه غالباً منافقان ددے مانځه نه سُستی کوی ځکه ئے دا ذکر کړے دے۔

درجة الحدیث : اسناده ضعیف ومعناه صحیح : اخرجه احمد (٣٦٧/٢)وفی اسناده ابومعشر وهو ضعیف اسمه نجیح بن عبد الرحمن السندی المدنی، وهو ضعیف اسن، واختلط (التقریب) وقال ابوحاتم: کان احمد یرضاه ویقول کان بصیراً بالمغازی قالؔ : وکنت اهاب حدیثه حتی رأیت احمد یحدث عن رجل عنه فتوسعت بعد فیه، قیل له فهو ثقة، قال : صالح ، لین الحدیث محله الصدق۔ آه ومع ضعفه یکتب حدیثه فی الرقاق والتفسیر والتاریخ والقصص قال احمد اکتب حدیثه اعتبر به ۔ وقد تأید حدیثه بما تقدم فی الفصل الاول مرعاة (٥٢١/٣)

٢٣– وَعَنْهُ، قَالَ: أَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ ﷺ :«إِذَا كُنْتُمْ فِي الْمَسْجِدِ فَنُودِيَ بِالصَّلوٰةِ فَلَا يَخْرُجْ أَحَدُكُمْ حَتّٰى يُصَلِّيَ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه : او ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ مونږ ته حکم کړیدے : «کله چه تاسو په مسجد کښې موجود وئ او د مانځه دپاره آذان اُوکړے شی نو تاسو نه دِ یو تن د مونځ کولو نه بغیر نهٔ اُووځی»۔ (أحمدؒ)

تشریح : مطلب دا دے چه ته مسجد کښې ئے او اذان اُوشی نو بیا به نه اُوځې ځکه چه تا باندے دا حق شو ددے مسجد چه دلته به مونځ کوے اگرکه ته بل ځائے کښې جَمعه کوے خو بیا به هم نه ځې ځکه یو خو تهٔ حق د مسجد بربادوے او بل په تا باندے تهمت لګیږی په پریخودو د جماعت سره۔

اګرکه ددے نه فقهاؤ دا اِستثناء کړیده چه د عذر د وجه نه خارجیدے شی لکه یو سړے بل مسجد کښې اِمام وی یا مؤذن وی او ددهٔ د نهٔ ورتلو نه هغهٔ جَمعه خرابیږی نو بیا وتل جائز دی۔ دارنګه ددے په حکم کښې حاقن او رَاعِف او جُنب هم دے۔ پدے استثناء باندے دلیل پدے صورتونو کښې شته مګر د مؤذن او امام استثناء صرف اجتهاد دے۔

٢– **دویمه مسئله** دا ده چه یو مسجد د بدعتیانو دے، بدعت پکښې اُوشو او اذان پکښې تا واوریدو نو دے نه وتل جائز دی، لکه عبد الله بن عمر ﷺ په یو مسجد کښې وو او اذان شوے وو او تشویب ئے واوریدو نو دا ئے اُووئیل ما ددے بدعتیانو د مسجد نه اُوباسه۔ (بخاری)۔ دارنګه علی ﷺ په تشویب سره سړے د مسجد نه شړلے دے۔ مګر دا حکم په هغه وخت کښې دے چه کله بل سُنی مسجد ملاوړیږی نو وتل پکار دی او که بل سُنی مسجد نهٔ وی نو بیا د بدعتی پسے مونځ جائز دے۔

٣– یو اِنسان ځانله مونځ کړے او بیا وریاندے په مسجد کښې اذان اُوشو نو بیا به هم نه اُوځی ځکه چه دا جماعت به ستا دپاره نفل حساب شی لکه حدیث د مِحْجَن روستو راروان دے۔ او که مونځ دے نهٔ وی کړے نو هم حصاریږی به دا حدیث پرے دلیل دے۔ او اَحناف وائی : په ماسپښین، ماښام او صبا کښې وتلے شی ځکه ددے نه روستو نوافل نهٔ کیږی او د هغوی په نیز درے رکعاته نفل نهٔ وی۔ لیکن دا د ظاهر د حدیث خلاف دے۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه احمد (٥٣٧/٢) واسناده حسن ورجاله ثقات وشريك تابعه المسعودى وقد صححه المنذرى فى الترغيب والترهيب (١١٥/١)

٢٤- وَعَنْ اَبِي الشَّعْثَاءِ، قَالَ: خَرَجَ رَجُلٌ مِنَ الْمَسْجِدِ بَعْدَ مَا اُذِّنَ فِيْهِ، فَقَالَ اَبُوْهُرَيْرَةَ: أَمَّا هٰذَا فَقَدْ عَصٰى اَبَا الْقَاسِمِ ﷺ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او ابو الشعثاءؒ فرمائی: چه (يوه ورځ) د اذان کيدلو نه بعد يو شخص د مسجد نه اُووتلو نو ابو هريره ﷺ: اُوفرمايل چه "دے شخص د ابو القاسم (يعنی رسول الله ﷺ) نافرمانی اُوکړه". (مسلمؒ)

ابو الشعثاء دده نوم سُليم بن اَسود بن حنظله المحاربی الکوفی دے په اتفاق سره ثقه دے د کبار اَوساط التابعين نه دے په زمانه د حجاج کښ وفات دے په سنه (٨٣ هـ) کښ۔

تشريح: په روايت د احمد کښ ورسره دا زيادت راغلے دے چه بيا ابو هريرهؓ اُوفرمايل: مونږ ته رسول الله ﷺ حکم کړے دے چه کله تاسو په مسجد کښ وئ او اذان اُوشی نو د مانځه کولو نه بغير مهٔ اُوځئ) دغه مخکښے (٢٣) روايت ئے اُووئيلو۔

دا حديث هُم دليل دے چه د مَسجد نه د اَذان نه پس وتل بغير د ضرورت نه د رسول الله ﷺ مُخالفت دے او سخته گناه ده او سړے پرے بَدی هم ښکاره کيږی، خو دا محمول دے په هغهٔ صورت باندے چه ضرورت نهٔ وی، او که شرعی ضرورت وی نو وتل جواز لری لکه مخکښ تير شو او ابو هريرهؓ چه دهٔ ته د مخالفت نسبت اُوکړو نو کيدے شی چه هغهٔ ته معلومه وه چه دده ضرورت نشته او روان دے۔

د سعيد بن المسيبؒ باره کښ راځی چه يو سړے مسجد نبوی نه وتلو دهٔ ورتل اُوفرمايل چه مهٔ اُوځه اذان شويدے، او نبی ﷺ ددے نه منع فرمائيلے ده، هغه ورته اُووئيل: ملگری رانه حج ته روان دی، زهٔ هغوی سره يو ځائے کيږم، سعيدؒ خپلو ملگرو ته اُوفرمايل: اِنتظار کوئ دے سړے ته به ضرور څهٔ تکر رسی، نودے د هغه په انتظار کښ وو چه خبر ورته راغلو چه هغه سړے په لار روان وو د اُوښ نه پريوتو او خپه ئے ماته شوه۔ نو سعيدؒ اُوفرمايل: ما تاسو ته نه وئيل چه دهٔ ته به د سنت د مخالفت په سبب ضرر رسی، چا چه قصداً مخالفت د سنت کړيدے هغه ته ضرر تکر رسيدلے دے او په ځان پوهه شويدے۔ او د سنت د مخالفت په وجه ډير واقعات داسے مشهور دی لکه يو مُلا په بصره کښ ابو هريرهؓ ته غير فقيه وئيلو او حديث د (مُصراة) ئے په عقل رد کولو نو مار راغلو په پينځه کښ ورننوتو تول خلق ئے پريخودل او دهٔ پسے ئے منډے وهلے چا ورته اُووئيل توبه اُوباسه، ده چه توبه ئے اُوويستله نو مار غائب شو۔ کما فی تعظيم السنة ص (١٥)

ابراهيم نخعيؒ فرمائي: «تر هغهٔ وخت پورے وتلے شي ترڅو چه اقامت نهٔ وي شروع شوے» ليکن دا قول د ابراهيمؒ د ظاهر ددے احاديثو خلاف دے۔ ځکه دا احاديث د اذان نه روستو مطلقاً د مسجد نه په وتلو کښې صريح دي، برابره ده مؤذن په اقامت کښې شروع کړي وي او کهٔ نهٔ مګر که ددهٔ قول محمول شي په دے چه د يو سړي حاجت وي، معذور وي او اراده د رجوع لري نو بيا وتل جواز لري۔ (تحفة الاحوذي ١/٥١٨)

مسئله : کله چه صحابيؓ اووائي : « چا چه دا کار اُوکړو هغه د رسول الله ﷺ مخالفت اُوکړو » نو آيا دا به مرفوع حديث وي او که موقوف؟ صحيح او راجح دا ده چه دا مرفوع حکمي حديث دے۔ (کما في شرح النخبة لابن حجر)۔

---

٢٥ – وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَنْ أَدْرَكَهُ الْأَذَانُ فِي الْمَسْجِدِ، ثُمَّ خَرَجَ لَمْ يَخْرُجْ لِحَاجَةٍ، وَهُوَ لَا يُرِيْدُ الرَّجْعَةَ، فَهُوَ مُنَافِقٌ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه.

ترجمه: او عثمان بن عفان ؓ فرمائي : چه رسول الله ﷺ اُوفرمايل : « هغهٔ څوک چه اَذان ئے په مسجد کښې رالاندے کړي او بيا هغهٔ (بغير د څهٔ ضرورت نه) د مسجد نه اُووځي او څهٔ حاجت دپاره نهٔ وي وتلے او بيرته د واپس کيدو اِراده ئے (هم) نهٔ وي نو دا منافق دے»۔ (ابن ماجهٔ)

تشريح : ده ته ئے منافق پدے وجه اُووئيلو چه ده د منافقانو کار اُوکړو چه جماعت پريږدي او مخلص مؤمن داسے کار نهٔ کوي۔ او حاجت نه مراد شرعي ضرورت دے لکه خيته کښې ئے درد شي يا ناڅاپي بيمار شي وغيره وغيره نو په دے صورت کښې په وتلو کښې به ګناهګار نهٔ وي۔

درجة الحديث : الحديث صحيح واسناده ضعيف : اخرجه ابن ماجه (٧٣٤) وفيه عبد الجبار بن عمر وهو ضعيف عن ابي فروة واسمه اسحاق بن عبد الله وهو ضعيف جداً وقال البوصيري وهو في صحيح مسلم وغيره وله شاهد قوى عند الطبراني في الاوسط ويشهد له مرسل سعيد بن المسيب الخ المرعاة (٥٢٣/٣) وتعليق المشكاة لرمضان (٤٤٦/١)

---

٢٦ – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ ﷺ، قَالَ: «مَنْ سَمِعَ النِّدَاءَ فَلَمْ يُجِبْهُ، فَلَا صَلَاةَ لَهُ إِلَّا مِنْ عُذْرٍ». رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ.

ترجمه : او ابن عباس ؓ د نبي ﷺ نه روايت کوي چه نبي ﷺ اُوفرمايل : « چا چه

اذان واوریدو او د هغې اِجابت ئې اُونۀ کړو (مانځه له رانۀ غلو) نو د هغۀ مونځ نۀ کیږي مګر که عذر وي»۔ (دارقطنیؒ)

تشریح : د حدیث مطلب دا دے چه څوك اذان واوري یا خبر شي چه اذان شویدے او مسجد ته د مانځه دپاره رانشي نو د هغه دغه مونځ نۀ کیږي کله ئې چه عذر نۀ وي۔ حدیث دلیل دے چه څوك جَمعے ته نۀ حاضریږي د هغه مونځ باطل دے او نۀ صحیح کیږي او دا د جمهورو د مذهب خلاف دے نو هغوی پکښې دا تاویل کوی چه کامل مونځ ئې اُونه شو یا ئې اَجر اُونه شو۔ بیا د عذر نه شرعي عذر مراد دے، د ځان نه به قصداً عذر نۀ راپیدا کوی، بعضِ خلق قهوے سکلو دپاره جماعت پریدی او دیته ضرورت وائی۔ دا کار غلط دے، دین کښې بے باکی ده۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه ابن ماجه (٧٩٣) والدارقطني (ص ١٦١) وقال الحافظ في بلوغ المرام : اسناده على شرط مسلم و كذا قال الحاكم على شرطهما وقال في التلخيص ص (١٢٣) اسناده صحيح۔

---

٢٧ - وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ اُمِّ مَكْتُوْمٍ، قَالَ: يَارَسُوْلَ اللهِ! اِنَّ الْمَدِيْنَةَ كَثِيْرَةُ الْهَوَّامِ وَالسِّبَاعِ، وَأَنَا ضَرِيْرُ الْبَصَرِ، فَهَلْ تَجِدُ لِيْ مِنْ رُخْصَةٍ ؟ قَالَ: «هَلْ تَسْمَعُ : حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ؟» قَالَ: نَعَمْ. قَالَ: «فَحَيَّهَلًا» . وَلَمْ يُرَخِّصْ (لَهُ) . رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه : عبد الله بن اُم مکتوم ﷺ اُوفرمایل: اے د الله رسوله ! مدینه کښې مُوذِیٔ (ضرري) حیوانات (حشرات) او درنده ګان زیات دی او زۀ نابینا یم، نو آیا تۀ ما دپاره رخصت مونده کوے (چه زۀ مسجد ته نۀ راځم) نبی ﷺ ورته اُوفرمایل : «آیا تۀ حی علی الصلاة حی علی الفلاح اَوریے؟ »هغۀ اُوویل : آؤ، وے فرمایل : «جَمعے له راځه !» او هغۀ ته ئې (د جَمعے په پریخودلو کښې) اِجازت ورنکړو۔ (ابوداوُدؒ، نسائیؒ)

تعارف د ابن مکتوم : عبد الله بن ام مکتوم القرشي العامري رونډ مشهور صحابي دے د نبی ﷺ مؤذن دے په نوم کښې ئې اختلاف دے، یا عمرو دے یا عبد الله دے یا حصین دے اول پکښې ډیر مشهور دے، د پلار نوم ئې قیس بن زائده دے۔ د مور نوم ئې ام مکتوم عاتکه بنت عبد الله د خدیجے د ماما څوی دے۔ ډیر پخوانے مسلمان دے د رسول الله ﷺ نه ئې مدینے ته مخکښې هجرت کریدے، رسول الله ﷺ په مدینه باندے او په مانځه کښې په مسجد نبوی کښې دیارلس کرته خپل نائب مقرر کریدے چه خلقو ته به ئې مونځونه

کول۔ او جنگ قادسیه ته حاضر شو او په هغې کښې شهید شو او د هغه سره په دغه ورځ جنډه وه، او بعض وائي د جنگ قادسیه نه واپس مدینې ته راغلو او مدینه کښې وفات شو۔

تشریح : ددې حدیث تشریح مخکښې حدیث نمبر (۳) کښې تیره شوه۔ چه دا حکم په ابتداء کښې وو، یا دې صحابي ته لاره معلومه وه نو دځ ته په راتلو کښې تکلیف نهٔ وو۔

الْهَوَامِ : هر مُؤْذِي حیوان او حشراتو ته وائي لکه لړمانان، ماران وغیره جمع د هَامَة ده هر هغه حیوان ته وائي چه زهر قاتل لري او که زهر لري خو قاتل نهٔ وي نو دیته سَامه وائي لکه لړم، مچیٔ وغیره شو او کله هَامه هر حیوان ته وائي چه په زمکه گرځي اگرکه قاتل نهٔ وي لکه سپږې وغیره شوې په حدیث د کعب بن عجرةؓ کښې دي : (أيؤذيك هوام رأسك) ۔

فَحَيَّهَلًا : دا کلمه د تیزئ او استعجال دپاره استعمالیږي د (أَجِبْ) په ځائې وضع شویده۔ او حي علی الصلاة دا دوه کلمات ئې ذکر کړل اگرکه مراد ترینه اذان دې ځکه پدې کښې معنیٰ د طلب پرته ده۔ او ترغیب دې مانځه ته۔

درجة الحديث : اسناده صحیح : اخرجه ابوداود (۵۵۳) والنسائي (۱۳۷/۱) ولکن ليس عندهما قوله وانا ضرير البصر الخ ومعناه عند ابي داود وابن ماجه (۷۹۲) من طريق اخرى عن ابن ام مكتوم واسناده حسن۔

۲۸– وَعَنْ أُمِّ الدَّرْدَاءِ، قَالَتْ: دَخَلَ عَلَيَّ أَبُو الدَّرْدَاءِ وَهُوَ مُغْضَبٌ، فَقُلْتُ : مَا أَغْضَبَكَ؟ قَالَ: وَاللهِ مَا أَعْرِفُ مِنْ أَمْرِ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ شَيْئًا إِلَّا أَنَّهُمْ يُصَلُّونَ جَمِيعًا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: او ام الدرداء رضی الله عنها فرمائي : ما ته ابودرداء رضی الله عنه د غصې په حالت کښې راداخل شو، ما ورته اُووئیل : څهٔ شي غصه کړې ئې؟ هغه اُوفرمایل : "قسم په الله زه د دین د محمد ﷺ نه بل هیڅ شې نهٔ پیژنم مگر دا چه دوي په شریکه مونځ کوي" (جَمعې کوي لیکن اوس ئې هغهٔ هم پریخي دي او صحیح طریقې سره ئې نهٔ کوي) (بخاريؒ)

تعارف د ام درداء : ددې نه نوم دې هجیمه بنت حيي اوصابية الدمشقية دې د ابو الدرداء دوه ښځې وې یوه تابعیه ده او دلته همدا ده دیته ام درداء صغریٰ وائي او بله صحابیه ده هغې ته ام درداء کبریٰ وائي د هغې نوم خیرة بنت ابي حدرد، هغه د ابوالدرداء نه مخکښې وفات ده په شام کښې په خلافت د عثمان کښې ۔د هغې نه هیڅ روایت نه دې نقل۔ د ابو الدرداء داسې خوئي وو لکه د عمر فاروق په شان۔ په دین ډیر خفه کیدونکې وو۔

تشریح: والله ما اعرف : دلته جواب محذوف دې او دا مذکور دلیل د جواب دې مطلب

دا دے چه زهٔ د محمد ﷺ په اُمت کښ منکر کارونو او نوی کارونو غصه کړے یم ځکه چه قسم په الله زهٔ د دوی په دین کښ هیڅ کار نهٔ وینم چه هغه په صحیح طریقه وی مګر صرف دومره ده چه شریك مونځونه کوی یعنی صرف دا یوه جُمعه پاتے ده نور تول دین خلقو ضائع کړیدے۔ ابودرداء په زمانه د خلافت د عثمان کښ داسے خبره کوی چه هغه ډیر غوره دَور دے نو د هغهٔ د دَور نه روستو تر نن زمانے پورے به د خلقو څهٔ حال وی ؟۔

محمد بن وضاح القرطبی په «کتاب البدع والنهی عنها» کښ لیکی : کهٔ صحابه کرامؓ زمونږ دَور کښ راژوندی شی نو زمونږ نیکانو ته به فُجار او زمونږ بدانو ته به کفار اُووائی۔ نو مونږ وایو چه که زمونږ دے آخری دور ته راشی نو بیا به څه وائی؟ والله المستعان ۔ دغه شان خبره د انس بن مالكؓ نه هم نقل ده چه هغه اُووئیل : قسم په الله زهٔ د محمد ﷺ د دین نه هیڅ صحیح کار نهٔ وینم۔ چا ورته اُووئیل : ولے دا مونځونه ندی؟ هغه اُوفرمایل : (والصلوة قد ضَيَّعْتُمُوْهَا) مونځ هم تاسو برباد کړیدے۔(بخاری) دا د صحابه کرامو په دین باندے خفګان وو۔بیا ابودرداء د مانځه اثبات اُوکړو او انسؓ په مونځونو هم رد اوکړو۔ وجه دا ده چه ابودرداء په زمانه د معاویه کښ وفات دے او په هغهٔ زمانه کښ مونځونه په صحیح طریقه وو او انسؓ د بنی امیهٔ دور لاندے کړیدے او هغوی به د مونځونو اوقات بربادول نو ځکه ئے د مانځه د بربادولو خبره اُوکړه۔

حدیث دلیل دے چه کله دین کښ څوك نوی کارونه پیدا کړی یا ناروا کارونه وینی نو غصه کیدل پکار دی کله چه نور طاقت نهٔ وی۔او دا د الله په دین باندے خفګان دے چه په هر مسلمان دا واجب دے۔

٢٩– وَعَنْ اَبِىْ بَكْرِ بْنِ سُلَيْمَانَ بْنِ اَبِىْ حَثْمَةَ، قَالَ: اِنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ فَقَدَ سُلَيْمَانَ بْنَ اَبِىْ حَثْمَةَ فِىْ صَلٰوةِ الصُّبْحِ، وَاِنَّ عُمَرَ غَدَا اِلَى السُّوْقِ، وَمَسْكَنُ سُلَيْمَانَ بَيْنَ الْمَسْجِدِ وَالسُّوْقِ، فَمَرَّ عَلَى الشِّفَاءِ اُمِّ سُلَيْمَانَ. فَقَالَ لَهَا: لَمْ اَرَ سُلَيْمَانَ فِى الصُّبْحِ، فَقَالَتْ : اِنَّهٗ بَاتَ يُصَلِّىْ فَغَلَبَتْهُ عَيْنَاهُ. فَقَالَ عُمَرُ : لَاَنْ اَشْهَدَ صَلٰوةَ الصُّبْحِ فِىْ جَمَاعَةٍ اَحَبُّ اِلَىَّ مِنْ اَنْ اَقُوْمَ لَيْلَةً. رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: او ابوبکر بن سلیمان بن ابی حثمه رحمه الله فرمائی : (یوه ورځ) عمر فاروق ؓ سلیمان بن ابی حثمه (زما والد) د سحر په مانځه کښ اُونهٔ موندلو ۔ نو عمرؓ چه کله بازار ته لاړو نو د سلیمان کور د مسجد او د بازار په مینځ کښ وو۔ پدے وجه هغهٔ د سلیمان مور "شفاء" باندے ورتیر شو، ورته ئے اُوفرمایل : ما سلیمان د سحر په مانځهٔ کښ اُونهٔ لیدلو

(څهٔ وجه ده؟) د سليمان والدے اُووئيل : (خبره دا ده چه) سليمان نن تولہ شپه په مونځ کولو کښې تيره کړه نو(د صبا کيدو په وخت) پهٔ هغهٔ باندے سترګے غالبے شوے (خوب ورغلو او د هغې په وجه د سحرمانځه ته حاضر نهٔ شو) نو عمر ﷛ اُوفرمايل : "کهٔ زهٔ سحر مانځه ته د جَمعے سره حاضر شم دا ماته ډيره محبوب ده ددے نه چه زهٔ تولہ شپه (د عبادت دپاره) په ولاړه تيره کړم"۔ (مالك)

تعارف د ابوبکر بن سليمان بن ابی حثمة : ابی بکر بن سليمان بن ابی حثمه دا د طبقه وُسطیٰ تابعی دے او ثقه عارف بالنسب دے، ددهٔ پلار سليمان بن ابی حثمه صحابی دے عمر فاروق په بازار باندے مقرر کړے وو او د رمضان په قيام الليل کښې ئے د خلقو اِمام جوړ کړے وو۔ مور د سليمان "الشفاء" ده نوم ئے ليلیٰ دے او په مکه کښې ئے ايمان راوړے دے او بيعت ئے کړيدے۔ د مهاجرات اولياتونه ده دا ډيره فاضله او عقلمنده زنانه ده او نبی ﷺ به ددے ملاقات ته ورتلو او ددے په کور کښې به ئے قيلُوله کوله چه کور کښې خير راشي او ديته نبی ﷺ اُوفرمايل : حفصے ته د دَانو دَم زدهٔ کره لکه څنګه چه تا ورته کتابت خودلے دے۔ او دے له ئے په مدينه کښې يو کور هم ورکړے وو چه دا او ددے څوی به پکښې اُوسيدل۔

تشريح : فَقَالَ لَهَا : پردو ښځو سره جائزے خبرے کول جائز دی او دا عورت نهٔ دے۔

اَحَبُّ اِلَیَّ : عمر دا خبره اُوکړه ځکه چه تهجد نفل دی او جماعت فرض دے او چه څوك نفل کوی او فرض پريدی نو دا جاهلان وی، دا وجه ده چه څوك د سحر سنت کوی او جَمعه ولاړه وی نو دا جاهل دے دا فقاهت نهٔ دے ځکه چه د فرض او سنتو تعارض راشی نو سنت به پريدے۔ بعض فقهاءِ احناف دعوےِ د فقاهت کوی او حال دا چه د فقاهت نه وړاندے خبرے کوی فقاهت دا دے چه د هر عمل مرتبه اُوپيژندے شی لکه دلته عمر فاروق د فقاهت خبره کړيده۔ ځکه د فرضو مطالبه کيږی او د نفلو مطالبه په جِدِّی طريقه نده شوے۔ مثال دا دے چه تهٔ يو چا ته اُوبه يادے کړے چه دا راوړه او هغه درله داسے شے راوړی چه هغه ستا د متعلقاتو نه نه وی۔ نو ته به ورته په غصه شے۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه مالك فی الموطأ (۱۳۱/۱)

۳۰– وَعَنْ اَبِی مُوسَی الْاَشْعَرِیِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: « اِثْنَانِ فَمَا فَوْقَهُمَا جَمَاعَةٌ ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَة.

ترجمه: او ابوموسی اشعری ﷛ فرمائی چه رسول الله ﷺ اُوفرمايل : «دوه کسان يا د دوو نه زيات جماعت دے»۔ (نو دا په مانځه کښې جماعت جوړيدے شی) (ابن ماجة)

تشريح: اثنان نه مراد دوه كسان دى سَره د إمام نه يا سِوئ د إمام نه ليكن اول ظاهر او مُتعين دے۔ لكه د نورو أحاديثو نه معلوميږى مالك بن الحويرث رضي الله عنه او د هغه د ترۀ خوى ته ئے أوفرمايل : (اذا حضرت الصلوة فأذنا وأقيما ثم ليؤمكما أكبر كما (بخارى) چه دوه كسان به هم جَمعه كوى۔ او ددے هم د جماعت فضيلت دے۔ يعنى كه دوه كسان وى نو يواځے يواځے به مونځ نۀ كوى۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف جداً ومعناه صحيح : اخرجه ابن ماجه (۹۷۲) وفيه الربيع بن بدر عن ابيه وهو ضعيف جداً وابوه مجهول ورواه احمد (۲۵٤/۵) عن ابى امامة واسناده كالذى قبله۔ وتدل على ان الاثنين جماعة احاديث كثيرة كحديث الا رجل يتصدق على هذا، وكحديث مالك بن الحويرث وكحديث صلاة الرجل مع الرجل ازكى الخ وانظر المرعاة)۵۲۹/۳)

۳۱– وَعَنْ بِلَالِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ اَبِيْهِ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«لَاتَمْنَعُوْا النِّسَاءَ حُظُوْظَهُنَّ مِنَ الْمَسَاجِدِ اِذَا اسْتَأْذَنَّكُمْ». فَقَالَ بِلَالٌ: وَاللهِ لَنَمْنَعُهُنَّ، فَقَالَ لَهٗ عَبْدُ اللهِ : اَقُوْلُ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ، وَتَقُوْلُ اَنْتَ : لَنَمْنَعُهُنَّ. وَفِيْ رِوَايَةِ سَالِمٍ عَنْ اَبِيْهِ، قَالَ: فَأَقْبَلَ عَلَيْهِ عَبْدُ اللهِ فَسَبَّهٗ سَبًّا مَا سَمِعْتُ سَبَّهٗ مِثْلَهٗ قَطُّ، وَقَالَ: أُخْبِرُكَ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ وَتَقُوْلُ: وَاللهِ لَنَمْنَعُهُنَّ !. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او بلال بن عبد الله بن عمر د خپل والد محترم (د عبد الله بن عمر رضي الله عنه) نه روايت كوى چه رسول الله ﷺ أوفرمايل : «كله چه تاسو نه زنانه إجازت أوغواړى (مسجد ته د تلو دپاره) نو هغوى د مساجدو د حصے نه مۀ منع كوئ» (يعنى مسجد ته د تلو كوم ثواب چه هغوى ته ملاويږى نو تاسو هغوى لره د هغۀ ثواب نه مۀ محروم كوئ) بلال أووئيل : قسم په الله ! مونږ به ضرور هغوى منع كوو۔ نو عبد الله بن عمر رضي الله عنه ورته أوفرمايل : "زه وايم چه دا د رسول الله ﷺ إرشاد دے او تۀ وائے چه زۀ به ئے ضرور منع كوم" په يو بل روايت كښ سالم د خپل پلار (عبد الله) نه نقل كړيدى چه "بيا (دے نه بعد) عبد الله بلال طرفته متوجه شو او هغۀ ته ئے داسے بَد رد أووئيل چه ما كله هم د هغۀ نه نۀ وو اَوريدلى چه داسے بَد رد ئے ورته وئيلى وى۔ او دا ئے ورته أوفرمايل : "زۀ تا ته د رسول الله ﷺ نه خبر دركوم او تۀ (ددے په خلاف خپله رايه پيش كوے او) وائے : "قسم په الله مونږ به ئے منع كوو"۔ (مسلم)

بلال : دا د عبد الله بن عمر رضي الله عنه خوى دے۔ ابو زرعة وائى : مدنى ثقه دے، او حمزه كنانىّ وائى : صرف دا يو حديث ترے نقل دے۔

تشریح : وَاللهِ لَنَمْنَعُهُنَّ ! : دے تابعی نه په خپل گمان باندے د حدیث مخالفت اُوشو او هغه دا چه د نبی ﷺ په زمانه کښ خو فساد نۀ وو او اُوس فساد دے لهذا زه خوئے منع کوم لکه بعینهٖ دغه شان خبره فقهاء احنافو هم کړیده۔ لکه چه بعض احناف ځائے په ځائے د اَحادیثو په مخالفت کښ داسے وائی چه دا فلانے حدیث د صحیح او دُرستو اصولو مخالف دے ځکه مونږ غورزولے دے او دا فلانے خبر واحد دے د قیاس خلاف دے ځکه مو عمل پرے ترك کړیدے۔

فَسَبَّهُ سَبًّا : یعنی بَد ردئے ورته اُووئیل چه سپیه، غویه خنزیره زۀ تا ته حدیث د رسول الله ﷺ وایم او ته خپله رایه پیش کوے۔ دا دلیل دے چه د سنت د رسول الله ﷺ څوك خلاف کوی هغوی ته بَد رد وئیل جائز دی او په روایت د طبرانیؒ کښ ددے سبّ تفسیر په لعنت سره راغلے دے۔

۳۲– وَعَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ: «لَا يَمْنَعَنَّ رَجُلٌ اَهْلَهٗ أَنْ يَّأْتُوا الْمَسَاجِدَ»، فَقَالَ ابْنٌ لِعَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ: فَإِنَّا نَمْنَعُهُنَّ. فَقَالَ عَبْدُ اللهِ: أُحَدِّثُكَ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ، وَتَقُوْلُ هٰذَا، قَالَ: فَمَا كَلَّمَهٗ عَبْدُ اللهِ حَتّٰى مَاتَ. رَوَاهُ اَحْمَدُ.

ترجمه: او مجاهدؒ نه نقل دی چه ابن عمر رضی الله عنه فرمائی: نبی اکرم ﷺ فرمایلی دی: «نۀ دِے منع کوی یو سړے خپل کور والا د مسجد ته راتلو نه» نو د عبد الله بن عمرؓ یو ځوی اُووئیل: مونږ خو به ئے منع کوو، نو عبد الله بن عمرؓ ورته اُوفرمایل: "چه زۀ تا ته د رسول الله ﷺ نه حدیث بیانوم او تۀ دا خبره کوے"۔ د راوی بیان دے چه دے نه پس عبد الله خپل ځوی سره (د آخر عمر پورے) خبرے اُونۀ کړے تردے چه هغه وفات شو۔ (احمدؒ)

تشریح : فَمَا كَلَّمَهٗ عَبْدُ اللهِ حَتّٰى مَاتَ : دۀ سره ئے خبرے اُونکړے ترمرګه پورے، د کافر سره خبرے کول جائز دی مګر که مسلمان یو ناروا کار اُوکړی یا د سنتو مخالفت اُوکړی نو هغه سره خبرے بندول جائز دی، ځکه پدے کښ یو عجیب حکمت دے چه مسلمان د دین مزۀ څکلے ده او ځان ئے په حلقه د اسلام کښ داخل کړے دے د اسلام نه فائدے اخلی او بیا هم مخالفت کوی نو دا مستحق د سخت زجر دے او هر چه کافر دے نو هغه خو د مخکښ نه د الله دشمن دے۔ اُورته به ځی، د اسلام مزه ئے نده څکلے۔ لکه د کعب بن مالك او مراره او هلال بن امیه رضی الله عنهم سره نبی ﷺ په یوه ګناه (د جهاد نه پاتے کیدو باندے) پنځوس ورځے خبرے بندے کړے دیته تادیب وائی۔

حافظ ابن حجرؒ فرمائی : د عبد الله بن عمرؓ په خپل ځوی باندے انکار کولو نه دا فائده اخستلے شی چه څوک په سنت طریقو باندے په خپله رائے سره اعتراض کوی یا عالم په خپل خواهش سره مخالفت کوی نو هغه ته تادیب (ادب) ورکول پکار دی۔
او دارنګه خپل ځوی اګرکه مشر وی خو کله چه نامناسبه خبره اُوکړی هغه ته اَدب ورکول جائز دی او دا تادیب په هِجران سره جائز دے، او عبد الله بن عمرؓ چه ترمرګه پورے خبرے ندی کړی نو احتمال شته چه ددے قصے نه پس نزدے زمانه کښ وفات شوے وی۔
علامه طیبیؒ فرمائی : زما تعجب دے په هغه چا چه ځان باندے د سُنی نوم اِږدی کله چه د رسول الله ﷺ د یو سنت نه خبر شی او دده یوه رأیه وی او دا رأیه په هغه سنت باندے راجح کوی (دا پرے دپاسه کوی) نو ددهٔ او د مبتدع به څه فرق وی؟ آیا دهٔ دا حدیث نه دے اوریدلے : « نشی مومن کیدے یو تن ستاسو تردے چه د هغه خواهش تابع شی د هغه دین چه ما راوړیدے » اُوګوره حال ابن عمرؓ چه د اکابر او فقهاؤ صحابوؓ نه دے ! څنګه د الله او د رسول دپاره غصه شویدے او خپل جګر ګوشه (د زړه توټه) ئے پریخے ده د وجه د دغه قبیحے خبرے نه نو ددے نه دِے عقلمند خلق عبرت واخلی!!۔
دارنګه د نورو علماؤ سره هم شویدی، امام ابویوسف باره کښ راځی چه هغهٔ یو ورځ داسے اوفرمایل : رسول الله ﷺ به کدو خوښولو، نو یو سړی اوویل : هرچه زهٔ یم نو زهٔ ئے نهٔ خوښوم نو امام ابویوسف د هغهٔ پسے توره راوخکله او دا ئے ورته اُوفرمایل : ایمان تازه کړه ګنے قتلوم دِے۔ (مرقاة ١٩٢/٤) نو اُوګوره سلفو هم د سنت دپاره ډیر غیرت کړیدے۔
درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه احمد (٣٦/٢) واخرج نحوه فى (٣/ص٤٩)



باب تسوية الصف

د صف برابرولو بيان

مناسبت واضح دے چه کله جماعت اُودریږی نو صف به برابرولے شی۔

د تسوية الصفوف په حکم کښې اختلاف دے ۱- امام مالك او ابوحنيفهٓ وائی: دا د سنن الصلاة نه دے که چا پابندی اُوکړه نو مونځ کښې به ئے کمال وی او که وے نکړه نو مونځ کښې به ئے نقصان وی۔ (۲) د امام بخاری د باب ترلو نه معلومیږی چه دا واجب دے او دا قول د امام احمدٓ او ابن حزمٓ دے۔ او دا د عمر، عثمان، بلال اوانس بن مالك رضی الله عنهم) نه منقول دی چه صفونه په مانځه کښې برابرول فرض دی۔ ځکه امر پرے راغلے دے او ورسره سخت وعید یو ځائے شویدے۔ په کتاب الزواجر (۱۴٦/۱) د ابن حجر هیثمی کښې ددے پریخودو ته کبیره ګناه وئیلے ده۔

دلائل الوجوب: ۱- اول امر راغلے دے (لَتُسَوُّنَّ) (اِسْتَوُوْا) او امر د وجوب او فرضیت دپاره وی۔ ۲- عمر او بلال رضی الله عنهما به د خلقو قدمونه وهل چا چه به صف نه برابرولو۔ ۳- انس بن مالك ﷺ په ترك د تسوية الصف باندے انکار کړیدے اوفرمایلی ئے دی: (ما انكرت شيئاً الا انكم لا تقيمون الصفوف (بخاری ۲۵٦/۱ (رقم الباب ٤٦) باب اثم من لم يتم الصفوف) (انس بن مالكؓ مدینے ته راغلو نو چا ورته اُووئیل تا د رسول الله ﷺ نه روستو په مونږ کښې کوم مُنکر لیدلے دے نو هغهٔ اُوفرمایل: ما ستاسو په هیڅ شی اِنکار نهٔ دے کړے مګر دا چه تاسو صفونه نهٔ برابروئ) (بخاری) او انکار مستلزم وی مُنکر لره او مُباح ته مُنکر نشی وئیلے۔

٤- نبی ﷺ فرمائی: د شیطان دپاره مینځ کښې کولاو ځایونه مهٔ پریدئ پدے کښې شیطان رانوځی او زړهٔ ته وسوسے اَچوی۔ نو خلل بندولو باندے امر راغلو او « ولا تذروا فرجات للشيطان » سره نهی راغله۔ ٥- عظیم وعید راغلے (من وصل صفاً وصله الله ومن قطع صفاً قطعه الله (اخرجه الجماعة) (څوك چه صف یو ځائے کړی نو الله به ئے د ځان سره یو ځائے کړی او څوك چه صف قطع کړی الله به ئے قطع کړی۔) بیا د ابن حزمٓ او نورو علماؤ فرق دے، که چا صف برابر نکړو نو د ابن حزمٓ رایه دا ده چه مونځ ئے باطل دے او جمهور

محدثینؒ وائی : مونځ ئے اُوشو لیکن ناقص اُوشو او سخت گناهګار دے، او په ګناه سره مونځ نهٔ فاسدیږی او حدیث کښی د بطلان دپاره قرینه نشته۔ او اصول د ابن حزمؒ دا دی چه مخالفت د نهی سبب د بطلان د عبادت دے۔پدے کښی قول د احمدؒ او بخاریؒ راجح دے۔

د تسویة الصف معنی :

بیا صف برابرول څه ته وائی ؟ : په یوه نیغه کرخه باندے خلق اُودرول پداسے شان سره چه په مینځ د صف کښی خلل او کُشاده ځائے نهٔ وی او خپے د خپو سره او اُوږے د اُوګو سره او قدم د قدم سره اُولګولے شی۔

د صف کمال : بیا دا چه کاملیږی نو دیو څو کارونو لحاظ به پکښی کولے شی :

۱– یو دا چه اول صف به امام ته قریب وی، ۲– دویم صف به اول صف ته نزدے وی، چه سرئے د هغوی د خپو سره لګی، ۳– اول صف به کاملولے شی که اول صف کښی ځائے وی او دویم جوړ شو نو مونځ ددے صف نهٔ کیږی، روستو حدیث راځی۔

٤– د صف کیفیت : صف کښی به جخت جخت اُودریږی بقدر الاستطاعة څو مره ئے چه وسع رسی په غیر د تکلف کولو نه، خپے او اُوږے او قدمونه به اُولګوی او دا خبره اِتفاقی ده د هیڅا اختلاف پکښی نشته تردے چه په فقه حنفی کښی راغلی دی چه د وصل الصفوف په وجوب او سنیت کښی اختلاف دے علامه عینیؒ وائی : حقه دا ده چه تسویة الصفوف واجب دے د وجه د امر نه۔ یعنی ددے په ترك سره انسان ګناهګار دے۔

او په الدر المختار (۱/ ۳۸۲) کښی لیکی : امام له پکار دی چه مقتدیانو ته حکم اُوکړی په جوختولو د صفونو او په خلل بندولو او په اُوګو برابرولو آ هـ۔

فتاوی دیوبند (۳۳۸/۳) کښی لیکی : آیا صف قطع کول مکروه تنزیهی دی او که تحریمی ؟ ددویمے خبرے حقانیت ته اشاره کوی دا قول د نبی ﷺ من قطعه قطعه الله۔ آ هـ۔

دلائل وصل الصفوف :۱– (رصوا صفوفکم) اَمر راغلے دے۔ صاحبِ مرقاة (۶۸/۳) معنیٰ کوی : داسے جوخت اُودریږئ لکه دیوال کښی چه قلائی (سیمنټ) لګیدلے وی۔

۲–کسدوا الخلل = (خالی ګاه ډك کړئ) ۳– او ددے حکمت ئے ذکر کړیدے چه هغه د شیطان راتلل دی۔ ٤– (من وصل صفا وصله الله الخ) او د وصل همدغه معنیٰ ده۔ دا خو مشکاة کښی راغلی حدیثونه دی۔

خارجی دلائل : ۵– انس بن مالك او نعمان بن بشیر (رضی الله عنهما) دواړه فرمائی: رأیت الرجل منا یُلزِقُ کَعْبَهٗ بِکَعْبِ صَاحِبِهٖ وَقَدَمَهٗ بِقَدَمِهٖ (بخاری ۱/ ۱۰۰) باب الزاق المنکب

بالمنكب و القدم بالقدم فى الصف)، و التعليق المغنى (۲۸۳/۱) حاشية الدارقطنى)
(يو تن د صحابه كرامؓ نه به خپله ګيتۍ د خپل ملګرى د ګيتۍ سره او قدم د هغهٔ د قدم سره اِنخلولو)۔ (لزق او الزاق ديته وائى چه دوه شيونه د يو بل سره داسے اُونخلى چه مينځ کښې ئے بالکل جدائى نهٔ وى،لُزُقَةٌ=په عربئ کښې پلَسْتَرته وائى چه په درمند ځائے باندے لګولے شى) علامه ابن حزمؒ فرمائى دا د صحابه كرامؓ إجماع شوه۔ محلىٰ (۳۷۵/۲)۔
د دارقطنى په حاشيه کښې ورسره دا الفاظ مَعْمَرؒ راوى د انسؓ نه زيات نقل کړيدى : (ولو فَعَلْتَ ذلك بِاَحَدِهِمُ اليوم لَنَفَرَ كأنه بَغْلٌ شَمُوْسٌ) (ولَنَفَر كما ينفر الحُمُرُ الوحشية)
(كه نن صبا دا كار د يو تن سره اُوکړے (يعنى خپه ورسره اُوجنګوے) نو داسے به اُوتريږى لکه نفرتى قچر) (يا صحرائى خر) فتح البارى (۱۶۸/۱) وعون المعبود (۲۵۰/۱)
دا خو د انسؓ د زمانے حال دے نو څهٔ خبر دے انسؓ د حال د زمانے زمونږ نه چه ډير مبتدعين او مقلدين ددے سنت صريحه نه نفرت كوى لکه صحرائى خرهٔ او ددے سنت نه په تختيدو کښې تحريفات كوى لکه شيخ زكريا په (درس بخارى) کښې ليکى : د الزاق نه مراد حقيقى الزاق نه دے لکه چه اهل حديث ئے كوى بلکه ددے نه مراد محاذات او برابروالے دے او پدے باندے ئے هيڅ قسم دليل نهٔ دے وركړے بلکه صرف خپله رايه ئے مخکښې کړے ده د الله او د رسول په خبره۔
صرف د يو بعيد ځائے نه استدلال كوى چه حديث کښې راغلى دى كله چه مسجد ته راغلے نو ځيلئ چپل به چپ طرفته كيدے يا د خپو مينځ کښې او چه چپل يو طرفته كيدے نو پدے کښې خپے نه جنګيږى ؟۔
پدے استدلال باندے تعجب پكار دے، په زوره احاديثو کښې ټكراؤ پيدا كوى او خپل مقصد تر ے پوره كوى دا د مبتدعينو كار دے چه د مجملاتو او متشابهاتو نه استدلال كوى او صريح او محكم نصوص پريدى دلته شيخ زكريا حق پرستى پريخے ده د تعصب مذهبى په وجه۔ په هغه حديث کښې چرے دا مسئله نشته چه خپے مه جنګوه بلکه هغه حديث او دے حديث مينځ کښې هيڅ تعارض نشته ځكه هغه حديث کښې داسے الفاظ دى : (ان لم يكن عن يساره احد) كه ګس طرفته څوك نه وى نو بيا به چپل ګس طرفته كيدے نو هغه د يواځے مونځ كونكى خبره ده او دلته خو د صف متعلق حكم دے۔
بله دا چه ځيلئ د خپو مينځ کښې كيده نو بس دواړو حديثونو باندے به عمل راشى خپے به هم اُوجنګيږى او چپلو ته به ځائے هم ملاؤ شى۔ دارنګه محاذات ددے حديثونو نه اخستل بالكل صحيح نهٔ دى ځكه محاذات خو پدے طريقه هم راځى چه يو تن د

صف په هغه سر کښې اُودريږي او بل تن پدې سر کښې نو ديته دې هم صف اووئيلے شي؟!۔ سبحان الله !۔ ولا حول ولا قوة الا بالله۔

فيض الباري (۵/٤) کښې شاه انور شاه کشميريّ دا سنت په ډير بليغ انداز سره رد کړيدے او علامه ابو الحسن عبيد الله مبارکفوريّ په هغه باندې ډير جامع رد کړيدے۔ هغه د الزاق نه مراد معنیٰ مجازي اخستے ده وائي چه (الباء للالصاق) معنیٰ به اهل حديث څنګه کوي او بيا مثال کښې (مررت بزيد) وائي نو آيا دا اِنسان زيد پورے متصل کيدے شي؟

ددے **جواب** دا دے چه د (بِهٖ دَاءٌ) (او اذا الزق الختان الختان فقد وجب الغسل) معنیٰ به دا مقلد څنګه کوي؟، آيا دے کښې به هم جُدا والے مراد وي؟۔ بله وجه دا ده چه د الزاق خپله حقيقي معنیٰ اخستلو نه مجازي معنیٰ ته ولے عدول کيدے شي پدے باندے هيڅ قرينه نشته۔ بيا وائي : د الزاق المنکب بالمنکب نه مراد د فقهاءِ اربعو په نيز دا دے چه دومره کولاؤ والے به نۀ وي چه دريم سړے پکښې راځائے شي ۔

ددے **جواب** دا دے چه دا په ائمه اربعو باندے دروغ دي۔خپل دروغ ئے په ائمه اربعو اُوتپل۔ دارنګه وائي : سلفو نه دا نۀ دي ثابت چه هغوي ډ په حالت د انفراد او يا حالت د جماعت کښې د دواړو قدمونو ترمينځ فاصله کښې فرق راوستے وي۔ ددے جواب دا دے چه په کوم حديث کښې يا په عمل د صحابي کښې دا راغلي دي چه د مونځ کونکي د قدمونو ترمينځ به دومره فاصله وي چه څلور ګوتے به وي يا به يو لويشت وي په حالت د انفراد يا حالت د جماعت کښې ؟ هيڅ ثبوت نشته۔بلکه د سلفونه ددے خلاف نقل دي په روايت د مَعْمر کښې د انس بن مالكؓ عمل مونږ ذکر کړو چه هغۀ هغۀ چا ته نفرتي قچر وئيلي دي څوك چه خپه نه جنګوي۔ بلکه حقه دا ده چه شارع د مونځ کونکي د قدمونو فاصله کښې څۀ تحديد ندے کړے بلکه دا ئے اُمت ته پريخي دي دپاره د شفقت په هغوي باندے څکه بعض خلق به غټ وي بعض به خوَار وي بعض به قوي وي بعض به ضعيف وي نو هر سړے به د خپل وزن مطابق اُودريږي، نۀ به د خپل وزن نه زيادت کوي او نۀ به کم والے، او داسے جوخت به اُودريږي چه په خپل وزن هم وي او خپي او اُوګے هم اُوجنګيږي لکه الحمد لله – اهل الحديث پدے باندے دغه شان صحيح عمل کوي۔ او مقلدين اعداء السنة الله ددے سنت د عملي کولو نه محروم کړيدي د وجه د تعصب د هغوي نه د اهل حقو سره۔بيا وائي : تۀ سوچ اُوکړه پدے باندے عمل نشي کيدے۔

الجواب : هغه مقلد چه الله د هغۀ بصيرت ړوند کړے وي نو هغه باندے هر سنت ګران وي مګر هغه چه ددۀ د خواهش موافق وي!! ولے ګران دے، د خپل وسع مطابق خپه

جنگوه او کوشش کوه بغیر د تکلف نه به دواړه کاره اُوشی۔ پیغمبر داسے خبرے نۀ کوی چه هغے بانديے اُمت عمل نشی کولے نو اے مقلدینو ! تاسو ته سوال کوو چه دے سنت طریقو ته د چا د وجی نه حیلے او بهانے مۀ جوړوئ او راشئ د کتاب او سنت صحیح براوِ راست تابعداری شروع کړئ چه الله مو کامیابئ ته اُورسوی۔ او دا تاویلات چه دوی کوی نو دا حنفی مذهب هم نۀ دے بلکه حنفی مذهب کښې هم د وصل الصف تاکید راغلے دے کما مرّ۔ راجع فتاوی الدین الخالص (٥/٢٥٤) والمرعاة (٤/٥)

الفصل الاول

١ – عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيْرٍ، قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُسَوِّیْ صُفُوْفَنَا حَتّٰی كَاَنَّمَا يُسَوِّیْ بِهَا الْقِدَاحَ، حَتّٰی رَأٰی اَنَّا قَدْ عَقَلْنَا عَنْهُ، ثُمَّ خَرَجَ يَوْمًا، فَقَامَ حَتّٰی كَادَ اَنْ يُّكَبِّرَ، فَرَأٰی رَجُلًا بَادِيًا صَدْرُهٗ مِنَ الصَّفِّ، فَقَالَ: عِبَادَ اللهِ! لَتُسَوُّنَّ صُفُوْفَكُمْ اَوْ لَيُخَالِفَنَّ اللهُ بَيْنَ وُجُوْهِكُمْ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : نعمان بن بشیر رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ به زمونږ صفونه برابرول ترديے چه گویا کښې په هغے باندے غشی برابروی تردے چه هغۀ اُولیدل چه مونږ د هغۀ نه (صفونه سیده کول) زدۀ کړل (نو بیا به ئے بار بار د برابرولو حکم نۀ کولو) بیا یوه ورځ راووتو، اُودریدو تردے چه نزدے وه چه تکبیر ئے کړے وے نو یو سړے ئے اُولیدو چه د صف نه ئے سینه راویستے وه، نو وے فرمایل : ۔ اے د الله بندگانو ! خپل صفونه سیده کړئ او یا به الله ستاسو د مخونو ترمینځ اختلاف اچوی ۔ (مسلمؒ)

تشریح : رسول الله ﷺ سره د صف دومره اهتمام وو چه په خپله به ئے صفونه برابرول۔

فوائد الحدیث : ١ – امام لرۀ د صفونو اهتمام پکار دے۔ ٢ – نبی علیه السلام دوه قسمه تسویه کړیده قولًا لکه (استووا، اعتدلوا، تراصوا) وغیره حکمونه ئے کړيدی او عملًا تسویه ئے هم کړیده لکه حدیث کښې دی : (کان رسول الله ﷺ یتخلل الصف من ناحیة الی ناحیة یمسح صدورنا ومناکبنا الخ) (ابوداود ١/١٠٤) نبی علیه السلام به د صفونو مینځ کښې د یو طرف نه بل طرفته اُووتلو او زمونږ سینے او اُوگے به ئے برابرولے) دا ډیر اهتمام ته اشاره ده۔ او عمر او عثمان رضی الله عنهما به سړے لیږلو چه صفونه برابر کړی او دا معنی نبی علیه السلام قولًا هم کړیده (لینوا بایدی اخوانکم) (د ورورنو په لاسونو کښې نرم شئ)۔

قَدْ عَقَلْنَا عَنْهُ : ددے نه دا فائده معلومیږی چه د تسویة الصف امر همیشه دپاره سنت نۀ دے بلکه کله چه مقتدیانو دا خبره زدۀ کړه نو بیا هره ورځ امر ندے پکار خو کله چه عام

مسجد وی چه نوی خلق ورته راځی نو بیا بار بار وئیل پکار دی۔ (استووا اعتدلوا)۔
يُسَوِّىْ بِهَا الْقِدَاحَ : قِداح جمع د قَدَح ده، د غشی لرگی ته وائی چه کله اُوتراشلے شی۔ دلته ډیره مبالغه شویده چه صف به دومره نیغ وو گویا کښې دا د غشی دپاره قالب دے او گویا کښې نیغه اُوسپنه ده او غشے په دۀ باندے نیغولے شی او اصل کښې صف په غشی سره نیغولے شی۔
او یسوی معلوم او مجهول دواړه صحیح کیږی او القداح به یا مفعول وی یا به نائب فاعل وی۔
عِبَادَ اللهِ! منادیٰ ده، حرفِ نداء حذف ده د نبی ﷺ عادت مبارك دا وو چه یو تن به غلطی اُوکړه نو عامه خبره به ئے کوله دے دپاره چه چه په هغهٔ باندے پَرده واچوی۔
اَوْ لَيُخَالِفَنَّ اللهُ بَيْنَ وُجُوْهِكُم : دَ مخالفت بین الوجوه= ډیرے معنے دی (۱) حقیقی معنیٰ ئے دا ده چه مخونه شاته اُوگرځوی اُلټه ئے کړی یا دا چه شکل ورله بدل کړی او د بعض حیواناتو په شکل ئے مسخ کړی لکه خَر وغیره ترے جوړ کړی۔ او ددے حقیقی معنیٰ تائید په حدیث د ابو امامهؓ کښې راغلے دے۔ لتسون الصفوف او لنطمس الوجوه (احمد) وفي سنده ضعف = ـجزاء من جنس العمل وی۔ فرمائی : بناء پدے تسویه د صف فرض ده او تفریط پکښې حرام دے۔(عون المعبود ۲/۲۵۷)
۲- بعض وائی : دا مجاز دے کنایه ده د عداوت او بُغض پیدا کولو نه یعنی ستاسو په زړونو کښې به بے محبتی او دُشمنی پیدا کړی، یو بل سره به مو اِختلافات پیدا شی ځکه د دوی مخالفت په صفونو کښې دا مخالفت دے په ظاهر کښې او اختلاف د ظاهر سبب وی د اختلاف د باطن دپاره۔ او دا معنیٰ په روایت د ابوداود کښې راغلے ده : (اولیخالفن الله بین قلوبکم)۔
۳- بعض وائی : د "وجوه" نه مراد ذوات دی یعنی الله به ستاسو اِرادے او مقاصد گډوډ کړی، ځکه زړونه چه کله برابر وی نو ظاهری اندامونه برابریږی او کله چه صفونه گډوډ وی نو دا دلیل دے په اختلاف د زړونو او کله چه صفونه همیشه دغه شان گډوډ وی نو الله به د انسانانو اغراض او مقاصد گډوډ کوی او بعینهٖ دا کار اُوس شویدے۔
(عارضة الاحوذی ۲/۲۵)
او دا معنیٰ هم ده چه کله تاسو په صف کښې جُدا جُدا شیٔ نو بیا به هر یو تن خپله مَخ اُونیسی او د یو بل خبره به نهٔ منی، فسادات به پیدا شی۔ (قرطبیؒ)
نو حاصل دا شو چه که د (وَجُه) نه ذات الشخص واخستے شی نو مخالفت به په اعتبار د مقاصدو سره وی او که عضو مخصوص ترے واخستے شی نو مخالفت به یا په اعتبار د صورت او شکل انسانی سره وی یا به په اعتبار د صفت سره وی، او یا به مخ طرف روستو اَړولو سره وی۔ نو حدیث کښې ډیر وعید دے۔

٢ - وَعَنْ اَنَسٍ، قَالَ: اُقِيْمَتِ الصَّلَاةُ، فَأَقْبَلَ عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ بِوَجْهِهٖ، فَقَالَ: اَقِيْمُوْا صُفُوْفَكُمْ وَتَرَاصُّوْا فَاِنِّيْ اَرَاكُمْ مِنْ وَرَاءِ ظَهْرِيْ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ. وَفِي الْمُتَّفَقِ عَلَيْهِ قَالَ: اَتِمُّوا الصُّفُوْفَ، فَاِنِّيْ اَرَاكُمْ مِنْ وَرَاءِ ظَهْرِيْ.

ترجمه: او انس ﷺ فرمائی: (یوه ورځ) د مانځه اِقامت اُوشو نو رسول الله ﷺ مونږ طرفته مخ راواړولو وے فرمایل: - صفونه برابر کړئ او جُوخت جوخت اُودریږئ ځکه زهٔ تاسو د خپل شا طرف نه وینم - (بخاری) او په روایت د بخاری او مسلم کښ دی: وے فرمایل: - صفونه پوره کړئ ځکه زهٔ تاسو د خپل شا طرف نه وینم -

تشریح: اُقِيْمَتِ الصَّلَاةُ: د اقامت نه بعد به صفونه به برابروی نو پدے کښ رد دے په قول د بعض فقهاؤ چه وائی إمام به (قد قامت الصلاة) سره الله اکبر کوی- بلکه صحیح بخاری کښ دی چه نبی ﷺ د اقامت نه بعد د یو گس سره دومره وخت خبرے کولے چه عام خلق په صفونو کښ اُوده شو-

وَتَرَاصُّوْا: (ای تَلَاصَقُوْا وَانْضَمُّوْا) د تَرَاصِیْ معنیٰ ده یو بل سره منضم کیدل او جوختیدل چه مینځ کښ رَصَاص (قلائی) واچوی -د -رَصَّ الْبِنَاءَ معنیٰ ده آبادے مضبوطول او بعض د بعضو سره یو ځائے کول- نبی ﷺ صحابه کرامؓ د خپل ځان نه یَرولی دی چه خبردار! زهٔ تاسو تهٔ گورم او دا کتل په حقیقت بناء دی او تاویل ته پکښ ضرورت نشته او دا د نبی ﷺ معجزه ده او تحقیق ئے په څلورم جلد کښ تیر شویدے- دا حدیث دلیل دے چه اقامت د صف او تراصی کښ فرق دے- اقامت د صف نیغول دی او تراصی په صف کښ جوخت جوخت اُودریدل دی چه مینځ کښ هیڅ قسم فاصله نهٔ وی-

---

٣ - وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: - سَوُّوْا صُفُوْفَكُمْ، فَاِنَّ تَسْوِيَةَ الصُّفُوْفِ مِنْ اِقَامَةِ الصَّلَاةِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. اِلَّا اَنَّ عِنْدَ مُسْلِمٍ: - مِنْ تَمَامِ الصَّلَاةِ.

ترجمه: او انس ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ اوفرمایل: - صفونه برابر کړئ، ځکه صفونه برابرول د مانځه قائمول دی - (بخاریؒ ومسلمؒ) او په روایت د مسلمؒ کښ د اقامة الصلاة (د مانځه قائمولو) په ځائے دی: (من تمام الصلاة) (د مانځه د پوره والی نه دی).

تشریح: یعنی چه صف جوړ وی نو مونځ به کامل شی او چه صف خراب وی نو بیا به

مونځ ناقص وی دا دلیل دے چه د جماعت دپاره صف برابرول د واجباتو نه دی۔ او قرآن کښې چه د اقامة الصلاة حکم شویدے نو په هغے کښې د صف برابرول هم داخل دی۔

٤– وَعَنْ اَبِیْ مَسْعُوْدٍ الْاَنْصَارِیِّ، قَالَ: کَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ یَمْسَحُ مَنَاکِبَنَا فِی الصَّلَاةِ، وَیَقُوْلُ: اِسْتَوُوْا وَلَا تَخْتَلِفُوْا فَتَخْتَلِفَ قُلُوْبُکُمْ، لِیَلِیَنِیْ مِنْکُمْ اُولُوْا الْاَحْلَامِ وَالنُّهٰی، ثُمَّ الَّذِیْنَ یَلُوْنَهُمْ، ثُمَّ الَّذِیْنَ یَلُوْنَهُمْ ، قَالَ اَبُوْمَسْعُوْدٍ : فَاَنْتُمُ الْیَوْمَ اَشَدُّ اخْتِلَافًا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او ابو مسعود انصاری ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ به په مانځه کښې (یعنی د مانځه په شروع کښې) زمونږ اُوږے برابرولے او دا به ئے فرمایل : ـ برابر شئ او مه مختلف کیږئ (یعنی مخکښې روستو کیږئ مه) ورنه ستاسو زړونو کښې به اختلاف پیدا شی، او په تاسو کښې چه څوك بالغان او عاقلان وی هغه دِے ما ته نزدے اُودریږی، بیا هغه کسان چه هغوی ته نزدے دی بیا هغه کسان چه هغوی ته نزدے دی ـ ابو مسعودؓ (خلقو ته دے حدیث بیانولو سره) اُوفرمایل : ـ تاسو نن ډیر سخت اختلاف والا یئ (ځکه صفونه مو برابر نۀ دی) (مسلمؒ)

تشریح : یعنی رسول الله ﷺ به زمونږ اُوګے مَسحه کولے او په صف کښې به ئے برابرولو چه څوك مخکښې روستو نشی، دا د نبی ﷺ عملی صف برابرول دی۔

وَلَا تَخْتَلِفُوْا : یعنی په صف کښې د یو بل نه مخکښې روستو کیږئ مۀ ځکه زړونو کښې به مُو اختلاف او ګډوډالے پیدا شی ځکه چه اختلاف د ظاهر اثر کوی په اختلاف د باطن باندے۔ او حدیث دلیل دے چه زړۀ تابع د اعضاؤ دے نو کله چه اعضاؤ کښې اختلاف راشی نو زړه کښې اختلاف راشی او کله چه زړۀ کښې اختلاف راشی نو فاسد شی او کله چه زړۀ فاسد شی نو اندامونه به خود بخود فاسد کیږی ځکه دا ئے رئیس دے۔

مګر دلته دا سوال پیدا کیږی چه دے نه خو معلومه شوه چه زړۀ تابع د اندامونو دے نو دا مخالف دے د هغۀ مشهور حدیث دے (الا ان فی الجسد مضغة اذا صلحت صلح الجسد کله) چه زړۀ کله صحیح شی نو ټول بدن صحیح کیږی، نو دے نه خو معلومیږی چه بدن تابع د زړه دے۔؟ **جواب** دا دے چه د بدن او د زړۀ ترمینځ یو خاص قسم تعلق او عجیب قسم تاثیر دے چه د هریو مخالفت په بل کښې اثر کوی۔لکه ددے مثال دا دے چه د ظاهر یخوالے په باطن کښې اثر کوی او د باطن په ظاهر باندے (مرقاة)

فَتَخْتَلِفَ قُلُوْبُكُمْ : دے کښې دا احتمال هم شته چه معنیٰ دا وی چه کله ظاهر کښې اختلاف مۀ راولئ ځکه چه دا ظاهری اختلاف به دلیل وی ستاسو د زړونو د اختلاف ولے کۀ زړه برابر وی نو صف کښې به اختلاف نۀ راتلے۔

لیلنی : دے کښې بل لغت دے (لِيَلِيَنِیْ) په اِثبات د یاء سره هم جائز دے۔ اګرکه دا مجزوم دے خو په احادیثو کښې کله نا کله داسے هم راځی دپاره د آسانئ۔ او ددے دپاره علامه ابن مالك په کتاب شواهد التوضیح (ص ١١– ١٥)کښې طویل بحث راوړیدے او ددے دپاره په اشعارو کښې ډیر شواهد دی۔

اُولُوا الْاَحْلَامِ وَالنُّهٰی : اَحلام جمع د حِلم ده، بُردباری او آرام او تثبت فی الامور او د غصے په وخت نفس کنټرول کولو ته وائی او دا کارونه د عقل په سبب کیږی نو اولوا الاحلام نه مراد بهترین عقلونو والا خلق دی، بعض وائی : بالغان ترے مراد دی او نهی جمع د نُهْیَة ده په معنیٰ د عقل سره عقل ته نُهْیَة ځکه وائی چه دا انسان منع کوی د قبائحو نه نو دا تاکید د اول شو۔

په حدیث کښې مسئله دا ده چه اول صف کښې به عقلمند خلق، سری اُودریږی، علماء او مشران، او دویم صف کښې به د هغوی نه خکته درجے والا او دغه شان روستو به ماشومان اُودریږی بیا به زنانه وغیره۔ او ماشومان به په اول صف کښې نۀ اُودریږی۔ مګر دا خبره یاد ساتل پکار دی چه کله په صف کښې ځائے خالی وی او غټ خلق نۀ وی نو بیا ماشومان اُودرول پکار دی، بعض خلق بالکل ماشومان په اول صف کښې نۀ پریدی دا صحیح نۀ ده، دلیل دا دے چه روستو باب الموقف کښې راځی نبی ﷺ پسے روستو اول صف کښې انس بن مالكؓ او یو یتیم اُودریدو او بیا روستو ام سلیم رضی الله عنها۔

د عقلمندو د مخکښې اُودریدو حکمت دا دے چه د نبی ﷺ مونځ زدۀ کړی، دارنګه که په مانځه کښې څۀ عارض پیش شی نو د هغۀ نه به خلیفه جوړ شی او که سهوه شی فتح به ورکړی۔ (معالم) په روایت د بیهقی کښې دی : نبی علیه السلام به دا خوښول چه مهاجرین او انصار د هغۀ سره نزدے اُودریږی دے دپاره چه د هغۀ نه طریقه زدۀ کړی۔

قَالَ اَبُوْمَسْعُوْدٍ : دا تابعینو ته وائی چه تاسو صفونه پوره طریقے سره نۀ برابروئ نو ځکه ستاسو وحدت او اتفاق کښې ګډوډ والے راغلو او فتنے په تاسو کښې راپیدا شوے۔ نو زمونږ زمانه کښې چه دا کوم فسادونه دی ددے اصلی سببونه همدا دی چه صفونه نۀ برابریږی۔

٥– وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :–لِيَلِنِیْ مِنْكُمْ اُولُوا الْاَحْلَامِ

وَالنُّهٰى، ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ ثَلَاثًا، وَاِيَّاكُمْ وَهَيْشَاتِ الْاَسْوَاقِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ اُوفرمايل: ـ نزدے دے اُودريږي ما ته ستاسو بالغان او عقل مند خلق، بيا هغهٔ كسان چه هغوى ته نزدے دى (درے ځل ئے دا جُمله اُوفرمايله) او ځان اُوساتئ د بازارونو د چغو او شور نه (په مساجدو كښ او دغه شان په بازارونو كښ) (مسلمٌ)

تشريح: وَهَيْشَاتِ الْاَسْوَاق : هيشات جمع د هَيْشَة ده اصل كښ د هَوش نه ماخوذ دے په معنى د ګډوډوالي او اختلاف سره او ها هُو او يو بل كښ داخليدل او شر او فتنه كولو ته وائي، هيشات الاسواق نه مراد چغے او نعرے او ګډوډ آوازونه او هاهُو دے چه واخله راشه، په دومره دے، وغيره۔ ددے يو مطلب دا دے چه مانځه ته كله اُودريږئ نو د بازاريانو خلقو په شان شور مهٔ جوړوئ بلكه په ډير اِطمينان او سكون او خشوع سره صفونه برابروئ ځكه چه تاسو خو د عظيم ذات مخے ته اُودريږئ نو د هغه د عبادت ادب اُوساتئ۔ بعض خلق چه جنازه كښ ولاړ وى نو شور به ئے جوړ كړے وى لكه د مابنام چينچنړے، صفونه برابروئ، هر سړے پكښ خپل آواز راښكاره كوى دا د مخلصينو او صحابه كرامؓ طريقه نهٔ ده۔

٢– يا د هيشات نه مراد اختلاط او ګډوډ والے دے يعنى د بازار والو په شان ګډوډ كيږئ مه چه عقلمند او غير عقلمند پته پكښ نه لګى، بالغان او نابالغ او زنانه او سړى پكښ ګډوډ روان وى بلكه صفونو كښ برابر اُودريږئ او هر انسان دے خپل خپل مقام د اُودريدو اُوپيژنى۔

٣– دارنګه دا مطلب هم كيدے شى چه ځانونه د بازارونو په كارونو باندے د مشغوله كولو نه بچ كړئ ځكه دا تاسو ددے نه منع كوى چه ما ته نزدے اُودريږئ۔

٤– دارنګه بل مطلب دا دے چه دلته نبى ﷺ د دوه ځايونو اصلاح كوى چه په مسجد كښ ما ته نزدے اُودريږئ او په بازارونو كښ چغے مهٔ وهئ دا دے وقاره خلقو كار دے۔

كله چه انسان په بازار كښ چغے نهٔ وهى نو دهٔ كښ وقار او خشوع پيدا كيږى نو د مانځه په وخت كښ بيا په طريق اولىٰ شور او ګډودى نهٔ كوى۔

٦– وَعَنْ اَبِىْ سَعِيْدِ الْخُدْرِىِّ، قَالَ: رَاٰى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فِىْ اَصْحَابِهٖ تَاَخُّرًا، فَقَالَ لَهُمْ:ـ تَقَدَّمُوْا وَأْتَمُّوْا بِىْ، وَلْيَأْتَمَّ بِكُمْ مَنْ بَعْدَكُمْ، وَلَايَزَالُ قَوْمٌ يَتَاَخَّرُوْنَ حَتّٰى يُؤَخِّرَهُمُ اللهُ .

رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او ابوسعيد الخدري ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ په خپلو ملګرو کښې تاخير اُوليدو نو ورته ئې اُوفرمايل : «رامخکښې شئ! او زما اِقتداء اُوکړئ او ستاسو اقتداء دِې اُوکړي هغهٔ څوك چه ستاسو نه روستو دی، او يو قوم به هميشه (د اول صف د اُودريدو نه) روستو روستو کيږي تردې چه الله به ئې (د خپل رحمت او فضل نه) روستو کړي». (مسلمؒ)

تشريح : ١– حديث کښې ترغيب دے چه د الله د بندګئ سره شوق اُوساتئ، او سُست ورته مهٔ راځئ. ــ حافظ ابن القيمؒ په «الوابل الصيب» کښې ليکي د الله د تعظيم نښه دا ده چه کله درنه جماعت فوت شي يا درنه صف اول يا درنه د صف ښي طرف فوت شي او تا ته خفګان اُورسي.

آيا دويم صف والا به د اول صف مقتديان وي؟

وَلْيَأْتَمَّ بِكُمْ مَنْ بَعْدَكُمْ : کښې دوه مسئلے دي يوه حقيقي او بله وهمي.

حقيقي مسئله دا ده چه (١) د امام بخاريؒ او امام شعبيؒ او مسروقؒ رايه دا ده چه روستنے صفؒ به د اول صف مقتديان وي لکه څنګه چه اول صف د امام مقتديان دی. نو دويم صف به د اول صف نه روستو سر اُوچتوی، لکه څنګه چه اول صف د امام نه روستو سر اُوچتوی (اخرجه ابن ابي شيبةؒ)

امام بخاريؒ دا حديث په خپل صحيح کښې راوړے او دا استدلال ئې کړيدے.

٢– **جمهور** علماء فرمائي : ټول مقتديان به د امام پسے اقتداء کوي او ددے حديث مطلب دا دے چه کله زما آواز نهٔ رسيږي نو په نقل الافعال کښې دے هر روستنے صف د خپل مخکني صف تابعداري اُوکړي، دوي ته به ګوري نو پته به لګي چه امام رکوع يا سجده يا قيام کښې دے.لکه امام نوويؒ فرمائي : (معناه : يقتدى بكم من خلفكم مستدلين على افعالي بافعالكم) يعني ستاسو افعالو ته په کتلو سره به زما په اَفعالو استدلال کوي.څکه چه روستنو ته خو اِمام نهٔ ښکاري. او دا مطلب نهٔ دے چه روستني صف والا به د مخکني صف مقتديان وي. او دارنګه امام بخاريؒ خپل اختيار پدے مسئله کښې ندے ښکاره کړے بلکه صرف د ظاهري الفاظو د حديث مطابق ئې ترجمه لګولے ده. اه دغه تسلسل الاقتداء ئې مقصود نهٔ دے. علامه عبيد الله مبارکفوريؒ په المرعاة (١١/٤) کښې د جُمهورو قول راجح کړيدے.

دارنګه دے کښې دا مطلب هم بعض علماؤ بيان کړيدے چه اے صحابه کرامو! تاسو زما تابعداري اُوکړئ په زدهٔ کولو د دين کښې، ما نه دين زده کړئ ما ته ګورئ او ستاسو نه

روستو چه کوم تابعين وغيره راروان دی نو هغوی دے ستاسو نه دين زده کړی او دغه شان تر قيامته پورے۔ (طيبیؒ)

وهمي مسئله : بعض خلق ددے الفاظو نه تقليد ثابتوی چه راتلونکے امت دے ستاسو تابعداری اُوکړی نو بس تقليد ثابت شو۔ ددے ډير جوابونه دی چه دا استدلال باطلوی :

۱- يوه وجه دا ده چه اتباع د صحابه کرامو ضروری ده، او تقليد په دين کښ نشته۔ دلته خو اقتداء او اتباع وئيلے شويده، تقليد پکښ د کوم ځائے نه راغلو؟ (ماچه مے گويد وتنبور ما چه سرايد)

۲- دارنګه که تقليد ثابت شی نو پدے کښ خو تقليد د صحابه کرامؓو دے نو بيا خو ستاسو په نيز هم په تقليد د صحابه کرامؓو امر راغلو او تاسو خو د صحابه کرامؓو تقليد ته حرام وايئ ځکه چه هغوی اصول ندی ليکلی (رد المحتار) او تاسو خو د امام ابوحنيفةؒ تقليد واجب ګنړئ نو «وهم دے کوم ځائے او ډب دے کوم ځائے کوی»۔

★- دارنګه دا د اُمت اتفاقی مسلك دے چه د صحابه کرامؓو به هغه خبره منلے شی چه د دليل موافق وی ځکه که د هر صحابی بے دليله خبره اُومنلے شی نو بيا خو د بعض صحابه کرامؓو نه اجتهاداً داسے مسائل ثابت دی چه نص د هغے په خلاف وی لکه عمرؓ او ابن مسعودؓ به د جنب دپاره تيمم جائز نهٔ ګنړلو (بخاری)۔

۲- بلال به په چرګ باندے قربانی کول جائز ګنړل (محلیٰ)۔

۳-سمره بن جندب به ربا الفضل جائز ګنړله۔

٤- ابو طلحه به په ګلئ باندے روژه ماته نه ګنړله۔ دارنګه په نفلی مانځه کښ به ئے اُوبه څکل جائز ګنړل او دا خو تاسو هم نه منئ نو خبره د تقليد کوئ او بيا ترے تبښتئ۔ انظر ((حقيقة التقليد واقسام المقلدين)) نو صحيح دا ده چه پدے حديث کښ د مانځه د صفونو متعلق خبره ده يا د علم زده کولو چه امر دے په طلب د علم قرناً بعد قرن۔

يُؤَخِّرَهُمُ اللّٰهُ : په څه کښ به ئے روستو کړی؟ ۱- نو يا جنت ته داخليدو کښ۔

۲- يا د خپل رحمت او عظيم فضل او اُوچتے مرتبے د علم نه به ئے روستو کړی۔

۳- دريم مطلب روستو حديث کښ راروان دے (حتی يؤخرهم اللّٰه فی النار) يعنی که اُور ته د ګناهونو په وجه داخل شو نو روستو به راوځی ځکه دا قانون دے چه اللّٰه طرفته د بنده په دنيا کښ څومره سير او منډه وی نو هغومره به په جنت کښ ددهٔ مرتبه وی، نو که منډه ئے سُسته وه نو په هر څه کښ به روستو روستو وی۔

٤- او دا مطلب هم دے چه (حتی يؤخرهم اللّٰه فی کل شیء) په هر شی کښ به ئے اللّٰه روستو کړی، علم به هم ورته زر نهٔ ورکوی، نور د دنيا فوائد به هم ورته زر نهٔ حاصليږی۔

٧- وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: فَرَآنَا حَلَقًا فَقَالَ: «مَالِيْ أَرَاكُمْ عِزِيْنَ»، ثُمَّ خَرَجَ عَلَيْنَا، فَقَالَ: «أَلَا تَصُفُّوْنَ كَمَا تَصُفُّ الْمَلَائِكَةُ عِنْدَ رَبِّهَا؟» فَقُلْنَا: يَارَسُوْلَ اللهِ! وَكَيْفَ تَصُفُّ الْمَلَائِكَةُ عِنْدَ رَبِّهَا؟ قَالَ: «يُتِمُّوْنَ الصُّفُوْفَ الْأُوْلٰى، وَيَتَرَاصُّوْنَ فِي الصَّفِّ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او جابر بن سمره ﷺ فرمائی: (یوه ورځ) رسول الله ﷺ په مونږ راووتو نو مونږه ئے په مختلفو حلقو کښې ناست اُولیدو، وے فرمایل: «څهٔ وجه ده ما لره چه زهٔ تاسو جدا جدا ډله وینم» (داسے مهٔ کینئ څکه دا د انتشار او بے اِتفاقئ علامه ده) بیا (دغه شان یوه ورځ) مونږ ته راووتو نو وے فرمایل: «آیا تاسو داسے صفونه نهٔ ترئ لکه څنګه چه ملائك صفونه تړی د رب په دربار کښې؟» مونږ اُووئیل: یا رسول الله! ملائك د رب په دربار کښې څنګه صفونه تړی؟ وے فرمایل: «هغوی اولنی صفونه پوره کوی او په صفونو کښې جوخت جوخت اُودریږی». (مسلمؒ)

تشریح: حَلَقًا: په کسره د حاء دے جمع د حَلْقَة ده لکه قِصَعٌ چه جمع د قَصْعَة ده یا بِدَر چه جمع د بَدْرَة ده۔ او فتحه هم خلاف القیاس جائز ده۔ لکه فَلْكَةٌ جمع ئے فَلَك ده۔

عِزِيْنَ: جمع د عِزَة ده مختلفو ډلو ته وائی، مطلب دا دے چه مسجد ته راشئ نو ډله ډله کیږئ مهٔ دا اختلاف ته اشاره ده بلکه صف کښې کینئ، نو په حدیث کښې نهی ده د تفرق نه او امر دے په اجتماعیت، دارنګه پدے کښې امر دے په اقتداء د ملائکو په مانځه او نورو عباداتو کښې او امر دے په اولنو صفونو پوره کولو او صفونو کښې جوخت جوخت اُودریدلو چه مینځ کښې کولاؤ ځائے پاتے نشی۔

د صف مقدار څه دے؟ نو ظاهر دا ده چه د یو دیوال نه بل دیوال پورے دا صف دے، ددے مینځ کښې به کولاؤ ځائے نهٔ پریدی، بلکه ددے پوره کول ضروری دی۔ العرف الشذی (٢٥٨/١)

٨- عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «خَيْرُ صُفُوْفِ الرِّجَالِ أَوَّلُهَا، وَشَرُّهَا آخِرُهَا، وَخَيْرُ صُفُوْفِ النِّسَاءِ آخِرُهَا وَشَرُّهَا أَوَّلُهَا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

ترجمه: او ابو هریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ اُوفرمایل: «بهترین صفونه د سړو اَولنی دی او بد ترین صف ئے روستنے صف دے۔ او بهترین صفونه د زنانو روستنے دے او

بد ترین ئے اولنئ دے»۔ (مسلمؒ)

تشریح : وَشَرُّهَا اَوَّلُهَا : د شرنـه مراد دا نۀ دے چه آخری صف د سړو ناکاره دے او سخت گناهګار دی، بلکه هرځوك چه مانځه ته راغلی دی هغه ټول د اَجر مستحق دی نو دلته د شر نه مراد کم اجر او ثواب والا دے، د مطلوب د شرع نه وړاندے دے ۔او خیر نه ډیر اجر مراد دے او شرئے ورته اُووئیلو ځکه چه دا متضمن کیدے شی شر لره۔

وجـه د شر والی دا ده چه کله انسان په اول صف کښ اُودریږی نو د زنانونه به بعید وی، د هغوی د خوشبو او آوازونو او حرکات او سکناتو نه به محفوظ وی او که رکوع ته راځکته شی نـو پـه تـرخـونـو کـښ به پرے نظر نۀ لګی لکه په حدیث د ترمذیؒ کښ راځی چه یوه زنانه به مانځه له راتله ډیره تعجبی ښائسته وه مخ به ئے ښکاره وو، منافقان به په روستنو صفـونـو کښ د هغے د کتلو دپاره اُودریدل او په ترخونو کښ به ئے ورته کتل او مومنانو به مـخـکښ صفونو ته زور کولو نو الله دا آیتونه نازل کړل ﴿ وَلَـقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَقْدِمِيْنَ مِنْكُمْ وَلَـقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَأْخِرِيْنَ ﴾ (مـونـږ ته مخکښ کیدونکی او روستو کیدونکی خلق معلوم دی) (ابـن کـثـیرؒ دا روایت نقل کړیدے) او زنانو دپاره په اول صف کښ اجر کم دے ځکه چه سړو ته به نزدے وی نو فتنه کښ به واقع شی۔

امام نوویؒ لیـکـی : د سړو دپاره دا حکم په هر وخت کښ دے او هرچه زنانه دی نو د هغـوی دپاره دا حکم په هغۀ وخت کښ دے چه مسجد کښ د سړو سره مونځ کوی او کله چه یواځے زنانه مونځونه کوی نو بیا هغوی د سړو په شان دی چه اولنی صفونو والا بهتر دی ځکه فساد پکښ نشته۔

او حـدیـث دلیـل دے چـه د زنـانـو مونځ په صفونو کښ جائز دے برابره ده که د سړو سره شاملیږی او که ځانله ئے کوی۔

بیا دا حـدیـث هـر مانځه ته عام دے که د جنازے وی او که د اخترونو او که عام مونځونه وی۔ صرف په در مختار کښ لیکی : چه په جنازه کښ د سړو دپاره روستو صف غوره دے او نـورو مـونـځـونو کښ اول صف د سړو دپاره غوره دے مګر پدے فرق باندے هیڅ معتمد دلیل نشته، شامیؒ هم پرے رد کړیدے چه مطلق حدیث خو داسے دے چه د سړو دپاره اولنی صفونه غوره دی نو پدے فرق باندے دلیل راوړل پکار دی۔

الفصل الثانی

٩– عَنْ اَنَـسٍ قَـال، قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «رُصُّوا صُـفُـوْفَـكُـمْ وَقَـارِبُوْا بَيْنَهَا وَحَاذُوْا بَيْنَ

الْاَعْنَاقِ، فَوَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِیَدِهٖ، اِنِّیْ لَاَرَی الشَّیْطَانَ یَدْخُلُ مِنْ خَلَلِ الصَّفِّ کَاَنَّهَا الْحَذَفُ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه: انس ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ فرمایلی دی: « صفونه خپل جُوخت جُوخت کړئ او ددے په مینځ کښں نزدے والے اُوکړئ او د اُوګو ترمینځ برابروالے اُوکړئ، قسم په هغه ذات چه زما نفس د هغهٔ په لاس کښں دے، یقیناً زهٔ شیطان وینم چه د مینځ (کولاؤ ځایونو) د صف نه داسے داخلیږی ګویا کښں دا د چیلۍ تور بچے دے»۔ (ابوداوٗد)۔

تشریح: (رص) دیته وائی چه د یو بل سره جوخت جوخت اُودریږی او مقاربه دیته وائی چه روستنی صف اولنی صف ته نزدے اُودریږی دومره اندازه چه دریم صف په مینځ د دوه صفونو کښں رانشی۔ پدے کښں حکمت دا دے چه دا ظاهری اندامونه یو بل ته نزدے کول سبب د اتفاق د روحونو دے (مرقاة)

وَحَاذُوْا بَیْنَ الْاَعْنَاق: یعنی څټونه د یو بل سره برابر کړئ پداسے شان سره چه ټول په یوه هـمـواره زمـکـه وی او بعض په بعضو باندے پورته نه وی۔ په بل روایت دابن عمرؓ او ابو امامهٔ کښں د اعناق په ځائے (مناکب) راغلے دے۔ (حاذوا بین مناکبکم)۔

خَلَلِ الصَّفِّ: خـلـل خالی ګاه او کولاؤ ځائے ته وائی چه د دوه کسانو په مینځ کښں د نهٔ جوختیدو نه پیدا شوے وی۔

کَاَنَّهَا الْحَذَفُ: پـه فتـح د حاء او ذال جمع د "حَذَفَةٌ" ده۔ د چیـلۍ تـور واړه بچی چه په حـجـاز کـښں پیـدا کیږی۔ بعض وائی: دا هغهٔ واړه بچی دی چه غوږونه او لکۍ نه لری او وینښتـه پرے نهٔ وی او د یمن نـه راوستے شی۔ یعنی شیطان پدے کولاؤ ځائے کښں داسے راپورتـه کیږی او زړهٔ تـه وسوسے اَچوی لـکـه د چیلی تور وړوکے بچے کوم چه په حجاز عـلاقـه کـښں پیـدا کیږی۔او کأنها ضمیر شیطان ته راجع دے او تانیث د ضمیر په اِعتبار د خبـر سره دے یا ضمیر نفس د شیطان ته راجع دے۔ یا په روایت د نسائی کښں لفظ د «لأری الشیاطین» دے نو ضمیر جمع ته راجع دے۔ فلا اشکال۔

بـعـض خـلـق ددے حـدیـث پـورے تـوقـے کوی وائی چه شیطان ډے د دوه خپو مینځ کښں داخل شی کنه؟ ۔ **جواب** دا دے چـه شیطان ډیر متکبر دے هغه د چا نه ځان نه لاندے کوی او مخامخ هم نشی راتلے ځکه مخامخ الله دے۔ نو د دواړو طرفونو نه کوشش کوی۔ او کله چـه تـا د شیـطـان لارے بندے کړے نو د وراندے نه به وسوسے اچوی نو وسوسه بـه ئے دومره تـاثیـر نـهٔ کـوی، او دا بـالـکـل تـجـربـه شـوے خبره ده کله چه انسان خپے نهٔ جنګوی نو بیا

دكانونو كښې سُوچونه كوي۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه احمد (١٥٤/٣) (٢٦٠) وابوداود (٦٦٧) والنسائى (٩٢/٢) وابن خزيمة (١٥٤٥) وابن حبان (٢١٥٦) قال النووى : اسناده صحيح على شرط مسلم۔

١٠ – وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :«اَتِمُّوْا الصَّفَّ الْمُقَدَّمَ ثُمَّ الَّذِىْ يَلِيْهِ، فَمَا كَانَ مِنْ نَقْصٍ فَلْيَكُنْ فِى الصَّفِّ الْمُؤَخَّرِ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ.

ترجمه : او انس ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمائيلي دی : « مخکنے صف پوره کړئ بيا هغهٔ چه هغے ته نزدے دے، او كهٔ څهٔ نقصان وی نو پکار ده چه په روستنی صف کښې وی»۔ (ابوداودؒ)۔

تشريح : يعني كه كوم نقصان وى په نو په آخرى صف كښې دے وى ځكه څوك به نهٔ وى چه هغهٔ پوره كړى نو په هغهٔ نقصان باندے انسان گناهگار نهٔ دے۔ بيا پدے حديث كښې دا بيان نشته چه دا ناقص صف به كوم ځائے كښې اُودريږى نو ظاهر حديث د ابو هريرهؓ كښې دا الفاظ دى : (واسّطوا الامام) يعني دا ناقص صف به د امام مينځ ته اُودريږى۔ او صف به د مينځ نه جوړوى۔ او چه اول صف كښې ځائے وى، دويم صف جوړول سخته گناه ده ددے امر خلاف دے۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه احمد (٢٣٣/٣) وابوداود (٦٧١) والنسائى (٩٣/٢) وابن خزيمة (١٥٤٦) وابن حبان (٢١٤٦)

---

١١ – وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ: «اِنَّ اللّٰهَ وَمَلَائِكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى الَّذِيْنَ يَلُوْنَ الصُّفُوْفَ الْاُوْلٰى، وَمَا مِنْ خَطْوَةٍ اَحَبُّ اِلَى اللّٰهِ مِنْ خَطْوَةٍ يَمْشِيْهَا يَصِلُ [الْعَبْدُ] بِهَا صَفًّا». رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ.

ترجمه : او براء بن عازب ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ به فرمايل: « يقيناً الله او ملائك رحمتونه راليږى په هغهٔ كسانو باندے چه اولنو صفونو ته نزدے كيږى، او نشته يو قدم ډير محبوب الله ته د هغهٔ قدم نه چه دائے اخلى او پدے سره صف متصل (بوځائے) كوى»۔ (ابوداودؒ)

د اول صف مقدار :

تشريح : صف اول چا ته وائى ؟ نو ددے بيان په (٢٢٥/٣) باب فضائل الصلاة كښې تير شويدے۔ (١) يو هر هغه څوك چه مسجد ته مخكښې او وختى راشى، برابره ده روستو

اُودريږى او كه مخكښې نو هغه صف اول كښې حساب دے۔
(٢) — من قرب من الامام) څوك چه امام ته نزدے اُودريږى نو دا صف اول دے۔او د امام او ددهٔ ترمينځ خلل نهٔ وى۔
(٣) — ظاهر دا ده چه كوم غټ صف چه د امام پسے متصل ولاړ وى او د سلام په وخت كښې د امام نظر په هغوى لګى نو دا صف اول دے۔او دا د عام حديثونو نه معلوميږى۔
بيا صفوف ئے جمع راوړه نو دا يا په اعتبار د تعدد د مساجدو دے يا په اعتبار د تعدد د جماعتونو دے۔ او مراد يو صف دے۔ ځكه اول صف خو يو وى۔ يا د صفوفو نه ډير صفونه مراد دى چه مقدم وى په آخرى صف باندے ځكه هغه هم اول دى په نسبت د آخر، نو د آخر صف فضيلت دومره نشته ځكه د دوى نه تقدم فوت شويدے او ددے صف نه مخكنو صفونو دپاره د الله او د ملائكو دا صلاة (رحمت راليږل) شته دے (سندى حاشية النسائى)
خَطْوَةٍ : په فتحه د خاء يو ځل قدم اخستو ته وائى دا صيغه د مصدر ده او په ضمه د خاء د دوه قدمونو په مابين كښې فاصلے ته وائى۔
يَصِلُ بِهَا صَفًّا : ددے ډير صورتونه دى : ١— يو دا چه د بهر نه راشى صف كښې يو ځائے خالى وى هغهٔ پوره كړى۔ ٢— دويم دا چه تهٔ په روستو صف كښې ئے خو چه مخكښې صف كښې ډے خالى ځائے اُوليدو يو څوك اُووتو نو تهٔ به ورځے حتىٰ چه په مانځه كښې به هم دا قدم اخلے او په مانځه كښې داسے قسم مزل كول جواز لرى، دا حديث عام دے تولو حالتونو ته شامل دے او د صحابو نه ددے ثبوت شته دے۔
درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه احمد (٢٩٧/٤) وابوداود (٥٤٣) (٦٦٤) والنسائى (٩٠/٢) وابن خزيمة (١٥٥١) (١٥٥٢) وابن حبان (٢١٤٨)

---

١٢ — وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«اِنَّ اللهَ وَمَلَائِكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلٰى مَيَامِنِ الصُّفُوْفِ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : عائشه رضى الله عنها فرمائى : رسول الله ﷺ اُوفرمايل : « يقيناً الله او ملائك رحمتونه راليږى (او ملائك دعا غواړى) په ښى طرف صفونو باندے»۔ (ابوداود)۔
تشريح: حديث دليل دے چه ښى طرف صفونه بهتر دى او په ښى طرف صفونو كښې اُودريدل مستحب دى خو كله چه ښى طرفونه نيول شوى وى او ګس طرف كښې ځائے خالى وى نو هغه به هم ډكوے داسے به نهٔ وائے چه دا بهتر نهٔ دے بلكه په دغه وخت كښې بيا هغه بهتر دے۔ لكه دے باره كښې يو حديث هم دے (من عمر جانب المسجد الايسر لقلة

اهله فله اجران) (چا چه د مسجد ګس طرف آباد کړو نو هغهٔ له دوه اجره دي) (وفی اسناده مقال فيه بقية وقد عنعنه ولكنه ثقة) (مجمع الزوائد ۲/۹۶)

درجة الحديث: اسناده حسن: اخرجه ابوداود (٦٧٦) وابن ماجه (١٠٠٥) وابن حبان (٢١٦٠ – الاحسان) والبيهقي (١٠٣/٣) وقال الحافظ في الفتح (٢١٣/٢): اسناده حسن۔

---

١٣ – وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُسَوِّيْ صُفُوْفَنَا اِذَا قُمْنَا اِلَى الصَّلَاةِ، فَاِذَا اسْتَوَيْنَا كَبَّرَ. رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه: او نعمان بن بشير ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ به زمونږ صفونه برابرول کله چه به مونږ مانځه ته اُودريدو نو کله چه به مونږ برابر شو (په صفونو کښې) بيا به ئې الله اکبر اُوکړو"۔ (ابوداوٌد)

تشريح: دا حديث هم دليل دے چه د امام ذمّه واري دا ده چه هغه به صفونه برابروی او امر به کوی په برابرولو د صفونو او هله به تکبير کوی چه صفونه برابر شي او دا کار به د اقامت نه پس کوی او دليل پدے باندے (اذا قمنا) دے او (فقام حتى كاد ان يكبر) (او اقيمت الصلاة فاقبل علينا بوجهه) دا دواړه په فصل اول کښې تير شويدي۔ او داسے هم سنت نهٔ دي چه اول صفونه برابر کړي او بيا اقامت شروع کړي۔

درجة الحديث: اسناده صحيح على شرط مسلم۔ اخرجه احمد (٢٧٠/٤) وابوداود (٦٦٥)

---

١٤ – وَعَنْ اَنَسٍ، قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ عَنْ يَمِيْنِهِ: «اِعْتَدِلُوْا، سَوُّوْا صُفُوْفَكُمْ»، وَعَنْ يَسَارِهِ: «اِعْتَدِلُوْا، سَوُّوْا صُفُوْفَكُمْ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه: او انس ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ به (چه کله صف برابرولو نو) ښي طرفته به ئې اُوفرمايل: «برابر شئ او صفونه برابر کړئ» او ګس طرفته به (ئې هم فرمايل): «برابر شئ، صفونه سيده کړئ»۔ (ابوداوٌد)

تشريح: ديته قولي برابرول وائي چه دواړو طرفونو ته داسے الفاظ اُووائي چه صفونه برابر کړئ۔ او مخکښې اووئيل شو نو دا به هميشه دپاره نهٔ وائي مګر که ضرورت ئې محسوس کړو لکه نوی خلق مانځه کښې شامل شو نو بيا ئې لوستل سنت طريقه ده۔

د «اعتدلوا» نه مراد په اُودريدلو کښې برابروالے دے چه په يو سمت باندے اُودرېږي څکه

چه د صف برابرول د ملائكو شان دے او د يو بل نه مخكښ روستو اُودريدو كښ كله نا كله د بل مسلمان په خشوع كښ فرق پيدا كوى۔ او د «سووا» نه جوختيدل مراد دى چه مينځ كښ ځائے پاتے نشى۔ يا ثانى تاكيدْ د اول دے يا تفسير د اول دے۔

درجة الحديث : اسناده صحيح بشواهده : اخرجه ابوداود (٦٧٠) وابن حبان (٢١٥٩)

---

١٥ – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «خِيَارُكُمْ أَلْيَنُكُمْ مَنَاكِبَ فِي الصَّلَاةِ». رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او ابن عباس ﷺ فرمائى: رسول الله ﷺ فرمايلى دى : «غوره په تاسو كښ هغۀ ځوك دى چه ډيرنرم وى په تاسو كښ په مانځه كښ د اُوګو په لحاظ»۔ (يعنى چه صف برابرونكى سره سختى نۀ كوى) (ابوداودؒ)

تشريح : ١– دے كښ ظاهرى او د باب سره مناسبه معنىٰ دا ده چه غوره هغۀ ځوك دے چه ځوك ئے د اُوګے نه اُونيسى او په صف كښ ئے مخكښ روستوكوى نو هغۀ نرمى كوى او بَدْ اَخلاقى نۀ كوى چه ما نه وړاندے شۀ ما له ګوتے مۀ راوړه ځكه د نبى ﷺ په زمانه كښ طريقه دا وه چه په صفونو كښ به ئے سرے ګرځولو دے دپاره چه خلق برابر كړى نو دا اِرشاد ئے اُوفرمايلو چه د ورونو سره نرمى كوئ۔ نن صبا دا عادت ورك شويدے ځكه خلق پدے اِصطلاح نۀ پوهيږى۔

٢– دويمه معنىٰ : لين المنكب كنايه ده د لزوم السكينة نه يعنى ځوك چه په مانځه كښ په سكون او آرام ولاړ وى او بے ځايه نۀ خوزيږى، ګيره او پوزه وغيره كښ ګوتے نۀ وهى، اُوګے نۀ وهى، ديكے نۀ وهى، نو دا غوره انسان دے۔

٣– بعض دا مطلب هم بيانوى چه په اُوګو باندے هغه ځوك نۀ منع كوى كوم چه د خالى ګاه د ډكولو دپاره صف كښ داخليږى يا د مكان د تنګوالى د وجه نه صف كښ ننوزى نو دے ورله ديكه نۀ وركوى (خطابى فى المعالم ١٨٤/١)۔

ميرك شاهؒ: وائى اوله معنى د باب مناسبه ده او ددے تائيد په حديث د ابوامامه كښ په فصل ثالث كښ راروان دے چه (لينوا فى ايدى اخوانكم) او دريمه معنىٰ هم د باب مناسبه ده۔

درجة الحديث : اسناده صحيح بشواهده ـ كما فى بيان الوهم والايهام (٨٦٠) فراجعه۔ اخرجه ابوداود (٦٧٢) وابن خزيمة (١٥٦٦) والبيهقى فى السنن الكبرى (١٠١/٣) وفى سنده جعفر بن يحيى بن ثوبان عن عمه عمارة بن ثوبان وجعفر مجهول (ابن المدينى) ومجهول الحال (ابن القطان) وذكره ابن حبان فى الثقات وقال الحافظ فى التقريب : مقبول

وعمه عمارة حجازى مستوروقال الذهبى لين لكنه قد وثق وذكره ابن حبان فى الثقات۔ قال المباركفورى قول الذهبى لكنه قد وثق وقوله لين وذكر ابن حبان اياه فى الثقات يدل على انه ليس بمجهول الحال عندهم ومن عرف حجة على من لم يعرف الخ (مرعاة ١٨/٤)

الفصل الثالث

١٦ – عَنْ اَنَسٍ، قَالَ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَقُوْلُ: «اِسْتَوُوْا، اِسْتَوُوْا، اِسْتَوُوْا، فَوَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ، اِنِّيْ لَاَرَاكُمْ مِنْ خَلْفِيْ كَمَا اَرَاكُمْ مِنْ بَيْنِ يَدَيَّ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او انس ﷺ فرمائی : نبی ﷺ به فرمایل : «برابر شئ، برابر شئ، برابر شئ، قسم په هغهٔ ذات چه زما نفس د هغهٔ په لاس کښې دے، زهٔ (په مانځه کښې) تاسو د خپل شا طرف نه داسے وینم لکه څنګه چه زهٔ تاسو د مخے نه وینم»۔ (ابوداودؒ)

تشريح : دريے کرتے ئے دا حکم اُوکړو دپاره د تاکيد يا ممکن ده چه اول امر اِجمَالًا واقع شوے وی او دويم بنبی طرف والا او دريم چپ والو دپاره شوے وی۔

امامانو له پکار دی چه د صفونو د جوړولو اهتمام اُوکړی بعض امامان د اقامت په وخت قبلے ته متوجه وی او صرف دا کلمات اووائی او باقی صف نهٔ برابروی او دا ګمان کوی چه ماګنے په سنت عمل اُوکړو حال دا چه ددے کلماتو د وينا مقصد د صف کول او مقتديان برابرول دی۔انظر تمام المنة (١٥٢/١)

اِنِّيْ لَاَرَاكُمْ مِنْ خَلْفِيْ : دا ئے منافقانو ته دهمکی ورکړه چه تاسو خو د الله نه نهٔ يريږئ خو زهٔ هم ستاسو وراندے وینم۔ او دا ليدل په حقيقت باندے حمل دی او دا د نبی ﷺ معجزه وه لکه ددے باقی تشريح په (٤ جلد/٢٨٨ باب الركوع) کښې تيره شويده۔

درجة الحديث : اسناده صحيح على شرط مسلم۔ اخرجه احمد (٢٦٢/٣) والنسائی رقم (٨١٣) فی باب كم مرة يقول : استووا، وليس فی ابی داود فعزو المصنف اليه وهم منه– رحمه الله

---

١٧ – وَعَنْ اَبِيْ اُمَامَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :«اِنَّ اللّٰهَ وَمَلَائِكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى الصَّفِّ الْاَوَّلِ»، قَالُوْا: يَارَسُوْلَ اللّٰهِ! وَعَلَى الثَّانِيْ؟ قَالَ: «اِنَّ اللّٰهَ وَمَلَائِكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى الصَّفِّ الْاَوَّلِ». قَالُوْا: يَارَسُوْلَ اللّٰهِ! وَعَلَى الثَّانِيْ؟ قَالَ: «اِنَّ اللّٰهَ وَمَلَائِكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى الصَّفِّ الْاَوَّلِ»، قَالُوْا: يَارَسُوْلَ اللّٰهِ! وَعَلَى الثَّانِيْ ؟ قَالَ :«وَعَلَى الثَّانِيْ». وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : «سَوُّوْا صُفُوْفَكُمْ، وَحَاذُوْا بَيْنَ مَنَاكِبِكُمْ، وَلِيْنُوْا فِيْ اَيْدِيْ اِخْوَانِكُمْ، وَسُدُّوا الْخَلَلَ، فَاِنَّ

الشَّيْطَانَ يَدْخُلُ فِيمَا بَيْنَكُمْ بِمَنْزِلَةَ الْحَذَفِ»، يَعْنِيْ أَوْلَادَ الضَّأْنِ الصِّغَارَ. رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه : او ابو امامه ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ اُوفرمايل : «يقيناً الله او ملائك په اول صف باندے رحمتونه ليږی»، صحابه كرامو عرض اُوكړو اے د الله رسوله ! او په دويم صف والو باندے (هم يعنى داسے اُووايئ چه په اول او دويم صف باندے رحمت راليږی مگر) نبى ﷺ اُوفرمايل : «يقيناً الله او ملائك په اول صف والو باندے رحمت ليږی »، (پدے ځل ئے هم دويم صف ذكر نـۀ كړو) صحابه كرامو عرض اُوكړو : اے د الله رسوله ! او په دويم صف باندے (هم اُووايه) وے فرمايل : «يقيناً الله او ملائك په اول صف والو باندے رحمت راليږی » صحابه كرامو اُوفرمايل : اے د الله رسوله ! او په دويم صف باندے. وے فرمايل : «او په دويم باندے » (هم الله او د هغـۀ ملائك رحمت راليږی) او رسول الله ﷺ اُوفرمايل : « صفونه برابر كړئ او د خپلو اُوګو ترمينځ برابروالے اُوكړئ او د خپلو ورونو په لاسونو كښ نرم شئ (چه هغۀ مو صف كښ سيده كوی نو سختی ورسره مۀ كوئ چه زۀ نۀ سميږم) او خالى ګاه بنده كړئ، ځكه شيطان ستاسو په مابين كښ داسے ننوځی لكه په شان د حذف يعنى وړوكى بچى د چيلئ ». (احمدؒ)

تشريح : پدے كښ د صف اول زيات فضليت شو د صف ثانى نه په درے چندونو.

وَعَلَى الثَّانِيْ؟ : يعنى په دويم باندے هم دغه شان اُووايه. او دا په ظاهر كښ خبر دے خو په معنىٰ د دعاء دے. يا خبر په خپله معنىٰ دے.

وَلِيْنُوْا فِيْ أَيْدِيْ : دا دليل دے چه (الينكم مناكب) كښ اوله معنىٰ بهتره وه يعنى چه وړور مسلمان ډے سموی نو نرم شه او چه مسلمان د خالى ګاه ډكولو دپاره صف كښ ننوزی نو نفرت ترے مۀ كوه.

دے كښ يوه بله معنىٰ هم دا شويده چه څوك راشي او صف پوره شوے وی او هغه يواځے اُودريږی نو تا د مخكښ صف نه راكاږی دے دپاره چه هغه سره اُودريږے او هغۀ د يواځے مونځ كولو نه محفوظ كړے ځكه يوتن به يواځے صف نۀ جوړوی بل څوك به د مخكښ صف نه راكاږی نو تۀ به هغه ته خپله اُوګه نۀ سختوے بلكه هغه سره به مدد كوے. مګر دا معنىٰ دومره واضحه نۀ ده ځكه پدے باره كښ صريح صحيح حديث نشته. كما سيأتي قريباً.

او دا مقصد هم دے چه يو انسان په مانځه كښ وران ولاړ دے لرے ولاړ دے ته ئے ځان ته راكاږے نو هغۀ له پكار دى چه تا ته نرم شي او رانزدے شي، او داسے نهى عن المنكر او تصرفات په

مانځه کښې جائز دی لکه نبی ﷺ ابن عباسؓ له د ګس طرفنه ښی طرفته راتاؤ کړو۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه احمد (٢٦٢/٥) باسناد لا بأس به وصححه الالباني في صحيح الترغيب ١١٨/١) وصحيح الجامع (١٨٤٠) وقال المنذري في الترغيب : باسناد لا بأس به، وقال الهيثمي رجاله موثقون۔ واخرجه الطبراني في الكبير۔

---

١٨ – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اَقِيْمُوا الصُّفُوْفَ، وَحَاذُوْا بَيْنَ الْمَنَاكِبِ، وَسُدُّوا الْخَلَلَ، وَلِيْنُوْا بِاَيْدِىْ اِخْوَانِكُمْ، وَلَا تَذَرُوْا فُرُجَاتٍ لِلشَّيْطَانِ، وَمَنْ وَصَلَ صَفًّا وَصَلَهُ اللهُ وَمَنْ قَطَعَ صَفًّا قَطَعَهُ اللهُ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَرَوَى النَّسَائِيُّ مِنْهُ قَوْلَهُ « وَمَنْ وَصَلَ صَفًّا» اِلٰى آخِرِهٖ.

ترجمه : او ابن عمر ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ اُوفرمایل : « صفونه اُودروئ (نیغ ئے کړئ) او د اُوګو ترمینځ برابر والے اُوکړئ، او خالی ګاه بندے کړئ او د خپلو ورونو په لاسونو کښې نرم شئ، او د شیطان دپاره کولاؤ ځایونه مهٔ پریدئ، او چا چه صف پیوسته کړو، الله به ئے پیوسته کړی (د خپل رحمت سره) او چا چه صف پریکړو نو الله به ئے (د خپل رحمت نه) کټ کړی»۔(ابوداوُدؒ) او نسائیؒ ددے حدیث نه (من وصل صفا) تر آخره پورے روایت کړے دے۔ (او ددے نه مخکښې روایت پکښې نشته)۔

تشریح : وَصَلَهُ اللهُ : یعنی چا چه صف کښې خالی ګاه بنده کړه یا نقصان ئے پوره کړو نو الله به ئے د خپل رحمت سره یو ځائے کړی یا به ورله مقاصد پوره کړی۔

وَمَنْ قَطَعَ صَفًّا : او چا چه صف قطع کړو چه خپه ئے د خپل ملګری سره اُونهٔ جنګوله یا ئے یو مانع مینځ ته راوړو او صف کښې ئے کولاؤ والے پیدا کړو نو الله به ئے د خپل رحمت نه پریکړی او مقاصد به ئے نهٔ پوره کوی۔

نو پدے کښې سخته سزا ده پدے وجه صف نهٔ برابرول ګناه کبیره ده۔او شیطان ته د مانځه نه برخه ورکول دی۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه ابوداود (٦٦٦) والنسائي (٩٣/٢) والحاكم (٢١٣/١) وقال صحيح على شرط مسلم ووافقه الذهبي وصححه ابن خزيمة۔

---

١٩ – وَعَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«تَوَسَّطُوا الْاِمَامَ وَسُدُّوا الْخَلَلَ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمايلي دي : « امام په مينځ كښې كړئ، او كولاؤ ځايونه بند كړئ»۔ (ابوداود)

تشريح : تَوَسَّطُوا الْإِمَامَ : يعني د امام نه په داسې ځائے كښې اُودرېږئ چه هغه په مينځ د صف كښې راشي او ښي او كس طرفته خلق ئې برابر وي او دا مطلب نۀ دے چه امام به د مقتديانو سره په يو صف كښې اُودرېږي هغه معنیٰ به روستو باب الامامة كښې د زنانو باره كښې راشي۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه ابوداود (٦٨١) وفي اسناده يحيى بن بشير بن خلاد عن امه ويحيى مستور وامه مجهولة وهو في ضعيف الجامع الصغير (٦١٢٢) تعليق المشكاة (٤٥٤/١) لكن للشطر الثاني شواهد من حديث ابن عمر بسند صحيح الخ

---

٢٠ – وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :«لَا يَزَالُ قَوْمٌ يَتَأَخَّرُوْنَ عَنِ الصَّفِّ الْاَوَّلِ، حَتّٰى يُؤَخِّرَهُمُ اللّٰهُ فِي النَّارِ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او عائشه رضي الله عنها فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي : « هميشه به وي يو قوم چه د اول صف نه به روستو روستو كيږي تر دے چه الله به ئې په اُور كښې روستو كړي»۔ (يعني د اُور نه به ئې روستو راوُباسي كۀ چرته اُورته لاړ شي) (ابوداوُد)۔

تشريح : يَتَأَخَّرُوْنَ : يعني څۀ خلق د صف اول د فضيلت اهتمام نۀ كوي نو الله به ئې د خيراتو نه محروم كړي او آخر دا چه اُورته به لاړ شي او بيا به ئې د اُور نه روستو راوُباسي، ځكه جزاء من جنس العمل وي، دۀ تاخير كړے وو په نيك اعمالو كښې نو الله ئې هم د تولو نه روستو راوُباسي۔

ديكښې دا مطلب هم ښۀ دے چه هر انسان اُورته داخليږي ځكه پُلِ صراط باندے به تيريږي نو څوك به پرے زر تيريږي او دا انسان چه د صف اول اهتمام ئې ندے كړے نو دے به په هغے كښې په آرام روان وي نو كه نور گناهونه ئې ورسره ملگري وو نو بيا به سزا هم خوري او روستو به د اُور نه اُوځي او كه گناهونه ورسره ملگري نۀ وو نو پُل صراط باندے به په قلاره پورے وُزي او دا هم ډير لوئي هيبت دے ځكه د پُل صراط لاندے اُور دے (وان منكم الا واردها)

درجة الحديث : اسناده رجاله ثقات : لكن من رواية عكرمة بن عمار بن يحيى بن ابي كثير وقد ضعفها جماعة من النقاد منهم مُخرّجه ابوادود اخرجه ابوداود (٦٧٩) ولكن يشهد له حديث ابي سعيد المتقدم برقم (٦) وصححه الالباني في صحيح ابي داود (٦٧٩) ٠ صحيح

الجامع (۷٦۹۹)

۲۱– وَعَنْ وَابِصَةَ بْنِ مَعْبَدٍ، قَالَ: رَأَى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ رَجُلًا يُصَلِّيْ خَلْفَ الصَّفِّ وَحْدَهٗ، فَاَمَرَهٗ اَنْ يُّعِيْدَ الصَّلَاةَ. رَوَاهُ اَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ، وَاَبُوْدَاوٗدَ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ : هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ.

ترجمه : او وابصه بن معبد ﷺ فرمائی: "رسول الله ﷺ یو سړے اُولیدو چه د صف نه روستو ئے یواځے مونځ کولو نو هغهٔ ته ئے حکم اُوکړو چه مونځ راوګرځوی"۔ (احمدؒ، ترمذیؒ، ابوداودؒ) او ترمذیؒ وئیلی دی : دا حدیث حسن دے۔

تشريح : **فَاَمَرَهٗ اَنْ يُّعِيْدَ الصَّلَاةَ :**

د صف نه روستو يواځے مونځ کول :

پدے کښې اختلاف دے چه آيا د صف نه روستو یواځے مونځ کول په کومه درجه کښې دی؟ نو پدے کښې ۱– د اهل ظواهرو مذهب دا دے چه د صف نه روستو یواځے مونځ کول باطل دی او اِعاده ئے لازم ده او دا حدیث ئے دلیل دے او دا قول د حسن بن صالحؒ، ابراهیم نخعیؒ، احمدؒ، اسحاقؒ او ابن المنذرؒ، او الحکمؒ، او دا قول د یو قوم د کوفے والو دے لکه حماد بن ابی سلیمانؒ ، عبد الرحمن بن ابی لیلیٰؒ او وکیعؒ دے۔ ابن حزمؒ وائی : دا قول د اوزاعیؒ او حسن بن حیؒ او یو قول د سفیان ثوریؒ دے۔ امام دارمیؒ وائی دا زما قول هم دے۔

او دا حدیث حافظ ابن القیمؒ په «اعلام الموقعین(۲/۳۵۸)» کښې ذکر کړیدے ددے دپاره چه مقلدینو دا صحیح صریح حدیث د خپلو قواعدو په بناء رد کړیدے۔او هغه دا چه ددے سړی شرائط او اَرکان پوره دی اَودس ئے صحیح کړیدے او عورت ئے پټ دے نو ددهٔ مونځ ولے باطل شی؟ مګر د الله نبی فرمائی چه یو شرط درنه پاتے دے او هغه دا چه صف کښې نه ئے شامل۔ نو دا حدیث جُدا قاعده ده۔

(۲) **مالک** ، شافعی او ابوحنیفه رحمهم الله – فرمائی: دا مونځ صحیح دے لیکن سړے ګناهګار دے لهذا مونځ مکروه دے او باطل نهٔ دے۔عینیؒ وائی : ځکه چه صحت د مونځ تعلق لری د ارکان او شرائطو سره او هغهٔ موجود دی۔ او مکروه ځکه دے چه نهی موجود ده۔او دلته ئے چه پرے اِعاده کړے ده نو دا استحباباً ده۔

لیکن قول اول حق دے وجه ئے تا اُوپیژندله چه پدے حدیث کښې یو بل شرط هم د مانځه ذکر دے چه یواځے د صف نه روستو به مونځ نهٔ کوے۔ که اُودے کړو نو مونځ به راګرځوے۔ نو مونږ ولے اُووایو چه دا اِعاده مستحب ده بلکه فرض ده، مانع د فرضیت نه

نشته. او پدے حدیث باندے بعض علماؤ كلام کریدے لیکن راجح دا ده چه دا حسن یا صحیح دے. لکه روستو ئے درجه راروانه ده. او صریح حکم په کښې ذکر دے.

٢- دليل : حديث د على بن شيبان دے دا فرمائي: مونږ په وفد کښې رسول الله ﷺ ته راغلو او د هغهٔ نه روستو مو مونځ اُوکړو، هرکله چه رسول الله ﷺ مونځ ختم کړو، نو يو سړے ئے اوليدو چه د صف نه روستو ئے يواځے ولاړ وو نو نبی ﷺ هغهٔ ته اُودريدو کله چه هغهٔ مونځ ختم کړو نو نبی ﷺ ورته اُوفرمايل : (استقبل صلاتك (وفي رواية : اعد صلاتك) فانه لا صلاة لفرد خلف الصفّ) (مونځ دوباره راوګرزوه ځکه چه د صف نه روستو د يواځے مونځ کونکی مونځ نهٔ کيږی) (صحيح ابن حبان (٥٧٩/٥) رقم (٢٢٠٢) و (٢٢٠٣) صححه شعيب الارناؤوط) (سنن البيهقی (١٠٥/٣) بلوغ المرام (١٥١/١) بسند صحيح، اتحاف الخيرة المهرة بزوائد المسانيد العشرة للبوصيری (٧٠/٢) دا حديث صريح دليل دے چه د صف نه روستو د يواځے مونځ کونکی مونځ صحيح نهٔ دے.

اوس که يو سړے يواځے صف ته راشي او صف پوره وی نو څهٔ به کوی؟ نو پدے کښې بعض شوافع دا وائی چه (انجرار الرجل) به کوی يعنی د مخکښې صف نه به يو سړے راکاږی او ځان سره به ئے اُودروی او هغه صف والا به د يو بل سره نزدے نزدے شی او که دريم کس راغے نو دغه شخص دے بيرته خپل اول صف ته لاړ شی او مانځه کښې دا تصرف جائز دے. او دوی استدلال کوی د يو حديث نه چه بيهقی (١٠٥/٣) راوړيدے د وابصهٌ نه : (ايها المصلی وحده اَلَّا وصلت الى الصف او جررت اليك رجلاً فقام معك اَعِدِ الصَّلَاةَ)

او دغه شان روايات په مراسيل ابی داود او طبرانیؒ کښې هم شته مگر ټول په مجموع الطرق ضعيف دی. ددے په سند کښې سری بن اسماعيل ضعيف بلکه متروك راوی دے.

دا ډيره ښهٔ طريقه وه ليکن حديث ئے په ټولو اَسانيدو ضعيف دے لهذا پدے باندے به عمل نشی کيدے ځکه زمونږ دين مستغنی دے د ضعيف احاديثو نه. شوکانیؒ دا حديث ضعيف کړيدے بيا ئے وئيلی دی چه دا راخکل د قبيلے د مُعَاونة على البر والتقوىٰ نه دی نو پدے وجه مستحب دی چه مونځ باطل نهٔ شی. نيل الاوطار (٢٢٨/٣) والمرعاة (٢٠/٤)

او پدے باندے عام دلائل شته لکه دليل حديث د مسلم دے د جابرؓ نه چه زهٔ د نبی ﷺ سره اُودريدم پديکښې جبار بن صخرؓ راغلو. نو نبی ﷺ مونږ دواړو لره ديکه راکړه او روستو ئے کړو، لکه لږ روستو راځی. نو ددے نه معلوميږی چه تقدم او تأخر په صفونو کښې جائز دے.

مگر مالك بن انسؒ، احمد بن حنبلؒ، اسحاقؒ او اوزاعیؒ وائی چه د سړی راخکل مشروع نهٔ دی ځکه چه مخکښې صف نه يو شخص راخکل د هغهٔ صف کښې کولاو والے

راوستل دی او هغهٔ منقطع کول دی او حدیث کښې دی (من قطع صفا قطعه الله) نو نبی ﷺ وائی: صف متصل کړه او تهٔ ئے منقطع کوے۔ (الجامع لاحکام الصلاة لمحمود عبد اللطیف عویضة) مګر ددے په جواب کښې دا وئیلے شی چه مخکنی صف والا خلق به یو بل ته متصل شی، او کولاو والے به بند کړی، هغوی به په الزاق (متصل کیدو امر) باندے عمل اُوکړی۔ مګر شیخ مبارکفوریؒ د بعض علماؤ نه نقل کړیدی چه پدے سړی راخکلو کښې هغهٔ د اول صف نه محرومول دی۔

۲- دویم صورت دا دے چه انتظار به کوی تردے چه بل سړے راشی دا خبره ابن باز کړیده (الفتاوی الاسلامیة ۲۶۷/۱) لیکن دا خبره هم خطاء ده ځکه نبی ﷺ فرمائی: کله چه یو تن مانځه ته راشی او امام په مانځه اُوموږی (فلیصنع کما یصنع الامام) (امام چه څهٔ کوی هغه شان دِے دا هم اُوکړی) نو انتظارونه پکښې نشته ځکه یا به بل سړے راځی یا به نهٔ راځی، دهٔ نه به تولهٔ جَمعه فوت شی۔

نو څه څهٔ به کوی ؟ نو پدے کښې (۳) یوه طریقه دا ده چه دغه مقتدی به لاړ شی د امام سره به یو ځائے اُودریږی لکه دا کار نبی ﷺ اُوکړو چه په مرض الوفاة کښې د ابوبکر صدیقؓ خوا کښې اُودریدو (بخاری) دارنګه ابن عباسؓ د نبی ﷺ سره صف تړلے وو (بخاری)

(٤) مګر پدے تولو کښې راجح او ډیره صحیح طریقه دا ده چه ددهٔ نه مخکښې صف کښې به ځانله ځائے پیدا کړی لکه د مقلدینو په عام مساجدو کښې دا کار کیدے شی چه جُدا جُدا ولاړ وی او که د اهل حدیثو جماعت ته حاضر شی نو بیا خو هغوی ډیر جُوخت جُوخت ولاړ وی د بل تن ګنجائش پکښې نهٔ وی نو بیا به یواځے اُودریږی او دا ضرورت دے، او عند الضرورة داسے حکم ساقطیږی او هر چه دا حدیث دے نو دا محمول دے په هغه چا چه په اول صف کښې ورته ځائے ملاویږی او دے صف ثانی جوړوی۔ نو ددهٔ مونځ بیا نهٔ کیږی، ځکه ددهٔ ضرورت نشته۔

او حافظ ابن عبد البرّ لیکی: کوم علماء چه د صف نه روستو مونځ کولو ته جائز وائی نو هغوی په حدیث د ابوبکرهؓ باندے استدلال کوی چه هغهٔ د صف نه روستو یواځے رکعت اُوکړو او نبی ورته د اِعادے حکم اُونهٔ کړو۔ بلکه (زادك الله حرصاً ولا تعد) ئے ورته اُوفرمایل۔ انتهیٰ۔ لیکن ددے جواب دا دے چه هغهٔ حدیث صحیح دے لیکن دا مسئله ترے نهٔ ثابتیږی ځکه چه هغهٔ خو پوره مونځ د صف نه روستو یواځے نهٔ دے کړے بلکه صف کښې په همدغه رکعت کښې شامل شویدے۔ صرف تحریمه ئے د صف نه بهر تړلے ده او بیا صف کښې داخل شویدے لهذا دا پوره دلیل نهٔ ګرځی۔ فتدبر۔ او کهٔ یو انسان ته د

ابوبکرهٔ په شان صورت راپیش شي نو هغهٔ دپاره به هم د صف نه جدا تحریمه ترل بالکل جائز وي، او په دهٔ باندے به بیا اعاده نهٔ وي۔ (کما قال الحافظ ابن قیمؒ فی الاعلام) والوهبة فی الفقه الاسلامی وادلته (٣٢٦/٢)

★– او دوی وائی چه په دے حدیث د وابصهٔ کښې دا خبره نشته چه نبی ﷺ دهٔ ته پدے وجه د اِعَادے حکم اُوکړو چه دهٔ د صف نه روستو یواځے مونځ اُوکړو، شاید چه د بل څه سبب په وجه ئے ورته د اِعادے حکم کړے وي۔ **جواب** دا دے چه دا هسے احتمال دے او ظاهر دا ده چه سبب ئے همدغه د صف نه جدا مونځ کول دی، او پدے حدیث کښې د اضطراب خبره ضعیفه ده ځکه دے کښې داسے اضطراب نشته چه هغهٔ مضر وي او عمل پرے اُونهٔ شي۔

نو صحیح دا ده چه کله مونځ کونکے یواځے پاتے شو او بل څوك نهٔ وو نو بل راخکل ضروری نهٔ دی او دا په دے حالت کښې معذور دے او ددهٔ مونځ بالکل جائز دے، او د معذور نه دا قسم واجب ساقط دی۔ لکه دا خبره حافظ ابن قیمؒ د شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ نه هم نقل کړیده۔ او ابن المنذرؒ د حسن بصریؒ، مالك، اوزاعیؒ، شافعیؒ او اصحاب الرأیؒ نه مطلقاً جواز نقل کړیدے لیکن مونږ وایو چه مطلقاً خبره صحیح نهٔ ده بلکه که عذر وی، صفونه ډك وی او بل څوك هم موجود نهٔ وی نو بیا جواز لری۔ والله اعلم ۔کما فی الاختیارات العلمیة لشیخ الاسلام ص (٤٢) وبدائع الفوائد (٨٧/٣) لابن القیم۔ والضعیفة (٣٢٢/٢) والارواء (٣٢٩/٢) و تحفة الاحوذی (١٩٥/١) وفتاوی الدین الخالص (٢٤٤/٥) وکتاب الجامع لاحکام الصلاة (١٩٣/٣) لمحمود عبد اللطیف عویضة۔ والاستذکار لابن عبد البر (٣١٦/٢) وطرح التثریب (٦٩/٣)

درجة الحدیث : اسناده صحیح : اخرجه احمد (٢٢٨/٤) وابوداود (٦٨٢) والترمذی (٤٤٨/١) وقال حدیث حسن واخرجه ابوداود الطیالسی (١٢٠١) وقال الحافظ فی الفتح : صححه احمد وابن خزیمة وغیرهما واعله بعضهم بالاضطراب فی السند ولکن قال ابن سید الناس فی شرح الترمذی هذا الاضطراب لیس مما یضره کما قال الشوکانی وقد بینه احمد شاکر فی تعلیق الترمذی (٤٤٨/٢) واطال الکلام فیه فراجعه (مرعاة ٢٤/٤) وصححه الالبانی فی ارواء الغلیل (٣٢٣/٢) رقم (٥٤١) وقد جمع طرق الحدیث کلها ثم قال: فتبین ان الحدیث صحیح لیس من قبیل المضطراب فی شیء آه.



باب الموقف

د امام او د مقتدی د اُودریدو دَ ځائے بیان

امام به چرته اُودرېږی، او مقتدی به چرته او ډیر مقتدیان به چرته اُودرېږی ددے بیان به کوی۔

الفصل الاول

۱ – عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: بِتُّ فِيْ بَيْتِ خَالَتِيْ مَيْمُوْنَةَ، فَقَامَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُصَلِّيْ، فَقُمْتُ عَنْ يَسَارِهٖ، فَاَخَذَ بِيَدِيْ مِنْ وَرَاءِ ظَهْرِهٖ فَعَدَلَنِيْ كَذٰلِكَ مِنْ وَرَاءِ ظَهْرِهٖ اِلَى الشِّقِّ الْاَيْمَنِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ابن عباس ﷺ فرمائی: ما د خپلے ترور (ماسی) میمونے په کور کښ شپه تیره کرهٔ نو رسول الله ﷺ راپاځیدو چه مونځ ئے کولو نو زهٔ (هم) راپاځیدم (او د هغهٔ) گس طرف ته اُودریدم۔ نو د شا طرف نه ئے زما لاس اُونیولو نو دغه شان ئے د شا طرف نه ښی طرفته راوارولم۔ (او ځان سره ئے خوا کښ ښی طرفته اُودرولم) (بخاریؒ، مسلمؒ)

تشریح: دا حدیث مختصر دے د اُوگد حدیث نه چه ابن عباسؓ خپل پلار ددے دپاره نبی ﷺ ته اُولیږلو چه د هغهٔ د شپے د مانځه کیفیت زدهٔ کری، نو ددے نه دا فائده معلومه شوه چه علم به کله په واسطه طلب کوے او کله بالذات۔

۲ – خبر واحد له اعتبار دے په شریعت کښ ځکه ابن عباسؓ به خپل پلار ته ددے بیان کوی او هغه به ئے منی، او دے کښ به احتمالات نه راوباسی۔

بل روایت کښ دا دی چه رسول الله ﷺ ماسخوتن سنت اُوکړل او په بالخت ئے سر کیخودو او میمونهؓ هم ورسره وه او زهٔ هم ورسره په بالخت څملاستم چه خپے مے بل طرفته وے (ددے نه دا فائده معلومیږی چه خپلے ښځے سره د یو محرم په خوا کښ کیناستل جواز لری لکه ورارہ، خوریا وغیره لیکن د جماع حالت به نهٔ جوړوی او ښکلول وغیره به د هغه په مخکښ نهٔ کوی ځکه بیا ددے نه بی حیائی پیدا کیږی۔

بل روایت کښ دی: (فتحدث عند اهله ساعة) د خپل اَهل سره ئے لگ وخت خبرے اُوکړے (معلومه شوه چه د ماسخوتن مانځه نه روستو د خپلے ښځے سره خبرے اَترے جواز لری)۔ دارنگه بیا ابن عباسؓ وائی: زهٔ ویښ شوم چه نبی ﷺ نصف اللیل کښ پاځیدو

مسواك ئے اُووهلو او (ان فی خلق السموات) رکوع ئے تلاوت کړه بیا ئے اَودس اُوکړو، بیا په مانځه اُودریدو نو زهٔ هم چپ طرفته اُودریدم۔

پدے حدیث کښې مسائل دی: ۱- **مسئله**: مقتدی دپاره د امام نیت ضروری دے خو د امام دپاره د مقتدی نیت ضروری نهٔ دے بلکه ډیرو اَحادیثو کښې دی چه نبی ﷺ یواځے مونځ باندے ولاړ دے صحابه ورپسے اُودریدلی دی او جماعت ترے جوړ شویدے او امام ئے د مخکښې نه نیت نهٔ دے کړے او دا واقعات په تهجدو کښې ډیر دی، دلته نبی ﷺ د ابن عباسؓ د جماعت نیت نهٔ وو کړے لیکن کله چه ورسره ابن عباسؓ اُودریدو نو جماعت ترے جوړ شو۔

حافظ ابن المنذرؒ ددے دپاره استدلال کړے په حدیث د انس باندے چه هغه فرمائی: نبی ﷺ به په رمضان کښې اُودریدو، نو (یوه ورځ) زهٔ راغلم د هغه اړخ ته اُودریدم او بل تن راغے زما اړخ کښې اُودریدو تردے چه مونږ یو جماعت شو کله چه نبی ﷺ په مونږ پوهه شو نو په مانځه کښې ئے اختصار اُوکړو الحدیث۔ (مسلم ۳۵۲/۱ - بخاری تعلیقاً)

دا حدیث دلیل دے چه نبی ﷺ نیت د امامت ابتداءً نهٔ وو کړے۔ او پدے باندے امام بخاری باب تړلے دے۔

۲- پدے کښې امام احمدؒ فرق کوی د فرض او نفلو په مینځ کښې نو په فرضو کښې ئے نیت شرط گرځولے دے نهٔ په نفلو کښې، لیکن قول ئے ضعیف دے۔ وجه دا ده چه حدیث د ابوسعید الخدریؓ کښې دی: نبی ﷺ یو سړے اُولیدو چه مونځ ئے یواځے کولو، وے فرمایل: «څوك نشته چه په دے سړی باندے صدقه اُوکړی او ددهٔ سره مونځ اُوکړی» (ابوداودؒ، ترمذیؒ، وصححه ابن خزیمة وابن حبان والحاکم) نو دا په فرضو کښې دے۔

پدے باندے بله مسئله بناء ده چه امام پسے سړی او ښځے ټول اُودریدے شی برابره ده که امام ئے نیت کړے وی او که نهٔ وی او دا قول د جمهورو علماؤ دے۔

۳- **اَحناف** وائی چه که اِمام د زنانو نیت کړے وی نو مونځ به ئے جائز وی او که نیت ئے نهٔ وی کړے نو ندے جائز۔ یعنی وائی: په حق د سړو کښې نیت د امامت شرط نهٔ دے او په حق د زنانو کښې نیت د امامت شرط دے ځکه احتمال شته چه مونځ د سړی د ښځے په محاذات سره فاسد شی۔

نو پدے باندے بیا مسئله د محاذاة المرأة تفریع کوی چه که امام د سړو او زنانو دواړو نیت کړے وو او یوه ښځه د سړی سره اُودریده نو د سړی مونځ باطل شو په لس شروطو سره۔ چه د هغهٔ شروطو دپاره هیڅ قسم دلیل نشته، او دا مصنوعی اِختراعی مسئله ده چه شریعت کښې ئے هیڅ ثبوت نشته۔ بعض احناف چه دے له کوم روایت په دلیل کښې

پیش کوی چه (اَخِّرُوْهُنَّ من حیث اَخَّرَهُن الله) چه دلته سړی ته خطاب دے چه زنانه روستوکړه نو دے سړی پدے امر باندے عمل اُونکړو نو ځکه ئے مونځ باطل شو۔

۱- ددے **جواب** دا دے چه شیخ البانیؒ په الضعیفه (۳۱۹/۲) رقم (۹۱۸) کښې فرمائی : دا حدیث مرفوعاً ندے ثابت، ضعیف دے۔ زیلعیؒ په نصب الرایه (۳۶/۲) کښې لیکی : (غریب مرفوعاً) ملاعلی القاریؒ په الموضوعات کښې د ابن الهمامؒ نه نقل کوی چه هغه په شرح الهدایه کښې وئیلی دی : (لایثبت رفعه فضلاً عن شهرته) صحیح دا ده چه دا د ابن مسعودؓ وینا ده کما فی کشف الخفاء (۶۷/۲) ومصنف عبد الرزاق (۱۴۹/۳) رقم (۵۱۱۵)۔

او هر کله چه دا د نبیﷺ وینا نشوه نو پدے باندے استدلال کول په فساد د مانځه د سړی باندے صحیح نۀ شو۔

دویم دا چه حافظ ابن حجرؒ ددے په باره کښې فرمائی : پدے استدلال کښې تَعَسُّف دے ځکه چه دے کښې خو دا دی چه زنانه به سړی سره جُوخته نۀ اُودریږی، ځکه چه یَره ده چه سړے په فتنه کښې واقع نۀ شی نو کله چه ښځے خلاف اُوکړو او د سړی سره اُودریده نو د جُمهورو په نیز د ښځے مونځ جائز دے۔ اگرکه گناهگاره ده ۔او ددے تعسف وجه دا ده چه (۱) یو خو دا حدیث مرفوع نۀ دے بلکه موقوف دے او دا عامه معنیٰ لری چه ښځے صف کښې مۀ مخکښې کوئ، دارنگه د دوی مخکښې نوم مۀ اخلئ په هر څه کښې ئے روستو کړئ۔

(۲) دویمه وجه دا ده چه د احنافو او جمهورو دا قاعده ده چه په ترک د امر سره فساد د مانځه نۀ راځی بلکه کراهیة راځی او انسان گناهگاریږی اگرکه مونځ به صحیح وی او دا خو اصول د ابن حزمؒ دی چه (مخالفة الامر توجب الفساد)۔

نو احناف څنگه د خپلو اصولو خلاف کوی او بیا حافظؒ ددے مثالونه ذکر کړیدی لکه فرمائی :«په مغصوبه جامه کښې د مونځ کولو نه منع راغلے ده او اغوستونکی ته ئے حکم کړے دے چه هغه اُوباسی لیکن که بیا هم مُصلی مخالفت اُوکړو او دغه جامه کښې ئے مونځ اُوکړو نو مونځ ئے جائز دے اگرکه گناهگار به وی نو دلته هم احنافو له داسے وئیل پکار دی چه په مسئله د محاذات کښې دِے هم مونځ جائز شی۔

دارنگه که د مسجد مخے ته پردۍ زمکه وی او یو شخص پکښې بغیر د اجازت نه مونځ ته اُودریدو سره ددے نه چه قادر وی په دے چه یو قدم مخکښې شی او مسجد کښې اُودریږی او دا انسان په دغه پردۍ زمکه کښې مونځ اُوکړی نو مونځ ئے صحیح دَے خو سړے گناهگار دے نو دغه شان دِے په محاذات المرأة کښې هم اووئیلے شی»۔ فتح الباری (۱۷۷/۲)

(۳) بله وجه دا ده چه سړی خو په مانځه کښې شروع کړیده نو که ښځه روسته کوی نو

بيا عمل كثير راځي، او د احنافو په نيز خو مونځ كښې امر او نهي او اشارے كول ممنوع دي نو سړے مجبوره دے۔ (٤) بله دا چه پكار ده چه د ښځے مونځ فاسد شي ځكه دے ته د روستو كيدو حكم دے چه صف به روستو جوړوي او دے ددے حكم مخالفت اُوكړو۔ (السيل الجرار (۱/۲۵۹)

نو معلومه شوه چه ددے روايت نه دليل نيول په مسئله د محاذات كښې صحيح نهٔ دي نو د محاذات مسئله باطله شوه يو خو دا بناء ده پدے روايت باندے او بل دا چه امام به د مقتديانو د سړو او ښځو نيت كړے وي نو دا خبره ضعيفه شوه تا اوپيژندله۔ او دارنګه د (اخروهن) معنى ډے هم اُوپيژندله نو كوم مقلدين چه دا وصيتونه كوي حاجيانو ته چه مسجد حرام او مسجد نبوي كښې ډے زنانه د جماعت مونځ نهٔ كوي ځكه د حرم امامان د زنانو د مانځه نيت نهٔ كوي نو دا خبره ئے د سنت خلاف ده۔ لكه رشيد احمد لدهيانوي په احسن الفتاوى (۳/۳۵۳) كښې دا وصيت كړيدے ۔ نور د دوي دلائل نشته۔

ظفر احمد عثماني چه په اعلاء السنن (٤/۲۳٦) كښې ددے مسئلے دپاره كوم دلائل ذكر كړيدي هغه پدے باندے دلالت نكوي ځكه چه هغے كښې صرف دا خبره ده چه د زنانو صفونه به روستو وي د سړو د صفونو نه او دا خو اتفاقي خبره ده۔

راجع فتاوى الدين الخالص (۵/۲۳۱)

۲- **المسئلة الثانية** : يو امام وي او يو مقتدي وي نو مقتدي به ښي طرفته اُودريږي او امام به كس طرفته وي۔ دلته عبد الله بن عباسؓ ته مسئله نده معلومه ځكه كس طرفته ولاړ دے او نبي ﷺ ښي طرفته په مانځه كښې راتاؤ كړے دے۔ بيا چه يو مقتدي وي نو څنګه به اُودريږي؟ نو فقه حنفي كښې دي چه امام محمدؒ نه نقل دي چه مقتدي به د امام نه لګ روستو اُودريږي، چه ګوتے د خپو به د امام د ګيټو سره وي، دے دپاره چه د امام او مقتدي مساوات رانشي۔ او فرق راشي، (عينيؒ) ليكن دا خبره بے دليله ده،

۲- امام شافعيؒ وائي لګ شان به روستو كيږي۔ علامه شوكانيؒ فرمائي پدے خبره دليل نشته۔

۲- امام بخاريؒ پدے حديث باندے دا باب تړلے دے : باب يقوم عن يمين الامام بحذاءه سواء اذا كانا اثنين) : او استدلال ئے كړيدے د فقمت الى جنبه (كتاب الطهارة) (او فاقامني عن يمينه) نه چه ظاهر ددے مساوات دے۔ او دا قول د عمر بن الخطابؓ دے چه هغه داسے كار د عبد الله بن عتبه بن مسعود سره كړے وو چه هغه ئے ځان سره نزدے برابر كړو، (موطأ ۱/۱۵٤) بسند صحيح ۔ او د ابن عمر، انس بن مالك، ابن عباس رضى الله عنهم او د سفيان الثوري، ابراهيم، مكحول، شعبي، عروه، ابوحنيفه، مالك، اوزاعي او اسحاق

رحمهم الله قول هم دے۔ (عمدة القاری) او همدا سنت عمل دے۔او تقديم تاخير سنت کښې نۀ دے راغلے بلکه دا د امام محمد صاحبؒ اجتهادی خبره ده۔ او نافع سره عبد الله بن عمرؓ هم دا کار کړے وو چه هغه ئے ښي طرفته ځان سره برابر اُودرولو ۔ (موطأ مالك ١/١٥٤)

او په روايت د ابن عباسؓ کښې دا هم دی : (فَجَعَلَنِیُ حذائه) نبی ﷺ زه خپل ځان سره برابر اودرولم۔ (اخرجه احمد ١/٣٣٠) والحاكم (٣/٥٣٤) الصحيحة (٦/١٧٤) دارنګه نبی ﷺ پخپله د ابوبکرؓ کس طرفته برابر ناست وو۔ (فجلس النبی ﷺ حذائه عن يساره) مختصر البخاری (١/٣٦٦) ۔

فوائد الحديث : ١- حديث نه معلومه شوه چه دوه کسان هم جماعت دے او پدے باندے ابن ماجه باب ترلے دے۔ باب الاثنان جماعة۔

٢- دوه کسان هم جماعت دے اګرکه يو په کښې ماشوم وی، ځکه په دے حديث کښې بعض الفاظ داسے دی : چه ما د نبی عليه السلام سره دا مونځ اوکړو او زه د لس کالو په عمر وم۔ (اخرجه احمد) او دے باندے ابن تيميه په المنتقیٰ کښې باب ترلے دے۔ انعقاد الجماعة باثنين احدهما صبی) (نيل الاوطار ٣/١٧٤)

علامه شوکانی فرمائی : کوم خلق چه د ماشوم سره د جماعتِ د انعقاد نه منع کوی د هغوی سره هيڅ دليل نشته سوئ ددے نه چه حديث کښې دی : (رفع القلم عن ثلاث عن الصبی) او حال دا چه رفع د قلم دلالت نه کوی په عدم صحت د مانځه د هغه باندے، او په عدم انعقاد د جماعت د هغه باندے، او که اومنو نو دا مخصص دے په حديث د ابن عباس وغيره باندے۔ ٢- ابوحنيفةؒ او د هغه ملګری وائی : جماعت د ماشوم سره نشی جوړيدے۔ ٣- مالك او يو روايت د ابوحنيفةؒ دا دے چه په نفلو کښې صحيح دے او په فرضو کښې صحيح نه دے۔ او شافعیؒ ئے د فرض او نفل فرق نه کوی تولو کښې ئے صحيح وائی۔ (النيلؒ) وهو الحق۔

٣- فائده : «فاخذ بيدی» نه معلومه شوه چه نهی عن المنکر په مانځه کښې هم جائز دے لکه يو شخص ستا نه وړاندے دے ځان ته ئے رانزدے کړه يا صف کښې ځائے خالی شو خپله ورشه که ته ورته مخامخ نۀ ئے نو بل ورديکه کړه۔ دا قسم تصرفات د مانځه د اِصلاح دپاره مانځه کښې جائز دی۔

٤- په نفل مانځه کښې هم جماعت جائز دے۔ ٥- تقديم د مقتدی په امام باندے مُبطل د مانځه دے۔ ځکه ئے ابن عباسؓ د شاته نه راتاؤ کړو۔ ٦- ابن عباسؓ ئے د شاته نه راتاؤ کړو ځکه که مخکښې ئے راتاؤ کړی نو بيا د مونځ کونکی مخکښې تيريدل راځی او دا خو حرامه ده۔

۱– كه دوه كسان جمعه كوي او مقتدي كس طرفته قصداً اُودريږي نو آيا مونځ باطل دے او كه نهٔ؟۔ جمهور وائي: مونځ ئے صحيح دے اگركه گناهګار دے ځكه د سنت مخالفت ئے اُوكړو۔دليل دا دے چه د ابن عباسؓ مونځ نبي ﷺ باطل نهٔ دے ګرځولے۔
۲– ليكن ظاهر دا ده چه مونځ ئے باطل دے او دا قول د احمدؒ دے او هر چه د ابن عباسؓ عمل دے نو هغه عالم نهٔ وو په مسئله باندے او جهل عذر دے۔
۲– دارنګه ابن عباس خو تول مونځ چپ طرفته اُونكړو بلكه ابتداء ئے كس طرفته اُوكړه خو نبي ﷺ زر ښي طرفته واړولو۔ او خبره زمونږ پدے كښ ده چه قصداً په تول مانځه كښ كس طرفته اُودريږي۔ لهذا پدے باندے استدلال صحيح نهٔ شو۔
۳– سعيد بن المسيبؒ فرمائي: مُقتدي به د امام كس طرفته اُودريږي۔ ليكن هغه ته دا حديث نهٔ دے رسيدلے لهذا قول ئے د احاديثو خلاف دے۔ (نيل الاوطار ۱۷۵/۳) والمرعاة (۲٦/٤)

۲– وَعَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَامَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ لِيُصَلِّيَ، فَجِئْتُ حَتّٰى قُمْتُ عَنْ يَسَارِهٖ، فَاَخَذَ بِيَدِيْ فَأَدَارَنِيْ حَتّٰى أَقَامَنِيْ عَنْ يَمِيْنِهٖ، ثُمَّ جَاءَ جَبَّارُ بْنُ صَخْرٍ، فَقَامَ عَنْ يَسَارِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ، فَاَخَذَ بِيَدَيْنَا جَمِيْعًا، فَدَفَعَنَا حَتّٰى اَقَامَنَا خَلْفَهٗ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

ترجمه: او جابرؓ فرمائي: (يو ځل) رسول الله ﷺ د مانځه كولو دپاره پاڅيدو نو زهٔ راغلم تردے چه د هغهٔ كس طرف ته اُودريدم نو هغهٔ زما لاس اُونيولو او راتاوے كړم تردے چه ښي طرف ته ئے اُودرولم، بيا جبار بن صخرؓ راغلو، نو هغهٔ د رسول الله ﷺ كس طرف ته اُودريدو نو رسول الله ﷺ زمونږ د دواړو لاسونه اُونيول او ديكه ئے كړو تردے چه خپل شا ته ئے اُودرولو۔ (مسلمؒ)

تشريح: ددے حديث او د مخكني حديث نه معلوميږي چه تهجد يا نهاري نفلو كښ جماعت سنت طريقه ده خو دا كله كله پكار ده او دا سفري واقعه ده او پدے باره كښ تقريباً لس روايات دي چه اَحياناً جماعت شويدے لكه يو كرت په كور د ام سليمؓ كښ دا كار شويدے لكه دے متصل حديث كښ راروان دي۔ نو اَحياناً پدے باندے عمل سنت او مداومهٔ بدعت دے۔

فوائد الحديث: ۱– حديث دليل دے چه كله د امام سره يو مقتدي وي نو ښي طرفته به اُودريږي مګر كه بل مقتدي راغلو او كس طرفته اُودريدو نو امام له جائز دي چه هغه دواړه

خپل شاته کړي، لکه دا حديث شو يا که مخکښې ځائے وي نو خپله به د هغوی نه مخکښې شي لکه فصل ثاني کښې حديث راروان دے۔
۲- دارنګه که ابتداءً دوه کسان مقتديان وي نو موقف د مقتديانو به د امام نه روستو وي۔
۳- د ضرورت ډيره عمل کثير په مانځه کښې جائز دے۔ او دغه شان تقدم او تأخر هم جائز دے۔
٤- که يو مقتدي د امام ګس طرفته اُودريدو نو امام له جائز دی چه هغه په مانځه کښې ښي طرفته راتاؤ کړي۔ ۵- په سفر کښې سنت کول نشته او دلته دا جماعت په نفلو کښې شويدے۔ نو نفل په سفر کښې جائز دي۔

امام د صف په مينځ کښې اُودرول

۵- **مسئله** : کله چه مقتديان دوه وي نو دوی به د امام نه روستو صف جوړوي۔ آيا شريك ورسره صف تړلے شي چه امام ئے په مينځ کښې شي ؟ نو پدے کښې اختلاف دے۔
(۱) د ټول امت مذهب دا دے چه دوه کسان به د امام نه روستو اُودريږي لکه ابتداء د اسلام کښې به امام د دوه کسانو مينځ کښې اُودريدو روستو بيا منسوخ شو۔
۲- ابن مسعودؓ او د هغه د شاګردانو (اسودؒ او علقمهؒ) مذهب دا دے چه درے کسانو کښې به امام مينځ کښې اُودريږي۔ لکه ابن مسعودؓ داسے عمل کړے وو د اسودؒ او علقمهؒ سره لکه مسلم (٦٨/٢) طبع بيروت) (نسائي ٤١٩/٢ بيروت) کښې راځي چه اسودؒ او علقمهؒ داخل شو په عبد الله باندے، هغه ورته اُوفرمايل : آيا خلقو مونځ کړے ؟ هغوی اُووئيل : آو، (ده اُوفرمايل : راځئ چه مونځ اُوکړو) نو د دواړو په مينځ کښې اُودريدو، يو ئے ښي او بل ئے ګس طرفته اُودرولو او په رکوع کښې ئے تطبيق اُوکړو او بيا ئے اُوفرمايل : دغه شان نبي ﷺ کړي دي۔
تنبيه : امام نوويؒ په (الخلاصة) کښې ليکي : مسلم کښې دا نشته چه ابن مسعودؓ نبي ﷺ ته نسبت کړے وي بلکه هغے کښې دا دي چه ابن مسعودؓ دا کار اُوکړو۔ ليکن دا خبره خطاء ده۔ ځکه په مسلم کښې درے روايات دي په بعضو کښې نسبت نبي ﷺ ته موجود دے۔(رأيت النبي ﷺ فعله) او دا قول : (هكذا كان رسول الله ﷺ يصنع)۔
علامه حازميؒ د جمهور علماؤ د طرفنه جواب ورکوی چه دا حکم منسوخ شويدے ځکه چه ابن مسعودؓ دا مونځ د نبي ﷺ نه په مکه کښې زده کړے وو کله چه په هغے کښې تطبيق وو او نور احکام وو اُوس هغه منسوخ شويدی، لهذا دا حکم هم منسوخ دے او کله چه نبي ﷺ مدينے ته راغلو نو دغه عمل ئے پريخودو، دليل پرے (۱۱) حديث د جابرؓ دے۔

انتهیٰ۔

علامه ابن الهمامؒ فرمائی : په عبد الله بن مسعودؓ باندے ناسخ پټ پاتے شوے وو او دا څۀ بعيده خبره نۀ ده ځکه د نبی ﷺ عامه طريقه ډيرو کسانو ته جمع ورکول وو او دوه کسانو ته جمع کول ډير نادر راغلی دی لکه دا واقعه شوه او حديث د يتيم شو، نو عبد الله د خپل علم نه ماسویٰ باندے خبر نشو۔ انتهیٰ (انظر المرعاة ۲۸/٤)

★- او پدے نسخ باندے دليل حديث د انس بن مالكؓ دے (صففت انا واليتيم وراءه والعجوز من ورائنا) (متفق عليه) او دارنګه دا حديث الباب حديث د جابرؓ دے او دارنګه حديث د سمرةؓ دے چه فرمائی: (امرنا رسول الله ﷺ اذا كنا ثلاثة ان يتقدمنا احدنا) ترمذی او شايد چه ابن مسعودؓ ته به دا ناسخ حديثونه نۀ وی رسيدلی۔

★- او دا هم ممکن ده چه ابن مسعودؓ دا کار د مکان (دمسجد) د تنګ والی په وجه کړے وی لکه دا خبره ابن سيرينؒ کړے ده، چه مسجد تنګ وو۔ او بيهقی فی المعرفة او طحاویؒ ترے نقل کريده۔ يا نور څۀ عذر وی، او په طريقه د سنيت ئے نۀ وی کړے۔ (فتح الباری (۲۱۲/۲) نصب الراية (۳٤/۱)

۳- **قول ثالث** : دا دے چه دا طريقه د ابن مسعودؓ هم جائز ده او منسوخ نۀ ده ليکن بناء ده په ضرورت باندے مثلاً که ځائے نۀ وی پراخه، نو دغه طريقه باندے عمل پکار دے او که پراخه ځائے وی نو بيا به روستو کيږی۔ لکه دا خبره امام طحاویؒ د ابن سيرينؒ نه نقل کړيده۔ ددے وجه نه علامه ابن سيد الناسؒ فرمائی : دا اختلاف په اولیٰ او أحسن کښې دے او دا خبره څۀ شرط د مانځه نۀ دے چه امام به د دوه کسانو نه مخکښې أودريږی۔ بلکه مستحب دا ده چه امام مخکښې أودريږی۔ او حديث د (وسطوا الامام) نه استدلال کول صحيح نۀ دی يو خو هغۀ ضعيف دے کما مرّ۔ او بله دا چه د هغے صحيح معنیٰ هم تيره شوه چه امام به د صف نه مخکښې داسے ځائے کښې أودريږی چه شاته دواړو طرفونو ته برابر خلق أودريږی۔

تعارف د جبار بن صخر ﷜: جبار بن صخر بن امية بن خنساء بن سنان السلمی الانصاری صحابی دے او د دوه ديرشو (۳۲) کالو په عمر جنګ بدر ته حاضر شو او بيا أحد او ما بعد غزواتو کښې ئے شرکت فرمائيلے دے او په ليلة العقبة کښې په (۷۰) کسانو کښې يو دا هم شامل وو، او نبی ﷺ ددۀ او د مقداد بن الاسودؓ په مينځ کښې مُواخات کړے وو۔ ابوعبد الله ئے کنيه ده او په مدينه کښې په سنه (۳۰هـ) کښې وفات دے۔ ابن اسحاق فرمائی : د عبد الله بن رواحه نه روستو به د نبی ﷺ دپاره ده د کجورو د زکاة په اټکل اندازه لګوله۔

٣– وَعَنْ اَنَسٍ، قَالَ: صَلَّيْتُ اَنَا وَيَتِيْمٌ فِيْ بَيْتِنَا خَلْفَ النَّبِيِّ ﷺ، وَاُمُّ سُلَيْمٍ خَلْفَنَا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او انس ﷺ فرمائی: ما او يتيم د نبی ﷺ نه روستو مونځ اُوكړو او اُم سليمؓ زمونږ نه روستو وه". (مسلم)

تشريح: پدے حديث كښې مختصره شان قصه ده او هغۀ دا چه ام سليمؓ – چه بني سليم مسجد القبلتين خوا كښې اُوسيدل– يوه ورځ رسول الله ﷺ ته دعوت وركړو چه مونږ كره راشه –ځكه دا يوه ميلمه دوسته زنانه وه نبی ﷺ به وركره بار بار ورتلو– نو هغے ورله طعام تيار كړو او كله ئے چه خوراك اُوكړو نو د نبی ﷺ نه ئے دا مطالبه اُوكړه چه دوی ته په كور كښې مونځ اُوكړی چه هلته بيا دوی مونځونه كوی او د نبی ﷺ عادت مبارك هم دا وو چه د چا كره به ئے خوراك اُوكړو نو هلته به ئے د بركت دپاره مونځ هم كولو. نو انسؓ يو بزكی پسے ورپاځيدو چه هغۀ د ډير زمكه باندے حصاريدو په وجه تور شوے وو نو هغۀ ئے په اُوبو باندے چنړكاؤ كړو، او رسول الله ﷺ ته ئے خوركړو نو رسول الله ﷺ په هغے باندے اُودريدو چه مونځ ئے كولو نو انسؓ، او يو يتيم او اُم سليمؓ ورپسے اُودريدل، اُوس هغۀ څنګه اُودريدل ؟ نو انسؓ مونږ ته هغۀ بيانوی چه زۀ او يتيم يو صف كښې اُودريدو او ام سليمؓ زمونږ نه شاته جدا صف كښې اُودريدله.

فوائد الحديث: ١– په كور كښې په نفل مانځه كښې جماعت جائز دے.

٢– د تعليم او د تبرك دپاره د چا په كور كښې مونځ كول صحيح دی.

٣– دوه كسان به د امام نه روستو اُودريږی. ٤– د زنانه امامتی سړی ته نۀ ده جائز.

٥– د مقتديانو د ځايونو د اُودريدو ترتيب واجب دے چه اَفضل به مخكښې وی د غير افضل نه مثلاً سړی به مقدم وی بيا به ماشوم بيا زنانه وغيره.

٦– كله چه اول صف كښې مشران خلق نۀ وی موجود نو بيا ماشوم ځان سره اُودرولے شی لكه دلته د انسؓ سره يتيم ولاړ دے. بيا كه مشران روستو راشی نو بيا دوه طريقے دی:

١– يوه دا چه ماشوم دے په خپل ځائے ولاړ وی او مشران دے روستو اُودريږی.

٢– دويمه دا چه ماشوم دے روستو كړی لكه دا د بعض صحابه كرامو نه نقل ده لكه ابی بن كعب يو ماشوم (قيس بن عباد) روستو كړو. نسائی (١٢٩/١) احمد (١٤٠/٥). لكه د مشكوٰة صفحه (٩٩/١) كښې راځی.

٧– يتيم هغۀ چا ته وائی چه د بلوغ نه مخكښې ئے پلار وفات شوے وی. عرب يتيم په

انسانانو کښې هغۀ چا ته وائي چه پلارئے نۀ وی، په حیواناتو کښې هغۀ دے چه مورئے نۀ وی او په مارغانو کښې هغۀ دے چه دواړه ئے نۀ وی،

او د بلوغ نه روستو یتیم والے نۀ وی، نو معلومه شوه چه ماشوم کله مُمیز وی نو د بل سړی د هغۀ سره اُنس او اِطمینان حاصلیږی لهذا دا به د سړی سره یو شان اُودریږی او په دوی باندے صف پوره کیږی، روستو به ئے نۀ اُودروی، لکه چه دلته اَنسؓ دا یتیم ځان سره صف کښې اُودرولے دے ځکه دا مُمیز ماشوم دے۔ او کله چه داسے ماشوم وی چه مُمیز نۀ وی د دوه دریے کالو وی نو د هغۀ سره د مشر اِطمینان نۀ راځی ځکه چه هغۀ کله د خواهش څۀ اُووینی نو ناڅاپه د پلار نه اُوتښتی لهذا داسے ماشوم به د یو سړی سره صف کښې نشی اُودرولے بلکه یو سړے به د امام ښی طرفته اُودرولے شی او ماشوم به د هغۀ په جانب کښې اُودرولے شی۔

۸– د زنانو صف به جُدا وی د سړو د صف نه اگرکه مور او ښځه هم ولے نه وی !۔ دلته اُم سلیمؓ د انسؓ مور ده او بیا هم ورسره په صف کښې شریکه نه ده ولاړه۔

۹– ښځه او خاوند چه نفل وغیره مونځ کوی نو دواړه به یو ځائے نۀ اُودریږی بلکه ښځه به روستو اُودریږی۔

۱۰– که ښځه د سړی سره شریکه اُودریده نو مونځ ئے جائز دے اگرکه گناهګاره ده ځکه په حدیث کښې صرف دا خبره ده چه زنانه به روستو اُودریږی او پدے کښې د مانځه د فساد خبره نشته۔ او اَحناف وائی چه د زنانه مونځ باطل دے یا د سړی کما مرّ خو دا خبره بے دلیله ده۔

۱۱– جمهور استدلال کوی چه د صف نه روستو یواځے مونځ جائز دے۔

لیکن جواب دا دے چه د عدم جواز قانون د سړو دپاره دے او هر چه زنانه ده نو هغه ځانله یواځے هم روستو اُودریدے شی۔ دلته نبی ﷺ اُم سلیمؓ یواځے اُودرولے ده او سړے ئے منع کړے دے۔ لهذا یو بہ بہ بل نشی قیاس کولے۔

۲– **جواب** : مونږ وئیلی وو چه د ضرورت په وخت د صف نه روستو یواځے هم مونځ کیږی لکه دلته د اُم سلیم ضرورت دے نورے زنانه ورسره نشته۔

۱۲– د مُمیز ماشوم مونځ صحیح دے او د ماشوم اُودریدل معتبر شمارلے شی او ددۀ او د بل مشر نه صف جوړیدلے شی۔

۱۳– دد ے یتیم نوم ضمیره وو چه دا د حسین بن عبد الله بن ضمیره نیکه دے۔

٤– وَعَنْهُ، اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ صَلّٰی بِهٖ وَبِاُمِّهٖ اَوْخَالَتِهٖ، قَالَ: فَاَقَامَنِیْ عَنْ یَمِیْنِهٖ، وَاَقَامَ الْمَرْاَۃَ

خَلْفَنَا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او انس ﷺ نه روايت دے چه نبي ﷺ ده او ددهٔ مور يا ددهٔ ترور (ماسِى) ته مونځ اوكړو۔ دے فرمائى: نبي ﷺ زهٔ خپل ښى طرف ته اُودرولم او ښځه ئے زمونږ نه روستو اُودروله۔ (مسلمٌ)

تشريح: او خالتـه: دا شك د راوى دے او ددے خاله نوم اُم حرام بنت مَلْحَان دے۔
حديث دليـل دے چه كلـه د اِمام سره يو سړے او يوه ښځه وى نو سړے به د امام سره ښى طرفته اُودريږى او ښځه به شاته اُودريږى۔ بيا بعضِ خلقو دا وئيلى دى چه پدے حديثونو كښې اضطراب دے ځكه چه دا روايات ډير مختلف راغلى دى۔ مگر صحيح خبره دا ده چه روايات ځكه مختلف راغلى دى چه دا قسم واقعات ډير واقع شويدى د انس بن مالك په كور كښې تقريباً اته كرته داسے واقعه راغلے ده۔
★– بعضو كښې دا دى چه مُليكه چه د انس د مور د طرف نه نيا ده نبي ﷺ ته د طعام دعوت وركړو نو خوراك ئے اُوكړو بيا مانځه ته پاڅيدو پدے كښې ورسره يتيم او عجوز هم ده۔ (احمدٌ) ★ – بل روايت كښې دى نبي ﷺ ام سليم كره راغلو نو هغے ورته كجورے او غوړى راوړل او نبي ﷺ روژه وو، وے فرمايل: كجورے خپل لوښى او غوړى خپله مشكيزه كښې واپس كړئ بيا پاڅيدو په يو طرف د كور كښې ئے دوه ركعاته مونځ اُوكړو۔ او مونږ ورسره وو۔ الحديث ۔(مسند احمد ۱۰۸/۳)
★– بعض رواياتو كښې دى: چه په كور د ام حرام كښې ئے مونځ اُوكړو، انسؓ ئے خپل ښى طرف ته اُودرولو او شاته ئے امّ حرام اُودروله۔ (احمد ۲۰٤/۳)۔
★– بعضو كښې دى: نبي ﷺ مونځ اُوكړو او د هغهٔ سره انسؓ او ام سليمٌ وو، نو انسؓ ئے ښى طرف ته اُودرولو او ام سليمٌ ئے شا ته اُودروله۔
★– بعضو كښې دى: انس ئے ښى طرفته اُودرولو او امّ سليم او د هغهٔ خاله (امّ حرام) دواړه ئے روستو اُودرولى۔ (ابوداود)۔
★– بعضو كښې دى: چه نبي ﷺ به د هغوى ملاقات ته ورتلو نو كله به د مانځه وخت راغلو نو هغوى ته به ئے مونځ اُوكړو۔ (احمد ۲۱۲/۳) ومسلم)
نو دا دليـل دے چه په بعضِ اَوقاتو كښې به ئے فرض مونځ هم د هغوى سره كولو۔ او بعضو كښې تصريح ده چه دا نفلى مونځ وو۔ (احمد، ابى داود) نو دا مختلف واقعات دى ځكه روايتونه مختلف راغلى دى۔او هيڅ تعارض او تدافع پكښې نشته۔
او ددے نه دا فائده هم معلومه شوه چه د نبي ﷺ په زمانه كښې داسے مروجه ختمونه نه

وو چه خلك د قرآن وئيلو دپاره راجمع شي او سيپارے ورله لاس كښ وركړي اوتول په شريكه لګيا شي او بيا پرے خوراك اُوكړي بلكه دا بدعت دے اصلي طريقه دا ده چه نبي ﷺ به د چا كور ته لاړو او د تبرك دپاره به ئے دوه ركعاته هلته اُوكړل بيا ددے نه پس به ئے روټئ وغيره هم خوړله نو دغه شان كه څوك په يو كور يا دكان كښ د بركت دپاره يو عالم راوُغواړي چه هلته مونځ اُوكړي نو بيا پرے خوراك كول هم جائز دي۔او دهغے مستقل دليل دا هم دے : (اذا دعی احدكم اخوه فان كان صائماً فليصل)

۵– وَعَنْ اَبِيْ بَكْرَةَ : اَنَّهُ انْتَهٰى اِلَى النَّبِيِّ ﷺ وَهُوَ رَاكِعٌ، فَرَكَعَ قَبْلَ اَنْ يَّصِلَ اِلَى الصَّفِّ، ثُمَّ مَشٰى اِلَى الصَّفِّ، فَذَكَرَ ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ ﷺ، فَقَالَ : «زَادَكَ اللهُ حِرْصًا وَلَا تَعُدْ ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : ابو بكره ﷺ نه روايت دے چه دے نبي ﷺ ته پداسے حال كښ اُورسيدو چه هغهٔ په ركوع كښ وو، نو ركوع ئے اُوكړه مخكښ ددے نه چه صف ته اُورسي (دے دپاره چه ركعت ترے لاړ نهٔ شي)، بيا صف ته (په آرام آرام) روان شو، نو دا خبره ئے نبي كريم ﷺ ته ذكر كړه، هغهٔ اُوفرمايل: «الله دِے ستا حرص زيات كړي ليكن آينده دے كار ته إعاده مهٔ كوه»۔ (بخاريؒ)

تشريح : مسائل : ١– يو سړے دے د هغهٔ نه ركعت ځي نو د ركعت نيولو دپاره صف ته د رارسيدو نه مخكښ نيت اُوتړي نو آيا دا به جائز وي ؟ پدے كښ اختلاف دے :

١– امام مالك ، ليث او بعض السلف فرمائي : كله چه يو انسان د ركعت د فوت كيدو نه ويريږي نو مخكښ د صف نه ركوع كولے شي او بيا به په ركوع كښ روان وي تردے چه صف ته اُورسي او ديته (دَبُ) وائي۔خو دا هله چه قريب وي (اوددے قرب اَندازه دا ده چه انسان پكښ د امام د سجدے نه مخكښ صف ته اُورسي يا د درے صفونو په مقدار وي)۔

او دا د ابوبكر صديق، زيد بن ثابت ، ابن مسعود، عبد الله بن زبير، او ابو امامه بن سهل بن حنيف رضی الله عنهم– او عطاء، سعيد بن جبير، ابوسلمه، عروة بن الزبير رحمهم الله نه نقل شويدي چه دوی به ركوع قبل الصف كوله۔بيا به په قلاره صف ته راتلل۔

٢– امام زهريؒ، او اَوزاعيؒ فرمائي : كهٔ صفونو ته نزدے وي نو كول ئے جائز او كه بعيد وي نو بيا به ئے نهٔ كوي او دا يو روايت دے د احمد بن حنبل نه چه ابن منصور ترے نقل كړيدے۔

٣– جمهور وائي : دا كار جائز نهٔ دے۔

دلائل د منع : ١- اول دا حديث دے چه دلته نبی ﷺ ابوبكرةؓ ته اُوفرمايل : اوس خو ډے دا كار اُوكړو خو بيا دے كار ته مۀ راګرزه ـ (ولا تعد) پدے كښې يو قراءت دا دے.چه دا (لاتعد) د عَوْد نه دے په معنیٰ د راګرزيدو سره يعنی دے كار ته رجوع مۀ كوه چه د صف نه مخكښې نيت اُوتړے او بيا په ركوع كښې راروان ئے۔

٢- **دليل** : ابو هريرةؓ نه مرفوعاً نقل دی : نبی ﷺ فرمائی : (اذا اتى احدكم الصلاة فلا يركع دون الصف حتى يأخذ مكانه من الصف اخرجه الطحاوی ورجاله ثقات وقال الحافظ : اسناده حسن فتح البارى (٢/٢١٤) ولكن قال الألبانی فی الضعيفة (٢/٤٠٨، رقم (٩٧٧) فی سنده عمر بن علیٰ وهو من رجال الشيخين لكنه يدلس تدليساً وهو تدليس السكوت وتدليس العطف واخرجه ابن ابی شيبة (١/٢٥٦) وفيه محمد بن عجلان وقد اختلط عليه احاديث ابی هريرة كما فی التقريب) فهو ضعيف۔

(كله چه يو تن ستاسو نه مانځه ته راځی نو د صف نه مخكښې ډے ركوع نۀ كوی تردے چه صف كښې ځائے اُونيسی)۔ (طحاویؒ)

دلائل الجواز : ١- عبد الله بن زبيرؓ په مسجد كښې حرام كښې په خطبه كښې اُوفرمايل : «كله چه يو تن ستاسو نه مسجد ته راشی او خلق په ركوع كښې وی نو دا ډے ركوع اُوكړی كله چه داخليږی او بيا به په ركوع كښې راروان وی تر دے چه صف ته راداخل شی ځكه دا سنت طريقه ده»۔ (واسناده صحيح) (طبرانی فی الاوسط ١/٣٣) حاكم (١/٢٠٤) بيهقیؒ (٣/١٠٦) الصحيحة (١/٤٠١)

٢- ابوبكر بن عبد الرحمن بن الحارث بن هشام فرمائی : «ابوبكر صديق او زيد ثابت دواړه مسجد ته راداخل شو او امام په ركوع كښې وو نو دواړو ركوع اُوكړه، بيا دواړه رانزدے شو په حالت د ركوع كښې تردے چه صف سره يو ځائے شو» (٢/٩٠) رجاله ثقات الان مكحولاً مدلس وقد عنعنه۔

٣- ابو امامه بن سهل بن حنيف زيد بن ثابت اُوليدو چه مسجد ته راداخل شو او امام په ركوع كښې وو نو دے روان شو دے دپاره چه د ركوع په حالت كښې ورله صف ته رسيدل ممكن شی نو الله اكبر سره ئے ركوع اُوكړه او بيا په ركوع كښې روان شو تردے چه صف ته اُورسيدو۔ (بيهقی ٢/٩٠) و (٣/١٠٦) وسنده صحيح والموطأ (١/١٤٩)

٤- زيد بن وهب فرمائی : «زۀ د عبد الله بن مسعودؓ سره د هغه د كور نه مسجد ته اُوتلم كله چه مونږ د مسجد مينځ ته اُورسيدو نو امام ركوع ته خكته شو نو عبد الله اكبر اُوكړو او ركوع ئے اُوكړه او ما (هم) ورسره ركوع اُوكړه بيا په ركوع كښې لاړو تردے چه صف

تـه اُورسيدو په هغه وخت چه خلقو سرونه پورته كړي وو، كله چه امام مونځ ختم كړو، زهٔ پاڅيدم او زما دا خيال وو چه ما ركعت ندے موندلے نو عبد الله زما لاس اُونيولو او كينولم بيا ئے اُوفرمايل : يقيناً تا ركعت اُوموندلو. (ابن ابى شيبة ٢٥٥/١) واخرج نحوه احمد بسند صحيح (٤٠٧/١) والادب المفرد ص (٢٧٠) طحاوى (٢٣١/١) طبراني في الكبير (٣٣/٣) والبيهقى (٩٠/٢) .

او دغـه شان ډير آثار شيخ البانىؒ د ابى عبيده، سعيد بن جبير، ابوسلمه، عبد الله بن تميم، عثمان بن الاسود، مجاهد، حسن رحمهم الله نه او ددغه مذكوره صحابه كرامو نه ذكر كړيدى . (الصحيحة (٤٠١/١، ٤٠٨) رقم (٢٢٩)

ددے حديثونو نه دوه مسئلے ثابتے شوے يو دا چه د صف نه مخكښ ركوع كول او بيا په ركوع كښ صف ته رسيدل جائز دى. دويم مدرك د ركوع د مدرك د ركعت دے.

او دا علماء جواب وركوى د دغه حديث د ابوبكره نه چه (لا تعد) كښ درے لغات دى :

١ - **مشهور** قراءت لاتَعُدْ دے د "عَوْد" نه ماخوذ دے، رجوع ته وائى نو بيا داسے معنىٰ ده چه (لاتعد الى مثل هذا الفعل اى الى الاسراع بل اِمْشِ بوقاروسكينةٍ) (يعنى بيا دے كار ته رجوع مهٔ كوه چه منډے دى يعنى مانځه ته په منډه مهٔ راځه بلكه په وقار او آرام سره راځه). لكه دا د روايت د احمد (٤٢/٥) او طحاوى نه معلوميږى چه نبى ﷺ د ابوبكرهؓ د ځپلو آواز واوريدو نو د سلام نه روستو ئے تپوس اُوكړو چه دا (ساعى) منډه وهونكے څوك وو ابوبكرهؓ اُووئيل : زهٔ وم) معلوميږى چه دا منع متوجه ده منډے وهلو ته، نهٔ ركوع قبل الصف ته. لهذا پدے كښ بيا ادب دے چه مانځه ته په آرام او خشوع سره راځئ او منډے مهٔ وهئ لكه څنګه چه دا حكم د بل حديث نه هم معلوم شوے دے.

امام بيهقىؒ فرمائى : امام شافعىؒ ددے معنىٰ كوى : لاتعد مشابه دے ددے قول د نبى ﷺ سره : (لاتأتوا الصلاة وانتم تسعون) (مانځه ته په منډه مهٔ راځئ) (بيهقى ٩٠/٢)

يا معنىٰ دا چه (لا تعد الى التاخير) يعنى مانځه ته ناوخته مهٔ راځه بلكه وختى راځه چه منډے وهلو ته نهٔ محتاج كيږے.

او دا تاسو چه كومه معنىٰ ذكر كوئ د هغے نه امام ابن حبان انكار كړيدے.

٢ – دويم قرائت (لاتَعْدُ). د عَدْوٌ نه، په معنىٰ د منډے وهلو سره، يعنى منډے مهٔ وهه. نو دا معنىٰ هم د مخكنئ معنىٰ تائيد كوى. ٣ – قراءت : (لاتُعِدْ) د اِعادے نه دے په معنىٰ د واپس كولو. (يعنى اعاده ددے ركعت مهٔ كوه) نو دا بيا دليل دے چه مدرك د ركوع مدرك د ركعت دے. اول قرائت پكښ مشهور دے. سبل السلام (٣٤/٢) فتح البارى

(٢١٤/٢)

خلاصه: ددے تحقیق نه واضحه کیږی چه احادیث د جواز راجح دی ځکه چه بل طرفته صریح روایت نشته او کوم چه راغلے هغه مرفوعاً ضعیف دے۔ وبالله التوفیق۔

المسئلة الثانية : آیا مدرک د رکوع مدرک د رکعت دے او که نه ؟

١– یو قول دا دے چه مدرك د رکوع مدرك د رکعت نۀ دے او دا قول د ابو هریرهؓ، اهل الظاهرؒ، ابن خزیمهؒ، ابوبکر الضبعیؒ او امام بخاریؒ دے۔ دوه دلائل وائی : یو دا چه ددۀ نه دوه فرائض فوت شویدی یو قیام او بله فاتحه۔ دویم (وما فاتکم فأتموا) راغلے دے او دلته امر شویدے په اتمام د مافات باندے لهذا فاتحه او رکوع به دوباره کوی۔ یعنی رکعت ترے فوت دے۔

٢– دویم قول د جمهورو دے چه مدرك د رکوع مدرك د رکعت دے او چا چه رکوع کښې امام لاندے کړو نو دا رکعت ئے اُوشو۔ او اِعاده ئے نشته۔ د دوی سره پدے خبره باندے ډیر دلائل دی او همدا قول راجح دے۔ او دا د علی، ابن مسعود، ابن عمر، زید بن ثابت ﷺ نه هم روایت شویدے۔ (مصنف عبد الرزاق ٢٧٨/٢)۔

او یو روایت د ابو هریره نه هم دے چه امام مالكؒ په موطأ کښې نقل کړیدے۔ او اسحاق بن راهویهؒ وئیلی دی چه پدے باندے اجماع د علماؤ ده۔ (فتح الباری لابن رجب) امام نوویؒ هم په مجموع (١١٤/٤) کښې اجماع نقل کړیده۔

دلائل الجمهور : ١–اول دلیل : دا حدیث د ابوبکرهؓ دے چه ده امام په رکوع کښې اُوموندلو او نبی ﷺ ورته حکم په اِعاده اُونکړو، او دا مقام د بیان دے بلکه د هغه تائید ئے اُوکړو په (زادك الله حرصاً) سره۔ بلکه په روایت د احمد (٤٢/٥) کښې داسے الفاظ راغلی دی : (انه جاء والنبی ﷺ راکع فسمع النبی صوت نعل ابی بکرة وهو یحضر (یعدو) یرید ان یدرك الرکعة فلما انصرف النبی ﷺ قال : من الساعی ؟ قال ابوبکرة : انا، فقال النبی ﷺ زادك الله حرصاً ولا تعد) وسنده حسن ۔ او په بعض طرقو کښې داسے دی : (خشیت ان تفوتنی الرکعة، (نصب الرایة ٣٩/٢) فتح الباری ٢٦٨/٢) فتح القدیر لابن الهمام (٢٥٢/١)

نو ددے صحیح مرفوع حدیث نه ښکاره معلومه شوه چه په رکوع لاندے کولو سره رکعت اُوشو ځکه ابوبکرهؓ تصریح اُوکړه چه ما ددے دپاره منډه اُووهله چه یَریدم رکعت رانه فوت نۀ شی۔ او نبی ﷺ په هغه باندے دا رد اُونکړو چه ستا رکعت نۀ دے شوے۔بلکه صرف د منډے وهلو نه ئے منع کړو۔ پدے کښې د شوکانیؒ وغیره جواب صحیح نۀ دے چه وائی : لکه څنګه چه نبی ﷺ ابوبکرهؓ ته د اعادے حکم نۀ دے کړے نو

دا هم نۀ دی نقل شوی چه هغه ډېرے رکعت له اعتبار ورکړے وی۔ آه۔ ځکه چه دا مقام د بيان دے او تاخير د بيان د وقت د حاجت نه صحيح نۀ وی نو که دا رکعت نۀ وے شوے نو نبی ﷺ به ورته وئيلی وے چه ستا منډے بے فائدے دی د رکوع په لاندے کولو رکعت فوت دے۔ او دا د ابتدائی قول د شوکانیؒ وو چه په نيل الاوطار کښې ئے ذکر کړے وو بيا ئے روستو تر دے په (الفتح الربانی) نومے فتاوئ کښې رجوع کړيده۔ لکه هغه فتوی په عون المعبود (۳۳۶/۱) کښې ذکر ده۔ فتاوی الدين الخالص (۲۲۳/٤) هم اُوګوره۔

او د امير صنعانیؒ په سبل السلام (۲۳/۲) کښې دا خبره کول – چه نبی ﷺ ورته د إعادے حکم ځکه اُونکړو چه کيدے شی هغه جاهل وو پدے حکم او جهل عذر دے– نو دا ډيره بعيده خبره ده۔ وجه دا ده چه په صحيحينو کښې راغلی دی چه مسیءُ الصلاة هم په حکم د تعديل الارکان باندے خبر نۀ وو او بيا هم نبی ﷺ هغۀ ته بار بار حکم کړے دے۔ حال دا چه د هغۀ نه خو لا رکعت هم نۀ دے فوت شوے۔ صرف تعديل ئے فوت کړے وو۔ الصحيحة (۲۲۸/۱) رقم (۲۳۰)

۲ - ۳ - **دويم دليل** او دريم دليل : عمل او قول د زيد بن ثابت او عبد الله بن مسعود په مخکنئ مسئله کښې تير شو چه هغوی هم دا فتوئ ورکړيده چه په رکوع نيولو سره رکعت نيولے شی۔

٤ - **دليل** : حديث د ابو هريره کښې دی : (قال رسول الله ﷺ : اذا جئتم الى الصلاة ونحن سجود فاسجدو ولا تعتدوها شيئاً ومن ادرك ركعة فقد ادرك الصلاة (ابو داود ۱۳۶/۱)

(دلته د رکعت نه رکوع مراد ده ځکه چه د سجدے مقابله کښې ذکر شويده) په بل روايت د ابو داود کښې دی : (من ادرك الركوع ادرك الركعة (كما فى ارواء الغليل : ۲۶٤/۲) رقم (٤۹۶) باب صلاة الجماعة وسنده صحيح) نو دا هم واضح دليل دے۔ چه په رکوع موندلو سره مونځ او رکعت لاندے شو۔ او په روايت د بيهقی (۸۹/۲) کښې ورسره دا اِضافه ده : (من أدرك ركعة من الصلاة فقد ادركها قبل ان يقيم الامام صلبه) (اخرجه الدارقطنى والبيهقى)

(يعنی د امام د پورته کيدو نه مخکښې که رکوع کښې شامل شو نو مونځ ئے اُوموندلو) او ددے په سند کښې يحيى بن ابى سليمان دے چه حاکمؒ او ذهبیؒ ورته ثقه وئيلے دے او بخاریؒ وئيلی دی چه په دۀ کښې نظر دے او بيهقیؒ وغيره هم ضعيف کړيدے، مګر ددے دپاره شواهد شته چه په هغے باندے مضبوطيږی۔ لکه دا متصل روايت :

۵ - **دليل** : عبد العزيز بن رفيع عن رجل عن النبى ﷺ : اذا جئتم والامام راكع فاركعوا وان كان ساجداً فاسجدوا ولا تعتدوا بالسجود اذا لم يكن معه الركوع) (يعنی د سجدے

سره چه کله رکوع اُونه مومیٔ نو هغه سجدے له اعتبار مهٔ ورکویٔ) معلومه شوه چه په رکوع موندلو سره رکعت موندلے شي۔ او دا روایت بالکل صحیح دے ځکه چه دا رجل مجهول نهٔ دے بلکه صحابي دے په بل روایت د اسحاق بن منصور المروزی کښې د هغه نوم راغلے دے چه دا عبد الله بن المغفل رضی الله عنه دے (مسائل احمد واسحاق ۱/۱۲۷ – مصورة المکتب) (الصحیحة رقم ۱۱۸۸) (۳/۱۸۵)

دا روایت ډیرو مُلیانو ته ندے معلوم ځکه دا حدیث ضعیف گنړی۔ شیخ البانیؒ فرمائی :(هذا شاهد قوی فان رجاله کلهم ثقات الخ) (ارواء : ۲/۲۶۰)

۶- **دلیل**: علی او ابن مسعود دواړه فرمائی: (من لم یدرك الرکعة لم یعتد بالسجدة (البیهقی (۲/۹۰) طبرانی – مجمع الزوائد (۱/۱۷۲) ورجاله موثقون) (وفی لفظ من لم یدرك الامام راکعاً لم یدرك تلك الرکعة) (اخرجه البیهقی (۲/۹۰) وقال الالبانی هذا سند صحیح) (ارواء الغلیل (۲/۲۶۰) (چا چه رکوع اُونه موندله نو سجدے له ډے اعتبار نهٔ ورکوی) (او چا چه د امام سره رکوع لاندے نهٔ کړه نو هغهٔ دغه رکعت نهٔ دے موندلے)

۷- **دلیل** : عبد الله بن عمرؓ فرمائی : (اذا جئت والامام راکع فوضعت یدیك علی رکبتیك قبل ان یرفع فقد ادرکت (ابن ابی شیبة ۱/۲۴۳) ولفظ البیهقی (۲/۹۰) : من ادرك الامام راکعاً فرکع قبل ان یرفع الامام رأسه فقد ادرك تلك الرکعة) وسندهما صحیح) (یعنی کله چه ته راغلے او امام په رکوع کښې وو او تا لاسونه په زنگنونو کیخودل مخکښې د هغه د پورته کیدو نه نو تا دغه رکعت اُوموندلو)

۸- **دلیل** : زید بن ثابت ﷺ فرمائی : من ادرك الرکعة قبل ان یرفع الامام رأسه فقد ادرك الرکعة) (بیهقی، طحاوی (۱/۲۳۲) (چا چه رکوع د امام د سر پورته کولو نه مخکښې موندهٔ کړه نو هغهٔ رکعت اُوموندلو) (دا موقوف بمنزلة المرفوع دے)

لنډه دا چه دغه شان عمل او فتوے د ډیرو صحابه کرامؓ نه نقل دی لکه ابوبکر صدیق، زید بن ثابت، ابو عبیده، عبد الله بن مسعود، عبد الله بن عمر، عبد الله بن زبیر رضی الله عنهم ، دارنگه عروه بن زبیرؒ سعید، عطاء، مجاهد او حسن بصری وغیره نه او ددے صحابه کرامو مخالف ندے موجود مگر صرف د ابو هریرهؓ نه ددے مخالف قول نقل دے لیکن هغه ضعیف السند دے معقل بن مالك راوی پکښې ضعیف متروك دے۔ او ددے په خلاف باندے د هغه فتوی هم موجود ده لکه په مشکاة (۱/۱۰۲) والمطالب العالیة (۱/۱۲۴) کښې راغلے ده۔

او **بعض** علماؤ چه اول دلیل پیش کړے دے نو د هغے نه جواب دا دے چه هرکله دا خبره

په صحيح مرفوع او موقوف احاديثو ثابته شوه چه مدرك د ركوع مدرك د ركعت دے نو دا د (لاصلاة لمن لم يقرأ بفاتحة الكتاب) د عموم دپاره مخصص شو۔

نو دواړه خبرے صحيح دی۔ په عام حالت د اختيار کښې به فاتحه هم وائی او قيام به هم کوی او کله چه د امامتی حالت وی او امام په رکوع کښې لاندے کړی نو دا مقتدی مجبوره دے، ددۀ نه شريعت قيام او فاتحه ساقطه کړه۔ لهٰذا هيڅ اشکال نشته۔ (فتاوی الشوکانی - عون المعبود) او کله چه شريعت يو شے ساقطوی نو خپل رائے او قياس چلولو ته ضرورت نشته۔ ددے وجه نه امام عبد الرحمن السعدیؒ په فتاوی السعديه (۱/۱۱۷) کښې ليکی: پدے باندے د فقهاؤ اجماع ده چه په مانځه کښې چه څومره څيزونه واجب دی نو دا په هغه وخت کښې واجب دی چه قدرت په هغے باندے وی او کله چه انسان عاجز شی نو د هغے وجوب ساقط شی الخ۔

دارنګه شيخ الاسلام فتاوی (۲۳/۲۹۰) کښې فرمائی: ددے مثال دا دے لکه نبی ﷺ د ابوبکر پسے مونځ کولو بيا کله چه مونځ نبی ﷺ ته نقل شو نو هغه د هغه ځائے نه قراء ت شروع کړو چه ابوبکر کوم ځائے ته رسيدلے وو او قراء ت د فاتحے ئے راونه ګرځولو ځکه چه دۀ بناء اوکړه په مانځه د ابوبکر باندے آ۔ دارنګه نبی ﷺ فرمائی: کله چه امام په ناسته مونځ کوی (معذور وی) نو تاسو هم ورسره په ناسته مونځ اوکړئ الحديث (متفق عليه) نو دلته هم داسے وئيلے شی چه قيام خو فرض دے او مقتديانو اونکړو۔ نو ددے وجه دا ده چه دا حالت مستثنیٰ دے د عام حالت نه۔

د دويم دليل نه جواب دا دے چه (وما فاتکم فأتموا) حديث نه استدلال کول واضح نۀ دی ځکه دا استدلال دے په عموماتو باندے په يو خاص مسئله کښې ځکه چه ددے حديث سَوق ددے دپاره نۀ دے شوے چه مدرك د ركوع مدرك د ركعت نۀ دے۔ او بل طرفته نصوص موجود دی لکه چه تا اوپيژندل۔ نو دا حديث معارض د هغه خاص نصوصو نشی کيدے۔ بلکه دا چه دا عام دے او زمونږ روايات خاص دی، او خاص په عام باندے قاضی وی ځکه خاص په منزله د استثناء وی۔

دارنګه وايو چه حديث کښې فوات ذکر دے او دلته مدرك د ركوع نه فوات ندے شوے۔ ځکه شريعت دا رکعت اداء حساب کړو۔ نو د څۀ شی اِتمام اوکړی۔

۳- يا دا چه ددے نه هم د ادراك الركوع والا احاديث مخصص دی۔ لهٰذا د جمهورو قول حق دے او دلائل ئے قوی دی او د بعض علماؤ قول ضعيف دے او دلائل ئے بعيد دی۔

دا قول جمهور (ائمه اربعه، عام اهل حديث، محدثين) اختياروی بلکه پدے باندے د

صحابه کرامو اجماع دہ۔
حافظ ابن عبد البرّ لیکی : دا هغهٔ خبره ده چه پدے باندے تولو خلقو (علماؤ) اجماع کړیده۔ (التمهید ۲۰/۱۹۸)

الفصل الثانی

٦ – عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ، قَالَ: اَمَرَنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِذَا كُنَّا ثَلَاثَةً اَنْ يَّتَقَدَّمَنَا اَحَدُنَا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : او سمره بن جندب ﷺ۔ فرمائی : "مونږ ته رسول الله ﷺ حکم کړے دے چه کله مونږ درے کسان یو نو یو تن دے زمونږ نه (کوم چه بهتر وی امامتئ ته) وړاندے کیږی"۔ (ترمذیؒ)

تشریح : حدیث دلیل دے چه درے کسانو کښ به امام مقدم کولے شی او مقتدیان به روستو وی که مینځ کښ اودریدو نو گناهگار دے او دا هم په حالت د اختیار کښ دے او د ضرورت په بناء د امام سره اودریدل هم جواز لری کما تقدم۔

اِذَا كُنَّا : ظرف دے دپاره د ان یتقدم او ان یتقدم کښ باء مقدره ده۔ (ای امرنا بأن یتقدمنا) او تقدیم د ظرف په ان باندے جائز دے ځکه په ظروفو کښ اتساع ده۔

درجة الحديث : اسناده ضعیف : اخرجه الترمذی (۲۳۳) وفی اسناده اسماعیل بن مسلم عن الحسن عنه والاول ضعیف والحسن مدلس وقد عنعنه۔

٧– وَعَنْ عَمَّارٍ [بْنِ يَاسِرٍ] :اَنَّهُ اَمَّ النَّاسَ بِالْمَدَائِنِ، وَقَامَ عَلٰى دُكَّانٍ يُصَلِّيْ وَالنَّاسُ اَسْفَلَ مِنْهُ، فَتَقَدَّمَ حُذَيْفَةُ فَاَخَذَ عَلٰى يَدَيْهِ، فَاتَّبَعَهُ عَمَّارٌ حَتّٰى اَنْزَلَهُ حُذَيْفَةُ، فَلَمَّا فَرَغَ عَمَّارٌ مِنْ صَلَاتِهٖ، قَالَ لَهُ حُذَيْفَةُ: اَلَمْ تَسْمَعْ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ: «اِذَا اَمَّ الرَّجُلُ الْقَوْمَ فَلَا يَقُمْ فِيْ مَقَامٍ اَرْفَعَ مِنْ مَقَامِهِمْ اَوْ نَحْوَ ذٰلِكَ ؟ » فَقَالَ عَمَّارٌ: لِذٰلِكَ اتَّبَعْتُكَ حِيْنَ اَخَذْتَ عَلٰى يَدَيَّ. رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ.

ترجمه : او عمار ﷺ په مدائن کښ خلقو ته امامتی کوله او په یو دکان باندے ولاړ وو مونځ ئے کولو او خلق د هغهٔ نه لاندے وو،، نو حذیفه ﷺ ورمخکښ شو او د هغهٔ (عمارؓ) دواړه لاسونه ئے اُونیول، (او هغهٔ ئے راخکته کړو دے دپاره چه د مقتدیانو سره په صف کښ برابر اُودریږی) نو عمارؓ (هم) د حذیفه پسے راروان شو (او هیڅ انکار ئے ترے اُونهٔ کړو) ترد ے

چه حذيفه ﷺ هغهٔ لره راكوز كړو، نو عمار ﷺ چه كله د مانځه نه فارغ شو نو حذيفه ﷺ ورته اُوفرمايل :" آيا تا د رسول الله ﷺ نه نهٔ دى اَوريدلى دى چه فرمايل ئے : «كله چه يو سړے يو قوم ته مونځ كوى نو نهٔ دے اُودرېږى په يو ځائے كښ چه د هغوى د ځائے نه اُوچت وى» او يا ئے ددے په شان الفاظ فرمائيلى دى. نو عمار ﷺ اوفرمايل :"پدے وجه خو زهٔ تا پسے راروان شوم كله چه تا زما لاسونه اُونيول" .(او هيڅ جګړه مے درسره اُونهٔ كړه) (ابوداوُدؒ)

تشريح : مدائن د دجلے په غاړه يو پخوانے ښار دے. د بغداد نه اُووه فرسخه وړاندے دے. او دا د اكاسرو دار الحكومت وو. دكان نه مراد اُوچت ځائے دے چه د ناستے دپاره تيار شوے وى.

فَأَخَذَ عَلٰى يَدَيْهِ : دا نهى عن المنكر دے په مانځه كښ دے حديث كښ اګركه كلام دے ليكن دا قسم واقعه د حذيفةؓ سره هم شويده ابوداوُدؒ، حاكمؒ او بيهقىؒ نقل كړيده او هغه صحيح حديث دے چه حذيفه په مدائن كښ خلقو ته امامتى كوله په يو دكان باندے اُودريدو نو ابو مسعود انصارىؓ د قميص نه راخكلو، كله چه هغهٔ د مانځه نه فارغ شو ورته ئے اُوفرمايل : آيا تا ته نهٔ ده معلومه چه خلق به ددے كار نه منع كولے شو. هغه اُوفرمايل : ولے نهٔ ! كله چه تا زه راخكلم نو ما ته خبره رايادہ شوه. (صححه النووى)

او دواړه واقعو كښ تناقض نشته ځكه چه كيدے شى حذيفه سره اول دا كار شوے وى بيا ددهٔ د عمار سره داسے واقعه راغلے وى.

امام به د مقتديانو نه اُوچت نهٔ اُودريږى

بيا حديث كښ دا مسئله ده چه امام به يواځے د مقتديانو نه جدا په اوچت ځائے نه اُودريږى چه مقتديان لاندے وى. ځكه پدے كښ تميز د امام راځى او الله دا بده ګڼړى چه په نورو ملګرو كښ متميز او جدا وى. (الرحيق المختوم)

مګر پدے كښ اختلاف دے دوه قوله دى (۱) جمهور علماء (نخعىؒ، ثورىؒ، اوزاعىؒ، مالكؒ، ابوحنيفةؒ) فرمائى : امام لره په اُوچت ځائے اُودريدل منع دى او دا قول د ابن مسعود دے چه هغه دا مكروه ګڼړى او ددے نه ئے منع فرمائيلے ده. (فتح البارى لابن رجب كتاب الصلاة ۱۱۷/۳) او دليل ئے دوه حديثونه دى يو دا حديث د عمار شو او بل حديث د ابومسعود انصارىؓ شو. چه په هغے كښ داسے الفاظ دى : (نهى رسول الله ﷺ ان يقوم الامام فوق شيءٍ والناس خلفه يعنى اسفل منه (الدارقطنى، الحاكم ۲۱۰/۱) بسند صحيح ذكره الحافظ فى التلخيص (۴۳/۲) صحيح الجامع (رقم ۶۸۴۲)

په روايت د ابوداود كښ دى : (الم تعلم انهم كانوا ينهون عن ذلك) (سنده صحيح).

وسیأتی فی المشکوة) فی باب المشی مع الجنازة)

(۲) **دویم قول** د امام بخاریؒ، طحاویؒ او ابن حزمؒ دے چه د امام دپاره په اُوچت ځائے اُودریدل جواز لری او ابن حزمؒ وئیلی دی چه دا قول د امام شافعیؒ، ابوسلیمانؒ، احمد بن حنبلؒ، لیث بن سعدؒ او بخاریؒ دے۔ دوی استدلال کوی په حدیث د سهل بن سعدؓ باندے چه نبی ﷺ په منبر باندے خلقو ته مونځ کړے دے او خلق تړے لاندے ولاړ وو لکه دا حدیث روستو متصل راروان دے۔

لیکن صحیح خبره دا ده چه امام دپاره اُوچت ځائے باندے اُودریدل صحیح نهٔ دی برابره ده مسجد وی او که غیر مسجد وی وجه ددے حدیث د ابو مسعودؓ نه۔ **او هر چه واقعه د منبر ده** نو په هغه حدیث کښ د هغے علت ذکر شویدے (لتأتموا بی ولتعلموا صلاتی) یعنی دے دپاره چه صحابه کرامو ته تعلیم د مانځه ورکړی ځکه منبر ته پورته شوے وو۔ نو که صورت د تعلیم وی نو بیا امام له پورته کیدل جواز لری او که تعلیم غرض نهٔ وی نو بیا به نهٔ پورته کیږی۔ لهذا ددے حدیث د سهلؓ نه مطلقاً جواز نهٔ ثابتیږی۔

علامه ابن دقیق العیدؒ فرمائی: حدیث د سهلؓ دلیل دے چه امام د مقتدیانو نه اُوچت ځائے کښ اُودریدے شی خو کله چه مقصود تعلیم وی او که دا مقصود نهٔ وی نو بعض علماؤ دیته مکروه وئیلی دی او بیا فرمائی: څوك چه دا پورته اُودریدل د امام بغیر د قصد د تعلیم نه جائز ګنړی نو الفاظ د حدیث دیته نهٔ شاملیږی او قیاس صحیح نهٔ دے ځکه چه اصل کښ داسے صفت دے چه هغه په فرع کښ نشته۔ آه۔ نیل الاوطار (۲۳۸/۳) عون المعبود (۱۱۹/۲)

علامه شوکانیؒ پکښ لا دا هم وئیلی دی: چه دا یو قاعده اصولی ده چه کله نبی ﷺ نهی اُوکړی د یو شی نه او بیا د هغے مخالف عمل اُوکړی نو د هغهٔ فعل به مُخصص وی د هغه عموم نه لهذا مونځ د پیغمبر په منبر باندے معارض نهٔ دے د منع د پورته کیدو د امام په مقتدیانو باندے په اعتبار د امت سره۔ یعنی په منبر باندے اُودریدل د خصوصیاتو د نبی ﷺ نه دی او امت د هغه په شان کار نشی کولے چه په منبر اُوخیژی۔ مګر په «السیل الجرار» کښ ئے بیرته پدے خبره رد کړیدے۔ چه دلیل په خصوصیت باندے نشته۔

بیا څومره اندازه أوچت أودریدل ممنوع دی:

۱– بعض وائی: په اندازه د قامت د سړی۔ (وهو قول ابی یوسف)۔

۲– بعض وائی: په اندازه د یو ګز ۳– بعض وائی دومره اندازه چه د امام او د مقتدیانو امتیاز پرے راځی۔ او همدا خبره راجح ده ځکه حدیث مطلق راغلی دے۔ (المرعاة ۳۸/٤)

تنبيه: دا اختلاف په هغهٔ صورت کښې دے چه امام يواځې په اُوچت ځائے ولاړ وی او که چرته د امام سره څهٔ خلق په اُوچت ځائے ولاړ وی او باقی مقتديان لاندے ولاړ وی نو جائز به وی، ځکه علت د منع ختم شو چه هغه د امام يواځے کيدل دي په اُوچت ځائے کښې۔ او دغه شان خبره د امام مالك نه هم نقل ده چه په کشتئ کښې خلق مونځ کوی څهٔ کسان بَره او څهٔ لاندے اُودريږی نو دا به جائز وی ځکه ضرورت دے۔ (شرح ابن بطال)

درجة الحديث: اسناده صحيح: اخرجه ابوداود (٥٩٨) وقال المنذری فی مختصر سنن ابی داود (٣٠٩/١) فی اسناده رجل مجهول ولكن ورد فی معناه حديث آخر وفيه ان حذيفة هو الامام والذی جذبه هو ابومسعود اخرجه ابوداود (٥٩٧) وابن خزيمة (١٥٢٣) وابن حبان (٢١٣٤) والحاكم (٢١٠/١) وصححه الالبانی فی صحيح الجامع الصغير (٣٩٢)۔

٨– وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدِ السَّاعِدِيِّ، أَنَّهُ سُئِلَ: مِنْ أَيِّ شَيْءٍ الْمِنْبَرُ؟، فَقَالَ: هُوَ مِنْ أَثْلِ الْغَابَةِ، عَمِلَهُ فُلَانٌ مَوْلَى فُلَانَةٍ لِرَسُولِ اللهِ ﷺ، وَقَامَ عَلَيْهِ رَسُولُ اللهِ ﷺ حِينَ عُمِلَ وَوُضِعَ، فَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ وَكَبَّرَ وَقَامَ النَّاسُ خَلْفَهُ، فَقَرَأَ وَرَكَعَ، وَرَكَعَ النَّاسُ خَلْفَهُ، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ، ثُمَّ رَجَعَ الْقَهْقَرٰى، فَسَجَدَ عَلَى الْأَرْضِ، ثُمَّ عَادَ إِلَى الْمِنْبَرِ، ثُمَّ قَرَأَ، ثُمَّ رَكَعَ، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ، ثُمَّ رَجَعَ الْقَهْقَرٰى، حَتّٰى سَجَدَ بِالْأَرْضِ، هٰذَا لَفْظُ الْبُخَارِيِّ. وَفِي الْمُتَّفَقِ عَلَيْهِ نَحْوَهُ، وَقَالَ فِي آخِرِهِ: فَلَمَّا فَرَغَ أَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ، فَقَالَ: «أَيُّهَا النَّاسُ! إِنَّمَا صَنَعْتُ هٰذَا لِتَأْتَمُّوا بِي وَلِتَعَلَّمُوا صَلَاتِي».

ترجمه: او سهل بن سهل ساعدی ﷺ نه روايت دے چه دهٔ نه (يوه ورځ) تپوس اُوکړے شو چه د نبی ﷺ منبر د څهٔ شی نه (يعنی کوم لرګی) نه وو؟ نو هغهٔ اُوفرمايل: دا د ځنګلی غز وُنے نه وو، چه فلانی شخص چه د فلانئ ښځے آزاد کړده غلام وو– د رسول الله ﷺ دپاره جوړ کړے وو، او کله چه دهٔ جوړ کړو نو رسول الله ﷺ په هغے باندے اُودريدو، او په (مسجد کښې) کيخودے شو، نو رسول الله ﷺ قبلے ته مخ واړولو (مونځ دپاره) او الله اكبر ئے اُووئيلو او خلق د هغهٔ نه روستو ولاړ وو نو هغهٔ قراءت اُوکړو او رکوع ئے اُوکړه او د هغهٔ نه روستو خلقو (هم) رکوع اُوکړه، بيا هغهٔ سر پورته کړو، بيا هغهٔ شا کړے راواپس شو او په زمکهٔ ئے سجده اُوکړه، بيا منبر ته واپس شو بيا ئے قراءت شروع کړو، بيا ئے رکوع اُوکړه بيا ئے سر پورته کړو بيا شا کړے راواپس شو تردے چه سجده ئے په زمکه باندے اُوکړه۔ دا الفاظ د بخاری دی، او د بخاری او مسلم متفقه روايت هم دغه شان دے او راوی ددے حديث په آخر

كښې وئيلي دي: ”هركله چه نبي ﷺ (د مانځه نه) فارغ شو نو خلقو ته ئې مخ راواړولو او وې فرمايل: «اې خلقو ! ما دا كار پدې وجه اُوكړو چه تاسو زما پيروِي (اِقتداء) اُوكړئ او دې دپاره چه زما مونځ (سره د كيفيات او احكام او مسائلونه) زدهٔ كړئ»۔

د نبي عليه السلام د منبر تفصيل

تشريح: د نبي ﷺ منبر د غز ونې نه جوړ شوې وو او حديث د مسلم كښې دي چه درې پوړئ ئې وې او د محراب گس طرفته او د مسجد نبي طرف ته پروت وو او همدا سنت ده چه درې پوړئ به وي زياتې يا كمې پوړئ جوړول بدعت دې۔ او دا منبر ورله د يوې زنانه چه حافظ ابن حجرؒ وائي د هغې نوم ندې معلوم خو انصاريه ده او بعض وائي نوم ئې عائشهؓ وو۔ د هغې غلام چه باقوم الرومي نوم ئې وو جوړ كړې وو هغې رسول الله ﷺ اُوليدلو چه په منبر باندې اُوږد قيام كوي او خپې بدلوي رابدلوي نو رسول الله ته ئې اُوفرمايل: يارسول الله ! زما غلامٌ نجار دې (او په مدينه كښې صرف همدا يو نجار وو) تا له به منبر جوړ كړي۔ نبي ﷺ ورته اِجازه وركړه نو هغې په جوړولو كښې تاخير اُوكړو، رسول الله ﷺ ورته اُوفرمايل څهٔ دې اُوكړل، نو بيا ئې راوړو۔ او ددې نه مخكښې رسول الله ﷺ د كجورې يوې تنې ته تكيه وهله، بعض رواياتو نه معلوميږي چه نبي ﷺ كله ضعيف شو او بدن ئې غوښه واخسته نو تميم داريؓ رسول الله ﷺ ته اُوفرمايل يارسول الله ! تا ته تكليف دې چه دې ونې ته اُودريږې نو تا له به منبر جوړ كړو چه ته پكښې كينې او تكليف درته نهٔ وي لكه څنگه چه شام كښې ما ليدلي دي نو رسول الله ﷺ د مسلمانانو سره مشوره اُوكړه نو عباس بن عبد المطلبؓ اُووئيل: زما غلام (كُلاب) ډير ښه كارِندهٔ دې نو نبي ﷺ ورته اُوفرمايل: حكم ورته اُوكړه نو هغه ځنگلي غز پسې اُوليږلو او هغه ئې راپرې كړو او منبر ئې ترې جوړ كړو۔ (فتح البارى ۳۹۸/۲) باب الخطبة على المنبر ورجاله ثقات الا الواقدى) نو ظاهر دا ده چه هغهٔ اراده وه او ددې حديث (الباب) واقعه حقيقت دې۔

حافظ ابن حجرؒ فرمائي: راجح دا ده چه ددې نجار نوم ميمون وو ځكه دا په صحيح سند ثابت دي۔ او روستو به روايت راشي چه كله منبر تيار شو او رسول الله ﷺ په منبر خطبه وركوله نو د كجورې هغهٔ تنه په ژړا شوه چه صحابه كرامؓ د هغې ژړا واوريدله نو رسول الله ﷺ د منبر نه راكوز شو او هغه ئې په غيږه كښې اُونيوله او داسې ئې قلاره كړه لكه ماشوم چه قلارولې شي نو رسول الله ﷺ اُوفرمايل: دې ونې پدې وجه اُوژړل چه خفه ده د هغهٔ ذكر پسې چه دې به آوريدلو۔ او د خلفاءِ راشدينو په زمانه كښې دغه منبر په

همدغه حالت وو بیا پکښې مروان په خلافت د معاویه کښې درې پوړۍ د لاندې نه زیاتې کړې نو شپږ شوې نو دا د هغه مکروه بدعاتو نه دی چه په مسجد کښې پیدا شو۔ ابن النجارؒ وغیره وائي : دا منبر په همدې حالت وو د بعض ځایونو اصلاح به ئې کولې شوه تردې چه په سنه (٦٥٤ھـ) کښې مسجد د مدینې اُوسوزیدو نو بیا (ملك مظفر) په (٦٥٦ھـ) کښې نوې منبر جوړ کړو، بیا لس کاله بعد (ظاهر بیبرُس) بادشاه نوې منبر راولیږلو او د مظفر منبرئې لرې کړو او دغه منبر تر (٨٢٠ھ) سنه پورې موجود وو دې نه بعد بیا (مُؤید شَیْخُو) بادشاه بل نوې منبر راولیږلو (ذکره الحافظ ابن حجرؒ) او په سنه (٨٨٠ھـ) کښې بیا مسجد نبوی اُوسوزیدو نو (اَشرف قایتْبَای) بادشاه نوې منبر جوړ کړو چه هغه تر نن تاریخ پورې موجود دې۔ (حاشیة السندی علی النسائی – الصلاۃ علی المنبر، وعمدۃ القاری)۔

اَثْلِ : غز ونې ته وائي چه دیته طرفاء هم وائي بعض وائي دا مشابه ده د طرفاء ونې سره۔
او الْغَابَةِ : ځنګل ته وائي او دلته ددې نه مراد د مدینې په عوالي (بَره طرفونو کښې) جهت د شام ته یوه علاقه ده چه نهه میله فاصله د مدینې نه وړاندې ده۔ (عون المعبود، لمعات) او د بئر رُوْمَه نه شاته ده۔ (شرح بلوغ المرام للشیخ عطیه محمد سالم)
وَقَامَ عَلَيْهِ : حافظ فرمائي : نبی ﷺ په اُوچته پوړۍ باندې ولاړ وو۔ القهقری : شا بیرته راتللو ته وائي۔ او دا کارئې پدې وجه اُوکړو چه د قبلې نه ئې مخ وانهٔ وړی۔

فوائد الحدیث : ١– امام بخاریؒ پدې حدیث باندې استدلال کړې چه په منبر او لرګی باندې مونځ جائز دې۔ ٢– دارنګه امام بخاریؒ ترې معلومه کړې ده چه که امام د مقتدیانو نه بَره ولاړ وی نو جائز ده لیکن ددې جواب مخکښې تیر شو چه دلته علت ذکر دې چه هغه تعلیم د نبی ﷺ دې۔
٣– (رجع القهقری) لاندې نکته کښې لیکی : بخطوتین یعنی دا حنفي مولا د خپل مذهب دپاره حدیث ته د ځان نه پیوندونه وراچوی او نبی ﷺ د خپل ځان تابع کوی ځکه د احنافو مذهب دې چه درې قدمونه مُتوالی په مانځه کښې اخستل عمل کثیر دې او دا خوناروا دې نو ځکه وائي چه دلته نبی ﷺ صرف دوه قدمونه راشاته شویدې نهٔ درې لیکن دا خبره خطاء ده ځکه دلته هیڅ قرینه نشته چه دوه قدمونه روستو شویدې۔
بلکه ظاهر دا ده چه څلور قدمونه به روستو شوې وی ځکه چه د منبر د بَره سر نه راکوزیدل او بیا شاته تلل او سجده په زمکه لګول ډیر قدمونو سره کیږی۔ دا نقصان تول ددې قاعدې نه پیدا شویدې چه وائي درې قدمونه عمل کثیر دې۔ نهٔ، بلکه کوم عمل

چه نبی ﷺ کړے وی اګر که عمل کثیر وی خو هغه جائز دے۔ نبی ﷺ باندے پابندیانے نشی لګولے۔ او بیا نبی ﷺ داسے عمل همیشه ندے کړے بلکه دا واقعه په ژوند کښې یو کرت نیم راپیښه شویده دپاره د تعلیم د صحابه کرامؓ۔

٤- عملی تعلیم ورکول ډیر مؤثر وی په نسبت د بیان باندے پدے وجه اکثرو اوقاتو کښې به نبی ﷺ عملی تعلیم ورکولو چه ما ته اُوګورئ او زما په شان عمل اُوکړئ۔

۵- مقتدیانو دپاره په مانځه کښې امام ته کتل جواز لری ځکه چه دلته نبی ﷺ منبر ته ختلے دے او صحابه کرامؓ ته مونځ ښائی نو هغوی به ورته ضرور ګوری۔ خو پدے شرط چه د قبلے نه به مخ نهٔ اړوی۔ ٦- عبادت او تعلیم جمع کول روا دی لکه یو هلك ته د حفظ او جَمعے سره مونځ کولو تربیت ورکول۔

۷- امام ته په مانځه کښې او بهر د مانځه نه فتح ورکول جواز لری او دا قاعده خطاء ده چه مونځ د تعلیم او تعلم ځائے نهٔ دے۔

۹- وَعَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: صَلّٰى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فِيْ حُجْرَتِهٖ وَالنَّاسُ يَأْتَمُّوْنَ بِهٖ مِنْ وَرَاءِ الْحُجْرَةِ. رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه: او عائشه رضی الله عنها فرمائی: رسول الله ﷺ په خپله حجره (کوټه) کښې مونځ کولو او خلقو د هغهٔ پسے اِقتداء اُوکړه د حجرے نه شا ته۔ (ابوداوُدؒ)

تشریح: حدیث ئے دے دپاره راوړو چه کهٔ امام جُدا ولاړ وی او مقتدیانو ته نهٔ ښکاری نو هم خیر دے، مونځ کښې نقصان نهٔ راځی، د اِمام ښکاره کیدل د مانځه د صحت دپاره شرط نهٔ دے۔

حُجْرَتِهٖ: ددے حُجرے نه څهٔ مراد دے؟ ۱- بعض وائی: دا د عائشےؓ کوټه ده لیکن دا معنیٰ ظاهره نهٔ ده ځکه که دا د هغے کوټه وے نو هغے به داسے وئیلی وے (فی حجرتی) (زما کوټه کښې ئے مونځ اُوکړو) دویم دا چه دا ځکه نهٔ ده مراد چه د عائشےؓ کوټه خو چپ طرف د مسجد کښې ده نو صحابهؓ پسے څنګه اُودریدل دا خو بیا د قبلے نه ئے مخ اَوړی۔ فتفکر۔

۲- **ظاهر** دا ده چه دلته حُجْرَةُ الْحَصِيْر (د بزکی نه جوړه شوے کوټه) مراد ده یعنی رسول الله ﷺ په اعتکاف کښې په رمضان کښې ځانله یو معتکف خانه د بزکی نه جوړه کړے وه چه سر به ئے ترے ښکاره کیدو چه په تراویح کښې به په هغے کښې اُودریدو، نو صحابه کرامؓ راغلل او ورپسے شاته اُودریدل۔ لکه دا په بخاریؒ کښې راغلی دی۔ (حافظ ابن حجرؒ) نو حدیث دلیل دے چه که د امام او د مقتدیانو ترمینځ دیوال یا نهر یا لاره وغیره حائل شی نو څهٔ نقصان نشته۔ کله چه د امام تکبیر اَوری۔ پدے شرط چه د صفونو اتصال

به نهٔ خرابوی۔ داسے به نهٔ کوی چه امام دننه ولاړ وی او مسجد کښې ځائے وی او یو انسان بهر کوځه کښې اُودریږی، ځان د ګرمئ وغیره نه بچ کوی۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه ابوداود (١١٢٦) والبيهقي (١١٠/٣)

الفصل الثالث

١٠ – عَنْ اَبِىْ مَالِكِ الْاَشْعَرِيِّ، قَالَ: اَلَا اُحَدِّثُكُمْ بِصَلَاةِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ؟ قَالَ: اَقَامَ الصَّلَاةَ، وَصَفَّ الرِّجَالَ، وَصَفَّ خَلْفَهُمُ الْغِلْمَانَ، ثُمَّ صَلّٰى بِهِمْ، فَذَكَرَ صَلَاتَهُ، ثُمَّ قَالَ: «هٰكَذَا صَلَاةُ – قَالَ عَبْدُ الْاَعْلٰى : لَا اَحْسِبُهٗ اِلَّا قَالَ – اُمَّتِىْ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ.

ترجمه : ابو مالك اشعري ؓ نه روايت دے چه دهٔ (خلقو ته) اُوفرمايل: آيا زهٔ تاسو ته د رسول الله ﷺ دمونځ (طريقه) نهٔ بيانوم؟۔ وے فرمايل : (واورئ چه) نبي ﷺ مونځ اُودرولو او (اول ئے) د سړو صف ئے اُودرولو او (بيا) د هغوی نه روستو ئے د هلكانو صف اُوترلو، بيا ئے هغوی ته مونځ اُوكړو۔ ابو مالك د نبي ﷺ د مانځه (كيفيت) ذكر كړو، بيا هغهٔ اُوفرمايل : «دغه شان مونځ دے» عبد الاعلىٰ راوی فرمائی : زما په ابو مالكؓ باندے ګمان دے چه داسے ئے وئيلی دی : «زما د اُمت»۔ (ابوداودؒ)

تشريح : حديث ئے دے دپاره راوړے دے چه كله د اِمام سره خلق ډير وی نو اِمام به مخكښې اُودريږی او ماشومان به روستو اُودروی مثلاً نيت نهٔ دے تړلے شوے او ماشوم مخكښې ولاړ وو او مشر سړے راغلونو ماشوم به روستو كړے شي او كه نيت تړلے شوے وو هم روستو كول جواز لری لكه ددے روستو روايت نه معلوميږی۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه ابوداود (٦٧٧) واحمد والبيهقي وفي اسانيد الجميع شهر بن حوشب وهو ضعيف لسوء حفظه۔

---

١١ – وَعَنْ قَيْسِ بْنِ عُبَادٍ، قَالَ: بَيْنَا اَنَا فِى الْمَسْجِدِ، فِى الصَّفِّ الْمُقَدَّمِ، فَجَبَذَنِىْ رَجُلٌ مِنْ خَلْفِىْ جَبْذَةً، فَنَحَّانِىْ، وَقَامَ مَقَامِىْ فَوَاللهِ مَا عَقَلْتُ صَلَاتِىْ. فَلَمَّا انْصَرَفَ، اِذَا هُوَ اُبَىُّ بْنُ كَعْبٍ، فَقَالَ: يَافَتٰى ! لَا يَسُوْءُكَ اللهُ، اِنَّ هٰذَا عَهْدٌ مِنَ النَّبِىِّ ﷺ اِلَيْنَا اَنْ نَلِيَهٗ، ثُمَّ اسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ، فَقَالَ: هَلَكَ اَهْلُ الْعُقَدِ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ، ثَلَاثًا ثُمَّ قَالَ: وَاللهِ مَا عَلَيْهِمْ آسٰى، وَلٰكِنْ آسٰى عَلٰى مَنْ اَضَلُّوْا، قُلْتُ : يَا اَبَا يَعْقُوْبَ ! مَا تَعْنِىْ بِاَهْلِ الْعُقَدِ ؟ قَالَ : اَلْاُمَرَاءُ.

رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه : او قیس بن عبادٔ فرمائی : (یوه ورځ) پدے مابین کښں زهٔ په مسجد کښں په رومبنی صف کښں (په مانځه) ولاړ وم، نو د روستونه یو سړی په سختئ سره راخکلم او زهٔ ئے یو طرف ته کړم او پخپله زما په ځائے اُودریدو، نو قسم په الله (زهٔ دغصے په وجه) په خپل مانځه پوهه نهٔ شوم، هرکله چه هغهٔ شخص مونځ اُوکړو، (او ما هم مونځ اُوکړو او ومے لیدل) نو دغه وخت کښں دغه شخص ابی بن کعب (ﷺ) وو، هغهٔ اُوفرمایل : اے ځوانه ! الله دِے تا نهٔ خفه کوی، مونږ ته د نبی ﷺ دا وصیت دے چه مونږ به امام ته نزدے اُودریږو، بیا ئے قبلے تـه مـخ کړو او درے کرتے ئے اُوفرمایل :" قسم په رب د کعبه ! اهل عقد (سرداران) هـلاك شـو، او ومے فـرمـایـل : قسـم پـه الله ! زهٔ پـه سرداړانو غم نهٔ کوم، غم خو د هغهٔ خلقو (رعیت) دے چه سرداړانو هغوی لره گمراه کړل (پدے طریقه چه سرداران کوم کار کوی نو همغه کار رعایا هم کوی) قیس بن عباد فرمائی : ما اُووئیل: اے ابویعقوب ! د اهل عقد نه ستا څهٔ مراد دے ؟ هغهٔ اُوفرمایل :"امراء" (یعنی سرداران او حُکام)۔ (نسائیؒ)

تعارف د قیس : بـن عباد الـضبـعـی ابـی عبـد الله البـصـری ثـقه د کبار التابعین نه دے، مـخـضـرم دے، د اَتیـایـم (۸۰) هجری نه بعد وفات دے او چا چه په صحابه کرامو کښں شمارلے دے، نو خطاء شویدے۔ د عمر فاروق په خلافت کښں مدینے ته راغلو او د هغهٔ نه او د علیؓ او ابی بـن کعبؓ وغیره نه ئے روایتونه نقل کړل دا د کبار الصالحین نه وو۔ ابن مخنف ذکر کړیدی چه دا حجاج قتل کړیدے د هغه کسانو سره چه د ابن الاشعث سره ئے خروج کړے وو۔

تشریح : فَنَحَّانِیْ : ظاهر دا ده چه دا ئے په مانځه کښں جدا کړے دے۔ بیا چا چه یو ځائے مـخـکښں اُونیـولو نو هغه به د هغه ځائے نه نهٔ لرے کوے ددے نه حدیث کښں منع راغلے ده خو لیـکـن دلتـه مشران خلق نبی ﷺ مالـکـان کـړیـدی د مـخـکنی صف، نهٔ ماشومان نـو گـویا کښں دا ماشوم ئے دِ خپل مکان نه لری کړیدے۔ ماشوم پردی ځائے کښں ولاړ دے، نو بیا لری کول جواز لری۔

عَهْـدٌ مِنَ النَّبِيِّ ﷺ اِلَيْـنَا : کـعـب دے قول د نبی ﷺ تـه اشاره کوی : (لیـلـنـی منکم اولو الاحلام والنهی) (ماته دِے عقل مند خلق نزدے اُودریږی)

هَـلَكَ اَهْلُ الْعُقَدِ : عـقـد (پـه ضـمـه د عین او فـتـحه د قاف) جمع د عُقْدَة ده، اصل کښں غـوټے ورکـول او تړلو ته وائی، دلتـه تـرے مراد ولایت او عهده ده۔ یعنی اهل الولایات علی الامـصـار (پـه ښـارونـو بـانـدے مقرر گورنران او بادشاهان) دوی ته اهل عُقَد ځکه وائی چه پدے عادت جاری دے چه کله دوی په عهده مقرریږی نو دوی دپاره جنډه تړلے شی۔

ابی بن کعبؓ دا قول پدے وجه اُوکړو، اشاره ده دیته چه حُکام او مشرانو له پکار دی چه هغوی د صفونو لحاظ اُوکړی او ددے په برابرولو وصیت اُوکړی ځکه دا د دوی ذمه داری ده لکه څنګه چه د مسلمانانو د دنیاوی اُمورو رعایت کوی نو دغه شان به د دینی اُمورو لحاظ هم کوی۔ نو مشری ډیر ګران کار دے الله به د انسان نه ددهٔ د مسئولیتونو په باره کښې تپوس کوی۔

قُلْتُ : ددے قائل محمد بن عمر بن علی المقدمی شیخ النسائی دے۔ یا ابا یعقوب : دا د یوسف بن یعقوب السدوسی مولاهم السلعی البصری الضبعی کنیه ده۔(۲۰۱ ھ) کښې وفات دے۔ احمدؒ ورته ثقه وئیلے دے۔

اَلْاُمَرَاءَ : (دا منصوب دے په "اَعْنِیْ" سره یا مرفوع دے په "هُمْ" مبتدا مقدر سره) ددے نه مراد بادشاهان او والیان دی۔ یعنی په دوی زۂ خفه نۂ یم چه هلاك کیږی ځکه دا د دوی بدعمل دے ځان په زوره جهنم ته ګوزاری، خفګان په رعیت دے چه هغوی ئے ځان سره ګمراه کړل او د هغوی د مصالحو لحاظ ئے اُونه ساتو پدے کښې اِشاره کوی بعض امراؤ ته چه ددۀ په زمانه کښې وو۔

یا عام کافران مشران هم مراد کیدے شی نو بیا دا دلیل دے چه په کافرانو باندے خفګان نۂ دے پکار چه دا ولے جهنم ته ځی بلکه خوشحالیدل پکار دی رد دے په هغه خلقو چه دا وائی چه دا کافر ولے اُورته لاړو؟ قرآن کښې راځی : (فَکَیْفَ آسٰی عَلٰی قَوْمٍ کَافِرِیْنَ) (الاعراف) ځکه دوی ځان دپارهٔ د هلاکت سامان تیار کړیدے، خفګان ئے په تابعدارو پکار دے چه په جهالت سره ئے کندے ته ګوزار کړل۔

حدیث ئے دے دپاره راوړیدے چه په صف کښې به اهل العلم او اهل فضیلة مخکښې کولے شی۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه النسائی (۱/۱۳۰) واحمد (۵/۱۴۰) وابن خزيمة فی صحيحه.

باب الامامة

د امامت بیان

ددې نه مراد احکام د امامت دي په مانځه کښې او د امامانو صفات ذکر کول دي يعني امام مقررول۔ امامت د باب نصر نه د مصدر صيغه ده، مضاعف دی۔

مناسبت: مخکښې خاص احکام د مقتديانو وو اُوس اَحکام د اِمام بيانوی۔

امامت په دوه قسمه دے: ۱- امامتِ کبریٰ او عظمیٰ: او دیته خلافت وائی او ددے دپاره یولس شروط دی او دا هر څوك نشي كولے۔

۲- امامتِ صغریٰ: دا امامت د مانځه دے او ددے شرطونه کم دی دا هر څوك کولے شی سویٰ د کافر او فاسق نه ځکه فاسق اهل ددے منصب نه دے او دا امامت زنانه هم کولے شي زنانو ته۔ د سلفو په زمانه کښې به امامت صغریٰ او کبریٰ دواړه شريك وو ځکه خليفه به د مسجد امام هم وو، مونځونه به ئے کول، روستو زمانو کښې خلقو کښې جهالت زيات شو، بادشاهان په دين پوره نهٔ پوهيدل نو مساجد ئے علماؤ ته اُوسپارل او خپله به ئے حکومتونه کول نو سياست او دين ئے د يو بل نه جدا جدا کړو۔

الفصل الاول

١- عَنْ اَبِيْ مَسْعُوْدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: يَؤُمُّ الْقَوْمَ اَقْرَؤُهُمْ لِكِتَابِ اللهِ، فَاِنْ كَانُوْا فِي الْقِرَاءَةِ سَوَاءً، فَاَعْلَمُهُمْ بِالسُّنَّةِ، فَاِنْ كَانُوْا فِي السُّنَّةِ سَوَاءً، فَاَقْدَمُهُمْ هِجْرَةً، فَاِنْ كَانُوْا فِي الْهِجْرَةِ سَوَاءً، فَاَقْدَمُهُمْ سِنًّا. وَلَا يَؤُمَّنَّ الرَّجُلُ الرَّجُلَ فِيْ سُلْطَانِهِ وَلَايَقْعُدْ فِيْ بَيْتِهِ عَلٰى تَكْرِمَتِهِ اِلَّا بِاِذْنِهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ. وَفِيْ رِوَايَةٍ لَهُ: وَلَا يَؤُمَّنَّ الرَّجُلُ الرَّجُلَ فِيْ اَهْلِهِ».

ترجمه: ابومسعود رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «خلقو ته به امامتی کوی هغهٔ شخص چه د کتاب الله زيات قاري وی، (ښهٔ قرآن وائی) او که په قرآن نو ستلو کښې ټول يو برابر وو نو بيا به هغهٔ شخص اِمامت کوی چه په سنتو باندے زيات عالم وی او کهٔ د سنتو په علم کښې يو برابر وو نو بيا به هغهٔ شخص اِمامت کوی چه مخکښې وی د

خلقو نه په هجرت کښې او که هجرت کښې هم يو برابر وي نو بيا به هغهٔ شخص إمامت کوي چه په عُمر کښې د خلقو نه زيات وي، او يو سړے به د بل سړي په ځائے د قدرت کښې (علاقه کښې) امامتي نهٔ کوي، او د هغهٔ په کور کښې به د هغهٔ د عزت په ځائے (خاص کټ، بستره) نهٔ کينې، مګر د هغهٔ په اجازت۔» (که اجازهٔ اُوکړي بيا امامت او کيناستل جائز دي)۔ (مسلمٓ) او په يو روايت د مسلمٓ کښې داسے دي: «يو سړے دے بل سړي ته د هغهٔ په کور کښې امامت نهٔ کوي»۔

تشريح : يَؤُمُّ الْقَوْمَ : (**قانون**) يو ځائے کښې يو امام مقرر شويدے نو که هغهٔ هر قسم صفاتو والا وي نو حق د مقرر امام دے اګرکه مفضول وي او د بهر نه که هر متقي، عالم وغيره راځي نو د هغهٔ حق نهٔ دے مګر که مقرر امام ورته اجازت اُوکړي۔ او پدے حديث کښې چه اُوس دا مسئله بيانيږي نو دا په هغهٔ وخت کښې ده چه کله د يو مسجد دپاره امام مقررولے شي نو کوم صفاتو والا به مقررولے شي۔نو دے شرطونو ته به ګورے۔

دويم دا په سفر کښې وي چه ډير ملګري وتلي وي نو اُوس اختلاف راغلو چه څوك مخکښې کړو نو دے صفاتو ته به کتلے شي۔ او همدغه به مستحق وي۔نو پدے باندے عمل يا د امام مقررولو وخت کښې راځي يا په سفر کښې۔

اَقْرَؤُهُمْ لِكِتَابِ اللهِ: المسئلة الثانية لائق د امامت څوك دے ؟

اختلاف دے چه قاري به مخکښې کولے شي او که عالم ؟ ۱- د امام احمدٓ، اسحاق بن راهويهٓ، ابن سيرينٓ او ابويوسفٓ رايه دا ده او په «مجموع» کښې امام نوويٓ فرمائي : دا رأيه د ابن منذرٓ ده۔ چه اقرأ به مقدم کولے شي او عالم به روستو وي يعني چا چه د قرآن کريم الفاظ ښهٔ وئيل هغه به مقدم وي۔ ۲- د امام مالكٓ، ابوحنيفهٓ، شافعيٓ او امام بخاريٓ رايه دا ده چه أعلم به مقدم کولے شي۔ بقولِ عينيٓ دا د جُمهورو رايه ده۔

دليل القول الاول :۱- دليل : دا حديث صريح دے چه أقرأ به مقدم کولے شي بيا به أعلم۔ او دلته د أقرأ نه د قرآن زيات حافظ مراد دے۔ دليل پرے دويم حديث دے :

۲- دليل : حديث د عمرو بن سلمهٓ دے چه فصل ثالث کښې راځي (واخرجه البخاري) دا والي (فكنت اكثرهم قرآناً فقدّموني) (يعني زهٔ په خپل قوم کښې زيات قرآن حفظ کونکے وم نو خلقو زهٔ مخکښې کړم) او حال دا چه دا ماشوم وو او مشران موجود وو۔ سره ددے نه چه ددهٔ نه ډير پوهه موجود وو۔ او دا ښهٔ قوي دليل دے۔ دارنګه روستو د سالمٓ روايت دے چه هغهٔ إمام وو او حال دا چه عمر فاروقٓ موجود وو۔

دلائل الجمهور: جمهور دوه دلائل وائي: ۱- يو حديث د مستدرك (۲۴۳/۱) (فان كانوا في الهجرة سواءً فَأَفْقَهُهُمْ فِي الدِّيْنِ) (يعنى كه په هجرت كښې برابر وي نو بيا چه په دين باندې زيات پوهه وي نو هغهٔ به مخكښې كولې شي) ليكن دا روايت ضعيف دې ځكه حجاج بن أرطاة پكښې ضعيف راوي دې۔ دويم په دغه حديث كښې قلب شويدې د هجرت نه ئې خبره شروع كړيده حال دا چه هجرت روستو دې۔

۲- **قوي دليل**: امام بخاري په خپل صحيح كښې ذكر كړيدې او هغه دا چه نبي ﷺ فرمائيلي دي: (مروا ابا بكر فليصل بالناس) (ابوبكرؓ ته حكم اُوكړئ چه خلقو ته مونځ اُوكړي) او حال دا چه نبي ﷺ بل حديث كښې فرمائيلي دي: (اَقْرَأُكُمْ اُبَيٌّ) (زيات قاري په تاسو كښې ابي بن كعبؓ دې) او ابوسعيد خدريؓ فرمائي: (كان ابوبكر اَعْلَمَنَا)۔ (ابوبكرؓ په مونږ كښې لوئې عالم وو) نو دلته نبي ﷺ اَعْلَم مقدم كړو او اَقْرَأ ئې روستو كړو۔

او دوي جواب كوي (لكه صاحب الهدايه) چه په حديث د ابومسعودؓ كښې د اقرأ نه مراد اَعْلَم دې ځكه په زمانه د صحابه كرامو كښې به قاري عالم هم وو۔ لكه بيهقي اوحاكم (۱۱۰/۵) كښې راغلي دي: عبد الله بن مسعود فرمائي: (كنا اذا تعلمنا من النبي ﷺ عشر آيات من القرآن لم نتجاوز من العشر الذى نزلت بعدها حتى نعلم ما فيه) مونږ چه به لس آيتونه حفظ كړل نو مخكښې به نهٔ تلو تردې چه هغې باندې به مو ځان نهٔ وو پوهه كړې)۔

ليكن په دې **جواب** باندې دا اعتراض دې چه بيا خو په حديث كښې تكرار لازميږي ځكه چه روستو «فاعلمهم» لفظ راغلې دې ځكه چه دلته ئې اَعْلَم عطف كړيدې په اَقْرَأ باندې مطلب به دا شي: (يؤم القوم اَعْلَمُهُمْ فان تَسَاوَوْا فَاَعْلَمُهُمْ) معلوميږي چه د اقرأ نه مراد قاري دې او د أعلم نه مراد عالم دې۔ (سبل السلام)

علامه زبيديؒ فرمائي: مخالف چه پدې حديث كښې دا تاويل كوي چه اَقرأ په هغهٔ زمانه كښې اَفْقَهُ وو، نو دا مَرْدُود دې په دې قول د نبي ﷺ (فاعلمهم بالسنة) اگركه ددې نه بعضو دا جواب وركړې دې چه د اَقرأ نه مراد اَعْلَم بالقرآن دې او اَعْلَمُهُمْ بالسنة نه مراد د سنتو اَعْلَم دې۔ نو تكرار رانغلو۔

مگر راجح او ظاهر دا ده چه د اَقرأ نه مراد اكثرهم حفظاً للقرآن دې يعني چه چا ته قرآن زيات ياد وي۔ او په اَعْلَم بالقرآن باندې حمل كول خلاف ظاهر دي۔

دارنگه دا خبره كول چه په هغهٔ زمانه كښې به قاري عالم هم وو بعينهٖ مَرْدُوده ده په امامت د ابوبكرؓ باندې ځكه كه اُبي بن كعبؓ اقرأ د صحابه كرامو شي نو بيا خو به اَفْقَهُ او اَعْلَم هم هغه وي نو څنگه ابوبكرؓ مخكښې كيږي؟۔ دارنگه كه ابوبكرؓ اَعْلَم وي نو دا به

اَقْرأ هم وی نو بیا د (اقرأكم ابی بن كعب) معنیٰ څه ده ؟ فتفكر. هان صحابه كرامؓ كښې بعض هغهٔ وو چه د قراء ت سره ئې زیات تعلق وو، د چا د مسائلو سره زیات تعلق وو، د چا د میراثو سره زیات تعلق وو. د چا د اَحادیثو سره زیات تعلق وو. حفاظ الحدیث وو. اګرکه ټولو کښې د قراء ت ماده هم وه او د علم ماده هم. لیکن اُبی بن كعبؓ په ټولو کښې اَقرأ وو.

★-- دارنګه دا دعویٰ کول چه دا حدیث خاص دے په صحابه کرامؓ پورے نو دا بے دلیله دعویٰ ده. علامه سندیؒ فرمائی : دا حدیث فائده کوی تقدیم د اقرأ او عام فقهاء قائل دی په تقدیم د اَعْلم باندے او هغوی ددے حدیث نه دوه جوابه کوی یو دا چه دا حدیث منسوخ دے په امامت د ابوبکر (لکه دا خبره عینیؒ کړیده) سره ددے نه چه اقرأ په صحابه کرامؓ کښې اُبی بن كعبؓ وو او ابوبکرؓ اَعْلَم وو. لکه چه ابوسعید خدریؓ فرمائیلی دی.

او دویم دا دعویٰ کول چه دا حکم مخصوص دے په صحابه کرامؓ پورے چه په هغوی کښې به اَقْرأ اَعْلَم وو. نو پدے دواړو جوابونو کښې ښکاره تناقض دے چه په هیڅ پټ نهٔ دے، او لفظ ددے حدیث مفید د عموم د حکم دے. انتهیٰ.

(حاصل د تناقض دا دے چه اول وائی صحابه کرامؓ کښې به قاری، عالم هم وو، او بیا وائی : قاری مخکښې کول په عالم باندے منسوخ دی په امامت د ابوبکر باندے څکه چه دا عالِم وو او قاری نهٔ وو.) المرعاة (٤٨/٤)

او کوم علماء چه عَالِم ته ترجیح ورکوی نو هغوی کښې امام شافعی رحمه الله دا دلیل هم وئیلے دے چه په مانځه کښې کله کله داسے اَحکام عارضیږی چه هغے باندے صرف کامل عالِم پوهیدے شی او قاری خو به پوهه نهٔ وی نو د خلقو مونځونه به تباه کړی. او فقیه ته خو دومره قراء ت یاد وی چه مونځ پرے ادا کیدے شی. لهذا عالم به مقدم وی. صاحب هدایهؒ وائی : قراء ت ته صرف په یو رکن کښې حاجت راځی او علم ته په ټولو اَرکانو کښې ضرورت وی. مګر صاحب د مرعاة وائی چه دا ټول تعلیلات دی په مقابله د نص کښې. بلکه قراء ت ته ضرورت ډیر دے څکه هر وقت وی او مسائلو ته ضرورت کله کله راځی فتفکر. بله وجه دا ده چه په دوی کښې قراء ت د قرآن ته ترغیب دے لکه روستو په عبارت د شاه ولی الله کښې راځی.

او دارنګه بعض علماء دا هم وائی چه د ابوبکرؓ مخکښې کول یو وقتی واقعه وه چه په هغے کښې نبی ﷺ اشاره کوله چه ما نه روستو خلافت د ابوبکرؓ حق دے دا وجه ده هغهٔ د نبی ﷺ په ژوند کښې هم مونځ خلقو ته ورکړے دے. او نبی ﷺ هم وروسته شاته ولاړ وو. او مونږ ته ئې دا قانون کلی وئیلے دے چه (یؤم القوم اقرأهم لکتاب الله) .

او کوم علماء چه د عالِم مقدم کول غوره گنړی نو هغوی هم داسے تفصیل کوی وائی چه کۀ عالم باجوړے (گډوډ) قرآن وئیلو نو بیا به قاری غیر عالِم مخکښ کولے شی۔

او ۲- دارنگه یو شخص قاری او عالم دواړه وی نو دا به مقدم وی د محض قاری نه۔

۳- دارنگه یو شخص قاری او عالم دواړه وی دا به مقدم وی په نفس عالم باندے۔ او جمهور د حدیث د عمرو بن سلمهؓ نه دا جواب هم کوی چه هغۀ واقعه په ابتداء د اسلام کښ وه چه خلقو له قرآن نۀ ورتلو او د ابوبکرؓ زمانه آخری ده صحابه کرامؓ کښ قاریان موجود وو۔ نو ځکه عالم به مقدم وی په قاری باندے۔

مګر دا جواب چندان مزیدار نۀ دے ځکه چه دومره قرآن خو هغۀ قوم ته هم یاد وو چه مونځ پرے جائز کیږی بلکه په هغے کښ دا الفاظ دی چه مانه څوك زیات قرآن یادونکے نۀ وو۔او داسے ئے نۀ دی وئیلی چه چا له هیڅ نۀ ورتلل ځکه بیا ئے مونځونه څنګه کول؟۔

البته که د یو قاری آواز دومره ښائسته نۀ وو او د عالم آواز ښائسته وو چه په مانځه کښ د خلقو توجه ئے پیدا کوله نو بیا به عالم مخکښ کولے شی ځکه چه اَقرأ نه بعض علماؤ دا معنیٰ اخستے ده چه (اَحْسَنُهُمْ وَاَجْوَدُهُمْ قِرَاءَةً للقرآن وانْ كَانَ اَقَلَّهُمْ حِفْظاً) : (یعنی چه مزیدار او ښائسته آواز سره قرآن وائی اګرکه کم ئے یاد وی)

دا اختلاف په هغۀ صورت کښ دے چه اَقرأ به په اَعلم مقدم وی کله چه قاری ته د مانځه دومره احکام یاد وی چه د مانځه اصلاح پرے کولے شی البته که سُوچه جاهل وی او صرف الفاظ ئے یاد وی او مونځ غلط کوی نو بیا په اتفاق د علماؤ به قاری نشی مقدم کولے۔

فائدة نادرة : یؤم القوم اقرأ هم کښ عُموم دے نو د مَعذور سرِی اِمامت هم صحیح دے لکه اَعمیٰ، اَعْرابی، او ولد الزنا وغیره شو۔ ۲- فقه حنفی (البحر الرائق ۳۹۶/۳) او المبسوط وغیره کښ دی : چه ددے خلقو امامت مکروه دے، ځکه دا ضعیف دی او روغ خلق قوی دی او اقتداء د قوی په ضعیف پسے صحیح نۀ ده۔ مکروه ده۔

لیکن ددے جواب دا دے چه هرکله د اَعمیٰ وغیره مونځ ځانله صحیح دے نو اقتداء وریسے هم صحیح ده او د کراهت هیڅ قسم دلیل نشته۔ لکه فقه حنبلی کښ دا قاعده ذکر ده : (کل من صحت صلاته لنفسه صحت امامته) (الشرح الممتع علی زاد المستقنع ۱۶۵/٤) ۔(هرهغۀ څوك چه ځانله ئے مونځ صحیح وی نو د هغۀ پسے امامت صحیح دے)

فائده ۲ : پدے حدیث کښ اهل د امامت څلور کسان ذکر شویدی، او فقه حنفی کښ تقریباً دیارلسونه هم زیات ذکر شویدی۔ ۱- اول اَعْلَم بیا اَقْرأ بیا اَوْرَعْ (د شبهاتو نه ځان ساتونکے) بیا اَسَن (مُعَمّر) بیا اَقْدَمُهُمْ اِسْلَاماً (چه اسلام ئے مخکښ راوړے وی) اَقْدَمُهُمْ

هِجْرَةً (هجرت کښې د ټولو نه مخکښې وي) بيا اَحْسَنُهُمْ خُلُقًا (چه اَخلاق ئې مزيدار وي) بيا اَحْسَنُهُمْ وَجْهًا (چه مخ ئې ښائسته وي) بيا اَشْرَفُهُمْ نَسَبًا (چه نسب ئې شريف وي) بيا اَكْبَرُهُمْ رَأْسًا (چه سرئې غټ وي) بيا اَصْغَرُهُمْ عُضْوًا (چه ذَکرئې وړوکے وي) بيا اَحْسَنُهُمْ زَوْجَةً (چه ښځه ئې ښائسته وي) بيا اَكْثَرُهُمْ جَاهًا (مرتبه ئې اُوچته وي) بيا اَنْظَفُهُمْ ثَوْبًا (چه ډيرو پاکو جامو والا وي) بيا مُقِيْم بيا مُسَافِر۔ (البحر الرائق ۳۹۳/۳) رد المحتار (۲۳۳/٤) باب الاحق بالامامة) بيا طحطاوي پکښې لا دا هم زياتي کړيدي چه (اَصْغَرُهُمْ عُضْوًا) به وي په بل روايت د امام ابوحنيفهٌ کښې راځي، وائي : (اکبرهم عضواً) به وي (يعني عضو تناسل به ئې غټ وي) او د دواړو روايتونو دپاره ئې بيله بيله توجيه ذکر کړيده داسے نهٔ کوي چه رَد اُوکړي بلکه دوي ته خپل مشران داسے ښکاري لکه اَنبياء۔

نو اُوګوره دے مقلدينو د پيغمبر په فتوی باندے اکتفاء اُونکړه بلکه د ځان نه ئې ورسره زيادات اُوکړل۔ ديته تقدم بين يدي الله ورسوله وائي۔ او دا د دين پورے توقے دي۔ او نهٔ داسے چرته واقع کيدے شي دا د متفقهو تعمقات دي چه شريعت کښې مردود شويدي۔ او بے دينه خلق د دين نه متنفر کول دي۔

او هجرت په احاديثو کښې مخکښې ذکر دے دوئ هغه کوم ځائے ته يوړو؟۔

فَاَقْدَمُهُمْ هِجْرَةً : ځکه د الله دپاره هجرت چه چا مخکښې کړے وي نو ددهٔ فضيلت او شرافت زيات دے په هغه چاچه روستو ئې هجرت کړے وي۔

فَاَقْدَمُهُمْ سِنًّا: يعني د عمر په لحاظ په اسلام کښې زيات وي او په بل روايت کښې دي چه اسلام ئې مخکښې راوړے وي۔

وَلَا يَؤُمَّنَّ الرَّجُلَ الرَّجُلَ فِيْ سُلْطَانِهٖ : (اي في مکان حُکْمِهٖ) يعني يو سړے به د بل سړي په ځائے د سلطنت ملکيت، مشرئ او تصرف کښې امامتي نهٔ کوي لکه يو تن د مسجد اِمام دے يا صاحب مجلس دے يا داسے ځائے دے چه هلته د سړي حکم چليږي لکه بل روايت کښې (فِيْ اَهْلِهٖ) لفظ راغلے دے۔ نو ميلمه به هلته امامت نهٔ کوي اګرکه ډير اَفْقَهْ وي ځکه چه دا تباغض او اِختلاف ته رسي کوم چه د جماعت د مقصد خلاف ده۔ دارنګه حکمت دا هم دے چه پدے کښې د کور والا بے عزتي راځي چه د هغهٔ نه بے اجازے ته مخکښې کيږے، دارنګه کيدے شي ستا آواز به ښائسته وي او د هغه امام المحله آواز به خراب وي نو خلق به وائي امام خو دے ته وائي، اِيسته به خپل امام لرے کړي نو ستا په وجه هغه ته ضرر ملاؤ شو۔ نور حکمتونه هم شته، الله ته معلوم دي۔

لهٰذا ددے حديث نه معلومه شوه چه که په يو مقام کښې حاکمِ وقت امامت کوي يا د

هغهٔ د طرفـنـه يـو مـقـرر شـوے نـائب امامت كوى نو بل چا له دا مناسب نهٔ دى چه هغه اِمامتـى ته مخكښ شى، خاص طور سره په عيدين او جُمعے مونځونو كښ خو دا بالكل مناسب نهٔ دى۔ دغه شان په يو مسجد كښ امام مقرر وى يا كور والا موجود وى نو د مقرر امام او كور والا د اِجازت نـه بغير مخكښ كيدل د بل چا حق نهٔ دے ځكه پداسے كارونو كښ د سلطنت بے عزتى، خپل مينـځ كـښ بُغض او عِناد او ترك ملاقات، افتراق او اختلافات راپيدا كيږى او فتنے او فساد ته دروازه كولاويږى او حال دا چه د جماعت مشروعيت ددے غير اخلاقى څيزونو د سدِ باب دپاره شويدے۔

ددے وجه نه ابن عمرؓ به د حجاج بن يوسف په شان ظالم او فاسق پسے مونځونه كول او ابن مسعودؓ به د "وليد" پسے مونځونه كول او پخپله به نهٔ مخكښ كيدل دے دپاره چه ددے حديث مخالفت رانشى او اختلافاتو ته لاره كولاوه نشى۔

پدے كښ بيا (بقول الترمذیؒ) اسحاق بن راهويه وائى : كه كور والا ورته اجازت اُوكړى نو هم نهٔ به مخكښ كيږى۔ دليل كښ حديث د مالك بن الحويرث پيش كوى چه دهٔ سره د اِجازت نه امامتى نهٔ ده كړے۔ لكه ابوعطيهؒ فرمائى: مالك بن الحويرثؓ زمونږ مُصَلیٰ ته راغلو نو اقامت د مانځه اُوشو مونږ ورته اُووئيل مخكښ شه ! هغه اُووئيل : تاسو خپلو كښ يو سړے مخكښ كړئ چه مونځ درته اُوكړى او زر دے چه زهٔ به تاسو ته حديث بيان كړم چه زهٔ ولے تاسو ته مونځ نهٔ كوم، بيا ئے اُوفرمايل : ما د رسول الله ﷺ نه اَوريدلى دى چه فرمايل ئے : (من زار قوماً فلا يؤمهم وليؤمهم رجل منهم) (ابوداود، ترمذى، نسائى) وصححه الالبانى فى المشكاة وصحيح ابى داود رقم (٥٥٦) (١/١١٨) (چا چه د يو قوم ملاقات اُوكړو نو هغوى ته دِے امامتى نهٔ كوى بلكه په هغوى كښ دِے يو تن اِمامتى اُوكړى)

٢- مگر جمهور علماء فرمائى : كه كور والا اجازت اُوكړى نو امامتى كولے شى لكه په همدے حديث كښ روستو «الا باذنه » لفظ راغلے دے چه دا ددے ټولو سره لگى۔ لكه په روايت د مُنْتَقیٰ او سعيد بن منصور كښ د هر يو سره جُدا جُدا (الا باذنه) ذكر دے۔

او همدا حقه خبره ده۔ او حديث د مالك بن الحويرث ﷺ محمول دے په هغه صورت باندے چه بغير د اِجازت نه مخكښ شى نو ناروا ده۔ يا دا بناء دے په احتياط باندے۔او يا هغهٔ ته (الا باذنه) والا روايت نهٔ وو رسيدلے۔

نو دلته اگر كه زائر افضل دے او كور والا مفضول دے ليكن حق د كور والا دے مگر كه هغهٔ اجازت اُوكړى نو بيا مقدم كيدل جواز لرى۔ **علامه عراقیؒ** وائى : پدے كښ دا شرط دے چه كور والا به اَهل د امامت وى كه اهل نهٔ وى لكه زنانه وى، يا اُمِى وى او

ملاقات کونکے قاري وی نو پدے صورت کښې حق د زائر دے۔ ځکه په دے صورت کښې په کور والا کښې اَهلیت د امامت نشته۔(نیل الاوطار ۱۹٦/۳)

علامه شوکانیؒ دا هم فرمایلی دی : د سلطان نه مراد بادشاه دے کوم ته چه د خلقو ولایتونه سپارلے شوی دی، لهذا سلطان به مقدم وی په غیر باندے اگرکه غیر سلطان په قرآن یادولو او فقه او ورع او فضیلت کښې زیات وی، نو دا داسے شو لکه مخصص د ماقبل، یعنی اول د حدیث محمول دے په ماسویٰ د امام اعظم او نائب باندے۔

او د کور والا په مقدم کولو باندے خصوصی یو حدیث هم راغلے دے ابن مسعود فرمائی : من السنة ان یتقدم صاحب البیت) (طبرانی باسناد صحیح) قال الهیثمی : رجاله رجال الصحیح، وقال الحافظ : رجاله ثقات) (نیل۱۹٦/۳، التلخیص الحبیر۱۰۲/۲) (دا سنت دی چه کور والا به جَمعے ته مخکښې کیږی) بیا دے حدیث کښې ورسره دا قصه هم ده چه عبد الله بن مسعود ابو موسیٰ خوا ته راغلو د هغهٔ سره ئے خبرے اترے اوکړے بیا د مانځه وخت شو نو ابو موسیٰ روستو شو نو عبد الله ورته اوفرمایل : تا ته پته ده چه سنت دا ده چه صاحب البیت مخکښې شی)

بیا علماؤ وئیلی دی چه کور والا له پکار دی چه د خپل ځان نه افضل ته اجازت اُوکړی۔ والله اعلم۔

وَلَايَقْعُدْ فِيْ بَيْتِهٖ عَلٰى تَكْرِمَتِهٖ اِلَّا بِاِذْنِهٖ: تکرمه اصل کښې مصدر دے لیکن دلته ترے مجازاً هغه ځائے مراد دے چه سړی له تیار شوے وی دپاره د اکرام د هغهٔ یعنی د چا په کورکښې به د هغهٔ د عزت په ځائے (بستره بالخت، جانماز به) نهٔ کینی مگر که هغهٔ اِجازت ورکړی نو خیر دے۔ وجه دا ده پدے کښې د هغهٔ د عزت مخدوش کیدل دی۔

فائده : شاه ولی الله په «حجة الله» کښې لیکی : د اقرأ د مقدم کولو سبب دا دے چه نبی عليه السلام د علم دپاره یو معلوم حد مقرر کړیدے او ددے علم اول سر د الله د کتاب نه شروع کیږی ځکه دا اصل د علم دے، دارنګه دا د شعائر الله نه دے، نو بس واجب شوه چه څوك د کتاب الله والا وی هغه به مقدم کولے شی او د هغه مرتبه پورته کول پکار دی، دے دپاره چه خلقو ته دعوت شی چه د الله په کتاب کښې رغبت اُوکړئ او دا سبب نهٔ دے چه ګنے په مانځه کښې فقط قراءت ته حاجت دے۔

لیکن اصل غرض خلقو له دعوت ورکول دی په قراءت د کتاب الله۔ بیا د سنتو پیژندل دی ځکه دا د کتاب الله تابع دی او د نبی عليه السلام میراث دے، بیا د هغے نه بعد هجرت الی النبی صلى الله عليه وسلم دے ځکه نبی عليه السلام د هجرت ډیر عظمت بیان کړیدے او دے کښې ئے ډیر ترغیب

ورکړیدے۔ بیا زیات عمر دے ځکه په تولو دینونو کښې مشهوره خبره د مشرانو توقیر او احترام کول دی۔ بلکه دا چه دا زیات تجربے او ډیر حلم والا وی او ذی سلطان باندے د هغهٔ په سلطنت کښې مخکښې کیدل ئے ځکه منع کړل چه دا کار په هغهٔ باندے ډیر ګران او مشقت پریوځی او د هغهٔ په سلطنت کښې عیب لګول دی نو هغهٔ باندے د رحم کولو په وجه دا منع اُوشوه۔ انتهیٰ۔

۲– وَعَنْ اَبِیْ سَعِیْدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اِذَا کَانُوْا ثَلَاثَةً فَلْیَؤُمُّهُمْ اَحَدُهُمْ، وَاَحَقُّهُمْ بِالْاِمَامَةِ اَقْرَؤُهُمْ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ. وَذُکِرَ حَدِیْثُ مَالِكِ بْنِ الْحُوَیْرِثِ فِیْ بَابٍ بَعْدَ بَابِ «فَضْلِ الْاَذَانِ».

ترجمه: او ابوسعید ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ فرمایلی دی: «کله چه خلق درے کسان وی نو یو تن (غوره) به هغوی ته امامتی کوی، او ډیر حقدار د خلقو نه په امامتی کولو هغهٔ څوك دے چه زیات قاری د قرآن وی»۔ (مسلم) او حدیث د مالك بن الحویرث د باب «فضل الاذان» نه یو باب روستو ذکر شویدے۔

تشریح: ددے حدیث د مفهوم العدد نه معلومیږی چه اقل جماعت درے کسان دی او حال دا چه د مالك بن الحویرث ﷺ حدیث کښې نبی ﷺ دهٔ او ددهٔ ترهٔ څوی ته فرمائیلی وو: (اذا حضرت الصلاۃ فاذنا واقیما ولیؤمکما اکبرکما) نو دے نه معلومیږی چه دوه کسان هم جماعت دے۔ لهذا پدے حدیث کښې به مفهوم العدد له اعتبار نهٔ وی۔

اَحَدُهُمْ: پدے کښې اشاره ده چه امامت د مفضول هم جائز دے لیکن د افضل امامت غوره دے۔ لیکن روستو وائی چه اقرأ ډیر حقدار دے۔

اَقْرَؤُهُمْ: یعنی کوم څوك چه ډیر قرآن یادونکے وی او ښهٔ طریقے سره قرآن لوستے شی هغه به د امامت حقدار دے۔ او دا ظاهر د حدیث دے۔

وَذُکِرَ حَدِیْثُ مَالِكِ بْنِ الْحُوَیْرِثِ: مصنف وائی په مصابیح کښې دلته حدیث د مالك بن الحویرث راغلے وو او هغه دلته مشکاۃ کښې نهٔ ښکاری هغه دا دے: (صلوا کما رأیتمونی اصلی واذا حضرت الصلاۃ فلیؤذن لکم احدکم ثم لیؤمکم اکبرکما) نو مصنف وائی چه دا د «باب فضل الاذان» نه روستو باب کښې ذکر شویدے ځکه چه د حدیث اوله جمله د اذان سره متعلق ده۔

الفصل الثانی

۳– عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «لِیُؤَذِّنْ لَکُمْ خِیَارُکُمْ وَلْیَؤُمَّکُمْ قُرَّاؤُکُمْ».

رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه: ابن عباس ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ اُوفرمایل: «اذان دِے کوی تاسو ته غوره په تاسو کښې او امامت دِے کوی تاسو ته زیات قرآن لوستونکی ستاسو». (ابوداودؒ)

تشریح: خِيَارُكُم جمع د خَيْرٌ ده غوره ته وائي. اذان دعوت دے او د غوره خلقو دعوت کښې تاثیر زیات وي نو ځکه ئې اُوفرمایل چه غوره خلقو له اذان پکار دے.

دارنګه مؤذن اُوچت ځایونو ته خیژي نو نظر به ئې په پردو عورتونو او زنانو لګی لهذا غوره سړی له اذان پکار دے چه نظر ئې د عورتونو نه محفوظ شي. او دارنګه غوره خلق د اَوقاتو په لحاظ کولو کښې احتیاط کوي.

او په دے کښې ماشوم هم داخل دے هغه هُم اذان کولے شي سِوئ د فاسق نه ځکه فاسق ددے منصب لائق نهٔ دے.

درجة الحديث: اسناده ضعيف: اخرجه ابوداود (۵۹۰) وابن ماجه (۷۲٦) والبيهقي (۴۲٦/۱) وفي اسناده حسين بن عيسى الحنفي ضعفه الجمهور وقال البخاري في هذا الحديث منكر.

۴- وَعَنْ اَبِیْ عَطِيَّةَ الْعُقَيْلِيِّ، قَالَ: كَانَ مَالِكُ بْنُ الْحُوَيْرِثِ يَأْتِيْنَا اِلٰى مُصَلَّانَا يَتَحَدَّثُ، فَحَضَرَتِ الصَّلَاةُ يَوْمًا، فَقَالَ اَبُوْعَطِيَّةَ: تَقَدَّمْ فَصَلِّهْ. قَالَ لَنَا: قَدِّمُوْا رَجُلًا مِنْكُمْ يُصَلِّيْ بِكُمْ، وَسَاُحَدِّثُكُمْ لِمَ لَا اُصَلِّيْ بِكُمْ؟ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ: «مَنْ زَارَ قَوْمًا فَلَا يَؤُمَّهُمْ، وَلْيَؤُمَّهُمْ رَجُلٌ مِنْهُمْ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ اِلَّا اَنَّهُ اقْتَصَرَ عَلٰى لَفْظِ النَّبِيِّ ﷺ.

ترجمه: او ابو عطیه عقیلیؒ فرمائی: مالك بن حویرث ﷺ به مونږ ته زمونږ عیدګاه ته راتلو او (د رسول الله ﷺ) حدیثونه به ئې بیانول. نو یوه ورځ د مانځه وخت شو. ابوعطیهؒ وائی: مونږ مالك بن الحویرث ته اُوفرمایل: مخکښې شهٔ (مونږ ته) مونځ اُوکړه. هغهٔ مونږ ته اُوفرمایل: تاسو یو سړے مخکښې کړئ چه تاسو ته مونځ اُوکړی او زهٔ به تاسو ته بیان کړم چه ولے زهٔ تاسو ته مونځ نهٔ کوم (نوواورئ چه) ما د رسول الله ﷺ نه اَوریدلی دی چه فرمایل ئې: «څوك چه د یو قوم ملاقات ته لاړ شي نو هغوی ته دِے امامتی نهٔ کوی بلکه په هغوی کښې دِے یو سړے هغوی ته امامتی اُوکړی». (ابوداودؒ، ترمذیؒ، نسائیؒ)

تعارف د ابوعطیه: دا د بنو عقیل مَولٰی دے ابوالحسن القطانؒ فرمائی: مجهول دے

مگر حافظ په تقريب کښې فرمائی: مقبول دے۔

تشريح: دا حديث دليل دے د اسحاق بن راهويۃ دپاره چه ميلمه به کور به ته اِمامتی نۀ کوی اګرکه اِجازت ورته ورکړے شی، ليکن ظاهر قول د جمهورو دے چه بغير د اِجازت نه منع دے او د اِجازت نه روستو هغه خپل حق ميلمه ته ورکړو نو امامت د ميلمه صحيح دے خاصکر چه ميلمه لائق د اِمامت وی، عالم وی قاری وی۔ او مالك بن الحويرث چه مرفوع حديث پيش کړو نو هغے کښې اګرکه د اِجازت او غير اِجازت تذکره نشته ليکن نورو اَحاديثو کښې (اِلا باذنه) راغلے دے لهذا دا به محمول وی په عدم اِجازت باندے۔ او هر چه د مالك بن الحويرث اِستدلال دے چه هغه د اِجازت نه روستو هم اِمامتی اُونکړه نو دا د هغۀ اِحتياط او اِجتهاد دے چه په مطلق او ظاهری الفاظو ئے عمل کړيدے۔ مګر بل طرفته احاديثو ته چه اُوکتل شی نو د هغے نه اِجازت معلوميږی لهذا بعد الاِذن بالکل جائز دے۔ والله اَعلم۔

وَسَأُحَدِّثُكُمْ: دا سين يا د تاکيد دپاره دے يا د استقبال دپاره دے که د استقبال دپاره شی نو دا حديث ئے ورته د مانځه نه پس بيان کړو او که د تاکيد دپاره شی نو په دغه وخت کښې به ئے بيان کړے وی۔

درجة الحديث: اسناده حسن والحديث صحيح: اخرجه احمد (٤٣٦/٣-٤٣٧) (٥٣/٥) وابوداود (٥٩٦) والترمذی (٣٥٦) والنسائی (٨٠/٢) وابن خزيمة (١٥٢٠) وصححه الالبانی فی صحيح الجامع الصغير (٧٢١)

٥- وَعَنْ اَنَسٍ، قَالَ: اِسْتَخْلَفَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ ابْنَ اُمِّ مَكْتُوْمٍ يَؤُمُّ النَّاسَ وَهُوَ اَعْمٰى. رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ.

ترجمه: او انس رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ ابن ام مکتوم خپل خليفه (قائم مقام) جوړ کړو چه خلقو ته مونځونه کوی او هغۀ ړوند وو"۔ (ابوداود)

تشريح: يعنی رسول الله ﷺ به چه کله جهاد ته وتلو نو په مسجد نبوی کښې به ئے خپل قائمقام ابن ام مکتومؓ مقرر ولو۔ پدے کښې اشاره ده دهٔ فضيلت ته او دائے په ديارلس غزواتو کښې خپل خليفه مقرر کړے وو، (قاله الشعبی وابن عبد البر، عون المعبود ٤٠٤/٦ الضرير يولی) (المغنی ٣١/٢) ځکه چه نبی عليه السلام ته په سورة عبس کښې دهٔ په وجه تنبيه ورکړے شوے وه، نو هغۀ ورله ځکه داسے اعزاز ورکړو۔

يَؤُمُّ النَّاسَ: دا بيان د اِستخلاف دے يعنی دا خليفه جوړول په مانځه کښې وو۔ او ابن

حجر هیثمیؒ وئیلی دی چه عام اِستخلاف په مدینه باندے دوه کرته وو لکه دا په روایت د انسؓ کښې دی، لیکن حافظ ابن حجرؒ او ابن الاثیرؒ وائی چه نورو روایاتو کښې زیادت دے نو هغهٔ حجت دے۔ او امیر یمانیؒ په «سبل السلام» کښې فرمائی : دا خلافت په مونځونو او غیر مونځونو کښې وو۔ لکه دا په روایت د طبرانیؒ کښې په (اسناد حسن) نقل دی۔

دا حدیث ددے دپاره راوړے شویدے چه د ړوند سړی امامت بینا خلقو ته جائز دے۔ کله چه ړوند اَقرأ وی۔

مسئله : د ړوند سړی اِمامت صحیح دے

د اعمیٰ په امامت کښې اختلاف دے : ۱– عند الجمهور بلا کراهت جائز دے۔
۲– احناف وائی : جائز مع الکراهة دے۔ ۳– بعض فرق کوی : (ان کان لا یتوقی من النجاسة فهو مکروه والا فلا کراهة) یعنی که ځان د نجاست نه ساتلے شی نو مکروه نهٔ دے او که نجاست نه ځان نشی ساتلے نو بیا دکراهت سره جائز دے۔

د **کراهت** والو سره هیڅ دلیل نشته سِویٰ ددے نه چه وائی : اَعمیٰ د نجاست نه ځان نشی ساتلے نو کیدے شی چه نجاست ورته لګیدلے وی او خلقو ته مونځ اُوکړی لهذا مونځ ئے مکروه دے۔ لکه احنافو دا خبره په توله فقه حنفی کښې ذکر کړیده۔

لیکن دا هیڅ خبره نهٔ ده، د ډیرو وجونه خطاء ده۔ یو خو دا چه ډیر بینا خلق ځان د ګندګئ نه نشی ساتلے او ډیر ړانده احتیاط کوی، نو مطلقاً داسے نهٔ دی وئیل پکار چه د اَعمیٰ اِمامت مکروه دے بلکه داسے وئیل پکار دی چه که ګندګئ نه ځان نشی ساتلے نو بیا به مکروه وی۔

او زمونږ خبره هم په هغه اَعمیٰ کښې ده چه د ګندګئ نه ځان ساتی، ځکه ګندګئ والا اَعمیٰ خوك مونځونو ته نهٔ مخکښې کوی بلکه هغه اَعمیٰ چه هغهٔ کښې شرائط د اِمامتئ پوره وی، اقرأ وغیره وی نو داسے شخص ضرور د ګندګئ نه ځان ساتی۔

دویمه وجه دا ده چه دا د ډیرو نصوصو خلاف فتویٰ ده چه امامت د اَعمیٰ مکروه دے۔ او هغهٔ نصوص او دلائل دا دی :

۱– یو عموم ددے قول د نبی ﷺ : (یؤم القوم اقرأهم لکتاب الله) نو دا شامل دے اَعمیٰ او غیر اَعمیٰ تولو ته کله چه اَعمیٰ اَقرأ وی د بصیر نه۔ (مسلمؒ) او دیته امام بخاریؒ په خپل صحیح کښې اِشاره کړیده۔ (۱٤٧/۲) بشرح الفتح)

۲– **دلیل** : دا حدیث الباب دے۔ نبی ﷺ عبد الله بن ام مکتومؓ چه ړوند وو خپل خلیفه جوړ کړیدے۔

٣- **دليل**: عتبان بن مالك ﷺ روند وو او نبى ﷺ هغه د خپل قوم امام جوړ كړے وو۔ (بخارى (٦٠/١) بيهقى (٨٧/٣)
٤- مغنى (٣١/٢) لابن قدامه كښې دى: «وقد ثبت عن ابن عباس انه كان يؤم وهو اعمىٰ وكذلك عتبان بن مالك وقتادة وجابر الخ) يعنى ابن عباس، عتبان بن مالك، قتاده او جابر بن عبد الله ﷺ د روند والى په زمانه كښې امامتى كړيده۔
٥- ابن ابى شيبه (٣٨٦) او عبد الرزاق (٣٩٤/٢) كښې دى: زهرىؒ فرمائى: ډير سرى د اَصحابو د رسول الله ﷺ (بدريانو) سترگے ړندے شوے وے نو هغوى به خپلو خپلو قبيلو ته إمامتى كوله (چه بعض دهغوى نه عبد الله بن ام مكتوم، عتبان بن مالك او معاذ بن عفراء (ﷺ) دى۔ (وسنده صحيح)۔
٦- مجمع الزوائد (١٦٨/١) كښې دى: عبد الله بن عمير بن حطمه د رسول الله ﷺ په زمانه كښې د بنى حطمه امام وو او (حال دا چه) هغه روند وو۔
نو ددے قوى دلائلو په مقابله كښې مسلمان له دا جائز نه دى چه دا په تاويلى ما ويلى باندے رد كړى بلكه د نبى ﷺ او د هغهٔ د هيڅ صحابىؓ نه په صحيح سند ددے خلاف نهٔ دے نقل لهذا ددے دلائلو نه پس د اعمىٰ امامتى ته مكروه وئيل ظلم دے او د صريح نصوصو مخالفت دے۔ او د ابن مسعودؓ كوم اثر چه صاحب د اعلاء السنن (٢١٠/٦) د خپل مذهب په تائيد كښې ذكر كړيدے چه ابن مسعودؓ فرمائى: (ما احب ان يكون مؤذنوكم عميانكم قال: واحسبه قال: ولا قرائكم -مجمع الزوائد (٢/٢)
(يعنى زهٔ دا نهٔ خوښوم چه ستاسو مؤذنين يا قاريان ړانده وى) نو ددے اثر نه استدلال كول په كراهت د امامتى د اعمىٰ باندے باطل دىٰ د يو څو وجوهو نه اول څو دا موقوف اثر دے او خلاف دے د مرفوع او موقوف آثارو نه۔ ٢- دويم پدے كښې شك د راوى دے چه مؤذنين ئے ياد كړى دى او كه قراء۔ ٣- دريم دا چه كه قراء مراد شى نو دا د ابن مسعودؓ خپله رايه ده او حديث ورسره په تائيد كښې نشته بلكه اَحاديث په بل طرف كښې دى۔
٤- يا دا محمول دے په هغه صورت باندے چه د اَعمىٰ نه افضل خلق موجود وى۔ راجع فتاوى الدين الخالص (٢٠٦/٥)
علامه شوكانىؒ فرمائى: امام غزالىؒ او ابو اسحاق المَروَزِىؒ فرمائى: «إمامت د اَعمىٰ اَفضل دے د امامت د بَصِير نه ځكه چه ددهٔ خشوع زياته وى د بينا نه ځكه د بينا سرى زړهٔ په ليدلے شوى څيزونو مشغول وى او بعضو ديته ترجيح وركړيده چه امامت د بينا افضل دے ځكه چه دا د نجاست نه ځان ډير ساتلے شى، او علامه ماوردىؒ د امام شافعىؒ د نص نه

دا فهم کړیده چه امامت د اَعمیٰ او بصیر دواړه په عدم کراهیت کښې برابر دی ځکه په هر یو کښې فضیلت شته لیکن امامت د بصیر ډیر اَفضل دے ځکه اکثر امامان چه نبی ﷺ مقرر کړیدی نو هغه بینا وو او ابن ام مکتومؓ چه ئې په بعض غزواتو کښې نائب مقرر کړے وو نو ددے وجه دا وه چه د غزا نه به په مومنانو کښې معذور پاتے کیدو او شاید چه په متخلفینو کښې هغهٔ څوك نهٔ وو چه ددهٔ قائمقام جوړ شي یا به دے ته فارغ نهٔ وو یا ئې د بیان د جواز دپاره خلیفه جوړ کړیدے۔ (نیل الاوطار ۱۹۷/۳) المرعاة(۵٤/٤)

علامه ابن الملك فرمائي: د اعمیٰ د امامت کراهیت په هغه صورت کښې دے چه کله په قوم کښې روغ موجود وي چه هغهٔ ډیر اَعلَم وي ددهٔ نه یا ددهٔ سره په علم کښې برابر وي۔ والله اعلم ۔ پدے ټولو کښې صحیح خبره دا ده چه کله اَعمیٰ لائق د امامت وي او اَقرأ وي او دده مدِ مقابل څوك نهٔ وي نو ددهٔ مقدم کول پکار دي۔

درجة الحديث: اسناده صحيح لغيره: اخرجه احمد (۱۹۲/۲) وابوداود (۵۹۵) وصححه الالباني في ارواء الغليل (۳۱۱/۲) رقم (۵۳۰)

۶- وَعَنْ اَبِیْ اُمَامَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «ثَلَاثَةٌ لَاتُجَاوِزُ صَلَاتُهُمْ آذَانَهُمْ: اَلْعَبْدُ الآبِقُ حَتّٰی یَرْجِعَ، وَامْرَأَةٌ بَاتَتْ وَزَوْجُهَا عَلَیْهَا سَاخِطٌ، وَاِمَامُ قَوْمٍ وَهُمْ لَهٗ کَارِهُوْنَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ، وَقَالَ: هٰذَا حَدِیْثٌ غَرِیْبٌ.

ترجمه: او ابوامامه ؓ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمائیلي دي: «درے کسان دي چه دهغوی مونځ دهغوی د غوږونو نه نهٔ تیرېږی: (۱) یو هغهٔ غلام چه (د مالك د اِجازت نه بغیر) تختیدلے وي (مونځ ئې نهٔ قبلیږی) تردے چه واپس راشي۔ (۲) او هغهٔ زنانه چه شپه تیره کړی په داسے حال کښې چه خاوند دهغے په هغے باندے غصه وي۔ (۳) او دریم یو قوم ته اِمامتي کونکے شخص چه قوم ئې بد ګڼړي»۔ امام ترمذيؒ دا روایت نقل کړیدے او وئیلي ئې دي چه دا حدیث غریب دے۔

تشریح: د غوږونو نه مونځ نهٔ تیریدل کنایه ده د نهٔ قبلیدو نه یعنی آسمان ته نهٔ پورته کیږی چه قبول شي لکه په حدیث د ابن عباسؓ کښې راروان دي۔او د غوږونو تخصیص ئې اُوکړو ځکه چه دا نزدے دي ځکه پدے کښې د تلاوت آواز اَوریدلے شي یعنی دوی صرف خپل تلاوت او دعاء اَوری مګر د الله په نزد قابل قبول نهٔ دے۔

اَلْعَبْدُ الآبِقُ : یعني اول د هغوی نه هغهٔ سړے دے چه د مالك د اِجازے نه بغیر اُوتختي،

نشوز او نافرمانی شروع کړی مګر که د تختیدو نه راواپس شی نو بیا به ئے مونځ قبلیږی۔ او دا حکم د تختیدونکی وینځے هم دے۔

۲- دویمه هغه زنانه چه خاوند ترے خفه وی د هغه حاجات نهٔ پوره کوی، بد اَخلاقه وی، یا بے اَدبه وی یا ئے پوره طاعت نهٔ کوی، او که چرے خاوند پرے بغیر د څهٔ جُرم نه غصه وی د خاوند د طرفنه بد اَخلاقی وی نو بیا به ښځه ګناهګاره نهٔ وی۔ ورنه کبیره ګناه ده۔ ((باب عشرة النساء)) کښې به راشی چه ملائك پداسے ښځه باندے تر سحره پورے لعنت وائی۔

د امام بد ګنړل په دوه قسمه دی

۳- دریم هغه امام چه خلق ترے ناراضه وی او دا ورته مونځونه کوی۔

او دا کراهت بیا دوه قسمه دے ۱- لمذموم شرعی: یعنی خلق ترے پدے وجه خفه وی چه ناروا کارونه کوی لکه بدعت کوی فاسق وی، جاهل وی۔ مونځونه خراب کوی، زر زر اوبے وخته ئے کوی۔ فاسقانو سره کینی پاځی او دلته همدا مراد دے۔

۲- دویم لامر دنیوی: یعنی د امام او د خلقو ترمینځ دنیاوی کارباندے عَداوت او کراهت وی نو دا نهٔ دے معتبر۔ کله چه هغهٔ د شریعت مطابق مونځ کوی۔ علامه شوکانیؒ فرمائی: د موحدینو او دیندارو خلقو کراهت له اعتبار دے نهٔ د بد عملو خلقو۔ تردے چه امام غزالیؒ په احیاء علوم الدین کښې فرمائی: که دیندار خلق کم وی او امام بد ګنړی نو دوی ته به کتلے شی۔(ځکه چه د فاسقانو عوامو خلقو څو هغه موحدین امامان بدی شی چه اُوګده او ښائسته مونځونه کوی نو د دوی دے کراهت له هیڅ اِعتبار نشته بلکه دوی پدے بد ګنړلو ګناهګار دی کما فی الترمذی عن منصور)

امام ترمذیؒ فرمائی: (فاذا کان الامام غیر ظالم فانما الاثم علی من کرهه) (کله چه امام ظالم نهٔ وی نو ګناه په بَدُ ګنړونکی ده)۔

بیا فرمائی: بعض علماؤ دا مقید کړیدے پدے چه بد ګنړونکی به اکثر مقتدیان وی او یو یا دوه او درے کسانو له اِعتبار نشته، کله چه مقتدیان غټ جماعت وی مګر که مقتدیان دوه او درے کسان وی نو بیا د دوی کراهت یا د اکثرو کراهت به معتبر وی۔

(امام ترمذیؒ د احمدؒ او اسحاقؒ نه نقل کوی: (اذا کَرِهَ واحِدٌ او اثنان او ثلاثة فلا بأس ان یصلی بهم حتی یَکْرَهَهٗ اَکْثَرُ الْقَوْمِ) یعنی د اکثرو نیکانو مقتدیانو کراهت له به اعتبار وی۔ دارنګه امام شافعی رحمه الله پکښې دا قید لګولے دے چه دا کراهت محمول دے په ماسِوٰی د حاکمانو او والیانو باندے ځکه بادشاه او ګورنرانو ته د خلقو هسے قهر کیږی۔

ليکن علامه شوکانیؒ فرمائی : ظاهر د حديث کښې فرق د واليانو او غير واليانو نشته. (نيل الاوطار (۲۱۸/۳)

بيا بعض علماء دا حديث په تحريم باندې حملوی چه دا کار حرام دې ځکه چه مونځ د غوړونو نه تير نۀ شو نو قبول نۀ شو نو دا دليل د تحريم دې. او بعض علماؤ ورته مکروه وائی. ليکن علامه شوکانیؒ فرمائی : چه ظاهر دا ده چه دا محمول دې په تحريم باندې دليل پدې باندې نفی د قبول دې، او بل ددې کار په کونکی باندې لعنت راغلې دې په حديث د ترمذی کښې (لعن رسول الله ﷺ ثلاثة رجل ام قوماً وهم له کارهون) الحديث).
مالکيه پکښې لا دا وائی چه که لږو خلقو بد ګنړلو اګرکه غير ذوی الفضل وی د وجه د داسې کار کولو نه چه هغۀ په دۀ باندې عيب لګوی لکه د سنت په پريخودلو کښې سستی کوی لکه سنت يا وتر يا اخترونه يا نوافل پريدی نو بيا به د امام مونځ مکروه وی. او کله ئې چه ټول خلق يا اکثر يا ذوی الفضل خلق اګرکه لږ وی بد اوګنړی بيا به ددۀ مونځ حرام وی. (الموسوعة الفقهية)

درجة الحديث :اسناده حسن : اخرجه الترمذی (۳۶۰) وقال حديث حسن غريب وقال الشيخ احمد شاكر (بل هو حديث صحيح فان ابا غالب ثقة وثقه موسى بن هارون الحمال والدارقطنی وغيرهما (وابن معينَ وابن عدی والترمذی) نيل (۲۱۷/۳)

۷– وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«ثَلَاثَةٌ لَاتُقْبَلُ مِنْهُمْ صَلَاتُهُمْ : مَنْ تَقَدَّمَ قَوْمًا وَهُمْ لَهٗ كَارِهُوْنَ، وَرَجُلٌ اَتَى الصَّلَاةَ دِبَارًا وَالدِّبَارُ: اَنْ يَّأْتِيَهَا بَعْدَ اَنْ تَفُوْتَهٗ–. وَرَجُلٌ اعْتَبَدَ مُحَرَّرَةً». رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه : او ابن عمر ؓ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمايلی دی : «درې کسان دی چه د هغوی مونځ نۀ قبليږی. (يعنی د مانځه ثواب ورته نۀ ملاويږی (۱) يو هغۀ شخص چه يو قوم ته مخکښې شوې وی او هغوی ترې خوشحاله نۀ وی. (۲) دويم هغۀ شخص چه په مانځه کښې روستو راشی او د روستو مطلب دا دې چه مانځه د فوت کيدو نه روستو راشی. (۳) او دريم هغۀ سړې چه د آزاد نه غلام جوړ کړی». (ابوداودؒ، ابن ماجهؒ)

تشريح : دا حديث د عبد الله بن عمرو بن العاص نه نقل دې ليکن په مشکاة کښې د ليکونکو نه سهوه شويده ځکه چه په مُنتقیٰ او معالم السنن للخطابیؒ او سنن کبریٰ کښې دا د ابن عمروؓ نه نقل دې نۀ د ابن عمرؓ نه ذهبیؒ په «مِيزان الاعتدال» کښې فرمائی :

عمران بن عبد المعافری التابعی د عبد الله بن عمرو بن العاص شاگرد دے نۀ د ابن عمرؓ۔
دِبَارًا : جمع د دَبر یا د دُبُر ده، د یو شی آخری وَقت ته وائی، یا آخِر الشیء ته وائی۔ یعنی مانځه ته په داسے حالت کښې راځی چه د هغۀ نه وخت فوت شوے وی، یا آخری وقت وی، پوره پکښې مونځ لاندے نۀ کړی یعنی آخری وختونو کښې راځی او دا ئے ځان له عادت جوړ کړے وی۔ او دا محمول دے په هغۀ صورت کښې چه عذر نۀ وی۔ (عون المعبود)
«تفوته» نه مراد یا جماعت فوت کیدل دی یا ټول وخت فوت کیدل دی۔ بیا د نفی د قبول دا معنی نۀ ده چه مونځ ئے جائز نۀ دے او نۀ به ئے کوی بلکه ددے معنیٰ دا ده چه مونځ خو به کوی اگرکه ناوخته کړے وی یا ئے وخت ویستلے وی خو دا گناهگار دے او فریضه به ددۀ په څټ باندے پاتے وی، لکه هغۀ زنانه چه خاوند پرے غصه وی یا هغۀ غلام چه د مولیٰ د اجازت نه بغیر تختیدلے وی نو دوی باندے هم د مانځه فریضه پاتے ده، مونځ خو به کوی مگر مجرمین دی۔ د مانځه اجر او ثواب به ورته نۀ ملاویږی۔
اعْتَبَدَ مُحَرَّرَةً: دا په معنیٰ د اِسْتَعْبَدَ دے یعنی غلام ئے جوړ کړو۔ محررة نه مراد "رقبة محررة" یا "نفساً محررة" دے۔یو آزاد نفس نه ئے مرئیے جوړ کړے وی۔ نو ښځے او سړی دواړو ته شامل دے او ښځه ئے ذکر کړه ځکه دا ضعیفه وی د خپل ځان مدافعت نشی کولے او سړے قوی وی۔ مگر په بله نسخه کښې محرراً مذکر هم راغلے دے (عون المعبود وسنن ابن ماجه) او ددے مرئی جوړولو طریقه دا وی چه آزاد راونیسی او دعویٰ پرے اُوکړی چه دا زما غلام دے یا مرئیے خرڅ کړی بیا ترے په زوره خدمتونه اَخلی، یا ئے هغه آزاد کړے وی لیکن د هغۀ آزادوالے پټ کړی، دے دپاره چه فائدے او خدمتونه ترے اَخلی۔(طیبیؒ، خطابیؒ، شوکانیؒ)۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف: اخرجه ابوداود (۵۹۳) وابن ماجه (۹۷۰) وفيه عبد الرحمن بن زياد الافريقي وهو ضعيف۔ ويؤيده الآية : فويل للمصلين الذى هم صلاتهم ساهون) وقد فسره الصحابة باضاعة مواقيتها)

۸- وَعَنْ سَلَامَةَ بِنْتِ الْحُرِّ، قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:«مِنْ اَشْرَاطِ السَّاعَةِ اَنْ يَّتَدَافَعَ اَهْلُ الْمَسْجِدِ لَايَجِدُوْنَ اِمَامًا يُصَلِّىْ بِهِمْ». رَوَاهُ اَحْمَدُ وَاَبُوْدَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او سلامه بنت الحر رضی الله عنها فرمائی : رسول الله ﷺ اُوفرمایل : « د قیامت د علاماتو نه دا ده چه مسجد والا به یو بل ته دیکے ورکوی داسے امام به نۀ مونده

کوی چه دوی ته مونځ اُوکړی»۔ (احمدؒ، ابوداودؒ)۔
سلامة بنت الحر: دا د خرشة بن الحر الفزاری خور ده او صحابیه ده صرف دا یو حدیث تریے نقل دے۔
تشریح: اَشْرَاطِ: جمع د شَرَط ده، ورو علاماتو ته وائی۔ او ددے تدافع دوه معنے دی ۱– مشهوره معنیٰ دا ده چه مسجد والا به اِمامت د خپل ځان نه دفع کوی بل چاته چه تهٔ مخکښں شهٔ زهٔ ددے اَهل نه یم ځکه چه دے بهٔ جاهل وی په احکامو د امامت او جائز او ناجائز نه به خبر نهٔ وی۔ یا دا چه یو بل له به دیکے ورکوی چه ته خلقو ته امامتی اُوکړه لیکن څوك اَهل به نهٔ وی موجود۔ ۲– دویمه معنی دا ده چه مسجد کښں به هر سړے بل دیکه کوی چه ته اخوا شه زهٔ مونځ کوم نو پدے کښں به جګړه راپیښیږی لهذا دا به سبب ګرځی ددے چه هیڅ امام به نهٔ موجودیږی۔ او دا علامه بعینهٖ نن صبا موجوده ده چه ډیر خلق به ځانله ځانله مونځونه کوی لیکن اِمامتی به نشی کولے۔
امام ابوداودؒ پدے حدیث باندے داسے باب تړلے دے: باب فی کراهیة التدافع۔
درجة الحديث: اسناده ضعيف: اخرجه احمد (۳۸۱/۶) وابوداود (۵۸۱) وابن ماجه (۹۸۲) والبيهقي في الكبرىٰ (۱۲۹/۳) في سنده طلحة ام غراب مجهولة۔ (التقريب والميزان) وذكرها ابن حبان في الثقات)

۹– وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اَلْجِهَادُ وَاجِبٌ عَلَيْكُمْ مَعَ كُلِّ اَمِيْرٍ، بَرًّا كَانَ اَوْ فَاجِرًا، وَاِنْ عَمِلَ الْكَبَائِرَ، وَالصَّلَاةُ وَاجِبَةٌ عَلَيْكُمْ خَلْفَ كُلِّ مُسْلِمٍ، بَرًّا كَانَ اَوْ فَاجِرًا، وَاِنْ عَمِلَ الْكَبَائِرَ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ.

ترجمه: او ابو هریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ فرمائیلی دی: «په تاسو باندے جهاد د هر اَمیر سره واجب دے برابره ده که (هغهٔ اَمیر) نیك وی او که بَدْ وی، او اګرکه کبیره ګناهونه کوی، او مونځ په تاسو لازم دے روستو د هر مسلمان نه نیك وی او که بَدْ، او اګرکه کبیره ګناهونه کوی»۔ (ابوداودؒ)
تشریح: پدے حدیث کښں دا مسئله ده چه د فاسق او مبتدع پسے مونځ جائز دے او ددے مسئلے تفصیل په دریم جلد (۲۰۷/۳) کښں – چه مُنَوّر دے په نهه دلائلو – تیر شویدے۔ هغے ته رجوع اُوکړه۔ او د جهاد متعلق جملے دپاره تائید په حدیث د انسؓ مرفوعاً کښں موجود دے: (الجهاد ماض منذ بعثنى الله الى ان يقاتل آخر امتى الدجال) (ابوداود) او امام بخاریؒ باب لګوی: باب الجهاد ماض مع البر والفاجر لقول النبی ﷺ: الخيل معقود

فی نواصیها الخیر الی یوم القیامة) جهاد به د نیك او بد عمله امیر په ملګرتیا کښې کولے شي ځکه نبی ﷺ فرمائی : د آسونو په تندو کښې خیر تر قیامته پورے تړلے شویدے۔ نو دوه خبرے معلومے شوے یو دا چه جهاد نۀ ختمیږی تر دجال راتلو پورے۔

او دویمه دا چه که امیر ظالم او فاسق وی نو هم د هغۀ په ملګرتیا کښې به قتال فی سبیل الله کولے شي۔ ترڅو چه هغه انسان ته په معصیت اَمر نۀ کوی۔

دریمه خبره : د جنازے مونځ په تاسو واجب دے یعنی فرض کفائی دے چه دا به په هر مسلمان باندے کولے شي اګرکه کبیره ګناهونو والا وی۔ او دا مذهب د امام مالكؒ، شافعیؒ، ابوحنیفهؒ او جمهور علماؤ دے۔ امام نوویؒ فرمائی : قاضی عیاضؒ فرمائی : د ټولو علماؤ مذهب دا دے چه په هر مسلمان باندے به جنازه کولے شي که په حدودو کښې قتل شوے وی او که رَجُم شوے وی او که قاتل د نفس وی او که ولد الزنا وی انتهیٰ۔

لیکن په دۀ باندے دا تعقیب شویدے چه دعویٰ د اتفاق صحیح نۀ ده ځکه چه امام زهریؒ وائی : په مَرجُوم او قاتل نفسهٖ (ځان وژونکی) باندے به جنازه نشی کولے۔ قتادهؒ وائی : په ولد الزنا به مونځ نشی کولے۔ عمر بن عبد العزیزؒ او اوزاعیؒ فرمائی : په فاسق به جنازه نشی کولے۔ ابوحنیفهؒ فرمائی : باغی او محارب باندے به جنازه نۀ کیږی۔ امام شافعیؒ فرمائی : په قاطع الطریق به نشی کولے۔ (عون المعبود ۴۵۳/۹) باب رجم ماعز)

لیکن حقه خبره دا ده چه هر هغه څوك چه کلمه د شهادت وائی نو د هغۀ دپاره هغۀ حقوق دی کوم چه د مسلمانانو دی او بعض د هغۀ حقوقو نه جنازه ده نو دا په هر ګناهګار کولے شي۔ دارنګه حافظؒ فرمائی : حدیث الباب په بیان د غامدیه کښې حجت دے دپاره د جمهورو چه دا حبلیٰ وه د زنا نه او نبی ﷺ د وضع د حمل نه پس پدے باندے حد قائم کړو او بیائے پرے مونځ هم اُوکړو۔ دارنګه مونځ د جنازے مشروع شویدے ددے دپاره چه انسان الله ته سفارش اُوکړی د مسلمان دپاره نو دا د ګناهګار په حق کښې ډیر اَولیٰ دے۔

اګرکه د اَهل علم او صالحین او متقیانو دپاره خاصکر جائز دی چه جنازه اُونکړی په فاسق باندے خاصکرنے نمازه، قرضدار، غل، ځان وژونکی باندے، دے دپاره چه خلق ددے کار نه منع شي او ویریږی چه په مونږ به هم څوك مونځ نۀ کوی۔

۲ – او دے دپاره چه خلق په دغه شان عمل باندے زړه وَر نشی۔ او دا قول د مالك او احمدؒ او بخاریؒ دے۔ او امام شافعیؒ وائی : نۀ دے مکروه د اهل الفضل دپاره هم۔ او دا د جمهورو قول دے۔ او دلیل په قول د مالك او احمدؒ او بخاریؒ دا دے چه نبی ﷺ په هغه سړی باندے جنازه نۀ ده کړے چه هغه خپل ځان په مشاقص (تیرۀ غشی) قتل کړے وو۔ (اخرجه

الجماعة الا البخاری) او په روایت د نسائیؒ کښې دی: (اما انا فلا أُصلی علیه) یعنی زهٔ پرے مونځ نهٔ کوم) او صحابه ئې د مانځه نه منع نهٔ کړل۔ دارنګه د قرضداری په باره کښې ئې اُوفرمایل: (صلوا علی صاحبکم) (تاسو په خپل ملګری مونځ اُوکړئ) (بخاری ۱/۳۰۴)
دا ددے دپاره چه خلقو ته ددے کار کولو نه زجر ملاؤ شی۔ (تحفة الاحوذی ۳/۱۳۱) شرح مسلم (۳/۴۰۵) ترك الصلاة علی القاتل) فتح الباری لابن حجر (۴/۴۳۶) الاختيارات العلمية لشيخ الاسلام (۵۲) او دا هم په هغهٔ صورت کښې چه کله د اِمام او د نیکانو خلقو د مانځه په پریخودلو سره جنازه نهٔ پاتے کیږی که دا یَره وه چه نور خلق به هم جنازه اُونکړی نو بیا اَهل الفضل له هُم پکار ده۔ (المنتقیٰ شرح الموطأ ۲/۴۳)
وَإِنْ عَمِلَ الْكَبَائِرَ: دا دلیل دے چه څوك کبیره ګناهونو ته راتګ کوی نو هغه د اِسلام نه بالکلیه نهٔ اُوځی او نیك اعمال ئې نهٔ بربادیږی اګرکه یَره پکار ده چه د انسان ایمان زائل نشی۔ ځکه کله ناکله انسان د ګناهونو د نُحُوسَتُ په وجه د اِسلام نه مرتد شی۔ والعياذ بالله۔
درجة الحديث: اسناده ضعيف: اخرجه ابوداود (۲۵۳۳) ورجاله ثقات لكن العلاء بن الحارث كان اختلط ومكحول لم يلق اباهريرة وانظر الى قول الحافظ فى تلخيص الحبير (۲/۳۵) وقال الدارقطنى (ليس فيها شىء يثبت وللبيهقى فى هذا الباب احاديث كلها ضعيفة غاية الضعف واصح ما فيها حديث مكحول عن ابى هريرة على ارساله وقال ابواحمد الحاكم (هذا حديث منكر)

الفصل الثالث

۱۰- عَنْ عَمْرِو بْنِ سَلَمَةَ، قَالَ: كُنَّا بِمَاءٍ مَمَرَّ النَّاسِ، يَمُرُّ بِنَا الرُّكْبَانُ نَسْأَلُهُمْ: مَا لِلنَّاسِ، مَا لِلنَّاسِ؟ مَا هٰذَا الرَّجُلُ؟ فَيَقُولُونَ: يَزْعُمُ اَنَّ اللهَ اَرْسَلَهُ اَوْحٰى اِلَيْهِ، اُوْحِيَ اِلَيْهِ كَذَا. فَكُنْتُ اَحْفَظُ ذٰلِكَ الْكَلَامَ، فَكَاَنَّمَا يُغْرٰى فِي صَدْرِي، وَكَانَتِ الْعَرَبُ تَلَوَّمُ بِإِسْلَامِهِمُ الْفَتْحَ. فَيَقُولُونَ: اُتْرُكُوْهُ وَقَوْمَهُ، فَاِنَّهُ اِنْ ظَهَرَ عَلَيْهِمْ فَهُوَ نَبِيٌّ صَادِقٌ. فَلَمَّا كَانَتْ وَقْعَةُ الْفَتْحِ، بَادَرَ كُلُّ قَوْمٍ بِإِسْلَامِهِمْ، وَبَدَرَ اَبِيْ قَوْمِيْ بِإِسْلَامِهِمْ، فَلَمَّا قَدِمَ، قَالَ: جِئْتُكُمْ وَاللهِ مِنْ عِنْدِ النَّبِيِّ حَقًّا، فَقَالَ: «صَلُّوْا صَلَاةَ كَذَا فِيْ حِيْنِ كَذَا، وَصَلَاةَ كَذَا فِيْ حِيْنِ كَذَا. فَاِذَا حَضَرَتِ الصَّلَاةُ فَلْيُؤَذِّنْ اَحَدُكُمْ، وَلْيَؤُمَّكُمْ اَكْثَرُكُمْ قُرْآنًا». فَنَظَرُوْا فَلَمْ يَكُنْ اَحَدٌ اَكْثَرَ قُرْآنًا مِنِّيْ، لِمَا كُنْتُ اَتَلَقّٰى مِنَ الرُّكْبَانِ، فَقَدَّمُوْنِيْ بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ، وَاَنَا ابْنُ سِتٍّ اَوْ سَبْعِ سِنِيْنَ، وَكَانَتْ عَلَيَّ بُرْدَةٌ كُنْتُ اِذَا سَجَدْتُ تَقَلَّصَتْ عَنِّيْ. فَقَالَتِ امْرَاَةٌ مِنَ الْحَيِّ: اَلَا تُغَطُّوْنَ عَنَّا اسْتَ قَارِئِكُمْ؟! فَاشْتَرَوْا، فَقَطَعُوْا لِيْ قَمِيْصًا. فَمَا فَرِحْتُ بِشَيْءٍ فَرَحِيْ بِذٰلِكَ

الْقَمِيصِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : او عمرو بن سلمه ﷺ فرمائی: مونږ د اُوبو په غاړه اُوسیدو، د خلقو د تیریدو ځائے وو، چه زمونږ خوا کښې به قافلے تیریدلے، نو مونږ به د هغوی نه تپوسونه کول : چه د خلقو دپاره (د یو شخص چه محمد ﷺ دے یو دین ئے راویستلے دے هغه) څه دی؟ او ددے شخص (محمد ﷺ) صفات څه څه دی؟ نو هغه خلقو به مونږ ته وئیل : چه هغه (رسول) دعویٰ کوی چه الله هغه رالیږلے دے او هغه ته ئے وحی کړے ده (او د قافلے خلقو به د قرآن کریم آیتونه وئیل چه) دا فلانئ وحی هغه ته راځی۔ نو ما به (د هغه قافلو والاؤ خبرے داسے حفظ کولے گویا کښې دا زما د زړهٔ پورے اِنخلی۔ (یعنی د قرآن آیتونه به مے زر یادیدل) او عربو به په خپل اسلام راوړو سره د مکے د فتح کیدوانتظار کولو (یعنی دا به ئے وئیل چه که مکه فتح شوه نو مونږ به هم اسلام راوړو) او دا به ئے وئیل : دے (محمد ﷺ) او ددهٔ قوم پریدئ که چرے دا په هغوی باندے غالب شو (او مکه ئے فتح کړه) نو دا به رشتینے نبی وی (ځکه د هغهٔ د ظاهری بے سر وسامان کیدو او د مادی کمزورئ باوجود په عربو باندے غالبه کیدل او مکه فتح کول د هغهٔ معجزه ده او معجزه صرف د رشتینی نبی نه صادریدے شی)، نو هرکله چه د مکے د فتح واقعه موجوده شوه (او مکه فتح شوه) نو خلق د اسلام قبلولو ته په جلتئ راغلل او زما پلار د خپل قوم نه په اسلام کښې جلتی اُوکړه او (د ټولو نه وړمبے) اسلام ئے راوړو، نو هرکله چه هغهٔ (زما والد) واپس راغلو، وے فرمایل : قسم په الله زهٔ تاسو ته د رشتینی نبی د طرف نه راغلے یم"، او هغهٔ (نبی) فرمائیلی دی : «په فلانی وخت کښې داسے (او دُومره) مونځ اُوکړئ او په فلانی وخت کښې داسے (او دُومره) مونځ اُوکړئ، (یعنی هغهٔ د مانځهٔ اَوقات او کیفیات بیان کړل) او کله چه د مانځه وخت شی نو یو تن دے په تاسو کښې اَذان اُوکړی او کوم چه په تاسو کښې زیات قرآن والا وی (په قرآن ډیر پوهه وی) هغهٔ دے امامتی اُوکړی، نو (کله چه د مانځه وخت شو او جماعت تیار شو) نو خلقو (خپل مینځ کښې) اُوکتل چه ما نه زیات قرآن والا څوك نهٔ وو موجود، ځکه چه ما (د مخکښې نه) قافلو والو نه قرآن زده کړے وو، نو زهٔ ئے مخکښې کړم (او په مانځه کښې ئے زما اِقتداء اُوکړه) او زهٔ (په دغه وخت کښې) د شپږو یا اُووه کالو وم، او زما په بدن باندے صرف یو څادر وو نو کله چه به ما سجدهٔ کوله نو هغهٔ څادر به زما د بدن نه راغونډ شو (او زهٔ به ښکاره شوم) نو قوم کښې یوے زنانه اُووئیل : آیا تاسو زمونږ د مخے نه ددے خپل قاری (امام) کوناتی نهٔ پټوئ؟ نو قوم زما دپاره جامه واخسته او قمیص ئے راله پریکړو (جوړ کړو) نو زهٔ په هیڅ شی دُومره نهٔ یم خوشحاله شوے څومره چه زهٔ په دغه

قميص خوشحاله شوم". (بخاريؒ)

تعارف د عمرو بن سلمه : عمرو بن سلمه عام طور د سلمه لام په فتحے سره راخي مګر دا عَـمْرو چه د قـوم امـام جـوړ شـوے وو ددهٔ د پـلار پـه نـوم سلمه کښ د لام کسره ده. بني سلِـمـه د انـصـارونه يوه قبيله ده. حافظ «فتح الباري» کښ فـرمـائـي : د عمرو بن سَلِمه الجَرْمِي په صحابيت کښ اختلاف دے بعض روایاتو نه معلوميږي چه دا هم په هغهٔ وفد کـښ شـامل وو چه نبي ﷺ تـه ورغـلـے وو تـقـريـب کـښ وائـي : صحابي صغير نزل البصرة.(وړوکے صحابي دے چه په بصره کښ اُوسيدو)

تشريح : مسـائـل : ١- يـو انسان پـه کـفر کښ د اسلام خبرے يادے کړي بيا په حالت د اسلام کښ هغهٔ بيانوي نو خير دے، دا به مقبول وي.

٢- **مسئله ثانيه** : د اکثـر کـم قـرآناً نـه معلومه شوه چه چا ته قرآن زيات ياد وي نو هـغـهٔ غـوره دے چـه امام جوړ شي د هغهٔ چانه چه زيات قرآن ورته ياد نهٔ وي. نو دا حديث هـم دلـيـل دے چـه اَقرأ بـه مـقـدم وي په اَعْلَم باندے کله چه اَعْلَم ته زيات قرآن نهٔ وي ياد. ځـکـه دلتـه ددهٔ پـلار اعـلـم دے ځـکـه اسلام ئے مخکښ راوړيدے، اَحکام ورته ډير زدهٔ دي ليکن قرآن ورته زيات نهٔ دے ياد. نو ځکه ئے دا ماشوم مخکښ کړيدے. وتقدم قريباً.

٣- المسئلة الثالثة : حكم الصلاة خلف الصبي

آيا د مـاشـوم امـام جـوړول جـائـز دي ؟ پدے کښ اختـلاف دے ١- که صبي مُميز وي نو مـونـځ ورپسے کـيږي که غير مُميز وي نو ناجائز دے. او دا قول د حسن بصريؒ، اسحاق بن راهويهؒ، امام بخاريؒ، او شافعيؒ دے چه بالکل جائز دے که نفل وي او که فرائضو کښ وي. او پـه جُـمُـعـه کښ د شافعيؒ نه دوه قوله نقل دي. په «کتاب الام» کښ ئے عدم جواز او په «کتابُ الاملاء» کښ ئے جواز ذکر کړيدے.

٢- عطاءؒ، شعبيؒ، امام مالكؒ، اوزاعيؒ، ثوريؒ او امام احمدؒ او ابن الحزمؒ فرمائي : اِمامت د صبي مـکـروه دے.او دا مـذهـب د اصـحـاب الرأی دے. او بيا احنافو نه په نفلو کښ دوه روايتـه دي ١- مشـائـخ بـلـخ د جـواز قائل دي او پدے باندے عمل دے په بلخ، مصر او شام کـښ ٢- او بـعـضـو مـنـع کړيدے او پدے باندے عمل دے په ماوراء النهر کښ (مرقاة باب الامامة (٣٦٢/٤) ومنية المصلی) او دا د متشددينو قول دے.

حـافـظ فـتـح الـبـاري کـښ فـرمـائـي : د امـام ابوحنيفه او احمد نه دوه روايته دي مشهور روايت دا دے چه په نوافلو کښ جائز دے، نهٔ په فرائضو کښ.

د جمهورو دليل : يو حديث دے (يؤم القوم اقرأهم لكتاب الله) دا عام دے صبي او غير صبي دواړو ته شامل دے۔

٢- دا حديث الباب بنۀ واضح دليل دے۔

٣- اِجماع د هغۀ صحابه كرامؓ چه عمرو بن سلمۀؓ ئے مُقدّم كړيدے۔

٤- هر كله چه د ماشوم مونځ ځانله صحيح دے نو امامت ئے هُم صحيح دے او اَركان او شرائط د مانځه ئے هم پوره دى۔ (المنار ٢١٥/١) للمقبلي

دليل د احنافو : قاعده ده چه صبي متنفل دے او مقتديان مفترضين دى او د امام مونځ متضمن وى مونځ د مقتدى لره نو اقتداء د قوى په ضعيف پسے راځي او دا خو نۀ ده جائز۔ **الجواب** : دا خبره تاسو بار بار پيژندلے ده چه دا قاعده د ډيرو اَحاديثو خلاف ده لكه چه تشريح ئے مخكښ په باب القراءة (٢٤٠/٤)كښ تيره شويده چه اِقتداء د مفترض د متنفل پسے بالكل جائز ده۔ او د امام مونځ جُدا دے او د مقتدى جُدا۔ نو اَصح خبره دا ده چه صَبي كه مُمَيز وى نو مونځ پسے كيږى او دا حديث ئے دليل دے۔

٢- دويم استدلال كوى په قول د ابن مسعودؓ باندے : (لا يؤم الغلام حتى تجب عليه الحدود)۔(هلك به تر هغه وخت پورے امامت نۀ كوى تردے چه بالغ شى)۔

٣- دغه شان ابن عباس ﷺ فرمائى : (لا يؤم الغلام حتى يحتلم) رواهما الاثرم فى سننه) او اثر د ابن عباس عبد الرزاق مرفوعاً نقل كړيدے مگر حافظ فتح البارى (١٨٥/٢)كښ فرمائى : ((اِسناده ضعيف))۔

الجواب: ددے جواب دا دے چه دا خبره دَ صحابي قول دے او پدے مسئله كښ اجتهاد له دَخل شته نو دا اِجتهاد د صحابه كرامؓ دے۔ نو پدے وخت كښ به حجت نۀ وى خاصكر ددے مخالف دا حديث د عمرو بن سلمه الجرميؓ موجود دے۔

٤- ابن الحزمؒ په عدم صحت باندے استدلال چه نبى ﷺ اُمت ته حكم كړيدے چه اَقرأ به اِمامتى كوى لهذا امامتى به هغۀ څوك كوى چه هغۀ ته خطاب متوجه وى او صبي خو مامور نۀ دے ځكه هغۀ مرفوع القلم دے۔ نو امامت نشى كولے ۔ الجواب : ليكن دا استدلال ظاهر الفساد دے ځكه مونږ وايو چه مامور هغۀ خلق دى چه هغوى ته اَمر متوجه دے چه دوى به هغۀ څوك مقدم كوى چه هغۀ متصف وى په ډير يادولو د قرآن۔ لهذا دا اِستدلال ئے باطل شو۔ (فتح البارى)

دارنگه اَحناف اعتراضونه كوى پدے حديث د عمرو بن سلمۀؓ باندے وائى : عمرو بن سلمۀؓ خو نبى ﷺ امام نۀ دے جوړ كړے بلكه دا په اِجتهاد د صحابه كرامؓ مخكښ

شویدے۔(مرقاة)۔

الجواب : ددے کار په زمانه د وحی کښې واقع کیدل دلیل د جواز دے۔ او په هغۀ زمانه کښې د ناجائز په کولو باندے تقریر نۀ کیږی خاصکر په مانځه چه دا د اسلام د عظیم اَرکانو نه دے۔ او که دا کار چرته ناجائز وے نو نبی ﷺ ته به وحی شوے وے، لکه څنګه چه ورته په مانځه کښې وحی اُوشوه چه ستا په څپلو کښې ګندګی ده دا اُوباسه۔ دارنګه ابو سعیدؓ او جابرؓ استدلال کړیدے چه صحابه کرامو به عَزل کولو او قرآن به نازلیدو نو که عَزل منع وے نو وحی به نبی ﷺ ته ددے په حرمت شوے وے۔ (فتح الباری)

دارنګه دا د یو صحابی اجتهاد نۀ دے بلکه د ټول ګلی(علاقے) اجتهاد دے، یو صحابی هم ترے مخالف نشته، ٢–کله احناف وائی اُوګوره شوافع د ماشوم خبره منی او د ابن مسعودؓ او ابن عباسؓ خبره پریدی۔ (مظاهر حق١/٧٤٠)۔

جواب دا دے چه دا خبره غلطه ده څکه چه دلته یو خو د ټول کلی اجتهاد دے بله دا چه یواځے اجتهاد نۀ بلکه دلیل هم ورسره شته او هغه دا چه په دغه حدیث کښې ورسره داسے الفاظ راغی : (ولیؤمکم اکثرکم قرآناً) په تاسو کښې دِے امامتی هغۀ څوك کوی چه قرآن ئے زیات یاد وی) لهذا ددے ماشوم قرآن زیات یاد دے نو دِا په نص د حدیث سره مُقدم کول پکار دی او اَحادیثو کښې د ماشوم د اِمامت نه منع نشته۔ بلکه په یؤم القوم اقرأ هم لکتاب الله کښې ماشوم هم داخل دے۔

٣– کله وائی : (کما قال الخطابی فی المعالم١/١٦٩) چه امام احمدؒ به د عمروؓ دا کار ضعیف ګنړلو او وئیل به ئے چه (دَعْهُ لیس بشیءٍ بَیِّن)۔

الجواب : دا عمرو بن سلمه صحابی دے او په بعض روایاتو کښې دا هم ذکر شویدی چه دا خپله نبی ﷺ ته راغلے دے۔ او دا حدیث ئے صحیح دے او ظاهر دے په دلالت کښې په صحت د امامت د صبی باندے نو ددے ضعیف ګنړلو هیڅ معنیٰ نشته۔

٤– انور شاه کشمیریؒ په فیض الباری (٢/٢١٨) کښې لا دا وائی چه په حدیث کښې تقدیم او تاخیر دے او عمرو چه امامتی کوله نو هغه وخت بالغ وو او د اُووه کالو تذکره چه شویده نو دا د قرآن د یادولو زمانه مراد ده۔

الجواب : دا خبره بے دلیله ده چه دَۀ پس د بلوغ نه خلقو ته امامت کړیدے بلکه ددے روایت د بخاری او د روایت د مستدرك (٣/٤٩) نه واضح معلومیږی چه دا د اُووه کالو په عُمر مقدم شویدے۔ لکه الفاظ داسے دی : (فقدمونی وانا ابن سبع سنین) (یعنی زه ئے په داسے حال کښې مقدم کړم چه زما عمر اُووه کاله وو۔) بله دا چه پدے خبره کښې نسبت د

وَهُم او قُصُور دے راوی ته په غیر د حجت او دلیل نه او دا کار غلط دے۔
دارنګه سیاق د حدیث کښې فکر اُوکړه او د قمیص په خوشحالیدو فکر اُوکړه چه دا به کومه زمانه وی؟ آیا غټ سړے قمیص نه اَغوندی؟۔
بلکه دے حدیث کښې دی : (قالت امرأة من الحی الا تغطون عنا است قارئکم) دا لفظ صریح دے خو شیخ انور شاهٔ ځان ړوند کړیدے، تقلید قبیح شے دے۔
٥- **بعض** وائی : دا حدیث منسوخ دے ځکه چه پدے کښې د ماشوم عورت په مانځه کښې ښکاره شویدے او کشف العورة سره خو مونځ نهٔ کیږی لهذا د ماشوم امامت هم منسوخ دے۔ الجواب : دلته دوه مسئلے دی یو امامت د صبی، بل بے پردے مونځ کول نو د پردے په باره کښې مستقل اَحکام نازل دی چه په مانځه کښې پرده کول واجب دی او بغیر د پردے نه مونځ کول صحیح نهٔ دی او بل د صبی مونځ دے نو ددے په عدم جواز دلیل نشته۔ او د بے پردے مانځه باره کښې دلیل د عدم جواز شته۔
دویم دا چه دوی د صحابه کرامو ؓ به څادرونو کښې مونځونه کول چه اُوګو سره به ئے تړلی وو نو ددے ماشوم څادر وړوکے وو چه د سجدے په حالت کښې به راخکلے شو نو د شا ته نه به ښکاره کیدو۔ او مطلقاً مکشوف العورة نهٔ وو۔
دویم دا چه د ماشوم عورت چه ښکاره شویدے نو دا یا په دے وجه چه غریبی وه دومره جامے نهٔ وے یا دا چه د ستر العورة حکم نه خبر نهٔ دی پدے وجه د دوی مونځ باطل شوے هم نهٔ دے۔لهذا دا اعتراض غلط دے۔
٦- کله وائی : دا حدیث منسوخ دے دا په ابتداء د اسلام کښې وو۔ الجواب : دا تَشه دعوی ده چه د دلیل نه عَارِیٌ ده، که دا منسوخ شی نو ناسخ ئے کوم دے آیا په اصحاب الرأی باندے وحی راغله چه هغوی دا منسوخ کړو، دوی دے بل داسے صحیح مرفوع حدیث پیش کړی چه په هغے کښې د صبی د امامت نه منع راغلی وی۔ او هر چه اجتهاد د صحابه کرامو ؓ دے نو هغهٔ ناسخ د مرفوع حدیث نهٔ ګرځی لکه دا مسلمه اصولی قاعده ده۔ بله دا چه کهٔ داسے صورت راپیش شی چه ماشوم قاری وی او په نور قوم کښې ددهٔ په شان څوك نهٔ وي نو كه بل څوك مخکښې کوی نو ددے حدیث خلاف راځی چه (يؤم القوم اقرأهم لكتاب الله) نو د احنافو نه دا سوال دے چه دوی به اُوس څه کوی؟۔ فتفکر۔ لهذا په داسے حالتِ راهنه کښې خو دوی له د جواز قول پکار دے۔ راجع المرعاة (٦٨/٤) وفتاوی الدين الخالص (٢٠٨/٥) ونيل الاوطار (٢٠٤/٣)

توضيح اللغات : بِمَاءٍ مَمَرِّ النَّاسِ دا صفت دے د ماء یعنی داسے اُوبه وے (چینه وه)

چه خلق به پرے تیریدل۔ نو دا صیغه د ظرف ده۔ (یعنی ځائے د تیریدو د خلقو)۔
الرُّكْبَانُ : جمع د راكب ده هغه چا ته وائی چه صرف په اُوښانو سَوَاره وی۔ بیا پکښ
اِتساع شویده نو د هر سُور سرِی دپاره استعمالیږی۔
مَا لِلنَّاسِ : یعنی خلقو ته څه راپیدا شوی دی، دا کنایه ده د ظهور د اسلام نه۔ او تکرار
پکښ د تعجب دپاره دے۔
مَا هٰذَا الرَّجُلُ ؟: دا کنایه ده د محمد رسول الله ﷺ نه، دے نه معلومیږی چه دوی د
رسول الله ﷺ نه ناشنا خبرونه اَوریدلی وو ځکه واقعه نوے وه نو خلق به خبریدل چه مکه
کښ یو داسے سړے پیدا شویدے چه د پلار نیکه لاره ئے پریخوستے ده نو ځکه به خلقو د
هغه په باره کښ د لارووُنه تپوسونه کول۔
اَوْحَیَ اِلَیْهِ كَذَا : دا بیانونکی به کله کافران وو خو د پیغمبر دعوت باندے پوهه شوی
وو او کله به مسلمانان وو نو دے خلقو ته به ئے په چل کښ دعوت اُوکړو۔
(اوحی الیه كذا) دا بیان دے د (اوحی الیه) دپاره۔
ذٰلِكَ الْكَلَامَ : دے نه مراد قرآن دے۔
فَكَأَنَّمَا يُغْرٰى فِيْ صَدْرِيْ : گویا کښ زما سینه پورے کلك انخلی او پیوسته کیږی۔
ځکه د عربو ذهنونه ډیر قوی وو دلته اُوگوره دے ماشوم لا ایمان هم نهٔ دے راوړے او قرآن
ئے یاد کړیدے۔ یغری د باب تفعیل نه تغریه وائی (الصاق بالغراء) او غراء چیړ او گنړ ته
وائی، یعنی د چیړ او شریشو په شان به زما سینه پورے انختلو۔ او دا لفظ یا په صیغه د
مجهول دے د باب تفعیل نه یعنی (يُغَرّٰى) یا د باب افعال نه دے یعنی (يُغْرٰى) یا د باب د
سمع نه دے، صیغه د معلوم ده (يَغْرٰى) او د ټولو معنیٰ یوه ده۔
تَلَوَّمُ : اصل کښ تَتَلَوَّمُ دے "تَلَوَّم" انتظار کولو ته وائی۔ یعنی دا اِنتظار به ئے کولو که دا
محمد رسول الله ﷺ د کعبے په منجورانو غالب شو نو دا به په حقه وی او که پرے غالب
نشونو دا به په باطله وی او دوی ته دا مسئله معلومه وه چه د کعبے په منجورانو څوك نشی
غالبه کیدے مگر هغهٔ نبی وی لکه اصحاب الفیل پرے غالب نشو ځکه په باطله وو۔
بُرْدَةٌ : دا هغه خلور قُنجه توره شړئ ده چه زیر والے پکښ وی او باندیچیان ئے اَغوندی۔
په بل روایت کښ دی : (كنت اَؤُمُّهُم فی بُرْدَةٍ مُوَصِلَةٍ فیها فتق) (ما دوی ته امامتی کوله په
داسے شړئ کښ چه په هغے کښ سُورِیٔ وو)
تَقَلَّصَتْ : یعنی ما نه به راغونډه شوه ځکه تنګه وه او سُوری پکښ وو په دے وجه ئے
معمولی شان عورت ښکاره شو۔

فَقَطَعُوْا لِيْ قَمِيْصًا : دا د اِمامت اُجرَت نۀ دے بلکه دا یوه هدیه وه بلکه د امام د عورت حفاظت ئے کولو۔ اوکه تاله پس د امامت نه څوك هسے هدیه درکوی نو دا اخستل جواز لری مګر د امامت اُجرت اخستل نا روا دی چه شرط ورسره اُولګوی او که څوك ئے ورنکړی نو بیا پرے تقریر کوی۔ وتقدمت المسألة فی باب الاذان۔

فَرِحِيْ بِذٰلِكَ الْقَمِيْصِ : پدے قمیص یو پدے وجه خوشحاله شو چه تَستُر حاصل شو او د راغوندولو تکلیف نه خلاص شو او د عورت د ښکاره کیدویَره ختمه شوه۔ یا پدے وجه چه نوے جوړه ورته ملاؤ شوه لکه د ماشومانو دا عادت دے چه په نوے جامه خوشحالیږی۔ په روایت د ابوداود کښ دی : (فما شهدت مَجمَعاً من جَرْمٍ الا کنت امامهم) (زۀ چه د جَرم قبیلے هرے مَجمعے ته حاضریږم نو زۀ هغوی ته امامتی کوم) او هغوی ما مخکښ کوی ځکه چه په حدیث عمل کوی نو بس دا د اول نه امام وو۔

---

۱۱ – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: لَمَّا قَدِمَ الْمُهَاجِرُوْنَ الْاَوَّلُوْنَ الْمَدِيْنَةَ، كَانَ يَؤُمُّهُمْ سَالِمٌ مَوْلَى اَبِيْ حُذَيْفَةَ، وَفِيْهِمْ عُمَرُ، وَاَبُوْسَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الْاَسَدِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : او ابن عمر ﷛ فرمائی : کله چه رومبنی مهاجرین مدینے ته راغلل، نو هغوی ته به سالم چه د ابوحذیفه ﷛ آزاد کړده غلام وو– مونځ کولو او په هغوی کښ به عمر، او ابو سلمه بن عبد الاسد وو۔ (بخاریؔ)

تعارف د ابوحذیفه : دده نوم مهشم یا هشیم یا هاشم دے ابوحذیفه بن عتبه بن ربیعه بن عبد شمس بن عبد مناف القرشی دے د فضلاؤ صحابه کرامو نه دے او د مهاجرین اولین نه دے دۀ دوه قبلو ته مونځ کړیدے او دوه هجرتونه ئے کړیدی او ددۀ اسلام راوړل د رسول الله ﷺ دار الارقم ته د داخلیدو نه مخکښ وو، د خپلے بی بی سهله بنت سهل بن عمرو سره ئے حبشو ته هجرت کړیدے بیا رسول الله ﷺ ته راغلو کله چه هغه په مکه کښ وو نو هلته اُوسیدو تردے چه مدینے ته ئے هجرت اُوکړو۔ بدر، اُحُد، خندق، حُدَیْبیه او تهولو غزواتو ته حاضر شویدے او په جنګ یمامه کښ د (۵۳ یا –۵۴) کالو په عمر شهید شویدے۔ او سالم د ابوحذیفه د بی بی غلام وونو هغے بیا آزاد کړو او دا امامتی ئے د آزادیدو نه مخکښ وه۔ او دۀ ته مولیٰ د ابوحذیفه پدے وجه وائی چه هر کله د ابوحذیفه بی بی دا آزاد کړو نو ددۀ تربیت ابوحذیفه په ذمه واخستو او د هغۀ سره به اُوسیدو او خپل مُتَبَنّٰی ئے جوړ کړو لیکن کله چه آیت نازل شو چه متبنیٰ ته ابن (ځوی) مۀ وایئ نو دۀ ته

مولیٰ اُووئیل شو او دا سالم په جنګ یمامه کښې په خلافت د ابوبکر کښې شهید شویدے۔ حافظ ذهبیؒ فرمائی: سالم مولی ابی حذیفة د کبار البدریین نه دے، مشهور، کبیر القدر دے۔ او دۀ ته سالم بن معقل وئیلے شی او دا د فارس والو نه د اصطخر علاقے وو او بعض وائی دا د عجمو نه وو، د کرمان په قیدیانو کښې نیولے شوے وو او دا په قریشو کښې شمارلے شی ځکه چه ابوحذیفه متبنیٰ جوړ کړے وو او په عجمو کښې شمارلے شی ځکه اصل ئے د عجمو نه وو او په مهاجرینو کښې شمارلے شی ځکه هجرت ئے کړے وو او په انصارو کښې ځکه آزادونکی بی بی د انصارو نه وه او د قراؤ نه شمارلے شی ځکه دا په کښې اقرأ وو۔(یعنی قرآن ئے ډیر یاد وو او بهترین قاری وو) ابن عبد البرّ وائی: دا په موالیو کښې افضل ترین غلام وو او د کبار او خیار الصحابة نه وو۔

تشریح: یعنی کله چه اولنی مهاجرین مدینے ته راغلل د نبیﷺ د راتلو نه مخکښې نو سالم چه غلام وو هغه به امامتی کوله په عُصُبَه علاقه کښې چه دا په (قُباء) کښې ده۔ ددے وجه دا وه چه دۀ ته قرآن ډیر یاد وو او مزیدار قاری وو۔ او دا ئے وجه د ترجیح هم وه۔ نو د حدیث نه دوه مسئلے ثابتے دی۔ یو دا چه اقرأ به مقدم کولے شی په امامت کښې د اَعلم نه دلته عمر او ابوسلمه ډیر عالمان او اشراف موجود دی د سالم نه مګر بیا هم امامت سالم کوی ځکه ده ته قرآن ډیر یاد دے۔ لکه په روایت د بخاریؒ کښې ورسره دا الفاظ دی: (و کان اکثرهم قرآناً)۔

۲– **دویمه مسئله** دا ده چه د غلام امامتی کول جائز دی۔ فقه حنفی کښې چه دا خبره ده چه امامتی د عَبد مکروه ده نو دے خبرہ کښې به یا تاویل اُوکړے شی چه جاهل غلام وی نو هغه اهل د امامت نۀ دے او که تاویل پکښې اُونکړے شی نو بیا خبره غلطه ده۔ ځکه چه دا ټول انسانان د الله غلامان دی د الله کتاب له اعتبار دے، هغۀ انسان لره مقدم کوی۔ او دا په یؤم القوم اقرأ هم لکتاب الله کښې داخل دے۔

۲– دویم دا حدیث دلیل دے۔۳– دریم ابن ابی ملیکه وائی: زۀ او زما پلار او عبید بن عمیر او مسور بن مخرمه او نور ډیر خلق به عائشےؓ ته ورتلو نو هغوی ته ابوعمرو (ذکوان) چه غلام د عائشےؓ وو امامتی کوله او دا لا پدے وخت کښې نه وو آزاد شوے۔ (مسند الشافعی(۱۰۹) (۲۱۹/۱) والسنن الکبری للبیهقی (۸۸/۳) وابن ابی شیبة (۳۱/۲) ونیل الاوطار (۱۹۹/۳)

٤– اسمعوا واطیعوا وان استعمل علیکم عبد حبشی کأن رأسه زبیبة) الحدیث۔

دا قول د نبی علیه السلام هم دلالت کوی په صحت د امامت د عبد باندے۔

او پدے باندے د صحابه کرامو اجماع ده ځکه چه د هغوی په دے کار کښې مخالف نۀ دے موجود۔ (النيل والاحكام الكبرىٰ لعبد الحق ۱۲۵/۲) حافظ فرمائی : د عبد امامت په صحت باندے جمهورو قول کړيدے او امام مالكؒ پکښې اختلاف کړيدے هغه وائی : آزادو ته به غلام امامتی نۀ کوی مګر که غلام قاري وی او آزاد خلق قاريان نۀ وی نو بيا امامتی کولے شی مګر بيا هم په جُمُعه کښې به امامتی نۀ کوی۔ ځکه چه په غلام باندے د جُمُعے مونځ ندے فرض۔انتهیٰ۔ او دے جواز ته ذهاب کړيدے ابوذر، حذيفه، ابن مسعود ﷺ، او د تابعينو نه ابن سيرينؒ او حسنؒ، شريحؒ، نخعیؒ، شعبیؒ، او حكمؒ او د فقهاؤ نه ثوری، ابوحنيفهؒ، شافعیؒ، احمدؒ او اسحاقؒ۔

عينیؒ وائی : زمونږ اَصحابو امامت د عَبْد مکروه ګڼړی ځکه چه عبد په خدمت د مولیٰ مشغول وی (عمدة القاری ۲۲۵/۵۔ **الجواب** : خبره په هغه صورت کښې ده چه کله په خدمت کښې نۀ وی۔ او دلته احنافو د امام ابوحنيفهؒ هم خلاف کړيدے۔

تعارف د ابوسلمة : دده نوم عبد الله بن عبد الاسد بن هلال بن عبد الله بن عمر بن مخزوم القرشی المخزومی دے د ام سلمه رضی الله عنها خاوند وو او د رسول الله ﷺ رضاعی ورور وو چه دۀ او حمزه او رسول الله ﷺ د ابولهب د وينځے ثُوَيْبَه نه تے رودلے دے۔ اول ئے حمزه له بيا رسول الله ﷺ له بيا ابوسلمه له ئے تے ورکړے دے۔ او دده مور بَرّه بنت عبد المطلب د رسول الله ﷺ ترور وه۔ ابو سلمهؓ هم د خپلے ښځے ام سلمے سره حبشو ته هجرت کړے وو بيا د دوه هجرتونو کولو نه پس بدر ته هم حاضر شو او په جنګ اُحُد کښې زخمی شو بيا ئے زخم جوړ شو مګر بيا رامات شو او د هغے په وجه په جمادی الآخره کښې په سنه (۳ھ) کښې وفات شو۔ او رسول الله ﷺ په مدينه باندے خليفه مقرر کړے وو په سنه دويم هجری کښې کله چه غزوه د ذی الْعُشَيْرے ته اُووتلو۔ او دۀ باندے کنيه غالبه ده او رسول الله ﷺ دده د وفات نه پس دده بی بی ام سلمه په نکاح واخسته۔

---

۱۲ – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «ثَلَاثَةٌ لَاتُرْفَعُ لَهُمْ صَلَاتُهُمْ فَوْقَ رُؤُوْسِهِمْ شِبْرًا: رَجُلٌ اَمَّ قَوْمًا وَهُمْ لَهُ كَارِهُوْنَ وَامْرَأَةٌ بَاتَتْ وَزَوْجُهَا عَلَيْهَا سَاخِطٌ، وَاَخَوَانِ مُتَصَارِمَانِ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه. ــــــــــــــــــــ

ترجمه : او ابن عباس ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ فرمائيلی دی : «درے کسان دی چه د هغوی مونځ د هغوی د سرونو نه يو لويشت نۀ پورته کيږی : (۱) يو هغۀ سړے چه يو

قوم ته امامت کوی او هغوی ئے بد گنړی۔ (۲) دویم هغهٔ زنانه چه پداسے حال کښ شپه تیرهٔ وی چه خاوند په هغے باندے غُصه وی۔ (۳) دریم هغهٔ دوه وُرونه دی چه یو بل سره ئے تعلق کټ کړے وی»۔ (ابن ماجهؒ)

تشریح : شِبْرًا: یعنی د یو لویشتے په اَندازه د دوی مونځ نهٔ پورته کیږی،یعنی نهٔ قبلیږی۔ اِشاره ده دیته چه ټول اعمال د انسانانو بَره ځی نو الله بَره دے او کوم اعمال چه قبول نشی نو هغه واپس راپریوځی۔

بَاتَتْ : یعنی کله چه زنانه د خاوند تابعداری نهٔ کوی د کوم کار اراده چه خاوند د هغے نه کوی او د شرع خلاف نه وی نو پدے وخت کښ دا زنانه بَدْ اخلاقه ده۔ او بیا ئے باتت ذکر کړو اشاره ده چه غالباً اراده د سړی د شپے وی ورنه تخصیص د شپے نشته۔ دا بناء بر عادت وئیلے شویدے۔

وَاَخَوَان : نسبی ورونه وی که دینی ۔ متصارمان : یعنی یو بل سره د درے ورځو نه بَره په ناجائز کښ ورانه کړے وی او خبرے اترے نهٔ کوی نو د دوی مونځ هم نهٔ قبلیږی۔ ددے نه هغه صورت مستثنیٰ دے چه د یو بل سره ئے د دینی کار د وجه نه ورانه وی لکه یو وړور مشرك كافر دهری دے، یا ترے څهٔ جرم شویدے لکه دکعب بن مالك واقعه چه د غزوه تبوك نه پاتے شو نو پنځوس ورځے ورسره خبرے بندے وے۔

درجة الحديث : اسناده حسن : اخرجه ابن ماجه (٩٧١) وعزاه المنذری فی الترغیب (١٧١/١) والنووی : انه رواه ابن حبان ایضاً فی صحیحه وقد قال العراقی و النووی اسناده حسن وقال البوصیری فی الزوائد اسناده صحیح ورجاله ثقات.



باب ما علی الامام

د هغه حقوقو بیان چه په امام باندے لازم وی

یعنی دا باب دے په بیان د حقوقو د مقتدیانو کښ په امام باندے۔ دیته حقوق المامومین علی الامام وائی او پدے حقوقو کښ اَهَم حق دا دے چه امام به په مانځه کښ تخفیف کوی او داسے تطویل به نهٔ کوی چه خلقو لره د جماعت نه متنفر کړی بلکه د مقتدیانو د ضعف، حاجت او مرض وغیره احوالو لحاظ به ساتی۔ او مقدار د اُوږدوالی د مانځه او لنډوالی په راتلونکی حدیث کښ ذکر دے۔ او دارنګه په مجلد (٤/٢٤٠) (٣/٨٣، ٣٧٤) کښ ددے زیات تفصیل سره د مثالونو نه تیر شویدے۔

الفصل الاول

١ – عَنْ اَنَسٍ، قَالَ: مَا صَلَّيْتُ وَرَاءَ اِمَامٍ قَطُّ اَخَفَّ صَلَاةً وَلَا اَتَمَّ صَلَاةً مِنَ النَّبِيِّ ﷺ، وَاِنْ كَانَ لَيَسْمَعُ بُكَاءَ الصَّبِيِّ فَيُخَفِّفُ مَخَافَةَ اَنْ تُفْتَنَ اُمُّهٗ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: انس رضی الله عنه فرمائی: ما هیچرے دیو اِمام نه روستو مونځ نهٔ دے کړے چه هغهٔ ډیر سپک مونځ والا وی او کامل مونځ والا وی د نبی ﷺ نه۔ او یقیناً نبی ﷺ به د ماشوم د ژړا اَوریدلو نو مونځ به ئے سپک (مختصر) کړو، پدے یَره چه مور به ئے په فتنه کښ واقع شی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح: انس رضی الله عنه فرمائی: ما په دومره اُوږد عمر کښ (د انس عمر ١٠٣ کاله وو) د نبی علیه السلام په شان خفیف او پوره مونځ والا پسے مونځ نهٔ دے کړے۔ یعنی د نبی علیه السلام مونځ به خفیف هم وو او تمام به هم وو۔ او ددے تخفیف او اِتمام او ددے د مقدار تشریح په (ج٤/ص٢٤٠) (ج٣/ص٨٣، ٣٧٤) کښ اُوګوره دلته **مختصر صورتونه** دا دی:

١ – اتمام په رکوع او سجده کښ وی او تخفیف په قیام او قراءت کښ وی یعنی په رکوع او سجده کښ به ئے پوره پوره اَذکار لوستل البته قیام او قراءت به ئے مختصر کولو کوم چه په احادیثو کښ وارد دی۔

٢ – یا تخفیف په قعده او قراءت کښ وی او اِتمام په باقی اَرکانو کښ۔

٣- بعض علماء ددے حدیث داسے معنیٰ کوی چه کله به نبی ﷺ د صحابه کرامؓ نشاط او رغبت اُولیدو نو اُوګد مونځ به ئے کولو او چه کله به عُذر او داعی د تخفیف موجود وو نو بیا به ئے تخفیف کولو۔ لهذا دا جُدا جُدا مونځونو سره لګی۔

لیکن دا معنیٰ ظاهره نهٔ ده بلکه دا په یو مونځ کښ مراد دے چه یو مونځ به نبی ﷺ خلقو ته کولو نو تخفیف به هم پکښ وو او اِتمام به هم وو۔ بیا تخفیف بالاتفاق مستحب دے او په وجوب کښ ئے اختلاف دے۔ د ابن الحزمؒ او ابن عبد البرؒ رأیه دا ده چه واجب دے ځکه رسول الله ﷺ پرے اَمر کړیدے (فليخفف)۔

٢- جمهور وائی : اَمر د استحباب دپاره دے نو تخفیف مستحب دے او تطویل مکروه دے۔ بیا د تخفیف مقدار څه دے ؟ نو تخفیف یو نسبی امر دے ډیر کرت یو اُوږد مونځ لنډ وی په نسبت د ډیر اُوګد مونځ او لنډ مونځ کله اُوګد وی په نسبت د ډیر لنډ۔ نو فیصله به په څه کوو؟ نو هغهٔ د رسول الله ﷺ مونځ دے چه هغه خفیف هم وو او تَمام هم وو۔ او د هغے اندازه مونږ مخکښ بیان کړیده (٢٤٠/٤) چه هغه لس لس کرت تسبیحات د رکوع او سجدے وئیل او هر مانځه کښ چه نبی ﷺ ته کوم سورتونه نقل دی هغه وئیل دا بعینهٖ مختصر مونځ دے امام به ددے نه زیادت نهٔ کوی او ډیر اختصار به هم نهٔ کوی۔

حافظ ابن رجبؒ په فتح الباری (١١٦/٥ كتاب الصلاة) کښ لیکی : د نبی ﷺ د دَور نه روستو بعض خلق داسے راپیدا شو چه هغوی مونځ ډیر مختصر کړو لکه دا کار په کوفے والو کښ پیدا شو او بعضو به ډیر اُوګد والے کولو او دا کار په شام او مدینے والو کښ پیدا شو۔ او سلفو په دواړو باندے إنکار اُوکړو۔ يزيد التيمی التابعیؒ د کوفے د امامانو په تخفیف باندے سخت رد اُوکړو۔ او عبد الله بن عمر ؓ به په هغه چا رد کولو چه د نبی ﷺ په مانځه به ئے زیادت کولو فرمایل به ئے : (سجدة من سجود هؤلا اطول من ثلاث سجدات من سجود النبی ﷺ (احمد والطبرانی فی الکبیر واسناده حسن) مجمع الزوائد (٧١/٢ و ٢١٧)۔ (یوه سجده ددے خلقو د نبی ﷺ د درے سجدو نه هم اُوګده ده)۔ او شام والو ته ئے وئیلی وو چه تاسو هم مونځونه اُوګده کوئ او دعاء ګانے هم ډیرے کوئ)۔

حافظ ابن القیمؒ فرمائی : په مانځه کښ دوه حقه دی یو حق د الله دے چه ډیر اُوږد اُوکړے شی او بل حق العباد دے نو امام به د دواړو لحاظ ساتی، نهٔ به داسے مونځ کوی چه د الله حق برباد کړی او هیڅ توجه پکښ اُونکړی او د مقتدیانو د خوښے مطابق مونځ اُوکړی او نهٔ به داسے اُوګد کوی چه بندګان په عذاب کړی۔ او ددے معیار نبوی مونځ دے۔

فوائد الحدیث : ١- فيخفف نه معلومیږی چه په مانځه کښ د بل چا رعایت کول

هم جائز دی۔ نو پدیے باندیے دا مسئله تفریع ده (اطالة الرکوع للجائی) چه راتلونکی ته رکوع اُوګدول چه هغه فضیلت د مانځه لاندیے کړی څنګه دی؟۔

۱- **جمهور** (شافعیؒ، مالكؒ، ابوحنیفةؒ) وائی دا کار بنهٔ نه دیے (عینیؒ)۔ ۲-امام محمدؒ وائی : زهٔ یریږم چه دا کار به ریاء او شرك وی ځکه چه عبادت د غیر الله دپاره اُوشو۔

۳- احمدؒ او اسحاقؒ او ابوثورؒ وائی : (یطیل ما لم یشق علی الماموین) (دومره اُوګدول د مانځه جواز لری چه په مقتدیانو مشقت رانشی)۔ او دیے کار ته ریاء نشی وئیلے بلکه دا اِعانت دیے په خیر باندیے (قاله السندیؒ) وهو القول الراجح۔

٤- د شعبیؒ او حسنؒ او عبد الرحمن بن ابی لیلیٰؒ په نزد بالکل جائز دیے۔ او پدیے کښ د ریاء هیڅ خبره نشته ځکه چه دا عمل د الله دپاره دیے او ورسره مسلمان ته د خیر رسولو نیت هم ملګریے شو۔ او ددیے مسئلے تفصیل مع الدلائل (٦) مخکښ باب تعجیل الصلاة (۱۲۷/۳) کښ تیر شویدیے۔ وانظر فتاوی الدین الخالص (٤/۲۳۰) (٥/۱۷۱) و (۳/۸۸)

۲- **فائده** :ماشومان مسجد ته راوستل جائز دی، دیے دپاره چه په مانځه اَمُوخته شی۔اویو ضعیف روایت کښ دی : (جَنِّبُوا مساجدنا صبیانکم الخ (زمونږ د مسجد نه ماشومان وړاندیے کړئ) نو هغه ضعیف جداً دیے۔

۳- یو انسان مونځ اُوګد شروع کړیے وی لیکن مینځ کښ څهٔ حادثه راپیښه شی نو مونځ مختصرول جائز دی۔ لکه دلته د نبی ﷺ به د اُوګد مونځ اراده وه لیکن د ماشوم ژړا په وجه به ئے مختصر کړو (بخاریؒ)۔

دیے دپاره چه ماشوم ضائع نشی او مورئے په فتنه کښ پریے نه وُځی۔ او عمر فاروق ﷺ چه کله اُووهلے شو نو عبد الرحمن بن عوف ﷺ مختصر مونځ خلقو ته اُوکړو۔

٤- حدیث دلیل دیے په کمال شفقت د نبی ﷺ په خپلو ملګرو چه د وړو او د غټو او کمزورو لحاظ کوی۔

٥- په مانځه کښ خشوع کول او ددیے سره د خلقو خبریے اَوریدل کمال دیے، ددیے په خلاف د بعض تابعینو عمل دیے چه هغوی به په مانځه کښ نَشه کیدل۔

٦- په داسیے مقام کښ چه بنده په مشقت کښ پریے وځی نوحق د بنده مقدم دیے په حق د الله باندیے۔

۲- وَعَنْ اَبِیْ قَتَادَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«اِنِّیْ لَاَدْخُلُ فِی الصَّلَاةِ وَاَنَا اُرِیْدُ اِطَالَتَهَا، فَاَسْمَعُ بُکَاءَ الصَّبِیِّ فَاَتَجَوَّزُ فِیْ صَلَاتِیْ، مِمَّا اَعْلَمُ مِنْ شِدَّةِ وَجْدِ اُمِّهٖ مِنْ بُکَائِهٖ». رَوَاهُ

اَلْبُخَارِيُّ.

ترجمه : او ابو قتاده ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمائيلي دی: «يقيناً زهٔ په مانځه کښې داخليږم او د مونځ د اُوږدولو اراده لرم نو د ماشوم ژړا واورم نو په مانځه کښې اِختصار اُوکړم ددې وجه نه چه ماته معلوم وي سخت غمجن کيدل د مور ددهٔ په ژړا ددهٔ». (بخاريؒ)

تشريح : دا حديث دليل دے چه په مانځه کښې د مقتديانو لحاظ کول ضروري دي مګر په داسې طريقه چه د الله حق هم برباد نهٔ شي. او دليل دے چه ماشومان مسجد ته راوستل جواز لري اګرکه ډير وارهٔ وي، او د ماشوم ژړا که د مور سره په مسجد کښې وي يا دا چه مور ئې مسجد کښې وي او ماشوم کور کښې وي او د هغهٔ د ژړا آواز راشي نو مونځ به ئې مختصرولو، دے دپاره چه په مور باندې رحم اُوکړي ځکه نبي ﷺ نبي الرحمة دے، په هغهٔ باندې رحمت زيات غالب وو او اګرکه نبي ﷺ ته دا معلومه وه چه ماشوم ته ژړا ډيره فائده ورکوي لکه حافظ ابن قيمؒ فرمائي: د ماشوم ژړا سره د هغهٔ د اَنداموتو ورزش کيږي او د هغهٔ کولمے او سينه کولاووي، او دماغ ئې جوش کښې راولي او مزاج ئې ګرموي، او حرارتِ غريزي ئې راپورته کوي، او طبيعت کښې ئې حرکت پيدا کوي، دے دپاره چه فضلجات او فضوليات د دماغو نه دفع کړي.

او دا مونځ اګرکه اُوږد وي لکه د سحر مونځ وي خو د يو عارض په راتلو سره په هغې کښې تخفيف اَفضل دے. (فيض القدير(٢٣/٣) للمناويؒ).

فائده : د وَجَدَ يَجِدُ (د ضرب نه) مصدر چه کله مَوْجِدَة راشي نو په معنیٰ د غضب (غصے) سره دے او چه کله ئې مصدر وَجْدٌ راشي نو په معنیٰ د محبت دے او په ضمه د جيم سره (وُجْد) په معنیٰ د غم او طاقت او مالدارئ سره راځي او چه مصدر ئې وُجُوْد او وِجْدَان شي نو معنیٰ ئې موندل دي، او وِجادَة د کتابت په طريقه حديث نقل کولو ته وائي يعنی د چا د صحيفے نه علم او حديث رانقل کول، چه هغے کښې سماع، اِجازت او مناوله نهٔ وي.

دا حديث دليل دے چه زنانه هم مسجد ته راتلے شي اګرکه ماشومان ورسره وي.

او دليل دے چه په مونځ باندے به خلق نشي تنګولے چه ډير ئې اُوګد کړي. عمر فاروق ﷺ به فرمائيل : تاسو الله خلقو ته مهٔ مبغوض کوئ؟ چا ورته اُووئيل دا به څنګه وي؟ هغه اُوفرمايل : پدے طريقه چه يو اِمام مونځ اُوګد کړي نو مقتديان په مانځه کښې تنګ شي. او هغهٔ د مانځه نه نفرت اُوکړي. (الاستذكار ٧٨/٢) تحفة الاحوذی (٢٦٩/١) (٢٣/٢)

٣– وَعَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ، قَالَ:قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«اِذَا صَلّٰى اَحَدُكُمْ لِلنَّاسِ فَلْيُخَفِّفْ، فَاِنَّ

فِيهِمُ السَّقِيمَ وَالضَّعِيفَ، وَالْكَبِيرَ. وَإِذَا صَلَّى اَحَدُكُمْ لِنَفْسِهِ فَلْيُطَوِّلْ مَا شَاءَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمايلی دی : «کله چه يو تن ستاسو نه خلقو ته مونځ کوی نو تخفيف دِے کوی ، ځکه په هغوی کښ بيمار، کمزورے او بوډا وی۔ (نو د هغوی رعايت هم پکار دے) او کله چه يو تن ستاسو ځانله مونځ کوی نو څومره ئے چه خوښه وی اُوږد دِے کړی»۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشريح : السَّقِيمَ هغه ته وائی چه مرض پرے راغلے وی او ضعيف هغے ته وائی چه ضعيف الخِلْقَة وی نرے او کمزورے وی۔ او کبير هغه دے چه عُمرئے ډير وی، بوډا وی۔ په روايتِ د مسلمؒ کښ ورسره (الصغير) هم راغلے دے۔او طبرانیؒ کښ ورسره (حامل او مُرْضِع) هُم راغلے دے۔ او بل روايت د طبرانیؒ کښ ورسره (عابر سبيل) (لاره وہے) هم دے۔

بيا بعض علماءٔ فرمائی : که په يو ځائے کښ د تخفيف علت منتفی شی يعنی مقتديان ټول راضی وی په تطويل باندے او هلته نور مقتديان اصحاب الاعذار نه راځی نو بيا تطويل مکروه نهٔ دے۔ ليکن علامه ابن عبد البرؒ فرمائی : زما په نيز علت د تخفيف مامون نهٔ دے ځکه امام اگرکه د خپلو مقتديانو قوت پيژنی مګر بيا هم څه پته لګی چه هغوی ته يوه مشغله يا يو ضرورت يا آفت د بول وغيره راپيښ شی لهذا تخفيف پکار دے۔

فَلْيُطَوِّلْ مَا شَاء : يعنی په قراءت ، رکوع، سجده، اعتدال او د دوه سجدو مينځ کښ ناسته او تشهد کښ دِے اُوګد والے کوی۔ ليکن دے سره دا قيد دے چه د وخت د خروج خيال به کوی۔ په روايت د مسلم کښ دی: (فليصل کيف شاء) وسيأتی۔(يعنی څنګه ئے چه خوښهٔ وی اُودِے کړی مخفف وی او که مطوّل وی) ليکن دومره تطويل به نهٔ کوی چه وخت اُوځی يا د کراهت وخت ته اُورسی۔

٤– وَعَنْ قَيْسِ بْنِ اَبِى حَازِمٍ، قَالَ: اَخْبَرَنِي اَبُوْمَسْعُوْدٍ اَنَّ رَجُلًا قَالَ: وَاللهِ يَارَسُوْلَ اللهِ! إِنِّى لَأَتَأَخَّرُ عَنْ صَلَاةِ الْغَدَاةِ مِنْ اَجْلِ فُلَانٍ مِمَّا يُطِيْلُ بِنَا، فَمَا رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ فِي مَوْعِظَةٍ اَشَدَّ غَضَبًا مِنْهُ يَوْمَئِذٍ، ثُمَّ قَالَ: «اِنَّ مِنْكُمْ مُنَفِّرِيْنَ، فَأَيُّكُمْ مَا صَلَّى بِالنَّاسِ فَلْيَتَجَوَّزْ، فَاِنَّ فِيهِمُ الضَّعِيفَ وَالْكَبِيْرَ، وَذَا الْحَاجَةِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او قيس بن ابی حازمؒ فرمائی: ما ته ابو مسعود ﷺ خبر راکړے دے چه يو سړی اُووئيل : قسم په الله ! اے د الله رسوله ! زهٔ د سحر مانځه نه روستو پاتے کيږم د وجه د فلانی

نه چه هغهٔ مونږ ته مونځ اُوږد کوی، نو ما رسول الله ﷺ په يو نصيحت کښې سخت غصے والا نۀ دے ليدلو لکه څنګه چه په دغه ورځ سخت غصه شو، وے فرمايل: «په تاسو کښې بعض خلق (د اُوږد مونځ کولو په وجه) نفرت کښې اَچونکی دی، (خبردار) تاسو نه چه کوم شخص خلقو ته مونځ کوی نو آسان مونځ دِے کوی ځکه په مقتديانو کښې کمزورے، بوډا او حاجتمند خلق (هم) وی»۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تعارف د قيس بن ابی حازم : ابوعبد الله الكوفی ثقه دے او د كبار التابعين نه دے مخضرم دے بعض وائی نبی ﷺ ئے ليدلے دے او دا د عَشره مُبشرو شاګرد دے۔ د سلو کالو نه ئے عمر زيات وو۔ (تقريب) او تهذيب کښې دی چه دهٔ جاهليت دور لاندے کړيدے او نبی ﷺ ته د بيعت دپاره راروان وو چه په لاره کښې خبر شو چه نبی ﷺ وفات شو او پلار ئے صحابی دے۔

تشريح : رَجُلًا : حافظ ابن حجرؒ وائی: ددے نوم ما ته ندے معلوم او چا چه وئيلی دی چه دا حزم بن أبی بن كعب دے نو خطاء وائی ځکه د هغهٔ واقعه د معاذ بن جبل سره راغلے ده۔ او هغه په مسجد بنی سلمه کښې وه او په ماسخوتن مانځه کښې وه او دا قصه په مسجد قباء کښې ده او په سحر مانځه کښې ده۔

او دلته د فلان (امام) نه مراد اُبی بن كعب دے۔ او هلته امام معاذ وو۔

لکه ددے واقعے تفصيل په مسند ابی يَعلیٰ کښې باسناد حسن راغلے دے۔ جابرؓ فرمائی : اُبی بن کعب به اَهل قباء ته مونځ کولو نو اُوګد سورت ئے شروع کړو، د هغهٔ سره د اَنصارو نه يو هلك مانځه کښې شامل شو، خو کله چه دهٔ واوريدل چه هغهٔ (امام) اُوګد سورت شروع کړو نو د مانځه نه اُووتلو نو اُبی بن کعب پدے کار غصه شو، نبی ﷺ ته راغلو د هغهٔ هلك شکايت ئے کوو او هغهٔ هلك راغلو د اُبی شکايت ئے کولو نو نبی ﷺ غصه شو تردے چه غصه ئے په مخکښې اُوپيژندے شوه۔

بيا ئے اُوفرمايل : «بعض په تاسو کښې نفرت کښې خلق اَچوی کله چه تاسو مونځ کوئ نو اختصار کوئ ځکه ستاسو نه روستو ضعيف او بوډا او مريض او حاجتمند خلق وی۔ (فتح الباری ١٩٨/٢ باب تخفيف الامام) بيا فرق دا دے كه د سحر مونځ وو نو اُبیؓ به مراد وی او كه دماسخوتن وی نو مُعاذؓ به مراد وی۔

دا حديث دليل دے چه کله امام مونځ غلط کوی يا په بے حده اُوګد مونځ باندے عادت وی نو جَمعے ته نهٔ حاضريدل هم جائز دی۔ ٢– او په دين کښې په يو منکر کار ليدلو باندے غصه کيدل پکار دی۔ ٣– او د مقتديانو لحاظ ساتل په تخفيف د مانځه کښې په اَندازه

شرعی سره۔ ٤- او وعید دے هغه امامانو ته چه کوشش کوی چه خلق د جماعت نه پاتے کړی د وجه د ناروا کارونو نه په مانځه کښ۔

٥- وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ: «یُصَلُّوْنَ لَکُمْ فَاِنْ اَصَابُوْا فَلَکُمْ، وَاِنْ اَخْطَأُوْا فَلَکُمْ وَعَلَیْهِمْ». رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ. وَ هٰذَا الْبَابُ خَالٍ عَنِ الْفَصْلِ الثَّانِیْ.

ترجمه : او ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی: "تاسو ته به امامان مونځونه کوی نو کۀ هغوی مونځ په شان سره کوی نو د هغے فائده تاسو له ده (او هغوی له هم ده) او کۀ هغوی خطاء کوی (بے طریقے مونځ کوی) نو تاسو ته (بیا هم) ثواب ملاویږی او د هغے ګناه په هغوی باندے به وی"۔ (بخاری) او دا باب د فصل ثانی نه خالی دے۔

تشریح : د مونځ صحیح والے او خطاء والے په دوه طریقو دے : یو د وقت خطاء والے او صحیح والے دے او بل په ارکانو کښ خطاء والے او صحیح والے دے۔

نو پدے کښ اختلاف دے ١- احناف وائی : د وقت خطاء والے دے نو معنیٰ دا ده چه که دا امامان په وخت کښ مونځ کوی او مکروه وخت ته ئے نۀ اُوباسی نو ستاسو مونځ هم اُوشو او د امامانو هم اُوشو او که هغوی په وخت کښ خطاء شو لکه بنی اُمیه وغیره به دا کار کولو چه مونځونه به ئے ناوخته کول نو ستاسو مونځ او ثواب اُوشوتاسو به الله نۀ یاګیروی او ګناه ئے په هغوی ده۔

٢- شافعیؒ او جمهورؒ وائی : چه د (اصابوا) معنیٰ ده چه وخت هم لاندے کړی او بل (اتموا الرکوع والسجود) (یعنی ارکان د مانځه ئے هم پوره طریقے سره اُوکړل) او که وقت کښ ئے خطائی کوله یا ارکان ئے پوره طریقے سره نۀ ادا کول نو بیا به امامان ګناهګار وی او د مقتدیانو مونځ اُوشو۔ او دا قول راجح دے ځکه چه په حدیث عقبه بن عامرؓ کښ دی۔

ابوعلی المصری الهمدانیؒ فرمائی : مونږ د عقبه بن عامرؓ سره سفر کولو نو د مانځه وخت راغلو، زمونږ اراده وه چه عقبهؓ به مخکښ کیږی نو هغه اُوفرمایل : ما د رسول الله ﷺ نه اَوریدلی دی : (من ام قوماً، فان اتم فله التمام ولهم التمام وان لم یتم فلهم التمام وعلیه الاثم) احمد وابوداود وابن ماجه) (صحیح الترغیب (١/١١٦) رقم (٤٨٢) وفی روایة ابن خزیمة وابن حبان : من ام الناس فاصاب الوقت واتم الصلاة فله ولهم ومن انتقص من ذلك شیئاً فعلیه ولا علیهم) (چا چه خلقو ته امامتی کوله او صحیح وقت کښ ئے کوله او مونځ ئے هم اتمام سره کولو نو ددۀ هم صحیح مونځ اداء شو او د مقتدیانو هم او چا چه پدے

کښې نقصان کولو نو د مقتدیانو مونځ اُوشو او ګناه ئې په امام ده) دا حدیثونه په دوه مسئلو دلیل شو یو دا چه که امام په وقت او اَرکانو کښې صحیح وو نو د دواړو مونځ صحیح دے او که امام په دواړو کښې خطاء وو نو په امام باندے ګناه ده او د مقتدیانو مونځ صحیح دے۔

مقتدی چه کله امام پسے مونځ نشی رسولے مونځ جائز نهٔ دے

او دویم پدے مسئله دلیل دے چه د مقتدی مونځ جُدا دے او د امام مونځ جُدا دے ځکه چه مقتدی به ځان له اِتمام د اَرکانو کړے وی لهذا د هغهٔ مونځ اُوشو او هر چه اِمام دے نو هغهٔ په اتمام کښې نقصان راوستو لهذا د هغهٔ مونځ اُونهٔ شو۔

او دا علماء ددے دواړو دپاره شرطونه وائی : ۱- یو شرط دا دے چه امام به خلیفه یا نائب د خلیفه وی ځکه هغوی ته څوك څهٔ نشی وئیلے او که عام امام وی نو تهٔ به ئې ددے غوږ نهٔ اُونیسے او رارُوستو به ئې کړے۔ ۲- دویم شرط دا وائی چه مقتدی به ځان له مونځ پوره کولے شی او رکوع او سجده او تعدیل الارکان به کولے شی۔ اګرکه امام ئې پوره طریقے سره نهٔ کوی۔ ځکه د امام مونځ جُدا او د مقتدی مونځ جُدا دے۔ چه تا خپل مونځ صحیح اُوکړو نو غاړه دِے آزاده شوه او امام به ګناهګار وی او پدے باندے امام بخاریؒ باب لګولے دے (باب اذا لم یتم الامام واتم من خلفه ۹۶/۱) (یعنی چه مقتدی مونځ پوره پوره کوی او امام اتمام نهٔ کوی نو مقتدی مونځ جائز دے)

او که تا چرته رکوع او سجده ورپسے نشوه رسولے نو بیا ستا مونځ هم نهٔ کیږی۔ نو که وخت کښې ئې خطائی کوله نو دهغے طریقه خو دا ده چه اول به ځانله مونځ اُوکړے بیا به د اِمام سره شریك شے او که اَرکان ئې خراب وو نو که تا صحیح ادا کولے شو نو ستا مونځ کیږی او که تا ورپسے ارکان نشو رسولے نو بیا ستا هم نهٔ کیږی۔

او اَحناف صرف د وقت د خطائی قید لګوی ځکه هغوی وائی چه مقتدی مطلقاً تابع د امام دے یعنی په صحت او فساد کښې که د امام مونځ صحیح شو نو د مقتدی به هم صحیح وی او که د امام مونځ فاسد شو نو د مقتدی به هم فاسد وی، د مقتدی خپل اتمام له اعتبار نهٔ ورکوی۔ او د دواړو مونځ جُدا جُدا نهٔ شماری۔ او د امام شافعیؒ په نزد مقتدی تابع د امام دے صرف په موافقت کښې نهٔ په صحت او فساد کښې۔

وهو قول مالك واحمد ایضاً۔ وهو الراجح۔ دلائل ئې د (الامام ضامن) حدیث لاندے تیر شویدی۔ (۳۷۴/۳) و (۴۳۰/۲- باب الغسل)

الفصل الثالث

٦- عَنْ عُثْمَانَ بْنِ اَبِی الْعَاصِ، قَالَ: آخِرُ مَا عَهِدَ اِلَیَّ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اِذَا اَمَمْتَ قَوْمًا فَاَخِفَّ بِهِمُ الصَّلَاةَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ. وَفِیْ رِوَايَةٍ لَهُ: اِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ لَهُ: «اُمَّ قَوْمَكَ». قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! اِنِّیْ اَجِدُ فِيْ نَفْسِيْ شَيْئًا. قَالَ: «اُدْنُهْ، فَاَجْلَسَنِيْ بَيْنَ يَدَيْهِ، ثُمَّ وَضَعَ كَفَّهُ فِيْ صَدْرِيْ بَيْنَ ثَدْيَيَّ، ثُمَّ قَالَ: «تَحَوَّلْ»، فَوَضَعَهَا فِيْ ظَهْرِيْ بَيْنَ كَتِفَيَّ، ثُمَّ قَالَ: «اُمَّ قَوْمَكَ فَمَنْ اَمَّ قَوْمًا فَلْيُخَفِّفْ، فَاِنَّ فِيْهِمُ الْكَبِيْرَ، وَاِنَّ فِيْهِمُ الْمَرِيْضَ وَاِنَّ فِيْهِمُ الضَّعِيْفَ، وَاِنَّ فِيْهِمْ ذَا الْحَاجَةِ. فَاِذَا صَلّٰى اَحَدُكُمْ وَحْدَهُ فَلْيُصَلِّ كَيْفَ شَاءَ».

ترجمه: عثمان بن ابی العاص ؓ فرمائی: رسول الله ﷺ چه ما ته آخرنے وصیت کړے دے (هغهٔ دا دے چه) «کله تهٔ خلقو ته اِمامتی کوے نو مونځ ورته آسان کوه» (مسلمؒ) او په یو روایت د مسلمؒ کښ دی: عثمانؓ ته ئے اُوفرمایل: «خپل قوم ته امامتی کوه»، عثمان فرمائی: ما عرض اُوکړو یا رسول الله! زهٔ په خپل زړهٔ کښ څهٔ شك موندهٔ کوم۔ وے فرمایل: «رانزدے شه!» نو زهٔ ئے خپلے مخے ته کینولم، بیائے ورغوے زما په سینه باندے د تیونو ترمینځ کیخودو بیائے اُوفرمایل: «شا راواړوه!» نو زما په شان باندے ئے د اُوګو ترمینځ کیخودو بیائے اُوفرمایل: «خپل قوم ته اِمامت کوه، او څوك چه یو قوم ته اِمامت کوی نو هغهٔ له پکار دی چه تخفیف اُوکړی، ځکه په هغوی کښ بوډا او په هغوی کښ مریض او په هغوی کښ کمزورے، او په هغوی کښ حاجتمند وی او کله چه یو تن ستاسو ځانله یواځے مونځ کوی نو بیا چه څومره (اُوږد) مونځ کوی خوښه ئے ده»۔

تشریح: اِنِّیْ اَجِدُ فِيْ نَفْسِيْ: یو مطلب دا دے چه زهٔ په ځان کښ شرائط د امامت او د هغے د حقوقو پوره کولو طاقت نهٔ وینم ځکه چه زما په سینه کښ وساوس راځی او بل دا چه د قرآن او د علم برداشت مے کم دے نو کله چه نبی ؑ ورله په سینه او شا باندے لاس راخکلو نو دا مصیبتونه ترے لرے شو او د قرآن او د علم دین په پورته کولو قوی شو۔

٢- امام نوویؒ وائی: دا احتمال هم لری چه ددهٔ مقصود دا وی چه زهٔ ویریږم د څهٔ تکبر او اِعجاب نه په زړهٔ کښ کله چه ما خلق مقدم کړی نو الله ترے د نبی ؑ د لاس په برکت هغه مصیبت ختم کړو۔

٣- په روایت د ابن ماجه (١١٧٤) رقم (٣٥٤٨) وهو فی الصحیحة (٩٩٩/٦ رقم ٢٩١٨) وغیره کښ راځی چه دهٔ کښ پیرے (جنی) ننوتے وو، وسوسے به ئے وراچولے او قراء

ت به یے پرے گډوډ کولو نو نبی ﷺ ته ئے شکایت اُوکړو او هغه ورله په سینه کښې گوزار ورکولو سَره د سپی د بچی په شان اُوویستلو۔ نو الله ورله شفاء ورکړه۔ او نبی ﷺ ورته تعوذ اُوخودلو په هغې باندے به ئے عمل کولو نو الله ترے دغه پیرے اُوویستلو لکه دا حدیث په باب الوسوسه (۲۵) حدیث کښې تیر شویدے۔ (۲۸۶/۱) طبع ثانی)

۷- وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَأْمُرُنَا بِالتَّخْفِيفِ وَيَؤُمُّنَا بِ (الصَّافَّاتِ). رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: او ابن عمر رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ به مونږ ته په تخفیف (د مانځه) باندے حکم کولو او مونږ ته به ئے په سورۂ صافات سره اِمامتی کوله۔ (نسائیؒ)

امام به په مانځه کښې تخفیف کوی او د تخفیف نه څه مراد دے؟

تشریح: یعنی کله چه مونږ اماماتی کوو نو مونږ ته د نبی ﷺ دا امر دے چه تخفیف به کوو او د تخفیف نه مراد تخفیف د قراءت دے او خپله به ئے کله نا کله په صافات سورت سره اماماتی کوله۔ بیا پدے کښې دا اشکال کیږی چه ددے دواړو جملو منافات ښکاری ځکه چه امت ته امر کوی په تخفیف او خپله تطویل کوی۔

نو ددے جواب دا دے چه د رسول الله ﷺ د تلاوت په اوریدو کښې مقتدیانو ته لذت ملاویدو تردے چه سامع به تول حاجت هیر کړل او ضعیف به په تولو حالاتو د ضعف کښې قوی شو او هر یو به دا خوښول چه رکعت اُوګد کړی۔ لهذا دا به د هغهٔ په حق کښې تخفیف وو۔ نو معلومه شوه چه امام به د مقتدیانو د حالت رعایت کوی۔ (سندیؒ)

طیبیؒ وائی: نبی ﷺ اُمت ته په تخفیف باندے امر کوی او خپله تطویل کوی۔ ددے وجه دا ده چه نبی ﷺ کښې یو خصوصیت وو او هغهٔ دا چه هغهٔ به په لږ وخت کښې ډیر آیاتونه لوستل چه خلق به نهٔ تنګیدل۔ انتهی۔

★**بعض** وائی: دا کارئے بیاناً للجواز کړیدے چه کله نا کله تطویل هم جائز دے۔ او دیته امام نسائیؒ اشاره کړیده چه امام دپاره تطویل هم جائز دے اګرکه عامه ذمواری د امام تخفیف دے۔ بعض علماء (حافظ ابن قیمؒ) فرمائی: (فالقرائة بالصافات من التخفيف الذى أَمَرَ به - والله اعلم) (الامامة فى الصلاة ۶۲/۲) څوك چه سحر یا ماښام مونځه کښې سورۂ صافات کله نا کله وائی نو دا بعینه د تخفیف اندازه ده۔ او دا تطویل نهٔ دے۔ بلکه ددے نه زیادت کول به تطویل وی، او دا مطلب نهٔ دے چه د نبی ﷺ عمل د هغهٔ دقول مخالف دے

ځکه نبی ﷺ په ماښام مانځه کښې سورۂ اَعراف هم لوستے دے چه هغه د صافات نه ډیر اُوګد دے۔ او همدا خبره حقه ده۔

فائده : د امام نه چه کوم تخفیف مطلوب دے هغۀ دوه قسمونو ته تقسیم دے :

۱– یو لازم تخفیف دے، چه د هغۀ اندازے نه به تجاوز نۀ کوی کوم بانډے چه سنت راغلے دے، کۀ دے باندے اُوږدوالے اُوکړی نو دا به مُطوِل (خلاف سنت اُوږدونکے) وی، ځکه د (فليخفف) امر مخالفت ئے اُوکړو۔

۲– او دویم عارضی تخفیف دے چه په یو مقام کښې یو سبب موجود شی چه هغۀ د اختصار او ایجاز تقاضا کوی نو د سنت نه په پکښې زیات اختصار اُوکړی لکه نبی ﷺ به د ماشوم ژړا اَوریدو سره مونځ کښې اختصار کولو او دا دواړه قسمه تخفیف سنت کښې راغلے دے۔ (الامامة فی الصلاة ۲/۶۲) للدکتور سعید بن علی بن وهف القحطانی)

درجة الحدیث : اسناده صحیح : اخرجه النسائی (۲/۹۵) و کذا البیهقی (۳/۱۱۸).



باب ما على المأموم من المتابعة وحكم المسبوق

د مقتدي دپاره د امام د تابعدارئ لزوم او د مسبوق د حكم بيان

امام، ماموم، مقتدي، مسبوق، لاحق او مدرك الفاظ استعماليږي. مخكښ د اِمام احكام تير شو اُوس د مقتدي اَحكام بيانوي. مقتدي او ماموم يو شے دے.
مُدرك هغه شخص دے چه د اِمام سره ئے مونځ د اَول نه تر آخره پورے موندلے وي، لاحق : هغهٔ مقتدي دے چه د اول نه مونځ كښ شريك وي ليكن مينځ كښ ے اَودسه شي بيا راشي نو يا باقي مونځ لاندے كړي يا ترے فوت شوے وي. او دغه باقي بيا ځانله كوي.
مسبوق : هغهٔ دے چه اول سر د مونځ ترے فوت شوے وي او ناوخته راغلے وي. د لاحق احكام مخكښ په ابتداء د مجلد ثاني كښ تير شوي دي په حديث (لا تقبل صلاة بغير طهور) كښ. هغهٔ آسان او واضح دي. او هر چه مقتدي دے نو د هغهٔ او د مسبوق حكم بيانوي نو په ماموم باندے د امام متابعت (تابعداري) لازم ده يعني د امام نه به مخكښ والے او ډير روستو والے نهٔ كوي.
بيا ئے متابعت لفظ راوړو نه مقارنت اشاره ده چه مقتدي به د امام پسے روستو روستو ځي. او شريك به ورسره يو ځائے هم نهٔ ځي او ډير به ترے روستو هم نهٔ پاتے كيږي چه امام د ركن نه فارغ شي او دا روستو ورشي بلكه چه امام يو ركن كښ شروع اُوكړه نو مقتدي به ورپسے متصل روستو شروع كوي. چه په دغه ركن كښ امام لاندے كړي.
احنافو ليكلي دي چه په اركانو كښ كوم فرض يا واجب دي په هغے كښ په مقتدي باندے د امام تابعداري واجب ده، او په دے اركانو كښ چه كوم سنن وغيره دي نو د مقتديانو دپاره د امام متابعت ضروري نهٔ دے، نو بيائے پرے دا مسئله تفريع كړيده چه كه امام شافعي المذهب وي او رفع اليدين كوي نو حنفي دپاره لاسونه پورته كول ضروري نهٔ دي. دارنگه كه امام شافعي المذهب وي او په مانځه كښ قنوت نازله ولي.
نو حنفي مقتديانو باندے د هغهٔ متابعت لازم نهٔ دے. مگر صحيح دا ده چه دا تشريحات د ځان نه د تقليدي جذبے په وجه ايجاد شوي دي، بلكه صاحب الشرع ﷺ په مانځه كښ د امام په تابعدارئ باندے مطلقاً امر كړيدے لهذا امام چهٔ په هر سنت باندے

عمل کوی نو مقتدی به ئے ورسره ضرور کوی او په یو مانځه کښې به تریګنی نۀ کوی «یو بام او دوه هوا» به نۀ جوړوی۔

الفصل الاول

۱ - عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، قَالَ: كُنَّا نُصَلِّيْ خَلْفَ النَّبِيِّ فَإِذَا قَالَ: «سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ»، لَمْ يَحْنِ اَحَدٌ مِنَّا ظَهْرَهُ حَتّٰى يَضَعَ النَّبِيُّ ﷺ جَبْهَتَهٗ عَلَى الْاَرْضِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: او براء بن عازب ﷛ فرمائی: مونږ به د نبی ﷺ نه روستو مونځ کولو نو کله چه به هغۀ «سمع الله لمن حمده» اُوویل: زمونږ نه هیڅ یو تن به خپله ملا نۀ کړوله تردے چه نبی ﷺ به خپل تندے مبارك په زمکه کیخودو۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح: لَمْ يَحْنِ: د حَنَا يَحْنُوْ او حَنٰى يَحْنِيْ د باب د دَعَا او رَمٰی نه دے، کړولو او مائل کولو ته وائی۔

مقتدی به د امام سره مقارنت نۀ کوی

پدے حدیث کښې داسے عمل ذکر دے چه نن صبا په عام مساجدو کښې دا نشی لیدلے، صحابه فرمائی: نبی ﷺ به چه کله تندے په زمکه کیخودو نو مونږ به تر هغۀ وخت پورے ملا نۀ وکړه کړے بلکه نیغ به ولاړ وو کله چه به نبی ﷺ سجده اُولګوله بیا به مونږ راروان شو او سجدے ته به راپریوتو۔ ددے نه معلومه شوه چه تولو صحابه کرامؓ به د امام متابعت کولو، مخکښې والے او ډیر روستو والے به ئے نۀ کوو او نۀ به شریك خکته کیدل پورته کیدل۔ علامه عینیؒ فرمائی: ددے حدیث معنیٰ دا ده چه مقتدی به په یو رکن کښې شروع کوی پس د شروع د امام نه په هغے کښې او مخکښې د فارغیدو د امام نه۔ حافظ ابن حجرؒ فرمائی: دا ډیر واضح دلیل دے په انتفاء د مقارنت کښې۔

ددے مسئلے تفصیل مخکښې په څلورم جلد (ج۴/ص ۲۲۵) کښې سره د دلائلو نه تیر شویدے چه آیا مقتدی به د امام سره مقارنت کوی او که متابعت۔ احناف د مقارنت قائل دی او شوافع د متابعت۔

احناف ددےقسم احادیثو نه داسے جواب کوی چه دا په هغۀ زمانه کښې وو چه د نبی ﷺ بدن غټ شوے وو نو یَریدو چه مقتدیان به ترے مخکښې شی ځکه ئے ورته دا اَمر کړے وو چه ما پسے روستو راځئ لیکن دے خبره باندے هیڅ دلیل نشته۔

او دے احادیثو کښې رد دے په ابن الجوزیؒ باندے هُم، هغۀ وائی: امام چه کله د رک

فارغ شي نو روستو به مقتدي شروع كوي حال دا چه دا خبره په حديث كښې بالكل نشته څكه دلته داسے ندي وئيل شوي چه نبي ﷺ به سجده اُوكړه بيا به مونږ خكته كيدو بلكه ډاسے دي كله چه به نبي ﷺ تندے په زمكه كيخودو نو مونږ به خكته كيدو.

نو دا ظاهره ده چه نبي ﷺ به لا د سجدے نه فارغ شوے نهٔ وو چه صحابه كرامؓ به ورسره شامل شو. (تحفة الاحوذي ۱۳٦/۲)

فائده : حديث دليل دے چه امام ته په مانځه كښې كتل جواز لري دے دپاره چه اركانو ته په نقل كيدو كښې د امام اتباع اُوكړي.

۲- وَعَنْ اَنَسٍ، قَالَ: صَلّٰى بِنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فَلَمَّا قَضٰى صَلَاتَهٗ أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهٖ، فَقَالَ:« اَيُّهَا النَّاسُ ! اِنِّيْ اِمَامُكُمْ فَلَا تَسْبِقُوْنِيْ بِالرُّكُوْعِ وَلَا بِالسُّجُوْدِ وَلَا بِالْقِيَامِ وَلَا بِالْاِنْصِرَافِ، فَاِنِّيْ اَرَاكُمْ اَمَامِيْ وَمِنْ خَلْفِيْ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او انس ﷺ فرمائي: (يوه ورځ) مونږ ته رسول الله ﷺ مونځ اُوكړو، كله چه ئے مونځ پوره كړو نو مونږ ته ئے مخ راواړولو وے فرمايل:«اے خلقو ! زهٔ ستاسو امام يم نو ما نه په ركوع، سجده، قيام او سلام كښې مهٔ مخكښې كيږئ، يقيناً زهٔ تاسو د مخے او شا نه وينم». (مسلمؒ)

تشريح : دا حديث هم دليل دے چه متابعت پدے احوال مذكوره ؤكښې واجب دے.

وَلَا بِالْاِنْصِرَافِ : ددے نه مراد يا سلام دے يعني په سلام كښې به د امام نه مقتدي نهٔ مخكښې كيږي بلكه كله چه دواړو طرفونو ته امام سلام واړوي نو بيا به مقتدي سلام اَړوي. ۲- يا مراد دا دے چه د سلام نه روستو به د امام د پاڅيدو نه مخكښې نه پاڅئ. وجه دا ده چه كيدے شي امام نه سهوه شوي وي او بيا ورته ياد شي او بيرته ورته راوګرځي نو كهٔ مقتدي پاڅيدلے وي نو دهغهٔ نه به دا سجده سهوه فوت شي. لكه په قصه د ذي اليدين كښې. يا ددے وجه نه چه زنانه د سړو نه مخكښې كورونو ته واپس شي لكه دا مخكښې هم تير شويدي. مگر اول احتمال ظاهر دے.

فائدة : ددے اركانو تخصيص ئے اُوكړو اشاره ده چه په افعالو كښې د امام نه تقديم جائز نهٔ دے البته په اقوالو كښې د تقديم جواز ترے ثابتيږي.

۳- وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«لَاتُبَادِرُوا الْاِمَامَ : اِذَا كَبَّرَ فَكَبِّرُوْا، وَاِذَا

قَالَ (وَلَا الضَّالِّيْنَ) فَقُوْلُوْا : آمِيْنَ. وَإِذَا رَكَعَ فَارْكَعُوْا، وَإِذَا قَالَ: سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، فَقُوْلُوْا: اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ »۔ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. اِلَّا اَنَّ الْبُخَارِيَّ لَمْ يَذْكُرْ : وَاِذَا قَالَ: (وَلَا الضَّآلِّيْنَ).

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي : «د امام نه جلتي مهٔ كوئ !، كله چه امام تكبير كوي، نو تاسو (هم دهغهٔ سره) تكبير وايئ، كله چه امام ولا الضالين اُووئي نو تاسو آمين وايئ، او كله چه امام ركوع كوي نو تاسو (هم) ركوع كوئ، او كله چه امام سمع الله لمن حمده اُووائي نو تاسو وايئ : اللهم (اے الله ! زمونږ ربه ستا دپاره حمدونه دي) (بخاريؒ ومسلمؒ) مگر بخاريؒ دا الفاظ نهٔ دي ذكر كړي : (واذا قال ولا الضالين)۔

تشريح : لَاتُبَادِرُوْا الْاِمَامَ : يعني د امام نه د مانخه په هيڅ حالت كښې مخكښې والے مه كوئ۔
دا حديث ددے نفي نهٔ كوي چه گنے مقتدي به سمع الله لمن حمده نهٔ وائي بلكه لكه څنگه چه دلته د امام آمين نه دے ذكر نو دغه شان د مقتدي سمع الله لمن حمده نهٔ ده ذكر او هغه د نورو احاديثو نه معلوم شويدي لكه چه دا مسئله په (ج٤/ص ۱۳۰) باب الركوع كښې تفصيلًا مع الدلائل تيره شويده۔
بعض احناف ليكي : دلته ئے د مقتدي فاتحه ذكر نهٔ كړه نو معلومه شوه چه مقتدي به فاتحه نهٔ وائي۔ **جواب** دادے چه دا استدلال ضعيف دے وجه دا ده چه دلته خو د امام آمين هم نهٔ دے ذكر او حال دا چه احناف هم وائي چه امام به آمين وائي۔ بيا كه دوي وائي چه د امام آمين د نورو احاديثو نه معلوم دے نو مونږ وايو چه د مقتدي فاتحه هم د نورو احاديثو نه معلومه ده۔ بله وجه دا ده چه دلته دا مسئله ثابتول مقصود دے چه د آمين مقام كوم يو دے۔ نو هغهٔ د امام د ولا الضالين او آمين وئيلو سره شريك آمين وئيل مسنون دي لكه دا مسئله مخكښې تفصيلًا ذكر شويده۔
وَاِذَا رَكَعَ فَارْكَعُوْا : په روايت د ابوداود كښې داسے دي : ولا تركعوا حتى يركع) (تاسو ركوع ته مهٔ ځئ تردے چه هغهٔ ركوع ته لاړ شي) علامه عينيؒ او حافظؒ دواړه وائي : دا روايت د ابوداود صريح دے په انتفاء د تقدم او مقارنت كښې۔

٤- وَعَنْ اَنَسٍ: اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ رَكِبَ فَرَسًا، فَصُرِعَ عَنْهُ، فَجُحِشَ شِقُّهُ الْاَيْمَنُ، فَصَلّٰى صَلَاةً مِنَ الصَّلَوَاتِ، وَهُوَ قَاعِدٌ، فَصَلَّيْنَا وَرَاءَهُ قُعُوْدًا، فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ: «اِنَّمَا جُعِلَ الْاِمَامُ لِيُؤْتَمَّ بِهِ، فَاِذَا صَلّٰى قَائِمًا فَصَلُّوْا قِيَامًا، وَاِذَا رَكَعَ فَارْكَعُوْا، وَاِذَا رَفَعَ فَارْفَعُوْا، وَاِذَا قَالَ

سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ فَقُوْلُوْا: رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ، وَإِذَا صَلّٰى جَالِسًا فَصَلُّوْا جُلُوْسًا اَجْمَعُوْنَ». قَالَ الْحُمَيْدِيُّ: قَوْلُهٗ إِذَا صَلّٰى جَالِسًا فَصَلُّوْا جُلُوْسًا، هُوَ فِيْ مَرَضِهِ الْقَدِيْمِ ثُمَّ صَلّٰى بَعْدَ ذٰلِكَ النَّبِيُّ ﷺ جَالِسًا وَالنَّاسُ خَلْفَهٗ قِيَامٌ لَمْ يَأْمُرْهُمْ بِالْقُعُوْدِ، وَإِنَّمَا يُؤْخَذُ بِالْآخِرِ فَالْآخِرِ مِنْ فِعْلِ النَّبِيِّ ﷺ هٰذَا لَفْظُ الْبُخَارِيِّ. وَاتَّفَقَ مُسْلِمٌ إِلٰى اَجْمَعُوْنَ. وَزَادَ فِيْ رِوَايَةٍ: «فَلَا تَخْتَلِفُوْا عَلَيْهِ، وَإِذَا سَجَدَ فَاسْجُدُوْا».

ترجمه: او انس رضی الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ (يوه ورځ) په آس باندې سُور شو نو د هغهٔ نه راگوزار شو (چه د هغې په وجه ئې) ښي طرف زخمي شو (داسې چه بيا په ولاړه مونځ كولو قادر نهٔ وو) نو د (پنځه) مونځونو نه ئې يو مونځ په ناسته اُوكړو او مونږ د هغهٔ نه روستو په ناسته مونځ اُوكړو، نو كله ئې چه سلام واړولو وې فرمايل: «يقيناً امام دې دپاره مقرر شوې دې چه د هغهٔ اقتداء اُوكړې شي، نو كله چه امام په ولاړه مونځ كوي، تاسو (هم) په ولاړه مونځ كوئ، او كله چه هغهٔ ركوع كوي، تاسو هم ركوع كوئ او كله چه هغهٔ سر پورته كوي (د ركوع نه)، تاسو (هم) سر پورته كړئ او كله چه هغهٔ سمع الله لمن حمده وائي، نو تاسو وايئ: (اې ربه! ستا دپاره حمدونه دي) او كله چه امام په ناسته مونځ كوي نو تاسو (هم ورسره) ټول په ناسته مونځ كوئ (بخاریؒ). امام حميدیؒ (د بخاریؒ اُستاذ) فرمائي: د رسول الله ﷺ دا اِرشاد چه (كله امام په ناسته مونځ كوي نو تاسو هم په ناسته مونځ كوئ) دا د نبي عليه السلام په پخوانۍ بيمارۍ كښې وو او دې نه بعد ئې (په مرض الوفات كښې د مرگ نه يوه ورځ مخكښې) نبي ﷺ په ناسته مونځ اُوكړو او خلق د هغهٔ نه روستو ولاړ وو او هغوی ته ئې په ناسته مونځ كولو حكم اُونهٔ كړو او د نبي ﷺ په هغهٔ فعل باندې به عمل كيږي كوم چه آخري وي (يعني اول فعل منسوخ او دويم فعل ناسخ وي) دا الفاظ د بخاریؒ دي او مسلمؒ هم د لفظ "اجمعون" پورې د بخاریؒ موافق دې (يعني دې لفظ پورې بخاریؒ او مسلمؒ دواړو په اتفاق نقل كړيدې) او په يو بل روايت د مسلمؒ كښې دا الفاظ مزيد نقل كړيدي چه (نبي ﷺ دا هم اُوفرمايل:) «د اِمام خلاف مهٔ كوئ او كله چه امام سجده كوي نو تاسو هم سجده اُوكړئ».

تشريح: فَصُرِعَ عَنْهُ: صُرِعَ د مجهول صيغه ده يعني د آس نه گوزار شوې وو.

فَجُحِشَ شِقُّهُ الْاَيْمَنُ: يعني د هغهٔ د ښي طرف (پونډۍ) نه پوستكې اوريدلې وو (زخمي شوې وو) او نبي عليه السلام د آس نه دوه كرته پريوتې وو يو. په مكه كښې د هغهٔ آس مشركانو تيز

کړے وو او بل په پنځم کال د هجرت باندے په مدینه کښ د اَس نه پریوتے وو د کجورے په ستنه باندے۔ او دا هغه زمانهِ ده چه په بالاخانه کښ د بی بیانو نه جدا شوے وو۔ دا دلیل دے چه نبی ﷺ عالم الغیب نهٔ دے او مالك د ضرر او د نفع نهٔ دے۔

امام چه په ناسته مونځ کوی. مقتدیان به هم کینی

فَصَلَّيْنَا وَرَاءَهٗ قُعُوْدًا : پدے روایت کښ دا راغلل چه نبی ﷺ په ناسته مونځ کولو او مقتدیان هم ورسره ناست وو او بیائے د سلام نه روستو دا اُوفرمایل : « امام ددے دپاره مقرر شویدے چه د هغه اقتداء اُوشی...... نو کله چه هغه په ناسته مونځ کړی نو تاسو هم ورسره په ناسته مونځ اُوکړئ»۔

او په بخاریؒ باب الصلاة فی السطوح) کښ د حُمید په روایت کښ د انسؓ نه داسے الفاظ نقل دی : (فصلی بهم جالساً وهم قیام) (یعنی نبی ﷺ هغوی ته په ناسته مونځ اُوکړو او هغوی ولاړ وو)۔او د سلام نه روستو ئے ورته دغه مذکوره ارشاد اُوفرمایلو۔ لیکن پدے دواړو روایتونو کښ اختصار شویدے۔ تفصیل ددے په روایت د عائشهؓ کښ دے چه بخاریؒ وغیره راوړیدے۔ هغه داسے چه نبی ﷺ په ناسته مونځ کولو او د هغهٔ نه روستو خلق ولاړ وو نو اِشاره ئے ورته اُوکړه چه کینئ۔ نو هغوی کیناستل او په ناسته ئے هغوی ته مونځ اُوکړو او بیائے دغه ارشاد هم ورته اُوفرمایلو۔ نو پدے روایت د انسؓ کښ آخری حالت ذکر دے چه نبی ﷺ او قوم دواړو په ناسته مونځ اُوکړو۔ او په بل روایت د انسؓ کښ چه (وهم قیام) (د مقتدیانو د اُودریدو حالت کښ مونځ کول) ذکر دی نو دا په اول حالت کښ وو او آخری حالت ئے نهٔ دے ذکر کړے او عائشهؓ دواړه حالتونه جمع کړیدی۔او دغه شان په روایت د مسلمؒ کښ جابر ﷺ جمع کړیدی۔

اِنَّمَا جُعِلَ الْاِمَامُ لِيُؤْتَمَّ بِهٖ : یعنی امام دے دپاره مقرر شویدے چه د هغه اقتداء به کولے شی او ددے تفصیل ئے په فاذا صلی قائماً الخ سره بیان کړیدے۔ نو دا دلیل دے چه مقتدی به تابع وی د امام، د هغهٔ نه به مخکښ کیږی هم نهٔ او د هغه سره به برابریږی هم نهٔ او د هغهٔ نه به په ځائے د اُودریدو کښ هم نهٔ مخکښ کیږی۔ بلکه د هغهٔ د احوالو لحاظ به ساتی او د هغهٔ په شان کار به کوی د هغهٔ د شروع نه روستو۔ او د هغهٔ مخالفت به هم نهٔ کوی۔ چه د هغهٔ نه په ارکانو کښ مقدم شی خو دا خاص دے په ظاهری افعالو پورے او باطنی افعالو ته نهٔ دے شامل لکه کلمات نیت وغیره۔ امام نوویؒ فرمائی : متابعت د امام صرف په افعال ظاهرو کښ واجب دے ځکه چه پدے حدیث کښ تنبیه په همدے ورکړے شویده ځکه چه دلته ئے

رکوع وغیره ذکر کړه اشاره ده چه نیت کښې اتفاق او برابروالے ضروری نۀ دے ځکه نیت پکښې نـدے ذکر کړے۔ او هغـه پـه نـورو دلائـلو خارج شویدے لکه قصه د معاذؓ وغیره پرے دلیل دے۔ انتهیٰ: او بل دلیل دا هم دے چه پدے حدیث کښې حصر د اقتداء صرف په افعالو کښې شویده نۀ په ټولو احوالو کښې لکه امام بے اودسه وی یا پرے نجاست لګیدلے وی او مقتدی ته د هغے معلومات نۀ وی نو د مقتدی اقتداء ددے امام پسے جائز ده۔ په صحیح قول کښې د اقوالو د علماؤ نه۔ (طرح التثريب ۸۶/۳) والمرعاة)

مسائل : --- ۱- د ضرورت په وخت کله رکن ساقطیږی :

پـدے حدیث کښې یـو مسئله دا ده چه د ضرورت په وخت کله نا کله د مانځه رکن هم ساقطیږی لکه دلته قیام فرض دے خو کله چه امام مریض وی په ناسته مونځ کوی یا په کشتئ کښې وی نـو مـقـتـدیـان بـه هـم ورسره کیـنـی نـو دلته د مقتدیانو نه قیام د امام د تابعداریٔ د وجـه نـه ساقط شو اګرکه مقتدیان په قیام باندے قادر وی۔ نو دا دلیل شو چه مدرك د رکوع مدرك د رکعت دے۔ کما مرّ۔

۲- المسئلة الثانية : امام چه کـلـه پـه ناسـتـه مونځ کوی نو آیا مقتدیانو باندے ناستـه لازمـه ده او کـه نـه؟ ۱- اهـل ظواهر (ابن حزمؒ، داود ظاهریؒ) کـمـا فـی المحلی (۱۵۵/۳) اوزاعیؒ او اسحاق او ابـن الـمـنذرؒ په ظاهر ددے حدیث باندے قول کوی چه د مقتدیانو دپاره کیناستل ضروری (واجب) دی اګرکه مقتدیان صحیح وی۔ مګر صرف که یـو مـقـتـدی د امام په اړخ کښې اُودریږی او خلقو ته د امام تکبیر اَوروِی نو د هغه اختیار دے که په ناسته مونځ کوی او که په ولاړه۔ (نیل الاوطار ۲۰۸/۳) باب اقتداء القادر)

۲- امـام احـمدؒ پـکښې تـفـصـیـل کـوی فرمائی: کله چه د محلے یو راتب (مقرر) امام په ناستـه بـانـدے شروع کړی د وجه د هغهٔ مرض نه چه د هغے د زوال اُمید کیدے شی نو بیا مستحب دا ده چه مقتدیان به ورسره په ناسته مونځ کوی اګرکه په قیام باندے قادر وی او کـه پـه ولاړه ئے اُوکـړو نـو هـم جائـز ده نـو دا حـکم استحبابی دے۔ او امر د وجوب دپاره نۀ دے۔ او کـلـه چه یو راتب امام په ولاړه مونځ شروع کړو نو په مقتدیانو لازم دی چه په ولاړه بـه ورسـره مـونـځ کـوی بـرابـره ده که امام ته د ناستے حادثه عارضه شی او که نۀ۔ لکه دا په هـغـه احـادیـثـو کـښې راغـلـی دی چه په هغے کښې د نبی ﷺ مـرض الـوفات ذکر دے۔ چه ابـوبـکـر صـدیـقؓ صحابه کرامؓ ته په ولاړه مونځ کولو او نبی ﷺ راغـلـو د ابوبکرؓ نه ئے امامت واخستو په ناسته باندے نو نبی ﷺ صحابه کرامؓ ته حکم اُونکړو چه تاسو کینئ ځکـه زۀ نـاسـت یـم۔ او هـمـدا قـول راجـح مـعـلـومیږی۔ لکه دیته علامه مبارکفوریؒ په

(مرعاة) کښې ترجیح ورکړېده.
نو د احمدؒ په نزد دا حکم په هغهٔ وخت کښې دے چه راتب امام به وی هله به کیناستل د مقتدیانو مستحب وی بلکه دا چه د راتب امام دا مرض به داسے وی چه د زائل کیدو اُمید به ئے وی که یو امام دائم المرض وی نو دا کار به همیشه نهٔ کوی. او بل دا حکم د ناستے اِستحبابی دے. او دا هم وائی: چه که امام په ولاړه شروع کړې وی او مینځ کښې کینی نو مقتدیان به نهٔ کینی.

۳- **امام شافعیؒ**، ابوحنیفهٔ او ابویوسفؒ وائی: د ناست امام پسے د هغهٔ مقتدیانو چه قادر وی په قیام – مونځ نهٔ دے جائز مگر په ولاړه. او دا یو روایت دے د امام مالكؒ نه چه ولید بن مسلمؒ تربے نقل کړیدے. د دوی **دلیل** دا دے چه د ناست امام پسے مونځ د مقتدیانو په ناسته منسوخ دے. او ناسخ ئے د نبی ﷺ مونځ دے په مرض الوفات کښې چه خلق تربے روستو ولاړ وو. او ابوبکرؓ هم ولاړ وو. لکه دا خبره امام شافعیؒ کړیده او امام بخاریؒ د خپل اُستاذ حمیدیؒ نه چه د امام شافعیؒ شاگرد دے نقل کړېده. او دلته مصنفؒ هم راوړیده. ددے جواب به روستو راشی.

٤- **د امام مالكؒ** مشهور قول دا دے چه د قادر مقتدیانو د ناست امام پسے مونځ نهٔ په ناسته جائز دے او نهٔ په ولاړه. او دا قول د امام محمدؒ نه امام طحاویؒ نقل کړیدے. مالکیهٔ وائی: د معذور ناست امام پسے د معذورو مونځ یا دمعذور ناست امام پسے د ولاړو خلقو مونځ دا د نبی ﷺ خصوصیت دے ځکه چه د نبی ﷺ نه په مانځه کښې مخکښې کیدل او د هغهٔ امام جوړیدل نهٔ دی صحیح، نهٔ د عذر په وجه او نهٔ د غیر عذر په وجه. لیکن دا خبره د دوی مردوده ده ځکه عبد الرحمن بن عوف پسے نبی ﷺ مونځ کړیدے دارنګه ابوبکر صدیق پسے ئے کړیدے. دارنګه د صحابه کرامؓ نه نقل دی چه هغوی په ناسته خلقو ته مونځ کړیدے لکه د هغوی بیان روستو راځی.

دلائل احمد: د امام احمدؒ قول راجح دے د وجه د راتلونکو دلائلو نه:

۱- یو **دلیل**: دا حدیث الباب دے چه پدے کښې قانون کلی ذکر دے (واذا صلی جالساً فصلوا جلوساً اجمعون) ۲- دویم حدیث د ابوهریرهؓ دے: (انما جعل الامام لیؤتم به وفیه ...... : واذا صلی جالساً فصلوا جلوساً اجمعون) (بخاری ۱/۱۰۱)

۳- **دلیل** حدیث د عائشهؓ دے (اشتکی رسول الله ﷺ فدخل علیه ناس من اصحابه یعودونه فصلی رسول الله ﷺ جالساً فصلوا بصلاته قیاماً فاشار الیهم ان اجلسوا فجلسوا فلما انصرف قال: انما جعل الامام لیؤتم به فاذا رکع فارکعوا واذا رفع فارفعوا واذا جلس فصلوا

جلوساً (مسلم ١٧٧/١) . (يعني كله چه امام په ناسته مونځ كوى نو تاسو هم ورسره په ناسته مونځ اُوكړئ) -- نو پدے حديث كښې امر راغلے دے (فصلوا) چه د ناست امام پسے به په ناسته مونځ كولے شى)

٤- **دليل**: حديث د جابرؓ كښې دا دى : (اشتكى رسول الله ﷺ فصلينا وراءه وهو قاعد وابوبكر يسمع الناس تكبيره فالتفت الينا فرآنا قياماً فاشار الينا فقعدنا فصلينا بصلاته قعوداً فلما سلّم قال : كدتم آنفاً تفعلون فعل فارس والروم يقومون على ملوكهم وهم قعود فلا تفعلوا وأتموا بائمتكم ان صلى قائماً فصلوا قياماً وان صلى قاعداً فصلوا قعوداً) (مسلم ١٧٧/١) النسائى (١٣٣/١) وابوداود (٩٦/١)

(يعني مونږ د رسول الله ﷺ سره مونځ كولو چه هغهٔ ناست وو او ابوبكر به خلقو ته د هغهٔ تكبير اَورولو نو مونږ ته ئے اُوكتل چه مونږ ولاړ وو، اِشاره ئے اُوكړه (كينئ) مونږ كيناستو نو د هغهٔ سره مو په ناسته مونځ اُوكړو كله ئے چه سلام اُوګرځولو، وے فرمايل : «تاسو نزدے وئ چه د روم او د فارس والو په شان كار مو كړے وے چه هغوى خپلو بادشاهانو باندے ولاړ وى او بادشاهان ئے ناست وى نو دا كار مه كوئ. بلكه د خپلو امامانو اقتداء كوئ كه هغه په ولاړه مونځ كوى نو تاسو هم په ولاړه او كه هغه په ناسته مونځ كوى نو تاسو هم په ناسته مونځ كوئ») (مسلمؒ).

٥- **دليل** : عبد الله بن عمرؓ فرمائى : (ان رسول الله ﷺ كان فى نفر من اَصحابه فقال : اَلَسْتُمْ تعلمون اَنّى رسول الله ﷺ اليكم ؟ قالوا : بلى نشهد انك رسول الله ! قال : الستم تعلمون انه من اَطَاعَنِىُ فقد اَطاعَ الله ومن طاعة الله طاعتى، قال : فان من طاعة الله ان تطيعونى ومن طاعتى ان تطيعوا اُمَرَائَكُمُ فان صلوا قعوداً فصلوا قعوداً) صحيح ابن حبان (٢٧٢/٣) قال شعيب الارناؤوط وحسين سليم اسد : اسناده حسن) (ومسند ابى يعلى، ومشكل الاثار للطحاوى)

(يعني زما د طاعت نه دا ده چه تاسو د خپلو اميرانو تابعدارى اُوكړئ كه هغوى په ناسته مونځ كوى نو تاسو هم ورسره په ناسته مونځ اُوكړئ) (ابوحاتمؒ فرمائى : دے حديث كښې واضح بيان دے چه كله امام په ناسته مونځ كوى نو د مقتديانو مونځ به هم په ناسته وى او دا بعينهٖ د الله هغهٔ طاعت دے چه هغه پرے بندګانو ته حكم كړيدے).

٦- **دليل**: د صحابه كرامو عمل پس د رسول الله ﷺ نه او د هغوى فتوىٰ لكه چه رابه شى.

د احنافو او شوافعو سره دليل نشته سوئ ددے نه چه دا وائى دا حكم منسوخ دے او ديته د امام بخارىؒ ميلان هم دے چه هغهٔ په خپل صحيح كښې د خپل اُستاذ (حميدىؒ) نه

نقل كړيدی چه دا حديث (اذا صلی جالساً فصلوا جلوسا) منسوخ دے ځکه دا په پخوانی مرض کښې وو چه ددے نه روستو نبی ﷺ روغ شوے وو او بيا په مرض الوفات کښې نبی ﷺ په ناسته مونځ کولو او خلق د هغه نه روستو ولاړ وو هغوی ته ئے په ناسته حکم اُونکړو لکه دا په روستو حديث د عائشهؓ کښې راروان دے۔ او دا قانون دے چه د نبی ﷺ آخری فعل به اخستے شی لهذا دغه حکم منسوخ شو۔

ليکن دا دليل د ډيرو وجو نه ضعيف دے:

اوله وجه: دا خبره ياد لرل پکار دی چه فعل ناسخ د قول نهٔ ګرځی نود (فصلوا جلوساً) حکم اګرکه مقدم دے ليکن دا قول دے او د اُمت دپاره قانون کلی دے او عامه تشريع ده او د نبی ﷺ د مرض الوفات عمل فعل دے۔ لهذا قانون کلی څنګه په يوه واقعه جزئيه باندے منسوخ کړے شی۔

صاحبؒ د فيض البارى وائی: د نسخ خبره زړهٔ پورے نهٔ اِنخلی ځکه حديث په ډير اجزاؤ د تشريع عام او ضابطه کليه باندے مشتمل دے نو په مينځ کښې يو جزء ته منسوخ وئيل او نورو ته نه وئيل او بيا په واقعه جزئيه سره چه ډير احتِمالات لری دا مفضی کيږی اضطراب ته او هيڅ تشفی پکښې نشته۔ او دا چه مونږ په نسخ باندے حمل کړيدے صرف پدے وجه چه د مذهب حفاظت اُوشی ورنه که داسے نهٔ وی نو د دواړو حديثونو جمع حاصليږی په مذهب دا حمدٓ باندے او هيڅ حاجت نسخ ته نهٔ راځی بلکه (احنافو له خو د نسخ خبره نهٔ ده پکار ځکه) احنافو خو په مسئله د استقبال او استدبار کښې حديث د ابوايوبؓ واخستو او دا ئے اُووئيل چه پدے کښې تشريع عام ده نو ددے په خلاف ئے په جزئی واقعو هيڅ باك اُونهٔ کړو او دا ئے اُووئيل چه دا داسے واقعات دی چه حالت ئے واضح نهٔ دے نو دغه شان دِ دلته هم اُووائی، د دواړو په مابين کښې هيڅ فرق نشته چه داسے اُووائی: فصلوا جلوساً حکم تشريع عام ده او حديث د مرض الوفات يوه جزئی واقعه ده۔

(مرعاة المفاتيح ٤/ ٨٩)

هاؤ! صحيح ده، دا نسخ به هله ثابتيدلے چه يو قولی حديث موجود وے چه په هغے کښې د مقتديانو د ناستے نه نهی راغلے وے۔ او حال دا چه پدے باره کښې هيڅ قسم صحيح روايت نشته او کوم اثر د شعبیؒ چه عبد الرزاق (٢/ ٤٦٣) ذکر کړيدے مرفوعاً: (لا يؤمن رجل بعدی جالساً) (ما نه روستو دِ يو څوك په ناسته امامتی نهٔ کوی) نو يو خو دا واضح نهٔ دے۔ بل دا ضعيف مرسل دے۔ په سند کښې ئے جابر جعفی دے۔

امام ابوحنيفهؒ فرمائی: (ما رأيت اکذب من جابر الجعفی – طبقات الحفاظ للسيوطی

الطبقة الرابعة) او صحيح مرسل معتبر نهٔ دے مگر په شرطونو، پاتے لا دا چه ضعيف هم وی۔ امام ابن حبان پدے روایت باندے سخت رد کریدے۔ اُوگوره صحيح ابن حبان (٢٧٢/٣)

او کومو علماؤ چه دا وئیلی دی چه د (اذا صلى جالساً) دا معنیٰ ده چه په تشهد کښې د امام سره کینئ او اختلاف ترے مه کوئ نو ابن دقيق العيدؒ وائی : سیاق د حدیث ددے معنیٰ نه انکار کوی او دا بعیده معنیٰ ده، او که دغه معنیٰ وے نو بیا به ئے داسے وئیلی وے : (واذا جلس فاجلسوا) لکه د مخکښې په شان اذا ركع فاركعوا) نو هر کله ئے چه د مخکښې نه ئے الفاظ جُدا کړل او داسے ئے اُوفرمايل : (اذا صلى جالساً فصلوا جلوساً) ظاهره شوه چه ددے نه مراد ټول مونځ دے۔ او ددے تائيد دا حديث د انسؓ دے چه (فصلينا وراءه قعوداً) (چه مونږ د نبی ﷺ پسے په ناسته مونځ اُوکړو) فتدبر۔

٢– دويمه وجه : په حديث د جابرؓ کښې علت هم ذکر دے چه نبی ﷺ اُوفرمايل :« نزدے وئ چه تاسو د فارس او روم والو په شان کار کړے وے» يعنى چه امام ناست وی او مقتديان وریسے ولاړ وی نو دا خو د روم او فارس (کفارو) سره مشابهت دے، لهذا هرکله چه علت مشابهت شو نو اُوس دا علت نهٔ منسوخ کیږی۔

٣– بله وجه دا ده چه په دغه حدیث د عائشهٔ کښې په صریح صحیح متصل حدیث کښې دا نهٔ دی ثابت چه صحابه کرامؓ د مرض الوفات په مانځه کښې د نبی ﷺ نه روستو په ولاړه مونځ کړے وی۔ بلکه کوم روایت د عائشےؓ چه نصب الرايه (٤٢/٢) کښې ذکر دے چه (والناس يصلون بصلاة ابى بكر والناس قيام خلف ابى بكر) چه خلق د ابوبکر نه روستو ولاړ وو) نو دا په كتاب المعرفة د بيهقي (٣٥٥/٢) کښې راغلے دے لیکن معلق دے د ابراهیم نخعیؒ نه، او هر چه مُسند حدیث دے نو په هغے کښې د مقتدیانو د قیام ذکر نشته۔ او حافظ ابن حجرؒ چه د امام شافعیؒ نه دا خبره نقل کړیده چه د مقتدیانو قیام په روایت د (ابراهيم نخعیؒ عن الاسود عن عائشة) کښې راغلے دے او دا ئے په مصنف د عبد الرزاق کښې د ابن جريج عن عطاء نه صراحةً موندلے دے ۔نو يو خو حديث د عائشےؓ معلق دے او روایت د عطاء مرسل دے امام احمدؒ فرمائی : په مرسلاتو کښې د حسن او عطاء نه ډیر ضعيف مرسلات نشته ځکه دا دواړه د هر چا نه اخذ کوی۔

على بن المدينیؒ فرمائی : (كان عطاء يأخذ من كل ضرب) (عطاء به د هر قسم نه اخذ کولو)۔ يحيى بن سعيد القطان فرمائی : (مرسلات مجاهد احب الينا من مرسلات عطاء بكثير، كان عطاء يأخذ من كل ضرب) (ميزان الاعتدال ٧٠/٣) تهذيب التهذيب (١٨٢/٧)

سیر اعلام النبلاء (٨٦/٥)

بلکه ابن حزمؒ او ابن حبانؒ فرمائی : چه د ابوبکرؓ نه ما سوئ د صحابه کرامؓ په ولاړه مونځ کول د نبی ﷺ پسې بالکل نۀ دی ثابت۔ او ابن حبانؒ ورله په دلیل کښې د جابرؓ حدیث کوم چه رقم (٥) کښې تیر شو (فعل فارس والروم والا) ذکر کړیدے چه دا په مرض الوفات کښې وو ځکه چه پدے کښې د ابوبکر تکبیر ذکر دے او دا هله کیږی چه خلق په مسجد کښې وی او ګڼړ وی او هر چه مخکښے مرض وو نو هغه خو د عائشةؓ په بالاخانه کښې وو۔ یو څو کسان صحابه کرامؓ وو۔ مګر حافظ ابن حجرؒ وئیلی دی چه دا په اول مرض کښې وو، نۀ په مرض الوفات کښې۔

او د ابن حبانؒ د خبرے تائید په دغه مرسل روایت د عطاء کښې هم شته چه په هغے کښې ورسره متصل داسے راغلی دی : (وصلى الناس وراءه قياماً فقال النبي ﷺ: لو استقبلت من امري ما استدبرت ما صليتم الا قعوداً، فصلوا صلاة امامكم ما كان ان صلى قائماً فصلوا قياماً وان صلى قاعداً فصلوا قعوداً) نو دا روایت د ابن حبان خبره قوی کوی چه دا په مرض الوفات کښې وو۔

٤- **وجه** : علامه سندیؒ په حاشیه د بخاری (٨٨/١) کښې بۀ وجه دا ذکر کړیده چه پدے حدیث د عائشة کښې کوم چه په مرض الموت کښې دے هیڅ دلیل نشته چه صحابه کرام ولاړ وو آؤ، دا ثابته ده چه ابوبکر ولاړ وو او شاید چه هغه د ضرورت د آواز اُورولو دپاره ولاړ وو۔ او دا خبره دے نۀ وئیلے کیږی چه په بعض روایاتو کښې راغلی دی چه صحابه کرامؓ ولاړ وو ځکه بیا خو مدار د نسخ په دغه روایاتو شو نه په هغه روایت کوم چه صاحب الصحیح یا اصحاب الصحاح ذکر کړیدے نو بیا به په دغه روایاتو کښې کتلے شی چه آیا په هغے کښې ددے حدیث (فصلوا جلوساً) په شان قوی حدیث شته او که نۀ؟ لیکن دوی چه کوم روایات ذکر کړیدی نو هغۀ ددے حدیث سره په قوت کښې برابر نۀ دی بلکه ورته رانزدے هم نۀ دی لهذا په دغه روایاتو سره ددے حدیث نسخ نشی کیدے۔ (ځکه د نسخ شرط پکښې نشته) او کوم خلق چه دا خبره کوی چه د ابوبکرؓ په امامت کښې خلق د ابوبکرؓ سره ولاړ وو کله چه نبی ﷺ راغلو او کیناستو نو څوك چه وائی صحابهؓ نۀ دی ولاړ نو هغه دے دلیل پیش کړی نو دا خبره ددۀ صحیح نه ده ځکه څوك چه د نسخ دعوی کوی نو هغۀ به دلیل پیش کوی چه آؤ صحابه کرامؓ ولاړ وو ځکه اصل خو دا ده چه مخکښے حکم صحابه کرامؓ ته شوے وو چه ماپسے به د روم او فارس والو په شان نۀ اُودریږئ) نو ددے حکم د تقاضا مطابق صحابه کرامؓ ناست دی۔ انتهی بتغیریسیر)

٥- **بله وجه** دا ده چه دا قانون دے چه نسخ ته رجوع به هله کولے شی چه جمع د دوارو

حدیثونو متعذر شی او دلته هیڅ تعارض نشته بلکه د امام احمدؒ په قول دواړه جمع کیدے شی۔ چه دا په دوه حالتونو بناء شی څنګه چه امام احمدؒ وئیلی دی۔

٦- **بله وجه** دا ده چه پدے حکم باندے څلور صحابه کرامؓ عمل کړیدے او پدے باندے فتوے ورکړیدی لکه جابر بن عبد الله ۲- ابو هریره ۳- اسید بن حضیر ٤- او قیس بن قهد رضی الله عنهم ۔ لکه د هغوی بیل بیل روایت په ابن ابی شیبه او عبد الرزاق کښ دے او پنځم قیس بن مهران۔ ٦- او انس بن مالك كما ذكره ابن بطال عن عبد الرزاق (طرح التثريب (۸٦/۳) وفتح الباري (۱۳۷/۲) او فتاوى الدين الخالص (۲۳۹/٥) کښ اُوګورئ۔

امام ابن حبانؒ او ابن حزمؒ دواړو پدے مسئله کښ د اجماع دعویٰ کړیده۔

او ابن حبانؒ فرمائی :- ددے صحابه کرامؓ مُخالف نۀ دے موجود لهذا پدے باندے اجماع د صحابه کرامو ده۔ صحيح ابن حبان (۲۷۲/۳) دیته اجماع سکوتی وائی۔ دارنګه د هغوی موافقت بیا تابعینو هم کړیدے۔لکه جابر بن زید او ابو الشعثاء او عطاء (رحم الله الجميع) پدے فتویٰ ورکړیده او د هیڅ یو تابعی نه ددوی خلاف نۀ دے ثابت۔ ګویا کښ د تابعینو هم ددے په اجازت باندے اجماع ده۔ نو د هغه چا خبره خطاء شوه چه وائی کیدے شی دغه صحابه کرامؓ ته نسخ نۀ وی رسیدلی۔

امام ابن حبانؒ لیکی : اول پدے امت کښ پدے مسئله کښ اختلاف مغیره بن مقسم کړیدے چه دا د نخعی شاګرد وو او د هغه نه حماد واخستو او بیا د هغه نه ابو حنیفةؒ واخستو او بیا د ابو حنیفةؒ نه د هغۀ اصحابو (شاګردانو) دا مذهب خورکړو۔

او د ابوبکر ﷺ اُودریدل د ضرورت په وجه وو چه هغۀ خلقو ته تکبیر اَورول وو۔

او صاحب مرعاة (٤/ ۹۱) نور هم ډیر وجوه د بطلان د نسخ دپاره ذکر کړیدی۔ او ددے مسئلے تفصیل علامه ابن حزمؒ په محلیٰ (۳/ ۱۵۵) او امام ابن حبانؒ په صحيح ابن حبان (۲/ ۲۷۳) کښ کړیدے۔

خلاصه : لهذا ثابته شوه چه امام کله معذور وی او په ناسته مونځ کوی نو مقتدیان به ورسره کینی اګرکه د هغوی ضرورت نۀ وی او همدا بعینهٖ د سنت موافق طریقه ده۔

فوائد الحديث الباقية :

۱- د امام متابعت واجب دے نو د امام د تکبیر تحریمه د فراغت نه پس به تکبیر کوی، که د امام د فراغت نه مخکښ ئے شروع اُوکړه نو مونځ ئے صحیح نۀ دے۔ څکه امام مانځه ته نۀ داخلیږی مګر پس د فراغت د تکبیر نه نو د هغه پسے اقتداء په مینځ د هغه کښ، دا اقتداء

ده د هغه چا پسے چه په مانځه کښ نۀ وی۔ په خلاف د رکوع او سجدے وغیره نه چه امام په رکوع کښ شروع شی نو روستو به مقتدی رکوع ته ورخکته کیږی۔ که د هغه سره یو ځائے خکته شی یا ترے مخکښ شو نو گناهګار دے اګرکه مونځ ئے باطل نۀ دے۔

٢-په آسونو باندے سوریدل جواز لری او د هغے په اخلاقو تجربه کول او که څوك د هغے نه پریوځی نو د هغه دپاره به اقتداء موجوده وی۔

٣-نبی ﷺ باندے هغه بیماریانے او تکلیفونه راتلے شی کوم چه عام بشر ته رسیږی او په دے کښ د هغۀ په مرتبه کښ هیڅ نقصان نۀ راځی بلکه مرتبه ئے پرے نوره هُم زیاتیږی۔ ٤- کله چه انسان زخمی شی یا د آس نه پریوځی یا اکسډنټ اُوکړی نو د هغه بیمار پُرسی کول پکار دی۔ ٥- د عجز په صورت کښ په ناسته مونځ جائز دے۔

٦- کله چه امام مریض وی او خلق د هغۀ تپوس له ورشی او د مانځه وخت شی نو په کور کښ هم مونځ کولے شی۔ دلته صحابه کرام د نبی ﷺ تپوس له راغلی دی او نبی ﷺ ورته په ناسته مونځ کړیدے او هغوی ئے هم ځان سره کینولی دی۔

٧- مسئله : بعض خلق ددے حدیث نه غلط استدلال کوی چه که امام رفع الیدین، آمین بالجهر، جلسه د استراحت نۀ کوی نو مقتدی به ئے هم نۀ کوی ځکه « انما جعل الامام لیؤتم به» راغلے دے۔ لکه دا خبره عبد الله عزامؒ کړیده او ددے حواله ئے په شیخ البانیؒ باندے ورکړے ده۔

لیکن دا خبره غلطه ده د یو څو وجو نه او هغۀ دا دی چه : ١- د دغه اعمالو ثبوت په سنت کښ ثابت دے لهذا که امام په دغه عمل نۀ کوی نو مقتدی ئے کولے شی ځکه چه نبی هر چا ته اجازت ورکړے دے د هغے د کولو۔ او دلته اقتداء په ارکانو کښ ده نۀ په شخصی اعمالو کښ۔ او پدے کښ د امام مخالفت نۀ راځی لکه مثلًا یو انسان په سجده کښ یوه دعاء وائی او امام بله وائی او امام دعاء د استفتاح یوه دعاء وائی او مقتدی بله وائی دارنګه مقتدی رفع الیدین اُوکړی، او امام ئے نۀ کوی نو دا د هغۀ مخالفت نۀ دے بلکه دا به مخالفت هله وے چه نبی پکښ اجازت نۀ وے ورکړے۔

٢- دارنګه دا ثابته شویده چه د امام مونځ جدا دے او د مقتدی مونځ جدا دے نو که امام بعض سنت اعمال په مانځه کښ نۀ کوی نو مقتدی له ئے کول پکار دی او په ارکانو او انتقالاتو کښ به ترے مخالفت نۀ کوی۔

٥- وَعَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: لَمَّا ثَقُلَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ، جَاءَ بِلَالٌ يُؤْذِنُهُ بِالصَّلَاةِ، فَقَالَ: مُرُوْا

اَبَابَكْرٍ اَنْ يُصَلِّيَ بِالنَّاسِ، فَصَلّٰى اَبُوْبَكْرٍ تِلْكَ الْاَيَّامَ. ثُمَّ اِنَّ النَّبِيَّ ﷺ وَجَدَ فِيْ نَفْسِهٖ خِفَّةً فَقَامَ يُهَادٰى بَيْنَ رَجُلَيْنِ وَرِجْلَاهُ تَخُطَّانِ فِي الْاَرْضِ، حَتّٰى دَخَلَ الْمَسْجِدَ، فَلَمَّا سَمِعَ اَبُوْبَكْرٍ حِسَّهٗ، ذَهَبَ يَتَاَخَّرُ، فَاَوْمَاَ اِلَيْهِ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَنْ لَا يَتَاَخَّرَ، فَجَاءَ حَتّٰى جَلَسَ عَنْ يَسَارِ اَبِيْ بَكْرٍ، [وَكَانَ اَبُوْبَكْرٍ] يُصَلِّيْ قَائِمًا، وَكَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُصَلِّيْ قَاعِدًا، يَقْتَدِيْ بِصَلَاةِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ وَالنَّاسُ يَقْتَدُوْنَ بِصَلَاةِ اَبِيْ بَكْرٍ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِيْ رِوَايَةٍ لَهُمَا : يُسْمِعُ اَبُوْبَكْرٍ النَّاسَ التَّكْبِيْرَ.

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی: کله چه رسول الله ﷺ ډیر زیات بیمار وو، نو (یوه ورځ) بلال راغلو هغهٔ ته ئے د مانځه خبر ورکولو (چه یا رسول الله! د مانځه وخت برابر دے) نو نبی ﷺ اُوفرمایل : «ابوبکر ته حکم اُوکړئ چه هغهٔ خلقو ته مونځ اُوکړی، نو ابوبکر صدیقؓ په دغه ورځو کښ (اُوولس) مونځونه خلقو ته اُوکړل. بیا (یوه ورځ) نبی ﷺ په خپل نفس کښ خفت (چُستی) محسوس کړه نو هغهٔ (د مانځه دپاره مسجد ته) راپاڅیدو چه د دوه سړو ترمینځ راخکلے شو (چه د هغوی په اُوګو باندے ئے لاس ایخودے وو) او (د کمزورتیا په وجه) د هغهٔ خپے (مبارکے) په زمکه باندے کرخے راخکلے. تردے چه مسجد ته داخل شو نو کله چه ابوبکر صدیقؓ د هغهٔ د راتلو آواز محسوس کړو، نو شروع شو چه روستو کیدو (دے دپاره چه رسول الله ﷺ امامت اُوکړی) نو رسول الله ﷺ ورته اشاره اُوکړه چه نهٔ دے روستو کیږی، نو نبی ﷺ راغلو تردے چه د ابوبکرؓ کس طرف ته کیناستو نو ابوبکر صدیقؓ به په ولاړه مونځ کولو او رسول الله ﷺ به په ناسته مونځ کولو، ابوبکرؓ به د رسول الله ﷺ د مانځه اقتداء کوله او خلقو به د ابوبکر صدیقؓ د مانځه اقتداء کوله. (بخاریؒ او مسلمؒ) او په یو روایت د دواړو کښ دی: ابوبکر صدیقؓ به خلقو ته تکبیر اُورولو (ځکه چه رسول الله ﷺ د کمزورتیا په وجه آواز خلقو ته نشو رسولے).

تشریح : ثَقُلَ : د کرم نه دے مصدر ئے ثِقَلٌ دے لکه د صِغَرٌ په شان، په معنیٰ د درنیدو سره دلته ترے مراد مریض کیدل او آخری درجے ته ضعف رسیدل دی.

فَصَلّٰى اَبُوْبَكْرٍ تِلْكَ الْاَيَّامَ : اولس (۱۷) مونځونه ابوبکر اُوکړل. دا امامتِ صغریٰ اهل سنتو دلیل ګرځولے دے په خلافت د ابوبکر صدیق باندے پس د وفات د نبی ﷺ نه لکه چه دا خبره علی بن ابی طالبؓ ذکر کړے وه. چه نبی ﷺ مونږ له ابوبکر په مانځه کښ نائب مقرر کړو نو مونږ به ئے د خپلو دنیاوی کارونو دپاره ولے نهٔ مقررو؟.

وَجَدَ فِيْ نَفْسِهٖ خِفَّةً : یعنی نبی علیه السلام په بعض دغه ورځو کښ په نفس کښ

طاقت اُومونده ظاهر دا ده چه دا د جمعرات ورځ وه او د ماسپښين مونځ وخت وو د وفات نه پنځه ورځې مخکښې حالت وو۔
يُهَادٰى : مهاداة ديته وائي چه د دوه کسانو په مينځ کښې روان وي په هغوي باندې ئې تکيه اچولې وي او مزل کښې ئې کوږ والې وي د وجه د ډير ضعف نه۔ يو لاس ئې د يو کس په اوګه وي او بل لاس د بل په اُوګه۔
بَيْنَ رَجُلَيْنِ : ددې رجلين نه عباس بن عبد المطلبؓ او علي بن ابي طالبؓ مراد دي لکه فصل ثالث کښې راځي۔ په روايت د ابن حبان کښې باسناد حسن دي : چه د بريرةؓ او نُوبَه په مابين کښې راوُتو۔ امام نوويؒ د دواړو تطبيق داسې کړيدې چه د کوټې نه مسجد ته ددې دواړو په مابين کښې راوتې وو او بيا ترې عباسؓ او عليؓ اُونيولو۔ او په مسلم کښې دي چه د فضل بن عباسؓ او عليؓ په مابين کښې وو نو دا په هغه حالت کښې چه د ميمونې د کوټې نه د عائشېؓ کوټې ته رانقل کيدو۔ او هيڅ تعارض پکښې نشته والحمد لله۔ يا واقعات مختلف دي۔
جَلَسَ عَنْ يَسَارِ اَبِيْ بَكْرٍ : دا د امام ځائې دې۔ او دا دليل دې چه نبي ﷺ پدې حالت کښې امام جوړ شوځکه چه امام سره که مقتدي اُودريږي نو ښي طرفته به اُودريږي او امام به ګس طرفته وي۔
فوائد الحديث : ١- امام لره د مانځه خبر ورکول جائز دي او دا په تثويب کښې نۀ داخليږي۔ ٢- په امامت کښې اَعْلَم مقدم کول هم جواز لري کله چه څۀ ناخه قرائت ورته ياد وي۔ ٣- رسول الله ﷺ بَشَر دې، عجز پرې راغلې دې، د ځان نه ئې نشي دفع کولې نو د مشرکانو نه به څۀ دفع کړي۔
٤- (فاوماً) په همزې سره۔ دې نه معلومه شوه چه د بهر نه فتح ورکول هم جائز دي۔
٥- د ابوبکر چپ طرفته اُودريدو نه معلومه شوه چه کله د مقتدي نه امام جوړ شي او امام نه مقتدي نو خيرې دې کله چه رکعت نۀ وي شوې او دا کار هله پکار دې چه د مسجد امام راتب وي او افضل وي او دلته د ابوبکر خضوع ده چه روستو شو دا د مشرانو ادب او احترام دې۔ -- ٦- ابوبکر دلته د امر په ځائې د ادب نه کار اخستې دې نو داسې مقام کښې به (الادب فوق الامر) باندې عمل وي۔
٧- که ځائې تنګ وي نو د امام سره اُودريدل هم جواز لري۔
٨- کله چه د امام آواز باقي مقتديانو ته نۀ رسي نو د مکبر دپاره جائز دي چه په جهر سره تکبير اُوکړي چه نورو ته آواز اُورسوي۔
٩- د مکبر د آواز تابعداري جائز ده او د آواز اَورونکي او اَوريدونکي دواړو مونځ صحيح

دے۔ او پدے کښې مالکیه خلاف کوی او تفصیلات بیانوی چه هیڅ دلیل پرے نشته۔
۱۰- د مقتدی دپاره د امام د مَوْقِف (ځائے د اُودریدو) نه مخالفت کول هم جائز دی چه کله ضرورت وی لکه د هغهٔ آواز خلقو ته رسوی دلته ابوبکر ولاړ دے او نبی ﷺ ناست دے۔
۱۱- د جماعت تاکید پکښې ذکر دے چه په دومره سخت حالت کښې نبی ﷺ بیا هم جماعت ته حاضریږی اګرکه مرض سبب دے دپاره د پریخودلو د جماعت۔ طبریؒ وائی: پدے کښې تنبیه ده روستو امامانو ته چه په اَدنیٰ عذر سره جماعت ترک نهٔ کړی۔ او نبی علیه السلام په داسے حالت کښې هم ځان معذور اُونهٔ ګڼړلو او مسجد ته راروان شو۔
او په دے کار باندې سلف صالحینو هم عمل کړیدے ★- د ربیع بن خیثمؒ باره کښې دی : دهٔ ته فالج رسیدلے وو او د دوه کسانو په مابین کښې به مسجد طرفته راروان کړے شوے وو، چا ورته اُووئیل: تهٔ خو معذور ئے، (په تا باندے د جماعت پابندی نشته) نو هغهٔ به فرمایل: صحیح ده، لیکن زهٔ د مؤذن نه اَورم چه حی الصلاة حی الفلاح وائی، او چا چه دا واوریدله نو هغهٔ دے مانځه ته حاضر شی اګرکه په ګونډو او تُلیدو سره وی۔
★- ابوعبد الرحمن السلمیؒ به مریض وو او مسجد ته به وړے شو۔
★- سفیان فرمائی: سوید بن غفلهٔ د یو سل شپږ ویشتو (۱۲٦) کالو په عمر وو او بیا به هم (مسجد ته) د مانځه دپاره تلو۔ ★- ابواسحاق الهمدانیؒ به د دوه کسانو ترمینځ راخکلے شو او مسجد ته به روان کړے شوے وو کله چه به د مانځه نه فارغ شو نو خپله به نشو پاڅیدلے تردے چه بل چا به پاڅولو۔ ★- سعید بن المسیبؒ فرمائی: د دیرشو کالو نه مؤذن اذان نهٔ دے وئیلے مګر زهٔ په مسجد کښې یم۔ (شرح البخاری لابن بطال جزء۲/۳٦۲)
۱۲- فضیلت د ابوبکر صدیقؓ په نورو صحابه کرامو باندے چه نبی ﷺ دهٔ کښې اَهلیّت لیدلو ځکه ئے دا د صحابه کرامو امام جوړ کړو او پدے کښې اشاره وه ددهٔ خلافت ته۔
۱۳- بعض مقتدیان د بعضو پسے اقتداء کولے شی۔ لکه قول د عائشےؓ دے چه ابوبکر د نبی ﷺ پسے اقتداء کوله او مقتدیانو د ابوبکرؓ د مانځه اقتداء کوله۔ اګرکه پدے کښې بعض علماء وائی چه دلته ابوبکر خلقو ته آواز رسولو نو د هغهٔ د آواز اقتداء وه باقی نیت د اقتداء د نبی ﷺ پسے وو صرف دا رهنما وو۔
۱٤- ابوبکر صدیق پدے رضا نهٔ وو چه د نبی ﷺ امام شی لکه نبی ﷺ چه کله په بنی عمرو بن عوف (اهل قباء) کښې د یو جنګ کښې د اصلاح دپاره لاړو او کله چه بیرته راغلو نو بلال ابوبکر ته د جماعت کولو درخواست اُوکړو، کله چه نبی علیه السلام راغلو ابوبکر په مانځه کښې مشغول وو نو خلقو ابوبکر ته لاسونه پرقول شروع کړل کله

چه ابوبکر اُوکتل نو روستو کیدو نو نبی علیه السلام ابوبکر ته اشاره اُوکړه چه مونځ خلقو ته اُوکړه۔ مه روستو کیږه نو هغه الحمد لله اُوُوئیله او روستو شو او نبی علیه السلام جَمعه اُوکړه بیا ترې روستو نبی علیه السلام تپوس اُوکړو ته ولې روستو شوې کله چه ما تاته اِشاره اوکړه نو هغه اُوفرمایل : (ماكان ينبغي لابن ابى قحافة ان يصلى بين يدى النبى ﷺ) (بخاری ۱/ ۳۷۰ کتاب الصلح) ۔(د ابوقحافه ځوی له څۀ پکار ! چه د نبی ﷺ نه مخې ته مونځ کوی)

۱۵- احناف او شوافع ترې دا استدلال کوی چه مقتدیان ولاړ دی او امام ناست دې۔ لیکن جواب دا دې چه د مقتدیانو اُودریدل صراحةً په حدیث کښې نشته۔ بلکه صرف د ابوبکر صدیق اُودریدل صراحةً راغلی دی۔

۱۶- د عاجز امام امامتی قادرینو ته جائز ده۔ خلافاً للمالكية وقد تقدم۔

۱۷- پدې کښې اختلاف دې چه کله نبی ﷺ راغلو نو آیا ابوبکر صدیقؓ په خپله امامتئ باقی پاتې شو او که نبی ﷺ امام جوړ شو۔ راجح دا ده چه ابوبکر صدیقؓ مقتدی شو او امامت نبی ﷺ ته نقل شو۔ اوکومو روایاتو کښې چه دا راغلی دی چه ابوبکر امام وو نو هغې کښې بعض ضعیف دی او بعض صحیح دی مګر په هغې کښې راویانو تصرف د الفاظو کړیدې۔ د ابوبکر اول حالت پکښې ذکر شویدې او په صحیحینو کښې صرف د امامت د نبی ﷺ تذکره شویده او دا متعدد واقعات نۀ دی لکه څنګه چه ابن حبانؒ، بیهقیؒ او ابن حزمؒ ددې قائل دی۔ بلکه یو مونځ دې څکه په مرض الموت کښې نبی ﷺ په مسجد کښې صرف دا یو مونځ کړیدې۔کما قال الحافظ ابن حجرنقلاً عن الامام الشافعیؒ او دا قول ابوالحسن المبارکفوریؒ په (مرعاة المفاتيح ٤/ ٩٤) کښې تفصیلاً راجح کړیدې وكذا البسام فی توضیح الاحکام (۲/ ۲۵۵)۔

آیا د امامت په دوران کښې امامت کښې تغییر کول جائز دی؟

۱۸- پدې کښې اختلاف دې چه آیا د مانځه په دوران کښې امامت کښې تغیر کول جائز دی ؟ یعنی یو امام مونځ شروع کړې دې او بل راغلو نو آیا دغه راتلونکې شخص امامتی اخستې شی لکه دغه مخکنی صورت کښې نبی ﷺ امامتی اخستې ده ؟ نو پدې کښې علامه ابن عبد البرؒ فرمائی : چه د علماؤ پدې اجماع ده چه مذکوره صورت د رسول الله ﷺ د خصائصو نه دې یعنی بل چا له دا جائز نۀ ده چه دغه شان په امامت کښې تغیر اُوکړی۔ لیکن امام شافعیؒ پدې کښې اختلاف کړیدې او وئیلی ئې دی چه د مذکوره

صورت په شان امام او اقتداء جائز ده۔
۱۹- كشرانو له پكار دي چه كله مشر راشي او جَمعه لا ولاړه نهٔ وي چه هغهٔ ته په صف كښې ځائے وركړي يا خپله راروستو شي۔ او د غوره انسان يا مشر قدر او اكرام اُوكړي۔
۲۰- اشاره قائمقام د نطق (خبرو) ده او نبي ﷺ په اشاره باندې اِكتفاء اُوكړه پدې كښې دا احتمال شته چه يا ئے د آواز د كمزورتيا په وجه كړې وي يا دا چه پدې كښې تنبيه ده چه څوك په مانځه كښې وي نو د خبرو په ځائے هغهٔ ته اشاره كول ډير اولىٰ او مناسب دي۔

۶- وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اَمَا يَخْشَى الَّذِيْ يَرْفَعُ رَأْسَهٗ قَبْلَ الْاِمَامِ اَنْ يُّحَوِّلَ اللهُ رَأْسَهٗ رَأْسَ حِمَارٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: او ابو هريره ؓ فرمائي: رسول الله ﷺ اُوفرمايل: «آيا نهٔ يَريږي (يعني اُوډِ يَريږي) هغهٔ شخص چه د امام نه مخكښې سرپورته كوي ددې نه چه الله به ددهٔ سر د خرهٔ د سر په شان اُوگرځوي»۔ (بخاريؒ و مسلمؒ)

د امام نه مخكښې سر پورته كولو كښې شكل مسخ كيدل حقيقي دي كه مجازي؟

تشريح: اَمَا يَخْشَى: همزه استفهاميه او ما نافيه ده او دا استفهام د انكار دپاره دے يعني آيا نهٔ يريږي، يعني يَره ورله پكار ده۔ بيا ددے مطلب دا دے چه څوك دا كار كوي نو هغهٔ ددے مستحق دے چه شكل ئے مسخ شي او دا ضروري نهٔ ده چه خامخا به دا عذاب ورته رسي۔ نو كه الله ئے ترے اَړوي دا به د الله مَحض فضل وي، ورنه دا انسان د شكل د بدليدو مستحق دے۔

نو پدے سره تاويل د ابن دقيق العيدؒ رد كيږي چه هغه وائي دا په حقيقت نهٔ دے حمل ځكه چه ډير خلق د امام نه مخكښې سر اُوچتوي او بيا هم نهٔ مسخ كيږي۔

بل روايت كښې ورسره «صورته صورة حمار» هم ذكر دے۔او په روايت د ابن حبان كښې دي : «ان يحول الله رأسه رأس كلب» (سر به ئے د سپي شي) بل روايت كښې «وجهه وجه حمار» راغلے دے۔ او دا يا په ظاهر حمل دے او دا د هغهٔ نورو اَحاديثو سره منافات نهٔ لري چه دا اُمت به نهٔ مسخ كيږي ځكه هغه په مجموعي طور باندے نشته او شخصي عذابونه راتلے شي لكه حديث كښې دي : (ويمسخ آخرين قردة وخنازير الى يوم القيامة) (بخاري في المغازي) (تر قيامته پورے به الله څهٔ كسان مسخ كوي شادوگان او خنزيران به ترے جوړوي) پدے اُمت كښې به مسخ او قَذَف وي او دا به په منكرين د تقدير كښې وي۔ددے

وجه نه بعض حواشي او شروحو والو ته دا شك واقع شويدے نو ظاهري معنیٰ ئے نهٔ ده مرادکړے بلکه وائي : معنوی مسخ مراد ده چه زړهٔ به ورله الله بل طرفته واړوی او کم عقل به ئے کړی څکه خرموصوف دے په بَلادَت باندے۔

ليكن راجح دا ده چه دا حمل دے په حقيقت باندے او پدے امت کښ هم مسخ راتلے شي او ډيرو خلقو باندے چه نهٔ راځي نو دا د الله مَحْض احسان دے۔

د شکل بدلیدو عجیب واقعه

او ددے په باره کښ ملا علی القاریؒ يوه واقعه نقل کړيده چه بعض محدثين دمشق ته د يو مشهور شيخ خواته د تعلم الحديث (د حديث د زدهٔ کړے) دپاره راغلو۔نو شيخ ئے اُوموندو چه د پردے نه شاته به ئے دهٔ ته حديثونه وئيل، او مخ به ئے ورته نهٔ ښکاره کولو کله چه ددهٔ وخت د هغه سره اُوګد شو او ددهٔ حرص ئے په احاديثو اُوليدو نو پرده ئے لرے کړه شاګرد چه اُوليدل تعجب ئے اُوکړو نو اُستاذ ورته اُووئيل : اے بچيه ! اُوَيَرېږه، دا حال د هغهٔ چا دے چه د امام نه مخکښ ځی څکه ما باندے چه کله دا حديث راتير شو نو ما بعيد اُوګنړلو او د امام نه مخکښ لاړم نو څکه راسره دا کار اُوشو۔

ملا علی القاریؒ وائي : شايد چه دا کار ددهٔ سره پدے وجه اُوشو چه دهٔ استبعاد کړے وو، ورنه په نفس تقدم د امام نه دا کار نهٔ دے شوے۔بيا وائي ډيره ظاهره دا ده چه دا سخت وعيد دے او ددے حقيقت به يا په برزخ او قبر کښ ښکاره کيږی يا په اُور کښ۔ چه الله به ده له په قبر کښ يا جهنم کښ دغه شان شکل ورکوی۔

او دا هم ممکن ده چه دا مسخ متعلق وی د عدم خشيت سره چه مقارن وی د مخالفت سره۔ يعني يو انسان د امام مخالفت هم کوی او ورسره يَرېږی هم نهٔ نو پدے سره د ابن دقيق العيدؒ قول رد شو۔انتهیٰ۔ (مرقاة المفاتيح ٢٥٣/٤)

مګر پدے کښ **راجح** دا ده چه دا په خپل حقيقت بناء دے او بلادت او کم عقلتيا پدے کار کښ پخپله شته۔ او دارنګه د ابن حبانؒ روايت چه په هغے کښ ئے د سپی مثال ورکړے دے نو پدے سره مجاز ختم شو څکه چه دوی کوم مناسبت ذکر کړيدے د خر او ددے سړی په مابين کښ هغهٔ اُوس نشته۔ دارنګه دا په صيغه د مستقبل راغلے دے که صِرف بلادت مراد وے نو داسے به ئے وئيلی وے (فرأسه رأس حمار) او د قبر او جهنم حال خو مونږ ته معلوم نه دے هغے کښ به هم وی او په حديث کښ د هغے څه قرينه هم نشته۔ لهذا دا په دنيا کښ هم مراد دے نو حديث کښ ډير وعيد پروت دے چه ځان ساته چه تا نه دا کار

اُونښي هسې نه چه مخ او شكل ئې بدل نشي۔

نو حديث دليل دے چه د امام نه مخكښ سر پورته كول حرام دى او ددے په حكم كښ د امام نه ركوع ته مخكښ تلل او تولو انتقالاتو كښ تقديم كول حرام دى۔ او د ابن عمرؓ نه نقل دى چه مونځ ئې باطل دے او دا يو روايت دے د امام احمدؒ نه او دا مذهب د اهل ظاهرو دے، ځكه هغوى وائى : نهى تقاضا د فساد كوى۔(المغنى) (فتح البارى لابن رجب (٩٠/٥)

بيا ئې پدے روايت كښ د حمار سره تشبيه وركړه ځكه چه خر په كم عقلتيا مشهور دے او دا په جهالت كښ ضرب المثل دے۔نو څوك چه په جهالت باندے عبادت كوى او د امام نه سر مخكښ وړى نو دا د خر په شان دے چه خر هم بغير د څۀ مقصد نه سر خكته پورته كوى، پدے وجه الله د هغۀ عالم چه په علم باندے فائده نۀ اخلى او عمل پرے نۀ كوى تشبيه وركړے د خر سره چه دا هم د بار شوى كتابونو نه فائده نۀ اخلى۔

الفصل الثاني

٧- عَنْ عَلِيٍّ، وَمُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَا: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:«إِذَا أَتَى أَحَدُكُمُ الصَّلَاةَ وَالْإِمَامُ عَلٰى حَالٍ، فَلْيَصْنَعْ كَمَا يَصْنَعُ الْإِمَامُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.

ترجمه : او على او معاذ بن جبل رضى الله عنهما فرمائى : رسول الله ﷺ اُوفرمايل : « كله چه يو تن په تاسو كښ مانځه ته راشى او امام په يو حالت كښ وى، نو څۀ چه امام كوى نو دۀ له پكار دى چه دا هم هغۀ شان اُوكړى » (ترمذىؒ داحديث نقل كړيدے او وئيلى ئې دى چه دا حديث غريب دے)۔

تشريح : دا يو جامع حديث دے، قاعده كليه پكښ ده چه تۀ كله صف ته راورسيدے نو بس د امام سره به په هر حال كښ شامليږے صبر به نۀ كوے چه دا خو لا په سجده كښ دے بلكه چه هغۀ په هر ځائے كښ وى نو تۀ به ورسره داخليږے ځكه په مانځه كښ كيدے شى همدغه ځائے الله ته قبول وى نو تا نه به فوت شى۔دارنګه پدے سره فضيلت د دغه عمل ملاويږى او اتباع د امام باندے عمل راځى او دارنګه د كوم وخت نه چه مسجد ته داخل شى نو دغه عمل ته د مُبادرت او جلتى كولو فضيلت درته حاصليږى۔

بيا كه امام په سجده كښ وى نو تۀ به هم سجده كښ شامليږے۔ دارنګه كه هغۀ تشهد كښ ناست دے نو تۀ به ورسره (اللهم صل) هم وائے، دعاګانے به هم وائے د امام په تابعدارئ كښ مګر كه په حالت د قيام يا ركوع كښ ئې اُومونده بيا دغه ركعت اُوشو (او دلائل ئې مخكښ په

مسئله «مدرك د ركوع مدرك د ركعت دے» كښې تير شويدى)۔ او كه د قعود او د سجدے حالت وو نو بيا ركعت نۀ دے شوے ليكن ثواب به دے كيږى ځكه د امام تابعدارى ضرورى ده۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه الترمذى (۵۹۱) واسناده فيه الحجاج بن ارطاة وهو مدلس وقد عنعنه) لكن رواه ابوداود (۵۰٦) من طريق اخرى عن عبد الرحمن بن ابى ليلىٰ قال حدثنا اصحابنا ......) ويعنى بالاصحاب الصحابة كما صرح بذلك فى رواية ابن ابى شيبة) واسناده صحيح۔ صححه احمد شاكر فى حاشيته على سنن الترمذى) والالبانى فى صحيح الجامع ص (۲٦۱)۔

٨– وَعَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :« اِذَا جِئْتُمْ اِلَى الصَّلَاةِ، وَنَحْنُ سُجُوْدٌ، فَاسْجُدُوْا وَلَاتَعُدُّوْهُ شَيْئًا، وَمَنْ اَدْرَكَ رَكْعَةً فَقَدْ اَدْرَكَ الصَّلَاةَ ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائيلى دى : رسول الله ﷺ اُوفرمايل : «كله چه تاسو مانځه ته راشئ او مونږ په سجده وو، نو تاسو (هم) سجده كښې شامل شئ او هغۀ (د ركعت نه) مۀ شمارئ او چا چه ركوع (د امام سره) اُوموندله نو هغۀ پوره ركعت اُوموندلو»۔ (ابوداودؒ)

تشريح : دا حديث د مخكنئ جملے دپاره دليل دے چه د امام سره په هر ځائے كښې مونځ كونكے شامل شى نو هغه ركعت به نۀ شمارى ترڅو چه قيام او ركوع كښې شامل شوے نۀ وى۔ او دليل دے چه مقتدى دپاره د امام د راپورته كيدو انتظار نۀ دے پكار بلكه امام چه په هر مقام كښې وى نو شامليدل ورسره پكار دى۔

وَمَنْ اَدْرَكَ رَكْعَةً : دلته د ركعت نه مراد يا ركوع ده او د صلاة نه مراد ركعة دے۔ يعنى چا چه امام په ركوع كښې لاندے كړو او ركوع ئے ورسره اُوكړه نو دۀ ركعت لاندے كړو نو دا دليل دے چه مُدرك د ركوع مُدرك د ركعت دے۔ وهو الحق۔ او قرينه دا ده چه مخكښې سجده ذكر ده نو د ركعت نه مراد به ركوع وى۔ بله دا چه مخكښې د سجدے حكم ئے بيان كړو چه د هغے په موندلو ركعت نۀ موندے كيږى نو اُوس د ركوع حكم بيانوى چه ددے په موندلو ركعت موندلے حسابيږى۔ او ددے تائيد په بل روايت د ابوداودؒ كښې داسے دے : (من ادرك الركوع فقد ادرك الركعة) (توضيح الاحكام ۲۸۷/۲) او همدا واضح مطلب دے۔

۲– بعض معنىٰ كوى : چا چه ركعت د مانځه اُوموندلو نو هغۀ د امام سره مونځ اُوموندلو يعنى ثواب د جماعت ورته حاصل شو۔ دا تاويل دے او قرينه پرے نشته او د ماقبل جملے سره ئے مناسبت هم نشته۔ او بله دا چه ثواب په ركعت لاندے كولو باندے موقوف نۀ دے بلكه كه آخرى سجده يا التحيات كښې د سلام نه مخكښې امام اُومومى نو

هم ثواب د جماعت ورته حاصليږي.

٣– بعض داسې وائي: من ادرك ركعة اى فى الوقت فقد ادرك الصلاة اى فقد وجبت عليه الصلاة .(يعنې چا چه په وقت كښ يو ركعت اُوموندلو نو هغه مونځ اُوموندلو يعنې مونځ پرې واجب دې.(يعنې مثلاً حائضه زنانه چه يو ركعت په وقت كښ لاندې كړو نو مونځ پرې لازم شو) ليكن دا معنیٰ هم ظاهره نۀ ده. پدې هم دليل نشته.

طيبيّ وائي: دا حكم د جُمعې په باره كښ دې چه ثواب د جماعت نۀ ملاويږي ترڅو چه ركعت ئې نۀ وى لاندې كړې.انتهىٰ. او د امام مالك مذهب دا دې: چه فضيلت د جماعت نۀ حاصليږي مګر په پوره ركعت لاندې كولو سره، برابره ده كه جُمعه وى او غير جُمعه وى. ليكن پدې دواړوخبرو دليل نشته. بلكه د سلام نه مخكښ چه امام سره شامل شي نو بس فضيلت ورته حاصل دې.

درجة الحديث: اسناده ضعيف وبسند آخر صحيح: اخرجه ابوداود (٨٩٣) والدارقطني (١/٣٤٧) رقم (٢) وفيه يحيى بن ابى سليمان وهو لين الحديث واخرجه الحاكم (١/٢١٦) وقال صحيح الاسناد ولم يخرجاه ووافقه الذهبي انظر الصحيحة (١١٨٨)

٩– وَعَنْ اَنَسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«مَنْ صَلّٰى لِلّٰهِ اَرْبَعِيْنَ صَلَاةً فِيْ جَمَاعَةٍ يُدْرِكُ التَّكْبِيْرَةَ الْاُوْلٰى، كُتِبَ لَهٗ بَرَاءَتَانِ: بَرَاءَةٌ مِنَ النَّارِ، وَبَرَاءَةٌ مِنَ النِّفَاقِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: او انس ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «چا چه د جَمعې سره د الله دپاره څلويښت مونځونه اُوكړل (داسې) چه تكبيرِ اُولیٰ لاندې كړي، نو هغۀ له دوه قسمه براء ته (نجات) اُوليكلې شي، يو براء ت (نجات) د اُور نه او بل براء ت (نجات) د منافقت نه». (ترمذيّ)

تشريح: د براءة من النفاق: معنیٰ دا ده چه په دنيا كښ به ئې الله د منافقانو د عمل كولو نه اُوساتي او د مخلصينو د عمل توفيق به وركړي او په آخرت كښ به ئې د منافق په شان عذابونو نه اُوساتي، او دۀ له به ګواهي كولې شي چه دا منافق نۀ دې ځكه منافقان مانځه ته په سُستيۍ پاڅيږي او دا د هغوى مخالف دې.(طيبيّ).

يُدْرِكُ التَّكْبِيْرَةَ الْاُوْلٰى: تكبير اُولیٰ څه ته وائي: څوك وائي: چه اول ركعت لاندې كړي په ركوع كولو سره. ٢– بعض وائي: تكبير اُولیٰ ديته وائي چه د امام د تكبير نه مخكښ صف كښ اُودريږې. او د امام سره شريك الله اكبر اُوكړي.

۳- بعض وائی : ځانله رکوع کافي نهٔ دہ بلکه معمولي قیام لاندې کول هم ضروري دي۔ ۴- راجح دا دہ چه تکبیر اُولیٰ دیته وائی چه د فاتحې د شروع نه مخکښې شامل شی نو دۀ تکبیر اُولیٰ لاندې کړو ځکه چه چا نه فاتحه فوت شی نو هغه نه خیر کثیر فوت شو۔ نو که چا دا نۀ وی لاندې کړی نو څنګه به دۀ تکبیر اُولیٰ لاندې کړې وی۔ او په دویم تفسیر په طریق اَولیٰ په تکبیر اُولیٰ کښې داخل دې۔ (فتح العزیز شرح الوجیز ۴/۱۷۴) للامام ابی القاسم عبد الکریم بن محمد الرافعی متوفی (۶۲۳ھ)

درجة الحديث : اسناده حسن : اخرجه الترمذی (۲۴۱) والبیهقی فی الشعب (۳/۶۱/ رقم ۲۶۱۲) (۲۸۷۲) وحسنه الالبانی فی صحیح الجامع الصغیر (۶۳۶۵) وصححه بمجموع الطرق فی الصحیحة برقم (۲۶۵۲) (۶/۱۵۱)

۱۰- وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ وُضُوْءَهٗ، ثُمَّ رَاحَ، فَوَجَدَ النَّاسَ قَدْ صَلُّوْا، اَعْطَاهُ اللهُ مِثْلَ اَجْرِ مَنْ صَلَّاهَا وَحَضَرَهَا، لَایَنْقُصُ ذٰلِكَ مِنْ اُجُوْرِهِمْ شَیْئًا». رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ، وَالنِّسَائِیُّ.

ترجمه : او ابو هریره ﷺ نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي : « چا چه اَودس اُوکړو او ښائسته اَودس ئې اُوکړو بیا (د مانځه په اِراده مسجد ته) روان شو او (هلته ئې) خلق اُوموندل چه مونځ ئې کړې وو، نو الله تعالیٰ به هغهٔ ته برابر اَجر د هغهٔ چا ورکړی چه دا مونځ ئې کړې او دې ته حاضر شویدې، او ددۀ ثواب ورکول به نۀ کموی د مونځ کونکو د اجرونو نه هیڅ شې»۔ (ابوداوٗد، نسائیؒ)

تشریح : دا حدیث د نیت د اَهمیّت بیان کوی چه مُومن ته په نیت باندې د عمل ثواب ملاویږی۔ تا ته پته نشته چه د مانځه وخت پوره دې او که نهٔ ؟ چه ته لاړې، جَمعه شوې وه نو تا ته الله پوره پوره اجر درکوی۔ خو شرط دا دې چه تقصیر ددۀ د طرفنه نهٔ وی۔ او دۀ ته اَجر یو د نیت په وجه ورکولې شی، دویم پدې وجه چه دۀ ته د جَمعې په فوت کیدو باندې اَفسوس رسیدلې دې۔ بعضؒ وائی : په نیت باندې اَصل ثواب دې او په تَحَسُّر او اَفسوس باندې مُضَاعَفُ اَجر دې۔

امام سندیؒ فرمائیؒ : ظاهر د حدیث دا دې چه فضیلت د جماعت موقوف دې پدې چه دجماعت دپاره د هغې مطابق سعی اُوکړی او پدې کښې کوتاهی اُونکړی برابره ده که بیا جماعت لاندې کړی او که نهٔ، نو چا چه د جماعت یو جزء لاندې کړو اګرکه په تشهد کښې

وي نو دا په طريقه اَولىٰ باندے مُدرك د جماعت دے، او دا اَجر او فضيلت په اِجتهاد نهٔ معلومیږي لهذا د هغهٔ چا په قول هیڅ اعتبار نشته چه د هغهٔ قول پدے باب کښې د حدیث مخالف وي. آه۔ مطلب دا چه چه په نفس سعي سره دومره اَجر ملاویږي نو چا چه په تشهّد وغیره کښې قبل السلام لاندے کړو نو په طریق اولیٰ به ورته دغه اَجر ملاویږي۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه ابوداود (٥٦٤) والنسائي (١١١/٢) واحمد (٣٨٠/٢) والحاكم (٢٠٨/١) وقال صحيح على شرط مسلم ووافقه الذهبي وصححه الالباني في صحيح الجامع (٦٠٣٩)

---

١١ – وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ وَقَدْ صَلّٰى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ، فَقَالَ: «اَلَا رَجُلٌ يَتَصَدَّقُ عَلٰى هٰذَا فَيُصَلِّيَ مَعَهٗ؟» فَقَامَ رَجُلٌ فَصَلّٰى مَعَهٗ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَاَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او ابوسعيد خدري رضي الله عنه فرمائي: يو سړے راغلو پداسے حال کښې چه رسول الله ﷺ مونځ کړے وو، نو وے فرمايل: «آيا (په تاسو کښې) داسے څوك نشته چه پدے سړي صدقه اُوکړي چه ددهٔ سره مونځ (جَمعه) اُوکړي؟» نو يو سړے (ابوبکر صديقؓ) راپاڅيدو او د هغهٔ سره ئے مونځ اُوکړو۔ (ترمذيؒ، ابوداودؒ)

تشريح : دے ته ئے صدقه ځکه اُووئيله چه که دا يواځے مونځ اُوکړي نو يو درجه ثواب ئے کيږي او که جَمعه اُوکړي نو شپږويشت درجے زياتيږي لهذا دا زياتي ثواب هغهٔ ته ورکول، په هغه باندے صدقه شوه۔

بيا په روايت د احمد (٨٥/٣) کښې راځي چه دا د ماسپښين مونځ وو او دغه شخص يو ځل د رسول الله ﷺ سره مونځ کړے وو، دوباره ئے دے سړي سره اُوکړو۔

دويمه جمعه د بل مسلمان سره د احسان کولو دپاره جائز دي

بيا پدے حديث کښې مسئلے دي :١– يو دا چه يو انسان فرض جَمعه اُوکړي نو د بل مسلمان سره د اِحسان کولو په طور دويمه جَمعه هم کولے شي. کهٔ امام وي او که مقتدي، او دا به ددهٔ دپاره نفل وي. او د مسلمان سره اِحسان وي. او دے سړي باندے صدقه ابوبکر صديق کړے ده. لکه دا په روايت د ابن ابي شيبة کښې ذکر دي. اول کښې نبي ﷺ د هغه سړي نه تپوس اُوکړو چه اے فلانيه ! د مانځه نه څه شي ايسار کړے؟ نو هغه يو علت ذکر کړو، بيا هغهٔ اُودريدو چه مونځ ئے کولو نو نبي ﷺ دغه اِرشاد اُوفرمايلو۔

٢– دويم دا چه دوه کسانو باندے جماعت منعقد کيږي يو به امام شي او بل به مقتدي۔

كـلـه چـه يـو شخص د بل شخص سره مونځ اُوكړي لكه خپله زوجه يا خادم يا څوي وغيره
وي نـو دۀ ته فضيلت د جماعت حاصليږي چه هغۀ اووه ويشت يا پنځه ويشت درجے ثواب
دے پدے شرط چه دا مانځه ترے په مسجد كښې د عذر په وجه فوت شوے وي۔

٣- المسئلة الثالثة : په يو مسجد كښې د دوباره جماعت كولو حكم

دا حديث امام ترمذيؒ دليل گرځولے دے د جماعتِ ثانيه دپاره په مسجد كښې۔ نو جماعتونه
په دوه قسمـه دي ١- يـو د لارے مساجد دي چه د هغے دپاره څۀ خاص امام او مؤذن نۀ وي يا
ورلـه مقرر وي مگر خاص مقتديان ئے نۀ وي او هر سړے په دغه لاره تيريږي، مونځونه پكښې
كوي۔ نو پدے كښې تقريباً په اتفاق د علماؤ سره بار بار جَمعے كول جواز لري۔
٢- دويم د محلے او علاقے مساجد دي نو پدے كښې دوباره جَمعه كولو كښې اختلاف دے
١- احناف وائي : دويمه جَمعه مكروه ده۔ او دا قول د محدثينو هم دے۔
دلائل : ١- يـو خو په دے كښې تفريق الكلمة راځي يعنى د مسلمانانو وحدت ته نقصان
رسي او مسلمانانو كښې اختلافات پيدا كيږي۔ ٢- دويم په مسلمانانو كښې گسَل او
سُستي پيدا كيږي چه خلق به اول جماعت ته نۀ راځي او وائي به چه دويمه جَمعه به
ځانله اُوكړو۔ او پدے كښې تقليل د جماعت هم راځي۔ ٣- قوي دليل : ابوبكره ﷺ فرمائي
: رسول الله ﷺ د مدينے د اطرافونه راروان وو، اراده د مانځه ئے وه، نو خلق ئے اُوموندل چه
مونځ ئے كړے وو نو كور ته لاړو او خپل اَهل ئے راجمع كړو او هغوي ته ئے مونځ اُوكړو۔
(الطبراني في الكبير والاوسط ورجاله ثقات مجمع الزوائد (٤٥/٢) نو وائي كه دويمه جَمعه
په مسجد كښې جائز وے نو نبي عليه السلام به كور كښې نه كولے۔
٤-**دليل**: مخكښې حديث تير شويدے چه نبي ﷺ فرمائي : (لقد هممت ان آمر رجلاً
فيصلي بالناس ثم آمر رجالاً فيحتطبوا حطباً الحديث (متفق عليه)
ددے حديث نه استدلال داسے دے چه كه دويمه جَمع جائز شي نو نبي ﷺ چه د مانځه نه
متخلفين خلقو ته لاړ شي او هغوي له كورونه سيزي نو هغوي به ورته وائي چه مونږ كه
اَولے جَمعے لـه لاړ نشو نو دويمه جَمع به اُوكړو ځكه دويمه جَمع هم جائز ده نو آيا د نبي
ﷺ حجت به په دوي قائم شي؟۔ نو دا لوئي دليل دے چه دويمه جَمع نه ده جائز۔
٥- **دليل** : اثر ابن مسعودؓ : ابن مسعودؓ د دوه ملگرو سره د كور نه مسجد ته راروان شو
نو خلق ورله مخے ته ورغلل چه مونځ ئے كړے وو نو ابن مسعودؓ واپس شو او دغه ملگرو
ته ئے په كور كښې مونځ اُوكړو۔ (المعجم الكبير للطبراني باسناد جيد)

نو اُوګوره ابن مسعودؓ ته چه که هغه ته په یو مسجد مشروعیت د تعدد د جماعاتو معلوم وے نو دا ملګری به ئے ځان سره ننباسلی وے او جماعت به ئے کړے وے. لیکن ددهٔ نه مخالف عمل هم ثابت دے روستو راځی.

٦– حسن بصریؒ فرمائی : صحابه کرامؓ نه به چه کله جَمع فوت شوه نو هغوی به یواځے مونځونه کول. (ابن ابی شیبة وسنده قوی تمام المنة ص ١٥٦)

امام شافعیؒ فرمائی : مونږ ته دا یاد دی چه د اصحابوؓ د رسول الله ﷺ نه د یو ډلے نه مونځ د جَمعی فوت شو نو هغوی یواځے اُوکړو سره ددے نه چه هغوی په مسجد کښ په دویمه جَمع کولو باندے قادر وو لیکن بیا هم هغوی دا کار نهٔ دے کړے ځکه چه هغوی دا مکروه ګنړله چه په یو مسجد کښ دوه کرت جَمع اُوکړی. (کتاب الام).

لیکن حسن بصریؒ خپله تصریح کړیده چه دوی به ځکه یواځے مونځ کولو چه د بادشاه نه به یَریدل (تحفة الاحوذی (۷/۲) باب ماجاء فی الجماعة)

او دوی جواب کوی ددے روایت د باب نه چه دا د دویمے جَمعے صورت نهٔ دے ځکه وائی چه زمونږ اختلاف پدے کښ دے چه د امام او مقتدی دواړو نه جمع شوی وی یعنی د دواړو فرض مونځ وی او دلته خو یو متصدق (نفلی مونځ کونکے) دے او بل متصدق علیه (فرضی مونځ کونکے) دے.

مګر ددے نه شیخ عبد الرحمن مبارکفوریؒ په شرح د ترمذی کښ داسے جواب کړیدے « هر کله چه ددے حدیث نه دا معلومه شوه چه د یو مفترض او یو متنفل په جماعت سره ثواب حاصلیږی نو د دوه مفترضینو په جماعت سره به په طریق اولیٰ ثواب حاصلیږی او څوك چه پدے کښ فرق کوی نو هغه باندے بیان لازم دے. او بله دا چه د تکرار د جماعت د جواز نه بالکل منع نهٔ ده راغلے، نهٔ د دوه مفترضینو او نه د یو مفترض او متنفل. نو د یو متنفل او مفترض جماعت جائز ګنړل او د دوه مفترضینو جائز نه ګنړل بے ځایه خبره ده، او د صحابو د عمل خلاف ده ». لکه روستو به راشی. (تحفة الاحوذی ۲۵۳/۱) باب ماجاء فی الجماعة الخ. ...... ۷– او بل پدے باندے دلیل حدیث دے : (من صلی لله اربعین یوماً یدرك التکبیرة الاولی) کما مرّ.

۲– **قول ثانی** دا دے چه تکرار د جماعت بالکل جائز دے. او دا قول د ابن مسعود، انس بن مالك رضی الله عنهما او حسنؒ او عطاءؒ دے او دا مذهب د احمدؒ او اسحاقؒ او اشهبؒ دے. او د هر هغه چا دے چه جماعت ته واجب وائی او یا ئے شرط ګنړی د صحت د مانځه دپاره.

دلائل الجواز ١- دليـل : احاديث عامه دی : حديث كښ دی : (صـلاة الجماعة تفضل عـلی صلاة الفذ ...... الحديث متفق عليه) : نـو ظاهر ددے حديث دليـل دے چه دويمه جَمعه كـول بهتـر دی د يـواځے مونځ كولو نه۔ دارنګه : (صـلاة الرجل مع الرجل ازكی من صلاته وحده) نو معلوميږی چه جَمعه كول پكار دی چه ډير خير ملاؤ شی۔

٢- **دليل** : خصوصی دليل دا حديث الباب دے : چه پدے كښ صورت د دويمے جَمعے جوړ شويدے اګركه يو متصدق دے او بل متصدق عليه دے۔ لهذا ددے په كراهت باندے قول كول صحيح نهٔ شو۔

٣- **دليل**: اثر انس بن مالك ﷺ : انس بن مالكؓ د شلو غلامانو سره يو مسجد ته راغلو چـه په هغے كښ مونځ شوے وو، ورته ئے اُوفرمايل :تاسو مونځ كړے ؟ هغوی اُوونيل نهٔ۔ نو اذان او اقامت ئے اُوكړو او د جَمعے سره ئے مونځ اُوكړو۔ (بخاری معلقاً باب فضل صلاة الجماعة ٨٩/١ وعبد الرزاق (٥١٣/١) باب الرجل يصلی فی المصر والبيهقی ٦٩/٣)

عـلامـه ابـن حـزمؒ فرمائی : پدے كښ د انس بن مالكؓ نه هيڅ صحابی مخالف نهٔ دے موجود۔ (المحلی ٢٣٨/٤)

اول قـول والا ددے نـه داسے جواب كوی چه كيدے شی انسؓ دوباره جَمع په هغه مسجد كـښ كـړی وی چـه د هغـے دپاره امام راتـب او مـؤذن نـهٔ وو۔ او په دغسے مسجد كښ خو بـالاتـفـاق بار بار جـمـاعـت جـائـز دے۔ (تـمام المنه ص ١٥٥) او پدے باندے دليـل روايت د بيـهـقیؒ او مسند ابی يعلیٰ دے چه انسؓ دا كار په مسجد د بنی ثعلبه كښ كړے وو۔ (مسند ابی يعلی٣١٥/٧) وقال معلقه: حسين سليم اسد : اسناده صحيح۔ والمطالب العالية ٦٢/٢ صحيح موقوف) او دا مسجد په لاره كښ دے په مدينه كښ نهٔ دے۔

٤- اثـر ابـن مسـعـود : عبـد الله بـن مسـعـودؓ يو مسجد ته راداخل شو چه په هغے كښ خـلقو مونځ كړے وو، نو ابن مسعود علقمه، مسروق او اسود ته جَمع اُوكړه۔ (ابن ابی شيبة ١١٣/٢ – باب فی القوم يجيئون– وسنده صحيح)

او دوی **جواب** وركـوی مـانـعينـو ته د حديث د ابوبكرةؓ نه چه اول خو دا حديث ضعيف دے يـو پـه سند كښ ئے معاويه بن يحيی ابو مطيع الاطرابلسی الصدفی متكلم فيه راوی دے چه بعض علماؤ ورته ضعيف وئيلے دے دارقطنی په متروكينو كښ ذكر كړيدے۔ مګر كـه صـحـيـح ثـابـت شی لـكـه شيخ البانیؒ دے حديث ته حسن وئيلے دے۔ (تـمام المنة ص ١٥٥) نـو بيا هم ددے نه استدلال نشی كيدے په كراهت د تكرار د جماعت د ډيرو وجو نه يـو دا چـه پـدے حـديـث كـښ دا نـهٔ دی ذكـر چـه پـه كـور كښ ئے اهل ته مونځ اُوكړو بلكه

احتمال لری چه مونځ ئے هغوی ته په مسجد کښې کړے وی او کور ته ددے دپاره راغلے وی چه اهل راجمع کړی۔ لهذا پدے وخت کښې دا حدیث بیا دلیل شو د استحباب د جماعت په هغه مسجد کښې چه امام او مؤذن او محله لری او مونځ پکښې یو کرت شوے وی۔او دلیل د کراهت نهٔ ګرځی۔

۲- دویم که اُومنو چه رسول الله ﷺ اهل ته په کور کښې مونځ اُوکړو نو ددے نه بیا هم په مسجد کښې د دویم جماعت کراهت نهٔ معلومیږی بلکه صرف ددے نه دا ثابتیږی چه یو کس یو مسجد ته راغلو چه په هغے کښې مونځ شوے وی نو دهٔ له جائز دی چه په هغه مسجد کښې مونځ اُونکړی او د هغے نه اُوځی او کور ته لاړ شی خپل اهل ته جمع اُوکړی۔او هر چه دا خبره چه دهٔ دپاره دا جائز نهٔ ده چه په دغه مسجد کښې دویمه جَمع اُوکړی او دا مکروه ده نو حدیث پدے خبره دلالت نهٔ کوی۔ لکه څنګه چه حدیث په مسجد کښې په کراهت د یواځے مونځ کولو هم دلالت نهٔ کوی۔

بلکه علاوه لا دا چه که ددے حدیث نه کراهت د تکرار الجماعة ثابت شی پدے وجه چه نبی ﷺ په مسجد کښې مونځ نهٔ دے کړے نو بیا خو به ددے نه ثابت شی کراهت د یواځے مونځ کولو په هغه مسجد کښې چه یو کرت پکښې جمع شوی وی ځکه نبی ﷺ په مسجد کښې نهٔ منفرداً مونځ کړے دے او نهٔ د جماعت سره۔

دارنګه که یواځے مونځ په هغه مسجد کښې چه جَمع پکښې شوی وی جائز وے نو نبی ﷺ به په کور کښې مونځ نهٔ غوره کولے په هغهٔ مانځه باندے چه په غوره مسجد کښې کیږی پس د مسجد حرام نه (المرعاة ۱۰۵/٤) ۔ یعنی دے نه خو دا هم معلومیدے شی چه یواځے فرض مونځ په مسجد کښې نهٔ کیږی ځکه چه نبی ﷺ غوره مکان پریخودو او کور ته لاړو هلته ئے مونځ اُوکړو،که په مسجد کښې یواځے مونځ جائز وے نو بیا به ئے په مسجد کښې کړے وے۔ لهذا په حدیث کښې دا خبره نشته چه دویمه جَمع مکروه ده۔

۳- **المحاکمة والقول الثالث** : پدے کښې تحقیقی قول (چه پدے سره جمع د ټولو دلائلو راځی) دا دے چه د محلے په مسجد کښې حتی الوسع د تکرار د جماعت نه ځان ساتل پکار دی ځکه د نبی ﷺ په زمانه کښې صحابه کرامؓ کښې داسے عمل چا بار بار نهٔ دے کړے او پدے کښې بیا خلق سُستیږی، او د مسلمانانو تفرق پیدا کیږی او د جماعت د مشروعیت مقصد او حکمت خرابیږی۔ لیکن یو سړے چه د جماعت سخت پابند دے چه کله ترے جَمع نهٔ ځی مګر یو کرت ترے جَمع لاړه نو د هغه دپاره دوباره جمع کول که په کور کښې وی او که په مسجد کښې وی جائز دی۔ لهذا جواز محمول دے په ضرورت باندے

او داسے به نهٔ وی جائز چه یو انسان کور کښې قهوے سکی او بیا وائی چه که جمع لاړه نو ځانله به جمع اوکړو دا خو بالکل نهٔ ده جائز، بلکه دا به یو اځے مونځ کوی۔ او ددے په احادیثو کښې هیڅ دلیل او نمونه نشته۔ او په دے کار به نبی ﷺ دده کور سیزی۔ او دا قول راجح دے او تطبیق د ټولو احادیثو کوی فکر پکښې اوکړه۔

درجة الحديث : اسناده صحيح: اخرجه احمد (۵/۳) والدارمی (۳۱۸/۱) وابوداود(۵۷۴) والترمذی (۲۲۰) والحاكم (۲۰۹/۱) راجع الارواء (۵۳۵)

الفصل الثالث

۱۲ – عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: دَخَلْتُ عَلٰى عَائِشَةَ، فَقُلْتُ: اَلَا تُحَدِّثِيْنِيْ عَنْ مَرَضِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ؟ قَالَتْ : بَلٰى، ثَقُلَ النَّبِيُّ ﷺ، فَقَالَ: «اَصَلَّى النَّاسُ؟» فَقُلْنَا: لَا، يَارَسُوْلَ اللهِ! وَهُمْ يَنْتَظِرُوْنَكَ. فَقَالَ: «ضَعُوْا لِيْ مَاءً فِي الْمِخْضَبِ». قَالَتْ: فَفَعَلْنَا، فَاغْتَسَلَ، فَذَهَبَ لِيَنُوْءَ، فَاُغْمِيَ عَلَيْهِ، ثُمَّ اَفَاقَ، فَقَالَ: «اَصَلَّى النَّاسُ؟» فَقُلْنَا: لَا، هُمْ يَنْتَظِرُوْنَكَ يَارَسُوْلَ اللهِ! قَالَ: «ضَعُوْا لِيْ مَاءً فِي الْمِخْضَبِ». قَالَتْ : فَقَعَدَ فَاغْتَسَلَ، ثُمَّ ذَهَبَ لِيَنُوْءَ، فَاُغْمِيَ عَلَيْهِ، ثُمَّ اَفَاقَ، فَقَالَ: «اَصَلَّى النَّاسُ؟» فَقُلْنَا: لَا، هُمْ يَنْتَظِرُوْنَكَ يَارَسُوْلَ اللهِ! قَالَ: «ضَعُوْا لِيْ مَاءً فِي الْمِخْضَبِ، فَقَعَدَ فَاغْتَسَلَ، ثُمَّ ذَهَبَ لِيَنُوْءَ فَاُغْمِيَ عَلَيْهِ، ثُمَّ اَفَاقَ، فَقَالَ: «اَصَلَّى النَّاسُ؟» قُلْنَا: لَا، هُمْ يَنْتَظِرُوْنَكَ يَارَسُوْلَ اللهِ! وَالنَّاسُ عُكُوْفٌ فِي الْمَسْجِدِ يَنْتَظِرُوْنَ النَّبِيَّ ﷺ لِصَلَاةِ الْعِشَاءِ الْآخِرَةِ، فَاَرْسَلَ النَّبِيُّ ﷺ اِلٰى اَبِىْ بَكْرٍ: «بِاَنْ يُّصَلِّيَ بِالنَّاسِ»، فَاَتَاهُ الرَّسُوْلُ، فَقَالَ: اِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَأْمُرُكَ اَنْ تُصَلِّيَ بِالنَّاسِ، فَقَالَ اَبُوْبَكْرٍ – وَكَانَ رَجُلًا رَقِيْقًا – يَا عُمَرُ! صَلِّ بِالنَّاسِ. فَقَالَ لَهُ عُمَرُ: اَنْتَ اَحَقُّ بِذٰلِكَ. فَصَلّٰى اَبُوْبَكْرٍ تِلْكَ الْاَيَّامَ. ثُمَّ اِنَّ النَّبِيَّ ﷺ وَجَدَ فِيْ نَفْسِهٖ خِفَّةً، وَخَرَجَ بَيْنَ رَجُلَيْنِ اَحَدُهُمَا الْعَبَّاسُ لِصَلَاةِ الظُّهْرِ، وَاَبُوْبَكْرٍ يُصَلِّيْ بِالنَّاسِ، فَلَمَّا رَآهُ اَبُوْبَكْرٍ ذَهَبَ لِيَتَأَخَّرَ، فَاَوْمَأَ اِلَيْهِ النَّبِيُّ ﷺ بِاَنْ لَا يَتَأَخَّرَ. قَالَ: «اِجْلِسَانِيْ اِلٰى جَنْبِهٖ». فَاَجْلَسَاهُ اِلٰى جَنْبِ اَبِىْ بَكْرٍ، وَالنَّبِيُّ ﷺ قَاعِدٌ. وَقَالَ عُبَيْدُ اللهِ: فَدَخَلْتُ عَلٰى عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ، فَقُلْتُ لَهٗ : اَلَا اَعْرِضُ عَلَيْكَ مَا حَدَّثَتْنِيْ بِهٖ عَائِشَةُ عَنْ مَرَضِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ؟ قَالَ: هَاتِ. فَعَرَضْتُ عَلَيْهِ حَدِيْثَهَا فَمَا اَنْكَرَ مِنْهُ شَيْئًا، غَيْرَ اَنَّهٗ قَالَ: اَسَمَّتْ لَكَ الرَّجُلَ الَّذِیْ كَانَ مَعَ الْعَبَّاسِ؟ قُلْتُ: لَا. قَالَ: هُوَ عَلِيٌّ (رَضِيَ

اللهُ عَنهُ) مُتَّفَقٌ عَلَيهِ۔

ترجمه : او عبيد الله بن عبد الله فرمائي: چه زهٔ (يوه ورځ) دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها په خدمت كښې حاضر شوم او هغې ته مې عرض اُوكړو چه آيا تهٔ ما ته د نبي ﷺ د بيمارئ حال نهٔ بيانوې؟ (په كوم كښې چه هغهٔ آخري ځل مسجد ته د مانځه دپاره راوتلې وو) هغې اُوفرمايل : آؤ، (ولې نهٔ ! نو واوره !) نبي ﷺ زيات بيمار شو نو (د مانځه په وخت ئې) تپوس اُوكړو چه آيا خلقو مونځ كړې دې؟ مونږ اُوونئيل: نهٔ يا رسول الله ! خلق ستاسو انتظار كوى، نو هغهٔ اُوفرمايل : (ښهٔ) ما دپاره خانك كښې اُوبه كيدئ، عائشةؓ فرمائي: چه مونږ خانك كښې اُوبه كيخودې، نو هغهٔ غسل اُوكړو نو شروع شو چه راپاځيږى مگر (د كمزورئ په وجه پرې) بې هوشي راغله، بيا رابيدار شو، وې فرمايل : « آيا خلقو مونځ كړې دې؟ » مونږ اُوونئيل: نهٔ، هغوى ستاسو انتظار كوى يارسول الله !، وې فرمايل: « ما له خانك كښې اُوبه كيږدئ» عائشةؓ فرمائي : كيناستو نو غسل ئې اُوكړو بيا شروع شو چه راپاځيږى ليكن بې هوشي پرې راغله بيا رابيدار شو، وې فرمايل: « آيا خلقو مونځ كړې دې؟ » مونږ اُوونئيل: نهٔ هغوى ستا انتظار كوى يارسول الله ! هغهٔ اُوفرمايل : «ما دپاره خانك كښې اُوبه كيدئ » نو كيناستو غسل ئې اُوكړو بيا شروع شو چه راپاځيږى ليكن بې هوشي پرې راغله، بيا رابيدار شو، وې فرمايل :« آيا خلقو مونځ كړې دې ؟» مونږ اُوونئيل: نهٔ، هغوى ستاسو انتظار كوى يارسول الله! او خلق په مسجد كښې ناست وو، انتظار ئې د نبي ﷺ كولو دپاره د ماسخوتن مانځه، نو نبي ﷺ ابوبكر صديق پسې (قاصد، بلال) اُوليږلو چه خلقو ته مونځ اُوكړى نو ابوبكر ته اَستاذې (قاصد) راغلو، ورته ئې اُوفرمايل : رسول الله ﷺ تا ته حكم كوى چه تهٔ خلقو ته مونځ اُوكړهٔ ! نو ابوبكر صديق اُوفرمايل : -او دا نرم انسان وو- اې عمر! تهٔ خلقو ته مونځ اُوكړه، عمرؓ ورته اُوفرمايل : ته پدې (امامت) باندې زيات حقدار ئې، نو ابوبكر صديقؓ دغه ورځو كښې مونځونه اُوكړل بيا نبي ﷺ په خپل طبيعت كښې آرام اُوموندلو او د دوو سړو په مابين كښې ماسپښين مانځه ته راووتو چه يو پكښې عباس وو- او ابوبكر صديقؓ خلقو ته مونځ كولو، هركله چه ابوبكر صديقؓ نبي ﷺ لره اُوليدو نو شروع شو چه روستو كيدو نو نبي ﷺ ورته اشاره اُوكړه چه روستو نهٔ شي، نبي ﷺ (هغهٔ دوه كسانو ته) اُوفرمايل: «ما ددې ابوبكر اړخ ته كينوئ» نو هغهٔ دواړو د ابوبكر اړخ ته كينولو، او نبي ﷺ په ناسته مونځ كولو- او عبيد الله فرمائي: زهٔ په عبد الله بن عباس باندې ورداخل شوم نو ما هغهٔ ته اُوونئيل : آيا زهٔ تا ته نهٔ پيش كوم هغهٔ حديث چه ما ته عائشےؓ په باره : بيمارئ د رسول الله

ﷺ کښې بیان کړیدے نو هغهٔ اُوفرمایل: راوړه! نو ما په هغهٔ باندے د عائشہؓ حدیث پیش کړو نو ابن عباسؓ د هغې نه د هیڅ خبرے انکار اُونکړو البته دا ئے اُوفرمایل: آیا عائشہؓ تا ته د هغهٔ شخص نوم بیان کړے دے کوم چه د عباسؓ سره وو؟ ما اُووئیل: نهٔ، ابن عباسؓ اُوفرمایل: هغهٔ علی ؓ وو۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

عبید الله بن عبد الله بن عتبه بن مسعود دا د فقهاء سبعو نه دے او په کبار التابعین کښې شمار دے۔

تشریح: اَلْمِخْضَبِ: په کسره د میم خانك ته وائی چه جامے په کښې وینځل شی دیته اِجانه او مِرگن هم وائی۔ او دا خانك د تانبے وو لکه په روایت د ابن خزیمهؒ کښې ذکر دی۔ لینوء: دا د قام یقوم په وزن دے لفظاً او معنیً۔ (کرمانیؒ) یعنی په تکلیف او مشقت سره پاڅیدل۔

په انبیاؤ باندے الله بیماری پدے وجه راولی چه د هغوی اَجرونه زیات شی او نورو خلقو ته د هغوی په احوالو تسلی ملاؤ شی او دے دپاره چه خلق د هغوی په وجه په فتنه کښې واقع نشی عبادت ئے شروع نهٔ کړی ځکه چه د هغوی په لاسونو باندے ناشنا کارونه او معجزات ښکاره کیږی۔

او قاضی حسینؒ نقل کړی دی: چه په اَنبیاؤ باندے بے هوشی صرف یو ساعت دوه ساعته راتلے شی او میاشت دوه میاشتو ته نهٔ رسی لکه د جنون په شان۔ او بې هوشی یوه بیماری ده، ددے په انبیاؤ باندے راتلل ممکن دی، هرچه جنون (لیونتوب) دے نو د هغې راتلل پرے ممکن نهٔ دی ځکه هغهٔ نقصان دے او انبیاء الله تعالیٰ په پوره کمال سره کامل کړی وی، او دا ځکه چه په اِغماء (بے هوشئ) کښې عقل مغلوب وی (صرف پرده پرے راغلی وی) او په جنون کښې مسلوب (بیخی زائل) وی او د انبیاؤ نه عقل نشی مسلوب کیدے۔

عُکُوْفٌ: جمع د عاکف ده (ای مجتمعون مقیمون) (خلق راجمع وو د مانځه دپاره)۔ "عَکْفٌ" په اصل کښې په یو ځائے کښې اِیساریدل، بندیدل او لازمیدو ته وائی۔ دا حدیث صریح دلیل دے چه دا د ظهر مونځ وو او کوم خلق چه وائی دا د سحر مونځ وو استدلال کوی په روایت د ابن عباسؓ چه نبی ﷺ قراءت د هغه ځائے نه شروع کړو کوم ځائے ته چه ابوبکر رسیدلے وو نو دا استدلال صحیح نهٔ دے یو خو دے روایت کښې ابواسحاق السبیعی مختلط مدلس راوی دے او عنعنه ئے هم کړیده۔ بلکه دا چه کیدے شی چه نبی ﷺ د هغهٔ نه دا آیت اوریدلے وی کله چه د ابوبکر خواته نزدے شو، او نبی ﷺ به هم کله نا کله په سری مونځ کښې یو آیت مقتدیانو ته اَورولو۔

ثُمَّ ذَهَبَ لِيَنُوْءَ ناء ینوء په معنیٰ د مشقت او تکلیف سره پاڅیدلو سره دے۔

ثم افاق : درے ځل افاقه او درے ځل پرے بے هوشي راغلے ده۔

فوائد الحدیث : ۱- د رسول الله ﷺ نفي د علم الغیب معلومیږي ځکه تپوس کوي (آیا خلقو مونځ کړے دے؟)۔ ۲- انتظار د راتب امام به کولے شي اګرکه لږ وخت واوږي دا په هغه صورت کښې چه امام حاضر وي په کوته کښې او که امام غائب وي نو بیا بل څوك مخکښې کیدے شي۔ او دلته نبي ﷺ کمره کښې حاضر وو۔

۳- بیا نبي ﷺ ولے لامبل ؟ نو ددے وجه دا ده چه پدے سره بے هوشي زائل کیږي او د بے هوشۍ نه بعد غسل کول سنت طریقه ده، اودس خو پرے ضرور ماتیږي۔

ددے نه دا هم معلومه شوه چه د هر نشائي څیز (نسوار، چرس، افیون) خوراك نه پس اودس کول پکار دي۔

په روایت د بخاري (باب الغسل والوضوء في المخضب) کښې راغلي دي چه نبي ﷺ صحابه کرامو ته حکم اوکړو چه ما باندے د اوه مشکیزو نه اوبه راواړوئ چه د هغے مزې کولاؤ شوي نۀ وي، او په روایت د طبراني کښې دي چه د مختلفو کوهیانو نه وي۔

پدے کښې حکمت کیدے شي - والله اعلم- دا وي چه په بعض بیماریانو کښې کله په مریض باندے یخے اوبه واړولے شي نو هغۀ ته قوت راواپس کیږي او نبي ﷺ - سید الاطباء دے نو کیدے شي چه هغۀ ته دا معلومه وه چه پدے بیمارۍ کښې ما له اوبه ښې دي، نو ځکه ئے دا امر اوکړو او پدے وجه هغۀ راپاڅیدو او خلقو ته اووتلو او مونځ ئے اوکړو او خطبه ئے ورته اووئیله۔ او د اووه عدد تخصیص ئے اوکړو، کیدے شي چه پدے عدد باندے ئے برکت حاصلولو ځکه چه په شریعت کښې ددے عدد دپاره په ډیرو کارونو کښې دخل دے، او چه د مشکیزو خولے بندے وي نو هغۀ اوبه ډیرے صفا وي د خلقو لاسونه ورسره نۀ وي لګیدلي، او د مختلفو کوهیانو نه وي نو کیدے شي چه دا هم هغۀ ته خپل علاج ښکاره کیدو۔ نو ګویا کښې دا یوه نسخه شوه د هغۀ بیمار دپاره چه بې هوشي پرے ځي راځي۔

٤- پدے کښې نفي د تصرف د نبي ﷺ دے چه د خپل ځان اختیار هم نۀ لري د ځان نه بے هوشي نشي لرے کولے پدے وجه ئے درے ځل لامبل نو «یارسول الله مدد» یا «اغثني یارسول الله» وئیل سوچه شرك دے۔

٥- ابوبکر صدیق اعلم الصحابه وو ځکه ئے هغه امامت ته مخکښې کړو نو هغۀ احق بالامامة دے۔ ٦- او ابوبکر صدیق ګمان کړیدے چه امر د وجوب دپاره نۀ دے بلکه صرف د هغۀ تکریم مقصود دے نۀ دا چه صرف ابوبکر به متعین وي نو هغۀ ځکه عمرؓ ته خطاب کوي چه تۀ امامتي اوکړه لهذا دا اصولي قاعده هم معلومه شوه چه کله قرینه

صارفه موجوده وي نو بیا امر د وجوب دپاره نهٔ وي۔او دا د صحابه کرامؓ فهم دے۔
يَا عُمَرُ ! صَلِّ بِالنَّاسِ : امام نوويؒ وائي : بعضو پدے کښې دا تاویل کړیدے چه دائے د تواضع دپاره عمر ته اُووئیل لیکن دا خبره ضعیفه ده بلکه ددے عذر هغهٔ دے کوم چه مخکښې ذکر شو چه ابوبکر رقیق القلب او ډیرے ژړا والا وو، نو یَریدو چه خلقو ته به د ژړا په وجه آواز اُونهٔ رسوی۔
حافظ ابن حجرؒ فرمائي: دا احتمال هم شته چه ابوبکر صدیقؓ د امامتِ صغریٰ نه امامتِ کبریٰ فهم کړے وي او هغهٔ ته معلوموی چه په امامتِ کبریٰ کښې خو ډیره خطره ده او د عُمر قوت ورته معلوم وو نو پدے وجه ئے عمرؓ ددے دپاره غوره کړے وي۔
او ددے تائید دا دے چه د بیعت په وخت ئے خلقو ته اُوفرمایل چه د عمرؓ سره بیعت اُوکړی یا د ابوعبیده بن الجراحؓ سره۔ بیا وائي : ظاهر دا ده چه ابوبکرؓ په هغهٔ بحث مباحثه باندے خبر نهٔ وو کوم چه د عائشےؓ او د نبي ترمینځ شوے وه، او ددے امر نه ئے فهم کړی وي مقصود د نبي ﷺ دهٔ ته د امامت کار سپارل دي برابره ده کهٔ هغهٔ ئے پخپله کوی او که ځانله خلیفه نیسی۔ انتهیٰ۔
۷– مفضول (غوره) ته چه کله فاضل (ډیرغوره) یوه مرتبه پیش کړی نو هغهٔ به ئے نهٔ قبلوی بلکه هغهٔ به ئے فاضل ته پریدی کله چه مانع نهٔ وی موجود۔
۸– مخامخ صفت کول جائز دی کله چه هغهٔ انسان په اعجاب او فتنه کښې نهٔ واقع کیږی۔ ۹– امام ته چه کله د جماعت د حاضریدو نه یو عذر راپیښ شی او اراده لری چه نائب مقرر کړی نو افضل به منتخب کوی۔
۱۰– بیا عائشےؓ د علی ﷺ نوم ولے نهٔ دے اخستے ؟ نو بعض شیعه ګان وائي چه ددهٔ سره ئے کینه وه لکه د واقعه د افك نه معلومیږی مګر دا خبره غلطه ده ځکه د صحابه کرامؓ صفت الله کړیدے (اشداء علی الکفار رحماء بینهم) هغوی صفا زړونو والا وو، یو بل سره ئے کینے نه ساتلے، کینه ساتل خو د بے ایمانه خلقو کار دے۔نو صحیح دا ده چه بل جانب د نبی ﷺ ته ډیر کسان وو لکه فضل بن عباس، اُسامه بن زید او علیؓ وو نو په طریقه د اختصار ئے د هغوی نه تعبیر په "رجل آخر" سره اُوکړو۔
۱۱– بعض باطل پرست ددے حدیث نه استدلال کوی چه پدے مانځه کښې نبی علیه السلام چه کله امام شو نو ابوبکر چه کوم ځائے ته رسیدلے وو د هغهٔ ځائے نه ئے مونځ شروع کړو لهذا نبی ﷺ خو فاتحه اُونهٔ وئیله نو بس فاتحه وئیل فرض نهٔ دی۔
الجواب : دا جاهلانه استدلال دے، ځکه پدے حدیث کښې د فاتحے مسئله نشته او بل

طرفته فاتحه وئيلو دپاره نصوص موجود دي نو په متشابهاتو استدلال كول او نصوص پريخودل د باطل پرستو زائغينو طريقه ده۔

۲– دويم دا چه احناف هم فاتحے ته واجب وائي لهذا هغوي به څۀ جواب كوي چه نبي ﷺ خو فاتحه اُونۀ وئيله نو مونځ ئے ناقص شو العياذ بالله۔ فما هو جوابكم فهو جوابنا۔

۳– بله دا چه يو د نبي ﷺ امر دے امت ته او بل ئے عمل دے كه بالفرض اُومنو چه فاتحه ئے نۀ ده وئيلے نو بل طرفته اُمت ته ئے دا حكم دے چه فاتحے نه بغير مونځ نۀ كيږي۔

۱۲– حديث نه معلومه شوه چه د امام په جانب كښ د مقتدي اُودريدل جائز دي اگركه روستو صفونه موجود وي۔

۱۳– بے هوش انسان له –كله چه رابيدار شي– غسل كول مستحب دي او اَودس به ضرور كوي۔ (فتح الباري لابن رجب (۸۱/۵)

۱۳– وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ، اَنَّهٗ كَانَ يَقُوْلُ: مَنْ اَدْرَكَ الرَّكْعَةَ فَقَدْ اَدْرَكَ السَّجْدَةَ، وَمَنْ فَاتَتْهُ قِرَآءَةُ اُمِّ الْقُرْآنِ فَقَدْ فَاتَهٗ خَيْرٌ كَثِيْرٌ. رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه : او د ابو هريره ﷺ په باره كښ منقول دي چه هغۀ به فرمايل: چا چه ركوع اُوموندله (د امام سره) نو يقيناً چه هغۀ سجده اُوموندله، (ركعت ئے اُوشو) او چا نه چه قرائت د فاتحے فوت شو نو د هغۀ نه ډير خير فوت شو۔ (امام مالك)

تشريح : مطلب دادے چه چا د امام سره ركوع لاندے كره نو هغۀ سجده هم لاندے كره په طريق اولىٰ سره يعني د هغۀ دا سجده به معتبره وي كله ئے چه ركوع لاندے كري وي لهذا ركعت ئے اُوشو۔ نو د ركعت نه مراد ركوع ده۔ او د سجدے خپله معنىٰ ده۔

يا د سجدے نه مراد ركعت دے۔ يعني چا چه ركوع كښ امام لاندے كرو نو هغۀ ركعت لاندے كرو۔ او دغۀ ركعت ئے صحيح دے۔

بعض وائي : د ركعت نه خپله حقيقي معنىٰ مراده او د سجدے نه مراد مونځ دے يعني چا چه ركعت لاندے كرو نو هغه مونځ لاندے كرو يعني فضيلت ورته حاصل شو ليكن اول قول غوره دے دا حديث دليل دے چه د ابو هريره ﷺ مذهب هم دا دے چه مُدرك د ركوع مُدرك د ركعت دے۔

درجة الحديث : اسناده معضل : اخرجه مالك في الموطأ (۱۱/۱) وهو من البلاغات۔ ولكن بلاغات مالك كلها متصلة غير اربعة كما في التمهيد (۱٦١/۲٤)

١٤ – وَعَنْهُ، اَنَّهٗ قَالَ: اَلَّذِیْ يَرْفَعُ رَأْسَهٗ وَيَخْفِضُهٗ قَبْلَ الْإِمَامِ، فَإِنَّمَا نَاصِيَتُهٗ بِيَدِ الشَّيْطَانِ. رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي: هغۀ شخص چه د امام نه مخکښ سر پورته کوی او خکته کوی نو د هغۀ تندے د شيطان په لاس کښې دے. (مالك)

تشريح : يعنی کوم کس چه د امام نه په انتقال د ارکانو کښې مخکښې والے او روستو والے کوی نو تندے ئے د شيطان په لاس کښې دے دا يا په حقيقت باندے حمل دے يعنی شيطان واقع کښې په دۀ کښې داسے تصرف کوی او يا مجاز دے يعنی شيطان ئے د الله په خلاف آماده کوی.

نو پدے کښې وعيد دے چه څوك دا كاركوی نو هغۀ د شيطان تابع دے. او هغه انسان خو ډير بے وقوف دے چه د امام نه سر مخکښې خکته کوی پورته کوی ځکه چه دا خو هسے هم د امام نه سلام مخکښې نشی اړولے نو څه له تادی کوی او که نه امام ته فتح ورکوی چه شابه تادی کوه. زۀ درنه مخکښې کيږم.

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه مالك فی الموطأ (١/٩٢) وفی اسناده مليح بن عبد الله السعدی اورده ابن ابی حاتم (٤/١/٤٦٧) و لم يذكر فيه جرحاً ولا تعديلاً فهو ثقة عنده كما هو اصطلاحه.

○○○○○○○

باب من صلی صلاة مرتین

بیان د هغۀ چا چه دوه ځل مونځ اُوکړی

د راتلونکو حدیثونو نه معلومیږی چه تکرار د مانځه شته یا خو د جَمعے د لحاظ او حفاظت په وجه او یا د مسجد د حق د وجه نه او دلته مقصود دا دے چه په کور کښ یواځے فرض مونځ اُوکړی یا په مسجد کښ د جَمعے سره په اقتداء د امام کښ اُوکړی او بیا یو مسجد ته لاړ شی چه هلته جَمع کیږی نو د هغوی سره مونځ اُوکړی برابره ده که امام جوړ شی او که مقتدی۔ نو دا سببی مونځ دے۔ ځکه سبب ئے یا مسجد دے او یا اَهمیت د جماعت دے۔ او دا تکرار اُوس هم شته، منسوخ نۀ دے۔ بیا کوم مونځونه به مکرر کولے شی او کوم نه ؟ نو دا په احادیثو کښ پخپله راځی :

الفصل الاول

۱ ـ عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: كَانَ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ يُصَلِّي مَعَ النَّبِيِّ ﷺ، ثُمَّ يَأْتِي قَوْمَهُ فَيُصَلِّي بِهِمْ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : جابر ﷺ فرمائی: معاذ بن جبل (ﷺ) به د نبی ﷺ سره مونځ کولو بیا به خپل قوم ته راغلو نو هغوی ته به ئے (همدغه) مونځ کولو۔ (بخاریؒ و مسلمؒ)

تشریح : ددے حدیث تشریح په باب القراءة فی الصلاة (۲٤۱/٤) کښ تفصیلاً ذکر شویده لګ هغے ته هم رجوع پکار ده۔ بعینهٖ همدا حدیث دے۔ او دا خبره هم ذکر شویده چه اقتداء د مفترض د متنفل پسے بالکل جائز ده شپږ دلائل ذکر شویدی او دارنګه د معاذ دا دویم مونځ نفل وو او اول مونځ ئے چه نبی ﷺ سره کړے وو، هغۀ فرض وو نو د نکتو او حواشیو خبره به درته غلطه ښکاره شی چه وائی دا دویم مونځ ئے فرض وو او اول مونځ ئے نفل وو۔ احنافو ته پدے حدیث کښ لویه مسئله پیښه ده، قاعده ئے ماته شویده۔ انظر المرعاة ایضاً (۱۱٤/٤)

سندیؒ په حاشیه د نسائی کښ فرمائی : دلالت ددے حدیث په جواز د اقتداء د مفترض د متنفل پسے واضح دے، او ددے نه جواب ډیر مشکل دے۔ او احناف چه کوم جوابونه کوی هغۀ ناتمام دی۔ انتهیٰ۔

او حديث دليل دے چه تكرار په مانځه كښې جائز دے، اګركه يو انسان په مسجد كښې د جماعت سره مونځ كړے وى. او زياته تشريح به ئے راشى.

٢- وَعَنْهُ، قَالَ: كَانَ مُعَاذٌ يُصَلِّي مَعَ النَّبِيِّ ﷺ الْعِشَاءَ ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَى قَوْمِهِ فَيُصَلِّي بِهِمُ الْعِشَاءَ وَهِيَ لَهُ نَافِلَةٌ. رَوَاهُ...... الشَّافِعِيُّ وَعَبْدُ الرَّزَّاقِ وَالطَّحَاوِيُّ وَالدَّارِقُطْنِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي الْكُبْرىٰ.

ترجمه : او جابر رضی الله عنه فرمائى : معاذ به د نبى ﷺ سره د ماسخوتن مونځ كولو بيا به خپل قوم ته واپس شو نو هغوى ته به ئے د (همدغه) ماسخوتن مونځ كولو چه دا (دويم مونځ) به د هغهٔ دپاره نفل وو. (شافعیؒ، عبد الرزاقؒ، طحاویؒ، دارقطنیؒ، بيهقیؒ)

دا حديث صريح رد دے په نكتو او حواشيو والو باندے چه اول مونځ د معاذ نفل ګنړى او حال دا چه دے حديث ته نهٔ ګورى. دارنګه روستو حديث كښې امر راغلے دے چه روستنے مونځ نفل اُوګرځوئ. "خودغرض راحافظہ نہ باشد" مصداق دے.

عجيبه خبره دا ده چه خپله بے دليله قاعده جوړه كړى بيا د صحابه كرامؓ عمل د خپل ځان تابع كوى او خپلے قاعدے ته ئے په تاويلات بارده ؤ راړوى. دا د دوى دين دے او دا د دوى د دين خدمت دے. حواشى او شروح دا زور لګوى چه احاديث څنګه خپل مذهب ته را تاؤ كړى ځكه د دوى مذهب خو د احاديثو نه ډير بعيد دے نو د تاويلاتو يو اَنبار اُولګوى او د صحيح احاديثو په مقابله كښې بعيد او ضعيف استدلالات او ضعيف احاديث او د تابعينو آراء راوړاندے كړى. ولا حول ولا قوة الا بالله والله المستعان، تر اُوسه پورے مونږ مسلمانان د الله او رسول خبرو ته تابع نهٔ شو؟ نو آيا دا به د مرګ نه پس منو؟.

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه الشافعي في المسند (٣٠٦) وعبد الرزاق (٢٢٦٥- ٢٢٦٦) في المصنف والطحاوي في شرح معاني الآثار (٤٠٩/١) والدارقطني (٢٧٤/١ رقم ١) والبيهقي في الكبرى (٨٦/٣)

الفصل الثاني

٣- عَنْ يَزِيدَ بْنِ الْأَسْوَدِ، قَالَ: شَهِدْتُ مَعَ النَّبِيِّ ﷺ حَجَّتَهُ، فَصَلَّيْتُ مَعَهُ صَلَاةَ الصُّبْحِ فِي مَسْجِدِ الْخَيْفِ، فَلَمَّا قَضَى صَلَاتَهُ وَانْحَرَفَ فَإِذَا هُوَ بِرَجُلَيْنِ فِي آخِرِ الْقَوْمِ لَمْ يُصَلِّيَا مَعَهُ، قَالَ: عَلَيَّ بِهِمَا، فَجِيءَ بِهِمَا تُرْعَدُ فَرَائِصُهُمَا. فَقَالَ: «مَا مَنَعَكُمَا أَنْ تُصَلِّيَا مَعَنَا ؟» فَقَالَا: يَارَسُولَ اللهِ! إِنَّا كُنَّا قَدْ صَلَّيْنَا فِي رِحَالِنَا. قَالَ: «فَلَا تَفْعَلَا، إِذَا صَلَّيْتُمَا فِي رِحَالِكُمَا،

ثُمَّ اَتَيْتُمَا مَسْجِدَ جَمَاعَةٍ فَصَلِّيَا مَعَهُمْ، فَاِنَّهَا لَكُمَا نَافِلَةٌ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَاَبُوْدَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه : يزيد بن الاسود ﷺ فرمائي: زۀ د نبي ﷺ سره د هغۀ حج ته حاضر شوم او د هغۀ سره مے په مسجد الخيف كښې د سحر مونځ اُوكړو، كله ئے چه مونځ ختم كړو او راواوړيدو، نو دغه وخت كښې د دوه سړو سره ملاؤ شو چه د خلقو په آخر كښې ناست وو او د نبي ﷺ سره ئے مونځ نۀ وو كړے، نبي ﷺ اُوفرمايل : « دا دواړه كسان ما ته راولئ ! » نو دواړه راوستے شو چه (د نبي ﷺ د هيبت په وجه د هغوى) د ملا (شا) غوښے رپيدلے، ورته ئے اُوفرمايل : «تاسو ما سره د مونځ كولو نه څۀ منع كړئ ؟ » هغوى دواړو اُووئيل : اے د الله رسوله ! مونږ په خپلو كورونو كښې مونځ كړے وو، وے فرمايل : « آينده دا كار مۀ كوئ، كله چه تاسو خپلو كورونو كښې مونځ اُوكړو بيا تاسو د جماعت والا مسجد ته راغلئ نو د هغوى سره شريك مونځ كوئ دا به ستاسو دپاره نفل وى». (ترمذيؒ، ابوداودؒ، نسائيؒ)

تشريح : دا حديث دليل دے د جمهورو چه د جمعے د خاطره د سحر مونځ هم دوباره كول جواز لرى. ★- احناف پدے حديث عمل نۀ كوى وائي چه دا حديث مضطرب دے ځكه په بعض رواياتو كښې صلاة الصبح ذكر دے او بعضو كښې صلاة الظهر ذكر دے.

الجواب :كوم روايت كښې چه صلاة الظهر راغلے دے نو هغه امام محمد په كتاب الآثار (۱۹) كښې ذكر كړے او مسند ابى حنيفة ص(۸۱) كښې هم راغلے او هغه ضعيف روايت دے. هيثم مرسلًا نقل كړيدے. او دا روايت قوى دے لهذا هيڅ اضطراب نشته.

۲- **دويم اعتراض** كوى چه دا منسوخ دے. الجواب : دا په حجة الوداع كښې نبى ﷺ بيان كړيدے او ددے نه روستو نبى ﷺ (۸۱) ورځے پس وفات شويدے. نو ناسخ ئے كوم ځائے راغلو. ۳- دارنگه دا اعتراض كوى چه دا حديث دومره قوى نۀ دے او احاديث د نهى عن الصلاة فى الاوقات الثلاثة متواتر دى.

الجواب : منو دا خبره چه احاديث د نهى متواتر دى ليكن دلته تعارض نشته ځكه هغه احاديث متواتره محمول دى په نوافل مطلقه ؤ باندے او دا حديث محمول دے په صلاة سببى باندے ځكه دلته سبب موجود دے چه هغه جماعت حاضريدل دى.

نو دے سره د دوى دا اعتراض هم ختم شو چه وائي احاديث د نهى مُحرم دى او دا حديث مُبِيح دے او عند التعارض مُحرم مُقدم وى په مُبِيح باندے نو مونږ وايو صغرىٰ صحيح ده ليكن كبرىٰ نۀ منو ځكه چه دلته د سره تعارض نشته نو مقدم كول او مؤخر كول خو فرع

د تعارض ده۔ ځکه چه حرام نوافل مطلقه دی او مباح دا صلاة سببی دے۔ لکه دوی هم ددے احادیثو د نهی نه ډیر استثناء ات کړیدی چه د هغے بیان په دے کتاب (۳/ ۱۷۲) او (۴/ ۵۵۲–۵۵۵) کښې اُوګوره۔

فَإِنَّهَا لَكُمَا نَافِلَةٌ :

اختلاف دے چه کوم مونځ نفل حسابیږی او کوم فرض ؟

۱– یو قول دا دے چه اول مونځ فرض دے او دویم نفل دے او همدا قول راجح دے۔

۲– قول ثانی دا دے چه اکمل کوم وی نو هغه به فرض وی۔

۳– **قول ثالث** : مخکنے نفل او روستو به فرض وی۔ ٤– قول رابع : عبد الله بن عمرؓ فرمائی : د الله خوښه ده چه کوم فرض حسابوی او کوم نفل۔ لکه د هغه حدیث روستو راروان دے۔ لیکن ظاهر دا ده چه که تا د اول مونځ د فرضو نیت کړے وی نو هغه به فرض وی او دویم به نفل وی۔ دلته هم وائی چه د جماعت سره اداء شوے مونځ به نفل شی۔

تُرْعَدُ : د باب افعال (اِرْعَاذ) نه دے، د مجهول صیغه ده مجرد ئے رِعْدَةٌ دے، په معنی د رپیدلو او اضطراب سره۔ او فرائص جمع د فریصة ده د شا غوښے ته وائی۔ او دا رپیدل د نبی علیه السلام د رعب په وجه وو ځکه چا کښې څومره تقویٰ وی نو هغومره پکښې رعب وی۔

مَسْجِدِ الْخَيْفِ : دا مسجد په منیٰ کښې د غره په لمن کښې دے، خیفْ د غره نه لاندے سختے زمکے ته وائی چه کړه وی۔

مسئله : تکرار الجماعة :

بیا پدے حدیث کښې مسئله د اعادے د مانځه ده د جماعت سره نو پدے کښې دوه صورتونه دی (۱) **اول صورت** : چه یو انسان په وقت کښې د جَمعے سره مونځ اُوکړی بیا په بل مسجد کښې جماعت لاندے کړی په وقت کښې۔ نو پدے وخت کښې به د هغوی سره اِعاده د مانځه کوی په راجح قول کښې یا وجوباً اعاده ده یا استحباباً، ظاهر عدم وجوب دے ځکه چه روستو مونځ نفل دے۔ او کله چه د مسجد نه ماسویٰ جماعت اُومومی نو بیا پرے اِعاده نشته۔ او ددے دپاره ډیر **دلائل** دی۔ ۱– **یو دلیل** حدیث د امامت د معاذ بن جبل ﷺ مخکښې تیر شو چه دا د هغهٔ دپاره نفلی مونځ وو۔ او دا نص دے په مسئله کښې ځکه نبی ﷺ هغهٔ ددے تکرار د جماعت نه منع نهٔ کړو۔ نو دلیل شو په استحباب د اعاده باندے۔ ۲– **دویم دلیل** : دا حدیث الباب دے چه پدے کښې د مسجد جماعة قید ذکر دے۔

۳– **دریم دلیل** :صحابه کرامؓ هم داسے عمل کړیدے۔ لکه انس بن مالك ﷺ فرمائی :

مونږ ته ابو موسیٰ اشعریؓ په مِربد کښې د سحر مونځ اُوکړو بیا مونږ جامع مسجد ته لاړو نو اقامت د مانځه اُوشو، هلته مو د مغیره بن شعبهؓ سره (بیا) مونځ اُوکړو۔ (السنن الکبریٰ للبیهقی ۳۰۳/۳) المغنی لابن قدامة (۵۲۱/۲) والمجموع (۲۲۳/٤) دارنګه که د مانځه اِعاده اُونکړی نو بیا پرے تهمت لګی چه د مانځه نه پته شبو۔

او کوم حدیث د ابوداود (۹۳/۱) کښې چه ابن عمرؓ فرمائی: (لا تصلوا الصلاة مرتین) (یو مونځ دوه ځل مهٔ کوئ) نو هغهٔ محمول دے په هغهٔ صورت باندے چه اِعاده د مانځه په نیت د فرضو اُوکړی نو هغهٔ صحیح نهٔ ده او کله چه نیتونه جُدا جُدا وی چه اول فرض او دویم نفل وی نو بیا جائز ده او د هغے نه منع نشته۔ بلکه اثبات دے لکه (فانها لکما نافلة) راغلے دے۔ ۲- دویم دا چه هغهٔ محمول دے په غیر د مسجد باندے لکه په هغے باندے د بَلاط لفظ دلالت کوی۔ یعنی ابن عمر دا جماعت لاندے کړے وو خو په غیر د مسجد نه او مونږ وئیلی وو چه د مسجد نه ماسِویٰ کښې د جماعت سره اِعاده نشته ځکه ددے نه خو بیا دا لازمیږی چه مثلاً د ماسپښین مونځ درے او څلور کرته اعاده شی او دا کار په شریعت کښې مکروه دے۔ کما قال شیخ الاسلام ابن تیمیةؒ فی الفتاوی (۲۶۰/۲۳)

(۲) **دویم صورت** دا دے چه اول ئے یواځے (منفرداً) مونځ کړے وی او بیا جماعت اُومومی نو په دهٔ باندے واجب دی چه اعاده د مانځه به کوی او دا حکم په ټولو مونځونو کښې دے اګرکه فجر او مغرب او عصر وی۔ او همدا راجح قول دے۔

دلیل ئے دا حدیث الباب دے چه دے دوه کسانو په کور کښې مونځ کړے دے بیا ئے جماعت لاندے کړے دے او هغے کښې نهٔ دی شامل شوی نو نبی ﷺ منع کړل او حکم ئے ورته اُوکړو چه دوباره مونځ به کوئ (فصلیا معهم)۔

علامه شوکانیؒ فرمائی: (ثم اتیتما مسجد جماعة) دے کښې ئے د (مسجد جماعة) قید اُولګولو نو ظاهر دا ده چه دا حکم خاص دے په هغهٔ جماعتونو پورے چه مساجدو کښې کولے شی نهٔ هغهٔ چه بهر د مساجدو نه کولے شی۔ نو دلته به مطلق حمل وی په مقید باندے۔ (نیل الاوطار: ٤/ ٤٣٦) باب الرخصة فی اعادة الخ)

علامه خطابیؒ فرمائی: پدے حدیث کښې د فقه نه دا خبره ده چه چا په کور کښې مونځ اُوکړو بیا د جماعت سره مخامخ شو نو دهٔ باندے لازم دی چه د هغوی سره به مونځ کوی په پنځو مونځونو کښې چه هر مونځ وی، او دا مذهب د شافعیؒ، احمدؒ او اسحاقؒ دے۔ او امام مالکؒ د مغرب مونځ کښې اِعاده مکروه ګنړی او ابو حنیفهؒ په فجر او عصر او مغرب کښې اِعاده مکروه ګنړی۔ لیکن ظاهر د حدیث حجت دے په دوی باندے۔ ځکه حدیث

(فليصل معه) مطلق راغلے دے۔ هر مونځ ته شامل دے۔ انتهىٰ (معالم السنن ۱/۱٦٤)

علامه مناويؒ فرمائي : (فهذا تصريح بعدم الفرق بين وقت الكراهة وغيره) (دا (فصليا معهم) تصريح ده پدے چه د كراهت او غير كراهت وقت هيڅ فرق نشته) (فيض القدير ۱/۵۰۲) او دا حديث تخصيص راولى په عموم د هغهٔ احاديثو كښ چه دلالت كوى په كراهت باندے۔ ځكه دا حديث په آخرى ژوند د نبى ﷺ كښ په حجة الوداع كښ وئيلے شوے دے۔ (تحفة الاحوذى ۲/۲۱۸) باب اذا دخل) (والمرعاة ٤/۱۱۸)

علامه سنديؒ فرمائي : «دا قول (فصليا معهم) تصريح ده پدے چه دا حكم اوقاتو د كراهت ته هم شامل دے، او دا حكم د اوقاتو د كراهت نه په علاوه پورے خاص كولو نه مانع دے ځكه د علماؤ اتفاق دے پدے چه ددے حديث مورد صلاة الفجر دے او استثناء د مورد، د عموم نه صحيح نهٔ وى، او پدے حكم باندے د نسخ گمان هم ممكن نهٔ دے ځكه دا په حجة الوداع كښ راغلے دے۔(حاشية النسائى ۲/۱۱۳ – كتاب الامامة)

۲- دويم دليل : روستو فصل ثالث كښ د بسر بن محجن حديث دے۔ هلته ئے اُوگوره۔ هغے كښ دا الفاظ دى : (اذا جئت المسجد و كنت قد صليت فاقيمت الصلاة فصل مع الناس وان كنت قد صليت) (يعنى اگركه تا مونځ كړے وى خو چه مسجد ته راغلے نو د خلقو سره به مانځه كښ شركت كوے) او دا حكم وجوبى دے او تولو مونځونو ته شامل دے۔

او هر چه اثر د ابن عمرؓ دے چه هغه فرمائي : «كه تا په خپل كور كښ مونځ اُوكړو او بيا په مسجد كښ د امام سره مونځ لاندے كړے نو د هغهٔ سره مونځ كوه سِوىٰ د فجر او مغرب نه ځكه دا دوه كرته نهٔ كيږى»۔ (عبد الرزاق ۲/٤۲۲) ونحوه فى الموطأ (۱/۱٦۱)۔ نو دا روايت اگركه صحيح دے ليكن دا د ابن عمر ؓ رأيه ده او د مرفوع احاديثو خلاف ده۔ لهذا عمل به په مرفوع احاديثو وى كوم چه مخكښ تير شو۔

ملاعلى القاريؒ دا روايت دارقطنى ته په طريقه د رفع منسوب كړيدے ليكن دا د هغهٔ غلطى ده، دا په دارقطنى كښ نشته۔ مونږ هم ډيره تتبع اُوكړه او دغه شان تتبع شيخ ابو الحسن المباركفورى هم كړيده او هغهٔ دا د اَوهامو د على القارى نه شمارلے دے۔ (المرعاة (٤/۱۲٦)۔ او اعلاء السنن (٤/۲۸۷) كښ ئے الاحكام الكبرىٰ د عبد الحق الاشبيلى ته منسوب كړيدے ليكن هلته هم دا روايت بعد التتبع نهٔ ملاويږى او دا رفع شاذ ده۔ دارنګه كوم روايت د علىؓ كښ چه راغلى دى چه ماښام سره به يو ركعت يو ځائے كوى دے دپاره چه څلور ركعاته نفل جوړ شى نو دا روايت هم ضعيف دے، حارث راوى پكښ ضعيف دے۔ (ابن ابى شيبة (۳/۲۷٦) لهذا ماښام به هم كوى او درے ركعاته نفل

هم په داسے موقعه کښې شته. انظر فتاوى الدين الخالص (١٩٢/٥) والمرعاة (١١٨/٤) او ددے مسئلے لګ تفصیل ددے کتاب په (١٥٠/٣) باب تعجيل الصلاة (١٤) حديث لاندے اُوګوره.

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه عبد الرزاق (٤٢١/٢) رقم (٣٩٣٤) واحمد (١٦٠/٤) والدارمى (٣١٨،٣١٧/١) وابوداود (٥٧٥) والترمذى (٢١٩) والنسائى (١١٢/٢-١١٣) وابن حبان (٤٣٤) والحاكم (٢٤٤/١-٢٤٥)

الفصل الثالث

٤- عَنْ بُسْرِ بْنِ مِحْجَنٍ عَنْ اَبِيْهِ، اَنَّهٗ كَانَ فِيْ مَجْلِسٍ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَأُذِّنَ بِالصَّلَاةِ، فَقَامَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فَصَلّٰى، وَرَجَعَ، وَمِحْجَنٌ فِيْ مَجْلِسِهٖ، فَقَالَ لَهٗ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«مَا مَنَعَكَ اَنْ تُصَلِّيَ مَعَ النَّاسِ؟ اَلَسْتَ بِرَجُلٍ مُسْلِمٍ؟ » فَقَالَ : بَلٰى، يَارَسُوْلَ اللهِ! وَلٰكِنِّيْ كُنْتُ قَدْ صَلَّيْتُ فِيْ اَهْلِيْ. فَقَالَ لَهٗ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:«اِذَا جِئْتَ الْمَسْجِدَ، وَكُنْتَ قَدْ صَلَّيْتَ، فَأُقِيْمَتِ الصَّلَاةُ، فَصَلِّ مَعَ النَّاسِ وَاِنْ كُنْتَ قَدْ صَلَّيْتَ». رَوَاهُ مَالِكٌ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه : او بسر بن محجنؒ د خپل والد نه روایت نقل کوی چه هغهٔ د رسول الله ﷺ سره په یو مجلس کښې وو نو د مانځه دپاره اذان اُوشو، نو رسول الله ﷺ پاڅیدو مونځ ئے اُوکړو، او (کورته) واپس شو او محجن (لا) په مجلس کښې وو، نو دهٔ ته رسول الله ﷺ اُوفرمایل :« تهٔ څهٔ منع کړے ددے نهٔ چه تهٔ د خلقو سره مونځ اُوکړے؟ آیا تهٔ مسلمان سړے نهٔ ئے؟ »هغهٔ اُووئیل: آؤ (ولے نهٔ) یارسول الله ! لیکن ما په خپل کور کښې مونځ کړے وو. نو رسول الله ﷺ ورته اُوفرمایل :«کله چه تهٔ مسجد ته راشے او تا په کور کښې مونځ کړے وی او اقامت د مانځه اُوشی نو د خلقو سره مونځ کوه اګرکه تا مخکښې مونځ کړے وی». (مالكؒ، نسائیؒ).

تشريح : فَصَلِّ مَعَ النَّاسِ : دا حکم هم وجوبی دے چه څوك یواځے مونځ اُوکړی او بیا جَمعه لاندے کړی نو ضرور به د جماعت سره شاملیږی او دا عام دے هر مانځه ته او د نهی د احادیثو سره ئے هیڅ تعارض نشته څکه دا مستثنیٰ او خاص دے د هغه احادیثو نه کما مرّ مراراً.

وَاِنْ كُنْتَ قَدْ صَلَّيْتَ : دا دوه احتماله لری یو دا چه یواځے ئے مونځ کړے وی. دویم دا چه د جماعت سره ئے مونځ کړے وی لیکن اول احتمال ظاهر دے څکه غالب دا ده چه د خلقو

عادت دا وی چه کور کښې مونځ کوی نو هغهٔ یواځې وی، او دا حدیث دلیل دے چه کله انسان ځانله مونځ کړے وی، او یو مسجد ته داخل شی او جماعت ولاړ وی یا تیار وی نو دا به ورسره ضرور شاملیږی او که دهٔ د جماعت سره مونځ کړے وی او مسجد ته داخل شی او مسجد کښې لا اذان نهٔ وی شوے، یا اذان شوے وی لیکن لا جماعت نهٔ وی اُودریدلے نو دهٔ دپاره د دغه مسجد نه وتل جائز دی۔ مګر که حصار شو او دغه دویمه جمعه ئے کړه نو دا ورله مستحب ده۔ او دا په ټولو مونځونو کښې کولے شی وهو الحق۔

اَلَسْتَ بِرَجُلٍ مُسْلِمٍ؟ : دا حدیث هم علماؤ دلیل ګرځولے چه څوك مونځ نهٔ کوی نو هغهٔ مسلمان نهٔ دے۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه مالك فى الموطأ (۱/۱۳۲) والنسائى (۱/۱۳۷)

۵– وَعَنْ رَجُلٍ مِنْ اَسَدِ بْنِ خُزَيْمَةَ، اَنَّهُ سَأَلَ اَبَا اَيُّوْبَ الْاَنْصَارِيَّ، قَالَ: يُصَلِّيْ اَحَدُنَا فِيْ مَنْزِلِهِ الصَّلَاةَ، ثُمَّ يَأْتِي الْمَسْجِدَ، وَتُقَامُ الصَّلَاةُ، فَأُصَلِّيْ مَعَهُمْ فَأَجِدُ فِيْ نَفْسِيْ شَيْئًا مِنْ ذٰلِكَ. فَقَالَ اَبُوْاَيُّوْبَ: سَأَلْنَا عَنْ ذٰلِكَ النَّبِيَّ ﷺ، قَالَ: « فَذٰلِكَ لَهُ سَهْمُ جَمْعٍ ». رَوَاهُ مَالِكٌ، وَاَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او د بنی اسد بن خزیمه د یو سړی نه روایت دے چه هغهٔ د ابوایوب انصاری ﷺ نه تپوس اوکړو : چه په مونږ کښې یو تن په خپل کور کښې مونځ کوی بیا مسجد ته راځی او (ګوری چه) هلته مونځ ولاړ دے نو آیا زهٔ به د هغوی سره (دوباره) مونځ کوم؟، زهٔ ددے نه په زړه کښې یو شك محسوس کوم (یعنی زما دپاره به دوباره مونځ بهتر وی او کهٔ نهٔ ؟) نو ابوایوب انصاریؓ ورته اُوفرمایل : چه مونږ د رسول الله ﷺ نه ددے په باره کښې تپوس کړے وو، نو هغهٔ فرمایلی وو چه : (دا دوباره مونځ کول) « ددهٔ دپاره د جماعت حصه ده» (مالكؒ، ابوداودؒ)

تشریح : ددے سړی مطلب دا وو چه زهٔ په کور کښې یواځے مونځ اُوکړم بیا مسجد ته راشم او مونځ تیار وی نو آیا زهٔ د هغوی سره مونځ کولے شم او کهٔ نهٔ ؟ زما په زړهٔ کښې ددے نه شك دے؟ نو ابوایوب ورته ترغیب ورکړو چه آؤ دے کار کښې ستا دپاره ډبل اجر دے۔

فَأَجِدُ فِيْ نَفْسِيْ شَيْئًا : ددے شی نه مراد یا شك دے۔ یعنی شك مے دے چه دا به زما دپاره فائده وی او که ضرر ؟۔ یا مراد راحت دے یعنی په دوباره مونځ کولو مے زړهٔ خوشحاله شی۔ نو ورته اُووئیل شو چه پدے کار سره ستا دپاره د جماعت نه حصه شوه یعنی دا بهتر کار دے،

يا دا چه ته ځکه خوشحاله شوے، چه ډير خير ډيے راجمع کړو۔ ليکن اول مطلب غوره دے۔
فَذٰلِكَ لَهُ سَهْمُ جَمْعٍ : يعنی حصه د راجمع کولو شوه ځکه چه دوه مونځونه ئے راجمع کړل۔ يا د جمع نه جماعت مراد دے يعنی د جماعت د حصے ثواب ئے هم اُوشو او د ځانله مونځ هم۔ بعض وائی : د جمع نه مراد فوج او جيش دے لکه (سيهزم الجمع) او (يوم التقى الجمعان) کښ راغلے دے۔ يعنی دده دپاره حصه د لښکر شوه او حصه د لښکر خو غنيمت وی يا اَجر وی نو دده دپاره دا غنيمت شو او اجر د غازی فی سبيل الله شو۔ (ابن عبد البرؒ)
بعض وائی : جمع نه مراد مزدلفه ده يعنی دومره حصه د اجرئے حاصله کړه لکه څوک چه په مزدلفه کښ شپه تيره کړی۔ (باجیؒ)
درجة الحديث : اسناده ضعيف ومعناه صحيح مما تقدم وما تاخر : اخرجه ابوداود (۵۷۸) مرفوعاً وفی اسناده مجهول وهو الرجل الاسدی واما مالك فقد اخرجه فی الموطأ (۱۳۲/۱) لکن عنده موقوف فاطلاق عزوه اليه لا يخفى ما فيه۔

٦– وَعَنْ يَزِيْدَ بْنِ عَامِرٍ، قَالَ: جِئْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ وَهُوَ فِي الصَّلَاةِ فَجَلَسْتُ وَلَمْ اَدْخُلْ مَعَهُمْ فِي الصَّلَاةِ. فَلَمَّا انْصَرَفَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ رَآنِيْ جَالِسًا، فَقَالَ: «اَلَمْ تُسْلِمْ يَا يَزِيْدُ؟» قُلْتُ: بَلٰى، يَارَسُوْلَ اللهِ! قَدْ اَسْلَمْتُ. قَالَ: «وَمَا مَنَعَكَ اَنْ تَدْخُلَ مَعَ النَّاسِ فِيْ صَلَاتِهِمْ؟» قَالَ: إِنِّيْ كُنْتُ قَدْ صَلَّيْتُ فِيْ مَنْزِلِيْ، اَحْسِبُ اَنْ قَدْ صَلَّيْتُمْ. فَقَالَ: اِذَا جِئْتَ الصَّلَاةَ فَوَجَدْتَّ النَّاسَ، فَصَلِّ مَعَهُمْ وَاِنْ كُنْتَ قَدْ صَلَّيْتَ، تَكُنْ لَكَ نَافِلَةً وَهٰذِهٖ مَكْتُوْبَةٌ ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او يزيد بن عامر ؓ فرمائی: زۀ رسول الله ﷺ ته پداسے حال کښ راغلم چه هغۀ په مانځه کښ وو نو زۀ کيناستم او د هغوی سره په مانځه کښ داخل نۀ شوم؟ هرکله چه رسول الله ﷺ سلام اُوګرزولو، زۀ ئے (يو طرفته جُدا) ناست اُوليدم، وے فرمايل : « اے يزيد ! آيا تۀ مسلمان نۀ ئے ؟» ما عرض اُوکړو ؟ ولے نۀ، اے د الله رسوله ! ما اسلام راوړے دے، وے فرمايل : « (نو بيا) څۀ منع کړے چه د خلقو سره په مانځه کښ داخل شے؟ » ما عرض اُوکړو: ما په خپل کور کښ مونځ کړے وو، دا خيال مے کولو چه تاسو به مونځ کړے وی، وے فرمايل : «کله چه تۀ مانځه ته راشے او خلقو اُومومے چه مونځ کوی نو د هغوی سره مونځ کښ شامليږه، او کۀ چرته تا مونځ کړے وی نو دغه (د جماعت سره مونځ) به ستا دپاره نفل کيږی او دا (کور کښ مونځ) به ستا دپاره فرض کيږی»۔ (ابو داودؒ)

تعارف د يزيد بن عامر : يـزيـد بن عامر بن الاسود العامري ابوحاجز السوائي۔ تقريب كښې وائي دا صحابي دے او صرف دا يو حديث ترے نقل دے۔ او دا د مشركانو په ډله كښې جنين ته حاضر شوے وو، روستو بيا مسلمان شو۔

تشريح : رَآنِيْ جَالِسًا : يعنى په غير د هيئت د مانځه نه ناست وم نو وے پيژندلم چه مونځ كښې نۀ يم شريك شوے۔

تَكُنْ لَكَ نَافِلَةً وَهٰذِهٖ مَكْتُوْبَةٌ : يعني دا دويم د جماعت سره مونځ به نفل او زياتى شى او دغه مونځ چه يواځې دِے كړے دا به فرض شى۔ او دا احتمال د نورو مخكنو احاديثو په بناء راجح دے۔ لكه حديث د محجن يا حديث د يزيد بن الاسود شو يا حديث د ابوذر شو چه په باب تـعـجـيـل الصلاة كښې تير شوے دے۔ بعضو برعكس قول كړيدے۔ او دا حديث ئے په دليـل كـښې پيش كړے دے ليكن جواب دا دے چه دا احتمال د نورو احاديثو په بناء مرجوح دے۔ او بله دا چه دا حديث سنداً دومره قوى هم نۀ دے۔

او كـوم روايت د دارقـطـنـي كښې چه صراحةً داسے راغلي دى (وليـجـعـل التى صلى فى بيته نافلة) (كور كښې ئے چه كوم مونځ كړے دے هغۀ دِے نفلي اُوګرځوى) نو امام دارقطني پخپله او بيـهـقـيؒ وئيلي دى چه دا روايت شاذ او مردود دے ځكه د ثقاتو نه مخالف دے۔ لكه دا خبره حافظ په تلخيص (۱۲۲) كښې او حافظ زيلعي په نصب الرايه (۲/۱۵۰) كښې نقل كړيده۔

درجة الحديث : اسـنـاده ضعيف ومعناه صحيح: اخرجه ابوداود (۵۷۷) صححه الالباني فـى الـمـشـكـوة (۱۱۵۵) وضعفه فى ضعيف ابى داود (۴۸۹) وفى اسناده نوح بن صعصعة وهو مستور وقال الدارقطني حاله مجهولة۔

۷- وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ، اِنَّ رَجُلًا سَأَلَهٗ، فَقَالَ: اِنِّيْ اُصَلِّيْ فِيْ بَيْتِيْ، ثُمَّ اُدْرِكُ الصَّلَاةَ فِي الْمَسْجِدِ مَعَ الْإِمَامِ، اَفَأُصَلِّيْ مَعَهٗ؟ قَالَ لَهٗ:نَعَمْ. قَالَ الرَّجُلُ: اَيَّتُهُمَا اَجْعَلُ صَلَاتِيْ ؟ » قَالَ ابْنُ عُمَرَ: وَذٰلِكَ اِلَيْكَ؟ اِنَّمَا ذٰلِكَ اِلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ. يَجْعَلُ اَيَّتَهُمَا شَآءَ. رواه مالك.

ترجمه : او د ابن عمر ﷺ په باره كښې منقول دى چه د هغۀ نه يو سړى تپوس اُوكړو وے فـرمـايل : زۀ په خپل كور كښې مونځ كوم، بيا په مسجد كښې د امام سره مونځ لاندے كوم نـو آيا زۀ بـه د هغۀ (امام) سره مونځ كوم ؟ ابن عمرؓ اُوفرمايل : آؤ، هغۀ سړى اُووئيل : چه ددے نـه كـوم يو به زۀ خپل (فرض) مونځ ګرزوم؟ ابن عمرؓ اُوفرمايل : آيا دا كار تا ته سپارلے شـوے دے؟ (نـۀ بـلـكـه) دا كـار خو الله ته سپارلے شوے دے د هغۀ خوښه ده چه كوم (فرض)

گرځوی۔ (مالك)

تشريح : د ابـن عـمرؓ رأيه هم دا ده چه دويم مونځ کښې به هم شرکت کوے۔ اوجواب ئے دا ورکـړو چـه د الله خـوښـه ده چـه کوم يو په فرضو باندے قبلوی او کوم يو په نفلو باندے۔ خـو فـقهـی مسئله دا ده چه اول په تا باندے فرض وو او تا نه د هغے مطالبه کيدله او هغه تا اُوکـړو۔ بـلـه دا چـه تـا د هـغـے د کولو په وخت د فرضو نيت کړے وو او دار مدار د اعمالو په نيتـونـو دے۔ او دا دويـم خـو تـه د جـمـاعـت د خاطره کوے نو دا نفل دے۔ (تـاويل مختلف الحديث ٢٣٨/١ – ابن قتيبة الدينوريؒ)

او ابـن عـمرؓ جـواب ورکـړو چـه الله تـه پته ده ځکه چه اصل حقيقت د قبليدو خو الله ته مـعـلـوم دے، د هـغـے علم ئے بندګانو ته نۀ دے ورکړے چه زۀ فلانے قبلوم او فلانے نۀ قبلوم، کـلـه الله فـرض قبـلـوی او نفل نۀ قبلوی او کله برعکس وی، کله په نوافلو کښې د فرضونه زيات طاقـت وی چـه په اخلاص او زياته توجه سره اُوشی۔ نو ځکه ئے هغۀ ته په تفويض الى الله سره جواب اُوکړو۔

بعض علماء داسے وائی چـه د ابـن عمرؓ مقصد دا وو چه ما ته پته نشته چه کوم يو به فـرض حسـاب وی او کـوم يـو بـه نفل ځکه د هغۀ اوله کښې شك وو او روستو ئے د شك نه رجـوع کـړے ده او دا ئے وئيـلـی دی چه دويم به نفل او اول به فرض حسابوی۔ لکه دا روايت عـلـی الـقـاری په شرح د مسـنـد ابـی حـنيفة کښې نقل کړے او د هغۀ نه ابن عبد البرّ نقل کړيدے۔ لکه دا دويم روايت د هغۀ د نورو مرفوع صحيح احاديثو موافق دے۔

درجة الحديث : اسناده صحيح على شرطهما : اخرجه مالك في الموطأ (١٣٣/١)

٨– وَعَنْ سُلَيْمَانَ مَوْلٰى مَيْمُوْنَةَ، قَالَ: اَتَيْنَا ابْنَ عُمَرَ عَلَى الْبَلَاطِ وَهُمْ يُصَلُّوْنَ. فَقُلْتُ: اَلَا تُصَلِّيْ مَعَهُمْ ؟ فَقَالَ : قَدْ صَلَّيْتُ، وَاِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ:«لَاتُصَلُّوْا صَلَاةً فِيْ يَوْمٍ مَرَّتَيْنِ». رَوَاهُ اَحْمَدُ، وَاَبُوْدَاوٗدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه : او سليمان چه د ميمونۓ آزاد کرده غلام دے فرمائی : زۀ (يوه ورځ) ابن عمرؓ ته په بـلاط مـقـام کـښې راغـلـم چه خلقو (هغۀ وخت په مسجد کښې) مونځ کولو، نو ما ورته عرض اُوکړو : آيا تۀ د خلقو سره مونځ نۀ کوے......؟ ابن عمرؓ اُوفرمايل :ما مونځ کړے دے او ما د رسول الله ﷺ نه اَوريدلی دی چه فرمايل ئے :« تاسو په يوه ورځ کښې يو مونځ دوه ځل مۀ کوئ»۔ (احمدؒ، ابوداوٗدؒ، نسائیؒ)

تشريح : دا حديث چا دليل گرځولے دے چه د جماعت سره دوباره مونځ كول صحيح نهٔ دی۔ ليكن دا استدلال صحيح نهٔ دے ځكه چه د ابن عمرؓ د مخكنئ فتوے نه معلومه شوه چه دوباره مونځ به كوی نو ددے روايت يو څو مطلبه دی :

١- يو دا چه يو فرض مونځ دوه ځله د فرضو په نيت كول صحيح نهٔ دی ځكه چه فرضو كښ تكرار شريعت نهٔ دے وئيلے۔ او كله چه اول مونځ فرض حساب شی او دويم نفل نو ديته خلق دا نهٔ وائی چه دهٔ دا مونځ دوه ځل اُوكړو۔ لهذا ديته نهی نهٔ ده شامله۔ ځكه چه دا دواړه مختلف دوه مونځونه شو يو فرض او بل نفل۔ (تاويل مختلف الحديث ص (٢٢٣٨) (والمرعاة ١٢٦/٤)

علامه ابن عبد البرؒ په الاستذكار كښ د احمد بن حنبلؒ او اسحاق بن راهويهؒ نه ددے معنىٰ داسے نقل كړيده : چه يو سړے فرض مونځ يو ځل اُوكړی بيا د هغے نه فارغ كيدو سره سمدست په همدغه وخت كښ دوباره د فرضو په طريقه كوی، او كله چه يو انسان دويمه جمعَ كوی د نفل په طريقه، د نبی ﷺ د امر اقتداء كوی چه هغهٔ پدے باندے اَمر كړيدے نو ديته په ورځ كښ د يو مونځ دوه ځل اعاده نهٔ وائی۔ ځكه اولنے مونځ فرض دے او دويم نفل دے لهذا دا اِعاده نهٔ شوه۔ انتهىٰ۔

٢- دويم دا چه دا محمول دے په هغه صورت باندے چه يو انسان يو ځل جَمعه اُوكړی او بيا د مسجد نه بهر جماعت اُومومی نو هغه باندے لازم نهٔ ده چه ددے خلقو سره شريك شی۔ ځكه احاديثو كښ د «مَسْجِدُ جَمَاعَة» قيد راځی چه انسان مسجد ته لاړ شی نو هله به دويمه جَمع كښ شريك كيږی او دلته دا مسجد نهٔ دے بلكه بلاط يو بهر ځائے دے۔

٣- يا دا چه د نسائی او ابوداود د ترجمة الباب نه داسے معلوميږی چه دا روايت د ابن عمرؓ حمل دے په هغه صورت چه اول مونځ ئے هم د جَمعے سره كړيدے او بيا ئے دا جماعت اُومونډلو نو په دهٔ باندے لازم نهٔ ده چه دوه ځل مونځ اُوكړی۔

مگر دا جواب بعيد دے ځكه مخكښ وئيلے شويدی چه كهٔ مخكښ ئے د جماعت سره مونځ كړے وی نو هم دوباره مونځ به كوی۔

٤- **بعض وائی** : دا محمول دے په هغهٔ صورت چه مونځ سببی نهٔ وی او دلته دا دويم مونځ سببی دے ځكه چه سبب ئے جماعت دے ځكه چه سړی يواځے مونځ كړے دے نو كله چه جماعت حاضر شو نو سبب موجود شو لهذا دا به كوی دے دپاره چه فضيلت د جماعت هم ورته حاصل شی لكه دا خبره علامه خطابیؒ په معالم السنن (١٦٦/١) كښ كړيده، او وئيلی ئے دی چه پدے سره توفيق د اخبارو ترمينځ راځی او د هغوی ترمينځ

اختلاف ختمیږی۔ والله اعلم۔

بلاط : په اصل کښې یو قسم کانړی دی چه په زمکه کښې لګولے شی قاموس کښې دی : دا هغه خوئے هواره زمکے ته هم وائی او هغه کانړوته هم وائی چه په کور کښې خوروله شی۔ او اُوس نوم ګرځیدلے دے دیو ځائے دپاره په مدینه کښې۔

حافظ په مقدمه د فتح الباری کښې فرمائی : دا هغه ځائے دے چه عمر فاروق د خلقو د خبرو اترو دپاره د مسجد نه بهر جوړ کړے وو۔

درجة الحديث : اسناده صحیح : اخرجه احمد (۱۹/۲-۴۱) وابوداود والنسائی وصححه الدارقطنی والبیهقی وابن خزیمة وقال النووی : اسناده صحیح۔

۹- وَعَنْ نَافِعٍ، قَالَ: إِنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ كَانَ يَقُوْلُ: مَنْ صَلَّى الْمَغْرِبَ اَوِالصُّبْحَ، ثُمَّ اَدْرَكَهُمَا مَعَ الْإِمَامِ، فَلَايُعِدْ لَهُمَا. رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه : او نافع رحمه الله فرمائی: عبد الله بن عمر ﷺ به فرمایل : چا چه د ماښام او صبا مونځ اُوکړو او بیائے دا دواړه مونځونه د امام سره اُوموندل نو هغهٔ دے دا مونځونه دوباره نهٔ کوی۔ (مالكؒ)۔

تشریح : مخکښې مونږ اووئیل چه دا د ابن عمرؓ رأیه ده چه چا د ماښام او سحر مونځ اُوکړو او بیائے د امام سره اُومومی نو دا به دوباره نهٔ کوی۔ ځکه چه د ماښام او سحر نه روستو نفل نهٔ کیږی۔ او کیدے شی چه دۀ ته هغه عام حدیثونه نهٔ وی رسیدلی کوم چه مخکښې تیر شو۔ علی کل حال دا مقابله د هغهٔ مرفوع احادیثو نشی کولے۔

او دا احادیث د نهی د احادیثو د عموم تخصیص کوی۔ لهٰذا ددے د احادیثو د نهی سره هیڅ قسم تعارض نهٔ شته۔

درجة الحديث : اسناده صحیح : اخرجه مالك فی الموطأ (۱۳۳/۱) باسناد صحیح علی شرطهما.



باب السنن وفضائلها

د سنتو او د هغې د فضائلو بيان

سُنَن جمع د سُنت ده، دلته مراد د سنن نه هغه مونځونه دي چه ماسِوئ د فرائضونه وي او په ورځ او شپه كښې د فرائضو سره كولے شي. برابره ده واجب وي او كه سنت وي. او د فقهاؤ په اصطلاح كښې سنن په دوه قسمه دي : ۱ – سنن مؤكد رواتب : چه په هغې باندے نبي ﷺ دوام كړے وي مگر يو كرت دوه كرته ئے پريخى وي.

۲ – سنن غير مؤكد (مندوب) دا هغه دي چه نبي ﷺ په هغې باندے هميش والے نهٔ وي كړے. دويم دا چه سنت مؤكد هغه دي چه قولاً په هغې باندے تاكيد راغلے وي او غير مؤكد هغهٔ دي چه قولاً تاكيد پرے نهٔ وي راغلے. بيا سنن رواتب د احنافو په نزد (۱۲) دولس دي.

۲ – او شوافع بلكه اكثر علماء فرمائي : چه لس ركعاته دي ځكه دوي د ماسپښين نه مخكښې دوه ركعاته سنت منى ليكن تحقيق دا دے چه د ماسپښين نه مخكښې دوه ركعاته هم شته او څلور هم. خو دا په غير د ورځې د جُمعې نه ځكه چه د جُمعې په ورځ مخكنى سنت اختلافى دى كما يأتى فى موضعه.

بيا سنت او نوافل د فرائضو نقصان پوره كوى پدے وجه ددے ډير اهتمام پكار دے، نبي ﷺ ئے هم ډير اهتمام كړيدے، لكه حديث كښې دى نبي ﷺ فرمائي : د قيامت په ورځ به اول حساب د بنده سره د هغهٔ د مانځه كيږى كه هغهٔ پوره اداء كړے وو نو پوره به ورله ليكلے شي او پوره ئے نهٔ وي اداء كړے نو الله به ملائكو ته اُوفرمائي : اُوگورئ آيا تاسو زما د بنده څه تطوع (نوافل اوسنن) وينئ (نو كهٔ هغهٔ وي) په هغې سره به ددهٔ فرائض پوره كړى بيا به زكوٰة هم په دغه طريقه وي او بيا به باقى اعمال هم په دغه طريقه اخستے شي. (احمد، ابوداود، ابن ماجه، حاكم)

فائده : ابن دقيق العيدؒ په شرح العمدة كښې د مخكنو او روستنو سنتو مقررولو حكمت ذكر كړيدے چه په مخكنو سنتو كښې يوه لطيفه مناسبه معنىٰ پرته ده او هغهٔ دا چه انسان د دنيا په كارونو مشغول وي نو نفس ته يو داسے كيفيت حاصل وي چه په عبادت كښې د زړه د حاضريدو نه هغهٔ حالت بعيد وي او زړهٔ كښې هغهٔ خشوع نهٔ وي كوم چه د عبادت روح دے نو كله چه د فرضو نه مخكښې سنت اُوكړے شي نو نفس په عبادت

باندے اُنس (اموخت) حاصل کړی او داسے یو کیفیت او حالت پیدا شی چه هغهٔ خشوع ته نزدے وی نو په فرائضو کښ به په ښائسته حالت داخل شی چه کهٔ دا سنت نهٔ وے نو دهٔ ته داسے حالت نشو حاصلیدلے ځکه نفس چه په څهٔ کښ مصروف وی نو د هغهٔ شی کیفیت اخلی، خاصکر کله چه دا مصروفیت زیات یا اُوږد شی، او کله چه د مخکنی حالت منافی کار راشی نو ډیر کرت د مخکنی حالت اثر ختموی یا ئے ضعیف کوی۔ او هرچه روستنی سنت دی نو وجه دا ده چه وارد شویدی چه نوافل جبیره ده د نقصان د فرائضو نو کله چه فرض واقع شی نو مناسب ده چه ددے نه روستو ډے هغهٔ شے واقع شی چه هغهٔ جبیره د نقصان اُوګرځی کهٔ چرته دغه نقصان واقع شوے وی۔ انتهیٰ۔

فائده ثانیه : فرض، واجب، سنت، نفل، مندوب او مستحب پیژندل

د فقهاؤ اصطلاحات د زیادتِ توضیح دپاره بیانوو چه قارئینو ته زیاته فائده حاصله شی۔ فقهاء فرمائی : مشروعات څلور اقسام دی : فرض، واجب، سنت او نفل۔ هغهٔ شے چه د هغے کول اَولیٰ وی د ترک نه او په ترک باندے ئے منع راغلے وی، نو که دا په قطعی دلیل ثابت وی دا فرض شو او که په ظنی دلیل ثابت وی نو دا واجب دی– (لیکن دا اصطلاح د فقهاءِ احنافو ده۔ جمهور علماء فرض او اواجب دواړه په یوه معنیٰ ګنړی)۔ او که ترک ئے منع نهٔ وی نو که په هغے باندے نبی ﷺ یا د هغه نه روستو خلفاءِ راشدینو همیش والے کړے وی دا سنت دی او که همیش والے نهٔ وی نو بیا مندوب او نفل دی۔

او سنت دوه قسمه دی، سنة الهدیٰ : چه د هغے په پریخودلو اساءت او کراهیت لازمیږی او سنة الزوائد چه د هغے په ترك دا نهٔ لازمیږی۔ او سنن هُدیٰ هغهٔ مؤکد سنن دی چه واجبو ته نزدی دی چه ددے تارك ته د ګمراهئ نسبت کولے شی، ځکه ددے په ترك سره د دین استخفاف او سپکاوے لازمیږی په خلاف د سنت زوائد چه دا د شعائر الدین او مکملات د دین نه نهٔ دی، او په خلاف د نفل ځکه چه دا د فرائض، واجباتو، او سننو نه علاوه زیاتی مشروع شویدی۔ نو نفل هغهٔ ته وائی چه په هغے باندے عمومی یا خصوصی دلیل د ندب (استحباب) راغلے وی او نبی ﷺ په هغے باندے مواظبت نهٔ وی کړے۔ پدے وجه دا د سنت زوائدو نه خکته درجے والا دی۔ او کله نفل ذکر کیږی او مراد ترے نه عامه معنیٰ وی چه شاملیږی سنن رواتبو ته هم لکه علماء داسے وائی : باب الوتر والنوافل۔ یا د حج په باره کښ وائی : (حج نافلة) ځکه نفل زیاتی ته وائی او دا هم په فرائضو زیات دی او سره ددے نه چه دا د عام شعائرو د دین نه دی۔

ملا علي القاريؒ فرمائي : سنت، نفل، تطوع، مندوب، مستحب او مرغب فيه دا ټول الفاظ مترادفه دي او معنیٰ ئې يوه ده، ديته وائي چه شارع د هغې كولو ته ترجيح وركړې وي د هغې په پريخودلو باندې او د هغې پريخودل هم جائز وي، اګركه بعض مسنون به مؤكد وي د بعضو نه۔ انتهیٰ۔ راجع المرعاة (۴/۱۲۷)۔

الفصل الاول

۱ – عَنْ اُمِّ حَبِيبَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«مَنْ صَلّٰى فِيْ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ اِثْنَتَیْ عَشْرَةَ رَكْعَةً، بُنِيَ لَهٗ بَيْتٌ فِي الْجَنَّةِ : اَرْبَعًا قَبْلَ الظُّهْرِ، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعِشَاءِ، وَرَكْعَتَيْنِ قَبْلَ صَلَاةِ الْفَجْرِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.وَفِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ : اَنَّهَا قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ:«مَا مِنْ عَبْدٍ مُسْلِمٍ يُصَلِّيْ لِلّٰهِ كُلَّ يَوْمٍ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً تَطَوُّعًا غَيْرَ فَرِيْضَةٍ، اِلَّا بَنَى اللهُ لَهٗ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ– اَوْ اِلَّا بُنِيَ لَهٗ بَيْتٌ فِي الْجَنَّةِ».

ترجمه : ام حبيبه رضی الله عنها فرمائي: رسول الله ﷺ فرمائيلي دي : « چا چه په ورځ او شپه كښې دولس ركعاته اُوكړل د هغهٔ دپاره به په جنت كښې كور جوړ كړې شي، څلور مخكښې د ماسپښين نه او دوه روستو د هغې نه او دوه ركعاته روستو د ماښام نه او دوه ركعاته روستو د ماسخوتن نه او دوه ركعاته مخكښې د سحر مانځه نه»۔ (ترمذیؒ) او په يو روايت د مسلمؒ كښې دي : ام حبيبیؓ اُوفرمايل : ما د رسول الله ﷺ نه اَوريدلي دي چه فرمايل ئې : «نشته يو بنده مسلمان چه د الله دپاره په هره ورځ كښې دولس ركعاته نفل مونځ اُوكړي چه فرض نهٔ وي مګر هغهٔ دپاره به الله يو كور په جنت كښې جوړ كړي »۔ يا ئې داسې فرمائيلي دي : « مګر د هغهٔ دپاره به په جنت كښې كور جوړ شي»۔

تعارف د ام المؤمنين أم حبيبه رضی الله عنها :

د ابوسفيان ؓ لور او د معاويهؓ خور او د نبي ﷺ بي بي ده او نوم ئې رَمْلَه دې۔ بعض وائي : هِنْدَ دې۔ اول قول مشهور دې۔ پخوانۍ مسلمانه ده او د مور نوم ئې صفيه بنت ابی العاص بن اميه وو، چه د عثمان حقيقي ترور وه، ام حبيبه د رسول الله ﷺ د بعثت نه (۱۷) كاله مخكښې پيدا شويده۔ (اصابه رقم (۱۱۱۹۱))

اوله نكاح ئې د عبيد الله بن جحش سره اُوشوه كوم چه د حرب بن اميه حليف وو۔ د خپل خاوند سره مسلمانه شوه او د خپل خاوند سره ئې حبشو ته هجرت اُوكړو، هغه ترې

بیا نصرانی (عیسائی) شو، ام حبیبه ته ئے هم دعوت ورکرو لیکن هغهٔ په اسلام باندے مضبوطه پاتے شوه او هغهٔ ترے بیا په حبشو کښې مړ شو۔ د عدت د ختمیدو نه پس رسول الله ﷺ عمرو بن اُمیه ضمری ﷺ نجاشی ته د ام حبیبه د نکاح په غرض اُولیږلو، کله چه هغهٔ نجاشی ته اُورسیدو نو نجاشی د خپلے وینځے په ذریعه ام حبیبےؓ ته خبر ورکرو چه رسول الله ﷺ ما ته ستاسره د نکاح کولو دپاره خط لیکلے دے، ام حبیبے خالد بن سعید اموی ﷺ خپل وکیل مقرر کړو، ځکه چه دائے نزدے خپلوان وو۔ کله چه ماښام شو نو نجاشی جعفر بن ابی طالب او د هغهٔ ملګری کوم چه حبشو کښې وو راجمع کړل او خپله ئے نکاح اُووئیله او د رسول الله ﷺ د طرف نه ئے څلور سوه دیناره مهر ادا کړو، او ولیمه ئے هم اُوکړه، او دا ئے اووئیل : د انبیاؤ دا طریقه ده چه کله نکاح اُوکړی نو ولیمه کوی۔ د نکاح نه روستو ئے ام حبیبه ئے په کشتئ کښې کینوله او روانه ئے کړه او د مدینے په بندرګاه باندے ئے کوزه کړه، په هغهٔ وخت کښې رسول الله ﷺ په خیبر کښې تشریف فرما وو، دا اووم (٧) یا (٦) هجری وو۔ پدے وخت د ام حبیبے رضی الله عنها عمر (٣٦) یا (٣٧) کاله وو۔ السنن الکبری (معرفة الصحابة لابی نعیم ٢٢/٢٨٤)

وفات : ام حبیبه رضی الله عنها د خپل ورور امیر معاویه د خلافت په زمانه کښې په سنه (٤٤) یا (٤٢) هجری کښې وفات شویده، او په مدینه کښې دفن شویده۔ او پدے وخت د (٧٣) کالو په عمر وه۔

د اول خاوند نه ئے دوه اولاد پیدا شویدی ١ – عبد الله او حبیبه۔ حبیبه رضی الله عنها د رسول الله ﷺ په تربیت کښې راغله او داود بن عروه بن مسعود ته منسوب شوه کوم چه د ثقیف قبیلے رئیس اعظم وو۔

حلیه : ډیره ښائسته وه۔ په صحیح مسلم کښې د ابوسفیان قول دے : (عندی احسن العرب واجمله ام حبیبة) (صحیح مسلم : ٦٤٠٩) (ما سره د ټولو عربو د ښائسته او جمیل زنانو نه ام حبیبه موجوده ده) ام حبیبه (٦٥) روایات اُمت ته نقل کړیدی۔

اخلاق : د ام حبیبه رضی الله عنها ایمانی جوش ته فکر اُوکړه چه د مکے د فتح نه مخکښې کله چه د هغے پلار ابوسفیان د کفر په حالت کښې وو (د صلح حدیبیه زمانه وه) مدینے ته ددے کور ته راغلو (ډیره موده شویده چه دا لورئے نۀ ده لیدلے) نو د رسول الله ﷺ بستره خوره وه نو هغهٔ اراده د کیناستو اُوکړه، پدے کښې ام حبیبه رضی الله عنها په جلتئ سره هغهٔ بستره ددهٔ نه اُوچته کړه، ابوسفیان اووئیل : لورے ! آیا بله ښائسته بستره راچوے او که نۀ څه وجه ده ؟ هغے اُوفرمایل : دا د رسول الله ﷺ بستره ده او تهٔ مشرک ئے۔ (ناپاك ئے) ابوسفیان

اووئیل : (لقد اصابكِ بعدی شر) تا ته زما نه روستو شر رسیدلے دے۔ (خرابه شوے ئے)۔

ام حبیبہؓ به په حدیث باندے ډیر په سختئ سره عمل کولو او نورو ته به ئے هم ددے تاکید کولو، ابوسفیان ﷺ چه کله وفات شو نو دے په اننګو باندے خوشبوئی اُولګوله او وے وئیل : د رسول الله ﷺ حکم دے چه د درے ورځو نه زیات غم به په مړو باندے نشی کولے مګر صرف په خاوند باندے څلور میاشتے او لس ورځے۔ که دا نۀ وے نو زمونږ خوشبوئی ته څه حاجت ؟ !۔ (بخاری)

تشریح : ام حبیبه رضی الله عنها د رسول الله ﷺ نه یو ځل دا واوریدل چه څوك دولس رکعاته هره ورځ نفل مونځ کوی، هغۀ دپاره به جنت کښې کور جوړیږی۔ نو دا فرمائی : (فما بَرِحْتُ اُصَلِّيهِنَّ بَعْدُ) (زۀ دا همیشه کوم) نو ددے اثر دا شو چه د هغے شاګرد او ورور عنبسه وائی : ما دا هیڅکله نۀ دی پریخی، او د عنبسه شاګرد، عمرو بن اَوس وائی ما دا هیڅکله نۀ دی پریخی او د عمرو شاګرد، نعمان بن سالم وائی : نزدے نۀ یم چه دا پریدم۔ یعنی ټولو به په خپله خپله زمانه کښې ضرور دا مونځونه کول۔ (مسند احمد ٦/ ٣٢٧) رقم ٢٦٧٧٥) صحیح علی شرط مسلم قاله شعیب الارناووط) (وانظر سیر الصحابیات ص (٧٧)

فوائد الحدیث : ١- ددے سنتو ډیر فضائل دی یو دا چه انسان ته جنت ملاویږی۔

٢- ددے سنتو همیشه دپاره پریخودلو څۀ حکم دے نو ددے مسئلے تفصیل په اول جلد ددے کتاب کښې اُوګوره (کتاب الایمان – لا ازید علی هذا ولا انقص) لنډه دا چه څوك دا همیشه نۀ کوی نو ددۀ جنت نۀ دے خوښ او قلیل المبالات بالدین دے (په دین کښې بے باکه دے)۔

په سنن رواتبو کښې د غوره والی ترتیب

بیا پدے سنن رواتبو کښې د غوره والی ترتیب څۀ دے ؟ نو پدے کښې راجح دا ده چه اول مؤکد سنت، وتر دی بیا سنة الفجر دی بیا د ظهر دی او باقی بیا برابر دی۔

١- بعض وائی : اول سنة الفجر بیا مغرب بیا سنة الظهر او سنة العشاء دا دواړه په فضیلت کښې برابر دی۔ او دا قول د حنابلوٓ دے۔

٢- شوافعؒ وائی : د وترو نه بعد ډیر افضل سنة الفجر دی بیا باقی سنن بیا تراویح دی۔

٣- احنافو نه دوه روایته دی یو دا چه د سنة الفجر نه بعد ټول برابر دی مګر اصح دا ده چه څلور قبل الظهر آکد دی (البحر)۔ ٢- دویم قول دا دے چه سنة الفجر اتفاقاً آکد دی بیا څلور رکعاته د ماسپښین نه مخکښې او بیا باقی ټول برابر دی۔ (الدر المختار، فتح القدیر)۔

٤- او د مالکیهؒ په نزد صرف سنة د فجر مرغوب دی (یعنی د مستحب نه بره او د

سنتو نه په تاكيد كښې لاندې دي) او باقي ټول تطوعات او نوافل دي.
او دوى وائي چه څۀ د عدد معين تحديد هم پكښې نشته بلكه افضل به پكښې هغه وى چه احاديثو كښې د هغې فضيلت راغلے وى لكه څلور د ماسپښين نه مخكښې او څلور روستو او څلور د مازيګر نه مخكښې او شپږ د ماښام نه بعد.
(الفقه على المذاهب الاربعة ۱/۵۰۵) والمرعاة (۴/۱۲۹).
بيا د (من صلى) نه مراد دا نۀ دے چه څوك يوه ورځ او شپه كښې صرف دا دولس ركعاته اُوكړى نو بس دۀ ته به دا فضيلت حاصل وى بلكه ددے سره هميش والے مراد دے. چه پدے به ئے هميش والى كړے وى. لكه روستو راروان حديث د ترمذيؒ او نسائيؒ كښې د (من ثابر) لفظ دے يعنى څوك چه پدے سنتو هميش والے اُوكړى.

۲– عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ الظُّهْرِ، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ فِي بَيْتِهِ، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعِشَاءِ فِي بَيْتِهِ، قَالَ: وَحَدَّثَتْنِي حَفْصَةُ: اَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ كَانَ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ حِينَ يَطْلُعُ الْفَجْرُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : ابن عمر رضي الله عنه اُوفرمايل : ما د رسول الله ﷺ سره د ماسپښين نه مخكښې دوه ركعاته (سنت) كړى دى، او دوه ركعاته د ماښام نه روستو په خپل كور او دوه ركعاته د ماسخوتن مانځه نه روستو په كور كښې (كړيدى). ابن عمرؓ فرمائى : او ما ته (زما خور) حفصېؓ دا بيان كړى دى چه رسول الله ﷺ به د صبا د راختو په وخت دوه ركعاته مختصر كول. (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : د ماسپښين نه مخكښې د سنتو مقدار

جمهور علماء وائي د ماسپښين نه مخكښې دوه ركعاته سنت دى او دا حديث ئے دليل ګرځولے دے. نو ددے حديث او د مخكنى حديث ظاهره كښې تعارض ښكارى. نو ددے تطبيق كښې مختلف اقوال دى هر چا د خپل مذهب او رائے مطابق تطبيق كړيدے :
۱ – **احناف** وائي : څلور ركعاته سنت دى او دا دوه ركعاته تحية المسجد دى او نبى عليه السلام څلور ركعاته په كور كښې كړيدى او مسجد كښې ئے دا دوه ركعاته اُوكړل نو ابن عمرؓ ګمان اُوكړو چه دا ګنے سنت دى.
ليكن دا جواب غلط دے ۱– يو خو په دے كښې په صحابى بدګمانى ده او د ثقه خلقو ته

قصداً د خطائی نسبت دے۔ ۲- بله دا چه بخاریؒ کښی دی ابن عمرؓ فرمائی: (حفظت من رسول الله ﷺ عشر رکعات) یعنی ما دا خبره (ښه) یاده کړیده۔ او احناف ورته وائی نهٔ (بل اخطأت واسأت الظن) (ته خطاء ئے او ستا گمان غلط دے) دا د صحابه کرامو قدر دے؟ !!۔

۲- **بعض** داسے تطبیق کوی چه نبی ﷺ به په کور کښی څلور رکعاته کول او په مسجد کښی دوه رکعاته تحیة المسجد کول نو عائشےؓ څلور لیدلی دی او ابن عمرؓ دوه او دا قانون دے چه په زیادت به عمل وی۔ لیکن دا هم د مخکښی په شان بے دلیله خبره ده۔

۳- **جمهور** علماء ئے داسے تطبیق کوی چه عائشےؓ چه څلور رکعاته ذکر کړیدی چه دا به نبی ﷺ نهٔ پریخودل نو د هغے نه مراد صلاة الزوال دے نهٔ سنت او سنت دوه دی۔ ددے وجه نه ابن عمرؓ ته هغهٔ معلوم دی لیکن هغه ئے په صلاة الزوال حمل کړیدی نهٔ په سنتو۔ او دا تطبیق ابن القیمؒ په زاد المعاد (۱/ ۸۰،۸۱) کښی راجح کړیدے۔

نو ددے څلورو رکعاتو سبب زوال د نمر او انتصاف النهار دے او دوه رکعاته سنت شو۔

قسطلانیؒ وائی: د وجه د حدیث د ثوبان نه چه مُسند بزار کښی راغلے دے: چه نبی ﷺ به دا مستحب گنړله چه د نصف النهار نه پس مونځ اُوکړی، او دا به ئے فرمایل چه دا یو داسے ساعت دے چه د آسمان دروازے پکښی کولاویږی او الله خلقو ته په رحمت سره گوری انتهیٰ۔ او دا روایت په مسند احمد، ترمذی، طبرانی فی الاوسط کښی هم راغلے دے۔

لیکن دا تطبیق هم راجح نهٔ دے ځکه چه دلته خو عائشےؓ داسے نهٔ دی وئیلی: (لایدع اربعاً بعد الزوال) (چه د زوال نه بعد به ئے څلور رکعاته نهٔ پریخودل) ظاهر دا ده چه دا څلور د ظهر د متعلقاتو نه دی۔ او د زوال مونځ جُدا دے۔

٤- **بعض** وائی: چه کور کښی به ئے څلور کول او مسجد کښی به ئے دوه کول۔ او حافظ ابن قیمؒ دیته اَظهر وئیلی دی۔ زاد المعاد (۱/ ۸۰)۔

٥- پدے کښی **راجح** او ظاهر دا ده چه (تارة یصلی اربعاً وتارة یصلی رکعتین) کله به ئے څلور کول او کله به ئے دوه۔ او عائشےؓ په څلورو لیدلے او ابن عمرؓ په دوه رکعاتو۔ او پدے کښی د اُمت دپاره سهولت دے چه کله ضرورت وی، بدن کښی سُستی یا مرض وی نو دوه اُوکړه او که عام حالت وی نو ډیر عبادت پکار دے۔

ابن جریر الطبریؒ فرمائی: (الاربع کانت فی کثیر من احواله والرکعتان فی قلیلها) څلور به ئے ډیر کول او دوه کله نا کله۔ او همدا خبره ظاهره ده ځکه په څلورو رکعاتو کښی احادیث ډیر زیات راغلی دی چه صاحب المرعاة (٤/ ۱۳۱) راجمع کړیدی۔

وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا: د ماسپښین نه روستو څلور هم شته لیکن دوه په هغے کښی نفل دی او

فضیلت ئے دا راغلے دے چه څوك دا څلور رکعاته اُوکړی نو الله به ئے د اُور نه خلاص کړی۔ (فصل ثانی کښ راځی)

وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ : او دا دوه رکعاته د اذکارونه پس نزدے کول پکار دی، لکه روستو حدیث راروان دے (انهما ترفعان مع الفریضة) دا د فرضو سره پورته کولے شی) او کور کښ کول بهتر دی او لنډ کول پکار دی چه په اول رکعت کښ (قل یا ایها الکافرون) او دویم رکعت کښ (قل هو الله احد) اووئیلے شی او همدا سنت عمل دے۔

فِي بَيْتِهِ : یعنی دا دوه رکعاته په کور کښ بهتر دی اگرکه کله نا کله په مسجد کښ کول هم جواز لری۔ کما سیأتی۔

۳- وَعَنْهُ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ لَايُصَلِّي بَعْدَ الْجُمُعَةِ حَتّٰى يَنْصَرِفَ فَيُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ فِي بَيْتِهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او ابن عمر ﷺ فرمائی: نبی ﷺ به د جُمعے مانځه نه روستو مونځ نهٔ کولو تردے چه واپس به شو او په کور کښ به ئے دوه رکعاته اُوکړل۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

بَعْدَ الْجُمُعَةِ : لفظ نه معلومه شوه چه قبل الجمعه سنت موکد نشته۔

مسئلة :

آیا د جُمعے مانځه نه مخکښ څلور یا دوه رکعاته سنت مؤکد راتب شته ؟

۱- احناف وائی : قبل الجمعه څلور رکعاته شته۔ استدلال کوی په حدیث د ابن مسعودؓ باندے مرفوعاً : (انه کان یصلی اربعاً قبل الجمعة) (طبرانی فی الاوسط : ۴۱۱۶) نصب الرایة ۲/۲۰۶) والضعیفة (۱۰۱۶/۳) دا روایت مرفوعاً ضعیف دے۔:

۱- انقطاع ده د ابوعبیده او ابن مسعود ترمینځ۔ ۲- خصیف راوی ضعیف دے۔ ۳- عتاب بن بشیر مختلف فیه دے۔ ۴- عتاب بن بشیر په رفع کښ خطاء شویدے۔ او موقوفاً صحیح دے لکه څنګه چه محمد بن فضیل نقل کړیدے۔(یعنی ابن مسعودؓ به دا څلور رکعاته کول)۔ او بل دا قیاس کوی په ظهر مانځه باندے چه د هغے نه مخکښ خو څلور شته نو دلته به هم وی۔ او د دوی سره نور احادیث تول ضعیف او باطل دی چه قابل د استدلال نه دی۔ فتاوی الدین الخالص (۳۱۵/۵) او زمونږ رساله « د جُمعے مانځه نه مخکښ د سنتو حیثیت» کښ ئے اُوګوره۔

جواب : په عباداتو کښ خو قیاسونه نهٔ چلیږی ځکه مَبنٰی د عباداتو په نقل دے۔ نهٔ په

قیاس او د جُمعے اَحکام د ماسپښین د مانځه نه جُدا جُدا دی نو قیاس پکښې نۀ چلیږی. او هر چه اثر د ابن مسعودؓ دے، نو دا دلالت نۀ کوی پدے خبره چه بس همدا څلور سنت موکد دی د ماسپښین د سنتو په شان ځکه چه په مرفوع احادیثو کښې ددے سنتو هیڅ تذکره نشته او د صحابی په عمل باندے سنت والے نۀ ثابتیږی او دا حدیث موقوف بمنزلة المرفوع هم نۀ گرځی ځکه چه ابن مسعودؓ عمل کړیدے په عموم ددے قول د نبی ﷺ چه (فصلی ما قدر له) یعنی څوك چه جُمعے مانځه ته راشی او هر څومره مونځ چه ورله مقرر وی نو هغه اُوکړی (نو دۀ ته به د یو بے هفتے گناهونه معاف شی) نو دلته ابن مسعودؓ ځان دپاره څلور مقرر کړل او خپلو ملگروته ئے هم په دے حکم اُوکړو چه دا څلور کوئ.
(عبد الرزاق : ۵۵۲۵) والترمذی (۱۱۲/۱) آثار السنن (۱۰۲/۱)

او ابن مسعودؓ چرته هم دا نۀ دی وئیلی چه دا رسول الله ﷺ کړیدی یا ئے دا فرمائیلی دی. بلکه خپل ځان له ئے دا عمل مقرر کړے وو. دارنگه عبد الله بن عمرؓ به دولس رکعاته کول او څلور، ابن عباس به اته او لس رکعاته کول، او جابرؓ به دوه رکعاته د جُمعے د مانځه نه مخکښې کول. نو که د ابن مسعودؓ په عمل سنت ثابتیږی نو پکار ده چه ددے صحابه کرامؓو په عمل هم سنت والے ثابت شی نو بیا پکار ده چه لس او اتو او کمو زیاتو ته هم سنت موکد اُووئیلے شی؟ «باء ك تجر وبائی لا تجر».

۲- **ائمه ثلاثه** ؒ (د جمهورو) مذهب دا دے چه د جُمعے د مانځه نه مخکښې سنت مؤکد نشته او نفس مونځ شته چه هرڅومره وی. او هغه په درجه د نوافلو کښې دے. لکه دا خبره شیخ الاسلام په مجموعة الفتاوی (۱۸۸/۲٤-۱۸۹) او ابن القیمؒ په زاد المعاد (۱٤۷/۱-۱٤۹) کښې مُحققه کړیده بلکه کوم علماء چه رد د بدعاتو کوی نو هغوی دا په خپلو کتابونو کښې د بدعاتو نه شمارلی دی. لکه ابوشامةؒ یو مسجد ته لاړو او خلقو دا سنت کول نو هغه ددے په تردید کښې کتاب اُولیکلو (الباعث علی انکار البدع والحوادث) دارنگه عبد السلام الخضرئ دیته په (السنن والمبتدعات ص (۸۰) کښې بدعت وئیلے دی.

اُوس مختصر دلائل واوره :

۱- **اول دلیل** : په هیڅ صحیح حدیث کښې دا خبره چرته نشته چه نبی ﷺ پدے کیفیتِ مُرَوَّجه سره سنت کړی وی او نۀ دا د خلفاءِ راشدینؓو نه او نۀ د نورو صحابه کرامؓو نه ثابت دی. نو هرکله چه ددے عظماؤ نه ثابت نه شو نو بس دا بدعت شو.

۲- **دلیل** : نبی ﷺ د جُمعے مانځه ته راتلونکی ته ترغیب ورکړے دے په مطلق مونځ کولو چه هرڅومره ورله الله مقرر کړی وی (فصلی ما قدر له) او عدد ئے پکښې نۀ دے ذکر

كړي نو كه چرته دا سنت ثابت وي نو ضرور به ئې فرمايلي وي۔ لهٰذا د الله او رسول نه مخكښې كيدل نهٔ دي پكار۔ (بخاري ۱۲۱/۱) مسلم (۲۸۳/۱) امام نوويؒ ددې حديث لاندې ليكي: پدې حديث كښې دا مسئله ده چه د نوافل مطلقه ؤ دپاره هيڅ حد نشته)

۳- نبي ﷺ به د اذان نه روستو سمدستي خطبه شروع كوله او د خطبې نه بعد به د منبر نه راكوز شو بيا به بلال اقامت شروع كړو او خلقو ته به ئې مونځ اُوكړو۔ نو كوم وخت كښې ئې سنت اُوكړل۔ (مجموع الفتاوى (۱۸۸/۲٤) زاد المعاد (۱٤٧/۱) او حافظ ابن قيمؒ فرمائي: څوك چه دا وائي چه بلال به كله د اذان نه فارغ شو نو صحابه كرامؓ به دوه ركعاتو ته پاسيدل نو دا اجهل الناس بالسنة (د سنتو نه لوئي جاهل) دې۔

٤- **دليل**: د مسلمانانو اكثرو امامانو پدې باندې قول نهٔ دې كړې او نهٔ عام محدثينو دا په اهتمام ذكر كړي دي لكه مالك، شافعي، احمد، اسحاق، ابن تيميه، ابن قيم او عام اهل الحديث والسنة (رحمهم الله) ديته سنت نهٔ وائي نو كه دا سنت موجود وې نو دې علماؤ خو به ذكر كړې وې۔ امام بخاريؒ باب تړي «باب سنة الجمعة القبلية والبعدية» او بيا ئې حديث د ابن عمرؓ راوړيدې، اشاره كوي چه مخكښې سنت پكښې نشته۔ او د قائلين د سنيت ددې سنتو سره څه ثبوت هم نشته۔ لكه حافظ ابن حجرؒ فتح الباري (۳٤١/۲) كښې فرمائي: د جُمعې نه مخكښې د سنتو په باره كښې نور احاديث راغلي دي ليكن هغهٔ ضعيف دي او هر چه مطلق مونځ دې نو هغه په صحيح احاديثو ثابت دې۔ ملخصاً۔ (تحفة الاحوذى ۳۷۰/۱-۳۷۱) او په تلخيص الحبير (۷٤/۲) كښې فرمائي: اصح ما ورد پدې باب كښې حديث د ابن عباسؓ دې او هغه تا اُوپيژندو چه باطل دې۔ انتهٰى۔

٥- دا مزعوم سنت علماؤ په بدعاتو كښې ذكر كړيدي لكه ابوشامه په الباعث (۹) كښې او عبد السلام په السنن والمبتدعات (۸۰) كښې او شيخ الاسلام په مجموعة الفتاوى (۱۸۸/۲٤-۱۸۹) كښې ذكر كړيدي۔

٦- عام ائمه كرامو او محدثينو په خپلو كتابونو كښې نهٔ دي ذكر كړي لكه كتب سته او مسند احمد، سنن كبرىٰ د بيهقي، معرفة السنن والآثار د بيهقي، مصنف عبد الرزاق، ابن ابي شيبه وكنز العمال او شرح السنة وغيره كتابونو كښې دا چرته نهٔ ملاويږي۔

۷- احناف د سنت مؤكده تعريف داسې كوي: (السنة ما واظب عليها النبي ﷺ وخلفاء ه الراشدون من بعده (تنظيم الاشتات ٤۰۳/۱) وغيره۔ (چه نبي ﷺ او خلفاء راشدينو په هغې هميش والې كړې وي) نو نبي ﷺ او خلفاء راشدينو پدې سنتو كوم ځائې هميش والې كړيدې؟ حال دا چه د هغوى نه په صحيح سند بالكل ثبوت نشته۔ باقي تفصيل دپاره

فتاوى الدين الخالص (٥/ ٣٠٩–٣١٨) ته رجوع أوكړه.

المسئلة الثانية : روستنی سنت د جمعې په دې حديث كښې دوه راغلل چه په كور كښې به ئې كول او روستو حديث د ابو هريرةؓ كښې څلورو باندې نبی ﷺ حكم كړيدې. نو ددې وجه نه ددې په تطبيق كښې علماء مختلف دی.

١- **راجح** دا ده چه دوه جائز دی او څلور بهتر دی. يو خو د څلورو په باره كښې حديث قولي دې او بل پدې كښې كثرت د عبادت دې. امام نوویؒ هم فرمائی : پدې احاديثو كښې استحباب دې د روستنو سنت د جمعې او تيزی ده پدې باندې او اقله درجه دوه ركعاته دی او اكمله درجه څلور دی. شرح مسلم (١/ ٢٨٨)

٢- اسحاق بن راهويهؒ، شيخ الاسلام ابن تيميهؒ او حافظ ابن القيمؒ فرمائی : كه مسجد كښې ئې كوی نو څلور به كوی او كه كور كښې كوی نو دوه به كوی.

(الترمذی ١/ ١١٨) وزاد المعاد (١/ ٤١٩)

نو دوی جَمع د حديثونو پدې طريقه كړيده چه د څلورو ركعاتو حديث مطلق دې د كور قيد پكښې نشته او حديث د ركعتينو مقيد دې په كور كښې كولو باندې. نو دوه ركعاته به حمل شی په كور كښې كولو باندې او څلور به حمل شی په مسجد باندې. ليكن دا جَمع ضعيفه ده. وجه دا ده چه حديث د ابو هريرةؓ مطلق دې د مسجد قيد ورسره نشته نو په مسجد پورې خاص كول دليل غواړی. ځكه الفاظ داسې دی : (من كان منكم مصلياً بعد الجمعة فليصل اربعاً) دويم دا چه ابن عمرؓ ددې حديث الركعتين راوی دې او هغۀ به په مسجد كښې دوه ركعاته كول بيا به ئې ترې روستو څلور ركعاته كول. (سنن الترمذی (١/ ١١٨)

٣- **دريم تطبيق** : امام شوكانیؒ فرمائی : دوه ركعاته د نبی ﷺ خصوصيت دې او څلورو باندې ئې اُمت ته حكم كړيدې. لهذا اُمت به څلور كوی مسجد وی كه كور. او نبی ﷺ به خپله كور كښې دوه ركعاته كول.

٤- امام نسائیؒ په ترجمة الباب كښې اشاره كوی چه دوه ركعاته خاص دی د امام پورې او څلور ركعاته د هغۀ چا دپاره دی چه مسجد كښې مونځ كوی.

٥- احناف پكښې لا دا وائی چه څلور ركعاته سنت دی او دوه ركعاته هميشه ندی شوی.

ظاهر د حديثو دا دې چه څلور ركعاته په مسجد او كور كښې پكار دی مگر كه كور ته لاړ شی نو دوه هم جائز دی.

او په **عدد ددې سنتو كښې اختلاف** دې. ١- د حنابلو په نزد اقل دوه ركعاته دی او اكثر شپږ ركعاته دی. ابن قدامهؒ په «المغنی» كښې د امام احمدؒ نه نقل كړيدی چه هغه

فرمائی: که خوښه ئې شي نو د جُمعې نه روستو دې دوه رکعاته اُوکړي او که خوښه ئې وي نو څلور دې اُوکړي او په بل روایت کښې شپږ راغلي دي۔ (المغني ٢/٢١٩)
٢- شوافعؒ وائي: مؤکد پکښې دوه رکعاته دي او مستحب څلور رکعاته دي۔
٣- مالکیهؒ وائي: دوه رکعاته دي او په کور کښې دي او په مسجد کښې ئې د امام او مقتدیانو دپاره مستحب نهٔ ګنړي اګرکه جائز دي۔ المدونة الکبریٰ (١/٣٣٦و٣٩٩)
٤- احناف وائي: څلور رکعاته سنت دي او دلیل کښې حدیث د ابو هریرهؓ پیش کوي۔
٥- شپږ رکعاته دي او دا قول امام احمدؒ او ابویوسفؒ غوره کړیدې او د علي بن ابي طالبؓ او عبد الله بن عمرؓ نه نقل دې۔ چه ابن عمرؓ به روستو دوه رکعاته اُوکړل بیا به ئې څلور کول (ابو داود ١/١٦٢) روستو به هم راشي)۔ اګرکه امام ابویوسفؒ وائي: بهتره دا ده چه اول څلور اُوکړي بیا دوه اُوکړي۔ دې دپاره چه نفل د فرضو سره مشابه نه شي۔
مګر صحیح خبره دا ده چه شپږ رکعاته په صحیح صریح حدیث سره د نبي ﷺ نه نهٔ قولًا ثابت دي او نهٔ فعلًا او نهٔ تقریراً بلکه دا د ابن عمرؓ عمل دې۔ او کوم حدیث کښې چه وائي چه دا به نبي ﷺ کول نو هغې نه مراد روستنې عمل یادوي چه هغه کور کښې دوه رکعاته کول دي۔ لکه روستو به حدیث کښې تشریح راشي۔ (تحفة الاحوذي ٢/٦٢)
دې اختلاف ته فکر اُوکړه پدې کښې رد دې په تقلید باندې چه ددې امامانو اقوال محتاج دي احادیثو ته۔ نو کله به د یو امام خبره د حق موافق وي او کله د بل۔

٤- وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ شَقِيقٍ، قَالَ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ عَنْ صَلَاةِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ عَنْ تَطَوُّعِهِ، فَقَالَتْ: كَانَ يُصَلِّيْ فِيْ بَيْتِيْ قَبْلَ الظُّهْرِ اَرْبَعًا، ثُمَّ يَخْرُجُ فَيُصَلِّيْ بِالنَّاسِ، ثُمَّ يَدْخُلُ فَيُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ، وَكَانَ يُصَلِّيْ بِالنَّاسِ الْمَغْرِبَ، ثُمَّ يَدْخُلُ فَيُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ يُصَلِّيْ بِالنَّاسِ الْعِشَاءَ، وَيَدْخُلُ بَيْتِيْ فَيُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ، وَكَانَ يُصَلِّيْ مِنَ اللَّيْلِ تِسْعَ رَكْعَاتٍ فِيْهِنَّ الْوِتْرُ، وَكَانَ يُصَلِّيْ لَيْلًا طَوِيْلًا قَائِمًا، وَلَيْلًا طَوِيْلًا قَاعِدًا، وَكَانَ اِذَا قَرَأَ وَهُوَ قَائِمٌ رَكَعَ وَسَجَدَ وَهُوَ قَائِمٌ، وَكَانَ اِذَا قَرَأَ قَاعِدًا رَكَعَ وَسَجَدَ وَهُوَ قَاعِدٌ، وَكَانَ اِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ. وَزَادَ اَبُوْدَاوُدَ: ثُمَّ يَخْرُجُ فَيُصَلِّيْ بِالنَّاسِ صَلَاةَ الْفَجْرِ.

ترجمه: او عبد الله بن شقیق رحمه الله فرمائي: ما د عائشې رضی الله عنها نه د رسول الله ﷺ د نفل مانځه متعلق تپوس اُوکړو، نو هغې اُوفرمایل: رسول الله ﷺ به زما په

کوته کښې د ماسپښین نه مخکښې څلور رکعاته کول، بیا به وتلو او خلقو ته به ئې مونځ کولو بیا به راداخل شو نو دوه رکعاته به ئې اُوکړل، او هغهٔ به خلقو ته د ماښام مونځ کولو بیا به راداخل شو نو دوه رکعاته به ئې اُوکړل، بیا به ئې خلقو ته د ماسخوتن مونځ کولو او زما کوټې ته به راداخل شو نو دوه رکعاته به ئې کول، او هغهٔ د شپې نه (د تهجد) نهه رکعاته مونځ کولو چه په هغې کښې به وتر (هم) وو، او نبی ﷺ به د شپې اُوږد مونځ کولو کله په ولاړه او اُوږده شپه په ناسته او کله چه به هغهٔ قرائت په ولاړه کولو نو رکوع او سجده به ئې (هم) په ولاړه کوله او کله چه به ئې قرائت په ناسته کولو نو رکوع او سجده به ئې (هم) په ناسته کوله او کله چه به صبا راوختلو نو دوه رکعاته (سنت) به ئې اُوکړل۔ (مسلمؒ) او ابوداود دا الفاظ زیات نقل کړی دی: بیا به مانځه ته وتلو او خلقو ته به ئې د سحر مونځ کولو۔

تشریح: وَكَانَ اِذَا قَرَأَ: دا کان د دوام دپاره نهٔ دے بعض عام احوالو کښې مراد دے۔

فائده: د نفلو د اداء کولو کیفیات په احادیثو کښې څلور راغلی دی:

۱- یو دا چه ټول په ولاړه اداء کړی ۲- دویم دا چه ټول په ناسته اُوکړی نیمائی اجر پکښې دے۔ او دا دواړه په دے حدیث کښې ذکر دی۔۳- اول نه ئې په ناسته شروع کړل بیا به اُودریدو، بعض قراء ت به ئې په ولاړه اُوکړو (دیرش یا څلویښت آیاتونه) بیا ئې د ولاړے نه رکوع او سجده اُوکړه۔ (حدیث عائشة متفق علیه) السنن الکبری (۲/۴۸۹)

۴- څلورم د دریم صورت مُخالف دے چه اول نه ولاړ وی بیا مینځ کښې کینی او بعض قرائت په ناسته اُوکړی او په ناسته رکوع او سجده اُوکړی۔ لیکن دا صورت احادیثو کښې نهٔ دے روایت شوے۔ خو جُمهور علماء ددے په جواز باندے قائل دی۔ بلکه عام اَحادیثو کښې داسے نقل دی: (اول نه ناست وی صرف رکوع او سجدے ته پاڅیږی)

په څلورم صورت کښې اول مونځ قوی شو او آخر کمزورے شو۔دا د جمهورو علماؤ په نزد جائز دی۔ او بعض سلفو ترے منع کړیده لیکن هغه خطاء شویدی۔(نوویؒ، شوکانیؒ) ابویوسفؒ او محمدؒ او بعض مالکیهٔ وائی: که اول نه ولاړ وی نو کیناستل ورله مکروه دی، ځکه اول قوی او آخر ئې ضعیف شو۔ مګر دا عقلی وجوهات دی څهٔ دلیل پرے نشته۔ ظاهر داده چه نفلو کښې اجازت دے۔ مګر په منقوله طریقه باندے عمل کول ضرور افضل او اولیٰ دی۔ راجع المرعاة (۴/۱۳۶)، والنیل (۳/۱۰۱) باب جواز التنفل جالساً

۵- وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: لَمْ يَكُنِ النَّبِيُّ ﷺ عَلَى شَيْءٍ مِنَ النَّوَافِلِ اَشَدَّ

تَعَاهُدًا مِنْهُ عَلٰى رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی : نبی ﷺ په هیڅ شی د نوافلو سخت لحاظ (او محافظت او مداومت) کونکے نهٔ وو خومره چه چه به ئے د سحر په دوه رکعاتو (مداومت او محافظت) کولو۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشريح : اَشَدَّ تَعَاهُدًا: يعنى ددے دوه رکعاتو ډير لحاظ کونکے وو۔ تردے چه په مسند د ابوداود طيالسی کښ دی چه په سفر او حضر کښ به ئے نهٔ پريخودل ۔او که پاتے به شو نو قضاء به ئے راوړله۔حسن بصریؒ وائی : دا واجب دی او مرغينانیؒ وئيلی دی : چه دا يو روايت د امام ابوحنيفهؒ هم دے۔

راجح قول د جمهورو دے چه دا سنت دی ځکه دلته ئے نوافلو سره ددے نه تعبير کړيدے۔ دارنګه په حديث د مثابرة کښ ئے دا د نورو سنتو سره يو ځائے ذکر کړيدی۔

ليکن بعض نوافل ډير مؤکد وی او بعض دومره مؤکد نهٔ وی۔ ددے تاکيد ډير دے ليکن د جماعت اُودريدو وخت کښ به ئے نهٔ کوی۔ لکه دا خبره مخکښ ذکر شويده۔

٦- وَعَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«رَكْعَتَا الْفَجْرِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی: رسول الله ﷺ فرمائيلی دی : د سحر دوه رکعاته د دنيا او مافيها نه غوره دی۔ (مسلمؒ)۔

تشريح : د سحر په سنتو کښ دومره کمال دے نو په فرضو کښ به خومره کمال وی۔

مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا معنیٰ دا ده چه تا ته دنيا او مافيها ملاؤ شوه او د سحر سنت دِ اُونهٔ کړل نو تا دومره خير راجمع نهٔ کړو او که دنيا درنه فوت شوه خو د سحر سنت دِے اُوکړل نو ډير خير دِے جمع کړو۔ شاه ولی الله فرمائی : دا دوه رکعاته د دنيا او مافيها نه ځکه غوره دی چه دنيا فانی ده او ددے نعمتونه د کدورت او ستړی والی نه خالی نهٔ وی او ددے دوه رکعاتو ثواب باقی دے هيڅ کدورت به پکښ نهٔ وی۔ (حجة الله)۔

٢- دويمه راجحه معنیٰ دا ده چه د سحر سنت چا اُوکړل نو دا د هغهٔ دنيا او ما فيها نه غوره دی چه د الله په لار کښ خرچ شی (ای خير من الدنيا وما فيها ان تنفقها فی سبيل الله) لکه دا معنیٰ په بل روايت د مشکاة (جلد ثانی) کښ راغلے ده ليکن هغهٔ د جهاد په باره کښ ده۔ دا معنیٰ ځکه راجح ده چه هسے خو توله دنيا الله ته غوره نهٔ ده، او يو سبحان الله د

دنیا او مافیها نه غوره ده۔

٧- وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُغَفَّلٍ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ ﷺ :«صَلُّوا قَبْلَ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ رَكْعَتَيْنِ، صَلُّوا قَبْلَ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ رَكْعَتَيْنِ»، قَالَ فِي الثَّالِثَةِ :«لِمَنْ شَآءَ» كَرَاهِيَةَ اَنْ يَّتَّخِذَهَا النَّاسُ سُنَّةً». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او عبد الله بن مغفل ﷺ فرمائي : نبی ﷺ فرمائیلی دی : « د ماښام مانځه نه مخکښ دوه رکعاته اُوکرئ، د ماښام مانځه نه مخکښ دوه رکعاته اُوکرئ، په دریم ځل ئے اُوفرمایل : د چا چه خوښه وی»۔ (راوی فرمائی دا اختیار ئے ځکه ورکړو) د وجه د بد ګنړلو ددے نه چه خلق ددے دوه رکعاتو نه لازمه طریقه جوړه نهٔ کړی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : حدیث نه معلومه شوه چه د غروب الشمس نه پس او د مانځه د ماښام نه مخکښ دا دوه رکعاته مستحب دی او سنت مؤکد او راتب نهٔ دی۔

٢- پدے به داسے التزام نشی کیدے چه خلق ترے سنت راتبه جوړ کړی او ددے په پریخودلو خلق ګناهګار ګنړی لکه حدیث کښ دا علت راغلے دے۔ (توضیح الاحکام ١٨٣/٢)۔

٣- دا دوه رکعاته ماښام مونځ د اول وخت نه نهٔ روستو کوی۔ د امام نوویؒ قول دے : څوك چه دا وائی : ددے سنتو په کولو سره د اول وخت نه د مغرب تاخیر راځی نو دا یو فاسد خیال دے چه مقابل د سنت دے، بلکه دا په معمولی وخت کښ کیږی چه مونځ پرے د اول وخت نه نه اُوځی۔شرح مسلم (تحفة ٤٦٧/١)

٤- دا دوه رکعاته د سنت په درے واړو اقسامو ثابت دی نبی ﷺ پرے امر هم کړیدے او خپله ئے هم کړیدی او صحابه کرامؓ ئے ددے په کولو لیدلی دی او نهٔ ئے دی منع کړی۔ بلکه په اُووه دیرش (٣٧) روایاتو دا مسئله مونږ مخکښ ډیر تفصیل سره په (٣٥٤/٣) کښ تحقیق کړیده هغه ضرور اُوګوره۔

٥- حدیث نه قاعده اصولی معلومه شوه چه امر د وجوب دپاره وی مګر کله چه قرینه صارفه د وجوب موجوده شي نو بیا به د استحباب وغیره دپاره وی۔ ځکه کله ئے چه دا اُووئیل (صلوا قبل المغرب) نو ددے کول به واجب وی لیکن روستو ئے چه (لمن شاء) اُووئیل پدے کښ ئے ثابته کړه چه دا امر اختیاری او استحبابی دے او فرض او واجب نهٔ دے۔ او د (سنة) نه مراد طریقه لازمه ده۔نهٔ د فقهاؤ اصطلاحی سنت۔

٨- وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «مَنْ كَانَ مِنْكُمْ مُصَلِّيًا بَعْدَ الْجُمُعَةِ

فَلْيُصَلِّ اَرْبَعًا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ. وَفِيْ اُخْرٰى لَهٗ، قَالَ: «اِذَا صَلّٰى اَحَدُكُمُ الْجُمُعَةَ فَلْيُصَلِّ بَعْدَهَا اَرْبَعًا».

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ اُوفرمايل : «څوك چه تاسو نه د جُمعے د مانځه نه روستو مونځ كوي نو څلور ركعاته دِے اُوكړي» (مسلمؒ) او په بل روايت د مسلمؒ كښې دي : وِے فرمايل: «كله چه يو تن په تاسو كښې د جُمعے مونځ اُوكړي نو د هغے نه روستو دِے څلور ركعاته اُوكړي»۔

تشريح : دا امر د وجوب دپاره وو ليكن مخكښې د حديث د ابن عمرؓ نه جواز د دوه ركعاتو هم معلوميږي لهذا دا امر د وجوب دپاره نهٔ شو بلكه د استحباب دپاره شو نو څلور ركعاته پس د جُمعے نه مستحب او دوه جائز۔ امام نوويؒ فرمائي : كله ئے چه اُوفرمايل : « فليصل اربعاً » نو پدے كښې ئے تيزي وركړه په كولو ددے دوه ركعاتو ليكن كله ئے چه « من كان منكم مصلياً » اُووئيل نو تنبيه ئے وركړه چه دا سنت دي او واجب نهٔ دي۔ او د حديث باقي تشريح مخكښې ذكر شوه۔

الفصل الثاني

٩- عَنْ اُمِّ حَبِيْبَةَ، قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ: «مَنْ حَافَظَ عَلٰى اَرْبَعِ رَكْعَاتٍ قَبْلَ الظُّهْرِ وَاَرْبَعٍ بَعْدَهَا، حَرَّمَهُ اللّٰهُ عَلَى النَّارِ». رَوَاهُ اَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَاَبُوْدَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : ام حبيبه رضى الله عنها فرمائي : ما د رسول الله ﷺ نه دا ارشاد اَوريدلے دے : «چا چه د ماسپښين نه مخكښې په څلور ركعاتو محافظت اُوكړو او په څلور ركعاتو روستو د ماسپخين نه نو الله تعالىٰ به ئے په اُور باندے حرام (بند) كړي»۔ (احمدؒ، ترمذيؒ، ابوداودؒ، نسائيؒ، ابن ماجهؒ)۔

تشريح : مَنْ حَافَظَ : دا يا دعاء ده يا اخبار دے؟ بعض علماء وائي دا جمله خبريه ده او بعض وائي : جمله دعائيه ده يعني نبي ﷺ فرمائي : څوك چه پدے څلور ركعاتو پابندي اُوكړي نو الله دِے ئے په اُور باندے حرام كړي۔ بهرحال كه خبر وي نو د پيغمبر اخبار هم صادق دے، همدغه شان به كيږي او كه دعاء وي نو د هغهٔ دعاء هم عند الله مقبول ده۔

لهذا كه چا ته الله توفيق وركړو او د ماسپښين نه مخكښې او روستو ئے څلور څلور ركعاته پابندئ سره اُوكړل نو دهٔ ډير خير راجمع كړو او كه چا دوه دوه ركعاته مخكښې او روستو اُوكړل نو دهٔ راتګ اُوكړو په ادنىٰ درجه د سنتو باندے۔

حَرَّمَهُ اللهُ عَلَى النَّارِ: یعني پدے اته رکعاته مونځ انسان بالکل د اُور نه خلاصیږي خو که موانع نهٔ وو موجود یعني نور ګناهونه شرك وغیره ورسره نهٔ وو۔ او مؤبداً وغیره قیدونو لګولو ته ضرورت نشته ځکه تابید خو د توحید په وجه هم منفي دے۔ بلکه مطلب دا دے چه پدے عمل کښې دومره طاقت دے، چه انسان د اُور نه ساتي۔

بیا دا څلور رکعاته مخکښې خو سنت دي او هرچه روستني څلور رکعاته دي نو دا دوه سنت دي او دوه نفل دي۔ بیا مخکښې خو به په یو سلام کولے شي خو آیا روستني به په یو سلام کولے شي او که په دوه سلامونو؟ نو ظاهر دا ده چه دا به په جُدا جُدا سلامونو کولے شي ځکه حدیث کښې دي: (د ورځے مونځ دوه دوه رکعاته وي) (اخرجه ابوداود، وابن حبان في صحيحه) مګر کوم چه احادیثو کښې په یو سلام راغلي وي نو هغهٔ به په یو سلام کولے شي۔ (المرعاة ١٤٤/٤)

لکه دے روستو حدیث کښې د ماسپښین مخکښې سنت په یو سلام راغلي دي۔

درجة الحديث: اسناده صحیح: اخرجه احمد (٣٢٦/٦) وابوداود (١٢٦٩) والترمذی (٤٢٧) والنسائی (٢٦٥/٢) وابن ماجه (١١٦٠) والحاکم (٣١٢/١)

---

١٠ - وَعَنْ اَبِیْ اَیُّوْبَ الْاَنْصَارِیِّ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اَرْبَعٌ قَبْلَ الظُّهْرِ لَيْسَ فِيْهِنَّ تَسْلِيْمٌ تُفْتَحُ لَهُنَّ اَبْوَابُ السَّمَاءِ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه: او ابوایوب انصاري رضی الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ فرمائیلي دي: «د ماسپښین نه مخکښې څلور رکعاته چه په هغے کښې سلام نهٔ وي دے ته د آسمان دروازے کولاویږي»۔ (ابوداوٗد، ابن ماجهٗ)

تشریح: د ماسپښین نه مخکښې څلور رکعاته په یو سلام باندے کول په درے احادیثو سره ثابت دي یو دا حدیث دے۔ او دا حسن یا صحیح حدیث دے۔ دویم عبد الله بن مسعودؓ فرمائي: (اربع قبل الظهر لا یسلم بینهن الا ان یتشهد (ابن ابی شیبة ١٩٩/٢) (د ماسپښین نه مخکښې څلور رکعاته دي چه مینځ کښې به سلام نهٔ اړوي مګر تشهد به پکښې وائي)۔

٣-دریم عائشهؓ فرمائي: (ان النبی ﷺ کان لا یدع اربعاً قبل الظهر ورکعتین قبل صلاة الغداة) (بخاری ١٥٧/١) (نبي ﷺ به د ماسپښین نه مخکښې څلور او د سحر مانځه نه مخکښې دوه رکعاته نهٔ پریخودل) نو دا هم دلیل دے چه دا متصل وو ځکه د فصل خبره پکښې نشته۔ نو کوم علماء چه دا وائي چه دوه دوه رکعاته افضل دي۔ نو د هغوی سره

صریح دلیل نشته سوئ ددے نه چه وائی : صلاة اللیل والنهار مثنیٰ مثنیٰ حدیث دے (نسائی ۲٤٦/۱ صححه الالبانی)

الجواب : پدے روایت کښ د نهار لفظ اکثرو ائمه ؤ معلول گرځولے دے۔(فتح الباری) نسائی وائی دا خطاء دے ځکه دا علی بن عبد الله الازدی روایت کړیدے وهو لیس بذاك (او هغه قوی نهٔ دے) او هغه پدے متفرد دے د نورو اصحابو د ابن عمرؓ نه لیکن که صحیح شی او همدا حقه ده لکه شیخ البانیؒ په عامو کتابونو کښ صحیح گرځولے دے۔

(الروض النضیر: ۵۲۲) بسبب الطرق وبعض الشواهد) وصحیح ابی داود (۱۱۷۲)

نو بیا ددے نه دا سنت مستثنیٰ دی یعنی دا د نفلو په باره کښ دے او هرچه سنن رواتب دی نو هغه په یو سلام هم راغلی دی۔ او کوم روایت کښ چه دا دی چه نبی ﷺ به چه کله نمر زائل شو پابه ځیدو او څلور رکعاته به ئے اوکړل (یفصل بینهن بالتسلیم) (مینځ کښ به ئے سلام اړولو) نو هغهٔ ضعیف دے ابو اسحاق السبیعی مدلس راوی پکښ عنعنه کړیده (عبد الرزاق (۶۳/۳) رقم (٤۸۰٦) الترمذی (۳۲٦/۱) بشرح التحفة)۔

او که صحیح شی نو بیا امام ترمذیؒ د هغے صحیح معنیٰ د اسحاق بن ابراهیم نه نقل کړیده چه مینځ کښ به ئے تشهد لوستلو۔ (ترمذی ۹۸/۱) او د سلام نه مراد سلام د تشهد دے۔

پدے کښ **راجح** دا ده چه د ماسپښین نه مخکښ څلور رکعاته په یو سلام افضل دی او په دوه سلامونو سره جائز دی۔ علامه عبد الرحمن المبارکفوریؒ په تحفة الاحوذی کښ فرمائی : ما ذ ماسپښین نه مخکښ څلور رکعاتو کښ د فصل او وصل په باره کښ هیڅ صحیح صریح مرفوع حدیث نهٔ دے موندلے نو که په یو سلام ئے کوی او که په دوه سلامونو دواړه جائز دی۔ (تحفة)۔

مگر مونږ وایو چه په یو سلام سره بهتر دی حسن حدیثو نه پکښ تا اُولیدل د ابو داود او بیهقی وغیره او صلاة اللیل والنهار مثنیٰ مثنیٰ والا روایت صریح نهٔ دے۔ نو د سید سابقؒ دا خبره چه د هر دوه رکعاتو نه پس سلام بهتر دے– بهتره نه ده۔ (فقه السنة ۱۶۷/۱) د هغهٔ د نظر نه دا دلائل نهٔ دی تیر شوی۔ او نور دلائل په فتاوی الدین الخالص (۳۰۳/۵)کښ اُوگوره۔

۲- **دویم مطلب** ددے روایت علماؤ داسے بیان کړیدے چه ددے نه مراد د زوال څلور رکعاته دی او د ماسپښین سنت ترے نهٔ دیٔ مراد ځکه په روایت د ابن ماجه کښ داسے الفاظ دی : (کان یصلی قبل الظهر اربعاً اذا زالت الشمس، لایفصل بینهن بتسلیم، وقال ان ابواب السماء تفتح اذا زالت الشمس) انتهیٰ۔

او د حافظ عراقیؒ او حافظ ابن قیمؒ عبارت مخکښې بیان شو چه هغهٔ فرمائی: دا څلور رکعاته مستقل مونځ دے چه رسول الله ﷺ به د زوال نه روستو کولو او ددے سبب انتصاف النهار او زوال الشمس دے او د هغے راز هم مخکښې بیان شو۔ چه انتصاف النهار مقابل دے د انتصاف اللیل لکه څنګه چه د نصف اللیل نه روستو نزول الهی کیږی نو دغه شان د زوال الشمس نه روستو د آسمان دروازے کولاویږی نو دا دواړه وقتونه د رحمت او قرب الهیٰ دی۔ یو کښې الله راکوزیږی او بل کښې د آسمان دروازے کولاویږی۔ لیکن اول مطلب واضح دے څکه چه په روایت د ترمذی فی الشمائل او طبرانی فی الکبیر والاوسط کښې دی: چه نبی ﷺ به پدے باندے همیش والے کولو او حال دا چه د زوال نه روستو مانځه باندے دوام نهٔ دے نقل۔ والله اعلم۔ راجع المرعاة (١٤٦/٤)

تُفْتَحُ لَهُنَّ: فتح کنایه ده د ښائسته قبلیدو نه۔

درجة الحديث: اسناده حسن: اخرجه ابوداود (١٢٧٠) وابن ماجه (١١٥٧) وفيه عبيدة بن معتب قال الحافظ في التقريب ضعيف واختلط بآخرة وحسنه الالباني في صحيح سنن ابي داود (١١٣١) انظر صحيح الجامع رقم (٨٨٥) واخطأ في ضعيف ابن ماجه فضعفه قال الذهبي في الميزان (٢٥/٣) قال شعبة: اخبر عبيدة قبل ان يتغير وهنا حدث عنه شعبة فتدبرا وله في البخاري حديث واحد ذكره تعليقاً في الاضاحي۔ وقد رواه البيهقي (٤٨٩/٢) من وجه آخر وفيه شريك ولكن تابعه سفيان وفي الطريق الثالث بكير وهو ممن ليس به بأس فالحديث حسن او صحيح۔

---

١١ - عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ السَّائِبِ، قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُصَلِّيْ اَرْبَعًا بَعْدَ اَنْ تَزُوْلَ الشَّمْسُ قَبْلَ الظُّهْرِ، وَقَالَ: اِنَّهَا سَاعَةٌ تُفْتَحُ فِيْهَا اَبْوَابُ السَّمَاءِ، فَاُحِبُّ اَنْ يَّصْعَدَ لِيْ فِيْهَا عَمَلٌ صَالِحٌ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: عبد الله بن سائب ؓ فرمائی: رسول الله ﷺ به د ماسپخین نه مخکښې او د زوال نه روستو څلور رکعاته کول او دا به ئے فرمايل: «دا یو داسے وخت دے چه پدے کښې د آسمان دروازے کولاویږی، نو زما خوښه ده چه زما دپاره پدے کښې نیک عمل اُوخیژی»۔ (ترمذیؒ)

تشریح: ددے نه مراد یا څلور رکعاته د زوال دی چه د نبی ﷺ دا خواهش وو چه پدے وخت کښې الله ته ددهٔ عمل پورته شی څکه چه د آسمان دروازے کولاوے وی۔ لکه حافظ عراقی او حافظ ابن قیمؒ فرمائی: دا مستقل سنت دی چه نبی ﷺ به د زوال نه روستو کول او سبب ئے نصف النهار او زوال الشمس دے۔ او راز ئے دا دے چه د زوال وخت د نصف النهار وخت دے او دا نصف النهار مقابل دے د نصف اللیل او په نصف اللیل کښې خو الله

آسمان د دنيا تـه راكوزيږي او پـه نـصف النهار كښې د آسمان دروازې كولاويږي نو دواړه وختـونـه د الله د قرب او رحمت دي۔ انتهىٰ۔ يا ددې نه د ماسپښين سنت مراد دي۔ او همدا ظاهر ده څكه پدې وخت كښې د نبي ﷺ نه اته يا شپږ ركعاته نقل نهٔ دي۔ علامه عراقیؒ ديته سنت د زوال وائي او ملاعلي القاريؒ ديته سنة د ظهر وائي۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه احمد (۴۱۱/۳) والترمذی (۴۷۸)

۱۲- وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:«رَحِمَ اللهُ امْرَأً صَلّٰى قَبْلَ الْعَصْرِ اَرْبَعًا». رَوَاهُ اَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : او ابـن عـمـر فرمائي: رسول الله ﷺ فرمايلي دي : « الله دې پـه هغهٔ سړي رحم اُوكړي چه د مازيگر نه مخكښې څلور ركعاته مونځ اُوكړي»۔ (احمدؒ، ترمذیؒ)

تشريح : د مـازيـگـر نـه مخكښې څلور ركعاته سنت مؤكد نهٔ دي څكه « رحم الله» لفظ وئيـلـو سره ئې دې ته اشاره اُوكړه چه دا لازم نهٔ دي لهذا دا څلور ركعاته مستحب دي او ډير خيـر پـكـښې دې، د الله رحـمـت ورسره حـاصـلـيږي، دا كـه پـه يو سلام سره وي او كهٔ په دوه سلامونو سره ليكن په دوه سلامونو سره بهتر دي لكه روستو حديث نه معلوميږي۔

درجة الحديث : اسـنـاده حسـن : اخرجه ابوداود الطيالسی (۱۹۳۶) واحمد (۱۱۷/۲) وابـوداود (۱۲۷۱) والتـرمـذی (۴۳۰) وابـن خـزيـمة (۱۱۹۳) وابـن حبـان (۲۴۵۳- الاحسـان) وحسنـه ابن خزيمة وابن حبان فی صحيحيهما وكذا الالبانی فی صحيح الترمذی (۴۳۰) وغيره۔

۱۳- وَعَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُصَلِّيْ قَبْلَ الْعَصْرِ اَرْبَعَ رَكْعَاتٍ، يَفْصِلُ بَيْنَهُنَّ بِالتَّسْلِيْمِ عَلَى الْمَلَائِكَةِ الْمُقَرَّبِيْنَ، وَمَنْ تَبِعَهُمْ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُؤْمِنِيْنَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : او علي ﷛ فـرمـائـي : رسـول الله ﷺ بـه د مـازيـگـر نـه مخكښې څلور ركعاته كول، چه د هغې په مينځ كښې به ئې په مقربين ملائكو او د هغوی نه روستو په مسلمانانو او مومنانو باندې سلام اچولو سره جدا والې كولو۔ (ترمذیؒ)

تشريح : دا څلور ركعاته په دوه سلامونو دي او دا څلور بهتر دي روستو روايت كښې دوه هـم راغـلـي دي نـو هغه په بعض احوالو محمول دي نو اختيار دې كله دوه كوه او كله چه وخـت زيـات وي نـو بيـا څـلور كوه، خو څـلور بهتـر دي څكـه چه دې سره رحم د الله

حاصليږي۔
بِالتَّسْلِيمِ : يعني د سلام په وخت كښې دا سنت طريقه ده چه نيت د ملائكو او مؤمنانو به كوي۔ ليكن بعض علماء وائي : ظاهر دا ده چه څلور په يو سلام دي او مراد د تسليم نه تسليم التشهد دے ځكه كور كښې خو مؤمنان او مسلمانان موجود نهٔ وو او دا معنىٰ امام ترمذيؒ د اسحاق بن ابراهيم بن راهويهؒ نه نقل كړيده۔ او امام بغويؒ كړيده۔
او دليل په وصل باندے حديث د عبد الله بن مسعودؓ دے هغهٔ فرمائي : (كنا اذا صلينا قلنا السلام على الله قبل عباده، السلام على جبريل) او دا سلام خو په تشهد كښې وي لهذا دلته هم سلام د تشهد مراد دے۔ او دا ظاهر د حديث دے اګركه پدے كښې بعض علماؤ دا تاويل هم كړيدے چه حضور د ملائكو او مؤمنانو د سلام په وخت ضروري نهٔ دے بلكه استحضار په زړه كښې كافي دے۔ انتهىٰ۔
درجة الحديث : اسناده حسن : اخرجه احمد (٨٥/١) والترمذي (٤٢٩) والنسائي (١١٩/٢ - ١٢٠) وابن ماجه (١١٦١)

١٤ - وَعَنْهُ، قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُصَلِّي قَبْلَ الْعَصْرِ رَكْعَتَيْنِ. رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ.

ترجمه : او علي ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ به د مازيګر نه مخكښې دوه ركعاته (نفل) كول۔ (ابوداودؒ)
تشريح : پدے حديث كښې دوه ركعاته راغلل او مخكښې څلور راغلل نو د دواړو ترمينځ هيڅ تعارض نشته، انسان د دواړو عملونو ترمينځ اختيارمند دے كه هريو كوي ځكه چه ادنىٰ درجه دوه ركعاته دي او څلور افضل دي۔
درجة الحديث : اسناده حسن : اخرجه ابوداود (١٢٧٢) قال النووي في المجموع (٨/٤) اسناده صحيح، ولكن قال الالباني اسناده حسن لكن بلفظ اربع ركعات وهذه الزواية شاذة (تمام المنة ٢٤١) وبيانه في ضعيف ابي داود (٢٣٥)

---

١٥ - وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «مَنْ صَلّٰى بَعْدَ الْمَغْرِبِ سِتَّ رَكْعَاتٍ لَمْ يَتَكَلَّمْ فِيْمَا بَيْنَهُنَّ بِسُوْءٍ عُدِلْنَ لَهٗ بِعِبَادَةِ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ سَنَةً ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ لَانَعْرِفُهٗ اِلَّا مِنْ حَدِيْثِ عُمَرَ بْنِ اَبِيْ خَثْعَمٍ، وَسَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ اِسْمَاعِيْلَ يَقُوْلُ: هُوَ مُنْكَرُ الْحَدِيْثِ، وَضَعَّفَهٗ جِدًّا.

ترجمه: او ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمائيلي دي : «چا چه د ماښام نه روستو شپږ رکعاته اُوکړل چه د هغې په مابين کښې د گناه خبره اُونۀ کړي نو دا به ددۀ دپاره د دولسو کالو د عبادت برابر شي»۔ (دا روايت ترمذيؒ نقل کړے او وئيلي ئې دي : دا حديث غريب دے مونږ ئې صرف د عمر بن ابي خثعم د حديث نه پيژنو او ما د محمد بن اسماعيل (بخاريؒ) نه اَوريدلي دي چه هغه فرمائي : دا راوي منکر الحديث دے او دا ئې ډير ضعيف گنړلے دے۔

تشريح : پدے شپږو رکعاتو کښې دوه سنت او څلور نفل داخل دي۔ دا خبره ياده کړه ! چه د ماښام د مانځه نه پس د مانځه عدد په صحيح احاديثو کښې نۀ دے راغلے او دے وخت کښې د مانځه فضيلت شته، ديته صلاة بين العشائين وائي۔ قرآن کښې هم ورته اشاره ده۔ انس بن مالك ﷺ فرمائي : صحابه کرامؓ به د ماښام نه ماسخوتن مانځه پورے مونځونه کول نو دا آيت (تتجافى جنوبهم عن المضاجع) نازل شو ۔ تفسير الطبرى (۱۷۹/۲۰ – وابن كثير۳٦٥/٦ بسند صحيح)

درجة الحديث : اسناده ضعيف جداً : اخرجه الترمذى (٤٣٥) وابن ماجه (١٣٧٤) وقد ضعفه الالبانى فى السلسلة الضعيفة (٤٦٩)

---

١٦ – وَعَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «مَنْ صَلّٰى بَعْدَ الْمَغْرِبِ عِشْرِيْنَ رَكْعَةً بَنَى اللهُ لَهٗ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : او عائشه رضي الله عنها فرمائي: رسول الله ﷺ فرمائي : « چا چه د ماښام نه روستو شل رکعاته اُوکړل الله تعالي به دۀ له په جنت کښې کور جوړ کړي»۔ (ترمذيؒ) ۔

تشريح : پدے شلو کښې هم دوه رکعاته سنت داخل دي۔ او دے کښې کيدے شي تراويح مراد وي۔ اگرکه پدے وخت کښې عبادت کول شته خو پس د سنتو نه عدد د رکعاتو معلوم نۀ دے۔ جامع الصغير (٤/١) کښې په صحيح سند سره حديث راځي عبد الله بن عمروؓ فرمائي : مونږ رسول الله ﷺ سره د ماښام مونځ اُوکړو څوك لاړل او څوك مسجد کښې پاتے شو نو نبي ﷺ په جلتئ سره راغلو وے فرمايل :

ابشروا معشر المسلمين هذا ربكم قد فتح باباً من ابواب السماء يباهى بكم الملائكة يقول : هؤلاء عبادى قضوا فريضة وهم ينتظرون اخرى (صحيح سنن ابن ماجه (١٣٣/١)

(خوشحاله شئ اے مسلمانانو! ستاسو رب د آسمان يوه دروازه کولاوه کړے او په تاسو سره په ملائکو فخر کوي وائي : دا زما بندگان دي چه فريضه ئې ادا کړه او د بل فرض په

انتظار دی)۔ لهذا دا ډیر بهترین وخت دے، فائده ترے اخستل پکار دی۔ عام انسانانو نه په خوراك سكاك او خبرو اترو كښې تیر شی۔ او هرچه د شلو ركعاتو خبره ده نو هغه ضعيفه ده ځکه روایت ئے ضعیف دے لهذا څومره چه وسع وی ځان دپاره دِے مقرر کړی۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف جداً: اخرجه الترمذی (عقب الحديث ٤٣٥) معلقاً واخرجه ابن ماجه موصولاً (۱۳۷۳) وفي اسناده يعقوب بن الوليد المدائنی قال احمد كان من الكذابين الكبار يضع الحديث وكذبه غيره ايضاً راجع كلام البوصيری فی الزوائد۔

---

۱۷ - وَعَنْهَا، قَالَتْ: مَا صَلَّى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ الْعِشَاءَ قَطُّ فَدَخَلَ عَلَيَّ، اِلَّا صَلَّى اَرْبَعَ رَكْعَاتٍ اَوْ سِتَّ رَكْعَاتٍ. رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه: عائشه رضی الله عنها فرمائی: رسول الله ﷺ هیڅ کله د ماسخوتن مونځ نهٔ دے کړے چه ما کره راننوتے وی مګر څلور رکعاته یا شپږ رکعاته مونځ ئے کړے دے۔ (ابوداؤد)۔

تشريح: یعنی نبی ﷺ به د ماسخوتن مانځه نه پس چه زما کوټے ته راغلو نو ضرور به ئے کله څلور رکعاته نفل کول او کله شپږ رکعاته۔ پدے کښې دوه رکعاته سنت دی او دوه رکعاته نفل دی۔ او یا دوه سنت او څلور نفل دی۔ او وتر به ئے د تهجدو وخت کښې کول۔ او په روایت د مسلم کښې دی: عائشه فرمائی: نبی ﷺ چه به زما کوټے ته د ماسخوتن مانځه نه روستو داخل شو نو دوه رکعاته به ئے کول)۔

نو ددے د ماقبل سره تعارض نشته ځکه دا په مختلفو احوالو باندے محمول دی، څومره به چه نبی ﷺ ته آسان وو هغهٔ به ئے کول۔ او حدیث دلیل دے چه د ماسخوتن سنت (او دغه شان نور سنن) په کور کښې افضل دی۔

او محمد بن نصر المروزیؒ چه کوم روایت د ابن عباسؓ نه مرفوعاً نقل کړیدے چه نبی د ماسخوتن مونځ اُوکړو بیا ئے څلور رکعاته اُوکړل تردے چه مسجد کښې زما او د هغهٔ نه علاوه څوك پاتے نهٔ شو) چه ددے نه معلومیږی چه دائے په مسجد کښې کړیدی نهٔ په کور کښې۔

نو ددے **جواب** دا دے چه دغه روایت ضعیف دے په سند کښې ئے المنهال بن عمرو مختلف فیه راوی دے، او که بالفرض ثابت شی نو دائے یا بیاناً للجواز مسجد کښې کړیدی۔ یا کیدے شی چه څهٔ ضرورت ورته راپیښ شوے وی چه هغهٔ د مسجد سره متعلق وو۔

درجة الحديث: اسناده حسن لغيره: ومعناه صحيح اخرجه ابوداود (۱۳۰۳) واورده المزی

فی تحفة الاشراف (۴۲۰/۱۱) رقم الحدیث (۱۶۱۴۳) وعزاه للنسائی واخرجه البیهقی فی الکبریٰ (۴۷۷/۲) وفی اسناده مقاتل بن بشیر العجلی قال الذهبی لا یعرف۔ولکن فی الباب عن ابن عباس عند البخاری وغیره : قال : بت فی بیت خالتی میمونة الحدیث وفیه ......فصلی النبی العشاء ثم جاء الی منزله فصلی اربع رکعات ثم نام الخ وهذه الاربع سنة العشاء البعدیة کما قال محمد بن نصر فی قیام اللیل، وصحح الالبانی حدیثا فی الاربع بعد العشاء فی صحیح الترغیب والترهیب برقم (۵۹۱)۔

۱۸- وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «(اِدْبَارَ النُّجُوْمِ ﴿) الرَّكْعَتَانِ قَبْلَ الْفَجْرِ، وَ(اَدْبَارَ السُّجُوْدِ ﴿) الرَّكْعَتَانِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : او ابن عباس ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : «د ادبار النجوم (د ستورو د پریوتو وخت کښ د تسبیح وئیلو) نه د سحر نه مخکښ دوه رکعاته (یعنی د سحر سنت) مراد دی او ادبار السجود (د سجدو نه روستو تسبیح وئیلو) نه د مانبام نه روستو دوه رکعاته (سنت) مراد دی»۔ (ترمذیؒ)

تشریح : یعنی څوك چه د سحر سنت اُوکړی او د مانبام نه روستو دوه رکعاته سنت اُوکړی نو دۀ په دوه آیتونو عمل اُوکړو چه یو کښ حکم دے (ومن اللیل فسبحه وادبار النجوم) (ق :آخری یت) او بل حکم دے (ومن اللیل فسبحه وادبار السحود) (الطور : ۴۰) اِدبار په دواړو ځایونو کښ منصوب علی الحکایة دے۔او اصل کښ منصوب دے په فسبحه باندے۔ او دا روایت د صحابه کرامو نه موقوفاً ثابت دے۔

د ادبار معنیٰ ده تلل او شا راړول یعنی روستو د ستورو پریوتو نه۔

درجة الحدیث : اسناده ضعیف مرفوعاً : اخرجه ابن جریر الطبری فی تفسیره (۲۳/۲۷) فی تفسیر الآیة (۴۹) من سورة الطور والترمذی (۳۲۷۴) وقال حدیث غریب لا نعرفه الا من حدیث رشدین بن کریب وضعفه الحافظ فی التقریب) قال الالبانی فی الضعیفة (۱۷۷/۵)رقم (۲۱۷۸): الصواب انه موقوف وان رشدین وَهِمَ فی رفعه وقد رواه محمد بن نصر فی قیام اللیل ص (۲۹) عن عمر بن الخطاب وعلی بن ابی طالب والحسن بن علی وعن اصحاب رسول الله ﷺ موقوفاً علیهم۔ انتهیٰ وهو بمنزلة المرفوع فان قول الصحابی فی شان النزول یرفع الحدیث۔

الفصل الثالث

۱۹- عَنْ عُمَرَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ: «اَرْبَعُ رَكْعَاتٍ قَبْلَ الظُّهْرِ، بَعْدَ

الزَّوَالِ، تُحْسَبُ بِمِثْلِهِنَّ فِي صَلَاةِ السَّحَرِ، وَمَا مِنْ شَيْءٍ إِلَّا وَهُوَ يُسَبِّحُ اللهَ تِلْكَ السَّاعَةَ، ثُمَّ قَرَأَ : ﴿ يَتَفَيَّؤُا ظِلٰلُهُ عَنِ الْيَمِيْنِ وَالشَّمَائِلِ سُجَّدًا لِلّٰهِ وَهُمْ دَاخِرُوْنَ ﴾». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيْمَانِ. ______

ترجمه : او عمر فاروق ﷺ فرمائي: ما د رسول الله ﷺ نه اَوريدلي دي چه فرمايل ئې :«د زوال نه روستو او د ماسپښين نه مخکښ څلور ركعاته (په ثواب او فضيلت كښ) د تهجدو د مانځه په شان شمارلے شي، او نشته يو شے مگر هغه د الله دپاره په دغه وخت كښ تسبيح (پاكي) وائي بيا ئې دا آيت تلاوت كړو : يتفيؤ الخ (د تمامو څيزونو سوري كږيږي پداسے حال كښ چه الله ته سجده كونكي دي او دوي عاجزي كونكي دي)»۔ (ترمذیؒ، بيهقیؒ)

تشريح : ددے مانځه نه مراد يا صلاة الزوال دے او همدا ظاهر ده او ددے راز مخكښ ذكر شو۔ او يا د ماسپښين څلور ركعاته دي۔

صَلَاةِ السَّحَرِ : طيبيؒ دا حمل كړيدے د سحر په سنت او فرضو باندے يعني څوك چه د زوال څلور ركعاته اُوكړي نو دا به په ثواب كښ دومره زيات شي چه د سحر د سنت او فرضو هومره اَجر به ئې اُوشي۔ او سحر مونځ چونكه په زيات فضيلت باندے مشهور دے نو پدے وجه ئې د هغې سره تشبيه وركړه۔

ليكن ظاهره دا ده چه سحر په خپل حقيقت باندے چه پيشمني وخت ته وائي مخكښ د راختلو د صبا نه (يعني د شپے آخري شپږمه حصه) نو مراد ددے نه تهجد دي يعني د زوال دا څلور ركعاته د تهجدو په شان دي په درجه او ثواب كښ لهذا تهجد څومره مشقت والا مشكل مونځ دے او زيات اجر لري نو دغه شان دا څلور ركعاته هم اجر لري۔

او ددے تائيد د ابن مسعودؓ نه داسے نقل دے هغهٔ فرمائي : ليس شيء يعدل صلاة الليل من صلاة النهار الا اربعاً قبل الظهر الخ رواه الطبراني فى الكبير قال الهيثمي وفيه بشير بن الوليد الكندى وثقه جماعة وفيه كلام وبقية رجاله رجال الصحيح انتهىٰ۔

(يعني د ورځے په نفلي مونځونو كښ د شپے د مانځه برابر هيڅ مونځ نشته مگر د ماسپښين نه مخكښ څلور ركعاته دي) او دا هم نقل دي چه ابن مسعودؓ به د زوال نه پس اته ركعاته مونځ كولو او دا به ئې وئيل چه دا د اته ركعاتو د قيام الليل سره برابر دي۔ (سفر السعادة) او دا موقوف بمنزلة المرفوع دے۔ او پدے باره كښ بل حسن مرفوع حديث په السلسلة الصحيحة (۱۴۳۱) كښ راغلے دے : (اربع ركعات قبل الظهر يعدلن بصلاة السحر)

ومصنف ابن ابى شيبة (١٦/٢) (څلور ركعاته د ماسپښين نه مخكښ د تهجدو برابر دى)

يَتَفَيَّؤُا : يعنى مائله كيږى سورى د هر شى ښى او كس طرفته۔ ددے آيت مناسبت ددے مخكښ ارشاد سره دا دے چه آيت كښ دا دى چه د الله د عظيم كائناتو سورى ښى او كس طرف ته مائله كيږى او د الله تعالىٰ د حكم تابع وى او خاصكر د زوال په وخت كښ ددے هبوط (خكته كيدل) ښكاره كيږى او فناء طرف ته رجوع كوى نو نبى ﷺ اشاره اُوكړه چه مصلى پدے وخت كښ د تولو كائناتو سره په خضوع د خالق كښ موافق كيږى لهذا دا وقت د خضوع او د افتقار دے نو دا برابر شو د وقت د پيشمنى سره چه هغهٔ وخت حق تعالىٰ شانه د تجلى او د استغفار وخت او محل دے۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف والحديث صحيح: اخرجه الترمذى (٣١٢٨) وقال حديث غريب لا نعرفه الا من حديث على بن عاصم قلت: وعلى بن عاصم ضعيف لسوء حفظه واصراره على خطئه وشيخه فيه يحيى البكاء ضعيف ايضاً لكن قد مر الحديث الصحيح برواية عبد الله بن السائب رقم (١١) بهذا المعنى ايضاً۔

---

٢٠ – وَعَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: مَا تَرَكَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ رَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ عِنْدِيْ قَطُّ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.وَفِيْ رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِيِّ: قَالَتْ: وَالَّذِيْ ذَهَبَ بِهِ مَا تَرَكَهُمَا حَتّٰى لَقِيَ اللهَ.

ترجمه : او عائشه رضى الله عنها فرمائى: رسول الله ﷺ ما سره د مازيكر مانځه نه روستو هيڅ كله دوه ركعاته نهٔ دى پريخودى۔ (بخارى ومسلم) او په روايت د بخارىؔ كښ دى : عائشه فرمائى: قسم په هغهٔ ذات چه نبى ﷺ ئے وفات كړيدے، هغهٔ دا دوه ركعاته نهٔ دى پريخودى تردے چه الله سره ملاؤ شو۔

تشريح دا حديث واضح دليل دے چه دا دوه ركعاته د مازيكر مانځه نه روستو مستحب دى خو پدے شرط چه نمر پورته ولاړ وى او د مازيكر مونځ وختى شوے وى۔ او دا د نبى ﷺ خصوصيت نهٔ دے بلكه پدے باندے مداومت د هغهٔ خصوصيت وو او نفس دا مونځ كول مستحب عمل دے او ددے د احاديث النهى سره څهٔ تعارض هم نشته څكه احاديث النهى محمول دى په ناوخته كولو باندے او دا محمول دى په اول وخت كښ كولو باندے فتدبر۔ او صحابه كرامو هم پدے باندے عمل كړيدے۔ لكه ددے مسئلے تفصيل په باب اوقات النهى (٥٦٢/٤) كښ اوفتاوى الدين الخالص (١٩٦/٣) كښ اُوكوره۔

۲۱- وَعَنِ الْمُخْتَارِ بْنِ فُلْفُلٍ، قَالَ: سَأَلْتُ اَنَسَ بْنَ مَالِكٍ عَنِ التَّطَوُّعِ بَعْدَ الْعَصْرِ، فَقَالَ: كَانَ عُمَرُ يَضْرِبُ الْاَيْدِيْ عَلٰى صَلَاةٍ بَعْدَ الْعَصْرِ، وَكُنَّا نُصَلِّيْ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ رَكْعَتَيْنِ بَعْدَ غُرُوْبِ الشَّمْسِ قَبْلَ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ. فَقُلْتُ لَهٗ: اَكَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُصَلِّيْهِمَا؟ قَالَ: كَانَ يَرَانَا نُصَلِّيْهِمَا فَلَمْ يَأْمُرْنَا وَلَمْ يَنْهَنَا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او مختار بن فلفل رحمه الله فرمائي: ما د انس بن مالك ﷺ نه د مازيگر مانځه نه روستو د نوافلو متعلق تپوس اُوكړو، نو هغهٔ اُوفرمايل: عمر فاروقؓ به د مازيگر مانځه نه روستو (نفل) مونځ كولو باندے لاسونه (د خلقو) وهل، او مونږ به په زمانه د رسول الله ﷺ كښې د نمر پريوتو نه روستو د ماښام مانځه نه مخكښې دوه ركعاته كول، ما ورته عرض اُوكړو: آيا رسول الله ﷺ به دا دوه ركعاته كول؟ وے فرمايل: نبي ﷺ به مونږ ليدلو چه مونږ به دا دوه ركعاته كول نو نهٔ به ئے مونږ ته (وجوبي) حكم كولو او نهٔ به ئے منع كولو۔ (مسلمؒ)

تعارف د مختار بن فلفل: مختار بن فلفل المخزومي د عمرو بن حريث مولىٰ دے۔ امام احمدؒ، ابن معينؒ، ابو حاتمؒ، عجليؒ، نسائيؒ او يعقوب بن سفيانؒ ورته ثقه وئيلے دے۔ او ابوداودؒ وائي: ليس به بأس۔

تشريح: دا حديث هم ښهٔ واضح دليل دے چه دا دوه ركعاته سنت عمل دے او د عمر د وهلو وجه مونږ مخكښې وئيلے وه چه د هغهٔ منع د مصلحت په بناء وه، هغه به فرمايل: ما ته ښهٔ پته ده چه دا رسول الله ﷺ كړيدي ليكن زهٔ يريږم چه خلق به ئے د نمر پريوتو وخت كښې كوي نو په ناروا كښې به اَخته شي۔ وقد مر في (٥٦٣/٤) انظر مجمع الزوائد (٢٢٣/٢)

فَلَمْ يَأْمُرْنَا: يعني وجوباً امر ئے مونږ ته نهٔ كولو ورنه امر ئے خو كړيدے۔

او حديث دليل دے چه تقرير د نبي ﷺ هم دين دے او پدے سره هم سنيت او مشروعيت د يو عمل ثابتيږي۔ ځكه نبي ﷺ چه يو كار اُووينى او د هغے نه منع اُونكړي نو دا دليل دے چه دا عمل جائز او مشروع دے۔

۲۲- وَعَنْ اَنَسٍ، قَالَ: كُنَّا بِالْمَدِيْنَةِ، فَإِذَا اَذَّنَ الْمُؤَذِّنُ لِصَلَاةِ الْمَغْرِبِ، اِبْتَدَرُوا السَّوَارِيَ، فَرَكَعُوْا رَكْعَتَيْنِ، حَتّٰى اِنَّ الرَّجُلَ الْغَرِيْبَ لَيَدْخُلُ الْمَسْجِدَ، فَيَحْسِبُ اَنَّ الصَّلَاةَ قَدْ صُلِّيَتْ مِنْ كَثْرَةِ مَنْ يُصَلِّيْهِمَا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او انس ﷺ فرمائي: مونږ په مدینه کښې وو، (د هغۀ وخت حال دا وو چه) کله به مؤذن د ماښام د مانځه دپاره اذان اُوکړو نو خلقو به ستنو ته (د سُترې جوړولو دپاره) ورمنډه کړه، او دوه رکعاته به ئې اُوکړل، تردې چه کۀ یو مسافر سړے به مسجد ته داخل شو نو دا ګمان به ئې کولو چه (ګنې) مونځ شوے دے، د وجه د کثرت د مونځ کونکو نه. (اکثرو به دوه دوه رکعاته کول نو مسافر به ګمان اُوکړو چه مونځ شویدے او دا روستنی سنت کیږی) (مسلمؒ)

تشریح : اِبْتَدَرُوا السَّوَارِیَ : دا دلیل دے چه سُتره د واجباتو نه ده او بغیر د سُترے نه مونځ کول ناجائز دی. او دے دوه رکعاتو له صحابه کرامؓ ډیر اهتمام ورکولو نو هغۀ کسان ډیر محرومه دی چه ددے نه انکار کوی او ددے نه د مزعومه مذهب په وجه ځان محروم کړی. او د مسئلے تحقیق مخکښې (۳۵۴/۳) کښې تیر شویدے.

---

۲۳ - وَعَنْ مَرْثَدِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: اَتَیْتُ عُقْبَةَ الْجُهَنِیَّ، فَقُلْتُ: اَلَا اُعَجِّبُكَ مِنْ اَبِیْ تَمِیْمٍ یَرْکَعُ رَکْعَتَیْنِ قَبْلَ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ؟ فَقَالَ عُقْبَةُ: اِنَّا کُنَّا نَفْعَلُهٗ عَلٰی عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ. قُلْتُ: فَمَا یَمْنَعُكَ اْلآنَ؟ قَالَ: الشُّغْلُ. رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ.

ترجمه : مرثد بن عبد الله رحمه الله فرمائی : زۀ عقبه بن عامر جهنی ﷺ خوا ته راغلم، ما ورته عرض اُوکړو : آیا زۀ تا د ابوتمیم نه په تعجب کښې نۀ اَچوم چه هغۀ د ماښام مانځه نه مخکښې دوه رکعاته کوی؟ عقبهؓ اُوفرمایل: مونږ به دا مونځ په زمانه د رسول الله ﷺ کښې کولو. ما اُوویل : نو اُوس څۀ خبرے منع کړے ئې (چه دا مونځ نۀ کوے)؟ هغۀ اُوفرمایل : د دنیا مشغولیت. (بخاریؒ)

تعارف د مرثد بن عبد الله : مَرْثَدُ : بن عبد الله الیزنی، یَزَن یوه قبیله ده په حِمْیَر کښې دده کنیه ابو الخیر المصری ده، ثقه او فقیه راوی دے. تهذیب التهذیب کښې دی چه دا به د عقبه بن عامر نه نۀ جدا کیدو او دا په خپله زمانه کښې د مصر والو مفتی وو، عجلیؒ وائی : مصری تابعی، ثقه دے. ابن شاهینؒ فرمائی : دا د مصریانو په نزد داسے وو لکه علقمهؒ د کوفیانو په نزد. او دا رشتینی انسان وو، یعقوب بن سفیانؒ ورته ثقه وئیلے دے. او عقبه بن عامر د مصر والی وو.

تعارف د ابوتمیم : ابوتمیم : ددۀ نوم عبد الله بن مالك الجیشانی المصری په کنیه مشهور دے اصل ئې د یمن نه دے، تابعی کبیر ثقه مخضرم دے، د نبی ﷺ په زمانه کښې

په اسلام مشرف شویدے۔او په یمن کښې ئے د معاذ بن جبل نه قرآن کریم وئیلے دے۔بیا د عمر په زمانه کښې راغلو نو فتح د مصر ته حاضر شو او بیا هلته اُوسیدو۔ ابن یونسؒ فرمائی : د نبی د زمانے لاندے کولو په وجه دا یو جماعت د علماؤ په صحابه کرامؓ کښې شمیرلے دے۔په سنه (۷۷ هـ) کښې وفات شویدے۔

تشریح : أَلَا أُعَجِّبُكَ : یعنی زهٔ تا په تعجب کښې نه اَچوم۔ دا تعجب ځکه کوی چه چا یو عمل نهٔ وی لیدلے نو د هغے نه تعجب کوی۔

الشُّغُلُ: یعنی اُوس په حکومتی (د مسلمانانو په اصلاحی)کارونو مشغول یو نو وزګار نهٔ یو۔ د جواب حاصل دا دے چه دا دوه رکعاته په دین کښې شته او زمونږ نهٔ کول دلیل د عدم نهٔ دے۔ او کله چه انسان مشغول وی نو نفلونه بل وخت ته پریخودے شی۔

دا حدیث دلیل دے چه دا دوه رکعاته مستحب دی او د نبی ﷺ په زمانه کښې شویدی او د هغهٔ نه روستو هم شویدی نو پدے کښې په قاضی ابوبکر العربیؒ رد دے چه هغه وائی د صحابه کرامؓ نه روستو چا نهٔ دی کړی دلته ابوتمیم تابعی دے او دا دوه رکعاته ئے کړیدی (حافظ ابن حجرؒ)۔

۲۴– وَعَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ، قَالَ: إِنَّ النَّبِيَّ ﷺ أَتَى مَسْجِدَ بَنِي عَبْدِ الْأَشْهَلِ، فَصَلَّى فِيهِ الْمَغْرِبَ، فَلَمَّا قَضَوْا صَلَاتَهُمْ رَآهُمْ يُسَبِّحُوْنَ بَعْدَهَا، فَقَالَ: «هٰذِهِ صَلَاةُ الْبُيُوْتِ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ. وَفِيْ رِوَايَةِ التِّرْمِذِيِّ، وَالنَّسَائِيِّ: قَامَ نَاسٌ يَتَنَفَّلُوْنَ، فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ :«عَلَيْكُمْ بِهٰذِهِ الصَّلَاةِ فِي الْبُيُوْتِ».

ترجمه : او کعب بن عجره ﷺ فرمائی: نبی ﷺ (یوه ورځ) د بنی عبد الاشهل مسجد ته تشریف راوړو، او په هغے کښې ئے د ماښام مونځ اُوکړو، کله چه خلقو (فرض) مونځ اداء کړو، وے لیدل چه د هغے نه روستو (سُنت) مونځ کوی، وے فرمایل : «دا مونځ (خو) د کورونو دے»۔ (ابوداودؒ) او په یو روایت د ترمذیؒ او نسائیؒ کښې دی : څهٔ کسان پاځیدل نفلونه ئے کول، نو نبی ﷺ اُوفرمایل : « په تاسو لازم دی چه دا مونځ (سنت یا مطلقاً نفلونه) په (خپل خپل) کورونو کښې اُوکړئ»۔

تعارف د بنی عبد الاشهل : بنی عبد الاشهل : دا د اَوس قبیلے د اَنصارو نه یوه ډله ده، عبد الاشهل بن جشم بن الحارث بن الخزرج الاصغر بن عمرو بن مالك بن الاوس بن حارثة۔

تشریح : هٰذِهِ صَلَاةُ : پدے هذه کښې یا اشاره ده د ماښام سنتو ته یا مطلق نفلو او سنتو ته۔ لیکن اول احتمال ډیر قریب دے، لهذا بیا د حدیث نه دا فائده معلومه شوه چه تول

نوافل او سنت په كور كښې افضل دي ليكن د ماښام سنت په كور كښې ډير افضل دي. او ددې تائيد په حديث د رافع بن خديج كښې په ابن ماجه كښې راغلے دے: (اركعوا هاتين الركعتين في بيوتكم (زاد المعاد (٢٩٨/١) وسنده حسن (صحيح ابن ماجه برقم ٩٥٦) (١٩٢/١) (دا دوه ركعاته په كور كښې كوئ)

فِي الْبُيُوْتِ: يعني دا دوه ركعاته كور كښې افضل او مستحب دي ځكه چه د رياء نه په كښې انسان ورانده وي، او اخلاص ته ډير قريب وي اګركه په مسجد كښې هم كله نا كله جائز دي روستو حديث كښې راځي. او ددې نه چه كوم لزوم معلوميږي نو دا لزوم استحبابي دے. او پدے كښې اولیٰ او افضل طرفته ارشا دے.

او دليل دے چه صحابه كرامؓ به د ماښام نه روستو نوافل كول اګركه خاص عدد ئې نه دے معين. او د معتكف دپاره په مسجد كښې كول افضل دي هيڅ كراهت پكښې نشته.

فائده: د مسجد نسبت يو قوم ته جائز دے اګركه يو شخص ته مناسب نۀ دے ځكه پدے كښې خطره د رياء ده.

درجة الحديث: اسناده صحيح: اخرجه النسائي (١٩٨/٣) والترمذى (٦٠٤) وابوداود (١٣٠٠) وفي الاسناد اسحاق بن كعب بن عجرة وهو مجهول الحال كما في التقريب وباقي رجاله ثقات لكن يشهد له رواية محمود بن لبيد اخرجه احمد (٤٢٨/٥) وصححه الالباني في الجامع الصغير (٤٠٨٤)

---

٢٥ - وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُطِيْلُ الْقِرَاءَةَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ حَتّٰى يَتَفَرَّقَ اَهْلُ الْمَسْجِدِ. رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه: او ابن عباس ؓ فرمائي: رسول الله ﷺ به (كله) د ماښام نه روستو په دوه ركعاتو (سنتو) كښې اُوږد قراءت كولو تردے چه مسجد والا به (خپل خپل مونځ كولو نه پس) خوارۀ شو. (ابوداودؒ)

تشريح: كان د دوام دپاره نۀ دے بلكه دا عمل كله كله وو ځكه په باب القراءة في الصلاة كښې په حديث د ابن مسعودؓ كښې تير شويدي چه نبي ﷺ به دا مختصر كول، په اول ركعت كښې به ئې (قل يا ايها الكافرون) او دويم كښې (قل هو الله احد) لوستلو. نو دا په بعض اَوقاتو باندے محمول دي.

دويم: حديث دليل دے چه په مسجد كښې ددے ركعتينو كول هم جائز دي. اګركه كور كښې بهتر دي. او په مسجد كښې كولو باره كښې ډير دلائل دي. يو حديث كښې دي چه

نبی ﷺ تـولـه ورځ بيـان اُوکـړو او مـانـځـه تـه بـه صرف راکوزيدو او بيا به منبر ته ختلو۔ نو معلوميږی چه سنت ئے هم مسجد کښې کړيدی۔ دويم په سنن کبریٰ د نسائیؒ کښې باسناد جيد روايت دے: حـذيفـهؓ فـرمائی: ما د نبی ﷺ سره د مـابـنـام مـونـځ اُوکـړو نو هغه تر ماسخوتن پورے مونځونه اُوکړل۔ (قال المنذری اسناده جيد فی الترغيب ٢٠٥/١ وصححه الالبانی) والمرعاة (١٣٣/٤) وبوب الطحاوی باب السنن فی المسجد)۔

لهذا دا محمول دی په باب د جواز باندے، بعض دا محمولوی په حالت د اعتکاف باندے او بعض وائی: احتمال شته چه نبی ﷺ پـه کور کښې کړی وی او ابن عباسؓ پرے د کور نه خبر شوے وی ځکـه د هغهٔ کور د مسجد سره متصل وو د دواړو ترمينځ صرف يو ديوال وو، او پدے ديوال کښې مسجد طرفته دروازه وه۔ ليکن اوله خبره غوره ده۔

دعاء بعد السنة ئے هم نهٔ ده کړے لهذا ددے التزام بدعت دے۔

درجة الحديث : اسـنـاده فيـه مـقـال: اخرجه ابوداود (١٣٠١) فی سنده يعقوب بن عبد الله الاشعری ابوالحسن القُمّی قال النسائی : ليس به بأس، وخرج له البخاری تعليقاً فی الطب وقال الـطـبـرانـی : كـان ثقة وذكره ابن حبان فی الثقات وضعفه الدارقطنی) قال فی التقريب : صدوق يهـم وقال الذهبی فی (ذكر من تكلم فيه وهو موثق ٢٠٢/١) : انه صالح الحديث قال الدارقطنی : ليس بـالقوی) وفيه جعفر بن ابی المغيرة وهو ايضاً صدوق (تقريب) وروی الطبرانی فی الكبير عن ابن عباس ان النبی ﷺ كـان يصلی بعد المغرب ركعتين يطيل فيهما القرائة حتی يتصدع اهل الـمـسـجـد ذكـره الهيثمی فی المجمع (٢٣٠/٢) وقال فيه يحيی بن عبد الحميد الحمانی وهو ضعيف) وكان يحيی بن معين حَسَنَ القول فی يحيی۔ الجرح والتعديل (١٦٩/٩)

٢٦- وَعَـنْ مَـكْـحُولٍ يَبْلُغُ بِهِ، اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ: «مَـنْ صَـلّٰـی بَعْدَ الْمَغْرِبِ قَبْلَ اَنْ يَّتَكَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ» - وَفِیْ رِوَايَةٍ - «اَرْبَعَ رَكْعَاتٍ، رُفِعَتْ صَلَاتُهٗ فِیْ عِلِّيِّيْنَ» . مُرْسَلًا.

ترجمه : او مـكـحـول (تابعی) رحمه الله دا حديث نبی ﷺ ته رسوی چه رسول الله ﷺ فرمايلی دی: «چا چه د مابنام نه روستو، مخکښې د (د دنياوی) خبرو نه دوه رکعاته - او په يو روايت کښې دی: څلور رکعاته اُوکړل نو د هغهٔ مونځ به عليين (مقام قبوليت) ته اُوچت کړے شی»۔ (دا روايت مرسل دے)۔

مـكـحـول د شام دمشق انتهائی لوئی عالم دے مشهور تابعی دے، کنيه ئے ابو عبد الله ده مگر اِرسال به ئے ډيرکولو۔ وقد مر تعارفه فی (٥٧٢/١ - باب الاعتصام)

تشریح: ددے روایت نه معلومیږی چه د ماښام دا دوه رکعاته د فرضو پسے متصل او د اذکارو نه روستو کول پکار دی۔ او پدے باندے راتلونکے حدیث د حذیفهؓ هم دلیل دے۔

عِلِّيِّيْنَ: جمع د عِلِي ده په اوم آسمان کښ یو مقام دے چه هغے ته اعمال د نیکانو او روحونه د هغوی پورته کیږی۔ مګر ظاهر دا ده چه دا مفرد صیغه ده خو په وزن د جمع دے۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف: اورده ابن نصر فى قيام الليل (ص ٣١) فيه ابوصالح كاتب الليث وفيه ضعف واورده المنذرى فى الترغيب والترهيب (٢٠٥/١) وقال ذكره رزين ولم اره فى الاصول واسناده منقطع۔

٢٧- وَعَنْ حُذَيْفَةَ نَحْوَهُ، وَزَادَ: فَكَانَ يَقُوْلُ: عَجِّلُوْا الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ، فَإِنَّهُمَا تُرْفَعَانِ مَعَ الْمَكْتُوْبَةِ». رَوَاهُمَا رَزِيْنٌ، وَرَوَى الْبَيْهَقِيُّ الزِّيَادَةَ عَنْهُ نَحْوَهَا فِيْ «شُعَبِ الْإِيْمَانِ».

ترجمه: او دحذیفه ﷺ (هم) ددے په شان روایت نقل دے، او هغهٔ زیاتی کړیدی: چه نبی ﷺ به فرمایل: «د ماښام نه روستو دوه رکعاته په جلتئ (متصل) کوئ ځکه دا دوه رکعاته د فرض (مانځه) سره (د قبولیت مقام ته) پورته کیږی»۔ دا دواړه روایتونه رزین بن معاویهؒ نقل کړی دی او بیهقیؒ زائد الفاظو لره د حذیفه نه ددے په شان په شعب الایمان کښ نقل کړی دی۔

تشریح: **عَجِّلُوْا**: یو معنی دا ده چه دا دوه رکعاته مختصر کوئ او بل متصل ئے کوئ۔ دا روایت هم دلیل دے چه د ماښام دوه رکعاته سنت به په جلتئ سره کولے شی۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف: اخرجه البيهقى فى الشعب (٢٨٠٤) وفى اسناده عبد الرحيم بن زيد العمى ضعيف هو وابوه واخرجه ابن عدى فى الكامل (١٠٥٧/٣) فى ترجمة زيد بن الحوارى۔

٢٨- وَعَنْ عَمْرِو بْنِ عَطَاءٍ، قَالَ: إِنَّ نَافِعَ بْنَ جُبَيْرٍ أَرْسَلَهُ إِلَى السَّائِبِ يَسْأَلُهُ عَنْ شَيْءٍ رَآهُ مِنْهُ مُعَاوِيَةُ فِي الصَّلَاةِ. فَقَالَ: نَعَمْ، صَلَّيْتُ مَعَهُ الْجُمُعَةَ فِي الْمَقْصُوْرَةِ، فَلَمَّا سَلَّمَ الْإِمَامُ قُمْتُ فِيْ مَقَامِيْ، فَصَلَّيْتُ، فَلَمَّا دَخَلَ أَرْسَلَ إِلَيَّ، فَقَالَ: لَاتَعُدْ لِمَا فَعَلْتَ، إِذَا صَلَّيْتَ الْجُمُعَةَ فَلَا تَصِلْهَا بِصَلَاةٍ حَتّٰى تَكَلَّمَ اَوْ تَخْرُجَ، فَإِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ اَمَرَنَا بِذٰلِكَ اَنْ لَانُوْصِلَ بِصَلَاةٍ حَتّٰى نَتَكَلَّمَ اَوْ نَخْرُجَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او عمرو بن عطاءؒ (تابعی) فرمائی: نافع بن جبیر (تابعیؒ) دهٔ (یعنی عمرو) لره

سائب بن یزید (صحابیؓ) ته اُولیږلو دے دپاره چه د هغهٔ نه تپوس اُوکړی په باره د یو شی کښې چه معاویهؓ ددهٔ نه په مانځه کښې لیدلے وو، (او هغه ئے منع کړے وو) (نو عمروؒ د سائب خوا ته ورغلو او د هغهٔ شی تفصیل ئے معلوم کړو) نو هغوی اُوفرمایل : آؤ (یو ځل) ما د امیر معاویه ؓ سره په مَقصُوره کښې د جُمعے مونځ اُوکړو کله چه امام سلام واړولو نو زهٔ (په هغهٔ ځائے کښې کوم ځائے چه ما د جُمعے فرض مونځ کړے وو) اُودریدم، او (د فرض او سنتو ترمینځ د هیڅ جدائے کولو نه بغیر) مے مونځ اُوکړو، نو امیر معاویهؓ (د مانځه د فراغت نه بعد) خپل ځائے ته ننوتو نو ما پسے ئے یو شخص راولیږلو وے وئیل : اُوس چه دِ کوم کار اُوکړو دا کار بیا مهٔ کوه۔ (یعنی کوم ځائے چه فرض اُوکړے نو په همدغه ځائے بغیر د اِمتیاز کولو نه سنت مهٔ کوه) کله چه ته د جُمعے مونځ اُوکړے نو د بل مونځ سره ئے مهٔ پیوسته کوه تردے چه تهٔ کومے خبرے اُوکړے یا (د مسجد نه) اُووځے۔ ځکه رسول الله ﷺ مونږ ته په دے باندے حکم کړے دے چه مونږ به یو مونځ د بل سره نهٔ یو ځائے کوو تردے چه مونږ خبرے اُوکړو یا (د مسجد نه) بهر شو۔ (مسلمؒ)

تعارف د عمر بن عطاء : عمر بن عطاء : بن ابی الخُوار المکی د بنی عامرو مولیٰ دے، ثقه تابعی دے۔ په بعض نسخو کښې عمرو دے لیکن هغه خطاء دے۔

او نافع بن جبیر بن مطعم النوفلی المدنی ابو محمد۔ د طبقه وسطیٰ د تابعینو نه ثقه فاضل تابعی دے۔ په سنه (۹۹ھ) کښې وفات دے۔

تشریح : اَلْمَقْصُوْرَةِ : دا په مسجد کښې یوه کوټهٔ وه چه بادشاهانو دپاره جوړه شوے وه۔ اول دا معاویه بن ابی سفیان ؓ جوړه کړے وه کله چه عمر او علی رضی الله عنهما شهیدان شو نو معاویه ؓ ته خطره اُوشوه چه دا خلفاء خو خلق وژنی نو د دوی د حفاظت دپاره ئے په مسجد کښې یوه کوټه جوړه کړه د اول صف په ځائے ئے دیوال اُووهلو نو په دے کښې به یوامام اُودریدو او یو څو کسان د هغه سره او نور خلق به روستو اُودریدل، نو دلته سائبؓ وائی چه زهٔ هم د معاویهؓ سره په دغه مقصوره کښې اُودریدلم۔

مقصوره جوړول څه حکم لری ؟

بیا په دے کښې اختلاف دے چه آیا دا مقصوره څه حکم لری؟ قاضی عیاضؒ فرمائی : مقصوره ډیرو سلفو جائز کړیده او په دے کښې ئے مونځونه کړیدی چه بعض د هغوی نه حسنؒ، قاسم بن محمدؒ، سالمؒ وغیره دی۔

ابن عمرؓ، شعبیؒ، اسحاقؒ او احمدؒ ئے مکروه ګڼړی۔ عبد الله بن عمرؓ باره کښې راځی چه

دے پہ کله په مقصوره کښې وو او مونځ به اُودریدو نو مسجد ته به راوتو۔

بیا قاضیؒ فرمائی: د جُمعے مونځ هم پکښې صحیح دے، خو پدے شرط چه هر چا دپاره مباحه وی او که په بعضو خلقو پورے خاص وی او نور خلق ورته نهٔ پریدی نو بیا په کښې د جُمعے مونځ صحیح نهٔ دے ځکه دا بیا د مسجد د حکم نه بهر ده۔

نَتَکَلَّمَ: تکلم نه مراد ذکر اذکار وغیره دی۔

دا حدیث دلیل دے چه سنت د فرضو پسے متصل کول مکروه دی او دا یو سبب دے د هلاکت بنی اسرائیلو۔ نو دا رد دے په احنافو چه هغوی لیکلی دی چه د اللهم انت السلام الخ نه پس به متصل سنتو ته پاخیږی۔ او دوی اذکار د سنتو نه پس کوی او دا د سنت خلاف ده۔

مخکښې مونږ وئیلی وو چه څوك فرض مونځ اُوکړی نو ځائے بدلول مستحب دی او یا د سنت او فرضو ترمینځ په ذکر اذکارو سره فاصله راوستل پکار دی۔ دے دپاره چه صورت د نفلو د صورت د فرضو نه جدا شی، او دے دپاره چه د سجدے ځایونه ئے ډیر شی۔ او دا فصل په خبرو هم جائز دے اگرکه په مکان بدلولو سره زیات افضل دے۔ او دا حکم ځان له د جُمعے پورے خاص نهٔ دے۔

او حدیث دلیل دے چه په مسجد کښې سنت کول هم جواز لری اگرکه په کور کښې بهتر دی دلته (حتی نتکلم) مسجد ته شاملیږی۔ او نخرج کښې کور ته اشاره ده۔

---

۲۹ – عَنْ عَطَاءٍ، قَالَ: كَانَ ابْنُ عُمَرَ، إِذَا صَلَّى الْجُمُعَةَ بِمَكَّةَ تَقَدَّمَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ يَتَقَدَّمُ فَيُصَلِّيْ أَرْبَعًا. وَإِذَا كَانَ بِالْمَدِيْنَةِ صَلَّى الْجُمُعَةَ، ثُمَّ رَجَعَ إِلٰى بَيْتِهِ فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ، وَلَمْ يُصَلِّ فِي الْمَسْجِدِ. فَقِيْلَ لَهُ. فَقَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَفْعَلُهُ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ. وَفِيْ رِوَايَةِ التِّرْمِذِيِّ، قَالَ: رَأَيْتُ ابْنَ عُمَرَ صَلّٰى بَعْدَ الْجُمُعَةِ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ صَلّٰى بَعْدَ ذٰلِكَ أَرْبَعًا.

ترجمه: او عطاء رحمه الله فرمائی: چه ابن عمر رضی الله عنه به چه کله په مکه کښې د جُمعے مونځ اُوکړو نو (کوم ځائے چه به ئے فرض اُوکړل نو د هغے نه به) مخکښې شو، او دوه رکعاته به ئے اُوکړل، او د هغے نه بعد به بیا مخکښې شو نو څلور رکعاته به ئے اُوکړل، او کله چه به مدینه کښې وو نو (د هغهٔ دا معمول وو چه) د جُمعے (فرض) مونځ به ئے اُوکړو نو خپل کور ته به واپس شو، (هلته به ئے) دوه رکعاته اُوکړل او په مسجد کښې به ئے (د فرض

نـه علاوه هيڅ) مونځ نهٔ کولو، کله چه ددهٔ نه ددے (کور کښې مونځ کولو باره کښې) تپوس اُوشـو نو هغه اُوفرمايل : رسول الله ﷺ به داسے کول۔ (ابوداوّد) او په روايت د ترمذیؒ کښې دی :عطاءؒ فرمائی: ما ابن عمرؓ اُوليدو چه د جُمعے مانځه نه ئے روستو دوه رکعاته اُوکړل بيا ئے ددے نه روستو څلور اُوکړل۔

تشريح : يَفْعَلُهُ : (يعنی نبی ﷺ بـه داسے عمل کولو او زهٔ ئے هم کوم د هغهٔ د تابعدارئ دپاره) ظاهر ددے روايت نـه دا معلوميږی چه نبی ﷺ بـه د دواړو حرمينو ترمينځ فرق کـولـو، په مکه کښې به ئے په مسجد کښې د جُمعے نه روستو شپږ رکعاته کول او په مدينه کښې بـه ئے پـه کـور کښې د جُـمعے نـه بعد دوه رکعاتـه کـول او په مسجد کښې به ئے نهٔ کول۔ ليکن دا جمله د ابن عمرؓ ددواړو عملونو سره متعلق نهٔ ده ځکه چه په مکه کښې خو په نبی ﷺ بانـدے د جُـمعے مـونـځ فرض نهٔ وو دا خو په مدينه کښې فرض شويدے او که مکے ته نبی ﷺ راغلے وی نو بيا خو هغهٔ مسافر دے او مُسَافر باندے سنت نهٔ وی۔ نو دا د دويم عمل د ابن عمرؓ سره لگی۔ يعنی مدينه کښې به ابن عمرؓ د جُمعے روستنی دوه رکعاته سنت په کور کښې کول او بيا به ئے دا نبی ﷺ ته منسوب کول چه هغه به داسے کار کولو۔ (قاله العراقی رحمه اللّٰه)

او دا حـديـث پـه ظـاهـر کښې دليل دے د ابويوسفؒ دپاره چه هغه وائی د جُمعے مانځه نه روستـو شپږ رکعاته سنت دی۔ ليکن هغه هم پوره طريقے سره پدے عامل نهٔ دے ځکه ابن عـمرؓ خـو بـه دوه مخکښې کول او هغه وائی چه څلور مخکښې کول پکار دی دے دپاره چه سنت د فرضو سره مشابه نهٔ شی۔

ليـکـن مـخـکـښې تيـر شـويدی چه شپږ رکعاته سنت د نبی ﷺ نـه قـولًا او فعلًا نهٔ دی ثابت۔ بلکه دوه يا څلور دی او هر چه نوافل دی نو هغه چه هرڅومره کوی خوښه ئے ده۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه ابوداود (۱۱۳۰) ورواية الترمذی اسنادها رجاله ثقات فهو صحيح لولا ان فيه عنعنة ابن جريج.



باب صلاة الليل

د شپې د مانځه بيان

تهجد كوم وقت كيږي ؟

صلاة الليل تهجد او قيام الليل يو شے دے۔ چه ددے وخت شروع كيږي د ماسخوتن مانځه نه تر صبا راختلو پورے، نو ددے دريے واړو ترمينځ شرعي فرق نشته۔ يو دے قيام رمضان، د هغے نه مراد تراويح دی او هغه هم په صلاة الليل كښې داخليږي۔

بعض وائی : صلاة التهجد خاص هغۀ مونځ ته وائی چه په آخر د شپه كښې وی او د خوب نه پس وی۔ لكه امام طبريؒ د تهجد معنىٰ كوی : (التهجد السهر بعد نومة) (تهجد : د خوب نه پس بے خوبي كول دی)۔ ابن فارسؒ لغوی فرمائی : مُتَهَجِّد هغه چا ته وائی چه د شپے مونځ كوی۔ كراعؒ وائی : تهجد خاص صلاة الليل ته وائی (فتح الباری ٩٥/٤) او اصل كښې هَجَدَ يَهْجُدُ د اضدادو نه دے خوب ته هم وائی او بے خوبۍ ته هم وائی۔ نو مُتهجّد معنىٰ ده تارك النوم۔ (خوب پريخودونكے)۔

ليكن د احاديثو نه داسے معلوميږي چه نبی ﷺ به د تهجدو مونځ د خوب نه پس كولو۔نو دغه وخت ئے بهتر دے او نور د ټولے شپے په هره حصه كښې مونځ كول جائز دی۔ او دا په قيام الليل او صلاة الليل كښې داخليږي۔ كه يو انسان د شپے نشي رابيداريدے نو هغۀ دپاره د ماسخوتن نه روستو هم تهجد جائز دی۔ او دلائل د جواز ئے په فتاوی الدين الخالص (٤٧٧/٥) كښې اُوكوره، عائشهؓ فرمائی : نبی ﷺ به د ماسخوتن نه تر سحره پورے يو لس ركعاته مونځ كولو چه په هر دوه ركعاتو كښې به ئے سلام اَړولو (متفق عليه) نو دا بعد النوم او قبل النوم دواړو ته شامليږي۔ (المرعاة ١٦٤/٤)۔

دارنګه تراويح د ماسخوتن پسے متصل كيږي۔ او نبی ﷺ هم كله كله قبل النوم كړيدی۔ (قيام الليل لابن نصر– تمام المنة ص ٢٥١)

علامه شوكانیؒ وائی: د خوب نه پس څكه بهتر دی چه دا د فرض او نفلو ترمينځ فاصله راوستونكے دے او دارنګه پدے سره يو نشاط او تازګی پيدا كيږي د سحر مانځه دپاره۔ (نيل الاوطار٧١/٣)

دارنګه پدې کښې مشقت زيات دے ددے وجه نه اَجرئے هم زيات دے۔
بيا دا تهجد د مومن صفت دے او يوه شعبه ده د شُعَبُو د ايمان نه او په بخاري کښې ددے په باره کښې (٦٦) احاديث راغلي دي۔ الفتح (٤/١٦٨)

حکم صلاة الليل -- د تهجدو څه حکم دے ؟

د عام علماؤ په نزد دا نفل دي۔ ۲- احناف اوحنابله وغيره وائي سنت دي۔ او دا د سنت رواتبو نه زيات مؤکد دي او همدا قول ظاهر دے۔ ځکه په قرآن کريم کښې صلاة الليل د مؤمنانو صفت خودلے شوے دے۔او نبي ﷺ د هغې چا بدي بيان کړيده چه دا نۀ کوي۔
دارنګه په ترک ددے ئے عذاب وئيلے دے لکه په حديث الرؤيا کښې راځي چه قاري د قرآن ته عذاب ورکولے شو، سر به ئے ورله په کاڼړي چخني کولو، پدے وجه چه د ورځې به ئے پرے عمل نۀ کولو او د شپے به ئے پرے قيام نۀ کولو۔ نو په ترک د تهجدوئے عذاب ورکړيدے۔ په ترک د نوافلو هم کله عذاب وي او دا د الله د حق د وجه نه وي۔ ځکه الله ته دا حق حاصل دے چه د بنده نه تپوس اُوکړي چه ولے دے غفلت کښې شپے تيرولے۔
دارنګه څوک چه دا نۀ کوي نو شيطان د هغه په غوږونو کښې مُتيازے کړے وي۔
نبي ﷺ او صحابه کرامؓ به سفراً او حضراً نۀ پريخودل او عام سنن ئے پريخي دي۔
او حديث د مسلم کښې دي : تپوس اُوشو؟ (اى الصلاة افضل بعد المكتوبة ؟ قال صلاة الليل) (د فرض مانځه نه پس کوم مونځ بهتر دے؟ وے فرمايل : د شپے مونځ) لهذا دا حديث او دا دلائل واضح دلالت کوي چه تهجد د عامو سننو په نسبت ډير مؤکد سنت دي۔ (ابن کثير سورة الاسراء) (الاقناع ۹۷/۱) الشرح الكبير (۷٦۳/۱) الفروع لابن مفلح (۳۱۳/۳)

آيا تهجد په نبي ﷺ او په امت فرض وو ؟

بيا اختلاف دے چه په نبي ﷺ او اُمت باندے دا فرض وو او که نۀ وو؟ :
۱- اوله رأيه دا ده چه په نبي ﷺ او امت دواړو دپاره واجب وو بيا ئے وجوب منسوخ شو په آيت ﴿ وَمِنَ الَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهِ نَافِلَةً لَكَ ﴾ باندے۔ او په ﴿ عَلِمَ اَنْ سَيَكُوْنُ مِنْكُمْ مَرْضٰى ﴾ (المزمل)۔لهذا اُوس مستحب دي۔
۲- امام شافعي رحمه الله د (فاقرأوا ما تيسر من القرآن) په ضمن کښې استدلال کړيدے چه د رسول الله ﷺ د سنتو نه صرف همدا ثابت دي چه د پنځومونځونو نه علاوه هيڅ مونځ فرض نۀ دے۔ لکه حديث کښې دي : (خمس صلوات افترضهن الله)

۳- دریمه رأیه دا ده چه د اُمت په حق کښې د تهجدو د مانځه وجوب منسوخ شو او د نبی ﷺ په حق کښې ئې وجوب باقی پاتې شو۔ او دې قول ته ابونصر القشیریؒ مشهور وئیلې دې۔ (تفسیر القرطبی سورة المزمل)

حسن بصریؒ او ابن سیرینؒ فرمائی: «دا فرض دی اگرکه د گډې د لشلو په مقدار وخت وی»۔ (تفسیر القرطبی وابن کثیر)

علامه شوکانیؒ فرمائی: راجح دا ده چه د قیام اللیل وجوب د نبی ﷺ او د هغه د تول اُمت نه منسوخ شویدې۔ او ددې دلیل د صحیحینو هغه حدیث دې چه په هغې کښې یو سائل د نبی ﷺ نه تپوس اُوکړو چه آیا پنځو مونځونو نه علاوه په ما باندې نور کوم مونځ فرض شته؟ نو نبی ﷺ جواب ورکړو چه نهٔ، مگر دا چه ته نفلی مونځ اُوکړې۔

او د نبی کریم ﷺ نه ددې د وجوب ساقطیدو دلیل د سورة الاسراء آیت (۷۹) ﴿وَمِنَ الَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهٖ نَافِلَةً لَّكَ﴾ (د شپې په وخت کښې تهجد مونځ کوه چه دا به ستا دپاره نفل مونځ وی) (تفسیر فتح القدیر للشوکانی (۳٤٤/۷) وتفسیر تیسیر الرحمن (۱٦٦۱) للشیخ لقمان۔ او همدا خبره راجحه ده۔

بیا دلته درې بابونه دی اول باب کښې احکام بیانوی۔ ۲- دویم باب کښې قیام اللیل د پاڅیدو وخت کښې ذکرونه او آداب بیانوی او دریم باب کښې فضائل او ترغیبات د تهجدو بیانوی۔ او پدې قیام اللیل باندې علماؤ کتابونه لیکلی دی۔ ۱- قیام اللیل د ابن نصر المروزیؒ ۲- رهبان اللیل۔ ۳- کتاب التهجد للبخاریؒ ٤- التهجد وقیام اللیل لابن ابی الدنیا متوفی (۲۸۱ هـ)۔ ۵- فضل قیام اللیل والتهجد للآجری۔ ٦-بغیة المتطوع فی صلاة التطوع لمحمد بن عمر بن سالم بازمول (۱٤۱۳ هـ) ۷- دارنگه کتاب التهجد للاندلسی۔

الفصل الاول

۱- عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يُصَلِّيْ فِيْمَا بَيْنَ أَنْ يَّفْرُغَ مِنْ صَلَاةِ الْعِشَاءِ إِلَى الْفَجْرِ إِحْدٰى عَشْرَةَ رَكْعَةً، يُسَلِّمُ مِنْ كُلِّ رَكْعَتَيْنِ، وَيُوْتِرُ بِوَاحِدَةٍ، فَيَسْجُدُ السَّجْدَةَ مِنْ ذٰلِكَ قَدْرَ مَا يَقْرَأُ أَحَدُكُمْ خَمْسِيْنَ آيَةً قَبْلَ أَنْ يَّرْفَعَ رَأْسَهٗ. فَإِذَا سَكَتَ الْمُؤَذِّنُ مِنْ صَلَاةِ الْفَجْرِ، وَتَبَيَّنَ لَهُ الْفَجْرُ، قَامَ فَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ خَفِيْفَتَيْنِ، ثُمَّ اضْطَجَعَ عَلٰى شِقِّهِ الْأَيْمَنِ حَتّٰى يَأْتِيَهُ الْمُؤَذِّنُ لِلْإِقَامَةِ، فَيَخْرُجَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: عائشه رضی الله عنها فرمائی: نبی ﷺ به د ماسخوتن مانځه د فراغت نه تر صبا راختلو پورے یولس رکعاته مونځ کولو، هر دوه رکعاتو نه پس ئے سلام اړولو او یو رکعت وتر به ئے کولو، نو یوه سجده به ئے ددے نه دومره اندازه (اُوږده) کوله لکه یو تن چه د سر پورته کولو نه مخکښ پنځوس آیتونه لولی، بیا کله چه به موذن د صبا د اذان وئیلو نه غلے شو او صبا به راخکاره شو نو پابه څیدو مختصر شان دوه رکعاته (سنت) به ئے اُوکړل، بیا به په ښی اړخ باندے ددهٔ اُولګوله تردے چه مؤذن به ورته د اقامت دپاره راغلو (یعنی د تکبیر د اجازت حاصلولو دپاره) نو نبی ﷺ به مانځه دپاره (مسجد ته) تشریف راوړو۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)۔

تشریح: - **فوائد الحدیث**: ۱- کان د دوام دپاره نهٔ دے بلکه اکثریت دپاره دے۔ ځکه چه بل روایت د عائشهؓ کښی دیارلس رکعاته هم راغلی دی۔ ۲- یو سړے د شپے نشی راپاڅیدلے او د ماسخوتن نه بعد نوافل اُوکړی نو ددهٔ هم د تهجدو اَجر کیږی۔

۳- عجیبه فائده دا ده چه خلق وائی نبی ﷺ شل تراویح کړیدی او دا یولس رکعاته ئے تهجد کړیدی او مفتی رشید احمد ددے خبرے صِفت کوی چه دا فرق خلقو نهٔ دے پیژندلے۔ (فتاوی رشیدیه)۔ **الجواب**: دے حدیث نه خو دا ثابت شو چه نبی ﷺ د ماسخوتن نه سحر پورے یولس رکعاته کړیدی او دا د نبی ﷺ عام عادت وو نو که ته ورته تهجد وہے او که قیام اللیل نو که څوك زیات ثابتوی نو دے دلیل پیش کړی چه شل ئے بیل اُوکړل او تهجد ئے یولس اُوکړل۔ او دا تر قیامته پورے نشی راوړلے باذن الله۔

د نفل څلور رکعاتو نیت تړل جائز دی خو بهتر نه دی

۴- یسلم نه معلومیږی چه څلور رکعاته نیت تړل هم جواز لری لیکن افضل دا ده چه دوه دوه جُدا جُدا اُوکړی لهذا کوم خلق چه دا وائی چه دا بدعت دے نو دا صحیح نهٔ ده۔ لکه ابن قدامه په مغنی (۷۹۶/۱) کښی لیکی: «د شپے تطوع او نوافل صرف دوه دوه جائز دی او دا قول د اکثرو اهل علمو دے او استدلال کوی په صلاۃ اللیل مثنیٰ مثنیٰ روایت باندے الخ» نو دا خبره ئے خطاء ده ځکه چه د مثنیٰ مثنیٰ معنیٰ خو دا نهٔ ده چه څلور او زیات په یو سلام کول ناجائز دی۔ بلکه د نبی ﷺ نه زیادت هم نقل دے۔ ابن نصر المروزیؒ په قیام اللیل (۱۲۷) کښی فرمائی: دوه دوه رکعاته کول مستحب دی او واجب نهٔ دی ځکه چه نبی ﷺ پنځه، اُووه او نهه رکعاته په یو سلام هم کړیدی۔ (لکه ددے دلائل به روستو راشی) نو پدے کښی رد دے د احنافو پدے خبره چه وائی: د شپے په

مونځونو کښې د اته رکعاتونه زیادت په یو سلام نهٔ دے جائز۔ امام نوویؒ فرمائی : د شپے او د ورځے په نوافلو کښې جائز ده چه څلور رکعاته په یو سلام اُوکړی۔ شرح مسلم (۲۵۷/۱) او دلیل د ثبوت د څلورو رکعاتو په یو سلام باندے په حدیث د عائشہؓ کښې په صحیحینو کښې راغلے دے۔ (ماکان رسول الله ﷺ یزید فی رمضان ولا فی غیره علی احدیٰ عشرة رکعة یصلی اربعاً فلا تسأل عن حسنهن وطولهن الحدیث) بخاری (۱۵۴/۱) (یعنی نبی علیہ السلام به د څلورو رکعاتو نیت ترلو)۔لکه پدے کښې حدیث کښې ظاهر احتمال همدا دے۔

او ددے نه بله فائده دا معلومیږی چه د نبی او صحابه کرامؓ نه دا نهٔ دی ثابت چه هغوی د وترو نه علاوه په نوافلو کښې په یو سلام د څلورو نه زیاتو نیت ترلے وی مگر صرف د ابوذر نه بیهقی (۴۸۹/۲) او دارمی (۳۴۱/۱) نقل کړیدی چه هغهٔ ډیر رکعاتونه اُوکړل، د سلام نه روستو ترے احنف بن قیس رحمه الله تپوس اُوکړو، تا څو رکعاته اُوکړل، جفت وو که تاک؟ هغهٔ اُوفرمایل : کهٔ ما ته پته نهٔ وی نو الله ته خو پته شته۔ ما د خپل خلیل ابوالقاسم ﷺ نه اَوریدلی دی چه نشته یو بنده چه د الله دپاره سجده اُوکړی مگر الله به د هغهٔ درجه اُوچتوی او په هغے سره به د هغهٔ گناه ختموی (وسنده صحیح) کما فی ارواء الغلیل (۲۰۹/۲) نودا د هغهٔ اجتهاد دے۔ او خصوصی پدے مسئله ئے حدیث مرفوع پیش نهٔ کړو، لهذا پدے سره د امام نوویؒ قول باطل شو کوم چه سید سابقؒ په فقه السنة (۱۶۳/۱) کښې نقل کړیدے چه مطلق نوافلو کښې د هرڅومره رکعاتو نیت ترل جائز دی اگرکه زر رکعاته وی۔ دا خبره ځکه خطاء ده چه نفل عبادت دے او مبنیٰ د عبادت په توقیف ده او نبی علیه السلام داسے عمل چرته هم نهٔ دے کړے۔ والله اعلم۔

مستقل یو رکعت وتر جائز دے

۵- یُوْتِرُ بِوَاحِدَةٍ : ددے نه ثابته شوه چه مستقل یو رکعت وتر کول هم سنت کښې راغلی دی۔ لکه مصنف عبد الرزاق او ابن ابی شیبه وغیره کښې دی : عثمان بن عفان او تمیم الداری په یو رکعت کښې قرآن کریم ختم کړے وو۔ او حدیث (نَهٰی رسول الله ﷺ عن البُتَیْرَاء) د عثمان بن محمد بن ربیعه متکلم فیه راوی په وجه ضعیف دے۔ابن القطان وائی : دده په حدیثو باندے وَهُم غالب دے۔ او که اُومنو چه ثابت دے نو بیا ددے صحیح معنیٰ هم شته چه بُتَیْرَاء هغه مونځ دے چه رکوع او سجده او تعدیل د ارکانو په کښې اُونهٔ شی۔ او دا حدیث د عائشہؓ صریح دلیل دے په فصل د یو رکعت د دوه رکعاتو نه ځکه مخکښې «یسلم من کل رکعتین» ذکر شو او «یوتر بواحدة» مستقل حکم شو۔

لهذا دغه ضعیف حدیث ددے قوی حدیث معارض نشی گرځیدے۔ نو پدے سره د طحاویؒ د خبرے غلطیدل واضح شو چه هغه وائی: ددے یو رکعت نه مراد هغه دے چه ماقبل دوه رکعاتو سره پیوسته وی، لهذا دا هسے تشه دعوه ده او هیڅ دلیل پرے نشته بلکه دلیل ددے په خلاف دے چه تا اُوپیژندو۔

او مزید تفصیل به روستو باب الوتر کښ راشی ان شاء الله۔

فَيَسْجُدُ السَّجْدَةَ : ددے نه مراد هغه سجده ده چه په مانځه کښ دننه وی یعنی دغه اُوه دوه رکعاتونو کښ به ئے سجده هم دومره اُوګده کوله۔ او د وترو نه روستو مستقله یوه سجده کول ترے ندی مراد لکه چه دا فهم امام نسائیؒ کړیدے۔

ثُمَّ اضْطَجَعَ : دا ډډۀ به ئے په کور کښ لګوله، د ډډۀ لګولو یوه فائده دا ده چه د قیام اللیل د تَعَب او ستړی والی نه استراحت اُوکړی او فرضو ته په نشاط او رغبت سره تیار شی۔ یا دا چه د نفل او فرضو ترمینځ فاصله راشی په ډډۀ لګولو سره۔

۲– وَعَنْهَا، قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا صَلَّى رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ، فَإِنْ كُنْتُ مُسْتَيْقِظَةً حَدَّثَنِي، وَإِلَّا اضْطَجَعَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او عائشه رضی الله عنها فرمائی: نبی ﷺ به چه کله د سحر دوه رکعاته (سنت) اُوکړل، نو که زۀ به بیداره وم، ما سره به ئے خبرے کولے او که زۀ به اُوده وم نو ډډۀ به ئے اُولګوله۔ (مسلمؒ)

تشریح: ظاهر دا ده چه کله به نبی ﷺ د عائشےؓ سره د سنتو نه روستو خبرے اترے اُونکړے نو بیا به ئے ډډۀ لګوله او کله چه به ئے هغے سره خبرو کښ ځان مشغول کړو نو بیا به ئے دا ډډۀ نۀ لګوله لکه دے خبرے ته امام بخاریؒ او ابن خزیمهؒ میلان کړیدے۔ ځکه چه ابن خزیمه داسے ترجمة الباب لګولے دے (الرخصة فی ترك الاضطجاع بعد ركعتی الفجر) و پدے کښ رد دے په بعض صوفیه ؤ باندے چه وائی: د سحر د سنتو نه روستو به خبرے نۀ کوی۔ او کوفیان ئے هم مکروه ګنړی۔ (قاضی عیاضؒ)۔ او دا خبره یاد لره چه ددے نه فضول خبرے نۀ دی مراد بلکه مباحے د ضرورت خبرے مراد دی۔

او ددے نه بعض علماؤ استدلال کړیدے چه دا ډډۀ لګول سنت نۀ دی۔

لیکن **جواب** دا دے چه کله کله پریخودلو نه استدلال په عدم استحباب باندے صحیح نۀ دے۔

د سحر سنتو نه روستو اضطجاع (ډډه لګول) څه حکم لري؟

۱- شوافع او حنابله، فقهاءِ سبعه، او يو جماعة د صحابهٔ کرامؓ فرمائي: دا ضَجُعَه سنت ده لکه څنګه چه حديث کښې راغلے ده. ۲- احناف او امام مالك وائي سنت نهٔ ده بلکه مباح ده، که د استراحت دپاره وي نو جواز لري او که د عبادت په طور وي نو صحيح نهٔ ده. بلکه دا د نبي ﷺ عادتي طريقه وه د استراحت دپاره به ئے کوله.

۳- ابن حزمؒ په کښې غلو کړيده چه دا ډډهٔ لګول فرض دي او بغير ددے نه صلاة الفجر نهٔ صحيح کيږي. دليل دا وائي: چه د ابو هريرةؓ مرفوع حديث کښې نبي ﷺ پدے امر کړيدے: (اذا صلى احدكم الركعتين قبل الصبح فليضطجع على يمينه) المحلى بالآثار ۱۹٦/۳) طرح التثريب (۳۱۵/۳) او امر خو د وجوب دپاره دے.

٤- **قول رابع**: د بعضِ سلفو رأيه دا ده چه کور کښې مستحب ده او مسجد کښې نهٔ ده پکار ـ او دا د ابن عمرؓ نه نقل دے. او د هغهٔ نه دا ثابت دي چه په مسجد کښې به چا دا ډډهٔ لګوله نو هغه به ئے په کاڼړو ويشتو. (ابن ابی شيبة - سبل السلام ۲۵۵/۲) المرعاة (۱٦٦/٤)

۵- **قول خامس**: که د شپے تهجد ئے کړي وي نو بيا دا ډډهٔ مستحب ده او که تهجد ئے نهٔ وي کړي نو د سحر سنتو نه پس صحيح نهٔ ده. او دا قول د ابن عربيؒ دے.

٦- **بعض** ورته بدعت وائي، او دا د ابراهيم نخعيؒ نه نقل دي چه هغه به ديته ضَجُعَةُ الشيطان وئيله. او دغهٔ شان ابن مسعودؓ ته هم منسوب دي چه هغه به دا بده ګڼړله (طرح التثريب ۳۱۷/۳) حافظ ابن حجرؒ فرمائي: ابن مسعودؓ څکه بده ګڼړله چه هغه ته ددے په امر باندے حديث نهٔ وو رسيدلے، يا دا چه هغهٔ ددے د وجوب او لزوم نه منکر وو لکه څنګه چه د هغهٔ آخر د کلام پدے دلالت کوي لکه هغهٔ فرمائي: (ما بال الرجل يَتَمَعَّكُ كَمَا يَتَمَعَّكُ الدابة والحمار، اذا سَلَّمَ فَقَدْ فَصَلَ) (فتح البارى ۱۵۳/٤)

(يعني څهٔ وجه ده چه يو سړے د خر او حيوان په شان په زمکه ارغړي بلکه کله چه سلام اُوګرځوي نو بس جدائي راغله (د سنت او فرضو ترمينځ) او ابن عمرؓ ته هم حديث نهٔ وو رسيدلے څکه هغهٔ په ابو هريره باندے تعجب کولو او دا به ئے فرمايل (اکثر ابو هريرة على نفسه) (ابو هريره ډير حديثونه بيانوي) ليکن ابو هريره چه پدے خبره خبر شو نو وے فرمايل: چه دے کښې زما څهٔ نقصان چه دوي نه هير شوي دي او ما ياد کړي دي.

(صحيح ابی داود :۱۱۲۳)

پدے کښې **راجح قول** دا دے چه دا سنت طريقه ده د (فليضطجع) امر د استحباب دپاره

دي۔ ځکه نبي ﷺ کله نا کله پريښي هم ده۔لکه دا حديث الباب د مسلم شو۔ او دا امر مطلق دے مسجد او کور دواړو ته شامل دے۔ نو بس کوم ځائے کښې چه د سحر سنت اُوکړي هلته دے اضطجاع هم لګوي۔ که کور کښې ئے سنت اُوکړل هلته دے لګوي او که مسجد کښې ئے اُوکړل نو مسجد کښې دِ ډډه لګوي او د نبي ﷺ نه چه دا نه دي نقل چه هغه مسجد کښې کړي وي نو ددے وجه دا ده چه هغه به دا سنت په کور کښې کول لهذا هلته به ئے ډډه هم لګوله۔

(راجع تحفة الاحوذى ١/٤٥٨ والمرعاة ٤/١٦٦) (بغية المتطوع ص ٨/١)

دارنګه اصحاب صفه مسجد کښې اُوسيدل هغوی به په مسجد کښې عمل کولو كما في حديث ابی هريره۔

نبی علیه السلام دوه قسمه ډډه لګولے ده

ليكن دا خبره اُوپيژنه چه نبي عليه السلام دوه قسمه ډډه لګولے ده : ١– يو د وترو نه بعد او دا په بعض احاديثو کښې راغلے ده نبي ﷺ اَحياناً کړيده، ددے وجه نه عام احاديثو کښې ددے بيان نشته۔ په بخاری (١/٣٠) و (١/١٣٥) باب الوتر کښې راغلے ده : په روايت د ابن عباس کښې : (فصلى ركعتين ثم ركعتين ثم ركعتين ثم ركعتين ثم ركعتين ثم اوتر ثم اضطجع حتى اتاه المؤذن فقام فصلى ركعتين خفيفتين ثم خرج فصلى الصبح)

نو دا دليل دے چه د وترو نه بعد ئے دا ډډهٔ لګولے ده د استراحت دپاره)

وكذا في رواية عائشة عند مسلم (١/٢٥٣)

٢– دويمه ډډهٔ د سنة الفجر نه روستو ده او پدے باره کښې ډير اَحاديث راغلي دي۔ او دغه مخکښے اختلاف هم پدے کښې دے۔ او دا پدے حديث الباب کښې هم ذکر ده او دے روستو روايت کښې هم راځي۔ او پدے باره کښې دا وئيلے شي چه دا مستحب ده او په عام اوقاتو کښې ئے کول پکار دي مګر کله نا کله د سنت او فرضو ترمينځ په خبرو اَترو او ذکر اذکار سره هم فصل راوستل جائز دي۔او ددے تفصيل په فتاوى الدين الخالص (٥/٢٩٤) کښې هم اُوګوره۔

٣– وَعَنْهَا، قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ اِذَا صَلّٰى رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ اضْطَجَعَ عَلٰى شِقِّهِ الْاَيْمَنِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی : نبی ﷺ به چه کله د سحر دوه رکعاته (سنت) اُوکړل نو په ښي طرف به ئے ډډهٔ اُولګوله۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : د عـائشےؓ نه دا اِضطجاع دوه قسمه نقل ده نو ددے وجه نه بعض علماؤ وئيلى دى چه اوّلـه اضـطجاع راجحه ده۔ ليكن شوكانىؒ فرمائى : چه دا خبره مُسلم نهٔ ده، بلكه خبره برعكس ده۔ مگر صحيح دا ده چه دواړه بيل بيل محلونه دى او د يو بل نفى پكښ نشته۔ او عائشےؓ دواړه عملونه د نبى ﷺ نقل كړيدى۔

بيا پـه ښى طرف باندے ئے ځكه ډډهٔ لگوله چه گس طرف باندے اُوده كيدو سره انسان باندے مستغرق (ژور) خوب راځى ځكه زړه په گس طرف كښ دے كله چه انسان په گس طرف پريوزى نو زړه ته راحت ملاؤ شى او كله چه په ښى طرف وى نو زړه زوړند وى، نو انسـان مسـتـغرق خوب نهٔ كوى۔ ليكن نبى ﷺ ددے نـه مستثنىٰ دے ځكه د هغهٔ زړه د سترگو په اُودهٔ كيدو نهٔ اُوده كيدو۔

او دا حـديث دليل دے چه د سنتو د صبا نه روستو دا قسم ډډهٔ وهل مستحب دى۔ او ددے نـه مسـجـد تـه تلل نهٔ كافى كيږى۔ لكه ابو هريره ؓ چـه كـله مرفوع حديث ذكر كړو چه په هغے كښ امر وو په اضطجاع باندے نو مروان بن الحكم ورته اُووئيـل : آيا مسجد ته تلل د يو تـن دپاره نهٔ كافى كيږى ترديے چه دا په ښى طرف ډډهٔ اُولگوى؟ (مقصد دا چه فصل د سنت او فـرضـو خـو پدے هم راځى چه كور كښ سنت اُوكړه او بيا منسجد ته روان شه) نو ابو هريره اُوفرمايل : نهٔ۔ (فتح البارى) (صحيح ابى داود (١١٢٣) ١/٢٣٥ بسند صحيح)

---

٤ – وَعَنْهَا، قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً، مِنْهَا الْوِتْرُ، وَرَكْعَتَا الْفَجْرِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او عـائشه رضى الله عنها فرمائى : نبى ﷺ به د شپے نه ديارلس ركعاته مونځ كولو، ددے نه به وتر او دوه ركعاته د صبا وو۔

تشريح : ددے روايت د مـاقـبـل روايـت د عـائشےؓ سره منافات نشته ځكه دلته ورسره د سحر سنت هم شامل شويدى نو ديارلس شويدى او مخكښ يولس ذكر وو۔

د رسول الله ﷺ د شپے د مانځه مختصر كيفيات

پدے حـديث كښ د شپے د مانځه بعض كيفيات ذكر دى چه دا ټول كيفيات تقريباً (٢٢) دى چه ديارلـس كـيفيات عـلامـه ابـن حزمؒ په المحلى (٢/٨٠،٨٤) كښ ذكر كړيدى او حـافظ ابن قيمؒ اُووه ذكر كړيدى او دا د تنوع د عبادت د قبيلے نه دى مسلمان مُتبع السنة له پـكـار دى چـه علىٰ حسب الاحوال پدے ټولو عمل اُوكړى۔ كوم چه ډير شوى وى هغه ډير

اُوکړی او کوم چه کم شوی وی هغه کم اُوکړی۔ چه هغه تفصیلًا په فتاوی الدین الخالص (٥/ ٤٧٩) کښې ذکر دی مختصر دا دی:

۱-دیارلس رکعاته کول، په هر دوه رکعاتو سلام اَړول، او یو رکعت وتر کول (عن ابن عباس: بخاری (۱/ ۳۰) و (۱/ ۱۵٥) کتاب التهجد وابوداود (۱/ ۱۳۹)

۲- یو لس رکعاته کول په هر دوه رکعاتو سلام اَړول او یو رکعت وتر کول۔ نو لس تهجد او یو وتر شو۔ (مسلم (۱/ ۲٥٤ بروایة عائشة)

۳-اته رکعاته کول په هر دوه رکعاتو سلام بیا پنځه رکعاته وتر په یو سلام کول او مینځ کښې قعده نهٔ کول۔ نو د وترو سره دیارلس رکعاته شو (نسائی ۱/ ۲٥۰) بروایة عائشة) المحلی (۱/ ۸۲)۔

٤- یولس رکعاته کول څلور څلور په یو یو سلام او درے وتر کول۔ (بخاری ۱/ ۱٥٤) بروایة عائشة)

٥-دیارلس رکعاته کول هر دوه رکعاته پس سلام او آخر کښې درے رکعاته وتر)

٦- اته رکعاته تهجد په هر دوه رکعاتو سلام اړول او آخر کښې درے رکعاته وتر۔

۷-شپږ رکعاته کول او بیا درے وتر۔ ۸- څلور رکعاته کول او درے وتر۔ ددے دلیل ابوداود (۱/ ۱٦۲) برقم (۱۲۱٤) کښې دے د مشکاة باب الوتر یولسم (۱۱) حدیث دے۔ اُوګوره (عن عبد الله بن ابی قیس قال: قلت لعائشة بکم کان رسول الله ﷺ یوتر به (ای یتهجد ؟ قالت: باربع وثلاث، وست وثلاث وثمان وثلاث وعشر وثلاث الحدیث) وسنده صحیح)

۹- نه رکعاته په یو سلام کول او په اتم رکعت قعده کول او حمد او دعاء ګانے وئیل بیا بغیر د سلام اړولو نه نهم رکعت ته پاڅیدل او بیا کیناستل او حمد وئیل او سلام اړول۔ بیا دوه رکعاته په ناسته یا په ولاړه کول۔ (مسلم ۱/ ۲٥٦ بروایة عائشة)

۱۰- اُووه او دوه رکعاته کول۔ (مسلم ۱/ ۲٥٦- عن عائشة)

۱۱- صرف اُووه رکعاته په یوه قعده او یو سلام کول او نور هیڅ نهٔ کول۔

۱۲-اووه رکعاته کول او په شپږم رکعت قعده کول بیا تشهد او دعاء وئیل بیا اُووم رکعت ته پاڅیدل بیا کیناستل او سلام ګرځول۔ او بیا دوه رکعاته په ناسته کول۔

(نسائی ۱/ ۲٥۰ عائشة)

۱۳-اته رکعاته کول او یو رکعت وتر۔ (بخاری ۱/ ۱۳٥) مسلم (۱/ ۲٥۷) ابن عمر)

۱٤- شپږ رکعاته کول په هر دوه رکعاتو سلام اړول او یو وتر کول۔ (المصدر السابق)

۱٥-د ماسخوتن مانځه نه پس څلور رکعاته کول بیا اُوده کیدل بیا د شپے راپاڅیدل او

پنځه رکعاته په يو سلام او يوه قعده کول بيا آخر کښې دوه رکعاته کول۔
(بخاري ٢٢/١ – ابن عباس)

١٦– څلور رکعاته کول، هر دوه رکعاته پس سلام اړول او يو وتر کول۔ (بخاري ١٣٥/١) (٢٥٧/١)

١٧–پنځه رکعاته په يوه قعده او يو سلام فقط۔ (نسائي ٢٥٠/١ ابوداود ١٣٣٨ عائشة)

١٨–ماسخوتن نه پس اُوده کيدل بيا راپاځيدو سره مسواك وهل او (ان في خلق السموات) (سورهٔ آل عمران آخري رکوع) لوستل بيا دوه رکعاته کول قيام، رکوع او سجده پکښې ښهٔ اُوږدهٔ کول، بيا اُوده کيدل بيا پاځيدل دوه رکعاته کول بيا اُوده کيدل بيا دوه رکعاته کول (درې کرتې چه دا شپږ رکعاته شو) بيا درې وتر کول۔ (نو ټول نهه رکعاته شو) (مسلم ٢٦١/١ ابن عباسؓ)

١٩– فقط درې رکعاته کول په دوه رکعاتو سلام ګرځول بيا يو رکعت وتر کول۔
(بخاري ١٣٥/١) مسلم (٢٥٧/١) ابن عمرؓ)

٢٠– درې رکعاته په يوه قعده او يو سلام۔ او ددې تفصيل به راشي ان شاء الله۔

٢١– درې رکعاته په دوه قعدو او يو سلام۔ دا کيفيت په صحيح صريح مرفوع حديث کښې نهٔ دې راغلې۔ لکه ددې بيان به روستو راشي۔

٢٢– صرف يو رکعت وتر کول (مسلمؒ)۔

بيا پدې کيفياتو باندې زيادت کول هم جائز دي۔ لکه څوارلس رکعاته اُوکړې او بيا يو وتر اُوکړې يا شل رکعاته اُوکړې بيا يو وتر يا درې وتر وغيره ۔ ځکه په نفلي مطلق عبادتونو کښې زيادت کول جواز لري او دا خبره بار بار په فوائد الحديث کښې تيره شويده۔

٥– وَعَنْ مَسْرُوْقٍ، قَالَ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ عَنْ صَلَاةِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ بِاللَّيْلِ. فَقَالَتْ: سَبْعٌ، وَتِسْعٌ، وَإِحْدٰى عَشْرَةَ رَكْعَةً، سِوٰى رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: او مسروقؒ فرمائي: ما د عائشےؓ نه د رسول الله ﷺ د شپې د مانځه متعلق تپوس اُوکړو، نو هغې اُوفرمايل: کله به ئے اُووه رکعاته کول او کله به ئے نهه او کله به ئے ديارلس رکعاته کول سِوئ د دوه رکعاتو د سحر نه۔ (بخاريؒ)۔

تعارف د مسروق: مسروق بن الاجدع بن مالك الهمداني الوداعي ابو عائشة الكوفي المدني ثقه فقيه عابد، مخضرم د کبار التابعين نه دے۔ امام شعبيؒ فرمائي : ما

ددهٔ نه ډير طلب ګار د علم نهٔ دے ليدلے، او دا د قاضي شُرَيح نه په فتویٰ ډير پوهه وو۔ او شريح به ددهٔ نه مَشورے اَخستے۔ او مسروق شريح ته نهٔ وو محتاج۔
علي بن المديني فرمائي : د عبد الله بن مسعودؓ په شاګردانو کښې د مسروق نه داسے څوک مقدم نشته چه هغه د ابوبکر صديق پسے مونځ کړے وي۔ دا د عمر فاروق او علي بن ابي طالبؓ سره ملاؤ شويدے او د عثمانؓ نه ئے څه ندي نقل کړي په کوفه کښې په سنه (۶۳ هـ) کښې د (۶۳) کالو په عمر وفات شويدے۔ مسروق ورته ځکه وائي چه دا په وړوکوالي کښې چا پټ کړے وو، بيا پيدا شو۔ او عمر فاروقؓ په خپل ديوان کښې ددهٔ د پلار نوم د اجدع په ځائے عبد الرحمن ايخے وو۔ او دا ئے ورته اوويل چه اجدع خو شيطان دے۔
تشريح : په دے روايت کښې درے کيفيات ذکر شو۔ په (سبع) کښې يو طريقه دا ده چه شپږ رکعاته تهجد په يو سلام او يو وتر اُوکړي۔ ۲- يا شپږ رکعاته په جدا جدا سلام او يو وتر۔ ۳- يا دا ټول وتر دي په يو سلام باندے۔
وَإِحْدٰى عَشْرَةَ رَكْعَةً : دا په يو سلام نشته پدے کښې هم مختلف کيفيتونه جوړيږي : ۱- نهه رکعاته په يو سلام او دوه رکعاته په ناسته۔ يا اته رکعاته نفل درے وتر۔ او باقي کيفيتونه مخکښې اُوګوره۔ او د عائشےؓ مطلب دا دے چه دا په مختلفو حالاتو کښې نبي ﷺ کړيدي۔

۶- وَعَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ لِيُصَلِّيَ افْتَتَحَ صَلَاتَهُ بِرَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او عائشه رضي الله عنها فرمائي : نبي ﷺ به چه کله د شپے مانځه ته راپاڅيدو نو خپل مونځ به ئے په دوه مختصر رکعتونو شروع کولو۔ (مسلمؒ)۔
تشريح : سنت طريقه دا ده چه تهجد په اول کښې لنډول مينځ کښې اُوګدول او آخر کښې بيا مختصر کول، دے دپاره چه په مانځه کښې انسان په نشاط کښې شي او که اول نه اُوګد شروع کړي نو بس په دوه رکعاتو به ستړے شي نور به نشي کولے۔ او دا ترقي من الادنىٰ الى الاعلىٰ ده۔ او دا اولني رکعتونه که د تهجدو نه حساب شي نو بيا ديارلس رکعاته شو او که د هغے نه حساب نهٔ کړے شي نو بيا يولس رکعاته دي نو د عائشےؓ د دواړو خبرو هيڅ تعارض نشته۔ يا په مختلفو احوالو محمول دي۔

۷- وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: «إِذَا قَامَ أَحَدُكُمْ مِنَ اللَّيْلِ، فَلْيَفْتَحِ الصَّلَاةَ

بِرَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمائيلي دي: «كله چه په تاسو كښې يو تن د شپې (تهجدو ته) راپاخيږي نو خپل مونځ دې په دوه مختصر ركعتونو شروع كړي». (مسلمؒ)

تشريح : فَلْيَفْتَحِ: پدې كښې دوه نسخې دي، دا يا (فليفتتح) دے د افتتاح نه په معنیٰ د ابتداء سره. يعني شروع دې كړي. يا (فليفتح) دے د فتح نه په معنیٰ د كولاوولو سره. ليكن اوله نسخه غوره ده ځكه چه هغۀ د مصابيح او د مسلم سره برابره ده. ددے روايت سره په روايت د ابوداود كښې دا زيات دي چه روستو ئے خوښه ده چه څومره ئے اُوږدوي.

لهذا مخكښې حديث كښې عمل وو او پدے كښې ئے قولي حديث سره دا حكم اُوكړو.

٨- وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: بِتُّ عِنْدَ خَالَتِي مَيْمُونَةَ لَيْلَةً، وَالنَّبِيُّ ﷺ عِنْدَهَا، فَتَحَدَّثَ رَسُولُ اللهِ ﷺ مَعَ اَهْلِهِ سَاعَةً، ثُمَّ رَقَدَ، فَلَمَّا كَانَ ثُلُثُ اللَّيْلِ الآخِرُ اَوْ بَعْضُهُ قَعَدَ، فَنَظَرَ إِلَى السَّمَاءِ فَقَرَأَ: ﴿إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيٰتٍ لِّأُولِي الْاَلْبٰبِ﴾ حَتّٰى خَتَمَ السُّوْرَةَ، ثُمَّ قَامَ اِلَى الْقِرْبَةِ فَأَطْلَقَ شِنَاقَهَا، ثُمَّ صَبَّ فِي الْجَفْنَةِ، ثُمَّ تَوَضَّأَ وُضُوْءً ا حَسَنًا بَيْنَ الْوُضُوْءَيْنِ، لَمْ يُكْثِرْ، وَقَدْ اَبْلَغَ، فَقَامَ فَصَلّٰى، فَقُمْتُ وَتَوَضَّأْتُ، فَقُمْتُ عَنْ يَسَارِهِ، فَأَخَذَ بِأُذُنِي فَأَدَارَنِي عَنْ يَمِيْنِهِ، فَتَتَامَّتْ صَلَاتُهُ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً، ثُمَّ اضْطَجَعَ فَنَامَ حَتّٰى نَفَخَ، وَكَانَ اِذَا نَامَ نَفَخَ، فَآذَنَهُ بِلَالٌ بِالصَّلَاةِ، فَصَلّٰى، وَلَمْ يَتَوَضَّأْ. وَكَانَ فِيْ دُعَائِهِ: «اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ فِيْ قَلْبِي نُوْرًا، وَفِيْ بَصَرِيْ نُوْرًا، وَفِيْ سَمْعِيْ نُوْرًا، وَعَنْ يَمِيْنِيْ نُوْرًا، وَعَنْ يَسَارِيْ نُوْرًا، وَفَوْقِيْ نُوْرًا، وَتَحْتِيْ نُوْرًا، وَاَمَامِيْ نُوْرًا، وَخَلْفِيْ نُوْرًا، وَاجْعَلْ لِّيْ نُوْرًا، — وَزَادَ بَعْضُهُمْ —: وَفِيْ لِسَانِيْ نُوْرًا — وَذَكَرَ — : وَعَصَبِيْ وَلَحْمِيْ وَدَمِيْ وَشَعْرِيْ وَبَشَرِيْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِيْ رِوَايَةٍ لَهُمَا: «وَاجْعَلْ فِيْ نَفْسِيْ نُوْرًا، وَاَعْظِمْ لِيْ نُوْرًا. وَفِيْ أُخْرٰى لِمُسْلِمٍ: «اَللّٰهُمَّ أَعْطِنِيْ نُوْرًا».

ترجمه : او ابن عباس ﷺ فرمائي: (يو ځل) ما د خپلے ترور (ماسي) ميمونے رضي الله عنها سره شپه تيره كړه او نبي ﷺ (هم پدے شپه) د هغے سره وو، نو رسول الله ﷺ د خپل كور والا سره څۀ وخته پورے خبرے اُوكړے بيا اُوده شو، كله چه د شپے آخري دريمه

حصه یا ددیے نه کمه حصه پاتے شوه، نو راپاڅیدو او آسمان طرف ته ئے اُوکتل او دا آیتونه ئے اُولوستل : (ان فی خلق السموات الخ) (یقیناً په پیدائش د آسمانونو او زمکو او د شپے او د ورځے په بدلولو رابدلولو کښں ډیرے نخے دی د صفا عقلونو والاو دپاره) تردیے چه دا سورت (آلعمران) ئے ختم کړو، بیا یو مشك ته راپاڅیدو نو د هغے خوله بَند ئے راکولاؤ کړو بیا ئے د هغے نه اُوبه په یوه پیاله کښں راواړولے، بیا ئے ښائسته اَودس اُوکړو چه د دوه اَودسونو ترمینځ وو یعنی ډیرے اُوبه ئے استعمال نۀ کړے او کامل اَودس ئے اُوکړو۔ نو پاڅیدو او مونځ ئے اُوکړو، نو زۀ (هم) راپاڅیدم او اَودس مے اُوکړو او د هغۀ گس طرف ته اُودریدم ، نو زما غوږ ئے اُونیولو او ښی طرف ته ئے راتاؤ کړم، نو کله چه د هغۀ دیارلس رکعاته مونځ پوره شو نو بیا ئے ډډۀ اُولگوله، اُوده شو، تردیے چه خراړے ئے اُوکړے او نبی ﷺ به چه کله اُوده شو نو خراړے به ئے کولے، نو بلال ورته د مانځه خبر ورکړو نو مونځ ئے اُوکړو او اَودس ئے اُونۀ کړو (او دعاء ئے اُووئیله) او د هغۀ په دعاء کښں دا الفاظ وو : اللهم اجعل الخ (اے الله ! زما په زړه کښں رنړا واچوے او زما په نظر، په غوږونو کښں رنړا واچوے او زما ښی طرف ته او گس طرف ته او بره او ختکه او لاندے او مخے ته او روستو رنړا واچوے او زما دپاره رنړا مقرر کړے او بعضو پکښں دا الفاظ زیاتی کړی دی: « او زما په ژبه کښں رنړا واچوے» او بعضو راویانو دا الفاظ هم زیاتی کړی دی : (او زما په اَعصابو کښں، زما په غوښه کښں، زما وینه کښں، زما په ویښتو، او زما په ځرمن کښں نُور پیدا کړے (بخاریؒ ومسلمؒ) او د بخاریؒ او مسلمؒ په یو روایت کښں دی : « او زما په نفس کښں نُور پیدا کړے او زما دپاره رنړا لویه کړے » او په یو روایت د مسلمؒ کښں دی : «اے الله ما ته رنړا راکړے»۔

تشریح : قَعَدَ : یعنی رسول الله ﷺ چه د خوب نه رابیدار شو نو کیناستو او د مخ نه ئے خوب په لاسونو سره لرے کولو۔ او په یو روایت کښں دی : اُودۀ شو تردیے چه نیمائی شپه شوه یا هغے ته نزدیے شوه نو رابیدار شو لهذا دا روایت بیا مخالف دے ددیے روایت د کتاب سره۔ پدیے وجه حافظ ابن حجرؒ فرمائی : ددیے جمع به داسے اُوکړے شی چه دا بیداریدل دوه ځل شوی دی، په اول ځل ئے آسمان ته کتلی دی بیا ئے آیاتونه لوستلی دی، بیا بسترے ته واپس شوے دے او اُودۀ شوے دے، او په دویم ځل ئے بیا دغه شان کار کړیدے، بیا ئے اَودس کړے او مونځ ئے کړے، او دا محمد بن الولید د کریب نه هغۀ د ابن عباس نه بیان کړیدی لکه محمد بن نصر نقل کړیدی، او په روایت د صحیحینو کښں دی : رسول الله ﷺ د شپے رابیدار شو حاجت ته راغلو، بیا ئے مخ لاسونه وینځل بیا اُودۀ شو بیا رابیدار شو نو تپکے او مشك ته راغلو الی آخر الحدیث۔ او په روایت د مسلمؒ کښں دی :

(ثم قام قومة اخرى) يعني دوباره راپاخيدو. لهذا تعارض نشته.

فوائد الحديث : ۱- ابن عباس د نبي ﷺ د شپے مانځه معلو مولو دپاره راغلے دے.

۲- د ماسخوتن نه روستو ګپ شپ ناروا دے مګر خپلے ښځے ميلمه وغيره سره اِجازت شته. ځکه دا د دوی حق دے.

۳- د تهجدو دپاره د شپے آخری حصه ډيره بهتره ده، او دا وخت د راکوزيدو د الله دے آسمان د دنيا ته. ٤- نظر الى السماء نه معلو ميږی چه آسمان ته د عبرت په طورکتل عبادت دے. کوم صوفياء چه وائی چه سری سقطی اته نوی کاله آسمان ته نهٔ وو کتلی ځکه دا د حياء خلاف ده (فضائل صدقات د زکريا). نو اَوّل خو دا واقع نهٔ ده ثابته. دويم دا که ثابت شي نو دا د صوفيهٔ عمل دے چه د دين خلاف دے، (اَفَلَايَنْظُرُوْنَ اِلَى الْاِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ وَاِلَى السَّمَاءِ كَيْفَ رُفِعَتْ) دارنګه هلال ته کتل او هغهٔ معلو مول عبادت دے.

او په دے خبرو باندے د اُمت اصلاح نهٔ کيږی. او آسمان ته کتلو او دے آياتو نو کښ فکر کولو نه پس انسان ته يو خاص ايمانی کيفيت حاصليږی.

۵- نبي ﷺ به خپله خدمت کولو بل چا ته ئے دا نهٔ وئيل چه ورشه اُوبه راله واچوه چه اَودس اُوکرم. ٦- شِنَاقَهَا : دا هغهٔ مزے دے چه د مشك او بتکی خوله پرے تړلے شي. يعني خوله بند.

۷- وَلَمْ يُكْثِرْ : يعني په اُوبو لګولو کښ ئے زيادت اُونکړو. او حال دا چه کامل اَودس ئے اُوکړو او ديته ئے بين الوضوئين ځکه اُووئيلو چه اُوبه بالکل معمولي هم نهٔ وے چه په هغے سره صرف اندامونه غوړ شي او ډيرے زياتے هم اُونهٔ لګولے بلکه درميانه کاملے طريقے سره ئے اُودس کړو. او دا ښائسته اَودس دے.

۸- فاخذ باذنی : بل روايت کښ دی چه ښے لاس ئے ورله په سر کيخودو. او غوږ ئے ورله مړلو ، يو خو ددے دپاره چه برکت پکښ پيدا شي دوئم دے دپاره چه خوب ترے اُوتختي. يا ددے دپاره چه په خپله خطائی پو هه شي چه د اِمام ښی طرفته به اُودريږے.

۹- په نفلو کښ هم جماعت جائز دے.

۱۰- حديث دليل دے چه د امام دپاره د اول نه د مقتديانو نيت ضروری نهٔ دے.

۱۱- ثلاث عشرة ركعة : پدے کښ مختلف روايات راغلي دی چه آيا دا ديارلس رکعاته د سحر سنتونه علاوه وو او که د هغے سره وو؟ اکثر رواياتو کښ تصريح ده چه د سحر سنتو نه علاوه ديارلس رکعاته وو.

او بعض رواياتو کښ دی چه يولس رکعاته قيام الليل وو او دوه رکعاته د سحر سنت وو.

نو دا په دوه مختلف حالاتو محمول دى لهذا هيڅ تعارض نشته.

١٢- اَودس ئے پدے وجه اُونكرو چه د نبى ﷺ په خوب باندے اَودس نهٔ ماتيدو ځكه چه د هغه د زړهٔ نه خوب نهٔ وو بلكه صرف سترگے به ئے پټے وے. او دا د هغهٔ خصوصيت دے. (ينام قلبى ولاتنام عينى) او كوم روايت كښ چه د اَودس تذكره راغلے ده.نو وجه دا ده چه دا ئے د تازهٔ گئ او تجديد دپاره كړيدے يا دا چه اَودس ئے كيدے شى په بل څهٔ سبب مات كړے وى.

١٣- اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ فِيْ قَلْبِيْ نُوْرًا : ددے نُور نه مراد بعض وائى : بيان د حق دے او رنړا د حق ده، گويا كښ داسے ئے اُوفرمايل : اے الله! زما دا اَندامونه په حق كښ استعمال كړے او زما اَوريدل او كرځيدل راگرځيدل پدے كښ په حق باندے اُوكړے چه د حق نه يو اندام هم كوږ نهٔ شى. قسطلانىؒ وائى : نورئے په اندامونو او جهاتو كښ طلب كړو دے دپاره چه د هغهٔ په افعال او تصرفات او منقلباتو كښ نور دپاسه نور راشى نو دا دعاء ده په دوام ددے نور ځكه چه نبى ﷺ ته خو دا نُور ضرور حاصل وو يا ئے اُمت ته تعليم وركولو.

٣- ظاهر دا ده چه دا نور په خپل حقيقت بناء دے او د هر اندام خپل خپل نور وى پدے وجه ئے د هر اندام سره د نُور تذكره اُوكړه چه دا ټول اندامونه په طاعاتو كښ استعمال شى او كوم طرف ته چه زهٔ اَوړم نو هغه طرف ته رنړا، هدايت او معرفت او علم وى.

١٤- په حصن المسلم كښ ئے ليكلى دى چه دا دعاء مسجد ته د تلو وخت كښ ده ليكن اصح دا ده چه دا دعاء د سحر سنتو نه روستو ده. او ديته دعاء النور وائى. دا په سجده كښ او په آخر د تهجد كښ او د سحر د سنتو نه روستو لوستلے شى لكه د «ذكر او دعاگانو مستند كتاب» اُوگوره.

تجربه شاهده ده چه څوك دا دعاء توجه سره وائى، الله به ضرور هغهٔ ته په زړهٔ او بدن كښ نُور وركوى او هغهٔ به په خپل ځان كښ بركت مَحسُوس كوى.

١٥- دا حديث دليل دے چه نبى ﷺ بَشر وو نُور نهٔ وو ځكه ځان دپاره نُوّر طلب كوى.

١٦- نبى ﷺ د خوب عادت مبارك دا وو چه په خوب كښ به ئے خراړے (غطيط) كول ځكه چه خراړے كول د ساه اخستو په لارو كښ د كولاو والى او د قوائے جسمانى په صحت او صفائى باندے علامه ده، او نبى ﷺ كښ لكه څنگه چه روحانى او باطنى طور سره كمال موجود وو نو دغه شان ظاهرى طور سره هم د انتهائى صحت مند، قوى او مضبوط بدن مالك وو.

٩- وَعَنْهُ، اَنَّهُ رَقَدَ عِنْدَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ، فَاسْتَيْقَظَ، فَتَسَوَّكَ، وَتَوَضَّأَ وَهُوَ يَقُوْلُ: ﴿اِنَّ فِيْ

خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ......﴾ حَتّٰى خَتَمَ السُّوْرَةَ، ثُمَّ قَامَ فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ أَطَالَ فِيْهِمَا الْقِيَامَ وَالرُّكُوْعَ، وَالسُّجُوْدَ، ثُمَّ انْصَرَفَ فَنَامَ حَتّٰى نَفَخَ، ثُمَّ فَعَلَ ذٰلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ سِتَّ رَكْعَاتٍ، كُلُّ ذٰلِكَ يَسْتَاكُ وَيَتَوَضَّأُ وَيَقْرَأُ هٰؤُلَاءِ الْآيَاتِ، ثُمَّ أَوْتَرَ بِثَلَاثٍ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او د ابن عباس ﷺ نه روايت دے چه (يوه شپه) هغهٔ د رسول الله ﷺ سره اُوده شو (نو هغهٔ وئيلي دي چه) رسول الله ﷺ بيدار شو، مسواك ئے اُووهلو او اَودس ئے اُوكړو او بيا ئے دا آيت اُولوستلو (ان فى خلق السموات والارض......) تردے چه سورة ئے ختم كړو، بيا پاڅيدو او دوه ركعاته مونځ ئے اُوكړو چه په هغے كښې ئے قيام، ركوع او سجده اُوږدهٔ اُوكړل، بيا ئے سلام اُوګرځولو، نو اُوده شو تردے چه خراړے ئے اُوكړے، بيا ئے دغه شان درے كرته اُوكړل (يعنى دوه ركعاته ئے اُوكړل او اُودهٔ شو بيا ئے دوه ركعاته اُوكړل او اُودهٔ شو) نو شپږ ركعاته ئے اُوكړل، پدے ټولو كرتونو كښې به ئے مسواك وهلو او اَودس به ئے كولو او دا آيتونه به ئے لوستل بيا ئے درے ركعاته وتر اُوكړل. (مسلمٌ).

تشريح: ددے حديث نه معلوميږى چه دا دعاء په اوداسه كښې دننه هم وئيلے شي خاصكر زمونږ ددے زمانے تهجد خو دومره اُوګد وخت نهٔ وى چه دے آيتونو له بيل وخت وركړى.

او پدے كښې د نبى ﷺ قوت بدنى معلوميږى چه درے كرت د شپے بيداريدل او اُودهٔ كيدل دا كار هر هغهٔ څوك كولے شي چه قوى بدن لرى، ضعيف البدن انسان چه دوه ځل د شپے بيدار شي نو بيا ئے عبادت كښې دومره مزهٔ نهٔ وى. او د ورځے هم بے سُوره وى. او سحر مانځه ته هم نشي پاڅيدلے.

پدے روايت كښې د وترو د درے ركعاتو تذكره راغلے نو حنفى شراح لكه صاحب د مظاهر حق (١/ ٧٨٠) زر اُوليكل چه د امام ابوحنيفةؒ مسلك ثابت شو چه وتر درے ركعاته دى. ليكن دے كښې دا بيان نشته چه په څو سلامونو اُوشو او قعده پكښې شوے ده او كهٔ نهٔ نو دا د نورو رواياتو نه معلومه ده چه درے يا په يو سلام بغير د قعدے نه شويدى، يا په دوه سلامونو سره شويدى. او د نبى ﷺ نه درے ركعاته په دوه قعدو او يو سلام بالكل نهٔ دى ثابت. لهذا د احنافو استدلال ترے تمام نهٔ دے او ددے تفصيل روستو باب الوتر كښې راروان دے. ان شاء الله.

---

١٠ – وَعَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ، أَنَّهُ قَالَ: لَأَرْمُقَنَّ صَلَاةَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ اللَّيْلَةَ، فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ خَفِيْفَتَيْنِ، ثُمَّ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ طَوِيْلَتَيْنِ طَوِيْلَتَيْنِ طَوِيْلَتَيْنِ، ثُمَّ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ وَهُمَا

دُوْنَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا، ثُمَّ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ وَهُمَا دُوْنَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا، ثُمَّ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ وَهُمَا دُوْنَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا، ثُمَّ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ وَهُمَا دُوْنَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا، ثُمَّ أَوْتَرَ، فَذٰلِكَ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً. رَوَاهُ مُسْلِمٌ. قَوْلُهُ ثُمَّ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ هُمَا دُوْنَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا اَرْبَعَ مَرَّاتٍ، هٰكَذَا فِيْ «صَحِيْحِ مُسْلِمٍ»، وَأَفْرَادِهِ مِنْ كِتَابِ «الْحُمَيْدِيِّ»، وَ«مُوَطَّأ مَالِكٍ»، وَ«سُنَنِ اَبِيْ دَاوٗدَ» و«جَامِعِ الْاُصُوْلِ».

ترجمه: او زيد بن خالد جهني ﷺ اُوفرمايل (ما يو ځل اراده اُوکړه چه): زهٔ به نن شپه د رسول الله ﷺ د (شپې) مونځ گورم، نو (ما اُوليدل چه) هغهٔ دوه مختصر رکعاتونه اُوکړل، بيا ئې دوه اُوږدهٔ رکعاته اُوکړل بيا ئې دوه رکعاته اُوکړل چه د مخکنو دوه رکعاتو نه کم (اُوږدهٔ) وو، بيا ئې دوه رکعاته اُوکړل چه د مخکنو دوه رکعاتو نه کم (اُوږدهٔ) وو، بيا ئې دوه رکعاته اُوکړل چه د مخکنو دوه رکعاتونه کم (اُوږدهٔ) وو، بيا ئې دوه رکعاته اُوکړل چه د مخکنو دوه رکعاتونه کم (اُوږدهٔ) وو، بيا هغهٔ (يو رکعت) وتر اُوکړل، نو دا (ټول سره د وترو نه) ديارلس رکعاته شو. (مسلمؒ) او د زيدؓ دا قول چه "بيا ئې دوه رکعاته اُوکړل چه د مخکنو دوه رکعاتو نه کم وو" په صحيح مسلم او د حميديؒ په کتاب کښې چه په هغې کښې هغوی فقط د مسلمؒ روايات نقل کړی دی او موطأ امام مالك، سنن ابی داود، دارنګه جامع الاصول ټولو کښې څلور کرته منقول دی.

تشريح: دا د سفر حالت دے ځکه چه عام وخت کښې خو صحابه کرامؓ د نبی ﷺ کور ته نهٔ شو ورتلے هلته خو ازواج مطهرات وے.

لَاَرْمُقَنَّ: د باب د نصر نه دے، يو شی ته په مراقبه او لحاظ ساتلو سره کتلو ته وائی.

قَوْلُهُ ثُمَّ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ: پدے عبارت سره اعتراض کوی په صاحب المصابيح باندے چه هغه دا جمله درے کرتے ذکر کړيده حال دا چه په صحيح مسلم او افرادو د مسلم کښې دا جمله څلور کرت راغلی ده نو صاحب د مصابيح دا ټول مونځ لس رکعاته شمارلے دے.

او حال دا چه مسلم کښې دا ديارلس رکعاته خودلے شويدی. نو چه دا جمله څلور کرت شی نو اته رکعاته دا شو او دوه رکعاته په طويلتين طويلتين کښې راغلل او دوه رکعاته په خفيفتين کښې راغلل او يو رکعت وتر شو نو ټول ديارلس رکعاته پوره شو.

ليکن د صاحب المصابيح د طرفنه جواب دا دے چه دهٔ طويلتين طويلتين حمل کړيدی په شپږ رکعاتو په حذف د حرف عاطف سره او اَولنی دوه رکعاته خفيفتين ئې تحية الوضوء شمارلی دی. او يو رکعت ئې وتر شمارلے دے لهذا ديارلس بيا هم پوره شو. ليکن

دے توجیه ته ضرورت نشته بلکه اصل روایت ته رجوع پکار ده او په هغے کښې خو دغه جمله څلور کرت ذکر ده۔ نو اظهر دا ده چه طویلتین کښې تکرار د مبالغے دپاره دے په اُوږد والی ددے دوه رکعاتو کښې۔

نو دا روایت دلیل دے چه د یولس رکعاتو نه زیادت هم جواز لری، د عائشہؓ قول چه زیادت ئے په یولس رکعاتو ندے کړے بناء دے په اکثریت باندے۔

وَأَفْرَادِهِ : په کتاب د حمیدیؒ «الجمع بین الصحیحین» کښې درے قسمه اَحادیث راوړی، مشترك د بخاری او مسلم، یواځے د بخاریؒ دیته افراد البخاری وائی او یواځے د مسلم دیته افراد مسلم وائی۔

١١ - وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: لَمَّا بَدَّنَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ وَثَقُلَ كَانَ أَكْثَرُ صَلَاتِهِ جَالِسًا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی : هرکله چه رسول الله ﷺ آخری عُمر ته اُورسیدو (او د بوډا والی په وجه) بدن ئے دروُن شو نو اکثر مونځ د هغهٔ به په ناسته وو۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)۔

تشریح : دا حدیث دلیل دے چه نفل مونځ په ناسته هم جائز دے اګرکه انسان په ولاړه قادر وی، او په صورت د عجز کښې خو په طریقِ اولیٰ جائز دے۔ مګر په صورت د عجز کښې ئے پوره اجر دے۔ او په صورت د قدرت کښې په ناست باندے نیمائی اجر دے۔ او د نبی ﷺ دا خصوصیت دے چه هغهٔ ته په ناسته باندے هم پوره پوره اجر ملاویدو اګرکه د عذر د وجه نه وی۔

بَدَّنَ : په تشدید د دال سره د تبدین نه دے۔ بوډاوالی او کمزور والی ته وائی او که د (کرم) نه شی نو بیا بدن په غوښو باندے غټیدو ته وائی۔ او نبی ﷺ دغه شان نهٔ وو۔ پدے وجه کوم راویانو چه په تخفیف سره نقل کړیدے نو هغهٔ اهل علم بالروایت نهٔ دے خوښ کړے (نقله الابهریؒ)

وَثَقُلَ : یعنی د حرکت نه دروند شو څکه چه عمر ئے زیات شو۔ او دا مونځ به نبی ﷺ په ناسته څکه کولو چه ډیر اُوګد به وو نو اُودریدل به ورته ګران وو، ورنه زمونږ د مونځونو په شان مونځونو کښې به نبی ﷺ نهٔ کیناستو۔ او په حدیث د حفصه کښې دی : ما رسول الله ﷺ د نفلو په مانځه په ناسته نهٔ دے لیدلے تردے چه کله د مرګ نه یو کال مخکښې شو نو بیا ئے په ناسته نفل کول (اخرجه مسلم)

١٢– وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ، قَالَ: لَقَدْ عَرَفْتُ النَّظَائِرَ الَّتِي كَانَ النَّبِيُّ يَقْرِنُ بَيْنَهُنَّ، فَذَكَرَ عِشْرِيْنَ سُوْرَةً مِنْ اَوَّلِ الْمُفَصَّلِ، عَلٰى تَأْلِيْفِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ سُوْرَتَيْنِ فِيْ رَكْعَةٍ آخِرُهُنَّ (حٰمٓ الدُّخَانِ) وَ (عَمَّ يَتَسَاءَلُوْنَ). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: او عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائي: ماته هغهٔ سورتونه چه د يو بل سره هَمْ مِثل (مشابه) دي، معلوم دي كوم چه به نبي ﷺ جمع كول نو عبد الله بن مسعود ﷺ د خپل ترتيب مطابق شل سورتونه كوم چه د مفصلاتو په اول كښې دي اُوشمارل، (چه رسول الله ﷺ به داسے جمع كول) چه يو يو ركعت كښې به ئے دوه دوه سورتونه لوستل، او (پدے شلو سورتونو كښې) آخري سورتونه (حم الدخان) او (عم يتساء لون) دي۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح: ددے حديث شانِ ورود دا وو چه نهيك بن سنان عبد الله بن مسعودؓ ته راغلو او دا ئے ورته اُووئيل: ما بيگاه شپه مفصلات په يو ركعت كښې اُولوستل نو عبد الله بن مسعودؓ ورته اُوفرمايل: هذًّا كهذِّ الشعر لقد عرفت النظائر الخ ـ (تا به داسے جلتئ سره لوستلي وي لكه اشعار چه په جلتئ لوستے شي) دے دپاره چه د هغې د بحورو ميزان بنكاره شي او په غوږونو باندے د هغې قافيه پرله پسے واقع شي) مونږ د نبي ﷺ قراء ت اَوريدلے دے او ما ته هغهٔ سورتونه ياد دي چه نبي ﷺ به هغهٔ لوستل اتلس سورتونه د مفصلاتو نه او دوه د آل حم نه۔ (يعني په دوو كښې يو سورت چه هغه حم الدخان دے (حافظ) (بخاري باب الترتيل في القراءة) (مقدمة تفسير ابن كثير ١/٧٧)

النَّظَائِرَ جمع د نَظِيْرَة ده، مثل او مشابه ته وائي يعني هغه سورتونه چه د يو بل مثل او مشابه دي او يو بل ته نزدي دي په لنډ والي او اُوګد والي كښې۔ حافظ ابن حجرؒ فرمائي: ددے نه مراد هغهٔ سورتونه دي چه په مضامينو كښې د يو بل مشابه وي لكه مواعظ، حكمتونه، قصص وغيره پكښې وي۔ او ددے نه په عدد د آياتونو كښې مماثلت نهٔ دے مراد۔انتهىٰ۔ اوله خبره غوره ده۔

اَلْمُفَصَّلِ: مخكښې باب القراءة كښې ذكر شويدي چه مفصلات په مشهور قول سره د سورهٔ حجرات نه تر آخر د قرآن پورے ديته مفصلات وائي دا بيا په درے قسمه دي، طوال مفصل، اوساط مفصل، قصار مفصل۔

تَأْلِيْفِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ: ابن مسعودؓ خانله قرآن ليكلے وو چه هغهٔ د ترتيب عثماني او ترتيب نزولي نه جُدا وو، اول كښې ئے الفاتحه بيا بقره بيا نساء بيا آل عمران وو۔ او د علي

مصحف د ترتیب نزول مطابق وو، چه په اول کښې ئے اقرأ بیا مدثر، بیا ن والقلم، بیا مزمل بیا تبت، بیا تکویر بیا سبح او دغه شان تر آخره د مکی پورے بیا مدنی سورتونه وو۔

مسئله : ترتیب د قرآن توقیفی دے که اجتهادی؟

او نن صبا چه د مصحف کوم ترتیب دے نو پدے کښې اختلاف دے چه آیا دا د نبی ﷺ په امر شوے وو او که نهٔ د صحابه کرامو اجتهاد وو؟ نو راجح دا ده چه دا ترتیب توقیفی دے لکه دا خبره ابن الانباریؒ کړیده۔ او دلیل پدے باندے حدیث د احمدؒ او ابوداودؒ دے د اوس بن حذیفه ثقفی نه چه په هغے کښې دا دی : چه مونږ صحابه کرامو نه تپوس اُوکړو تاسو به قرآن کریم څنګه حزبونه کولو، هغوی اُوفرمایل : (نحزبه ثلاث سور وخمس سور وسبع سور وتسع سور واحدی عشرة وحزب المفصل من ق حتی تختم) یعنی مونږ به قرآن کریم پداسے حصو باندے تقسیمولو چه درے سورتونه به یو حزب وو پنځه به بل حزب وو اووه به بل حزب وو او نهه به بل حزب وو او یولس به بل حزب وو او د مفصلاتو حزب به د ق نه تر آخره د قرآن پورے وو) (ضعفه الالبانی)

ددے حدیث متعلق حافظ ابن حجرؒ لیکی : دا حدیث دلیل دے چه ترتیب د سورتونو کوم چه نن صبا په مصحف کښې دے دا د نبی ﷺ په زمانه کښې وو۔ او دلیل دے چه راجح دا ده چه مفصلات د ق نه تر آخره پورے دی، لیکن دا مبنی دے پدے چه فاتحه ئے په اولنو دریو کښې نهٔ ده شمارلے ځکه د هغے د شمارلو نه بیا دا لازمیږی چه مفصلات د حجرات نه دی لکه پدے باندے یو جماعت د ائمه کرامو جزم کړیدے انتهیٰ۔

بعض وائی : د ټولو سورتونو ترتیب توقیفی دے سویٰ د ترتیب د سورة براءت او انفال نه بلکه دا د عثمان اجتهاد دے لکه پدے باندے دلیل حدیث د ابن عباس دے چه احمد او اصحاب السنن راوړیدے او مصنف به ئے د کتاب الدعوات نه یو باب مخکښې ذکر کړی۔ او هلته به د هغے تفصیل راشی۔ مګر صحیح دا ده چه دا ترتیب عثمانی توقیفی دے او همدا هغهٔ ترتیب دے، کوم چه د ابوبکر صدیق په زمانه کښې وو او عثمان د هغهٔ ترتیب نه هیڅ تبدیلی اُونکړه سوا ددے نه چه عام خلق ئے په یو لغت راجمع کړل او مخکښې به خلقو مختلف قراء تونه کول۔ او دارنګه نبی ﷺ ته د وفات په کال جبرئیل ﷺ دوه کرت قرآن کریم تکرار کړو او زید بن ثابت هغے ته حاضر شوے وو نو هغهٔ دے ترتیب سره لیکل اُوکړل۔ (تاریخ القرآن الکریم ص (۳۹) لمحمد طاهر الکردی) (الامام البقاعی ومنهاجه ص ۱/۱۸٤) لمحمود توفیق) (البرهان فی علوم القرآن ص (۱/۳۸) للزرکشی) او ددے

زيات تفصيل به روستو راشي۔
او نبي ﷺ چه په يو يو رکعت کښې دوه دوه سورتونه لوستل (نو هغهٔ پدے طريقه) چه (سوره رحمٰن او سوره نجم) په يو رکعت کښې، (اقتربت الساعة او الحاقه) په يو رکعت کښې، (طور او ذاريات) په يو رکعت کښې، (اذا وقعت الواقعة او سوره نون) په يو رکعت کښې، (سأل سائل او والنازعات) په يو رکعت کښې، (ويل للمطففين او عبس) په يو رکعت کښې، (مدثر او مزمل) په يو رکعت کښې، (هل اتى او لا اقسم بيوم القيامة) په يو رکعت کښې، (عم يتسائلون او مرسلات) په يو رکعت کښې، (دخان او اذا الشمس کورت) په يو رکعت کښې۔ او ابوداوٗد دا تصريح کړيده چه دا ترتيب د عبد الله بن مسعود ﷺ د جمع کولو مطابق دے۔ (سنن ابی داود رقم: ۱۳۹٦)

بے ترتيبه قرآن لوستل جائز دی

دا حديث دليل دے چه بے ترتيبه قرآن لوستل جواز لري، او دوه سورته په يو رکعت کښې جمع کول جائز دی۔ بل دليل: حديث د مسلم کښې دی چه نبي ﷺ يو ځل په مانځه کښې سوره بقره بيا نساء بيا آل عمران اُولوستو۔
۳- يو صحابي به د هر سورت سره (قل هو الله احد) ملګرے کولو۔ امام بخاريؒ د قتادهٔ نه نقل کوی (کُلٌ کتاب الله) (ټول د الله کتاب دے)۔نو دا ټول دليل دے پدے خبره چه ترتيب لازم نهٔ دے، کوم خلق چه ددے نه سخت نفرت کوی او پدے سره مونځ مکروه ګڼړی نو غلط وائی۔ اګرکه د عام ترتيبِ عثماني لحاظ ساتل بهتر کار دے۔
دلته ئے سوره دخان په مفصلاتو کښې ذکر کړيدے دا مجازاً دے۔ځکه في الجمله سورهٔ دخان په اخيرنو رکعتونو کښې واقع شويدے۔
فوائد الحديث : ۱- په تلاوت کښې ډيره تيزي جائز نهٔ ده، چه د اَشعارو د لوستلو مشابه شي۔ ځکه دا د قرآن کريم د مقصود - چه تدبر د معاني د کتاب الله دے - منافي دے۔ ۲- کله نا کله روستنے رکعت په مخکنو باندے اُوږدول جائز دی، ځکه پدے سورتونو کښې بعض روستني سورتونه اُوګده دی د بعض مخکنو نه۔
۳- په يو رکعت کښې دوه سورتونه جمع کول جائز دی اګرکه د مختلف ځايونو نه وی۔ او دا کار غالباً په مفصلاتو کښې کولے شی۔ نورو کښې هم جائز دے۔
٤- دا دليل کرخي په جمع کولو د درے او څلورو سورتونو په يو رکعت کښې ځکه چه کله ئے دوه سورتونه جمع کړل نو د درے او زياتو جمع کول هم جائز شو او پدے باره کښې

عبد الله بن شقيق فرمائي: ما د عائشےؓ نه تپوس اُوکړو: آيا نبي ﷺ به (په يو رکعت کښې) سورتونه جمع کول هغے اُوفرمايل: آؤ د مفصلاتو نه (به ئے جمع کول) (مسند احمد وصحيح ابن حبان ۲۶۸/۶) صححه شعيب الارناؤط)

۵- کله نا کله غير د مفصلاتو نه په نورو سورتونو کښې هم جمع په يو رکعت کښې جائز ده۔ (ابوداود)۔ ۶- نبي ﷺ نه چه پدے حديث کښې کوم عمل نقل دے نو دا هم هميشه دپاره نۀ وو بلکه احياناً وو او په مفصلاتو کښې وو۔(حافظؒ) او غير د مفصلاتو کښې هم جائز دے۔

۷- حديث دليل دے چه د نبي ﷺ د شپے مونځ لس رکعاته وو سوئ د وترو نه۔او د يو رکعت وتر سره يولس او د درے رکعاتو سره ديارلس جوړيږي۔

الفصل الثاني

۱۳- عَنْ حُذَيْفَةَ : أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ ﷺ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ، وَكَانَ يَقُوْلُ: «اَللّٰهُ اَكْبَرُ ثَلَاثًا ذُوْ الْمَلَكُوْتِ وَالْجَبَرُوْتِ وَالْكِبْرِيَاءِ وَالْعَظَمَةِ» ، ثُمَّ اسْتَفْتَحَ فَقَرَأَ الْبَقَرَةَ. ثُمَّ رَكَعَ فَكَانَ رُكُوْعُهُ نَحْوًا مِنْ قِيَامِهِ، فَكَانَ يَقُوْلُ فِي رُكُوْعِهِ: «سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمِ»، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوْعِ، فَكَانَ قِيَامُهُ نَحْوًا مِنْ رُكُوْعِهِ، يَقُوْلُ: «لِرَبِّيَ الْحَمْدُ»، ثُمَّ سَجَدَ فَكَانَ سُجُوْدُهُ نَحْوًا مِنْ قِيَامِهِ فَكَانَ يَقُوْلُ فِي سُجُوْدِهِ، «سُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلٰى»، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ السُّجُوْدِ، وَكَانَ يَقْعُدُ فِيْمَا بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ نَحْوًا مِنْ سُجُوْدِهِ، وَكَانَ يَقُوْلُ: «رَبِّ اغْفِرْ لِيْ، رَبِّ اغْفِرْ لِيْ»، فَصَلّٰى اَرْبَعَ رَكَعَاتٍ قَرَأَ فِيْهِنَّ (الْبَقَرَةَ) وَ (آلَ عِمْرَانَ) وَ(النِّسَاءَ) وَ(الْمَائِدَةَ) اَوِ(الْاَنْعَامَ) شَكَّ شُعْبَةُ. رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه: او حذيفه ﷺ نه روايت دے چه هغۀ د نبي ﷺ د شپے په مانځه اُوليدو (نو هغۀ فرمائي) چه رسول الله ﷺ درے کرتے الله اکبر وئيلو سره دا اُووئيل : (ذو الملكوت والجبروت الخ) الله تعالىٰ د غلبے، لوئي والي او تکبر او غټ والي والا دے) بيا ئے سبحانك اللهم اُووئيله او سورت بقره ئے شروع کړه بيا ئے رکوع اُوکړه نو د هغۀ رکوع (تقريباً) د قيام برابر وه، او په رکوع کښې ئے : سبحان ربي العظيم) اُووئيلو، بيا ئے د رکوع نه سر اُوچت کړو، نو د هغۀ قيام (يعني قومه) (تقريباً) د هغۀ د رکوع برابر وه، او (په قومه کښې به ئے) وئيل :« لربي الحمد» (خاص زما رب لره حمد دے) بيا ئے سجده اُوکړه نو د هغۀ سجده (تقريباً) د هغۀ د قيام برابره وه، بيا ئے په سجده کښې اُووئيل: "سبحان ربي الاعلى" (پاکي ده زما رب لره چه اُوچت دے) بيا ئے د سجدے نه سر پورته کړو او هغۀ به د دوه سجدو ترمينځ (جلسه

كښې) د سجدې په اندازه كيناستو او هغهٔ به (په جلسه كښې) وئيل : "رب اغفر لي". (اے ربه ! ما ته بخنه اُوكړے دوه ځل) نو څلور ركعاته ئے اُوكړل چه په هغے كښې ئے سورة بقره، آل عمران، نساء، مائده يا انعام اُولوستلو (د حديث راوى) شعبةَ ته شك واقع شوے دے. (چه انعام ئے لوستلے دے او كهٔ مائده). (ابوداودٌ)

تشريح : دا دعاء چه درے كرته پكښې مخكښې الله اكبر دے د سبحانك اللهم په ځائے ده.

اَلْبَقَرَةَ : يعني د فاتحے نه روستو به ئے دا سورتونه لوستل.

لِرَبِّيَ الْحَمْدُ : پدے مقام كښې د ذكر تكرار په نوافلو كښې جائز دے دلته د سورة بقرے په مقدار دا ذكر مكرر شويدے. دغه شان ربنا لك الحمد حمداً كثيراً الخ هم مكرر لوستل جواز لري.

رب اغفر لي به څو كرت وائي ؟

يَقْعُدُ فِيمَا بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ : يعني نبى ﷺ به د دوه سجدو ترمينځ ډيره اُوګده ناسته كوله او دا سنت طريقه ده او دا دليل دے چه پدے مقام كښې (رب اغفر لي) ذكر مكرر كول سنت عمل دے. د دوه ځلو مكررولو نه مراد ډير كرت مكرر كول دي.

امام احمد رحمه الله فرمائي : دا ذكر وئيل فرض دي. ٢- جُمهور وائي مستحب دے، او دا راجح قول دے. ٣- بعض احناف وائي پدے مقام كښې هيڅ ذكر نشته .

او آثار السنن كښې وائي چه دا مضطرب حديث دے نو دا غلطه خبره ده. ځكه هغهٔ بيل روايت دے دا نهٔ دے. بلكه راجحه دا ده چه دا ذكر مستحب دے ځكه د نبى ﷺ عمل پكښې موجود دے او فرض او واجب نهٔ دے ځكه امر پرے نهٔ دے راغلے.

١- حديث دليل دے چه په نفل مانځه كښې داسے اُوګد والے مستحب دے چه تقريباً اُووه سيپارے پكښې اُووائي.

په حديث كښې رد دے په هغهٔ چا چه اعتدال د ركوع او جلسه بين السجدتين كښې تطويل مكروه ګڼړي. امام نوويٌ فرمائي : ددے حديث نه جواب ډير ګران دے.

(نيل الاوطار- باب الجلسة بين السجدتين)

٢- حديث دليل دے چه اقله درجه د تهجدو څلور ركعاته دي ليكن كه ضرورت وى نو بيا يو ركعت مستقلًا هم جائز دے. لكه په حديث د طبراني كبير او اَوسط كښې دي : (عليكم بصلاة الليل ولو ركعة) الزهد لاحمد (٨٧/١) ضعفه الالباني في السلسلة (٤١٤/٨) رقم (٣٩١٢) والترغيب (٩٣/١) كتاب النوافل) مګر دا حديث ضعيف دے. نو صحيح دا ده چه اقله درجه دوه ركعاته دي لكه په باب التحريض كښې به راشي او يو ركعت هم شته

لكه روستو صحيح حديث راروان دے (من احب ان يوتر بواحدة)۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه احمد (٣٩٨/٥) وابوداود (٨٧٤) والترمذى فى الشمائل (٢٧٠) والنسائى (١٩٩/١، ٢٠٠)

---

١٤ – وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَنْ قَامَ بِعَشْرِ آيَاتٍ لَمْ يُكْتَبْ مِنَ الْغَافِلِيْنَ، وَمَنْ قَامَ بِمِائَةِ آيَةٍ كُتِبَ مِنَ الْقَانِتِيْنَ، وَمَنْ قَامَ بِأَلْفِ آيَةٍ كُتِبَ مِنَ الْمُقَنْطِرِيْنَ». رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او عبد الله بن عمرو بن العاص ﷺ فرمائى: رسول الله ﷺ فرمائيلى دى :« كوم شخص چه د لس آيتونو (په لوستلو) سره قيام اُوكړى نو هغهٔ به د غافلينو نه اُونهٔ ليكلے شى، (يعنى د هغهٔ نوم به د غافلينو په فهرست او صحيفه كښ نهٔ ليكلے كيږى) او څوك چه په سل آيتونو (لوستلو سره) قيام اُوكړى نو دهغهٔ نوم به د عاجزى كونكو (او فرمانبردارو) نه اُوليكلے شى، او څوك چه په زر آيتونو (لوستلو) سره قيام اُوكړى نو هغهٔ به د خزانه جمع كونكو (ډير ثواب موندونكو) نه اُوليكلے شى»۔ (ابوداودؒ)

تشريح : ددے لسو آيتونو وغيره نه د شپے په مانځه كښ لوستل مراد دى ځكه مصنف دا حديث په باب صلاة الليل كښ راوړو۔ او همدا ظاهر تفسير دے ځكه قام لفظ پرے دليل دے۔ دارنګه بل روايت د ابن خزيمة او حاكم كښ داسے الفاظ دى :

(من صلى فى ليلة بمائة آية لم يكتب من الغافلين...... الحديث وفى سنده سعد بن عبد الحميد وهو ضعيف وصححه الحاكم)

بعض علماء (طيبىؒ) وائى : ددے سره نهٔ قيد د مانځه شته او نهٔ د شپے لهذا حديث به په خپلو ادنىٰ مراتبو باندے حمل كولے شى او پدے باندے دليل لم يكتب من الغافلين لفظ دے۔ او بغوىؒ دا حديث په مقام د اكمل كښ ذكر كريدے۔ آه۔ مګر اول غوره دے۔

لَمْ يُكْتَبْ مِنَ الْغَافِلِيْنَ : يعنى الله به ئے د هغهٔ خلقو سره نهٔ شمارى چه هغوى كښ غفلت دے د الله د ذكر نه بلكه د هغه خلقو د زمرے نه به ئے حساب كړى چه هغوى تجارتونه او بيعے د الله د ذكر نه نهٔ غافله كوى۔ يا دا چه د غافلانو په فهرست كښ به ئے نوم نهٔ ليكى۔

ددے مفهوم مخالف دا دے چه چا لس آياتونه هم د شپے اُونهٔ لوستل نو هغهٔ به غافلانو كښ شمار وى۔ بيا علماء فرمائى : ددے غفلت نه د ځان بچ كولو طريقه دا ده چه د شپے د اُودهٔ كيدو په وخت كښ (آمن الرسول)، (آية الكرسى) اوآخرى درے سورتونه اووايه

اګر کـۀ پـه "قام" لفظ باندے عمل نۀ کیږی ځکه اصلی طریقه دا ده چه د شپے راپاڅیږے.
مـګـر پـه بـل روایت کښې داسے هم راغلی دی : (من قرأ عشر آيات في ليلة لم يكتب من الغافلين) (الاحاديث المختارة للضياء المقدسي ۳۱٤/۳)
(څوك چه په شپه کښې لس آیاتونه اُولولی نو د غافلانو نه به حساب نۀ شی) نو دے کښې صرف لوستـل راغـلـی دی، د مـانـځـه تذکره پکښې نشته نو ان شاء الله تعالیٰ چه په نفـس لـوستـلـو سـره بـه هـم پـدے حـدیث عمل راځی. او د قیام بالشیء معنیٰ ده دوام او اهتمام په یو شی باندے کول او هغۀ همیشه لوستل.
كُتِبَ مِنَ الْقَانِتِيْنَ : قـنـوت یـوه مـعـنـیٰ ده، عـاجـزی او خشـوع، بـله معنیٰ : تابعداری، فرمانبرداری. مطلب دا چه څوك سل آیتونه د شپے اُولولی او خاصکر په مانځه کښې نودا بـه د الله پـه نزد د هغۀ خلقو نه اُولیکلے شی چه د الله په طاعت باندے ثابت او مضبوط ولاړ دی یـا د هـغـۀ خـلـقو نه به حساب شی چه د شپے قیام کوی. یا د هغۀ خلقو نه چه د الله په امر او طاعت باندے کلك ولاړ وی او هغۀ ته عاجزی کوی (طیبیؒ).
الْمُقَنْطَرِيْنَ : د قنطار نه ماخوذ دے خزانے او ډیر مال ته وائی یعنی دا د خزانه جمع کونکو نـه دے ډیـر اجر ورته حاصل شو. قنطار : بعض وائی : هغۀ خزانه ده چه په هغے کښې څلور زره روپۍ وی، بعض وائی : قنطار د غوئی څرمن د سرو زرو نه ډکولو ته وائی. بعض وائی : نامعلومه ډیره حصه د مال ته وائی. بعض وائی: دولس زره دینارو ته وائی. مطلب دا چه دومره ثوابونه به راجمع کړی لکه څومره چه خزانه جمع کونکو حاصل کړی وی.
بعض علماء لیـکـی : (قیـام کـول) ددے نه کنایه ده چه مذکوره تعداد کښې آیتونه یاد کړے شی او هغۀ په هر وخت کښې اُولوستے شی دارنګه د هغے معنیٰ او مقاصدو کښې غور او فکر اُوکړے شی او په هغے باندے بیا عمل اُوکړے شی، دیته هم قیام وائی. والله اعلم.
درجة الحديث : اسناده حسن صحيح : اخرجه ابوداود (۱۳۹۸) وصححه ابن حبان (٦٦٢) وابن السنی فی عمل اليوم والليلة (۷۰۸) والالبانی فی کتبه.

---

۱۵ - وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ، قَالَ: كَانَتْ قِرَاءَةُ النَّبِيِّ ﷺ بِاللَّيْلِ يَرْفَعُ طَوْرًا وَيَخْفِضُ طَوْرًا. رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او ابو هريره ؓ فـرمـائـی : د نبی ﷺ د شپے (پـه مـانـځـه کښې) قراءت به مختلف وو، کله خو به ئے په اُوچت آواز سره قراءت کولو او کله به ئے په خکته آواز سره.
تشریح : حدیث کښې د نبی ﷺ د شپے د مـانـځـه د قراءت طریقه اُوخودلے شوه چه کله

په خکته آواز او کله په اُوچت آواز پکار دے نو کله چه د مونځ کونکی خوا کښې څوك نهٔ وی نو بیا په جهر پکار دے او که څوك اُوده وی نو بیا په خکته آواز پکار دے لهذا د حال مطابق به قراءت کولے شی۔ او دیته تنوع د عبادت وئیلے شی۔

په پخوانو کتابونو کښې ددے اُمت فضیلت داسے راغلے دے چه دوی به د شپے داسے قرائت کوی (لهم دَوِيٌّ كَدَوِيِّ النَّحلِ) داسے گونړارے به کوی لکه د شهدو د مچو پشان)۔ یعنی ځان سره به لګیا وی۔ نو په قراءت باندے دغه شان گونړیدل پکار دی۔

.قراءت کښې شونډے خوزول او تلفظ کول ضروری دی

او قراءت کښې اختلاف دے چه آیا دا په شونډو باندے تیرولو سره کافی کیږی۔ او که نهٔ ځان ته اَورول او تلفظ کول ضروری دی ؟ نو تحقیق دا دے چه قراءت تلفظ کولو ته وائی او ځان ته به ئے اَوروی ځکه د اِخفاء مقدار همدا دے چه ځان ته ئے وَاوری او که څوك ئے صرف په زړهٔ کښې وائی او هسے ئے په خیال کښې راولی نو دا قراءت نهٔ دے۔

★ دارنګه څوك چه دا وائی چه تصحیح د حروفو اُوشی نو بس دا قراءت دے نو دا صحیح نهٔ وائی ځکه چه په تصحیح د بعض حروفو کښې صوت ضروری دے لکه حروف شدیده، حروف قلقله، حروف مطبقه ضرور آواز غواړی لهذا ځان له په تصحیح د حروفو کار نهٔ کیږی ترڅو چه ځان ته اَورول پکښې نهٔ وی شوی۔

درجة الحديث : اسناده حسن : اخرجه ابوداود (١٣٢٨) والحاكم فی المستدرك (٣١٠/١) وللحديث شاهد من حديث عائشة اخرجه مسلم) وله شاهد فی سنن الترمذی (عن عائشة ...... قالت : كل ذلك قد كان يفعل، ربما اسر بالقراءة وربما جهر فقلت (القائل هو السائل عبد الله بن ابی قيس) الحمد لله الذی جعل فی الامر سعة) وهو حديث صحيح صححه الترمذی) وانظر صحيح ابی داود (١٢٩١) وسيأتی فی الوتر.

---

١٦ – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: كَانَتْ قِرَاءَةُ النَّبِيِّ ﷺ عَلٰى قَدْرِ مَا يَسْمَعُهُ مَنْ فِي الْحُجْرَةِ وَهُوَ فِي الْبَيْتِ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او ابن عباس رضی الله عنه فرمائی : د نبی ﷺ قراءت به داسے اندازه کښې وو چه کهٔ چرته په کمره کښې به ئے لوستل نو د بهر صحن موجود شخص به اَوریدلو۔ (ابوداوٗد)

تشریح : یعنی دومره اندازه قراءت به ئے کولے چه د کوټے نه به بهر منډو ته راوتو، او که چا به ورته غوږ کیخودو نو اَوریدلے به شو۔ بل روایت کښې دی : ابن عباسؓ نه د نبی ﷺ د

قراء ت په باره کښې تپوس اُوشو نو هغه اُوفرمايل : (كان يقرأ في حجرته قراءةً لو اراد ان يحفظها حافظ، فَعَلَ) (يعني په حُجره کښې به ئې داسې قراءت کولو که يو انسان به اراده اُوکړه چه دا ياد کړي نو يادولے ئې شو)

او دا په باره د صلاة الليل کښې دے او هر چه په مسجد کښې مونځ وو نو هغې کښې به ئې تيز آواز سره قراءت کولو۔

اَلْحُجْرَةِ : هغهٔ کوټې ته وائي چه خلق ئې د اُوښانو دپاره د ونو يا کانړو نه جوړوي چه هغهٔ په کښې د يخنئ نه محفوظ وي، يا هغهٔ کمره چه په لاندې طرف د کور کښې وي۔ دلته ترې مراد د کور صحن دے يعني هغهٔ زمکه چه محجوره (ممنوعه) ده، ديوال ترې چاپير وي۔

وهو في البيت : هو ضمير نبي ﷺ ته راجع دے يعني چه دننه په کوټه کښې قراءت اُوکړي نو بهر خلقو به اوريدلے شو۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه ابوداود (١٣٢٧) والترمذي في الشمائل المحمدية (٣١٤) وفي اسناده ابن ابي الزناد واسمه عبد الرحمن بن عبد الله ابن ذكوان وفيه مقال وقد استشهد به البخاري في مواضع انتهىٰ (منذري) وقال الالباني حسن صحيح صحيح ابي داود (١١٧٨) (٢٤٦/١)

---

١٧ – وَعَنْ اَبِيْ قَتَادَةَ، قَالَ: إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ خَرَجَ لَيْلَةً فَإِذَا هُوَ بِأَبِيْ بَكْرٍ يُصَلِّيْ يَخْفِضُ مِنْ صَوْتِهٖ، وَمَرَّ بِعُمَرَ، وَهُوَ يُصَلِّيْ رَافِعًا صَوْتَهٗ، قَالَ: فَلَمَّا اجْتَمَعَا عِنْدَ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «يَا اَبَا بَكْرٍ! مَرَرْتُ بِكَ وَأَنْتَ تُصَلِّيْ تَخْفِضُ صَوْتَكَ» قَالَ: قَدْ اَسْمَعْتُ مَنْ نَاجَيْتُ يَارَسُوْلَ اللهِ! وَقَالَ لِعُمَرَ: «مَرَرْتُ بِكَ وَأَنْتَ تُصَلِّيْ رَافِعًا صَوْتَكَ». فَقَالَ: يَارَسُوْلَ اللهِ! أُوْقِظُ الْوَسْنَانَ، وَأَطْرُدُ الشَّيْطَانَ. فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ «يَا أَبَابَكْرٍ! اِرْفَعْ مِنْ صَوْتِكَ شَيْئًا». وَقَالَ لِعُمَرَ: «اِخْفِضْ مِنْ صَوْتِكَ شَيْئًا». رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ، وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ نَحْوَهٗ.

ترجمه : او ابوقتاده ﷺ فرمائي: يوه شپه رسول الله ﷺ بهر را اُووتو نو ناګهانه په ابوبکر باندې ورتير شو چه هغهٔ مونځ کولو او (په قرآن لوستلو ئې) آواز خکته کولو، بيا نبي ﷺ په عمر فاروق باندې ورتير شو او هغهٔ مونځ کولو او په اُوچت آواز سره ئې (قرآن) لوستلو، ابوقتاده ﷺ فرمائي: کله چه (صبا) دواړه د نبي ﷺ په خدمت کښې راجمع شو نو نبي ﷺ اُوفرمايل: «اے ابوبکره! زهٔ (بيګاه شپه) په تا باندې تير شوم او تا مونځ کولو آواز دې خکته کړے وو»، ابوبکر عرض اُوکړو: يارسول الله! ما چه د چا سره مناجات

(جرګه) کولو، هغهٔ ته مے (آواز) اَوروُلو، (يعني زهٔ د الله په مناجات کښې مشغول وم او هغهٔ د اَوريدو دپاره اُوچت آواز ته محتاج نهٔ دے) بيا نبي ﷺ عمرؓ ته اُوفرمايل: «اے عمر! زهٔ په تا بانديے (بيګاه شپه) تير شوم او تا مونځ کولو او آواز دے پورته کړے وو»، عمرؓ عرض اُوکړو: يا رسول الله! زهٔ (په تيز تلاوت سره) اُودهٔ رابيداروم (يعني کوم خلق چه د تهجدو په وخت کښې پاڅيدل غواړي ليکن د خوب د غلبے په وجه ئے سترګے نهٔ کولاويږي) او شيطان تختوم. (چه وسوسے راته وانهٔ چوي) رسول الله ﷺ اُوفرمايل: «اے ابوبکر! تهٔ لږ آواز اُوچت کړه» او عمر ته ئے اُوفرمايل: «تهٔ آواز لږ خکته کړه». (يعني دواړو ته ئے د اعتدال حدود اُوخودل) (ابوداودؒ، ترمذيؒ)

تشريح: خَرَجَ لَيْلَةً: دا ولے وتلے وو؟ نو د وجه د عمل نه پدے قول د الله تعالیٰ: (وَتَقَلُّبَكَ فِي السَّاجِدِيْنَ) د ملګرو تفقد به ئے کولو چه په څهٔ حالت دی. او دا هم د امت د تربيت يو صورت دے. او دا معلومات به ئے څکه کيدو چه عام صحابه کرامؓ به مسجد ته راتلل او رياء پکښې نهٔ واقع کيده څکه چه تولو صحابه کرامؓ به تهجد کول. يو ماحول وو. مګر ظاهر دا ده چه دا په کورونو ورتير شويدے او د صحابه کرامؓ د کورونو واړهٔ واړهٔ لنډی ديوالونه وو، چه بهر به ترے قراءت اَوريدلے شو.

فَإِذَا هُوَ بِأَبِي بَكْرٍ يُصَلِّي: ددے متعلق محذوف دے. (يعني فاذا هو مار بابی بکر) (په ابوبکر تيريدونکے وو)

قَدْ اَسْمَعْتُ مَنْ نَاجَيْتُ: يعني الله سره مے جرګه کوله او هغه زما قراءت باندے خبر دے نو جهر ته ضرورت نهٔ وو.

الْوَسْنَانَ: د مفرد صيغه ده د وَسَنَ يَوْسَنُ وَسْناً وَسِنَةً (کرم) نه پرکالي نيول يا درونډ خوب ته وائي. نو وسنان اُودهٔ انسان ته وائي چه په خوب کښې مستغرق نهٔ وي. او شيطانان شرم څکه چه د قراءت په جهر سره شيطانان تختي او انسان د غفلت نه اُوځي. نو د شيطان وسوسه پرے کار نهٔ کوي.

نو نبي ﷺ دواړو ته د اعتدال لاره اُوخودله او دے کښې اِشاره ده چه د دين په هر عمل کښې به دغه شان اِعتدال کولے شي.

په بل روايت د ابوداود کښې ورسره دا دي چه بلال ته ئے اُوفرمايل: «په تا باندے تير شوم او تا ګډ وډ قراءت کولو». (يعني يو آيت به ئے د يو ځائے نه واخستو او بل آيت د بل ځائے نه؟) نو بلال اُوفرمايل: (اَخْلِطُ الطَّيِّبَ بِالطَّيِّبِ) (زهٔ پاك کلام د پاك کلام سره يو ځائے کوم) (يا يو خوشبوئي د بلے خوشبوئي سره يو ځائے کوم څکه د هر آيت خپله مزهٔ وي)

نو په روايت د ابوداود، عبد الرزاق، ابن ابی شيبه، شعب الايمان وغيره كښې ورسره دا دی چه نبی ﷺ ورته اُوفرمايل: (اِقْرَأ السُّوْرَةَ عَلٰى وَجْهِهَا) هر سورت په خپله طريقه وايه۔ ليكن دا امر د وجوب دپاره نۀ دے، اګرکه په ترتيب سره قرآن لوستل افضل عمل دے۔ بل روايت كښې داسې دی: (لو كان على وجهها لكفى) (الاتقان للسيوطی) (كۀ په ترتيب سره دے لوستلے نو هم كافی وه) او په روايت د سنن كبریٰ، عبد الرزاق، مسند الصحابة فی الكتب التسعة، جامع الاصول، جامع الاحاديث كښې دا الفاظ دی: (كلكم قد اصاب وفی رواية : كل قد احسن) يعنی تاسو كښې هريو ښۀ كار اُوكړو۔ (وسنده صحيح۔ صحيح ابی داود ۱۳۲۹)

دا حديث دليل دے چه د تلاوت په مينځ كښې كوم آيت پاتے شي نو پدے سره مونځ نۀ خرابيږی او نۀ پرے سجده سهوه راځی نو كوم خلق چه مونځ مكروه ګڼړی نو صحيح نۀ وائی نبی ﷺ نه دغه شان كار شوے وو او سجده سهوه ئے اُونكړه صرف ابی بن كعب ته ئے اُوفرمايل: تا ما ته فتح ولے نۀ راكوله۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه ابوداود (۱۳۱۹) والترمذی (٤٤٧) والحاكم (۳۱۰/۱)

---

۱۸ - وَعَنْ اَبِیْ ذَرٍّ، قَالَ: قَامَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ حَتّٰى أَصْبَحَ بِآيَةٍ، وَالآيَةُ: ﴿اِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَاِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَاِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَاِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ﴾. رَوَاهُ النَّسَائِیُّ، وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او ابوذر ﷺ فرمائی: (يوه شپه د تهجدو په مانځه) رسول الله ﷺ ولاړ و تردے چه صبا ئے كړو د يو آيت (په تلاوت كولو) او هغۀ آيت دا دے : (ان تعذبهم الخ) (عيسیٰ ﷺ به الله ته قيامت په ورځ فرمائی: اے الله ! كۀ تۀ دے خلقو ته عذاب وركوے نو دا ستا بندګان دی (او عبادت ئے د بل چا كړيدے نو په عذاب وركولو كښې به په تا اعتراض نۀ وی او ستا عقاب به د حكمت نه خالی نۀ وی) او كۀ تۀ دوی ته بخښنه كوے نو تۀ غالبه او حكمتونو والا ئے) (نسائیؒ، ابن ماجهؒ)

تشريح : نبی ﷺ دا يو آيت ولے بار بار لوستلو ؟ يو خو ددے آيت په ابتداء كښې هول او يره ده او په آخر كښې ئے حلاوت او مزه ده او بل دا اصل كښې د عيسیٰ ﷺ قول دے چه هغه به الله تعالیٰ ته په قيامت كښې د خپل اُمت د طرفنه داسې جواب كوی چه اے الله ! كۀ زما دے اُمت ته عذاب وركوے نو ستا بندګان دی او بندګی ئے د بل چا كړے ده نو مستحق دی د عذاب، په تا به څۀ اعتراض نۀ وی۔ او كه تۀ ورته بخښنه كوے نو تۀ پدے قادر ئے۔ نو

نبی ﷺ هم د خپل اُمت حالت په الله باندے پیش کړو او هغوی له ئے بخنه اُوغوخته لکه په بل روایت د احمدؒ کښې ئے داسے تشریح راغلے ده «کله چه نبی ﷺ صبا کړو نو ما تپوس اُوکړو یا رسول الله! تا تر سحره پورے دا آیت لوستلو چه پدے یو آیت به رکوع او سجدے ته راخکته کیدے (دا ولے)؟ نو هغه اُوفرمایل: ما د خپل امت دپاره د خپل رب نه شفاعت اُوغوختو نو الله ما ته هغه راکړو۔ او هغه به ان شاء الله هر هغه چا ته حاصلیږی چه د الله تعالیٰ سره ئے هیڅ قسم شرك نۀ وی کړے»۔ انتهیٰ۔

حدیث دلیل دے چه تکرار د یو آیت په مانځه کښې او په هر رکعت کښې جائز دے۔

ددے چا یو مطلب دا بیان کړیدے چه دا یو آیت ئے په رکوع او سجده کښې لوستلے دے۔ او حال دا چه په رکوع او سجده کښې د قرآن د لوستلو نه منع راغلے ده نو بیا به دا محمول وی په دے باندے چه دا ئے په نیت د دعاء لوستلے دے او په نیت د قراء ت او تلاوت ئے نۀ دے لوستلے۔ لیکن دا خبره صحیح ده چه آیت په نیت د دعاء لوستل صرف په سجده او قعده کښې جائز دی لیکن پدے حدیث کښې دا معنیٰ مناسب نۀ ده ځکه (ترکع وتسجد بها) کښې خو دا نشته چه پدے رکوع او سجده کښې تا لوستلو بلکه معنیٰ دا ده چه ددے یو آیت د لوستلو په وجه به رکوع او سجدے ته خکته کیدے۔

په هر رکعت کښې تکرار

د یو آیت یا تکرار د فاتحے سجده سهو نۀ لازموی

٢- **مسئله**: په ټولو نوافلو کښې په هر رکعت کښې یو آیت لوستل هم جائز دی کله کله۔ دلته نبی ﷺ صرف په دے یو آیت باندے ټول تهجد کړیدی۔ او پدے باندے سجده سهوه نشته، فقه حنفی کښې دا راغلی دی چه فاتحه چا مکرر کړه نو پدے به سجده لازمه وی لکه رشید احمد لدهیانوی په احسن الفتاوی (٤/٣١) کښې او رد المحتار ١/٥٣١ فصل فی القراء ة) کښې پدے باندے سجده لازمه وئیلے ده۔

صرف عقلی دلیل وائی: چه پدے سره تاخیر د واجبو راځی چه هغه ضم السورة دے د فاتحے سره۔ لیکن صحیح دا ده چه پدے باندے سجده سهوے دپاره دلیل نشته او نبی ﷺ په یو آیت کښې تکرار کړیدے لهذا تکرار جائز دے که فاتحه کښې وی او که غیر فاتحه کښې۔ (لورود الخبر فی مثله) (ځکه ددے په مثل کښې حدیث راغلے دے)۔

★ – او دارنګه دا خبره هم صحیح نۀ ده چه سمدست د فاتحے سره ضم د سورت واجب دے بلکه بعض علماء وائی د فاتحے نه پس به د فاتحے په مقدار مقتدی ته انتظار کولے شی

چه هغهٔ فاتحه اُولولی۔ نو آیا د هغوی مونځ به څهٔ فاسد وی؟۔

★ دارنګه د تکرار د فاتحې په باره کښې د عُمر فاروق عمل موجود دے چه هغه په تهجدو کښې د فاتحې تکرار کړیدے لکه حدیث په فضائل القرآن للقاسم بن سلام (۱/۱۷۵) او کنز العمال (۸/۱۰۷) کښې اُوګوره۔ او دا په منزله د مرفوع حدیث دے۔ ځکه رائے له پدے باب کښې دخل نشته۔ لهذا د فقه حنفی خبره ددے حدیث د نګاه نه خطاء شوه۔ او په المجموع شرح المهذب (۳/۳۵۸) کښې هم د تکرار جواز ذکر دے۔ او په فقه حنبلی لکه الشرح الکبیر لابن قدامة (۱/۶۱۲) الفروع لابن مفلح (۲/۲۳۳) او زاد المستقنع (۱/۱٤) کښې ئے ورته مکروه وئیلے دے۔

نو **فیصله** دا ده چه تکرار د یوے کلمے یا یو آیت که د شك یا د تدبر د وجه نه وی نو هیڅ کراهت پکښې نشته او که په طریقه د عادت باندے وی نو بیا به خلاف الافضل وی ځکه داسے تکرار د نبی ﷺ نه ندے ثابت۔ خاصکر په فرائضو کښې احتیاط پکار دے۔

درجة الحدیث: اسناده صحیح: اخرجه احمد (۵/۱٤۹) والنسائی (۲/۱۷۷) وابن ماجه (۱۳۵۰) والحاکم (۱/۲٤۱) وصححه ووافقه الذهبی.

---

۱۹ - وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اِذَا صَلّٰی أَحَدُكُمْ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ، فَلْيَضْطَجِعْ عَلٰی يَمِيْنِهٖ». رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ، وَاَبُوْ دَاوٗدَ.

ترجمه: او ابو هریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ فرمائیلی دی: کله چه یو تن ستاسو دوه رکعاته د سحر (سنت) اُوکړی نو هغهٔ دِے په ښی اَړخ باندے (تر جمعے اُودریدو پورے) تکیه اُولګوی۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ)

تشریح: دا حدیث دلیل دے ددے خبرے دپاره چه د سحر سنتو نه روستو دِډهٔ لګول مستحب او سنت طریقه ده، برابره ده که تهجد ئے کړی وی او که نهٔ او مسجد کښې وی او که کور کښې ځکه دا اَمر مطلق دے څهٔ قید د مسجد وغیره پکښې نهٔ دے لګولے شوے۔ او دا امر د استحباب دپاره دے او کله د سنتو او فرضو ترمینځ فصل په خبرو اترو هم جائز دے۔ لکه چه تفصیل ئے مخکښې ذکر شو۔

درجة الحدیث: اسناده صحیح: اخرجه احمد (۲/٤۱۵) وابوداود (۱۲۶۱) والترمذی (٤۲۰).

الفصل الثالث

۲۰ - عَنْ مَسْرُوْقٍ، قَالَ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ: أَيُّ الْعَمَلِ كَانَ أَحَبَّ اِلٰی رَسُوْلِ اللهِ ﷺ ؟

قَالَتْ: الدَّائِمُ. قُلْتُ: فَأَيَّ حِيْنٍ كَانَ يَقُوْمُ مِنَ اللَّيْلِ؟ قَالَتْ: كَانَ يَقُوْمُ اِذَا سَمِعَ الصَّارِخَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: مسروق رحمه الله فرمائی: ما د عائشۃؓ نه تپوس اُوکړو: کوم عمل به رسول الله ﷺ ته زیات محبوب وو؟ نو هغې اُوفرمایل: همیشه کېدونکے عمل۔ (چه همیش والے پرې کولے شی) بیا ما تپوس اُوکړو: د شپې په کوم یو وخت به رسول الله ﷺ پاڅیدو؟ وې فرمایل: نبی ﷺ به په هغهٔ وخت پاڅیدو کله چه به ئې د چرګ بانګ واوریدو۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)۔

د چرګ فضیلت او د چرګ د بانګ اوقات

تشریح: الصَّارِخَ: چرګ ته وائی، صَرْخَةٌ تیزې چغې ته وائی او چرګ ته صارخ ځکه وائی چه چرګ ډیرې چغې وهی۔ یعنی کله چه به ئې د چرګ بانګ واوریدو۔ او غالباً د چرګ عادت دا دے چه بانګ د نیمې شپې نه روستو شروع کوی۔

ابن بطالؒ وائی: په آخیری دریمه حصه د شپه کښې بانګ وائی۔ انتهیٰ۔ او دا په اختلاف د احوالو سره مختلف کیږی خو د چرګ عادت دا دے چه د نیمې شپې نه شروع اُوکړی او بیا غلے شی بیا ثلث اللیل الاخیر کښې شروع اُوکړی بیا غلے وی کله چه صبا نزدې شی نو بانګونه تیز او ډیر کړی بیا چه بالکل وخت راختوته نزدې شی لس شل منټه پاتې شی نو بیا بانګونه شروع کړی۔ ګویا کښې تا ته بالکل وخت دربنائی چه دا د تهجدو ټائم دے او دا د صبا د مانځه۔ لکه پخوانو به پدې باندې خپل عملونه برابرول۔ او دا د الله الهام دے چه چرګ ته ئې په فطرت کښې دا اچولی دی۔

علامه قسطلانیؒ دا هم وئیلی دی چه د زوال په وخت هم چرګ آوازونه کوی خلقو ته مونځ یادوی او دا د الله فطرت دے چه دهٔ ته ئې ورکړیدے۔

د چرګ د فضیلت په باره کښې دوه احادیث صحیح دی۔ یو (لا تسبوا الديك فانه يوقظ للصلاة) (احمد، ابوداود باسناد جيد) رياض الصالحين ٤٩٧/١) اسناد صحيح و كذا فى الفتح (٣٥٣/٦) (**چرګ ته کنځل مهٔ کوئ ځکه دا خلق مانځه ته رابیداروی**) ۲- دویم حدیث: (اذا سمعتم صوت الديك فاسئلوا الله من فضله) (بخارى) المسند الجامع رقم (١٤٣٩٥) (**کله چه د چرګ آواز واورئ نو د الله نه فضل غواړئ**) (اسنى المطالب فى احاديث مختلفة المراتب ٨٧/١ للامام محمد بن درويش البيروتى) **او بل دا حدیث دے او نور احادیث الفضائل موضوع دی** كما فى المنار المنيف ص (١٣٠) للحافظ ابن القيمؒ۔

فوائد الحديث : ١- حديث كښې تيزي ده په مداومت او هميشوالي د عمل باندې اگركه كم وي. پدې وجه قرآن كريم كښې هغهٔ خلقو ته خوشخبري وركړې شويده چه هغوي په اعمالو باندې استقامت كوي. (ان الذين قالوا ربنا الله ثم استقاموا)
او د مداومت نه مراد دا نهٔ دې چه متواتر تولې زمانې راگيرې كړي بلكه ملازمت عرفي مراد دې، يعني په خپل خپل مقرر شده وخت كښې كول او قضائي پكښې نهٔ كول.
٢- حديث دليل دې چه په مستحب باندې دوام كول بهتر عمل دې خو ددې التزام بدعت دې يعني دا دوام فرض گنړل بدعت دې.
٣- په عبادت كښې درميانه روي كول او تعمقاتو نه ځان ساتلو ته ترغيب دې، ځكه پدې كار سره بدن ته نشاط حاصليږي او زړهٔ ته انشراح ملاويږي.
٤- د عائشې ؓ كثرت علم چه داسې قسم مسائل ئې ياد كړي دي. ٥- مومن له پكار دي چه په مستحب كارونو كښې هم د الله د رسول د اتباع كوشش اُوكړي، ځكه مسروق د عائشې ؓ نه د نبي ﷺ د اعمالو او د قيام الليل د اَوقاتو تپوس كوي. ٦- الدائم : دا يا مرفوع دې خبر د مبتداء محذوفې دې. اى هو الدائم. او بعض وائي : منصوب دې.

٢١- وَعَنْ اَنَسٍ، قَالَ: مَاكُنَّا نَشَاءُ اَنْ نَّرٰى رَسُوْلَ اللهِ ﷺ فِي اللَّيْلِ مُصَلِّيًا اِلَّا رَأَيْنَاهُ، وَلَانَشَاءُ اَنْ نَّرَاهُ نَائِمًا اِلَّا رَأَيْنَاهُ. رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: او انس ؓ فرمائي: مونږ به اراده نهٔ كوله چه رسول الله ﷺ په شپه كښې مونځ كونكې اُووينو مگر مونږ به (په مانځه) ليدو، او مونږ به ارادهٔ نهٔ كوله چه هغهٔ په خوب اُووينو مگر په خوب به هم ليدلو. (نسائيؒ)
تشريح : غرض الحديث : الاقتصاد فى العمل. (په عمل كښې درميانه روي كول پكار دي) يعني د انس د ارشاد غرض دا دې چه نبي ﷺ به نهٔ توله شپه اُوده كيدو او نهٔ به توله شپه په تهجدو وو بلكه درميانه رَوي به ئې كوله پدې وجه هغه به په شپه كښې په تهجدو هم مشغول ليدلې كيدو او اُوده به هم ليدلې كيدو.
٢- يا مطلب دا دې چه په شپه كښې به ئې په يوه حصه كښې تهجد بله حصه كښې خوب بيا يوه حصه تهجد او بله حصه خوب او بيا يوه حصه تهجد او بله خوب. او دغه شان حالت ئې په يوه شپه كښې وو. نو چا به د خوب په حصه كښې اُودهٔ ليدو او چا به د تهجدو په حصه كښې په مونځ ليدو.

۳- علامه سندیؒ وائی: یعنی د نبی ﷺ مونځ او خوب د وقت دون وقت پورې مخصوص نهٔ وو بلکه دا دواړه به مختلف وو، او په کوم وخت کښې به ئې چه مونځ کولو کله نا کله نو په هغې کښې به ئې کله خوب کولو۔ او دغه شان ددې برعکس، نو د تهجدو دپاره به ئې معین وقت نهٔ وو مقرر کړې بلکه هرکله به چه ورته قیام آسان شو نو راپاڅیدو به۔ (حاشیة النسائی)

حافظ ابن حجرؒ وائی: د انسؓ مقصد دا دې چه کله به ئې د شپې په اوله حصه کښې تهجد کول او کله به ئې په وسط کښې او کله به ئې په آخر د شپه کښې۔ نو چا چه به یو معین وخت د هغهٔ د انتظار دپاره مقرر کړې وو نو هغهٔ به په هغهٔ وخت کښې کله په خوب لیدو او کله به ئې په تهجدو لیدلو۔ او دا مطلب نهٔ دې چه توله شپه عبادت به ئې کولو۔ انتهیٰ۔

نو نبی ﷺ د صوفیهؤ په شان نهٔ وو چه د خپلو مشرانو په باره کښې داسې صفتونه ذکر کوی چه مسجد حرام کښې یو بزرګ وو چه یو کاله پورې نهٔ چا په ناسته لیدلې وو او نهٔ چا په تکیه لیدلې وو۔ (فضائل صدقات د زکریا) نو دا خپل بزرګان د نبی نه مخکښې کول دی۔ همیشه ویښ پاتې کیدل او همیشه اُودهٔ کیدل کمال نهٔ دې۔

درجة الحديث: اسناده صحيح على شرطهما: اخرجه النسائى (۱/۲۴۲)

۲۲- وَعَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ، قَالَ: إِنَّ رَجُلًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: قُلْتُ وَأَنَا فِي سَفَرٍ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ: وَاللهِ لَأَرْقُبَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ لِلصَّلَاةِ حَتّٰى أَرٰى فِعْلَهُ، فَلَمَّا صَلّٰى صَلَاةَ الْعِشَاءِ، وَهِيَ الْعَتَمَةُ، اِضْطَجَعَ هَوِيًّا مِنَ اللَّيْلِ، ثُمَّ اسْتَيْقَظَ فَنَظَرَ فِي الْأُفُقِ، فَقَالَ: ﴿رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلًا﴾ حَتّٰى بَلَغَ إِلٰى: ﴿إِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيْعَادَ﴾، ثُمَّ أَهْوٰى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِلٰى فِرَاشِهِ، فَاسْتَلَّ مِنْهُ سِوَاكًا، ثُمَّ أَفْرَغَ فِي قَدَحٍ مِنْ إِدَاوَةٍ عِنْدَهُ مَاءً، فَاسْتَنَّ، ثُمَّ قَامَ، فَصَلّٰى، حَتّٰى قُلْتُ، قَدْ صَلّٰى قَدْرَ مَا نَامَ، ثُمَّ اضْطَجَعَ، حَتّٰى قُلْتُ قَدْ نَامَ قَدْرَ مَا صَلّٰى، ثُمَّ اسْتَيْقَظَ، فَفَعَلَ كَمَا فَعَلَ أَوَّلَ مَرَّةٍ، وَقَالَ مِثْلَ مَا قَالَ، فَفَعَلَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ قَبْلَ الْفَجْرِ. رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: او حمید بن عبد الرحمن بن عوف فرمائی: د نبی ﷺ د صحابه کرامؓ نه یو سړې اُوفرمایل: زهٔ د رسول الله ﷺ سره په سفر کښې وم نو ما اُووئیل: چه قسم په الله! زهٔ به ضرور رسول الله ﷺ (د تهجدو په) مانځه ګورم، ترڅو چه زهٔ د هغهٔ عمل اُووینم (او بیا د

هغې مطابق عمل اُوکړم) نو کله چه رسول الله ﷺ د ماسخوتن مونځ چه هغې ته عَتَمه وائی اُوکړو نو په لړه حصه د شپه کښې ئې ډډۀ اُولګوله (اُودۀ شو) بیا رابیدار شو، نو د آسمان کنارو ته ئې اُوکتل او دا آیت ئې اُولوستلو (ربنا ما خلقت هذا باطلًا) (اے ربه! تا دا کائنات فضول نۀ دی پیدا کړی) تردے پورے اُولوستلو چه دے آیت ته اُورسیدو (انك لا تخلف المیعاد) (بیشکه تۀ د وعدے خلاف نۀ کوے) بیا رسول الله ﷺ خپلے بسترے ته متوجه شو (لاس ئې رااُوګد کړو) نو د هغې نه ئې مسواك راویستو، ددے نه بعد ئې په یوه پیاله کښې د یو بتکی نه چه ددۀ سره وو اُوبۀ رااړولے، بیا ئې مسواك اُووهلو بیا پاڅیدو مونځ ئې اُوکړو، تردے چه ما (په زړۀ کښې) اُووئیل چه څومره اَندازه ئې خوب اُوکړو هغومره مونځ ئې اُوکړو، بیا ئې ډډۀ اُولګوله تردے چه ما (زړۀ کښې) اُووئیل چه څومره مونځ ئې اُوکړو هغومره خوب ئې اُوکړو، بیا رابیدار شو نو هغۀ شان کارئې اُوکړو څنګه ئې چه اول ځل کړی وو (یعنی مسواك وغیره) او هغۀ ئې اُولوستل کوم ئې چه مخکښې لوستلی وو (یعنی آیت) د صبا نه مخکښې رسول الله ﷺ درے ځل دا کار اُوکړو۔ (نسائیؒ)

تعارف د حمید بن عبد الرحمن : حمید بن عبد الرحمن بن عوف الزهری المدنی، ثقة من کبار التابعین۔ په سنه (۹۵) کښې د (۷۳) کالو په عمر وفات شوید ے۔ بعض وائی : په سنه (۱۰۵) کښې وفات دے۔

تشریح : فَاسْتَنَّ : د استنان نه ماخوذ دے یعنی مسواك ئې په غاښونو استعمال کړو، اسنان غاښونو ته وائی۔

نبی علیه السلام چه دا ډډۀ لګولے ده نو یا د خوب دپاره ده، چه هر ځل اُوده شوے دے، یا د هسے آرام دپاره پریوتے دے۔ : هَوِيًّا په فتح د هاء او تشدید د یاء سره، اُوږدے زمانے ته وائی۔

فَاسْتَلَّ : یعنی راویستلو د بسترے لاندے نه مسواك۔

ثُمَّ اَهْوٰی : یعنی لاس ئې را اُوږد کړو، یا ئې لاس رامائل (کوږ) کړو۔

ثُمَّ اَفْرَغَ : اُوبه ئې یا ددے دپاره رااړولے چه مسواك پرے لوند کړی، احتمال شته چه اوبه ئې د اَوداسه دپاره رااړولی وی او دلته ئې یا دوباره اَودس کړیدے، یا ئې په زوړ اَودس سره مونځ کړے دے صرف مسواك ئې مینځ کښې وهلے دے۔ والله اعلم۔

وَقَالَ مِثْلَ مَا قَالَ : دلته واو د مطلق جمع دپاره دے ځکه د آیت لوستل پدے مقام کښې مخکښې وی په فعل باندے۔

فوائد الحدیث : ۱- آسمان ته کتل سنت طریقه ده ۔۲- که وخت تنګ وی نو دا رکوع کله نا کله (انك لا تخلف المیعاد) پورے لوستل جواز لری دلته تناقض نشته ځکه

دا د جُدا جُدا شپو اعمال دی۔
۳- د بالخت نه لاندے مسواك کيخودل سنت طريقه ده، دے دپاره چه وهل ئے آسان وی۔ او پدے مقام کښ مسواك د خوب نه روستو وهلے شويدے۔ ٤- ثلاث مرات : دا د نبی ﷺ د تهجدو نه يو گران کيفيت دے چه د شپے دريے ځل راپاڅيږی او بيا اُودهٔ شی۔
درجة الحديث : اسناده صحيح على شرط مسلم : (اخرجه النسائى ١/٢٤٢)

۲۳- وَعَنْ يَعْلَى بْنِ مَمْلَكٍ، أَنَّهُ سَأَلَ أُمَّ سَلَمَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ ﷺ عَنْ قِرَاءَةِ النَّبِيِّ ﷺ وَصَلَاتِهِ ؟ فَقَالَتْ: وَمَالَكُمْ وَصَلَاتَهُ؟ كَانَ يُصَلِّي ثُمَّ يَنَامُ قَدْرَ مَا صَلَّى، ثُمَّ يُصَلِّي قَدْرَ مَا نَامَ، ثُمَّ يَنَامُ قَدْرَ مَا صَلَّى، حَتَّى يُصْبِحَ، ثُمَّ نَعَتَتْ قِرَاءَتَهُ، فَإِذَا هِيَ تَنْعَتُ قِرَاءَةً مُفَسَّرَةً حَرْفًا حَرْفًا. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه : او يعلى بن مملك نه روايت دے چه دهٔ د ام سلمهؓ نه - چه د نبی ﷺ بی بی ده - تپوس اُوکړو د نبی ﷺ د قرائت او د مانځه په باره کښ ؟ (کوم چه به نبی ﷺ د شپے کولو) نو هغے اُوفرمايل :چه ستاسو د رسول الله ﷺ د مانځه (او د هغهٔ د قراءت بيانولو سره څهٔ ؟ (حاصليږی تاسو کښ دومره قوت چرته شته چه د نبی ﷺ برابر قراءت او مونځ اُوکړے شئ او که اَوريدل غواړئ نوواورئ) نبی ﷺ به مونځ کولو بيا به اُودهٔ شو څومره اَندازه چه به ئے مونځ کړے وو بيا به ئے مونځ کولو څومره اندازه چه اُودهٔ شوے وو، بيا به اُودهٔ کيدو څومره اندازه چه به ئے مونځ کړے وو تردے چه صبا به ئے کړو، دے نه بعد ام سلمهؓ د رسول الله ﷺ د قرائت بيان اُوکړو تردے چه هغوی واضح قراءت او يو يو حرف بيان کړو۔ (ابوداودؒ، ترمذیؒ، نسائیؒ) ۔
تعارف د يعلى بن مملك : يعلى بن مَمْلَك ابن حبان په ثقاتو کښ ذکر کړيدے او په تقريب کښ دهٔ ته مقبول وئيلے شويدے د تابعينو د طبقه ثالثے نه دے۔
تشريح : وَمَالَكُمْ وَصَلَاتَهُ ؟ : دا صلاته په نصب سره دے څکه واو په معنىٰ د مع سره دے۔ يعنى ستاسو د نبی ﷺ سره د مانځه سره څهٔ دی ؟ تاسو ددے طاقت نهٔ لرئ نو بيا څه له تپوس کوئ۔ يا دا چه عمل پرے نهٔ کوئ نو تپوسونه مهٔ کوئ۔ او غرض پکښ تيزی ورکول دی په عمل کولو باندے۔
کان يصلی نه ظاهر مطلب دا دے چه نفل مونځ به ئے اُوکړو بيا به اُوده شو۔ الخ ۔
بيا په هرځل راپاڅيدو کښ د نبی ﷺ د مانځه د رکعاتو ذکر نهٔ دے موجود نو کيدے

شي مختلف وي او يا كيدے شي څلور ركعاته وي۔ چه تول ديارلس ركعاته برابر شي۔
تَنعَتُ : نعت بيان ته وائي يعني دا قراء ت ئے بيانولو واضحه واضحه ۔ يعني د نبي ﷺ قراء ت به ښكاره وو۔ او داسے به نهٔ وو لكه د نن زمانے اكثر قاريان چه صرف د حق لفظ ئے معلوميږي او نور تول د ځان سره وائي۔ كدو كښ ئے كانړي اچولي وي او هغه شرنګوي۔ نهٔ، بلكه نبي ﷺ به واضح قراء ت كولو۔ او داسے به هم نهٔ كوي چه هر ټكے د بل نه جدا كړي لكه (ال، حم، دُ) عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائي : قرآن به داسے نهٔ لولئ لكه د كجورو د پاڼړو په شان۔ يو ټكے د بل نه جُدا شي۔
بيا د ام سلمےؓ په قرائت بيانولو كښ دوه احتماله دي ۱ - يو دا چه هغے داسے اووئيل چه د نبي ﷺ قرائت به فلانے فلانے وو او دومره دومره وو۔ او دويم دا چه هغے د ځان نه واضح او مرتل يو قراء ت اُوكړو او بيا ئے اُوفرمايل : نبي ﷺ به ددے په شان قراء ت كولو۔
حَرْفًا حَرْفًا : يعني حال كونها مفصولة الحروف (يعني جُدا جُدا حرفونو والا به وو)
رواياتو نه معلوميږي چه د نبي ﷺ په قراء ت كښ يو څو سنت طريقے وے :
۱- دويم دا چه مد به ئے كولو (او مد ديته وائي چه حروف علت (واو او ياء) اُوګده وائي لكه ياء راكاږي يا واو راكاږي) الحمد لله رب العالمين، مُحْضَرُوْنَ وغيره۔
۲- دويم : جدا جدا الفاظ به ئے وئيل او يو لړئ (پړے) به نهٔ وو۔
۳- دريم : د آياتونو په آخر به ئے وقف كولو۔ (بخاري)۔
د نبي ﷺ نه د آيتونو په مينځ مينځ كښ وقفونه ندي نقل، دا صرف د قاريانو اصطلاحات دي چه معنے ته ئے كتلي دي او د هغے مطابق ئے وقف ليكلے دے، لكه بعض ځايونو كښ ليكي چه دا وقف لازم دے، ځكه كه دا وقف اُونكړے شي۔نو بيا معنیٰ كښ نقصان راځي۔ لكه (ولا يحزنك قولهم) نه روستو ئے وقف لازم ليكلے دے ځكه كه دلته وقف اُونكړي او (ان العزة لله جميعاً) ورسره ملاؤ شي نو بيا به ان العزة د هغوي مقوله شي او حال دا چه دا د الله تعالیٰ د طرفنه مقوله ده۔ خو دا د نبي ﷺ نه ندے نقل۔ لهذا سنت كښ صرف دغه يو وقف على الآيات ثابت دے، نهٔ نور وقفونه۔
انظر الدين الخالص (۱/۹۱)۔
درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه ابو داود (١٤٦٦) والترمذى (٢٩٢٣) وصححه والنسائى (١٠٢١) وفى الكبرى (٤٣٣/١).



باب ما يقول اذا قام من الليل

يعني هغه دعاگانے اواذكار چه د شپے د راپاڅيدو وخت كښې وئيلے شي

يا معنى دا ده: بيان ددے چه څۀ به وائى كله چه د شپے راپاڅيږى؟

د شپے چه راپاڅى نو اذكار درے قسمه دى ١ – قبل الصلاة ٢ – فى داخل الصلاة ٣ – بعد الصلاة نو بعد الصلاة اذكار خو استغفار دے۔ او دعاء گانے او خپل حاجتونه غوختل دى۔ نو پدے باب كښې به دا درے واړه قسمونه بيانيږى۔

الفصل الاول

١ – عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ يَتَهَجَّدُ قَالَ: «اَللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ قَيِّمُ السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ وَلَكَ الْحَمْدُ اَنْتَ نُوْرُ السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضِ وَمَنْ فِيْهِنَّ، وَلَكَ الْحَمْدُ، أَنْتَ مَلِكُ السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ، وَلَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ الْحَقُّ، وَوَعْدُكَ الْحَقُّ وَلِقَاؤُكَ حَقٌّ، وَقَوْلُكَ حَقٌّ، وَالْجَنَّةُ حَقٌّ، وَالنَّارُ حَقٌّ، وَالنَّبِيُّوْنَ حَقٌّ، وَمُحَمَّدٌ حَقٌّ وَالسَّاعَةُ حَقٌّ، اَللّٰهُمَّ لَكَ أَسْلَمْتُ، وَبِكَ آمَنْتُ، وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ، وَإِلَيْكَ أَنَبْتُ، وَبِكَ خَاصَمْتُ، وَإِلَيْكَ حَاكَمْتُ، فَاغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ، وَمَا أَسْرَرْتُ، وَمَا أَعْلَنْتُ، وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي، أَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَأَنْتَ الْمُؤَخِّرُ، لَا اِلٰهَ اِلَّا أَنْتَ، وَلَا اِلٰهَ غَيْرُكَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

• **ترجمه**: ابن عباس ﷺ فرمائى: نبى ﷺ به چه كله د شپے (مانځه ته) راپاڅيدو تهجد به ئے كول نو داسے به ئے وئيل: «اللهم لك الحمد الخ (اے الله! ستا دپاره د كمال صفتونه دى، تۀ د آسمان او زمكے او هغۀ څوك چه پدے كښې دى تدبير كونكے ئے، او ستا دپاره حمدونه دى، ته د آسمان او د زمكے او هغۀ چه پدے كښې دى روښانه كونكے ئے، او ستا دپاره حمدونه دى، ته د آسمان او زمكے او هغۀ څه چه پدے كښې دى بادشاه ئے، او ستا دپاره حمدونه دى تۀ حق ئے، او وعده ستا حقه ده او ستا ملاقات حق دے، او ستا خبرے حقے دى، او جنت حق دے او جهنم حق دے، او انبياء حق دى، او محمد (ﷺ) حق دے، او قيامت حق دے، اے الله! زۀ ستا تابعدار يم، او ما په تا باندے ايمان راوړے دے، (ستا ټول احكامات مے

منلی دی) او په تا مے بهروسه کړے ده، تا طرف ته ما رجوع کړے ده، او خاص ستا په مدد سره به (د دین) د شمنانو سره جګړه کوم، او خاص تا ته فیصله راوړم، نو ته ما ته هغه ګناهونه اُوبخه کوم چه ما مخکښ کړی دی او هغه چه ما روستو کړی دی او هغه چه ما پټ کړی دی او هغه چه ما ښکاره کړیدی او هغه چه ته پرے ما نه ښه پوهه ئے، ته (چه چا له اُوغواړے) مخکښ کونکے ئے او (چا له چه غواړے) روستوکونکے ئے۔ نشته حقدار د بندګئ سِوا ستا نه »۔ (بخاري ومسلم) ۔

تشریح : دے ذکر کښ بعض خلق وائی چه دا به ئے د مانځه نه مخکښ او د خوب نه پس لوستلو، دا د بعض غیر محققین شراحو قول دے۔

۲– صحیح دا ده چه دا په مانځه کښ پس د الله اکبر نه د سبحانك اللهم په ځائے نبی ﷺ لوستلے دے، لکه دا خبره په روایت د ابوداود کښ دغه شان راغلے ده۔ و شرح السنة (۱۷۳/۲) ومسند الصحابة فی الکتب التسعة – مسند ابن عباس)۔ او پدے باندے ابن خزیمه ترجمة الباب لګولے دے او حافظ ابن حجر هم دا خبره لیکلے ده۔

نُوْرُ السَّمٰوَاتِ : ددے معنیٰ دا نهٔ ده چه آسمان او زمکه کښ چه کومه رنړا ده نو دا الله دے۔ ځکه دا خو مخلوقه رنړا ده بلکه معنیٰ دا ده چه انت منور السموات الخ یعنی آسمان او زمکه کښ چه کومه رنړا ده نو دا ستا د مخ د وجه نه ده، تا دے ته رنړا ورکړے ده، دا تِیاره وو که الله ورله رنړا نهٔ وے ورکړے۔ ددے ښهٔ معنیٰ عبد الله بن مسعود ﷺ کړیده : هغه فرمائی : (ان ربکم لیس عنده لیل ولا نهار، نور السموات والارض من نور وجهه) (معجم الکبیر۹/۱۷۹) حلیة الاولیاء (۱۳۷/۱) (ستاسو رب سره شپه او ورځ نشته، بلکه آسمان او زمکه کښ چه کومه رنړا ده نو دا د الله د مخ نه رانقل شویده په هغه کیفیت چه کوم الله ته معلوم دے۔

قَيِّمُ السَّمٰوَاتِ : قیم په معنی د مدبّر او پروګرام چلونکی سره دے۔ یعنی القائم بتدبیر نفسه المقیم لغیره (یعنی د خپلو کارونو او د مخلوقاتو د کارونو تدبیر او تصرف پخپله کوی چا ته ئے نهٔ دی سپارلی دی۔ د مخلوق قیام هم د الله پورے دے۔ د تولو وجود د الله وجود ته محتاج دے)۔

بیا ددے ایمانیاتو اقرار ئے په ژبه اُوکړو، دے دپاره چه زړهٔ ته پریوځی۔

أَنْتَ الْحَقُّ : یعنی تهٔ متحقق الوجود او ثابت ذات ئے چه هیڅ شك پکښ نشته۔ امام قرطبیؒ لیکی : دا صفت په حقیقت کښ صرف او ضرف د الله پورے خاص دے د الله نه علاوه بل چا دپاره مناسب نهٔ دے، ځکه د الله وجود ذاتی دے چه هغے ته عدم نهٔ دے

پیوسته شوے او نۀ به پرے عدم راشی او د الله نه علاوه نور څیزونه فانی کیدونکی دی نو هغے ته حق نشی وئیلے۔ یا معنیٰ دا ده چه تۀ حق ئے په نسبت د هغۀ چا چه دا دعوه لری چه هغۀ اِله دے۔

وَالسَّاعَةُ: (یعنی د قیامت ورځ) دے ته ئے ساعت اُووئیلو ځکه اصلی ساعت (وخت) همغه دے چه په هغے کښ به ډیر عظیم کارونو راځی۔

او ساعة وائی: د ورځ او شپے معمولی حصے ته وائی۔ او پدے څیزونو کښ د حق کیدو معنیٰ دا ده چه دا کارونه کیدونکی دی او ددے تصدیق واجب دے۔ او هر یو سره ئے حق لفظ مکرر کرو دپاره د تاکید ددے څیزونو۔

وَإِلَيْكَ أَنَبْتُ : إِنابت یو په مقابله د عناد کښ راځی مُنیب دے یعنی عناد نۀ کوی بلکه حق چه کوم طرفته ګرځی نو دا ورسره روان وی۔ ۲- دویم إنابت په معنیٰ د عاجزئ د زړۀ سره او دا په مقابله د قَسْوَت کښ استعمالیږی۔ دلته دواړه معانی مراد دی۔ بعض وائی: توبه او انابت دواړه په معنیٰ د رجوع دی لیکن مقام د انابت اعلیٰ او ارفع دے۔

وَبِكَ خَاصَمْتُ : یعنی زه چه د مشرکین او مبتدعینو سره جګړه کوم نو دا به ستا دپاره وی۔ او ستا په مدد به وی۔ او پدے تولو افعالو باندے ئے جار مجرور مقدم کړو دپاره د تخصیص او حصر او دا حصر په نسبت د باقی معبودین من دون الله سره دے۔

فَاغْفِرْ لِي : نبی ﷺ ځان ګنـاهګار ګنړی اګرکه ګناهګار نۀ دے ځکه دا د الله حق دے چه هغۀ ته به د عبودیت او عجز او ګناه اقرار کوے۔ یا دا اُمت ته تعلیم دے۔

۲- وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ افْتَتَحَ صَلَاتَهُ فَقَالَ: «اَللّٰهُمَّ رَبَّ جِبْرِيْلَ وَمِيْكَائِيْلَ وَإِسْرَافِيْلَ فَاطِرَ السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضِ، عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ أَنْتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِيمَا كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ، اِهْدِنِيْ لِمَا اخْتُلِفَ فِيْهِ مِنَ الْحَقِّ بِإِذْنِكَ، إِنَّكَ تَهْدِيْ مَنْ تَشَاءُ إِلٰى صِرَاطٍ مُسْتَقِيْمٍ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی: نبی ﷺ به چه کله د شپے نه (تهجدو) ته راپاڅیدو نو مونځ به ئے شروع کړو او دا به ئے وئیل: «اللهم جبریل: (اے الله! تۀ رب د جبرائیل او میکائیل او اسرافیل ئے، پیدا کونکے د آسمانونو او زمکو ئے، پوهه په غیب او ښکاره ئے، تۀ د خپلو بندګانو ترمینځ فیصله کوے په هغۀ څۀ کښ چه دوی پکښ

اختلاف كوي، ما ته هدايت اُوكړے د هغهٔ څه چه اختلاف پكښې شوے دے د حق نه په خپل مدد او توفيق سره څكه ته چه چا له اُوغواړے نيغے لارے ته هدايت كوے۔(مسلمؒ)

تشريح : دا دعاء به نبي ﷺ په ابتداء د اولنو دوه ركعاتونو كښې د سبحانك اللهم په ځائے لوستله، او دا ډيره بهترينه دعاء ده۔ شيخ الاسلام ابن تيميةؒ باندے به چه كله يوه مسئله سخته شوه نو هغه به دا دعاء لوستله۔ په هر كار كښې به د الله نه هدايت غواړے، خاصكر چه كله درباندے يوه مسئله ګډه وډه شي او اختلافات مخے ته ډير راشي نو دا دعاء وايه، الله به درته هدايت كوي۔ او د الله نه هدايت طلب كول د هر مومن صفت دے۔ كه يو تن ته تا اُووئيل چه پدے مسئله كښې د الله نه هدايت اُوغواړه نو هغه غصه شي او وائي زه درته ګمراه ښكارم، نو دا كار ددهٔ سراسر جهالت دے۔ (وَالَّذِيْنَ اهْتَدَوْا زَادَهُمْ هُدًى) (وَزِدْنَاهُمْ هُدًى)۔ دلته نبي عليه السلام د هدايت د زياتوالي سوال كړيدے۔ (اهدني)۔

بيا د رب اضافت ئے دے درے ملائكو ته اُوكړو اګركه الله د ټولو مخلوقاتو رب دے، ليكن ددے درے ملائكو د تخصيص وجه دا ده چه د دوی فضيلت او شرافت دے په نورو ملائكو۔ دويم دا مقام مقام د مدح د الله دے په ملك او بقاء او ايجاد سره او دا ملائك هم عظيم دي په نسبت د نورو مخلوقاتو او عزرائيل اګركه لوئي مَلَك دے ليكن د هغهٔ ددے صفاتو سره تعلق نشته۔

٣– وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:«مَنْ تَعَارَّ مِنَ اللَّيْلِ فَقَالَ: لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ لَاشَرِيْكَ لَهٗ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ، وَسُبْحَانَ اللهِ، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ، وَلَااِلٰهَ اِلَّا اللهُ، وَاللهُ اَكْبَرُ، وَلَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ، ثُمَّ قَالَ: رَبِّ اغْفِرْ لِيْ، اَوْ قَالَ: ثُمَّ دَعَا، اُسْتُجِيْبَ لَهٗ، فَاِنْ تَوَضَّأَ وَصَلّٰى قُبِلَتْ صَلَاتُهٗ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : او عباده بن صامت ؓ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمائيلي دي :«څوك چه د شپے رابيدار شي او دا ذكرئے اُوكړي : (نشته حقدار د بندګئ سوا د هغهٔ نه يواځے دے، هيڅ شريك ئے نشته، د هغهٔ دپاره بادشاهي ده، او د هغهٔ دپاره حمدونه دي، او هغهٔ په هر شي باندے قادر دے، او الله پاك دے، او د هغهٔ دپاره حمدونه دي، او نشته حقدار د بندګئ سوا د الله نه، او الله لوئي ذات دے، او نشته منع كيدل د ګناه نه او قوت په نيكئ باندے مګر صرف د الله په مدد دي) ددے نه بعد ئے اووئيل : رب اغفر لي، راوي وائي : يا ئے داسے اُووئيل : بيا ئے دعا اُوكړه نو د هغهٔ دعا به قبلولے شي، بيا كهٔ اَودس اُوكړي او مونځ اُوكړي

نو د هغهٔ مونځ به قبلیږي»۔ (بخاريّ)

تشریح : دا دعاء الاستیقاظ ده په هر وخت کښې چه د شپې رابیدار شو او دغه ذکر اُوکړي او د الله نه بخښنه یا دعاء اُوغواړي نو الله به ئې ضرور پوره کوي۔

مَنْ تَعَارَّ : تعار اصل کښې د خوب نه د آواز سره رابیداریدو ته وائي۔ یعنی د خوب نه په داسې حالت کښې رابیدار شي چه دا ذکر ئې په خوله باندې وي۔ نو دغه فضیلت به ورته حاصل شي۔ او دا کار د هغهٔ چا دپاره کیدې شي چه هغهٔ د الله په ذکر باندې اموخته وي او د هغې سره ئې اُنس او تعلق جوړ شوې وي تردې چه ذکر پرې دومره غلبه کړې وي چه د هغهٔ په بیدارئ او خوب کښې حدیث النفس گرځیدلې وي۔

د بخاري په عام روایتونو کښې الحمد لله په سبحان الله مقدم ذکر ده، صرف په روایت د اسماعیلي کښې د سبحان الله نه مؤخر ذکرده، حافظ فرمائي : شاید دا د رواتو تصرف وي، د راوي شك وي۔ ځکه واو مستلزم ترتیب لره نهٔ وي۔

رَبِّ اغْفِرْ لِيْ : یعنې د الله نه بخښنه اُوغواړي په بِسْتَره وغیره باندې۔ یا بله دعاء اُوغواړي۔

اُسْتُجِیْبَ لَهٗ : ابن الملك ؒ فرمائي : دلته د استجابت نه مراد یقیني استجابت دې یعني ضرور به دهٔ دا دعاء قبلیږي ځکه چه نفس احتمال د قبلیدو خو په نورو دعاگانو کښې هم شته، لهذا دلته به یقیني قبلیدل مراد وي۔

بعض اهل علم فرمائي : پدې مقام کښې د دعاء قبلیدل دآرنگه د مانځه قبلیدل د نورو اَوقاتو په نسبت ډیر د امید لائق دي۔

فَاِنْ تَوَضَّأَ : یعنی که ددې ذکر نه روستو اَودس او مونځ اُوکړي نو مونځ به ئې قبول شي، دې نه معلومیږي چه دا دعاء په مانځه کښې نهٔ ده مراد بلکه مونځ ئې مستقل ذکر کړو۔

علامه ابن بطال ؒ فرمائي : الله د خپل نبي په ژبه باندې دا وعده اُوکړه چه څوك د خوب نه رابیدار شو او د هغه په توحید ئې ژبه خوزوله او د هغه بادشاهي او د هغه د نعمتونو اقرارئې په حمدونو سره کولو او هغه ته ئې په تکبیر او عاجزئ سره غاړه کیخودله او د هغه نه ئې دعاء طلب کوله نو د هغهٔ دعاء به قبلیږي او مونځ ئې اُوکړو نو د هغه مونځ به قبلیږي نو بس چا ته چه دا حدیث اُورسیدو هغه له پکار دي چه پدې باندې عمل کول غنیمت اُوگنړي او خپل نیت د رب دپاره خالص کړي۔ (فتح الباری۳/۴۱)

فائده : امام ابوعبد الله الفِرَبْرِيْ (د صحیح بخارِي نقل کونکې) فرمائي : ما به دا ذکر د خوب نه رابیداریدو وخت کښې وئیلو نو یوه شپه مې خوب اُولیدو چه یو سړې راغلو او ما

ته ئے دا آیت اُولوستلو : (وَهُدُوا اِلَى الطَّيِّبِ مِنَ الْقَوْلِ۔ الآية) (سورة الحج) (يعنى دے جنتيانو ته (په دنيا كښ) هدايت شوے وو پاكو خبرو ته) (فتح البارى (۴۱/۳) پدے خوب كښ اشاره وه چه دا ذكر سبب د جنت دے۔ او د عمل د قبليدو دے۔

الفصل الثاني

٤ - عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَا اسْتَيْقَظَ مِنَ اللَّيْلِ، قَالَ: «لَا اِلٰهَ اِلَّا أَنْتَ، سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، اَسْتَغْفِرُكَ لِذَنْبِي، وَأَسْئَلُكَ رَحْمَتَكَ، اللّٰهُمَّ زِدْنِي عِلْمًا، وَلَا تُزِغْ قَلْبِي بَعْدَ اِذْ هَدَيْتَنِي، وَهَبْ لِي مِنْ لَّدُنْكَ رَحْمَةً اِنَّكَ أَنْتَ الْوَهَّابُ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او عائشه رضى الله عنها فرمائى: رسول الله ﷺ به چه كله د شپے (تهجدو ته) رابيدار شو نو داسے به ئے فرمايل :«لا اله الا انت الخ (نشته حقدار د بندگئ سوا ستا نه، اے الله! ته پاك ئے،، او ستا حمدونه دى، زۀ تا نه د خپلو گناهونو بخنه غوارم، او تا نه ستا رحمت غوارم، اے الله! زما علم زيات كړے، او د هدايت نه بعد زما زړۀ مۀ كږوے، او راكړه ما ته د خپل طرف نه رحمت يقيناً ته وركونكے ئے»۔ (ابوداودؒ)۔

تشريح : دا هم د شپے د رابيداريدو دعاء ده او ډيره جَامِعَه دعاء ده۔

اَللّٰهُمَّ زِدْنِي عِلْمًا: نبى ﷺ هم د علم طلب كوى، په دين كښ د نبى ﷺ نه لوئى څوك نۀ وو، داسے مسئلے په دين كښ نشته چه نبى ﷺ ته معلوم نۀ وى۔ بلكه تولے ورته الله خودلے وے، مگر معرفت بالله، او د هغه علوم، او دنياوى علوم او معارف او بصيرت وغيره زياتيدو ته نبى ﷺ هم محتاج وو پدے وجه د علم سوال كوى او هر چه مونږ عام انسانان يو نو مونږ په دواړو كارونو كښ علم ته محتاج يو، نۀ راسره د دين علم (مسائل او احكام) پوره شته او نۀ زمونږ د الله معرفت او بصيرت وغيره شته۔ نو مونږ له خو ضرور د علم طلب پكار دے۔ الله تعالىٰ د هيڅ شى په زيادت طلب كولو حكم نۀ دے كړے مگر د علم او په زيادت ئے حكم كړيدے، دا ډير د كمال شے دے۔

وَلَا تُزِغْ قَلْبِي : يعنى داسے فتنے او امتحانات مه راوله چه په هغے سره زما زړه كوږ شي۔ او د هدايت او حق نه واوړى۔

اَلْوَهَّابُ: هغه ذات ته وائى چه بغير د غوختلو نه وركړه كوى۔

درجة الحديث : اسناده حسن: اخرجه ابوداود (۵۰۶۱) والنسائى فى عمل اليوم والليلة (۸۶۵) وابن حبان (۲۳۵۹) وابن السنى فى عمل اليوم والليلة (۷۶۱) والحاكم فى المستدرك

(٥٤٠/١) وفي اسناده عبد الله بن الوليد وهو المصري وهو لين الحديث كما في التقريب) ولكن قال عبد القادر الارناؤط : في تعليق كتاب الاذكار للنووي (٨١/١) لكن له شواهد بمعناه يتقوى بها) آه وقال حمدي عبد المجيد السلفي في تعليق نتائج الافكار للحافظ ابن حجر (١١٦/١) اسناده حسن ، رواه الحاكم وصححه ووافقه الذهبي۔ (روضة المحدثين ٤٨٧/١٠)

٥- وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَبِيْتُ عَلٰى ذِكْرٍ طَاهِرًا فَيَتَعَارُّ مِنَ اللَّيْلِ، فَيَسْأَلُ اللهَ خَيْرًا إِلَّا أَعْطَاهُ اللهُ إِيَّاهُ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او معاذ بن جبل ؓ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمائيلي دي :« نشته يو مسلمان چه د پاكئ (اَوداسه يا تيمم) په حالت كښ په ذكر سره اُودهٔ شي او بيا د شپے (په يوه حصه كښ) رابيدار شي او د الله نه د څهٔ خير سوال اُوكړي مگر الله به ئے (په دنيا يا آخرت كښ) ورته ضرور وركړي»۔ (احمدؒ، ابوداودؒ)

تشريح : ددے نه دا معلومه شوه چه د شپے په پاكئ او په ذكر سره اُودهٔ كښ كيدل پكار دي، او فضيلت ئے دا دے چه د شپے رابيدار شوے نو چه د الله نه هر څه خير د دنيا يا د آخرت غواړے نو د نبي ﷺ دا وعده ده چه هغه به ئے ضرور پوره كوي۔

يَبِيْتُ : يعني دا خاص دے د شپے د خوب پورے او ددے دپاره ئے طهارت شرط كړو چه په پاكئ به اُوده شوے وي څكه چه په پاكئ سره اُودهٔ كيدل تقاضا كوي چه د انسان روح خيژي او د عرش لاندے سجده كوي چه هغهٔ مَصدر دے د مواهبو (تحفو) نو څوك چه په طهارت اُودهٔ نهٔ شي، د هغهٔ روح دغه مقام ته نهٔ رسيږي كوم نه چه فيض او انعام دے۔

او په حديث د بيهقيؒ كښ دي : روحونه په خوب كښ خيژولے شي نو د عرش په خوا كښ په سجده باندے ورته امر كيدے شي نو څوك چه په طهارت كښ اُودهٔ شي، هغهٔ د عرش سره سجده كوي او څوك چه په پاكئ سره اُوده نهٔ شي نو هغهٔ د عرش نه بعيد (وراندے) سجده كوي۔ نو پدے كښ دعوت دے چه د خوب دپاره اَودس مستحب دے۔ (فيض القدير للمناوي ٦٣٥/٥)

او ددے په معنىٰ يو حديث ابن حبان په خپل صحيح (٣٢٨/٣) رقم (١٠٥١) كښ (او بزار او بيهقي) د ابن عمر نه مرفوعاً راوړيدے فرمائي : څوك چه په حالت د طهارت كښ د شپے اُودهٔ شي نو د هغهٔ سره په دننه جامه كښ ملائك شپه تيروي دا نهٔ رابيداريږي (په يوه حصه د شپه كښ) مگر ملائك وائي : (اللهم اغفر لعبدك فلان) اے الله دے فلاني بنده

ته بخنه اُوکړه) وسنده حسن لغیره قاله الالبانی فی صحیح الترغیب (۱/۱۳۱) رقم (۵۹۷) او دغه شان طبرانی په اوسط کښې د ابن عباسؓ نه په سند جید راوړیدے۔

(فتح الباری ۱۱/۱۰۹)

طَاهِرًا : د طهارت نه مراد اَودس دے، او د دواړهٔ قسمه احداثو او پلیتو نه پاك وی۔

عَلٰى ذِكْرٍ : د ذکر نه مراد تلاوت، تسبیح، تحمید، تهلیل، تکبیر او هغهٔ دعاګانے او ذکرونه دی چه د اُوده کیدو په وخت وئیلے شی۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح : اخرجه احمد (۵/۲۴۱) وابوداود (۵۰۴۲) والنسائی فی عمل الیوم واللیلة (۸۰۵) (۸۰۶) وابن ماجه (۳۸۸۱)

٦- وَعَنْ شَرِيقٍ الْهَوْزَنِيِّ، قَالَ: دَخَلْتُ عَلٰى عَائِشَةَ فَسَأَلْتُهَا: بِمَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَفْتَتِحُ إِذَا هَبَّ مِنَ اللَّيْلِ؟ فَقَالَتْ: سَأَلْتَنِي عَنْ شَيْءٍ مَا سَأَلَنِي عَنْهُ أَحَدٌ قَبْلَكَ، كَانَ إِذَا هَبَّ مِنَ اللَّيْلِ كَبَّرَ عَشْرًا، وَحَمِدَ اللهَ عَشْرًا، وَقَالَ: سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ عَشْرًا، وَقَالَ: سُبْحَانَ الْمَلِكِ الْقُدُّوسِ عَشْرًا، وَاسْتَغْفَرَ اللهَ عَشْرًا، وَهَلَّلَ اللهَ عَشْرًا، ثُمَّ قَالَ: اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوْذُ بِكَ مِنْ ضِيقِ الدُّنْيَا، وَضِيقِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ، عَشْرًا، ثُمَّ يَفْتَتِحُ الصَّلَاةَ». رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او شریق الهوزنی رحمه الله فرمائی: زهٔ د عائشے رضی الله عنها په خدمت کښې حاضر شوم، او د هغے نه مے تپوس اُوکړو، چه رسول الله ﷺ به چه کله د شپے رابیدار شو نو په څه سره به ئے مونځ شروع کولو؟ نو هغے اُوفرمایل: چه تا ما نه د داسے څیز په باره کښې تپوس اُوکړو چه ما نه هیچا ستا نه مخکښې ددے په باره کښې تپوس نهٔ دے کړے (نو واورهٔ چه) رسول الله ﷺ به کله د شپے رابیدار شو نو (اول به ئے) الله اکبر لس کرته، الحمد لله لس کرته، (سبحان الله وبحمده) لس کرته، (سبحان الملك القدوس) لس کرته، استغفار لس کرته او (لا اله الا الله) لس کرته اُووئیله، بیا به ئے لس کرته داسے اُووئیل : (اللهم انی اعوذ بك من ضیق الدنیا وضیق یوم القیامة) (اے الله! زهٔ په تاسره پناهی طلب کوم د دنیا د تنګئ نه او د قیامت د ورځے د تنګئ نه) ددے نه پس به ئے مونځ شروع کړو۔ (ابوداودؔ)۔

تعارف د شریق : شریق الهوزنی منسوب دے هوزن بن عوف ته چه دا د یمن نه یوه قبیله ده او شَریق تابعی د حِمص اُوسیدونکے دے، تقریب کښې ئے ورته مقبول وئیلے دے۔

تشریح : یَفْتَتِحُ : بعض علماء وائی ددے نه مراد افتتاح د مونځ نهٔ ده بلکه د خوب نه

رابیداریدو وخت کښې دا دعاء ده۔

بیا د افتتاح معنیٰ دا نهٔ ده چه ددې نه مخکښې به ئې هیڅ الفاظ نهٔ وئیل بلکه دا افتتاح اِضافي ده ځکه چه اول به نبي ﷺ الحمد لله الذی احیانا الخ وئیل دارنګه (ان فی خلق السموات الخ) بیا به ئې دا وئیلې وو خو دې تولو ته افتتاح وئیلې شي۔

۲– لیکن راجح دا ده چه ددې افتتاح نه د مانځه افتتاح مراد ده لکه په روایت د ابوداود، نسائي او ابن ماجه کښې دي: عاصم بن حمید فرمائي: ما د عائشې ؓ نه تپوس اُوکړو: بأى شيء كان يفتتح رسول الله ﷺ قيام الليل؟ قالت: لقد سألتني عن شيء ما سألني عنه احد قبلك كان اذا قام كبر عشراً، وحمد الله عشراً وسبح عشراً وهلل عشراً واستغفر عشراً وقال: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ وَاهْدِنِيْ وَارْزُقْنِيْ وَعَافِنِيْ وَيَتَعَوَّذُ مِنْ ضِيْقِ الْمُقَامِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ) انظر المرعاة (۲۰۷/٤) (اسناد حسن صحیح– صحیح ابی داود (۷٤۲)

(نبي ﷺ به د شپې مونځ په کوم ذکر سره شروع کولو) باقي روایت: (هغې اوفرمایل: تا ما نه د داسې څیز تپوس اُوکړو چه ما نه هیچا داسې نهٔ دې کړې، نبي به چه کله (مانځه) ته اُودریدو نو لس کرت الله اکبر، لس کرت الحمد لله، لس کرت سبحان الله، لس کرت لا اله الا الله او لس کرت استغفار اووئیلو، بیا به ئې داسې اُوفرمایل: (اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ وَاهْدِنِيْ وَارْزُقْنِيْ وَعَافِنِيْ، اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ ضِيْقِ الْمُقَامِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ) (اې الله ما ته بخنه اُوکړه، ما ته رزق راکړه، ما ته عافیت (روغوالې) راکړه، زهٔ په الله پورې پناه غواړم د قیامت د ورځې د تنګئ نه) لهذا دا الفاظ هم ورسره زیاتولې شي۔

سَأَلْتَنِيْ: پدې کښې عائشې ؓ د شریق د سوال تحسین او تائید کوی چه ډیر ښهٔ تپوس کوې، او اظهار د افسوس دې په غفلت د خلقو ددهٔ د حال نه۔

ضِيْقِ الدُّنْيَا: (په کسره د ضاد او فتحه دواړه جائز دی) د دنیا د تنګی نه مراد هغه مصائب او تکالیف دی چه د هغې په وجه سینه تنګه شي او زړهٔ کوږ شي، ځکه چه چا باندې مشقت د مرض، قرض، یا ظلم وی نو هغه باندې زمکه تنګه شي۔

درجة الحدیث: اسناده حسن او صحیح: اخرجه احمد (۱٤۳/٦) ابوداود (۵۰۸۵) والنسائی (۲۸٤/۸) وابن ماجه (۱۳۵٦) وفی اسناده بقية بن الوليد وهو مدلس الا ان الحافظ قال فی نتائج الافكار (۱۱۷/۱) الا انه قد امن ذلك فی الاسناد لانه قد وقع فی رواية النسائی تصريحه بتحديث شيخه له به (وكذا فی ابن السنی) وشيخه عمر بن جعثم لم اقف فيه على جرح ولا تعديل الا ان ابن حبان ذكره فی الثقات وشيخ شيخه شريق ما روى عنه سوى الازهر ولم اقف فيه على جرح ولا تعديل لكن وجدت له متابعاً انظر روضة المحدثين

۴۸۸/۱۰) ونتائج الافکار (۱۱۸/۱) وصححه الالبانی فی صحیح ابن ماجه (۱۳۵۶)
واخرجه ابوداود فی الصلاة (۷۶۶) من طریق اخریٰ عنها دون قوله (وقال سبحانك الملك القدوس عشراً) ودون الاستعاذة من ضیق الدنیا واسناده صحیح فلو آثره المؤلف لکان اولیٰ وله طریق ثالث فی المسند)

الفصل الثالث

۷- عَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ، قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ كَبَّرَ، ثُمَّ يَقُوْلُ: سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، وَتَبَارَكَ اسْمُكَ، وَتَعَالٰى جَدُّكَ، وَلَاالِٰهَ غَيْرُكَ، ثُمَّ يَقُوْلُ: اَللهُ اَكْبَرُ كَبِيْرًا، ثُمَّ يَقُوْلُ: اَعُوْذُ بِاللهِ السَّمِيْعِ الْعَلِيْمِ، مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ مِنْ هَمْزِهٖ وَنَفْخِهٖ وَنَفْثِهٖ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَاَبُوْدَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَزَادَ اَبُوْدَاوُدَ بَعْدَ قَوْلِهٖ: «غَيْرُكَ». ثُمَّ يَقُوْلُ: «لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ». ثَلَاثًا وَفِيْ آخِرِ الْحَدِيْثِ: «ثُمَّ يَقْرَأُ».

ترجمه: ابوسعید خدری ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ به چه کله د شپے (تهجدو) ته راپاڅیدو نو الله اکبر به ئے اُووئیلو، ددے نه پس به ئے وئیل: (سبحانك اللهم الخ) (اے الله ته پاك ئے او ستا دپاره حمدونه دی، ستا نوم برکت والا دے، او ستا شان لوئی دے، او نشته حقدار د بندګئ سوا ستا نه) بیا به ئے وئیل: الله اکبر کبیراً (الله ډیر لوئی دے لوئی) بیا به ئے فرمایل: (اعوذ بالله السمیع العلیم من الشیطان الرجیم من همزه ونفخه ونفثه) (زهٔ په الله اَوریدونکی او پوهه سره پناهی غوارم د شیطان مردود نه، د هغهٔ د وسوسے نه، د هغهٔ د تکبر نه او د هغهٔ د شعر وئیلو نه) (ترمذیؒ، ابوداودؒ، نسائیؒ) او ابوداودؒ په خپل روایت کښ د« ولا اله غیرك» نه روستو دا الفاظ زیات نقل کړیدی: بیا به ئے درے کرته داسے وئیل: «لا اله الا الله» (نشته حقدار د بندګئ سوا د الله نه) اوْ د حدیث په آخر کښ دی: بیا به ئے (داعوذ بالله الخ) نه روستو قراءت کولو۔

تشریح: دا سبحانك اللهم په نفل مانځه کښ راغلے ده مګر په مسلم کښ راغلی دی چه عمر ﷺ دا په فرض مانځه کښ په جهر وئیلے ده چه خلقو ته ددے سنیت اُوښائی، نو کوم خلق چه دا وائی چه نور اذکار سِویٰ د سُبحانك اللهم نه به نهٔ وائی نو دا غلط وائی لکه ددے تفصیل په څلورم جلد کښ ذکر شویدے۔

ثُمَّ يَقْرَ: یعنی ددے ذکر نه به ئے روستو قراءت شروع کولو۔

وَتَبَارَكَ اسْمُكَ : یعنی ستا نوم کښ ډیر خیر دے نو پاتے لا په مسمیٰ کښ۔

وَتَعَالٰى جَدُّكَ : یعنی ستا عظمت او مرتبه لویه ده، یا ستا غنیٰ (مالداری) اُوچته ده

هيـچا ته محتاجه نهٔ ده۔ هَمْزِهٖ : يعـنـي وسـوسـه او گمراه كولو د هغهٔ نه، دارنگه ددے تفسير په جنون (ليونتوب) هم شويدے۔ وَنَفْخِهٖ : يعني تكبر او عجب د هغهٔ۔ وَنَفْثِهٖ : سـحـر او شـعـر د هـغـهٔ۔ او ددے تفصيلي معاني په باب ما يقرأ بعد التكبير كښ تير شويدے۔

درجة الحديث : اسـنـاده صـحـيح : اخرجه ابو داود (۷۷۵) والترمذی (۲٤۲) والنسائی (۸۹۸) وراجع الحديث (٦) باب ما يقرأ بعد التكبير

۸– وَعَنْ رَبِيْعَةَ بْنِ كَعْبِ الْأَسْلَمِيِّ ، قَالَ: كُنْتُ أَبِيْتُ عِنْدَ حُجْرَةِ النَّبِيِّ ﷺ فَكُنْتُ أَسْمَعُهُ إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ يَقُوْلُ: «سُبْحَانَ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ» الْهَوِيَّ، ثُمَّ يَقُوْلُ: «سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهٖ» الْهَوِيَّ. رَوَاهُ النَّسَائِيُّ، وَلِلتِّرْمِذِيِّ نَحْوَهُ، وَقَالَ: هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ.

ترجمه : او ربيعه بن كعب اسلمی ؓ فرمائي: ما د نبی ﷺ د حُجرے په خوا كښ شپه تيرَوله نو ما به د هغهٔ نه اَوريدل چه كله به د شپے راپاڅيدو نو ډير ساعت به ئے داسے وئيل: «سبحان رب العالمين» (پاكي ده الله لره چه رب د مخلوقاتو دے) بيا به ئے ډير ساعت پورے فرمايل: «سبحان الله وبحمده» (الله لره پاكي ده او د هغهٔ دپاره حمدونه دی) (نسائیؒ) او ترمذیؒ ددے په شان روايت نقل كړيدے او دا ئے وئيلي دی چه دا حديث حسن صحيح دے۔

تشريح : يعني نبی ﷺ به چه د خوب نه رابيدار شو نو ډير وخت پورے به ئے سبحان رب العالمين او سبحان الله وبحمده وئيل، دے دپاره چه د قرآن كريم پدے آيت عمل اُوكړی (فسبح باسم ربك العظيم)

الْهَوِيَّ : دا د ظرف صيغه ده يعني ډيره زمانه۔ بعض وائی دا د شپے پورے مختص دے۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه فی الادب (۲٤۹/۲) وسنده علی شرط مسلم وقـد اخـرج طـرفـه الاول بـزيادة فيه : (۵۲/۲) واخرجه ابوعوانة فی صحيحه (۳۰۳/۸۱/۲ بتمامه). وصحيح سنن ابی داود (۱۱۹۳) وابن ماجه (۳۸۷۹)۔



باب التحريض على قيام الليل

قيام الليل (تهجدو) باندے د تيزى (او ترغيب) وركولو بيان

تحريض، ترغيب او تيزى وركولو ته وائى. او دلته دا ترغيب په احاديثو سره وركړے شويدے او په قرآن كريم كښې هم دا ترغيب وركړے شويدے : ﴿ ومن الليل فتهجد به نافلة لك ﴾(يعنى د شپے په څه حصه كښې تهجد كوه دا به ستا دپاره زياتى حصه وى)

د تهجدو فضائل او فوائد

۱- پدے سره انسان مقام محمود ته رسى (يعنى اُوچته مرتبه ورته حاصليږى) لكه دغه آيت آخر كښې دى (عسى ان يبعثك مقاماً محموداً) ـ علماء فرمائى كه څوك غواړى چه ما الله اُوچتے مرتبے ته اُورسوى نو هغه دے د تهجدو پابندى كوى۔

۲- الله د مومنانو صفت كړيدے چه دوى د خپلو بسترونه پاڅيږى : (تتجافى جنوبهم عن المضاجع يدعون ربهم خوفاً وطمعاً) (كانوا قليلا من الليل ما يهجعون)

بيا په احاديثو كښې د تهجدو ډير فوائد او فضائل راغلى دى چه تقريباً (٢٤) ته رسيږى. چه مونږ جمع كړى ورنه د سلو نه زياتے فائدے پكښې دى۔

۱- يو دا چه دا د ايمان يوه شعبه (څانگه) ده او د مومنانو خصوصى صفت دے۔ او نبى ﷺ فرمائى : (افضل الصلاة بعد الفريضة صلاة الليل (مسلم بروايۃ ابى هريرة) د فرض مانځه نه پس بهترين مونځ د شپے مونځ دے۔

۲- دا سبب د دخول د جنت دے۔ لكه حديث د عبد الله بن سلامؓ كښې راځى : (يا ايها الناس ! اَفْشوا السَّلام وَاَطْعِمُوا الطَّعَامَ، وَصِلُوا الارحامَ وصَلُّوا بالليل والناس نِيَامٌ، تَدْخُلُوا الجَنَّةَ بِسَلَامٍ) (متفق عليه) او بل حديث كښې دى : (ان فى الجنة لغرفاً يرى ظاهرها من باطنها وباطنها من ظاهرها اعدها الله لمن الان الكلام واطعم الطعام وادام الصيام وصلى بالليل والناس نيام) (ترمذى، احمد)

۳- په تهجدو كښې د الله د امر او حكم تعميل دے. ځكه هغه په خپل كتاب كښې بار بار قيام الليل ذكر كړيدے۔

٤- دا د نبى ﷺ هميشه عمل وو او د هغهٔ اتباع كښې هدايت دے۔

۵- دا د پخوانو اُمتونو او ددے اُمت د نیکانو طریقه ده۔
٦- تهجدو ته د راپاځیدو په وجه د شیطان غوټے کولاویږی کومے ئے چه د انسان سر ته وهلی وی کله چه هغه اُودهٔ شی۔
۷- څوك چه تهجد کوی نو د هغهٔ نفس به طیب (مزیدار) تازهٔ وی او که تهجد اُونکړی نو سُست پست او خبیث النفس به راپاځیږی نو په تهجدو کښ تازګی او خوشحالی ده او د سستی او خباثت نه خلاصیدل دی۔
۸- تهجدو کښ د الله په نعمتونو باندے شکریه ده او شکر عظیم عبادت دے (افلا اکون عبداً شکوراً)
۹- پدے کښ انسان د شیطان د بول (متیازو) نه خلاصیږی ځکه چه کله انسان قیام اللیل نهٔ کوی نو شیطان د هغه په غوږونو کښ متیازے کوی۔ نو دے فائدے ته بیداریدل پکار دی۔
۱۰- پدے سره انسان د فتنو نه خلاصیږی لکه روستو به حدیث راشی : (ما ذا انزل من الفتن)۔ ۱۱- د تهجدو وخت د دعا ګانو او حاجتونو غوختلو وخت دے (من یدعونی فاستجیب له)۔ ۱۲- په شپه کښ یو وقت دے چه مسلمان د هغے سره موافق شی نو که دنیا او آخرت هر خیر غواړی الله به ئے ضرور ورکړی۔ او دا په هره شپه کښ وی۔
۱۳- دا رب ته د نزدیکت عظیم سبب دے۔
۱٤- مکفرة للسیئات (پدے سره ګناهونه رژیږی)۔
۱۵- منهاة عن الاثم : د ګناهونو نه منع کونکے دی)
۱٦- دا بنده ته د الله د خندا سبب دے۔
۱۷- د شپے په مینځنۍ حصه کښ انسان الله ته ډیر نزدے کیږی۔
۱۸- څوك چه خپله رابیدار شی او ښځه راپاڅوی نبی ﷺ هغه دپاره د رحمت دعا کړیده۔
۱۹- د فرضو نه بعد روستو ددے درجه ده۔
۲۰- څوك چه د شپے مونځونه کوی نو د ورځے ګناهونو نه محفوظ کیږی۔
۲۱- څوك چه د شپے دوه رکعاته تهجد اُوکړی نو په ذاکرین او ذاکراتو کښ به اُولیکلے شی۔
۲۲- نبی ﷺ فرمائی : (اشراف امتی حملة القرآن واصحاب اللیل) زما د امت شریفان خلق د قرآن حاملین او د شپے مونځ ګوزار دی۔
۲۳- الله د اجر ورکولو نه نهٔ ستړے کیږی تر دے چه بندګان ستړی شی۔
۲٤- الله د هغهٔ سړی نه تعجب کوی چه د خپل محبوب او اهل د مینځ نه د بسترے نه راپاځیږی۔

٢٥- دا تهجد په ذکر کښې داخليږي بلکه اعلىٰ درجه ذکر دے۔ او حافظ ابن القيم په الوابل الصيب کښې د ذکر اوويا فائدے ذکر کړيدي۔

٢٦- انسان ته د ښهٔ سړي توب نوم ورکولے شي کله چه تهجد کوي۔ (نعم الرجل عبد الله لو کان يصلي من الليل)

٢٧- عبد الله بن ابي موسى فرمائي: ما ته عائشےؓ اُوفرمايل: په تا لازم دي چه قيام الليل اُوکړے ځکه چه رسول الله ﷺ به دے ته ضرور راپاڅيدو مگر که بيمار به شو نو بيا به ئے په ناسته قراءت کولو۔ نو دومره اهميت لري چه نبي ﷺ به په حالت د مرض کښې هم نهٔ دي پريخي۔ (التهجد لابن ابي الدنيا ص ١٠٢)

اقوال العلماء في فضائل التهجد

١- معاويه بن قرهٔ وائي: زهٔ د حسن بصريؒ خوا ته ورغلم او هغهٔ په خپل کټ باندے تکيه وهلے وه، ما ورته عرض اُوکړو، کوم عمل الله ته زيات محبوب دے؟ هغهٔ اُوفرمايل (الصلاة في جوف الليل والناس نيام)۔

(په شپه کښې مونځ کول چه خلق اُودهٔ پراته وي)۔

٢- عبد الله بن مسعودؓ فرمائي: د شپے مونځ د ورځے د مانځه نه دومره غوره دے لکه پټه صدقه چه په ښکاره باندے غوره ده۔ (واسناده صحيح)

٣- د يعلىٰ بن عطاء ترور سلمىٰ فرمائي: ما ته عمرو بن العاص اُوفرمايل: اے سلمىٰ! يو رکعت د شپے د لس رکعاتو د ورځے نه بهتر دے۔ (اسناده حسن)

٤- عبد الله بن ابي الهذيل فرمائي: د بنده په مينځ د شپه کښې مانځه ته اُودريدل ددهٔ دپاره نور دے په ورځ د قيامت چه ددهٔ مخے ته به روان وي۔

٥- امام اوزاعيؒ فرمائي: ما ته دا خبره رارسيدلے ده چه څوك اُوږد قيام الليل کوي نو الله به د هغهٔ نه د قيامت په ورځ تخفيف راولي۔

٦- حسن بصريؒ فرمائي: د مومنانو شرافت قيام الليل دے او د هغوي عزت د خلقو د لاسونو نه استغناء ده۔ او دا په مرفوع حديث کښې باسناد صحيح هم راغلي دي۔

٧- اَجلَحْ فرمائي: ما سلمه بن کهيلؒ په خوب کښې اُوليدو، ما عرض اُوکړو: کوم عمل تا افضل اُوموندو؟ هغهٔ اُوفرمايل: قيام الليل۔ (سند حسن)

٨- اسحاق بن سويد وائي: پخوانو به د ورځے روژے او د شپے تهجد سياحت گڼړلو۔ (اسناده حسن)

۹– وهب بن منبه فرمائی: درے څیزونه د دنیا روح دے ۱– د ملګرو ملاقات. ۲– روژه ماتے د روژه دار. ۳– په آخر د شپه کښې تهجد کول.

۱۰– وهب بن منبه فرمائی: قیام اللیل سره خکته انسان شریف جوړیږی او ذلیل پرے عزتمند کیږی او د ورځے روژے د مومن نه شهوات ختموی او د مومن دپاره د جنت د داخلیدو نه مخکښې راحت نۀ وی.

۱۱– ثابت بُنَانی (د انس بن مالك شاګرد) به د ورځے روژه وو او د شپے به ئے عبادتونه کول او دا به ئے فرمایل: زۀ په خپل زړۀ کښې ډیر خوندور شے د قیام اللیل نه بل څۀ نۀ مونده کوم. او هغۀ دا هم فرمایلی دی: اے الله کۀ تۀ چا ته په قبر کښې مونځ ورکوے نو ما ته ئے راکړه. هشام فرمائی: مونږ د ثابت البنانی نه په اوږد قیام اوبے خوبئ باندے هیڅوك نۀ دے لیدلے، یوځل مونږ د هغۀ سره مکے ته سفر کښې ملګری شو نو کۀ مونږ به یو ځائے کښې پړاؤ واچولو نو دا به په مانځه ولاړ وو، او تا به هر کله چه ویښې لیدلو. او په لاره چه به روان وو نو یا به ئے (د الله د یرے) ژړا کوله او یا به ئے د الله دکتاب تلاوت کولو.

۱۲– معتمر بن سلیمان فرمائی: کله چه به د رمضان میاشت داخله شوه نو د کور ټول اهل به ئے راپاخول او دا به ئے فرمایل: پاخیږئ، شاید چه دے کال نه بعد ئے اونۀ مومئ. (اسناده حسن)

۱۳– داود الطائی فرمائی: ما د هیچا سره په هیڅ شی حسد نۀ دے کړے مګر د هغۀ چا سره چه تهجد به ئے کول، ما به وئیل چه ما ته قیام اللیل نصیب شی. (اسناد حسن)

ام سعید بن عقلمة طائیه وائی: زمونږ او د داود طائی ترمینځ وروکے شان دیوال وو، ما به د داوؔد عامه شپه حرکات اَوریدل چه آرام به ئے نۀ کولو، او ډیر کرت به ئے په یو آیت باندے خوش آوازی اُوکړه نو ما به ګمان اُوکړو چه ټول نعمتونه د دنیا دۀ په ترنم کښې راجمع دی، او دا به په کور کښې یواځے وو، ډیوه به ئے هم نۀ بلوله.

۱٤– ابوالمغیره نضر بن اسماعیل فرمائی: په تیم الله قبیله کښې یو شیخ وو، د هغۀ سره څۀ ځوانان عابدان یو ځائے شو چه دۀ د پناه ځائے صرف مسجد وو او دغه هلکان به هم ورسره لازم اُوسیدل او د هغۀ نه به ئے آداب زدۀ کول. دے فرمائی: کله چه به شپه شوه نو په ابتداء کښې به ئے معمولی شان خوب اُوکړو. بیا به راپاخیدو او آواز به ئے اُوکړو: (من لقرة العین و خطبة الکواعب) (د سترګو یخوالی او د پیغلو نکاح ته څوك تیار دے؟) نو دغه عابدانو هلکانو به د خپلو بسترو نه راټوپ کړل لکه زمری چه خپلو ملګرو ته راپاخیږی. نو دوی به په همدے حالت وو په تهجد او ژړا او دعاګانو کښې تر صبا راختلو

پورے۔ او دوی پدے کار باندے همیشه وو تر دے چه پدے حالت مرۀ (هم) شو۔ ابو المغیرة وائی : ما دغه شیخ لیدلے دے چه اُوږد بدن والا وو د پخوانو عربو په شان او سختے ځرمنے والا وو۔ او په مخ باندے ئے هیجان او زیړوالے غالب وو، او ما چه به هغۀ ته کتل نو زما او د هغۀ ترمینځ به رعب او رنړا حائل کیده۔ او دا غټ اندامونو والا شیخ وو۔ (سنده ضعيف) ولكن فى القصة عبرة) راجع «قيام الليل والتهجد» لابن ابى الدنيا۔

۱۵- اسماعیل بن مسلمؒ فرمائی: حسن بصریؒ ته اُووئیلے شو : د تهجدو گزارو خلقو دا مخونه د نورو خلقو نه ولے ډیر ښائسته وی؟ هغۀ اُوفرمایل : وجه دا ده چه دوی الله ته ځان اُوزګار کړے وی، نو الله ورته د خپل نُور نه نُور ورکړے وی۔

۱۶- مجاهدؒ فرمائی: کله چه به ژمے راغلو نو عبید بن عمیر به فرمایل : اے اهل قرآن! ستاسو د مانځه دپاره شپه اُوږدۀ شوه او د روژو دپاره ورځ لنډه شوه نو بس غنیمت ئے اُوګنړئ۔

۱۷- تمیم داری نه یوه شپه تهجد پاتے شو نو په بله شپه بالکل اُودۀ نۀ شو ځانله ئے سزاء ورکوله۔ (فضل قيام الليل والتهجد للآجرى ت ۳٦۰) ص (۱۰)

۱۸- فضیل بن عیاض فرمائی : کله چه تۀ په قیام اللیل او صیام النهار قادر نۀ شے نو پوهه شه چه ته پوره محروم ئے، او ګناهونه دے زیات شویدی۔ احياء علوم الدين (۱ ۵۵ ۳)

او د تهجدو فضائل خو په اقوالو د علماؤ کښں ډیر زیات دی چه تول پدے دلالت کوی چه هر مسلمان له خاصکر هغه څوك چه د ورځے کاروبار وغیره کوی ډیر ضروری دے ځکه چه د ورځے هم په غفلت کښں او شپه هم په غفلت کښں تیرول ندی پکار، ددے دا مطلب هم نه دے چه څوك د ورځے په تعلیم او تعلم او درس او تدریس کښں مشغول وی نو هغه به تهجد نه کوی نه بلکه هغوی له هم څه نا څه حصه ضرور کول پکار دی اګرکه ډیر نشی کولے۔ ځکه چه د تعلیم او تعلم جدا فوائد دی او د عبادتونو او تهجدو جدا فوائد دی۔

الفصل الاول

۱- عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«يَعْقِدُ الشَّيْطَانُ عَلٰى قَافِيَةِ رَأْسِ أَحَدِكُمْ اِذَا هُوَنَامَ ثَلَاثَ عُقَدٍ، يَضْرِبُ عَلٰى كُلِّ عُقْدَةٍ : عَلَيْكَ لَيْلٌ طَوِيْلٌ فَارْقُدْ، فَاِنِ اسْتَيْقَظَ فَذَكَرَ اللهَ انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ، فَاِنْ تَوَضَّأَ انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ، فَاِنْ صَلّٰى انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ، فَأَصْبَحَ نَشِيْطًا طَيِّبَ النَّفْسِ، وَاِلَّا أَصْبَحَ خَبِيْثَ النَّفْسِ، كَسْلَانَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : ابو هريره ؓ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : «کله چه په تاسو کښں یو

شخص (د شپې) اُودهٔ شي نو شيطان د هغهٔ د سر آخر (يعني څټ) ته درې غوټې اَچوی، هرهٔ غوټه (دې وئيلو سره) وهي چه په تا باندې اُوږدهٔ شپه (پرته) ده، (ډيره شپه پاتې ده روستو به راپاځيږې) اُودهٔ شهٔ !، نو که هغهٔ شخص رابيدار شي او د الله ذکر اُوکړي نو يوه غوټه کولاوه شي، بيا کهٔ اَودس اُوکړي نو بله غوټه کولاوه شي، بيا کهٔ مونځ اُوکړي نو (دريمه) غوټه کولاوه شي، لهذا داسې شخص به خوشحال او پاك نفس والا صبا کړي او کهٔ داسې اُونکړي نو هغهٔ به پليت نفس والا، سُست صبا کړي». (بخاريؔ ومسلمؔ)

تشريح : قَافِيَةِ : آخر الرأس ته وائي يعني څټ. او قافيه د هر شي آخر ته وائي.

يَضْرِبُ : يعنی چُپ اَچوی او چپ ئې دا دې چه (عليك ليل طويل). يعني سر ورله تپوی چه اُودهٔ شهٔ !.

كَسْلَانَ : يعنی که تهجد اُونکړي نو سُست به وی خوله به ئې وازه وازه کيږی او که دوکانداریٔ ته اُوځي نو بس د سحر نه به ئې جګړې شروع شي.

شيطان د اودهٔ انسان سر ته غوټې اچوی

يَعْقِدُ: بيا آيا دا غوټې اچول په حقيقت بناء دی او که مجاز دې؟ .

۱- بعض وائی دا مجاز دې او بطور مثال وئيلې شويدې يعني لکه څنګه چه ساحر په خپل سحر باندې خلق راتړی او بندوی نو دغه شان شيطان په خپله وسوسه سره خلقو ته راحت او خوب ښائسته کوی او د تهجدو نه ئې غافله کوی. او يا دا کنايه ده ددې نه چه شيطان اُوده انسان د قيام الليل نه منع کوی په دغه مخکنی قول سره چه (عليك ليل طويل). او دا ځکه په حقيقت بناء نهٔ دې چه د انسان په څټ کښې خو څه غوټې نهٔ ښکاری. دارنګه کله د چا سر ګنجې وی. مګر دا قول ضعيف دې.

۲- د محققينو قول دا دې چه دا په حقيقت باندې محمول دې. او د يعقد الشيطان نه معنیٰ دا نه ده چه ويښتو له غوټې ورکوی بلکه د شيطان سره يوه رسی وی هغې له درې غوټې ورکوی او په هغې باندې چُپ کوی او د هغې اَثر په دې انسان کيږی لکه د جادو په شان. لکه په روايت د ابن ماجه کښې داسې الفاظ دی : (يعقد الشيطان علی قافية رأس اَحَدِكم بالليل بحبل فيه ثلاث عقد) او په روايت د احمد کښې دی : (اذا نام احدكم عَقَدَ علی رأسه بِجَرِيْرٍ) (کله چه يو تن په تاسو کښې اُودهٔ شي نو هغه سر ته په پړی سره غوټې اَچوی) (او جَرِيْر رسیٔ ته وائي) او ددې غوټو کولاوول په ذکر د الله سره دی.

طَيِّبَ النَّفْسِ : که څوك اُوګدهٔ تهجد اُوکړي نو هغه د ورځې ډير خوشحاله وی او که لند

اُوشو نو گوزاره حال خوشحالي وي او دا ډيره مجربه نسخه ده.
مطلب د حديث دا چه د الله په ذكر او اُودس او مانځه سره د شيطان غوټې كولاويږي او انسان د شيطان د شر نه خلاصيږي نو انسان د ورځې نشيط صبا كړي ځكه چه د شيطان غوټې ئې د ځان نه اَرتولي وي كوم چه دهٔ لره سست جوړوي، او طيب النفس وي (خوشحاله وي) پدې وجه چه په شپه كښې ئې د نيكۍ اعمال كړي وي، او كه داسې نهٔ وي نو بيا خبيث النفس وي يعني متغير وي، شيطان پرې غالب شوې وي او غوټې ئې پكښې كلكې كړې وي او د نيك عمل د نشاط او تازګۍ نه ئې سُست كړې وي.
بيا ددې حديث د بل حديث سره منافات نشته چه په هغې كښې دا دي چه انسان به ځان ته داسې نهٔ وائي : (خَبُثَتْ نَفْسِيْ) زما نفس خبيث شو. بلكه داسې به وائي : (لَقِسَتْ نَفْسِيْ) يعني نفس مې متغير (ككړ، ګډوډ، بې سورهٔ، تنګ) شو. وجه دا ده چه خباثت د دين فساد ته وائي. فسق ته وائي نو مسلمان ئې ددې نه منع كړو چه ځان ته به د دين په اعتبار بد نسبت نهٔ كوې. دين به د ځان نه نهٔ جدا كوې. او نبي ﷺ پخپله بعض افعالو ته خباثت وئيلې دې پدې سره ئې مقصود تحذير دې امت ته د دغه افعالو اختيارولو نه. او دا اخبار دې د صفت د غير نه. (المنتقى شرح الموطأ ١/٤٣٤) (الديباج على المسلم ٢/٣٨٢) للسيوطيؒ)

٢- وَعَنِ الْمُغِيْرَةِ، قَالَ: قَامَ النَّبِيُّ ﷺ حَتّٰى تَوَرَّمَتْ قَدَمَاهُ، فَقِيْلَ لَهُ: لِمَ تَصْنَعُ هٰذَا وَقَدْ غُفِرَ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ ؟ قَالَ:«أَفَلَا أَكُوْنُ عَبْدًا شَكُوْرًا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او مغيره ﷺ فرمائي: نبي ﷺ به (د شپې مانځه كښې دومره) قيام كولو تر دې چه د هغهٔ دواړه قدمونه مبارك به اُوپړسيدل، نو هغهٔ ته اُووئيل شو چه يارسول الله ﷺ تاسو ولې داسې اُوكړ عبادت كوئ او حال دا چه تاسو ته الله تعالىٰ مخكنى او روستنى ګناهونه معاف كړي دي؟ رسول الله ﷺ اُوفرمايل : « آيا زهٔ د الله شكر ګزار بنده جوړ نهٔ شم ». (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : مطلب دا دې چه هركله الله تعالىٰ زما ګناهونه معاف كړي دي او ما ته ئې د دين او دنيا د ټولو نه اعلىٰ مقام راكړې دې نو آيا ما دپاره دا لائق نهٔ ده چه زهٔ د عبادت مشقت او محنت برداشت كړم او د الله تعالىٰ د بيشمار رحمتونو او نعمتونو شكر ګزار بنده جوړ شم. او ددې صحابي ګمان دا وو چه په عبادت كښې مشقت برداشت كولو سبب يا يره د ګناهونو نه ده يا رجاء او اميد د مغفرت دې. نو نبي ورته دا اُوخودله چه نهٔ ددې

دپاره يو بل سبب هم دے چه هغهٔ ډير اتم او اکمل دے او هغهٔ د الله تعالىٰ د نعمتونو شکر او د هغهٔ حق اداء کول دی۔

تَوَرَّمَتْ : تَوَرُّمُ د خپو پرسيدلو ته وائی ديته ډوری بيماری وائی دا اکثر د دربانچيانو وی چه په دروازو کښې اوگدهٔ ولاړ وی او د اُوگدو مونځونو کونکو وی۔

أَفَلا أَكُوْنُ عَبْدًا شَكُوْرًا : دا فـاء سببيه ده مسبب ئے محذوف دے ددے اصل داسے دے : (أ اترك قيامی وتهجدی لما غفر لی فلا اکون عبداً شکوراً) يعنی آيا زهٔ قيام او تهجد پدے وجه پريدم چه ما ته الله بخنه کړيده او زهٔ شکر گزار بنده جوړ نهٔ شم، يعنی ما ته د الله بخنه کول سبب دے ددے چه زهٔ قيام او تهجد اُوکړم دپاره د شکر کولو د الله نو زهٔ به ئے څنگه پريدم، څنگه به شکر نهٔ کوم او حال دا چه ما سره ئے ډير احسانات کړيدی) (طيبیؒ)

ددے نه يوه فائده دا معلومه شوه چه عبادت څانله د گناهونو د معاف کولو دپاره نهٔ وی بلکه دا د الله حق ادا کولو او د هغه د نعمتونو د شکر دپاره وی۔

۲- دويم دا چه عبادت اعلىٰ درجه د شکر ده، شکر څانله دے ته نهٔ وائی چه انسان (ش، ك، ر) استعمال کړی بلکه شکر دا دے چه په بدن باندے د الله عبادت اُوکړی او په زړهٔ کښې د الله سره محبت او تعظيم اُوساتی، او په خوله باندے د هغه حمدونه اووائی۔ عوام خلق شکر صرف (الحمد الله) وئيلو ته وائی او باقی عبادتونه شکر نهٔ گنړی۔ دا صحيح نهٔ ده۔

۳- بله دا چه تهجد کولو سره انسان شکر گذار جوړيږی۔

مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ : يعنی ستا گناهونه مخکنی او روستنی معاف شويدی۔ ددے گناهونو نه مراد يا خلاف الاولىٰ کار دے، چه هغهٔ د غير انبياؤ په حق کښې نيکی شمارلے شی لکه راغلی دی : (حسنات الابرار سيئات المقربين) (د نيک عملو نيکيانے د مقربينو دپاره گناهونه حسابيږی)۔

۳- وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ، قَالَ: ذُكِرَ عِنْدَ النَّبِيِّ ﷺ رَجُلٌ، فَقِيْلَ لَهُ: مَا زَالَ نَائِمًا حَتّٰى أَصْبَحَ، مَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ، قَالَ: «ذٰلِكَ رَجُلٌ بَالَ الشَّيْطَانُ فِيْ أُذُنِهِ» أَوْ قَالَ: «فِيْ أُذُنَيْهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او عبد الله بن مسعود ؓ فرمائی : د نبی ﷺ په مجلس کښې د يو سړی تذکره اُوشوه، اُووئيلے شو چه دغه فلانے شخص (توله شپه) هميشه اُودهٔ وو تردے چه صبا ئے کړو، مانځه ته نهٔ وو پاڅيدلے، نو رسول الله ﷺ اُوفرمايل : « دا داسے شخص دے چه شيطان ددهٔ په غوږ کښې - يا ئے داسے اُوفرمايل: چه ددهٔ په دواړو غوږونو کښې بول

(متیازے) کړی دی»۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : د الصلاة نه مراد د شپے مونځ دے۔ او همدا ظاهر دے ځکه ئے د تهجدو په باب کښې راوړے دے۔ بعض وائی : د سحر مونځ مراد دے۔ دا تاویل یو خو د مصنف د صنیع (طریقے) خلاف دے۔ دویم دا چه (مازال نائماً حتی اصبح) لفظ دلیل دے ځکه چه د شپے اُوده وو او سحر رابیدار شویدے۔ نو د سحر مونځ ئے کړیدے۔

۳– دریم دا چه څوك د سحر مونځ اُونکړی نو د هغه په باره کښې دا نشی وئیلے چه شیطان دده په غوږ کښې مُتیازے کړیدی بلکه هغه ته خو احادیثو کښې کافر وئیلے شویدے۔ سخته فتوی ئے ځکه اُونکړه چه د تهجد پریخودل کفر او شرك او کبیره گناه نهٔ ده۔

شیطان د انسان په غوږ کښې متیازے کوی

بَالَ الشَّیْطَانُ : شیطان څنگه بول اُوکړی؟ علامه قرطبیؒ وائی : دا په حقیقت حمل دے ځکه پدے کښې هیڅ محال والے نشته ځکه چه دا خبره ثابته ده چه شیطان خوراك، څکاك کوی، تیزونه اَچوی، نکاح کوی۔ نو ددے هم هیڅ مانع نشته چه بول اُوکړی۔ او مونږ دِے ددے په حقیقت پوهه نشو ځکه په هره خبره باندے ځان پوهه کول خو ضروری نهٔ دی۔ او نبی ﷺ وئیلی دی نو بس په حقیقت باندے دِے حمل شی۔ او ایمان راوړل پرے ضروری دی۔

۲– **بعض** وائی : نبی ﷺ خو عربی وو او په عربئ کښې دا قسم مُحاوره استعمالیږی د غفلت او فساد دپاره لکه د یو سړی په غوږ کښې بول اُوشی نو هغهٔ خراب شی نو بیا د چرګ بانګ نهٔ آوری او د مؤذن اَذان نهٔ اَوری نو دغه شان دا سړے هم غافله پروت دے لکه چه ددهٔ په غوږ کښې بول شوی وی او دا خبره امام خطابیؒ ذکر کړیده۔ والعرب تقول : بال فی کذا، اذا افسده) وکذا فی شرح البخاری لابن بطال ۱٤۷/۵)

۳– **بعض** وائی : دا کنایه ده د استخفاف او استهانت د شیطان نه چه شیطان دے انسان پورے داسے مسخرے او توقے کوی او داسے ئے سپکاوے کوی گویا کښې چه دا ئے د تښتئ په شان گرځولے دے کومه چه د بول وبراز دپاره تیاره شوی وی، یعنی څوك چه تهجدو ته نهٔ پاڅی نو شیطان پرے دا سے غلبه کوی او داسے سپکاوے کوی گویا کښې دا ئے بیت الخلاء ده، متیازے پرے کوی یعنی شیطان ته ډیر سپك ښکاری۔

او سترګه ئے ذکر نهٔ کړه بلکه غوږ ئے ذکر کړو سَره ددے نه چه د خوب مناسبت د سترګے سره زیات دے، اشاره ده چه خوب ئے ډیر درونډ دے چه په آوازونو هم نهٔ راپاڅیږی۔

★– دارنګه د اذان د اَوریدو تعلق د غوږ سره دے۔

عبد الله بن مسعودؓ فرمائی : (کفی لامرئ من الشر ان یبول الشیطان فی اذنه) (د سړی دپاره پوره شر دا دے چه شیطان (په هغهٔ قادر شی او) د هغه په غوږ کښې متیازے اُوکړی) (شرح ابن بطال) ________________

٤– وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: اِسْتَيْقَظَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ لَيْلَةً فَزِعًا يَقُوْلُ: «سُبْحَانَ اللهِ! مَا ذَا أُنْزِلَ اللَّيْلَةَ مِنَ الْخَزَائِنِ؟! وَمَاذَا أُنْزِلَ مِنَ الْفِتَنِ؟! مَنْ يُوْقِظُ صَوَاحِبَ الْحُجُرَاتِ» – يُرِيْدُ أَزْوَاجَهُ – «لِكَيْ يُصَلِّيْنَ؟ رُبَّ كَاسِيَةٍ فِي الدُّنْيَا عَارِيَةٌ فِي الآخِرَةِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : او ام سلمه رضی الله عنها فرمائی : یوه شپه رسول الله ﷺ گبراهټ سره رابیدار شو وے فرمایل :« سبحان الله ! (تعجب دے) نن شپه څومره خزانے نازلے شوے؟ او څومره اندازه فتنے نازلے شوے، آیا څوك شته چه ددے حجرو والا (بی بیانے) راپاڅوی؟، د رسول الله ﷺ مراد ازواج مطهرات وے، دے دپاره چه دوی مونځونه اُوکړی، (او د الله رحمت حاصل کړی او د عذابونو او فتنو نه بچ شی څکه) اکثرے زنانه په دنیا کښې (خو کپړے اغوستونکی دی لیکن په آخرت کښې به بربندے وی)». (بخاریؒ)

تشریح : یعنی خوب نه په یره او گبراهټ سره بیدار شو څکه چه خوب کښې ئے فتنے او عذابونه لیدلی وو. نو بیا د تعجب اظهار ئے اُوکړو په سبحان الله سره، چه بیگاه شپه څومره خزانے د رحمتونو نازلے شوے او څومره فتنے او عذابونه نازل شو.

او یا د خزانو نه مراد د مالدارئ خزانے دی چه روستو امت ته به الله فراخی ورکوی او دا یَره ئے هم ورکړه چه ددے ډیرو مالونو د وجه نه به فتنے پیدا کیږی، ددے وجه نه ډیرو سلفو به ډیرے مالدارئ ته تعرض نهٔ کولو څکه دا فتنو نه تعرض دے. او نبی لکه څنگه چه د فتنے د فقیرئ نه پناه غوختے ده نو دغه شان د فتنے د مالدارئ نه ئے هم پناه طلب کړیده.

او دارنگه فتنے اکثر د زنانو د وجه نه نازلیږی پدے وجه ئے د هغوی د رابیدارولو مطالبه اُوکړه چه دا بی بیانے رابیدارول پکار دی چه د الله بندگی اُوکړی چه خزانے د رحمتونو ورته حاصل شی او د فتنو نه خلاصے شی نو زنانه د اُمت دپاره فتنه ده مگر هله به د فتنے نه خلاصیږی چه د الله په بندگئ کښې مصروف شی.

او په حدیث کښې دا فائده ده چه سړے به خپله ښځه د الله عبادت دپاره رابیداروی او پدے کښې ام سلمهؓ ته اشاره وه چه تهٔ لاړه شه او دا بے بیانے رابیدارے کړه. او پدے کښې د نبی ﷺ خیر خواهی ده چه خپلے بی بیانے او د اُمت زنانه د فتنو نه بچ کول غواړی چه دوی ته

فائدے حاصلے شي او د الله د عذابونو نه د هغه په عبادت سره خلاصے شي۔ او دا په (وانذر عشيرتك الاقربين) كښې هم داخليږي۔
او حديث دليل دے چه د تهجدو په وجه انسان ته د الله د عذابونو نه نَجات ملاويږي، او د هغه د رحمت خزانے ورته حاصليږي۔
رُبَّ كَاسِيَةٍ فِي الدُّنْيَا : (كاسية) يا صفت د (نَفْسٌ) دے يا صفت د (مَرْأَةٌ) دے۔
١- يو مطلب ئے دا دے چه ډير كرت يوه زنانه يا يو نفس به وي چه په دنيا كښې به ئے خو ډيرے جامے اغوستي وي، مالداره به وي ليكن په آخرت كښې به د ثوابونو نه بربنډه وي ځكه چه په دنيا كښې به ئے عمل نۀ وي كړے۔ ٢- يا (كاسية بنعم الله عاريةٌ من الشكر الذى تظهر ثمرتُهُ فى الآخرة بالثواب) (ډير كرت يوه زنانه او يو انسان به د الله په نعمتونو كښې پټ وي او هغه به ئے اغوستي وي ليكن شكر به ئے نه كوي نو په آخرت كښې به بربنډ وي)۔
٣- يا دا چه دنيا كښې به ئے جامے اَغوستي وي ليكن هغه به نرئ وي چه لاندے بدن به ئے ښكاري نو الله به په آخرت كښې دا سزاء وركړي چه بربنډ به ئے كړي ددۀ د شرمولو دپاره، نو بيا پدے كښې نهي ده ددے نه چه داسے جامے مۀ اَغوندئ چه هغے سره بدن نۀ پټيږي او بے حيائي پكښې وي۔ او دا ذريعه د فتنے هم ده۔ او هنده چه راويه ددے حديث ده هغے هم دا معنىٰ فهم كړيده ځكه هغے چه كله دا حديث واوريدو نو هغے په دواړو لستونړو باندے بټنے اُولګولے چه دواړه طرفونه ئے ښكاره نۀ شي۔
٤- بعضو دا معنىٰ هم كړيده چه ډير كرت يوه زنانه به د نيك سړي (خاوند) په نعمت كښې پټه وي يعني د نيك سړي ښځه به وي په دنيا كښې ليكن په آخرت كښې به د عمل نه بربنډه وي خپله عمل به ئے نۀ وي كړے نو د خاوند نيك عملي ديته فائده نۀ وركوي بلكه خپله عمل پكار دے، كه نبي دے د هغه عمل هم چا ته فائده نشي وركولے ترڅو چه انسان خپله عمل نۀ وي كړے۔
★- لهذا په حديث كښې ترغيب دے چه فتنو ختمول د الله په بندګئ سره كيږي او د الله د عذابونو نه نَجات په تهجدو او مونځونو ملاويږي او د خاوند عمل د ښځے دپاره فائده مند نۀ دے ترڅو چه هر انسان خپل عمل نۀ وي كړے۔ او يو بل سره د الله په طاعت او بندګئ كښې تعاون او مدد پكار دے۔
★- دارنګه حديث كښې ترغيب دے چه كله مصيبت وغيره رانازل شي نو په هغه وخت كښې دعاء او الله ته عاجزي پكار ده، خاصكر په هغه اَوقاتو كښې چه هغے كښې د اِجابت اُميد زيات وي۔
★- د تعجب په وخت سبحان الله وئيل جائز بلكه مستحب دي۔

★- د خوب نه بيداريدو په وخت د الله ذكر كول پكار دي. د مصيبت نازليدو په وخت په خپلو كشرانو او اهل باندے ترحم پكار دے، هغوئ ته د بندګئ دعوت وركول پكار دي.

٥- وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «يَنْزِلُ رَبُّنَا تَبَارَكَ وَتَعَالٰى كُلَّ لَيْلَةٍ اِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا حِيْنَ يَبْقٰى ثُلُثُ اللَّيْلِ الآخِرُ، يَقُوْلُ: مَنْ يَّدْعُوْنِيْ فَأَسْتَجِيْبَ لَهٗ ؟ مَنْ يَّسْأَلُنِيْ فَأُعْطِيَهٗ؟، مَنْ يَّسْتَغْفِرُنِيْ فَأَغْفِرَ لَهٗ؟». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: «ثُمَّ يَبْسُطُ يَدَيْهِ وَيَقُوْلُ مَنْ يُّقْرِضُ غَيْرَ عَدُوْمٍ وَّلَاظَلُوْمٍ ؟ حَتّٰى يَنْفَجِرَ الْفَجْرُ».

ترجمه : او ابو هريره ﷛ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي :« زمونږ رب تبارك وتعالىٰ هره شپه نزدے آسمان ته راكوزيږي كله چه د شپے آخري دريمه حصه باقي پاتے شي نو فرمائي : څوك دے چه ما نه دعاء اُوغواړي چه زهٔ ورله قبوله كړم؟ څوك دے چه ما نه سوال اُوكړي چه زهٔ ئے ورله وركړم؟ څوك دے چه ما نه بخښنه اُوغواړي چه زهٔ ورته بخښنه اُوكړم ؟»۔ (بخاريؒ ومسلمؒ) او د مسلمؒ په روايت كښې دي : « بيا الله تعالىٰ لاسونه راخوارهٔ كړي او فرمائي : څوك دے چه قرض وركړي هغهٔ چا ته چه نهٔ فقير دے او نهٔ ظلم كونكے دے او د صبا راخكاره كيدو پورے دغه شان فرمائي»۔

تشريح : ثُلُثُ اللَّيْلِ: بعض رواياتو كښې (نصف الليل) او بعضو كښې (ثلث الليل الاول) راغلي دے۔ نو دا خو يا وحي جُدا جُدا وه نو نبي ﷺ يو وخت كښې يو بيان كړل بل وخت ئے بل بيان كړل۔ او دا راكوزيدل پدے ټولو حالاتو كښې وي۔ يا كله نصف الليل راكوزيږي او كله ثلث الليل الاول او كله ثلث الليل الآخر او ټول رواياتونه صحيح دي۔ (فتح الباري) مګر راجح دا ده چه د ثلث الليل الاول روايت شاذ دے۔

د الله په صفاتو صحيح عقيده لرل او تاويل نهٔ كول

پدے حديث كښې د الله صفات ذكر دي چه دا د قبيلے د متشابهات في الكيف نه دي۔ لكه د الله نزول، صفة اليد، بسط اليد، غير عدوم، او غير ظلوم۔ دا ټول د الله صفات دي۔ نو دا صفتونه به د الله منلے شي بغير د مشابهت د مخلوق نه او بغير د بيان د كيفيت نه او دا بعينه د سلف صالحينو مذهب دے۔ چه پدے كښې به تاويلات نشي كولے بلكه د الله راكوزيدل بالكل ثابت دي او ديكښې تاويل كول انكار دے د الله د صفاتو نه۔ لكه امام

ابو حنيفةؒ نه په فقه اكبر (۳۰۲) كښې نقل شويدى. چه هغه فرمائى :
(ولا يقال : ان يده قدرته، لان فيه ابطال الصفة وهو قول اهل القدر والاعتزال، ولكن يده صفة بلا كيف) (يعنى داسے به نشى وئيلے چه د يد نه مراد قدرت دے ځكه يو خو پدے كښې د الله د صفت باطلول راځى دويم دا قول د معتزلو او قدريو دے بلكه يد د الله صفت دے بغير د كيفيت بيانولو نه)

نو كوم خلق چه دا وائى چه عدم تاويل طريقه د سلفو ده او دا اَسلمه طريقه ده او تاويل طريقه د خلفو ده او دا اَحكمه طريقه ده نو دا غلط وائى ځكه امام ابو حنيفةؒ هم تاويل ته غلط اُووئيل او دا ئے د الله د صفت باطلول شمار كړل او ديته ئے د معتزلو او قدريو قول اووئيلو. نو مقلدين خو ډيے دا خبره بالكل نۀ كوى چه تاويل هم جائز دے. بعض پكښې داسے تاويل كوى چه دلته مفعول حذف دے او ينزل په ضمه د اول دے (اى يُنَزِّلُ مَلَكاً) يعنى ملائك راكوزوى. (تنوير الحوالك ۲۲۲/۱)

مګر دا تاويل د ظاهر خلاف دے، او د حديث تحريف دے.

حديث كښې ترغيب دے چه د تهجدو وخت د الله نه د غوختو تايم دے، حاجتونه د انسان پوره كيږى او انسان ته الله رب كائنات دعوت وركړے دے چه اے بنده ! پاڅيږۀ، ما نه د خپلو ګناهونو مغفرت طلب كړه او ما نه خپل حاجتونه اُوغواړه آيا ستا دومره حاجت نشته چه ے غمه پروت ئے؟

بيا بعض وائى : دعاء، سوال او اِستغفار د دريے واړو يوه معنىٰ ده او الفاظ ئے د تاكيد دپاره راوړى دى.

۲- **صحيح** دا ده چه دا جدا جدا څيزونه دى ځكه چه مطلوب د انسان به خالى نه وى يا به دفع د ضرر وى يا به جَلب (حاصلول) د منفعت وى كه اول وى نو دا استغفار شو ځكه په استغفار كښې د ضرر دفع كول وى. او دويم به خالى نه وى يا به دينى وى يا به دنياوى. كه دينى وى نو دا سوال شو ځكه چه سوال كښې دينى مطلوب غوختے شى او دريم دعاء ده او په دعاء كښې دنياوى څيزونه غوختل داخل دى.

په بعض رايتونو كښې ورسره نور زيادتونه هم راغلى دى چه هغه دلالت كوى چه دا دريے واړه جدا جدا څيزونه دى لكه په روايت د نسائى كښې دى : (هل من تائب فاتوب عليه) (آيا څوك توبه ويستونكے شته چه زۀ ئے توبه قبوله كړم؟) او په بل روايت د نسائى كښې دى : (من ذا الذى يسترزقنى فارزقه؟ من ذا الذى يستكشف الضر فاكشفه عنه) (څوك دے چه ما نه رزق طلب كړى چه رزق وركړم، څوك دے چه تكليف لرے كول غواړى چه تكليف

ورلـه لـرېے كـرم) او پـه بـل روايت كـښې دي : (الا سقيم يستشفى فيشفى؟) (مسند احمد ۱۲۰/۱) والدارمي (۱۴۱۴/۱) وقال حسين سليم اسد : اسناده صحيح وحسنه شعيب الارناووط لغيره) (آيا څوك بيمار نشته چه ما نه شفاء طلب كړي چه شفاء ورکړم) دا په دعاء كښې داخل دي۔

مَنْ يُقْرِضُ : دلته د قرض وركولو نه مراد نيك عمل كول او ټول طاعتونه دي چه دا داسې شـو لكه الله ته چه قرض وركړے شو نو ضرور به ددے بدله وركوي۔ ۲- ظاهر دا ده چه ددے نه مراد صدقه ده۔ چه ددے ثواب په الله باندے د قرض په شان وي۔

غَيْرَ عَدُوْمٍ : فقير ته وائي چه مال ورسره معدوم (ختم) شوے وي۔

حَتّٰى يَنْفَجِرَ : يعني د الله د نزول وخت دومره اُوګد وي تردے چه صبا راوُخيژي۔

دا حديث دليل دے چه آخر د شپه كښې مونځ بهتر دے د اول د شپے نه۔ او وتر په ټولو كښې ناوختـه كـول پـكار دي۔ ۲- د شپے آخره حصه د دعاء او استغفار دپاره ډير بهترين وخت دے۔ څكه دا د اِجابت وقت دے۔ بيا د كوم خلقو دعاء چه پدے وخت كښې هم قبوله نشي نو وجه دا وي چه يا خو ئے د دعاء په شرائطو كښې خلل پيدا كړے وي لكه خوراك څكاك جامے ئے حرام وي، يا دا چه جلتي سره اِجابت غواړي يا د ګناه او صله رحمي كټ كولو دعاء وي، يا دا چه هغه شے في الحال الله ورنكړي څكه چه په هغے كښې د بنده مصلحت وي روستو ئے وركړي او يا ددے په بدله كښې بل څه وركړي يا ددۀ نه د هغے په وجه بل څۀ مصيبت لرے كړي كوم چه په ده باندے راروان وي نو دا هم قبليدل د دعاء وي او يائے ورله په آخرت كښې ذخيره كړي لكه دا په حديثو كښې راغلي دي۔

٦- وَعَنْ جَابِرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ ﷺ يَقُوْلُ: «اِنَّ فِي اللَّيْلِ لَسَاعَةً، لَايُوَافِقُهَا رَجُلٌ مُسْلِمٌ، يَسْأَلُ اللّٰهَ فِيْهَا خَيْرًا مِنْ أَمْرِ الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ، اِلَّا أَعْطَاهُ اِيَّاهُ، وَذٰلِكَ كُلَّ لَيْلَةٍ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او جابر رضی الله عنه فرمائي: ما د نبي ﷺ نه اَوريدلي دي چه فرمايل ئے : «په شپه كښې يـو ساعت دے چه د هغے سره يو مسلمان شخص نۀ موافق كيږي چه د الله نه په هغے كښې د دنيا او د آخرت د څيزونو نه يو خير اُوغواړي مګر الله تعالىٰ به ئے ضرور وركړي، او دا (ساعت) هره شپه وي»۔ (مسلم)

تشريح : لَايُوَافِقُهَا : دموافقت معنىٰ دا ده چه دا اَوقات په دعاء او عبادت باندے

مشغول کړی۔ او دا وقت مُبُهَمْ (پټ) کړے شویدے، لکه د جُمُعے د ورځے ساعت چه مُبُهم دے او پدے پټولو کښې د الله حکمتونه دی دے دپاره چه بندګان هر وخت د الله په بندګئ کښې مصروف وی۔ او پدے وخت کښې دعاء قبلیدل د الله وعده ده۔
وَذٰلِكَ كُلَّ لَيْلَةٍ : يعني ذلك المذكور يحصل كل ليلة : (دغه مذکوره سوال هرهٔ شپه حاصِلیږی) د بعض شپو پورے خاص نهٔ دے، بعض وائی : ددے ساعت نه مراد د ثلث الليل ساعت دے بعض وائی : چرګ بانګ وخت دے، بعض وائی مطلق دے۔ ظاهر دا ده چه دا مبهم دے۔

٧- وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «أَحَبُّ الصَّلَاةِ إِلَى اللهِ صَلَاةُ دَاوُدَ، وَأَحَبُّ الصِّيَامِ إِلَى اللهِ صِيَامُ دَاوُدَ: كَانَ يَنَامُ نِصْفَ اللَّيْلِ وَيَقُوْمُ ثُلُثَهُ، وَيَنَامُ سُدُسَهُ، وَيَصُوْمُ يَوْمًا وَيُفْطِرُ يَوْمًا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او عبد الله بن عمرو ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی : « الله تعالیٰ ته ډیر محبوب د داود ﷺ مونځ دے، او الله ته بهترینے روژے د داود ﷺ روژے دی، (او د داود ﷺ طریقه دا وه) هغهٔ به نیمه شپه اُوده کیدو او دریمه حصه کښې به راپاڅیدو او بیا به شپږمه حصه کښې اُودهٔ کیدو او یوه ورځ به ئے روژه نیوله او یوه ورځ به ئے کوجه وه »۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : یعنی داود ﷺ چه به کوم وخت د شپے اُودهٔ کیدو، خوب به ئے شروع کولو نو د هغے نه حساب واخله په اوله حصه کښې به اُوده شوتر نیمائی شپے پورے، بیا به دریمه حصه کښې پاڅیدو کوم کښې چه الله آواز کوی (هل من سائل ؟ هل من مستغفر؟)
بیا به آخری شپږمه حصه کښې اُودهٔ شو، بیا به صبا وخت کښې راپاڅیدو۔ ددے صورت دا دے چه مثلًا د هغهٔ عادت نهه بجے اُوده کیدل وی او صبا په پنځه بجے راخیژی نو دا ټول اَته ګینټے شوے نو ابتدائی څلور ګینټے به اُودهٔ شو، بیا به یوه بجه راپاڅیدو، دریمه حصه ئے تقریباً پاؤ کم درے ګینټے شوے نو پاؤ کم درے بجو پورے به ئے عبادت اُوکړو بیا به اُوده شو۔ تقریباً پاؤ باندے یوه ګینټه یعنی څلورو بجو پورے بیا به ئے تر پنځو بجو (صبا راختو) پورے عبادت کولو۔
او په آخیری شپږمه حصه کښې به ځکه اُودهٔ کیدو چه د شپے د عبادت په وجه کومه ستومانی حاصله شوے ده چه هغهٔ ختمه شی او په باقی عبادت کښې نشاط او تازګی پیدا شی۔ او دا طریقه الله ته ځکه محبوب ده چه پدے کار سره په نفس باندے آسانی راځی چه

د هغې په وجه د ستومانۍ نه انسان بچ کیږی چه هغه سبب د عبادت د پریخودو گرځی او الله تعالیٰ ته ذا محبوب ده چه د هغهٔ اِحسان همیشه وی (کرمانیؒ)

او دا کار په نفس باندې ځکه آسان دې چه د قیام نه روستو خوب کولو سره بدن ته راحت حاصلیږی او د یې خوبیٔ ضرر ختمیږی او د بدن خوار والې زائل کیږی۔

دارنگه پدې کښې دا مصلحت هم دې چه سحر مانځه ته په ښهٔ شان استقبال کیږی، او د ورځې اذکارو ته انسان په نشاط او رغبت کښې وی۔

لهذا په (نصف اللیل) کښې د (اللیل) نه مراد هغهٔ حصه د شپې ده چه د کوم وخت نه به ئې خوب شروع کولو ځکه چه د نمر پریوتو نه خوب شروع کول بعید دی۔

او دا حدیث دلیل دې چه ټوله شپه مونځ کول مکروه دی، او کوم صحابه کرام سلفو نه چه ټوله شپه عبادت نقل دې نو هغوی ته دا قسم احادیث ندی رسیدلی۔

بیا دلته **سوال** دې چه زمونږ د رسول الله ﷺ عمل خو پدې طریقه همیشه نهٔ وو ؟ نو د هغې **جواب** دا دې چه صیغه د اسم تفضیل یا په معنیٰ د اصل فعل ده۔یعنی د داود علیه السلام دا طریقه الله ته محبوب وه او دا مطلب نهٔ دې چه د نبی علیه السلام د طریقې نه هم زیاته محبوب وه۔ ۲- یا احبیة اضافی دې، محمول دې په بعض طریقو باندې، ځکه دا اعتدال او حفظان صحت ته ډیر اقرب دې۔

علامه علی القاریؒ فرمائی : کیدې شی چه رسول الله ﷺ ددې خوب التزام پدې وجه نهٔ وی کړې چه د هغهٔ قیام د ټولو انبیاؤ د مقام دپاره جامع شی او په امت باندې ئې د شپې په قیام کښې آسانی راشی۔ انتهیٰ

او عائشه رضی الله عنها فرمائی: ډیر کارونه به نبی علیه السلام پریخودل او ښهٔ به ئې خوښ وو چه عمل پرې اُوکړی خو دا خطره به ورسره وه چه خلق به دا عمل شروع کړی نو په هغوی به فرض شی۔ (بخاری) نو د رسول الله ﷺ عمل به په تهجدو او روژو کښې مختلف وو چه پدې کښې به د اُمت د قوی او ضعیف ټولو خلقو دپاره مصلحتونه وو۔

وَيَصُومُ يَوْمًا : داود علیه السلام به شپه او ورځ د الله د حق او د خپل ځان د حق دپاره تقسیموله نو په هره شپه کښې خو دا کار برابر کیدو چه نیمائی شپه د خپل حق دپاره او نیمائی د الله د حق دپاره شوه او په ورځ کښې خو دا کار ممکن نهٔ وو چه تقسیم او تجزی پکښې اُوکړی نو ددې په عوض کښې ئې دا کار اُوکړو چه یوه ورځ روژه او یوه ورځ کوجه شو۔ نو دا داسې شوه لکه چه تجزی په نفس ورځ کښې راغله۔

او دا روژې الله ته ځکه محبوبې دی چه پدې کښې انسان د الله حق او د خپل ځان، د خپل

اهل او ميلمه او بندگانو حقوق ادا كولے شى په خلاف د هغۀ چا چه هميشه پرله پسے روژے نيسى نو د هغۀ نه به بعض حقوق ضرور فوت كيږى۔ او ددے نه غوره روژے نشته لكه دا خبره ئے عبد الله بن عمرو بن العاصؓ ته كړے وه۔

نو پدے وجه علامه شوكانىؒ ليكى : دا حديث دليل دے چه يوه ورځ روژه او يوه ورځ كوجه الله ته ډير محبوب دى د غير نه اگركه ددے نه زيات وى ځكه ځۀ چه الله ته محبوب وى بس هغۀ افضل وى او اشتغال په هغے باندے اولىٰ وى۔انتهىٰ۔

٨- وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ - تَعْنِيْ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ - يَنَامُ اَوَّلَ اللَّيْلِ، وَيُحْيِيْ آخِرَهٗ، ثُمَّ اِنْ كَانَتْ لَهٗ حَاجَةٌ اِلٰى أَهْلِهٖ قَضٰى حَاجَتَهٗ، ثُمَّ يَنَامُ، فَاِنْ كَانَ عِنْدَ النِّدَاءِ الْاَوَّلِ جُنُبًا، وَثَبَ فَأَفَاضَ عَلَيْهِ الْمَاءَ، وَاِنْ لَمْ يَكُنْ جُنُبًا تَوَضَّأَ لِلصَّلَاةِ، ثُمَّ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ. متفق عليه.

ترجمه : او عائشه رضى الله عنها فرمائى : رسول الله ﷺ به د شپے په اوله حصه كښې اُودۀ كيدو او آخره حصه به ئے (په عبادت) ژوندئ كوله، بيا كه د نبى ﷺ به خپل كور والاؤ ته څۀ ضرورت وو نو هغۀ به ئے پوره كړو او بيا به اُودۀ شو، بيا كۀ د اول اذان په وخت به جنابت حالت كښې وو نو په جلتئ به راپاڅيدو او په ځان به ئے اُوبه راوا چولے (غسل به ئے اُوكړو) او كه د ناپاكئ حالت كښې به نۀ وو نو د مانځه دپاره به ئے اَودس اُوكړو بيا به ئے دوه ركعاته (د سحرسنت) اُوكړل۔ (بخارىؒ ومسلمؒ)۔

تشريح : سنت طريقه دا ده چه د شپے اوله حصه كښې اُودۀ شى، دے كښې ډير فوائد دى۔ او دا د فطرت مطابق كار دے۔

النداء الاول نه مراد د صبا اذان دے او د اذان ثانى نه مراد اقامت وى۔ لهذا (الصلاة خير من النوم) به د صبا په اذان كښې وئيلے شى نۀ د تهجدو په اذان كښې لكه څنگه چه ابن رسلانؒ او شوكانىؒ او البانىؒ وئيلى دى او تحقيق ئے په دريم جلد كښې اُوگوره۔

حَاجَتَهٗ: پدے وخت كښې كور والے كول بهتر ځكه دى چه يو خو روتئ وغيره هضم شوى وى نو شهوت په جوش كښې وى۔ دا وجه ده طبيبان وائى چه د روتئ خوړولو او د كوروالى ترمينځ كم از كم درے گينټے وقفه پكار ده، يو خو پدے سره خيټه نۀ غټيږى۔ او بل صحت نۀ خرابيږى۔ ځكه جماع په ډكه خيټه مضر وى۔

او بيا دا ثم په خپل ځائے استعمال دے نو ددے نه دا فائده اخستے شى چه نبى ﷺ به د

تهجدو نه روستو کور والے کولو، ځکه لائق دا ده چه عبادت دے په قضاءِ حاجت مقدم وی.
یا دا چه ثم د تراخی د اخبار دپاره ده. یعنی بیا دا خبره هم واوره چه که د نبی به خپل اهل ته حاجت وو نو هغهٔ به ئے پوره کړو او اُودهٔ به شو او کهٔ حاجت به ئے نهٔ وو نو هم اُودهٔ به شو. الخ
او نبی ﷺ به کله چه جنب وو نو هغهٔ به د خوب دپاره اَودس کولو او په کوم روایت د ترمذی کښې چه راغلی دی (قبل ان یمس ماء) نو د هغے نه مراد غسل دپاره اُوبه استعمالول دی. نهٔ د اوداسه دپاره، یا ممکن ده چه تیمم ئے وهلے وی. یا دا چه هغهٔ حدیث کښې د قضاء حاجت نه مراد د بول براز وغیره حاجت دے. یا په هغهٔ روایت کښې د ابواسحاق نه وهم واقع شویدے. یا بیاناً للجواز همداسے اُودهٔ شویدے. (تحفة الاحوذی ۱/۳۲۲) وغیره.

الفصل الثانی

۹ – عَنْ اَبِيْ اُمَامَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «عَلَيْكُمْ بِقِيَامِ اللَّيْلِ، فَاِنَّهٗ دَاْبُ الصَّالِحِيْنَ قَبْلَكُمْ، وَهُوَ قُرْبَةٌ لَكُمْ اِلٰی رَبِّكُمْ، وَمَكْفَرَةٌ لِلسَّيِّئَاتِ، وَمَنْهَاةٌ عَنِ الْاِثْمِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : ابوامامه رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ اُوفرمایل : «قیام اللیل (یعنی د تهجدو مونځ) ضروری اُوګنړئ ځکه (اول خو) دا طریقه ستاسو نه د مخکنو نیکانووه، او بیا (دویم دا چه) قیام اللیل ستاسو دپاره د خپل رب نزدیکت او د ګناهونو د لرے کولو سبب دے، او د ګناهونو نه (تاسو لره) لرے ساتونکے دے». (ترمذیؒ)

تشریح : دَاْبُ : عادت او شان او طریقے ته وائی مطلب دا دے چه تهجد ځکه کوئ چه دا د پخوانو انبیاؤ او اولیاء سابقینو قدیمی طریقه ده نو که تاسو د هغوی اقتداء کول غواړئ نو تهجد به کوئ، نو الله به مو د هغوی سره یو ځائے کړی. قربة : یعنی دا ستاسو دپاره الله ته د نزدیکت لوئی سبب دے. مکفرة : یعنی سبب د لرے کولو د ګناهونو دے. او انسان پرے د ګناه نه بچ کیږی. او دا تجربه ده (اګرکه په احادیثو تجربے ندی پکار) چه څوک د شپے تهجد کوی هغه الله تعالیٰ د ورځے د ګناهونو نه محفوظ ساتی.
وَمَكْفَرَةٌ : دا یا مصدر میمی دے. په معنی د اسم فاعل دے. د کفر نه مأخوذ دے په معنیٰ د ستر (پټولو) سره.
وَمَنْهَاةٌ : دا مصدرمیمی دے د نهی نه د اسم فاعل په معنیٰ دے. اَیْ نَاهٍ (منع کونکے) یا دا هغهٔ خصلت دے چه تاسو لره د ګناهونو او د هغے د ځایونو نه ساتونکے دے. په روایت د طبرانی فی الکبیر کښې د سلمان فارسی په حدیث کښې ورسره دا زیات دی : (ومطردة للداء

عن الجسد) (يعنى د بدن نه بيمارى لرے كوى او ختموى)

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه الترمذى (٥٥٣/٥) معلقاً وقال هذا اصح من حديث ابى ادريس عن بلال وقد وصله الحاكم (٣٠٨/١) وصححه على شرط البخارى ووافقه الذهبى، وهذا مردود لان معاوية بن صالح لم يخرج له البخارى وقرر ذلك الذهبى نفسه فى الميزان (١٣٥/٤) وصححه الالبانى فى صحيح الجامع رقم (٤٠٧٩)

---

١٠ – وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ:«ثَلَاثَةٌ يَضْحَكُ اللّٰهُ اِلَيْهِمْ: الرَّجُلُ اِذَا قَامَ بِاللَّيْلِ يُصَلِّيْ، وَالْقَوْمُ اِذَا صَفُّوْا فِي الصَّلَاةِ، وَالْقَوْمُ اِذَا صَفُّوْا فِيْ قِتَالِ الْعَدُوِّ». رَوَاهُ فِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه : او ابوسعيد خدرى رضی اللہ عنہ فرمائى: رسول الله ﷺ فرمايلى دى : « درے كسان دى چه الله تعالىٰ هغوى ته خندا كوى : يو هغهٔ سرے چه د شپے راپاڅيږى مونځ كوى، ٢- دويم هغهٔ خلق چه په مانځه كښں صفونه اُوترى، ٣- دريم هغهٔ خلق چه د دشمنانو (كفارو) په جنگ كښں صفونه اُوترى»۔ (شرح السنة)

تشريح : يَضْحَكُ : دا خندا د الله د صفاتو نه ده او حقيقت ئے الله ته معلوم دے۔ دا په معنىٰ د رضا اخستل او بيا رضا په معنىٰ د ثواب اخستل ددے صفت ضائع كول دى۔

ددے حديث نه دا اندازه لگى چه دا درے واړه د الله په نزد عظيم اعمال دى ځكه ورته الله خاندى۔ لهذا ددے په اهتمام سره ادا كول پكار دى۔

او د حديث نه د تهجدو فضيلت دا معلوم شو چه دا سبب د خندا د الله تعالىٰ دے۔

طيبىؒ ليكى : قيام الليل ئے په صف د مانځه مقدم كړو او صف د قتال ئے روستو كړو يا خو دا تنزلًا شويدے ځكه چه مقابله د نفس سره كوم چه سخت دشمن د الله دے گرانه وى د مقابلے د هغهٔ دشمن ستا نه چه هغهٔ شيطان دے او مقابله د شيطان سخته ده د مقابلے د دين د دشمنانو سره۔ يا ترقى شويده د ادنىٰ نه اعلىٰ طرف ته ځكه قتال ډير لوئى مشقت او فضيلت والا دے او بيا جماعت فرض دے او صلاة الليل مستحب دے۔

درجة الحديث : اسناده حسن ان شاء الله : اخرجه احمد (٨٠/٣) وابن ماجه (٢٠٠) فى سنده مجالد بن سعيد وهو ليّن) والبغوى فى شرح السنة (٩٢٩) عزاه المصنف اليه وحده وكان اولى به العزو الى ما سبق واخرج الآجرى فى الشريعة ص (٢٧٨) نحوه عن ابن مسعود موقوفاً دون ذكر الخصلة الثانية وسنده من طريق ابى الكنود حسن)۔الضعيفة (٤٥٥/٧) لان مجالداً فى حفظه شيء۔

١١ – وَعَنْ عَمْرِو بْنِ عَبَسَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «أَقْرَبُ مَا يَكُوْنُ الرَّبُّ مِنَ الْعَبْدِ فِيْ جَوْفِ اللَّيْلِ الآخِرِ، فَإِنِ اسْتَطَعْتَ أَنْ تَكُوْنَ مِمَّنْ يَذْكُرُ اللهَ فِيْ تِلْكَ السَّاعَةِ، فَكُنْ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ غَرِيْبٌ إِسْنَادًا.

ترجمه: او عمرو بن عبسه ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ اُوفرمايل: «رب چه بنده ته ډير نزدے كيږي نو دا په آخر د شپه كښې وي، لهذا كۀ په تا كښې طاقت وي ددے چه تۀ د هغۀ خلقو نه شے كوم چه پدے وخت كښې د الله ذكر كوي نو ضرور شۀ! (يعني ددے خبرے كوشش اُوكړه چه تۀ هم پدے خوش نصيبه مسلمانانو كښې شمار شے) دا روايت ترمذيؒ نقل كړيدے او دا ئے وئيلي دي: دا حديث حسن صحيح دے او د سند په وجه سره غريب دے۔

تشريح: **أَقْرَبُ**: ددے قرب نه يو خاص قرب مراد دے۔ چه د متشابهاتو نه دے په حقيقت ئے الله پوهيږي، الله خو هر چا ته نزدے دے لكه قرآن كريم كښې دي: (وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيْدِ) نو هغه عام قرب دے او دلته خاص قرب دے۔ چه لازم ورسره محبت او دعاء قبلول دي۔ نو د تهجدو فضيلت دا شو چه دا سبب د قرب د الله تعالىٰ دے۔

سلف وائي: په غافلانو كښې ذكر كونكے داسے مثال لري لكه د شكست خوړونكے ډلے ساتونكے، او كۀ په غفلت د خلقو كښې ذكر كونكي نۀ وے نو تول خلق به هلاك شوي وے۔ او پدے باره كښې د ابن عمرؓ نه مرفوع حديث هم نقل دے باسناد ضعيف۔ چه ذكر كونكے په غافلينو كښې داسے دے لكه قتال كونكے د تختيدونكو نه او ذكر كونكے په غافلينو كښې داسے دے لكه شنه ونه په هغۀ ونو كښې چه د هغے پاڼے د يخنئ په وجه غورزيږي۔ (الجامع الصغير)

درجة الحديث: اسناده صحيح: اخرجه الترمذى (٣٥٧٩) والنسائى (١/٢٧٩–٢٨٠) وابن ماجه (١٢٥١) والحاكم فى المستدرك (١/٣٠٩) وصححه ووافقه الذهبى۔

---

١٢ – وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «رَحِمَ اللهُ رَجُلًا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ فَصَلّٰى، وَأَيْقَظَ امْرَأَتَهٗ فَصَلَّتْ، فَإِنْ أَبَتْ نَضَحَ فِيْ وَجْهِهَا الْمَاءَ. رَحِمَ اللهُ امْرَأَةً قَامَتْ مِنَ اللَّيْلِ فَصَلَّتْ، وَأَيْقَظَتْ زَوْجَهَا فَصَلّٰى، فَإِنْ أَبٰى نَضَحَتْ فِيْ وَجْهِهِ الْمَاءَ». رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: او ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمائيلي دي: «الله دے رحم اُوكړي په

هغهٔ سړی باندې چه د شپې راپاځيدو او مونځ ئې اُوکړو او خپله ښځه ئې (هم) راپاڅوله او هغې مونځ اُوکړو، او کهٔ هغهٔ انکار کوی نو (د هغې د خوب ختمولو دپاره) د هغې په مخ باندې اُوبه چړکاؤ (پوشنك) کړی، او الله دې رحم اُوکړی په هغهٔ زنانه چه د شپې راپاځيږی، مونځ اُوکړی او خپل خاوند رابيدار کړی، هغهٔ (هم) مونځ اُوکړی، او کهٔ هغهٔ (د سُستی والی او د خوب د غلبې په وجه) اِنکار اُوکړی، نو د هغهٔ په مخ د اُوبو چړکاؤ اُوکړی»۔ (ابوداودؒ، نسائیؒ)

تشريح : رجل ئې مخکښې ذکر کړو اِشاره ده چه سړی تهجد زيات کوی، بله دا چه په شريعت کښې سړی مخکښې ذکر کولې شی او زنانه د هغوی تابع وی۔

وَأَيْقَظَ امْرَأَتَهُ : بيا دا ضروری نهٔ ده چه تهٔ په دوه بجې راپاځيږې نو هغهٔ هم ځان سره راپاځوې، نهٔ، بلکه تهٔ ډير مونځ اُوکړه بيا هغه راپاڅوه ځکه ستا په شان ډير مونځ زنانه نشی کولې۔

نَضَحَ: يعنی په مخ باندې دې ورله اُوبه اُوشيندی۔

دا قانون هله دې چه سړې مسلمان دې او ښځه مسلمانه ده، د دواړو د تهجدو اِراده ده خو سړې کله غافله شی نو ښځه پرې اُوبه واچوی يا پرې چونداره اُولګوی يا ترې څادر، بستره راکاږی نو يو بل ته دعاء کوی چه ښهٔ دې چه تهجدو ته ئې رابيدار کړم۔

او کله چه زمونږ په شان سړی يا ښځې وی نو که تا پرې اُوبه واچولې، ځان له به کار اُوګورې، د شپې به جګړې اُونخلی، لهذا پدې کښې به اول ترغيب ورکوې او انسان به دې مانځه ته تيار کړې بيا به په دغه طريقه عمل کوې او داسې زور به په ښځه نشی کولې چه د هغې اِراده نهٔ وی او تهٔ پرې اُوبه اَچوې ځکه دا نوافل دی، نوافلو کښې به سختی نشی کولې بلکه اول به د مشکاة د تهجدو په باره کښې حديثونه ورته اُووائې نو بيا که غافله شوه داسې کار وزسره کولې شې۔

او حديث نه دا فائده معلومه شوه چه لکه څنګه چه ښځه او خاوند سماجی زندګی او دنياوی کارونو کښې د يو بل مددګار وی نو دغه شان دوی له دينی امور، اطاعتِ الهیٰ او د الله د بندګئ په باره کښې هم د يو بل مُعَاوِن اومددګار جوړيدل پکار دی۔ که خاوند يو وقت کښې مونځ نهٔ کوی نو ښځې له پکار دی چه هغهٔ ته حکم اُوکړی او که ښځه ئې نهٔ کوی نو هغې باندې زور پکار دې چه مانځه ته تياره شی، ډير سړی د ښځو نه خوراك څکاك څهٔ په تايم غواړی ليکن د هغوی د مانځه تپوس کله هم نهٔ کوی چه تهٔ څهٔ وخت مونځ کوې او څهٔ وخت نهٔ، لهذا مومن سړې به د ښځې تربيت کوی۔

او دغه شان ښځه به د خاوند په دينی او دنياوی کارونو کښې تعاون او مددکوی۔ دغه شان

یو ځائے کښې اِجتماعی طور سره څۀ خلق اُوسیږی هغوی دپاره هم ضروری ده چه خپلو ملګرو، دوستانو کښې د یو بل دپاره مُعَاوِن او مددګار اُوګرځی، او یو بل د مانځه په کولو او په عبادت کښې د مصروف ساتلو کوشش اُوکړی۔

او حدیث نه دا فائده معلومه شوه چه په یو نیك مستحب کار کښې به په چا باندے زور نشی کولے بلکه صرف ترغیب به ورکولے شي۔ او د تهجدو عظیمه فائده دا ده چه د الله رحم پرے حاصلیږی۔

او نبیﷺ ته چه هرکله چه تهجدو سره کرامتونه حاصل شو نو هغۀ اراده اُوکړه چه د هغۀ امت ته هم ددے فوائد او کرامتونونه څۀ برخه حاصله شي نو د تلطف په طریقه ئے هغوی ته تیزی ورکړه په (رحم الله) سره، نۀ په امر کولو سره نو دا اُمت ته داسے تنبیه ده لکه څنګه چه په مخ باندے اُوبه چکړکاؤ کولے شي دپاره د بیدارولو د اُودۀ انسان۔

درجة الحديث : اسناده حسن: اخرجه احمد (۲/۲۵۰) وابوداود (۱۳۰۸) والنسائی (۳/۲۰۵) وابن ماجه (۱۳۳۶) والحاكم فی المستدرك (۱/۳۰۹) وصححه الحاكم ووافقه الذهبی و كذلك صححه النووی (فيض القدير ۴/۳۴) للمناویؒ.

---

۱۳ - وَعَنْ اَبِي اُمَامَةَ، قَالَ: قِيْلَ: يَارَسُوْلَ اللهِ! أَيُّ الدُّعَاءِ أَسْمَعُ ؟ قَالَ: «جَوْفَ اللَّيْلِ الآخِرَ، وَدُبُرَ الصَّلَوَاتِ الْمَكْتُوْبَاتِ». رَوَاهُ التِّرمِذِيُّ.

ترجمه : او ابوامامه رضی الله عنه فرمائی : اُووئیلے شو اے د الله رسوله ! د کوم وخت دعاء ډیره مقبوله وی ؟ نبیﷺ اُوفرمایل : «آخری دریمه حصه د شپه کښې، او د فرض مونځونو نه روستو»۔ (ترمذیؒ)

تشریح : حدیث نه معلومه شوه چه د شپے دعاګانے ښے قبلیږی، الله مونږ ته چانس او مُوقعه راکړیده، نو ضرور به په کښې دعاء قبلوی، لهذا هر حاجتمند ډے ځان سره سُوچ اُوکړی او ددے اِجابت وختونه ډے نۀ ضائع کوی۔ ځان له، مور او پلار او خپل خپلوان دوستان او تول اُمتِ مُسلِمَه، مُجاهدین او علماءِ کرامو او دینی مدارسو د حفاظت او بقاء دپاره ډے دعاګانے غواړی، او اُمید دے چه ددے کتاب لیکونکے او جمع کونکے او خوره ونکی به هم نۀ هیروی۔

دُبُرَ الصَّلَوَاتِ نه مراد ذکر اذکار دی او یا ځانله دعاء کول بغیر دهیئت اجتماعی نه ځکه چه د فرضو نه پس په هیئت اجتماعی سره د دعاء هیڅ ثبوت نشته لکه ددے تفصیل په څلورم جلد (۴/۴۳۵) کښې اُوګوره۔ او دے حدیث کښې ترغیب دے، ډیرے دعاګانو کولو ته

او د اجابت مواقعو کتلو ته۔ نو مسلمانانو له خصوصاً اهل الحديث والسنة له ډيرے دعاګانے پکار دی ځکه چه د صحيح عقيدے والا خلقو عبادت الله تعالیٰ ته ډير خوښ وی۔ او داسے نۀ چه په غلطو دعاګانو رد اُوکړی او بيا هيڅکله خپله دعاء نۀ کوی بلکه هر وخت دعاګانے ډيرے پکار دی او دغه شان د تهجدو په اوقاتو کښ ددے اهتمام پکار دے، ځکه په دعاء سره د انسان د زړۀ نه قسوت او سختی لرے کيږی۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف او حسن والظاهر انه حسن وقد مر درجة الحديث في المجلد الرابع (٤٣٥/٤) فی مسئلة الدعاء بعد الفرائض بالهيئة الاجتماعية فی باب الذكر بعد الصلاة) اول حديث الفصل الثانی)

---

١٤ - وَعَنْ اَبِي مَالِكٍ الْاَشْعَرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اِنَّ فِي الْجَنَّةِ غُرَفًا يُرٰى ظَاهِرُهَا مِنْ بَاطِنِهَا، وَبَاطِنُهَا مِنْ ظَاهِرِهَا أَعَدَّهَا اللهُ لِمَنْ اَلَانَ الْكَلَامَ، وَأَطْعَمَ الطَّعَامَ، وَتَابَعَ الصِّيَامَ، وَصَلّٰى بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي «شُعَبِ الْإِيْمَانِ».

ترجمه : او ابو مالك اشعری رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ اُوفرمايل : « په جنت کښ داسے بالاخانے دی چه د هغے بهر څيزونه د دننه نه او دننه څيزونه د بهر نه ښکاره کيږی، او دا الله تعالیٰ د هغۀ چا دپاره تيارے کړی دی چه نرمے خبرے کوی، او خلقو ته طعامونه ورکوی او پرله پسے روژے نيسی، او د شپے په داسے حال کښ مونځونه کوی چه خلق اُودۀ وی»۔ (بيهقیؒ شعب الايمان)

تشريح : اَلَانَ الْكَلَامَ : نرمے خبرے کوی ددے نه مراد دا دے چه د الله د مخلوق سره په رفق او نرمئ سره برتاؤ کوی، او خپل رب ته هم عاجزی او تواضع کوی۔

وَأَطْعَمَ الطَّعَامَ : يعنی په مسلمانانو او نيکانو خلقو باندے خوراکونه خوروی او مسکينانو باندے شفقت لری او کوم خلقو کښ چه په مخلوق باندے شفقت وی نو دا اَهل د جنت دی۔

وَتَابَعَ الصِّيَامَ : پرله پسے روژو نيولو آخری درجه دا ده چه په هره مياشت کښ درے روژے نيسی۔ يا مطلب دا دے چه د فرض روژو نه پس روژے نۀ منقطع کوی بلکه ضرور مياشت کښ څۀ نا څه روژے نيسی، يوم الاثنين او يوم الخميس نيسی او د عرفے او عاشوراء او لس ورځے د ذی الحجے نيسی۔ يا ددے نه ډيرے روژے نيول مراد دی ځکه د هميشه روژو نيولو نه منع راغلے ده لکه حديث کښ راځی : (لاصام ولا افطر) لکه دا مسئله مخکښ په اول

جلد (٤١٨/١ طبع ثانی) كتاب الاعتصام بالكتاب والسنة حديث رقم (٦) كښې ذكر شويده (جاء ثلثة رهط الخ)۔

بيا پدې درې صِفاتو لين الكلام (نرمې خبرې كول) خوراكونه په خلقو خورول او د شپې مونځونه كولو) كښې اشاره ده چه دۀ صفت د جُود، تواضع او عبادت متعدی او لازمی راجمع كړيدې۔ مخلوق سره هم احسان كوی او د خالق سره هم۔ او عبادت بدنی او مالی دواړه ئې راجمع كړيدی۔

وَالنَّاسُ نِيَام : جمع د نائم ده اُودۀ ته وائی، مراد ترې نه هغۀ خلق دی چه تهجد نۀ كوی اگركه ويښ وی۔

بيا پدې نفلی عبادتونو باندې انسان جنت ته داخليږی الله فرض كړی نۀ دی امتحاناً۔

درجة الحديث: اسناده صحيح: اخرجه احمد (١٧٣/٢) وفيه ابوموسى الاشعرى بدل ابومالك الاشعرى وجاء من حديث ابى مالك الاشعرى، اخرجه عبد الرزاق (٢٠٨٨٣) فاقتصار المصنف على الشعب قصور منه رحمه اللّٰه)

١٥- وَرَوَى التِّرمِذِيّ عَنْ عَلِيٍّ نَحْوَهٗ وَفِيْ رِوَايَتِهٖ :«لِمَنْ اَطَابَ الْكَلَامَ».

ترجمه: او په روايت د ترمذی كښې د علی ﷺ نه ددې په شان روايت دې په هغې كښې دی :« هغۀ چا دپاره چه ښائسته خبرې كوی»۔

تشريح : په روايت د ترمذی كښې داسې دی: يو اعرابی تپوس اُوكړو دا د چا دپاره دی يا رسول الله ! هغۀ اُوفرمايل : د هغۀ چا دپاره چه مزيدارې (نرمې) خبرې كوی»۔ او دا حسن خُلُق دې۔ او دا ښائسته خبرې، هر دينی عمل باندې حكم كولو ته شامليږی۔ او مسلمانانو سره ميل جول كښې نرمی او خوش اخلاقی كوی او كنځلې بد رد، فاحشې خبرې نۀ كوی نو دغه فضيلت به ورته حاصل وی۔

درجة الحديث : اخرجه الترمذی (٢٥٢٧) وضعفه بقوله حديث غريب لا نعرفه الا من حديث عبد الرحمن وهو كوفی وقد تكلم فيه بعض اهل الحديث لكن الحديث يشهد له الرواية السابقة)۔

الفصل الثالث

١٦- عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، قَالَ: قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :« يَا عَبْدَ اللهِ ! لَاتَكُنْ مِثْلَ فُلَانٍ، كَانَ يَقُوْمُ مِنَ اللَّيْلِ فَتَرَكَ قِيَامَ اللَّيْلِ ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : عبد الله بن عمرو بن العاص ﷺ فرمائی : ما ته رسول الله ﷺ اُوفرمایل : « اے عبد الله ! د فلانے شخص په شان مهٔ جوړیږه، چه هغهٔ به د شپے قیام اللیل کولو نو بیا ئے قیام اللیل پریخودلو»۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : فلان : راوی ددے فلان نوم نهٔ دے اَخستے یا دا چه نبی ﷺ نه دے اَخستے او همدا ظاهره خبره ده ځکه نوم اخستو کښ فائده نشته او غیبت ترے جوړیږی۔

بیا نبی ﷺ عبد الله بن عمرو بن العاص ته دا خبره ولے اُوکړه چه د فلانی په شان مهٔ جوړیږه۔ چه هغه به قیام اللیل کول او بیا ئے پریخودل؟ نو ددے وجه دا ده چه عبد الله بن عمروؓ به ټوله شپه عبادت کولو د دغه فلان په شان او ټوله ورځ به روژه وو او ورسره شپه کښ به ئے قرآن ختمولو ددے وجه نه پلار ورله وادهٔ کړے وو نو هغے ته یو یے هفتے پورے نهٔ وو نزدے شوے ځکه چه دے خواهشاتو ته نهٔ اُوزګاریدو۔ نو نبی ﷺ ورته اُوفرمایل چه عبادت کښ درمیانه رَوی او اِقتصاد کوه هسے نه چه دا ذریعه د پریخودو اُونهٔ ګرځی، انسان به ستومانه او ستړے شی۔

علامه سندیؒ فرمائی : مراد دا دے چه تهجدو کښ ډیر والے کول کله کله ددے بالکلیه پریخودو ته رسی لکه څنګه چه دغه فلانی دا کار اُوکړو نو تهٔ دا کار مهٔ کوه بلکه توسط او درمیانه رَوی کوه ځکه په عبادت کښ سختی کول کله د هغے پریخودو ته رسی او هغه خو مذموم دے۔ انتهیٰ ۔ دارنګه پدے کښ تنبیه ده په منع د کثرت د قیام اللیل او افراط کولو نه په هغے کښ پداسے طریقه چه د هغے نه ملالت او ستومانی پیدا شی۔

★- **امام ابن حبانؒ** فرمائی : حدیث دلیل دے چه د یو شخص عیب ذکر کول جائز دی بغیر د نوم اخستو د هغهٔ نه کله چه په هغے کښ مقصود د هغهٔ د کار نه تحذیر وی۔

بیا عبد الله بن عمروؓ ته نبی ﷺ رَهنمائی اُوکړه چه دغه شان ګران کارونه مهٔ کوه بلکه صیام داود نیسه او درے ورځو نه کم قرآن مهٔ ختموه او ټوله شپه بندګی مهٔ کوه ځکه چه تا باندے د نفس او زوجے حقوق دی۔

او پدے حدیث کښ د تهجدو پریخودلو نه منع په هغه وخت کښ مراد ده چه د خواهش پرستیٔ او خوش عیشیٔ په وجه ئے پریدی او که د عذر او ضرورت د وجه نه پاتے شی لکه اُودهٔ پاتے شی یا بیمار وی نو هغهٔ په کښ نهٔ داخلیږی۔

او حدیث کښ تلقین دے چه مؤمن به وخت په وخت د ترقیٔ کوشش کوی او نقصان طرفته به نهٔ راځی لکه څنګه چه صحابه کرامؓ به د نبی ﷺ په زمانه کښ یو عمل کولو نو هغه به ئے د وفات د نبی ﷺ نه بعد نهٔ پریخودو لکه عبد الله بن عمروؓ ته چه نبی ﷺ

ډیر رخصت ورکړو نو هغهٔ اَوَله کښې په ځان سختی اُوکړه، لیکن کله چه بوډا شو نو هغهٔ اَعمال پرېے ګران شو لهذا بیا ئے اَرمان کولو۔ لیکن هغهٔ مقرر اَعمالو کښې ئے کمے نهٔ راوستو۔ ځکه دا مقوله مشهوره ده چه څوك د زیادت طالب نهٔ وی نو هغهٔ د نقصان په لاره روان دے)۔ او ددے وجه نبی ﷺ دعاء غوختے ده (اعوذ بك من الحَوْر بعد الكَوْرِ) (یعنی د زیادت نه روستو په نقصان کښې واقع کیدو نه د الله پورے پناه غواړم)۔

---

۱۷ - وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ اَبِي الْعَاصِ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ: «كَانَ لِدَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَامُ مِنَ اللَّيْلِ سَاعَةٌ يُوْقِظُ فِيْهَا اَهْلَهُ يَقُوْلُ: يَا آلَ دَاوُدَ! قُوْمُوْا فَصَلُّوْا، فَاِنَّ هٰذِهٖ سَاعَةٌ يَسْتَجِيْبُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ فِيْهَا الدُّعَاءَ اِلَّا لِسَاحِرٍ اَوْ عَشَّارٍ». رَوَاهُ اَحْمَدُ.

ترجمه : او عثمان بن ابی العاص ؓ فرمائی: ما د رسول الله ﷺ نه اَوریدلی چه فرمایل ئے : « د داود ؑ دپاره د شپے یو ساعت وو چه په هغے کښې به ئے خپل اَهل رابیدارولو او دا به ئے فرمایل : اے د داؤد کور والو ! پاڅیږئ مونځ اُوکړئ ځکه دا یو داسے وخت دے چه پدے کښې الله تعالیٰ (د هرچا) دعاء قبلوی سِویٰ د جادوګر او عشار نه (چه دے دواړو دعاء نهٔ قبلیږی) (احمدؔ)

تشریح : كَانَ لِدَاوُدَ : داود تخصیص ځکه کوی چه دا اَعبد البشر (د ټولو نه زیات عبادت ګزار) وو۔

لِسَاحِرٍ : یعنی نور کافران خو پدے وخت کښې دعاء نهٔ کوی او که ساحر ځان ته مسلمان وائی نو دومره غټ مُجرم او مُضر دے چه د هغه دعاء هم نهٔ قبلیږی۔ ګویا کښې دا نا امیده دی د الله د هغهٔ رحمت نه چه ټول مخلوقاتو ته عام دے۔ او پدے کښې تنبیه ده چه د مخلوق دعاء قبلیږی هرڅوك چه وی سِویٰ ددے دواړو نه، د وجه د عظیم جرم د دوی نه۔

عَشَّارٍ : ټیکس اَخستونکی ته وائی، په هغه زمانه کښې ئے هغه چا ته وئیلو چه عُشر (مَالِیَه) به ئے اخسته لیکن غُلو او زیادت به ئے پکښې کولو، اصل ئے جائز وو لیکن غلو پکښې ناروا وه، ظلم وو۔ او هر چه نن صبا حکومتونه د مسلمانانو نه ټیکسونه اخلی نو ددے خو بالکل اصل جنس جائز نهٔ دے۔ په مسلمان ټیکس نهٔ وی بلکه دا صرف په کافر وی۔ لکه نبی ﷺ فرمائی : لیس علی المسلمین عشور، انما العشور علی الیهود و النصاریٰ)

(احمد ۴۷۴/۳ - ۲۱۰/۵) تنقیح التحقیق فی احادیث التعلیق (۱۴۶/۳)

(په مسلمانانو تيكسونه نۀ وي بلكه تيكس په يهود او نصاراؤ دے) او د عُشر نه مراد په دغه حديث كښې دا دے چه د زكاة نه ماسوئ نور ضرائب او تيكسونه وغيره اَخستل او هغوي په عذاب كول نشته۔ او ددے عُشر نه مراد هغه عُشر نۀ دے چه يو سَاعى (عَامِل) د مسلمانانو بادشاه راوليږى چه د مسلمانانو نه فرضى ربع عشر يا نصف عشر يا عُشر واخلى يا د اهل ذمه ؤ نه – په مالونو د تجارت كښې كله چه هغوى پرے راتيريږى– عشر وغيره اَخلى نو دا نۀ دے مراد۔بلكه هغے كښې خو اجر دے، هان البته كه زيادت كوى په شرعى حد باندے نو بيا به پكښې داخليږى۔

او بعض وائى : د عشار نه مراد هغۀ ماكس (كمے كونكے) عامل دے چه د مسلمانانو حقوقو كښې كمے كوى او هغوى ته پوره حقوق نۀ وركوى (قاله البيهقى)

او په حديث كښې دا اِشاره ده چه كمال عُبوديت يعنى پوره طريقے سره د الله بنده جوړيدل دا دى چه د الله د حكم تعظيم اُوكړے شى او د هغۀ د مخلوق سره د شفقت او مهربانئ معامله اُوكړے شى۔

★– دارنګه د كور مشر له پكار دى چه خپل رعيت ته د الله د بندګئ تلقين اُوكړى او ځان د هغوى نه غافل نۀ كړى۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه احمد (٢٢/٤) وفيه انقطاع بين الحسن البصرى وابن ابى العاص و كذا فيه على بن زيد وهو ابن جدعان ضعيف۔

---

۹۸ – وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ: «أَفْضَلُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الْمَفْرُوْضَةِ صَلَاةٌ فِيْ جَوْفِ اللَّيْلِ». رَوَاهُ اَحْمَدُ.

ترجمه : او ابو هريره ﷛ فرمائى: ما د رسول الله ﷺ نه اَوريدلى دى چه فرمايل ئے : «د فرض مانځه نه روستو بهترين مونځ د شپے (د تهجدو) مونځ دے»۔ (احمدؔ)

تشريح : دا حديث دليل دے چه د شپے نفل د ورځے د نفلو نه اَفضل دى ځكه چه پدے كښې خشوع زياته وى، او وخت اَفضل دے او دا خبره اتفاقى ده۔

او دا دليل دے د ابواسحاق المروزيؔ دپاره چه وائى د شپے مونځ د سنن رواتبو نه اَفضل دے، او دا خبره امام نوويؔ راجحه كړيده د وجه ددے حديث نه. او اكثر علماء وائى چه سنن رواتب اَفضل دى ځكه چه دا د فرائضو مشابه دى۔ ليكن اَوله خبره قوى او راجحه ده۔ د وجه د دغه حديث نه۔

او بله دا چه نبى ﷺ دا سفر او حضر كښې نۀ دى پريخى او سنن رواتب ئے پريخى دى۔ او

بعض وائی چه دواړو خبرو کښې منافات نشته ځکه چه تهجد اَفضل دی د وجه د زیات مشقت نـه پـه نفس باندے او د ریاء نه د بُعد په وجه او رواتب اَفضل دی په دے وجه چه دا د فرضو سره په تابعداریٔ کښې ډیر مؤکد دی. نو د هریو اَفضلیت په خپل خپل ځائے مُسَلم دے.

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه احمد (۳٤٤/۲) ولكن الحديث كان اولىٰ ان يعزوه الى مسلم فقد رواه فى الصيام (۸۲۱/۱ رقم (۲۰۲) وسيأتى فى المشكاة فى الصيام.

---

۱۹ – وَعَنْهُ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ اِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ: اِنَّ فُلَانًا يُصَلِّيْ بِاللَّيْلِ، فَاِذَا أَصْبَحَ سَرَقَ، فَقَالَ: «اِنَّهُ سَيَنْهَاهُ مَا تَقُوْلُ». رَوَاهُ اَحْمَدُ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِيْ «شُعَبِ الْاِيْمَانِ».

ترجمه : او ابـو هریره ﷺ فـرمائی: یـو سړے نبی ﷺ خوا ته راغلو، عرض ئے اُوکړو: فلانے شخص د شپے مونځ کوی او کله چه صبا کړی نو غلا کوی، نبی ﷺ اُوفرمایل : زر دے چه ددهٔ مونځ به دهٔ لره د هغهٔ څیز نه منع کړی کوم چه تهٔ وے». (احمدؒ، بیهقیؒ)

تشریح : پـه حدیث کـښې عظیـم فضیلت د تهجدو ذکر دے چه انسان پدے وجـه د گـنـا هـونـو نه منع کیږی او پدے کښې اشاره ده دے آیت ته ﴿ اِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ﴾ ځکه ځوك چه د شپے د مانځه محافظت کوی نو هغهٔ به د ورځے مونځونه هم نهٔ پریدی نو ددے په وجه به د گناهونو نه منع شی، نو د تهجد مونځ ډیر اثر لری.

سَيَنْهَاهُ : سیـن د تـاکیـد دپاره دے یعنی ضرور به ئے د گناه نه منع کړی ځکه تهجدو سره زړهٔ نـرمیږی او کـلـه چه زړهٔ نرم شی نو بیا انسان غلاگانے نهٔ کوی. دارنگه په مانځه دوام کولو سره په زړهٔ کښې یو کیفیت پیدا شی چه هغهٔ انسان د گناه نه منع کوی.

او دارنـگـه د تـهـجـدو وقـت د استجابت د دعاء وخت دے نو کیدے شی چه دا انسان به په دغه وخت کښې توبه اُویاسی نو الله به ئے د سرقے نه بچ کړی.

عـلامـه کـلاباذیؒ فـرمائی : هغهٔ انسان چه قیام اللیل کوی او بیا چه صبا کړی نو غلا کـوی نو دا خپل ځان ته د تقصیر په سترگه گوری، او پدے پوهیږی چه دا کومه غلا کوی نو دا معصیت او گناه ده چه دهٔ باندے ددے نه توبه ویستل لازم دی. او قیام اللیل چه کوی نـو دے خـپـل افـتـقـار ویـنـی الله تـه او طـلـب کوی خلاصے د هغهٔ گناه او عذاب نه چه په دهٔ بـانـدے د سرقے پـه وجـه لازم شـوے ده. نـو دا د هغهٔ کسانو نه دے چه (خلطوا عملًا وآخر سيئًا) (نیك عـمـل ئے د بـد عـمـل سره یوځائے کړیدے) او دداسے کسانو دپارهٔ په الله باندے توبه واجب ده (عسى الله ان يتوب عليهم) او عسىٰ د الله د طرف نه واجب وی.

(بحر الفوائد المسمی بمعانی الاخیار للکلاباذی) (۱/۲۰۸)
درجة الحدیث : اسناده صحیح : اخرجه احمد (۲/۴۴۷) والبیهقی فی الشعب (۲۹۹۱) وابن حبان فی صحیحه (۴/۱۱۶رقم ۲۵۵۱)

---

۲۰ - وَعَنْ اَبِیْ سَعِیْدٍ، وَاَبِیْ هُرَیْرَةَ، قَالَا: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«اِذَا أَیْقَظَ الرَّجُلُ أَهْلَهُ مِنَ اللَّیْلِ، فَصَلَّیَا اَوْ صَلّٰی رَکْعَتَیْنِ جَمِیْعًا، کُتِبَا فِي الذَّاکِرِیْنَ وَالذَّاکِرَاتِ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوْدَ، وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او ابوسعید او ابو هریره رضی الله عنهما فرمائي : رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : «کله چه یو سړے د شپے خپل اَهل رابیدار کړی او دواړه مونځ اُوکړی» یا ئے دا اُوفرمایل : «چه دوه رکعاته شریك اُوکړی، نو دا دواړه به د ذکر کونکو سړو او ذکر کونکو زنانو (په ډله) کښې اُولیکلے شی»۔ (ابوداوَدَ، ابن ماجَة)

تشریح : اَوْ صَلّٰی : یعنی هر واحد دوه رکعاته اُوکړی دا (اَو) شك د راوی دے چه (صلیا) ئے وئیلے دے او که (صلی)۔ او رکعتین مفعول د دواړو جوړیږی۔ یعنی دواړه دوه رکعاته اُوکړی یا هر واحد دوه رکعاته اُوکړی مطلب ئے یو دے۔ خو صرف راوی شك ښکاره کوی۔ او د جمیعاً مطلب دا نۀ دے چه دواړه په یو ځائے راپاڅیږی یا دواړه جَمعه اُوکړی بلکه مطلب دا دے چه په یوه شپه کښې راپاڅي، ځوك مخکښې ځوك روستو۔ او صرف دوه رکعاته اُوکړی نو په ذاکرین او ذاکراتو کښې به اُولیکلے شی کوم چه د مؤمنانو صفت دے (والذاکرین الله کثیراً والذاکرات)۔ نو پدغه آیت باندے عمل د تهجدو په کولو سره هم راځی۔ او د غافلینو د فهرست نه به ئے نومونه ختم شی۔

نو حدیث نه معلومه شوه چه اقله درجه د صلاة اللیل دوه رکعاته دی۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح : اخرجه ابوداود (۳۰۹) وابن ماجه (۱۳۳۵) والحاکم فی المستدرك (۱/۳۱۶) وصححه الحاکم والذهبی والنووی والعراقی والعسقلانی.

---

۲۱ - وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «أَشْرَافُ أُمَّتِي حَمَلَةُ الْقُرْآنِ، وَأَصْحَابُ اللَّیْلِ». رَوَاهُ الْبَیْهَقِيُّ فِي «شُعَبِ الْإِیْمَانِ».

ترجمه : او ابن عباس رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ فرمایلی دی : «زما د امت شریفان (اُوچتے مرتبے والا) قرآن پورته کونکی او د شپے والا دی (یعنی د تهجدو ته پاڅیدونکی

دی))۔ (بیهقیؒ)

تشریح : حَمَلَه جمع د حَامِل ده، مراد ترینه د قرآن حافظان دی چه د هغے په تلاوت همیش والے کوی او د هغے په احکامو عمل کوی۔ او ورسره هغه د شپے په مانځه کښې لولی، ځکه کوم خلق چه نفس الفاظ د قرآن یادونکی وی او د هغے په مقتضیٰ عمل نهٔ کوی نو دا د اَشرافو په ځائے په (کمثل الحمار یحمل اسفاراً) کښې داخلیږی۔

(یعنی داسے گرځی لکه چه خر باندے دینی کتابونه بار وی او هغه د هغے نه فائده نهٔ اخلی) نو دغه شان دے انسان صرف الفاظ یاد کړیدی او هیڅ فائده ترے نهٔ اخلی۔ په هغے باندے عمل نهٔ کوی۔

خلق شرافت په دنیاوی کارونو، مالونو، انګریزی زده کولو کښې ګنړی او نبیﷺ فرمائی چه شرافت په قرآن او تهجدو کښې دے۔

درجة الحديث :

اسناده ضعيف جداً : اخرجه البيهقى فى الشعب (٢٩٧٧) وفى اسناده نهشل ابوعبد الله وهو نهشل بن سعيد ضعيف متهم وسعد بن سعيد الحرجانى وهو ضعيف۔قال الذهبى لا يصح حديثه هذا عن نهشل القرشى) واصح منه حديث ((شرف المؤمن قيامه بالليل وعزه استغناء ه عن الناس)) فانه حسنه الطبرانى فى الاوسط والعراقى والخطيب البغدادى والالبانى فى الصحيحة (٨٣١)٢/٤٨٣) وصححه الحاكم (كشف الخفاء ٢/٥٩) للعجلونى.

---

٢٢ – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ، اَنَّ اَبَاهُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ، كَانَ يُصَلِّيْ مِنَ اللَّيْلِ مَا شَاءَ اللهُ، حَتّٰى اِذَا كَانَ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ اَيْقَظَ اَهْلَهٗ لِلصَّلَاةِ، يَقُوْلُ لَهُمْ : اَلصَّلَاةَ، ثُمَّ يَتْلُوْ هٰذِهِ الْآيَةَ : ﴿وَأْمُرْ اَهْلَكَ بِالصَّلٰوةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا لَانَسْئَلُكَ رِزْقًا نَحْنُ نَرْزُقُكَ وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوٰى﴾. رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه : او د عبد الله بن عمر ﷺ نه روایت دے چه ددهٔ پلار عمر بن الخطابؓ به د شپے مونځ کولو څومره چه به د الله اراده اُوشوه، تردے چه کله به د شپے آخر شو نو خپل کور والا به ئے مانځه ته رابیدار کړل او دا به ئے ورته فرمایل : مونځ اُوکړئ، او بیا به ئے دا آیت تلاوت کړو : ﴿ وامرأ اهلك بالصلاة الخ) (اے محمد (ﷺ) خپل اَهل ته د مانځه حکم کوه او خپله هم پدے باندے کلك شه، (ددے په مشقتونو باندے صبر کوه) مونږ تا نه رزق نهٔ غواړو (بلکه) رزق خو مونږ تا ته درکوو، او د آخرت نیکی خو صرف د پرهیزګارو دپاره

ده)۔ (مالك)

تشریح : ښځې د سرو په مقدار عبادت نشی کولے نو ځکه به ئې زنانه په آخر کښ راپاځولے۔ او حدیث دلیل دے چه څوك په فرائضو ورسره په تهجدو پابندی کوی نو هغه ته به الله تعالیٰ د خپل طرفنه فراخه رزق ورکوی او د متقینو بندگانو په فهرست کښ به ئې داخلوی۔ لکه حدیث قُدُسی کښ راغلی دی : (یا ابن آدم تفرغ لعبادتی املأ صدرك غنی واسد فقرك الخ) (اے د آدم ځویه ! زما عبادت ته ځان اُوزگار کړه، زه به ستا سینه د مالدارئ نه ډکه کړم او ستا فقر به بند کړم، او که دا کار دِے اُونکړو نو ستا لاس به همیشه د مشغولتیا نه ډك کړم او ستا فقر به بند نۀ کړم) المستدرك (۲/ ٤۸۱)

او حدیث نه معلومه شوه چه د تهجد د مانځه مقرره اندازه نشته بلکه د انسان د نشاط او رغبت او قوت مطابق عمل دِے کوی چه دۀ له په هغې باندے دوام ممکن وی، او په آخر کښ ئے اهل رابیدار کړل، دے دپاره چه دوی هم د شپے د مانځه نه څۀ حصه حاصله کړی اګرکه کمه وی او دا به ئے په افضل اَوقاتو کښ راپاځول چه هغۀ د صبا د راختلو نه مخکښ اَوقات دی۔

او بیا د آیت په لوستلو کښ دوه احتماله دی یو دا چه ځان ته تیزی ورکوی چه زۀ چه دا اهل رابیداروم نو دا عمل کوم پدے آیت چه الله فرمائی : خپل اهل ته امر په مانځه کوه۔ او ددے آیت په لوستلو کښ به ددۀ قصد او اراده ښۀ مضبوطیږی۔

۲- یا ئے ددے دپاره لوستلو چه د هغوی د رابیدارولو نه عذر پیش کوی چه تاسو ځکه زۀ رابیداروم چه د الله حکم دے چه اهل ته په مانځه حکم کوه۔

المنتقی شرح الموطا (۱/ ۲۷٤)

د حبیب ابو محمد ښځې به خاوند ته داسے وئیل : شپه تیره شوه او زمونږ مخے ته وړاندے لاره ده، او توښه لږه ده، او د صالحینو قافلې زمونږ نه مخکښ لاړے، او مونږ پاتے شو۔

یَا نَائِمَ اللیلِ کَم ترقُدُ	قُم یَا حبیبی قَد دَنَا المَوعِدُ
وخُذ مِنَ اللیلِ واَوقَاتِهِ	وِرُدٌ اذا مَا هَجَعَ الرُّقَّدُ
مَن نَامَ حتی ینقضِی لَیلُهٗ	لَم یَبلُغِ المَنزِلَ اَوْ یَجهَدُ
قُل لِذَوِی الالبَابِ اَهلِ التُّقیٰ	قَنطَرَةُ العَرضِ لَکُم مَوعِدُ

(۱) اے د شپے اُودۀ ترڅو پورے به تۀ اُودۀ پروت ئے، اے زما حبیبه ! پاځه، ځائے د وعدے رانژدے شوے دے۔

(٢) د شپې د اوقاتو نه برخه ځان سره واخله او كله چه خوبيان خوبونه كوى نو ته ئې د ځان نه لرې كړه۔

(٣) څوك چه توله شپه اُوده وى تردې چه شپه ختمه شى نو هغهٔ به منزل ته اُونَهٔ رسى تردې چه ښهٔ به اُوكړېږى۔

(٤) اُووايه عقلمند، متقيانو ته! د عرض پُل ستاسو دپاره ځائې د وعدې دې۔

(لطائف المعارف ص : ٢٠٧، المجلس الرابع) (الشاملة)

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه مالك فى الموطأ (١١٩).



باب القصد فى العمل

په اعمالو کښې د درمیانه روی کولو بیان

مصنف دا باب ډیر مناسب ځائے کښې راوړے دے ځکه مؤمن سړے چه کله د تهجدو دا فضائل واوری نو هغهٔ عزم اُوکړی چه زهٔ به توله شپه مونځونه کوم نو دا کار ورله مناسب نهٔ دے۔ نور حقوق به نهٔ ضائع کوی۔ او داسے به هم نهٔ کوی چه دومره حدیثونه واوری او هسے ئے ضائع کړی، د شپے هیڅ تهجد اُونکړی بلکه درمیانه روی به کوی۔ او هر سړے به خپل حالت ته گوری نو د هغے مطابق به ځانله اندازه مقرر کړی۔

قصد : په درمیانه لاره باندے روانیدو او د افراط او تفریط ترمینځ لاره اختیارولو ته وائی۔ یعنی دا کار مستحب دے چه اقتصاد اُوکړے شی۔

الفصل الاول

١ - عَنْ اَنَسٍ، قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُفْطِرُ مِنَ الشَّهْرِ حَتّٰى يُظَنَّ اَنْ لَايَصُوْمَ مِنْهُ، وَيَصُوْمُ حَتّٰى يُظَنَّ اَنْ لَّايُفْطِرَ مِنْهُ شَيْئًا، وَكَانَ لَا تَشَاءُ اَنْ تَرَاهُ مِنَ اللَّيْلِ مُصَلِّيًا اِلَّا رَأَيْتَهٗ، وَلَا نَائِمًا اِلَّا رَأَيْتَهٗ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : انس ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ به د میاشتے نه (په اکثرو ورځو کښې) روژه نهٔ نیوله تردے چه مونږ به گمان کولو چه رسول الله ﷺ ددے میاشتے نه روژے نهٔ نیسی، او نبی ﷺ به (ددے میاشتے یا د بلے میاشتے نه په اکثرو ورځو کښې) روژه نیوله تردے چه مونږ به گمان کولو چه ددے میاشتے نه روژه نهٔ ماتوی، (نهٔ کوجه کیږی) او تا به دا نهٔ غوختل چه نبی ﷺ لره د شپے په مانځه باندے اُووینے مگر لیدلو به دے، او د شپے به دے اُودهٔ لیدل نهٔ غوختل مگر اُودهٔ به دے لیدلو۔ (بخاریؒ)

تشریح : د حدیث مقصد دا دے چه نبی ﷺ به په هر عمل کښې درمیانه روی کوله چه تولے میاشتے به ئے روژے هم نهٔ نیولے او توله میاشت به کوجه هم نهٔ وو بلکه درمیانه به چلیدو چه ډیر کرت روژے به ئے نیولے او ډیر کرت به ئے نهٔ نیولے، او د خوب په وقت کښې به اُوده کیدو چه هغه اول د شپے دے او د تهجدو په وخت کښې به ئے تهجد کول یعنی په

آخر د شپـه کښې، دغه شان د روژو په وخت کښې به ئې روژے نیولے او د کوچو په وخت کښې به کوچه وو۔

۲- وَعَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:«أَحَبُّ الْاَعْمَالِ اِلَى اللهِ اَدْوَمُهَا وَاِنْ قَلَّ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او عائشه رضي الله عنها فرمائي: رسول الله ﷺ فرمائي : «(د بندګانو په نيك اعمالو كښې) بهترين اعمال الله ته هغهٔ دي چه هميشه وي اګركه كم وي»۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)۔

تشريح : دا حديث په جواب د يو سوال كښې وئيلے شويدے، عائشةؓ فرمائي : د نبي ﷺ نه تپوس اُوشو : (اى الاعمال اَحَبُّ الى الله ؟) الله ته كوم عمل بهتر دے؟) نو هغه اُوفرمايل : هغه عمل چه هميشه وي۔(صحيحين)۔

مطلب دا دے چه لږ عمل د مداومت سره ډير غوره دے د هغهٔ ډير عمل نه چه محافظت او مواظبت پرے اُونهٔ كړے شي ځكه لږ عمل دا ډير ته رسيږي د هغهٔ ډير عمل نه چه يو كرت دوه كرته اُوكړے شي او بيا ئے پريدي۔

امام نوويؒ فرمائي : ځكه په كم عمل باندے دوام كولو سره د الله طاعت، ذكر، مراقبه، نيت، اخلاص او اقبال على الخالق (الله ته متوجه كيدلو) باندے هميشوالے كيږي۔ په خلاف د هغهٔ ډير عمل نه چه منقطع شي، او لږ هميشه عمل داسے ډير ثمرات وركوي چه هغهٔ په ډير عمل باندے په چندونو زياتيږي۔

علامه ابن الجوزيؒ فرمائي : لګ عمل چه هميشه وي د ډير عمل نه چه منقطع وي ولے افضل دے ؟ نو يوه وجه دا ده چه د يو عمل شروع كولو نه پس هغه منقطع كول داسے دي لكه د وِصال نه پس اِعراض كول او داسے انسان مستحق د ذم او بدئ وي۔ چه د الله سره ئے تعلق جوړ كړے وي بيا ئے كټ كړي۔ لكه دغه شان وعيد راغلے په حق د هغه چا كښې چه يو آيت ياد كړي بيا ئے هير كړي۔ ۲- دويم دا چه هميشه نيك عمل كښې مصروف كيدل لازم دي د خدمت سره ځكه چه څوك هره ورځ څه نا څه وخت په دروازه كښې ولاړ وي دا په شان د هغه چا نهٔ دے چه هغه يوه مكمله ورځ اُودريږي او بيا بند شي۔

امام غزاليؒ فرمائي : د قليل عبادت چه دائم وي مثال داسے دے لكه د اُوبو څاڅكي چه په زمكه باندے متواتر څاځي نو دا په زمكه كښې ضرور شينكي پيدا كوي اګركه په يو كاڼري باندے راپريوځي۔ او د ډير متفرق عبادت مثال داسے دے لكه په يو ځل چه ډيرے

اُویه راپریوزی چه هیڅ اثرئے نهٔ بنکاره کیږی۔ فیض القدیر (٦٣٤/٣) للمناوی۔والمرعاة (٢٤٠/٤)

٣- وَعَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «خُذُوْا مِنَ الْاَعْمَالِ مَا تُطِيْقُوْنَ، فَاِنَّ اللهَ لَا يَمَلُّ حَتّٰى تَمَلُّوْا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی : «دومره أعمال کوئ څومره چه ستاسو (د همیشه کولو) طاقت وی، ځکه الله تعالیٰ (د ثواب ورکولو) نه نهٔ تنگی کیږی تردے چه تاسو به خپله تنگ شئ »(یعنی تنگ به شئ او عبادت به پریدئ، نو أجر به درنه منقطع شی) (بخاریؒ ومسلمؒ)۔

تشریح : دا حدیث نبی ﷺ په هغه وخت کښ وئیلے وو چه عائشه رضی الله عنها ته حَوْلَاء بِنْتِ تُوَيْت راغلے وه نو دے نبی ﷺ ته اُوفرمایل : یارسول الله !آیا تا ته پته شته ؟ دا هغهٔ زنانه ده چه ټوله شپه عبادت کوی نو نبی ﷺ اُوفرمایل :

(مَهْ، عَلَيْكُمْ بِمَا تُطِيْقُوْنَ الخ) (مَهْ ! دا کار مهٔ کوه، بلکه د خپل وسع مطابق کار کوه) (بخاری ٨٤/١) و اصحاب السنن)

نو د حدیث مطلب دا دے چه ځان باندے د خپل وسع مطابق أعمال مقرر کړئ ځکه چه کله تاسو تازه ئے او په تازگی او شوق سره عبادت کوئ نو الله به درله د هغے مطابق أجر درکوی او کله چه تاسو ستومانه شئ او عمل درباندے زُوروَر شی نو بیا به ئے پریدئ او چه کله مو پریخودو نو بیا به تاسو نه أجر بند شی ځکه چه کله تاسو همیشه اعمال کول نو الله به درنه اجر نهٔ منقطع کوی خو کله چه تاسو أعمال پریخودل نو تاسو نه به اجر منقطع شی نو خپل تاوان به اُوکړئ۔

بعض وائی ددے معنیٰ دا ده چه د الله حق په طاعت کښ په تاسو باندے نهٔ ختمیږی تردے چه ستاسو جُهد او کوشش به ختم شی لهذا د وسع مطابق أعمال مقرر کړئ چه ستاسو طاعت الله دپاره همیشه وی او د هغه أجرونه ستاسو دپاره همیشه وی۔

نو د کومو سلفوؒ نه چه ټوله شپه مونځ نقل دے نو دا احادیث ورته ندی رسیدلی۔ ورنه ټوله شپه عبادت همیشه دپاره د سنت خلاف دے۔ او کله نا کله روا دے۔

٤- وَعَنْ اَنَسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «لِيُصَلِّ اَحَدُكُمْ نَشَاطَهٗ، وَاِذَا فَتَرَ فَلْيَقْعُدْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: او انس ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمایلي دي: «په تاسو کښې دې یو تن ترهغهٔ وخته پورې مونځ کوي چه څو پورې تازهٔ وي (زړهٔ ئې خوشحاله وي) او کله چه سُست شي نو بیا دې کیني». (بخاري ومسلم)

تشریح: وَاِذَا فَتَرَ: ۱- ددې یو مطلب دا دې چه د خپل نشاط مطابق مونځ کوه کله چه په مینځ د مانځه کښې سست شې نو کینه او په ناسته مونځ پوره کړه.
۲- یا مطلب دا دې چه کله د بعض سلامونو نه فارغ شي نو د باقي نوافلو دپاره دې ناسته اُوکړي او هغهٔ دې په ناسته سره اُوکړي. ۳- دریم ظاهر مطلب دا دې چه کله بعض مونځ اُوکړي او تنګ شي نو بیا دې کور ته لاړ شي، او مونځ دې تر هغهٔ وخت پورې پریدي چه بیرته ورته نشاط (او تازګي) راشي. لکه روستو روایت کښې "فلیرقد" لفظ دې هغهٔ ددې قعود تفسیر دې. نو چه کله انسان ستومانه شي اومونځ کښې ئې توجه خرابیږي نو بیا ورله اُودهٔ کیدل پکار دي ځکه چه مونځ د الله د تعلق شې دې او چه کله تعلق خراب شي نو بیا هسې خکته پورته کیدلو نه هیڅ فائده نهٔ ملاویږي.
او ددې حدیث سبب ورود دا دې چه انس فرمائي: نبي ﷺ مسجد ته راغلو نو د دوه ستنو ترمینځ یوه رسئ (پړې) ئې اُولیدو چه رازورند شوې وه، وې فرمایل: دا رسئ ولې زورنده ده؟ خلقو عرض اُوکړو: دا رسئ د ام المؤمنین زینت بنت جحش ده، (هغهٔ د شپې عبادت کوي) کله چه ستړې شي نو دې پورې ځان تړي. نبي ﷺ ارشاد اُوفرمایل: داسې نهٔ ده پکار. دا کولاوه کړئ». او بیا ئې دغه ارشاد اُوفرمایلو.

فوائد الحدیث: ۱- حدیث کښې تیزي ده پدې خبره چه په عبادت کښې اقتصاد (درمیانه روي) پکار ده. و په عبادت کښې د تعمقاتو نه ځان ساتلو نه نهی ده. او مانځه ته په نشاط او رغبت سره متوجه کیدلو ته ترغیب دې.
۲- او پدې کښې منکر په لاس او ژبه زائل کول دي.
۳- زنانه دپاره نوافل وغیره په مسجد کښې کول جائز دي.
۴- په مانځه کښې د رسئ پورې ځان ترل مکروه دي. ۵- خشوع په مانځه کښې مُهم شې دې.

۵- وَعَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اِذَا نَعَسَ اَحَدُكُمْ وَهُوَ يُصَلِّي فَلْيَرْقُدْ حَتّٰى يَذْهَبَ عَنْهُ النَّوْمُ، فَاِنَّ اَحَدَكُمْ اِذَا صَلّٰى وَهُوَ نَاعِسٌ لَايَدْرِيْ لَعَلَّهٗ يَسْتَغْفِرُ فَيَسُبُّ نَفْسَهٗ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائي: رسول الله ﷺ فرمائي : «کله چه یو تن ستاسو ته په مانځه کښې خوب ورشي نو اُودهٔ شي تردې چه کله خوب ترې لاړ شي (نو بیا دې پاڅیږي او مونځ دې کوي) ځکه یو تن ستاسو چه کله مونځ کوي او دا خوب نیولې وي نو دې به (په خپله خبره) نهٔ پوهیږي نو شاید چه دې به مغفرت طلب کوي نو (د خوب د غلبې په وجه به) ځان ته ښیرې اُوکړي»۔ (بخاريّ ومسلمؒ)

تشريح : د اُودهٔ کیدو دا قانون د نفلي مونځ باره کښې دې دا وجه ده چه په باب د نفلي مانځه کښې ئې راوړیدې او د فرض مانځه باره کښې دا قانون نهٔ دې ځکه که انسان له د فرض مانځه په وخت خوب ورشي او دا لاړ شي اُودهٔ شي نو بیا خو به ترې مونځ قضاء شي نو دا به د خوب د اِزالې کوشش کوي او فرض مونځ به کوي ځکه په فرض مانځه باندې دومره وخت نهٔ لګي، او که نفل قضاء شي نو روستو به ئې قضاء راوړي، نهٔ ګنا هګاریږي او فرض قضاء کول ګناه ده۔ مګر حافظ فرمائي : دا حدیث اګرکه د نفل مانځه باره کښې راغلې دې (لکه مخکښې د حَوْلَاء بنت تُوَيت واقعه کښې وئیلې شویدې) مګر عبرت عموم د الفاظو لره دې نه خصوص د سبب لره لهذا په فرائضو کښې به هم پدې باندې عمل کیږي ترڅو پورې چه د وخت د فوت کیدو خطره نهٔ وي۔

او په بخاري کښې په حدیث د انسؓ کښې دي : (فلیتم) یعنی دغه مونځ به پوره کړي۔ (په تخفیف سره) ځکه چه ددې علت احتمالي دې۔ او دا امر د استحباب دپاره دې نهٔ د وجوب دپاره (قاله الزرقانيؒ) ځکه نعاس چه کله سخت شي نو پخپله مونځ قطع کیږي بغیر د اختیار د مصلي نه نو حاجت نشته وجوباً امر کولو ته په قطع کولو د مانځه۔ او امام مهلبؒ دا په ظاهر باندې حمل کړیدې هغهٔ وئیلي دي چه کله انسان ته خوب په مانځه کښې ورشي نو مونځ به قطع کوي او دا مونځ به سر ته نهٔ رسوي۔ مګر اول قول راجح دې۔

او حکمت پدې اُودهٔ کیدو کښې دا دې چه که څوك د خوب په حالت کښې مونځ کوي نو هسې شمار به پوره کړي لیکن د مانځه چه کوم خوند دې هغه به حاصل نهٔ شي چه هغه تعلق د الله دې۔ بل علت ئې دا ذکر کړیدې چه د خوب په حالت کښې مونځ کوي نو ځان به ته د دعاء په ځائې ښیرې اُوکړي لکه « اللهم اغفر لي » په ځائې « اللهم اعفر لي » اُووائي (اې الله ما په خاورو کښې راکاږهٔ) او دا خو د مانځه منافي کار دې۔

او ابن ابی جمرهٔ وائي چه علت د نهي دا دې چه يَره ده چه دا دعاء به د اِجابت د ساعت سره موافق شي نو انسان به هلاك شي۔ او یا به اُووائي : (اللهم اغفر للکافرین او اللهم اهلك المسلمین) وغیره نو کفارو ته به دعا او مسلمانانو ته به ښیرې اُوکړي۔

حافظ زين الدين العراقيؒ فرمائي: په حالت د نعاس (خوب) کښې په ځان ته ښيرے کولو باندے دا انسان ماخوذ دے وجه دا ده چه په دے حالت کښې دا مانځه ته د نزدے کيدو نه منع شوے دے او دا بيا هم ځان پيش کوی او ځان پدے ښيرو وغيره کښې واقع کوی نو دا متعدی دے۔ او که بالفرض گنا هګار نهٔ شی ځکه چه قصد ئے نشته نو بيا مقصود د مانځه نهٔ اداء کول د مانځه دی په هغهٔ طريقه چه دهٔ ته پرے امر شويدے او ځان ته دعاء کول دی او ددے په فوت کيدو سره مقصود فوت کيږی۔ او د حديث نه دا معلومه شوه چه کله د مانځه نه مشغولونکے شے يا د هغے د اهتمام نه حائل واقع شی نو مونځ به نهٔ کيږی او دلته ئے نعاس ذکر کړو ځکه چه دا غالب الوقوع دے۔ (فيض القدير (۱/ ۵۷٤)

٦- وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اِنَّ الدِّيْنَ يُسْرٌ، وَلَنْ يُّشَادَّ الدِّيْنَ اَحَدٌ اِلَّا غَلَبَهٗ، سَدِّدُوْا، وَقَارِبُوْا، وَاَبْشِرُوْا، وَاسْتَعِيْنُوْا بِالْغُدْوَةِ وَالرَّوْحَةِ، وَشَيْءٍ مِنَ الدُّلْجَةِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: او ابو هريره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ فرمائيلی دی: «دين آسان دے، او هيڅوک دين کښې سختی نهٔ کوی مګر هغهٔ به پرے غالبه کيږی، لهذا (په دينی اُمورو کښې) درميانه روی کوئ، او د خپل طاقت مطابق عمل اِختيار کړئ او (د جنت او سلامتيا او د الله په اِنعاماتو سره) خوشحاله شئ، (ځکه الله په لږ عمل باندے کله چه په مداومت او اخلاص سره وی ډير اَجر ورکوی) او د صبا او بيګاه په وخت او د شپے په يوه حصه سره د الله نه مدد غواړئ» (يعنی بندگی پکښې اُوکړئ) (بخاریؒ)

تشريح: يعنی دا دينِ اسلام آسان دے، داسے مشقتونه نهٔ لری چه د سړی د مزاج خلاف وی۔ لکه بعضے خلقو ډير ګران کړيدے چه وائی د ټول امت نه به الله د يو کافر په باره کښې تپوس کوی، چه امريکه کښې يو کافر مړ شو نو الله به مونږ نه تپوس کوی، داسے نهٔ ده۔ او دارنګه دين کښې آسانی دا ده نو په ځان باندے ئے په زوره مهٔ سختوئ لکه د رهبانيت والو په شان ۔ او دين ته ئے چه آسان وئيلے دے نو دا په نسبت سره ذات ته يا په نسبت سره باقی دينونو ته چه پخوانو دينونو کښې اَغلال او ګران ګران احکام وو او دے اُمت ته الله تعالیٰ هغه معاف کړل او آسان احکام ئے پرے مقرر کړل لهذا په دين اسلام کښې چه اُوس کوم احکام او اعمال دی نو دا بالکل آسان دی۔ اګرکه خلقو ته به ګران ښکاری بلکه د انسانانو د وسع مطابق دی۔

وَلَنْ يُّشَادَّ الدِّيْنَ : (اى لن يُقَاوِمَ الدِّيْنَ بالشدّةِ) يُشَاد په ضمه د ياء او تشديد د دال سره د شدت نه دے يعنى په شدت سره د دين مقابله څوك نشى كولے چه د دين ټول اعمال په ځان مقرر كړى مگر دا دين به پرے غالبه كيږى پدے شان سره چه انسان به ددے اَعمالو نه كمزورے او عاجز شى نو بيا به ئے نشى كولے، مغلوب به شى او دين به پرے غالب شى او دا حكم هم په باره د نفلى اعمالو كښ دے، نۀ فرضى اعمال۔

او ددے مثال دا دے چه يو انسان ټوله شپه مونځ كوى او د خوب سره مقابله كوى نو اِيسته به په آخر د شپه كښ ددۀ په سترگو باندے خوب غالبه شى نو اُودۀ به شى او د سحر مونځ به ترے د جَمعے سره فوت شى۔ نو د گټے په ځائے ئے تاوان اُوكړو۔

او تجربه شاهده ده چه څوك په دينى كارونو كښ تشدد كوى او د اعتدال د حدودو نه زيادت كوى نو هغه ضرور پاتے راځى لكه يو انسان ټوله ورځ وعظ نصيحت كوى يا ټوله ورځ نفلونه كوى يا ټول عمر روژے نيسى او هره ورځ قرآن ختموى نو دا به ضرور ددے نه عاجز راځى، آخرى نتيجه به ئے دا وى چه هغه اعمال به بالكليه پريدى۔ لكه يو انسان نوے صحيح العقيده شى يا دين طرفته راشى او د هيڅا سره خبرے نۀ كوى بس نفلونو ته لگيدلے وى نو لگ وخت پس به دا كار ورته گران ښكاره شى، نو منقطع به شى۔ نو استقامت سره كار پكار دے چه انسان دومره اَعمال په ځان مقرر كړى چه هغه هميشه كولے شى۔ او دا د نبى ﷺ د نبوت يوه نښه ده چه بالكل صادقه شويده چه څوك د دين سره مقابله نشى كولے مگر هغۀ پرے غالبه كيږى۔

او حديث نه دا فائده معلومه شوه چه د شريعت په رخصتونو باندے عمل كول پكار دى ځكه د رخصت په ځائے باندے په عزيمت عمل كول په دين كښ تنطع او تشدد دے لكه د اُوبو د استعمالولو نه د عجز په وخت يو انسان تيمم نۀ كوى نو دۀ ته به د اُوبو په استعمال ضرر ملاؤ شى۔ نو د ځان تاوان به اُوكړى او دا به ځان ته بزرگ وائى۔ په پخوانو امتونو باندے شيطان په همدے طريقه كامياب شويدے چه هغۀ به ورته په صورت د ناصح او خيرخواه كښ ځان پيش كړو او خلقو ته به ئے د دين په جامه كښ ځان راداخل كړو او آخر به پرے كامياب شو، هغوى به ئے په غلو فى الدين كښ واقع كړل، اُوگوره قوم نوح ته چه شيطان ورته په نيكه جامه كښ راغلو چه دا نيكان خلق خو ستاسو مشران وو د دوى شكلونه جوړ كړئ او آخر كښ په هغوى او د هغوى په نسل ئے د بتانو عبادت شروع كړو، د شيطان او د شيطان د ملگرو دير لرے ذهن وى، هغوى د پنځوس كالو مخكښ سوچ وى۔ او ددے متعلق حديث كتاب الاعتصام كښ تير شويدے : (لا تشددوا على انفسكم

يشدد الله عليكم فان قوماً شددوا على انفسهم فشدد الله عليهم فتلك بقاياهم فى الصوامع والديار) الخ وسنده جيد)

سَدِّدُوْا: يعنې درميانه روان شئ په عمل کولو کښې۔ يعنې درميانه روی اُونيسې۔

وَقَارِبُوْا : يعنې نزدے نزدے شئ کامل اعمالو ته يعنې که پوره طريقے سره يو عمل نشئ راګيرولے نو هغے ته چه کوم نزدے عمل وی هغه خو اُوکړئ۔ او ځان مهٔ فاسقان کوئ۔

۲– يا معنیٰ دا ده چه الله ته ځان نزدے کړئ په اعمالو او داسے هم مهٔ کوئ چه بالکل اَعمال پريدئ۔

وَاَبْشِرُوْا: يعنې خوشحاله شئ او زيرے حاصل کړئ په ډير اَجر سره په هميشه عمل کولو باندے اګرکه کم وی۔ يا دا چه څوك په اکمل باندے د عمل کولو نه عاجز شی او دا عجز ددهٔ په اختيار کښې نهٔ وی نو خوشحاله شئ چه الله به درنه اجر نهٔ کموی بلکه د همدغه مکمل عمل اجر به درکوی۔ بيا خوشحالی په څهٔ ده ؟ نو هغه ئے ندے ذکر کړے تعظيماً او تفخيماً۔

وَاسْتَعِيْنُوْا : نو اُوس طريقه د سداد (درميانه روئ) بيانوی چه په دے درے اَوقاتو باندے د الله په بندګئ مدد طلب کړئ نو مقصد ته به اُورسيږی۔ او دا ډير بهترين اَوقات دی۔ چه سحر او مابنام او د شپے په څه حصه کښې انسان اعمال کوی۔

بيا «غدوة» سحر وخت کښې مزل کولو ته وائی او «روحه» مابنام کښې او «دُلجه» د شپے په آخری حصه کښې مزل کولو ته وائی او دا د مسافر دپاره بهترين اَوقات دی نو پدے کښې اِشاره ده چه ستاسو سفر هم الله طرفته شروع دے، هغه ته سير کوئ نو دا اَوقات درنه ضائع نشی۔

الدَّلْجَةِ : دا په فتحه د دال او ضمه دواړو سره جائز دے۔ د شپے آخری حصه کښې مزل کولو ته وائی او بعض وائی : توله شپه مزل کولو ته وائی دا وجه ده چه دلته ئے پرے من تبعيضيه داخل کړو۔ او بعض فرق کوی : په ضمه د دال د شپے په آخری حصه کښې سفر شروع کولو ته وائی۔ او چه په فتحه د دال شی نو توله شپه مزل کولو دپاره استعماليږی لکه د ادلاج په شان۔ (دليل الفالحين ۲/٦٧) لمحمد على بن محمد بن علان البكرى الصديق المتوفى (١٠٥٧هـ)۔

٧– وَعَنْ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«مَنْ نَامَ عَنْ حِزْبِهٖ اَوْ عَنْ شَىْءٍ مِنْهُ، فَقَرَأَهُ فِيْمَا بَيْنَ صَلَاةِ الْفَجْرِ وَصَلَاةِ الظُّهْرِ، كُتِبَ لَهٗ كَاَنَّمَا قَرَأَهُ مِنَ اللَّيْلِ».رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او عمر ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمائیلي دی : «څوك چه د خپلے وظيفے یا څه حصے د وظيفے او وِرد نه اُودۀ پاتے شو او بيا ئے هغۀ د صبا او د ماسپښين مانځه ترمينځ وخت کښې اُولوستل نو دۀ دپاره به داسے اُوليکلے شي لکه گويا کښې چه د شپے ئے لوستلی وی»۔ (مسلمؒ)

تشريح : حِزْبِهٖ : حزب ورد او وظيفے ته وائي ځکه هر مؤمن ځان له د مستحب اَعمالو نه يو وِرد مُقرر کړے وی۔ نو حديث کښې دوه فائدے دی يو دا چه د تهجدو او اَذکارو او نوافلو قضائي هم شته ځکه په عباداتو باندے هميش والے ګول د الله په نزد محبوب دی۔

۲- دويم دا چه دے وِرد کښې که اَذکار او تلاوة د قرآن وی نو دا خو د سحر مانځهٖ نه روستو کولے شي او که نوافل مطلقه وی يعنی مونځ وی نو بيا دا د سحر مانځه نه تر نمرخاته پورے نۀ کيږی نو هغه به بيا د نمر خاته نه روستو کوی۔

خو دا کار د هغۀ چا په حق کښې دے چه خوب پرے غير اختياری غلبه کړی وی بدن ئے وران وی، يا بل عذر ورته راپيښ شوے وی او نيت ئے د راپيداريدو وی۔ نو دۀ له الله ددغه عمل مکمل اَجر ورکوی ځکه چه ددۀ نيت ښائسته دے او د هغۀ عمل پسے خفه دے۔ نو هغه شان اَجر ورکوی لکه چه دۀ کړے وی۔ او دے ته اِشاره ده پدے آيت کښې ﴿ هُوَ الَّذِیْ جَعَلَ الَّیْلَ وَالنَّهَارَ خِلْفَةً لِّمَنْ اَرَادَ اَنْ یَّذَّکَّرَ اَوْ اَرَادَ شُکُوْرًا﴾ (يعنی الله شپه او ورځ د يو بل خليفه جوړ کړيدی چه د شپے درنه وِرد پاتے شو د ورځے ئے اُوکړه او که د ورځے درنه پاتے شو د شپے اُوکړه خو ددے نه دا فائده هغه څوك اخلی چه اراده د نصيحت او اراده د شکر لری)۔

دا حکم اګرکه د شپے په باره کښې وئيلے شويدے ليکن د ورځے متعلق هم دغه حکم دے، چه ددے د شپے قضائي راوړۀ لکه ددے آيت نه واضحه شوه۔ او دا د الله تعالیٰ محض فضل او احسان دے او په امت باندے ئے شفقت او رحمت دے چه انسان باندے کله دغه شان مرض يا سفر يا بل مانع راشي او د شپے د بهترين مونځ نه ئے منع کړی نو کۀ د ورځے ئے په دغه وقت کښې اُوکړی نو الله ورته داسے اجر ورکوی لکه د شپے چه ئے لوستلی وی۔

علامه شوکانیؒ فرمائي : صحابه کرامو به قضائي راوړله د هغۀ اذکارو چه دوی به په مخصوص اوقاتو کښې کول او بيا به ترے فوت شول۔

۳- **دريمه** فائده دا ده چه نفلی اذکار او عباداتو کښې څۀ تحديد نشته بلکه زيادت او کموالے بقدر الوسع جائز دے، لکه يو انسان شپاړس رکعاته کوی او بل دولس کوی، يو (۵۰۰) سوه کرته تسبيح وائي او بل ددے نه کم يا زيات وائي نو دا به بدعت نۀ شمارل کيږی، ځکه په بدعت کښې د تخصيص سره د ثواب اِعتقاد وی۔

۸- وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: «صَلِّ قَائِمًا، فَإِنْ لَّمْ تَسْتَطِعْ فَقَاعِدًا، فَإِنْ لَّمْ تَسْتَطِعْ فَعَلَى جَنْبٍ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: او عمران بن حصين ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «په ولاړه مونځ کوه، کۀ طاقت دِے نۀ وي نو په ناسته ئے کوه او کۀ په ناسته هم طاقت نۀ لرے نو په اړخ ئے کوه»۔ (بخاري)

تشريح: صَلِّ: دا حديث په جواب د سوال د عمران بن حصينؓ کښې راغلے دے لکه ددے حديث په ابتداء کښې داسے راغلي دي، عمران بن حصينؓ فرمائي: (كانت بي بواسير فسألت رسول الله ﷺ عن الصلاة فقال صل قائماً الخ) (په ما باندے بواسيرو بيماري وه) (بواسير جمع د باسور ده دا د مقعد په باطني طرف کښې يو پرسوب دے۔

بعض وائي: دا په کولمګئ کښې يوه بيماري ده چه راپيدا کيږي د راخکلو د رګونو د کولمګئ نه او بيا په هغے کښې جاري وينه پيدا شي۔ طبيبان ئے داسے تعريف کوي: دا هغه وړے وړے دانے دي چه په نفس مقعد باندے پيدا کيږي چه د هغے نه هر وخت څه ماده روانه وي) (نو ما د رسول الله ﷺ نه د مانځه متعلق تپوس اُوکړو چه څنګه طريقے سره مونځ اُوکړم؟ نو هغه اُوفرمايل: په ولاړه ئے کوه الخ) بيا دا حکم په باره د فرض مانځه کښې دے چه کله يو مريض په ولاړه مونځ نشي کولے نو بيا به ئے په ناسته کوي او ددے ناستے اَجر هم د ولاړے د اجر په شان دے ځکه دا معذور دے۔ او د نفل مانځه حکم روستو راځي۔

پدے حديث کښې په روايت د نسائي کښې ورسره دا زيادت باسناد صحيح راغلے دے۔ (فان لم تستطع فمستلقياً) (کۀ په اړخ باندے طاقت نۀ لرے بيا ستوني ستاق مونځ کوه)

دا حديث بيا په يو څو مسئلو دليل دے: ۱- يوه دا چه په فرض مانځه کښې قيام فرض دے۔ کله چه ضرورت او عذر نۀ وي۔ او که عذر وي نو بيا قيام ساقطيږي۔

۲- دويم دا چه د مونځ قضاء کول پدے اُمت باندے نشته ځکه که په ولاړه نشي نو په ناسته به ئے کوي او که په ناسته نۀ وي نو بيا په ملاسته (اړخ) باندے او که اړخ باندے ئے هم نشي نو بيا به ئے د سر په اشاره کوي، په هر څنګ حالت چه وي۔

په اړخ باندے د مانځه طريقه

۳- مسئله: کله چه په اړخ باندے مونځ کوي نو څۀ طريقه به وي؟:

نو احنافو دا غوره کړيده چه قبلے ته به خپے اُوغزوي او سر ته به بالخت کيدي ځکه

استقبال د قبلې فرض دے، هغه د قيام او قعود په سقوط سره نۀ ساقطيږي۔ او ديته استلقاء علی الظهر وائي۔ ۲- **جُمهور وائي** : داسے به څملي لکه څنګه چه قبر کښ څملولے شي يا اُوده کيدو دپاره څملي چه جنوب او شمال طرف ته به څملي په ښي طرف او مخ به قبلې طرفته متوجه کړي۔ او دا حديث ددے جمهورو دليل دے او رد دے په احنافو ځکه چه دلته د قعود نه پس اَړخ ذکر شو نو اِستلقاء ئے پکښ ذکر نۀ کړه۔

او بل دليل پدے باندے حديث د عليؓ دے چه دارقطني کښ مرفوعاً باسناد ضعيف ذکر دے : (يصلي المريض قائماً ان استطاع فان لم يستطع صلی قاعداً فان لم يستطع ان يسجد اَوْمَأَ براسه و جعل سجوده اَخْفَضَ من ركوعه فان لم يستطع ان يصلی قاعداً صلی علی جنبه الايمن مستقبل القبلة فان لم يستطع ان يصلی علی جنبه الايمن صلی مستقلياً رجلاه مما يلي القبلة) (وفي سنده الحسن بن الحسين العرني وهو يروی المناكير) **لهذا دا طريقه افضله** ده د استلقاء نه ځکه هغے کښ صحيح حديث نشته او اَړخ والا کښ دا دوه روايتونه راغلل۔ او په حديث د عليؓ کښ دا هم راغلل چه استلقاء به روستو وي د اضطجاع علی الجنب نه۔ لکه څنګه چه پدے حديث الباب کښ په روايت د نسائي کښ راغلي دي۔ وقد مرّ۔

په ناسته باندے د مانځه طريقه

بيا که په ناسته مونځ کوي نو څۀ طريقه بهتره ده ؟ نو حافظ ابن حجرؒ فرمائي : پدے حديث کښ کيفيت د قعود نۀ دے ذکر نو ددے قول (فقاعدا) د اطلاق نه دا اِستدلال کيږي چه مونځ کونکے په هره طريقه ناسته اُوکړي نو دا به جائز وي۔

ليکن بهتره کومه طريقه ده ؟ پدے کښ اختلاف دے ۱- ائمه ثلاثه وائي : تربع به کوي چه لاسونه به ئے په زنګنونو ايخي وي۔

۲- بعض وائي : مُفترشاً به کيني يعني تشهد کښ چه څنګه کيني۔ او دا موافق دے د قول د شافعيؒ سره په (مختصر المزني) کښ۔

۳- او بعض وائي : متوركاً (په تورك طريقه سره) به کيني۔ او پدے تولو کښ احاديث راغلي دي۔ انتهیٰ۔ (فتح الباري ٥٨٦/٢) تحفة الاحوذي (٣٠٩/٢)

٤- **او بعض** وائي : تربع به کوي۔ او دا تربع د سالم، مجاهد، عطاء، ابن سيرين، ابوجعفر، حسن بصري وغيره نه نقل ده۔ او حاكم (٢٥٨/١) کښ د عائشے حديث دے : رأيت رسول الله ﷺ يصلي متربعاً) (صححه علی شرط الشيخين ووافقه الذهبي) وقال الالباني في صفة الصلاة ص (٥٤) وكان يجلس متربعاً- رواه النسائي (٢٤٥/١) وابن

خزيمة والحاكم وصححه) (ما رسول الله ﷺ اُوليدلو چه په مانځه کښې ئې تربع کولو) نو د معذور دپاره تربع پکار ده۔

★– ابن ابى شيبه (۲/۲۱۹) د سماك بن سلمة الضبیؒ نه نقل کوی: (رأيت ابن عمر وابن عباس وهما يتربعان فى الصلاة) (ما ابن عمرؓ او ابن عباسؓ اوليدل چه دواړو به په مانځه کښې تربع کوله) ★– او دغه شان عقبه فرمائی: (رأيت انساً يصلى متربعاً) (ابن ابى شيبة) (انسؓ به تربع کوله)

امام شوکانیؒ فرمائی: «د عائشې حديث چه (رأيت النبى ﷺ يصلى متربعاً) دارقطنى راوړيدے او نسائی (۱/۲۴۵) ابن حبان او حاکم راوړيدے او نسائی وئيلى دى چه دا حديث د ابوداود الحفرى نه علاوه بل چا نۀ دے نقل کړے او دا ثقه راوى دے مګر زما په دۀ ګمان دے چه دا خطاء دے۔ ليکن حافظ ابن حجرؒ فرمائی: دا ابن خزيمة (۱/۸۹) رقم (۹۷۸) کښې او بيهقیؒ د محمد بن سعيد بن الاصفهانى نه په متابعت د ابوداود راوړيدے نو ظاهره شوه چه پدے کښې هيڅ قسمه خطاء نشته، او بيهقى د طريق د ابن عيينه عن محمد بن عجلان عن عامر بن عبد الله بن الزبير عن ابيه په سند راوړے دے (قال: رأيت رسول الله ﷺ يدعو هكذا ووضع يديه على ركبتيه وهو متربع جالس)۔

دارنګه بيهقیؒ د حُمَيد نه نقل کوی: (رأيت انساً يصلى متربعاً على فراشه) (علقه البخارى) (ما انسؓ اُوئيلو چه په بستره باندے ئې پرلت وهلو سره مونځ کولو)

او فرمائی: دا حديث دليل دے چه مستحب – د هغۀ چا دپاره چه په ناسته مونځ کوی – دا ده چه تربع اُوکړی او ديته امام ابوحنيفةؒ، مالكؒ او احمدؒ کښې ذهاب کړيدے او دا يو قول د امام شافعى دے۔

او بل قول د شافعیؒ دا دے چه مفترشاً به کينى لکه څنګه چه د دوه سجدو ترمينځ کينى، او صاحب د نهايه د بعض مصنفينو نه نقل کړيدى چه متورکاً به کينى۔

★ – او قاضى حسينؒ د شوافعو نه وائى: په ګس پتون به کينى او ښے زنګون به اُودروى لکه څنګه چه قارى د خپل اُستاذ مخے ته کينى، او دا اختلاف په افضل کښې دے او پدے باندے اتفاق دے چه مريض له جائز دى چه په هره طريقه ناسته اُوکړی څکه په دوه حديثونو د عائشه کښې اطلاق دے او په حديث د عمران بن حصين کښې عموم دے» آه (نيل الاوطار ۲/۲۵۳)

د دوه حديثونو د عائشېؓ نه مراد هغۀ دوه حديثونه دى چه مسلم وغيره راوړيدى: (كان يصلى ليلاً طويلاً قائماً وليلاً طويلاً قاعداً) چه پدے کښې اطلاق راغلے دے۔ مطلقاً ناسته ذکر ده۔

مگر **صحیح** دا ده چه نوافلو مطلقو کښې او دارنګه د معذور دپاره په فرائضو کښې تربع سنت ده او د دغه اطلاق د حدیث د وجه نه افتراش (د تشهد په طریقه ناسته) هم جائز ده۔

تنبیه : کله چه په تربع سره مونځ کوی نو صرف د قیام او د رکوع په وخت کښې به تربع کوی او هرچه سجده او تشهد دے نو بیا به تربع نۀ کوی۔

دلیل دا دے : بخاری (۱/۱۱٤) کښې د عبد الله بن عبد الله نه نقل دی چه دۀ عبد الله بن عمر اولیدو چه تربع به ئے په مانځه کښې کوله کله چه به ناست وو۔ نو ما هم دا کار اُوکړو او زۀ په دغه وخت کښې ماشوم (حدیث السن) وم، نو زۀ عبد الله بن عمرؓ منع کړم او دا ئے راته اوفرمایل : (انما سنة الصلاة ان تنصب رجلك اليمنى وتثنى اليسرى) (د مانځه سنت دا دی چه ښئ خپه اُودروے او ګسه خپله ماته کړے) ما ورته اُوئیل : تۀ دا کار کوے، وے فرمایل : زما خپے ما نشی پورته کولے- یعنی زۀ بیمار یم) نو دا حدیث دلیل دے چه سنت په تشهد کښې دا ده چه په خپو به کینی او تربع به نۀ کوی او تربع به د سجدے او تشهد نه علاوه کښې کولے شی۔ او دا خبره په الشرح المختصر علی بلوغ المرام (۳/۱۷۷) للشیخ ابن عثیمین رحمه الله کښې هم دغه شان بیان شویده۔ او دے ته ابن ابی شیبة (۲/۲۲۰) اشاره کړیده او دغه شان په فقه السنة (۲٤۳/) کښې هم اُوګوره۔ او ډیر آثار په قیام اللیل د ابن نصر (۲۰۱ – ۲۰٤) کښې راغلی دی۔ وراجع فتاوی الدین الخالص (۵/۳٤۵)

۹– وَعَنْهُ، اَنَّهٗ سَأَلَ النَّبِيَّ ﷺ عَنْ صَلَاةِ الرَّجُلِ قَاعِدًا، قَالَ: اِنْ صَلّٰی قَائِمًا فَهُوَ أَفْضَلُ، وَمَنْ صَلّٰی قَاعِدًا، فَلَهٗ نِصْفُ أَجْرِ الْقَائِمِ، وَمَنْ صَلّٰی نَائِمًا فَلَهٗ نِصْفُ أَجْرِ الْقَاعِدِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : او عمران بن حصین ﷺ نه روایت دے چه هغۀ د نبی ﷺ نه د هغۀ شخص په باره کښې تپوس اُوکړو چه (د طاقت باوُجُود) په ناسته مونځ کوی، نو نبی ﷺ اُوفرمایل : «کۀ په ولاړه مونځ کوی نو دا ډیره بهتره ده او کۀ په ناسته مونځ کوی نو دۀ دپاره به نیمائی اَجر د ولاړ انسان وی او څوك چه (بغیر د ضرورت نه) په حالت د خوب (یعنی په اَرخ نفل) مونځ کوی نو هغۀ دپاره نیمائی اَجر د ناست دے»۔ (بخاریؒ)

تشریح : دا حدیث په نفل مانځه باندے حمل دے ځکه فرض مونځ بغیر د عذر نه په ناسته باندے صحیح نۀ دے، هان که عذر وی نو بیا قیام ساقطیږی لکه مخکښې تیر شو او معذور په ناسته سره فرض مونځ ادا کولے شی، او اجرئے د ولاړ مونځ کونکی دے۔ نو د

حدیث مطلب دا دے چه بغیر د عذر نه په ناسته نفل مونځ کونکی ته پوره اَجر او ثواب نهٔ ملاویږی بلکه څو مره ثواب چه په ولاړه باندے کونکی ته ملاویږی د هغے په نیمائی ثواب به دهٔ ته ملاویږی، آو ! که عذر وی چه په اُودریدو باندے قادر نهٔ وی نو بیا په ناسته مونځ کونکی ته د ولاړے د مانځه په نسبت نیم ثواب نهٔ ملاویږی بلکه هغه ته هم پوره ثواب ملاویږی۔

ذکر د رجل نفی د ښځے نهٔ کوی ځکه دا قید غالبی دے، ورنه د ښځے هم دا حکم دے ځکه زنانه د سړو شقائقے دی۔

نائماً : په روایت د احمد وغیره کښې د نائماً په ځائے مضطجعاً دے۔ پدے کښې تحقیق دا دے چه نائماً لفظ د دوه معانو احتمال لری : ۱– یو دا چه ددے نه اضطجاع سره یعنی په ډډهٔ باندے مونځ کول مراد دی لکه څنګه چه اُوده سړے ډډهٔ لګوی۔ او دا په نفلو کښې جائز دی اګرکه په قیام او قعود باندے قادر وی۔ او په فرائضو کښې عند العجز جائز دے۔

۲– دویم دا چه نوم په خپل حقیقت بناء دے او ددے نه مراد نعاس (معمولی خوب) دے یعنی چا له چه خوب ورځی او مونځ کښې مشغول وی نو دهٔ ته د ناستے نیمائی اَجر ملاویږی۔ او همدا اِحتمال ظاهر دے، او حکمت پدے کښې دا دے چه پدے کښې خشوع کمه وی۔

آیا نفل مونځ په ملاسته جائز دے؟

بیا اختلاف دے چه آیا نفل مونځ بغیر د عذر نه په ملاسته (په اضطجاع) جائز دے او که نه ؟ یعنی اګرکه په ناسته او په ولاړه قادر وی خو بیا هم په ملاسته مونځ کوی۔ نو بعض وائی : نهٔ دے جائز، لکه دا د امام ابو حنیفهٔ رائے ده (مظاهر حق ۱/ ۸۱۲)۔

او یو قوم وائی چه جائز دے، او دهٔ ته به د ناست انسان نیمائی اَجر ورکولے شی او دا قول د حسن بصریؒ دے۔ او همدا قول ډیر صحیح او غوره دے ځکه دا په سنت کښې ثابت دے۔

(طیبیؒ) ابن حجر هیثمی وائی : دا حدیث ډیر بلیغ رد کوی په هغه چا چه په نفل مانځه کښې اضطجاع ته حرام وائی سره د قدرت نه په قیام او قعود باندے۔

علامه خطابیؒ دا حدیث حمل کړیدے په فرض مانځه باندے او دائے وئیلی دی چه یو مریض فرض مونځ کونکے په ولاړه مونځ کولے شی لیکن د مشقت سره نو شارع د قاعد اجر، د قائم نیمائی اجر مقرر کړو، دهٔ ته ترغیب ورکوی چه تهٔ هم په ولاړهٔ مونځ اُوکړه اګرکه ستا قعود جائز دے۔ اجر به دِ ے زیات اُوشی۔ دارنګه په ناسته مونځ کولے شی

ليكن په مشقت سره نو دۀ له جائز دي چه په ملاسته ئے اُوكړي (ځكه معذور دے) مگر اجر به ئے كم وي۔ ليكن كه دا مشقت برداشت كړي او په ناسته ئے اُوكړي نو دا به افضل وي نو دۀ ته ئے ترغيب وركړو چه اے مريضه ! اگركه ستا عذر شته ليكن كه تۀ مشقت برداشت كړے او د ناستے په ځائے په ولاړه مونځ اُوكړے يا د ملاستے په ځائے په ناسته مونځ اُوكړے نو ستا اَجر به زيات وي۔ او خطابيؒ وائي دا ځكه په فرضو حمل دے چه ما د هيڅ عالم نه نۀ دي اَوريدلي چه هغوي نفل مونځ په ملاسته جائز كړي وي۔

(بلوغ الاماني ٥/١٥٣)

ليكن خطابيؒ به نۀ وي اوريدلي او نورو علماؤ اَوريدلي دي ځكه دا قول د حسن بصريؒ دے چه امام ترمذيؒ ترے نقل كړيدے۔ او دا په درے اقوالو د امام مالكؒ كښ يو قول دے، او د شوافعو په دوه قولونو كښ يو قول دے۔او محدثينو غوره كړيدے۔لكه امام بخاريؒ وغيره۔

او د خطابيؒ دا خبره ضعيفه ده يو خو دا چه قيام فرض دے كه څوك څه نا څه طاقت لري نو هغه نه قيام نۀ ساقطيږي او كه عذر لري او نشي اُودريدے نو بيا ددۀ نه قيام ساقط دے او دۀ ته په ناسته باندے دومره پوره اَجرملاويږي لكه څنگه چه ولاړ انسان ته ملاويږي۔او دے حديث كښ ئے خو نصف اجر القائم وئيلے دے۔ لهذا دا تاويل ددے حديث سره سمون نۀ خوري۔ بلكه دا حديث په باره د نفل مونځ كونكي كښ دے چه قادر وي په قيام باندے۔ نو دۀ له په ناسته او ملاسته هم مونځ جائز دے ليكن د ناستے درجه كمه او د ملاستے بنۀ كمه ده۔ ځكه په نوافلو كښ توسع ده۔ (نووى فى الخلاصة، نصب الراية ١/ فصل فى القرائة) او څوك چه دے حديث كښ د ادراج قائل دي لكه علامه خطابيؒ وائي كيدے شي چه دا اِدراج د راوي وي يا ئے منسوخ او غلط گنړي لكه ابن عبد البرؒ نو هغوي خطاء شويدي او حديث صحيح دے او مدرج او منسوخ نۀ دے۔ (التلخيص الحبير ١/٤٤٦ باب صفة الصلاة) د نسخ او ادراج هيڅ ثبوت ئے ندے پيش كړے۔ او په خطابيؒ باندے شيخ احمد شاكرؒ په تعليق د ترمذيؒ (٢/٢١٠) كښ تفصيلي رد كړيدے۔

۲- **بعض علماء** د نائماً يوه بله توجيه دا بيانوي چه دلته خو مضطجعاً ندے وئيلے بلكه نائماً ئے وئيلے دے يعني يو انسان مشقت برداشت كوي خوب ورله ورځي خو مونځ كوي نو ددۀ د ناست انسان په نسبت نيم اَجر دے يعني مثلًا روپۍ كښ څلور اَنے اَجر دے۔ ځكه چه دۀ ډيره توجه نۀ ده كړے۔او دا خبره هم ظاهره معلوميږي، او د خطابيؒ توجيه هم گوزاره كوي ځكه چه معذور دوه قسمه دے، يو هغۀ معذور دے چه بالكل طاقت د قيام او قعود نشي لرلے نو دۀ ته خو بالكل د قيام هومره اجر ملاويږي۔

گوزاره کوی ځکه چه معذور دوه قسمه دي، يو هغه معذور دے چه بالکل طاقت د قيام او قعود نشي لرلے نو دۀ ته خو بالکل د قيام هومره اجر ملاويږي۔

۲– او دويم هغه معذور دے چه مشقت سره برداشت د قيام يا د قعود لرلے شي نو دا هم معذور کښې حساب دے دۀ ته هم رخصت دے چه جنب باندے مونځ اُوکړي ليکن کۀ دۀ په ناسته مونځ اُوکړو ډير اجر دے او په ولاړه د هغے نه هم ډير اجر دے۔

او شيخ الاسلام ابن تيميةؒ او ابن قيمؒ ددے قول ترجيح بيانوي چه د نبي ﷺ او صحابه کرامو نه چرته په ملاسته نفل نقل نۀ دي، سره ددے نه چه هغوي ډير حرص لرلو په سنن د پيغمبر باندے نو که دا جائز وے، صحابه کرامو به د نبي ﷺ په زمانه کښې کړي وے او د هغۀ نه روستو به مسلمانانو کړي وے۔ او دارنګه نبي ﷺ به يو کرت نيم د بياناً للجواز دپاره کړي وے او حال دا چه رسول الله ﷺ به نوافل په ناسته هم کول او دارنګه په سورلۍ به ئے هم کول هرطرف ته به ئے چه مخ وو، او په هغے به ئے وتر هم کول۔ (مجموع الفتاوی ۲۳/۲۳۵) تفصيلاً۔

بيا ددے حکم د عموم نه نبي عليه السلام مستثنیٰ دے ځکه چه هغه ته په ناسته سره مونځ باندے هم د ولاړے په شان مکمل اجر ملاويدو لکه روستو حديث د عبد الله بن عمروؓ کښې به راشي۔

الفصل الثاني

۱۰ – وَعَنْ اَبِيْ اُمَامَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ ﷺ يَقُوْلُ: مَنْ آوىٰ اِلٰى فِرَاشِهٖ طَاهِرًا ، وَذَكَرَ اللهَ حَتّٰى يُدْرِكَهُ النُّعَاسُ، لَمْ يَتَقَلَّبْ سَاعَةً مِنَ اللَّيْلِ يَسْأَلُ اللهَ فِيْهَا خَيْرًا مِنْ خَيْرِ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، اِلَّا اَعْطَاهُ اِيَّاهُ. ذَكَرَهُ النَّوَوِيُّ فِيْ «كِتَابِ الْاَذْكَارِ» بِرِوَايَةِ ابْنِ السُّنِّيِ.

ترجمه : او ابو امامه ﷛ فرمائي : ما د نبي ﷺ نه آوريدلي دي چه فرمايل ئے : « څوك چه خپلې بسترے ته د پاكئ (اَودس يا تيمم) په حالت كښې راشي او د الله ذكر كوي تردے چه خوب پرے راشي، نو دا د شپے په هيڅ وخت كښې نۀ آوړي چه په هغے كښې د الله نه د دنيا او آخرت څۀ خير غواړي مگر الله به ئے ضرور وركړي » ۔ دا حديث نوويؒ په كتاب الاذكار كښې د ابن السنيؒ په روايت نقل كړيدے۔

تشريح : آوىٰ : دا لفظ په مد او قصر دواړو سره يوه معنىٰ لري۔ يعني څوك چه بسترے ته د خوب دپاره راشي۔ نو د شپے په ذكر او طهارت سره اُودۀ كيدو كښې دا خير او

فائده ده چه د شپې په هر ساعت چه رابيدار شوې نو هره دعاء به دې قبليږي، كټ كښ دعاء كوه اې الله! ما ته هدايت اُوكړه، عافيت راكړه، علم راكړه، بخنه راته اُوكړه نو الله به ئې درله قبلوي۔

تعارف د امام ابن السنی رحمه الله : ابن سُنی الدينوری متوفی (٣٦٤هـ) د امام نسائیؒ شاگرد دې او خپله محدث او لوئی اِمام دې۔ او كتاب ئې «عمل اليوم والليلة» په اذكارو او دعاگانو كښ ليكلې دې، او دا د عمل اليوم والليلة د نسائی نه زيات بنائسته او جامع كتاب دې او امام منذریؒ د هغې اختصار كړيدې او اَسانيد ئې ترې حذف كړيدي۔ شايد چه مصنف د ابن سنیؒ كتاب نۀ وی ليدلې ځكه په نوویؒ باندې حواله وركوی۔

درجة الحديث : اسناده حسن: اخرجه الترمذی (٣٥٢٦) والنسائی فی عمل اليوم والليلة (٨٠٧) وابن السنی فی عمل اليوم والليلة (٧٢٤) وفيه شهر بن حوشب وهو صدوق كثير الارسال والاوهام (التقريب) وقال الالبانی فی كتبه ضعيف ثم رجع عنه فی تراجعاته فقال: صحيح دون قوله وذكر الله حتى يدركه النعاس) تراجعات الالبانی ص (٢٢) و الكلم الطيب ص(٨٢) رقم (٤٤) وللحديث شواهد بمعناه منها حديث معاذ (٥) الذی سبق فی باب ما يقول اذا قام من الليل) وحَسَّنه محمد عبد الرحمن عوض فی تحقيق الوابل الصيب لابن القيم (١٣٥) وانظر تنبيه القاری لتقوية ما ضعفه الالبانی ص (١٠٨)

---

١١ - وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ عَجِبَ رَبُّنَا مِنْ رَجُلَيْنِ: رَجُلٍ ثَارَ عَنْ وِطَائِهِ وَلِحَافِهِ مِنْ بَيْنِ حِبِّهِ وَأَهْلِهِ اِلٰى صَلَاتِهِ، فَيَقُوْلُ اللهُ لِمَلَائِكَتِهِ: اُنْظُرُوْا اِلٰى عَبْدِيْ، ثَارَ عَنْ فِرَاشِهِ، وَوِطَائِهِ مِنْ بَيْنِ حِبِّهِ وَأَهْلِهِ، اِلٰى صَلَاتِهِ، رَغْبَةً فِيْمَا عِنْدِيْ، وَشَفَقًا مِمَّا عِنْدِيْ، وَرَجُلٌ غَزَا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَانْهَزَمَ مَعَ اَصْحَابِهِ، فَعَلِمَ مَا عَلَيْهِ فِيْ الْاِنْهِزَامِ وَمَا لَهُ فِيْ الرُّجُوْعِ، فَرَجَعَ حَتّٰى هُرِيْقَ دَمُهُ، فَيَقُوْلُ اللهُ لِمَلَائِكَتِهِ: اُنْظُرُوْا اِلٰى عَبْدِيْ رَجَعَ رَغْبَةً فِيْمَا عِنْدِيْ، وَشَفَقًا مِمَّا عِنْدِيْ حَتّٰى هُرِيْقَ دَمُهُ». رَوَاهُ فِيْ «شَرْحِ السُّنَّةِ».

ترجمه : او عبد الله بن مسعود ؓ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمايلی دی : «زمونږ رب د دوه سړو نه تعجب كوی ١ - يو هغۀ سړې چه د خپلې بسترې او برستنې نه د خپل محبوب او اهل (بی بی) خوا نه (تهجد) مانځه ته راپاڅی، نو الله خپلو ملائكو ته فرمائی: اُوګورئ زما بنده ته، چه ما سره د څيزونو (جنت او ثواب) په شوق سره او زما سره د څيزونو (يعنی

دوزخ او عـذاب) نـه د يرے په وجه د خپلے بستريے او برستنے نه او د خپل محبوب او بي بي نـه مانځه ته راپاځيدو۔ ۲- او دويم هغهٔ سړے دے چه د الله په لاره کښې غزا (جهاد) کوی نو دا د خپـلـو مـلګرو سره شکست اُوخوری نو دا د ميدان جنګ نه د تختيدو ګناه (او عذاب) او ميـدان جنګ تـه د واپس کيـدو ثواب رايادکړی نو راواپس شي (او جنګ شروع کړی) تـردے چـه د هغهٔ وينه توی شي نو الله ملائكوته فرمائي: اُوګورئ زما بنده ته چه ما سره د ثـوابـونـو د شـوق او ما سـره د عـذابـونـو د سزا د يَرے په وجه راواپس شو (او د الله په لار کښې جنګيدو) تردے چه وينه ئے توی شوه »۔ (شرح السنه)

تشريح : عَجِبَ رَبُّنَا : تعجب : (التحير اللاحق عند ادراك الامر الغريب) تـه وائي (يعنى يـو ناشنا شے څوك وينى او هغے ته حيران شي) نو دا حالت په الله نه راځي بلکه ټول شيونه الله تـه حـاضـر او شـاهـد دی او دا تـعـجـب د بندګانو دے او د الله تعجب د متشابهاتو نه دے كيفيت ئے الله ته معلوم دے۔ او لازم ورسره لوئي كنټرول دى۔

مِنْ بَيْنِ حِبِّهٖ : حِب پـه مـعـنـى د محبوب سره دے۔ دا قيدونه نبي ﷺ پـدے وجه لګولي دی چـه د داسے بستـريے نه پاځيدل چه د زنانه سره په يو کټ کښې پروت وی- ډير ګران دی او دا انسـان د الله د رحـمـت د اميـد او د اُور نـه د يـريـدو پـه وجـه راپاځيږی نو الله ورته څکه تـعـجـب كوی۔ څكه دا د خواهشاتو خلاف دے او دا قانون دے چه هر عبادت چه د خواهش په خلاف اُوشي نو هغے کښې اَثر زيات وی۔ او اَجر ئے زيات وی او الله ته محبوب وی۔

وَلِحَافِهٖ : لـحـاف هـغـه برستنے ته وائي چه انسان ئے اَغوندی، او وِطاء هغه ده چه لاندے ئے اَچوی (بستره)۔ او ثار معنیٰ ده راپورته شي، راپاځيږی۔

مَا عَلَيْهِ : يعنى د تختيدو ګناه او د واپس كيدو ثواب كښې ئے فكر اُوكړو۔

بيا دا مـحـمـول دے په دوه حالتونو يو دا چه بالكل جنګ پريدی او كور ته اُوتختی او بيا جـنګ تـه نهٔ راځي نو داسے تختيدل هم حرام دی او که قرار ګاه (معسکر) ته راتختی او بيا واپس حمله كولو ته ځان تياروی نو بيا دا ګناه نهٔ ده، ابن عمرؓ فرمائي: زهٔ يوه سريه كښې تلے وم نـو مـلګرى اُوتختيدل نو زهٔ هم په هغوى كښې وم بيا نبى ﷺ تـه راغلو نو هغهٔ ته مو اُووئيل : (نَحْنُ الفَرَّارُوْنَ) (مـونـږ تـخـتـيـدونكى يو) نبـى ﷺ اُوفـرمـايل : (لا بـل انتم العَكَّارُوْنَ) (يـعـنـى تاسو تختيدونكى نهٔ ئے بلكه دوباره حمله كونكى ئے) (ابوداود باسناد ضعيف ومعناه صحيح)

۲- **دويم صورت** دا دے چـه د شـل زره كـافـرانو نه لس زره مسلمانان راتختی نو دا ګناه ده بلكه ځان به پرے شهيد كوی خو تختی به نهٔ۔

او دے حدیث کښې چه کوم صورت راغلے دے نو پدے کښې دا هم داخل دے چه یو انسان د زړو کسانو مقابله کوی نو ضرور به دا شهید کیږی نو دا جائز ده کله چه په دشمن کښې نِکایَه او زخم کولے شی، هغوی ته ډیر نقصان رسولے شی لکه په اُحُد کښې نضر بن انسؓ ملګرو ته اُووئیل چه تاسو چرته تختئ زه د اُحُد د طرفنه د جنت خوشبوئی محسوس کوم۔ او بیا یواځے لاړو د کافرانو مقابله ئے اُوکړه او شهید شو۔ نو نبی ﷺ ورته دا اُونۀ وئیل چه ځان ئے هلاک کړو او دا کار ئے ښۀ اُونکړو۔

درجة الحدیث: اسناده حسن صححه الحاکم ووافقه الذهبی: اخرجه احمد (۱/۴۱٦) ورجاله ثقات لکن عطاء بن السائب کان اختلط وحماد بن سلمة وان روی عنه قبل الاختلاط فقد روی عنه بعد الاختلاط فلم یمکن تمیز ما قبله عما بعده واخرجه ابوداود فی السنن (۲۵۳٦) مختصراً وابن حبان والطبرانی فی الکبیر (۱۰۸۳) والهیثمی فی المجمع (۲/۲۵۵) وقال اسناده حسن وعزاه الی ابی یعلی واورده المنذری فی الترغیب (۱/۲۱۹،۲۲۰) وقال الالبانی حسن لغیره۔

الفصل الثالث

۱۲ - عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: حُدِّثْتُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ: «صَلَاةُ الرَّجُلِ قَاعِدًا نِصْفُ الصَّلَاةِ»، قَالَ: فَأَتَيْتُهُ فَوَجَدْتُهُ يُصَلِّي جَالِسًا، فَوَضَعْتُ يَدِیْ عَلٰی رَأْسِهٖ. فَقَالَ: «مَالَكَ يَا عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عَمْرٍو؟». قُلْتُ: حُدِّثْتُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ! اَنَّكَ قُلْتَ: «صَلَاةُ الرَّجُلِ قَاعِدًا عَلٰی نِصْفِ الصَّلَاةِ، وَأَنْتَ تُصَلِّي قَاعِدًا»، قَالَ: «أَجَلْ وَلٰكِنِّي لَسْتُ كَأَحَدٍ مِنْكُمْ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او عبد الله بن عمرو ؓ فرمائی: ما ته دا حدیث بیان شوے وو چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی: «د سړی (نفل) مونځ په ناسته د (ولاړے د مانځه) نیمائی دے»۔ عبد الله فرمائی: بیا زۀ رسول الله ﷺ ته راغلم ما اُوموندو چه مونځ ئے په ناسته کولو (کله چه د مانځه نه فارغ شو) نو ما خپل لاس د هغۀ په سر مبارك باندے کیخودو، نو هغۀ اُوفرمایل: اے عبد الله بن عمرو! څۀ دی؟ ما عرض اُوکړو: یارسول الله! ما ته دا حدیث بیان شوے دے چه تاسو فرمایلی دی چه: «د سړے مونځ په ناسته دا د ولاړے په نیمائی دے»، او حال دا چه تاسو (خپله) په ناسته مونځ کوئ؟ وے فرمایل: «آؤ (خبره صحیح ده) لیکن زۀ ستاسو د یو تن په شان (پدے حکم کښې) نۀ یم»۔ (ما دپاره په ناسته مونځ هم د ولاړے اَجر راکړے کیږی) (مسلمؒ)

تشريح : فَوَضَعْتُ يَدِىْ : دا د عربو عادت وو چه هغوی به د يو بل په سر لاس كيخودلو نو پدے كښ څه اشكال نشته چه ابن عمرؓ څنګه د نبی ﷺ په سر لاس كيخودلو ځكه چه عربو كښ داسے تكلفات نۀ وو۔

بعض وائی : عرب چه كله د يو شي اهتمام كوی نو د سری په سر لاس كيدی۔

بيا د حديث نه دا معلومه شوه چه د نبی ﷺ دا خصوصيت دے چه په ناسته مونځ كولو سره هغه ته د قيام اجر ملاويږی۔ ددے وجه دا ده چه كله انسان قيام باندے قادر وی او بيا هم په ناسته مونځ كوی نو دا سُستی او بے شوقئ ته اشاره ده ځكه د عام انسان نيم اجر دے او د نبی ﷺ پوره اجر دے ځكه چه يو خو اُمت دپاره حكم بيانول مقصود وی، دويم دا چه د هغۀ په ناسته مونځ كولو كښ داسے چُستی او چالاكی او نشاط او شوق وی لكه څنګه چه په ولاړه كښ وی۔

ليكن دے كښ يوه استثناء شته چه نبی ﷺ مونځ په ناسته كړے وی او د هغه د تابعداریٔ په نيت انسان هغه مونځ په ناسته كوی نو دے اِنسان ته هُم په دے ناسته سره مكمل اَجر د ولاړے دے لكه روستو به راشی چه نبی ﷺ به د وترو نه روستو په ناسته دوه ركعاته كول نو كه څوك د اتباع په نيت په ناسته اُوكړی نو ان شاء الله ددۀ به هم پوره اَجر وی۔

★ - او بله فائده دا معلومه شوه چه كله يو عمل د نبی ﷺ پورے خاص وی نو د هغے بيان ضرور په احاديثو كښ راغلے وی چه دا كار ما پورے خاص دے او كه داسے بيان نۀ وی موجود نو هسے دعوو سره يو شے د نبی ﷺ پورے نۀ خاص كيږی بلكه هغه به د اُمت دپاره شريعت وی۔ لكه ډيرو مقلدينو د خپل مذهب نه حديثونه اَړولو دپاره دا چَلُونه ياد كړيدی چه حديث د مذهب مقابله كښ راشی، وائی دا د نبی ﷺ پورے خاص دی۔ نۀ، نبی ﷺ د اُمت سره په اَحكامو كښ شريك دے مگر هله چه دليل د خصوصيت ئے راشی لكه دلته دليل د خصوصيت موجود شو۔

نبی ﷺ پورے كوم احكام خاص دی؟

بيا د نبی ﷺ پورے بعض اَحكام خاص دی لكه د هغے ذكر امام نوویؒ د تهذيب الاسماء واللغات (١/٢٦) په ابتداء كښ كړيدے۔او سيوطیؒ په خصائص كبرىٰ كښ ذكر كړيدی :

١- لكه وصال روژے نيول، ٢- په خوب باندے ئے اَودس نه ماتيدو۔

٣- د ناستے مونځ اجرئے د قيام د مانځه په شان وو۔ ٤- نهه بی بيانے كول،

٥- كله چه يوے ښځے ته د نكاح دعوت وركړی نو هغے باندے فرض دی چه نكاح به

ورسره کوی۔ ٦- د نبی ﷺ بی بیانے په اُمت حرامے دی۔
٧- کومے زنانه باندے چه نبی ﷺ دخول اُوکړی هغه اُمت دپاره جائز نهٔ ده۔
٨- تهجد فرض کیدل بنا په یو قول۔
٩- په مانځه کښې ئے شاته نظر لګیدل۔
١٠- په روژه کښې به الله خوراك څکاك ورکولو ظاهری یا معنوی۔

١٣- وَعَنْ سَالِمِ بْنِ اَبِی الْجَعْدِ، قَالَ: قَالَ رَجُلٌ مِنْ خُزَاعَةَ: لَيْتَنِي صَلَّيْتُ فَاسْتَرَحْتُ، فَكَأَنَّهُمْ عَابُوْا ذٰلِكَ عَلَيْهِ، فَقَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ: «أَقِمِ الصَّلَاةَ يَا بِلَالُ! أَرِحْنَا بِهَا». رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او سالم بن ابی الجعد رحمه الله فرمائی: د خزاعه (قبیلے) یو سړی اُووئیل : اَرمان دے چه ما مونځ کړے وے او په راحت کښې شوے وے، نو ګویا کښې خلقو په هغهٔ باندے (پدے خبره کولو کښې) عیب اُووئیلو (چه په مانځه څنګه راحت حاصلوے؟) نو هغهٔ اُوفرمایل : ما د رسول الله ﷺ نه اَوریدلی دی چه فرمایل ئے : « اے بلال ! د مانځه دپاره اقامت اُوکړه، او مونږ ته د مانځه په وجه راحت راکړهٔ ! »۔ (ابوداوٗد)۔

تعارف د سالم بن ابی الجعد :

سالم بن ابی الجعد الغطفانی الاشجعی، ثقه دے د اوساط التابعین نه دے په سنه (۹۷ هـ) یا (۱۰۰) کښې وفات دے۔

تشریح : فَكَأَنَّهُمْ عَابُوْا : یعنی دوی اُووئیل چه مونځ درته دومره ګران شویدے چه د مانځه نه ځان په راحت کښې کوے ؟ څکه دوی دا فهم کړه چه دا راحت د مانځه د کولو نه غواړی چه زر مونځ خلاص کړو چه اُوزګار شو، اُودهٔ شو۔ څکه چه زهٔ د مانځه انتظار نشم کولے۔ نو هغه ورته جواب کښې اُووئیل چه زما دا مقصد نهٔ دے بلکه دا مقصد دے چه د مانځه په کولو راته راحت ملاوٗ شی لکه څنګه چه نبی ﷺ بلال ته اُووئیل اے بلاله ! اَذان اُوکړه چه مونځ اُوکړو او په راحت کښې شو څکه چه په مونځ کښې د زړهٔ یخوالے دے د الله سره مناجات دے۔ ٢- یا دا چه استراحت پدے وجه دے چه د الله د ذمه واری نه فارغه شی څکه زړهٔ مو پدے باندے مشغول دے۔

لیکن اوله معنیٰ د نبی ﷺ د مقام او شان سره ډیره مناسب ده، څکه هغهٔ فرمائیلی دی

: (وجعلت قرة عینی لی فی الصلاة) (مسند احمد ۳/۱۲۸) (والنسائی) (زما د سترگو یخوالے په مانځه کښ گرځولے دے شویدے پدے وجه نبی ﷺ به اُږد قیام کولو تردے چه قدمونه به ئے اُوچاودل لیکن ددنے سره به ئے ددے سترې والے نهٔ محسوسولو بلکه لذت او راحت به ورتلو۔ او دغه شان پاك نفسونه د مانځه په وجه په راحت کښ کیږی لکه دا واضحه خبره ده۔

بیا هرکله چه دهٔ ورته حدیث اُووئیلو او خپل مطلب ئے ورته واضح کړو نو هغوی غلی شو۔

درجة الحدیث: اسناده صحیح : اخرجه ابوداود (٤٩٨٥) وسکت علیه هو والمنذری وهو فی صحیح الجامع رقم (٧٨٩٢).



باب الوتر

د وتر مانځه بیان

وتر یو خاص مونځ دے چه د ماسخوتن مانځه نه روستو تر صبا پورے شریعت لازم کړیدی او بهترین مونځ دے۔ په وترو کښې تقریباً یویشت (۲۱) مسئلے دی چه امام ترمذیؒ ورته په مختلفو بابونو کښې إشاره کړیده۔ او په دے مشکوٰة کښې هم هغه اکثر بیان شویدی۔ لکه ۱- بیان د وقت، ۲- عدد د رکعاتو، ۳- په دے کښې قرائت، ٤- قضاء د هغے، ۵- په هغے کښې قنوت وئیل، ٦- حکم د وترو، ۷- په ناسته باندے ددے نه روستو دوه رکعاته کول، ۸- ددے نه روستو تسبیحات وئیل، ۹- محل القنوت، ۱۰- په سفر کښې کول ۱۱- په سورلئ کول، ۱۲- آخری وخت ئے څه دے، ۱۳- طریقه او کیفیت ئے څه دے۔ ۱٤- په ناسته کیږی او که نۀ، ۱۵- اول وقت ئے څۀ دے۔ ۱٦- دا افضل دی او که باقی سنن رواتب وغیره وغیره۔

وتر په کسره د واو سره طاق عدد ته وائی او په فتحه د واو سره بدلے اخستلو ته وائی۔ او په یو لغت کښې دواړه مترادفان استعمالیږی۔

د وترو په حکم کښې اختلاف:

۱- د اکثر اُمت رایه دا ده چه وتر نۀ فرض دی او نۀ واجب دی بلکه سنت مؤکد دی او دا قول د صاحبینوؒ هم دے۔۲- امام ابوحنیفهؒ وائی: وتر واجب دی۔ استدلال کوی په هغه اَحادیثو چه په هغے کښې اَمر راغلے دے د وترو په کولو۔ او یا په کښې وعید راغلے وی په نۀ کولو۔ (ومن لم یوتر فلیس منا) او بیا د هغۀ دا اصطلاح حادث ده چه واجب د سنتو نه بَره او د فرضو نه ختکته گنړی په دے باندے به د اَحادیثو تفسیر نشی کولے۔ او دا اصطلاح د یوے ضعیفے قاعدے نه پیدا شویده چه وائی: احادیث ظنی دی په دے باندے فرضیت نۀ ثابتیږی۔ شاه ولی الله په حجة الله (۱۳/۲) کښې فرمائی: حقه دا ده چه وتر سنت دی او د نورو سنتو په نسبت ډیر مؤکد دی انتهیٰ۔

دلائل الجمهور: ۱- ابوداود (۸۵/۱) رقم (٤۲۵) باب المحافظة علی وقت الصلاة کښې عبد الله بن الصنابحی فرمائی: (زعم ابومحمد ان الوتر واجب، فقال عبادة بن الصامت

: كذب ابومحمد، اشهد انی سمعت رسول الله ﷺ : خمس صلوات افترضهن الله تعالیٰ الحديث) (ابومحمد يو سړے دے وائی چه وتر واجب دی نو عباده بن صامت ﷺ اُوفرمايل : دغه ابومحمد دروغ وائی (يعنی په خطاء دے) ځکه چه ما د رسول الله ﷺ نه اَوريدلی دی چه صرف پنځه مونځونه الله فرض کړيدی)۔

٢- **دليل** : ترمذی (١٠٣/١) باب ماجاء ان الوتر ليس بحتم) کښ د علی ﷺ قول راوړی : (الوتر ليس بحتم كهيئة الصلوات المكتوبة ولكن سنة سنها رسول الله ﷺ حدثنا بذلك بندار نا عبد الرحمن بن مهدی عن سفيان وهذا اصح من حديث ابی بكر بن عياش) (وتر د فرض مانځه په شان لازم نهٔ دی ليکن دا سنت دی چه رسول الله ﷺ عملی کړيدی)

او دوی جواب کوی چه وعيد کله په ترک د سنتو هم راځی او اَمر د فرضيت دپاره نهٔ دے بلکه قرينه صارفه د وجوب موجوده ده چه (خمس صلوات افترضهن الله) دے۔

قول راجح او فائده د اختلاف :

ټول اُمت ورته سنت وائی او امام ابوحنيفةؒ ورته واجب وائی او بيا عام اُمت واجب او فرض يو ګڼړی او امام ابوحنيفةؒ ئے د فرضو نه لاندے ګڼړی نو پدے کښ يو خو د اُمت مخالفت دے، دويم دا چه دا اصطلاح حادث ده چه احاديث پدے باندے تفسير کول صحيح نهٔ دی، صحابه کرامؓ او تابعينؒ وغيره نه دا اصطلاح نهٔ ده نقل۔

اُوس فائده ددے اختلاف څه شوه نو هغه په دوه مسائلو کښ ښکاره کيږی :

يو دا چه امام ابوحنيفةؒ وتر په سورلئ باندے جائز نهٔ ګڼړی ځکه چه دا فرضو ته نزدی دی او فرض خو په سورلئ ندی جائز لهذا وتر هم ندی جائز۔

او جمهور وائی جائز دی بلکه سنت طريقه ده۔

دليل : سعيد بن يسارؒ فرمائی : زهٔ د عبد الله بن عمرؓ سره په سفر روان وم نو زهٔ د صبا د راختلو نه ويريدم نو راکوز شوم او وتر مے (په زمکه) اوکړل، بيا ابن عمرؓ پسے اُورسيدلم۔تو ابن عمرؓ اُوفرمايل : چرته وے ؟ ما ورته اُووئيل : زهٔ د صبا د راختلو نه ويريدم نو کوز شوم وتر مے اُوکړل نو عبد الله اُوفرمايل : (اليس لك فی رسول الله ﷺ اُسوة ؟) (آيا تا دپاره په رسول الله ﷺ کښ اقتداء نشته؟) ما اووئيل : ولے نهٔ ـ قسم په الله۔ ابن عمرؓ اُوفرمايل : (ان رسول الله ﷺ كان يوتر علی البعير) (صحيح مسلم ٢٤٤/١) (رسول الله ﷺ به په اُوښ باندے وتر کول) او روستو مشکاة (١١٨/١) کښ به حديث راشي ويوتر علی راحلته)

٢- دويم دا چه امام ابوحنيفةؒ وائی : د چا نه چه وتر هير شی او د سحر په مانځه کښ

ورته راياد شو نو مونځ ئې باطل شو او دهٔ باندې د مانځه نه وتل واجب دی چه وتر اُوکړی او دا مونځ بيا د سر نه اُوکړی۔

امام محمد بن نصر المروزي په قيام الليل (۱۵) کښې فرمائی : دا قول د امام ابوحنيفهٌ خلاف دے د هغه احاديثو نه چه ثابت دی د رسول الله ﷺ نه، او خلاف دے د اجماع د اهل العلم نه او دا قول راپيدا شويدے د قلتِ معرفت د احاديثو نه او د قلتِ مجالست د علماؤ نه۔

المسائل المترتبة على هذا الخلاف

پدے اختلاف باندے دا مسائل تفريع کيږی ۱ – يو دا چه په سورلئ باندے وتر جائز دی۔ عند الجمهور او نهٔ دی جائز عند ابی حنيفهٌ۔

۲ – وتر په ناسته هم جائز دی۔ ځکه نبی ﷺ په سورلئ باندے په ناسته کړيدی۔ امام ابوحنيفهٌ وائی ندی جائز۔

۳ – دا که چا پريخودل نو عذاب ئې د فرض د پريخودلو په شان نهٔ دے۔

٤ – پدے باندے د وجوب قول کول په صحيح احاديثو کښې قسماقسم بعيد تاويلات بارده راپيدا کوی۔ چه دا مناسب کار نهٔ دے۔

۵ – وتر ته واجب وئيل يوه خاصه نوے اصطلاح راپيدا کول دی چه نهٔ ئې صحابه پيژنی او نهٔ تابعين۔ او د اُمت خلاف کول دی بغير د څهٔ دليل نه۔

٦ – وتر ته واجب وئيل مَبنی دی په يوه ضعيفه غلطه قاعده چه احاديث ظنی دی سِوی د متواتر نه۔

ددے ټولو مسائلو تفصيل په فتاوي الدين الخالص (۵/۵۸۵) کښې اُوګورئ۔

الفصل الاول

۱ – عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«صَلَاةُ اللَّيْلِ مَثْنٰى، مَثْنٰى، فَإِذَا خَشِيَ اَحَدُكُمُ الصُّبْحَ، صَلّٰى رَكْعَةً وَاحِدَةً، تُوْتِرُ لَهٗ مَا قَدْ صَلّٰى». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : عبد الله بن عمر ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمايلی دی : «د شپے مونځ دوه دوه رکعاته دے، او کله چه په تاسو کښې څوك د صبا د راختلو نه ويريږی نو يو رکعت اُوکړی، چه دا (يو رکعت) به وتر اُوګرځوی هغهٔ مونځ چه دهٔ مخکښې (ددے نه) کړے دے»۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : صَلَاةُ اللَّيْلِ مَثْنٰى : دا حديث په اصل کښې جواب د سوال د يو صحابی دے چه

د نبی ﷺ نه ئې د خطبې په دوران کښې تپوس اوکړو (کیف صلاة اللیل ؟) (د شپې مونځ به څنګه کوو؟) نو نبی ﷺ اُوفرمایل : «دوه دوه رکعاته»۔

حافظ ابن حجرؒ فرمائی : د جواب نه ظاهره شوه چه دا سوال یا د عدد نه وو او یا د فصل او وصل نه وو۔ یعنی څلور رکعاته په یو سلام اُوکړو او که دوه دوه بیل بیل اُوکړو۔ او دا دویم (مَثنیٰ) تاکید د اول (مَثنیٰ) دے څکه چه اول مَثنیٰ کښې تکرار پخپله شته یعنی دوه دوه۔ او د دویم معنیٰ هم دوه دوه ده۔ او دا په ظاهر کښې خبر دے لیکن معنیٰ ئې امر او استحباب دے یعنی مونځ کونکی له دا مناسب دی چه دوه دوه رکعاته اُوکړی او صحیح مسلم کښې ددے معنیٰ د ابن عمرؓ نه داسے نقل ده، عقبه بن حُرَیث وائی : ما عبد الله بن عمرؓ نه تپوس اُوکړو چه د مَثنی مَثنیٰ معنیٰ څه ده؟ هغه اُوفرمایل : (تُسَلِّمُ من کل رکعتین)۔ (د هر دوه رکعاتو نه به سلام اَړوې) (المنتقی بشرح نیل الاوطار (۳۸/۳)

نو پدے کښې رد دے په بعض احنافو چه وائی د مَثنیٰ معنیٰ دا ده چه د هر دوه رکعاتو ترمینځ به تشهد وائے۔ دا معنیٰ څکه خطاء ده چه راوی د حدیث (ابن عمرؓ) د حدیث په مراد او تفسیر باندے د بل چا نه ښۀ پو هه وی، او بله دغه معنیٰ متبادر الی الفهم هم ده۔ او په څلور رکعاتی مونځ کښې داسے نۀ وئیلے کیږی چه دا دوه دوه رکعاته دی۔ او ددے تفسیر په حدیث مطلب بن ربیعه کښې په مسند احمد (۱۶۷/۴) کښې مرفوعاً راغلے دے : (الصلاة مثنی مثنیٰ وتشهد وتسلم فی کل رکعتین الخ) او مخکښې باب صلاة اللیل کښې د عائشےؓ حدیث تیر شو چه فرمائی : (یسلم من کل رکعتین) (فتح الباری)۔ (یعنی نبی ﷺ به د هر دوه رکعاتو نه سلام ګرزولو)

د شپے او د ورځے نوافل په کومه طریقه افضل دی؟

بیا حدیث کښې دا مسئله ده چه د شپے په مانځه کښې بهتره دا ده چه دوه دوه رکعاته جدا جدا اوکړے شی او پدے کښې اختلاف مخکښې په باب صفة الصلاة (۱۴۸/۴) کښې ذکر شویدے۔ مختصر دا چه په پدے کښې اختلاف دے چه د شپے او د ورځے په نفلو کښې څلور په یو سلام بهتر دی او که دوه دوه رکعاته بهتر دی؟ ۱ – امام احمد او شافعیؒ وائی : په لیل او نهار کښې دوه دوه رکعاته په جُدا جُدا سلام افضل دی۔

۲ – امام ابوحنیفۀؒ وائی : په شپه او ورځ کښې څلور څلور افضل دی۔

۳ – بعض وائی : د شپے دوه دوه اَفضل دی او د ورځے څلور څلور په یو سلام او دا قول د سفیان الثوریؒ، ابن المبارکؒ، اسحاقؒ، ابویوسفؒ او محمدؒ دے۔

٤– امام مالك وائی : د دوو نه زیادت جائز نهٔ دے۔ (المنتقی شرح الموطأ (۱/۲۷۵) فتح الباری لابن رجب (۸۸/۷) شرح ابن بطال (۱۷۰/۵) العرف الشذی (۴۸۷/۱) شرح عمدة الاحکام لابن دقیق العید (۸۳/۲) ومرعاة المفاتیح (۲۵٦/٤)

او دا اختـلاف په هغهٔ صورت کښې دے چه د څلور رکعاتو اراده لری یا زیات د څلورو نه، ورنه کهٔ څوك دوه رکعاته کوی نهٔ زیات نو بیا پکښې دا اختلاف نشته۔

دلائل : امام مالك په ظاهر ددے حدیث د ابـن عمرؓ باندے عمل کوی چه پدے کښې مبتدا محصور ده په خبر کښې نو ګویا کښې معنی دا ده (ما صلاة اللیل الا مثنی مثنیٰ) (سبل السلام) و شرح عمدة الاحکام لابن دقیق العید (۸۳/۲)

لیکن جُمهور ددے نه جواب کوی چه دا حدیث صرف د بیان د افضل دپاره دے ځکه چه د ﷺ فعل ددے مخالف دے، ځکه د هغهٔ نه زیات د دوو نه هم نقل دئے لکه په حدیث د عـائشهٔؓ کښې مخکښې تیر شویدی۔ یصلی اربعاً فلا تسأل عن حسنهن) او پنځه، اُووه او نهه رکعاته ئے په یو سلام کړیدی۔

۲– یا دا چه پدے کښې د نبی ﷺ مقصد اُمت ته د آسان عمل رهنمائی کول دی ځکه په هر دوه رکعاتو کښې سلام اَړول آسان وی د څلورو رکعاتو وغیره نه ځکه پدے کښې راحت زیات وی او که کوم مُهم راپیښ شی نو هغه پوره کولے شی۔

(نیل الاوطار ۳۹/۳، و شرح مسلم (۲۵۷/۱)

او د امام ابو حنیفهؒ دپاره هیڅ صریح دلیـل نشته چه د ورځے او شپے دڅلورو رکعاتو افـضـل والے ترے ثابت شی۔ سِویٰ د یو حدیث نه چه هغه په باره د صلاة الضحیٰ کښې په مسند ابی یعلی الموصلی کښې راغلے دے چه عائشهٔؓ فرمائی : (یصلی الضحی اربع رکعات لا یفصل بینهن بسلام) قال حسین سلیم اسد اسناده صحیح) (نبی ﷺ به د چاشت مونځ څلور رکعاته په یو سلام کول) (عون المعبود ۲۷۳/۳) نصب الرایة (۹۲/۲)

او د شپے په باره کښې د عائشےؓ حدیث دے (یصلی اربعاً فلا تسأل عن حسنهن) لیکن دا دلالت په افضلیت نهٔ کوی بلکه صرف په جواز باندے دلالت کوی ځکه بل طرفته صلاة اللیل والنهار مثنی مثنیٰ والا روایت قانون کلی دے لکه چه تفصیل به ئے روستو راشی۔

او د سفیان ثوری ...... او صاحبین وغیره دپاره دلیل نیولے شویدے پدے حدیث د ابن عمرؓ باندے چه صلاة اللیل مثنیٰ الخ ځکه چه هر کله د شپے مونځ دوه دوه رکعاته شو نو ددے مفهوم مخالف دا دے چه د ورځے مونځ به څلور رکعاته وی۔

لیکن جواب دا دے چه دا مفهوم لقب دے او دا په راجح قول سره حجت نهٔ دے۔ او که

اُومنو چه دا هم حُجت دے نو بیا دا په څلورو رکعاتو کښې منحصر نهٔ دے، نو د هغوی مذهب ترے نهٔ ثابتیږی۔ ۳- دارنګه دا حدیث په جواب د سوال کښې وئیلے شویدے چه د شپے د مانځه باره کښې تپوس شوے وو نو د (لیل) قید د سوال مطابق راغلے دے۔

٤- څلورم دا چه بل روایت د نسائی وغیره کښې ورسره (والنهار) لفظ هم راغلے دے او هغه هم صحیح دے لکه روستو راځی۔

نو پدے تولو کښې راجح قول د امام احمدؒ او شافعیؒ دے چه د شپے او د ورځے نوافل دوه دوه رکعاته په جدا جدا سلام أفضل دی۔ او دا قول محمد بن نصر المروزی په قیام اللیل ص (۱۲۷) کښې او امام المحدثین بخاری غوره کړیدے۔او نووی فی شرح مسلم (باب صلاة اللیل مثنی مثنیٰ) کښې۔

مګر ددے نه یو څو صورتونه مستثنیٰ دی ۱- د ماسپښین سنت، ۲- د جُمعے نه روستو څلور رکعاته۔ ۳- تراویح احیاناً لکه حدیث د عائشهٔ کښې دی: (کان یصلی اربعاً فلا تسئل عن حسنهن وطولهن) (بخاری ۱/۱٥٤) ۔

٤-صلاة التسبیح لکه روستو به راشی ٥-بعض طرق د وترو ٦- څلور رکعاته نفل قبل العصر په یو سلام سره کما تقدم وکذا فی الصحیحة (۱/٤۲۱رقم ۲۳۷) وتحفة الاحوذی (۱/۳۲۹)

۷- ابن مسعودؓ او ابن عمرؓ به د جُمعے د مانځه نه مخکښې په یو سلام سره څلور رکعاته نفل کول (رواه الطحاوی) نو دا سنت نهٔ دی بلکه نفل دی۔لکه دا مسئله مخکښې ذکر شویده۔

د دوه دوه رکعاتو د افضلیت دلائل:

دلیل دا دے چه ددے حدیث الباب په بعض طرقو کښې داسے الفاظ دی: (صلاة اللیل والنهار مثنیٰ مثنیٰ) اصحاب السنن الاربعة وصححه البخاری، وابن حبان وابن خزیمة) ۔ نو دا قانون کلی دے او قولی حدیث دے چه د ورځے او د شپے مونځونه په نوافل مطلقهٔ کښې دوه دوه رکعاته افضل دی۔ امام بخاریؒ په دے حدیث باندے باب تړلے دے: (باب ما جاء فی التطوع مثنی مثنیٰ ۱/۱٥٥)

بیا ئے وئیلی دی چه دا عمل د عمار بن یاسرؓ، ابوذرؓ، انس بن مالکؓ، جابر بن زیدؒ، عکرمهٔ او زهریؒ نه نقل شویدے او یحیی بن سعید الانصاریؒ وائی: ما د خپلے علاقے فقهاء موندلی دی چه هغوی به د ورځے په هر دوه رکعاتو سلام ګرځولو، بیا ئے احادیث د استخارے، تحیة المسجد وغیره ذکر کړیدی چه په هغے کښې د دوه رکعاتو تذکره ده۔

پدے حدیث باندے اعتراض: بعض وائی دا حدیث امام نسائی معلول گرځولے دے او دائے وئیلی دي چه دا زما په نزد خطاء دے، راوی پکښې خطاء شویدے۔ وجه د خطائی دا ده چه د ابن عمرؓ د پنځلس شاگردانو نه زیات دا حدیث په (والنهار) لفظ نۀ ذکر کوی (لکه څنګه چه په روایت د صحیحینو کښې هم صرف صلاة اللیل مثنیٰ مثنی) ذکر دے) او صرف یو راوی چه علی بن عبد الله الازدی البارقی دے۔ هغه پکښې د (والنهار) لفظ زیاتوی۔او دا د یحیی بن معین په نزد ضعیف دے۔ او امام دارقطنیؒ په العلل کښې وئیلی دی: دا وَهُم د راوی دے۔ او حافظ ابن حجرؒ پکښې لا دا وئیلی دی چه ابن وهبؒ د ابن عمرؓ نه په اسناد قوی سره موقوف روایت نقل کړیدے چه هغه وئیلی دی: (صلاة اللیل والنهار مثنی مثنی) اخرجه ابن عبد البر) نو شاید چه اَزدی باندے د موقوف او مرفوع اِختلاط راغلے وی، لهذا دا زیادت به صحیح نۀ وی په نزد د هغه چا چه په صحیح حدیث کښې دا شرط لګوی چه شاذ به نۀ وی۔ انتهیٰ۔ (فتح الباری ۳/ ٤٢٠ ما جاء فی الوتر) فتح الباری لابن رجب كتاب الصلاة ۷جزء/۸٦) (تحفة الاحوذی ۳/ ۱۷۰)۔

لیکن ددے **جواب** دا دے چه دا خبره ضعیفه ده ځکه چه دا حدیث ابن خزیمهؒ، ابن حبانؒ، حاکمؒ په مستدرك کښې صحیح کړیدے او دائے وئیلی دی چه ددے رُواۃ ثقات دی۔ امام خطابیؒ نه صاحب د عون المعبود او تحفة الاحوذی او نیل الاوطار (۳/ ۳۸) نقل کړیدی چه هغه وئیلی دی: دا زیادت د ثقه راوی دے، او پدے کښې مخالفت نشته او زیادت د ثقه مقبول وی۔لهذا دا شاذ نۀ دے۔

امام بیهقیؒ وائی: دا حدیث صحیح دے او امام بخاریؒ نه ددے په باره کښې تپوس اُوشو نو هغۀ هم دا حدیث صحیح کړو۔ او د محمد بن سیرینؒ د ابن عمرؓ نه مرفوعاً هم داسے روایت نقل کړیدے پداسے سند سره چه کل راویان ئے ثقات دی۔ انتهیٰ کلام البیهقی۔او ددے دپاره طرق او شواهد دی چه بعض حافظ په تلخیص الحبیر کښې ذکر کړیدی۔

او څوك چه دا وجه د ضعف بیانوی چه په (علی الازدی) باندے اختلاط د مرفوع او موقوف راغلے دے نو دا خبره ضعیفه ده، وجه دا ده چه ابن عمرؓ نه دواړه حدیثونه صحیح ثابت دی۔ لهذا کله ئے مرفوع نقل کړیدے او کله ئے موقوف نقل کړیدے۔

او څوك چه دا وائی چه وجه د ضعف دا ده چه یحی بن سعید الانصاریؒ د ابن عمرؓ نه نقل کړیدی چه هغه به د ورځے څلور رکعاته نفل کول او سلام به ئے پکښې نۀ گرځولو نو که حدیث د ازدی صحیح وے نو ابن عمرؓ به ددے مخالفت نۀ کولے – نو دا وجه ضعیفه ده، وجه دا ده چه دوه دوه رکعاته کول خو څه واجب نۀ دی بلکه مستحب عمل دے او کله کله

څلور رکعاته په یو سلام هم جواز لري. وبالله التوفیق.
فَإِذَا خَشِيَ أَحَدُكُمُ الصُّبْحَ ددې نه دا معلومیږي چه د صبا د راختلو نه پس نفلونه او وتر نهٔ کیږي.
صَلّٰى رَكْعَةً وَاحِدَةً :

وتر څو رکعاته دي؟

اختلاف دې چه وتر څو رکعاته دي؟ ۱– امام ابوحنیفهؒ وائي : درې رکعاته په یو سلام دي چه مینځ کښې به قعده کوي، نهٔ زیات شته او نهٔ کم. نو ددهٔ په نیز وتر د ماښام په شان دي چه دوه رکعاته پس به قعده کوي.

دوی استدلال کوي په هغه احادیثو چه په هغې کښې وتر په درې رکعاتو راغلی وي لیکن هغه ټول اجمالي دي مدعیٰ ترې پوره نهٔ ثابتیږي لکه حدیث د نسائي (۱/۲۵۰)، دارقطني، حاکم (۱/۳۰٤) بیهقي (۳/۳۱) کښې باسناد حسن او صحیح د عائشهؓ نه نقل دي : (ان رسول الله ﷺ کان لا یسلم في رکعتي الوتر) .(نبي ﷺ به د وترو په دوه رکعاتو کښې سلام نهٔ اړولو) دارنګه حدیث کښې دي چه نبي ﷺ به په اول رکعت کښې «سبح اسم ربك الاعلیٰ» او په دویم کښې «قل یا ایها الکافرون» او دریم کښې «قل هو الله احد» لوستلو. نو معلومه شوه چه درې رکعاته دي.

الجواب : ددې روایاتو نه استدلال ددې مُدعیٰ دپاره صحیح نهٔ دې. اول خو د عائشهؓ حدیث مختصر دې او مُجمل دې پدې کښې دا تصریح نشته چه دوه رکعاته پس ئې قعده کړیده بلکه پدې حدیث کښې د وترو یو کیفیت ذکر دې چه هغه درې رکعاته په یو سلام کول دي. او مینځ کښې قعده نهٔ کول دي. لکه چه دا ظاهر دي.

او دلیل پدې باندې دا دې چه په همدغه حدیث کښې په روایت د حاکم (۱/۳۰٤) کښې نفي د جلوس دې په دوه رکعاتو کښې لکه څنګه چه هغه حدیث حافظ په فتح الباري او تلخیص الحبیر کښې او زرقانيؒ په شرح د المواهب اللدنیه (۸/۳۷۲) کښې او ذهبيؒ په تلخیص المستدرك کښې نقل کړیدې او امام نوويؒ په تعلیق التعلیق کښې هغې ته صواب وئیلې دې. او بیهقي هم (۳/۳۱) نقل کړیدې. د هغې الفاظ دا دي : (کان النبي ﷺ یوتر بثلاث لا یقعد الا في آخرهن) (نبي ﷺ به درې رکعاته وتر کول چه نهٔ به کیناستو مګر په آخر کښې) او په روایت د نسائي کښې دي : (لایسلم في رکعتي الوتر) او پدې باندې نسائي باب لګولې دې (باب کیف الوتر بثلاث) لهذا په مرفوع صحیح صریح حدیث کښې

درے رکعاته په دوه قعدو چه مینځ کښں سلام نۀ اړوی نۀ دی ثابت۔

آیا درے رکعاته وتر په دوه قعدو ثابت دی ؟

نو ددے وجه نه د علماؤ په دے **کیفیت** کښں اختلاف دے : ۱- عام اهل الحدیث علماء فرمائی : دا قسم وتر کول مکروه دی لکه دا قول حافظ ابن قیمؒ او شیخ البانی رحمه الله کړیدے۔ وجه د کراهت دا ده چه ددے نه منع راغلے ده په حدیث د ابن حبان (٤/٦٨)، دارقطنی(١/١٧٢) کښں چه نصب الرایه (٢/١١٦) هم نقل کړیدے۔ ابو هریره فرمائی : نبی ﷺ فرمائی : (لا توتروا بثلاث، واوتروا بخمس او بسبع، ولا تشبهوا بصلاة المغرب) دارقطنی وائی : رجال ئے ثقات دی۔

او حافظ ابن حجرؒ، امام البانیؒ او امام ابن حبانؒ وغیره ورته صحیح وئیلے دے۔ او د محمد بن نصر المروزیؒ، طحاویؒ، حاکمؒ او بیهقیؒ (٣/٣١) په روایت کښں داسے الفاظ دی : (لا توتروا بثلاث تشبهوا بالمغرب) ۔ (یعنی درے رکعاته داسے مۀ کوئ چه د ماښام مانځه سره ئے مشابه کړئ) نو پدے روایت کښں ددرے رکعاتو نه منع راغله پداسے طریقهٔ چه د ماښام د مانځه سره ئے مشابهت راشی۔ (دا خبره یاد ساتل پکار دی چه درے رکعاته په متواترو روایاتو کښں ثابت دی د هغینه منع نشته بلکه دلته درے رکعاته په دغه خاص کیفیت سره چه د ماښام مشابه شی منع دی لکه دا خبره حافظ په فتح الباری کښں هم ذکر کړیده۔ او ابن نصرؒ په قیام اللیل کښں د سلیمان بن یسار نه هم نقل کړیده۔ لهذا د احادیثو خپل مینځ کښں هیڅ تعارض نشته۔)

ددے نه بعض احناف جواب کوی چه زمونږ وتر د ماښام سره مشابه نۀ دی ځکه مونږ په کښں قنوت وایو او درے واړه رکعاتو نه ډك کوو او ماښام کښں خو یو رکعت تش دے۔ لهذا مشابهت ختم شو۔ لیکن نور علماء ورته وائی چه د ماښام سره ئے مشابهت په اَرکانو کښں شته چه هغه درے رکعاته په دوه قعدو چه مینځ کښں سلام نۀ وی لهذا من وجه منع ورته متوجه ده ددے وجه نه ئے دیته حرام نۀ دی وئیلی بلکه مکروه ورته وائی۔

او عام علماؤ ددے مشابهت نه د خلاصوالی دپاره دوه وجے ذکر کړیدی یو دا چه درے رکعاته په دوه قعدو اُوکړی او مینځ کښں سلام واړوی۔ دویم دا چه مینځ کښں قعده اُونکړی او نیغ دریم رکعت ته پاڅیږی۔ او همدغه دواړه طریقے په احادیثو کښں ثابتے دی۔

او شیخ الاسلام حافظ ابن تیمیهؒ فرمائی : دا طریقه د احنافو مفضوله ده او غوره نه ده لیکن په ده باندے دا اعتراض کیدے شی چه د منع حدیث سره به څه کوے ؟ نو ددے

جواب به د هغه د طرفنه دا اُوکړے شي چه د (لا توتروا بثلاث......) پدے حديث کښ منع د درے رکعاتو نه نشته بلکه ترغيب دے چه تاسو د شپے مونځ زيات کوئ او اکتفاء په درے رکعاتو مه کوئ لکه د ماښام په شان۔ يعني نفل (وتر) د فرضو مه مشابه کوئ) بلکه مسلمان له د شپے په مانځه کښ زيادت پکار دے لکه دے سره ئے دا حکم هم ملګرے کړيدے چه (اوتروا بخمس او سبع......) اګرکه بيا هم په طريقه د ظهور سره منع د تشبيه بصلاة المغرب نه څه نا څه کراهت معلوميږي۔ حاصل دا چه علی کل حال د احنافو طريقه ناغوره او مفضوله يا مکروه ده۔ او بل طرفته صحيح طريقے د وترو شته چه بخاری او مسلم کښ راغلی دی نو په هغے باندے عمل پکار دے او که په حنفي طريقه د وترو چا عمل اُوکړو نو ان شاء الله چه جائز قدرے به وی اګرکه غوره به نهٔ وی۔

★– د درے رکعاتو ثبوت هم راغلے دے او پدغه روايت کښ ئے منع هم راغلے ده، نو بعض علماؤ دا جمع کړيده چه احاديث د نهی په هغهٔ وخت کښ دی درے رکعاتو مينځ کښ د ماښام په شان قعده کوی څکه بيا د ماښام سره مشابه کيږي او کله چه مينځ کښ نهٔ کيني نو د ماښام سره مشابهت نهٔ راځي۔

او امير يمانيؒ صاحب د سبل السلام وائي چه دا ډيره ښهٔ جَمع ده۔ حافظ فتح الباري کښ وائي: وجه د ښهٔ والی د جمع دا ده چه د منع حديث به محمول شي په هغهٔ صورت چه درے رکعاته په دوه تشهدونو سره اُوکړی څکه چه درے رکعاته په يو تشهد باندے د سلفو نه نقل دی بيا د عمر فاروق عمل ذکر کړيدے چه به درے واړه په يو تشهد کول۔ آه۔ او دا په حديث د عائشه کښ هم راغلے دے لکه بَره تير شو۔

نو ددے په ترديد کښ صاحب د آثار السنن (نيموی) د خپل مذهب د تعصب دپاره داسے جواب کړيدے : دا جمع بعيده ده په غايت بعد سره بلکه دا صريح غلطه ده او وائي چه د (لا توتروا بثلاث ....) مطلب دا دے چه د درے کعاتو نه مخکښ سنت مهٔ پريدئ دے دپاره چه ددے او د ماښام ترمينځ فرق راشي۔

نو علامه محمد عبد الرحمن المبارکفوریؒ د هغهٔ په ترديد کښ وئيلی دی : دا د نيموی فرطِ تعصب دے څکه چه په اهل او انصاف باندے ددے جمع حُسن پټ نهٔ دے او نيموی چه کوم مطلب ذکر کړو نو دا صريح البطلان دے څکه چه ددے نه خو دا لازميږي چه د درے رکعاتو وترونه مخکښ نفل کول ډے واجب شي واللازم باطل فالملزوم مثله۔ او ددے د بطلان دپاره نور وجوه هم دی چه په متأمل باندے خفي نهٔ دی۔ (تحفة الاحوذی ٤٥٣/٢ طبع دار الکتب بيروت)

بیا په (احسن الفتاوی) کښې رشید احمد لدهیانوی د احنافو د مذهب د تائید دپاره درې روایاتونه ذکر کړیدي او ټول ضعیف جداً او موضوعي دي صرف یو روایت صحیح دې لیکن صریح نۀ دې لهٰذا د هغې نه هم مُدعیٰ نۀ ثابتیږي:

۱- **اول**: عائشهؓ نه مرفوعاً نقل دي: (الوتر ثلاث کثلاث المغرب) (طبراني في الاوسط) (دا ضعیف حدیث دې په سند کښې ئې (ابوبحر البکراوي) دې او هغه ډیر ضعیف دې لکه مجمع الزوائد (۲/۲۴۲) نصب الرایة (۲/۱۲۰) او العلل المتناهیة (۱/۴۵۴) کښې ئې اُوګوره.

۲- دویم دا چه دلته د تشبیه نه دا نۀ لازمیږي چه تشبیه دې په ټولو څیزونو کښې وي بلکه دلته تشبیه په درې والي کښې ده، ځکه چه مخکښې صحیح روایت کښې د ماښام سره د وترو د مشابهت نه منع راغله.

۳- **د ابن مسعود موقوف اثر** دې: (الوتر ثلاث کوتر النهار صلاة المغرب) (رواه الطحاوي)

الجواب: ۱- دا اثر دې چه عبادات پرې نۀ ثابتیږي او د مرفوع حدیث خلاف دې.

۲- دویم دا چه په دې کښې د دوه قعدو تصریح نشته.

۳- دارنګه دلته هم تشبیه په درې والي او تاك والي کښې ده لکه تدبر پکښې اُوکړه.

۳- دریم دا چه د صحابي او د عالم په قول باندې وجوب نۀ ثابتیږي بلکه د وجوب دپاره دلیل د کتاب او سنت مرفوعه پکار دې. او دا حدیث مرفوعاً دارقطني وغیره ضعیف ګرځولې دې.

۲- **دویم حدیث مرفوع د ابن مسعود** چه د هغه مور د نبي ﷺ خواته د وترو د لیدلو دپاره لاړه نو نبي ﷺ درې رکعاته اُوکړل او قعده ئې پکښې اُوکړه او بیا پاڅیدو او قنوت او دعاګانې ئې پکښې اُولوستې. مختصراً.

(الاستیعاب لابن عبد البر، اعلاء السنن ۲/۵۱)

الجواب: دا روایت ضعیف جداً دې په سند ئې کښې (اَبان بن ابي عیاش) متروك راوي دې او دا روایت بعضو د خپل مذهب د ترویج دپاره وضع کړیدې، هیڅ ثبوت نۀ لري. لهٰذا پدې مسئله کښې د حنفي مذهب دپاره هیڅ قسم تائید ندې موجود. او تفصیل د مسئلې په فتاوی الدین الخالص (۵/۵۳۸) کښې اُوګوره.

حافظ ابن حجرؒ فرمائي: محمد بن نصر المروزيؒ چه د ابن مسعودؓ او انسؓ او ابو العالیهؒ نه دا نقل کړیدي چه هغوی د ماښام په شان وتر کړیدي نو د هغې وجه دا ده چه هغوی ته د مذکوره نهي احادیث نۀ دي رسیدلي. انتهیٰ. (فتح الباري ۲/۴۸۱) طبع دار المعرفة

بیروت) باب الصلاة قبل العید وبعدها)۔

۲- وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اَلْوِتْرُ رَكْعَةٌ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او ابن عمر ﷛ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «وتر يو ركعت دے د شپے په آخره حصه كښې» ۔(مسلمؒ)

تشريح: طيبيؒ فرمائي: مطلب دا دے چه د وترو دپاره آخري وخت د شپے آخري حصه ده، يا مطلب دا چه مستحب وخت د وترو دپاره بعض اجزاء د آخرے حصے د شپے دے۔

دا حديث واضح دليل دے چه په وترو كښې يو مستقل ركعت كول هم سنت عمل دے چه نه ترے مخكښې څه مونځ وي او نه ترے روستو۔ علامه مناويؒ فرمائي: (فيه رد على ابي حنيفة في منعه الوتر بركعة واحدة) (پدے كښې رد دے په امام ابو حنيفهؒ چه هغهٔ يو ركعت وتر دُرست نهٔ گنړي) (فيض القدير ۲۹۲/۴)

الاختلاف فى الوتر بركعة واحدة:

۱- احناف وائي: يو ركعت وتر نشته۔ د دوی سره پدے خبره هيڅ دليل نشته سوئ د يو د روايت د بُتيراء نه چه تمهيد د ابن عبد البرّ او الأحكام د عبد الحق او تذكرة الموضوعات د فتني (۱۶/۱) او الفوائد المجموعة (۲۸/۱) او الجوهر النقي (۲۷/۳) او اعلام الموقعين وغيره كښې راغلے دے۔ (چه يو ركعت وتر ته بتيراء (ناتمام) مونځ وئيلے شويدے)۔

الجواب: ۱- دا حديث ثابت نهٔ دے بلكه ضعيف دے ځكه چه په سند كښې ئے عثمان بن محمد بن ربيعه دے او د هغه په احاديثو باندے وهم غالب وو۔

امام نوويؒ په «الخلاصه» كښې وائي: دا حديث مرسل ضعيف دے۔ ابن القطان په كتاب «الوهم والايهام» كښې وائي: دا حديث شاذ دے هيڅ اِعتماد پرے نشي كيدے ترڅو چه عدالت د رُواتو ئے معلوم نهٔ شي او د عثمان بن محمد بن ربيعه په حديث باندے وَهم غالب دے۔

۲- **دويم جواب**: ددے روايت بل معارض موجود دے په ابن ماجه او طحاوي كښې چه مطلب بن عبد الله المخزوميؒ فرمائي: يو سړي د ابن عمرؓ نه د وترو متعلق تپوس اُوكړو نو هغهٔ ورته په درے ركعاتو حُكم اُوكړو چه په دوه ركعاتو به سلام اړوي او يو ركعت به جُدا كوي۔ نو هغه سړي اُووئيل: زهٔ يريږم چه خلق ديته بتيراء وائي: ابن عمرؓ اُوفرمايل: (هذه سنة رسول الله ﷺ) (دا د رسول الله ﷺ سنت دي) (وفي سنده انقطاع) نو دا حديث

دلیل دے چه وتر یو رکعت کول بالکل جائز دی۔او دیته قریب روایت ابن خزیمه (۱۰۷٤) نقل کړیدے بسند صحیح انظر قیام رمضان ص (۲۲) للشیخ الالبانی ۔ لهذا یو رکعت وتر ته بُتَیرَاء وئیل خلاف السنة دی او عظیمه ګناه ده۔

۳- دریم دا چه روستو حدیث د ابوسعید الخدریؓ کښې راروان دی چه نبی ﷺ فرمائی : (......ومن احب ان یوتر بواحدة فلیفعل) (څوك چه غواړی یو رکعت وتر دے اُوکړی)

٤- څلورم دا چه راوی د خپل روایت په مفهوم باندے د بل چا نه زیات ښه پوهیږی نو د بتیراء معنی د ابن عمرؓ نه پخپله نقل ده بیهقی په المعرفة (۳۱۳/۲) او السنن الکبری (۲٦/۳) کښې نقل کړیده۔

ابو منصور مولی سعد بن ابی وقاص فرمائی : ما د ابن عمرؓ نه د شپے د وترو متعلق تپوس اُوکړو هغه اُوفرمایل : اے بچیه ! آیا ته د ورځے وتر پیژنے ؟ ما اُووئیل : آؤ، د ماښام مونځ دے، هغه اُوفرمایل : رشتیا دے اُووئیل۔ او وتر د شپے یو رکعت دے پدے باندے رسول الله ﷺ امر کړیدے۔ ما اُووئیل : اے ابو عبد الرحمن ! خلق خو دیته بتیراء وائی؟ هغه اُوفرمایل : اے بچیه دا بُتَیراء نۀ دے۔ (انما البتیراء ان یصلی الرجل الرکعة یتم رکوعها وسجودها وقیامها ثم یقوم فی الاخریٰ ولا یتم لها رکوعاً ولا سجوداً ولا قیاماً فتلك البتیراء) انتهی (بتیراء خو دیته وائی چه یو سړے یو رکعت اُوکړی چه رکوع او سجده او قیام ئے ښه پوره کوی او په دویم رکعت کښې لنډ والے اُوکړی چه رکوع او سجده او قیام ئے مکمل طریقے سره نۀ کوی نو دغه ته بتیراء (ناتمام او ناقص) مونځ وائی)۔

(المقاصد الحسنة للسخاوی (۲۳۳/۱) (تنقیح التحقیق فی احادیث التعلیق ۳٦٤/۱) کشف الخفاء (۲۸۰/۱)

ددے وجه نه امام ابن حزم په المحلی (۹۰/۲) کښې فرمائی : د نبی ﷺ نه نهی د بُتَیراء په هیڅ صحیح حدیث کښې نۀ ده ثابته۔ انتهیٰ۔ حافظ ابن القیمؒ : د سنت صریحه محکمه د رد کولو په مثال کښې دا راوړی دی چه دلته احنافو دا سنت (یو رکعت وتر کول) په دوه باطل حدیثونو رد کړیدے۔ یو پکښې نهی عن البتیراء والا حدیث دے چه ددے هیڅ صحیح او ضعیف سند نشته او نۀ په معتمدو کتابونو د حدیث کښې شته بلکه که صحیح شی نو بتیراء به هغه مونځ ته وائی چه رکوع او سجده ئے نیمګړی شوے وی۔

(اعلام الموقعین ۳۷۲/۲)

شیخ البانیؒ فرمائی : د رسول الله ﷺ نه د یو رکعت وترو منع بالکل نۀ ده ثابته، نۀ په صحیح سند او نه په حسن او یو رکعت ته بتیراء وئیل هیڅ اصل نه لری بلکه خلاف

السنة دى ځکه عبد الله بن عمر يو ركعت اوکړو نو يو سړی تريے د وترو په باره کښ تپوس اوکړو، نو هغه ته حکم د جدا والی اوکړو بيا هغه اووئيل : خلق خو ديته بتيراء وائی : ابن عمر ورته اُوفرمايل : آيا د الله او د رسول طريقه غواړے؟ نو دا د الله او د رسول طريقه ده۔ (رواه ابن خزيمة في صحيحه (١٠٧٤) بتحقيق الاعظمي والالباني بسند صحيح وانظر (قيام رمضان ص ٢٢)۔

لهذا ثابته شوه چه د يو ركعت وتر نه منع نشته۔ بلکه يو ركعت مونځ په دوه مقاماتو کښ ثابت دے۔ ١- صلاة الخوف کښ۔ ٢- او وترو کښ ۔او تحية المسجد به عمر فاروق يو ركعت کولو ليکن دا د هغه اجتهاد دے او مرفوع حديث پکښ نشته۔

اعجوبة : د احنافو د قولينو تعارض : يو طرفته وائی : يو ركعت وتر په اسلام کښ نشته او بيا شامی کښ ليکی چه يو سړے قسم اُوکړی چه زهٔ به مونځ نهٔ کوم او يو ركعت اُوکړی نو حانث دے ځکه چه يو ركعت ته په اسلام کښ مونځ وائی۔

٢- **القول الثاني** : جمهور علماء او مذاهب ثلاثه او محققين احناف وائی چه وتر يو ركعت شته او دا سنت عمل دے۔ عبد الحی اللکهنویؒ په التعليق الممجد (١١٧/١) کښ او سندیؒ په حاشية د بخاری (٢٢٨/١) علامه زبيدیؒ په شرح احياء العلوم (٣٥٧/٣) کښ ديته ترجيح ورکړيده۔ شوافعو کښ امام نوویؒ په شرح مسلم (٢٥٣/١) او المجموع شرح المهذب (١١/٤، ١٢) کښ او د مالکيه مذهب هم دا دے لکه شرح الزرقانیؒ على الموطا (٢٢٩/١) حاشية الموطا (١١٠) لاشفاق الرحمن اُوګوره۔ دارنګه د حنابلو مذهب هم دا دے لکه المقنع د ابن قدامه (١٨٣/١) دارنګه المغنی (٧٨٧/١) اُوګوره۔

دلائل : ١- يو دا حديث الباب دے چه دلته مستقل يو ركعت ته ئے وتر وئيلے دے۔

٢- دليل : ددے نه مخکښ حديث د ابن عمرؓ : (صلى ركعة توتر له ما قد صلى) ۔

٣- روستو حديث د ابو ايوبؓ کښ راځی : (......ومن احب ان يوتر بواحدة فليفعل) (نسائی ابو داود، ابن ماجه)

٤- ابو موسیٰ اشعریؓ د مکے او مدينے په مابين کښ وو نو د ماسخوتن مونځ ئے دوه ركعاته اُوکړو، بيا اُودريدو يو ركعت وتر ئے اُوکړو چه په هغے کښ ئے د سورة النساء نه سل آيتونه اُولوستل بيا ئے اُوفرمايل : ما هيڅ کوتاهی نهٔ ده کړه چه ما خپل قدمونه د رسول الله ﷺ د قدمونو په ځائے کيخودل او هغه څه مے اُولوستل چه نبی ﷺ به لوستل۔ (اخرجه النسائی ٢٥١/١) باسناد صحيح باب القراءة فی الوتر)

نو دا مرفوع او موقوف صريح نص دے چه يو ركعت مستقل شته چه مخکښ روستو

ورسره څه مونږ پیوست نهٔ وی۔

۵- دارقطنی کښې د عائشةؓ حدیث دے (ان النبی ﷺ اوتر برکعة) (نبی ﷺ یو رکعت وتر اُوکړو) (۳۳/۲) صححه العظیم آبادی، والمبارکفوری فی التحفة ۴۹۶/۱)

۶- یو رکعت وتر تقریباً د (۲۷) صحابه کرام رضی الله عنهم او د (۴۰) تابعین او محدثین او علماء کرامو نه نقل دے۔لکه الفتح الربانی شرح مسند احمد الشیبانی (۳۰۰/۴) نیل الاوطار (۳۹/۳) او فتاوی الدین الخالص (۵۵۲/۵) کښې د هغوی نومونه ذکر دی۔

۷- خلفاء اربعهؓ به کول ۔ (ابن ابی شیبة ۱۹۲/۲) قیام اللیل لابن نصر (۱۰۵) طحاوی (۲۰۶/۱) دارقطنی (۳۴/۲) باسناد حسن مصنف عبد الرزاق (۲۷/۳) التعلیق الممجد (۱۱۷) تحفة الاحوذی (۳۴۱/۱)

۸- ابودرداء، فضاله بن عبید او معاذ بن جبل رضی الله عنهم به یو رکعت وتر کول (قیام اللیل لابن نصر ص : ۱۰۶) وتحفة الاحوذی (۳۴۱/۱)

۹- حذیفهؓ، او ابن مسعودؓ دواړو یو رکعت وتر اُوکړل۔ (مصنف عبد الرزاق ۲۵/۳) ابن ابی شیبة (۲۹۳/۲) وابن نصر (۲۰۶) نو ابن مسعود ﷺ هم یو رکعت وتر کړیدے او احناف د هغه خلاف کوی۔ او هر چه د ابن مسعودؓ د یو رکعت وتر نه تعجب کول دی نو هغه روایت ضعیف دے لکه مجمع الزوائد (۲۴۲/۲) کښې اُوکوره د حصین راوی ابن مسعودؓ سره ملاقات نهٔ دے شوے۔

۱۰- روستو به راشی ابن ابی ملیکهٔ وائی : معاویه ﷺ د ماسخوتن مانځه نه روستو یو رکعت وتر اُوکړل او د هغه سره کُرَیْب مَوْلیٰ د ابن عباسؓ وو، نو هغه ابن عباسؓ ته راغلو او خبرئے ورکړو (چه معاویهؓ یو رکعت وتر اُوکړو؟) ابن عباسؓ ورته اُوفرمایل : (دعه انه صحب النبی) وفی روایة (اصاب انه فقیه) (بخاری ۵۳۱/۱، دارقطنی (۳۴/۲) ابن ابی شیبة (۳۹۲/۱) وعبد الرزاق (۲۱/۳) والطحاوی (۱۹۹/۱) (هغهٔ پریده ! (ځکه) هغه د نبی ﷺ سره ملګرے شوے دے) (او هغه حق کار کړیدے ځکه هغه په دین پوهه دے)

ددے نه د طحاوی د روایت ضعف معلوم شو چه طحاوی نقل کړیدی چه عکرمه وائی : زهٔ د ابن عباسؓ سره د معاویهؓ په مجلس کښې ناست وم، خبرے اترے مو کولے تردے چه څهٔ حصه د شپے نه تیره شوه، بیا معاویهؓ پاڅیدو او یو رکعت وترئے اُوکړو۔نو ابن عباسؓ اُوفرمایل : (من این تری اخذها الحمار) (ګوره خر دا عمل د کوم ځائے نه زدهٔ کړیدے (طحاوی شرح معانی الآثار باب الوتر ۲۸۹/۱) نو دا روایت نهٔ دے ثابت۔ ځکه دا ددے

حديث د بخاري مخالف دے۔ او ددے نه د طحاوي د قول ضعف هم معلوم شو چه هغۀ وائي : كيدے شي چه ابن عباس دا (اصاب) لفظ د تقيه په طور وئيلے وي۔
١١ – ابن عمرؓ يو ركعت وتر كړيدے (طحاوي ١/١٩٢) نور اقوال او اعمال د صحابه كرامو ؓ په قيام الليل د ابن نصر او ابن ابي شيبه او عبد الرزاق او فتاوى الدين الخالص (٥/٥٤٨) كښې اوګوره۔ علامه عظيم آبادي په التعليق المغني (٢/٢٧) كښې فرمائي : د يو ركعت وتر احاديث متواتر دي۔

٣– وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُصَلِّيْ مِنَ اللَّيْلِ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً، يُوْتِرُ مِنْ ذٰلِكَ بِخَمْسٍ، لَايَجْلِسُ فِيْ شَيْءٍ اِلَّا فِيْ آخِرِهَا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او عائشه رضي الله عنها فرمائي : رسول الله ﷺ به د شپے ديارلس ركعاته مونځ كولو، ددے نه به ئے پنځه ركعاته وتر كول چه سِوا د آخري ركعت نه په هيڅ ركعت كښې (د تشهد دپاره) نۀ كيناستو۔ (يعني يو يے قعدے سره به ئے كول)۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)۔
تشريح : دے حديث نه معلومه شوه چه عام حالت كښې به نبي ﷺ د شپے مونځ يولس ركعاته كول او كله نا كله به ئے ديارلس ركعاته هم كول۔
بيا ددے حديث نه – هر هغه څوك چه دا واوري – بالكل دا ظاهراً فهم كوي چه پنځه ركعاته وتر به نبي ﷺ كول او اوله قعده به ئے پكښې نۀ كوله او نۀ به ئے مينځ كښې سلام اړولو بلكه په يو سلام او يوه قعده به ئے پنځه ركعاته كول او كوم حديث كښې چه مخكښې تير شويدي چه نبي ﷺ به په هر دوه ركعاتو كښې تشهد دپاره كيناستو نو هغه په باره د فرائضو او نوافلو كښې دے او مونږ دا هم وئيلي وو چه وتر د هغے نه مستثنىٰ دي۔
نو دا حديث د احنافو د مذهب بالكل خلاف دے ځكه هغوي په وترو كښې د دريو نه زيات نۀ مني نو هغوي ته دا حديث **ډير مشكل** شويدے۔ ددے وجه نه هغوي ددے تاويلات بارده كاسده كوي۔
١– طحاويؒ خو لند وائي چه دا حديث منسوخ دے ليكن دا خبره بيرته په هغه باندے مردوده ده ځكه د نسخ دپاره هيڅ دليل نشته بلكه روستو حديث نه رد په نسخ معلوميږي۔
٢– ملا علي القاريؒ وائي : معنىٰ دا ده : نۀ به كيناستو په يو شي د مانځه كښې د سلام دپاره لهذا قعده اوله ئے كړيده۔ ليكن خليل احمد سهارنفوري په بذل المجهود كښې په هغه رد كړيدے چه دا خبره غلطه ده ځكه چه احناف خو په يو نيت سره پنځه ركعاته جائز

نهٔ ګنړي او د دریو نه زیادت حرام ګنړي۔ نو که په اول کښې ئې د وترو نیت وی نو هغه خو پنځه نهٔ دي او که د نفلو نیت ئې وی نو بیا خو وتر په نیت د نفلو اداء کول صحیح نهٔ دی۔ او کهٔ دا اُووئیلې شي چه دا په ابتداء د اسلام کښې وو نو ددې تردید روستنې روایت د زرارة بن اَوفیٰ کوي چه نبی ﷺ به ترمرګه پورې پدې باندې عمل کولو۔ انتهیٰ۔

باقي تاویلات ئې هم بعید دي او د سنتو نه ګپ شپ او توقې جوړول دي۔ د نبی ﷺ مطلب او مراد خپل مذهب ته راړول دي او د هغه په سنتو باندې جرأتمندانه اَتیك دې۔ تې د صحیح ثابتو سنتو پورې استهزاء ده۔ بیا مقلدین وائي موږ د نص په مقابله کښې تقلید نهٔ کوو او دلته ئې تاویلاتو ته اُوګوره صریح حدیث ورانوی ځکه چه امام ابو حنیفةؒ پرې قول نهٔ دې کړې۔ ټول دین د یو امام نه قربانول دا کوم دین دې؟۔ «لیونو سپو اُوخوړلې د اُوښ په شا باندې»

٤ – وَعَنْ سَعْدِ بْنِ هِشَامٍ، قَالَ: اِنْطَلَقْتُ اِلٰى عَائِشَةَ، فَقُلْتُ: يَا اُمَّ الْمُؤْمِنِيْنَ ! اَنْبِئِيْنِيْ عَنْ خُلُقِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ ؟ قَالَتْ: اَلَسْتَ تَقْرَأُ الْقُرْآنَ؟ قُلْتُ: بَلٰى. قَالَتْ: فَاِنَّ خُلُقَ نَبِيِّ اللّٰهِ كَانَ الْقُرْآنَ. قُلْتُ: يَا اُمَّ الْمُؤْمِنِيْنَ ! اَنْبِئِيْنِيْ عَنْ وِتْرِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ ؟ فَقَالَتْ: كُنَّا نُعِدُّ لَهٗ سِوَاكَهٗ وَطُهُوْرَهٗ، فَيَبْعَثُهُ اللّٰهُ مَا شَاءَ اَنْ يَّبْعَثَهٗ مِنَ اللَّيْلِ، فَيَتَسَوَّكُ، وَيَتَوَضَّأُ، وَيُصَلِّيْ تِسْعَ رَكْعَاتٍ، لَايَجْلِسُ فِيْهَا اِلَّا فِي الثَّامِنَةِ، فَيَذْكُرُ اللّٰهَ، وَيَحْمَدُهٗ، وَيَدْعُوْهُ، ثُمَّ يَنْهَضُ، وَلَايُسَلِّمُ، فَيُصَلِّي التَّاسِعَةَ، ثُمَّ يَقْعُدُ، فَيَذْكُرُ اللّٰهَ، وَيَحْمَدُهٗ، وَيَدْعُوْهُ، ثُمَّ يُسَلِّمُ تَسْلِيْمًا يُسْمِعُنَا، ثُمَّ يُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ بَعْدَ مَا يُسَلِّمُ وَهُوَ قَاعِدٌ، فَتِلْكَ اِحْدٰى عَشْرَةَ رَكْعَةً يَا بُنَيَّ ! فَلَمَّا اَسَنَّ ﷺ وَاَخَذَ اللَّحْمَ، اَوْتَرَ بِسَبْعٍ، وَصَنَعَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ مِثْلَ صَنِيْعِهٖ فِي الْاُوْلٰى، فَتِلْكَ تِسْعٌ يَا بُنَيَّ! وَكَانَ نَبِيُّ اللّٰهِ ﷺ اِذَا صَلّٰى صَلَاةً اَحَبَّ اَنْ يُّدَاوِمَ عَلَيْهَا، وَكَانَ اِذَا غَلَبَهٗ نَوْمٌ اَوْ وَجَعٌ عَنْ قِيَامِ اللَّيْلِ، صَلّٰى مِنَ النَّهَارِ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً، وَلَااَعْلَمُ نَبِيَّ اللّٰهِ ﷺ قَرَأَ الْقُرْآنَ كُلَّهٗ فِيْ لَيْلَةٍ، وَلَاصَلّٰى لَيْلَةً اِلَى الصُّبْحِ، وَلَاصَامَ شَهْرًا كَامِلًا غَيْرَ رَمَضَانَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او سعد بن هشام رحمه الله فرمائی: زهٔ د عائشې رضي الله عنها په خدمت کښې حاضر شوم ما عرض اُوکړو اې ام المؤمنین ! ما ته د رسول الله ﷺ د اخلاقو په باره کښې خبر راکړه ؟ هغې اُوفرمایل :آیا تا قرآن نهٔ دې لوستلې ؟ ما عرض اُوکړو، آؤ ولې نهٔ، هغې اُوفرمایل : د نبی ﷺ اَخلاق قرآن کریم وو (یعنی قرآن کریم چه څومره اخلاق کریمه او

صفات حميده ذكر كري دي دا ټول په رسول الله ﷺ كښې موجود وو، د هغهٔ اخلاقي زندګي د قرآن كريم عملي نمونه وه) ما عرض اُوكړو : اې ام المؤمنين ! ما ته د رسو ل الله ﷺ د وترو متعلق خبر راكړه؟ (چه هغهٔ به څو ركعاته او څنګه او په كوم وخت كښې وتر كول؟) هغې اُوفرمايل : مونږ به د رسول الله ﷺ دپاره د هغهٔ مسواك او اُوبه تيارولې نو هغهٔ به د شپې الله تعالىٰ راپاڅولو په كوم وخت كښې چه به د الله خوښه شوه چه راپا ئې څوي، نو مسواك به ئې اُووهلو او اَودس به ئې اُوكړو او نهه ركعاته (وتر) مونځ به ئې اُوكړو چه په هغې كښې به صرف په اتم ركعت كښې (د تشهد وئيلو دپاره) كيناستو نو د الله ذكر او حمد به ئې اُوكړو او دعا به ئې كوله بيا به (نهم ركعت ته) پاڅيدو او (مينځ كښې) به ئې سلام نهٔ اړولو نونهم ركعت به ئې اُوكړو، بيا به كيناستو او د الله ذكر، حمدونه او دعاء به ئې اُوكړه او بيا به ئې داسې سلام واړولو چه مونږ ته به ئې راواورولو، بيا به ئې (د وترو) د سلام نه بعد دوه ركعاته په ناسته اُوكړل نو اې بچيه ! دا يولس ركعاته مونځ شو. او ددې نه پس هركله چه د رسول الله ﷺ عمر زيات شو او غوښه ئې اُونيوله (ضعيف شو) نواُووه ركعاته وتر به ئې كول او په دوه ركعاتو كښې به ئې هغهٔ شان كار كولو څنګه چه ئې مخكښې (په ناسته) كولو، نو اې بچيه ! دا نهه ركعاته شو، او د الله نبي ﷺ به چه كله يو مونځ كولو نو هغهٔ به دا خوښوله چه په هغې باندې هميش والې اُوكړي، او نبي ﷺ باندې به چه كله د قيام الليل نه خوب يا درد غلبه اُوكړه (او قضاء به شو) نو هغهٔ به دورځې دولس ركعاته مونځ كولو، او ما ته دا نهٔ دي معلوم چه د الله نبي په يوه شپه كښې ټول قرآن لوستلې وي او نهٔ ئې ټوله شپه تر صبا پورې مونځ كړيدې، او نهٔ ئې د رمضان نه علاوه ټوله مياشت روژې نيولې دي. (مسلمؒ)

تعارف د سعد بن هشام سعد بن هشام بن عامر الانصاري المدني، د انس بن مالك د تره ځوی دې. ثقه دې د اوساط التابعين نه دې. تقريب كښې دي : دا په زمكه د هند كښې شهيد شويدې. ا مام بخاريؒ ذكر كړيدي : چه په زمكه د مكران باندې په ښائسته حالت كښې قتل شويدې.

تشريح : كَانَ الْقُرْآنَ: يعني قرآن كريم كښې چه كوم ښائسته صفات او ښائسته اخلاق ذكر كيږي چه هغه تضرع، اِنابت، خشوع، اِخبات، توكل، اخلاص او توحيد وغيره ټول په نبي ﷺ كښې په اعلیٰ درجه موجود وو.

وِتْرِ رَسُوْلِ اللهِ : دلته ددې نه مراد صلاة الليل دې چه وتر پكښې كيږي.

تِسْعَ رَكَعَاتٍ : دا وتر هم دي او صلاة الليل (تهجد) هم دي. ددې نه روستو يا مخكښې

نبی ﷺ جدا اته رکعاته ندی کړی بلکه صرف دوه رکعاته ئے روستو په ناسته کړیدی۔
فَیَذْکُرُ اللهَ، وَیَحْمَدُهُ : ددے نه مراد التحیات وئیل دی ځکه نور اذکار پدے ځائے کښې نشته۔
وَیَدْعُوهُ : ددے نه بعض علماؤ استدلال کړیدے چه په قعده اوله کښې دعاء او درود لوستل جائز دی ځکه پدے مقام کښې نبی ﷺ په قعده اوله کښې دعاګانے غوختلی دی۔
الجواب : دا استدلال صحیح نهٔ دے ځکه چه دا خو نهه رکعاته وتر دی او زمونږ اختلاف په څلور یا درے رکعاتی مانځه کښې دے چه آیا زیادت د (عبده ورسوله) نه جائز دے او که نه ؟ نو دا قیاس صحیح نهٔ دے۔ بله دا چه قیاس په باب د عباداتو کښې صحیح نهٔ دے ددے نه انسان مبتدع جوړیږی۔ بلکه عبادات الله مقرر کړیدی او نبی ﷺ قولًا او عملًا اُمت ته خودلی دی نو په وترو کښې ترے زیادت نقل دے او په باقی ځایونو کښې نقل نشته نو بس د الله او د رسول د حکم مطابق چلیدل ایمان دے۔
او حدیث دلیل دے چه نهه رکعاته وتر هم سنت عمل دے۔ او احناف ئے نهٔ منی او وائی دا منسوخ دی۔ **جواب** دا دے چه د نسخ خبره غلطه ده، دلیل پرے نشته، بله دا چه عائشهؓ دا حدیث د وفات د رسول الله ﷺ نه روستو سعد بن هشام ته بیانوی او منسوخ دین څوک چا ته نهٔ بیانوی۔ که منسوخ وے نو عائشهؓ به ورته وئیلی وے چه نبی ﷺ به داسے کار کولو لیکن دا منسوخ دی۔ ★– بله دا چه د نبی ﷺ د آخری ژوند حالت ورته بیانوی۔
تَسْلِیمًا : پدے کښې یو سلام ګرزول هم جائز دی او دوه سلامه هم۔ دواړه اَحادیثو کښې ثابت دی۔ کما تقدم فی صفة الصلاة۔

آیا د وترو نه روستو دوه رکعاته سنت دی؟

ثُمَّ یُصَلِّیْ رَکْعَتَیْنِ بَعْدَ مَا یُسَلِّمُ : بیا ددے حدیث نه دوه رکعاته نفل پس د وترو نه ثابت شو او حال دا چه روستو فصل ثالث کښې حدیث راغلے دے : (اجعلوا آخر صلاتکم باللیل وتراً)۔ نو ظاهر کښې تعارض شو؟ نو ددے تعارض د دفعیه دپاره بعضو وئیلی دی چه دا دوه رکعاته د نبی ﷺ خصوصیت دے او مونږ ته ئے حکم کړیدے چه تاسو آخری مونځ د شپے وتر اُوګرځوئ۔ نو اتباعاً لِلامر به مونږ دا دوه رکعاته نهٔ کوو (شوکانیؒ)۔
دا جواب ضعیف دے وجه دا ده چه نبی ﷺ یو عمل کړیدے او امت ئے د خپل عمل نه ندے منع کړے نو د هغے تابعداری پکار ده بلکه اُمت ته ئے امر هم کړیدے لکه حدیث د دارمی (۳۱۲/۱) باب الرکعتین بعد الوتر، صحیح ابن خزیمة (۱۵۹/۲) رقم (۱۱۰۳) او ابن

حبان رقم (٦٨٣) كښې دي :

(ان هـذا السفر جهد و ثقل فاذا اوتر احد كم فليركع ركعتين، فان قام من الليل و الا كانتا له)

(چه تاسو كلـه سفر كښې وئ او وتر مو اُوكړل نو روستو پسے دوه ركعاته اُوكړئ كه د شپے تهجدو ته راپانۀ څيدے نو دا به قائمقام د تهجدو شي)۔

دويـم دا چه« اجعلوا» امـر د استـحباب او نـدب دپاره دے او دا دوه ركعاته ددے دپاره نبي ﷺ كړيدي چه خلقو ته اُوښائي چه د وترو نه روستو هم مونځ جائز دے۔ لكه دا خبره امام ابـن خـزيمهؒ او امام نوويؒ كړيده نو د وترو نه روستو دوه ركعاته كول جائز دي۔ يعني په عام حـالت كښې به انسان وتر په آخره كښې كوي ليكن كله چه انسان تهجد كم كړي وي او صبا راختـلو تـه وخت نـزدے وي نـو وتـر دے اُوكړي ځكه دا ډير مهم دي او بيا د وترو نه بعد كه وخت وي نـو مـختصر دوه ركعاته دے په ناسته اُوكړي نو عدد د تهجدو به ئے هم پوره شي او په سنت به هم عمل اُوشي۔

۳- **حافظ ابن قيمؒ** هـم ښـۀ جـواب كړيدے چه دا دوه ركعاته منافي نۀ دي د « اجعلوا » امـر سره ځكه چه دا د مُتَمماتو د وترو نه دي لكه څنګه چه د ماښام مونځ وتر النهار دي او د هغـے نه روستو دوه ركعاته د متمماتو د ماښام نه دي نو دغه شان دلتـه هم دا دوه ركعاته د متمماتو د وترو نه دي۔ (زاد المعاد ۳۲۱/۱)

شيخ البانيؒ پـه الـصحيـحـه كـښې فـرمـائي : ما په تعليق د صفة الصلاة (۱۲۳) كښې وئيلي وو چه احتياط دا دے چه دا دوه ركعاته اتباعاً للامر پريخودے شي ليكن اُوس راته دا واضـحه شوه چه دا دوه ركعاته د نبي ﷺ خصوصيت نۀ دے او دا اَمر د وجوب دپاره نۀ دے بـلـكـه مـقـصـود په دغه اَمر چه د شپے آخري مونځ وتر اُوګرځوئ) دا دے چه په آخر د شپه كښې وتر كول درنه پاتے نۀ شي۔

او دا مطلب نۀ دے چه روستو ترے دوه ركعاته وغيره ندي جائز۔ (قيام رمضان ص ۲۵) بيا دا دوه ركعاته هميشه نبي ﷺ ندي كړي بلكه كله كله ئے كړيدي۔

بـعض علماء ددے دوه ركعاتو نه دوه سجدے مراد كوي دا هـم صحيح نۀ ده او بعض ددے نـه د سـحـر سـنـت مـراد كـوي دا هـم صحيح نۀ دي بلكه دا مستقل دوه ركعاته دي۔ انظر (مجموع الفتاوى ۹٤/۲۳)

فَلَمَّا اَسَنَّ : يعني بوډا شو دا حديث دليل دے چه اووه ركعاته او نهه ركعاته ندي منسوخ ځكه ډا د بوډا والي عمل دے۔

قَرَأَ الْقُرْآنَ كُلَّهُ : ددے نـه ثابته شوه چه شبينه كول (په يوه شپه كښې قرآن ختمول) صحيح

نۀ دی۔ او دکومو سلفو نه چه دا عمل نقل دے نو هغوی ته دا حدیث نۀ دے رسیدلے۔
اِلَی الصُّبحِ : توله شپه عبادت کول سِوئ د اَخیری شپو د رمضان نه صحیح نۀ دی۔

۵- وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «اِجْعَلُوْا آخِرَصَلَاتِكُمْ بِاللَّيْلِ وِتْرًا»، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او عبد الله بن عمر ﷛ فرمائی : نبی ﷺ فرمائیلی دی : « د شپے په مانځه کښ آخری مونځ وتر اُوکرځوئ ! »۔ (مسلمؒ)

تشریح : حدیث نه دوه مسئلے ثابتیږی :

۱- یو دا چه د شپے په مانځه کښ وتر په آخر کښ کول پکار دی او حکمت ئے مخکښ تیر شو چه مخکښی تول نفلو نه وتر جوړیږی او وتر چونکه ډیر محبوب دی الله ته د باقی نوافلو نه نو ددے په وجه به د باقی نوافلو درجه هم اُوچته شی۔

۲- دویمه دا چه د شپے په آخره حصه کښ وتر پکار دی خو که انسان یَریږی چه رانه فوت به شی نو بیا ماسخوتن کولو کښ هم شریعت اِجازه ورکړیده، او چه کله م'سخوتن وتر اُوکړی بیا د شپے راپاځیږی نو آیا تهجد به کوے او که نۀ ؟ نو بعض کم علمه مولیان وائی : چه د شپے مونځ به د وترو نه پس نۀ کوی ځکه چه نبی ﷺ فرمائی : چه وتر د شپے آخری مونځ جوړ کړئ نو روستو مونځ کول صحیح نۀ دی، دا خبره ئے غلطه ده ځکه د نبی ﷺ غرض دا نۀ دے، بلکه غرض دا دے چه وتر په آخر د شپه کښ اُوکړئ، که آخر ته دِے پریخودے شو او که نۀ شو پریخودے نو بیا که د شپے راپاځیدلے نو مونځ کولے شے۔

دلائل : ۱ - دلیل دا دے چه د ابوبکرصدیق طریقه دا وه چه ماسخوتن به ئے وتر کول نو نبی ﷺ ورته اُوفرمایل : تا په اَحوَط باندے عمل کړیدے۔ نو کله چه هغه ماسخوتن وتر کړی وی نو آیا د شپے تهجد به ئے بیا نۀ وی کړی څۀ ؟۔ بلکه هغۀ به احتیاطاً ماسخوتن کښ وتر کول هسے نه چه پاتے نۀ شی، لکه ابوسلیمان الخطابی په خپل اسناد سره په هغۀ حدیث کښ د ابوبکر دا الفاظ زیات ذکر کړیدی چه هغۀ نه نبی ﷺ ته اُوفرمایل :

(اما انا فأصلی ثم أنام علی وتر فاذا استیقظت صلیت شفعاً شفعاً حتی الصباح) (المنتقی بشرح نیل الاوطار (۵٦/۳)

(هرچه زۀ یم نو زۀ وتر کولو سره اُودۀ کیږم او کله چه د شپے رابیدار شم نو د سحر پورے دوه دوه رکعاته کوم) او پدے باندے امام ابوداود باب لګولے دے (باب فی الوتر قبل النوم)۔

او دا روايت مصنف عبد الرزاق رقم (٤٦١٥) او شرح معانی الآثار (٢/١٩٧) هم په دغه الفاظو راوړیدي۔ ورواه الاثرم انظر المغنی لابن قدامة (١/٨٣٠)

٢- دلیل : نبی ﷺ فرمائی : (من خاف ان لا یقیم من آخر اللیل فلیوتر أوله ومن طَمِعَ ان یقوم آخرهٔ فلیوتر آخر اللیل فان صلاة آخر اللیل مشهودة وذلك افضل) (مسلم ١/٢٥٨) (وسیأتی)

څوك چه یَرېږی چه په آخر د شپه کښې به راپانهٔ څیږی نو په اول کښې دې وتر اُوکړی او څوك چه طمع لری چه په آخر د شپه کښې به راپاڅی نو هغهٔ دې آخر کښې اُوکړی ځکه په آخر د شپه کښې مونځ ته ملائك حاضرېږی او دا افضل دے) (مسلمؒ) نو څوك چه په ابتداء کښې وتر اُوکړی او بیا د شپې رابیدار شو نو هغهٔ له تهجد جائز دی۔

٣- دلیل : دارنګه روستو حدیث کښې راځی چه نبی ﷺ په اول د شپه کښې هم وترکړیدی نو آیا بیا به نبی ﷺ تهجد نه وی کړی څهٔ ؟۔

٤-دلیل : قیس بن طلق فرمائی: طلق بن علی د رمضان په یوه ورځ کښې زمونږ ملاقات له راغلو او مونږ سره ئے بیګاه کړو او روژه ئے ماته کړه بیا ئے مونږ ته په دغه شپه تراویح اُوکړے او وتر ئے اُوکړل بیا خپل مسجد ته لاړو هلته ئے خپلو ملګرو ته مونځ اُوکړو، تردے چه کله وتر باقی پاتے شو نو بل سړی ئے مخکښې کړو او وے فرمایل : (اَوْتِرْ بِاَصْحَابِكَ فانی سمعت رسول الله ﷺ یقول : لَا وِتْرَانِ فِیْ لَیْلَةٍ) واسناده صحیح (ابو داود ١/٢١٠) رقم (١٤٣٩) (تهٔ خپلو ملګروته وتر اُوکړه (ما وتر کړیدی) ځکه ما د رسول الله ﷺ نه اَوریدلی دی چه فرمایل ئے : په یوه شپه کښې دوه وتره نشته)۔

٥- دلیل: د رافع بن خدیج نه تپوس اُوشو نو هغهٔ اُوفرمایل : (اما انا فانی اوتر من اول اللیل، فان رزقت شیئاً من آخره صلیت رکعتین رکعتین حتی یدرکنی الصبح) مصنف عبد الرزاق (٤٦٢٠) تحفة الاحوذی (٢/٤٧٠)

٦- عماربن یاسرؓ نه هم تپوس اُوشو : هغهٔ اوفرمایل : (اما انا فاوتر قبل ان انام، فان رزقنی الله شیئاً صلیت شفعاً شفعاً الی ان اصبح) مصنف عبد الرزاق (رقم ٤٦٢١) شرح معانی الآثار (١/٣٤٣) مختصر کتاب الوتر (١٠٦) لاحمد بن علی المقریزی) وابن سعد (٧/١٤٩) وسنده جید) تغلیق التعلیق (٢/٤٣٥) لابن حجر وسنده صحیح۔

٧- دلیل: ابو هریرهٔ نه د وترو باره کښې تپوس اُوشو هغهٔ اُوفرمایل :

(اما انا فأوتر ههنا بخمس ثم ارجع فأرقد، فان استیقظت صلیت شفعاً حتی أصبح) مصنف عبد الرزاق برقم (٣/١٦) (٤٦٢٢) (زهٔ اول وتر اُوکړم بیا کهٔ د شپے رابیدار شم نو تر صبا پورے دوه دوه رکعاته کوم)

۲- المسئلة الثانية نقض الوتر :

څوك چه په اول د شپه کښې وتر اُوکړی او بیا د شپے تهجد د پاره رابیدار شی نو آیا دوباره به وتر کوی او که نهٔ ؟ نو د ابن عمرؓ عمل دا وو چه هغه به د شپے تهجد کول نو په آخر کښې به ئے دوباره وتر کول پداسے طریقه چه یو رکعت به ئے ماسخوتن کړے وو او یو به ئے ورسره د شپے رابیداریدو نه پس پیوسته کړو۔ نو دوه رکعاته نفل به ئے ترے جوړ کړل (او دیته مسئلـه د نقض الوتر وائی) (اخرجه احمد ۳۱۰/٤ مع الفتح الربانی) ومجمع الزوائد (۲٤٦/۲) او دا قول د علی ﷺ هم دے۔ په مسند الشافعی (۱۹۵/۱) او السنن الکبریٰ للبیهقی (۳۷/۳) کښې دی :

علی ﷺ فرمائی : وتر درے قسمه دی څوك چه غواړی چه په اول د شپه کښې وتر اُوکړی نو کولے ئے شی بیا که رابیدار شی نو ددهٔ خوښه ده چه هغے سره یو رکعت یو ځائے کړی او بیا دوه دوه رکعاته کوی تر صبا پورے بیا وتر اُوکړی نو هم کولے ئے شی۔ الخ (نیل الاوطار ۵٦/۳) او دا قول د اسحاق دے۔ (ترمذی)

لیکن دا د هغه صحابه کرامؓ اجتهاد دے چه د مرفوع احادیثو خلاف دے۔ او د دوی سره باقی هیڅ مرفوع صحیح نص نشته۔ لکه دا خبره علامه الشیخ مبارکفوری په تحفة الاحوذی کښې او شوکانیؒ په نیل الاوطار (۵٦/۳) او ابن حزم په محلی (۹۱/۲) کښې کړیده۔

★- عائشه رضی الله عنها نه تپوس اُوشو چه یو سړے وتر اُوکړی بیا رابیدار شی ، او یو رکعت ورسره یو ځائے کړی او بیا آخر کښې وتر اُوکړی؟ (دا صحیح دی؟) هغے اُوفرمایل : (ذاك الذی یلعب بوتره) (دا سړے په خپلو وترو لوبے کوی)۔

او بعینه دغه شان قول د ابن عباسؓ نه نقل دے۔ (تحفة ٤۷۰/۲) باب ما جاء لا وتران فی لیلة) وصلاة الوتر لمحمد بن نصر (۸۲)

۲- بل طرفته **جمهور اُمت** وائی : د وترو ماتول نشته بلکه د وترو نه روستو هم مونځ کول جائز دی۔ لکه دلائل ئے مخکښې ذکر شو او هر چه دا حدیث دے چه وتر په آخر کښې اُوګرځوئ نو پدے کښې امر د ندب او استحباب د پاره دے۔ ورنه که څوك ماسخوتن وتر اُوکړی نو د شپے وتر کول ورته معاف دی صرف تهجد دے اوکړی۔ نبی ﷺ نه داسے ندی نقل چه هغوی مات کړی وی۔ بلکه هغهٔ فرمایلی : (لا وتران فی لیلة) (بسند صحیح) (صحیح الترمذی ٤۷۳) (ابوداود) التخلیص الحبیر (٤۳/۲) وقد مر۔

او دا قول د ائمه اربعو وغیرهم دے۔ بلکه په صحابه کرامؓ کښې دا قول د ابوبکر صدیق،

عمار بن ياسر، رافع بن خديج، عائذ بن عمرو المزني، طلق بن علي، ابو هريره او عائشه –رضي الله عنهم– دي. او دا ابن ابي شيبه د سعد بن ابي وقاص، ابن عمر او ابن عباس (رضي الله عنهم) نه نقل كړيدي او په تابعينو كښې: سعيد بن المسيب، علقمه، شعبي، مكحول، سعيد بن جبير، ابراهيم النخعي، الحسن البصري، طاوس، ابو مجلز رحمهم الله دي. او د امامانو نه سفيان الثوري، ابن المبارك، امام مالك او احمد دي چه ترمذيؒ نقل كړيدي او دي ته ئې اصح وئيلي دي. او علامه عراقيؒ د اوزاعيؒ، امام شافعيؒ او ابوثورؒ نه نقل كړيدي او قاضي عياض د ټولو اهل فُتيا نه نقل كړيدي او د رسول الله ﷺ نه د دې مخالف هيڅ قسم دليل نشته. (راجع فتاوى اللجنة الدائمة (٧/١٧٧– صلاة التطوع)

او **دوی جواب** وركوي قائلين د نقض الوتر ته او هغۀ دا چه كله يو سړي په اول د شپه كښې وتر اُوكړل نو دۀ وتر اداء كړل بيا چه كله دا خوب كوي او بيا راپاڅي او اَودس كوي او بيا يو ركعت كوي او د مخكښې سره ئې يو ځائې كوي نو دا ركعت غير دي د هغۀ ركعت نه چه ماسخوتن كښې شويدي، او عقل دا نۀ مني چه دا ركعت دې د مخكني ركعت سره يو ځائې شي او دواړه دې يو مونځ اُوګرځي ځكه دواړو ترمينځ خوب، بې اَودسي او اَودس وغيره راغلل بلكه چا چه دا كار اُوكړو نو هغۀ دوه كرت وتر اُوكړل بيا چه په آخر د مانځه كښې بيا وتر كوي نو دا دريم ځل وتر شو چه مشروع نۀ دى. (لا وتران في ليلة) (تحفة الاحوذي ٢/٤٧٤– دارالكتب بيروت)

٦– وَعَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «بَادِرُوا الصُّبْحَ بِالْوِتْرِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او عبد الله بن عمر ؓ نه روايت دې چه نبي ﷺ فرمايلي دي: «په وتر كولو سره د صبا د راختلو نه جلتي اُوكړئ» (يعني چه صبا دربانديې راونۀ خيژي). (مسلمؒ)

تشريح: بَادِرُوا: جلتي اُوكړئ په اداء كولو د وترو مخكښې د صبا راختلو نه. دا حديث دليل دې چه وتر د شپې په آخري حصه كښې كول بهتر دي. او وخت ئې د صبا د راختلو نه مخكښې دې او كله چه صبا راوخيژي نو وخت ئې ختم شو.

٧– وَعَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: «مَنْ خَافَ اَنْ لَّا يَقُوْمَ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ فَلْيُوْتِرْ اَوَّلَهُ، وَمَنْ طَمِعَ اَنْ يَّقُوْمَ آخِرَهُ فَلْيُوْتِرْ آخِرَ اللَّيْلِ، فَاِنَّ صَلَاةَ آخِرِ اللَّيْلِ مَشْهُوْدَةٌ، وَذٰلِكَ اَفْضَلُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او جابر ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمايلي دي : «چا سره چه دا خوف وي چه په آخر د شپه كښې به راپانه ځيږي، نو هغهٔ دے په ابتداء د شپه (يعني د ماسخوتن نه بعد) وتر اوكړي، او څوك چه دا طمع لري چه په آخر د شپه كښې به راپاځيږي نو هغهٔ له پكار دي چه په آخر د شپه كښې وتر اوكړي، ځكه د آخر د شپے مونځ مشهود دے (يعني پدے وخت كښې د رحمت ملائك او انوار او بركات نازليږي) او دا (يعني آخر د شپه كښې وتر كول) افضل دي»۔ (مسلم)

تشريح : من خاف نه معلوميږي چه ددهٔ د تهجدو اراده شته، خو د ضرورت په وجه په اول د شپه كښې وتر كوي احتياطاً۔

وَمَنْ طَمِعَ : دا دليل دے چه د (فليوتر) امر استحبابي دے۔ ځكه دا امرئے معلق كړو په طمع پورے۔ يعني چه طمع ئے وي نو آخر كښې وتل كول بهتر دي۔ او كه طمع ئے نهٔ وي نو بيا به اول كښې وتر كوي۔

مَشْهُوْدَةٌ : يعني آخر كښې وتر ځكه كول پكار دي چه دے مونځ ته د رحمت ملائك حاضري كوي نو مونځ ډيرول پكار دي ځكه تا به تهجد هم كړي وي او ورسره وتر به هم اوكړے۔ نو دا بهترين وقت دے او دا بهترين مونځ ورته روستو كول پكار دي۔ امام نوويؒ فرمائي : دا حديث صريح دليل دے چه وتر د شپے آخر ته مؤخر كول افضل دي د هغه چا دپاره چه اعتماد د رابيداريدو لري په آخر د شپه كښې او كه د چا اعتماد نهٔ وي نو هغه له تقديم افضل دے۔ او ټول احاديث مطلقه به پدے تفصيل باندے حمل كولے شي۔ انتهیٰ۔

وَذٰلِكَ أَفْضَلُ او دغه د شپے په آخري حصه كښې مونځ كول ډير غوره دي۔

٨– وَعَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: مِنْ كُلِّ اللَّيْلِ أَوْتَرَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : مِنْ أَوَّلِ اللَّيْلِ، وَأَوْسَطِهٖ، وَآخِرِهٖ، وَانْتَهٰى وِتْرُهٗ إِلَى السَّحَرِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او عائشه رضي الله عنها فرمائي : د شپے په هره حصه كښې رسول الله ﷺ وتر كړي دي، په ابتداء د شپه كښې (د ماسخوتن مانځه نه فوراً بعد) او په مينځ د شپه او په آخر د شپه كښې او د رسول الله ﷺ وتر (په آخر د عمر كښې) سحر ته رسيدلي دي۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)۔

تشريح : دا حديث دليل دے چه تقديم د وتر على النوافل عند الضرورة جواز لري او كه ضرورت نهٔ وي نو نوافل به مخكښې كوي او كه څوك وتر مخكښې كوي او نوافل ترے

روستو كوي نو دا د سنت خلاف ده. او حديث دليل دے چه وتر تولہ شپه كښې كيږى كله ئے چه وخت داخل شى مگر افضل دا ده چه د صبا د راختلو نه مخكښې اُوشى.
او كله چه يو انسان جمع بين صلاتين كوى د ماښام په وخت كښې نو وتر به نۀ كوى بلكه وتر به په خپل وخت كښې كوى او په سورلئ هم جائز دى.

٩- وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ، قَالَ:أَوْصَانِي خَلِيلِي بِثَلَاثٍ: صِيَامِ ثَلَاثَةِ اَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ، وَرَكْعَتَيِ الضُّحٰى، وَاَنْ اُوتِرَ قَبْلَ اَنْ اَنَامَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائى : ما ته خپل دوست (رسول الله ﷺ) په درے خبرو وصيت كړے دے : ١- يو خو په هره مياشت كښې درے ورځے روژه نيول. ٢- دويم دوه ركعاته د چاشت. ٣- او دريم دا چه زۀ د اودۀ كيدو نه مخكښې وتر اُوكړم. (بخارىؒ ومسلمؒ)

تشريح : قَبْلَ اَنْ اَنَامَ : دۀ ته ئے دا حكم ځكه كړے وو چه دا طالب العلم وو، د احاديثو تكرار به ئے كولو نو دماغ به ئے ستړى شوى وو نو احتمال وو چه ددۀ نه د خوب په وجه وتر فوت شى.
دا حديث دليل دے چه څوك د شپے په رابيداريدو يقين نۀ لرى نو د هغه دپاره ماسخوتن نه روستو وتر افضل دى او څوك چه طاقت د رابيداريدو لرى نو هغه دپاره آخر وخت كښې وتر افضل دى. د صلاة الضحى تشريح روستو راروانه ده.

الفصل الثانى

١٠- عَنْ غُضَيْفِ بْنِ الْحَارِثِ، قَالَ: قُلْتُ لِعَائِشَةَ : اَرَاَيْتِ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَانَ يَغْتَسِلُ مِنَ الْجَنَابَةِ فِيْ اَوَّلِ اللَّيْلِ اَمْ فِيْ آخِرِهٖ ؟ قَالَتْ: رُبَّمَا اغْتَسَلَ فِيْ اَوَّلِ اللَّيْلِ، وَرُبَّمَا اغْتَسَلَ فِيْ آخِرِهٖ. قُلْتُ: اَللهُ اَكْبَرُ! اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ جَعَلَ فِي الْاَمْرِ سَعَةً، قُلْتُ:كَانَ يُوْتِرُ اَوَّلَ اللَّيْلِ اَمْ فِيْ آخِرِهٖ؟ قَالَتْ: رُبَّمَا اَوْتَرَ فِيْ اَوَّلِ اللَّيْلِ، وَرُبَّمَا اَوْتَرَ فِيْ آخِرِهٖ. قُلْتُ :اَللهُ اَكْبَرُ! اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ جَعَلَ فِي الْاَمْرِ سَعَةً، قُلْتُ:كَانَ يَجْهَرُ بِالْقِرَاءَةِ اَمْ يَخْفِتُ؟ قَالَتْ: رُبَّمَا جَهَرَ بِهَا، وَرُبَّمَا خَفَتَ. قُلْتُ: اَللهُ اَكْبَرُ ! اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ جَعَلَ فِي الْاَمْرِ سَعَةً . رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ، وَرَوَى ابْنُ مَاجه الْفَصْلَ الْاَخِيْرَ.

ترجمه : او غضيف بن حارث رحمه الله فرمائى : ما د عائشےؓ نه تپوس اُوكړو : آيا تا رسول الله ﷺ ليدلے دے چه د جنابت نه ئے په اول د شپه كښې يا په آخر د شپه كښې غسل

کړے وی؟ عائشےؓ اُوفرمایل: کله به رسول الله ﷺ په اول د شپه کښې (د جماع نه پس) غسل کولو او کله به ئے په آخر د شپه کښې غسل کولو۔ ما اُووئیل: الله ډیر لوئی دے، ټول حمدونه او صفتونه خاص الله لره دی چه هغهٔ په دینی امورو کښې آسانی ګرزولے ده، او بیا مے تپوس اُوکړو، آیا رسول الله ﷺ به اول د شپه کښې وتر کول او که په آخر د شپه کښې؟ هغے اُوفرمایل: کله به ئے په اول د شپه کښې وتر کول او کله به ئے په آخر د شپه کښې کول، ما اووئیل: الله اکبر! حمدونه دی خاص الله لره چه پدے کار کښې ئے فراخی ګرزولے ده، ما اووئیل: آیا رسول الله ﷺ به (د تهجد و یا مطلقاً) په قراءت وئیلو جهر کولو او که پټوالے؟ نو هغے اُوفرمایل: کله به ئے په اُوچت آواز قراءت کولو او کله به ئے په آرام آواز سره"، ما اووئیل: الله اکبر، ټول د کمال صفتونه الله لره دی چه په دے کار کښې ئے فراخی ګرزولے ده۔ (ابوداود) او ابن ماجه ددے روایت صرف آخری فقره (چه په هغے کښې د قراءت تذکره ده) نقل کړیده۔

تشریح: اَللّٰهُ اَکْبَرُ!: دا کلمه د تعجب دپاره ده۔

كَانَ يَغْتَسِلُ مِنَ الْجَنَابَةِ: د سوال مطلب دا وو چه آیا رسول الله ﷺ به همیشه دپاره د جنابت نه فوراً روسته غسل کولو، او که نهٔ اودهٔ به شو بیا به ئے غسل کولو؟ لکه دا تشریح په بل روایت د نسائی کښې واغلے ده۔ او د جواب مطلب دا وو چه د رسول الله ﷺ حالات مختلف وو کله به ئے د جماع نه روستو متصلاً غسل کولو او کله به ئے د شپے په آخره شپه کښې غسل کولو دے دپاره چه امت ته آسانی شی۔ نو ځکه غضیف پدے باندے حمد وئیلے دے چه ښهٔ دے چه الله داسے فراخی راوسته چه د شپے په کومه حصه کښې غسل کوے، اجازت دے۔ او پابندی ئے اُونهٔ لګوله چه ضرور به د جنابت پسے متصلاً غسل کوے۔ نو دا نعمت دے پدے باندے شکر اداء کول پکار دی۔

رُبَّمَا جَهَرَ بِهَا: دا د شریعت آسانی ده چه تنوع ئے کړیده په بعض عباداتو کښې۔ رسول الله ﷺ به یوه شپه دوه شپے په قراءت کښې آواز اُوچتولو او کله به ئے په آرام آواز سره قرائت کولو د مقام او حالت مطابق قراءت به ئے کولو۔او دا پټوالے به داسے نهٔ وی چه ځان ته ئے نهٔ اَوری بلکه دومره اندازه کښې به وی چه خپله ئے اَوری او پوهیږی چه زهٔ فلانے آیت وایم۔ لهذا دا دلیل دے چه د شپے په مانځه کښې مونځ کونکی ته اختیار دے چه قرائت په جهر کوی او که په پټه۔

فوائد الحديث: ١– د شریعت په رخصت باندے خوشحالی کول پکار دی۔

٢– د وترو په اول اللیل کښې جواز ثابت شو۔

۴– رسول الله ﷺ وتر نۀ دی مات کړی۔ نو د نقض الوتر مسئله کمزورے شوه۔ او نۀ رسول الله ﷺ د وترو نه روستو تهجد پریخوستی دی۔ فتدبر۔

درجة الحديث: اسناده صحيح : اخرجه احمد فی المسند (٤٧/٦) وابوداود (٢٢٦) والنسائی مختصراً فی المجتبیٰ (١٢٥/١) واخرجه ابن ماجه (١٣٥٤)

---

١١ – وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ اَبِيْ قَيْسٍ، قَالَ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ: بِكَمْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يُوْتِرُ؟ قَالَتْ: كَانَ يُوْتِرُ بِأَرْبَعٍ وَثَلَاثٍ، وَسِتٍّ وَثَلَاثٍ وَثَمَانٍ وَثَلَاثٍ، وَعَشْرٍ وَثَلَاثٍ، وَلَمْ يَكُنْ يُوْتِرُ بِأَنْقَصَ مِنْ سَبْعٍ، وَلَا بِأَكْثَرَ مِنْ ثَلَاثَ عَشْرَةَ. رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او عبد الله بن ابی قیسؒ فرمائی: ما د عائشے رضی الله عنها نه تپوس اُوکړو، چه رسول الله ﷺ به څو رکعاتو سره وتر کول؟ هغے اُوفرمایل : نبی ﷺ به کله څلور او درے (یعنی اُووه رکعاته) او کله شپږ او درے (یعنی نهه) او کله اته او درے (یعنی یولس) او کله لس او درے (دیارلس) رکعاتو سره وتر کول، او نبی ﷺ به د اُووه رکعاتو نه کم او دیارلسو نه زیات رکعتونو سره هیڅ کله وتر نۀ کول۔ (ابوداودؒ)۔

تعارف د عبد الله بن ابی قیس : عبد الله بن ابی قیس ابوالاسود النصری الحمصی دے د عطیه بن عازب مولیٰ دے د خپل مولی او ابن عمرؓ او عائشےؓ وغیره نه ئے نقل کړیدے۔ تقریب کښ دی : دا ثقه مخضرم دے عجلیؒ وائی : ثقه تابعی دے۔

تشریح : د حدیث مقصد دا دے چه د نبی ﷺ د شپے د مانځه مختلف مقدار وو کله به ئے د وترو سره اُووه رکعاته کول، څلور نفل او درے وتر۔ او کله به ئے نهه رکعاته کول شپږ نفل او درے وتر او کله به ئے یولس رکعاته کول، اته نفل او درے وتر۔

او کله به ئے دیارلس رکعاته کول، لس نفل او درے وتر۔ نو دلته په ټول مونځ باندے اطلاق د وترو شویدے۔ ځکه چه نبی ﷺ به د نفلو پسے وترکول نو ټول مونځ به ئے وتر حساب شو۔ (توتر له ما قد صلی)

وَلَمْ يَكُنْ يُوْتِرُ : یعنی غالب عادت د نبی ﷺ دا وو چه د اُووه رکعاتو نه به ئے کمے نۀ کولو او د دیارلس رکعاتو نه به ئے زیاتے نۀ کولو او دا په مختلف اوقاتو حمل دی، کله به ئے طبیعت کښ تازګی وه او وخت به زیات وو نو زیات به ئے کول او کله به ئے طبیعت کښ تنګی وه او وخت به هم تنګ وو نو کم به ئے کول او د بیان د جواز دپاره ئے دا کارونه کړیدی۔

او كله نا كله د نبي ﷺ نـه آتـه ركعاته نفل او يو وتر او كله لس ركعاته نفل يو وتر او كله دولس نفل يو وتر هم نقل دي بيا دلته درې ركعاته راغلل نو دا په كوم كيفيت شويدى نو د هغې كيفيت مخكښې تير شو چه په مينځ كښې به ئې سلام گرځولو.

مخكښې مونږ وئيلي وو چه نبي ﷺ بـه تـهـجـد د څلورو نه كم نۀ كول او قولًا د هغه نه ثابت دى چه څوك دوه ركعاته اُوكړي نو هم هغه ته د تهجدو اَجر ملاويږي.

درجة الحديث: اسناده صحيح : اخرجه احمد (١٤٦/٦) وابوداود (١٣١٦) والطحاوى فى شرح معانى الآثار (٢٨٥/١)

١٢ – وَعَنْ اَبِيْ أَيُّوبَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اَلْـوِتْرُ حَقٌّ عَلٰى كُلِّ مُسْلِمٍ، فَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُّوْتِـرَ بِـخَـمْسٍ فَلْيَفْعَلْ، وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُّوْتِرَ بِثَلَاثٍ فَلْيَفْعَلْ، وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُّوْتِرَ بِوَاحِدَةٍ فَلْيَفْعَلْ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او ابوايوب رضي الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ فرمايلي دى : «وتـر پـه هر مسلمان بانـدې حـق دې، لهـذا څـوك چـه پـنـځه ركعاته وتر كول غواړي نو اُودې كړي او كه څوك غواړي چه درې وتر اُوكړي نو اُودې ئې كړي او څوك چه غواړي چه يو ركعت وتر اُوكړي نو اُودې ئې كړي». (ابوداوُدؒ، نسائيؒ، ابن ماجهؒ)

تشريح : اَلْوِتْرُ حَقٌّ : حـق پـه مـعـنىٰ د ثابت سره راځي يعني وتر په ذمه باندې ثابت شي دې او په شريعت كښې ثابت دى او پدې كښې تاكيد دې په وترو باندې او حق دلته په معنىٰ د واجب سره نۀ دې ځكه چه وجوب په معنىٰ د فرضيت سره راځي او وتر خو فرض نۀ دى نو د احـنـافـو اسـتـدلال تـرې نـۀ صـحيـح كـيـږي ځكه چه هغوى هم وترو ته فرض نۀ وائي او واجب د هـغـوى خپـلـه جُـدا اصطلاح ده چه د سنتو نه بَره او د فرضو نه خكته درجه ده. لهذا په خپله مُبتدَعَه مُختَرَعَه اِصطلاح باندې به الفاظ شرعيه نۀ شي حمل كولې.

او حق دلتـه پـه مـعـنىٰ د واجب نۀ دې ځكه چه مجد بن تيميهؒ په «المنتقىٰ» كښې ذكر كړيدى چه ابن منذرؒ دا حديث روايت كړيدې په لفظ : (الوترحق وليس بواجب) نو دا صريح دليل دې چه حق دلته په معنىٰ د ثابت دې، نۀ په معنىٰ د واجب سره. بلكه دا چه حق لفظ د غـسـل يوم الـجـمـعـه پـه بـاره كـښې هـم راغـلـې وو او هلته جمهور علماؤ ترې سنت مؤكد اخستې وو نو دغه شان دلته هم ترې سنت مؤكد اخستې شي.

فَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُّوْتِرَ : پدې حديث كښې د وترو درې طرق راغلل.

طرق وكيفيات الوتر:

١- يو ركعت مستقل كول. لكه مخكښ تير شو.

٢- درې ركعاته په دوه طريقو يو دا چه په دوه سلامونو سره.

٢- يا په يو سلام او يوه قعده سره. او ددې تفصيل هم مخكښ تير شو.

٣- دريم كيفيت: پنځه ركعاته په يوه قعده او يو سلام لكه مخكښ د عائشه حديث ذكر شو. (يوتر من ذلك بخمس لا يجلس في شيءٍ الا في آخرها) (مسلم ١/٢٥٦)

٤- اُووه ركعاته كول او په دې كښ دوه كيفياته دى ١- يو دا چه په شپږم ركعت قعده اوله اُوكړى بيا پاڅى اُووم ركعت اُوكړى. كما في حديث النسائى (١/٢٥٠) واحمد وابى داود. نيل الاوطار (٣/٤٣)

٢- دويم دا چه ټول په يوه قعده اُوكړى كما في حديث النسائى (١/٢٥٠) (صلى سبع ركعات لا يقعد الا في آخرهن) مسلم ١/٢٥٦)

(٥) - نهه ركعاته په يوه طريقه چه اتم ركعت باندې قعده اوله اُوكړى بيا پاڅى او نهم ركعت اُوكړى كما مر في حديث سعد بن هشام.

درجة الحديث: اسناده صحيح: اخرجه احمد (٥/٤١٨) وابوداود (١٤٢٢) واخرجه النسائى (٣/٢٣٨) وابن ماجه (١١٩٠) والطحاوى في شرح معانى الآثار (١/٢٩١) والدارقطنى في السنن (٢/٢٢) رقم (١) والحاكم (١/٣٠٣)

١٣- وَعَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «إِنَّ اللهَ وِتْرٌ يُحِبُّ الْوِتْرَ، فَأَوْتِرُوْا يَا أَهْلَ الْقُرْآنِ!». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُوْدَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: او علي ﷺ فرمائى: رسول الله ﷺ فرمايلى دى: «الله وتر (تاك) دې، د تاك سره مينه كوى، نو اې أهل قرآن! وتر اُوكړئ!». (ترمذى، ابوداود، نسائى)

تشريح: ان الله وتر: ددې نه بعض علماء استدلال كوى چه يو ركعت وتر افضل دې ځكه چه الله هم يو وتر دې او يو ركعت هم يو دې لهذا دا افضل شو. ليكن دا اِستدلال صحيح نهٔ دې ځكه چه د نبى ﷺ نه درې ركعاته زيات ثابت دى او يو ركعت كله كله. او دريو ته هم وتر وائى او پنځو ته هم، خو الله رب العالمين ته د خپلو نومونو مشابهت خوښ دې، او په ټولو كښ مناسبت شته.

يَا أَهْلَ الْقُرْآنِ!: ددې نه يا مؤمنان مراد دى. هر مسلمان به وتر كوى.

٢- يا ددے نه مراد قاريان د قرآن دي چه دوي دپاره وتر كول ډير مهم دي، عام مسلمانان به ئے هم كوي ليكن د قرآن قاريانو سره ددے مناسبت زيات دے ځكه چه دوي له پكار دي چه د شپے راپاڅي او د الله په كتاب باندے خوش آوازي اُوكړي او بيا وتر اُوكړي۔
مصنف عبد الرزاق (٤/٣) او ابوداود باب استحباب الوتر) او ابن ماجه كښې يو روايت راځي : د وترو متعلق نبي ﷺ اُوفرمايل : (اَوْتِرُوْا يا اَهْلَ القرآن) نو يو اعرابي اُووئيل : رسول الله ﷺ څه وائي؟ نو نبي ﷺ ورته اُوفرمايل : (ليس لك ولا لاصحابك) (دا ستا او ستا د ملګرو (اعرابو) دپاره نۀ ده ځكه جاهلانو ته ګوره او تهجدو او وترو ته)۔
بيا ددے مطلب دا نۀ دے چه عام خلق به تهجد او وتر نۀ كوي۔ بلكه مطلب دا چه عوام به هم ددے اهتمام كوي ليكن كه هغوي اُونكړو نو د قاريانو په شان ګناهګار نۀ دي او هر چه قاريان دي نو د هغوي د شان مناسب دا ده چه دا به ضرور كوي۔ بله دا چه هغۀ روايت كښې د وترو نه مراد تهجد دي او تهجد اعراب نشي كولے ځكه هغوي ته قرآن ياد نۀ وي۔
درجة الحديث : اسناده حسن : اخرجه احمد (١١٠/١) وابوداود (١٤١٦) والترمذى (٤٥٣) والنسائى (٢٢٨/٣) وابن ماجه (١١٦٩) وابن خزيمة (١٠٦٦) وحسن اسناده الالبانى فى صحيح الجامع الصغير (١٨٣١) ورجاله ثقات غيرابى اسحاق السبيعى وهو مختلط وسفيان الثورى ممن سمع منه بعد الاختلاط۔

١٤- وَعَنْ خَارِجَةَ بْنِ حُذَافَةَ، قَالَ: خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ وَقَالَ: « إِنَّ اللهَ أَمَدَّكُمْ بِصَلَاةٍ هِيَ خَيْرٌ لَكُمْ مِنْ حُمْرِ النَّعَمِ: الْوِتْرُ جَعَلَهُ اللهُ لَكُمْ فِيمَا بَيْنَ صَلَاةِ الْعِشَاءِ إِلَى أَنْ يَطْلُعَ الْفَجْرُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او خارجه بن حذافه رضی الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ په مونږ باندے (د كور نه) را بهر شو ويے فرمايل : «الله تاسو ته داسے مونځ دركړے دے (يعني د پنځو مونځونو نه علاوه مونځ دے) چه هغۀ ستاسو دپاره د سرو اُوښانو نه بهتر دے، او هغۀ وتر مونځ دے، دا الله تعالىٰ ستاسو دپاره د ماسخوتن مانځه نه تر صبا راختلو پورے مقرر كړيدے»۔
(ترمذیؒ، ابوداودؒ)

تعارف د خارجه بن حذافة : خارجه بن حذافه بن غانم القرشي العدوي، صحابي دے په فتح د مكه كښې په اسلام مشرف شو او د قريشو يو شاهسوار وو، بعض وائي : دا د زر شاهسوارانو برابر وو۔ يو موقعه كښې عمرو بن عاص د عمر فاروق نه د درے زره

شاهسوارانو مدد طلب كړو نو عمرورته دا خارجه او زبير بن العوام او مقداد بن الاسود اُوليږل- چه دا د درے زړو په ځائے كار وركوى- خارجه په مصر كښې اُوسيدو او هلته د عمرو بن العاص دپاره قاضى مقرر شو- بيا د يو خارجى د لاسه قتل شو كوم درے خارجيانو چه د علىؓ او مغاويهؓ او عمرو بن العاصؓ د قتل اراده كړے وه- نو يو خارجى د عمرو بن العاصؓ د قتل په اراده راروان شو نو دا خارجه بن حذافه ئے شهيد كړو پدے ګمان چه دا عمرو بن العاصؓ دے- وجه دا وه چه په دغه ورځ باندے عمرو بن العاصؓ خارجهؓ له د صبا په مانځه باندے مقرر كړے وو، كله چه خارجى قتل اُوكړو نو اُونيولے شو او عمروؓ ته راوستے شو نو وے وئيل : (اردت عَمْراً واراد الله خارجة) (زما د عمرو د قتل اراده وه او الله د خارجه اراده كړے وه) نو دا بيا مَتَلْ شو- او دا قتل په هغه شپه اُوشو په كومه شپه چه على بن ابى طالب ﷺ قتل شو- سنه (٤٠ هـ)

تشريح : حُمُرِ النَّعَمِ: حُمُر جمع د اَحْمَر ده او نَعَم ګډو بزو او اُوښانو ته وائى- بعض وائى : اُوښانو پورے خاص دے خو دلته ترے اُوښان مراد دى- او دا په اصل كښې يوه نوعه وه د اُوښانو د عمان نه يا د هغے په شان، داسے رنګ كښې وو چه سور والے پكښې وو، او ډير ښائسته شكل والا وو، مزيدار قِوَام والا وو، او دا په ټولو انواعو د اُوښانو كښې ډير ښائسته وو، او هر كله چه مخاطبين په هغه دور كښې د اُوښانو والا وو نو هغوى ته ئے هغه څه ذكر كړل چه هغوى ته ډير محبوب وو، او دا ئے ذكر كړل دپاره د ترغيب وركولو هغوى ته ځكه چه هغوى ته دا ډير عزتمند مال وو، اُوس به ددے په ځائے ته داسے خطاب اُوكړے چه د ښائسته بنګلو، او ښائسته ګاړو نه ډير ښائسته دى، ليكن بيا هم د نبوى تعبير نه څوك ښۀ تعبير نشى كولے، اګر كه هر څومره د ترقى زمانه راشى او اګر كه خلق فضاء ته هم اُورسيږى، وجه دا ده چه اُوس هم فكر اُوكړه اُوښان نن صبا هم د زينت او جمال شے دے، فائدے پكښې دى، سترګے پرے يخيږى او ددے نه علاوه څيزونو نه كله انسان يَريږى، خطرات ورسره وى، او اُوښان چه كله ته په يوه صحراء كښې اُووينے چه ښائسته مزل كوى نو نظر خوشحاله كوى او سينه كولاوه وى-

فِيمَا بَيْنَ صَلَاةِ الْعِشَاءِ : پدے كښې ئے د وترو وخت اُوخودلو چه د ماسخوتن مانځه نه پس تر صبا راختلو پورے- او دليل دے چه وتر واجب نۀ دى ځكه خلقو ته اختيار وركړو چه څوك حمر النعم اراده لرى نو هغۀ دے ئے اُوكړى او كه څوك ئے اراده نۀ لرى نو نۀ دے كوى نو كه چا پريخودل د فرضو په شان به ګناهګار نۀ وى بلكه سنت مؤكد درجه كښې به ماخوذ وى ځكه نور احاديثو نه ئے تاكيد معلوميږى، او امدكم نه هم معلوميږى ځكه

(امد) د مدد نه دے او مدد زیاتی شے وی۔ یعنی الله ستاسو مدد کرے دے په دے مونځ سره۔

درجة الحديث: اسناده حسن : اخرجه ابوداود (١٤١٨) والترمذی (٤٥٢) وابن ماجه (١١٦٨) والدارقطنی (٣٠/٢) رقم (١) والحاكم (٣٠٦/١) وقال صحيح الاسناد والبيهقی (٤٦٩/٢) كلهم من طريق عبد الله بن راشد الزوفی ابی الضحاك عن عبد الله بن ابی مرة عن خارجة بن حذافة وعبد الله بن راشد قال فی التقريب : مستور واشار البخاری الی ان رواية ابن ابی مرة عن خارجة منقطعة وقال ابن حبان : اسناد منقطع ومتن باطل انتهیٰ لكن الحديث له شواهد عامتها ضعيفة ومنها حديث ابی سعيد اخرجه الطبرانی فی مسند الشاميين قال الحافظ فی الدراية (١١٢) باسناد حسن (المرعلة ٢٧٩/٤) وقال الالبانی فی الارواء (٤٢٣) والصحيحة (١٠٨) وغيرهما (صحيح) دون قوله : (خير لكم من حمر النعم)

---

۱۵ – وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «مَنْ نَامَ عَنْ وِتْرِهٖ فَلْيُصَلِّ إِذَا أَصْبَحَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ مُرْسَلًا.

ترجمه : او زید بن اسلم ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ فرمایلی دی: څوك چه د وترو نه اُودهٔ پاتے شو نو هغهٔ دے دا اُوکړی کله چه صبا کړی »۔ ترمذیؒ دا روایت په طریقه د ارسال نقل کړیدے۔

تشریح : زید بن اسلم د عمر فاروق آزاد کړده غلام دے او مشهور ثقه تابعی دے۔

دا حدیث دلیل دے چه څوك د وترو نه اُودهٔ پاتے شو یا ترے هیر شو نو کله چه رابیدار شو یا ورته یاد شو نو په همغه وخت به ئے کوی او ددهٔ حکم په شان د هغه چا دے چه د فرضو نه اُودهٔ پاتے شوے وی یا ترے هیر شوی وی۔

آیا د وترو قضائی شته ؟

۲ – دارنګه دا حدیث دلیل دے چه د وترو قضائی هم شته۔

۱ – امام مالك وائی : د صبا د مانځه پورے قضائی شته او د مانځه نه بعد ئے قضاء نشته۔ مشروع نهٔ ده۔

او امام بیهقیؒ د امام مالك نه داسے نقل کړیدی چه بعد الفجر به هغهٔ څوك وتر کوی چه د وترو نه اُودهٔ پاتے شوے وی او یو تن له دا جائز نهٔ دی چه قصداً دا کار اُوکړی تردے چه وتر د صبا نه روستو کوی (۲۸۰/۲)

۲ – امام شافعیؒ او احمدؒ وائی : قضاء د وترو سنت عمل دے او لیلًا او نهاراً علی کل حال

قضائی راوړل مستحب دی او واجب نهٔ دی۔ او هـذا راجح قول دے۔
۳- امام ابو حنیفهؒ او صاحبینؒ وائی : قضائی راوړل واجب دی۔ (المرعاة ٤/۲۷۹)
٤- ابن حزم رحمه الله فرمائی : که چا قصداً پریخودل نو قضاء نشی راوړے بلکه سخت گنا هګار دے او توبه به اُویاسی او قضائی پرے نشته او که د چا نه هیر شو یا اُودهٔ پاتے شو نو بیا به ئے قضائی راوړی او دا قول شوکانیؒ راجح کړیدے د وجه د ظاهر دد ے حدیث نه ځکه دلته ئے نسیان اُو نوم ذکر کړیدے۔ نه قصد (او هـذا خبره حقه ده) او ابن حزمؒ ورله دلیل دا وئیلے دے چه دا په عموم دد ے حدیث : (من نام عن صلاة او نسیها فلیصلها اذا ذکرها) کښې داخل دے ځکه چه وتر هم صلاة دے۔
۲-**دویم دلیل** ابو سعید خدریؓ مرفوعاً روایت نقل کوی : (من نام عن وتره او نسیه فلیصله اذا اصبح او ذکره) (ابوداود ۱/۲۱۰) والدارقطنی ۲/۲۲) وصححه العراقی والعظیم آبادی والحاکم (۱/۳۰۲) کما فی الارواء (۲/۱۵۳)
۳- **دلیل** : ابو سعید خدریؓ فرمائی : نبی ﷺ ته اُووئیلے شو : (ان احدنا یصبح ولم یوتر قال : فلیوتر اذا اصبح) (یو تن زمونږ صبا کړی او وترئے نهٔ وی کړی (نو څهٔ به کوی ؟) نبی ﷺ اُوفرمایل : کله چه صبا کړی وتر دے اُوکړی) (الدارقطنی ۲/۲۷)
٤- ابن مسعود، ابن عباس، علی بن ابی طالب او عائشه رضی الله عنهم به د طلوع الفجر نه روستو وتر اُوکړو۔ البیهقی (۲/٤۷۹- ٤۸۰)
۵- ابو هریرهؓ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی : (اذا اصبح احدکم ولم یوتر فلیوتر) (حاکم ۱/۳۰۳) بیهقی (۲/٤۷۹) وسنده حسن) (کله چه یو تن ستاسو صبا کړی او وتر ئے نهٔ وی کړی نو وتر دے اُوکړی)
٦- **دلیل** : ابن عمر فرمائی : نبی ﷺ (یوه ورځ) صبا کړو نو (د صبا نه روستو ئے) وتر اُوکړل) (بیهقی ۲/٤۷۹) وسنده حسن)
او نور دلائل په فتاوی الدین الخالص (۵/۲۸۳) کښې اُوګوره۔
علامه شوکانیؒ فرمائی : وتر چه کله فوت شی نو دد ے په قضاء باندے قول کړیدے د صحابه کرامؓ نه علی بن ابی طالب، سعد بن ابی وقاص، عبد الله بن مسعود، عبد الله بن عمر، عبادة بن الصامت، عامر بن ربیعة، ابو الدرداء، معاذ بن جبل، فضالة بن عبید او ابن عباس – رضی الله عنهم– لکه عراقی وئیلی دی۔ او د تابعینو نه عمرو بن شرحبیل، عبیدة السلمانی، وابراهیم النخعی، ومحمد بن منتشر، وابو العالیه، وحماد بن ابی سلیمان۔ او د امامانو نه : سفیان الثوری، ابو حنیفه، اَوزاعی، مالك، شافعی، احمد،

اسحاق، ابوايوب سليمان بن داود الهاشمي او ابوخيثمة دے چه د دوی نه محمد بن نصر المروزیؒ نقل کړیدی۔ (نيل الاوطار ۵۸/۳) عون المعبود (۲۱۷/٤ - دار الكتب بيروت)

نو حقه دا ده چه که چا قصداً پریخودل نو سخت گناهګار دے توبه پرے لازمه ده او قضاء پرے نشته۔ او که نسیاناً یا د خوب په وجه ترے فوت شو نو قضاء به راوړی۔ او کوم علماء چه وائی قضاء به نهٔ راوړی نو هغوی پدے باب کښې بعض احادیثو ته نظر کړیدے او ټول احادیث ئے نهٔ دی راجمع کړی۔ او دا قضاء به په هغهٔ وخت کښې راوړی چه کوم وخت ورته راياد شو يا راپاڅيدو او دا په مکروه وخت کښې هم کیږی۔

درجة الحديث : اسناده حسن : اخرجه احمد (۳۱/۳) وابوداود (۱٤۳۱) والترمذي (٤٦۵) من رواية ابي سعيد الخدري واخرجه ايضاً مرسلاً من رواية زيد بن اسلم (٤٦٦) وقال هذا اصح من الحديث الاول

۱۶- وَعَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ جُرَيْجٍ، قَالَ: سَأَلْنَا عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا: بِأَيِّ شَيْءٍ كَانَ يُوتِرُ رَسُولُ اللهِ ﷺ قَالَتْ: كَانَ يَقْرَأُ فِي الْأُولٰى بِ ﴿سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلٰى﴾ وَفِي الثَّانِيَةِ بِ ﴿قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ﴾ وَفِي الثَّالِثَةِ بِ ﴿قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ﴾ وَالْمُعَوِّذَتَيْنِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُودَاوُدَ. ۱۷- وَرَوَاهُ النَّسَائِيُّ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبْزٰى ۱۸- وَرَوَاهُ أَحْمَدُ عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ. ۱۹- وَالدَّارِمِيُّ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَلَمْ يَذْكُرُوا «وَالْمُعَوِّذَتَيْنِ».

ترجمه : او عبد العزيز بن جريج رحمه الله فرمائی : مونږ د عائشهؓ نه تپوس اُوکړو، رسول الله ﷺ به په کومو سورتونو وتر کول ؟ هغے اُوفرمایل :"رسول الله ﷺ به په اول رکعت کښې (سبح اسم ربك الاعلیٰ) او په دویم رکعت کښې (قل يا ايها الكافرون) او په دریم رکعت کښې (قل هو الله احد) او معوذتين (آخری دوه سورتونه) لوستل"۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ) او نسائیؒ دا روایت د عبد الرحمن بن ابزیٰؓ نه او امام احمدؒ د اُبیّ بن کعبؓ نه او دارمیؒ د ابن عباسؓ نه نقل کړیدے او دوی پکښې معوذتين لوستل نهٔ دی ذکر کړی۔

عبد العزيز بن جريج دا تابعی دے لین پکښې دے۔ عجلیؒ وائی د عائشهؓ نه ئے سماع نهٔ ده ثابته او راوی ددے حديث (خصيف) خطاء شويدے چه ددهٔ په سماع ئے تصريح کړيده د عائشهؓ نه۔ (تقريب)

تشريح : دا حديث هم ظاهر دے دليل دے چه نبی عليه السلام درے رکعاته کړيدی۔ ليکن دوه قعدے په کښې نشته چه په يو سلام سره وی۔

٢- تخصيص د قراءت په وترو كښې شته او احناف د تخصيص قائل نهٔ دي۔
٣- دويم ركعت كله نا كله په اول ركعت اُوګدول جواز لري۔ لكه دلته آخرى درے سورتونو كښې تطويل قليل دے د قل يا ايها الكافرون په نسبت۔
او په دريم ركعت كښې كله صرف قل هو الله احد وئيل هم راغلي دي۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف وبسند آخر صحيح : اخرجه ابوداود (١٤٢٤) والترمذى (٤٦٣) وابن ماجه (١١٧٣) لكن رواه الحاكم (٣٠٥/١) من طريق اخرى صحيحة وقال : صحيح على شرط الشيخين ووافقه الذهبى ورواية النسائى (٢٤٤/٣، ٢٤٧) اسنادها صحيح (صحيح النسائى (١٦٣٧)۔

٢٠- وَعَنِ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: عَلَّمَنِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ كَلِمَاتٍ أَقُوْلُهُنَّ فِيْ قُنُوْتِ الْوِتْرِ: «اَللّٰهُمَّ اهْدِنِيْ فِيْمَنْ هَدَيْتَ، وَعَافِنِيْ فِيْمَنْ عَافَيْتَ، وَتَوَلَّنِيْ فِيْمَنْ تَوَلَّيْتَ، وَبَارِكْ لِيْ فِيْمَا أَعْطَيْتَ، وَقِنِيْ شَرَّ مَا قَضَيْتَ، فَإِنَّكَ تَقْضِيْ وَلَايُقْضٰى عَلَيْكَ، إِنَّهٗ لَايَذِلُّ مَنْ وَّالَيْتَ، تَبَارَكْتَ رَبَّنَا وَتَعَالَيْتَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَاَبُوْدَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِيُّ۔

ترجمه: او حسن بن على رضى الله عنهما فرمائي : ما ته رسول الله ﷺ يو څو كلمات راخودلي دي چه هغهٔ زهٔ په قنوت الوتر كښې اُووايم : (اللهم اهدنى) اے الله ! ما ته هدايت اُوكړهٔ د هغهٔ چا سره (انبياء او اولياؤ سره) كوم ته چه تا هدايت كړے دے او(د دنيا او آخرت د مصيبتونو نه) ما بچ اُوساته د هغهٔ خلقو سره چه تا بچ ساتلي دي، او ما سره محبت اُوكړه د هغهٔ خلقو سره چه تا ورسره محبت كړے دے، او تا چه ما له څهٔ راكړي دي (يعنى عمر، مال، علم او نيك اعمال) په هغے كښې بركت واچوه، او تهٔ چه د كومو څيزونو فيصله كوے د هغے د شر (او ضرر) نه مے اُوساته، ځكه تهٔ (چه څهٔ غواړے) فيصله كوے، او ستا په خلاف فيصلے نهٔ شي كيدے، (يعنى تهٔ حاكم مطلق ئے او محكوم نهٔ ئے)۔ تهٔ چه چا سره دوستي اُوكړے هغهٔ نهٔ ذليله كيږي، اے ربه ! تهٔ بركت والا ئے او تهٔ اُوچت ئے۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ، نسائیؒ، ابن ماجهؒ، دارمیؒ)

تشريح: ددے الفاظو سره په آخر كښې (ولا يعز من عاديت) په صحيح سند ثابت دي كما قال الحافظ فى التخيص) نو هغهٔ هم وئيل پكار دي۔ په الفاظو د قنوت الوتر كښې دا الفاظ وئيل افضل دي ۔وجه دا ده چه روايت ئے صحيح دے او د نبي ﷺ نه صحيح ثابت دے او هر چه اللهم انا نستعينك الخ نو هغه اګركه په بعض صحيح رواياتو كښې راغلي ده

لیکن بعض وائی چه دغه دعاء په قنوت نازله کښې راغلې ده نۀ په قنوت الوتر کښې لکه ددې بحث به لګ روستو باب القنوت کښې تفصيلًا راشي۔

وترو کښې به کوم قنوت وائي ؟

بيا دا مسئله رامخکښې کړه چه وترو کښې به کوم قنوت وائي ؟ ١ – احناف وائي : سورتي ابيّ بن کعب به وائي يعنی سورة الخلع وسورة الحفد۔ يعنی اللهم انا نستعينك الخ ديته سُوْرَتَيْ ابی بن کعب ځکه وائي چه د هغه په مصحف کښې دا دوه سورتونه وو او د هريو سره بسم الله وه يعنی بسم الله الرحمن الرحيم (اللهم انا نستعينك ونستغفرك ونثنی عليك الخير (وفی رواية الطحاوی) ونشكرك (وفی رواية البيهقی) ونخضع لك) ونخلع ونترك من يفجرك۔ بسم الله الرحمن الرحيم اللهم اياك نعبد ولك نصلی ونسجد واليك نسعی ونحفد ونرجو رحمتك ونخشی عذابك ان عذاب بالكفار ملحق (طحاوی ١٧٧/١) والبيهقی (٢١٠/٢) وابن ابی شيبة (٣١٤/٢) واسناده صحيح الارواء (١٧/٢)

او په بل روايت د ابن ابی شيبه کښې ورسره دا هم زيات دی : (ونثنی عليك الخير كله ونؤمن بك ونتوكل عليك)

شيخ البانیؒ وائي : دا روايات ټول په قنوت الفجر کښې راغلي دی۔ او په قنوت الوتر کښې ما ندي ليدلي۔ ليکن صحيح دا ده چه دا د صحابه کرامؓ نه په قنوت الوتر کښې هم راغلي دی لکه څنګه چه په قنوت الفجر کښې ثابت دی۔

حسن بصریؒ فرمائي : (القنوت فی الوتر وفی الصبح اللهم انا نستعينك ونستغفرك الخ (عبد الرزاق ١١٦/٣) ليکن ددې سره په دې حديث کښې نور الفاظ هم زيات دی چه هغه احناف نۀ وائي لکه (اللهم عذب الكفرة والمشركين والق فی قلوبهم الرعب وخالف بين كلمتهم وانزل عليهم رجزك وعذابك، اللهم عذب كفرة اهل الكتاب الذين يصدون عن سبيلك الی آخرها۔

نو ددې نه معلوميږي چه دا قنوت نازله دی ليکن بعض صحابه کرامؓ په قنوت الوتر کښې هم وئيلي دی۔ اګرکه دا قنوت په وترو کښې مرفوعاً ندې ثابت۔ مګر په بعض آثارو د صحابه کرام او تابعينو کښې ثابت دې۔

لکه ابن ابی شيبه (٩٥/٢) کښې دی : ابو عبد الرحمنؒ فرمائي : عبد الله بن مسعودؓ به مونږ ته دا دعاء په قنوت کښې راخودله ليکن ددې په سند کښې مقال دې عطاء بن السائب ثقه دې اختلط بآخره۔ او عبد الرزاق ذکر کړيدی چه عبيد بن عميرؒ ته رسيدلي دی چه دا

دوه سورتونه په مصحف د ابن مسعودؓ کښې د قرآن نه حساب وو او ابن مسعودؓ به هره شپه په وترو کښې دا لوستل۔ مصنف عبد الرزاق (۳/ ۱۱۱، ۱۱٤)

۲- نور علماء کوم چه په قنوت قائل دی فرمائی : په قنوت الوتر کښې به (اللهم اهدنی فیمن هدیت ......) دعاء وائی ځکه دا روایت صحیح مرفوع ثابت دے۔ رسول الله ﷺ حسن بن علیؓ ته ددے تعلیم ورکړیدے۔ او همدا خبره صحیح ده۔

د اللهم اهدنی فیمن هدیت (دعاء) نه روستو درود وئیل شته؟

مسئله : آیا ددے دعاء نه روستو درود په نبی ﷺ زیاتول شته او که نهٔ؟ نو صحیح دا ده چه کوم روایاتو کښې درود راغلے دے نو هغه په قنوت نازله کښې دی او قنوت الوتر کښې زیادت مناسب نهٔ دے۔ او په دے حدیث د الحسن بن علی کښې چه زیادت د (وصلی الله علی النبی) په روایت د نسائی (۱/ ۲۵۲) کښې راغلے دے نو د هغے سند ضعیف دے۔ او اګرکه امام نوویؒ په المجموع (۳/ ٤۹۹) کښې وائی : چه د هغے سند صحیح یا حسن دے لیکن حافظ ابن حجر په التلخیص الحبیر ص (۹٤) کښې د هغهٔ تعقیب کړیدے او دائے وئیلی دی چه د نوویؒ دا خبره صحیح نهٔ ده ځکه چه دا سند منقطع دے ځکه چه عبد الله بن علی - چه دا ابن الحسین بن علی دے- د حسن بن علی سره ئے ملاقات نهٔ دے شوے۔

پدے وجه عز بن عبد السلام په خپله فتاوی (۱/ ٦٦) کښې فرمائی : ولم تصح عن رسول الله ﷺ الصلاة فی القنوت ولا ینبغی ان یزاد علی صلاة رسول الله ﷺ شیء وهذا هو الحق الذی یشهد به کل من علم کمال الشریعة وتمامها ......)

(او په قنوت کښې په رسول الله ﷺ باندے درود وئیل نهٔ دی ثابت او مناسب نهٔ دی چه د رسول الله ﷺ په مانځه باندے د یو شی (د ځان نه) اضافه اُوکړے شی، او همدا هغهٔ حق دے چه هر هغهٔ څوك پدے باندے ګواهی کوی چه د شریعت کمال او تمامیت ئے پیژندلے وی) (ارواء الغلیل (۲/ ۱۷٦) رقم (٤۳۱)

مګر شیخ البانیؒ فرمائی : چه زهٔ په بعض آثارو خبر شوم چه د صحابه کرامؓ نه د درود زیادت پدے دعاء کښې ثابت دے نو زهٔ د هغے د وینا په جواز باندے قائل شوم۔ لکه دا خبره ما په تلخیص د صفة الصلاة کښې هم ذکر کړیده۔ انتهیٰ۔ لکه ابوحلیمه معاذ الانصاریؒ به د عمر فاروق په دور خلافت کښې خلقو ته امامتی کوله او په آخر د قنوت کښې به ئے صلاة علی النبی ﷺ وئیلو۔ رواه اسماعیل بن اسحاق الجهضمی القاضی المالکی فی (فضل صلاة النبی) ص (۸۷) رقم (۱۰۷) بتحقیق الالبانی وسنده صحیح) انظر صفة الصلاة

للالباني (١٤٢) وقيام الليل لابن نصر (٣٢٣) وزاد المعاد (٣٢٤/١) جلاء الافهام (٣٦١) لهذا كه چا درود زيات كرونو ان شاء الله چه جائز به وى څكه سلفو پدے باندے عمل كريدے۔ او ابى بن كعبؓ به هم پدے دعاء كښې درود زياتولو لكه ابن خزيمة رقم (١٠٩٧) كښې راغلى دى (البانیؒ) ليكن هغه په باره د قنوت نازله كښې دى لكه په هغے باندے حديث د ابن خزيمة (١٥٦/٢) دلالت كوى۔ وانظر فتاوى الدين الخالص (٥٩٤/٥)

وَتَوَلَّنِي : دا امر دے د تولى نه په معنىٰ د محبت كولو سره۔ يا د ولايت نه دے په معنىٰ د تصرف او واكدارئ سره۔ معنى د دواړو دا شوه چه د نورو نيكانو سره مينه كوے نو ما هم په هغے كښې حساب كړه ما سره هم مينه اُوكړه۔ يا زما د كارونو واكدارى او اصلاح اُوكړه د هغهٔ چا سره چه تهٔ ئے واكدارى او اصلاح د كارونو كوے۔

شَرَّ مَا قَضَيْتَ : يعنى د ضرر او شر د هغهٔ څه نه مے اُوساته چه تا ما له مقرر كړے وى۔ يا ما مصدرى ده يعنى قنى شر قضاء ك (ستا د بدلے فيصلے نه مے اُوساته) چه د گناه په وجه راباندے بده فيصله اُوشى۔

فَإِنَّكَ : په بل روايت كښې بغير د فاء نه هم راغلے دے۔

وَلَا يُقْضٰى عَلَيْكَ : مجهول صيغه ده۔ يعنى فيصلے نشى كيدے په تا باندے يعنى د هيچا حكم په تا باندے نهٔ واقع كيږى، دارنگه په تا باندے نهٔ واجبيږى هيڅ شے مگر هغهٔ چه تا څان باندے د وعدے مطابق واجب كړى وى۔

إِنَّهُ لَا يَذِلُّ مَنْ وَّالَيْتَ : يعنى تـه چه چا سره دوستى كوے نو هغهٔ نهٔ ذليله كيږى په اعتبار د آخرت اگركه په دنيا كښې پرے د كفارو د طرفنه امتحانات راشى نو همدا د الله په نيز عزت دے۔

درجة الحديث: اسناده صحيح : اخرجه احمد (١٩٩/١) والدارمى (٣٧٣/١) وابوداود (١٤٢٥) والترمذى (٤٦٤) والنسائى (٢٤٨/٣) وابن ماجه (١١٧٨) والحاكم فى المستدرك (١٧٢/٣)

٢١- وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِذَا سَلَّمَ فِي الْوِتْرِ قَالَ: «سُبْحَانَ الْمَلِكِ الْقُدُّوْسِ». رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَزَادَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ يُطِيْلُ فِي آخِرِهِنَّ.

٢٢- وَفِي رِوَايَةٍ لِلنَّسَائِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبْزٰى، عَنْ أَبِيْهِ قَالَ: كَانَ يَقُوْلُ إِذَا سَلَّمَ: «سُبْحَانَ الْمَلِكِ الْقُدُّوْسِ» ثَلَاثًا وَيَرْفَعُ صَوْتَهُ بِالثَّالِثَةِ.

ترجمه : او ابى بن كعب ؓ فرمائى: رسول الله ﷺ به چه كله د وترو نه سلام

اُوګرزولو، نو (داسې به ئې) فرمايل: «سبحان الملك القدوس» (پاکي ده هغهٔ ذات لره چه پاك دے)۔ (ابوداودؒ، نسائيؒ) نسائيؒ دا الفاظ هم نقل کړی دی چه: نبی ﷺ به دا (تسبيح درے ځل وئيل، او په دريم ځل به ئې آواز اُوږدولو"۔ او نسائيؒ يو روايت د عبد الرحمن بن ابزیٰ نه نقل کړيدے چه هغهٔ د خپل والد (ابزیٰ) نه نقل کوی چه "نبی ﷺ به کله سلام اُوګرزولو نو درے ځل به ئې (سبحان الملك القدوس) وئيل او په دريم ځل به ئې آواز پورته کړو"۔

تشريح: دا ذکر به په دريم کرت کښې اُوګدوی او دومره جهر به کوی چه خوا کښې څوك وی هغه ئې هم واوری۔ په روايت د دارقطني او سنن البيهقي کښې ورسره دا الفاظ زيات دی چه آخر کښې به ئې په جهر سره داسې وئيل: (سبحان الملك القدوس، رب الملائكة والروح) وسنده صحيح)

اَلْقُدُّوْسِ: د مبالغې صيغه ده (الطاهر المنزه عن العيوب والنقائص) (هغهٔ ذات چه د هر قسمه عيبونو او نقصاناتو نه پاك وی)

بيا دلته مشکوة کښې عبد الرحمن بن اَبزیٰ ذکر دے او دا خطائي ده ځکه چه دا روايت د ابن عبد الرحمن بن ابزیٰ نه نقل دے لکه چه دا په نسائي او مسند احمد کښې همدغه شان دے۔ ځکه چه د ابزیٰ نه خو صرف يو حديث نقل دے او هغه دا نهٔ دے۔ او عبد الرحمن او ابزیٰ دواړه صحابه دی۔

درجة الحديث: اسناده صحيح: اخرجه احمد (۱۲۳/۵) وابوداود (۱۴۳۰) والنسائي (۲۳۵/۳)

۲۳- وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: اِنَّ النَّبِيَّ كَانَ يَقُوْلُ فِيْ آخِرِ وِتْرِهٖ: «اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ، وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوْبَتِكَ، وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْكَ، لَا اُحْصِيْ ثَنَاءً عَلَيْكَ، اَنْتَ كَمَا اَثْنَيْتَ عَلٰى نَفْسِكَ ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه: او علی ﷛ فرمائي: نبی ﷺ به د وترو په آخر کښې داسې وئيل: « اللهم انی اعوذ ......) (اے الله! زهٔ ستا په رضا سره ستا د غصے نه پناه غواړم او ستا د عافيت په ذريعه ستا د عذاب نه، او زهٔ پناه غواړم ستا په ذات سره ستا د آثارو د صفات نه (يعنی غضب او عذاب وغيره)، زهٔ ستا داسې صفتونه پوره نهٔ شم راګيرولے لکه څنګه چه تا د خپل ځان صفات کړی دی»۔ (ابوداودؒ، ترمذيؒ، نسائيؒ او ابن ماجهؒ)

تشريح : دا دعـاء مخکښې تيره شويده چه رسول الله ﷺ په سجده کښې وئيلے ده۔ دلته وائي پـه آخـر د وتـرو کـښې ئے لوستلے ده ۔ لهذا دواړو کښې ئے لوستل ثابت شو۔ بيا د آخر الوتر نه څه مراد دے؟ ۱- بعض وائي : د آخر الوتر نه مراد قنوت دے، يا قعده آخره ده۔ لکه دا خبره علامه سنديؒ په حاشيه د نسائي کښې ذکر کړيده۔ ليکن دا خبره ضعيفه ده ځکه د نبي ﷺ نـه داسے الفاظ په قنوت الوتر کښې ندی ثابت۔ ۲- بلکه صحيح دا ده چه دا دعاء ده پس د سلام د وترو نه لکه دا خبره په بل روايت د نسائي کښې راغلے ده : (كان يقول ذلك اذا فرغ من صلاته الخ) نو دا روايت تفسير شو د دغه حديث الباب دپاره لکه دا خبره ملاعلي الـقـاريؒ، او ابـن القيمؒ په زاد المعاد (۸۹/۱) کښې او شوکانيؒ په تحفة الذاكرين (۱۲۹) کښې ذکر کړيده۔ نو دا د وترو په قنوت کښې داخله نشوه۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه احمد (۹۶/۱) وابوداود (۱۴۲۷) والترمذي (۳۵۶۶) والنسائي (۲۴۸/۳-۲۴۹) وابن ماجه (۱۱۷۹)

الفصل الثالث

۲۴- عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قِيلَ لَهُ : هَلْ لَكَ فِي اَمِيرِ الْمُؤْمِنِينَ مُعَاوِيَةَ مَا اَوْتَرَ اِلَّابِوَاحِدَةٍ ؟ قَالَ:أَصَابَ، اِنَّهُ فَقِيهٌ. وَفِي رِوَايَةٍ: قَالَ ابْنُ اَبِي مُلَيْكَةَ: اَوْتَرَمُعَاوِيَةُ بَعْدَ الْعِشَاءِ بِرَكْعَةٍ، وَعِنْدَهُ مَوْلًى لِابْنِ عَبَّاسٍ، فَاَتَى ابْنَ عَبَّاسٍ فَأَخْبَرَهُ. فَقَالَ:دَعْهُ فَاِنَّهُ قَدْ صَحِبَ النَّبِيَّ ﷺ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : ابن عباس ﷛ ته اُووئيل شو : د امير المؤمنين معاويهؓ په باره کښې څه وائے چه هغهٔ وتريو رکعت کوی؟ نو هغهٔ اُوفرمايل : « هغهٔ حق کار کړيدے ځکه هغهٔ فقيه (په دين پـوهـه) دے۔ او پـه يـو بـل روايت کښې ابـن ابـی مـليـکهؒ فرمائی: چه معاويه ﷛ د مـاسـخـوتـن مـانـځـه نه روستو يو رکعت وتر اُوکړو، او د هغهٔ په خوا کښې د ابن عباسؓ آزاد کـړده غـلام (کـريب) هم موجود وو(کله چه هغه دا اُوليدل) نو ابن عباسؓ ته راغلو او دا خبر ئے ورته ورکړو (چه معاويهؓ يو رکعت وتر اُوکړو) نو ابن عباسؓ اُوفرمايل :« هغهٔ پريدهٔ (د هغهٔ په بـاره کـښې زهٔ هـيـڅ نـهٔ وايم) هغهٔ د رسول الله ﷺ سره ملګرتيا کړيده (کيدے شی چه د هغهٔ عمل ئے داسے ليدلے وی) » (بخاريؒ)۔

تشريح : هَلْ لَكَ : يـعـنـی (هل لك جوابٌ او اِفْتَاءٌ) د هـغـه پـه بـاره کښې څه جواب يا فتوی ورکولے شے۔ او ددے متعلق غالباً رغبت وی۔ (هـل لك رغبة فی معاوية وهو مرتكب هذا المنكر) يـعـنـی ستـا د مـعـاويـه په باره کښې څهٔ رغبت شته چه د هغهٔ په باره کښې څه

اُوواتے ځکه چه هغهٔ خو دا منکر کار کوی) نو استفهام انکاری دے۔(طیبیؒ)
دا حدیث صریح دلیل دے چه یو رکعت وتر مستقلاً سنت طریقه ده او دا فتویٰ د امیر المومنین معاویهؓ او د ابن عباسؓ او باقی موجود صحابه کرامو ده۔
او ظاهر دا ده چه دا یو رکعت مستقلاً شویدے مخکښ ئے ترے دوه رکعاته نهٔ دی کری، ځکه خو کریب تعجب کریدے۔
مولی د ابن عباسؓ نه مراد کریبؒ دے چه هغه ته تر اُوسه پورے دا مسئله نهٔ ده معلومه۔
اِنَّهٗ فَقِيْهٌ : یعنی هغه په دین باندے پوهه دے هغه ته به حدیث معلوم وی ځکه به داسے عمل کوی۔ دغه شان جواب هر عالم له پکار دے چه کله ورته یو اُمِی سرے د بل عالم د یو عمل یا قول خبر ورکړی نو دغه شان جواب سره د امی سړی وسوسه او شر ختم شی۔
ابن ابی ملیکهؒ دده نوم زهیر التیمی القرشی دے مشهور ثقه عالم فقیه تابعی دے، دیرش صحابه کرام ئے موندلی دی او ابن حبان په «ثقات» کښې لیکی : چه اَتیا (۸۰) صحابه کرامؓ ئے لیدلی دی، د عبد الله بن زبیرؓ دپاره په طائف باندے قاضی وو۔ په سنه (۱۱۷) بعض وائی (۱۱۸ هـ) کښې وفات شویدے۔

۲۵- وَعَنْ بُرَيْدَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ: «اَلْوِتْرُ حَقٌّ، فَمَنْ لَمْ يُوْتِرْ فَلَيْسَ مِنَّا. اَلْوِتْرُ حَقٌّ، فَمَنْ لَمْ يُوْتِرْ فَلَيْسَ مِنَّا، اَلْوِتْرُ حَقٌّ، فَمَنْ لَمْ يُوْتِرْ فَلَيْسَ مِنَّا». رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او بریده ﷜ فرمائی: ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمایل ئے : «وتر حق (او ثابت) دی، پس چا چه وتر اُونهٔ کړل نو هغهٔ زمونږ نه نهٔ دے، وتر حق (او ثابت) دی، نو چا چه وتر اُونهٔ کړل نو هغهٔ زمونږ نه نهٔ دے، وتر حق دی، چا چه وتر اُونهٔ کړل هغهٔ زمونږ نه نهٔ دے»۔ (ابوداودؒ)
تشریح : اَلْوِتْرُ حَقٌّ : یعنی وتر په دین کښې ثابت او مؤکد عمل دے۔
او دا مطلب نهٔ دے چه واجب دی ځکه چه واجب خو فرضو ته وائی او دا خو تول علماء فرض نهٔ گنړی او هر چه اصطلاح د احنافو ده نو په هغے باندے به احادیث نشی حمل کولے۔ لهذا وتر سنت مؤکد ضرور دی او فرض نهٔ دی۔
درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه ابوداود (۱۴۱۹) وفيه عبيد الله بن عبد الله العتكى وهو المروزى ضعيف تكلم فيه البخارى والنسائى وابن حبان والعقيلى وقال ابواحمد الحاكم : ليس بالقوى عندهم، وقال البيهقى لايحتج به۔ وللحديث شاهد ضعيف اخرجه

احـمـد (۴۴۳/۳) وهـو منقطع بين معاوية بن قرة وابى هريرة وفيه خليل بن مرة ضعيف منكر الحديث قاله البخاري۔

۲۶ – وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: «مَنْ نَامَ عَنِ الْوِتْرِ أَوْ نَسِيَهُ فَلْيُصَلِّ إِذَا ذَكَرَ أَوْ إِذَا اسْتَيْقَظَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُودَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او ابوسعید خدری ؓ فرمائی: رسول الله ﷺ فرمایلی دی: « څوك چه د وترو نه اُودهٔ پاتے شي یا ترے هیر شي نو هغهٔ دے وتر مونځ اُوکړی کله ئے چه رایاد شی او یا کله چه رابیدار شی»۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ، ابن ماجهؒ)

تشریح : حدیث دلیل دے چه د وترو قضائی ضروری ده او چه هر وخت پرے انسان قادر شو نو کوی به ئے۔ او مسئله مخکښې بیان شوه۔

درجة الحديث: اسناده صحيح : اسناد ابی داود صحیح وهو برقم (۱۴۳۱) صححه العراقی والحاكم والدارقطنی والبیهقی وقد سبق فی المسئلة بخلاف اسناد الترمذی و كذا ابن ماجه فانه ضعيف فی سندهما عبد الرحمن بن زید بن اسلم وهو ضعیف۔

۲۷ – وَعَنْ مَالِكٍ، بَلَغَهُ أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ ابْنَ عُمَرَ عَنِ الْوِتْرِ: أَوَاجِبٌ هُوَ؟ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ: قَدْ أَوْتَرَ رَسُولُ اللهِ ﷺ، وَأَوْتَرَ الْمُسْلِمُونَ. فَجَعَلَ الرَّجُلُ يُرَدِّدُهُ عَلَيْهِ، وَعَبْدُ اللهِ يَقُولُ: أَوْتَرَ رَسُولُ اللهِ ﷺ، وَأَوْتَرَ الْمُسْلِمُونَ. رَوَاهُ فِي الْمُوَطَّأ.

ترجمه : او امام مالك ته رسیدلی دی چه یو سړی د عبد الله بن عمرؓ نه د وترو په باره کښې تپوس اُوکړو: چه آیا دا واجب دی؟ نو عبد الله اُوفرمایل: «رسول الله ﷺ وتر کړی او مسلمانانو (هم) وتر کړی دی»، نو هغهٔ سړی شروع شو چه بار بار ئے دغه تپوس کولو، او عبد الله بن عمرؓ به فرمایل: "رسول الله ﷺ وتر کړی دی او مسلمانانو وتر کړی دی"۔(یعنی ستا ددے سره څهٔ کار چه وتر واجب دی او کهٔ سنت بلکه صرف عمل کوه) (موطأ)

تشریح : د صحابه کرامؓ په دور کښې دا مسئلے نهٔ وے چه وتر واجب دی او که سنت دی او که فرض دی؟ دارنګه مانځه کښې څو فرائض دی او څو سنن او څو مستحبات او څو مکروهات دی؟۔ بلکه د نبی ﷺ عمل ته ئے کتلی دی چه هغه کړیدی او که نهٔ؟۔ کله کله د هغے تپوس شویدے۔ ددے وجه نه عبد الله بن عمرؓ ورته د هغے جواب نهٔ ورکوی

بلکه د نبی ﷺ او د مسلمانانو عمل ورته ذکر کوی چه فرض او واجب ئے څه کوے خو د پیغمبر عمل ته ګوره۔ نو دا دلیل دے چه د هر چا دپاره د فرائض او سنن او مستحباتو بیله بیله درجه پیژندل ضروری نهٔ دی۔

لکه نن صبا مقلدین دا اعتراض کوی چه اوبنایئ چه په مانځه کښ (سبحانك اللهم) فرض ده که واجب ده که مستحب؟ یو صحیح صریح مرفوع حدیث راوړئ۔ مونږ وایو: اول خو تهٔ دا ثابت کړه چه دا فرض او واجب او مستحب بیل بیل معلومول په دین کښ په هرهٔ مسئله کښ ضروری دی، دا کوم ځائے کښ نبی ﷺ وئیلی دی چه دا فرض دی او دا واجب؟ بلکه مونږ له دا خبره کافی ده چه آیا دا د الله رسول کړیدی او که نه؟۔ صرف علماء دا درجات پدے وجه معلوموی چه عوامو ته پرے فتوے ورکړی۔ لکه ذدے خبرے تفصیل بار بار مخکښ تیر شویدے۔

بعض وائی: ابن عمرؓ ورته جواب په وجوب سره ورنکړو ځکه چه وتر د هغه په نیز واجب نه؟ دی بلکه دا سنت معمول بها دی او طریقه مسلوکه ده او که واجب وے نو هغه ته به ئے صراحةً وئیلی وے چه واجب دی بله دا چه بل طرفته دلائل موجود دی چه وتر سنت مؤکد دی۔

درجة الحديث: اسناده صحيح: اخرجه مالك فى الموطأ (۱۲٤/۱) وسنده منقطع لكن اخرجه احمد (۵۸/۲) موصولاً و قال شعيب الارناووط والشيخ احمد شاكر فى شرح المسند (۲۹/۲): صحيح على شرط الشيخين) وانظر المرعاة (۲۹۳/٤)

---

۲۸ - وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يُوتِرُ بِثَلَاثٍ، يَقْرَأُ فِيهِنَّ بِتِسْعِ سُوَرٍ مِنَ الْمُفَصَّلِ، يَقْرَأُ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ بِثَلَاثِ سُوَرٍ آخِرُهُنَّ ﴿قُلْ هُوَ اللهُ اَحَدٌ﴾. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: او علیؓ فرمائی: رسول الله ﷺ به درے رکعاته وتر کول چه په هغے کښ به ئے د مفصلاتو نه نهه سورتونه لوستل، په هر رکعت کښ به ئے درے سورتونه لوستل چه آخرنے د هغے نه سورة (قل هو الله احد) دے۔ (ترمذیؒ)

تشریح: په روایت د احمدؒ کښ ئے داسے تفصیل راغلے دے چه په اول رکعت کښ به ئے (الهاكم التكاثر، انا انزلناه فى ليلة القدر او اذا زلزلت الارض) او په دویم رکعت کښ به ئے (والعصر، اذا جاء نصر الله او انا اعطيناك الكوثر) او په دریم رکعت کښ به ئے (قل يا ايها الكافرون، تبت يدا ابى لهب او قل هو الله احد) لوستلو۔ او دا حدیث دلیل دے چه دا

سورتونه په وترو كښې لوستل مستحب دي ليكن حديث ضعيف دے۔ صحيح او غوره دا ده چه اول ركعت كښې (سبح اسم ربك الاعلىٰ) او دويم كښې (قل يا ايها الكافرون) او دريم كښې (قل هو الله احد) اُووائي ځكه چه هغه حديث صحيح او قوي دے۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف جداً : (الترمذي : ٤٦٠) وسكت عليه وفي اسناده الحارث الاعور ضعيف جداً متهم۔ وقال الحافظ في نتائج الافكار (١ / ٥١٦) واخرجه محمد بن نصر من طريق اخرى عن علي موقوفاً و كأنه ارجح والله اعلم۔

---

٢٩ - وَعَنْ نَافِعٍ، قَالَ: كُنْتُ مَعَ ابْنِ عُمَرَ بِمَكَّةَ، وَالسَّمَاءُ مُغِيمَةٌ، فَخَشِيَ الصُّبْحَ، فَأَوْتَرَ بِوَاحِدَةٍ، ثُمَّ انْكَشَفَ، فَرَأَى أَنَّ عَلَيْهِ لَيْلًا، فَشَفَعَ بِوَاحِدَةٍ، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ، فَلَمَّا خَشِيَ الصُّبْحَ أَوْتَرَ بِوَاحِدَةٍ. رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه : او نافع رحمه الله فرمائي: زهٔ د ابن عمرؓ سره په مكه كښې وم او آسمان وريځ والا وو، كله چه ابن عمرؓ ته د صبا راختلو نه يَره اُوشوه نو يو ركعت وترئے اُوكړو، بيا وريځه لرے شوه نو وے ليدل چه تراُوسه لا شپه (ډيره) پاتے ده، نو يو ركعت ئے ورسره (بل) يو ځائے كړو، (نو دوه شو) ددے نه پس ئے دوه دوه ركعاتونه (نفل) كول، كله چه بيا د صبا د راختلو نه اُووېريدو نو يو ركعت وترئے اُوكړو۔ (مالك)

تشريح : مُغِيّمَةٌ: دا يا د تغييم نه دے په صيغه د مفعول يا د اغامة نه دے (أَيْ مُغِيمَةٌ) د دواړو معنىٰ ده په وريځ باندے پټيدل۔ يعني آسمان باندے وريځے احاطه كړے وه۔

مطلب دا دے چه ابن عمرؓ اول كښې د صبا د راختلو په يَره يو ركعت وتر اُوكړو، د سلام نه روستو چه كله ورته پته ولګيده چه صبا لا نهٔ دے راختلے نو د هغهٔ مخكني ركعت سره ئے په مستقل نيت سره بل ركعت يو ځائے كړو، دے دپاره چه دواړه يوه شفعه (نفل) شي او آخر كښې ئے بيا يو ركعت وتر اُوكړو۔

نو پدے حديث كښې هم مسئله د نقض الوتر ده او مخكښې مونږ وئيلي وو چه دا د ابن عمرؓ اجتهاد دے او استدلال ئے كړيدے د « اجعلوا آخر صلاتكم بالليل وتراً » نه او مرفوع حديث ورسره نشته۔ ځكه نبي ﷺ داسے عمل نهٔ دے كړے۔ او دغه شان د عليؓ، عثمانؓ، ابن مسعودؓ، اسامهؓ، عروهؒ، مكحولؒ او عمرو بن ميمونؒ نه نقل دے۔

ليكن بل طرفته ابوبكر صديقؓ، ابي هريرهؓ، عمارؓ او عائشهؓ د دوي مخالف وو، دوي د نقض الوتر قائل نهٔ وو۔ او دا قول د ائمه اربعوؒ، اوزاعيؒ، ابي ثورؒ وغيره دے۔

بل دا حديث دليل دے چه د صلاة الليل دپاره څۀ خاص مقدار نشته، هرڅومره کولے شي۔
درجة الحديث: اسناده صحيح: اخرجه مالك في الموطأ (١/١٢٥/١٦) ومن طريقه الشافعي في مسنده (١/٢٢٧) وصححه الألباني۔ انظر موسوعة التخريج (١/٣٠٤٣٦) الشاملة)

٣٠- وَعَنْ عَائِشَةَ: اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَانَ يُصَلِّيْ جَالِسًا، فَيَقْرَأُ وَهُوَ جَالِسٌ، فَإِذَا بَقِيَ مِنْ قِرَآءَتِهٖ قَدْرُ مَا يَكُوْنُ ثَلَاثِيْنَ اَوْ اَرْبَعِيْنَ آيَةً، قَامَ وَقَرَأَ وَهُوَ قَائِمٌ، ثُمَّ رَكَعَ، ثُمَّ سَجَدَ، ثُمَّ يَفْعَلُ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ مِثْلَ ذٰلِكَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او عائشه رضي الله عنها نه روايت دے چه رسول الله ﷺ به په ناسته مونځ کولو نو قرائت به ئے په ناسته کولو، کله چه به د هغۀ د قراءت نه د ديرش يا څلويښت آيتونو په اندازه پاتے شو نو پا به څيدو او په ولاړه به ئے قراءت اُوکړو بيا به ئے رکوع اُوکړه بيا به ئے سجده اُوکړه بيا به ئے دغه شان کار په دويم رکعت کښ کولو۔ (مسلم)
تشريح: دا هم د نبي ﷺ د نفل مانځه په کيفياتو کښ يو کيفيت دے چه ابتداء کښ په ناسته مونځ شروع کړي او قراءت هم په ناسته اُوکړي او چه کله د ديرش يا څلويښتو آيتونو اَندازه تلاوت پاتے شي نو هغه په ولاړه اُوکړي۔

٣١- وَعَنْ اُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يُصَلِّيْ بَعْدَ الْوِتْرِ رَكْعَتَيْنِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَزَادَ ابْنُ مَاجَه: خَفِيْفَتَيْنِ وَهُوَ جَالِسٌ.

ترجمه: او ام سلمه رضي الله عنها فرمائي: نبي ﷺ به د وترو نه روستو دوه رکعاته مونځ کولو۔ (ترمذيؒ) او ابن ماجهؒ دا الفاظ زيات نقل کړي دي: "دوه رکعاته مختصر په ناسته"۔
تشريح: دا حديث دليل دے چه نقض الوتر د نبي ﷺ نه ندی ثابت ځکه چه هغه مسئله بناء ده په دے چه د وترو نه روستو مونځ نۀ کيږي او حال دا چه دا حديث دليل دے چه د وترو نه روستو هم مونځ کول جواز لري۔ دا دوه رکعاته په ناسته نبي ﷺ د وترو نه روستو کړيدي۔ بيا که څوك دا په ناسته کوي دپاره د تابعدارئ د نبي ﷺ اګرکه قادر وي په ولاړه نو دۀ له د اتباع په وجه الله د ولاړے په شان اَجر ورکوي۔
درجة الحديث: اسناده حسن او صحيح: اخرجه الترمذي (٤٧١) وفي سنده ميمون بن موسى المرئي وهو صدوق وقال احمد ما رأى به باساً وقال الفلاس: صدوق لكنه يدلس

وقال ابوداود: ليس به بأس وكذا البيهقي: لا بأس به) وقال الالباني في صحيح ابن ماجة (٩٨١) وتعليق المشكاة (١/٢٨٥) (سنده صحيح)

٣٢- وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يُوْتِرُ بِوَاحِدَةٍ. ثُمَّ يَرْكَعُ رَكْعَتَيْنِ يَقْرَأُ فِيْهِمَا وَهُوَ جَالِسٌ، فَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَّرْكَعَ قَامَ فَرَكَعَ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او عائشه رضي الله عنها فرمائي : "رسول الله ﷺ به يو ركعت وتر كولو بيا به ئې (د هغې نه روستو) دوه ركعاته كول چه په هغې كښې به ئې په ناسته قراءت كولو، كله به ئې چه د ركوع كولو اراده أوكړه نو پاڅيدو به او ركوع به ئې (د ولاړې نه) كوله"۔ (ابن ماجه)۔

تشريح : دا حديث د مخكنى حديث منافي نۀ دے ځكه چه نبي ﷺ به كله دا دوه ركعاته ټول په ناسته كول او كله به ئې ابتداء د هغې په ناسته أوكړه او بيا به ركوع ته پاڅيدو نو هغه به ئې په ولاړه كوله۔ او حديث دليل دے چه يو ركعت وتر مستقلًا بالكل جائز دے۔ ځكه مخكښې ترے هيڅ دوه ركعاته وغيره نۀ دي ذكر۔ نو دا تاويل غلط دے چه وائي دا يو ركعت منضم وو دوه ركعتونو سره۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه ابن ماجه (١١٩٦) في الزوائد : اسناده صحيح ورجاله ثقات) (وكذا قال الالباني)

٣٣- وَعَنْ ثَوْبَانَ، عَنِ النَّبِيِّ ﷺ، قَالَ: «إِنَّ هٰذَا السَّهَرَ جُهْدٌ وَثِقْلٌ، فَإِذَا أَوْتَرَ أَحَدُكُمْ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ، فَإِنْ قَامَ مِنَ اللَّيْلِ، وَإِلَّا كَانَتَا لَهُ». رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه : او ثوبان ﷺ نه روايت دے چه نبي ﷺ فرمائيلي دي : «(د تهجد مانځه دپاره) دا بے خوبي (رابيداريدل) مشكل او گران كار دے، پدے وجه كله چه يو تن ستاسو وتر أوكړي نو د هغې پسے دِے دوه ركعاته (نفل) أوكړي نو كه د شپے راپاڅيدو (نو بهتره ده) او كۀ بيدار نۀ شو نو دا دوه ركعاته به د هغۀ دپاره كافي كيږي»۔ (يعني ددے دوه ركعاتو كولو په وجه به هغۀ ته د تهجدو ثواب ملاويږي) (ترمذيؒ، دارميؒ)

تشريح : السَّهَرَ : بې خوبي ته وائي يعني دا بے خوبي چه تاسو ئې د الله په طاعت كښې تيروئ دا تكليف او ثقالت (درندوالي) دے۔ بعض رواياتو كښې لكه دارقطني (٢/٣٩)، بيهقي (٣/٣٣) طحاوي وغيره كښې دا لفظ (ان هذا السفر) دے۔ دارقطني كښې دوه ځائے

لفظ د سفر دے۔ دلیل دا دے چه دا قصه په سفر کښې واقع شویده لکه په روایت د ابن خزیمه (۲/۱۵۹) رقم (۱۱۰۳) او ابن حبان (۶۸۳) کښې دی: ثوبان فرمائی: (کنا مع رسول اللّٰه فی سفر فقال: ان هذا السفر جهد وثقل ......الخ)۔

او دارمی چه دا حدیث په (السهر) سره نقل کړیدے نو هغه خطاء شویدے۔ ځکه هغه سره دا حدیث مجملًا نقل دے او د سفر واقعه پکښې نده ذکر۔ او همدا خبره راجحه ده۔(انظر الصحیحة ۱۹۹۳/٤) ص (٦٤٦) او مطلب د حدیث دا دے چه کله چه د یو انسان په سفر کښې د شپے په راببداریدو باندے باور نۀ وی او ماسخوتن کښې وتر اُوکړی نو هغه له پکار دی چه روستو ترے دوه رکعاته اُوکړی که د شپے راپاڅیدو نو بس لا خه شوه او که راپانه څیدو نو دا دوه رکعاته به ددۀ دپاره د قیام اللیل قائمقام شی۔

فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ: دے کښې بعض خلق دا تاویل کوی چه (أَوْتَرَ) نه مراد (اذا اراد ان یوتر فلیرکع قبله رکعتین)۔ یعنی کله چه اراده د وترو اُوکړی نو مخکښې دے ترے دوه رکعاته اُوکړی) لیکن دا تاویل د حدیث د ظاهر خلاف دے۔

او د وترو نه روستو مونځ کول جواز لری۔ لکه پدے باندے ابن خزیمهؒ په خپل صحیح کښې استدلال کړیدے۔ چه د وترو نه بعد مونځ مباح دے۔ او دا دوه رکعاته د نبی ﷺ خصوصیت هم نۀ دے۔ او بیا دلته دوه رکعاتو سره د ناستے قید نۀ دے راغلے نو په ناسته او په ولاړه دواړه قسمه جائز دی۔ لیکن په ناسته باندے أجر کم دے۔

درجة الحديث: اسناده صحیح: اخرجه الدارمی (۳۷٤/۱) بسند جید واخرجه الطحاوی والدارقطنی (۱۷۷) والطبرانی فی الکبیر والاوسط والبیهقی (۳۳/۳) وفی سند الثلاثة عبد اللّٰه بن صالح ابوصالح کاتب اللیث بن سعد وفیه کلام۔ وصححه الالبانی فی السلسلة (٤٤٦/٤) (۱۹۹۳)

۳٤- وَعَنْ اَبِيْ اُمَامَةَ: اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يُصَلِّيْهِمَا بَعْدَ الْوِتْرِ وَهُوَ جَالِسٌ، يَقْرَأُ فِيْهِمَا ﴿اِذَا زُلْزِلَتْ﴾ وَ﴿قُلْ يَا اَيُّهَا الْكَافِرُوْنَ﴾. رَوَاهُ اَحْمَدُ.

ترجمه: او ابو امامه رضی الله عنه نه روایت دے: چه نبی ﷺ به د وترو نه روستو دوه رکعاته په ناسته کول چه په هغے کښې به ئے (اذا زلزلت) او (قل یا ایها الکافرون) لوستلو۔ (احمدؒ)

تشریح: یعنی کله نا کله به نبی علیه السلام د وترو نه روستو دوه رکعاتو کښې دا دوه سورتونه لوستل اذا زلزلت په اول رکعت کښې او قل یا ایها الکافرون په دویم رکعت کښې۔

درجة الحديث: اسناده حسن: اخرجه احمد (۲٦۰/۵)

باب القنوت

د قنوت بيان

قنوت په لغت كښې په ډيرو معنو راځي ابن عربيؒ په شرح د ترمذی كښې او حافظ ابن حجرؒ په «فتح الباری» كښې په آخر د باب الوتر كښې لس معانی ذكر كړيدی. ۱- دعاء ۲- خشوع ۳- عبادة ٤- طاعت، ٥- قيام. ٦- اقرار بالعبودية. ۷- سكوت ۸- صلاة. ۹- طول القيام ۱۰-دوام الطاعة (په يو عبادت باندې هميش والې كول).

دلته ترې مراد دعاء قنوت دې چه په آخر د وترو كښې په ولاړه وئيل كيږی.

په قنوت كښې مسائل دی:

۱- المسئلة الاولىٰ : حكم القنوت :

۱- عند الجمهور مستحب دې او دا قول د صاحبينؒ هم دې.

۲- او د احنافو په نيز واجب دې. علامه ابن الهمامؒ په فتح القدير باب سجود السهو (۱/٤۳۹) كښې ليكی: قنوت الوتر ته واجب وئيل ضعيف دی. (وكأنه لضعف وجوب القنوت وهو به جدير) څوك چه قنوت ته مستحب وائی: هغوی دليل دا وائی: چه نبی ﷺ نه دا قنوت هميشه نهٔ دې ثابت بلكه يو كرت نيم ثابت دې ځكه هغه صحابه كرامؓ چه د وترو نقل كونكی دی هغوی په وترو كښې د نبی ﷺ نه قنوت نهٔ دې نقل كړې نو كه چرې دا نبی ﷺ هميشه لوستلې نو هغه تولو به نقل كولې، صرف ابی بن كعبؓ نه ابوداود (۱/۲۰۸، ۲۰۹) باب القنوت) كښې نقل كړيدی (ان النبی ﷺ كان يقنت (فی الوتر) قبل الركوع) چه نبی ﷺ په وترو كښې د ركوع نه مخكښې قنوت لوستلې دې.

نو دا په هميش والی دلالت نهٔ كوی بلكه په كله نا كله كولو باندې دلالت كوی. بله دا چه دغه روايت د ابی بن كعب ته امام ابوداود ضعيف وئيلې دې.او ددې شذوذ ته ئې اشاره كړيده. (نصب الراية ۳/۱٦۹) باب صلاة الوتر) وصفة الصلاة للالباني (۱٤۲) ليكن صحيح دا ده چه هغهٔ روايت صحيح دې لكه شيخ البانیؒ په ارواء الغليل (۲/۱٦٥) (٤۲٦) كښې فرمائی: دا حديث ابوداود (۱۰۷) او نسائی (۱/۲٤۸) او ابن ماجه (۱۱۸۲) والضياء المقدسی فی الاحاديث المختارة (۱/٤۰۰- ٤۰۱) كښې راوړيدې او سند ئې صحيح دې او ابوداود چه كومه وجه د ضعيف ذكر كړيده نو هغهٔ صحيح نهٔ ده وجه دا ده

چه د هغهٔ روایت متابعات او ډیر سندونه دي چه په هغې سره حدیث بالکل صحیح ګرځي او د ثقاتو یو جماعت ددې په نقل کولو اتفاق کړیدې لهذا دا زیات مقبول دې۔

ددې وجه نه ډیر علماؤ هغهٔ روایت ته صحیح وئیلې دې او چا چه معلول ګرځولې دې نو د هغهٔ سره هیڅ حجت نشته۔ او حافظ په التلخیص (۱۱۸) کښې ددې شواهد ذکر کړیدي چه بیهقي دا حدیث په روایت د ابن مسعود، او ابن عباس ذکر کړیدې او هغهٔ ئې ضعیف کړیدې لیکن عمر به دا قنوت وئیلو۔ انتهیٰ۔ او شیخ البانی فرمائي: ددې تائید دا هم کوي چه د انس بن مالك نه تپوس اُوشو چه قنوت فی الصلاة قبل الرکوع دی او که بعد الرکوع؟ نو هغهٔ اُووئیل: قبل الرکوع) بیا ئې ذکر کړل چه قنوت بعد الرکوع خو صرف یو میاشت پورې وو (یعني قنوت نازله وو) انتهی معنیٰ عبارة الالبانیؒ)

شیخ ابن بازؒ په فتاوی هیئة کبار العلماء (۱/۲۷۹) کښې فرمائي: «په وترو کښې قنوت لوستل سنت دي لیکن استمرار پدې باندې سنت نهٔ دې بلکه چه کله نا کله ئې قنوت اُولوستو نو هم خیر دې او که پریخودو نو هم خیر دې»۔

۲- **دلیل**: صحابه کرامو کښې درې جماعته وو۔

۱- بعضو به تول عمر قنوت لوستلو۔ ۲- بعضو به صرف رمضان کښې لوستلو۔

۳- بعضو به بالکل نه وئیلو نو که قنوت واجب وې نو دې صحابه کرامو ولې پریخودو۔ او دا فائده شیخ الاسلام په مجموع الفتاوی (۲۳/۳۷٤) کښې ذکر کړیده۔ (وانظر بعض الآثار فی قیام اللیل لابن نصر ص (۱۳٦)

۳- **دلیل**: په دې دعاء قنوت باندې هیڅ حدیث کښې امر ندې راغلې او نه پرې د نبي ﷺ همیش والې ثابت دې۔ نو څنګه به واجب شي؟ نو ظاهر دا ده چه ددې وئیل مستحب دي۔ او که څوك ئې په تول کال کښې لولي هم مستحب عمل دې۔ څکه چه نبي علیه السلام نه یو کرت ثابت دې۔ لکه حدیث د بیهقي (۲/۲۱۰) کښې دی: محمد بن الحنفیةؒ او ابن عباسؓ دواړو به وئیل: (کان النبی ﷺ یقنت فی صلاة الصبح وفی وتر اللیل بهؤلاء الکلمات: اللهم اهدني فیمن هدیت......) واسناده قوی کما اشار الیه البیهقي)

دارنګه ابن مسعودؓ نه نقل دي: (ان النبی ﷺ قنت فی الوتر قبل الرکوع) (ابن ابی شیبة، الدارقطني (۱۷۵) (البیهقي (۳/٤۱) مصنف عبد الرزاق (۳/۱۲۰) (کنز العمال) (ابن الترکماني په الجوهر النقي (۳/٤۲) کښې وئیلي دي: ددې په سند کښې ابان بن عیاش متروك راوي دې، لیکن اعمش راوي ددهٔ متابعت کړیدې کما فی مختصر الخلافیات للبیهقي آه۔ والارواء (۲/۱٦٦) لهذا حدیث صحیح شو څکه چه سفیان الثوری د دواړو

نه روايت كړيدے۔
۳- علقمهٔ فرمائی : (ان ابن مسعود، واصحاب النبی ﷺ كانوا يقنتون فی الوتر قبل الركوع) (ابن ابی شيبة- قال الحافظ فی الدراية (۱۱۵) اسناده حسن) ۔ (ابن مسعودؓ او صحابه كرامؓ به په وترو كښې د ركوع نه مخكښې قنوت وئيلو)۔ (المرعاة ۲۹۹/٤)
٤- د عمر فاروق باره كښې نقل دی چه هغهٔ به د ركوع نه مخكښې او د قراء ت نه بعد په وترو كښې قنوت وئيلو (ابن ابی شيبة ۵٦/۲ -القنوت قبل الركوع) وابن نصر (۱۳۳)
نو ثابته شوه چه قنوت الوتر مستحب دی او هميش والے كول پرے هم مستحب دی او وجوب باندے ئے هيڅ دليل نشته۔

المسئلة الثانية: د قنوت اقسام

قنوت په دوه قسمه دے : ۱- قنوت مستمره فی الوتر۔ ۲- قنوت نازله۔ او دا په فرض مانځه كښې وی د وجه د يو مصيبت راتلو نه په مسلمانانو لكه د كافرانو غلبه راشی نو په دغه وخت كښې امام په مانځه كښې ښيرے كوی او روستو خلق آمين وائی۔
قنوت الوتر قنوت مستمره : كښې دا قانون دے چه پدے كښې به د شرعی الفاظو تبديلی هم نشی كولے او منقول الفاظو نه به زيادت هم نشی كولے۔ او قنوت نازله كښې هر قسم دعاء لوستل جواز لری۔ او قنوت نازله په نز د بعض علماؤ منسوخ شويدی۔ ليكن قول ئے غلط دے۔

آيا قنوت الوتر به هميشه تول كال وئيلے شی؟

او قنوت مستمره باره كښې اختلاف دے۔ ۱- احناف او حنابله وائی : تول كال كښې به ئے وائی۔ ۲- مشهور مذهب د شوافعو دا دے چه قنوت الوتر مختص دی په نصف آخير د رمضان پورے، او دا يو روايت دے د امام مالك نه۔
۳- او مشهور قول د مالكيهٔ دا دے (كما فی المدونة) چه بالكل قنوت نشته، نهٔ په رمضان كښې او نهٔ په غير رمضان كښې او نهٔ په وترو كښې۔
او دا د ابن عمرؓ او عروهؒ نه نقل دی چه هغه به په هيڅ مونځ كښې قنوت نهٔ وئيلو او طاوس رحمه الله قنوت ته بدعت وائی۔ (قيام الليل لابن نصر ص (۱۳٦) نيل الاوطار (٥٤/۳)
مگر **راجح** باعتبار الدليل دا ده چه قنوت په وترو كښې مستحب دے په تول كال كښې او واجب نهٔ دے ځكه دا په وترو كښې مشروع ذكر دے نو بس په تول كال كښې ئے مشروعيت هم شته لكه د باقی اذكارو په شان۔ بلكه دا چه په حديث كښې لفظ الوتر مطلق راغلے دے

لکه مخکښې ئې دلائل ذکر شو۔ او دا قول د ابن مسعودؓ وغيره دے۔

المسئلة الثالثة: آيا په غير د وترو نه قنوت شته او که نهٔ؟

نو اول خو پدے کښې اتفاق دے چه په غير د څه سبب نه قنوت په څلورو مونځونو کښې نشته۔ او هر چه د صبا مونځ دے نو پدے کښې اختلاف دے نو يو جماعت وائی چه سِویٰ د وترونه قنوت په غير د سبب نه نشته اګرکه د صبا مونځ وی۔ او ديته ذهاب کړيدے ابوحنيفهؒ، احمدؒ۔ دوی وائی چه دا قنوت صرف په نوازلو او مصيبت راتلو پورے خاص دے۔ ۲- او يو جماعت وائی: چه د صبا په مانځه کښې بغير د سبب نه قنوت وئيل شته او دا به هميشه دپاره علی الدوام لوستلے شی۔ او ديته امام مالك (علی قول) او شافعیؒ ذهاب کړيدے۔ دوی دليل دا وائی: چه حديث د انس بن مالكؓ کښې دی: (مازال رسول الله ﷺ يقنت فی الفجر حتی فارق الدنيا) (نبیؐ ﷺ به تر مرګه پورے د صبا په مانځه کښې قنوت وئيلو) (الدارقطنی ص ۱۱۸) وعبد الرزاق (واحمد (۳/۱۶۲) والحاکم والبيهقی فی السنن (۲/۲۰۱)

ليکن دا نور علماء جواب ورکوی چه دا روايت ضعيف دے ځکه پدے کښې ابوجعفر الرازی راوی متکلم فيه دے بعضو ورته ثقه وئيلے دے او اکثرو ورته ضعيف وئيلے دے۔ انظر الکلام فی المرعاة (۳/۳۰۰) ۲- دويم دا که صحيح شی نو ددے معنیٰ دا ده چه په مصيبتونو نازليدو وخت کښې به نبی ﷺ تر مرګه قنوت وئيلو۔

۳- **حافظ ابن قيمؒ** فرمائی: دلته په حديث کښې دا نشته چه د قنوت نه مراد دعاء قنوت دے بلکه قنوت په ډيرو معنو راځی نو دلته قنوت نه مراد طول القيام دے۔ يعنی د رکوع نه بعد به ډير حصاريدو، ربنا لك الحمد او نورے دعاګانے به ئې وئيلے لکه څنګه چه د نبی ﷺ دا عادت مبارك وو چه هغه به د سحر مونځ اُوګد کولو۔ نو هميشه د سحر په مانځه کښې قنوت وئيل بدعت دے۔ هيڅ صريح دليل پرے نشته۔

علامه شوکانیؒ وائی: که دا حديث د انسؓ د احتجاج دپاره صلاحيت اُولری نو بيا پکښې تاويل د ابن قيمؒ ډير ښائسته مَحمَل دے۔ او په صحيح ابن خزيمه او کتاب القنوت د خطيب کښې د انس بن مالكؓ په روايت کښې ددے تائيد موجود دے، هغه فرمائی: (ان النبی ﷺ لم يقنت الا اذا دعا لقوم او دعا علی قوم) (قال الحافظ فی الدراية وابن عبد الهادی فی التنقيح، والالبانی فی الصحيحة (۲/۲۳۹): سنده صحيح وله شاهد من حديث ابی هريرة) (نبی ﷺ به صرف قنوت په هغه وخت کښې وئيلو چه کله به ئې يو قوم ته دعاء

كوله او يو قوم ته به ئے خيرے كولے).
لهذا ثابته شوه چه بغير د سبب نه قنوت وئيل په هيڅ مونځ كښې ندى پكار بلكه دا صرف د نوازلو پورے مختص دے.

المسئلة الرابعة :

قنوت نازله د يو خاص سبب او حادثے د وجه نه او آيا د سحر پورے خاص دی؟

كله چه يو سبب موجود شی مثلًا قحط، وباء يا د دشمن غلبه وغيره نو آيا قنوت نازله شته او كه نه ؟ او آيا دا صبا مانځه پورے خاص دی يا د جهری مونځونو پورے او كه نه تولو مونځونو كښې ئے وئيل جائز دی ؟

١- جمهور اهل الحديث او امام شافعیؒ فرمائی : چه دا په تولو مونځونو كښې وئيل جائز دی. ٢- حنابله وائی : قنوت نازله به صرف په صبا مانځه كښې وائی. او دا مُفتیٰ بهٖ قول د احنافو دے. لكه د احنافو دوه قوله دی، يو دا چه دا د جهری مونځونو پورے خاص دے. بنايه شرح الهدايه كښې وائی : دا قول د اكثرو دے. او بل قول دا چه دا صرف د صبا پورے خاص دے. **ليكن راجح** دا ده چه پدے تخصيص باندے هيڅ مرفوع صحيح يا ضعيف حديث دليل نشته بلكه دا قنوت په تولو مونځونو كښې لوستل جواز لری. او دا قول علامه شوكانیؒ په نيل الاوطار باب القنوت فی المكتوبة) كښې او مباركفوری په المرعاة (٣/ ٢٠١) كښې راجح كړيدے.

المسئلة الخامسة : قنوت الوتر دپاره الله اكبر وئيل نشته

قنوت مستمره فی الوتر دپاره الله اكبر وئيل شته او كه نه ؟ نو تحفة الاحوذی (٥٦٧/٢) كښې او شيخ البانی په صفة الصلاة او ارواء الغليل (٢/ ١٦٩) كښې ليكی : چه پدے باره كښې هيڅ مرفوع صحيح صريح حديث نشته. صرف بعض آثارو كښې راغلی دی چه قيام الليل د ابن نصر (٣١٩) راوړيدی او د هغے آثارو سندونه هم ندی معلوم لكه علی ﷺ به د قنوت افتتاح په تكبير سره كوله او ابن مسعودؓ به په وترو كښې د قنوت نه مخكښې او روستو تكبير وئيلو. عمر بن الخطاب به چه كله د قراءت نه فارغ شو نو تكبير به ئے وئيلو بيا به ئے قنوت وئيلو بيا به ئے تكبير اُووئيلو او ركوع ته به لاړو يعنی په سحر مانځه كښې. او دا اثر د عمرؓ په طحاوی (١/ ١٧١) كښې هم راغلے دے.

ليكن ددے آثارو نه سنيت د تكبير نۀ ثابتيږی. وجه دا ده چه يو خو ددے اسانيد ندی معلوم. دويم دا چه مرفوع حديث كښې ندے راغلے. دريم دا چه دا اكثر آثار په باره د قنوت

الفجر کښې دی۔ صرف د ابن مسعودؓ اثر په باره د قنوت الوتر کښې دے۔
لهذا تکبير وئيل ندی پکار ځکه اُمت مُکلف دے په مرفوع احاديثو۔

المسئلة السادسة : -- په قنوت کښې رفع اليدين نشته

آيا په قنوت کښې رفع اليدين شته لکه څنګه چه تکبير تحريمه وخت کښې کولے شی؟۔
نو قنوت په دوه قسمه دے يو قنوت مستمره د وترو۔ دويم قنوت نازله نو په قنوت نازله کښې خو رفع اليدين په ډيرو صحيح احاديثو کښې راغلی دی۔ خو په شکل د دعاء سره۔ چه هغه په السنن الکبرئ للبيهقی (۲/۲۱۱) صفة الصلاة للالبانی (۱۷۸) کښې کتلے شئ۔
او قنوت الوتر کښې رفع اليدين په هيڅ مرفوع حديث کښې ندی ثابت البته د بعض سلفو نه نقل دی چه هغوی به رفع اليدين کول ليکن هغه هم په شکل د دعاء سره دی لکه هغه آثار علامه مبارکفوری په تحفة الاحوذی کښې د جزء رفع اليدين د بخاریؒ نه او «کتاب الوتر» د مروزیؒ نه نقل کړيدی او بيائے وئيلی دی چه دا رفع اليدين د تکبير تحريمه په شکل باندے ندی بلکه ظاهر دا ده چه دا د دعاء په شکل دی ځکه قنوت هم دعاء ده۔
لکه جزء رفع اليدين د بخاری (۸۷) او قيام الليل د ابن نصر (۳۲۰) کښې دی : (عن الاسود ان عبد الله بن مسعود کان يرفع يديه فی القنوت الی صدره واللفظ لابن نصر، وفی لفظ البيهقی : کان ابن مسعود يرفع يديه فی القنوت الی ثدييه) (۳/۴۱) (عبد الله بن مسعود به په قنوت کښې رفع اليدين کول تر سينے پورے) نو سينے پورے رفع اليدين کول دليل دے چه دا رفع اليدين د دعاء دپاره دی۔
امام بخاریؒ په جزء رفع اليدين کښې د ابو هريرهؓ نه نقل کوی چه هغه به رفع اليدين کول۔ ونحوه فی البيهقی (۲/۲۱۲) (نو پدے کښې هم بيان نشته، ظاهر دا ده چه دا هم د دعاء په شکل رفع اليدين وو)۔
بنوری په معارف السنن (۴/۲۴۶) کښې ليکی : اثر د ابن مسعودؓ نص نۀ دے په رفع اليدين کښې د تحريمے په شان بلکه دواړه احتماله لری چه د دعاء په شکل وی يا د تحريمه په شکل ۔ او حديث د ترفع الايدی فی سبعة مواطن) هيڅ دليل نۀ ګرځی ځکه چه دا ضعيف دے او ثابت نۀ دے۔ انتهٰی۔
دارنګه پدے روايت کښې عرفات هم ذکر دے او هلتهٔ خو لاسونه د دعاء په شکل پورته کولے شی۔نو څنګه په يو حديث کښې دوه قسمه رفع اليدين مراد کړے شی۔ چه په قنوت کښې د تحريمه په شان رفع اليدين مراد شی او په عرفات کښې د دعاء په شکل او بيان په

يوكښې هم نشته۔
لهذا رفع اليدين د غوړونو پورې په دعاء القنوت كښې ندى ثابت۔ او كه د دعاء په شكل ئې څوك اُوچتوى نو جائز دى د وجه د دغه آثارو نه۔ والله اعلم۔ راجع فتاوى الدين الخالص (٩٢/٤) و(٥٩٠/٥)

المسئلة السابعة -- آيا قنوت نازله قبل الركوع دے او كه بعد الركوع ؟

قنوت قبل الركوع دے او كه بعد الركوع ؟ نو تحقيق دا دے چه قنوت نازله د نبى ﷺ نه بعد الركوع نقل دے او د صحابه كرامؓ نه قبل الركوع او بعد الركوع دواړه نقل دے۔ لهذا راجح دا ده چه بعد الركوع اُوكړے او كله نا كله قبل الركوع هم جائز دے۔ او هر چه قنوت الوتر دے نو دا قبل الركوع دے۔ او پدے باره كښې شپږ روايات راغلى دى، بعض دا دى :

١– عبد الله بن مسعودؓ فرمائى : نبى ﷺ به په وترو كښې قنوت د ركوع نه مخكښې لوستل (الجوهر النقى ٤٢/٣) والارواء (١٦٦/٢) بسند صحيح) وتقدم ان فى سنده ابان لكن تابعه الاعمش)

٢– ابى بن كعبؓ فرمائى : رسول الله ﷺ به په وترو كښې قبل الركوع قنوت كولو (وسنده صحيح : ابوداود ٢٦٨/١) رقم (١٤٢٧) والنسائى (٢٤٨/١) وابن ماجه رقم (١١٨٢) والبيهقى (٤٠/٢) والدارقطنى وغيرهم)

٣– اسودؒ فرمائى : عمر بن الخطاب به په وترو كښې قنوت قبل الركوع وئيلو (قيام الليل لابن نصر ص (٣١٨) ابن ابى شيبه (٣٠٢/٢) ارواء الغليل (١٦٥/٢)

٤– او دغه شان ابن عمرؓ به هم قنوت فى الوتر قبل الركوع كولو۔ ابن ابى شيبه)

٥– ابن عباس رضى الله عنهما فرمائى : اوتر النبى ﷺ بثلاث فقنت فيها قبل الركوع (نصب الراية ١٢٤/٢) (نبى عليه السلام درے ركعاته وتر اُوكړل او په هغے كښې ئے قبل الركوع قنوت اُوكړل)

٦– او دغه شان مرفوع روايت د ابن عمرؓ هم دے۔ نصب الرايه (١٢٤/٢)

نو دا احاديث دليل دے چه قنوت الوتر قبل الركوع دى **صرف امام احمد** بن حنبل وئيلى دى چه دا قنوت الوتر هم بعد الركوع دى۔ دوى قياس كوى په قنوت نازله باندے چه نبى ﷺ په سحر مانځه كښې قنوت نازله بعد الركوع اُوكړل نو وترو كښې به هم بعد الركوع كولے شى لكه دا قياس د امام احمدؒ نه په قيام الليل د ابن نصر (١٣٣) كښې نقل دے۔ ليكن كله چه نص ثابت شى نو بيا قياس ته ضرورت نشته بله دا چه عباداتو كښې

قياسونه جاري كول صحيح نهٔ دي.

دارنګه استدلال کوی په حديث د علی بن ابی طالب ﷺ چه هغه به قنوت بعد الرکوع کولو (طحاوی ١٤٨/١) ابن ابی شيبة (٦٠/٢) والبيهقی (٣٩٠/٣) وفی سنده عطاء بن السائب وقد اختلط (ارواء الغليل ١٦٦/٢)

دارنګه استدلال کوی په حديث د حسن بن علیؓ باندے چه مستدرك (١٧٢/٣) کښې حاکم راوړيدے او د هغه نه بيهقی (٣٨/٣، ٣٩) نقل کړيدے هغه فرمائی:

(علمنی رسول الله ﷺ ان اقول فی وتری اذا رفعت رأسی ولم يبق الا السجود اللهم اهدنی الخ ......) (وسنده حسن)

(ما ته رسول الله ﷺ دا تعليم رکړيدے چه زهٔ په وترو کښې د رکوع نه سر پورته کړم نو داسے دعاء قنوت اُووايم اللهم اهدنی الخ) ليکن دا حديث ابن منده په «التوحيد» (٧٠/٢) کښې او ابن ابی عاصم په «الآحاد والمثانی» (٣٠١/١) کښې راوړيدے او په هغے کښې داسے الفاظ دی: (اذا فرغت من قراءتی فی الوتر (فلم يبق علیّ الا الرکوع) (يعنی د رکوع نه مخکښې دغه دعاء قنوت راغلے دے) نو دا روايت د مخکښې روايت مخالف شو.

لهذا رجوع به اُوکړو هغه رواياتو ته چه په هغے کښې قنوت قبل الرکوع دے نو بس راجح دا ده چه قنوت الوتر قبل الرکوع اُوکړے شی او بعد الرکوع هم کله نا کله جائز دے د وجه د دغه دلائل مذکوره ؤ نه.

الفصل الاول

١ – عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ، اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَانَ اِذَا اَرَادَ اَنْ يَّدْعُوَ عَلٰى اَحَدٍ، اَوْ يَدْعُوَ لِاَحَدٍ، قَنَتَ بَعْدَ الرُّكُوْعِ، فَرُبَّمَا قَالَ اِذَا قَالَ: «سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ، رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ: اَللّٰهُمَّ اَنْجِ الْوَلِيْدَ بْنَ الْوَلِيْدِ، وَسَلَمَةَ بْنَ هِشَامٍ، وَعَيَّاشَ بْنَ اَبِیْ رَبِيْعَةَ، اَللّٰهُمَّ اشْدُدْ وَطْاَتَكَ عَلٰى مُضَرَ، وَاجْعَلْهَا سِنِيْنَ كَسِنِیْ يُوْسُفَ»، يَجْهَرُ بِذٰلِكَ، وَكَانَ يَقُوْلُ فِیْ بَعْضِ صَلَاتِهٖ: «اَللّٰهُمَّ الْعَنْ فُلَانًا وَفُلَانًا»، لِاَحْيَاءِ الْعَرَبِ، حَتّٰى اَنْزَلَ اللهُ: ﴿لَيْسَ لَكَ مِنَ الْاَمْرِ شَیْءٌ﴾ الْآيَة. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ابو هريره ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ به کله اراده اُوکړه چه چا ته خيرے اُوکړی يا چا ته دعا اُوکړی نو د رکوع نه روستو به ئے قنوت وئيلو، نو کله چه به ئے «سمع الله لمن حمده، ربنا لك الحمد» اُووئيله نو دا دُعاء به ئے کوله: «اللهم انج الخ» (اے

الله تـه وليد بن الوليد او سلمه بن هشام او عياش بن ابى ربيعه، راخلاص كړې، اے الله ! په مـضـر قبيلـه بـانـدے سـخـت عـذاب نـازل كـړه او دغـه عذاب په هغوی باندے د قحط په صورت كښې مسلط كړه، داسے قحط چه د يوسف عليه السلام د قحط په شان وى (كوم چه د هغهٔ په زمـانـه كښې په قوم مصر باندے راغلے وو) نبى ﷺ به پدے دعاء باندے جهر كولو، او په بـعـض مـونـځـونو كښې به ئے (د عربو قبائلو ته ښيرے كولو سره) داسے فرمايل : «اے الله په فـلانئ، فلانئ قبيلے د عربو باندے لعنت اُوكړهٔ» (د خپـل رحمت نه ئے جُدا كړه)، تردے چه الله تـعـالىٰ دا آيت نازل كړو : «ليس لك من الامرشىء » (يـعـنـى پدے باره كښې ستا هيڅ اختيار نشته)۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : قَنَتَ بَعْدَ الرُّكُوْعِ دا دليـل دے چه دا قنوت نازله دے او بعد الركوع دے۔ او دا صريح حديث دے۔

اَللّٰهُمَّ اَنْجِ الْوَلِيْدَ: دا مثال دے د دعاء دپاره او« اللهم اشدد» دا مثال د ښيرو دے۔

وليد بن الوليد او سلمه او عياش څوک وو ؟ او دوى دپا ره قنوت كښې دعاء

بيـا دكـوم صـحـابه كرامؓ دپاره چه نبى عليه السلام د نـجـات دعـاء كوله نو وجه دا وه چه دوى په مـكـه كښې د كفارو په لاسونو كښې قيديان وو۔ وليد بن الوليد د خالد بن الوليد المخزومى القرشى ورور دے، بدر ته مشرك حاضر شو نو عبد الله بن جحش رضی الله عنه قيدى كړو، بيا دهغهٔ د آزادولـو او فـديـه وركـولـو دپاره دهغه دوه ورونه خالد او هشام راغلل او هشامؓ ئے د مور او پـلار نـه سَـكـه ورور وو۔ نو هغوى دا په څلور زره درهم آزاد كړو۔ هر كله چه ددهٔ فديه اداء شـوه او دوارو ځـان سره بوتلو نو دهٔ اسلام راوړو نو دهٔ ته اُووئيل شو، تا ولے مخكښې د فديه وركـولـو نـه اسلام نهٔ راوړو كله چه ته د مسلمانانو په لاس كښې وے۔نو هغه اُووئيل : ما دا بـده گـنـڑلـه چه تاسو به په ما بدگمانى كوئ چه زهٔ د قيد نه اُويريدم۔ نو هغوى دا په مكه كـښې قيـدى كړو نو رسول الله ﷺ به د هغه د نجات دپاره د نورو مستضعفين مسلمانانو سره په قنوت كښې دعاء كوله۔ آخر دا چه د هغوى د قيد نه راوتختيدو او د رسول الله ﷺ سره يو ځائے شو او د هغه سره عمرة القضاء ته حاضر شو۔

حـافـظ فـتـح البـارى كـښې فـرمـائى : دا بدر ته د مشركانو په ډله كښې حاضر شو بيا قيدى شـو او د ځان فديه ئے اداء كړه بيا ئے اسلام راوړو نو په مكه كښې قيدى شو بيا دهٔ او سلمهؓ او عيـاشؓ درے وارو وعـده اُوكړه چه د مشركانو نه به تختو، نو راوتختيدل نبى عليه السلام د هغوى په راوتـلـو خبر شو نو د هغوى دپاره ئے دعاء كوله تردے چه راورسيدل بيا ئے دعاء د هغوى

دپاره پريخودله. بيا چه كله وليد نبي ﷺ ته راورسيدو نو وفات شو.

او هر چه **سلمه بن هشام** بن المغيرة المخزومي القرشي دے نو دا د حبشو د مهاجرينو نه دے او د فضلاء او غوره صحابه كرامو نه دے، د ابوجهل بن هشام ورور دے او د خالد بن الوليد د ترهٔ ځوی دے. او پخوانے مسلمان دے په مكه كښ قيدی شويدے او د الله دپاره ورته ډير عذاب وركړے شويدے. ابوجهل وړے تړلے وو. او د مدينے د هجرت نه منع شويدے. او د همدے وجه نه بدر ته هم حاضر نشو. نو رسول الله ﷺ به دهٔ له په قنوت كښ دعاء كوله تردے چه د هغوی نه راخلاص شو او د رسول الله ﷺ سره پيوسته شو او د نبی ﷺ د وفات پورے په مدينه كښ اُوسيدو. بيا شام ته د جهاد دپاره لاړو كله چه ابوبكر شام ته فوجونه ليږل. نو دا په مرج الصفر (د دمشق په خوا) كښ د محرم سنه (١٤ هـ) كښ شهيد شو. بعض وائي په اجنادين كښ. او دے دواړو واقعو ترمينځ شل ورځے وے اول مرج الصفر وو بيا اجنادين. ابن عساكر وائي: ددهٔ نه هيڅ روايت نهٔ دے نقل.

او هر چه **عياش** بن ابي ربيعه عمرو بن المغيرة المخزومي دے، دا د ابوجهل د مور د طرفنه (اَخيافي) ورور وو. پخوانے مسلمان دے نبي ﷺ لا دار الارقم ته نهٔ وو داخل شوے چه دا په اسلام مُشرف شو. دوه هجرتونه ئے كړيدی. بيا ابوجهل چه ددهٔ ورور وو ورسره دوهوكه اُوكړه پدے طريقه چه دا عياش كله مدينے ته راغلو نو ابوجهل او حارث چه ځامن د هشام دی. ددهٔ خواله راغلل او دا ئے ورته اُووئيل چه ستا مور قسم كړيدے چه په سر به تيل نه لګوم او سوری ته به نهٔ كينم تردے چه خپل ځوی اُووينم. نو دا د هغوی سره واپس لاړو، هغوی اُوتړلو او په مكه كښ ئے قيدی كړو. نو رسول الله ﷺ به دهٔ له هم دعاء طلب كوله بيا راخلاص شو او د دغه مذكوره ملګرو سره راوتختيدو. او د عمر فاروق د دور خلافت پورے ژوندے وو. نو په سنه (١٥ هـ) كښ. بعض وائي ددے نه مخكښ وفات شو.

اَللّٰهُمَّ اشْدُدْ وَطْأَتَكَ : (وطأة) اصل كښ يو شے په خپو باندے پائيمال (د خپلو غوبل) كولو ته وائي، دلته ترے مراد هلاك كول دی. ځكه څوك چه يو شے په خپو پائيمال كړی نو هغه پوره هلاك كړی. نو معنیٰ دا ده چه اے الله! مضر قبيله سخته راونيسه او هلاكه ئے كړه. علامه سنديؒ وائي: دا روستو كلام دلالت كوی چه ددے نه هلاك كول ندی مراد بلكه سزاء او عذاب وركول مراد دی. او دلته د مضر نه كفار اَولاد د مضر دی.

وَاجْعَلْهَا : «ها» ضمير يا راجع دے (سنين) ته يا (ايام) ته يا (وطأة) ته.

سِنِيْنَ : جمع د سَنَة ده په معنیٰ د قحط سره.

كَسِنِيْ يُوْسُفَ : يعنی اُووه كاله په دوی باندے قحط راولے لكه څنګه چه په زمانه د

یوسف علیه السلام کښی اُووه کاله قحط راغلے وو۔

فوائد الحدیث :۱- حدیث دلیل دے چه په غیر د وترو نه هم قنوت وئیل شته چه د ضعیف مسلمانانو د راخلاصو دپاره دعاء پکښی اُوکړے شی۔

۲- کفارو ته ښیرے کول په قحط او مصیبتونو باندے جائز دی۔

۳- قنوت نازله باندے جهر کول مشروع دی۔

٤- یو قوم ته دعاء کول او د هغوی نومونه او د پلار نومونه په مانځه کښی یادول مونځ نهٔ ماتوی، اګرکه فرض مونځ وی۔ ۵- کفارو او ظالمانو ته ښیرے کول هم مونځ نهٔ ماتوی۔

٦- او حدیث دلیل دے چه کله ناکله په اجتماعی طریقه دعاء هم د نبی علیه السلام نه نقل ده، لکه پدے مقام کښی یا په صلاة الاستسقاء کښی۔یا د ختم القرآن نه روستو۔

فِيْ بَعْضِ صَلَاتِهٖ : په روایت د بخاری کښی دی چه دا د سحر مونځ وو۔ حافظ فرمائی : پدے کښی اشاره ده چه نبی علیه السلام به پدے کار همیش والے نهٔ کولو۔

لِاَحْيَاءٍ : جمع د حی ده قبیلے ته وائی۔

لَيْسَ لَكَ مِنَ الْاَمْرِ شَيْءٌ : یعنی اے نبی ! ستا هیڅ اختیار د دوی په باره کښی نشته بلکه الله د دوی مالك دے یا به ئے هلاك کړی که په کفر همیشه شو او بیا پرے مره شو او یا به پرے الله مهربانی اُوکړی نو د ایمان توفیق به ورکړی او یا به عذاب ورکړی۔ نو تهٔ د دوی کار الله ته سپاره، او ښیرے ورته مه کوه۔ او پدے کښی اشاره وه چه روستو به دے خلقو کښی مومنان پیدا کیږی۔ نو الله خپل نبی د ښیرو نه منع کړو۔ چه عمومی ښیرے اُونکړی۔

امام ابویوسفؒ وائی : قنوت نازله پدے آیت منسوخ شویدے، لیکن دا خبره صحیح نهٔ ده بلکه صحیح دا ده چه دلته الله خپل نبی منع کړو چه ددے خاصو قبیلو نومونه مهٔ اخله ځکه چه الله ته معلومه وه چه دوی کښی مومنان پیدا کیږی، نو بیا د پیغمبر ښیرے ضائع کیږی۔

فائده : تقدیر دوه قسمه دے یو هغهٔ دے چه الله یو شے تقدیر کښی لیکلے وی او لا فیصله کړے ئے نهٔ وی لیکن کله چه انسان الله ته دعاء او تضرع اُوکړی نو هغهٔ مصیبت ترے اړوی۔ ۲- دویم هغهٔ تقدیر دے چه الله د هغے په امضاء او جاری کولو باندے مهر وهلے وی چه دا به کیږی لکه پدے حدیث کښی همدا مراد دے چه دے بعض خلقو له الله د ایمان توفیق ورکولو او بعضو له ئے عذاب ورکولو نو ځکه ئے پیغمبر د ښیرو کولو نه منع کړو۔ لیکن چونکه مونږ انسانانو ته خو د الله اراده نهٔ ده معلومه او عقل هم دا نهٔ شی معلومولے چه آیا فلانے کافر به ایمان راوړی او که نهٔ۔ (او زهٔ به مومن لیکلے شوے یم اوکه

کافر) لهذا بندګانو له کفارو ته دعاء او ښيرے جائز دی ځکه چه دعاء عبادت دے۔ او بندګان که په تقدير کښ هرڅنګه ليکلے شوی وی ليکن دعاء به ضرور کوی۔ (ابن بطال)

اشکال : ددے آيت په باره کښ خو بعض مفسرينو دا نقل کړيدی چه دا آيت د رعل او ذکوان په قصه کښ نازل دے چه اُويا قاريان (صحابه کرام) ئے شهيدان کړی وو۔ لکه په بخاری کښ د ابن عمر نه او په مسلم کښ د انس نه نقل دی۔ او دا واقعه خو د اُحُد نه روستو وه او دلته وائی چه دا آيت په واقعه کښ اُحُد کښ نازل دے۔

الجواب : حافظ وائی : دا قول : حتیٰ انزل الله) دا منقطع دے ځکه زهریؒ وئيلی دی (بلغنا انه ترك ذلك لما نزلت) لکه دا په روايت د مسلم کښ بيان شويدی او قصه د رعل او ذکوان د اُحُد نه علاوه ده۔ ۲- او که چرته محفوظ وی نو بيا به داسے وئيلے شی چه قصه د رعل او ذکوان د اُحد نه روستو وه او د آيت نازليدل به لږ شان د سبب نه روستو شوے وی، بيا دے په دے ټولو کښ نازل وی۔

۲- وَعَنْ عَاصِمِ الْاَحْوَلِ، قَالَ: سَاَلْتُ اَنَسَ بْنَ مَالِكٍ عَنِ الْقُنُوْتِ فِي الصَّلَاةِ، كَانَ قَبْلَ الرُّكُوْعِ اَوْ بَعْدَهُ ؟ قَالَ: قَبْلَهُ، اِنَّمَا قَنَتَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ بَعْدَ الرُّكُوْعِ شَهْرًا، اِنَّهُ كَانَ بَعَثَ اُنَاسًا يُقَالُ لَهُمْ: الْقُرَّاءُ، سَبْعُوْنَ رَجُلًا، فَأُصِيْبُوْا، فَقَنَتَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ بَعْدَ الرُّكُوْعِ شَهْرًا يَدْعُوْ عَلَيْهِمْ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او عاصم اَحول رحمه الله فرمائی: ما د انس بن مالك ؓ نه په مانځه کښ د قنوت په باره کښ تپوس اُوکړو چه آيا دا قبل الرکوع دی او که د رکوع نه روستو دی؟ هغهٔ اُوفرمايل : د رکوع نه مخکښ دی، رسول الله ﷺ (صرف) يوه مياشت د رکوع نه روستو قنوت وئيلے دے، (وجه دا وه) چه هغوی څهٔ کسان (صحابه کرام) ليږلی وو چه هغوی ته قراء (قاريان) وئيلو شو، اُويا (۷۰) کسان وو، نو (د هغهٔ ځائے خلقو) هغوی لره ئے شهيدان کړل، پدے وجه رسول الله ﷺ يوے مياشت پورے هغوی ته د رکوع نه بعد ښيرے کولے۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تعارف د عاصم الاحول : دده نوم دے عاصم بن سليمان الاحول ابوعبد الرحمن البصری ثقه تابعی دے په سنه (۱۴۰) يا (۱۴۱) يا (۱۴۲) کښ وفات شويدے۔ ابن سعدؒ وائی : دا د بصرے والو نه وو او دهٔ به ولايتونه ګورنريانے کولے په کوفه کښ په حسبه باندے په پيمانو او وزنونو باندے مقرر وو او په مدائن کښ د ابوجعفر د طرفنه قاضی مقرر وو۔

تشريح : **قَبْلَهُ** : يعنی قنوت دائمی (قنوت الوتر) قبل الرکوع دی او هر چه قنوت نازله

دی نو هغه بعد الرکوع یو میاشت شویدی د څه خاص سبب په بناء چه اَویا (۷۰) قاریان رِعل او ذکوان او عُصَیّه قبیلو دا شهیدان کړی وو۔ او دا اَویا قاریان د مختلفو خلقو نه وو، اَصحاب الصفه وو، د قرآن او دین زدهٔ کولو پسے رامسافر شوی وو۔ دوی به د مسلمانانو مددو نه کول او د هغوی سره به ئے په جنګونو کښې شرکتونه کول جنګی زمریان وو۔ او د مسجد نبوی صحیح آبادونکی وو۔

رسول الله ﷺ دوی د اهل نجد نه قبیله بنی عامرو پسے لیږلی وو چه هغوی اسلام ته رادعوت کړی او هغوی ته قرآن اُوښائی۔ نو کله چه دوی بئر معونه ته اُورسیدل نو عامر بن الطفیل د بنی سلیم د څه قبیلو (رعل، ذکوان، عصیه) سره په شریکه د دوی د قتل اراده اُوکړه، نو دوی ئے قتل کړل۔ او صرف یو صحابی کعب بن زید الانصاریؓ د هغوی نه راخلاص شو چه لګ رمق پکښې وو د هغوی ګمان وو ګنے چه دا هم ختم دے۔ هغه بیا ژوندے وو، تردے چه په غزوه خندق کښې شهید شو۔

او عمرو بن امیه الضمری پکښې قیدی شو۔ او دا کار په څلورم کال د هجرت د صفر په میاشت کښې څلور میاشتے روستو د جنګ اُحُد نه اُوشو نو رسول الله ﷺ د دوی په قتل باندے انتهائی سخت خفګان اُوکړو، انس بن مالکؓ وائی: ما رسول الله ﷺ په بل چا باندے دومره خفګان کونکے نهٔ وو لیدلے څومره چه ددے قاریانو په قتل خفه وو۔

دا حدیث دلیل دے چه د یو مصیبت راتلو نه ماسویٰ رسول الله ﷺ قنوت نازله نهٔ دے وئیلے، نهٔ قبل الرکوع او نهٔ بعد الرکوع۔ ۲- دارنګه قنوت نازله بعد الرکوع دے۔

دلته ظاهر دا ده چه تپوس دے په باره د قنوت الوتر کښې۔ او بعض وائی: دا تپوس په باره د قنوت نازله کښې دے په فرائضو کښې۔

★- دارنګه رسول الله ﷺ په غیبو عالم نهٔ وو۔ په انبیاؤ باندے هم مصیبتونه راځی۔

الفصل الثانی

۳- عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَنَتَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ شَهْرًا مُتَتَابِعًا فِي الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ وَالْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ وَصَلَاةِ الصُّبْحِ، إِذَا قَالَ: «سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ» مِنَ الرَّكْعَةِ الْآخِرَةِ، يَدْعُوْ عَلٰى اَحْيَاءٍ مِنْ بَنِي سُلَيْمٍ: عَلٰى رِعْلٍ، وَذَكْوَانَ وَعُصَيَّةَ وَيُؤَمِّنُ مَنْ خَلْفَهُ. رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه: ابن عباس ؓ فرمائی: رسول الله ﷺ یوه میاشت پرله پسے د ظهر او عصر او مغرب او عشاء او فجر په مانځه کښې قنوت اُووئیلو کله چه به ئے «سمع الله لمن حمده» د

آخری رکعت اُووئیلو نو د بنو سلیم قبیلو ته یعنی رعل، ذکوان او عُصیَه ته بنیرے کولے، او روستو مقتدیانو به آمین وئیلو۔ (ابوداودؒ)

تشریح : رِعْلٍ: دا درے واړه د بنو سلیم قبیلے دی رعل بن خالد بن عوف بن امرئ القیس بن بهثة بن سلیم۔ او ذکوان بن ثعلبه بن بهثه بن سلیم۔ او عصیه بن خفاف بن امرئ القیس بن بهثة بن سلیم۔ ټول د سُلیم اَولاد دے۔

دا حدیث دلیل دے چه په قنوت نازله کښ به امام قنوت وائی او روستو خلق به آمین وائی۔ نو آمین بالجهر هم ثابت شو۔ اگرکه دا د ولا الضالین نه پس نهٔ دے بلکه د دعاء نه پس دے۔ او په مسند احمد کښ ورسره دا هم دی چه رفع الیدین به ئے هم پکښ کول۔

- او دلیل دے چه په قنوت نازله کښ به قنوت بعد الرکوع وی د سمع الله لمن حمده نه پس۔

- او حدیث دلیل دے چه قنوت نازله د بعض مونځونو پورے خاص نهٔ دے نو پدے کښ رد دے په هغه چا چه دا جهری مونځونو پورے یا د صلاة الفجر پورے خاص کوی۔

درجة الحدیث : اسناده حسن : اخرجه احمد (١/١ ٣٠٢،٣٠١) وابوداود (١٤٤٣) وفی اسناده هلال بن خباب ابو العلاء العبدی وثقه احمد وابن معین وابوحاتم الرازی وقال الحافظ انه صدوق تغیر بآخرة قال الشیخ الالبانی والصواب انه حسن لحال هلال (ارواء الغلیل ١٦١/٢)

---

٤ – عَنْ اَنَسٍ: اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَنَتَ شَهْرًا ثُمَّ تَرَكَهٗ. رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه : انس رضی الله عنه نه روایت دے چه نبی ﷺ یوه میاشت قنوت اُولوستلو بیا ئے پریخودو۔ (ابوداودؒ، نسائیؒ)

تشریح : یعنی نبی ﷺ په فرائضو کښ قنوت نازله یو میاشت اُولوستو بیا چه کله سبب زائل شو یعنی مصیبت ختم شو نو بیا ئے پریخودو۔ یا الله منع کړو۔ امام شافعیؒ او د هغه موافقین پدے کښ دا تاویل کوی چه په څلورو مونځونو کښ ئے پریخودو نهٔ په سحر مانځه کښ او یا ښیرے ئے دے قبائلو ته پریخودے۔ لیکن دا تاویل ضعیف دے، هیڅ دلیل پرے نشته۔

او دا حدیث دلیل دے چه قنوت نازله علی سبیل الدوام په فرائضو کښ نشته۔ لکه امام مالك او شافعیؒ ئے علی الدوام وائی۔

درجة الحدیث : اِسناده صحیح : اخرجه ابوداود (١٤٤٥) والنسائی (٢٠٣/٢–٢٠٤) وابن ماجه (١٢٤٣)

٥– وَعَنْ اَبِيْ مَالِكٍ الْاَشْجَعِيِّ، قَالَ: قُلْتُ لِاَبِيْ: يَا اَبَتِ! اِنَّكَ قَدْ صَلَّيْتَ خَلْفَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ وَاَبِيْ بَكْرٍ وَعُمَرَ، وَعُثْمَانَ، وَعَلِيٍّ، هٰهُنَا بِالْكُوْفَةِ نَحْوًا مِنْ خَمْسِ سِنِيْنَ، اَكَانُوْا يَقْنُتُوْنَ ؟ قَالَ: اَيْ بُنَيَّ! مُحْدَثٌ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او ابو مالك اَشجعي ﷺ فرمائي : ما خپل پلار ته اُووئيل: اے پلاره ! تا خو د رسول الله ﷺ، ابوبكر، عمر او عثمان (رضى الله عنهم) او د على (رضى الله عنه) نه روستو دلته پدے كوفه كښې تقريباً پنځه كاله مونځ كړيدے نو آيا هغوى به قنوت وئيلو ؟، نو هغوى اُوفرمايل : « بچيه ! (هميشه) قنوت وئيل بدعت دے»۔

(ترمذیؒ، نسائیؒ، ابن ماجهؒ)۔

تعارف د ابومالک الاشجعی ﷺ :

ابو مالك الاشجعي نوم ئے سعد بن طارق الكوفي دے د ثقات التابعين نه دے۔ په حدودو د سنه (١٤٠) كښې وفات شويدے۔ پلار ئے طارق بن اَشْيَم صحابي دے قليل الحديث دے۔ صرف څوى ترے احاديث نقل كړيدى۔

تشريح : نَحْوًا : يعنى على پسے ډے په كوفه كښې پنځه كاله مونځ كړيدے۔ او نورو پسے ډے په مدينه كښې هم څه وخت كړيدے۔

اَكَانُوْا يَقْنُتُوْنَ ؟ : يعنى آيا هغوى به هميشه (دائماً) قنوت نازله لوستو؟ نو هغه اُوفرمايل : دا بدعت دے يعنى دا دوام على قنوت النازله بدعت دے، نو دا دليل دے چه په قنوت نازله باندے په هرمانځه كښې هميشه دپاره دوام كول صحيح نهٔ دى۔

يا هميشه په صلاة الفجر كښې لوستل بدعت دے۔

او كه عام قنوت مراد كړے شی چه نهٔ ئے قنوت نازله كړيدے او نهٔ ئے قنوت الوتر نو بيا به دا روايت محمول شي په علم د طارق بن اشيم باندے لكه امام بيهقیؒ او طيبیؒ فرمائي : طارق بن اَشيم به پرے څوك نهٔ وى ليدلى نو ځكه ورته بدعت ښكاره شويدے ځكه چه دا قنوت نازله به نبي ﷺ هميشه دپاره نهٔ كولو۔ بلكه دا به ئے صرف په نوازل او واقعاتو كښې كولو نو كيدے شي چه طارق بن اَشيم نهٔ وى ليدلى او نورو صحابه كرامو نبي ﷺ ليدلے دے نو هغه ئے نقل كړيدى او مُثبت مقدم وى په نافي باندے۔

دارنګه په قنوت الوتر ئے هم څوك نهٔ دى ليدلي نو پدے كښې هم اشاره ده چه قنوت الوتر هم څه واجب نهٔ دى او هميش والے پرے ضرورى نهٔ دے۔ بلكه صحابه كرامو به كله

قنوت کولو او کله نه۔ مگر ظاهر دا ده چه دلته نفی د دوام ده۔
درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه احمد (۳۹۴/۶) والترمذی (۴۰۲) والنسائی (۲۰۴/۲) وابن ماجه (۱۲۴۱) قال الحافظ فی التلخيص ص (۹۳) اسناده حسن.

---

۶ – عَنِ الْحَسَنِ: أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ جَمَعَ النَّاسَ عَلٰى أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، فَكَانَ يُصَلِّي بِهِمْ عِشْرِيْنَ لَيْلَةً، وَلَا يَقْنُتُ بِهِمْ إِلَّا فِي النِّصْفِ الْبَاقِي، فَإِذَا كَانَتِ الْعَشْرُ الْأَوَاخِرُ تَخَلَّفَ فَصَلّٰى فِي بَيْتِهٖ، فَكَانُوْا يَقُوْلُوْنَ: أَبَقَ أُبَيٌّ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : حسن بصری رحمه الله فرمائی: عمر بن الخطاب ﷺ خلقو لره (په رمضان کښی د تراویح دپاره) په ابی بن کعبؓ باندے راجمع کړل نو دهٔ (ابی بن کعبؓ) به هغوی ته شل شپے مونځ کولو، او قنوت به ئے د نصف رمضان نه ماسِوا په نورو ورځو کښی نهٔ لوستلو، اوکله چه آخری لس روژے پاتے شوے نو ابی بن کعبؓ به نهٔ راتلو (بلکه) کور کښی به ئے (یواځے) مونځ کولو نو خلقو به وئیل چه ابی بن کعبؓ اُوتختیدلو۔ (ابوداودؒ)
تشریح : ددے نه مراد تراویح دی۔ خلقو به یواځے یواځے مونځونه کول نو عمرؓ په ابی بن کعبؓ باندے راجمع کړل نو هغه ورته شل شپے مونځ اُوکړو ځکه چه د عمرؓ خبره ئے هم نهٔ غورزوله او د نبی ﷺ تابعداری ئے هم غرض وه چه هغه خو یواځے کړیدی۔
بعض وائی : د رمضان آخری شپے افضل دی نو هغه دا غوختل چه ځان له ئے په ډیر توجه او زاری سره ادا کړی ځکه چه په جَلْوَتْ کښی هغه توجه نهٔ وی کومه چه په خَلْوَتْ کښی وی۔ یا د نبی ﷺ اتباع کول مقصد وو۔
بیا دلته (عشرین لیلة) دے او په بعض دیوبندی نسخو کښی مقلدینو دا تحریف کړیدے چه د (لیلة) په ځائے (رکعة) لګولے دے۔ دے دپاره چه شل تراویح ثابتے کړی۔ لکه دا کار محموذ الحسن دیوبندی کړیدے۔
پدے حدیث باندے شوافعو استدلال کړیدے چه قنوت الوتر د نصف اَخیر د رمضان پورے مخصوص دی لیکن دا استدلال ضعیف دے ځکه چه حدیث ضعیف منقطع دے۔ اګرکه اصل حدیث د جمع کولو د عمرؓ خلقو لره په ابیؓ باندے په بخاری کښی راغلے دے۔ لیکن د قنوت ذکر پکښی نشته۔ او د تراویح متعلق ابحاث روستو باب کښی راروان دی۔
درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه ابوداود (۱۴۲۹) لانه من رواية الحسن : ان عمر

بن الخطاب وهذا منقطع ________________________________

۷- وَسُئِلَ اَنَسُ بْنُ مَالِكٍ عَنِ الْقُنُوْتِ. فَقَالَ: قَنَتَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ بَعْدَ الرُّكُوْعِ. وَفِیْ رِوَایَةٍ: قَبْلَ الرُّكُوْعِ وَبَعْدَهٗ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه. ________________________

ترجمه : او انس بن مالك ﷺ نه د قنوت متعلق تپوس اُوشو، (چه د ركوع نه مخكښې وئيل پكار دی او كهٔ روستو) نو هغهٔ (په جواب كښې) اُوفرمايل : رسول الله ﷺ د ركوع نه بعد قنوت لوستلی دی، او په يو روايت كښې دی : د ركوع نه مخكښې او د ركوع نه بعد ئې لوستلی دی۔ (ابن ماجهؒ)

تشريح : يعنی په فرائضو كښې به قنوت نازله نبی عليه السلام د ركوع نه پس لوستلو۔

وَفِیْ رِوَایَةٍ : دا مستقل حديث دے چه دمشكوٰة مصنف د انتهائی اختصار نه كار اخستے دے او دا مناسب نهٔ ده ځكه چه عام خلق چه خطائی كښې واقع كيږی نو هغه پدے وجه چه پوره روايت ته اُونهٔ گوری۔ دا بل روايت د ابن ماجهؒ دے : (عن حميد عن انس قال سئل عن القنوت فی صلاة الصبح فقال كنا نقنت قبل الركوع وبعده)۔

(مونږ به په فرائضو كښې قنوت نازله قبل الركوع او بعد الركوع لوستلو) لهذا دا دويم روايت موقوف دے د انسؓ وينا ده۔ او ابن المنذرؒ د حُمَيد عن انسؓ نه نقل كړيدی : (ان بعض اصحاب النبی ﷺ قنتوا فی صلاة الفجر قبل الركوع وبعضهم بعد الركوع) (بعض صحابه كرامؓ به په فجر كښې قبل الركوع قنوت لوستلو او بعضو به بعد الركوع)

او ددے بعض صحابه كرامؓ نه يو عثمان ﷺ وو هغه به ددے وجه نه قبل الركوع قنوت لوستلو چه خلق ركعت رالاندے كړی) كما فی قيام الليل لابن نصر (۱۳۳) وارواء الغليل (۱۶۱/۲) (باسناد صحيح)

نو دا تول دلالت كوی چه د صحابه كرامؓ عمل په محل د قنوت نازله كښې مختلف وو، بعضو به قبل الركوع لوستلو او بعضو به بعد الركوع او هرچه نبی ﷺ دے نو هغه نه په فرائضو كښې قنوت نازله صرف بعد الركوع ثابت دے۔ لكه مخكښې په حديث د عاصم اَحْوَل كښې نقل شو۔ او قنوت الوتر ترے يو كرت ثابت دے او تعليم ئے حسن بن علیؓ ته وركړيدے۔ او دا به د ركوع نه مخكښې وو۔

نو ددے آخيری جملے (كله به ئے قنوت قبل الركوع لوستلو او كله بعد الركوع) مطلب دا دے چه قنوت الوتر به ئے قبل الركوع لوستلو او كهٔ څهٔ حادثه به راغله نو په هغهٔ موقع به

ئے قنوت بعد الرکوع لوستلو چه هغے ته قنوت نازله وائی۔ پدے سره تطبیق په تولو روایاتو کښې راځی۔

درجة الحديث:

اسناد كلتا الروايتين صحيح: اخرجه ابن ماجه (١١٨٤) وصححه الالباني في (الارواء).



باب قيام شهر رمضان

د رمضان د میاشتې قیام (تراویحو) بیان

مخکښې وتر او قنوت وو اُوس د رمضان تراویح بیانوی۔ ددې نه روستو د نوافلو بابونه راروان دی چه تراویح، صلاة الضحی، صلاة التسبیح، صلاة الاستخارة دی۔

او د قیام شهر رمضان نه مراد د رمضان په شپو کښې اُودریدل او هغه په عبادتونو د تراویح او تلاوة القرآن وغیره باندې رُونړی کول دی۔ او قیام رمضان تراویح ته هم شاملیږی او تهجدو ته هم۔ وهو الحق۔

امام نوویؒ او کرمانیؒ وائی : د علماؤ پدې اتفاق دې چه د قیام رمضان نه مراد تراویح دی۔ تراویح جمع د تَرْوِیْحَة د راحت نه ماخوذ دې، یو ځل راحت ته وائی۔ لکه تسلیمة د سلام نه دې۔ او تراویح د رمضان په شپو کښې د جَمعې سره مونځ کولو ته وائی۔ دیته تراویح پدې وجه وائی چه صحابه کرامؓ کله په ابتداء کښې تراویحو ته راجمع شو نو دوی به د هر دوه سلامونو په مینځ کښې دمه او راحت کولو۔ (فتح الباری صلاة التراویح) بیا تراویح ته صلاة اللیل هم وائی۔ صاحب د فیض الباری وائی : تراویح او تهجد او صلاة اللیل یو شې دې۔ (المرعاة ٤/٣١١)

د نوافلو اقسام :

بیا نوافل یوڅو اقسام دی ١– تهجد ٢– تراویح ۔دا دواړه تقریباً یو شې دې خو فرق دا دې چه تراویح قبل النوم وی او تهجد (غالباً) بعد النوم وی او دواړو ته قیام رمضان وئیلې شی۔

٣– صلاة الاشراق : دا مونځ احادیثو کښې راغلې دې اګرکه نُوم ئې اَحادیثو کښې نشته۔

٤– صلاة الضحیٰ ددې نوم او مونځ دواړه احادیثو کښې راغلی دی۔ دیته صلاة الاوابین هم وائی۔ ٥–صلاة تحیة الوضوء دې، ددې نوم نشته اګرکه دا مونځ شته۔

٦– صلاة تحیة المسجد (نوم ئې نشته) ٧– صلاة التوبة دا په حدیث د علی کښې شته اګرکه نُوم ئې نشته۔ ٨– صلاة المصیبة یعنی د مصیبت او ناشنا کار په وخت مونځ اُوکړې شی دیته صلاة الآیات هم وائی۔ ٩– صلاة الحاجة۔ ١٠– صلاة التسبیح۔

١١– صلاة الاستخارة: دا تول صحيح اَحاديثو كښې راغلى دى.يو بل مونځ دے صلاة حفظ القرآن څلور ركعاته د ذهن تيزولو او قرآن يادولو دپاره) دا په ضعيف حديث كښې راغلے دے. ١٢– سنن رواتب پكښې داخل كړه نو دولس اقسام د نوافلو شو. او ددے نه علاوه باقي نوافل مطلقه دى.

تراويح كور كښې افضل دى او كه مسجد كښې ؟

بيا تراويح كښې دوه مسئلے دى. ١- **المسئلة الاولىٰ** :تراويح كوركښې افضل دى او كه مسجد كښې ؟ ١– قول اول دا دے چه يواځے يواځے كور كښې افضل دى او دا قول د امام مالك او ابويوسفؒ او بعض شوافعو دے. دليل دا دے چه نبي ﷺ فرمائى : (فان افضل صلاة المرء في بيته الا المكتوبة) (دفرضو نه سِوئ د سړى مونځ په كوركښې افضل دے) او روستو حديث كښې راځى (فصلوا في بيوتكم) – (كورونو كښې دا مونځونه كوئ)

٢– **قول ثانى** : په مسجد كښې د جماعت سره اَفضل دى.او دا قول د شوافعو، ابوحنيفةؒ او احمدؒ او بعض مالكيةؒ و دے. دليل دا دے چه تراويح د ښكاره شعائرو د اسلام نه دى نو په مسجد كښې اَفضل دى. ٢– دويم دا چه نبي ﷺ درے ورځے په مسجد كښې د جماعت سره كړيدى.اوبيا ئے پريخودل او علت ئے دا بيان كړو چه زۀ څكه راونه وتم چه يَره ده چه په تاسو فرض نشى، نو كه دا علت نۀ وے نو نبي ﷺ به هميشه كولے.

٣– عمر ؓ په خپل دور خلافت كښې خلق په ابى بن كعبؓ او تميم الداريؒ باندے راجمع كړى وو نو د هغه وخت نه ترنن زمانے پورے دا عمل مستمره د مسلمانانو راروان دے. او دا صحيح حديث دے. او د عدد د تراويح په باره كښې اختلاف راروان دے.

(شرح مسلم باب الترغيب فى قيام رمضان)

٣– **قول ثالث** : پدے كښې تحقيقي قول دا دے چه خشوع ته كتل پكار دى چه كه د يو انسان توجه او خشوع كوركښې مانځه سره پيدا كيدله نو كوركښې افضل دى او كه كور كښې انسان سُستيدو نو بيا مسجد اَفضل دے.

نصيحت : ليكن دا خبره ياد لرل پكار دى چه تراويح نفلي عبادت دے او چه كله انسان عبادت زيات كوى نو د هغه په زړۀ كښې نرمي پيدا كيږى ليكن زمونږ په مسلمانانو دا اَفسوس دے چه كله د تراويح مياشت راشي نو دوى په كښې جګړے شروع كړى چه شل دى او كه اَته دى.بعض ضديان پكښې وائي كه چا اته ركعاته ثابت كړۀ نو جهاز به انعام كښې وركړو، داسے بكواس كوى.

د عبادت چه کومه مَزَه وه هغه خلقو وانخسته نو دا د جګړو مسائل ندی بلکه که چا اَته اُوکړے او که شل او که چا مسجد کښ اُوکړے او که کور کښ تولو دپاره دلائل شته۔

تراویح څو رکعاته دی؟

المسئلة الثانية : تراويح څو رکعاته دی ؟ پدے کښ اختلاف دے سَلَفاً وخَلَفاً۔

١- امام مالكؒ وائي : يولس رکعاته دی۔

٣- احمدؒ، شافعيؒ، ابو حنيفةؒ فرمائي : شل رکعاته دی۔ **دلائل** : د دوی سره قوی دلائل نشته سِوَیٰ د عمل د عُمر فاروق ﷺ نه چه هغه خلق په شلو راجمع کړيدی لکه حديث د يزيد بن خصيفه عن السائب بن يزيد کښ دی : (قال : كانوا يقومون على عهد عمر رضى الله عنه فى شهر رمضان بعشرين ركعة قال: و كانوا يقرأون بالمئين و كانوا يتوكؤن على عصيهم فى عهد عثمان من شدة القيام (البيهقى فى السنن ٤٩٦/٢) ورجاله ثقات)

ليكن بل طرفته د عمر فاروقؓ نه په همدغه روايت د سائب بن يزيد کښ په طريق د محمد بن يوسف کښ يولس رکعاته ثابت دی۔ لکه روستو فصل ثالث کښ اُوګوره۔

نو شيخ البانيؒ په «صلاة التراويح» کښ وائی : روايت د يزيد بن خصيفه عن السائب (د شلو رکعاتو) شاذ دے او روايت دِ محمد بن يوسف عن السائب محفوظ دے او بيا ئے د محمد بن يوسف روايت په دريے وجوهو سره راجح کړيدے :

١- يو دا چه محمد بن يوسف ثقه او ثَبت دے او يزيد بن خصيفه صرف ثِقَه دے، بلکه په يو روايت کښ امام احمدؒ ورته منكر الحديث هم وئيلے دے۔ او ذهبيؒ په «ميزان الاعتدال» کښ راوړيدے او هغه په ميزان کښ هغه راويان ذکر کوی چه کلام پکښ شوے وی لهذا روايت د ثقه او حجت راوی به مقدم وی په روايت د صرف ثقه باندے۔

٢- دويم دا چه يزيد بن خصيفه په خپل روايت کښ په عدد د رکعاتو کښ مضطرب دے، اسماعيل بن اُمَيه د هغهٔ نه نقل کوی (فقال يزيد بن خصيفة : حسبت ان السائب بن يزيد قال : احدى وعشرين رواه عبد الرزاق) نو دا روايت مخالف شو د روايت د عشرين نه او حسبت لفظ د هغه دلالت کوی په اضطراب د هغه باندے په عدد التراويح کښ۔

٣- دريم دا چه محمد بن يوسف د سائب خورئ دے نو دا ورته په قرابت کښ نزدے دے نو دا ډير اَعرف دے په روايت د سائب باندے۔

ليكن اصح دِا ده چه د يولس او شلو مينځ کښ هيڅ منافات نشته ځکه چه جائز ده چه اول ئے يولس رکعاته کړی وی او بيا ئے پکښ زيادت کړے وی۔ لکه دا خبره بيهقيؒ هم

كريده. ځكه په يولسو باندے زيادت جائز دے لكه چه روستو به راشي. او دريمه وجه خو بالكل صحيح نۀ ده ځكه چه په باب د مصطلح الحديث كښ دا قاعده هيچرے نشته چه د قرابت او نسب په وجه د راوى توثيق شوے وى بلكه كله اَجنبى ډير اَحفَظ او اَوثَق وى د قريب نه دارنگه يزيد بن خصيفه د سائب بن يزيد وراوره دے نو دا هم د سائب قريب دے.

ليكن راجح دا ده چه وجه د ترجيح داسے هم بيان كړے شي چه د محمد بن يوسف ډير متابعين موجود دى لكه يحيى بن سعيد القطان هم يولس نقل كړيدى اخرجه ابن ابى شيبة فى المصنف (٣٩١/٢) ـ٢- اسماعيل بن اُميه ٣- اُسَامه بن زيد ٤- اِسماعيل بن جعفر ٥- محمد بن اسحاق، دے ټولو د محمد بن يوسف نه يولس ركعاتۀ نقل كړيدى اگركه محمد بن اسحاق درياـس نقل كړيدى (هغه د سحر سنت هم پكښ داخل كړيدى) كما فى صلاة التراويح للشيخ الالبانى ص (٤٦) او د يزيد بن خصيفه دومره متابعين نشته لهذا روايت د يولسو راجح شو په شلو باندے. هركله چه تعارض اُومنو. مگر صحيح دا ده چه شل هم جائز دى او د يزيد بن خصيفه روايت هم گوزاره حال صحيح دے.

٢- دليل : حديث د ابن عباسؓ دے : (عن ابى شيبة ابراهيم بن عثمان عن الحكم عن مقسم عن ابن عباس ان رسول الله ﷺ كان يصلى فى رمضان عشرين ركعة والوتر (اخرجه ابن ابى شيبة (٣٩٦/٢) وعبد بن حميد (٤٣/١) والطبرانى فى الكبير (٤٨/٣) والاوسط وابن عدى فى الكامل (٢/١) والبيهقى (٤٩٦/٢) والخطيب فى الموضح (٢١٩/١) و كذا فى نصب الراية (١٥٣/٢) والحاوى للفتاوى للسيوطى (٧٣/٢) وفتح البارى (٢٠٥/٤)

الجواب : دا حديث ضعيف جداً دے ابوشيبه متروك الحديث دے (تقريب) حافظ ابن حجرؒ په الفتاوى الكبرى (١٩٥/١) كښ فرمائى : شديد الضعف اشتد كلام الائمة فيه لانه يروى الموضوعات. بيهقى وائى : (تفرد به ابوشيبة وهو ضعيف)

هيثمىؒ په مجمع الزوائد (٧٣/٢) كښ فرمائى : (ان ابا شيبة هذا ضعيف)

حافظ فتح البارى كښ فرمائى : (اسناده ضعيف) دارنگه حافظ زيلعىؒ سنداً او متناً ضعيف گرځولے دے. او دا ئے وئيلى دى چه دا په اعتبار د متن سره د صحيح حديث د عائشةؓ خلاف دے چه هغے كښ دا دى چه نبى ﷺ به په رمضان وغيره كښ په يولس ركعاتو زيادت نۀ كولو (غالباً) (متفق عليه) (نصب الراية (١٥٣/٢)

حافظ ابن حجرؒ وائى : عائشةؓ د نبى ﷺ د شپے په حال باندے ډيره عالِمه ده د بل چا نه. ددے وجه نه حافظ ذهبىؒ په ميزان الاعتدال كښ دا روايتِ د مناكيرو د ابوشيبه نه حساب

کریدے۔ لهذا دا روایت ساقط دے او هیڅ قسم قابل د احتجاج نهٔ دے۔
۲– بله دا چه که د دین مزاج ته چه اُوکتلے شی نو نبی ﷺ د شپے په مانځه کښې رکعاتو ته ډیر نه دی کړی، دے دپاره چه امت باندے تخفیف راشی۔
۳– محمد بن کعب القرظیؒ فرمائی: (کان الناس یصلون فی زمان عمر بن الخطاب فی رمضان عشرین رکعة یطیلون فیها القرائة ویوترون بثلاث) قیام اللیل لابن نصر (۲۲۰) واسناده مرسل)
٤– امام مالكؒ د یزید بن رومان نه روایت نقل کوی چه هغه فرمائی: (کان الناس یقومون فی زمان عمر بن الخطاب رضی الله عنه بثلاث وعشرین رکعة (الموطأ ۹۲) والسنن الکبریٰ (۴۹۶/۲) وشرح السنة (۱۲۰/٤) وقیام اللیل (۲۲۰) وعمدة القاری (۱۷۸/۷) وغیرهم)
لیکن ددے سند منقطع دے۔ یزید بن رومان ثقه دے لیکن عمر فاروق ئے ندے موندلے۔
۵– یحیی بن سعید فرمائی: (ان عمر بن الخطاب امر رجلاً ان یصلی بهم عشرین رکعة (ابن ابی شیبة ۲۹۳/۲) لیکن دا هم د یحیی بن سعید او عمر ترمینځ منقطع دے لیکن که د ماقبل سره ملګرے شی نو یو نوع قوت پیدا کوی۔
٦– حسنؒ فرمائی: (ان عمر بن الخطاب رضی الله عنه جمع الناس علی ابی بن کعب فی قیام رمضان فکان یصلی بهم عشرین رکعة) (ابوداود رقم ۱٤۲۹) والذهبی فی السیر (۱/۱ ٤۰)
لیکن دا هم منقطع دے ځکه حسن بصری د عمر فاروق سره ملاقات ندے شوے۔ دویم دا چه په عامو نسخو د ابوداود کښې (عشرین لیلة) لفظ دے او بعض مقلدینو د (لیلة) په ځائے رکعة لفظ اولګولو تحریف ئے اُوکړو۔
۷– عبد العزیز بن رُفَیعؒ وائی: (کان ابی بن کعب رضی الله عنه یصلی بالناس فی رمضان بالمدینة عشرین رکعة ویوتر بثلاث) (ابن ابی شیبة (۳۹۳/۲)
دا سند قوی دے لیکن منقطع دے د عبد العزیز او ابی بن کعبؓ ترمینځ۔ او دا مرسل نهٔ دے لکه چه بعض وائی ځکه پدے باندے تعریف د مرسل نهٔ صادقیږی۔
۸– (عن علی رضی الله عنه – انه امر الذی یصلی بالناس صلاة القیام فی شهر رمضان یصلی بهم عشرین رکعة یسلم فی کل رکعتین ...... الحدیث) (مسند زید بن علی ص: ۱۳۹)
لیکن مسند د زید بن علی، ابوخالد الواسطی الکوفی نقل کړیدے او هغه کذاب وضاع دے کما فی میزان الاعتدال (۲۵۷/۳) لهذا دا د شیعه ګانو کتاب دے او هیڅ حیثیت ئے نشته۔ ابن عدیؒ فرمائی: (عامة ما یرویه موضوعات) الکامل (۱۷۷٤/۵)
۹– (عن وکیع عن نافع بن عمر قال: کان ابن ابی ملیکة یصلی بنا فی رمضان عشرین

رکعة) (ابن ابی شیبة ٣٩٣/٢) ددے سند صحیح دے لیکن دا د یو تابعی اَثر دے۔

١٠– (عن ابی الحسناء عن علی رضی اللّٰه عنه انه اَمَرَ رجلاً یصلی بهم عشرین رکعة) (الجوهر النقی ٤٩٦/٢) السنن الکبری (٤٩٧/٢)

ددے رجال ثقات دی سِویٰ د ابی الحسناء الکوفی نه چه دا مجهول دے دارنګه د ابو الحسناء او د علیؓ مینځ کښ کله یوه واسطه وی او کله دوه نو احتمال د مُعضل والی هم لری۔

١١– زید بن وهبؒ وائی : (کان ابن مسعود یصلی بنا فی شهر رمضان فینصرف وعلیه لیل قال الاعمش : وکان یصلی عشرین رکعة ویوتر بثلاث) (قیام اللیل لابن نصر ص ٢٢٠) لیکن قول د اعمشؒ منقطع دے ځکه دے د ابن مسعودؓ سره ندے ملاؤ شوے۔

١٢– شتیر بن شکل د علی ﷺ ملګرے دے (انه کان یؤمهم فی شهر رمضان بعشرین رکعة ویوتر بثلاث) (السنن الکبری للبیهقی ٤٩٦/٢)

لیکن دا هم د یو تابعی اثر دے صرف د تائید په درجه کښ دے۔ دارنګه په سند کښ ئے عبد الله بن قیس مجهول دے کما قال النیموی۔

١٣– (عن عطاء، قال : ادرکت الناس وهم یصلون ثلاثة وعشرین رکعة بالوتر) (ابن ابی شیبة ٣٩٣/٢) واسناده حسن کما قال النیموی فی آثار السنن)

١٤– سوید بن غفلة انه کان یؤمهم فی رمضان فیصلی خمس ترویحات عشرین رکعة) (البیهقی ٤٩٦/٢)

سوید بن غفله تابعی دے او د تابعین اقوال دلیل نهٔ وی، دارنګه په سند کښ ئے ابو الخصیب زیاد بن عبد الرحمن لین الحدیث دے۔

دا آثار بعض صحیح دی او بعض ضعیف دی او بعض د تابعینو اقوال دی، ددے نه صرف دا تائید کیدے شی چه شل رکعاته تراویح جائز دی او د نبی ﷺ نه بالکل ثابتے نهٔ دی البته د بعض صحابه کرامو نه نقل دی۔ اګرکه د هغوی نه مختلف قسم اَعمال نقل دی بعضو به د وترو سره نهه دیرش کولے لکه نافع مولی ابن عمر فرمائی : (انه ادرك الناس یصلون بتسع وثلاثین رکعة ویوترون منها بثلاث) (المنتقی شرح الموطأ : ٢٦٥/١)

☆– زُرَاره بن اَبِی اَوْفیٰ ﷺ به په بَصْرَه کښ (٣٤) کولے او بیا به ئے وتر کول۔

دارنګه ترمذیؒ وائی (٤١) هم شویدی۔ او د عمر فاروق په دور خلافت کښ شل هم شویدی او یو لس هم او دیارلس هم۔ فتح الباری (٦جزء/٢٩٢)

علامه مبارکفوریؒ فرمائی : د شلو رکعاتو په باره کښ چه څومره روایات راغلی دی هغه ټول ضعیف دی (تحفة الاحوذی ٦٠٨/٣) او دغه شان علامه ابو الحسن المبارکفوریؒ په

المرعاة (٣٢٢/٣) کښې ضعيف ورته وئيلې دی۔

نتيجه: لهذا ددے نه دا نتيجه راحاصله شوه چه تراويح نفل عبادت دے زيادت هم جائز دے او کم والے هم۔ د نبی ﷺ نه آته (٨) رکعاته ثابت دی او د صحابه کرامؓ نه مختلفې طريقې، نو اصلی سنت اته رکعاته دی نو بس دا اَفضل دی او شل هم جائز دی د وجه د عمل د صحابه کرامؓ نه، او ديته بدعت نشي وئيلے ځکه بدعت به هله وے چه ددے په دين کښې اصل نۀ وے او حال دا چه په شريعت کښې نوافلو ته ترغيبات راغلی دی چه څوک څومره کوی اگرکه فعلی سنت د نبی ﷺ اته رکعاته دی او د زيادت نه ئے منع نۀ ده کړے بلکه ترغيب ئے ورکړے دے۔ په (من قام رمضان ايمان واحتساباً غفر له ما تقدم من ذنبه)

او نبی ﷺ په قولی حديث کښې څه حد هم ندے مقرر کړے چه بس اَته شوے او زيادت ندے جائز بلکه د هغه نه پخپله هم کله ناکله په يولس او ديارلس رکعاتو زيادت ثابت دے۔ لکه احياناً به ئے د وترو نه پس دوه رکعاته په ناسته کول۔

٢- په حديث د ابن عباسؓ کښې دی چه بيا نبی ﷺ کورته راغلو او څلور رکعاته ئے اُوکړل او بيا اُودۀ شو (بخاری ٢٢/١) قيام الليل ص (٩٢) نو نبی ﷺ د ماسخوتن نه پس څلور رکعاته د خوب نه مخکښې اُوکړل او بيا د شپے ئے اته رکعاته يا لس رکعاته يا دولس رکعاته اُوکړل نو دے کښې زيادت د اَتو نه ثابت شو۔

٣- عبد الله بن عمروؓ فرمائی: (من صلى بعد العشاء الآخرة اربع ركعات، كن كعُدلهن ليلة القدر) (ابن ابی شيبة ١/٧٢/٢) بسند صحيح (وهو فی حكم المرفوع) (الضعيفة رقم: ٥٠٦٠) (چا چه د ماسخوتن نه روستو څلور رکعاته مونځ اُوکړو نو داسے به حساب شی لکه د ليلة القدر په شپه چه ئے کړی وی) ٤- په حديث د عمرو بن عبسةؓ کښې تير شويدی چه د درے مکروه اَوقاتو نه ماسِویٰ کښې نبی ﷺ د هرڅومره نوافلو اجازت ورکړيدے (مشکوة ٩٤/١) لهذا په اتو باندے زيادت جواز لری۔

ددے وجه نه شاه انور شاه په العرف الشذی (١٠١/١) کښې ليکی: (قوله ما كان يزيد فی رمضان الخ: هذه الرواية رواية الصحيحين وفی الصحاح صلاة تراويحه عليه السلام ثمانی ركعات، وفی السنن الكبریٰ وغيره بسند ضعيف من جانب ابی شيبة فانه ضعيف اتفاقاً عشرون ركعة واما عشرون ركعة الآن انما هو سنة الخلفاء الراشدين ويكون مرفوعاً حكماً وان لم نجد اسناده قوياً) انتهیٰ

(عائشةؓ فرمائی: نبی ﷺ به په رمضان کښې د يولسو رکعاتو نه زيادت نۀ کولو الخ دا روايت د صحيحينو دے او د صحاحو په روايت کښې د نبی ﷺ تراويح اته (٨) رکعاته ذکر

دی، او په سنن کبرئ وغیره کښ شل رکعاته دی لیکن هغهٔ ضعیف دی سنداً ځکه ابوشیبه اتفاقاً ضعیف دیے، او هرچه نن صبا شل رکعاته دی نو دا د خلفاءِ راشدینو سنت دی او دا مرفوع دی حکماً اګرکه ددیے هم قوی سند مونږ نهٔ دیے موندلے) انتهیٰ۔

نو ګوره حنفی عالم دیے اقرار کوی چه د شلو رکعاتو قوی سند نشته۔

دارنګه ابن الهمام په فتح القدیر (٤٤٨/٢) کښ تصریح کړیده چه شل رکعاته د نبی ﷺ سنت نهٔ دی بلکه دا په زمانه د عمرؓ کښ شویدی نو اته رکعاته سنت او شل مستحب دی۔ دغه شان رد المحتار (٢٩٠/١) کښ دی: چه شل رکعاته سنت د عمرؓ دی او نبی ﷺ ندی کړیدی بلکه هغه صرف اته رکعاته کړیدی۔

ایضاً (٢٩٥/٢) حاشیة البخاری لاحمد علی السهارنفوری (١٥٤/١) ونحوه فی البراهین القاطعة ص (١٨)۔

او صاحب د البحر الرائق (٦٦/٢) او صحاب مرقاة (١٩٤/٣) هم: اصل تراویح سره د وترو نه یولس ګنړی او اته رکعاته د نبی ﷺ نه صحیح ثابت ګنړی"۔ (انظر فتاوی الدین الخالص (٤١١/٥)

انور شاه په فیض الباری (٤٢٠/٢) کښ لیکی: (ثم ان التراویح لم یثبت مرفوعاً اَزْیَد من ثلاث عشرة رکعة الا بطریق ضعیف)

(د نبی ﷺ نه د دیارلسو رکعاتو نه زیاتے تراویح نهٔ دی ثابتے مګر په ضعیفه طریقه)

طحطاوی علی مراقی الفلاح (٢٢٤) کښ دی: یولس رکعاته تراویح سنت دی او د شلو رکعاتو د نبی ﷺ نه حدیث ضعیف دیے۔ انتهیٰ ملخصاً۔ نو ددیے نه د هغه خلقو د قول ضعف معلوم شو چه وائی: شل رکعاتو باندیے امت اتفاق کړیدیے۔ او دارنګه د هغهٔ خلقو چه وائی: په اته رکعاتو باندیے زیادت بدعت دیے۔ فتدبر۔

دلائل د اتو رکعاتو : ١- (عن ابی سلمة بن عبد الرحمن انه سأل عائشة کیف کانت صلاة رسول الله ﷺ فی رمضان؟ فقالت: ما کان یزید فی رمضان ولا فی غیره علی احدی عشرة رکعة یصلی اربعاً فلا تسأل عن حسنهن وطولهن ثم یصلی اربعاً فلا تسأل عن حسنهن وطولهن ثم یصلی ثلاثاً (بخاری ١٥٤/١) ومسلم (٢٦٠/١) وابوعوانة (٣٢٧/١) واحمد (١٠٤،٧٣،٣٦/٦) واصحاب السنن والبیهقی (٤٩٥/٢)

نو دیے حدیث کښ راغلل چه نبی ﷺ به په رمضان او غیر رمضان کښ غالباً د یولس رکعاتو نه زیادت نهٔ کولو۔ پدیے حدیث کښ بعض خلق چالاکی کوی چه یو تهجد دی او یو تراویح دی او دواړه د یو بل نه جُدا شے دیے او دا یولس رکعاته او اته رکعاته تهجد دی او

تراویح نهٔ دي لکه دا خبره رشید احمد گنگوهی په فتاوی رشیدیه کښې ذکر کړیده. نو دا خبره غلطه ده ځکه چه مونږ وایو نبي ﷺ د ماسخوتن مانځه نه پس تر صبا پورې یولس ، او دیارلس رکعاته کړیدي سره د وترو نه په رمضان او غیر رمضان کښې نو څوك دې د هغه نه زیات ثابت کړي چه هغه شل کړي وي. نو دا هسې فرق دې بلکه تراویح، تهجد، قیام اللیل او قیام رمضان ټول د یو شي نوم دې، او نبي ﷺ به تراویح د نصف اللیل نه پس کولې او یا د هغې نه لږ مخکښې یا د هغې نه لږ روستو. او د ماسخوتن نه روستو ئې مباشرةً نهٔ دي کړي اگرکه مباشرةً جائز دي. ځکه اُمت ته ئې اِجازت ورکړیدې.

بله دا چه دا قسم احادیث په تهجدو باندې حمل کول د سیاق د حدیث خلاف دي ځکه دلته ابوسلمهؓ د عائشېؓ نه په رمضان کښې د نبي ﷺ د شپې د مانځه تپوس کړیدې. نو معلومه شوه چه دا تپوس د تراویح په باره کښې دې. نو که دا حدیث بیان د تراویح اُونکړي نو بیا خو به جواب موافق د سوال نهٔ وي.

٢- **دلیل** : جابر بن عبد الله ﷺ فرمائي : (صلى بنا رسول الله ﷺ في شهر رمضان ثمان ركعات واوتر، فلما كانت القابلة اجتمعنا في المسجد ورَجَوْنَا ان يخرج فلم نزل فيه حتى اصبحنا ثم دخلنا فقلنا يارسول الله ! اجتمعنا البارحة في المسجد ورجونا ان تصلي بنا فقال : انى خشيت ان يكتب عليكم) (تفرد به يعقوب وهو ثقة) (اخرجه الطبرانى فى الصغير ص: ١٩٠) وابن نصر فى قيام الليل (٢١٧) وابن حبان (١٦٩/٦) وابن خزيمة (١٣٨/٢) كما فى الفتح (١٠/٣) عنه وفى التلخيص (١١٩/١) واشار الىٰ تقويته (ومسند ابى يعلى (٣٧٦/٢)

(ددې په سند کښې عیسیٰ بن جاریه د جمهورو په نیز ثقه دې او ذهبيؒ په میزان الاعتدال (٣١١/٣) کښې وائي : (اسناده وَسَط). زیلعيؒ پرې سکوت کړیدې (نصب الراية (١١٤/٢-١٥٢٢) او عینيؒ پدې حدیث باندې استدلال کړیدې په جواز د اته رکعاتو. (عمدة القاری ١٧٧/٧) او ددې حدیث تائید مخکښې په حدیث د عائشېؓ کښې هم راغلو.

٣- **دلیل** : جابر بن عبد الله ﷺ فرمائي : ابی بن کعبؓ نبي ﷺ ته راغلو وې فرمایل : یارسول الله ! ما نه بیګاه شپه په رمضان کښې یو کار اُوشو. نبي ﷺ اُوفرمایل : څه اُوشو ابې اُبی؟ . هغه اُووئیل : زمونږ د کور زنانو اُووئیل : مونږ تا سره مونځ کوو. نو ما هغوی ته اته رکعاته اُوکړل. بیا مې وتر اُوکړل. نو هغه فرمائي : نبي ﷺ هیڅ وُنهٔ وئیل نو دا د رضا مشابه شو. (قیام اللیل ص ٢١٧) ورجاله ثقات غير عبد الاعلى بن حماد الفرسى قال الحافظ فى التقريب : لابأس به من كبار العاشرة وفى اسناده عيسى بن جارية وقال الالبانى يحتمل التحسين وقال الهيثمى فى المجمع (٧٤/٢) واسناده حسن) فالحديث لا ينحط عن

درجة الحسن لغيره ويؤيده الاحاديث الصحيحة من فعل النبى)

٤- **دليل**: (عن محمد بن يوسف ان السائب بن يزيد اخبره ان عمر جمع الناس على ابى وتميم فكانا يصليان احدىٰ عشرة يقرء ان بالمئين يعنى فى رمضان) (ابن ابى شيبة ٣٩١/٢) واخرجه مالك (٩٨) والبيهقى (٤٩٦/٢) وابوبكر النيسابورى فى الفوائد (١٣٥/١) وقيام الليل (٢٢٠) وسنده صحيح)

(عمر فاروق په ابى بن كعب او تميم دارى باندے خلق راجمع كړل نو دوى دواړو به يولس ركعاته مونځ كولو چه سلګونو آيتونه به ئے لوستل)

دا بالكل صفا صحيح حديث دے ځكه سائب وړوكے صحابى دے او محمد بن يوسف ثقه حجة دے او يحيى بن سعيد القطان خو معروف امام دے۔ نو د عمر فاروق په زمانه كښ اته ركعاته شويدى او درے وتر۔او دا روايت قوى دے د شلو ركعاتو والا روايت نه لكه چه مخكښ تير شو۔لهذا محققين د څلورو مذاهبو فرمائى چه د نبى ﷺ نه صرف اته ركعاته ثابت دى۔(شرح مختصر الخليل للخرشى ٣٢٨/٤) فصل فى بيان صلاة النافلة)

خلاصه دا شوه چه نبى ﷺ نه قولاً تحديد د ركعاتو په تراويح كښ ندے نقل چه هغه وئيلى وى چه دومره شوے او نۀ به زيادت كولے شى او نۀ نقصان لكه دا خبره عامو علماؤ كړيده (انظر توضيح الكلام ٢٠٣/٢) وطرح التثريب ٣١١/٣) ومجموع الفتاوى ٢٧٢/٢/٢)

او فعل د نبى عليه السلام اته ركعاته وو او اجازه ئے د زيادت وركړيده نو شل او شپږ ديرش او څلويښت ركعاته جائز دى۔خو د هغه چا دپاره چه اته ركعاتو ته سنت وائى او رمضان د عبادتونو مياشت ده نو چه څومره ښائسته مونځ انسان كولے شى او زيات كولے شى نو كوى دے ئے هيڅ مانع نشته۔

ليكن دے سره دا خبره ياد ساتل پكار دى چه دا نن صبا مساجدو كښ چه كومے تراويح كولے شى چه د نهه ويشت (٢٩) ركعاتو نه په نيمه ګينټه كښ ځان خلاص كړى نو دا سُو چه بدعت دے داسے يوه تراوَه هم نشته پاتے لا اته او شل دا د قرآن او مسجد او مونځ پورے خندا ده۔ ددے نه نۀ كول بهتر دى۔انظر ايضاً سبل السلام (٢٦٨/٢)

او كوم صحابه كرامؓ چه به شل ركعاته كول نو هغوى به د پيشنمى پورے كول، او د اُوګدو اُودريدو په وجه به ئے په آمسا ګانو باندے تكيه وهله۔ نو مقلدين خو دے د دغه صحابه كرامؓ عمل بالكل نۀ پيش كوى ځكه چه دوى د هغوى په شان شل ركعاته بالكل نۀ كوى۔

بيا كوم خلق چه دا وائى چه په شلو ركعاتو باندے اجماع د اُمت شويده د زمانے عمرؓ

نه لهذا دا افضل دی نو دا خبره مردوده ده ځکه چه تا مخکښ اُوپيژندل چه په صحيح سند سره د عمر فاروق نه دا ثابت شو چه هغه ابی بن کعبؓ او تميم داریؓ ته حکم په يولس رکعاتو کړے وو۔

٢- او دارنګه نافع مولی ابن عمر فرمائی : ما خلق (صحابه کرامؓ) موندلی دی چه هغوی به نهه ديرش (٣٩) رکعاته کول درے به ئے پکښ وتر کول۔

او دا قول امام مالك غوره کړيدے۔ (المنتقی شرح الموطأ ١/٢٦٥) عمدة القاری ١٥٨/١٧ باب فضل من قام رمضان)

امام مالك وائی : (وعلی هذا العمل بالمدينة قبل الحرة منذ بضع ومائة سنة)۔

٣- او مشهور روايت د امام مالك نه دا دے چه (٤٦) تراويح او درے وتر به کوی۔

٤- او زُراره بن ابی اوفیؓ به (٣٤) تراويح کولے۔ کما مرّ

٥- او سعيد بن جبيرؒ به (٢٤) يا (١٦) رکعاته علاوه د وترو نه کول۔

(فتح الباری (٢٩٣/٦)

٦- عينی ليکی : ابن عبد البرّ په الاستذکار کښ د أسود بن يزيد نه نقل کړيدی چه هغه به (٤٠) تراويح او نهه رکعاته وتر کول۔ (تحفة الاحوذی (٣٤٩/٢)

٧- امام شافعیؒ فرمائی : ما خلق ليدلی دی چه په مکه کښ به ئے (٢٣) او په مدينه کښ به ئے (٣٩) رکعاته کول او پدے تولو کښ فراخی ده۔(فتح الباری)

٨- ابن سيرينؒ فرمائی : معاذ ابو حليمة القاری به په رمضان کښ خلقو ته (٤١) رکعاته کول۔

٩- ابن ابی ذئبؒ نه نقل دی چه صالح مولی التوأمة فرمائی : (ادرکت الناس قبل الحرة يقومون باحدی واربعين يوترون منها بخمس) قيام الليل لابن نصر (تحفة الاحوذی ٣٤٩/٢)

امام ترمذیؒ وائی : دا بعض علماؤ غوره کړيدے او دا عمل د أهل مدينه دے۔ انتهیٰ۔

او دا قول د اسحاقؒ دے۔(تحفة الاحوذی وعمدة القاری ١٢٦/١١)

نو اُوګوره کوم ځائے د اجماع دعوه صحيح ده ؟ !۔

او ددے نه دا سوال د بعض مقلدينو هم حل شو چه هغوی وائی تاسو اته رکعاته کوئ او حرمينو کښ شل رکعاته کيږی ؟ مونږ وايو چه اته رکعاته د نبی ﷺ فعلی سنت دی او اجازه ئے د زياتو هم ورکړيده لهذا اتو ته به سنت وائے او که چا زيادت اُوکړو نو نوافل دی اجازت پکښ راغلے دے ليکن شل رکعاته به د حرمينو په شان کولے شی۔ مقلدين دا عمل اهل الحق ته پيش کوی ليکن حرم کښ څو مره سنت طريقے عملی کيږی هغے ته نۀ

گوری بیا وائی دا د هغوی خپل مذهب دے۔

ښهٔ تفصیل ددے مسئلے په فتاوی الدین الخالص (٤١٠/٥) تحفة الاحوذی او الجامع لاحکام الصلاة (٦٥/٣) لمحمود عبد اللطیف عویضة وغیره کښې اُوګوره۔

الفصل الاول

١ – عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ: اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ اِتَّخَذَ حُجْرَةً فِي الْمَسْجِدِ مِنْ حَصِيْرٍ، فَصَلّٰى فِيْهَا لَيَالِيَ، حَتّٰى اجْتَمَعَ عَلَيْهِ نَاسٌ، ثُمَّ فَقَدُوْا صَوْتَهٗ لَيْلَةً، وَظَنُّوْا اَنَّهٗ نَامَ، فَجَعَلَ بَعْضُهُمْ يَتَنَحْنَحُ لِيَخْرُجَ اِلَيْهِمْ. فَقَالَ: «مَا زَالَ بِكُمُ الَّذِيْ رَاَيْتُ مِنْ صَنِيْعِكُمْ، حَتّٰى خَشِيْتُ اَنْ يُّكْتَبَ عَلَيْكُمْ. وَلَوْ كُتِبَ عَلَيْكُمْ مَا قُمْتُمْ بِهٖ فَصَلُّوْا اَيُّهَا النَّاسُ فِيْ بُيُوْتِكُمْ، فَاِنَّ اَفْضَلَ صَلَاةِ الْمَرْءِ فِيْ بَيْتِهٖ اِلَّا الصَّلَاةُ الْمَكْتُوْبَةُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : زید بن ثابت ﷺ فرمائی : نبی ﷺ په مسجد کښې د بزکی (پوړ، پوزی، چټائی) نه یوه حجره (کوټنۍ) جوړه کړه په هغے کښې ئے یو څو شپے (د تراویح) مونځ اُوکړو، تردے چه خلق (صحابه کرام) ورته راجمع شی (نو بیا ئے په شریکه جماعت سره شروع کړے) تردے چه یوه شپه هغوی د رسول الله ﷺ آواز ورك کړو (یعنی هغهٔ ورته راوُنهٔ وتو) نو خلقو دا گمان اُوکړو چه هغهٔ به اُودهٔ شوے وی، نو بعض خلق شروع شو چه نَحْنَحَهٔ (غاړے ئے تازه) کولے، دے دپاره (چه هغهٔ رابیدار شی چه) صحابه کرامو ته رابهر شی (او تراویح ورته اُوکړی) نو رسول الله ﷺ ورته (راووتو یا ئے د حُجرے نه اُوفرمایل یا ئے سحر کښې ورته اُوفرمایل لکه دا د بل روایت نه معلومیږی) چه ستاسو کار کوم چه ما اُولیدو په تاسو جاری وو (یعنی جماعت سره د تراویح کولو شوق همیشه شو) تردے چه ما ته دا یَره اُوشوه چه په تاسو باندے به (دا تراویح) فرض شی او کهٔ دربانده فرض شوی وے نو بیا به دے ته (پوره) نشوے اُودریدلے، (همیش والے به مو نهٔ وے کړے) لهذا اے خلقو ! تاسو کورونو کښې مونځ کوئ ځکه د سړی بهترین مونځ هغهٔ دے چه په کور کښې وی، سِوا د فرض مانځه نه (چه دا په مسجد کښې د جماعت سره بهتر او لازم دے) (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : ---- د تراویح د شروع کیدو ابتداء :

کله چه رمضان میاشت داخله شوه نبی ﷺ صحابه کرامو ته ترغیب ورکړو په قیام رمضان باندے او ددے فضائل ئے ورته بیان کړل نو صحابه کرامؓ به څوك مسجد ته راتلل او چا به کور کښې ځانله ځانله نوافل کول۔ یو ورځ کور نه راووتو، وے لیدل چه بعض خلق د

بعضو پسے ولاړ وو، تپوس ئے اوکړو دا څهٔ چل دے ؟ چا جواب ورکړو چه دا بعض خلق دی چه قرآن کریم ئے نهٔ دے یاد او د قاریانو پسے مونځ کوی نو نبی ﷺ غلے شو او دغه شان ئے پریخودل ۔او بعض روایاتو کښې دی وے فرمایل : (اَحْسَنُوْا) (ښهٔ کار کوی) (قیام اللیل لابن نصر) بیا نبی ﷺ څه وخت روستو عائشےؓ ته اُوفرمایل : چه ما دپاره د حُجرے په دروازه کښې د پوزی (بزکی) نه یوه کوټه جوړه کړه نو نبی ﷺ د ماسخوتن مونځ اُوکړو او کور ته داخل شو بیا نیمه شپه راووتو او ځانله ئے مونځ ئے شروع کړو نو مسجد کښې حاضر خلق هم ورسره اُودریدل نو نبی ﷺ پرے پوهه شو چه خلق راپسے اُودریدل نو قراءت ئے ورته په جهر شروع کړو۔دغه شپه خو لاړه بلے شپے له خلق خبر شو نو د اولے شپے نه زیات راغلل بیا دلته روایاتو نه مختلف دی چه آیا دا کار دوه یا درے شپے شوے وو او که یوه شپه وو۔

لیکن یوه شپه نبی ﷺ د ماسخوتن مونځ اُوکړو او کور ته لاړو بیا د شپے راووتو گوری چه مسجد د خلقو نه ډک دے۔ عائشهؓ فرمائی : نزدی وو چه مسجد د خلقو نه تنگ شوے وے۔ وے فرمایل : اے عائشےؓ دا څه چل دے؟ عائشےؓ اُوفرمایل : خلق ستا د وتلو انتظار کښې دی، چه تا پسے مونځ اُوکړی لکه څنګه چه پرون خلقو مونځ کړے وو۔ نبی ﷺ اُوفرمایل : دا بزکے غونډ کړه او کور ته داخل شو او صبا راووتو۔

وے فرمایل : (والله ما بت بحمد الله غافلاً لیلتی هذه وما خفی علیّ صنیعکم ولکنی خشیت ان اخرج الیکم فتفرض علیکم) (قسم په الله ! ما بیګاه شپه الحمد لله په غفلت کښې نهٔ ده تیره کړے او ستاسو دا کار هم رابانده څه مخفی نهٔ وو لیکن زهٔ ځکه راونه وتم چه په تاسو باندے فرض نشی)۔

(شرح بلوغ المرام للشیخ عطیة سالم ۱۵/۲) ونصب الرایة (۲۲۸/۳)

او پدے موقعه کښې نبی ﷺ صحابه کرامؓ ته اته رکعاته اُوکړل لکه چه مخکښې په روایت د جابر بن عبد الله کښې تیر شو۔

حُجْرَةً : اعتکاف دپاره مسجد کښې کوټه جوړول چه د خلقو نه په کښې جُدا وی او دے دپاره چه نظر ئے محفوظ وی، زړهٔ فارغه وی، توجه هر طرفته نهٔ بدلیږی – ښهٔ کار دے۔کله چه نورو مونځ کونکو ته پکښې تکلیف نهٔ وی۔ حرمینو کښې تکلیف جوړوی۔

يَتَنَحْنَحُ : دے نه دا حاصلیږی چه څوک د چا د خبرولو یا اِجازت طلب کولو دپاره غاړهٔ تازه کول جائز دی۔

فَقَالَ: دا ئے په سحر مانځه کښې وئیلی وو۔ لکه د بل روایت نه معلومیږی۔

اَنْ يُّكْتَبَ عَلَيْكُمْ : سوال : دلته اشکال دا دے چه په حدیث د اسراء کښې راغلی دی چه

الله تعالى نبى ﷺ ته اُوفرمايل : (هن خمس وهن خمسون لا يبدل القول لدىّ) (يعنى مونځونه پنځه شو او اجرئے د پنځوسو دے او زما قول كښ تبديلى نه راځى) نو ددے روايت نه معلومېږى چه د نورمونځونو د فرض كيدو خطره ختمه شويده. او دلته وائى چه تراويح مے ځكه اُونكړے چه يَره ده دفرض كيدو نه؟.

الجواب : ددے نه حافظ ابن حجرؒ يو څو جوابو نه وركړى دى اول جواب دا چه يَره د قيام الليل د فرض كيدو نه وه پدے معنىٰ چه په مسجد كښ د شپے د نفلو د صحت دپاره جَماعت شرط دے. او ديته اشاره كوى دا لفظ چه (ولو كتب عليكم ما قمتم به فصلوا ايها الناس فى بيوتكم) نو په مسجد د راجمع كيدو نه ئے منع كړل. د وجه د دغه خطرے نه.

۲- **جواب** : احتمال شته چه دلته د قيام الليل فرض كفايه كيدو خطره وه نه فرض عين كيدو، نو دا بيا د پنځونه نهٔ زياتيږى. ۳- **جواب** : يا يَره ده د خاص قيام رمضان د فرض كيدو نه. ځكه قيام رمضان هره ورځ تول كال نهٔ دے فرض بلكه صرف يوه مياشت وى. ليكن بيا وائى زما په نظر كښ اول جواب راجح دے. انتهىٰ.

بيا دا حديث دليل دے چه تراويح په جَمع او اِنفرادى دواړو طريقو سره سنت عمل دے.

فَإِنَّ أَفْضَلَ صَلَاةِ الْمَرْءِ: دا حديث دليل دے چه نوافل اگركه قيام رمضان وى په كور كښ بهتر دى ليكن كه مسجد كښ ښائسته طريقے سره كيدے شوے او په كور كښ انسان كښ سُستى راتله يا اُمِى دے، قرآن ورله نهٔ ورځى نو هغه دپاره مسجد كښ بهتر دى ځكه تراويح د شعائرو د اِسلام نه دى لكه د عيد او استسقاء وغيره په شان نو مسجد كښ بهتر دى او كور كښ هله بهتر دى چه انسان قارى وى، دارنگه توجه ئے كور كښ زياته پيدا كيږى او ددهٔ د پاتے كيدو په وجه مسجد نهٔ مُعطل كيږى.

(كما فى شرح مختصر الخليل للخرشى ٤/ ٣٣٠)

فوائد الحديث : ۱- حديث دليل دے چه تراويح اِنفراداً او اِجتماعاً دواړه طريقو سره مستحب دى. كوم علماء چه وائى جماعت پكښ بدعت دے نو هغه صحيح نهٔ وائى ځكه چه نبى ﷺ جماعت كړيدے او د پريخودو علت ئے يَره د فرضيت خودلے ده، او دا علت زائل شويدے نو بيرته جماعت ته خبره واپس شوه ددے وجه نه عمر فاروق صحابه كرامؓ او تابعينؒ په يو امام راجمع كړل. صرف په اَفضليت د جماعت كښ اِختلاف دے. آو ! څوك چه تراويح د فرضو په شان لازم گنړى نو بيا به بدعت وى.

۲- ددے روايت نه مذهب د ابويوسفؒ او احمدؒ وغيره معلومېږى چه تراويح كور كښ افضل دى. ۳- په ځان باندے په عمل كښ تشدد نهٔ دے پكار، چه نبى ﷺ يو كار نهٔ وى

ضروري کړے او يو انسان ځان په تشدد کښې اَچوي دا ندے پکار۔
۴– په کور کښې نوافل او سنن د مسجد نبوي نه هم ډير افضل دي، سَره ددے نه چه هغے کښې يو فرض مونځ په يو زر دے۔ د وجه ددے حديث نه چه نبي ﷺ فرمائي : نوافل کور کښې کوئ۔ ددے په وجه کور کښې الله خير راولي۔
۵– دا امر د ندب او استحباب دپاره دے او د وجوب دپاره نۀ دے۔که چا مسجد کښې نفل او سنت اُوکړل نو هم جواز لري۔ نبي ﷺ او صحابه کرامؓ مسجد کښې هم کړيدي۔
۶– دا حکم عام دے، ټولو نوافلو او سُننو ته شامل دے چه کور کښې کول ئے افضل دي ليکن ددے نه بعض مونځونه مُستثنیٰ دي۔ (۱) – تحية المسجد (۲) – رکعتي الطواف۔ ځکه دا نوافل سببي دي۔ (۳) – يا هغه نوافل چه د اسلام شعار وي لکه عيد او صلاة الکسوف او صلاة الاستسقاء۔ چه دا په کور کښې افضل نۀ دي۔
۷– نبي ﷺ تراويح کور کښې اُونکړے او مسجد ته راوُتو نو ددے نه جُمهور علماؤ دا استدلال کړيدے چه تراويح په مسجد کښې اَفضل دي۔ ليکن اصح دا ده چه نبي ﷺ پدے وخت کښې په اعتکاف کښې دے او مُعتَکِف به مسجد کښې مونځونه کوي۔
دارنګه هرکله ئے چه په حُجره د حَصِير کښې مونځ اُوکړو نو دا داسے دے لکه د کور په شان۔
يا دا چه د نبي ﷺ د بيان الجواز دپاره مسجد کښې مونځ کړيدے او د هغه دپاره په مفضول باندے عمل کولو کښې د افضل عمل اجر ملاويدو ځکه هغه داعي دے۔والله اعلم۔
۸– حديث نه ثابته شوه چه مَشر له پکار دي چه کله يو کار د خپل اَتباعو خلاف عادت اُوکړي نو هغوي ته عذر او حکمت بيان کړي۔
۹– د نبي ﷺ څومره شفقت دے په اُمت باندے چه د فرضيت د ويرے په وجه ئے تراويح په جماعت سره پريخودے۔
۱۰– بعض مصالح د خوف د مَفسَدَتُ په وجه پريخودل جائز دي۔
۱۱– اَهَمُّ الْمَصْلَحَتَيْن اختيارول پکار دي۔يعني په دوه مُهمو کارونو کښې ډير اَهم مخکښې کول پکار دي۔
۱۲– دلته نبي ﷺ د صحابه کرامؓ د امامتئ نيت نۀ وو کړے او بغير د نيت نه جماعت جوړ شو نو دے نه دا فائده معلومه شوه چه د امام او د مقتدي نيت کښې يو والے ضروري نۀ دے۔ او اقتداء د مُفترض د مُتنفل پسے بالکل جائز ده۔

۲– وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ، قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُرَغِّبُ فِيْ قِيَامِ رَمَضَانَ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَّأْمُرَهُمْ

فِيهِ بِعَزِيمَةٍ، فَيَقُولُ: «مَنْ قَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ، فَتُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ ﷺ وَالْأَمْرُ عَلَى ذٰلِكَ، ثُمَّ كَانَ الْأَمْرُ عَلَى ذٰلِكَ فِي خِلَافَةِ أَبِي بَكْرٍ، وَصَدْرًا مِنْ خِلَافَةِ عُمَرَ عَلَى ذٰلِكَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ به د رمضان په قيام (الليل، تراويح كولو كښې) ډير ترغيب وركولو مگر دومره وه چه هغوى ته به ئې مؤكد حكم نۀ كولو، نو هغۀ به فرمايل : « څوك چه د ايمان په وجه او د ثواب گنړلو په نيت د رمضان قيام (الليل، تراويح) اُوكړى نو هغۀ ته به مخكنى گناهونه اُوبخلے شى»، نو رسول الله ﷺ وفات شو او حالت همدغه شان وو، (يعنى د تراويح دپاره جماعت مقرر نۀ وو، بلكه چا چه به څۀ غوختل نو د ثواب په نيت به ئې كول) بيا په خلافت د ابوبكر كښې هم دغه شان صورت وو، او د عمر فاروق په ابتدائى زمانه د خلافت كښې هم حالت همدغه شان وو. (مسلمؒ)

تشريح : بِعَزِيمَةٍ : يعنى د تراويحو په باره كښې ئې ترغيب وركړو او مضبوط حكم ئې د فرضو په شان اُونكړو نو دا دليل دے چه تراويح او قيام رمضان مستحب عمل دے او فرض او واجب نۀ دے، نو ددے فرض گنړل بدعت دے. روستو فيقول الخ ددے ترغيب تفصيل دے.

إِيمَانًا : دے قيدونو ته فكر اُوكړه د مؤمن سرى إيمان خو د رمضان نه مخكښې وى نو څنگه بيا ايمان ذكر كوى نو يوه فائده دا ده چه پدے كښې د ايمان مرتبه ښائى چه دا فضيلتونه او ثوابونه گوره صرف ايمان والو دپاره دى نۀ د كفارو او منافقينو دپاره، د عملونو د قبليدو دارومدار په ايمان باندے دے.

٢- دويم پدے كښې ناشنا نكته ده چه په هر مؤمن باندے لازم دى چه د رمضان د اَهميت د وجه نه به د رمضان دپاره نۀ وے ايمان راوړى او د زړۀ كيفيت به د مخكښې حالت نه بدلوى او ځان به ورته د مخكښې نه تيارى او دعاگانے به كوى لكه څنگه چه د نبى عليه السلام او سلفو دا عمل وو چه مخكښې نه به ئې فرمائيل : (اللهمَّ بَارِكْ لَنَا فِيْ شَعْبَانَ وبَلِّغْنَا رَمَضَانَ) (اے الله ! مونږ رمضان ته په خير اُورسوے چه د هغے خيرونه حاصل كړو) او پدے كښې اشاره ده چه دا به په ډيره جذبه سره كوى ايمان به پرے باعث وى.

وَاحْتِسَابًا : يعنى دا عمل به د رياء او سمعت او ورزش په نيت نۀ كوى بلكه ددے اعمالو د ثواب حساب به لگوى چه په دے باندے الله دومره دومره خيرونه وركوى نو پدے كښې اخلاص ته اشاره ده. او هر عمل كښې احتساب شرط دے كه څوك هر عمل كوى او ثواب ئې نۀ گنړى او هسے د عادت په طريقه ئې كوى نو اجر ورته نۀ ملاويږى.

مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ : په روايت د احمدؒ وغيره کښې ورسره (وما تأخر) هم راغلے دے۔ (مجمع الزوائد ١٧٥/٣) وكنز العمال٥٤٤/٨)

يعني روستني ګناهونه هم ورسره معاف کيږي۔ او د روستنو ګناهونو معاف کيدو يوه معنیٰ دا ده چه الله به ددوی حفاظت اُوکړی د ګناهونو نه يا دا چه که روستو ترے کومه ګناه کيږی نو سمدست به معاف کيږی۔ بيا دلته کوم ګناهونه معاف کيدل مراد دی نو جُمهور وائی صغائر دی۔ ليکن ابن المنذرؒ وغيره وائی دا صغائر او کبائر تولو ته شامليږی او همدا خبره حقه ده د الله د رحمت نه بعيده نهٔ ده۔

كَانَ الْاَمْرُ عَلٰى ذٰلِكَ : يعني ددغه زمانے نه واخله تر زمانے د عمر فاروق پورے به خلقو ځانله ځانله تراويح کولے او د جماعت اهتمام به نهٔ وو بعضو به يکښې جَمعه کوله او بعضو به کور کښې کول او بعضو به مسجد کښې کول، بعضو به په اول د شپه کښې کول او بعضو به په آخر د شپه کښې کول۔

وَصَدْرًا مِنْ خِلَافَةِ عُمَرَ : صدر اول سرته وائی۔ بعض وائی : ددے نه مراد اول کال د خلافت د عمر فاروق دے ځکه چه د عمر خلافت په جمادی الثانيه ديارلسم (١٣) هجری کښې وو او د تراويح په جماعت سره کيدو اهتمام په (١٤) هجری کښې په دويم کال د خلافت د عمرؓ باندے اُوشو۔لکه دا خبره سيوطیؒ، ابن الاثيرؒ او ابن سعدؒ کړيده۔

ددے نه معلومه شوه چه په اول امر باندے عمل کول افضل دی۔ چه يواځے تراويح کور کښې اُوکړی خو پدے شرط چه قرآن ورله ورځی او توجه ئے زياته وی او ددهٔ په وجه مسجد نهٔ شړيږی۔ ځکه مسجد کښې کول ئے هم شعار الاسلام دے۔

٣– وَعَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ:«اِذَا قَضٰى اَحَدُكُمُ الصَّلَاةَ فِيْ مَسْجِدِهٖ، فَلْيَجْعَلْ لِبَيْتِهٖ نَصِيْبًا مِنْ صَلَاتِهٖ، فَاِنَّ اللّٰهَ جَاعِلٌ فِيْ بَيْتِهٖ مِنْ صَلَاتِهٖ خَيْرًا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او جابر ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمايلی دی : «کله چه يو ستاسو په مسجد کښې (فرض) مونځ اُوکړی نو هغهٔ له پکار دی چه د خپل کور دپاره د خپل مانځه نه څهٔ حصه مقرر کړی، ځکه الله تعالیٰ ددهٔ په کور کښې ددهٔ د مانځه په وجه خير (او برکت) راولی »۔ (مسلمؒ)

تشريح : دا حديث دليل دے چه کله انسان کور کښې تراويح کوی نو فرض مونځ به مسجد کښې کوی، داسے نهٔ چه کور کښې فرض او تراويح تول اُوکړی۔

خَيْرًا: يعنې کور کښې نوافل او سنن کولو سره په دے کور کښې خير نازليږي، په رزقونو او عُمرونو کښې برکت پيدا کيږي، او دے کور والو ته الله توفيق او هدايت نصيب کوي، شيطانان ترے نهٔ تختي۔ جنګ جګړے ختميږي۔ ملائك ورته حاضريږي او هغه بيا دے انسان له استغفار او دعاګانے طلب کوي او برکات او سکينه نازليږي۔

او دا حديث مصنفؒ دے دپاره راوړو چه نوافل په کور کښې کول بهتر دي ليکن دے سره به دا خبره زدهٔ کړے چه تراويح په مسجد کښې هم بهتر دي ځکه چه نبي ﷺ او صحابه کرامؓ مسجد کښې هم کړيدي، مګر قاري وغيره دپاره کور کښې افضل دي په مخکنو شرطونو۔

الفصل الثاني

٤ – عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: صُمْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ، فَلَمْ يَقُمْ بِنَا شَيْئًا مِنَ الشَّهْرِ حَتّٰى بَقِيَ سَبْعٌ، فَقَامَ بِنَا حَتّٰى ذَهَبَ ثُلُثُ اللَّيْلِ، فَلَمَّا كَانَتِ السَّادِسَةُ لَمْ يَقُمْ بِنَا، فَلَمَّا كَانَتِ الْخَامِسَةُ قَامَ بِنَا، حَتّٰى ذَهَبَ شَطْرُ اللَّيْلِ، فَقُلْتُ: يَارَسُولَ اللهِ! لَوْ نَفَّلْتَنَا قِيَامَ هٰذِهِ اللَّيْلَةِ؟ فَقَالَ: «إِنَّ الرَّجُلَ إِذَا صَلّٰى مَعَ الْإِمَامِ حَتّٰى يَنْصَرِفَ، حُسِبَ لَهٗ قِيَامُ لَيْلَةٍ». فَلَمَّا كَانَتِ الرَّابِعَةُ لَمْ يَقُمْ بِنَا حَتّٰى بَقِيَ ثُلُثُ اللَّيْلِ، فَلَمَّا كَانَتِ الثَّالِثَةُ، جَمَعَ أَهْلَهٗ وَنِسَاءَهٗ وَالنَّاسَ، فَقَامَ بِنَا حَتّٰى خَشِينَا أَنْ يَفُوتَنَا الْفَلَاحُ. قُلْتُ: وَمَا الْفَلَاحُ؟ قَالَ: السُّحُورُ. ثُمَّ لَمْ يَقُمْ بِنَا بَقِيَّةَ الشَّهْرِ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوٗدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، وَرَوَى ابْنُ مَاجَه نَحْوَهٗ، إِلَّا أَنَّ التِّرْمِذِيَّ لَمْ يَذْكُرْ: «ثُمَّ لَمْ يَقُمْ بِنَا بَقِيَّةَ الشَّهْرِ».

ترجمه: او ابوذر ؓ فرمائي: مونږ د رسول الله ﷺ سره (په رمضان کښې) روژه اُونيوله، نو هغهٔ د مياشتے په اکثرو ورځو کښې زمونږ سره قيام اُونهٔ کړو (يعنې مونږ سره ئے د فرضو نه علاوه نور مونځ اُونکړو) ترديے چه کله اُووه ورځے پاتے شوے (يعنې درويشتمه شپه راغله) نو هغهٔ مونږ سره د دريمے حصے د شپے پورے اُودريدو (يعنې مونږ ته ئے د تراويح مونځ اُوکړو) کله چه شپږ شپے باقي پاتے شوے (يعنې څليريشتمه شپه شوه) نو نبي ﷺ قيام اُونهٔ کړو بيا چه کله پنځه شپے باقي پاتے شوے (يعنې پنځه ويشتمه شپه شوه) نو مونږ سره ئے نيمے شپے پورے قيام اُوکړو، نو ما عرض اُوکړو چه يارسول الله! کاش چه تا د شپے قيام نور زيات کړے وے (يعنې کهٔ د نيمائي شپے نه دے زيات مونځ کړے وے نو ډيره به ښهٔ وه) وے فرمايل: «کله چه يو شخص د امام سره مونځ

اُوكړى تردے چه هغهٔ (اِمام) واپس شى۔ (يعنى د اِمام د فراغت پورے اِمام سره شامل وى) نو هغهٔ له د تولے شپے د عبادت ثواب ليكلے كيږى۔ كله چه څلور شپے پاتے شوے (د باقى شپو نه يعنى شپږ ويشتمه شپه شوه) نو مونږ سره ئے قيام اُونكړو تردے چه دريمه حصه د شپے پاتے شوه (او مونږ د هغهٔ په انتظار كښې وو چه اُوس به راوځى او مونږ ته به راته كوى) كله چه درے شپے باقى پاتے شوے (يعنى اُووه ويشتمه شپه راغله) نو رسول الله ﷺ خپل كور والا، زنانه، ماشوم او نور خلق راجمع كړل او مونږ سره ئے قيام اُوكړو (يعنى توله شپه ئے مونږ ته مونځ اُوكړو) تردے چه مونږ ته دا خطره اُوشوه چه چرته فلاح زمونږ نه فوت نهٔ شى۔ راوى وائى چه ما تپوس اُوكړو: فلاح څهٔ شے دے؟ ابوذرؓ اُوفرمايل: پيشمنے كول دى، بيا رسول الله ﷺ مونږ سره د مياشتے په باقى شپو (اته ويشتمه او نهه ويشتمه شپه) كښې قيام اُونهٔ كړو۔ (ابوداودؒ، ترمذیؒ، نسائیؒ) او ابن ماجهؒ ددے په شان روايت نقل كړے دے مگر ترمذى پكښې « ثم لم يقم بنا بقية الشهر » الفاظ نهٔ دى ذكر كړى۔

تشريح: يعنى نبى ﷺ دروېشت شپے صحابه كرامؓ ته تراويح اُونكړے بلكه هر سړى به ځانله ځانله كولے او بيا په درويشتمه شپه صحابه كرامؓ ته اُودريدو او هغه هم په دے طريقه چه نبى ﷺ په تهجدو اُودريدو په خپله كوټه د بزكى كښې نو صحابه كرام وريسے اُودريدل او د مخكښې نه پروگرام نهٔ وو نو بس جماعت ترے جوړ شو او د مخكښې نه اهتمام د جَمعے نهٔ وو۔

ثُلُثُ اللَّيْلِ: يعنى په اوله شپه كښې ئے تراويح اُوكړے، د ماسخوتن نه تر ثلث الليل پورے ولاړ وو لكه دا ظاهر ددے حديث دے نو ددے نه بيا دا ثابته شوه چه نبى ﷺ ماسخوتن كښې هم تراويح كړيدى۔ يا معنىٰ دا ده چه د ثلث الليل په اَندازه تراويح ئے اُوكړے۔

او بله شپه نيمائى شپه او په بله شپه تر پيشنمى پورے۔ او په روستنو شپو كښې ئے قيام زيات كړے يو خو د صحابه كرامؓ درخواست وو او بل اُووه ويشتمه شپه دليلة القدر ده نو ځكه ئے اهل هم راجمع كړل۔ او عرب ددے شپے ډير اهتمام كوى۔ او بيا ئے په تاك شپو كښې عبادت اُوكړو ځكه دا د ليلة القدر شپے دى۔

السَّادِسَةُ: د عربو عادت دا دے چه كله مياشت شلو ته اُورسى نو بيا د آخر طرفنه حساب كوى نو دلته د السادسة نه مراد دا دے چه شپږ شپے پاتے شوے يعنى څليريشتمه شپه شوه۔ او دا حساب پدے طريقه دے چه دوى د آخرى دريشتمے شپے نه حساب شروع كړيدے تر اُووه شپو پورے نو د هغهٔ ديرشتمے نه چه حساب شروع كړے نو شپږمه شپه څليريشتمه راځى۔

لَوْ نَفَّلْتَنَا : يعني كه تا مونږ ته زياتي كړے وے قيام الليل ددے شپے۔ نو ډير به ښه وے۔ يا لو تمنائيه دے نو جزاء نۀ غواړي۔ يعني اَرمان دے چه تا مونږ ته ددے شپے تراويح زياتي كړے وے۔ تراويح ته ئے نفل اُووئيل ځكه چه د فرضو نه زائد شي ته نفل وائي۔ او دا هم د فرضو نه زياتي دي۔ د صحابه كرامو شوق ته اُوگوره نيمه شپه عبادت ئے ورته اُوكړو او د نورو شوق هم لري، زړونه ئے ډير صفا وو۔

اِنَّ الرَّجُلَ : دا ورته نبي ﷺ فضيلت د تراويح بيان كړو چه څوك د امام سره تراويح اُوكړي تر فراغت د هغه پورے نو دۀ دپاره الله د پوره شپے ثواب د قيام الليل ليكي۔

بيا پدے كښ دوه معاني دي ١ – يو دا چه ددے نه مراد فرض مونځ دے يعني چا چه د ماسخوتن مونځ د امام سره اُوكړو نو د فرضو په مقدار د قيام الليل ثواب ورته ملاويږي۔

٢ – دويمه معنىٰ : ددے نه مراد تراويح دي يعني څوك چه د امام سره تراويح اُوكړي نو دۀ له د ټولے شپے د نوافلو اَجر وركولے شي۔ او دا معنىٰ ظاهره ده لكه چه په بل روايت د ترمذي كښ دي : (من قام مع الامام) نو قيام لفظ دليل دے چه ددے نه مراد تراويح او قيام الليل دي۔ بله دا چه ددے الفاظو نه معلوميږي چه انصراف (گرزيدل) د امام نه ممكن دے او په فرائضو كښ خو د امام نه انصراف ممكن نۀ دے۔ ځكه جماعت خو فرض دے۔ لهذا ددے نه مراد تراويح دي۔ فتدبر۔

فَلَمَّا كَانَتِ الرَّابِعَةُ : ددے نه مراد شپږويشتمه شپه ده۔

حَتّٰى بَقِيَ ثُلُثُ اللَّيْلِ : دلته په مصابيح او مشكوٰة كښ خطائي ده دا لفظ په مصابيح كښ داسے دے (لم يقم بنا حتى بقي ثلاث) او په مشكوٰة كښ ورسره (الليل) لفظ زيات شويدے نو دا خطائي ده، اصل كښ دا دوه روايتونه په يو بل كښ مندرج شويدي دا لفظ په ابوداود كښ نشته صرف هلته داسے دي : (فلما كانت الرابعة لم يقم)۔

په روايت د ترمذيؒ كښ دي : (ثُمَّ لم يُصَلِّ بنا حتى بقي ثلث من الشهر) ۔ او نسائي كښ دي : (ثم لم يصل بنا ولم يقم حتى بقي ثلث من الشهر)۔

نو امام بغويؒ دا نيمائي لفظ د ترمذي او نسائي نه راخستے دے او دلته په روايت د ابوداود كښ ئے يو ځائے كړيدے او د (من الشهر) لفظ ئے هم اُوغورزولو او بيا په مشكوٰة كښ دهغے په ځائے ئے (الليل) لفظ ذكر كړو۔ نو دا خطائي ده۔ او عام شراحو ديته توجه نۀ ده وركړے۔

حال دا چه معنىٰ دا ده : په شپږويشتمه شپه اُونۀ دريدو تردے چه درے ورځے د مياشتے پاتے شوے يعني اوويشتمه شپه شوه نو پدے كښ اُودريدو او پدے شپه ئے اُوگد قيام كړيدے دا دليل دے چه دا په ټولو شپو كښ ډيره افضله ده۔

قِيَامُ لَيْلَةٍ : ددې نه جمهور استدلال کوی چه تراویح په جماعت سره په مسجد کښې افضل دی دومره اجر پکښې دے، لیکن دا په حق د هغه چا کښې دے چه قاری نهٔ وی، یا کور کښې سُستیږی۔ نو بیا په مسجد کښې افضل دی او که کور کښې ئے ښائسته کولے نو بیا په کور کښې افضل دی او پدے کښې جمع د دلائلو ده۔ او نبی علیه السلام چه په کومو شپو کښې تراویحو ته راوتـهٔ وتو نو دا نهٔ دی نقل چه صحابه کرامؓ خپل جماعت اُوکړو بلکه دوی انفرادی کړیدی، او څوك به کور ته تلی وی او څوك به مسجد کښې حصار شوی وی۔

قُلْتُ: ددے قائل جبیر بن نفیرؒ دے چه د ابوذرؓ نه روایت نقل کوی۔

اَلْفَلَاحُ : پیشنمی ته ئے فلاح (کامیابی) اُووئیله ځکه چه فلاح وائی مقصد ته رسیدلو ته او څوك پیشنمے اُوکړی نو هغه ته مدد ملاویږی په پوره کولو د روژے او په رسولو کښې خپل وخت ته۔ او روژه پوره کول په دنیا او آخرت کښې کامیابی ده۔

اَلسَّحُوْرُ : دا په فتحه د سین سره هغه خوراك څکاك ته وائی چه چربانګ وخت کښې د صبا د راختلو نه لږ مخکښې کولے شی۔ او په ضمه د سین سره مصدر دے، پیشنمے کولو ته وائی۔

بَقِيَّةَ الشَّهْرِ: ددے نه مراد اته ویشتمه او نهه ویشتمه شپه ده۔

سوال : په صحیحینو کښې د حدیث د عائشےؓ نه معلومیږی چه د نبی ﷺ مونځ په رمضان کښې د جَمعے سره متصلو شپو کښې وو او ددے حدیث د ابوذرؓ نه معلومه شوه چه جدا جدا (تاکو) شپو کښې وو؟۔ **الجواب** : بعض وائی : دا مختلف واقعے دی۔

او بعض وائی : په حدیث د عائشےؓ کښې صراحةً وصل ندے راغلے بلکه اختصاراً ئے وئیلی دی چه اوله او دویمه او دریمه شپه کښې ئے مونځ اُوکړو۔ یعنی دریے شپے مونځ اُوشو۔ نو هغه محمول دی په فصل باندے لکه ددے حدیث د ابوذرؓ په شان۔ وهو الراجح۔

٥– وَعَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: فَقَدْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ لَيْلَةً، فَإِذَا هُوَ بِالْبَقِيْعِ، فَقَالَ: «أَكُنْتِ تَخَافِيْنَ أَنْ يَّحِيْفَ اللهُ عَلَيْكِ وَرَسُوْلُهُ؟» قُلْتُ: يَارَسُوْلَ اللهِ! إِنِّيْ ظَنَنْتُ أَنَّكَ أَتَيْتَ بَعْضَ نِسَاءِكَ. فَقَالَ: «إِنَّ اللهَ تَعَالٰى يَنْزِلُ لَيْلَةَ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَانَ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا، فَيَغْفِرُ لِأَكْثَرَ مِنْ عَدَدِ شَعْرِ غَنَمِ كَلْبٍ»، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَه. وَزَادَ رَزِيْنٌ: «مِمَّنِ اسْتَحَقَّ النَّارَ». وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: سَمِعْتُ مُحَمَّدًا– يَعْنِي الْبُخَارِيَّ– يُضَعِّفُ هٰذَا الْحَدِيْثَ.

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی: ما یوه شپه رسول الله ﷺ په بستره اُونهٔ

مونډلو (كله چه ما تلاش كړو) نو ناڅاپه هغهٔ په بقيع كښې موجود وو (زهٔ ئې چه اُوليدم) وې فرمايل : « آيا تهٔ ددې خبرې نه يَرېږې چه الله او د هغهٔ رسول به په تا باندې ظلم اُوكړي ؟ » ما عرض اُوكړو چه يارسول الله ما گمان اُوكړو چه تهٔ به خپلې كومې بي بي خوا ته راغلې ئې. هغهٔ اُوفرمايل : « الله تعالىٰ د شعبان د مياشتې په نيمائي (پنځلسمه) شپه كښې آسمان د دنيا ته ته راكوزيږي او د كلب قبيلې د گډو بزو د ويښتو نه زيات تعداد كښې بخنه كوي ». (ترمذيؒ، ابن ماجهؒ) امام ترمذيؒ فرمائي : ما د محمد يعني امام بخاريؒ نه اَوريدلي دي چه دې حديث ته ئې ضعيف وئيلو.

د پنځلسي فضيلت

تشريح : پدې حديث كښې د ليلة النصف من شعبان (پنځلسي) فضيلت راغلو نو دا قانون زدهٔ كړه چه د پنځلسي د روژو فضائل يا د مانځه فضائلو په باره كښې هيڅ قسم حديث ندې ثابت، ټول موضوعي يا ضعيف دي. او هرچه د پنځلسي په شپه باندې د الله آسمان د دنيا ته راكوزيدل او ټولو انسانانو ته بخنه كول سِوِیٰ د مشرك او بُغضي نه.

نو **شيخ البانيؒ** وائي زما په نيز دا حديث صحيح دې ځكه دا د صحابه كرامؓ د يو جماعت نه ثابت دې، سره د اختلاف د الفاظو نه، او په هر سند كښې څهٔ نا څه كلام دې ليكن داسې كلام نشته چه هغه دا حديث بالكل ساقط كړي. لهذا دغه يو حديث ثابت دې. باقي ټول ضعيف او موضوع دي. (تحريم آلات الطرب ص (٢٥) ظلال الحنة (١٦٤/١ رقم الباب ١٠٦) صحيح الترغيب والترهيب (٣٣/٣) الصحيحة (١٣٥/٣)

لهذا پدې شپه باندې د رزقونو د فراخوالي خبره يا داسې رواجونه كول چه خپل خپلوَان پدې شپه راغوختې شي او هغوی له دعوتونه كولې شي او پدې شپه كښې اُورونه آسمان ته پورته كول (يعني غوندسكې ويشتل) او يا په مساجدو كښې لالټينونه او شمعې بلول او يا ډير راډونه لگول په نيت د ثواب باندې دا ټول بدعات او منكرات دي لكه بعض د هغې نه ابن امير الحاجؒ په المدخل (٣٠٨/١) كښې او شيخ البانيؒ په الثمر المستطاب (٥٩٨/١) كښې او ابو شامهؒ په الباعث على انكار البدع والحوادث ص (٢٢، ٢٣) كښې ذكر كړيدي. او لږ روستو ئې نور تفصيل راروان دې.

يَّحِيْفَ : يعني الله او رسول به په تا ظلم اُوكړي چه ستا نمبر به زهٔ بلې بي بي له وركوم.

غَنَمِ كَلْبٍ : د كلب قبيله ئې خاص كړه ځكه چه د دوی گډې بزې زياتې وې.

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه احمد (٢٣٨/٦) والترمذی (٧٣٩) وابن ماجه

(١٣٨٩) منقطع بين يحيى بن ابى كثير وعروة وبين الحجاج ويحيى ـ وصحيح بلفظ آخر: يطلع الله الى جميع خلقه وفى رواية ينزل ربنا الى سماء الدنيا ليلة النصف من شعبان فيغفر لجميع خلقه الا لمشرك او مشاحن (اى المبتدع المفارق للجماعة) (طبرانى فى الاوسط وابن حبان فى صحيحه والبيهقى) (صحيح الترغيب ٣٣/٣) والصحيحة (١٣٥/٣) بسند حسن صحيح)

٦- وَعَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «صَلاةُ الْمَرْءِ فِيْ بَيْتِهِ أَفْضَلُ مِنْ صَلَاتِهِ فِيْ مَسْجِدِيْ هٰذَا، اِلَّا الْمَكْتُوْبَةَ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: او زيد بن ثابت ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «د سړي مونځ په خپل كور كښې د هغهٔ مونځ نه زيات بهتر دے چه زما په مسجد (يعنى مسجد نبوى) كښې اُوكړے شي، سِوَا د فرض مونځ نه (چه هغهٔ په مسجد كښې افضل دے) (ابوداوٗد، ترمذیؒ)

تشريح: يعنى فرض په مسجد كښې اَفضل دے او نوافل او سنن په كور كښې افضل دي، وجه دا ده چه پدے كښې اخفاء فى العمل راځي او عمل چه څومره پټ وي نو الله ته خوښ وي. دويم پدے كښې رياء نهٔ راځي، دريم پدے سره په كور كښې خير راځي لكه مخكښې ئے تفصيل تير شو.

او فرائض چونكه د اسلام د شعائرو د ښكاره كولو دپاره دي او د دين د اقامت دپاره دي نو په مسجد كښې په ښكاره طور كول افضل دي. او ددے حديث تشريح بار بار ذكر شويده.

درجة الحديث: اسناده صحيح: اخرجه ابوداود (١٠٤٤) وفى عزوه للترمذى بهذا اللفظ نظر.

الفصل الثالث

٧- عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَبْدٍ، الْقَارِيِّ، قَالَ: خَرَجْتُ مَعَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ لَيْلَةً اِلَى الْمَسْجِدِ، فَاِذَا النَّاسُ أَوْزَاعٌ مُتَفَرِّقُوْنَ، يُصَلِّي الرَّجُلُ لِنَفْسِهِ، وَيُصَلِّي الرَّجُلُ فَيُصَلِّي بِصَلَاتِهِ الرَّهْطُ، فَقَالَ عُمَرُ: اِنِّيْ لَوْ جَمَعْتُ هٰؤُلَاءِ عَلٰى قَارِئٍ وَاحِدٍ لَكَانَ أَمْثَلَ، ثُمَّ عَزَمَ، فَجَمَعَهُمْ عَلٰى اُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، قَالَ: ثُمَّ خَرَجْتُ مَعَهُ لَيْلَةً اُخْرٰى، وَالنَّاسُ يُصَلُّوْنَ بِصَلَاةِ قَارِئِهِمْ. قَالَ عُمَرُ: نِعْمَتِ الْبِدْعَةُ هٰذِهِ، وَالَّتِيْ تَنَامُوْنَ عَنْهَا أَفْضَلُ مِنَ الَّتِيْ تَقُوْمُوْنَ - يُرِيْدُ آخِرَ اللَّيْلِ -، وَكَانَ النَّاسُ يَقُوْمُوْنَ اَوَّلَهٗ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : عبد الرحمن بن عبد القاريؒ فرمائی: زهٔ یوه شپه (په رمضان کښ) د عمر بن خطاب ﷺ سره مسجد طرف ته اُووتلم، نو څهٔ گورم چه خلق متفرق او خوارهٔ وارهٔ دی، یو سړے خپل ځان له مونځ کوی او بعض داسے مونځ کوی چه څو کسان د هغهٔ پسے ولاړ دی (یعنی څهٔ کسان یواځے تراویح کوی او څه کسان جماعت سره کوی، عمر فاروق چه دا صورت اُولیدلو) وے فرمایل : کهٔ زهٔ دا خلق په یو قاری باندے راجمع کړم نو ډیره بهتره به وی۔ بیا عمر فاروقؓ ددے خبرے اراده اُوکړه او تول خلق ئے په ابی بن کعب ﷺ باندے راجمع کړل۔ عبد الرحمنؒ فرمائی : بیا زهٔ د هغهٔ سره په بله شپه اُووتلم چه خلق د خپل قاری (ابی بن کعبؓ) پسے مونځ کوی، نو (دے لیدو سره) عمر فاروق اُوفرمایل : "دا ډیر ښهٔ بدعت دے"۔ او هغهٔ مونځ چه تاسو ترے اُودهٔ پاتے کیږئ ډیر بهتر دے د هغهٔ مونځ نه چه تاسو هغے ته اُودریږئ یعنی د عمرؓ اراده وه چه د آخر د شپے مونځ ډیر بهتر دے او خلق به په اول د شپه کښ اُودریدل۔ (بخاریؒ)

تعارف د عبد الرحمن بن عبد القاری : عبد الرحمن بن عبد القاری چه د قاره بن دیش مشهورے قبیلے نه دے۔ او عبد باندے تنوین دے۔ دا په زمانه د رسول الله ﷺ کښ پیدا شویدے خو نه ئے هغه لیدلے دے او نه ئے ترے احادیث اَوریدلی دی۔ بعض وائی : وړوکوالی کښ پیغمبر ته راوستے شو او امام عجلیؒ په ثقات التابعین کښ ذکر کړیدے۔ واقدیؒ کله وائی صحابی دے او کله وائی تابعی دے۔ مشهوره دا ده چه دا د عظیم الشان تابعینو د مدینے نه دے او د عمر فاروق په بیت المال باندے گورنر (وزیر خزانه) وو۔ په (۸۸ ھ) کښ د (۷۸) کالو په عمر وفات شویدے۔

تشریح : لَیْلَةً : یعنی په رمضان کښ زهٔ د عمر فاروقؓ سره یوه شپه اُووتلم نو خلق په مسجد کښ مختلف وو۔ دا دلیل دے چه صحابه کرامؓ به تراویح او تهجدو دپاره مسجد ته هم راتلل، نو په مسجد کښ تهجد کول هم صحیح دی او پدے کښ ریاء نهٔ واقع کیده ځکه تولو خلقو به کول۔ او دا ولے به مسجد ته راتلل؟ نو وجه دا وه چه د صحابه کرامؓ کورونه به تنگ وو۔ یا به نور حکمتونه وو یو دهغے نه دا چه وړے وړے جَمعے به کیدلے۔

اُوْزَاعٌ : یعنی جماعات متفرقة (مختلفے ډلے وے) متفرق وو۔ ددے مفرد من لفظه نشته۔

لَوْ جَمَعْتُ : یعنی زړهٔ کښ ئے اُووئیل چه که زهٔ دا خلق په یو قاری راجمع کړم دا به غوره وی ځکه چه شور به نهٔ وی او اختلاف او تفرق به ختم شی او جَمعه خو بدعت نهٔ ده ځکه چه د نبی ﷺ په زمانه کښ به وړے وړے جمع کیدلے او دغه شان نبی ﷺ خو د جماعت نهٔ کولو وجه د فرضیت خطره بیان کړے وه او هغه خو د وفات د نبی ﷺ نه روستو زائله شوه۔

فَجَمَعَهُمْ عَلٰى اُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ: عمر فاروقؓ په څو ركعاتو راجمع كړل؟ نو دا روستو راځي چه يولس ركعاته وو۔
او عمر فاروقؓ ورسره نۀ په يولس ركعاتو كښ شريك دے او نۀ په شلو كښ بلكه هغه به ځانله كور كښ كولے۔ خو د خلقو ذ اختلاف ختمولو دپاره ئے په يو امام راجمع كړل۔ او دے روايت كښ دى چه اُبيؓ باندے ئے راجمع كړل او روستو روايت كښ دى چه تميم الداريؓ هم ورسره وو نو ددے تفصيل په روايت د سعيد بن منصور كښ دے چه ابى بن كعبؓ به سړو ته مونځ كولو او تميم الداريؓ به زنانو ته او ابن نصرؒ په قيام الليل كښ د تميم الداريؓ په ځائے سليمان بن ابى حثمه ذكر كړيدے حافظ ابن حجرؒ فرمائي: شايد چه دا كار په بيل بيل وخت كښ وو۔ چه كله به تميم الداريؓ وو او كله به سليمان وو۔

د نعمت البدعة هذه صحيح معنىٰ

نِعْمَتِ الْبِدْعَةُ هٰذِهٖ: يعنى دا خلق په يو امام راجمع كول او يوه جمعه كول ډيره ښۀ كارنامه ده۔ دلته د بدعت نه مراد لغوى بدعت دے يعنى نوے كار او كارنامه كول۔
او بدعت شرعى نۀ دے مراد ځكه بدعت شرعى هغه دے چه په دين كښ انسان داسے نوے كار پيدا كړي چه هغه د دين نه نۀ وى او هيڅ اصل ئے په دين كښ نۀ وى يا كيفيت ئے بدل كړي۔ نو دا سُو چه گمراهى ده (كل بدعة ضلالة)۔
- او د عمرؓ دا كار بدعت شرعى نۀ دے ځكه چه د نبى ﷺ په زمانه كښ جماعت شويدے، خو لږ لږ۔ او عمرؓ پرے هميشه دپاره راجمع كړل۔ نو دا بدعت لغوى دے او په بدعت لغوى كښ ښۀ او بد وى۔ نو ديته ئے ځكه ښه اُووئيلو۔
وَالَّتِيْ تَنَامُوْنَ: اُوس ترغيب وركوى چه تراويح په آخر د شپه كښ بهترے دى۔ نو په دے كښ بيا دوه مطلبه دى يو دا چه ترغيب وركوى چه كله مو تراويح اُوكړے نو په دے اكتفاء مۀ كوئ بلكه تهجد هم ورسره كوئ۔
٢- يا ترغيب وركوى چه دا مونځ د شپے كوئ او ماسخوتن كښ دومره بهتر نۀ دى۔

٨- وَعَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيْدَ، قَالَ: أَمَرَ عُمَرُ اُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ، وَتَمِيْمًا الدَّارِيَّ أَنْ يَّقُوْمَا لِلنَّاسِ فِيْ رَمَضَانَ بِإِحْدٰى عَشْرَةَ رَكْعَةً فَكَانَ الْقَارِئُ يَقْرَأُ بِالْمِئِيْنَ، حَتّٰى كُنَّا نَعْتَمِدُ عَلَى الْعَصَا مِنْ طُوْلِ الْقِيَامِ، فَمَا كُنَّا نَنْصَرِفُ اِلَّا فِيْ فُرُوْعِ الْفَجْرِ. رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه : او سائب بن زيد ﷺ فرمائي : عمر فاروق، اُبي بن كعب او تميم دارئ دواړو ته حكم اُوكړو چه خلقو ته په رمضان كښې يولس ركعاته (تراويح) مونځ اُوكړي، او (په هغهٔ وخت به) قاري هغهٔ سورتونه لوستل چه په هغې كښې سل سل آيتونه دي، تردے چه د اُوږد قيام په وجه به مونږ په اَمساګانو تكيه لګوله او صبا راختلو ته نزدے به مونږ فارغيدو۔ (مالك)

تشريح : د عمر فاروقؓ، ابي بن كعبؓ او تميم داريؓ ته د حكم كولو مطلب دا وو چه يوه ورځ به يو قاري تراويح كوي او بله ورځ به بل قاري۔ يا دا چه دواړو به په يوه شپه ركعتونه تقسيمول څهٔ تراويح به تميم داري اُوكړے او څهٔ به اُبي بن كعبؓ اُوكړے۔

بِإِحْدٰى عَشَرَةَ رَكْعَةً : يولس ركعاتو كښې اته تراويح او درے وتر دي۔

بِالْمِئِيْنَ : هغه سورتونه دي چه دوه سوه آيتونه پكښې وي۔لكه سوره توبه، هود او يونس وغيره سورتونه۔

فوائد الحديث : ١- د يو مسجد دپاره دوه امامان مقررول جائز دي۔ چه كله يو امامتي كوي او كله بل۔ ٢- يولس ركعاته د عمر فاروقؓ نه صحيح ثابت دي بلا اشكاله، او دائے د نبي ﷺ د عمل نه معلوم كړے وے چه هغه به د شپے په درے ركعاتونو زيادت نهٔ كولو۔

اُوس شل به د هغه نه يا ثابت وي يا نه۔ بعض علماء خو وائي چه بالكل شل ندي ثابت۔ نو كه ثابت شي نو پدے شلو سره دغه يولس ركعاته ندي منسوخ شوي ځكه چه نسخ د عمرؓ په عمل نهٔ ثابتيږي، نسخ د پيغمبر په الفاظو راځي۔

او د صحابيؓ په عمل د پيغمبر عمل نهٔ منسوخ كيږي نو پدے كښې رد دے په هغه خلقو چه وائي : اته ركعاته تراويح منسوخ شويدي او شلو باندے د اُمت اجماع شويده۔

مونږ وايو : اول خو د اجماع دعوه غلطه ده او مخكښې د هغې بطلان تير شويدے او كه اُومنو اجماع چه اُوشوه نو پدے اجماع سره خو د پيغمبر عمل نهٔ منسوخ كيږي۔ نو د پيغمبر عمل خو يولس ركعاته وو هغه سنت شو او د عمرؓ نه هم اته (٨) ثابتے دي۔ او پدے باندے زيادت په درجه د جواز كښې دے او د شلو په ثابتيدو كښې خو لا شك هم دے، خو مونږه ئے د دلائل عامه ؤد وجه نه ثابتے ګنړو۔نو شل او ديرش او څلويښت ټول جائز دي۔

فُرُوْعِ الْفَجْرِ : يعني اوائل الفجر : دومره اُوګدے تراويح به كيدلے، چه د صبا د راختلو خطره به وه۔ اُوس خو تراويح نوم ګرځيدلے دے د زر زر مونځ كولو۔ بعض ضديان شلو ته ګوري ليكن دے لفظ ته سوچ نهٔ كوي چه هغوي به څنګه شل كولے، او څهٔ وخت به فارغه كيدل ؟۔ (د خود غرضه يوه ستركه پټه وي)۔

٩– وَعَنِ الْأَعْرَجِ، قَالَ: مَا أَدْرَكْنَا النَّاسَ إِلَّاوَهُمْ يَلْعَنُوْنَ الْكَفَرَةَ فِيْ رَمَضَانَ قَالَ: وَكَانَ الْقَارِئُ يَقْرَأُ سُوْرَةَ الْبَقَرَةِ فِيْ ثَمَانِ رَكْعَاتٍ، وَاِذَا قَامَ بِهَا فِيْ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً رَأَى النَّاسُ أَنَّهُ قَدْ خَفَّفَ. رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه : او اعـرجؒ فرمائي: مونږ هميشه، خلق موندلي دي چه هغوي په رمضان كښې په كـفـارو بـانـدے لعنت وئيلے دے (يعني قنوت نازله ئے وئيلي دي) او (په هغهٔ زمانه كښې) قاري به په اته ركعاتو كښې سورة بقره لوستله او كله به ئے چه سورة البقره په دولس ركعاتو كښې اُولوستله نو خلقو به دا گمان اُوكړو چه مونځ ئے آسان اُوكړو. (مالك).

تعارف د الاعرج : عبـد الـرحـمـن بـن هرمز ابوداود المدني مولى ربيعة بن الحارث د مشاهير او ثقات التابعين نه دے، اسكندريه كښې په سنه (١١٧ هـ) كښې وفات دے.

تشريح : دا روايت هـم دليل دے چه د صحابه كرامؓ په زمانه كښې به اته هم كيدلے او د اتـو نـه بـه زيـادت هـم كيـدو كله به ئے دولس ركعاته كول. نو دا تائيد دے چه زيادت په اتو جائز دے. او اصلي سنت اته ركعاته دي.

او خلقو به د اتو په ځائے په دولس ركعاتو كښې تخفيف گنړلو ځكه چه كله ركعاتونه زر زر خـكـتـه كيـږي نو انسان ډير نهٔ ستړے كيږي او كله چه قراء ت اُوگد شي نو انسان تنگ شي. خپے خارج شروع كړي. **الْكَفَرَةَ :** جمع د كافر ده.

فِيْ رَمَضَانَ : دا پـه قـنـوت الـوتر كښې مراد دے. او دا حديث په ظاهر كښې د شوافعو دپاره دليـل دے چـه هغوي وائي: قنوت الوتر صرف د رمضان د نيمائي نه شروع كيږي تر آخر د رمضان پورے او په ټول كال كښې سنت نهٔ دے.

بعض علماء (حنفيه) وائي: پدے روايت كښې د قنوت الوتر ذكر نشته نو دا په صبا باندے هم صادقيږي او ممكن ده چه دلته د سحر په مانځه كښې قنوت نازله مراد وي. (طيبيؒ).

او مـلاعـلي القاريؒ دا محمول كريدے په قنوت الوتر باندے او دا ئے وئيلي دي چه كيدے شي چه دا زيادت د لعنت خاص وي په نصف اخير د رمضان پورے.

او پدے بـانـدے جمـع د احـاديثـو راځي نو دا منافي نهٔ دے د هغهٔ حديث سره چه د عمر فاروق نه صحيح ثابت دے چه هغه فرمائي :

(السـنة اذا انـتـصف رمـضان ان يلعن الكفرة فى ركعة من الوتر بعد ما يقول القارئ سمع الله لمن حمده، ثم يقول اللهم العن الكفرة) (اسناده حسن كما قال الحافظ فى التلخيص (١٢٠).

(سنت دا ده چه کله رمضان نیمائی ته اُورسی - چه د وترو په رکعت کښې د سمع الله لمن حمده نه روستو په کفارو باندے لعنت (ښیرے) اُووئیلے شی او داسے اُووائی : اللهم اللعن الکفرة) انتهیٰ (مرقاة المفاتیح) یعنی مطلب دا دے چه د رمضان د نیمائی نه اخوا به ئے په قنوت د وترو کښې ورسره لعنت زیاتولو یعنی قنوت نازله به ئے ترے جوړولو۔ او دا خصوصیت د رمضان د نصف اخیر دے۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه مالك في الموطأ (١١٥/١ رقم ٦) ومن طريقه عبد الرزاق والبيهقي وغيرهم۔ وصححه الالباني۔

١٠ - عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبِي يَقُولُ: كُنَّا نَنْصَرِفُ فِي رَمَضَانَ مِنَ الْقِيَامِ، فَنَسْتَعْجِلُ الْخَدَمَ بِالطَّعَامِ مَخَافَةَ فَوْتِ السَّحُورِ وَفِي أُخْرىٰ: مَخَافَةَ الْفَجْرِ. رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه : عبد الله بن ابی بکر فرمائی : ما د خپل پلار نه اَوریدلی دی چه فرمایل ئے : مونږ به په رمضان کښې د قیام (اللیل، تراویحو) نه سلام (داسے وخت کښې) اَړولو چه په خادمانو باندے به مو د طعام په راوړلو کښې جلتی کوله پدے یَره چه پیشمنے فوت نهٔ شی۔ او په یو بل روایت کښې دی : "پدے یَره چه صبا راونهٔ خیژی"۔ (مالك)۔

تعارف د عبد الله بن ابی بکر : عبد الله بن ابی بکر بن محمد بن عمرو بن حزم الانصاری۔ دے او دا روستو لفظ ابی دے یعنی پلار نه ئے اوریدلی دی چه هغه ابوبکر بن محمد دے او ددے نه ابی بن کعب نه دے مراد ځکه چه ابی بن کعب په (٢٢) هجری خلافت د عمر فاروق کښې وفات دے او دا عبد الله په سنه (١٣٥) کښې وفات دے دا د صغار التابعین نه دے۔

تشریح : د القیام نه مراد قیام اللیل (تراویح) مراد دی او دیته قیام ځکه اُووئیلو شو چه پدے کښې به اُوګده اُودریدل۔ اَلْخَدَمَ جمع د خادم ده۔

مَخَافَةَ : ددے او د فوت السحور منافات نشته ځکه چه سحور هم لګ شان مخکښې د صبا نه کیږی۔ نو مآل د دواړو روایتینو یو راوځی۔ بیا د صحابه کرامؓ مختلف اَحوال وو، بعضِ به په اول د شپه کښې اُودریدل او بعضے به په آخر کښې او بعضو به د اول نه تر آخِره پورے په قیام کښې همیش والے کولو نو دا د بعض صحابه کرامؓ حال ذکر کوی۔ چه په آخر کښې د شپه کښې به ئے تراویح کولے یا هغه ځوك چه د اول نه تر آخره پورے به ئے اُوګدوالے کولو۔ او کوم چه به اول د شپه کښې اُودریدل نو هغه مخکښې په قول د عمرؓ کښې

تیر شو (والتی تنامون عنها خیر) نو هغه نور خلق مراد وو۔

ابن عبد البرؒ په الاستذکار کښې د عبد الله بن عباسؓ روایت راوړیدے چه زهٔ د رمضان په میاشت کښې (یوه شپه) عمر فاروق پیشمنی کولو ته راوغوختم نو هغهٔ د خلقو یو آواز واوریدو کله چه هغوی د قیام اللیل نه راوګرزیدل نو عمر فاروقؓ اُووئیل : خبر دار ! هغهٔ شپه چه پاتے ده ما ته ډیره محبوبه ده د هغهٔ حصے نه چه کومه تیره شوے ده) ابن عبد البرؒ وائی : دا دلیل دے چه د صحابه کرامؓ قیام اللیل په اول د شپه کښې وو، بیا عمر آخر د شپه کښې اُوګرزولو نو بیا په همدغه حال باندے خبره راروانه وه تر زمانے د ابوبکر بن محمد بن عمرو بن حزم پورے چه هغهٔ وائی مونږ به په رمضان کښې د قیام اللیل نه فارغیدو سره په خادمانو باندے د پیشمنی جلتی کوله۔ (الاستذکار ٦٦/٢) باب ما جاء فی قیام رمضان)

الدرر السنیة فی الاجوبة النجدیة (٣٧٧/٤) لعلماء النجد) کښې ئے آثار د صحابه کرامؓ او تابعینو ذکر کړیدی او بیا ئے وئیلی دی چه ددے آثارو نه واضحه شوه چه صحابه کرامؓ به مونځ (په تراویحو کښې) د صبا راختلو ته قریب اُوګدولو۔ مګر د مجموعه آثارو نه دا ظاهرېږی چه دا کار په بعضو شپو کښې وو، او دا احتمال هم شته چه دا په آخری عشره د رمضان کښې وی۔ لکه دا د نبی ﷺ هم طریقه وه۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح : اخرجه مالك فی الموطأ (١١٥/١ رقم ٧) وعبد الرزاق فی المصنف (٢٦٢/٤) رقم (٧٧٣٤)

١١ – وَعَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ ﷺ، قَالَ: «هَلْ تَدْرِينَ مَا هٰذِهِ اللَّيْلَةُ ؟» – يَعْنِي لَيْلَةَ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَانَ – قَالَتْ: مَا فِيهَا يَارَسُوْلَ اللهِ؟ فَقَالَ: « فِيهَا اَنْ يُكْتَبَ كُلُّ مَوْلُوْدٍ مِنْ بَنِي آدَمَ فِي هٰذِهِ السَّنَةِ، وَفِيهَا اَنْ يُكْتَبَ كُلُّ هَالِكٍ مِنْ بَنِي آدَمَ فِي هٰذِهِ السَّنَةِ، وَفِيهَا تُرْفَعُ أَعْمَالُهُمْ، وَفِيهَا تُنْزَلُ أَرْزَاقُهُمْ. فَقَالَتْ: يَارَسُوْلَ اللهِ! مَا مِنْ اَحَدٍ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ اِلَّا بِرَحْمَةِ اللهِ تَعَالٰى؟ فَقَالَ: «مَا مِنْ اَحَدٍ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ اِلَّا بِرَحْمَةِ اللهِ تَعَالٰى» ثَلَاثًا. قُلْتُ: وَلَا أَنْتَ يَارَسُوْلَ اللهِ! فَوَضَعَ يَدَهُ عَلٰى هَامَتِهِ فَقَالَ: «وَلَا اَنَا اِلَّا أَنْ يَتَغَمَّدَنِيَ اللهُ مِنْهُ بِرَحْمَتِهِ». يَقُوْلُهَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ. رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي الدَّعْوَاتِ الْكَبِيْرِ.

ترجمه: او عائشه رضی الله عنها فرمائی : نبی ﷺ فرمایلی دی : آیا تاسو ته پته شته چه پدے شپه یعنی پنځلسمه شپه د شعبان کښې څهٔ کیږی ؟ ما عرض اُوکړو : یارسول الله ! څهٔ پکښې کیږی (مونږ ته خو معلوم نهٔ دی تاسو ئے بیان کړئ) نبی ﷺ اُوفرمایل : « پدے کښې دا کیږی چه د بنی آدم هر بچے چه پدے کال کښې پیدا کیږی هغهٔ پکښې لیکلے شی،

او پدے کښې د بنی آدم هر شخص چه وفات کیږی پدے کال کښې هغهٔ پکښې لیکلے شی، او پدے شپه کښې د بندګانو اعمال (بره) پورته کولے شی، او پدے کښې د هغوی رزقونه رانازلیږی »۔ عائشې اُوفرمایل : یا رسول الله ! د الله د رحمت نه علاوه هیڅوك جنت ته نهٔ شی داخلیدے۔ نبی ﷺ اُوفرمایل : (آو) هیڅ شخص هم د الله د رحمت نه بغیر جنت ته نهٔ شی داخلیدے۔ رسول الله ﷺ دا الفاظ درے کرته اُووئیل۔ ما عرض اُوکړو : او نهٔ تهٔ یارسول الله ! (یعنی تهٔ هم د الله د رحمت نه بغیر جنت ته نهٔ شے داخلیدے؟) نبی ﷺ خپل لاس مبارك په خپل سر مبارك باندے کیخودو او وے فرمایل : «او نهٔ زهٔ ! (یعنی زهٔ هم د الله د رحمت نه بغیر جنت نهٔ شم داخلیدے) مګر دا که الله تعالیٰ ما لره په خپل رحمت کښې پټ کړی »۔ دا الفاظ هم رسول الله ﷺ درے ځله اُوفرمایل۔ بیهقیؒ دا روایت په دعواتِ کبیر کښې نقل کړیدے۔

تشریح : پدے حدیث کښې چه کوم کارونه ذکر دی نو دا په شپه د لیلة القدر کښې کیږی نهٔ په لیلة النصف من شعبان کښې نو ځکه دا روایت ضعیف دے۔ اګرکه په شعبان کښې د اعمالو پورته کیدو باره کښې د نسائی وغیره حدیث صحیح دے۔

اُسامه بن زید فرمائی : ما عرض اُوکړو: (لم ارك تصوم فی شهر من الشهور ما تصوم فی شعبان، قال ذاك شهر یغفل عنه الناس بین رجب ومضر، وهو شهر ترفع فیه الاعمال الی رب العالمین، واحب ان یرفع عملی، وانا صائم) (نسائی ٢٣٥٧) وقال الالبانی اسناده حسن وصححه ابن خزیمة – تمام المنة ص (٤١٢) اخرجه احمد)

(زهٔ تا په نورو میاشتو کښې دومره په روژو نهٔ وینم څومره چه تهٔ په شعبان کښې روژے نیسے ؟ (ددے څهٔ سبب دے؟) نبی اُوفرمایل : دا یو داسے میاشت ده چه په رجب او مضر (رمضان) ترمینځ ده او غافل ددے نه غافله وی او دا یوه داسے میاشت ده چه رب العالمین ته پدے کښې اعمال (دبندګانو) پورته کیږی او زهٔ دا خوښوم چه زما عمل پورته کړے شی پداسے حال کښې چه زهٔ روژه داریم) او د شعبان په میاشت کښې د کال مرګو نو لیکلو باره کښې یو د عائشې دے چه علامه مبارکفوری ورته په مرعاة (٤/٣٤٠) حسن وئیلے دے او حسین سلیم اسدؒ په تعلیق د ابویعلیٰ او شیخ البانیؒ ورته ضعیف وئیلے دے۔

عائشهٔ فرمائی : (ان النبی ﷺ کان یصوم شعبان کله، قالت : قلت : یارسول الله ! احب الشهور الیك ان تصومه شعبان ؟ قال : ان الله یکتب فیه علی کل نفس میتة تلك السنة، فاحب ان یأتینی اجلی وانا صائم) (ابویعلی بسند حسن او ضعیف وضعیف الترغیب والترهیب رقم (٤٩١١)

(نبی ﷺ به تول شعبان کښې روژے نیولے، ما اووئیل : یارسول الله ! شعبان تاسو ته د روژو

په نيولو كښې ډير محبوب دے؟ هغهٔ اوفرمايل : الله تعالىٰ پدے كښې په هر نفس باندے د دغه كال مرګ ليكى، نو زهٔ دا خوښوم چه ما ته د روژے په حالت كښې مرګ راشى)

درجة الحديث : اسناده واهٍ جداً لا يجوز الاحتجاج به كما ذكر طرقه الثلاثة وضعفها الشيخ علي حشيش في سلسلة الاحاديث الواهية ص (٢٤)) ونحوه في شعب الايمان (٣٨٥/٣) رقم (٣٨٣٨) وجامع الاحاديث (مسند عائشة) للسيوطي) في سنده النضر بن كثير قال ابن حبان في المجروحين (٤٩/٣) كان النضر ممن يروى الموضوعات عن الثقات على قلة روايته) قال ابوحاتم : (فيه نظر) وقال البخارى (عنده مناكير) (ميزان الاعتدال)

---

١٢ – وَعَنْ اَبِيْ مُوْسَى الْاَشْعَرِيِّ، عَنْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ، قَالَ: «اِنَّ اللهَ تَعَالٰى لَيَطَّلِعُ فِيْ لَيْلَةِ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَانَ، فَيَغْفِرُ لِجَمِيْعِ خَلْقِهٖ اِلَّا لِمُشْرِكٍ اَوْ مُشَاحِنٍ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه.

١٣ – وَرَوَاهُ اَحْمَدُ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، وَفِيْ رِوَايَتِهٖ: «اِلَّا اثْنَيْنِ: مُشَاحِنٍ وَقَاتِلِ نَفْسٍ».

ترجمه : او ابوموسى اشعرى ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اُوفرمايل : «الله تعالىٰ د نيمائى شعبان په شپه (پنځلسى) باندے راښكاره كيږى، نو ټول مخلوق ته بخنه كوى سِوىٰ د مشرك او كينه ساتونكى سره»۔ (ابن ماجه) اوامام احمدؒ دا روايت د عبد الله بن عمرو بن العاص نه نقل كړيدے او د هغوى په روايت كښې دا الفاظ دى : چه "دوه كسانو ته بخنه نهٔ كيږى كينه ساتونكے او ناحقه يو نفس قتلونكے ته"۔

تشريح : مُشَاحِنٍ : كينه كونكى ته وائى، يعنى بغير د دين سبب نه چه څوك د مسلمان سره كينه او عداوت كوى نو ددے خير نه به محروم وى۔

علامه ابو الحسن مباركفوريؒ كښې دا قسم ډير احاديث ذكر كړيدى او بيا ئے وئيلى دى چه دا احاديث دلالت كوى په دے چه د پنځلسى شپے ډير عظيم خطر او لوئى شان او قدر دے او دا د نورو شپو په شان نهٔ ده نو مناسب دى چه ددے نه انسان غافل نهٔ شى بلكه دا شپه په عبادت او دعاء او ذكر او فكر باندے آبادول پكار دى او ددے په عبادت باندے د ژوندى كولو په باره كښې روستو يو حديث د على راغلے دے۔

ليكن هغهٔ ضعيف جداً دے۔ **لهذا** كوم خلق چه خاص همدا شپه عبادتونه كوى او په نورو شپو ئے نهٔ كوى، يا فرض مونځونو كښې كوتاهى كوى او د نورو واجباتو دومره اهتمام نهٔ كوى او صرف دے شپے ته متوجه شوے وى نو پدے كښې شك نشته چه دا يو قبيح

عمل دے ځکه چه مستحب باندے مشغول کيدل او فرائض مهمل کول لويه بے ديني او بے عقلي ده۔ دارنګه پدے شپه کښې زيارة القبور خاص کول چه په نور کال کښې ئے نهٔ کوی او صرف په همدے شپه زيارة القبور کوی دا هم سنت کښې نهٔ دی راغلی، او پدے شپه باندے بقيع ته د نبی ﷺ د وتلو باره کښې دوه حديثونه راغلی دی۔

ليکن هغهٔ ضعيف جداً دی۔

★ - او دارنګه پدے شپه باندے بعضِ عوام طعامونه په فقراؤ تقسيموی نو دا هم په هيڅ مرفوع، موقوف او صحيح او ضعيف حديث کښې نهٔ دی راغلی، دارنګه پدے شپه باندے د روحونو د حاضريدلو عقيده ساتل او ددے د اکرام دپاره کورونه صفا کول او د هغے ديوالونه چونه کول، يا د خپل عادت نه زياتے ډيوے او لالټينونه بلول دا (ټول) بے شکه بدعات او ضلالات دی۔

★- ملاعلی القاریؒ ليکی : د اُورونو بلول اول برامکه ؤ راپيدا کړل دا د اُور عبادت کونکی وو کله ئے چه اسلام راوړلو نو په سلام کښې ئے د ځان نه طريقے ايجاد کړے او دا ئے دين ګڼړلو او ددوی مقصود پدے کښې د اُور عبادت کول وو او د مسلمانانو سره به ئے رکوع او سجده دغه اُورونو ته کول۔ انتهیٰ ما فی المرعاة (٤/٣٤٢)

درجة الحديث : هذا السند ضعيف وبسند آخر صحيح كما مرّ: اخرجه ابن ماجه (١٢٩٠) وفيه ابن لهيعة وقد اضطرب فی اسناده وفيه انقطاع ايضاً نص علی ذلك المنذری، ولجهالة الضحاك بن ايمن الكلبی، وتدليس الوليد بن مسلم۔ واسناد احمد فی المسند (١٧٦/٢) فيه ابن لهيعة ايضاً وهو لين الحديث وبقية رجاله وثقوا كما فی المرعاة (٣٤٢/٣) ومجمع الزوائد (٦٥/٨) وحسنه المباركفوری فی المرعاة (٤/٣٤١)

---

١٤ – وَعَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«اِذَا كَانَتْ لَيْلَةُ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَانَ، فَقُوْمُوْا لَيْلَهَا، وَصُوْمُوْا يَوْمَهَا، فَاِنَّ اللهَ تَعَالٰی يَنْزِلُ فِيْهَا لِغُرُوْبِ الشَّمْسِ اِلَی السَّمَاءِ الدُّنْيَا فَيَقُوْلُ: أَلَا مِنْ مُسْتَغْفِرٍ فَأَغْفِرَلَهٗ آلَا مِنْ مُسْتَرْزِقٍ فَأَرْزُقَهٗ آلَا مُبْتَلٍ فَأُعَافِيَهٗ آلَا كَذَا آلَا كَذَا حَتّٰی يَطْلُعَ الْفَجْرُ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او علی ؓ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمايلی دی : « کله چه د نيمائی شعبان شپه راشی نو پدے شپه قيام (الليل تهجد) اُوکړئ او ددے په ورځ کښې روژه ونيسئ ځکه الله تعالیٰ آسمان د دنيا ته د نمر په ډوبيدو سره راکوزيږی او فرمائی: آيا څوك بخنه

غوختونكے شته چه زهٔ ورته بخنه اُوكرم، آيا څوك رزق طلب كونكے شته چه زهٔ ورته رزق وركرم، آيا څوك مصيبت زدهٔ شته چه زهٔ هغهٔ ته عافيت وركرم، آيا څوك داسے شته (يعنى دغه شان الله تعالىٰ د هر ضرورت او تكليف نوم اخستو سره خپل بندګانو ته آوازونه كوى مثلاً فرمائى: آيا څوك غوختونكے شته چه زهٔ ورته وركرم، آيا څوك غمجن شته چه زهٔ ورته خوشحالى وركرم وغيره وغيره) تردے چه صبا راوخيژى »۔ (ابن ماجة)

تشريح : ددے حديث نه دا ثابتيږى چه د پنځلسى د شپے په ورځ كښې روژه كيدل مستحب او مندوب دى ليكن دا حديث ضعيف جداً دے قابل د عمل نهٔ دے او اباحت او ندب د احكام شرعيه ؤ نه دى او په احكامو كښې په اتفاق سره په ضعيف حديث باندے عمل كول جائز نهٔ دى لكه دا خبره په خپل ځائے كښې ثابته شويده۔

او په فضائلو كښې په ضعيف حديث باندے عمل په شرطونو جائز دے۔ او دلته يو شرط هم نهٔ دے موجود ځكه چه يو خو دا حديث شديد الضعف دے، او دا د يو معمول به اصل (قاعدے) لاندے مندرج هم نهٔ دے۔ او څوك چه په دے عمل كوى نو هغهٔ ئے عقيده د ثبوت لرى لكه څوك چه ددے ورځے روژه نيسى د هغهٔ د حال نه دا ظاهريږى۔ او ددے ورځے د روژو دپاره په ايام البيض باندے استدلال كول هم صحيح نهٔ دى ځكه چه هغهٔ خو درے ورځے دى نو د دواړو ترمينځ ډير فرق دے۔ لهذا ددے ورځے د روژے په باره كښې مرفوع صحيح يا حسن يا ضعيف خفيف الضعف يا قوى اثر يا ضعيف هيڅ قسم نهٔ دے موجود۔ والله اعلم راجع المرعاة (٣٤٤/٤)

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه ابن ماجه (١٣٨٨) وفى اسناده ابن ابى سبرة وهو ابوبكر بن عبد الله بن محمد بن ابى سبرة قال احمد وابن معين يضع الحديث۔



باب صلاة الضحى

د څاښتي مانځه بيان

دلته دوه مونځونه بيانوی: ۱- د اشراق مونځ. ۲- او د ضحیٰ (څاښت) مونځ.
بعض علماء دواړه يو ګڼړی ليکن اصح دا ده چه د صلاة الاشراق نوم په اَحاديثو کښې نهٔ دے راغلے اګرکه دا مونځ ثابت دے. نبی ﷺ صلاة الاشراق ته دعوت او ترغيب ورکړيدے. او عملًا به ئے کله کولو او کله به ئے پريخودو. نو علماؤ پکښې فرق کړيدے او هغه داسے چه د صلاة الاشراق وخت د نمر راختو نه پس دے. چه اوله کښې نمر راپورته شی په اندازه د يوے نيزے او مکروه وخت ختم شی يعنی د طلوع الشمس نه تقريباً شل منټه پس، نو دا وخت د صلاة الاشراق شو او دا اول الضحیٰ هم دے. او هر چه صلاة الضحیٰ دے نو د دے وخت دا دے چه نمر څلورمے حصے د آسمان ته راپورته شی تر ماقبل د زوال پورے. يعنی د ورځے څلورمه حصه تيره شی تر زوال نه مخکښې پورے.
او حديث کښې ئے وخت دا خودلے شويدے چه زمکه په نمر سره ګرمه شی چه د اُوښانو د بچو خپے پرے سوزی. او دا ئے مستحب وخت دے او اول وخت د ضحیٰ د اِشراق نه شروع کيږی او اُوږديږی تر زوال نه ماقبل پورے. لهذا اشراق لړ وخت دے او ضحیٰ اُوګد وخت دے. په بل تعبير اشراق په ضَحْوَه صُغْرٰی کښې اَدا کيږی او ضحیٰ په ضَحْوَه کبرٰی کښې ادا کولے شی. او ضحیٰ اِشراق ته شامليږی او اشراق ضحیٰ ته نهٔ شامليږی.
(فيض القدير للمناویؒ ٦ جزء/٢١٨) والمرعاة (٣٤٤/٣)
په کومو احاديثو کښې چه د صبا د مانځه پس تر اِشراق الشمس پورے په مسجد کښې کيناستو ته او بيا دوه رکعاتو کولو ته ترغيب راغلے دے نو هغے نه مراد صلاة الاشراق دے او دغه شان هغه اَحاديث چه په هغے کښې ترغيب دے څلور رکعاتو کولو ته په اول د ورځ کښې هغه هم صلاة الاشراق دے.
او پدے تفريق باندے **دليل** حديث د ترمذی، نسائی او ابن ماجه دے (عن علی كان النبی ﷺ اذا زالت الشمس من مطلعها قيد رمح او رمحين كقدر صلاة العصر من مغربها صلی ركعتين، ثم اَمْهَلَ حتى اذا ارتفع الضحى صلی اربعاً هذا لفظ النسائی وقال الترمذی حسن)

(حديث حسن : الالمام باحاديث الاحكام ٨٨/١ باب صلاة التطوع) لابى الفتح تقى الدين القشيرى المصرى) طبع بيروت) (عليؓ فرمائي : كله چه به نمر د يوے نيزے يا دوه نيزو په مقدار د ځائے د راختو نه زائل شو نو دوه ركعاته به ئے اُوكړل بيا به ئے انتظار اُوكړو تردے چه كله به ځابنت وخت راپورته شو نو څلور ركعاته به ئے اُوكړل) نو دا حديث نص دے په تفريق د صلاة الاشراق او صلاة الضحىٰ كښ.

تنبيه : په احاديثو كښ صلاة الضحىٰ دواړو مونځونو ته وئيلے شويدے. كله اِشراق ته هم صلاة الضحىٰ وئيلے شي لهذا ديته به سوچ كولے شي، او مصداق د هريو باندے ئے فرق كولے شي.

حكم صلاة الضحىٰ :

حافظ ابن قيمؒ په (زاد المعاد ٣٥٢/١، ٣٥٥) كښ په حكم د صلاة الضحىٰ كښ شپږ اَقوال ذكر كړيدى. ١- يو دا چه دا بدعت دے او دا قول صحيح ثابت دے د ابن عمرؓ نه. ليكن دا قول ضعيف دے او د ابن عمرؓ دا قول به په ډير محملونو حمل كړو :

١- يا دا چه صحيح اَحاديث ورته ندى رسيدلى او نبي ﷺ او ابوبكر او عمرئے پرے ندى ليدلى. نو ځكه ورته بدعت ښكارى. ٢- يا دا چه دهٔ په جماعت سره كولو باندے رد كړيدے. ٣- يا ددے التزام كولو ته بدعت وائى.

٤- يا په مساجدو كښ ښكاره طريقے سره كولو ته (قاضى عياض - فتح البارى ٥٥/٣) او حافظ په فتح البارى كښ دا هم نقل كړيدى چه ابن عمرؓ به چه د سفر نه كله راغلو يا به مكے ته راغلو يا به مسجد قُباء ته راغلو نو دا دوه ركعاته به ئے كول.

★- او دارنګه د طواف دوه ركعاته به ئے هم پدے وخت كښ كول. (صحيح ابن خزيمة، ومسند سعيد بن منصور) هرڅنګه چه وى خو قول ضعيف دے، د صحيح احاديثو خلاف دے.

٢- **قول ثانى** : بالكل نهٔ دے مستحب. او عبد الرحمن بن عوف او عبد الله بن مسعودؓ به نهٔ كول. ٣- **قول ثالث** : كله كول او كله پريخودل ئے مستحب دى. او هميش والے پرے نهٔ دے پكار. دليل ئے روستو حديث د ابوسعيد الخدريؓ دے چه په فصل ثالث كښ راځى ليكن روايت ضعيف دے.

٤- **قول رابع** : صلاة الضحىٰ په كورونو كښ په دائمى طور باندے مستحب دے. دے دپاره چه بهرئے څوك لازم اُونهٔ ګنړى. ٥- **قول خامس** : (لا تشرع الا بسبب) (د سبب په وجه مستحب او كه سبب نهٔ وى نو بيا مستحب نهٔ دے) او دا قول حافظ ابن قيمؒ راجح

کړیدے یعنی که څوك د سفر نه راشي یا د چا کور ته د ضحیٰ په وخت کښې ورشي یا فتح د یوے علاقے اُوشي یا د یو کافر قتل اُوشي نود شکر دپاره کول ئے مشروع دی۔ او پدے باب کښې راغلی تول حدیثونه ئے په سبب باندے حمل کړیدی چه دا مونځ ددے اسبابو په وجه شویدے او اتفاقي طور سره په ضُحیٰ وخت کښې واقع شویدے۔ او دا مونځ ددے وخت نه دے۔ لیکن دا رأیه هم ضعیفه ده وجه دا ده چه پدے باب کښې مصنفؒ هغه احادیث ذکر کړیدی چه دا مونځ پکښې بغیر د څه سبب نه شوے وی لکه روستو به راشي۔

٦– **قول سادس :** ائمه اربعه وغیره وائي : دا مونځ مطلقاً مستحب دے بغیر د څه سبب نه وی او که په کور کښې وی او که په مسجد کښې وی او همیش والے پرے هم مستحب دے۔ وهوالحق الراجح۔ وجه دا ده چه پدے کښې د نبي ﷺ عمل هم ثابت دے ځکه چه نبي ﷺ دا کله کله کړیدی۔ او بل قول د نبي ﷺ هم دے نو قولي احادیثو کښې خو ډیر تاکید راغلے دے پدے مانځه باندے او ددے اَجرونه ئے بیان کړیدی۔ لهذا د اُمت دپاره دا مستحب عمل دے، کول ئے پکار دی، ډیر خیر پکښې دے۔

صلاة الضحی څو رکعته دے ؟

بیا دا څو رکعاته دی ؟۔ ١– بعض وائي : اقل ئے دوه رکعاته دی او اکثر او افضل اته (٨) رکعاته دی، او دا قول د حنابله او مالکیه او معتمد قول د شوافعو دے۔

٢– **قول ثاني** دا دے چه اقل دوه رکعاته دی او اکثر دولس (١٢) دی او افضل اته (٨) رکعاته دی۔ او اته په قول او فعل د نبي ﷺ کښې راغلي دی نو ځکه اته افضل دی۔ او دولس صرف په قول ثابت دی۔

٣– **بعض** وائي : اقل ئے دوه رکعاته دی او اکثر له ئے حد نشته۔ او دا قول د ابوجعفر الطبريؒ، حلیميؒ، رویانيؒ د شوافعو نه او باجيؒ د مالکیه ؒ نه– دے۔ ٤– بعض وائي : څلور غوره دی ځکه پدے کښې احادیث زیات راغلي دی۔ لیکن راجح قول ثاني دے۔

الفصل الاول

١– عَنْ اُمِّ هَانِيءٍ، قَالَتْ: اِنَّ النَّبِيَّ ﷺ دَخَلَ بَيْتَهَا يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ، فَاغْتَسَلَ، وَصَلّٰى ثَمَانِيَ رَكْعَاتٍ، فَلَمْ اَرَصَلَاةً قَطُّ اَخَفَّ مِنْهَا، غَيْرَ اَنَّهُ يُتِمُّ الرُّكُوْعَ وَالسُّجُوْدَ. وَقَالَتْ فِيْ رِوَايَةٍ اُخْرٰى: وَذٰلِكَ ضُحًى. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : ام هانئ رضی الله عنها فرمائي : نبي ﷺ د فتح د مکے په ورځ ددے کور ته

داخل شو، نو (اول ئے) غسل اُوکړو او (بیا ئے) اته رکعاته مونځ اُوکړو، ما ددے نه مخکښې د نبی ﷺ ددے نه مختصر مونځ کله نۀ وو لیدلے، لیکن هغۀ به رکوع او سجده پوره کول۔ په یو بل روایت کښې ام هانئ اُوفرمایل : "او دا د چاشت مونځ وو"۔ (یا دا د چاشت وخت وو) (بخاریؒ ومسلمؒ)۔

تشریح : دیته بعض خلق صلاة الفتح وائی او دا صلاة الضُحیٰ نۀ دے لیکن دا احتمال شته چه نبی ﷺ پکښې تداخل کړے وی ځکه په نوافلو کښې تداخل جائز دے۔ چه یو انسان اَودس اُوکړی او بیا مسجد ته داخل شی نو دا تحیة الوضوء هم دے او تحیة المسجد هم، یا سنت اُوکړی نو تحیة المسجد هم شو۔

فَاغْتَسَلَ : ددے روایت نه معلومیږی چه ددے په کور کښې ئے غسل کړے دے لیکن په مسلم کښې د موطأ په شان په روایت د ابومره کښې دی : ام هانئ فرمائی : زۀ نبی ﷺ خوا ته راغلم او هغۀ په اعلیٰ د مکه کښې وو۔ نو ما په غسل اُوموندلو۔

حافظ فرمائی : ددے دواړو تطبیق دا دے چه دا کار د پیغمبر نه مکرر واقع شوے دے۔ او ددے تائید ذا دے چه په روایت د ابن خزیمهؒ کښې دی د ام هانئ نه چه : نبی ﷺ کله غسل کولو نو اَبوذرؓ ئے خپله سُتره کړه۔ او په روایت د ابو مُرة کښې دی چه فاطمےؓ ورته سُتره اُوکړه۔ ٢- او دے کښې دا امکان هم شته چه نبی ﷺ د اُم هانئ کور ته داخل شوے وی کوم چه په اعلیٰ طرف د مکه کښې دے، او ام هانئ په مکه کښې په بل کور کښې وی او بیا ورته راغلی وی او په غسل باندے ئے موندلے وی۔ نو دواړه قولین صحیح شو۔

او هرچه د سُترے خبره ده نو دا احتمال شته چه یو پټ کړے وی په ابتداء د غسل کښې او بل په مینځ د غسل کښې۔ انتهیٰ۔

نو د حدیث نه معلومه شوه چه په سفر کښې هم دا مونځ جائز دے او په حضر کښې هم، او بعض علماؤ وئیلی دی چه په صلاة الضحیٰ کښې تخفیف سنت دے لیکن دا استدلال په محل د نظر کښې دے ځکه چه دلته احتمال شته چه نبی ﷺ نورو کارونو ته ځان فارغولو په مُهم کښې وو نو ځکه ئے مختصر اُوکړل او د نبی ﷺ نه په روایت حذیفه کښې په مصنف ابن ابی شیبه کښې د صلاة الضحیٰ تطویل هم نقل دے۔

وَصَلّٰی ثَمَانِيَ رَكْعَاتٍ : بیا دا اته رکعاته په جدا جدا سلام وو لکه په روایت د ابوداود او ابن خزیمه کښې کریبؒ د ام هانئ نه دا زیادت نقل کړیدے۔

وَذٰلِكَ ضُحًى : ١- یعنی دا مونځ د ضُحیٰ وو۔ لکه په روایت د ابوداودؒ او ابن عبد البرؒ او المعجم الکبیر (١٨/ ١٦١) وغیره کښې دغه شان راغلی دی۔ (فصلی الضحی ثمان رکعات)

۲-يا نبي ﷺ چه دا اته رکعاته کول نو دا وخت، وخت د ضُحیٰ وو۔

۲- وَعَنْ مُعَاذَةَ، قَالَتْ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ: كَمْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُصَلِّيْ صَلاةَ الضُّحىٰ؟ قَالَتْ: اَرْبَعَ رَكْعَاتٍ وَيَزِيْدُ مَا شَاءَ اللهُ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او معاذةؒ فرمائي: ما د عائشےؓ نه تپوس اُوكړو: رسول الله ﷺ به څو رکعاته صلاة الضُحیٰ کولو؟ هغے اُوفرمايل: "څلور رکعاته به ئے کول او ددے نه زيات به ئے کول څومره چه به الله غوختل"۔ (مسلم)۔

تشريح: د عائشےؓ نه مختلف روايات په باب د صلاة الضُحیٰ کښ نقل دی، په بعضو کښ مطلقاً صلاة الضُحیٰ ثابت دے، لکه پدے روايت د باب کښ دی چه نبي ﷺ به څلور رکعاته صلاة الضُحیٰ کول او زيادت به ئے هم پرے کولو۔ او په بعضو کښ مطلقاً نفي ده لکه فرمائي: (مارأيت رسول الله ﷺ يصلي سبحة الضحیٰ قط واني لَأُسَبِّحُهَا) (متفق عليه) (نبي ﷺ ما نۀ دے ليدلے چه صلاة الضُحیٰ ئے کړی وی او زه ئے کوم) څکه نوافل دی) او په بعضو کښ نفي مقيده راغلے ده لکه فرمائي: نبي ﷺ به صلاة الضُحیٰ نۀ کولو مګر که د سفر نه به راغلو- نو بيا به ئے کول) (مسلمؒ) لهذا تعارض معلوميږی؟

نو علماؤ ددے **تطبيقونه** کړی دی۔

۱- بعضو د مطلقاً نفي روايت ته ترجيح ورکړيده څکه چه دا متفق عليه روايت دے نو دا به مقدم وی په هغه روايت چه مسلمؒ يواځے نقل کړے وی۔ لکه دا خبره د ابن عبد البرؒ او د يو جماعت نه نقل ده۔

۲- او بعضو ترجيح روايت د اثبات ته ورکړيده او دا ئے وئيلی دی چه نۀ ليدل د عائشےؓ دليل نۀ دے د نۀ واقع کيدو څکه چه کيدے شي نبي ﷺ کړے وی او عائشےؓ به په دغه موقعه نۀ وی ليدلی۔ ۳- بعضو جمع کړيده لکه ابن حبان فرمائي: (ما کان يصلي الا ان يجئ من مغيبه) (د سفر نه پس به ئے کولو) روايت خاص دے په مسجد پورے يعني چه د سفر نه به راغلو نو صرف په مسجد کښ به ئے کولو۔ او کوم روايت کښ چه دی (يصلي اربعاً ويزيد) لکه دا روايت د باب نو دا محمول دے په کور باندے يعني کور کښ به ئے دا مونځ کولو۔ او په کوم روايت کښ چه نفي راغلے ده نو هلته د يو خاص صفت نفي ده۔ چه هغه يا مسجد وغيره کښ جهراً دعوةً کول دی۔

٤- **قاضي عياضؒ** وائي: په کوم کښ چه نفي ده نو محمول ده په نۀ ليدلو د عائشےؓ

چه هغې پخپله نۀ دي ليدلي او کوم کښې چه اثبات کوي نو هغه ورته بل چا خبر ورکړې دې. ٥– يا دا چه اول کښې ئې نۀ دي ليدلي او روستو ئې ليدلي دي او بل چا هم ورته په ليدلو خبر ورکړيدې.يا نبي ﷺ ورته خبر ورکړيدې نو ځکه اثبات کوي.
٦– احتمال شته چه عائشې خاص عدد او خاص کيفيت او خاص وخت د صلاة الضحی منفي کړې وي ځکه چه نبي ﷺ به کله کم کول او کله زيات.

٣– عَنْ اَبِيْ ذَرٍّ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :« يُصْبِحُ عَلٰى كُلِّ سُلَامٰى مِنْ اَحَدِكُمْ صَدَقَةٌ، فَكُلُّ تَسْبِيْحَةٍ صَدَقَةٌ، وَكُلُّ تَحْمِيْدَةٍ صَدَقَةٌ، وَكُلُّ تَهْلِيْلَةٍ صَدَقَةٌ، وَكُلُّ تَكْبِيْرَةٍ صَدَقَةٌ، وَاَمْرٌ بِالْمَعْرُوْفِ صَدَقَةٌ وَنَهْيٌ عَنِ الْمُنْكَرِ صَدَقَةٌ، وَيُجْزِيءُ مِنْ ذٰلِكَ رَكْعَتَانِ يَرْكَعُهُمَا مِنَ الضُّحٰى». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او ابوذر ؓ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمايلي دي : « صبا کيدو سره ستاسو په هر هډوکي باندې صدقه لازميږي، نو هره تسبيح (يعني سبحان الله وئيل) صدقه ده، هر تحميد (يعني الحمد لله وئيل) صدقه ده، هر تهليل (يعني لا اله الا الله وئيل) صدقه ده، هر تکبير (يعني الله اکبر وئيل) صدقه ده، د نيکئ حکم کول صدقه ده او د بدئ نه منع کول صدقه ده، او ددې ټولو په بدله کښې دوه رکعاته مونځ کافي کيږي چه د چاشت په وخت کښې ئې اُوکړي». (مسلمؒ)

تشريح : سُلَامٰی : جمع د سُلَامِيَة ده. بعض وائي : مفرد او جمع دواړه ئې په يو وزن دي. او بعض وائي : جمع ئې سُلَامِيَات راغلې ده. اصل کښې د لاس د ګوتو هډوکي او د ټول ورغوي هډوکو ته يا د ګوتو سرونو يا د لاس او خپو هډوکو ته وائي (ابن الاعرابيؒ) دلته ترې مراد د ټول بدن هډوکي او اندامونه دي، په انسان کښې درې سوه شپيته هډوکي دي او دوه سوه څلويښت جوړونه دي. او حديث کښې هم راځي چه د هر هډوکي په مقابله کښې به نيکي کولې شي او صدقه به ورکولې شي.
مطلب دا دې چه په انسان کښې په هرهډوکي او هرجوړ باندې د مصيبتونو او آفاتونه روغ او محفوظ طريقې سره صبا راخيژي نو په دۀ باندې ددې د شکر په طور صدقه لازمه ده.
فَكُلُّ تَسْبِيْحَةٍ صَدَقَةٌ : بل روايت کښې ورسره دا دي چه صحابه کرامو عرض اُوکړو چه څوک به هره ورځ دا درې سوه شپيته صدقات ورکړي ؟ ددې طاقت څوک لرلې شي؟ نو نبي ﷺ ورته اُوفرمايل : چه حاصل ئې دا دې) يوه صدقه ستاسو په نيز ده او يوه صدقه د

شريعت په نيز ده، په شريعت كښې صدقه هر نيك عمل ته شامليږي چه بعض صورتونه ئې دغه تسبيحات هم دي.

يَرْكَعُهُمَا مِنَ الضُّحٰى : دا حديث دليل دے چه په انسان باندے هره ورځ دغه اندازه نيكيانے لازم دي او ددے په بدله كښې دوه ركعاته د ضُحىٰ كافي كيږي نو دليل شو چه صلاة الضحىٰ هميشه دپاره كول مستحب دي.

او حديث دليل دے چه صلاة الضحىٰ ډير لوئي اجر لري چه د درے سوه شپيتو نيكيانو په مقابله كښې كافي كيږي.نو دا لائق دے چه پدے باندے هميشوالے اُوكړے شي.نو پدے كښې ترغيب دے چه دا دائماً كوئ.

او په بل روايت كښې دي چه چا د درے سوه شپيته نيكئ اُوكړے نو (فقد زحزح عن النار) دۀ ځان د اُور نه بچ كړو.

نو حديث دليل دے چه د صلاة الضحىٰ ډير عظيم موقعيت او فضيلت دے او ددے په مشروعيت كښې ډير تاكيد دے او دا دوه ركعاته د درے سوه شپيته نيكيانو په بدله كښې كافي كيږي او هر هغۀ مونځ چه داسے وي نو لائق ده چه په هغے باندے مداومت او مواظبت اُوكړے شي، دارنګه دليل دے چه تسبيحات، تحميد او تهليل، امر بالمعروف او نهي عن المنكر او د دين هر عمل او قربت زياتول پكار دي دے دپاره چه ددے په وجه په هره ورځ كښې په انسان باندے لازم صدقات ساقط شي.

٤– وَعَنْ زَيْدِ بْنِ اَرْقَمَ، اَنَّهُ رَاٰى قَوْمًا يُصَلُّوْنَ مِنَ الضُّحٰى، فَقَالَ: لَقَدْ عَلِمُوْا اَنَّ الصَّلَاةَ فِيْ غَيْرِ هٰذِهِ السَّاعَةِ اَفْضَلُ، اِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ:«صَلَاةُ الْاَوَّابِيْنَ حِيْنَ تَرْمَضُ الْفِصَالُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او زيد بن اَرقم ﷺ نه روايت دے چه دۀ څۀ خلق اُوليدل چه په چاشت وخت كښې ئې مونځ كولو، وے فرمايل : دے خلقو معلومه ده چه ددے وخت نه علاوه په بل وخت كښې مونځ اَفضل دے، ځكه رسول الله ﷺ فرمايلي دي :« الله ته د كامل توجه كونكو مونځ وخت هغۀ دے چه كله د اُوښانو بچي (يعني د هغوى خپے په كانړو) ګرم شي». (مسلم)

تشريح : رَاٰى قَوْمًا : يعني زيد بن اَرقَم په مسجد كښې قباء كښې څه خلق اُوليدل چه د چاشت مونځ ئې په اول وخت كښې كولو نو ورته ئې اُوفرمايل : چه دوى ته ښۀ معلومه ده چه مُختار وخت ددے مانځه دپاره ناوخته وخت دے. چه د اُوښانو د بچو خپے په زمكه

اُوسوزی، او دا هغه کیږی چه لس یولس بجے شی او زمکه د نمر په وهلو گرمه شی۔ نو حدیث نه معلومه شوه چه د چاشت غوره وخت لس یولس بجو تایم دے او وختی کول ئے هم جائز دی۔

تَرْمَضُ : د سمع یسمع نه مصدرئے (رَمْضَاء او رَمْض) دے په معنی د سوزولو او سخت براس د زمکے سره چه شړے ئے نمر وهلی وی۔

اَلْفِصَالُ : جمع د فَصِیْل ده، د اُوښانو بچو ته وائی چه کله د مور نه جُدا شی۔ دا وخت ځکه غوره دے چه دا وخت د استراحت دے او کله چه انسان استراحت پریدی او الله ته رجوع اُوکړی، په مانځه مشغول شی نو دا ضرور مستحق د ښائسته صفت دے۔

او دیته ئے د اَوابینو مونځ اُووئیلو ځکه د اَوّاب معنیٰ ده الله ته ډیر ورگرزیدونکے انسان، او څوك چه ددے استراحت او غفلت په وخت کښ آرام او استراحت پریدی او مونځ ته ورشی نو دهٔ د خپل نفس خواهشات پرېخودل او د الله رضا ته ئے رجوع اُوکړه۔

اوابین مونځ چا ته وئیل پکار دی ؟

صَلَاةُ الْاَوَّابِیْنَ : پدے روایت کښ ئے د اوابین مونځ صلاة الضحیٰ ته اُووئیلو او دا دلالت په حصر باندے نهٔ کوی چه ددے مونځ نه علاوه بل مانځه ته اوابین وئیل صحیح نهٔ دی بلکه قیام اللیل د ابن نصر کښ راځی چه عبد الله بن عباسؓ د ماښام مانځه نه روستو مونځ ته هم صلاة الاوابین وئیلے دے۔او دا په یو ضعیف مرفوع روایت کښ هم راغلے دے (کما فی ضعیف الجامع الصغیر رقم (٥٦٧٦) واحیاء العلوم (١/١٦٣، ٣٥٥)

او د سحر دوه رکعاتو سنتو ته هم اوابین وئیلے شویدے۔ (مصنف عبد الرزاق رقم (٥٨/٣) رقم (٤٧٨٣ عروه بن رُوَیم ورته وئیلے دے) او کورته دا خلیدو او راوتو وخت کښ دوه رکعاته کولو ته هم وئیلے شوے دے) (صلاة الاوابین وصلاة الابرار رکعتان اذا دخلت بیتك ورکعتان اذا خرجت (سعید بن منصور عن عثمان بن ابی سودة مرسلا) (جامع الاحادیث حرف الصاد :٤٨٢/١٣) للسیوطیؒ وعثمان هذا تابعی ثقة وله شاهد کما قال فی اللآلی المصنوعة (٣٨/٢) تنزیه الشرعیة المرفوعة (١٢٩/٢) وضعفه الالبانی فی السلسلة الضعیفة (٢٩٠/٨) (٣٧٨٨)

خو په مرفوع صحیح روایت کښ صلاة الضحیٰ ته اَوابین وئیلے شی۔

او علی او ابو هریره رضی الله عنهما هم دے ته صلاة الاوابین وئیلے دے۔ (ابن ابی شیبة ٤٠٧/٢) لهذا د چاشت مونځ ته صلاة الاوابین بهتر دی د نورو مونځونو په نسبت اگرکه

دغه تولو مونځونو ته صلاة الاوابين وئيل جائز دي. او ددے روايت نه معلومه شوه چه صلاة الاشراق جُدا دے او صلاة الضحىٰ جُدا دے. وراجع فتاوى الدين الخالص (٣٣٦/٥)

الفصل الثاني

٥- عَنْ اَبِي الدَّرْدَاءِ، وَاَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَا: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: «عَنِ اللّٰهِ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى اَنَّهُ قَالَ: يَا ابْنَ آدَمَ! اِرْكَعْ لِيْ اَرْبَعَ رَكَعَاتٍ مِنْ اَوَّلِ النَّهَارِ، اَكْفِكَ آخِرَهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. ٦- وَرَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ، وَالدَّارِمِيُّ عَنْ نُعَيْمِ بْنِ هَمَّارٍ الْغَطْفَانِيِّ وَاَحْمَدُ عَنْهُمْ.

ترجمه : ابو درداء او ابوذر رضي الله عنهما فرمائي: رسول الله ﷺ د الله تعالىٰ د طرف نه (حديث قدسي) نقل كوي چه الله فرمائي : «اے ابن آدم! خالص زما دپاره د ورځے په ابتداء كښ څلور ركعاته اُوكړه، زهٔ به ستا دپاره كافي شم تر آخر د ورځ پورے». (ترمذیؒ) او ابوداودؒ او دارميؒ د نعيم بن همار غطفانيؒ نه او امام احمدؒ د تولو نه نقل كړيدے.

تشريح : شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله وئيلي دي چه په احاديثو كښ د اِشراق مونځ نشته او پدے حديث كښ چه كوم مونځ راغلے دے نو ددے نه مراد د سحر مونځ دے چه دوه سنت او دوه فرض دي. (مجموع الفتاوى ٢٨٣/٢٢)

ليكن دا خبره ئے ضعيفه ده، د ډيرو وجونه : ١- اوله وجه دا چه د اشراق وخت كښ مونځ شته، په احاديثو كښ راغلے دے. مخكښ (باب الذكر بعد الصلاة) كښ حديث تير شويدے چه د حج او عمرے (تامة تامة) ثواب ئے كيږي.

٢- دويم دا چه اګركه نهار د لغت په لحاظ د طلوع الفجر نه شروع كيږي مګر په عرف كښ نهار بياض د ورځے ته وائي او دارنګه د طلوع الشمس نه روستو ته هم اول د ورځے وئيلو كښ څه مانع نشته. ځكه من اول النهار كښ به من تبعيضيه مراد شي يعني بعض حصه د اول د ورځے نه چه هغه د طلوع الشمس نه پس وي هغه مراد ده.

٣- بله دا چه محدثينو دا حديث په باب د صلاة الضحىٰ كښ راوړيدے لكه امام ترمذيؒ او ابوداودؒ دا حديث په صلاة الضحىٰ حمل كړيدے. او دلته مصنف هم په باب د نوافلو كښ راوړيدے. او همدا ظاهر ددے حديث دے او دارنګه تعامل د خلقو په دے باندے شويدے. لهذا ددے څلور ركعاتو نه مراد صلاة الضحىٰ دے. او مخكني تحقيق په اعتبار سره دا مونځ صلاة الاشراق ته هم شامليدے شي او صلاة الضحىٰ (څاښتي مونځ) ته هم.

اَكْفِكَ آخِرَهُ : يعني زهٔ به ستا د تولو كارونو نه تر آخر د ورځے پورے كافي شم او تول

حوائج به ډيے پوره كرم۔ او مصيبتونه به درنه پورته كرم۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه الترمذى (٤٧٥) وصححه الالبانى فى ارواء الغليل رقم (٤٦٥) واسناد احمد (٢٨٦/٥) والدارمى (٣٣٨/١) وابى داود (١٢٨٩ صحيح) وفى سنده اسماعيل بن عياش لكن روايته عن الشاميين صحيح وهذا الحديث شامى الاسناد)

٧- وَعَنْ بُرَيْدَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ: «فِي الْإِنْسَانِ ثَلَاثُمِائَةٍ وَسِتُّوْنَ مِفْصَلًا، فَعَلَيْهِ اَنْ يَّتَصَدَّقَ عَنْ كُلِّ مِفْصَلٍ مِنْهُ بِصَدَقَةٍ»، قَالُوْا: وَمَنْ يُّطِيْقُ ذٰلِكَ يَا نَبِيَّ اللهِ! قَالَ: «النُّخَاعَةُ فِي الْمَسْجِدِ تَدْفِنُهَا، وَالشَّيْئُ تُنَحِّيْهِ عَنِ الطَّرِيْقِ فَاِنْ لَمْ تَجِدْ، فَرَكْعَتَا الضُّحٰى تُجْزِئُكَ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ.

ترجمه : او بريده ﷺ فرمائى : ما د رسول الله ﷺ نه اَوريدلى دى چه فرمايل ئے :« د انسان (په بدن كښ) دريے سوه شپيته بندونه (جوړونه) دى۔ نو په هر انسان باندے لازم دى چه د هر جوړ په بدله كښ صدقه اُوكړى »، خلقو اُووئيل : اے د الله نبى ! ددے طاقت به څوك اُولرى؟ (چه د خپل جسم د هر جوړ په بدله كښ صدقه اُوكړى) نبى ﷺ اُوفرمايل : « په مسجد كښ لاړے چه تهٔ ئے خخے كړے، (صدقه ده) او د لارے نه يو (ضررى) شے (مثلاً نجاست، كانړے، اَزغے) جدا كول (هم صدقه ده) او كهٔ تاسو (د دريے سوه شپيته جوړونو طرف نه صدقه وركونكے څيز) اُونهٔ مومئ، نو د ضحىٰ (يعنى د اشراق) دوه ركعاته كول ستا دپاره كافى دى»۔ (ابوداوٗد)

تشريح : اَنْ يَّتَصَدَّقَ : يعنى دا د الله څومره لوئى احسان دے چه ستا جوړونه ئے خپل ځائے ته راغونډ كړل او روغ ئے درله اُوساتل نو شكر ئے پكار دے۔ او د شكر طريقه دا ده چه د الله دپاره نيكيانے اُوكړے شى او عبادتونه او صدقات او مونځونه اُوكړے شى۔

او نبى ﷺ هر مخاطب ته خطاب كوى دپاره د اهتمام چه هر هغهٔ څوك چه صلاحيت د خطاب پكښ موجود نو هغهٔ له ددے كارونو اهتمام پكار دے۔

النُّخَاعَةُ : هغهٔ خراچكى ته وائى چه د حلق نه لاندے د سينے راوځى لكه د حاء د مخرج په شان او نخامة هغه خراچكى ته وائى چه د خاء د مخرج نه د دماغو نه راكوزيږى۔

فَاِنْ لَمْ تَجِدْ: مطلب دا چه د هيڅ قسم صدقے موقعه درته ملاؤ نهٔ شى نو بيا دوه ركعاته د اشراق يا څاښتى مونځ هم ستا دپاره ددے په بدله كښ كافى كيږى۔ او كه ددے سره ډيے نورے نيكيانے اُوكړے نو هغهٔ به د لازمے صدقے نه علاوه زياتى شكريه حساب شى۔

تُجْزِئُكَ : ضمیر د واحد ئے رکعتان تثنیه ته راجع کړو په اعتبار د صلاة الضحیٰ سره۔
درجة الحدیث : اسناده صحیح علی شرط مسلم : اخرجه ابوداود (٥٢٤٢) واحمد (٣٥٨/٥) وفی سنده علی بن الحسین بن واقد وفیه مقال ولکنه من رجال مقدمة صحیح مسلم ولیس من رجال صحیحه قال ابوحاتم ضعیف الحدیث وقال النسائی لا بأس به وقال فی التقریب (انه صدوق یهم) وقال الذهبی صدوق : فالظاهر ان حدیثه حسن وقال المناوی فی شرح الجامع الصغیر اسناده حسن) وقال الالبانی : صحیح علی شرط مسلم)

٨– وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ، قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«مَنْ صَلَّى الضُّحٰى ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً، بَنَى اللهُ لَهٗ قَصْرًا مِنْ ذَهَبٍ فِي الْجَنَّةِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه. وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ لَانَعْرِفُهٗ اِلَّا مِنْ هٰذَا الْوَجْهِ.

ترجمه : او انس ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ فرمایلی دی : «چا چه دولس رکعاته مونځ د چا په وخت اُوکړو نو الله به دهٔ له په جنت کښې د سرو زرو بنګله جوړه کړی»۔ (ترمذیؒ، ابن ماجهؒ) او امام ترمذیؒ فرمائی: دا حدیث غریب دے مونږ دا صرف په همدے سند سره پیژنو۔

تشریح : دولس رکعاته د صلاة الضحیٰ آخری درجه ده، نو بعضو خلقو دیته راجع وئیلی دی ځکه چه دا فضیلت ئے راغلو لیکن دا روایت ضعیف دے۔ اګرکه د ورځے دولس رکعاتو نفلوکولو باره کښې دا فضیلت صحیح حدیث کښې شته چه الله به ورله جنت کښې کور جوړکړی لکه مخکښې (باب السنن وفضائلها) کښې تیر شویدے۔ (بسند صحیح) دارنګه نوافل مطلقه ؤ کښې شریعت اجازت ورکړیدے او زیادت ئے نهٔ دے مکروه کړے۔

درجة الحدیث : اسناده ضعیف ومعناه صحیح : اخرجه الترمذی (٤٧٣) وابن ماجه (١٣٨٠) وفیه موسی بن فلان بن انس وهو مجهول۔ولکن اذا ضم الیه حدیث ابی ذر عند البزار (٣٣٤/١) کشف) وفیه حسین بن عطاء وثقه ابن حبان وضعفه ابوحاتم وحدیث ابی الدرداء عند الطبرانی قوِیَ وَصَلُحَ للاحتجاج کما فی المرعاة (٣٥٥/٤) والفتح (٥٤/٣) وروضة المحدثین (٣/٢) والتلخیص الحبیر (٢٠/٢)

٩– وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ اَنَسٍ الْجُهَنِيِّ، قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«مَنْ قَعَدَ فِي مُصَلَّاهُ حِيْنَ يَنْصَرِفُ مِنْ صَلَاةِ الصُّبْحِ، حَتّٰى يُسَبِّحَ رَكْعَتَيِ الضُّحٰى لَايَقُوْلُ اِلَّا خَيْرًا، غُفِرَ لَهٗ خَطَايَاهُ

وَإِنْ كَانَتْ أَكْثَرَ مِنْ زَبَدِ الْبَحْرِ». رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه: او معاذ بن انس جُهَني ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمايلي دي:«څوك چه د سحر مانځه نه سلام واړوي او په خپله مَسَله باندې ناست وي تردې چه دوه رکعاته (د نمر ختلو او پورته کيدو نه روستو) دچاشت (اشراق) اُوکړي، او (ددې دواړو يعنى سحر مونځ او د چاشت ترمينځ) د نيکو خبرو نه علاوه نورې خبرې اُونۀ کړي، نو دۀ ته به ټول گناهونه اُوبخلې شي اگرکه د درياب د زگ نه زيات وي»۔ (ابوداودّ)

تشريح : لَايَقُوْلُ اِلَّا خَيْرًا : دې نه معلوميږي چه هر نيك كار كوي، كتاب گوري، يا تلاوت كوي يا تدريس كوي يا بل يو نيك كار كوي چه د گناه كار نۀ وي نو دغه اَجر ورته ملاويږي۔ على القاريّ وائي: دلته ئې په قول سره د فعل نه اكتفاء كړيده۔او مراد ترې نه هر هغۀ د اجر او ثواب كار دې۔ آه۔ او قول ئې ذكر كړو چه غلطې خبرې به نۀ كوي، كنځلې او فاحشې خبرې به نۀ كوي، ډير خلق داسې وي چه د سحر مانځه نه روستو تر اشراق پورې ځان وېښ پريدي ليكن بيا فاحشې او د دنيا خبرې كوي، غيبتونه ئې شروع كړي وي ځكه چه د اشراق په انتظار ناست دې۔ !!

خَطَايَاهُ : ددې نه بعض علماء صغائر مراد كوي ليكن ظاهر دا ده چه هر قسمه گناهونه معاف كيږي ځكه دا كار غالباً پاك مخلص مؤمن كوي۔

دا حديث دليل دې چه اشراق ته هم په احاديثو كښې صلاة الضحىٰ وئيلې شويدې ځكه چه دلته د ضحىٰ نه مراد د اشراق مونځ دې، او دا اول وخت د ضحىٰ دې۔ او يا د ضحىٰ نه مراد معنىٰ لغوى ده چه هغۀ وخت د رڼا كيدو د نمر دې۔ او بعينهٖ همدا وخت د صلاة الاشراق دې۔ فتدبر۔

۔ او دا روايت اگركه سنداً ضعيف دې ليكن د اشراق په باره كښې ډير فضائل راغلي دي چه د حج او عمرې ثواب ئې هم كيږي او گناهونه ئې هم معاف كيږي او حاجتونه ئې هم پوره كيږي۔ لهذا داسې قسم حديث په فضائل الاعمال كښې كار وركوي ځكه چه پدې سره څۀ نوې حكم شرعي نۀ ثابتيږي، صرف زياتي فضيلت بيان شويدې۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه ابوداود (١٢٨٧) واحمد (٤٣٨/٣) وفى اسناده زبان بن فائد عن سهل بن معاذ وقال المنذرى سهل بن معاذ ضعيف والراوى عنه زبان ايضاً ضعيف وضعفه العراقى۔ وقال ابن عبد البر : وهذا الاسناد عندهم لين ضعيف الا ان الفضائل يروونها عن كل من رواها ولا يردونها) (التمهيد ١٤٢/٨)

الفصل الثالث

١٠ – عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَنْ حَافَظَ عَلٰى شُفْعَةِ الضُّحٰى، غُفِرَتْ لَهٗ ذُنُوْبُهٗ وَاِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ». رَوَاهُ اَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي : «چا چه د ضُحیٰ په دوه ركعاتو مُدَاوَمَت (هميش والے) اُوكړو، نو دهٔ ته به گناهونه اُوبخلے شي اگركه هغهٔ د درياب د زګ په شان وي»۔ (احمدؔ، ترمذیؔ، ابن ماجهؔ)

تشريح : دے نه معلوميږي چه د چاشت په مانځه باندے مداومت كول هم مستحب عمل دے او دليل دے چه دا بغير د سبب نه هم كول جائز دي۔ دا ګران عمل دے په نفس باندے ځكه ئے دومره اجر بيان شويدے۔

شُفْعَةِ : په فتحه او ضمه دواړو سره جائز دے لكه غَرفه او غُرفه۔(نهايه للجزريؔ) عراقیؔ وائي : په روايت كښ مشهور ضمه د شين ده۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه الترمذى (٤٧٦) وفيه نَهّاس بن قهم وهو ضعيف تركه يحيى القطان وضعفه ابن معين وقال ابواحمد الحاكم : لين (الميزان ٢٧٤/٤) المجروحين (٥٦/٣) لابن حبان ۔

---

١١ – وَعَنْ عَائِشَةَ، اَنَّهَا كَانَتْ تُصَلِّيْ الضُّحٰى ثَمَانِيَ رَكْعَاتٍ، ثُمَّ تَقُوْلُ: لَوْ نُشِرَ لِيْ اَبَوَايَ مَا تَرَكْتُهَا. رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه : او عائشه رضي الله عنها نه روايت دے چه دے به د چاشت مونځ اته ركعاته كول بيا به ئے فرمايل :كهٔ ما دپاره مور او پلار راژوندي شي (نو دهغوی د ملاقات د شوق دپاره به) زهٔ دا مونځ پريے نهٔ ايږدم۔ (مالكؔ)۔

تشريح : دا حديث هم دليل دے چه عائشے رضي الله عنها به د ضحیٰ مونځ كولو او هميش والے به ئے پريے كولو نو كومه نفي چه د هغے نه نقل ده نو هغه مقيده ده په مسجد پورے يا مخكښ ئے نبي ﷺ نهٔ وو ليدلے روستو ئے پريے ليدلے وو نو ځكه پريے عمل كوي۔ او اته ركعاته ددے خپل مقرر كړده عمل دے او دا مطلب نهٔ دے چه زيادت ناروا دے۔ ځكه چه په صلاة الضحیٰ كښ منقول معين عدد نشته۔

لَوْ نُشِرَ لِيْ : يعني كه ما ته مور او پلار راژوندي شي او راته اُووئيل شي چه ددے خوند په مقابله كښ د چاشت د مانځه خوند پريدهٔ نو زه ئے نهٔ پريدم۔

نو دے نه دا فائده معلومه شوه چه مداومت په نيك عمل پكار دے۔ ٢– د صحابه

کرامو په نوافلو باندې څومره مؤکد عزم وو پاتې لا فرائض، دغه شان عزم پکار دې۔

٣– د مداومت او التزام ترمینځ فرق دې، التزام بدعت دې او دوام نیکی ده۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح : اخرجه مالك فی الموطأ (١٥٣/١) رقم (٣٠) والتاریخ الصغیر للبخاری (٢٠١/١) وابن ابی شیبة، ومسند احمد)

١٢– وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ، قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُصَلِّي الضُّحٰى حَتّٰى نَقُوْلَ: لَايَدَعُهَا، وَيَدَعُهَا حَتّٰى نَقُوْلَ: لَا يُصَلِّيْهَا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : او ابو سعید رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ به د چاشت مونځ کولو تردې چه مونږ به وئیل : نهٔ ئې پریدی، او د چاشت مونځ به ئې پریخودلو تردې چه مونږ به وئیل : چه نهٔ ئې کوی۔ (ترمذیؒ)

تشریح : ددې روایت نه بعضو استدلال کړیدې چه صلاة الضُحیٰ باندې به همیش والې نشي کولې لیکن دا روایت ضعیف دې او د مخکښې روایاتو نه دوام معلوم شو۔ لهذا دا نفل مونځ دې همیش والې پرې جائز بلکه مستحب دې۔

درجة الحدیث : اسناده ضعیف: اخرجه الترمذی (٤٧٧) وقال حسن غریب وفی اسناده عطیة العوفی وهو کثیر الخطأ، مدلس، وخاصة فی روایته عن ابی سعید۔

١٣– وَعَنْ مُوَرِّقٍ الْعِجْلِيِّ، قَالَ: قُلْتُ لِابْنِ عُمَرَ: تُصَلِّي الضُّحٰى؟ قَالَ: لَا. قُلْتُ: فَعُمَرُ؟ قَالَ: لَا. قُلْتُ: فَاَبُوْبَكْرٍ؟ قَالَ: لَا. قُلْتُ: فَالنَّبِيُّ ﷺ؟ قَالَ: لَا اِخَالُهٗ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : او مورق عجلیؒ فرمائی: ما عبد الله بن عمر ته اُووئیل: آیا ته د چاشت مونځ کوې؟ ابن عمرؓ اُوفرمایل: نهٔ (زهٔ ئې نهٔ کوم) ما عرض اُوکړو : آیا عمرؓ (به کول) وې فرمایل : نهٔ۔ ما عرض اُوکړو : آیا ابوبکرؓ (به کول)۔ وې فرمایل : هغهٔ به هم نهٔ کول، ما عرض اُوکړو: آیا نبی ﷺ به کول ؟ هغهٔ اُوفرمایل : زما په هغهٔ گمان نهٔ دې (چه هغوی کړی وی) (بخاریؒ)۔

تعارف د مورق العجلی : مورق بن المُشَمرَج ابو المعتمر البصری ثقه عابد، په طبقه وسطیٰ کښې د کبار التابعین نه دې په سنه (١٠٣ هـ) یا (١٠٥) یا (١٠٨) کښې وفات دې، عجلی منسوب دې عجل قبیلې ته۔

تشریح : لَا: یعنی دا دلیل دے چه نفل مونځ کښې دا لازم نهٔ ده چه انسان به ئے همیشه کوی، یا دا چه دهٔ ته په کښې حدیث نهٔ دے معلوم ځکه نفی کوی۔

لَا اِخَالُهٗ : افصح قرائت پکښې دا دے چه د همزے کسره او د لام ضمه ده او فتحه هم جائز ده۔ په معنیٰ د خیال او گمان سره دے۔ بیا ئے دا خبره گمانی ذکر کړه۔ لیکن دا گمان صحیح نهٔ دے ځکه هغه ته دا حدیث نهٔ دے رسیدلے۔ او مونږ ته احادیث رارسیدلی دی نو دا دلیل شو چه ډیر کرت یو غټ عالم، صحابی ته به یو حدیث نهٔ وی رسیدلے او روستو اُمت ته به رسیدلے وی، نو دا ضروری نهٔ ده چه هر متقدم عالم به د دین په هره مسئله کما حقها پوهیږی او روستنی به جاهلان وی۔ نو رد شو په تقلید باندے۔

حافظ ابن حجرؒ فتح الباری (۲۴۵/۱ و ۱۲۰) کښې لیکی : (فی القصة دلیل علی ان السنة قد تخفی علی بعض اکابر الصحابة ویطلع علیها آحادهم ولهذا لا یلتفت الی الآراء ولو قویت مع وجود سنة تخالفها ولا یقال : کیف خفی ذا علی فلان والله الموفق)۔

(دا حدیث دلیل دے چه سنت ډیر کرت په مشران صحابه کرامو باندے پټ پاتے کیدے شی او د هغوی آحاد به پرے خبر وی پدے وجه (د خلقو) آراء ته به التفات نشی کیدے اګرکه قوی وی کله چه سنت ددے مخالفت موجود شی او داسے به نشی وئیلے کیدے چه دا سنت په فلانی باندے څنګه پټ پاتے شو؟ ځکه توفیق ورکونکے دے) (چا ته یوه مسئله زدهٔ کړی او په بل ئے پټه پاتے کړی)

په واقعه د ابن عمر کښې چه نبی ﷺ د مؤمن سړی مثال د یوے ونے سره ورکړو صحابه کرامو نه ئے امتحان اخستو دا کومه ونه ده۔ نو ابن عمرؓ وائی : زما زړه کښې راغله چه دا کجوره ده۔ حافظ فرمائی : (وفیه ان العالم الکبیر قد یخفی علیه بعض ما یدرکه من هو دونه لان العلم مواهب والله یؤتی فضله من یشاء) (کتاب العلم - باب طرح الامام المسئلة) : (یعنی ډیر کرت په یو لوئی عالم باندے بعض خبرے پټے پاتے کیدے شی چه هغهٔ کشرانو ته معلومے وی ځکه علم د الله هبه ده چا له ډیر او چا له کمه ورکوی)

★- ابن عمر د مسح علی الخفین نه منکر وو۔ نو حافظ ابن حجرؒ فرمائی : (وفیه ان الصحابی القدیم الصحبة قد یخفی علیه من الامور الجلیة فی الشرع ما یطلع علیه غیره) (باب المسح علی الخفین) (یو قدیم صحبت والا صحابی باندے د شریعت بعض هغهٔ ښکاره مسائل پټ پاتے کیدے شی چه بل ته هغهٔ واضح وی، لکه ابن عمر چه په سعد باندے د مسح علی الخفین انکار کولو هغهٔ ورته ووئیل : پلار نه دے تپوس اُوکړه الخ) (۳۰۶/۱) وبالله التوفیق۔



باب التطوع

د نفل مانځه بيان

دلته هغه نوافل ذکر کوی چه وخت ئے نهٔ دے معلوم او مخکښې هغهٔ نوافل وو چه د وخت په تيريدو سره هغه نفل ختميږی۔ مقيد بالوقت وو۔

نو دا اعتراض نهٔ راځی چه نوافل خو مخکښې هم تير شو ځکه چه هغه نوافل مقيد بالوقت وو او دا غير مقيد بالوقت دی۔

دلته به تحية الوضوء ٢– صلاة الاستخارة ٣–صلاة الحاجة ٤– صلاة التوبة او بعض د هغې نه صلاة التسبيح ده۔ او نوافل مطلقه بيانيږی۔

تطوع : د طَوع او طَاعَة نه ماخوذ دے تابعدارئ او إنقياد ته وائی او تطوع بيا هر هغه نفلی عبادت ته وائی چه په بنده باندے فرض او واجب نهٔ وی او مُتطَوِّع هر د خير عمل کونکی ته وائی چه د فرائض او واجباتو نه علاوه وی او اکثر إطلاق د تَطَوّع په هغه مونځ باندے کيږی چه د سنن رواتب نه علاوه وی۔ او د تطوع معنیٰ ده په خوشحالئ سره په خپله طبع باندے عمل کول چه واجب او لازم پرے نهٔ وی۔

الفصل الاول

١ – عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ لِبَلَالٍ عِنْدَ صَلَاةِ الْفَجْرِ: يَا بِلَالُ ! حَدِّثْنِي بِاَرْجٰى عَمَلٍ عَمِلْتَهٗ فِي الْاِسْلَامِ، فَاِنِّي سَمِعْتُ دُفَّ نَعْلَيْكَ بَيْنَ يَدَيَّ فِي الْجَنَّةِ، قَالَ: مَا عَمِلْتُ عَمَلًا اَرْجٰى عِنْدِيْ اَنِّي لَمْ اَتَطَهَّرْ طُهُوْرًا فِيْ سَاعَةٍ مِنْ لَيْلٍ وَلَانَهَارٍ، اِلَّا صَلَّيْتُ بِذٰلِكَ الطُّهُوْرِ مَا كُتِبَ لِيْ اَنْ اُصَلِّيَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : ابو هريره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ د سحر مانځه په وخت بلال ته اُوفرمايل : «اے بلال ! ما ته اُووايه چه تا په اسلام کښې کوم عمل کړيدے چه په هغې سره ستا د ثواب زيات اُميد دے ځکه ما په جنت کښې خپلے مخے ته ستا د خپو آواز اوريدلے دے؟»۔ هغهٔ اُووئيل: ما څه داسے عمل نهٔ دے کړے چه هغهٔ زما په نيز ډير د اُميد والا وی سِوَاددے نه چه ما د ورځے او شپے په هيڅ ساعت کښې اُودس نهٔ دے کړے مگر په هغهٔ اُودس مے

مونږ کرے دے خو مره چه ما دپاره لیکلے شوے وی چه زۀ ئے اُوکړم»۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : جنت ته انسان قبل الموت نشي داخلیدے لیکن الله تعالیٰ نبی ﷺ ته د بلال یو تصویر اُوخودلو، او په دے کښې د بلال‌ؓ فضیلت ته اِشاره شوه او زیرے دے هغه ته په جنت باندے او اشاره ده چه دا دوه رکعاته چه د اُودس نه روستو اُوکړے شی نو ډیره اُوچته مرتبه لری چه انسان جنت ته داخلوی۔ او مونږ به انسان سپك نۀ ګنړی۔

حسن بصریؒ نه نقل دی چه اے انسانه کله چه تا باندے مونږ عزتمند نۀ دے نو کوم شے به تا باندے عزتمند وی۔

دُفّ : په فتحه د دال : کشاری او حرکت د خپو ته وائی۔

بیا نبی ﷺ د بلال نه د اَرْجی عمل (د ډیر امید والا عمل) تپوس اُوکړو نو ددے نه مراد نوافل عبادات دی، نۀ فرائض ځکه چه د ډیر اُمید اعمال خو فرائض دی۔ لیکن دلته نوافل مراد دی۔

فوائد الحدیث : ١- حدیث نه معلومه شوه چه د هر اُودس نه روستو دوه رکعاته یا زیات کول سنت عمل دے او ددے دپاره وخت نۀ دے معلوم، بعض علماء وائی چه مکروه اوقاتو کښې هم ددے کول جواز لری ځکه چه دا حدیث عام دے هر وخت ته او دا د احادیث د اوقات الکراهیة نه مستثنیٰ دی۔

لیکن راجح دا ده چه مکروه وقت کښې دا مونږ نۀ دے پکار ځکه چه صلاة التحیة کښې تاخیر جائز دے او بله دا چه (ما کتب لی ان اصلی) نه معلومیږی چه سمدست ضروری نۀ دی، ځکه چه مونږ ئے د الله کتابت او تقدیر ته اُوسپارلو۔

٢- استاذ د شاګرد نه د هغه د عمل په باره کښې تپوس کولے شی که ښه عمل وی چه هغه ته تیزی په هغه عمل ورکړی او که بد وی نو منع به ئے کړی۔

٣- نبی ﷺ بلال لره لیدلے دے یا په معراج شپه کښې یا ورته کشف شویدے، د نبی معجزه ده۔ ٤- د یو سړی مخامخ صفت کول ناروا دی کله چه فتنه ولاړیږی، او کله چه پکښې فائده وی، د یو عمل اَهمیت راښکاره کول مقصود وی نو بیا جائز ده لکه دلته د بلال په زړۀ کښې فتنه نۀ راتله او غرض پکښې ددے عمل اهمیت بیانول وو۔

٢- وَعَنْ جَابِرٍ، قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُعَلِّمُنَا الْإِسْتِخَارَةَ فِي الْأُمُوْرِ، كَمَا يُعَلِّمُنَا السُّوْرَةَ مِنَ الْقُرْآنِ، يَقُوْلُ: إِذَا هَمَّ اَحَدُكُمْ بِالْاَمْرِ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ مِنْ غَيْرِ الْفَرِيْضَةِ، ثُمَّ لِيَقُلْ: اَللّٰهُمَّ

إِنِّي أَسْتَخِيرُكَ بِعِلْمِكَ، وَأَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ، وَأَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ الْعَظِيمِ، فَإِنَّكَ تَقْدِرُ وَلَا أَقْدِرُ، وَتَعْلَمُ وَلَا أَعْلَمُ، وَأَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ، اَللّٰهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هٰذَا الْأَمْرَ خَيْرٌ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي، وَعَاقِبَةِ أَمْرِي- أَوْ قَالَ: فِي عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ- فَاقْدُرْهُ لِي، وَيَسِّرْهُ لِي، ثُمَّ بَارِكْ لِي فِيهِ، وَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هٰذَا الْأَمْرَ شَرٌّ لِي فِي دِينِي، وَمَعَاشِي، وَعَاقِبَةِ أَمْرِي- أَوْقَالَ: فِي عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ - فَاصْرِفْهُ عَنِّي وَاصْرِفْنِي عَنْهُ، وَاقْدُرْ لِيَ الْخَيْرَ حَيْثُ كَانَ ثُمَّ أَرْضِنِي بِهِ». قَالَ: وَيُسَمِّي حَاجَتَهُ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: او جابر ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ به مونږ ته په ټولو کارونو کښې استخاره داسې راخودله لکه څنګه چه به ئې يو سورت د قرآن راخودلو، فرمايل به ئې: « کله چه يو تن ستاسو د يو کار اراده اُوکړي نو هغۀ دې دوه رکعاته اُوکړي علاوه د فرضو نه، بيا دې (مانځه نه روستو) داسې اُووائي: اللهم انى استخيرك الخ) (اے الله! زۀ ستا د علم په وسيله سره تا نه خير غواړم، او ستا په قدرت سره ستا قدرت غواړم، او زۀ ستا نه ستا فضل غواړم ځکه تۀ (په هر څيز) قادرئې، زۀ (ستا د رضا نه بغير په هيڅ شي باندې) قادر نۀ يم، تۀ په هر شي پوهه ئې او زۀ په هيڅ نۀ پوهيږم، او تۀ په پټو څيزونو پوهيږې اے الله! کۀ تا ته معلومه وي چه دا کار زما دپاره زما په دين، زما په ژوند، زما په انجام د کار کښې يا ئې اُوفرمايل: پدې دنيا کښې او په هغۀ جهان (آخرت) کښې بهتر وي، نو تۀ ئې زما دپاره مقرر کړې او ما دپاره ئې آسان کړې او بيا راله پکښې برکت واچوې، او کۀ تا ته معلومه وي چه دا کار زما دپاره زما په دين، زما په ژوند، زما په آخرت کښې يا ئې اُوفرمايل: زما دنيا او آخرت کښې بد وي۔ نو هغۀ ما نه او ما د هغې نه واړوۀ او ما دپاره خير مقرر کړه هرځائې کښې چه وي بيا پرې ما راضي کړه »۔ راوي فرمائي: چه (د هذا الامر) په ځائې به د خپل حاجت نوم واخلي۔ (بخاريؒ)

تشريح: پدې حديث کښې صلاة الاستخارة ذکر دې۔ مطلب دا دې چه کله انسان يو کارکول يا پريخودل يا بيع شراء کول غواړي نو د الله نه په کښې طلب د خير اُوکړي او دا د الله سره يو قسم مشوره ده او په اسلام کښې ددې ډير اَهميت دې، لکه نبي ﷺ به صحابه کرامؓ ته په هر کار کښې دا خودله۔ په جاهليت زمانه کښې به مشرکانو بد فالي نيوله او استقسام بالازلام به ئې کولو نو رسول الله ﷺ خپل اُمت ته د استخارې مونځ اُوخودلو چه د الله نه خير طلب کړي۔ اومقصود د استخارې نه تفويض دې الله ته او په هغۀ باندې

توکل دے۔ او د هغهٔ په علم او قدرت او د بنده دپاره په نښائسته اختیار باندے اعتماد دے چه دا د لوازمو د رضا د الله نه دے په رب کیدو د هغهٔ باندے چه ددے نه بغیر حلاوت د ایمان نهٔ حاصلیږی۔ او دغه شان د استخارے نه روستو چه کوم شے درله مقرر وی او په هغے باندے ایمان راوړے نو دا علامه د سعادت د بنده ده۔ (زاد المعاد ٢/٤٤٣)

صلاة الاستخارة کښې د عوامو وهمونه

١- بعض خلق وائی چه صلاة الاستخاره د شپے کول پکار دی لیکن دا خبره صحیح نهٔ ده ځکه نبی ﷺ فرمائی: (إِذَا هَمَّ) هر کله چه انسان قصد د یو کار کوی۔ نو کولے ئے شی، نو که ستا قصد د ورځے وی نو آیا ته به د شپے انتظار کوے۔

٢- خوب لیدل هم شرط نهٔ دے، دا په هیڅ حدیث کښې ندے خودلے شوے بلکه که یو انسان ماسخوتن کښې اُوکړه او خوب کښې ورله څه راغلل نو هغه بیله خبره ده، خو خوب لیدل ورله شرط نهٔ دے۔ وجه دا ده چه کله به یو شے ستا نه فوت کیږی لکه یو کتاب اخلے او ته شپے ته انتظار کوے نو هغه به درنه فوت شی بل چا به اخستے وی۔ نو استخاره اُوکړه او سمدست په کار باندے ورشه الله به پکښې خیر اَچوی۔

٣- بعض خلق وائی: استخاره صرف په شکی اُمورو کښې کیږی چه ستا شك وی چه دا کار اُوکړم او که نهٔ او په یقینی اُمورو کښې نهٔ وی۔ لیکن دا خبره هم خطاء ده، وجه دا ده چه پدے حدیث کښې (فی الامور کلها) راغلی دے نو د شك خبره پکښې نشته او د سلفوؔ عمل هم پدے طریقه وو چه هغوی به دا په یقینی اُمورو کښې هم کوله لکه د حج یا عمرے اراده به ئے وه نو استخاره به ئے کوله او دینی اَمر یقینی وی۔ لیکن (فی الامور کلها) نه مراد هغه دینی اَمر دے چه شریعت ورله وقت نهٔ وی مقرر کړے لکه رمضان روژو دپاره یا فرض مونځ دپاره انسان استخاره کوی چه دا اُوکړم او که نهٔ نو دا استخاره صحیح نهٔ ده ځکه چه دا خو به ضرور کوے، دے دپاره وخت مقرر دے۔ او هرچه حج، نکاح، بیع شراء وغیره کارونه دی نو هغے دپاره اَوقات نهٔ دی مقرر۔ حج اُوس هم کیږی او کال له هم، نو ددے دپاره استخاره پکار ده۔

مسائل الاستخارة:

١- استخاره یو مشروع او سنت عمل دے او الله پکښې ډیر خیر اچولے دے بلکه بعض علماؤ ورته واجب هم وئیلے ده لیکن جمهور علماء وائی: سنت ده۔ حافظ ابن حجرؔ

فرمائي: (فليركع ركعتين) كښې امر گويا علماؤ د مشورې دپاره فهم كړيدې نو پدې سره ئې عدول كړې د وجوب نه سنيت ته او هركله چه دا مشتمل وو په ذكر او تفويض الى الله باندې نو مندوب اُوګرزيدو- آه-امام نوويؒ، شيخ ابن باز هم ورته سنت وئيلې دے- او په عدم وجوب باندې ئې دليل حديث د اعرابي دے (هل على غيرهن ، قال لا : الا ان تطوع) نو دا مؤكد سنت دې لهٰذا مسلمان له استخاره پريخودل نۀ دي پكار-

٢- استخاره په ټولو كارونو كښې پكار ده ووړوكے وي او كه غټ وي، امام نوويؒ وائي: استخاره په ټولو كارونو كښې مستحبه ده آه- ځكه ډير كرت په يو ووړوكي كار باندې ډير عظيم كار مرتب شي-

٣- د استخارې دپاره مستقل دوه ركعاته نفل مونځ كول پكار دي، سوئ د فرضو نه لهٰذا په فرضو كښې دا نۀ مُجزئ كيږي- امام نوويؒ فرمائي : ظاهر دا ده چه استخاره حاصليږي په دوه ركعاتو د سنن رواتبو هم او په تحية المسجد او نورو نوافلو سره هم- علامه عراقيؒ فرمائي : كله چه د سنت راتبه د شروع كولو نه مخكښې د انسان د يو كار قصد وي بيا مونځ اُوكړي بغير د نيت د استخارې نه او بيا د مانځه نه روستو ورته ښكاره شي چه د استخارې دعاء كوم نو اُودې ئې كړي، ظاهر دا ده چه پدې سره هم استخاره صحيح كيږي- (بغية المتطوع)

٤- په صلاة الاستخاره كښې د فاتحې نه بعد څه خاص آيتونه او سورتونه لوستل ضروري نۀ دي بلكه هر سورت چه وائي جائز ده-

٥- بيا چه استخاره اُوكړې نو څه به كوې ؟ نو پدې كښې (١) يو قول دا دے چه په يو كار به شروع اُوكړې هر يو چه وي لا على التعيين - (٢) - ليكن راجح دا ده چه كوم كارئې په زړۀ كښې معين كړے وي نو هغې باندې به شروع اُوكړي ځكه په استخاره كښې يو كار معين كول وي خو صرف د الله نه پكښې خير طلب كوي- او دا د خواهش تابعداري نۀ ده لكه څنګه چه بعض وائي بلكه مقصد دا دے چه اے الله ! زه صبا دا كار كوم خو ستا نه پكښې خير غواړم دغه د استخارې مطلب دے-

٦- مسئله : د استخارې دپاره مكروه وخت نشته ځكه يو شے به تۀ په مكروه وخت كښې اَخلې يا خرڅوې نو كه ته دا مونځ روستو كړې او بيا اخستل خرڅول كوې نو هغه شے يا ګاهګ درنه فوت كيږي- ٢- دويم دا چه حديث كښې (اذا هم) عام دے هر وخت ته لهٰذا دا سببي مونځ دے په اوقات الكراهة كښې هم كيدے شي-

٧- استخاره كښې تكرار سنت نۀ دے، يو كرت سره سنت اداء كيږي او كوم حديث كښې

اووه كرته كولو باندے ئے انس بن مالك رضی الله عنه ته اَمر كړے وو نو هغه ضعيف دے (اخرجه ابن السني رقم (٥٩٨) وذكره النووي في الاذكار ص (٣٥٨) باسناد ضعيف فيه ابراهيم بن البراء وهو يحدث عن الثقات البواطيلَ كما قال ابن عدى وابن حبان وفيه عبيد الله بن الموصل الحميرى قال الحافظ لم اقف له على ترجمة) مګر كۀ زړۀ كښ ئے د هيڅ خبرے عزم نۀ راځي نو بار بار دے ئے اُوكړي۔

٨– دا دعاء به كوم ځائے كښ وائي؟ نو شيخ الاسلام ابن تيميةؒ فرمائي: چه دا به په داخل د مانځه كښ وائي په قعده كښ د سلام نه مخكښ۔ (مجموع الفتاوى) ليكن ظاهره دا ده چه دا دعاء به پس د سلام نه وائي ځكه حديث كښ داسے الفاظ دي: (فيركع ركعتين من غير الفريضة ثم ليقل) نو (ثم ليقل) كښ (ثم) د تراخي دپاره دے نو ظاهر دا ده چه دا پس د مانځه نه دے۔ او پدے باندے فتوىٰ وركړيده اعضاء اللجنة الدائمة للبحوث العلمية وغيره۔ او علامه شوكانيؒ وئيلي دي: پدے باره كښ هيڅ اختلاف نشته چه دا دعاء به د مانځه نه روستو وائي۔

٩– آيا پدے دعاء كښ رفع اليدين شته؟ نو په حديث كښ ئے څه تذكره نۀ ده شوے لهذا بغير د رفع اليدين نه به دا دعاء كولے شي ليكن كه د اَدعيه مطلقه ؤ نه حساب كړے شي نو بيا لاس پورته كول پكښ جائز دي۔ ليكن سنت مستمره به ترے نۀ جوړوي۔

١٠– د هذا الامر په ځائے به د خپل حاجت نوم واخلي مثلاً كه يوه جينئ په نكاح اخلي چه د هغے نوم فاطمه وي نو داسے به وائي: (اللهم ان كنت تعلم ان زواجي من فاطمة خير لي في ديني ......) او په دويم ځائے كښ به داسے وائي: (ان كنت تعلم ان زواجي من فاطمة شر لي في ديني ......)

١١– ددے دعاء نه مخكښ درود وئيل او اروستو ترے د الله حمدونه وئيلو ته امام نوويؒ په كتاب الاذكار (١/١١١) كښ مستحب وئيلي دي ليكن ظاهر دا ده چه پدے مقام كښ به صرف دعاء وائي او دا ځيزونه زياتول په سنت كښ نۀ دي ثابت۔

١٢– د استخارے دپاره خلق نورے دعاګانے بيانوي، لكه بعض خلق وائي: (يا عليم علمني ويا رشيد اَرشدني) بعض وائي: (اللهم خر لي واختر لي) به وائي، ليكن هغۀ تولے ضعيفے دي صرف دا دعاء صحيح حديث كښ راغلے ده، نو بس مؤمن له پدے باندے اكتفاء پكار ده۔ بلكه دا چه رشيد نوم د الله په اسماء حسنىٰ كښ نشته۔

١٣– كوم شخص چه په مانځه نۀ وي قادر لكه حائضه زنانه ته يو حاجت راپيښ شي چه استخاره پكښ كوي نو آيا دا بغير د مانځه نه صرف دعاء الاستخارة باندے اكتفاء

كولے شي ؟ الجواب : د فاتقوا الله ما استطعتم د عموم نه استدلال كيدے شي چه دا به صرف په دعاء باندے اكتفاء اُوكړي او دا مذهب د احناف، شوافع او مالكيه ؒ دے چه په استخاره كښې په دعاء باندے هم اكتفاء كول جائز دي. كله چه مونځ نشي كولے. امام نوويؒ فرمائي : (ولو تعذرت عليه الصلاة استخار بالدعاء) (كشف الستارة عن صلاة الاستخارة ص (١٤))

١٤- په دعاء د استخاره باندے د مانځه د مخكښې كولو څۀ حكمت دے ؟.

الجواب : الله حكيم او عليم ذات دے او زمونږ دين اسلام د حكمت او تدبر دين دے، كله انسان اراده كوي چه د نصوص شرعيه ؒ حكمتونو ته ځان اُورسوي نو پدے سره د هغۀ ايمان او يقين كښې زيادت راشي او كله چه حكمت ته اُونۀ رسي نو بيا سمعاً او طاعةً وئيل پكار دي نو د استخارے نه مونځ پدے وجه مخكښې راغلے دے چه مقصد د استخارے نه دا دے چه انسان د دنيا او آخرت دواړو خيرونه راجمع كړي او په كوم شي باندے چه اقدام كوي چه د هغے د شر نه ئے الله وړاندے كړي نو دا طلب يو قسم دعاء ده چه يو مقدمے ته محتاج ده چه په هغے كښې ذلت او خشوع او عاجزي او مناجات او اعتراف وي چه پدے سره د مَلِك ذات دروازه اُوټكوي، مخكښې د شروع نه په طلب كښې او ددے كار كاميابي بغير د مانځه نه په بل څيز باندے نۀ كيږي او نۀ د مانځه نه غوره څۀ شته ځكه چه په مانځه كښې د الله تعظيم او ثناء ده او هغۀ ته افتقار دے حالًا او مآلًا (د انجام په لحاظ) نو پدے وجه ترے مونځ مخكښې كړے شو.

١٥- آيا دوه ركعاته كافي دي او كه زيادت جائز دے ؟ نو ظاهر دا ده چه دوه ركعاته ادنىٰ درجه ده او پدے باندے كفايت راځي او كه چا زيادت اُوكړو نو هم جائز ده. دليل دا دے چه په صحيح ابن حبان او مستدرك د حاكم (٣١٤/١) كښې په صلاة الزواج كښې داسے راغلي دي : (ثم صل ما كتب الله لك) نو ددے عموم دليل دے چه هرڅومره مونځ نه روستو دعاء الاستخارة وئيلے شي.

او دا په فتاوى الدين الخالص (٣٦٢/٥) كښې په صلاة الزواج كښې راوړے شوے دے.

١٦- چا ته چه د استخارے دعاء حفظاً نۀ وي ياده، يا ئے نشي يادولے نو آيا د كاغذ، يا كتاب نه ئے وئيلے شي ؟ نو كۀ څوك ئے ياده كړي، ډير خير او فائده ده او كه څوك ددے طاقت نشي لرلے نو (لا يكلف الله نفساً الا وسعها) لهذا د كاغذ يا كتاب نه دِے اُووائي او پدے باب كښې آساني ده ليكن كله چه استخارے مونځ په خپلو كارونو كښې بار بار كوي نو هغۀ ته به ان شاء الله دغه دعاء هم زر ياده شي. او ددے په جواز باندے فتاوى اللجنة

الدائمة هم فتوىٰ وركړيده۔
(انظر تفصيل المسائل فى المرعاة ٣٦٤/٣) وفتاوى الدين الخالص (٣٦٠/٥) وبغية المتطوع ص (٤٤) وكشف الستارة عن صلاة الاستخارة) وفقه السنة (٢١١/١ – صلاة الاستخارة)
اِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ : دلته شك په نسبت سره بنده ته دے نۀ په نسبت سره الله ته ځكه الله ته خو د هر شي خير او شر د مخكښې نه معلوم دے۔ خو بنده ته نۀ دے معلوم۔ نو دلته ان په معنٰى د يقين سره دے يعني يقينا تاته معلومه ده خو زۀ شكى يم۔
فِي عَاجِلِ اَمْرِي : پدے دواړو كښې به يو لفظ وائى، يا به (وعاقبة امرى وعاجله) وائى يا به (وعاجل امرى وآجله) وائى۔ دواړه به نۀ جمع كوى۔ او د (هذا الامر) په ځائے به د حاجت نوم واخلى په عربئ يا عجمئ ژبه كښې۔
ثُمَّ اَرْضِنِي بِهِ : په بل روايت كښې (ثم رضنى به) د باب تفعيل نه دے۔

الفصل الثاني

٣– عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: حَدَّثَنِي اَبُوْبَكْرٍ – وَصَدَقَ اَبُوْبَكْرٍ – قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ: «مَا مِنْ رَجُلٍ يُذْنِبُ ذَنْبًا، ثُمَّ يَقُوْمُ فَيَتَطَهَّرُ، ثُمَّ يُصَلِّي، ثُمَّ يَسْتَغْفِرُ اللهَ، اِلَّا غَفَرَ اللهُ لَهُ، ثُمَّ قَرَأَ ﴿وَالَّذِيْنَ اِذَا فَعَلُوْا فَاحِشَةً اَوْ ظَلَمُوْا اَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللهَ فَاسْتَغْفَرُوْا لِذُنُوْبِهِمْ، وَمَنْ يَّغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اللهُ وَلَمْ يُصِرُّوْا عَلٰى مَا فَعَلُوْا وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ﴾». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَه، اِلَّا اَنَّ ابْنَ مَاجَه لَمْ يَذْكُرِ الْآيَةَ.

ترجمه : امير المؤمنين على ﷺ فرمائى : چه امير المومنين ابوبكر صديق ﷺ ما ته فرمايلى دى او ابوبكر بالكل رشتيا وئيلى دى : چه ما د رسول الله ﷺ نه اَوريدلى دى چه فرمايل ئے : «نشته يو سړے چه يوه ګناه اُوكړى بيا پاځيږى اَودس اُوكړى بيا د (هغے نه بعد) مونځ اُوكړى اَو بيا د الله نه بخښنه اُوغواړى مګر الله به ورته ضرور بخښنه كوى، بيا ئے دا آيت تلاوت كړو (والذين الخ) (مومنان هغۀ كسان دى چه كله يوه بے حيائى اُوكړى يا په خپل ځانونو ظلم اُوكړى نو الله رايادكړى او د خپلو ګناهونو بخښنه (د هغۀ نه) اُوغواړى، او (دا عقيده لرى چه) نۀ بخښى ګناهونه مګر صرف الله ئے بخښى، او كله چه دوى پوهيږى نو په ګناهونو هميش والے نۀ كوى)» (ترمذی، ابن ماجة) او امام ابن ماجة آيت نۀ دے ذكر كړے۔
تشريح: على ﷺ په باب د روايت د احاديثو كښې ډير احتياط كونكے وو پدے وجه هغۀ ته به چه چا حديث نقل كولو نو هغه به ورله قسم وركولو چه تا دا حديث د نبى ﷺ نه اَوريدلے دے، دے دپاره چه خلق په نقل د احاديثو كښې بے احتياطى اُونكړى، او دا وجه نۀ ده

چه خبر واحد حجت نهٔ دے ځکه د صحابه کرامو په زمانه کښې دا خبره بالکل نهٔ وه چه دا خبر واحد دے، مفید د ظن دے، او ابوبکر صدیق له ئے قسم ځکه ورنکړو چه په هغه باندے ئے پوره اِعتماد وو۔ لکه ددے روایت په ابتداء کښې په مسند احمد (١/١٧٩) او مسند الحمیدی (١/٤) او مصنف ابن ابی شیبة (٢/١٥٩) کښې داسے نقل دی : علی فرمائی : ما چه به کله د رسول الله ﷺ نه یوه خبره (پخپله) واوریده نو ما ته به الله تعالیٰ د هغے نه ډیره فائده راکوله څومره فائده چه به الله غوختنه، او کله چه به ما ته د رسول الله ﷺ نه بل چا حدیث بیان کړو نو ما به ورله قسم ورکولو او کله چه به ئے ما ته قسم اُوکړو (چه آو ما دا حدیث د نبی نه اوریدلے دے) نو ما به ئے تصدیق کولو۔ او ابوابکر ما ته حدیث بیان کړیدے او هغهٔ رشتیا وئیلی دی ......الی آخره)

مِنْ رَجُلٍ : ددے نه مراد شخص انسانی دے سړے وی او که ښځه۔

بیا پدے حدیث کښې صلاة التوبة ذکر دے، صلاة التوبه هغهٔ مونځ دے چه انسان ئے د ګناه نه روستو کوی، مثلاً یو سړی نه زنا، بے حیائی، بد اخلاقی اُوشوه او هغه غواړی چه توبه اُوباسی نو هغه له مستحب دی چه صحیح طریقے سره اَودس اُوکړی او بیا دوه رکعاته مونځ اُوکړی او د مانځه نه پس د الله نه د خپلو کړو ګناهونو بخنه اُوغواړی نو الله به ورته دغه ګناهونه معاف کړی۔ توبه خو د ټولو ګناهونو نه ویستل فرض دی۔

الله فرمائی : ﴿وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَا الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا تُوبُوا إِلَى اللَّهِ تَوْبَةً نَصُوحًا﴾ هر انسان له د ګناه نه سمدست توبه ویستل فرض دی، هر وخت چه وی لیکن مونځ کول او د هغے نه روسته د ګناهونو بخنه غوختل مستحب دی۔ اګرکه دا د فرض مانځه نه روستو وی نو هغه هم کافی کیږی۔

لکه پدے باره کښې یو حدیث په ابن ماجه رقم (١٢٩٦) کښې شته (باسناد حسن) چه عاصم بن سفیان الثقفیؒ نه روایت دے چه دوی نه د ذات السلاسل غزا فوت شوه نو (بیا دوی (د الله په لار کښې) مرابطه (څوکیداری) اُوکړه، بیا معاویه ته راواپس شو او د هغهٔ په مجلس کښې ابوایوب انصاریؓ او عقبه بن عامر هم وو۔ نو عاصمؒ، اَبو ایوب انصاری ؓ ته اُوفرمایل : مونږ نه سږ کال غزا فوت شوه او مونږ ته دا خبر راکړے شوے دے چه څوك په مساجد اَربعه ؤ کښې مونځ اُوکړی هغه ته ګناهونه معاف کیږی ؟۔ نو ابوایوبؓ ورته اُوفرمایل : اے وِراره ! زهٔ به درته ددے نه آسان کار اُو ښایم، (هغهٔ دا چه) ما د رسول الله ﷺ نه اَوریدلی دی :« څوك چه اَودس اُوکړی څنګه چه ورته حکم شوے وو او مونځ اُوکړی څنګه چه ورته حکم شوے وو (یعنی فرض) نو مخکنی ګناهونه به ئے معاف شی»۔ او بیا

ئے اُوفرمایل : اے عقبہ ! آیا (خبرہ) داسے دہ ؟ هغهٔ اُوفرمایل : آؤ ۔ (صححه الالبانی فی صحیح سنن النسائی (١٤٤) وقال شعیب الارناوط فی تعلیق مسند احمد (٤٢٣/٥) حدیث ابی ایوب الانصاری: صحیح لغیرہ)

لهذا ثابته شوه چه صلاة التوبه مونځ صحیح دے اگرکه ددے التزام به نشی کولے۔ بلکه توبه هر وخت ویستل پکار دی او کهٔ مونځ ورله اُونهٔ شو نو هم خیر دے۔توبه ویستل فرض او مونځ ورله مستحب دے۔ او دا مونځ په اتفاق د مذاهب اربعو مستحب دے (الموسوعة الفقهية الكويتية)

درجة الحديث : اسناده : حسن او صحیح، اخرجه احمد (٢/١) وقال شعیب الارناوط : اسناده صحیح) والترمذی (٣٠٠٦) وابن ماجه (١٣٩٥) وحسنه الالبانی وصححه فی صحیح الترغیب والترهیب (٦٨٠) (١٦٥/١)

٤– وَعَنْ حُذَيْفَةَ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا حَزَبَهٗ اَمْرٌ صَلّٰى. رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ.

ترجمه : او حذیفه ﷛ فرمائی : نبی ﷺ ته به چه کله یو مشکل کار راپیښ شو نو (نفل) مونځ به ئے کولو۔ (ابوداوٗد)

تشریح : حَزَبَهٗ : (ای نَزَلَ به اَمْرٌ مُهِمٌّ او اَصَابَهٗ غَمٌّ– نهاية) یعنی کله چه به پرے یو مهم کار راغلو یا به ورته یو غم اُورسیدو او سخت به شو په هغه باندے مصیبت نو مونځ به ئے کولو۔

دیته صلاة الحاجة، صلاة المصيبة او صلاة الآيات او صلاة الآفات وائی یعنی کله چه د انسان یو ضرورت وی یا څه مصیبت یا آفت راپیښ شی نو هغهٔ له مونځ پکار دے ځکه نبی ﷺ به مونځ کولو ځکه مونځ د حاجتونو د پوره کیدو او د مصیبتونو د دفع کیدو دپاره بهترینه نسخه ده۔

مصیبتونو کښې څهٔ کول پکار دی ؟

بیا مصائب، زلزلے تیزے هواگانے او تندرونه وغیره چه راشی نو څه کارونه کول پکار دی؟۔ نو ابوداود (١٧٦١) کښې حدیث راځی چه د انس بن مالک ﵁ په دور کښې د ورځے تیاره راغله نو عبید الله بن النضر ﵀ وائی ما انس ﵁ ته اُووئیل تاسو به د نبی ﷺ په زمانه کښې پداسے موقعه کښې څه کول؟ نو هغه اُوفرمایل : که هواء به سخته راوالوته نو مونږ به مسجد ته په جلتئ ورمنډه کره، دا یره به وه چه هسے نه قیامت رانشی»۔

نو مونځ د هر مصیبت علاج دے۔

★- ابن عباس تـه اُووئيلے شو چه د رسول الله ﷺ يوه بى بى وفات شوه نو هغه په سجده پريوتو، نو چا ورتـه اُووئيل : آيا ته په دے وخت كښ سجده كوے؟ وئے فرمايل : نبى ﷺ فرمايلى دى : «كله چه تاسو يو آفت او ناشنا كارنامه اُووينئ نو سجدے كوئ» او د نبى ﷺ د بى بيانو د وفات نه بل كوم لوئى مصيبت دے؟۔(ابو داود (١٧٦/١)

٢- (انا لله وانا اليه راجعون اَللّٰهُمَّ أُجُرُنِىُ فِىُ مُصِيبَتِىُ وَاَخُلِفُ لِىُ خَيُرًا مِنُهَا) دُعا وئيل۔

٣- نبى ﷺ بـه پـه داسـے مـوقـعـو كښ پـه صدقه، مريانو آزادولو، ذكر، استغفار، مونځ، دعاء او تكبير وئيلو باندے حكم كولو۔ (بخارى ١٤٢/١) ابو داود (١٧٥/١-١٧٦)

آيا صلاة الحاجة ثابت دے ؟

بيا اختـلاف دے چـه آيا صـلاـة الـحاجة ثابت دے او كه نه ؟ نو بعض علماؤ خو بالكل انـكـار كـريـدے لـكـه مـحـمد بن صالح العثيمينؒ فرمائى : چه پدے باره كښ هيڅ حديث صحيح نشته۔ ليكن اصح دا ده چه :

١- صـلاـة الـحـاجة يـو د خـاص دعاء سره دے نو هغه په ضعيف حديث كښ راغلے دے لـكـه تـرمـذى (١٠٨/١) وابن ماجه رقم (١٠٨) وتلخيص المستدرك (٣٢٠/١) كښ دے : عبد الله بـن ابـى اوفىؓ فـرمـائـى : رسول الله ﷺ مونږ ته راووتو وے فرمايل : د چا چه څه حاجت الله تـه يا د هغه يو مخلوق ته وى نو هغه دے اُودس اوكرى او دوه ركعاته مونځ دے اوكړى او بيا دے داسے اُووائى : (لا الـه الا الله الـحليم الكريم سبحان الله رب العرش العظيم الـحمد لله رب العالمين اللهم انى اسألك موجبات رحمتك وعزائم مغفرتك والغنيمة من كل بر والسلامة من كل اثم، اسألك ان لا تدع لى ذنباً الا غفرته ولا هماً الا فَرَّجْتَهٗ ولا حاجةً هى لك اِلَّا قَضَيْتَهَا لِىُ) بيـا دے د الله نـه د دنيـا او د آخـرت څيـزونه غواړى څه چه ئے خوښه وى ځكه هغهٔ پرے قادر دے۔(روستو متصل حديث كښ راځى)

نـو ددے حـديـث پـه سـنـد كـښ فـائد بن عبد الرحمن متروك الحديث دے لكه ذهبىؒ په تلخيص المستدرك كښ وئيلى دى۔

٢- او هـرچه صلاة الحاجة بغير د دغه مذكوره دعاء نه دے نو هغه په ډيرو احاديثو كښ ثابت دے۔ ١- لـكـه پـه حديث د ضرير البصر كښ ثابت دے عثمان بن حنيف فرمائى : يو روند سړے نبى ﷺ ته راغلو وے فرمايل : د الله نه دعاء اُوغواړه چه ما روغ كړى۔ نبى ﷺ اُوفرمايل : «كـه تـه غـواړے زهٔ بـه دعـاء تـا لـه روستو كړم او دا بـه ستا دپاره غوره وى او كه غـواړے اُوس به دعا اُوكړم» نـو هـغه اُووئيل : د الله نه ئے اُوغواړه نو نبى ﷺ هغه ته حكم

اُوكړو چه ښائسته اَودس اُوكړي او دوه ركعاته اُوكړي او دا دعاء اُووائي : (اللهم انى اسئلك واتوجه اليك بنبى الرحمة يا محمد انى قد توجهت بك الى ربى فى حاجتى هذه لتقضى اللهم فشفعه فيّ) (ابن ماجه ١/١٣١) رقم (١٣٨٥) مجمع الزوائد (٢/٢٧٩) وسنده صحيح) نو پدې حديث كښې صلاة حاجت ثابت دے او پدے كښې توسل بدعى نشته بلكه پدے كښې وسيله ده په دعاء د ژوندى انسان چه نبي ﷺ دعاء غواړي ددهٔ دپاره او دا وائي چه يا الله ما له د خپل نبى الرحمة دعاء قبوله كړه۔

٢- دارنګه پدے حديث الباب كښې هم صلاة الحاجة ثابت شو۔

٣- علامه شوكانيؒ په الفوائد المجموعة ص (١٦) كښې د مسند احمد نه د ابوالدرداء حديث نقل كړيدے (سمعت رسول الله ﷺ يقول : من توضأ فاسبغ الوضوء ثم صلى ركعتين يتمهما اعطاه الله عزوجل ما سأل معجلاً او مؤخراً) (څوك چه كامل اَودس اُوكړي بيا دوه ركعاته اُوكړي پوره طريقے سره نو الله به وركړي دهٔ ته څه چه غواړي په جلتئ يا په تاخير سره) او بيا ئے وئيلي دي چه ددے سند صحيح دے۔آه (ليكن ددے په سند كښې ميمون ابى محمد المرائى راوى دے ذهبيؒ وائي : مجهول دے)۔ بيا فرمائي : (ولصلاة الحاجة الفاظ وصفات كلها ضعيفة الا حديث ابى الدرداء وحديث ابن ابى اَوفى المذكورين) ص (١٧) (سيوطيؒ په اللآلى المصنوعة ٢/٤٠) كښې وئيلي دي چه د ابوالدرداء حديث په روايت د مسند احمد حسن دے۔) او تذكرة الموضوعات للشيخ محمد طاهر الفتنى (١/٣٤١) كښې ورته حسن وئيلے دے۔ (وانظر ايضاً فتاوى الدين الخالص (٥/٣٥٧)

٤- دارنګه صلاة الحاجة د قرآن نه ثابت دے : ﴿ وَاسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ ﴾ عبد الله بن عباسؓ به دا مونځ كولو او بيا به ئے فرمايل : مونږ هغهٔ كار كوو چه الله مونږ ته پدے قول سره حكم كړيدے : ﴿ وَاسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ ﴾

لهذا د صلاة الحاجة دپاره اصل شته۔ نو مناسب دي چه چا باندے څهٔ مصيبت يا حاجت نازل شي چه هغهٔ صلاة الحاجة اُوكړي۔

ملا على القاريؒ ددے حديث لاندے ليكي : (وهذه الصلاة ينبغى ان تسمى بصلاة الحاجات لانها غير مقيدة بكيفية من الكيفيات، ولا مختصة بوقت من الأوقات)۔ (او مناسب ده چه دے مونځ ته صلاة الحاجات نوم وركړے شي ځكه چه دا څه خاص كيفيت پورے مقيد نهٔ دے او نه د يو معلوم وقت پورے خاص دے)

درجة الحديث : إسناده حسن : اخرجه احمد (٥/٣٨٨) وابوداود (١٣١٩) وفى اسناده محمد بن عبد الله الدؤلى عن عبد العزيز اخى حذيفة وهما مجهولان وضعفه شعيب

الارناووط في تعليق مسند احمد ، ولكن حسنه الالباني في صحيح ابي داود رقم (١١٧١) وقال المباركفوري في المرعاة (٣٦٧/٣) واسناده صحيح او حسن انتهىٰ۔ وانظر رقم الحديث في الجامع الصغير (٤٧٠٣)

٥- وَعَنْ بُرَيْدَةَ، قَالَ: اَصْبَحَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ، فَدَعَا بِلَالًا فَقَالَ: «بِمَ سَبَقْتَنِي اِلَى الْجَنَّةِ ؟ مَا دَخَلْتُ الْجَنَّةَ قَطُّ اِلَّا سَمِعْتُ خَشْخَشَتَكَ اَمَامِي». قَالَ: يَارَسُوْلَ اللهِ! مَا اَذَّنْتُ قَطُّ اِلَّا صَلَّيْتُ رَكْعَتَيْنِ، وَمَا اَصَابَنِي حَدَثٌ قَطُّ اِلَّا تَوَضَّأْتُ عِنْدَهٗ وَرَأَيْتُ اَنَّ لِلّٰهِ عَلَيَّ رَكْعَتَيْنِ. فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «بِهِمَا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : او بريده ؓ فرمائي : رسول الله ﷺ صبا كړو (د مانځه نه روستو ئے) بلال راوغوختو ورته ئے اُوفرمايل: «ته ما نه جنت ته په كوم عمل مخكښ شوے ئے (ځكه) زۀ هيڅكله جنت ته نۀ يم داخل شوے مگر ما خپلے مخے ته ستا د خپو آواز اوريدلے دے؟ »۔ هغۀ عرض اُوكړو : يارسول الله ! ما هيڅكله اَذان نۀ دے كړے مگر (د هغے نه روستو مے) دوه ركعاته كړى دى، او ما ته كله هم بے اَودسى نۀ ده رارسيدلے مگر ما د هغے سره (سمدست) اَودس كړيدے او د الله دپاره مے په خپل ځان باندے دوه ركعاته گنړلى دى۔ رسول الله ﷺ اُوفرمايل : « ددے دوه كارونو په وجه» (ته دے عظيمے درجے ته رسيدلے ئے) (ترمذیؒ)

تشريح : بِمَ سَبَقْتَنِي : بلال خو د خپل ځان نه ندے خبر خو نبى ﷺ ته د هغه تصوير مثالى په جنت كښ خودلے شويدے۔ نو ځكه ترے تپوس كوى۔

علامه تورپشتیؒ ددے داسے تفصيل بيان كړيدے چه ددے تپوس مطلب دا دے چه بلال د پيغمبر د امر او حكم راتلو نه مخكښ او د فضيلت بيانولو نه مخكښ هغۀ عمل ته مسارعه او جلتى كړيده چه دا فضيلت انسان لره ثابتوى۔ او ددے مثال داسے دے لكه يو سړے خپل غلام ته وائى : ته ما نه كار ته مخكښ كيږے، يعنى زما د امر كولو نه مخكښ ته هغۀ كار كوے۔ او ددے ظاهرى معنىٰ اخستل محال دى ځكه چه ددے مطلب خو بيا دا راوزى چه د الله نبى نه دِے يو تن جنت ته مخكښ داخل شى، يو نبى هم د هغۀ نه مخكښ نشى داخليدے پاتے لا بلالؓ چه دا د پيغمبر اُمتى دے۔

او دا واقعه د خوب ده۔ او بلال به په ويښه د نبى ﷺ نه مخكښ د هغۀ د خدمت دپاره روان وو نو ځكه ورته الله په خوب كښ هم دغه شان حالت راوستو، او ددے نه دا نۀ لازميږى چه بلال د نبى ﷺ نه جنت ته مخكښ داخل شويدے ځكه بلال خو په مقام د

تابع او خادم کښې دے، او ګویا کښې نبي ﷺ دے ته اشاره اُوکړه چه بلال به په دے حالت باقي پاتے وی کوم باندے چه دنیا کښې وی او دا به همیشه وی په نزدی والی د مرتبے سره۔ (المرعاة ٤/٣٦٨)

خَشْخَشَتَكَ : خشخشه د اَسلحے حرکت (شرنګاری) ته وائی یعنی هغه حرکت چه د هغے سره آواز وی۔

مَا اَذَّنْتُ : یعنی د اَذان او اِقامت ترمینځ مے مونځ کړیدے۔نو دا هم بهترین مونځ دے کول ئے پکار دی۔

رَكْعَتَيْنِ : قانون دا دے چه د اَوداسه نه روستو که مکروه وقت وو نو بیا به صرف دوه رکعاته کوی ځکه د بعض علماؤ په نیز دا صلاة سببی دے او زیادت به نهٔ کوی او که مکروه وخت نهٔ وو نو بیا ډیر مونځ هم کولے شی او دا تطبیق دے په دواړو روایتونو د بلال کښې چه مخکښې وائی، (ما کتب لی) او دلته وائی (رکعتین)۔

اَوداسه کښې ګرځیدل د نبي ﷺ اود صحابه کرامؓ طریقه وه چه اَودس به ئے مات کړو نو سمدست به ئے اَودس یا تیمّم وهلو، هسے نه چه بے اَودسئ کښې مرګ رانشی، دا اَودس فرض او واجب نهٔ دے لیکن ډیر نیک عمل دے۔

درجة الحديث : اسناده صحيح على شرط مسلم : اخرجه احمد (٥/٣٦٠) والترمذی (٣٦٨٩) والحاكم (٣/٢٨٥) وقال صحيح الاسناد ووافقه الذهبی۔

٦- وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ اَبِيْ اَوْفٰى، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :« مَنْ كَانَتْ لَهٗ حَاجَةٌ اِلَى اللهِ اَوْ اِلٰى اَحَدٍ مِنْ بَنِيْ آدَمَ فَلْيَتَوَضَّأْ فَلْيُحْسِنِ الْوُضُوْءَ ثُمَّ لِيُصَلِّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ لِيُثْنِ عَلَى اللهِ تَعَالٰى، وَلْيُصَلِّ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ، ثُمَّ لِيَقُلْ: لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحَانَ اللهِ رَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ، اَسْأَلُكَ مُوْجِبَاتِ رَحْمَتِكَ، وَعَزَائِمَ مَغْفِرَتِكَ، وَالْغَنِيْمَةَ مِنْ كُلِّ بِرٍّ، وَالسَّلَامَةَ مِنْ كُلِّ اِثْمٍ، لَا تَدَعْ لِيْ ذَنْبًا اِلَّا غَفَرْتَهٗ، وَلَا هَمًّا اِلَّا فَرَّجْتَهٗ، وَلَا حَاجَةً هِيَ لَكَ رِضًى اِلَّا قَضَيْتَهَا يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَه وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ : هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.

ترجمه : عبد الله بن ابی اَوفی ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی :«د چا چه الله ته یا بنی آدمانو کښې یو تن ته حاجت وی (دینی حاجت وی او که دنیوی) نو هغهٔ دے اَودس

اُوکړی او ښائسته طریقے سره دِے اُوکړی، بیا دِے دوه رکعاته اُوکړی بیا دِے د الله تعالیٰ صفتونه بیان کړی او په نبی ﷺ دِے درود اُووائی او بیا دِے دا دعا اُووائی: لا اله الا الله الحلیم الخ " (نشته حقدار د بندګئ سِویٰ د الله نه چه صبرناك عزتمند دے، پاك دے الله چه د لوئی عرش مالك دے، او ټول صفتونه خاص الله لره دی چه رب د مخلوقاتو دے، اے الله! زهٔ تا نه هغهٔ څیزونه غواړم چه د هغے په وجه رحمت کیږی، او کوم چه ستا د بخنے سبب وی او غواړم حصه د هرے نیکئ نه او سلامتیا غواړم د هرے ګناه نه، اے الله! ما دپاره هیڅ ګناه مهٔ پریده مګر هغه راته معاف کړه او هیڅ غم مګر هغهٔ لرے کړه، او هیڅ حاجت چه تا ته خوښ وی مګر هغهٔ پوره کړه، اے ډیر رحم کونکے د رحم کونکو نه»۔ (ترمذیؒ، ابن ماجهؒ) امام ترمذیؒ وئیلی دی: دا حدیث غریب دے۔

تشریح : حَاجَةٌ : یعنی دنیاوی او که دینی حاجت وی۔ فلیتوضأ : ددے یو مطلب دا دے چه که اَودس ئے وی نو هم اَودس دِے تازه کړی ۲- یا دا چه کهٔ اودس ئے نهٔ وی نو اَودس دِے اُوکړی۔

وَلْيُصَلِّ عَلَى النَّبِيِّ : ددے نه مراد الفاظ د تشهد دی۔

اَلْحَلِيْمُ : هغهٔ ذات دے چه په جلتئ سره عقوبت او عذاب نهٔ ورکوی۔ الکریم : هغهٔ ذات دے چه بغیر د استحقاق او ضباطولو نه ورکړه کوی۔


مُوْجِبَاتِ رَحْمَتِكَ : یعنی هغه اسباب (کلمات او خویونه او کارونه) چه ثابتوی ستا رحمت لره۔

وَعَزَائِمَ : جمع د عزیمة ده، قصد او ارادے ته وائی، دلته ترے ثابتونکے شے مراد دے۔ یعنی ستا د مغفرت ثابتونکے شے (اسباب) راکړے۔

هِيَ لَكَ رِضًى : ای مرضیة لك : یعنی ستا پسندیده وی۔ او تا ته خوښ وی۔

دے مونځ ته صلاة الحاجة وائی دا په صحیح احادیثو کښ ثابت دے اګرکه دا روایت پکښ ضعیف دے۔ وقد تقدم۔ او که دا حدیث ثابت هم نشی نو بیا هم یوه ښه دعاء پکښ راغلے ده یادول ئے پکار دی او په عام دعاګانو کښ ئے شاملول پکار دی۔ او خپل حاجتونه پرے غوختل پکار دی۔

درجة الحديث : اسناده ضعیف جداً : اخرجه الترمذی (٤٧٩) وابن ماجه (١٣٨٤) والحاکم فی المستدرک (٣٢٠/١) وفی اسناده فائد بن عبد الرحمن یضعف فی الحدیث قال عنه احمد : متروك۔ وقال الحاکم : روی عن ابن ابی اوفی احادیث موضوعة)



باب صلاة التسبيح

د تسبيحاتو والا مونځ بيان

ديته صلاة التسبيح ځکه وائی چه پدے کښ تسبيحات زيات وئيلے کيږی۔

آيا صلاة التسبيح ثابت دے؟

د صلاة التسبيح په ثبوت کښ اختلاف دے : ١- امام أحمدؒ فرمائی : دا مونځ نۀ دے ثابت او دا حديث ورته منکر ښکاره شويدے۔ ليکن دا خبره صحيح ثابته ده چه امام احمدؒ ددے قول نه رجوع کړيده (کما قال الحافظ فی اجوبته عن احاديث المشکاة)

٢- شيخ الاسلام ابن تيميةؒ فرمائی : صلاة التسبيح نۀ دے ثابت۔ (مجموع الفتاوی ١١/ ٥٧٩- بحث المعازف و کلام العلماء)

٣- په فتاوی هيئة کبار العلماء (١٩٧/١) کښ ئے ديته بدعت وئيلے دے او حديث ته ئے منکر وئيلے دے۔ او دغه فتویٰ د سعودی عام علماء ورکوی۔

٤- په السنن والمبتدعات کښ عبد السلامؒ وئيلی دی چه دا اَحاديث تولو طرقو سره ضعيف دی او يو طريق د ابن عباسؓ په کښ قريب دے حسن ته ليکن شاذ دے۔

٥- حافظ په (التلخيص الحبير) کښ د ابن عربیؒ نه نقل کړيدی چه پدے باره کښ هيڅ حديث نۀ دے ثابت، نۀ صحيح او نۀ حسن۔ اوحافظ وائی : پدے کښ يو حديث حسن درجے ته رسی ليکن هغه هم شاذ دے ځکه زيات تفرد پکښ شويدے او متابع او شاهد ئے ندے موجود۔ ٦- ابن الجوزیؒ په الموضوعات کښ ذکر کړيدے۔ او ديارلس اسانيد ئے ورله بيان کړيدی او بيا ئے وئيلی دی چه حديث موضوع دے۔

بل طرفته نور علماء ددے مَدِ مُقابل کښ وائی چه دا حديث صحيح يا حسن دے لکه

١- امام حاکمؒ (٣٠٨/١) او ذهبیؒ ددے حديث د ابن عباسؓ تقويت ته اشاره کړيده۔

٢- شيخ البانیؒ فرمائی : ددے حديث ډير طرق او شواهد دی چه د هغے په وجه دا حديث درجے د قوت ته رسی۔ (تعليق المشکاة ٤١٩/١) رقم (١٣٢٨)

٣- علامه ابو الحسنات عبد الحی اللکهنویؒ په (الآثار المرفوعة فی الاخبار الموضوعة

(٣٥٣-٣٧٥) کښې ددې حدیث تصحیح ډیر تفصیلًا ذکر کړیده۔
٤- امام بغویؒ هم ددې حدیث تقویت ته اِشاره کوی، د حدیث د ابن عباسؓ نه روستو ددې تقویه کوی په روایت د ابورافع باندې۔ فتدبر۔
٥- ابوبکر بن ابی داوٗدؒ د خپل پلار ابوداوٗدؒ نه نقل کوی: (لیس فی صلاة التسبیح حدیث صحیح غیره) (یعنی دا حدیث صحیح دې)۔
٦- امام خلیل په (الارشاد) کښې په خپل سند سره د اِمام مسلم نه نقل کوی فرمائی: (ولا یروی فی هذا الحدیث اسناد احسن من هذا) (دا ډیر احسن حدیث دې)۔
٧- امام دارقطنیؒ ددې حدیث طرق په یو جزء (کتاب) کښې راجمع کړیدی۔
٨- علامه خطیب بغدادیؒ پدې باندې کتاب لیکلې دې۔
٩- حافظ ابوموسی المدینیؒ پرې کتاب (تصحیح صلاة التسبیح) لیکلې دې چه دا د لسو صحابه کرامو نه په متصل اَسانیدو نقل دې۔او د څو تابعینو نه په مرسل طریقو نقل دې۔امام ترمذیؒ په خپل جامع کښې حدیث د انسؓ په مطلق تسبیح فی الصلاة کښې ذکر کړیدې او بیا ئې وئیلی دی :(وفی الباب عن ابن عباس، وعبد الله بن عمرو والفضل بن عباس وابی رافع)
١٠- ابوالفضل العراقی الحافظؒ وائی : دا د عبد الله بن عمر بن الخطابؓ نه هم نقل دې۔ او دغه شان دا د عباس بن عبد المطلب، علی بن ابی طالب، جعفر بن ابی طالب (ﷺ)، او د هغه څوی عباس بن جعفرؓ او د ام المؤمنین ام سلمهؓ او د یو انصاری صحابیؓ نه نقل دې چه بعض وائی هغه جابرؓ دې۔ (کما قال الحافظ المزی)۔ دا لس صحابه کرامؓ دی۔
او مرسلًا د محمد بن کعب القرظیؒ، ابوالجوزاء، مجاهد، اسماعیل بن رافع او عروة بن رویم (رحمهم الله) نه نقل دې لکه چه په دوی کښې د بعضو نه موصولًا هم نقل دې۔ انظر اجوبة الحافظ عن احادیث المصابیح (٢/٤)
او هر چه د حافظ ابن حجرؒ مخکښې خبره ده نو د هغې جواب د هغه د خپل کلام نه واضح کیږی چه هغه په (الخصال المکفرة) کښې کړیدې هغه فرمائی : (رجال اسناد حدیث ابن عباس لا بأس بهم، عکرمة احتج به البخاری والحکم بن ابان صدوق، وموسی بن عبد العزیز قال ابن معین لا اریٰ فیه بأسا۔ وقال النسائی نحو ذلك وقال ابن المدینی : فهذا الاسناد من شرط الحسن فان له شواهد تقویه وقد اَساء ابن الجوزی بذکره فی الموضوعات)
او حافظ چه دا خبره کړیده چه ددې شاهد او متابع نۀ دې موجود نو دا خبره ئې حقه نۀ ده ځکه حدیث د ابورافع عند الترمذی وابن ماجه او حدیث د عباس بن عبد المطلب عند

الدارقطنی ددې شواهد دي. او ابوداود حدیث د عبد الله بن عمرو باسناد لا بأس به نقل کړیدې او حاکم د ابن عمرو په روایت ډیر طریق ذکر کړیدي. نو دا ټول متابعات او شواهد شو. او حافظ په (امالي الاذکار) کښې وئیلي دي چه د حدیث د ابن عباسؓ اسناد حسن دې او بیا په حدیث د انصاري کښې چه کوم ابوداود راوړیدې - وئیلي دي چه سند ددې حدیث د حسن درجې نه نۀ خکته کیږي او بیا چه کله ورسره روایة د ابي الجوزاء عن عبد الله بن عمروؓ کوم چه ابوداود ذکر کړیدې او منذري ورته حسن وئیلي دې - ملګرې شي نو ضرور دا به حسن درجه کښې وي. او دې حدیث ته ابن مندهؒ صحیح وئیلي دې او پدې کښې ئې یو کتاب لیکلې دې او ابوسعد السمعاني، علامه ابوبکر آجُرِيؒ، حافظ ابو الحسن المقدسيؒ، ابوداودؒ صاحب السنن، مسلمؒ صاحب الصحیح، بیهقيؒ، دارقطنيؒ، ابو منصور الدیلميؒ، حاکم، حافظ صلاح الدین العلائيؒ، سراج الدین البلقینيؒ ابو موسی المدینيؒ، ابو الحسن بن مفضلؒ، منذريؒ، ابن صلاحؒ، زرکشيؒ او امام نوويؒ په (تهذیب الاسماء واللغات) کښې ورته حسن وئیلي دې او سُبُکيؒ په یوه مستقله رساله کښې ددې تصحیح کړیده او نورو علماؤ هم ورته صحیح وئیلي دې.

علامه ابو منصور الدیلميؒ په مسند الفردوس کښې فرمائي: (صلاة التسبیح اشهر الصلوات واصحها اسناداً) اللآلي المصنوعة (۳۶/۲) للسیوطي والمرعاة (۳۷۴/۳) والمرقاة (۲۱۳/۳) او علامه ابو الحسن السنديؒ په حاشیه د ابن ماجه (۴۳۰/۱) کښې دیته ثابت وئیلي دې چه پدې باندې عمل خلقو له پکار دې انتهیٰ. او علامه زُبَیديؒ په حاشیه د احیاء العلوم (۴۷۳/۳) کښې حدیث د ابن عباسؓ ته صحیح وئیلي دې.

علامه شعیب الارناووط په تعلیق د شرح السنة (۱۵۷/٤) او عبد القادر الارناووط په تعلیق د الاذکار (۱۵۷) او جامع الاصول (۲۵٤/٦) کښې صحیح کړیدې.

او کومو علماؤ چه ددې نه انکار کړیدې نو د هغوی دوه دلائله دي:

۱- یو دا چه ددې شکل او ترتیب او کیفیت د نورو مونځونو نه مخالف دې. لهذا دا به ضعیف وي. لکه دا خبره حافظ ابن تیمیهؒ کړیده.

۲- دویم دا چه ددې په رُواتو ئې کلام کړیدې.

لیکن ددې جواب دا دې چه د صلاة الخوف شکل هم جدا دې نو په تبدیل د شکل سره خو حکم شرعي نۀ رد کیږي او نۀ دا سبب د ضُعف الحدیث او شذوذ ګرځي بلکه دا مستقل حکم شرعي دې. (تحفة الاحوذي (۳۵۱/۱) والمرعاة (۳۷۵/٤)

۲- دویم دا چه علامه سُبُکيؒ فرمائي: پدې مونځ کښې د نورو مونځونو نه مخالفت

نشته مګر صرف جلسه د استراحت پکښې اُوګده ده او جلسه د اِستراحت په اصل کښې مشروع ده او پدې حدیث کښې ئې صرف اُوګدوالې دې لیکن هغه هم په ذکر اُوګده شویده (الفتوحات الربانیة ٤/٣٠٨)

٣- حافظ عراقیؒ په شرح د ترمذی کښې دا جواب کړیدې چه نوافلو کښې قیام او قعود جائز دې تردې چه په یو رکعت کښې هم جائز دې۔ (الفتوحات الربانیة ٤/٣٠٨)

او هر چه راویان دی نو په هغوی کښې داسې څوك نشته چه هغه کذاب او وَضاع وی بلکه حدیث د ابن عباسؓ بالکل بیشکه حسن درجه کښې دې یا صحیح لغیرہ دې د وجه د کثرت شواهدو او متابعاتو نه۔ بله دا چه پدې باندې د اُمت د صالحینو عمل راروان دې۔

او دا مذهب د شوافعو دې چه دیته ئې مستحب وئیلې دې لکه امام نوویؒ په بعض کتابونو کښې دیته مستحب وئیلی دی۔

امام غزالیؒ په احیاء العلوم (١/٢٠٠) کښې ددې ډیر استحباب بیان کړیدې چه دا خو په هره هفته کښې یو کرت یا په میاشت کښې ضرور پکار دې۔انتهٰی

٢- بعض حنابله وائی که چا دا اُوکړو نو هیڅ باك پرې نشته بلکه جائز عمل دې ځکه نوافل دی۔ کما قال ابن قدامة۔ (الموسوعة الفقهیة الکویتیة٢/٩٦٤٥)

٣- **احناف** وائی : کما فی الدر المختار (١/٤٨٢) وشرح الاحیاء للزبیدی (٣/٤٨١) چه صلاة التسبیح مستحب عمل دې هره ورځ او شپه کښې یا هره هفته کښې یا هره میاشت یا ټول عمر کښې۔ او حدیث ئې حسن دې د وجه د کثرت طرق نه۔ انتهٰی

٤- مالکیه ؤ نه دې باره کښې د جواز او د منع هیڅ قول ندې نقل مګر خطابؒ د قاضی عیاضؒ نه نقل کړیدی چه هغه دا په فضائلو کښې ذکر کړیدې کما فی الفتوحات الربانیة (٤/٣٢١)۔

او امام ابن المبارك رحمه الله دیته مستحب وئیلی دی چه دا صلاة التسبیح مُرَغب فیها دې، هر مسلمان له پدې باندې عمل کول پکار دی۔او د هغې کیفیت ئې هم بیان کړیدې۔ او شیخ البانیؒ د صلاة التسبیح په باره کښې درې واړو روایاتو ته صحیح وئیلی دی لکه په صحیح ابی داود (١/٢٤٠) وصحیح ابن ماجه (١/٢٣٢) کښې اُوګوره۔

او دارنګه سید سابقؒ صاحب په فقه السنة (١/١٧١) کښې ورته صحیح وئیلی دی۔ او علامه مبارکفوریؒ په (تحفة الاحوذی) کښې ورته حسن درجه کښې وائی۔ او همدغه رایه د ابوالحسن المبارکفوری په (مرعاة٤/٣٢٧٤) کښې ده۔

او کومو علماؤ چه ورته ضعیف وئیلې دې نو هغوی پدې باره کښې پوره تحقیق نهٔ دې

کړے بلکه چا تقلیدی أنداز کښې خبره کړیده او چا معمولی تحقیق کړیدے۔ او په فتاوی الدین الخالص (٣٧٨/٥) کښې د صلاة التسبیح باره کښې څوارلس احادیث ذکر شویدی سَره د تفصیل د طُرقو نه او په هغے باندے کلام هم شویدے او د اعتراضاتو تفصیلی جوابونه ذکر شویدی هغے ته رجوع أوکړئ۔ وكذا تحفة الاحوذی (٣٥١/١)

فائده : علامه ابن حجر هیثمیؒ په فتاوی کبرئ (١٩/١) کښې وئیلی دی چه حقه دا ده چه حدیث د صلاة التسبیح حسن لغیره دے نو چا چه ورته مطلقاً صحیح وئیلے دے لکه ابن خزیمهؒ او حاکمؒ نو دا به محمول وی په دے چه کله د حسن حدیث شواهد زیات وی نو هغه صحیح شمارلے شی او چا چه ورته مطلقاً ضعیف وئیلے دے لکه نوویؒ او د هغه نه روستو علماؤ نو د هغه مراد دا دے چه په اعتبار د مفرداتو د طرقو سره ضعیف دے او چا چه ورته حسن وئیلے دے نو په اعتبار د کثرة الطرق سره۔ لهذا د فقهاء او محدثینو په مختلفو عباراتو کښې تناقض نه راځی تردے چه د یو شخص کلام هم په خپلو کتابونو کښې متعارض نهٔ واقع کیږی لکه نوویؒ او شیخ الاسلام العسقلانیؒ شو۔

بیا کوم خلق چه صلاة التسبیح ثابت گنړی نو هغوی ددے دپاره دوه کیفیتونه بیانوی یو په حدیث د ابن عباسؓ کښې راغلے دے او دا د ټولو نه قوی طریقه ده ځکه حدیث ئے ډیر قوی دے۔ او دا په اول حدیث ددے باب کښې ذکر ده او دویمه طریقه د عبد الله بن مبارك په حدیث کښې ذکر ده چه هغے کښې د قرائت نه مخکښې تسبیحات پنځلس کرته دی۔ او په حدیث د ابن عباسؓ کښې د قراء ت نه روستو دی۔

١ – عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ لِلْعَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ: يَا عَبَّاسُ ! يَا عَمَّاهُ! اَلَا أُعْطِيْكَ ؟ اَلَا أَمْنَحُكَ؟ اَلَا أُخْبِرُكَ؟ اَلَا أَفْعَلُ بِكَ؟ عَشْرَ خِصَالٍ اِذَا أَنْتَ فَعَلْتَ ذٰلِكَ، غَفَرَ اللّٰهُ لَكَ ذَنْبَكَ اَوَّلَهُ وَآخِرَهُ، قَدِيْمَهُ وَحَدِيْثَهُ، خَطَأَهُ وَعَمْدَهُ، صَغِيْرَهُ، وَكَبِيْرَهُ، سِرَّهُ وَعَلَانِيَتَهُ: أَنْ تُصَلِّيَ اَرْبَعَ رَكْعَاتٍ، تَقْرَأُ فِيْ كُلِّ رَكْعَةٍ فَاتِحَةَ الْكِتَابِ وَسُوْرَةً، فَاِذَا فَرَغْتَ مِنَ الْقِرَاءَةِ فِيْ اَوَّلِ رَكْعَةٍ وَأَنْتَ قَائِمٌ. قُلْتَ: سُبْحَانَ اللّٰهِ، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ، وَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، وَاللّٰهُ اَكْبَرُ، خَمْسَ عَشْرَةَ مَرَّةً، ثُمَّ تَرْكَعُ فَتَقُوْلُهَا وَاَنْتَ رَاكِعٌ عَشْرًا، ثُمَّ تَرْفَعُ رَأْسَكَ مِنَ الرُّكُوْعِ، فَتَقُوْلُهَا عَشْرًا، ثُمَّ تَهْوِيْ سَاجِدًا، فَتَقُوْلُهَا وَأَنْتَ سَاجِدٌ عَشْرًا ثُمَّ تَرْفَعُ رَأْسَكَ مِنَ السُّجُوْدِ فَتَقُوْلُهَا عَشْرًا، ثُمَّ تَسْجُدُ فَتَقُوْلُهَا عَشْرًا، ثُمَّ تَرْفَعُ رَأْسَكَ فَتَقُوْلُهَا عَشْرًا، فَذٰلِكَ خَمْسٌ وَسَبْعُوْنَ فِيْ كُلِّ رَكْعَةٍ، تَفْعَلُ ذٰلِكَ فِيْ اَرْبَعِ رَكْعَاتٍ، اِنِ اسْتَطَعْتَ اَنْ تُصَلِّيَهَا فِيْ

كُلِّ يَوْمٍ مَرَّةً فَافْعَلْ، فَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ، فَفِي كُلِّ جُمُعَةٍ مَرَّةً، فَإِنْ لَّمْ تَفْعَلْ فَفِي كُلِّ شَهْرٍ مَرَّةً، فَإِنْ لَّمْ تَفْعَلْ فَفِي كُلِّ سَنَةٍ مَرَّةً، فَإِنْ لَّمْ تَفْعَلْ فَفِي عُمْرِكَ مَرَّةً». رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ، وَابْنُ مَاجَه، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي الدَّعْوَاتِ الْكَبِيْرِ. ٢– وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ عَنْ اَبِيْ رَافِعٍ نَحْوَهٗ.

ترجمه : او د ابن عباس ﷺ نه روايت دے چه نبي ﷺ عباس بن عبد المطلب ته اُوفرمايل : اے عباس اے تره! آيا زۀ تا ته عطيه درنكرم، آيا زۀ تا ته تُحفه درنكرم؟ آيا زۀ تا ته اُونۀ بنايم؟ آيا زۀ په تا باندے لس خصلتونه (كارونه) اُونكرم؟ چه كۀ تۀ هغۀ اختيار كرے نو الله تعالىٰ به ستا گناهونه مخكني، روستني، پخواني او نوي، سهواً او قصداً، واړه او غټ، پټ او ښكاره (ټول گناهونه) اُوبخي، (هغۀ دا دي) چه تۀ څلور ركعاته مونځ (پداسے طريقه) اُوكړے چه په هر ركعت كښې سورة فاتحه او يو سورت اُولولے، كله چه په اول ركعت كښې د قراءت نه فارغ شے او تۀ ولاړ ئے نو پنځلس كرته به دا (تسبيح) اُووائے : "سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اكبر" بيا به ركوع اُوكړے په هغے كښې به ئے لس كرته اُووائے بيا به د ركوع نه سر پورته كړے (سمع الله لمن حمده نه پس په قومه كښې به ئے) لس كرته اُووائے، بيا به سجدے ته پريوځے او په سجده كښې به ئے (د سبحان ربي الاعلىٰ نه بعد) لس كرته اُووائے، بيا به د سجدے نه سر پورته كړے (په قومه كښې به ئے) لس كرت اُووائے، بيا به سجده اُوكړے، او په سجده كښې به ئے لس كرته اُووائے بيا به سر پورته كړے (په جلسه د استراحت كښې به ئے) لس كرته اُووائے، نو دا په هر ركعت كښې پنځه اَويا (٧٥) كرت شو دغه شان كار به كوے په څلور ركعاتونو كښې. كۀ ستا طاقت وي چه دا مونځ هره ورځ يو كرت اُوكړے نو وے كړه او كۀ (هره ورځ ئے) نشے كولے نو په هره جُمعه كښې ئے يو كرت كوه او كه (هره هفته كښې ئے) نشے كولے نو په هره مياشت كښې ئے يو كرت كوه او كۀ (هره مياشت كښې ئے) نشے كولے نو په هر كال كښې ئے يو كرت كوه اوكۀ (هر كال ئے) نشے كولے نو په ټول عمر كښې ئے يو كرت (خو ضرور) اُوكړه». (ابو داوّدؒ، ابن ماجهؒ، بيهقيؒ في الدعوات الكبير) امام ترمذيؒ ددے په شان روايت د ابورافعؓ نهؓ نقل كړيدے.

تشريح : عشر خصال : ددے نه مراد لس قسمه گناهونه دي چه دا دريانديے نۀ لرے كوم. ٢– ظاهر دا ده چه دلته لس تسبيحات دي چه عام لس كرت وئيلے شي او په بعض مقاماتو كښې پنځلس كرت دي.

فوائد الحديث : ١– پدے حديث كښې خطاب عباس ﷺ ته متوجه دے ليكن ددے حكم

تولو مسلمانانو دپاره عام دے ځکه اصل په خطاباتو د رسول الله ﷺ کښې عموم دے۔
٢– خطأه وعمده: عمده په سکون د میم دے۔ **سوال:** خطاء خو دے اُمت ته معاف ده (لاتؤاخذنا ان نسینا او اخطأنا) نو دا څنګه په ګناهونو کښې شماری ؟
الجواب: خطاء کښې اګرکه ګناه نهٔ وی لیکن قُصور او نقصان پکښې ضرور وی۔نو ددے مونځ دا اَثر دے چه دا قصُور او نقصان هم زائل کیږی۔
٣– وکبیره: دا حدیث دلیل دے چه په بعض اعمالو باندے بغیر توبے نه هم کبیره ګناهونه معاف کیږی لکه د ګناهونو د معاف کیدو لسو اسبابو کښې مونږ یو سبب دا هم ذکر کړے وو۔ انظر (١/٦٦٢ كتاب الطهارة – طبع ثانی)
٤– بنده له دا مناسب نهٔ دی چه دا مونځ اُوکړی او بیا خپلے واګے کولاوے کړی هر قسم ګناهونه کوی او دا مِسکین دا ګمان کوی چه ما خو داسے عمل کړیدے چه زما د ګناهونو د بخنے ضمانت اخستے شویدے۔دا ډیر کمعقل توب او جهالت دے۔ نهٔ، بلکه دا په دوکه کښې پروت دے ځکه چه دیته فکر پکار دے چه الله دا عمل قبول کړیدے او که نهٔ ؟ بیا ستا ګناهونه معاف شویدی او که نه ؟ دا د شیطان د مداخلو نه یو مدخل دے چه انسان پدے طریقه باندے دوکه کوی۔
٥– پدے ګناهونو کښې د بندګانو متعلق حقوق نهٔ دی داخل، هغه نهٔ معاف کیږی، ترڅو چه حقوق ئے خپل اهل ته نهٔ وی رسولی۔ او بیا ئے توبه نهٔ وی ویستلی۔
٦– د صلاة التسبیح په باره کښې د وقت متعین کولو او د سورتونو مقررولو باره کښې څهٔ مقبول احادیث نهٔ دی راغلی۔ که هر سورت وائی جائز ده، بعض علماؤ پکښې لادا وئیلی دی چه کله به زلزله، عادیات، اذا جاء نصر الله او اخلاص وائی او کله به الهاكم التكاثر، عصر، كافرون او الاخلاص وائی، او چا وئیلی دی چه څلور مُسبحات به وائی لکه الحدید، الحشر، الصف او التغابن ځکه ددے سورتونو د صلاة التسبیح سره مناسبت دے لیکن پدے باره کښې هیڅ قسم حدیث او اَثر نهٔ دے موجود۔
او د وقت باره کښې یو روایت د عبد الله بن عمرو بن العاصؓ مرفوعاً په ابوداود کښې راغلے دے باسناد حسن صحیح :"(اذا زال النهار فقم فصل اربع ركعات – الحديث) (صحیح ابی داود رقم١١٥٢)
علامه ابو الحسن مبارکفوریؒ وائی: ددے نه معلومیږی چه اولیٰ دا ده چه صلاة التسبیح پس د زوال الشمس نه او مخکښې د صلاة الظهر نه اُوکړے شی۔
٧– اربع رکعات: ظاهر د حدیث دا دے چه دا څلور واړه رکعاته به په یو سلام کوی، که

شپه وی او که ورځ، ځکه حدیث مطلق راغلے دے او څه قید پکښې د یو سلام او دوه سلامونو نۀ دے راغلے۔ بعض تقسیم کوی چه د ورځې په یو سلام او د شپې په دوه سلامونو۔ او بعض وائی: کله به ئے په یو سلام کوی او کله به ئے په دوه سلامونو۔ لیکن اوله خبره راجحه ده (کما قال القاری فی المرقاة ١٩٢/٢) والمبارکفوری فی تحفة الاحوذی (٣٤٩/١) وابوالحسن فی المرعاة (٣٧٢/٣)

٨- **بعض علماء** وائی دا تسبیحات به د محل د معین ذکر نه پس وائی نو په رکوع کښې به د خپلو تسبیحاتو نه روستو دا زائد تسبیحات وائی دارنګه سمع الله لمن حمده الخ نه پس او دغه شان سجده کښې هم۔ ځکه چه په دغه تسبیحاتو د رکوع او سجده باندے اَمر راغلے دے نو هغه به ددے زائد تسبیحاتو دپاره نشی پریخودلے۔ نو دا د عموماتو نه ثابتوی۔ (بغیة المتطوع)

٢- مګر ظاهر د حدیث دا دے چه دا مقام د بیان دے نبی ﷺ له پکار وو چه ددے بیان ئے کړے وے لیکن هرکله چه هغه دا بیان اُونکړو نو بس دا تسبیحات د هغه مقام د تسبیحاتو په ځائے قائمقام شو صرف (سمع الله لمن حمده) او تکبیرونه به وائی۔

٩- کله چه انسان پدے مانځه کښې سَهوَ شی نو په سجده سهوه کښې به دا تسبیحات زائده نه وائی۔ ترمذی (٣٥٠/٢) د عبد العزیز بن ابی رزمةؒ نه نقل کوی چه ما عبد الله بن المبارکؒ ته اُووئیل: کله چه پدے مونځ کښې سهوه شی نو په سجده سهو کښې به دا تسبیحات وائی؟ هغه اُووئیل: نه! دا تسبیحات صرف (٣٠٠) سوه دی۔ (انظر بغیة المتطوع فی صلاة التطوع ص: ٤١) لغالب هذه الفوائد) والمرعاة (٣٧٢/٣) والتنقیح فی صلاة التسبیح لجاسم الدوسری)

١٠- خمس عشرة مَرَّةً: دا د اکثرو ائمهؤ قول دے چه تسبیحات د قراءت نه پس دی او هر چه د عبد الله بن المبارکؒ عمل دے چه د قراءت نه مخکښې پنځلس کرت او د قرائت نه پس لس کرت او په اعتدال کښې نۀ وئیل نو هغه ددے حدیث مخالف دے۔

امام منذریؒ وائی: جمهور پدے صفت باندے عمل کوی او عمل پدے باندے اولیٰ دے ځکه ددے نه سِویٰ په صحیح مرفوع حدیث کښې نۀ دے راغلے۔ او همدا خبره علامه مبارکفوریؒ هم کړیده۔ (تحفة الاحوذی)

١١- پدے کښې جلسه د استراحت احنافو هم منلے ده دا اُوګده جلسه د استراحت ده چه تسبیحات پکښې دی او ددے نه جلسه د تشهد نۀ ده مراد ځکه دا خو اول رکعت دے۔

١٢- صلاة التسبیح په جَمعے سره یا منفرداً په کور کښې یا په مسجد کښې یا په هر

مكان كښې كول جواز لري ځكه حديث پكښې مطلق راغلے دے۔ ((الجامع لاحكام الصلاة ١١٦/٣) لمحمود عبد اللطيف عويضة)

درجة الحديث : اسناده صحيح بكثرة طرقه : اخرجه ابوداود (١٢٩٧) وابن ماجه (١٣٨٦) وابن خزيمة (١٢١٦) والحاكم (٣١٨/١) وقد اختلف الائمة فى تصحيح وتضعيف الحديث وقد حقق العلامة ابوالحسنات اللكهنوى القول فيه من (الآثار المرفوعة فى الاخبار الموضوعة) والحافظ فى اجوبته عن احاديث المشكاة رقم (٣) واسناد حديث ابى رافع ضعيف فيه موسى بن عبيدة وهو ضعيف وسعيد بن ابى سعيد مجهول۔

٣- وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ: اِنَّ اَوَّلَ مَا يُحَاسَبُ بِهِ الْعَبْدُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ عَمَلِهِ صَلَاتُهُ، فَاِنْ صَلَحَتْ فَقَدْ اَفْلَحَ وَاَنْجَحَ، وَاِنْ فَسَدَتْ فَقَدْ خَابَ وَخَسِرَ، فَاِنِ انْتَقَصَ مِنْ فَرِيْضَتِهِ شَيْءٌ، قَالَ الرَّبُّ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى: اُنْظُرُوْا هَلْ لِعَبْدِيْ مِنْ تَطَوُّعٍ؟ فَيُكَمَّلُ بِهَا مَا انْتَقَصَ مِنَ الْفَرِيْضَةِ، ثُمَّ يَكُوْنُ سَائِرُ عَمَلِهِ عَلٰى ذٰلِكَ». وَفِيْ رِوَايَةٍ: «ثُمَّ الزَّكٰوةُ مِثْلَ ذٰلِكَ، ثُمَّ تُؤْخَذُ الْاَعْمَالُ عَلٰى حَسْبِ ذٰلِكَ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ. ٤- وَرَوَاهُ اَحْمَدُ عَنْ رَجُلٍ......

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي: ما د رسول الله ﷺ نه ارشاد وئيلو سره اَوريدلى دى : « د بنده د اعمالونه د ټول نه ړومبني عمل په باره كښې چه محاسبه كولے شى، هغۀ به د بنده مونځ وى، لهذا كۀ د هغۀ مونځ دُرست وى (يعنى هغۀ مونځ صحيح ادا كړے وى يا د هغۀ مونځ قبول شوے وى) نو هغۀ كامياب شو او مراد ته اُورسيدو، او كۀ چرته مونځ ئے فاسد وى (يعنى مونځ ئے نۀ وى كړے يا نۀ وى قبول شوے) نو هغۀ به (د ثواب نه) نا اُميده وى، او (په عذاب كښې د مبتلا كيدو په وجه به) په خساره كښې وى، پس كۀ چرته د هغۀ د فرض (مونځ) نه څۀ نقصان شوے وى، (يعنى مكمل طريقے سره نۀ وى ادا شوے، خشوع پاتے شوى وى، واجبات او سنن او اركان ترے پاتے وى) نو الله تبارك وتعالىٰ به (خپلو ملائكو ته) فرمائي : چه تاسو اُوگورئ! آيا زما ددے بنده دپاره نفل مونځ شته يا نۀ (نو كۀ د هغۀ نفل عبادت وى) نو په هغے سره به ددۀ د فرضو كمے پوره كړے شى، بيا به دغه شان د بنده باقى اعمال په دغه طريقه وى »۔ او په يو روايت كښې دى : « بيا به دغه شان د زكوٰة حساب وى، بيا به باقى اعمال ددے موافق حساب اخستے شى »۔ (ابوداوٗد) او امام احمدؒ دا د يو (بل) سړى نه نقل كړيدے۔

تشريح : فَيُكَمَّلُ بِهَا : دا د الله فضل او احسان دے چه د فرائضو د نقصان جبيره ئے په نوافلو كړيده ځكه كه الله انسان ته اُوفرمائي چه دا فرائض دِے ولے نقصاني كړيدي نو بيا به د انسان څه جواب وي ؟ نو ددے وجه نه په نوافلو باندے ددے تكميل كيږي۔

نو حديث كښې مونږ ته دا سَبَق دے چه تاسو ځانله د نوافلو ډيره ذخيره جمع كړئ كه فرائض مو نقصاني شو نو دا نوافل به د فرائضو تكميل اُوكړي نو سنن او نوافل مكملات د فرائضو دي په آخرت كښې۔ او د هر انسان په فرائضو كښې ضرور نقصان وي نو سنن او نوافل جَمع كول پكار دي۔

بيا دا سنن مُكملات د فرائضو دي خو په آخرت كښې، نهٔ په دنيا كښې نو د شامي مولا استدلال صحيح نهٔ دے چه اَذكار او دعاء بعد السنة پكار دي ځكه چه سنن مكملات د فرائضو دي۔ مونږ وايو چه دا تكميل په آخرت كښې دے، نهٔ په دنيا كښې، بلكه اذكار به ضرور د فرض مانځه پسے متصل وائي او د سنتو نه روستو كول ئے بدعت دے۔ (كما مر في باب الذكر بعد الصلاة)

اشكال : دے حديث نه معلومه شوه چه اول حساب به د مانځه باره كښې وي او په بل صحيح حديث كښې دي : (اول ما يقضي بين الناس يوم القيامة في الدماء) (اوله فيصله به د خلقو ترمينځ د قيامت په ورځ باره د وينو كښې وي) نو ظاهر كښې تعارض ښكاري، ددے څهٔ حل كيدے شي؟۔ **الجواب** : علامه عراقي په شرح د ترمذي كښې وائي : د دواړو هيڅ تعارض نشته ځكه چه دا حديث الباب محمول دے په حق الله باندے او هغهٔ صحيح حديث په حقوق د انسانانو باندے په خپل مابين كښې۔ ښهٔ نو په هغے كښې به الله د كوم حساب مقدم كوي ؟ نو ددے جواب دا كيدے شي چه دا توقيفي امر دے، بنده ته د هغے اطلاع نهٔ ده وركړے شوے، مګر ظاهر د احاديثو دا دے چه اول به حق د الله وي بيا به د بندګانو حقوق وي۔ انتهىٰ۔

٢- **جواب** : دا حديث الباب په باره د ترك د عباداتو كښې دے او هغهٔ حديث په باره د فعل السيئات (ګناهونو كولو) كښې دے۔ ٣- يا دا چه محاسبه غير ده د قضاء نه نو محاسبه اول په مانځه باندے وي او قضاء (فيصله) به اول په وينو كښې وي۔

درجة الحديث : اسناده صحيح بشواهده : اخرجه ابوداود (٨٦٤) والترمذي (٤١٣) والنسائي (١/٢٣٢) وابن ماجه (١٤٢٥) والحاكم في المستدرك (١/٢٦٢) واسناد احمد (٥/٧٢) (٣٧٧) صحيح واخرجه الحاكم (١/٢٦٣)

٥- وَعَنْ اَبِي اُمَامَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :((مَا اَذِنَ اللهُ لِعَبْدٍ فِي شَيْءٍ أَفْضَلَ مِنَ

الـرَّكْعَتَيْنِ يُصَلِّيهِمَا، وَإِنَّ الْبِرَّ لَيُذَرُّ عَلٰى رَأْسِ الْعَبْدِ مَا دَامَ فِيْ صَلَاتِهِ، وَمَا تَقَرَّبَ الْعِبَادُ إِلَى اللّٰهِ بِمِثْلِ مَا خَرَجَ مِنْهُ»، يَعْنِي الْقُرْآنَ. رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : او ابو امامه ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي : « الله تعالىٰ غوږ نهٔ دے ايښے (نهٔ دے متوجه شوے) د بنده يو شي ته چه هغهٔ د دوه ركعاتو نه بهتروي چه بنده ئے كوي، او يقيناً د بنده په سر باندے نيكيانے راتوېږي ترڅو پورے چه دا په مانځه كښې مصروف وي، او بندګان الله تعالىٰ ته په بل شي باندے نهٔ نزدے كيږي چه هغهٔ مشابه وي د هغهٔ قرآن سره چه د الله د طرف نه نازل شوے دے. (يعنې د الله قرب چه څومره په قرآن كريم سره كيږي دومره په بل هيڅ څيز سره نهٔ حاصليږي) (احمدؒ، ترمذيؒ)


تشريح : اَذِنَ : ددے په صله كښې لام او الى استعماليږي په معنىٰ د غوږ كيخودلو سره دے او دلته ترے مراد د الله تعالىٰ اقبال او توجه ده په شفقت او رحمت كولو سره په بنده باندے. څكه بنده چه كله د مشاغلو نه فارغ شي او په زړه او بدن او ژبے سره خپل مولىٰ ته متوجه شي نو الله سبحانه هم هغهٔ ته په خپل لطف او احسان سره متوجه شي چه داسے توجه په نورو عباداتو كښې نهٔ وي. او غالباً په مانځه كښې قراءت د قرآن كيږي او تسبيحات او تكبيرات وئيلے كيږي پدے وجه ئے غوږ كيخودل ذكر كړل. او الله ته خپل كتاب ډير محبوب دے، پدے وجه كله ئے چه بنده وائي نو الله ورته ډيره توجه كوي.

لَيُذَرُّ : صيغهٔ د مجهول ده خورولو ته وائي، د (ذررت الحب والملح) نه دے (اى فرقته) يعنې دانے او مالګه مے خوارهٔ كړل. دلته ترے راتويدل او خوره ول مراد دي.

مَا دَامَ فِيْ صَلَاتِهِ : ددے وجه دا ده چه مونځ سراسر خير دے او ګناه پكښې نشته نو څكه په انسان باندے دغه شان د الله نيكيانے راتوېږي.

مَا خَرَجَ مِنْهُ: دا دليل دے چه قرآن كريم باندے الله تعالىٰ تلفظ كړيدے او د هغه نه راوتے دے. او داسے نهٔ ده چه مبتدعين وائي، د الله دپاره كلام لفظي نشته.

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه احمد فى المسند (٥/٢٦٨) والترمذى (٢٩١١) وفيه بكر بن خنيس قد تكلم فيه ابن المبارك وتركه فى آخر عمره وفيه ليث بن ابى سليم ضعيف.



باب صلاة السفر

د سفر د مانځه بيان

د سفر نور اَحکام هم شته ليکن دلته د مانځه متعلق اَحکام زيات دی نو ځکه هغه ذکر کوی، زمونږ د شريعت د کمالاتو او سَماحت نه دا ده چه د اَحکام مقررولو نه پس ئې په هغې کښې رخصتونه هم راليږلی دی. که ټول اُمت بانديې ئې په هر حالت کښې همدغه اَحکام وې نو بيا به اُمت ته ګرانه شوې وې.

نو په سفر کښې بعض رخصتونه د روژو هم شته ليکن دلته د مانځه ذکر کيږی. د مانځه باره کښې يو څو قسمه رخصتونه دی. ١- يو دا چه څلور رکعاتی مونځ په دوه رکعاتی بدليږی. ٢- اُوګد قراءت په لنډ قراءت بدليږی، سحر مونځ په آخری دوه سورتونو هم کولې شی. ٣- سنن رواتب پريخودل هم جائز دی.

٤- جمع بين الصلاتين په سفر کښې کول نبیﷺ دا رخصت ورکړيدې اګرکه بعض مذهبونو کښې دا نشته ليکن په دين کښې شته، هغوی ترې ځان په زوره محروم کړيدې.

٥- په سفر کښې په سورلئ بانديې په ناسته نفل مونځ جائز دې. ٦- د اقامت اعمال په سفر کښې مکمل ليکلې کيږی، ٧- دعاء قبليږی. ٨- جماعت پريخودل.

٩- د جُمعې مونځ پرې لازم نۀ وی، صرف د ماسپښين مسافرانه مونځ به کوی.

حکم القصر - فی السفر

قصر کښې د علماؤ اِختلاف دې چه دا په کومه درجه کښې دې، واجب دې که سنت دې ؟

١- علامه خطابیؒ په معالم السنن کښې فرمائی : مذاهب د اکثر علماء السلف او فقهاء الامصار دا دې چه قصر په سفر کښې واجب دې او دا قول د علیؓ، عمرؓ، ابن عمرؓ او ابن عباسؓ دې او دا د عمر بن عبد العزيزؒ او قتادةؒ او حسن بصریؒ دې.

٢- او **حماد** بن ابی سليمان وائی : څوك چه په سفر کښې څلور رکعاته اُوکړی نو هغۀ به اعاده کوی. ٣- **امام مالك** وائی : که چا اتمام اُوکړو او وقت باقی وو نو مونځ به دوباره کوی. انتهیٰ. او دا قول د احنافو هم دې چه قصر واجب دې چه که چا قصر اُو نکړو

نو گناهګار دے او که د قعدے نه پاڅیدو نو مونځ ئے فاسد دے، ځکه فرض ئے د نفلو سره خلط کړل۔ (نيل الاوطار ۲۴۵/۳) تحفة الاحوذی (۸۲/۲) (الاستذکار (۲۲۲/۲ – باب قصر الصلاة فی السفر) والفتح الربانی (۹۷/۵)

دلائل : ۱ - دلیل : مسلم (۲۴۱/۱) کښې حدیث د یعلی بن امیه دے چه په هغې کښې دا دی (لکه روستو راځی) : (صدقة تصدق الله بها علیکم فاقبلوا صدقته) (د الله صدقه قبوله کړئ) نو دلته امر راغلے دے په قبلولو د صدقه باندے او ظاهر د امر وجوب دے۔

۲- دلیل : حدیث د عائشه دے۔ (فرضت الصلاة رکعتین، ثم هاجر النبی ﷺ ففرضت اربعاً وترکت صلاة السفر علی الاولیٰ) (بخاری ۵۶۰/۱) رقم (۳۹۳۵) وفی روایة مسلم (۲۴۱/۱) : انها قالت : فرض الله الصلاة حین فرضها رکعتین، ثم اتمها فی الحضر، فاقرت صلاة السفر علی الفریضة الاولیٰ) ۔ نو دا حدیث دلیل د وجوب دے ځکه چه هرکله د سفر مونځ دوه رکعاته فرض شوے دے نو پدے باندے زیادت کول جائز نهٔ دی لکه څنګه چه په حضر کښې د څلورو کمے جائز نهٔ دے۔ لکه دا د ابن عباسؓ نه په مسند احمد کښې په روایت د ضحاك بن مزاحم کښې نقل دی (فمن صلی فی السفر اربعاً کم صلی فی الحضر رکعتین) لیکن هغهٔ روایت شعیب الارناووط ضعیف کړیدے د حمید بن علی العقیلی په وجه چه دارقطنی وئیلی دی (لایحتج به) او ابن حبان په طبقه رابعه د ثقاتو کښې ذکر کړیدے او ابوزرعهٔ وئیلی دی چه (کوفی لا بأس به) دے۔ (الفتح الربانی)۔

(ولکن قال الاعظمی : ویشهد له ما رواه عبد الرزاق عن ابن عباس : انه لا ینبغی للمسافر ان یصلی صلاة المقیم ۔ کنز العمال (۲۴۲/۴) (روضة المحدثین ۴۹۶/۱۱) (الشاملة)

لیکن ددے **جواب** نور علماء داسے ورکوی چه پدے حدیث کښې عائشہؓ د دوه حکمونو خبر ورکوی ۱- یو دا چه په مکه کښې مونځ فرض شویدے او هغهٔ د مسافر او مقیم دواړو دپاره دوه دوه رکعاته وو۔ ۲- دویم دا چه کله نبی ﷺ مدینے ته هجرت اُوکړو نو د حضر په مانځه کښې زیادت اُوشو۔ او د سفر مونځ په خپل زوړ حالت باندے پاتے شو نو اُوس مسافرانه مونځ دوه رکعاته کول هم رخصت دے او عزیمت نهٔ دے ځکه دا مطلب نهٔ دے چه زیادت ناجائز دے بلکه دا د الله احسان دے چه په سفر کښې ئے په زوړ حالت باندے پریخودو او زیادت ئے پکښې لازم نهٔ کړو۔

۳- دلیل : حدیث د ابن عباس دے (فرض الله الصلاة علی لسان نبیکم ﷺ فی الحضر اربعاً، وفی السفر رکعتین وفی الخوف رکعة) (مسلم ۲۴۱/۱) دے حدیث نه معلومه شوه چه سفر کښې دوه رکعاته فرض دی، لهذا زیادت به نهٔ کوی۔

ليكن ددے نه نور علماء جواب وركوى چه ددے روايت مطلب دا دے چه سفر كښ به د دوه ركعاتونه كمے نهٔ كوى لكه په صلاة الخوف كښ به د يو ركعت نه كمے نهٔ كوى۔ ځكه په اتفاق د علماؤ سره په صلاة الخوف كښ د يو ركعت نه زيادت جائز دے۔

او هرچه حضر دے نو په هغے كښ كمے او زياتے په څلور باندے جائز نهٔ دے د وجه د نورو دلائلو نه۔ فتدبر۔

٤- **دليل** : په نسائى كښ د ابن عمرؓ حديث دے چه هغهٔ فرمائى : (ان الله عزو جل امرنا ان نصلي ركعتين في السفر) (صححه الالباني في صحيح سنن النسائي (٤٥٧) (مونږ ته الله حكم كړيدے چه په سفر كښ دوه ركعاته اُوكړو) ليكن ددے جواب دا دے چه دلته د امر نه مراد دا نهٔ دے چه زيادت نهٔ دے جائز بلكه مراد دا دے چه په سفر كښ دوه ركعاته كول حكم شرعي دے او شرعي طريقه ده۔)

٥- **دليل** : اثر د عمر فاروق دے : (صلاة السفر ركعتان، وصلاة الجمعة ركعتان والفطر والاضحى ركعتان، تمام غير قصر على لسان محمد ﷺ) (ابن ماجه (١٠٦٣) والنسائي (٢١١/١) (١٣٦٤) وابن حبان ٢٢/٧) (٢٧٨٣) وصححه الالباني)

دا حديث د مرفوع په درجه كښ دے۔ او صريح دے چه قصر عزيمت دے او اتمام جائز نهٔ دے ځكه دلته ئے د سفر دوه ركعاته د جُمعے سره مشابه كړى دى او د جُمعے مونځ پوره كول خو ناجائز دى نو دغه شان مسافرانه مونځ پوره كول به هم نا جائز وى۔

ددے **جواب** امام نوويؒ داسے وركړيدے چه معنىٰ دا ده چه صلاة السفر دوه ركعاته دى د هغهٔ چا دپاره چه پدے باندے اراده د اقتصار لرى، او دا قول چه (تمام غير قصر) دے نو معنىٰ ئے دا ده چه (تمام اجرهما مثل الاربع) (اجر ئے د څلور ركعاتو په شان دے) هغهٔ دا تاويل ځكه متعين دے چه جَمع دلائلو راشى۔

٢- **قول ثانى** : قصر رخصت دے او پوره مونځ كول افضل دى۔ او دا قول د شافعيؒ، مالكؒ او احمدؒ دے۔ امام نوويؒ وائى : دا قول د جُمهورو علماؤ دے۔ او دا د عائشےؓ، عثمانؓ او ابن عباسؓ نه نقل شويدے۔

٣- مگر امام مالكؒ وائى : قصر سنت دے خو كه چا اتمام اُوكړو نو مونځ مكروه دے۔ او دا قول شيخ الاسلام ابن تيميهؒ اختيار كړيدے۔ ځكه نبى ﷺ په هيڅ سفر كښ اتمام نهٔ دے كړے او هغه فرمايلى دى : (صلوا كما رأيتموني أصلي)

او امام اَحمدؒ وائى : قصر اَفضل دے او اِتمام بدون الكراهة جواز لرى لكه دا قول د اَحمدؒ امام ابن قدامة په المغنى كښ ذكر كړيدے۔

٣- امام نووىؒ فرمائى : د شوافعو صحيح مشهور قول دا دے چه قصر افضل دے او اتمام جائز دے۔ (شرح مسلم)۔ او صاحب د عون المعبود وائى دا قول د مالك بن انسؒ او شافعىؒ او اكثرو علماؤ دے۔ (١٤٨/٣)

دلائل : د احنافو او د هغوى د موافقينو دلائل خو تير شو۔

د شوافع او مالكيانو دلائل دا دى : ١- **دليل** : يو دا چه عثمانؓ او عائشےؓ به اتمام كولو۔

او امام نووىؒ فرمائى : چه صحابه كرامؓ به د نبى ﷺ سره سفرونه كول نو بعضو به قصر كولو او بعضو به اتمام او بعضو به روژه نيوله او بعضے به كوژه وو۔ او همدا خبره بعينه د ابو نجيح المكى او سعيد بن المسيب او عطاء نه نقل ده (واللفظ لابى نجيح) (اصطحب اصحاب النبى ﷺ فى السير فكان بعضهم يتم و بعضهم يقصر و بعضهم يصوم و بعضهم يفطر فلا يعيب هؤلاء على هؤلاء ولا هؤلاء على هؤلاء) (ابن ابى شيبة (٤٥٢/٢)

(ددے نه بعض دا جواب كوى چه هركله چه د نبى ﷺ نه قصر نۀ دے نقل نو د صحابه كرامو اعمال معارض نشى كيدے د اقوال او افعالو د رسول الله ﷺ سره) (الفتح الربانى)

٢- دويم د (ليس عليكم جناح ان تقصروا من الصلاة) نه معلوميږى چه قصر رخصت دے او عزيمت نۀ دے۔ كما قال النووى فى شرح مسلم)

ليكن ددے نه **جواب** دا دے چه دا په باره د صلاة الخوف كښ نازل دے۔ او پدے كښ قصر د عدد نۀ دے۔بلكه قصر الاركان بالتخفيف مراد دے۔

٣- او د صدقة لفظ نه استدلال كوى چه قصر رخصت دے نۀ عزيمت۔ ليكن روستو (فاقبلوا) امر راغلے دے د هغے نه معلوميږى چه ددے قبلول لازم شو۔ مګر ددے نه دا جواب كيدے شى چه قبلولو معنىٰ دا ده چه مۀ ئے رد كوئ نو څوك چه د قصر د جواز عقيده لرى يا د استحباب نو هغۀ دا صدقه قبوله كړه۔ دارنګه دا هم وائى : چه (صدقة) لفظ نه ددے رخصت والے معلوميږى نو كۀ د (فاقبلوا) نه وجوب واخلو نو بيا به يو حديث مشتمل شى په دوه حكمين متضادينو باندے په اول كښ رخصت او روستو عزيمت او لزوم۔

٤- **دليل** : عائشے د نبى ﷺ سره عُمره اُوكړه نو هغه روژه ماته كړه او مونځ كښ ئے قصر اُوكړو او عائشےؓ روژه اُونيوله او مونځ ئے پوره اُوكړو بيا ئے نبى ﷺ ته ددے خبر وركړو نو نبى ﷺ ورته اُوفرمايل : (اَحسنتِ يا عائشة) (تا ښه كار اُوكړو) (دارقطنى، نسائى ٢١٣/١) السنن الكبرى للبيهقى (١٤١/٣) (وسنده حسن او صحيح وحسنه البيهقى فى السنن وفى معرفة السنن والآثار ٤٢٥/٢)(وانظر تنقيح التحقيق (٣٢/٢) په سند كښ ئے علاء بن زهير دے يحى ابن معين ورته ثقه وئيلے دے۔ اګركه ابن حبان په كښ كلام

کړیدے لیکن د هغهٔ کلام هم متناقض دے ځکه په ثقاتو کښې ئے هم راوړیدے او په ضعفاؤ کښې ئے هم راوړیدے او حافظ عسقلانی او ذهبی د هغهٔ تردید کړیدے۔ او پدے روایت کښې د رمضان قید وهم د راوی دے اګرکه باقی روایت صحیح دے۔ شیخ البانی په الارواء (٨/٣) کښې ددے تقویت ته اشاره کړیده لهذا دا سنت تقریری شو۔

علامه شوکانیؒ ددے قول دپاره څلور دلائل ذکر کړیدی او په تولو ئے کلام کړیدے۔ هغے ته رجوع اُوکړه۔ (نیل الاوطار ٢٤٧/٣) لیکن بعض دلائل پکښې قوی دی کما عرفت۔

٥-دلیل : انس بن مالك الكعبی القشیریؓ (دا مشهور انسؓ نهٔ دے) فرمائی: نبی ﷺ فرمایلی: (ان الله وضع عن المسافر الصوم وشطر الصلاة وعن الحامل والمرضع الصوم) (اخرجه الاربعة، حسنه الترمذی، نصب الرایة (١٩٠/٢) وقال الالبانی فی صحیح سنن النسائی (٢٢٧٥) (٢٢٧٦) وابن ماجه (١٦٦٧) حسن صحیح)۔

(الله د مسافر نه روژه او نیمائی مونځ اِیخودے (یعنی معاف کړے) دے۔ او حاملے او مُرضعے ته ئے روژه معاف کړیده) دا حدیث دلیل دے چه اتمام د مانځه جائز دے ځکه روژه نیول په سفر کښې جائز دی، او دلته ئے صوم او صلاة دواړه ئے د یو لفظ (وضع) نه لاندے کړیدی۔ دارنګه (وضع) لفظ د تخفیف تقاضا کوی نهٔ د حتم او لزوم۔

٦- دلیل : عائشه فرمائی : (ان النبی ﷺ كان يقصر فی السفر ويتم ويفطر ويصوم) (دارقطنی ١٨٩/٢) وقال هذا اسناد صحیح) ورواه البیهقی (١٤١/٣) وابن الجوزی فی التحقیق وصححه الشنقیطی فی اضواء البیان (٢٦٧/١)

(یعنی نبی ﷺ به په سفر کښې قصر او اتمام کولو او روژه او افطار به ئے کولو) پدے باندے **اعتراض** : ١- یو دا چه ددے حدیث په متن کښې تصحیف شویدے او اصل کښې داسے دے چه نبی ﷺ به قصر کولو او عائشے به اتمام کولو لکه مخکښې حدیث تیر شو) لکه شیخ الاسلام ابن تیمیه او ابن قیمؒ فرمائی : دا حدیث په رسول الله ﷺ باندے دروغ دی۔ (زاد المعاد ١٨١/١) او دغه شان خبره حافظ کړیده چه دا لفظ (تتم) دے او ضمیر ئے عائشے ته راجع کړیدے۔

جواب : دا دے چه دا حدیث بالکل صحیح دے دارقطنی او بیهقی ورته صحیح وئیلے دے او شیخ البانیؒ په ارواء الغلیل کښې په ابن حجرؒ باندے رد کړیدے چه دا روایت په سنن الدارقطنی کښې په (یقصر ویتم) سره دے چه لاندے یاء ده او دا تاء نهٔ ده۔ او همدغه روایت په تحقیق د ابن الجوزی او نصب الرایة کښې هم په یاء سره دے۔

لهذا د حدیث لفظ به په غیر د دلیل نه نشی بدلولے، اګرکه اکثر عادت د نبی ﷺ دا وو

چه په سفر کښې به ئې قصر کولو لیکن د بیاناً للجواز دپاره ئې کله نا کله اتمام هم کړیدے۔
والله اعلم وانظر فتاوی الدين الخالص (٦/١٠٢)

خلاصه : لهذا د وجوب دلائل ډیر قوی دی لیکن د صحابه کرامؓ اعمال او فتوے قرینه ده چه قصر واجب نۀ دے او سنت تقریری د نبی ﷺ هم په کښې موجود دے، لهذا قصر سنت مؤکد دے او اتمام مکروه دے او هغه :

۱- د عائشےؓ عمل دے چه که اتمام واجب وے نو عائشےؓ د نبی علیه السلام سره په یو سفر کښې ولے اتمام کولو۔ ۲- عثمان بن عفان چه به کله مِنیٰ ته راغلو نو اتمام به ئې کولو او ټول صحابه کرام او تابعینو به پسے اقتداء کوله او هیچا پرے اعتراض اُونکړو۔

او کومو صحابه کرامؓ چه پرے اعتراض کړے وو نو هغۀ پدے وجه چه د سنت اتباع ډیره لائقه وه چه عثمان قصر کړے وے، لیکن بعض وائی د عثمان داسے رایه وه چه قصر او اتمام دواړه جائز دی او اتمام افضل دے، ځکه هغه خلیفة المسلمین دے نو هر طرف هغه ته داسے دے لکه خپل کلے او خپل کور لهذا ځکه ئې اتمام افضل ګنړو او دا د هغه تاویل وو۔(المنتقى شرح الموطأ ١/٣٤٧) قصر صلاة السفر)

٣- ابن عباسؓ نه نقل شویدی : چه «قصر سنت د ابو القاسم ﷺ دے» یعنی واجب نۀ دے (الفتح الربانی ١٠٢/٥ بلوغ الامانی) المغنی (٢/١٠٨)

٤- د علماؤ اجماع ده چه مسافر کله د مقیم پسے اقتداء اُوکړی نو اتمام پرے لازم دے نو که قصر واجب وے نو بیا به د امام نه روستو څلور رکعاته نۀ وے جائز۔ (فتح البارى ٤/٥٠)
(اګرکه پدے مسئله کښې ابن حزمؒ مخالفت کړیدے)۔

٥- عبد الله بن مسعودؓ به چه کله یواځے مونځ کولو نو قصر به ئې کولو او چه کله به د عثمانؓ پسے اُودریدو نو اتمام به ئې کولو او دا به ئې وئیل چه په خلاف کښې شر دے۔
(فتح البارى ٤/٥٠) الصلاة بمنى)

نو دے نه معلومیږی چه ابن مسعودؓ قصر واجب نۀ ګنړی او اتمام ته هم جائز وائی۔

نو بس قصر سنت دے مګر که ضرورت راپیښ شی چه یو انسان یو ځائے کښې چا مانځه ته مخکښې کړو نو که هغه اتمام اوکړو نو ان شاء الله چه دا به جائز وی یا ترے په هیره اتمام اُوشی نو جواز لری۔ والله اعلم و بالله التوفیق وانظر تائید ما قلنا فی الشرح المختصر علی بلوغ المرام٢٦٥/٣) ومجموع الفتاوى (٢٤/٨) والتفصيل فی فتاوی الدین الخالص (٦/١٠١)

المسئلة الثانية د قصر حد مكاني :

د سفر دپاره حد مكاني او زماني شته او كه نه ؟ نو په حد مكاني كښې اختلاف دے تقريباً شل اقوال دي۔ بعض د هغے نه دا دي :

١- **ابن حزمؒ** وائي : ما پدے باب كښې سوچ اُوكړو نو ماته د تولو اقوالو او دلائلو نه دا ښكاره شوه چه قصر يو ميل كښې جواز لري او كم د ميل نه قصر نۀ دے جائز۔ كه يو ميل لاړو نو مسافر دے (المحلى ٢١/٥) او صاحب د السنن والمبتدعات دا رايه راجحه كړيده۔ او دا قول ابن ابي شيبه په اسناد صحيح سره د ابن عمرؓ نه نقل كړيدے۔

٢- **اهل ظواهر** وائي : اقل مسافت او مقدار د سفر درے ميله دي۔ مسلم كښې حديث دے : (ان رسول الله ﷺ كان يقصر اذا سافر ثلاثة اميال او ثلاثة فراسخ) (الصحيحة ١/٢٦١)۔ نو وائي چه درے ميله كښې نبي ﷺ د قصر مونځ كړيدے) نو بس څوك چه درے ميله لاړو نو دا به مسافر وي۔ ليكن يو خو پدے حديث كښې شك د راوي دے نو اندازه نۀ ده متعين چه درے ميله دي او كه درے فرسخه او درے فرسخه نهه ميله دي۔

★- بله دا چه د رسول الله ﷺ په درے ميله كښې قصر كول نفي ددے نۀ كوي چه ددے نه په زيات يا كم كښې قصر نۀ دے جائز۔ ځكه چه د نبي ﷺ نه په زيات كښې هم قصر نقل دے لكه چه روستو به دا خبره تفصيلاً راشي۔ او صحابه كرامو هم ددے نه حصر نۀ دے فهم كړے ځكه چه د هغوي نه په كم ددے مسافت كښې هم قصر نقل دے لكه د ابن عمر، انس، او عمر بن الخطاب نه به اقوال راشي۔ ان شاء الله تعالىٰ۔

مگر شيخ صفي الرحمن المباركفوريؒ په حاشيه د بلوغ المرام كښې ليكي : چه ددے حديث باره كښې وئيلے شويدي چه دے ته فقهاؤ ذهاب نۀ دے كړے ليكن كه دے ته ئے ذهاب كړے وے نو ډير قوي دليل به ئے وے، او ديته زمونږ په زمانه كښې ډير علماؤ د اهل الحديث ذهاب كړيدے۔ او يو فرسخ درے ميله وي او درے فرسخه تقريباً څليريشت كلوميتر او نيم كلوميتر سره برابريږي۔ دا هله چه مونږ يو ميل شپږ زره گزونه حساب كړو او كه چرته ميل څلور زره گزونه حساب شي لكه په ميل كښې همدا دوه قولونه مشهور دي نو بيا درے فرسخه شپاړس كلوميتر او ثلث كلوميتر جوړيږي۔ لهذا څوك چه څه دپاسه شپاړس كلوميتره د كلي نه بهر شو نو دۀ له مسافرانه مونځ جائز دے۔ بلوغ المرام ص (١٢٣)

٣- **قول ثالث** : امام شافعي، مالك، او د هغوي اصحاب، ليث، اوزاعيؒ، احمدؒ بن

حنبل، اسحاقؒ او اصحاب الحديث وغيره وائي : (٤٨) ميله چه څوك لاړ شي نو دا مسافر دے۔ بخاري كښ دي چه ابن عباسؓ او ابن عمرؓ به په څلور بَريدو كښ قصر كولو چه دا اته څلويښت ميله يعني شپاړس فرسخه جوړيږي۔ (فتح الباری ٥٣/٤)

او مرفوع حديث په دے باره كښ ضعيف دے۔

او د ابن عباسؓ نه تپوس اُوشو د عرفات پورے تلو كښ قصر كول جائز دي ؟ هغه اُووئيل نهٔ ! ليكن عُسفان يا جده يا طائف پورے تللو كښ قصر جائز دے او د مكے او ددے علاقو ترمينځ (٤٨) ميله فاصله ده، ليكن دا د ابن عباسؓ او ابن عمرؓ خپله اجتهادي خبره ده۔ مرفوع حديث ورسره نشته۔ او بل ددے سره د نورو صحابه كرامو اقوال او افعال متعارض راغلي دي، دارنګه دغه مخكښ مرفوع حديث هم ورسره متعارض دے (مسيرة ثلاثة اميال) والا۔

٤- **قول رابع** : او د ابن عمرؓ نه يو بل قول د يوے مكملے ورځے مسافت نقل دے او دا قول د زهريؒ او يو قول د اوزاعيؒ هم دے۔ او دا قول امام بخاريؒ په خپل صحيح كښ راجح كړيدے ځكه هغه وئيلي دي چه نبي ﷺ يو ورځ او يوے شپے ته د سفر نوم ايښے دے۔ لكه حديث كښ دي : (لا يحل لامرأة تؤمن بالله واليوم الآخر ان تسافر مسيرة يوم وليلة الا ومعها ذو محرم) (رواه الجماعة الا النسائي)

ليكن دا نص نهٔ دے په باره د سفر كښ ځكه دا په باره د حجاب كښ دے نهٔ په باره د سفر كښ۔ او د سفر او حجاب احكام جدا جدا دي۔ كه دا چرته موده د سفر وے نو نبي ﷺ به د هغے بيان كړے وے چه د سفر موده دومره شوه۔ ليكن في الجمله استدلال ترے ګوزاره كوي۔

٥- **ابوحنيفهؒ** او احناف وائي : اقله موده د سفر درے ورځے مزل دے په مزل د اُوښانو او قدمونو۔ --- دوی **دليل** دا وائي چه په حديث د ابن عمرؓ كښ دي : (لا تسافر المرأة ثلاثة ايام الا مع ذي محرم) (بخاري) ليكن دا هم دليل نهٔ ګرځي ځكه چه پدے كښ دا بيان نشته چه درے ورځے موده د سفر شوه۔

دارنګه كه اُومنو نو بيا پدے كښ صرف دا خبره ده چه په درے ورځو باندے هم د سفر اطلاق كيږي او دا منافي ددے نهٔ دے چه د درے ورځونه په كم كښ به قصر نهٔ كيږي۔ لهذا ددے علماؤ استدلالات كمزوري دي۔

٦- **تحقيقي قول** د شيخ الاسلام ابن تيميهؒ، حافظ ابن القيمؒ او د شيخ الالبانيؒ دے او دا صاحب د توضيح الاحكام علامه عبد الله البسام او علامه شنقيطيؒ په اضواء البيان (٢٧٣/١) كښ غوره كړيدے او علامه صديق حسن خانؒ په الروضة الندية (٢٢٨/١)

کښې ذکر کړیدے او هغه دا دے چه په سفر کښې شریعت حد زماني او حد مکاني (اقله موده او اکثره موده) نهٔ دے مقرر کړے۔

او شیخ الاسلام دا قاعده وئیلے ده چه کله یو لفظ قرآن او سنت کښې راشي نو د هغې بیان به یا الله او رسول کړے وي او یا به ئې نهٔ وي کړے، که نهٔ وي کړے نو بیا به رجوع کولے شي لغت ته ځکه کتاب او سنت په لغت عربي کښې راغلي دي، او که لغت نه هم بیان نهٔ معلومیدو لکه د سفر لفظ په لغت کښې ښکاره والي او راوتو ته وائي نو کوم راوتل او ښکاره کیدل مراد دي د هغې بیان لغت کښې نشته۔ نو بیا به دریمه درجه کښې رجوع کولے شي عُرف او رواج د خلقو ته نو سفر چه عرف کښې څه ته وئیلو شو نو هغه به شریعت کښې هم سفر وي او شریعت د سفر بیان په قول سره نهٔ دے کړے چه دومره موده شوه، نهٔ کمه او نهٔ زیاته، بلکه نبي ﷺ په لږ او زیات مقدار کښې قصر کړیدے نو دا بیان د مقدار نهٔ ګرځي او بل طرفته قرآن کریم کښې دي (وَإِذَا ضَرَبْتُمْ فِي الْأَرْضِ) ضرب في الارض (یعني سفر) مطلق راغلے دے او هر خروج ته خو سفر نهٔ وائي ځکه چه نبي ﷺ به مسجد قُباء او اُحُد ته ورتلو او قصر د مانځه به ئې نهٔ کولو۔ نو بس عرف کښې چه ته کوم ځائے ته لاړے او خلقو تا ته مسافر وئیلو او تا هم سامان د سفر ځان له تیار کړو او ځان ته دے مسافر وئیلو نو بس دا سفر دے لګ وي او که زیات او که یو انسان د چکر په نیت یو ځائے ته لاړ شي چه هغه ډیر میلونه مزل وي لیکن ماښام له بیرته کور ته راواپس کیږي ځان ته هم مسافر نهٔ وائي او خلق هم ورته مسافر نهٔ وائي۔ نو دا به شرعاً هم مسافر نهٔ حسابیږي۔ لکه مثلًا څوك په جهاز یا موټر کښې سُور شو او ډیر فرسخونه یا یوه ورځ یا دوه ورځې د پیدل مزل په مقدار چکر له لاړو او په لږه موده کښې خپل کور او کلي ته راواپس کیږي نو دا په عرف کښې مسافر نهٔ حسابیږي بلکه خلق دۀ ته چکر وهونکے وائي۔

المغني لابن قدامه (٩٥/٢) کښې دي چه د اقوالو د علماؤ دپاره هیڅ حجت نشته ځکه اقوال د صحابه کرامو متعارض او مختلف دي او د صحابه کرامو اقوال چه کله مختلف وي نو هغې کښې حجت نهٔ وي۔ او اندازه مقررول د توقیف د شرع سره تعلق لري لهذا په رأى سره هغې ته رجوع نشي کیدے او حجت د هغه چا سره دے چه د هر مسافر دپاره ئې قصر مباح کړیدے۔انتهیٰ۔ راجع راد المعاد (١٨٩/١) ومجموع الفتاوی (٣٨/٢٤-٦٠) تمام المنة (٣١٩) الصحيحة (٢٦١/١)و نيل الاوطار (٢٥٣/٣) و تيسير العلام شرح عمدة الاحكام (٣١٤/١) الروضة الندية (٢٢٨/١) اضواء البيان (٢٧٣/١) تفسير المنار (١٥١/١) وفتاوی الدين الخالص (١٠٠/٦)

المسئلة الثالثة - د قصر حد زمانی :

آیا حد زمانی شته ؟ یعنی د څومره مودے په نیت چه اُوځی نو مسافر به وی؟ نو پدے کښ علامه ابن حزمؒ دیرش اقوال ذکر کړیدی چه راجح په هغے کښ دوه بیا په هغے کښ یو اَرجح او اَصح دے او هغه دا دی :

القول الاول : اول قول دا دے چه د سفر دپاره هیڅ حد شریعت نهٔ دے مقرر کړے، بلکه دا ئے عرف ته سپارلے دے نو مسلمانانو چه په عرف کښ څه ته سفر وئیلو نو هغه به سفر وی او که څه ته ئے سفر نهٔ وئیلو نو هغه به سفر نهٔ وی او دا قول شیخ الاسلام ابن تیمیةؒ، شیخ صالح العثیمینؒ، الشیخ عبد الله البسامؒ، الشیخ الشنقیطیؒ او شیخ البانیؒ او د سعودی عام علماؤ غوره کړیدے۔

دلائل هذا القول :--- ۱- **دلیل** : کتاب او سنت کښ د سفر حد نهٔ دے مقرر شوے او هر چه د صحابه کرامؓ اقوال دی نو هغهٔ مختلف دی او په اجتهاد باندے بناء دی او لغت هم ددے بیان نشی کولے، نو بس دا به عرف ته سپارلے شی، نو عرف چه څه ته سفر اووئیلو هغه به سفر وی برابره ده که موده اُوګده وی او که لنډه۔

۲- **دلیل** : که د سفر دپاره حد معلوم وے نو نبی ﷺ به په قول یا فعل سره بیان کړے وے، هر کله ئے چه بیان نکړو معلومه شوه چه ددے شرعاً حد نهٔ دے مقرر۔

۳- **دلیل** : او هر چه اقوال د صحابه کرامؓ دی نو هغه مختلف دی : ۱- عبد الرحمن بن المسورؒ وائی : مونږ د سعد بن ابی وقاصؓ سره په عُمان کښ دوه میاشتے اُوسیدو نو هغه به دوه رکعاته کول او مونږ به څلور رکعاته کول نو مونږ هغه ته دا خبره ذکر کړه۔ هغه اُوفرمایل : (نحن اَعلَمُ) (مونږ ښه پو هیږو) (الاثرم فی سننه وعبد الرزاق ۵۳۵/۲) ورجاله ثقات ولکن حبیب مدلس وقد عنعنه)

۲- حفص بن عبد الله وائی : انس بن مالکؓ په شام کښ دوه کاله اُوسیدو او مانځه کښ به ئے قصر کولو۔ (الاثرم فی سننه) (مجموع الفتاوی لشیخ الاسلام (۱۴۱/۲۴-۱۴۳)

۳- ابن عباسؓ فرمائی : رسول الله ﷺ په خیبر کښ څلویښت شپے پاتے وو او په مانځه کښ به ئے قصر کولو (عبد الرزاق ۵۳۳/۲) واسناده ضعیف، الحکم لم یسمع عن مِقسَمٍ هذا الحدیث، مع انه کان اذ ذاك فی المعرکة انظر نصب الرایة (۳۹۱/۱)

۴- : حسنؒ فرمائی : انس بن مالکؓ په نَیسَابُور کښ یو کال یا دوه کاله پاتے وو، دوه رکعاته به ئے کول او سلام به ئے اَړولو او دوه رکعاته به ئے کول۔

وسنده صحيح- (ابن ابى شيبة ٢/٤٥٤)

٥- ابو مِجلزٌ وائى ما ابن عمرٌ ته اُووئيل : زهٔ مدينے ته د طلب د حاجت دپاره راځم او هلته اُووه يا اته مياشتے پاتے كيږم څنګه مونځ اُوكړم؟ هغه اُوفرمايل : دوه دوه ركعاته كوه- (عبد الرزاق)

٤- **دليل** : ﴿ وَإِذَا ضَرَبْتُمْ فِي الْأَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَقْصُرُوا مِنَ الصَّلَاةِ ﴾ دلته ضرب فى الارض (سفر) مطلق ذكر دے حد ئے نهٔ دے معلوم-

٥- **دليل** : جابر او ابن عباس رضى الله عنهما فرمائى : نبى ﷺ او صحابه كرامٌ په څلورم د ذى الحجه بانديے (مكے ته) راغلل چه د حج احرام ئے تړلے وو الحديث- او نبى ﷺ په خپل حج كښں دوه دوه ركعاته كول تردے چه مدينے ته واپس شو- لكه انس بن مالك فرمائى : مونږ د نبى ﷺ سره د مدينے نه مكے ته اُووتو(د حج دپاره) نو هغه به مونځ دوه دوه ركعاته كولو تردے چه مونږ مدينے ته راواپس شو- (متفق عليه)

طريقه د استدلال : نبى ﷺ په غرض د حج په مكه كښں پاتے شو او هغه مُعَيَّنه مُقَيَّده زمانه وه او د مخكښں نه ئے نيت هم كړے وو او بيا هم پدغه حال كښں ئے دوه دوه ركعاته كول تردے چه مدينے ته واپس شو نو دا دليل دے چه اِقامت د يو مُعين غرض دپاره كله چه ختم شى نو د انسان وطن ته د واپس كيدو پورے حكم د سفر نهٔ منقطع كوى اګركه هغه موده مُعينه مَحْدُوده وى-

٦- **دليل** : حُجاج په اول د ذى الحجه كښں مكے ته راځى يا لږ مخكښں يا حج ته نزدے او د حج مياشتے د شوال نه شروع كيږى او نبى ﷺ اُمت ته دا نهٔ دى وئيلى چه څوك حج ته راځى د څلورم د ذى حجے نه مخكښں نو هغه به د مانځه اتمام كوى لهذا كه دا د الله حكم وے نو نبى ﷺ به ضرور اُمت ته بيان كړے وے- او بيان ته ضرورت هم وو، نو هر كله چه نبى ﷺ بيان اُونكړو دليل دے چه د سفر حد نهٔ دے معلوم-

٧- **دليل** : د عبد الله بن عباسٌ نه روايت دے چه نبى ﷺ په مكه كښں نورلس (١٩) ورځے اُوسيدو چه دوه ركعاته به ئے كول- (صحيح بخارى)

په دغه روايت كښں دا هم دى چه رسول الله ﷺ روژه وو، تردے چه كديد - هغه اُوبه چه د قديد او عسفان مينځ كښں دى- ته راورسيدو نو روژه ئے ماته كړه نو همداسے كوژه وو تردے چه مياشت اُووته-

نو دا دواړه حديثونه واضح ثبوت دے چه د څلورو ورځو نه زيات اقامت كښں نبى ﷺ قصر او فطر كړيدے نو پدے كښں رد دے په قول د جمهورو چه په زيات د څلورو باندے

حکم د اقامت ثابتوی۔ وسیأتی جوابه۔

۸- **دلیل** : جابر ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ په تبوك کښې شل ورځې پاتے شو چه په مانځه کښې به ئے قصر کولو۔ (ابوداودؒ، بیهقیؒ باسناد صحیح)

نو نبی ﷺ شل ورځې پاتے شو او بیا هم مسافرانه مونځ کوی۔نو معلومه شوه چه د سفر دپاره مقرره زمانه نۀ ده معلومه۔

۹- **دلیل** : موسیٰ بن سلمه الهذلیؒ فرمائی : ما د ابن عباسؓ نه تپوس اُوکړو کله چه زۀ په مکه کښې یم او د اِمام سره مونځ نۀ کوم (یعنی یواځې یم) نو څنګه مونځ به کوم ؟ هغه اُوفرمایل : دوه رکعاته۔ دا سنت د ابو القاسم ﷺ دے۔ (صحیح مسلم ۱/۲٤۱)

۱۰- ابن ابی شیبه بسند صحیح د اَبو جَمْره نصر بن عمران نه نقل کوی چه ما ابن عباسؓ ته اُووئیل : مونږ په خُراسان کښې ډیر حصاریږو نو ستا څه رایه ده ؟ (څنګه مونځ به کوو؟) هغه اُوفرمایل : دوه رکعاته کوه اګرکه ته لس کالو پورے اُوسیږے۔

۱۱- ثمامه بن شراحیلؒ فرمائی : ما ابن عمرؓ ته اُووئیل : (ما صلاة السفر؟) مسافرانه مونځ څنګه وی؟ هغه اُوفرمایل : دوه دوه رکعاته۔ مګر ماښام مونځ درے رکعاته دے، بیا ما اُووئیل : خبر راکړه که مونږ په ذی المجاز کښې یو، وے فرمایل : ذو المجاز څه شے دے ؟ ما اُووئیل : دا هغه ځائے دے چه مونږ په کښې راجمع کیږو او شلو شپو یا پنځلسو شپو پورے وخت تیروو۔ وے فرمایل : اے سړیه ! زه په آذربیجان کښې اُوم – راویؒ وائی ما ته پته نشته چه څلور میاشتے یا دوه میاشتے ئے یادے کړے– چه ما به صحابه کرامؓ لیدل چه دوه دوه رکعاته به ئے کول او ما د الله نبی د خپلو سترګو مخامخ اُولیدو چه دوه رکعاته به ئے کول، بیا ئے دا آیت اُولوستو : ﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ﴾ (د الله د رسول تابعداری بهتره ده)۔

۱۲- انس بن مالك فرمائی : د رسول الله ﷺ اَصحاب کرام په رَامُهُرْمُزْ کښې نهه میاشتے اُوسیدل چه په مانځه کښې به ئے قصر کولو۔ (بیهقی قال النوویؒ اسناده صحیح وقال ابن حجر صحیح) نو دا آثار دلالت کوی چه قصر جائز دے که ډیر حصاریږی او که لږ، څه موده متعین نۀ ده۔

۱۳- **دلیل** : علة د قصر او فطر دپاره دفع د حرج او مشقت دے ځکه سفر مَظِنّه د حَرَج او مشقت ده لهذا حرج لکه څنګه چه په اُوګد سفر کښې وی نو دغه شان په لنډ سفر کښې هم وی نو بس چه کله دا علت موجود وو نو حکم به هم موجود وی نو اندازے ته ضرورت نشته۔

دا وو مرکزی دلائل ددے قول۔

القول الثاني : د سفر دپاره حد زماني او موده معينه شته چه کله د هغې نه اِنسان تـجاوز اُوکړي نو مونځ به پوره کوي او په هغه باندې به احکام د مُقيم جاري کيږي۔ او دا قول د اکثرو اَهل علمو، مُحدثينو او فقهاء او د هغوی د اتباعو دے۔

دوی بيا **مختلف** دی په ډيرو اقوالو ليکن مشهور پکښې څلور اقوال دی :

١ - **امام ابوحنيفة** او ثوريؒ وائي : پنځلس ورځې که يو ځائے کښې اُوسيږي نو دا مُقيم دے او که د پنځلس ورځو نه کم وی نو بيا مسافر دے استدلال کوی په يو د رواياتو د ابن عباسؓ باندې چه هغې کښې دی : (اذا قَدِمْتَ بَلَداً وَفِيْ نَفْسِكَ اَنْ تُقِيْمَ خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا فَاَكْمِلِ الصَّلاة ......الخ) (نيل الاوطار ٢٥٦/٣) سبل السلام (٣٧٩/٢)

ليکن نور روايات د ابن عباسؓ ددې روايت خلاف دی۔ لکه روستو به راشي۔ لهذا دا به حجت نه ګرځي۔

٢ - **امام شافعيؒ** او مالكؒ وائي چه د څلورو ورځو د اقامت نيت ئے وی نو بس مُقيم دے او که کم وی نو مسافر دے۔ (المغني ١٤٧/٣) بيا د مالك او شافعيؒ په نيز باندې مُده د قصر درې ورځې دی، سِوئ ددوه ورځود دخول او خروج نه۔ ٣- او احمدؒ او داود ظاهريؒ وائي چه څلور ورځې موده د قصر ده او ددې نه زيادت کښې اقامت دے۔

٤ - **امام اسحاق** بن راهويهؒ وائي : که د نورلس ورځو نه د زياتو نيت اُوکړي نو اتمام به کوی۔

٣ - عبد الله بن عباسؓ فرمائي : که د لسو ورځود اُوسيدلو نيت اُوکړي نو اتمام به کوی۔ او دا قول د علي ﷺ هم دے۔ (نيل الاوطار)

پدې کښې راجح قول قول د امام احمدؒ دے : **دلائل هذا القول :**

١ - **دليل** : اصل دا ده چه کله مسافر د ارادې يو مقام ته اُورسيږي نو ددهٔ حکم دې د مقيم په شان وی ليکن بل طرفته نبي ﷺ په حجة الوداع کښې څلور ورځو کښې قصر کړيدې۔ ځکه نبي ﷺ چه کله په څلورم د ذی الحجه مکې ته داخل شو او په اتم د ذی الحجه مِنیٰ ته لاړو او پدې ورځو کښې به ئے قصر کولو نو که دا سنت نهٔ وې نو مونږ به وئيلې چه څوك مکې ته اُورسيدو نو بس هغه به مُقيم وی۔ (المنخلة النونية ص (٦٠)

٢ - **دليل** : دا آيت : ﴿وَاِذَا ضَرَبْتُمْ فِي الْاَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَقْصُرُوا مِنَ الصَّلَاةِ﴾

طريقه د استدلال : الله تعالى ضرب في الارض ذکر کړيدې او معنی د ضرب في الارض جلتئ سره مزل کول دی لکه آيت دې ﴿وَآخَرُوْنَ يَضْرِبُوْنَ فِي الْاَرْضِ﴾ نو هر ضارب في الارض ته ئے مسافر اُووئيلو۔ او قصر ئے هغه چا دپاره ثابت کړو چه په سفر کښې شروع شي نهٔ د هغه چا دپاره چه هغه په يو مکان کښې پاتو شي او په اطمينان شي۔ ځکه

﴿ فَاِذَا اطْمَأْنَنْتُمْ فَاَقِيْمُوا الصَّلَاةَ ﴾ كښې ئې د اِطمينان په صورت كښې اتمام د مانځه خودلے دے۔ او اطمينان د زړهٔ او د بدن سكون او آرام ته وائي۔

لهٰذا د لغت په لحاظ دا آيت دلالت كوي چه ځوك ضرب في الارض پريدي نو هغه به قصر نهٔ كوي او كه ضرب في الارض ئې كولو نو دا به مسافر حسابيږي۔

بيا **سوال** راځي چه بعض رواياتو كښې راغلي دي چه نبي ﷺ په مكه كښې څلور (٤) ورځې تيرے كړے او بل كښې راځي چه لس ورځې (١٠) او په تبوك كښې ئې شل (٢٠) ورځې او په فتح د مكه كښې ئې نورلس (١٩) ورځې تيرے كړے نو تاسو څنګه څلور ورځې حد د سفر اُوګرځولو۔

الجواب: الحمد لله د رواياتو ترمينځ هيڅ تعارض نشته ځكه كوم روايت د انسؓ كښې چه لس ورځې په مكه كښې خودلي دي نو هغه ورسره د مِنىٰ، مُزدلفے او عرفات ورځې هم شمارلي دي۔ او هر چه څلور ورځې دي نو هغه په داخل د مكه كښې دي۔

او په تبوك كښې شل ورځې يا په فتح د مكه كښې نورلس ورځې او په حجة الوداع كښې څلور (٤) ورځې تيرولو كښې فرق دے او هغه دا چه په كال د فتح د مكه كښې او په غزا د تبوك كښې د نبي ﷺ پاتے كيدل عارضي وو او د مخكښې نه دغه موده مقصود نهٔ وه، بلكه مصالح د جهاد او تقاضا د فتح دغه وه چه دومره موده پاتے شي نو دا داسے اِقامت دے چه ابتداء ئې نهٔ ده معلومه او انتهائي نهٔ ده محدوده، بلكه دا اِقامت غير مقصوده دے، ځكه چه دا سَفر د جهاد او د دشمنانو د مقابلے دپاره وو، نهٔ د اقامت او پاتے كيدو دپاره، او ځوك چه جهاد دپاره راوځي نو هغه نهٔ پو هيږي چه زما به څهٔ حال وي او مخے ته به څهٔ حالات راپيښيږي لهٰذا دا صحيح نهٔ ده چه اُووئيلے شي چه نبي ﷺ مخكښې نه اراده د اِقامت كړے وه يا هغه د سفر ورځے متعين كړے وے ځكه ددے نقل نشته۔ يعني مثلاً نبي ﷺ ددے دپاره سفر نهٔ وو كړے چه په تبوك كښې به شل ورځے تيروي او په مكه كښې به نورلس ورځے تيرَوي او بيرته به مدينے ته واپس كيږي نو پدے باندے دا استدلال كول هم صحيح نهٔ دي چه ځوك دومره موده يا ددے نه كمه موده په يوه علاقه كښې پاتے كيږي نو هغه به قصر كوي ځكه چه د نبي ﷺ پاتے كيدل ددے مودے په نيت نهٔ وو۔

او هرچه په كال د حجة الوداع كښې قصر كول دي نو دا دليل دے چه د څلور يا د څلورو نه دكمو ورځو په اراده باندے يو ځائے كښې پاتے كيدو كښې قصر دے۔ ځكه نبي ﷺ ددے مُودے د اَقامت اراده د مخكښې نه كړے وه ځكه دا حالت د اَمن وو د جنګ څه اِراده نهٔ وه نو دا اِقامت مقصوده دے۔

٣- **دليل**: عمر بن عبد العزيز- رحمه الله- د سائب بن يزيدؒ نه تپوس کوی چه تا په مکه کښې د پاتے کيدو باره کښې څه اَوريدلی دی ؟ نو هغه اُوفرمايل : ماته ابن الحضرمیؓ خبر راکړيدے چه هغه د رسول الله ﷺ نه اَوريدلی دی چه فرمايل ئے : (للمهاجرين ثلاث بعد الصدر) (بخاری ١/٥٦٠) (ابوداود ١/٢٨٤) باب الاقامة بمكة)

(د مهاجرينو دپاره پس د واپس کيدو نه خپل کلی ته درے ورځے دی) يعنی درے ورځو نه به زيات نۀ حصاريږی نو دا دليل دے چه درے ورځے يو ځائے کښې پاتے کيدو سره انسان نۀ مقيم کيږی.او په زياتو مُقيم کيږی. او هر چه د نبی ﷺ په فتح د مکه کښې نورلس ورځے پاتے کيدل دی نو هغه د مسائلو د جهاد او کارونو د جنگ سره متعلق وو، قصداً دومره ورځے نۀ پاتے کيدو، لهذا هغۀ اِضطراری پاتے کيدل دی.

٤- **دليل** : نبی ﷺ فرمائی : مهاجر به د حج اداء کولو نه پس درے ورځو پورے حصاريږی. او عمر فاروقؓ چه کله اهل الذمه شړل نو د هغوی د راتلونکي تاجر دپاره ئے درے ورځے پاتے کيدو پورے موقعه ورکړه نو دا دليل دے چه درے ورځے په حکم د سفر کښې دی. او چه زيات شی نو بيا حکم د اِقامت دے او دا د عثمان ؓ نه هم روايت شويدی. انتهیٰ المغنی ٣/١٤٧)

٥- **دليل** : ابن مُحريز فرمائی : ابوايوب انصاری او ابوصرمه الانصاری او عقبه بن عامر ؓ د روم زمکے ته په ژمی کښې داخل شو نو د رمضان روژے ئے اُونيولے او قيام الليل ئے اُوکړو او مونځ ئے پوره کولو. (الاثرم فی سننه – مجموع الفتاوی لشيخ الاسلام ٢٤/١٤٣).

نو دے درے صحابه کرامؓ د ژمی په درے مياشتو (اُوګد سفر) کښې د مانځه اتمام کړيدے. نو د دوی په نيز هم د سفر دپاره يو حد شته چه د هغے نه اَخوا اِنسان مُقيم حسابيږی.

٦-**دليل** : اِجماع مرکبه پدے مُنقعد ده چه د سفر دپاره حد شته او څوك چه يو ځائے نه وطن جوړ کړی يا په هغے کښې د يوے مُعينے مودے پورے پاتے کيږی نو هغه به مسافر نۀ وی. او کوم بعض آثار چه په قول اول کښې ذکر شو نو هغه په خاص واقعو باندے محمول دی لکه روستو به راشی.

او په سلفو کښې هيچا دا نۀ دی وئيلی چه د سفر دپاره حد نشته او يو انسان به مسافر وی اګرکه پنځوس کاله يا شپيته کاله په يو ځائے کښې تيروی، لکه نن صبا همدا حال دے چه د يو انسان په لاهور يا پينډئ کښې دکان وی او کورئے بشاور کښې وی او هفته په هفته کورته راځی نو دۀ ته بعض خلق اِجازت ورکوی چه ته مسافرئے اګرکه پنځوس کاله

تيروى-نو دا د أصولو د شريعت نه ډيره بعيده خبره ده- بلكه دا د ضعيف قول يا د خواهش تابعدارى ده-

۸- دليل : ابن عباسؓ فرمائى : (فنحن نصلى فيما بيننا و بين مكة تسعة عشر ركعتين ركعتين، فاذا اقمنا اكثر من ذلك صلينا اربعاً) (صحيح بخارى)

(مونږ چه كله نورلس ورځے د مكے او مدينے ترمينځ پاتے كيږو نو قصر به كوو او كله چه ددے نه زيات وى نو اتمام به كوو) لهذا ابن عباس ﷺ چه حَبْرُ الامة او ترجمان القرآن دے، د هغه هم دا فتوىٰ ده چه د سَفر دپاره حد معلوم دے- چه هغه نورلس ورځے دى-

استدلال كوى په اقامت د نبى ﷺ په مكه كښې په كال د فتح باندے اگركه دا اقامت عارضى وو او غير مقصود وو-كما مرّ- ليكن طريقه د استدلال دا ده چه مسافر به فوراً مقصد ته رسيدو سره سمدست مقيم گرزيدلے ځوكه دا د نورلس (۱۹) ورځو استثناء نۀ وے- ليكن بيا د ابن عباسؓ دا فكر شوے نۀ دے چه دا خو جهادى سفر دے-

۹- دليل: د عبد الله بن عمرؓ نه څوارلس روايات مختلف نقل دى چه ددے تولو تطبيق دا دے چه د ابن عمرؓ مذهب د جمهورو علماؤ په شان دے چه څوك د اِقامت عزم اُوكړى نو بس دا به اتمام كوى او كه چا عزم نۀ وى كړے اگركه موده ئے اُوګده شى نو قصر به كوى- او هر چه د هغه قصر دے په آذربيجان كښې نو د هغے وجه دا وه چه د هغه په اقامت باندے عزم نۀ وو بلكه مجبوراً پاتے وو ځكه چه واوره (ثلج) د هغه او د لارے په مابين كښې واقع شوے وه-لكه دا د ابن قدامةؒ رأيه هم ده او هغه د ابن عمرؓ په روايت استدلال كړيدے- دارنګه د ابن عمرؓ رايه دا هم وه چه څوك په يو ښار تيريږى نو هغه له اتمام د مانځه جائز دے ځكه دا په مصر كښې دے او قصر هم ورله جائز دے ځكه چه مسافر دے قصد د اقامت ئے ندے كړے- انظر رسالة قصر المغتربين ص (۵۹-۶۲)

۱۰- دليل : الله د مسافر دپاره درے ورځو پورے مسح على الخفين جائز كړيده نو دا دليل دے چه درے ورځو نه زيات حكم د اقامت دے-

د قول اول د دلائلو تحقيق : ۱- د اول دليل نه **جواب** دا دے چه د لغت نه د سفر حد معلوميږى او هغه دا چه ضرب فى الارض او اطمينان دواړه دلالت كوى چه سفر به ختميږى په ختميدو د ضرب فى الارض سره او كله چه په يو ځائے كښې اِطمينان او اُوسيدل اُوكړى نو دا به مسافر نۀ حسابيږى- لكه چه مخكښې هم تير شو- او كله چه مونږ سنت ته رجوع اُوكړه نو د نبى عليه السلام فعل په حجة الوداع كښې مونږ اُوموندلو چه هغۀ دلالت كوى پدے حد معين باندے- او عرف د خلقو مختلف وى نو كوم عرف ته

به ئې سپارو نو په عرف باندې فیصله کول مشکل دی۔

٢- **د دویم دلیل** نه - چه د سفر بیان نبی ﷺ نهٔ دې کړے - جواب دا دے چه الله تعالیٰ حد فاصل د مُقیم او مسافر ترمینځ په قرآن کریم کښې ذکر کړیدے : ﴿يَوۡمَ ظَعۡنِكُمۡ وَيَوۡمَ إِقَامَتِكُمۡ﴾ نو څوك چه په کومه ورځ سفر کوی نو دا مسافر دے او څوك چه اِقامت اختیاروی بس دا مُقیم دے۔ او ددے بیان د نبی ﷺ په فعل سره شویدے چه هغه د څلورو ورځو نه په زیات وخت تیرولو کښې اقامت کړیدے او څلورو ورځو پورے ئې قصر کړیدے۔

٣- او د صحابه کرامؓ د آثارو نه جواب دا دے چه یو خو دا آثار صریح نهٔ دی په مُدعیٰ ثابتولو کښې ځکه دے صحابه کرامؓ قصد د اقامت نهٔ وو کړے بلکه دوی مُضطر (مَجۡبُوره) وو۔ لکه روستو به راشی۔

بلـه دا چه دا آثار د بعض صحابه کرامؓ دی چه ددے سره د نورو صحابه کرامؓ اقوال متعارض شویدی۔ لکه علی ؓ فرمائی : څوك چه لس ورځې اِقامت کوی نو هغه به اتمام کوی او دا یو روایت د ابن عباسؓ دے۔

★- او د ابن عباسؓ نه نقل دی : که مونږ نورلس ورځې پاتے کیدو نو اتمام به کوو۔

★- د ابن عمرؓ نه نقل دی چه هغه به کله د دولسو ورځو د اِقامت اراده وه نو اتمام به ئې کولو۔

★- عائشه رضی الله عنها فرمائی : تر هغه وخت پورے به قصر کوی ترڅو چه توخه او توخه دان کیدی۔

★- عمر فاروقؓ نه نقل دی چه هغه به د پنځلسو ورځو په نیت باندے اِقامت کښې اتمام کولو او که ددے نه به کم وو نو بیا به ئې قصر کولو۔

او دا مُسَلمه قاعده ده چه کله د صحابه کرامؓ خپلو کښې مختلف اقوال راشی نو پدے باندے بیا احتجاج نشی کیدے۔ ځکه د بعض صحابه کرامؓ قول په بعض نورو باندے حجت نهٔ دے۔ دارنګه د یو صحابی په ډیرو اقوالو کښې به صرف په یو قول د هغه باندے احتجاج نشی کولے۔

د اتم دلیل د حدیث جابرؓ نه چه نبی ﷺ په تبوك کښې شل ورځې اقامت اُوکړو او بیا ئې هم قصر کولو- جواب دا دے چه دا استدلال په محل د نظر کښې دے ځکه چه په تبوك کښې یا په فتح د مکه کښې د نبی ﷺ شل یا نورلس ورځو کښې قصر کول پدے وجه وو چه هغه ددغه خاص متعینے مقررے مودے د اقامت نیت نهٔ وو کړے نو دا اقامت غیر مقصوده وو ځکه د جهاد په موقعه کښې د انسان د خاص ورځو نیت نهٔ جوړیږی ځکه پته نهٔ لګی چه مخے ته به څه راځی، څومره وخت کښې به فتح کیږی نو دیته اِضطراری او مجبوری

اِقامت وائی نهٔ قصدی۔ لهذا که د چا دغه شان حال وی نو هغه له قصر پکار دیے، که هر څومره موده وی۔ او هر چه په حجة الوداع کښې دیے نو د هغے موده د اقامت معلومه وه، ابتداء او انتهاء ئیے مقرر ده۔نو چه نبی ﷺ څلور ورځے په مکه کښې پاتے شو او قصرئیے کولو نو دا دلیل دیے چه بس دا حد فاصل دیے۔ چه څلورو ورځو نه زیاتو کښې به اتمام کوی او څلورو نه چه کم وی نو قصر به کوی۔

د دیارلسم دلیل چه علت د سفر دفع د مشقت او حرج ده، جواب دا دیے چه منو دا خبره، لیکن څوك چه څلور ورځو نه زیات اِقامت کوی نو د هغه نه شرعاً حَرَج مَرفوع شو۔ او هغه د مُقیم په شان شوحَرَج ئیے ختم دیے۔

خلاصه : لهذا دا قول ثانی راجح ښکاری په دغه دوه اقوالو کښې لیکن ددیے نه بعض صورتونه مستثنیٰ دی د هغے لحاظ چه اُوکړیے شی نو جمع د ټولو دلائلو او عمل په ټولو راځی۔

۱- الاحوال المستثنیات :

۱- یو انسان سفر اُوکړی او د اقامت اراده ئیے نهٔ وی لیکن د کوم کار دپاره ئیے چه سفر کړیے وی نو د هغے په حاصلولو کښې د انسان نه وخت ډیر اُولګی نو غیر معینے زمانے پورے پاتے شی او د پاتے کیدو اراده ئیے د مخکښې نه نهٔ وی لکه مجاهدین یو یے معرکے ته لاړ شی چه هلته د جنګی مشقونو او تربیت او صفونو تیارولو کښې ډیر وخت اُولګی یا ئیے د یو یے قلعه نه ګیره اَچولی وی، یا د جنګ کولو نه پس څو ورځے پاتے شی چه اسلام خلقو ته خور کړی او د کافرانو په زړونو کښې رُعب واقع شی۔ نو پدیے وخت کښې انسان به قصر کوی او دا مسافر حسابیږی اګرکه موده هر څومره تیره شی۔ دلیل پر یے حصاریدل د نبی ﷺ دی په تبوك او فتح د مکه کښې۔

۲- **دویم حالت** : یو انسان یو ځائے ته سفر اُوکړی، لیکن بیا په مینځ د سفر کښې هغه په اقامت باندیے مجبور شی لکه لاره بنده شی، دشمن ورته مخے ته راووځی یا واوره، سیلابونه یا مرض یا نفقه ختمیدل یا جیل ته اَچول وغیره داسے احوال ورته عارض شی نو دا به هم مسافر حسابیږی اګرکه ډیره موده هلته کښې پاتے شی ځکه چه دهٔ نیت د اِقامت نهٔ دیے کړیے، بلکه مجبوراً پاتے دیے۔لکه عبد الله بن عمرؓ په آذربیجان کښې شپږ میاشتو پورے پاتے وو او قصر به ئیے کولو۔ ځکه واورو لاره بنده کړیے وه۔

۳- **دریم حالت** : یو انسان په سفر او اقامت دواړو باندیے په یو ځائے مجبوره شی لکه یو تن ته ګورنری اُوسپارل شی چه هغه پر یے رضا نهٔ وی یا په یو داسے عمل مُکلف شی

چه دے د هغے په نافذولو کښې سفر او اقامت ته محتاج وی لکه امام مسروق رحمه الله سره دا کار شوے وو. نو که د چا داسے حال وی نو هغه په حکم د مسافر کښې دے ځکه سفر به کوی او دارنګه دۀ قصد نۀ دے کړے د اقامت په خپله خوښه لیکن د هغه د ګورنرئ د کارونو د مجبورتیا د وجه نه په هغه مقام کښې پاتے کیږی. نو د حالت د اِکراه او د حالت د رضا فرق به کولے شی.

٤- یو مسافر د یو معین غرض دپاره د اقامت نیت اُوکړی چه هغه معین نۀ وی په زمانه پورے بلکه کله چه د هغه غرض پوره شی نو خپل وطن ته به ځی، زمانه پکښې نۀ متعین کوی چه څو ورځے دی. لکه هغه تاجران چه سفر اُوکړی د سامان خرڅولو یا اَخستلو دپاره یا د رسمی کارونو د پوره کولو دپاره چه کله د هغوی غرض پوره شی نو بس خپل وطن ته به واپس ځی نو د دوی موده د سفر هم نۀ ده معلومه دا به هم قصر کوی.

٥- کوم تاجران وغیره چه دا خیال اُوکړی چه زما غرض به د څلورو ورځو نه زیات وخت واخلی او د څلورو ورځو نه زیات نیت اُوکړی نو آیا دوی به مسافر وی که مقیم؟ پدے کښې اختلاف دے. راجح قول دا دے چه دوی مُقیم دی او مسافر نۀ دی ځکه چه څلورو له شریعت اعتبار ورکړے دے په سفر کښې لکه مخکښې قول ثانی کښې تفصیلًا ذکر شو.

٦- د معین غرض د حاصلولو دپاره نیت اُوکړی چه هغه په معینه زمانه کښې حاصلیږی نو آیا دا به مسافر وی؟ پدے کښې هم دوه قوله دی راجح قول د جمهورو دے چه که څلورو ورځو نه زیات وو نو دا مُقیم دے او که کم وو نو بیا مسافر دے.

٧- یو انسان د مطلق اقامت نیت اُوکړی په ځائے د سفر کښې لکه هغه عُمّال چه د یو کار دپاره اُوسیږی یا هغه تاجران چه د تجارت په غرض اُوسیږی یا سفیران وغیره چه هغوی د اقامت عزم کړے وی څۀ موده پورے، نو دا په حکم د مُقیمینو کښې دی. او په دوی کښې هغه کاروباریان هم داخل دی چه کورئے یوه علاقه کښې وی او کاروبارئے په بله علاقه کښې وی او هفته په هفته کور ته ځی راځی.

تنبیه : دا مسئله اجتهادی ده پدے وجه مسلمانانو له پکار دی چه چا ته کومه راجحه ښکاره کیږی نو د نورو سره دِے پدے کښې اختلافات اوبے محبتی نۀ پیدا کوی او خپله خبره دِے په بل باندے خامخا نۀ نافذ کوی. او مونږ ته قول ثانی راجح ښکاری ځکه چه اول قول – چه عرف ته سپارل دی – د عمل په لحاظ مشکل دے او په بعض مواضعو کښې د هغے معلومول مشکل کیږی، انسان ته پته نۀ لګی چه زۀ پدے حال کښې مسافر یم او که مُقیم؟. وبالله التوفیق والله تعالی اعلم واعز واکرم.

الفصل الاول

۱- عَنْ اَنَسٍ: اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ صَلَّى الظُّهْرَ بِالْمَدِيْنَةِ اَرْبَعًا، وَصَلَّى الْعَصْرَ بِذِي الْحُلَيْفَةِ رَكْعَتَيْنِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : انس ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ په مدینه کښې د ماسپښین مونځ څلور رکعاته اُوکړو او په ذی الحلیفه کښې ئے د مازیګر دوه رکعاته اُوکړل۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : ذی الحلیفه د مدینے نه درے میله فاصله کښې ده او د مدینے والو د احرام دپاره میقات دے۔ پدے باندے اهل ظواهر استدلال کوی چه درے میله کښې به قصر کولے شی، او دا د سفر دپاره حد مکانی شو، بس څوك چه درے میله فاصله باندے د خپل کلی نه اُووتو نو هغه دپاره قصر جائز دے۔ لیکن دا استدلال صحیح نۀ دے۔ وجه دا ده چه دلته خو نبی ﷺ د سفر په اراده باندے مکے ته روان دے نو ځکه په ذی الحلیفه کښې قصر کوی او داسے نۀ ده چه ذی الحلیفه پورے سفر کوی، دا غایه د سفر نۀ ده۔ او دا مسئله ده چه کله د انسان لرے اراده وی نو د ښار د کورونو نه چه بهر شی نو قصر کول ورله جائز دی۔

مسئله مهمة -- د قصر مونځ به د کوم ځائے نه شروع کوی؟

نو دے حدیث کښې د هغے اندازه راغله چه کله د خپل کلی نه رابهر شی او د سفر اراده ئے وی نو دغه وخت نه قصر شروع شو۔ لکه ابن قدامةؒ په المغنی (۹۷/۲) کښې وائی : د هغه چا دپاره چه د سفر نیت اُوکړی قصر نۀ دے جائز، تردے چه د خپل ښار یا دکلی د کورونو نه بهر شی او هغه خپل شاته پریدی۔ او دا قول د مالكؒ، اوزاعیؒ، احمدؒ، شافعیؒ، اسحاقؒ او ابوثورؒ دے (او دا قول د ابوحنیفةؒ هم دے)۔

او ۲- د امام مالك نه یو قول دا نقل دے چه درے میله فاصله لاړو نو قصر به شروع کوی۔

۳- **امام مُجاهدؒ** وائی چه د ورځے سفر کښې تر ماښام پورے به قصر نۀ کوی او که د شپے سفروو نو تر صبا پورے به قصر نۀ کوی۔ (دا قول خو بالکل بے دلیله او بے تحقیقه دے)۔

٤- **بعض تابعینؒ** وائی چه د کور نه قصر شروع کولے شی۔ لکه عطاء وائی : څوك چه د سفر اراده لری د هغه دپاره په کلی کښې قصر مباح دے۔

★- **حارث بن ابی ربیعةؒ** به چه کله د سفر اراده وه نو په کور کښې به ئے د جَمعے سره دوه رکعاته مونځ اُوکړو او په هغوی کښې به اسود بن یزیدؒ او نور شاګردان د عبد الله بن مسعودؓ وو۔ ★- **عطاءؒ** نه دا هم نقل دی چه د خپل کور نه اُووځی او د ښار د کورونو نه نۀ وی جدا شوے او د مانځه وخت پرے راشی نو قصر ورله مباح دے۔

پدے تہولو کښې راجح قول د جمهورو دے چه د خپل کلی نه اُووځی نو قصر به شروع کیږی۔ لکه دا حدیث د انس بن مالكؓ پرے دلیل دے چه رسول الله ﷺ په مدینه کښې څلور رکعاته اُوکړل او په ذی الحلیفه کښې دوه رکعاته۔

او کوم علماء چه په کور کښې د قصر په جواز قائل دی نو هغوی د صحابه کرامو اعمال پیش کوی چه هغوی روژه په کور کښې ماته کړیده کله ئے چه د سفر اراده کړیده لکه:

★- **محمد بن کعبؒ** وائی: زه انس بن مالكؓ ته په رمضان کښې راغلم او د هغه اراده د سفر وه او سورلئ ئے تیاره شوے وه، او د سفر جامے ئے اَغوستے وے نو طعام ئے راطلب کړو او وے خوړو، ما ورته اُووئیل: آیا دا کار سنت دے؟ هغه اُوفرمایل: (آؤ) سنت دے۔ بیا سُور شو۔ (ترمذی ۱/۱۶٤) رقم (۸۰۳) وصححه الشوکانی وابن العربی والقرطبی وابن عبد البر والالبانی رحمهم الله)

★- او دغه شان **عمل د ابوبصره** غفاری ﷺ دے، عبید بن جبیرؒ وائی: زهٔ د ابوبصرهؓ سره په رمضان کښې د مِصر نه په کشتئ کښې سور شوم نو روان شو بیا ئے خوراك رانزدے کړو بیا ئے اُووئیل: راوړاندے شه، ما ورته اُووئیل: آیا ته د کورونو مینځ کښې نه ئے؟ ابوبصرهؓ اُوفرمایل: (اَرَغِبتَ عن سُنَّةِ رسول الله ﷺ) آیا ته د رسول الله ﷺ د سنت نه اعراض کوے؟ (ابوداود ۱/۳۳۵) رقم (۲٤۱۲) وصححه الالبانی واحمد ورجاله ثقات کما فی النیل ٤/۳۱۱)

نو ګوره دے صحابه کرامو کورونو مینځ کښې روژه ماته کړیده، نو دغه شان قصر هم ورله کور کښې جائز دے۔ لیکن ظاهر دا ده چه په مرفوع احادیثو کښې دا دی چه د نبی ﷺ عام عادت دا وو چه د کلی نه به بهر شو نو هله به ئے قصر کولو۔ او پدے آثارو کښې د روژے ماتولو خبره راغلے ده، او یو قصر دے د هغے تذکره پکښې نشته لهذا قیاس د احدهما په آخر باندے جائز نهٔ دے، د قصر په کور کښې نقل نشته نو قصر به په کور کښې جائز نهٔ وی او که چا روژه په کور کښې ماته کړه کله ئے چه اراده د سفر وی نو ان شاء الله چه جائز به وی۔

۲- وَعَنْ حَارِثَةَ بْنِ وَهْبٍ الْخُزَاعِيِّ، قَالَ: صَلّٰى بِنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ وَنَحْنُ اَكْثَرُ مَا كُنَّا قَطُّ، وَآمَنُهُ بِمِنًا، رَكْعَتَيْنِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: او حارثه بن وهب خزاعی ﷺ فرمائی: رسول الله مونږ ته په مِنیٰ کښې دوه رکعاته مونځ اُوکړو پداسے حال کښې چه مونږ په ډیر تعداد کښې وو چه هیڅ کله دومره نهٔ

وو۔او د امن په حالت کښې وو۔ (بخاريّ ومسلمٌ)

تعارف د حارثه بن وهب : دا صحابي دے او په کوفه کښې اُوسيدو او د عبيد الله بن عمر بن الخطاب د مور د طرفنه ورور دے، ددۀ مور اُم کلثوم بنت جرول بن المسيب الخزاعية عمر بن الخطاب په نکاح اخستے وه۔

تشريح : دا حديث دليل دے چه په حالت د اَمن کښې هم قصر د مانځه جائز دے او دا د شريعت سَماحت او آسانتيا ده ځکه چه سفر کښې امکان د مشقت وي، اګرکه في الحال مشقت نۀ وي۔ نو رد دے په هغه چا چه په اَمن حالت کښې د مانځه قصر جائز نۀ ګڼړي۔

مسئله: په مِنیٰ وغيره کښې به مُسَافر او مُقيم دواړه دوه رکعاته کوي او دا د سُننو د حج نه ده، برابره ده چه امام مسافر وي او که مُقيم وي خو دوه رکعاته به کوي او مقتديان به هم دوه رکعاته کوي۔ دا وجه ده چه اُوسني عرب هم پدے طريقه عمل کوي اګرکه مُقيم وي۔ ځکه نبي ﷺ پدے ورځو د حج کښې دلته دوه رکعاته کړيدي او روستو خلفاء راشدينؓ هم دوه رکعاته کړيدي۔ او دلته هم د نبي ﷺ سره مکے والا صحابه کرام شته او هغوي هم ورسره قصر کړيدے نبي ﷺ هغوي ته حکم په اتمام نۀ دے کړے۔

احناف وائي : مکه کښې چه څوك د پنځلس ورځو نه زيات قيام کوي نو هغوي به مِنیٰ کښې مسافرانه مونځ نه کوي ځکه د مکے او د مِنیٰ ترمينځ مَسَافه د سفر نشته۔ دوي په خپلو قواعدو عمل کوي چه څوك په مکه کښې پنځلس ورځے تيرے کړي نو په مِنیٰ او عرفات او مزدلفه کښې به قصر نۀ کوي، پوره مونځ به کوي۔ ليکن دا د سُنت خلاف ده۔ که څوك اُووائي چه نبي ﷺ مسافر وو ځکه ئے قصر کړيدے نو ابوداود وغيره کښې د هغے جواب موجود دے چه مکے والو هم د نبي ﷺ سره قصر کړيدے۔

(ابوداود : باب القصر لاهل مكة) رقم (١٩٦٧)

امام ابوداودؒ فرمائي : حارثه بن وهبؓ د خزاعه قبيلے نه دے او ددۀ کور په مکه کښې دے او د نبي ﷺ سره ئے په مِنیٰ کښې قصر کړيدے۔

او کوم حديث د ترمذي چه په روايت د عمران بن حصينؓ راغلے دے چه نبي ﷺ به په مکه کښې دوه رکعاته کول او بيا به ئے فرمايل : اے مکے والو تاسو ځانله مونځ پوره کړئ مونږ مسافر يو۔) نو حافظ ابن حجرؒ فرمائي : چه يو خو دا روايت ضعيف دے د علي بن زيد بن جدعان په وجه۔

★ دويم دا چه : که صحيح شي نو دا قصه په فتح د مکه کښې وه او قصه د مِنیٰ په حجة الوداع کښې وه۔ او ددے بيان ضروري وو ځکه چه زمانه ډيره تيره شوے وه۔ انتهیٰ۔ لهذا

صحيح جواب دا شو چه هغهٔ مِنیٰ نهٔ وه بلکه په داخل د مکه کښې وو۔
وَنَحْنُ اَكْثَرُ مَا كُنَّا : ۱- ما مصدريه ده او (كنا) په معنیٰ د جمع (يعنی اكوان) سره دے معنیٰ دا ده: (والحال انا فی ذلك الوقت اكثر اكواننا فی سائر الاوقات عدداً واكثر اكواننا فی سائر الاوقات اَمناً) يعنی مونږ په دغه موقعه كښې د شمار او د امن په لحاظ ډير زيات وو۔ او (قط) لفظ كله په مقام د اثبات كښې هم استعماليږی لكه دا حديث او ددے نظائر شو۔ نو ددے لفظی معنیٰ دا ده: (يعنی مونږ ته رسول الله ﷺ په مِنیٰ كښې دوه ركعاته اُوكړل پداسے حال كښې چه مونږ زيات وو د هغهٔ حال نه چه مونږ پكښې چرے وو، او مونږ ډير امن حال والا وو)۔
۲- يا ما نافيه ده او اكثرَ منصوب دے د لفظ (ما) په وجه ځكه (ما) په معنیٰ د (ليس) ده نو په معمول متقدَم كښې هم عمل كولے شی۔ او (كنا) ورله خبر دے۔ (ای ونحن مَا كُنَّا اَكْثَرَ قَطُّ اَكْثَرَ مِنَّا فی هذا الوقت ولا آمَنَ مِنَّا فِيْهِ) (يعنی مونږ هيچرے دومره زيات نهٔ وو څومره چه مونږ په دغه موقعه كښې زيات وو او امن والا وو په دغه وخت كښې)

۳- وَعَنْ يَعْلَى بْنِ اُمَيَّةَ، قَالَ: قُلْتُ لِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ: اِنَّمَا قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى: ﴿ اَنْ تَقْصُرُوْا مِنَ الصَّلٰوةِ اِنْ خِفْتُمْ اَنْ يَّفْتِنَكُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ﴾، فَقَدْ اَمِنَ النَّاسُ. قَالَ عُمَرُ: عَجِبْتُ مِمَّا عَجِبْتَ مِنْهُ، فَسَاَلْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ. فَقَالَ: «صَدَقَةٌ، تَصَدَّقَ اللّٰهُ بِهَا عَلَيْكُمْ، فَاقْبَلُوْا صَدَقَتَهٗ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: او يعلی بن اُميه ﷺ فرمائی: ما عمر بن خطاب ﷺ ته اُووئيل: الله تعالیٰ فرمائی: (په تاسو گناه نشته) چه تاسو كم مونځ اُوكړئ (يعنی قصر اُوكړئ) كه تاسو ته دا خوف وی چه كافران به تاسو ته عذاب دركړی۔ نو (اُوس) خو خلق په اَمن كښې دی (خوف ختم شويدے نو اُوس به قصر ته ضرورت وی؟) نو عمر فاروق اُوفرمايل: ما (هم) د هغهٔ څهٔ نه تعجب كړے وو كوم نه چه تا تعجب اُوكړو، بيا ما د رسول الله ﷺ نه (دے په باره كښې) تپوس اُوكړو نو هغهٔ اُوفرمايل: «(قصر مونځ) د الله تعالیٰ د طرفه صدقه ده چه الله په تاسو باندے كړيده لهٰذا د هغهٔ صدقه قبوله كړئ»۔ (مسلمٌ)

تشريح: حاصل د سوال دا دے چه قرآن كريم كښې خو (ان خفتم) وئيلے شويدے يعنی چه يَره وی نو هله به قصر كوئ او حال دا چه اُوس خو يَره ختمه شويده او حال دا چه نبی ﷺ خو په حالت د امن كښې هم په سفر كښې د قصر مونځ كړيدے۔ عمرؓ ورته اُووئيل چه

ما هم دغه شان تعجب کړے وو او دا د تعجب خبره ځکه ده چه نبی ﷺ قصر کړیدے او قرآن کریم وائی چه خوف وو نو هله به قصر کوئ۔

نو ظاهره کښ د نبی ﷺ عمل د قرآن کریم خلاف معلومیږی۔ نو رسول الله ﷺ ورته اُوفرمایل: چه دا قصر د الله صدقه ده او قبوله ئے کړئ، د نبی ﷺ د جواب حاصل دا شو چه زهٔ بـه پـوهیـږم نـو داسے عمل کوئ اگرکه خوف نهٔ وی ځکه دا قصر د الله صدقه ده د خوف سره تعلق نهٔ لری۔ نو بس د صحابه کرامؓ پدے خبره تصدیق اُوشو، ځکه صحابه کرامؓ به قرآن د حدیث په مقابله کښ نهٔ پیش کولو چه ته خو دا خبره کوے او قرآن کریم کښ داسے دی بلکه صحابه کرامؓ ته به چه نبی ﷺ یوه خبره اُوکړه چه داسے عمل کوئ بس هغوی به (آمنا و سلمنا) وئیله، زمونږ د متأخرینو په شان نهٔ وو چه قرآن کریم د حدیث مقابله کښ پیش کړی او بیا حدیث پریدی او د قرآن نه په خپله طبع د خپل مذهب او د خپلے رائے ثابتولو کوشش شروع کړی۔

او ددے سوال د عمر فاروق او یعلی بن امیه نه نور جوابونه هم موجود دی۔

۲- او هغه دا چه قرآن کریم کښ چه (ان خفتم) قید راغلے دے نو دا قید اتفاقی دے او نبی ﷺ به الله پته وحی کړے وه چه بغیر د خوف نه هم مُسافرانه مونځ کول جواز لری او قرآن کریم کښ چه د خوف قید لګیدلے دے نو د هغے حکمت دا دے چه دا آیت اصل کښ په صلاة الخوف کښ نازل وو نو ځکه د خوف قید لګیدلے دے نو پدے کښ نفی د غیر حالت الخوف نشته۔ او د نبی ﷺ غالب سفرونو کښ خوف د دشمن موجود وو نو دا قید د موقع په وجه لګیدلے دے۔

۳- **جواب**: علامه حافظ ابن القیمؒ په زاد المعاد (۱/ ٤٤٤) کښ ددے قید د فائدے ذکر کولو متعلق داسے وئیلی دی چه دلته دوه قصره دی ۱- قصر العدد چه څلورو نه دوه جوړ شی۔ ۲- دویم قصر الارکان بالتخفیف: چه ارکانو کښ اختصار اُوکړے شی لکه قراءت رکوع او سجده مختصر اُوکړے شی او هر یو سره دوه قیدونه لګیدلی دی ۱- الضرب فی الارض۔ ۲- الخوف۔ نو کله چه دواړه موجود شی یعنی سفر هم وی او خوف هم وی نو دواړه قسمه قصر به کولے شی او کله چه دواړه نهٔ وی نو بیا به دواړه قسمه قصر منتفی وی او کله چه سفر وی او خوف نهٔ وی نو بیا به قصر العدد کیږی او قصر الارکان به نهٔ کیږی او که سفر نهٔ وی (مُقیم وی) او خوف وی نو بیا به قصر الارکان کیږی او عدد د مانځه به پوره ادا کولے شی۔ انتهیٰ۔

فائده: نبی ﷺ به غالباً د یو شی حکمت نهٔ بیانولو بلکه صحابه کرام او اُمت ئے په

اتباع باندے اموختہ کول چہ بس زۀ درتہ وایم داسے اُوکڑہ نو ھغہ بہ کوے کہ ھر څہ نکتہ پکښ وی خو پہ اُمت باندے د ھغے کول ضروری دی۔ او نبی ﷺ بہ څکہ نکتے د ھر شی نۀ بیانولے چہ بیا بہ خلق د نکتو او فائدو د وجہ نہ ایمان راوړی، کہ نکتہ او حکمت ورتہ ښکارہ کیدو نو ایمان بہ راوړی او کہ ھغہ ورتہ نۀ ښکاری نو ایمان بہ نۀ راوړی نو دا د تجرید المتابعة (د نبی ﷺ د خالص اتباع) خلاف کار دے۔

۲- احادیث بیان د کتاب اللہ دے نو تخصیص د کتاب اللہ او تعمیم پہ کتاب اللہ کښ راوستے شی۔لکہ دلتہ ئے چہ تخصیص پورتہ کړیدے لھذا زیادت د خبر واحد پہ کتاب اللہ بالکل جائز دے۔

۳- احناف زیادت د خبر واحد پہ کتاب اللہ نۀ منی او حال دا چہ پدے حدیث کښ زیادت راغلے دے پہ کتاب اللہ باندے څکہ کتاب اللہ کښ قید د خوف ذکر دے او حدیث کښ تعمیم دے۔

فَاقْبَلُوا صَدَقَتَهُ : د احنافو پہ نیز دا اَمر د وجوب دپارہ دے کہ چا دا صدقہ قبولہ نۀ کړہ نو ھغہ سخت گناھگار دے۔ ۲- امام شافعیؒ وائی : دا اَمر د اباحت دپارہ دے او اتمام افضل دے۔ او قصر رخصت دے۔ ۲- مالكؒ او احمدؒ وائی امر د استحباب دپارہ دے۔

اُوس کہ څوك دا صدقہ قبولہ نۀ کړی او انکار اُوکړی نو سخت گناھگار بہ وی او کہ څوك ئے قبولہ کړی یعنی وے منی چہ قصر جائز دے لیکن اتمام تہ افضل وائی نو دا ھم قبلول دی نو انسان بہ دے وخت کښ نۀ وی گناھگار۔ نو فرق دے پہ مابین د نۀ قبلولو کښ پہ طریقہ د انکار کولو او پہ مابین د نۀ عملی کولو کښ۔

نو احناف وائی چہ (فاقبلوا) کښ امر راغلے دے او امر د وجوب دپارہ دے لھذا دا قبلول واجب دی نو قصر کول لازم او اِتمام گناہ دہ۔ او نور علماء وائی چہ قبول پہ معنیٰ د عدم رد سرہ دے او مونږ ھم دا نۀ رد کوو بلکہ قصر تہ جائز او مباح وایو۔ نو دا ھم قبلول شو۔

مگر د احنافو د طرفنہ وئیلے شی چہ د اللہ د طرفنہ صدقہ پہ ھغہ شی کښ چہ ھغہ احتمال د تملیك نۀ لری عبارت وی د اسقاط نہ نو دا احتمال د اختیار او عدم اختیار د قبول نۀ لری۔ (یعنی د (فاقبلوا) معنیٰ بہ دا وی چہ ما درنہ اتمام ساقط کړو او قصر در باندے لازم شو، اُوس ستاسو اختیار پہ قبلولو او نۀ قبلولو کښ نشتہ شرعاً)۔ لیکن د مخکنو دلائلو نہ معلومیږی چہ قصر سنت دے او واجب نۀ دے۔کہ پورہ مونځ ئے اُوکړو نو نا روا نۀ دہ۔ او د (فاقبلوا صدقتہ) مطلب دا دے چہ رخصت اُومنئ۔

٤ – وَعَنْ اَنَسٍ، قَالَ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ مِنَ الْمَدِيْنَةِ إِلٰى مَكَّةَ، فَكَانَ يُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ، حَتّٰى رَجَعْنَا إِلَى الْمَدِيْنَةِ قِيْلَ لَهٗ: أَقَمْتُمْ بِمَكَّةَ شَيْئًا؟ قَالَ: أَقَمْنَا بِهَا عَشْرًا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او انس ﷺ فرمائی : مونږ د رسول الله ﷺ سره د مدینے نه مکے ته روان شو، نو هغهٔ به (په ټول سفر کښې) دوه دوه رکعاته مونځ کولو تردے چه مونږ بیرته مدینے ته راواپس شو۔ نو انسؓ ته اُووئیل شو : آیا تاسو په مکه کښې څهٔ وخت حصار شوی وئ؟ هغهٔ اُوفرمایل : مونږ مکه کښې لس ورځے اُوسیدلی وو۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

: پدے حدیث کښې رد په مذاهب ثلاثه ؤ باندے چه هغوی درے او څلور ورځے موده د سفر ګنړی، او حال دا چه پدے حدیث کښې خو لس ورځے راغلے په احنافو باندے رد روستو حدیث کښې راځی۔ لیکن جواب دا دے چه دلته لس ورځے په مکه او ماحول کښې مراد دی۔

عَشْرًا: بیا **سوال** دا دے چه روستو فصل ثانی کښې راځی چه دوی اتلس ورځے په مکه کښې حصار وو او دلته وائی لس ورځے؟۔

الجواب : دا لس ورځے په حجة الوداع کښې وے، او اتلس یا نورلس ورځے په فتح د مکه کښې وے۔ لهذا واقعے جدا جدا دی۔ او دلته ئے په مکه لس ورځے تیرول راغلی دی لیکن ددے نه مراد مکه او د هغے ماحول (مِنٰی، مزدلفه او عرفات) دی۔ او که صرف په مکه کښې وخت تیرول واخستے شی نو په مکه کښې ئے څلور ورځے تیرے کړیدی او په دغه موده کښې ئے قصر کړے دے نو بناء پدے بیا دا دلیل د امام احمدؒ دے چه څلور ورځے موده د قصر ده۔ وهو الراجح دلیلًا کما تقدم۔

٥ – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: سَافَرَ النَّبِيُّ ﷺ سَفَرًا، فَأَقَامَ تِسْعَةَ عَشَرَ يَوْمًا يُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ. قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: فَنَحْنُ نُصَلِّيْ فِيْمَا بَيْنَنَا وَبَيْنَ مَكَّةَ، تِسْعَةَ عَشَرَ، رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ، فَإِذَا أَقَمْنَا أَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ صَلَّيْنَا أَرْبَعًا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : او ابن عباس ﷺ فرمائی : نبی ﷺ یو سفر اُوکړو نو (په هغے کښې ئے نورلس ورځے قیام اُوکړو چه دوه دوه رکعاته به ئے کول۔ ابن عباسؓ اُوفرمایل : نو مونږ چه د مکے او زمونږ (یعنی مدینے) ترمینځ (کوم ځائے) نورلس ورځے (قیام کوو نو) دوه دوه رکعاته به کوو، او کله چه مونږ ددے (مدینے نه) زیاتِ وخت تیروو نو بیا به څلور رکعاته کوو۔ (بخاریؒ)

تشریح : فَأَقَامَ تِسْعَةَ عَشَرَ يَوْمًا : دا سفر د فتح د مکے دے۔ نو ځکه نورلس ورځے یادوی۔ پدے کښې رد دے په احنافو باندے چه هغوی د سفر موده پنځلس ورځے ذکر کوی او حال دا چه دلته نبی ﷺ په نورلسو ورځو کښې هم قصر کریدے۔ نو دا دلیل د امام اسحاق بن راهويۃ دے۔

لیکن اَحنافو سره خو د تاویل بوجئ ډکے دی نو هغوی پدے کښې داسے تاویل کوی چه پنځلس ورځے موده د قصر ده او هر چه دا باقی ورځے دی نو دا (لِشغل علی عمل الخروج) وو (یعنی نبی ﷺ په وتلو مشغول وو نن صبائے کولو) نو ځکه اتفاقی طور سره دوه درے ورځے حصار شو او کله چه انسان دغه شان حالت کښې وی نو هغه دپاره هم قصر جائز دے۔

دا تاویل د خپل مذهب مطابق شویدے او څه دلیل پرے نشته۔ ځکه دا د نبی ﷺ د زړهٔ نه خبر ورکول دی چه هغه نن صبا کولو او عزم ئے په خروج باندے کړے وو۔ او بل روایت کښې ددے څه ثبوت هم نشته چه هغه فرمایلی وی : (انی کنت عازما علی الخروج) (زما د خروج عزم وو لیکن نن صبا کولو کښې پاتے شوم۔) او بله څه قرینه هم نشته۔

او جُمهور علماء وائی چه دا هر څومره موده وی پدے کښې قصر دے ځکه چه دا هغه صورت کښې داخل دے چه یو انسان جهاد یا یو بل کار پسے وتلے وی او موده د پوره کیدوئے نهٔ وی معلومه او کله چه هغه کار حاصل شی نو بیا به سفر ختموی نو دلته نبی ﷺ د اقامت نیت په خاص موده کښې نهٔ وو کړے بلکه په هر څومره موده کښې چه مقصد حاصل شی راواپس کیږی به۔ لهذا دا د مودے د قصر د څلورو نه خلاف نهٔ دے ځکه چه هغه په هغه صورت کښې دے چه مخکښې نه اراده ئے د څلورو ورځو نه زیاته وی۔ کما مر التفصیل منا۔

بیا په مکه کښې د حصاریدو موده کښې مختلف روایات راغلی دی، بعضو کښې دا دی چه نورلس (۱۹) ورځے حصار وو، بعضو کښې دی چه شل (۲۰) ورځے وو (کما رواه عبد بن حمید فی مسنده)۔ او بعضو کښې اُوولس (۱۷) ورځے دی لکه احمدؒ، ابوداودؒ، نسائیؒ، ابن ماجهؒ، ابن حبانؒ او بیهقیؒ وغیره کښې دی۔ او بعضو کښې پنځلس (۱۵) ورځے ذکر دی۔

لکه ابوداود او نسائی کښې دی۔ او دا ټول روایات د ابن عباسؓ نه نقل دی۔

او په بعضو کښې اتلس (۱۸) ورځے دی لکه روستو فصل ثانی کښې د عمران بن حصینؓ په روایت کښې دی۔

نو ددے په تطبیق کښې امام بیهقیؒ وئیلی دی چه زما په نیز باندے راجح قول د نورلس (۱۹) ورځو دے ځکه چه دا ډیر صحیح روایت دے او امام بخاریؒ په خپل صحیح کښې

راوريدے۔ او داسے تطبيق ئے هم كړيدے چه چا نورلس ورځے ذكر كړيدى نو هغه په كښې د دخول او خروج ورځے هم حساب كړيدى او چا چه اتلس ذكر كړيدى نو هغه په كښې يوه ورځ نۀ ده حساب كړے او چا چه اُولس (١٧) ذكر كړيدى نو هغه دواړه ورځے نۀ دى شمارلى۔

حافظ ابن حجرؒ په تلخيص الحبير (١٢٩) كښې ددے تطبيق تائيد كوى : (وهو جمع متين وتبقى رواية خمسة عشر شاذة لمخالفتها ورواية عشرين وهى صحيحة الاسناد الا انّها شاذةٌ ايضًا) (دا ډيره قوى جمع او تطبيق دے، او هرچه د پنځلسو ورځو يا شلو ورځو روايت دے نو هغه شاذ دى) ليكن «فتح البارى» كښې وائى چه روايت د پنځلسو هم صحيح دے۔ نوویؒ ورته په خلاصه كښې ضعيف وئيلے دے۔ ليكن صحيح دا ده چه دا هم صحيح دے نو بيا دا محمول دے په دے چه راوى دا گمان كړيدے چه اصل روايت د اُولسو دے نو دوه ورځے د دخول او خروج ئے ترے حذف كړيدى نو پنځلس ئے ذكر كړيدى۔

نو دا دليل دے چه د نورلسو روايت ډير راجح دے او دا په اكثرو روايات صحيحه ؤ كښې راغلے دے۔ دا ئے وجه د ترجيح شوه۔ انتهىٰ بتغير)

قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: اُوس عبد الله بن عباسؓ ددے حديث نه استنباط كوى چه بس زمونږ دپاره هم دغه (١٩) ورځے موده د قصر شوه۔ ليكن دا استدلال د ابن عباسؓ به هله تمام وى چه كله نبى ﷺ قولاً وئيلى وے چه مونږ دا موده تيره كړه نو بس دا موده د قصر شوه او زيادت كښې قصر نۀ دے جائز او حال دا چه دا بيان خو نشته۔ لهذا دا دليل د قول د ابن تيميةؒ دے چه د سفر دپاره حد نۀ دے معين، كه نبى ﷺ د شلو نه زيات وخت تير كړے وے او په هغے كښې ئے قصر نۀ وے كړے نو مونږ به په دغه موده استدلال كولے چه بس نورلس ورځے اندازه د قصر ده او زيادت كښې نبى ﷺ قصر نۀ دے كړے۔ بلكه دلته دا هم وئيلے شى چه كه نبى ﷺ د پنځه ويشتو ورځو په سفر وتلے وے نو كيدے شى چه هغه بيا هم قصر كولے ځكه منع خو نۀ ده موجوده، چه ددے مودے نه اَخوا قصر نۀ دے جائز۔ بلكه دا اتفاقاً نبى ﷺ نورلس تيرے كړيدى۔ لهذا دا نص نۀ دے په مسئله كښې۔فتدبر!۔

٦– وَعَنْ حَفْصِ بْنِ عَاصِمٍ، قَالَ: صَحِبْتُ ابْنَ عُمَرَ فِي طَرِيْقِ مَكَّةَ، فَصَلّٰى لَنَا الظُّهْرَ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ جَاءَ رَحْلَهٗ، وَجَلَسَ، فَرَاٰى نَاسًا قِيَامًا، فَقَالَ: مَا يَصْنَعُ هٰؤُلَاءِ؟ قُلْتُ: يُسَبِّحُوْنَ. قَالَ: لَوْ كُنْتُ مُسَبِّحًا اَتْمَمْتُ صَلَاتِيْ. صَحِبْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ، فَكَانَ لَايَزِيْدُ فِي السَّفَرِ عَلٰى رَكْعَتَيْنِ، وَاَبَابَكْرٍ، وَعُمَرَ، وَعُثْمَانَ كَذٰلِكَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او حفص بن عاصمؒ فرمائی : زهٔ (یوه ورځ‌ل د ابن عمرؓ سره د مکے په لاره کښې ملګرے شوم، نو هغهٔ مونږ ته د ماسپښین دوه رکعاته مونځ اُوکړو، بیا خپل پالان ته راغلو او کیناستو نو څهٔ کسان ئے ولاړ اُولیدل، وے فرمایل : دا کسان څهٔ کوی ؟ ما عرض اُوکړو : دوی سنت کوی، وے فرمایل : کهٔ ما سنت کولے نو ما به (فرض) مونځ پوره کړے وے، (ځکه فرض مونځ د نفلو نه زیات اَولیٰ دے) زهٔ د رسول الله ﷺ سره (په سفرونو کښې) ملګرے شوے یم، (د هغهٔ عادت مبارك دا وو) چه هغهٔ به په سفر کښې د دوه رکعاتو نه زیادت نهٔ کړلو او دغه شان ابوبکر، عمر او عثمان (رضی الله عنهم) سره (ملګرے شوے یم هغوی به هم دغه شان کار کولو) (بخاریؒ ومسلمؒ)

تعارف د حفص بن عاصم : حفص بن عاصم بن عمر بن الخطاب د تابعینو د طبقه وسطی نه ثقه تابعي دے۔ او عبد الله بن عمرئے تره دے۔ د هغه سره پدے سفر کښې ملګرے شویدے۔

تشریح : اشکال : ددے روایت د ابن عمرؓ نه معلومه شوه چه هغه منع کوی چه سفر کښې نفلونه مهٔ کوئ او روستو فصل ثانی کښې راځی ابن عمرؓ فرمائی : ما د نبی ﷺ سره د ماسپښین مونځ نه روستو دوه رکعاته اُوکړل۔ دارنګه د باب آخری حدیث کښې دی چه عبد الله بن عمرؓ به خپل ځوی عبید الله په نوافلو لیدلو او هغه به ئے نهٔ منع کولو؟ نو ددے اشکال جواب دا دے چه د ابن عمر ؓ رأیه دا وه چه فرق دے په مابین د نوافلو او سنت رواتبو کښې نو سفر کښې نوافل کول جائز دی او سنت نهٔ دی پکار۔

۲– دویم فرق چا دا بیان کړیدے چه د هغه رایه دا وه چه په سورلئ باندے سنت کولے شی او کوزیدل ورته نشته۔ (قاله ابن بطال ونقله الحافظ)

۳– بعضو وئیلی دی چه حدیث الباب محمول دے پدے چه غالب احوالو کښې به هغه سنن رواتب نهٔ کول او کوم روایت کښې چه ثابت دی نو هغه په بعض اوقاتو باندے بیاناً للجواز محمول دی، او اشاره ده چه په سفر کښې د سنتو کول دومره متأکد او قوی نهٔ دی لکه څنګه چه په حضر کښې مؤکد دی۔ (قاله العراقی) نور جوابونه هم شته لیکن ضعیف دی۔ اول جواب غوره دے۔

مسئله : په سفر کښې د سنت رواتبو څه حکم دے ؟

۱– راجح دا ده چه سنت دوه قسمه دی یو هغه دی چه هغه په هیڅ حال کښې نشی پریخودلے او هغه وتر او د سحر سنت دی۔ نبی ﷺ به په سفر کښې وتر په سورلئ هم کول

او په زمکه کښې هم، لکه په عام احادیثو د صحاح او سننو کښې نقل دي او د سحر سنت ئې هم په سفر کښې کړيدي لکه په قصه د ليلة التعريس کښې راځي: (ثم دعا بماء فتوضأ ثم صلى سجدتين (اي ركعتين) ثم اقيمت الصلاة فصلى صلاة الغداة) (فتح الباري ۲/۴۶۲ - صحيح مسلم، دارقطني، وابن خزيمة)

او هر چه باقي سنن دي نو د هغې نهٔ کول سنت دي، او همدا راجح قول دے ځکه اتباع د نبي ﷺ دا ده چه دا سنت پريدی او دا حديث الباب د ابن عمرؓ پرے هم دليل دے۔ چه د نبي ﷺ، ابوبكر، عمر او عثمان دا عمل وو چه هغوی به دا سنت نهٔ کول۔ (متفق عليه)

او هرچه نوافل او تهجد او صلاة الضحى، صلاة الاشراق او ركعتي الزوال وغيره دي نو ددے کول پکار دي۔ او دا د ابن عمرؓ مذهب هم دے چه هغه نوافل مطلقه جائز گڼري او په سنت راتبه کولو باندے رد کوی۔

او هرچه د علماؤ اقوال دي نو هغه پکښې شپږ دي ۱- يو مطلقاً منع دي۔

۲- دويم: جواز مطلقاً۔ ۳- فرق په مابين د سنن رواتب او نوافل مطلقه ؤ کښې۔ او دا مذهب د ابن عمرؓ دے لکه ابن ابي شيبه په اسناد صحيح ذکر کړيدے۔

۴- بعض فرق کوی د ليل او نهار په نوافل مطلقه ؤ کښې۔

۵- بعض فرق کوی په روستنو سنت وغيره کښې نو نفي په روستنو سنتو محمولوی او مخکنی سنت او نوافل مطلقه جائز گڼري۔

۶- ابن القيمؒ دا اختيار کړيده چه نبي ﷺ په سفر کښې نهٔ مخکني سنت کړيدي او نهٔ روستني مگر صرف وتر او سنة الفجر به ئې کول او دا به ئې سفراً او حضراً نهٔ پريخودل۔ زاد المعاد (۱/۴۵۶)

او ۷- امام بخاريؒ په خپل صحيح کښې دا ثابتوی چه مخکني سنت شته او روستني ترے ندي نقل ځکه هغه په خپل رواياتو عمل کوی او مونږ ته خو نور روايات هم صحيح ښکاري لکه د ترمذي وغيره چه هغې کښې بعدي هم نقل دي۔ ليکن هغهٔ نوافل دي۔

او پدے ټولو کښې راجح قول د ابن القيمؒ دے۔ او همدا د سنتو تابعداري ده او کوم رواياتو کښې چه دا راغلي دي چه نبي ﷺ د ظهر نه روستو دوه رکعاته اُوکړل نو هغه نفل دي، نهٔ سنت، ولے که سنت وے نو بيا ئې مخکني ولے نهٔ کول۔ دارنگه باقي مونځونو سره ئې ولے نهٔ کول نو دا دليل دے چه دا تطوع او نوافل مطلقه دي او سنتِ راتبه نهٔ دي۔

بلـه دا چه قصر د مانځه د سهولت او تيسير دپاره شويدے نوکه دا سنت راتبه په سفر کښې ضروري شي نو بيا خو به مشقت راشي او حال دا چه شريعت مشقت دفع کړيدے او

فرض ئے هم نیم کریدی۔ فتدبر۔

او علامه مبارکفوریؒ په المرعاة (۳۹۵/۳) کښ وائی : زما په نیز راجح دا ده چه وتر او سنت د سحر به نهٔ پریدی او هر چه نور رواتب قبلی او بعدی دی نو هغه د بنده په اختیار کښ دی، که کوی ئے نو ثواب به ورته ملاویږی او که نهٔ ئے کوی نو هیڅ حرج پرے نشته۔ یعنی دا مؤکد سنت نهٔ دی۔ د نوافلو په درجه کښ دی۔ انتهیٰ۔

لیکن راجح دا ده چه نبی ﷺ نه سنت نهٔ دی ثابت۔ کما تقدم۔ او که دغه دوه رکعاتو ته څوك سنت وائی نو بیا به داسے اُووایو چه سنت کله کله ثابت دی بیاناً للجواز او عام حالاتو کښ نبی ﷺ پریخودلی دی۔

او کوم روایت د احمد کښ صلاة الرکعتین قبل الظهر راغلی دی نو د هغے نه مراد د زوال نه پس دوه رکعاته دی لکه په بل روایت د ترمذی او ابوداود کښ راغلی دی : ابن عمرؓ فرمائی : (صَحِبْتُ رَسُوْلَ اللّٰه ﷺ ثمانیة عشر سفراً فما رأیته ترك الرکعتین اذا زاغت الشمس قبل الظهر) لهذا دا د زوال مونځ دے۔ ځکه که دا سنت شی نو بیا د ماښام او ماسخوتن سره ولے سنت نهٔ کوی۔

په مغنی (۱۴۱/۲) کښ دی : حسن بصریؒ فرمائی : (کان اصحاب رسول اللّٰه ﷺ یسافرون فیتطوعون قبل المکتوبة وبعدها) یعنی صحابه کرامؓ به د فرائضو نه مخکښ او روستو تطوع کول) بیا ئے د ابن عمرؓ د حدیث او د حسنؒ د حدیث داسے تطبیق کړیدے چه حدیث د حسنؒ دلیل دے چه په کولو ئے څه باك نشته او حدیث د ابن عمرؓ دلیل دے چه په پریخودلو ئے هم څه باك نشته۔ وکما فی فقه السنة (۲۵۲/۱)۔

لیکن دا تطبیق صحیح نهٔ دے ځکه چه ددے حدیث الباب نه معلومه شوه چه عبد اللّٰه بن عمرؓ رد کوی په هغه چا چه په سفر کښ سنت کوی نو څنګه د هغه حدیث د هغه د مراد په خلاف باندے حمل کړے شی بلکه ظاهر دا ده چه د صحابه کرامؓ دغه فعل محمول دے په نوافلو باندے ځکه د تطوع لفظ پرے دلیل دے۔ نو په سفر کښ نوافل زیات کول پکار دی او سنت نهٔ دی پکار۔ او په حضر حالت باندے د سفر حالت قیاس کول هم صحیح نهٔ دی ځکه چه په باب د عباداتو کښ قیاس بند دے۔ او عموماتو نه استدلال کول په یو خاص عبادت کښ صحیح نهٔ دی۔

او بعض جاهلان وائی : اللّٰه خو درته فرض نیم کړل لیکن پیغمبر درته خپل حق نهٔ معاف کوی نو هغه به پوره کوے۔ او څوك چه سنت نهٔ کوی نو هغوی ته ډیر بد ګوری۔ دا خبره ډیره د بے اَدبئ نه ډکه ده، پیغمبر ئے د اللّٰه مقابله کښ اُودرولے دے (والعیاذ باللّٰه) ددے

خبرے نقل کول خپله دليل د رد دے۔ نو په داسے وخت کښې د سنتو پريخودل پکار دى۔
فَكَانَ لَايَزِيْدُ فِي السَّفَرِ عَلٰى رَكْعَتَيْنِ : پدے کښې **اشكال** دا دے چه دلته څنګه مطلقاً نفى کوى حال دا چه نبى ﷺ خو به په سفر کښې نوافل کول لکه فصل ثانى کښې راځى چه نبى ﷺ به د ماسپښين او ماښام نه روستو نوافل کول او صلاة الضحىٰ ئے په سفر کښې کول او تهجد ئے په سورلئ کړيدى؟ نو **جواب** دا دے چه د (لايزيد فى السفر على ركعتين) مطلب دا دے چه سنت به ئے نهٔ کول او فرائض به ئے کم کول او دا مطلب نهٔ دے چه نوافل ئے نهٔ دى کړى۔
وَعُثْمَانَ : دے سره به دا قيد اُولګوے چه په اوله زمانه د خلافت د عثمان کښې ځکه چه په آخره زمانه د عثمان کښې به هغه اتمام کولو۔ علامه زرکشىؒ وائى : هيڅ اشكال نشته ځکه چه د ابن عمرؓ مقصد دا دے چه عثمان به په خپل دور خلافت کښې په سفرونو کښې قصر کولو، سِوىٰ د مِنىٰ نه ځکه د عثمان اتمام صرف په مِنىٰ کښې وو نهٔ په عام سفرونو کښې۔ لکه دا تفسير عمران بن حصينؓ په خپل روايت کښې کړيدے۔ (مرعاة المفاتيح ٣٩٣/٤)

٧– وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَجْمَعُ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ اِذَا كَانَ عَلٰى ظَهْرِ سَيْرٍ، وَيَجْمَعُ بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ. ________

ترجمه: او ابن عباس ﷺ فرمائى : رسول الله ﷺ به چه کله په سفر باندے وو نو د ماسپښين او مازيګر ترمينځ به ئے جمع کوله (يعنى په يو وخت کښې به ئے جمع کول)، او د ماښام او ماسخوتن ترمينځ به ئے جمع والے کولو۔ (بخارىؒ)

تشريح : -- د جمع بين الصلاتين ثبوت او مسائل :

پدے حديث کښې مسئله د جمع بين الصلاتين ده او دا د شريعت يو سماحت او آسانى ده اُمت ته چه کله انسان په سفر کښې وى يا مرض وى يا باران وى نو هغه دوه مونځونه په يو وخت کښې جمع کړى، د ماسپښين او مازيګر او د ماښام او ماسخوتن او هر چه سحر دے نو هغه به جُدا کوى۔ او څوك چه دے سنت طريقه باندے عمل کوى نو هغه نه جمعه او مونځ نهٔ فوت کيږى او څوك چه پدے باندے عمل نهٔ کوى نو د هغوى نه اکثر د مونځونو وختونه په سفر کښې ضائع شى كما جُرب بذلك۔ او بله دا چه د سفر د کوزيدو او ختلو نه او د زيات وخت لګيدو نه انسان محفوظ کيږى۔ او د سفر مشقت په انسان آسانيږى۔ نو ځکه شريعت داسے اجازت ورکړے دے۔

بیا جمع بین الصلاتین دوه قسمه ده یو هغه ده چه سنت وی لکه جمع په عرفات او مزدلفه کښې نو دا ضروری ده او د حج د افعالو نه ده۔ ۲- او هر چه په سفر، باران او مرض کښې جمع بین الصلاتین ده نو دا رخصت دے او پدے باندے هم عمل کول سنت باندے عمل کول دی لکه د عبد الله بن عباسؓ نه نقل دی (هی سنة) (البیهقی ۱۶۵/۳)

یعنی دا جمع بین الصلاتین هم سنت ده او په رخصت باندے عمل کولو ته هم شریعت ترغیب ورکړے دے لکه نبی ﷺ فرمائی : (ان الله یحب ان تُؤتٰی رُخصَهٗ کَمَا یَکرَہُ اَنْ تُؤتٰی مَعْصِیَتُهٗ) (احمد ۱۳۵/۸) مجمع الزوائد (۱۶۲/۳) (الله دا خوښوی چه د هغه ورکړی رخصتونو باندے عمل اُوکړے شی لکه څنګه چه دا بَده ګنړی چه د هغه معصیت اُوکړے شی) نو جمع بین الصلاتین ته بد کتل او یا ددے نه انکار کول ګناه ده لکه حدیث ابن عمر کښې دی رسول الله ﷺ فرمائی : (من لم یقبل رخصة الله کان علیه من الاثم مثل جبال عرفة) وسنده صحیح (احمد۷۱/۲) مجمع (۱۶۳/۳) (څوك چه د الله رخصت نه قبلوی نو هغه باندے به د عرفات د غرونو برابر ګناه وی)

الاختلاف فی الجمع بین الصلاتین :

د جمع بین الصلاتین په ثبوت کښې د مذاهبو د امامانو اختلاف :

۱- **د ابن حزمؒ** رایه دا ده چه جمع تاخیر جائز ده، نهٔ جمع تقدیم۔ یعنی داسے جائز ده چه د ماسپښین مونځ مازیګر ته روستو کړے شی او دواړه د مازیګر په وخت کښې اُوکړے شی او داسے نهٔ ده جائز چه مازیګر مونځ رامخکښې کړے شی او د ماسپښین په وخت کښې اُوکړے شی او دغه شان ماښام او ماسخوتن کښې واخله۔ او دا یو روایت د امام مالكؒ او احمدؒ هم دے۔

د ابن حزمؒ **دلیل** دا دے چه د جمع تقدیم باره کښې اَحادیث نشته۔ لیکن روستو به مونږ ثابته کړو چه ډیر احادیث پکښې راغلی دی۔

۲-**د امام مالكؒ** نه په «المدونة» کښې نقل دی او دا قول د لیثؒ دے چه جمع بین الصلاتین د هغه چا پورے خاص ده چه (اِذَا کان المُسافر مُجِدًّا فی السیر) (چه د سفر تادی (جلتی) ئے وی) دلیل ئے دا حدیث الباب او ددے په شان احادیث دی چه په هغے کښې (جَدَّ به السَّیرُ، او اذا کان علی ظَهرِ سَیرٍ) الفاظ راغلی وی) لیکن صحیح دا ده چه د ﷺ نه په صحیح احادیثو کښې ثابت دی چه هغه ښه په آرام وخت کښې هم جمع بین الصلاتین کړیده لکه روستو به راشی، او د جلتیٔ په وخت په طریق اَولیٰ جائز ده۔

۳- **احناف** وائی : جمع صُوری (جمع المقارنة) جائز ده، نهٔ جمع حقیقی (جمع

المواصلة) او جمع صوري ديته وائي چه مثلاً د ماسپښين مونځ آخر وخت ته روستو کړي او د مازيګر مونځ اول وخت ته رامخکښ کړي او هريو په خپل خپل وخت کښ اُوکړے شي۔ او جمع حقيقي نۀ منی، سِوئ د عرفات او مزدلفه نه۔ او هغه هم د مناسکو د حج نه شماري، لهٰذا د دوی په نيز باندے جمع بين الصلاتين په سفر کښ نشته او صرف جمع صُوري جائز ګنړي چه دا هسے ظاهري جمع ده او معنوي او حقيقي جمع نۀ ده، صرف دوه مونځونه نزدے نزدے اُوشو او خپل خپل وخت کښ اُوشو۔

او د جمع حقيقي په باره کښ چه کوم روايات راغلي دی نو هغه تولو کښ تاويل کوی او جمع صوري ته ئے راړوی ليکن محققين احنافو وغيره وئيلي دی چه هغه داسے صريح روايات دی چه دا تاويل پکښ کار نۀ ورکوی لکه روستو به راشي۔

د دوی دلائل : ۱- کتاب الحيض (باب المستحاضة) کښِ تير شويدی چه نبی ﷺ حمنه بنت جحشؓ ته اُوفرمايل : (وان قويتِ على ان تُؤَخِّرِينَ الظُّهرَ وتُعَجِّلِينَ العصر فتغتسلينَ وتَجْمَعِينَ بين الصلاتين الحديث (احمد، ترمذی، ابو داود) حديث حسن) نو پدے کښ جمع صوري ده، لهٰذا جمع صوري صرف جائز ده۔

۲- دليل : امام ترمذی د کتاب العلل په آخر کښ ليکی : چه زما په دے کتاب (سنن ترمذی) کښ تول احاديث معمول بها دی سِوئ د دوه رواياتو نه چه يو د هغے نه دا روايت د جمع بين الصلاتين دے۔ لهٰذا اُمت پدے باندے عمل پريخے دے۔ او بل قتل شارب الخمر۔ (فتح الباري ۱۹۱/۱۹ مايكره من لعن شارب الخمر)

۳- دليل : دا جمع بين الصلاتين د آيت خلاف مونځ دے ځکه آيت کښ دی : ﴿إِنَّ الصَّلَاةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَوْقُوتًا﴾ (ځکه مونځ الله په خپل وخت فرض کړيدے نو ددے د خپل وخت نه مخکښ کول يا روستو کول د آيت خلاف شو)

۴- دليل : حديث کښ دی چا چه دوه مونځونه په يو وخت کښ جمع کړل (فقد اَتٰى بَابًا مِنْ اَبْوَابِ الْكَبَائِرِ) نو دۀ راتګ اُوکړو په يوه غټه دروازه د کبيره ګناهونو باندے (ترمذی بشرح تحفة الاحوذی ۲۱٦/۱)

او دا روايت زکريا صاحبؒ په «فضائل أعمال» کښ هم راوړيدے۔

الجواب : ليکن دا دلائل ضعيف دی۔ وجه دا ده چه حديث حمنه بنت جحشؓ کښ يوه طريقه د جمع بين الصلاتين ذکر ده او د هغے نه خو څوك انکار نۀ کوی خو تول أحاديث دے ته راګرزول ظلم دے۔

او هر چه د امام ترمذیؒ قول دے نو په هغے باندے احنافو هم عمل نۀ دے کړے ځکه چه

په هغه حديث كښې خو دا دي چه نبي عليه السلام په حضر كښې جمع بين الصلاتين اوكړه (من غير سفر ولا مطر ولا مرض) او جمع حقيقي وه، نۀ جمع صوري۔ او احناف خو حضر كښې جمع بين الصلاتين د سره نۀ مني۔

او هرچه آيت دے نو دا آيت په چا نازل دے ؟ دا په نبي ﷺ نازل شويدے او هغه ددے په معنىٰ ښه پوهيدو او د هغه نه دا جمع بين الصلاتين په صحيح اَحاديثو كښې نقل ده، نو گويا كښې نبي ﷺ داسے اُوفرمايل : چه په عام اَوقاتو كښې په (كتاباً موقوتاً) عمل كوئ او په سفر كښې په جمع بين الصلاتين عمل كوئ لهذا پدے كښې هيڅ اشكال نشته۔

٢- **دويم** دا چه د اوقاتو بيان هم نبي ﷺ كړيدے او جمع بين الصلاتين هم نبي ﷺ كړيده نو كه تاسو سره حديث وي په تعيين د اوقاتو كښې نو مونږ سره احاديث شته په جمع بين الصلاتين كښې او دواړه د يو مشكاة النبوة نه صادر شويدي۔

٣- **دريم** دا چه اَحنافو ته وئيلے شي چه دوي په عرفات او مزدلفه كښې ولے جمع بين الصلاتين (جمع حقيقي) جائز گڼري؟ كه دوي وائي : ځكه چه نبي ﷺ دا جمع بين الصلاتين كړيده۔ نو مونږ وايو : په سفر كښې هم نبي ﷺ جمع بين الصلاتين كړيده اگركه يو دے د مناسكو د حج نه وي او بل دے د سفر د توابعو نه وي۔ دا په حكم كښې هيڅ تغيير نه راولي۔

او هرچه حديث د ابن عباسؓ دے نو هغه ضعيف دے قابل د استدلال نه دے په هغے كښې حنش بن قيس ابوعلي الرحبي راوي ضعيف دے امام بيهقي په سنن كبرى (١٦٩/٣) كښې فرمائي : وهو ضعيف عند اهل النقل لا يحتج بخبره) وقال الدارقطني : هو متروك وقال احمد : كذاب ووثقه الحاكم في المستدرك وتعقبه الذهبي في التلخيص فقال : بل ضعفوه واورده ابن الجوزي في الموضوعات) (موطأ محمد ٣٠٧/١) سنن الترمذي (٣٥٦/١) سنن الدارقطني (٣٩٥/١) جمع الجوامع (٢٢٦٠٢/١) وغيرها)

٢- او كه بالفرض صحيح هم شي نو په هغے كښې خو دا دي چه بغير د عذر نه څوك جمع بين الصلاتين كوي نو هغه گناه ده او سفر خو عذر دے لهذا پدے كښې د جمع بين الصلاتين نه په سفر كښې منع نشته۔ فتدبر!۔

٤- **امام شافعي، احمد**، اسحاقؒ، ابوثورؒ، ابن المنذرؒ او اشهبؒ او يو روايت د امام مالك او جمهور محدثين او اكثر صحابه كرامؓ او تابعين فرمائي : جمع بين الصلاتين مطلقاً په سفر كښې جائز ده كه جمع تقديم وي او كه جمع تاخير، على ظهر سَيْر وي او كه نازل وي او دا رخصت دے او عزيمت نۀ دے۔ او دا قول شاه ولي الله الدهلوي په حجة الله

(١٨/٢) كښې غوره كړيدي۔

دلائل هذا القول: اُوس د جمع حقيقي دپاره دلائل څه دي؟ نو دلائل ډير دي، تقريباً (٣٧) نه زيات دي۔

د جمع تقديم د اثبات دپاره درې روايات دي۔

او ددې حديث د ابن عباسؓ سياق دليل دې چه دلته جمع حقيقي مراد ده ځكه جَمع صُوري خو اتفاقي ده، هرځوك ئې مني او دلته نۀ ده مراد ځكه بيا دوه نقصانه راځي۔

★- يو دا چه ابن عباس ﷺ پخپله وئيلي دي - كله چه د هغه نه تپوس اُوشو چه نبي ﷺ په غزوه تبوك كښې ولې جمع بين الصلاتين اُوكړه - نو هغه اُوفرمايل: (لِئَلَّا يُحَرِّجَ اُمَّتَهٗ) (مسلم ٢٤٦/١) (په بل روايت د مسلم او احمد وغيره كښې دي چه په مدينه كښې ئې په حضر كښې بغير د خوف او مطر نه ولې جمع بين الصلاتين اُوكړه نو هغۀ اوفرمايل): پدې وجه چه اُمت په حرج كښې واقع نشي او اُمت ته آساني ملاؤ شي۔ او په جمع صُوري كښې خو حَرَج راځي چه مثلًا د ماسپښين او مازيگر اول او آخري وختونه به معلوموي، نقشه به ځان سره گرځوي او هرچا ته د هغې اندازه هم نۀ لگي۔ ★- دويم دا چه غرض د شرع د جمع بين الصلاتين نه آساني وركول دي او هغه په جمع حقيقي كښې ده۔

١- دليل: حديث معاذ بن جبل: (ان النبي ﷺ كان في غزوة تبوك اذا ارتحل قبل زيغ الشمس اَخَّرَ الظُّهرَ الى ان يجمعها الى العصر فيصليهما جميعاً واذا ارتحل بعد زيغ الشمس عَجَّلَ العصر الى الظهر فصلى الظهر والعصر جميعاً، ثم سَارَ وكان اذا ارتحل قبل المغرب اَخَّرَ المغرب حتى يصليها مع العشاء واذا ارتحل بعد المغرب عَجَّلَ العشاء فَصَلَّاهَا مَعَ الْمَغْرِبِ) (ترمذی ١٢٤/١) رقم (٥٥٩) وتَفَرُّدُ قتيبة به لا يَضُرُّ فانه ثقة امام وزيادة الثقة مقبولة رواه الدارقطني (٣٩٢/١)

(معاذ ﷺ فرمائي: نبي ﷺ په غزوه تبوك كښې وو كله چه به ئې د نمر زائله كيدو نه مخكښې سفر شروع كولو نو ماسپښين به ئې روستو كړو تردې چه دا به ئې جمع كړو د مازيگر سره نو دواړه به ئې په يو ځائې اُوكړل او كله چه به ئې سفر شروع كولو پس د زوال د نمر نه نو عصر به ئې رامخكښې كړو ظهر ته نو ظهر او عصر دواړه به ئې په يو ځائې اُوكړل بيا به روان شو۔ او دغه شان مغرب او عشاء واخله الخ)

دا حديث واضح ثبوت دې د جمع تاخير او جمع تقديم دپاره ځكه دلته په يو وخت كښې دواړه مونځونه شويدي۔

٢- دليل: حديث علي رضى الله عنه: علي ﷺ فرمائي: (كان النبي ﷺ اذا

ارتحل حين تزول الشمس جمع الظهر والعصر، واذا مُدَّ له السير أخَّرَ الظهر وعَجَّلَ العصر ثم جَمَعَ بينهما) (دارقطني ٣٩١/١) وفي سنده المنذرالقابوسي مجهول ولكن رواه عبد الله بن الامام احمد في زيادات المسند باسناد آخر كما في التعليق المغني على سنن الدارقطني (٣٩١/١) وتحفة الاحوذي (٣٨٧/١) والنيل (٢٦٣/٣) فاسناده حسن)

(يعنى نبى ﷺ به چه كله د زوال په وخت سفر شروع كولو نو ظهر او عصر دواړه به ئے جمع كړل او كله چه به ورته مزل اُوګد وو نو بيا به ئے ظهر روستو كړو او عصر به ئے رامخكښ كړو بيا به ئے دواړه جمع كړل)۔ دا حديث هم دليل دے د جمع تقديم او جمع تاخير دپاره۔

٣- **حديث عبد الله بن عباس ﷺ**: عبد الله بن عباس ﷺ فرمائى : (كان في السفر اذا زاغت الشمس في منزله جَمَعَ بين الظهر والعصر قبل ان يركب فاذا لم تزغ له في منزله سار حتى حانت العصر فجمع بين الظهر والعصر، واذا حانت له المغرب في منزله جَمَعَ بينها وبين العشاء، واذا لم تحن في منزله ركب حتى اذا كانت العشاء نزل فجمع بينهما، وفي رواية للشافعي ((واذا سار قبل ان تزول الشمس أخَّرَ الظهر حتى يَجْمَعَ بينهما وبين العصر في وقت العصر) (واسناده صحيح : احمد ٣٦٧/١) والشافعي ١٨٦/١) وفي المنتقى بشرح النيل (٢٦١/٣)

(نبى ﷺ به چه كله په سفر حالت كښې په كور كښې وو او په كور كښې به د نمر زوال اُوشو نو ظهر او عصر به ئے د سفر شروع كولو نه مخكښې جمع كړل او كله چه به نمر نۀ وو زائل شوے، نو روان به شو تردے چه كله به د عصر وخت راغلو نو بيا به ئے ظهر او عصر جمع كړل او كه په كور كښې به پرے د مغرب وخت راغلو نو د مغرب او عشاء ترمينځ به ئے جمع والے اُوكړو او كله چه به د مغرب وخت په كور كښې نۀ وو راغلے نو سور به شو تردے چه كله به د عشاء وخت شو نو كوز به شو او دواړه مونځونه به ئے جمع كړل، او په يو روايت د شافعىؒ كښې دى : او كله چه به د زوال الشمس نه وړاندے روان شو نو بيا به ئے ظهر روستو كړو او د عصر سره به ئے جمع كړو په وخت د عصر كښې)

دا صريح دليل دے د جمع تقديم او جمع تاخير دپاره چه هيڅ تاويل نۀ قبلوى ځكه چه دلته د ظهر په وخت كښې د عصر مونځ شوے دے په صورت د جمع تقديم كښې او د عصر په وخت كښې د ظهر مونځ شويدے په صورت د جمع تاخير كښې چه تاويل پكښې كار نۀ وركوى۔

او دا حديث رد دے په هغه چا چه وائى كله چه په سفر كښې جلتى وى نو بيا به جَمع بين الصلاتين كوى نۀ ! بلكه دلته په كور كښې ئے جمع بين الصلاتين كريده۔ او رد دے په قول د ابوداؤدؒ باندے چه وائى : (ليس في جمع التقديم حديث قائم) (كما في النيل ٢٦٣/٣)

(عبد الرزاق (۵٤۸/۲) (په جمع تقديم کښې صحيح حديث نشته) نۀ، بلکه دا حديث بالکل صحيح دے او جمع تقديم پکښې راغلے ده.

٤- **حديث انسؓ بن مالک** : انس مالك ﷺ فرمائي : (ان النبي ﷺ كان اذا كان في سفر فزاغت الشمس قبل ان يرتحل، صلى الظهر والعصر جميعاً وان ارتحل قبل ان تزيغ الشمس جمع بينهما في اول العصر، وكان يفعل ذلك في المغرب والعشاء) (طبراني في الاوسط وصححه المنذرى، كما في التلخيص الحبير (٤٩/٢) وهو اسناد حسن في الشواهد كما في الارواء (٣٣/٣)

(نبي ﷺ به چه کله په سفر کښې وو او د روانيدو نه مخکښې به نمر به زائل شو نو ظهر او عصر دواړه مونځونه به ئې په يو ځائې اُوکړل (دا جمع تقديم ده) او که د نمر د زوال نه مخکښې به ئې رحلت کولو نو (بيا به ئې) دواړه مونځونه په اول د عصر کښې جمع کول (دا جمع تاخيره ده). او دا کار به ئې په مغرب او عشاء کښې هم کولو).

۵- **دليل : حديث ابن عمرؓ** : (عن نافع ان ابن عمر كان اذا جَدَّ به السير جمع بين المغرب والعشاء بعد ان يغيب الشفق، ويقول ان رسول الله ﷺ كان اذا جَدَّ به السير جمع بين المغرب والعشاء (مسلم) وفي رواية البخاري : عن اسلم مولى عمر، قال كنت مع ابن عمر في طريق مكة فبلغه عن صفية بنت ابي عبيد شِدَّةَ وَجَعٍ، فَاَسْرَعَ السَّيْرَ، حتى اذا كان بعد غروب الشفق ثم نزل فصلى المغرب والعتمة ثم جمع بينهما، وقال : اني رأيت رسول الله ﷺ كان اذا جَدَّ به السير اَخَّرَ المغرب وجَمَعَ بينهما (ونحوه في الترمذي ١٢٤/١) واحمد (٤/٢) باسناد صحيح)

(نافع فرمائي : د عبد الله بن عمرؓ به چه کله په سفر کښې جلتي وه نو د مغرب او عشاء مونځونه به ئې جمع کول پس د غائبيدو د شفق نه، او دا به ئې فرمايل : چه د رسول الله ﷺ به کله جلتي وه نو د مغرب او عشاء ترمينځ به ئې جمع والے کولو. (مسلم) او په روايت د بخاريؒ کښې دي : اسلم د عمر فاروق آزاد کړده غلام وائي: زۀ د ابن عمرؓ سره د مکے په لاره کښې روان وم چه هغه ته د صفيه بنت ابي عبيد (چه د هغه بي بي وه) د طرفنه د سخت درد خبر اُورسيدو (چه ښځے دے سخته بيماره ده) نو هغه په مزل کښې تيزي شروع کړه تردے چه کله شفق پريوتو نو کوز شو او د مغرب او عشاء مونځ ئے اُوکړو په يو ځائے. او وے فرمايل : ما رسول الله ﷺ ليدلے دے چه کله به د هغه جلتي وه نو د مغرب مونځ به ئے روستو کړو او د عشاء سره به ئے يوځائے کړو.)

نو دا حديث دليل د جمع تاخير دے. او جمع حقيقي ده نۀ صوري ځکه چه شفق چه غائب شي نو د ماسخوتن وخت داخل شي نو د مغرب مونځ ئے د عشاء په وخت کښې کړيدے.

٦- **بل دليل** د جمع تقديم او جمع تاخير دا دے چه رسول الله ﷺ په عرفات كښې د ظهر او عصر مينځ كښې جمع تقديم كړيده او په مزدلفه كښې ئے د مغرب او عشاء ترمينځ جمع تاخير كړيده لكه دا په عام كتابونو د احاديثو كښې ذكر دى او تقريباً د عام اُمت ددے په كولو اتفاق دے۔ دا اګركه د بعض علماؤ په نيز د نسك الحج نه ده ليكن نفس جمع تقديم او جمع تاخير پكښې راغلے ده، لهذا په حالت د سفر كښې هم ددے كول د دغه احاديثو په بناء جائز دى او دا زمونږ د دين فراخيانے او سهولتونه دى۔ او دا په جمع صورى باندے حمل كول هم بعيد دى لكه دا اقرار محققين احنافو هم كړيدے لكه:

علامه عبد الحى اللكهنوى په التعليق الممجد (۱۳۱) ليكى:

(قوله والجمع بين الصلاتين الخ ; هذا هو الجمع الصورى الذى حمل عليه أصحابنا الاحاديث الواردة في الجَمْع وقد بَسَطَ الطحاوى الكلام فيه في شرح معانى الآثار، لكن لا أدرى ما ذا يفعل بالروايات التى وردت صريحاً بان الجمع كان بعد ذهاب الوقت وهى مروية فى صحيح البخارى وسنن ابى داود وصحيح مسلم وغيرها من الكتب المعتمدة على ما لا يخفى على من نَظَر فيها۔ فان حمل على ان الزواة لم يحصل التميز لهم فظنوا قرب خروج الوقت خروج الوقت فهذا أمر بعيد عن الصحابة والتابعين على ذلك وان اختير ترك تلك الروايات بابداء الخلل فى الاسناد فهو ابعد وابعد- مع اخراج الائمة لها وشهادتهم بتصحيحها، وان عورض بالاحاديث التى صرحت بان الجمع كان بالتاخير الى آخر الوقت والتقديم فى اول الوقت فهو اعجب، فان الجمع بينهما على اختلاف الاحوال ممكن بل هو الظاهر، وبالجملة فالامر مشكل، لعل الله يحدث بعد ذلك امراً انتهىٰ)

(يعنى دا جمع صورى ده كوم باندے چه زمونږ اَصحابو هغه احاديث حمل كړيدى چه د جمع بين الصلاتين باره كښې راغلى دى او امام طحاوى په شرح معانى الآثار كښې پدے كښې ډير تفصيلى كلام كړيدے، ليكن زهٔ نه پوهيږم چه په هغه رواياتو به څه كولے شى چه هغه صريح راغلى دى پدے كښې چه جمع بين الصلاتين پس د خروج د وقت نه وه۔ او هغه روايات په بخارى مسلم، ابوداود وغيره معتمد كتابونو كښې نقل دى نو كه دا محمول كړے شى پدے چه راويانو پوره تميز نهٔ دے كړے او وخت وتلو ته نزدے كيدو نه ئے تعبير كړيدے په وتلو د وخت باندے نو دا د صحابه كرام او تابعينو نه ډيره بعيده خبره ده (چه هغوى دِے دومره بے احتياطى اُوكړى) او كه په رواياتو كښې د خلل راويستو په وجه د دغه رواياتو ترك اختيار كړے شى نو دا خو ډيره ډيره بعيده ده ځكه دا روايات ددے فن امامانو راوړيدى او ددے په تصحيح ئے ګواهى كړيده او كه ددے معارضه اُوكړے شى په هغه اَحاديثو چه په هغے كښې جمع صورى راغلے ده نو بيا خو خبره ډيره د تعجب والا ده

ځکه (معارضے ته ضرورت نشته) ځکه چه جمع ددے روایاتو په مابین کښ ممکن بلکه ظاهره ده چه دا ډیے په مختلفو احوالو حمل شي۔ لنډه دا چه خبره ډیره مشکله ده، خو الله به کيدے شي چه ددے نه پس څۀ خبره راپیدا کړي)۔ انتهیٰ۔

دا په احنافو کللك گوزار دے چه د خپل ځان غم اُوکړئ خبرے مو گډوډے دی، سوچ ورته اُوکړئ)

بیا ئے په عمدة الرعاية (۱۵۱/۱) کښ وئیلی دی چه جمع بین الصلاتین جمع حقیقی بالکل حقه ده او روایات پکښ صحیح راغلی دی۔ انتهیٰ۔

او اشرف علی تهانوی په امداد الفتاوی (۸۲/۵) کښ دا اقرار کړیدے چه بعض احادیث دلالت کوی په جمع حقیقی او وقتی باندے لیکن بیا ئے وئیلی دی چه دا احادیث مضطرب دی، بیا ئے وئیلی دی چه جمع بین الصلاتین د شدید ضرورت په صورت کښ جائز ده تقلیداً للشافعی۔ لیکن د هغه په کلام کښ هم تناقضات دی۔

(ځکه دا قانون دے چه کله د انسان اراده اتباع د سنت نۀ وی نو د هغۀ مخے ته تیاره وی، آسانے خبرے ورته گرانے ښکاری، د هغه نظر په بل چا لگی)

لهذا د جمع بین الصلاتین نه انکار کول یا دا په بهانو سره د خپل ځان نه اړول د مسلمان شیوۀ نۀ ده۔

باقی اَحادیثو دپاره فتاوی الدین الخالص (۱۰۰/۳) تحفة الاحوذی (۳۸۷/۱) نیل الاوطار (۲۶۱/۲) او فتح الباری (۴۶۳/۲) ته رجوع اُوکړئ۔

جمع بین الصلاتین فی الحضر فی المرض والمطر:

عبد الله بن عباسؓ فرمائی: (جَمَعَ رسول الله ﷺ بين الظهر والعصر والمغرب والعشاء بالمدينة من غير خوف ولا مطر قال وكيع: قلت لابن عباس: لم فعل ذلك؟ قال: كيلا يحرج امته) (مسلم ۲۴۵/۱، ۲۴۶) (احمد والبيهقى وصحيح ابن حبان وغيرهم)

(رسول الله ﷺ په مدینه کښ بغیر د خوف او باران نه د ظهر او عصر او د مغرب او عشاء مونځونو کښ جمع بین الصلاتین اُوکړه۔ وکیع راوی وائی: ما ابن عباسؓ ته اُوفرمایل: دا کار نبی ﷺ ولے کړیدے؟ هغه اُوفرمایل: دے دپاره چه اُمتُ په تکلیف کښ وانۀ چوی) یعنی د اُمت د آسانتیا دپاره۔ (مسلمؒ وغیره)

علامه ابو البرکات ابن تیمیۃ فرمائی: دا حدیث په خپل فحوئ سره دلالت کوی په جمع بین الصلاتین باندے د باران، خوف او مرض په وخت کښ الخ نیل الاوطار (۲۶۸/۳)

٢- حمنه بنت جحش رضى الله عنها ته ئے د مرض الاستحاضة په صورت كښې جمع بين الصلاتين خودلے وه۔ مشكوٰة (١/٥٧)

٣- رجاء بن حَيْوَة د نافعؒ نه تپوس كوى چه آيا ابن عمرؓ به جمع بين الصلاتين د خلقو سره كوله كله چه به هغوى په باراني شپه كښې دا جمع كوله ؟ هغه اُوفرمايل : آؤ۔) (عبد الرزاق ٢/٥٥٦)

٤- نافعؒ فرمائى : (ان ابن عمر كان اذا جَمَعَ الامراءُ بين المغرب والعشاء في المطر جَمَعَ معهم) (الموطأ ١/١٢٥) وعبد الرزاق (٢/٥٥٦) (عبد الله بن عمرؓ به په باران كښې د اميرانو سره جمع بين الصلاتين په مغرب او عشاء كښې كوله)

مسائل الجمع بين الصلاتين :

١- جمع بين الصلاتين اگركه رخصت دے ليكن ددے كول افضل دى۔ او عبد الله بن عباس ﷺ فرمائى : (هِيَ سُنَّةٌ) (السنن الكبرىٰ للبيهقى ٣/١٦٥)

(دا سنت عمل دے) او ددے كول ځكه پكار دى چه يو خو دا مسئله د خلقو نه وركه شويده نو عمل پرے پكار دے چه خلقو ته مسئله واضحه شي۔

٢- دويم دا چه خلق دا بَدْ گڼرى او نفرت ترے كوى نو عام كول ئے پكار دى۔ او الله په دے خوشحاليږى چه د هغه په رخصتونو باندے عمل اُوشى، دا د نفسانى خواهش تابعدارى نۀ ده بلكه د شريعت د طرفنه آسانى ده۔

٢- جمع بين الصلاتين دپاره يو اذان او دوه اقامته دى۔ لكه دا كار نبى ﷺ په مزدلفه كښې كړيدے (مسلم ١/٣٩٨)

٣- جمع بين الصلاتين جائز عمل دے، برابره ده كه سفر كښې په لاره روان وى او كه كوم ځائے ئے ډيره اچولے وى او عذر وى او كه نۀ وى۔ او كوم علماء چه دا خاص كوى د هغه وخت پورے چه سفر كښې جلتى وى او روان وى۔ لكه حافظ ابن القيمؒ دا تخصيص كړيدے نو دا قول مناسب نۀ دے (زاد المعاد ٤٧٧) وتحقيق المسئلة في فقه السنة (١/٢٨٩) وكتاب الام للشافعي (٧/٢٠٥) والرسائل والمسائل لابن تيمية (٢/٢٦)

٤- په حضر كښې هم كله ناكله بغير د خوف، مرض او باران نه جمع بين الصلاتين جائز ده لكه دا په حديث د ابن عباسؓ كښې راغلى دى۔ لكه مخكښې حديث تير شو ليكن ددے نه به عمل مستمره او عادت نۀ جوړوى۔

٥- جمع بين الصلاتين په ختهو او د سختو هواګانو په وخت كښې هم جائز ده لكه

مخکښې حدیث د ابن عباسؓ پرې دلیل دے۔
٦- په عرفات کښې به جمع تقدیم کوی او په مزدلفه کښې به جمع تاخیر کوی او په باقی سفرونو کښې دواړو کښې چه هره طریقه ورته آسانه وی په هغے دے عمل کوی په تولو کښې حدیثونه راغلی دی۔ کما مرت۔ انظر مجموع الفتاوی (٥٦/٢٤)
٧- هر قسمه جمع بین الصلاتین کښې ترتیب لازم دے چه اول به مثلاً د ظهر بیا به د عصر مونځ کوی او دارنګه اول د مغرب او بیا به د عشاء کوی۔ ځکه د نبی ﷺ نه ددے خلاف نقل نۀ دے او هغه وئیلی دی: (صلوا کما رأیتمونی اصلی) (بخاری)
٨- **د صحیح** قول په بناء په جمع بین الصلاتین کښې موالات (پرله پسے والے) ضروری نۀ دے، علی بن ابی طالب ﷺ به په سفر کښې اول د مغرب مونځ اُوکړو بیا به ئے روټئ اُوخوړله بیا به ئے وریسے د ماسخوتن مونځ اُوکړو۔ او بیا به ئے اُوفرمایل: ما دغه شان کار باندے رسول الله ﷺ لیدلے دے۔ ابوداود رقم (١٠٩٠) ابن ابی شیبة (٣٤٥/٢) وعبد الرزاق (٥٥٣/٢) واسناده صحیح) صححه الالبانی وقال العینی فی عمدة القاری١٤٨/٧ : اسناد لا بأس به)۔ نو کوم خلق چه د دواړو مونځونو ترمینځ مسنون اذکارو ته وخت نۀ ورکوی او زر بل اقامت شروع کوی نو دا صحیح کار نۀ دے۔ د جمع لفظ نه استدلال کوی۔
لیکن دا استدلال په محل د نظر کښې دے ځکه چه جمع خو دیته نۀ وائی چه د یو بل پورے به متصل اِنختی وی او مینځ کښې به ئے فصل نۀ وی بلکه د جمع معنیٰ دا ده چه په یو وخت کښې دواړه جمع کول اګر که مینځ کښې په ذکر اذکارو یا خبرو اترو سره فاصله راشی۔ ★ بله دا چه مقصود د شریعت په جمع بین الصلاتین کښې امت ته رخصت او آسانی ورکول دی او که موالات لازم شی نو دا خو بیا سختی شوه۔
انظر مجموعة الفتاوی (٥٤/٢٤)
٩- په جمع بین الصلاتین کښې به سنن رواتب پریخودلے شی خاصکر په عرفات او مزدلفه کښې او په سفرونو کښې۔ ځکه نبی ﷺ به په سفر کښې سنت نۀ کول، بلکه ظاهر د احادیثو دا دے چه په مطلق جمع بین الصلاتین کښې نبی ﷺ نه سنت نۀ دی ثابت۔
١٠- په جمع بین الصلاتین کښې که د عشاء مونځ د ماښام په وخت کښې کوی نو وتر به په خپل وخت کښې کوی ځکه نبی ﷺ هغه په سورلئ هم کړیدی لهذا هغه به د ماښام په وخت کښې نشی کولے۔

٨- وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُصَلِّيْ فِي السَّفَرِ فِيْ رَاحِلَتِهِ حَيْثُ تَوَجَّهَتْ

بِهٖ، يُوْمِئُ اِيْمَاءً صَلَاةَ اللَّيْلِ اِلَّا الْفَرَائِضَ، وَيُوْتِرُ عَلٰی رَاحِلَتِهٖ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او ابن عمر ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ به په سفر کښې د شپے مونځ سِوئ د فرضونه په خپله سورلئ باندے کولو هر طرف ته به چه د سورلئ مخ شو، اشاره به ئے کوله، او په سورلئ به ئے وتر (هم) کول۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : ۱- ددے نه معلومه شوه چه سفر کښې نوافل شته۔ ۲- دویم دا چه په سورلئ باندے کول هم جواز لری۔ پدے کښې په اوله کښې که استقبال الی القبلة اُوشو لا اَفضل ده او که اُونشو نو ساقط دے، خو دا په حالت د سورلئ کښې دے۔ هر چه حالت د نزول دے نو بیا به ضرور استقبال الی القبله د اول نه تر آخره پورے کوی۔ ځکه چه نفل کښې توسع ده که شریعت دا قید اُولګوی چه قبلے ته به مخ ضرور اَړوے نو بیا به ډیر مسافر د نفلو نه محرومه شی نو ځکه ورته شریعت په استقبال الی القبله کښې آسانی اُوکړه، چه د مسافر هیڅ حالت د عبادت نه خالی نشی۔

او دلیل د افضلیت د استقبال الی القبله په ابتداء کښې حدیث د ابوداود، احمد، دارقطنی دے چه روستو راروان دے۔ انسؓ فرمائی : (ان النبی ﷺ کان اذا اراد ان یتطوع فی السفر استقبل بناقته القبلة ثم صلی حیث وجهت رکابه) (صححه ابن السکن وحسنه الالبانی والحافظ فی التلخیص الحبیر ۱/۴۲۱) و بلوغ المرام (۱/۴۳) روضة المحدثین (۹/۸۶)

(نبی ﷺ به چه کله په سفر کښې اراده د نفلو اُوکړه نو خپله اُوښه به ئے قبلے ته متوجه کړه بیا به ئے مونځ کولو هر طرفته به چه د هغه اُوښه متوجه شوه)

۳- بله دا معلومه شوه چه وتر په سفر کښې کول ضروری دی۔

۴- وتر په سورلئ هم کیږی۔

اَحناف وائی وتر په سفر کښې شته خو په سورلئ نۀ کیږی۔ هغوی وائی : دا حدیث منسوخ شویدے۔ لیکن هیڅ دلیل ورسره نشته۔ بعض د هغوی دپاره داسے دلیل وائی چه عبد الله بن عمرؓ په سفر کښې وترو ته کوز شویدے او نبی ﷺ هم په زمکه باندے کړیدی۔

لیکن علامه عبد الحی اللکهنوی په التعلیق الممجد (۱۳۱) کښې فرمائی : پدے دواړو عملونو کښې هیڅ تعارض نشته ځکه چه جائز ده چه نبی ﷺ دواړه عملونه کړی وی نو کله به ئے وتر په سورلئ کول او کله به ئے په زمکه او عبد الله بن عمرؓ پدے کښې د هغه اقتداء کړیده، او ددے تائید دا دے چه طحاوی په شرح معانی الآثار کښې د نافع روایت راوړیدے چه هغه فرمائی : (کان ابن عمر یوتر علی الراحلة وربما نزل فأوتر علی الارض) (ابن عمرؓ به وتر په سورلئ کول او کله به ئے په زمکه کول) او طحاوی چه نسخ ته اشاره

کړيده نو هغه صحيح نۀ ده ځکه نسخ په احتمالاتو نۀ ثابتيږي ترڅو چه دے باره کښې نص نۀ وي راغلے۔ انتهىٰ باختصار)

او دغه شان رد په احنافو باندے امام محمد بن نصر المروزیؒ په كتاب الوتر کښې کړيدے (انظر مرعاة المفاتيح ۳۹۹/٤)

۵- فرائض قوي دي نو هغے ته کوزيدل ضروري دي، او نوافلو کښې آساني ده نو په سورلۍ هم کيږي۔

الفصل الثاني

۹- وَعَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: كُلُّ ذٰلِكَ قَدْ فَعَلَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: قَصَرَ الصَّلَاةَ وَأَتَمَّ. رَوَاهُ فِي «شَرْحِ السُّنَّةِ».

ترجمه: او عائشه رضي الله عنها فرمائي: دا ټول رسول الله ﷺ کړيدي (په سفر کښې ئې) قصر د مونځ (هم) کړيدے او اتمام ئې (هم) کړيدے۔ (شرح السنة)

تشريح: دا حديث دليل دے د هغه علماؤ دپاره چه په سفر کښې اتمام ته هم جائز وائي او قصر واجب نۀ ګنړي، ليکن دا حديث سنداً ضعيف دے او بل روايت دارقطني راوړيدے چه هغے ته ئې صحيح وئيلے دے او بيهقیؒ د عائشے نه حديث نقل کړيدے او صحيح ئې ورته وئيلے دے چه هغے د نبي ﷺ سره په سفر کښې اتمام کړيدے۔ (وقال: اَحْسَنْتِ يا عائشة) نو که ثابت شي نو بيا به د بياناً للجواز په طور اتمام هم جائز وي او قصر به سنت مؤکد وي۔ كما هو الراجح۔

شيخ الاسلام حافظ ابن تيميه رحمه الله فرمائي: دا حديث په رسول الله ﷺ باندے کذب دے۔ زاد المعاد (۱۲۱/۱) او حافظ په التلخيص الحبير ص (۱۲۸) کښې ليکي:

دا حديث امام احمدؒ منکر ګنړلے دے او ددے صحت بعيد دے ځکه عائشےؓ به خپله اتمام کولو او عروۃؒ ذکر کړيدي چه هغے به د عثمانؓ په شان تاويل کولو۔ او هغه صحيح حديث دے نو که د عائشےؓ سره د نبي ﷺ! نه روايت وے نو عروۃؒ به دا خبره نۀ کولے چه (تاؤلت كما تأول عثمان) عائشےؓ تاويل کړيدے لکه د عثمان په شان۔ بلکه حديث به ئې پيش کړے وے۔ او حال دا چه په صحيحينو کښې ددے خلاف ثابت دے۔ انتهىٰ۔

نو ددے علماؤ دا خبره ددے روايت په باره کښې صحيح ده ليکن نور روايات مخکښې مونږ ذکر کړيدي چه هغے نه جواز د اتمام في السفر معلوميږي هغے ته رجوع اُوکړه۔ او دليل دے چه قصر فرض او واجب نۀ دے۔ بلکه سنتِ مؤکد دے۔ که چا اتمام اُوکړو نو ان

شاء الله چه گناهګار به نهٔ وی۔ وانظر المغنی لابن قدامة (۱۰۸/۲)

درجة الحديث : اسناده ضعيف جداً : اخرجه الشافعي في المسند (۱۸۲/۱رقم ۵۱۸) والدارقطني (۱۸۹/۲رقم ٤٤) واسناده ضعيف، فيه طلحة بن عمرو متروك، قال الدارقطني ضعيف۔ مرعاة المفاتيح (٤۰۲/٤)

۱۰ – وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، قَالَ: غَزَوْتُ مَعَ النَّبِيِّ ﷺ وَشَهِدْتُ مَعَهُ الْفَتْحَ، فَأَقَامَ بِمَكَّةَ ثَمَانِيَ عَشْرَةَ لَيْلَةً لَا يُصَلِّي إِلَّا رَكْعَتَيْنِ، يَقُوْلُ: «يَا أَهْلَ الْبَلَدِ! صَلُّوْا أَرْبَعًا، فَإِنَّا سَفْرٌ». رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او عمران بن حصين ﷺ فرمائی : ما د نبی ﷺ سره (په ملګرتيا کښې) غزوات کړيدی، او د هغهٔ سره د (مکې) فتح ته (هم) حاضر شوې يم، (په هغه موقعه کښې) نبی ﷺ په مکه کښې اتلس شپې مقيم وو، چه صرف دوه رکعاته به ئې کول، او خلقو ته به ئې فرمايل : «اې ښار والو ! تاسو څلور رکعاته مونځ اُوکړئ ځکه مونږ مسافر يو۔ (ابوداوُدؒ)

تشريح : دا حديث هم د احنافو او د جمهورو د مذهب خلاف دې ځکه احناف د سفر موده پنځلس ورځې او جمهور څلور ورځې يادوی او دلته ئې اتلس ورځې تيرې کړيدی او بيا هم ځان ته مسافر وائی۔

سَفْرٌ: په فتحه د سين جمع د سَافِر ده په معنیٰ د مسافر سره۔ لکه رکب او راکب او صحب او صاحب۔

حديث کښې دا مسئله ده چه ۱– مقيم لره د مسافر پسې اقتداء کول جائز دی۔ او دا تقريباً اجماعی مسئله ده

او ۲– برعکس صورت چه مسافر د مقيم پسې اقتداء اُوکړی نو دا د طاووسؒ، داوُدؒ او امام شعبیؒ وغيره په نيز جائز نهٔ ده ځکه پدې کښې مخالفت دې د امام نه په عدد او نيت کښې او نبی ﷺ فرمائی : (لاتختلفوا على امامكم) (امام نه مهٔ مختلف کيږئ)۔

ليکن صحيح دا ده چه بالکل جائز ده۔ او دليل د جواز حديث د ابن عباسؓ دې کما فی مسند احمد۔ د ابن عباسؓ نه تپوس اُوشو چه څه وجه ده چه مسافر کله يواځې مونځ کوی نو دوه رکعاته کوی او کله چه د مُقيم پسې اقتداء اُوکړی نو څلور کوی ؟ هغه اُوفرمايل : همدا سنت طريقه ده۔ بل روايت کښې دی : (تلك سنة ابی القاسم ﷺ)۔ (همدا نبوی طريقه ده)۔ او د (لاتختلفوا على امامكم) مطلب دا دې چه امام نه مخکښې او ډير روستو مهٔ ځئ بلکه په مانځه کښې د هغهٔ اقتداء کوئ)۔

مسافر د مقیم یا د مقیم د مسافر پسے خومره مونځ دے ؟

المسئلة الثانیة : کله چه یو مسافر د مُقیم سره دوه رکعاته مونده کړی نو آیا د امام سره به سلام اَړوی او که نه دوه رکعاته به ځانله پوره کوی چه څلور شی ؟ نو پدے کښې اختلاف دے۔ ١- علامه ابن حزم الظاهریؒ وئیلی دی چه که امام په مینځ د مانځه کښې لاندے کړی نو د هغه سره به سلام اَړوی او که د اول نه ورسره شریك شو نو په دوه رکعاتو کښې به ترے سلام اَړوی ځکه چه د مُسافر دپاره د دوه رکعاتو نه زیادت جائز نهٔ دے او هغه ته دے باره کښې احادیث صحیح نهٔ دی ښکاره شوی۔

لیکن دے باره کښې صحیح احادیث شته۔

٢- عام علماء فرمائی : مسافر چه کله د امام پسے اُودریدو نو دا په حکم د مُقیم کښې شو نو د اقتداء د وجه نه به څلور رکعاته کوی۔ بیا امام مالكؒ وئیلی دی چه کله ورسره پوره رکعت اُونهٔ مومی نو بیا به دوه رکعاته کوی او که یو رکعت سره د دوه سجدو نه اُومومی نو بیا به څلور رکعاته کوی (التمهید لابن عبد البر ١٨٦/١١)

او شافعیؒ، احمدؒ، ابوحنیفهؒ او ثوریؒ وغیره علماء فرمائی چه که تشهد کښې ئے اُومونډو نو هم به څلور رکعاته کوی او همدا خبره حقه ده۔

دلیل : ١- مخکښې حدیث د ابن عباسؓ پرے دلیل دے چه مُسافر به د مُقیم پسے څلور رکعاته کوی او دا سنت د ابو القاسم ﷺ دے۔

٢- دویم دلیل : حدیث د مسلم دے (وانما جعل الامام لیؤتم به -فلا تختلفوا علیه) نو د امام نه مینځ کښې سلام ګرځول د شرائطو د اقتداء خلاف دی۔ نو ترڅو چه متابعت د امام ممکن وی نو اختلاف به ناروا وی۔انظر المغنی (١٢٩/٢)

٣- په مِنیٰ کښې به د عثمان ﷺ پسے صحابه کرامؓ څلور رکعاته مونځ کولو۔

٤- ابو مِجلز(لاحق بن حمیدؒ) وائی : ما ابن عمرؓ ته اُووئیل : مُسافر چه د مُقیم خلقو سره دوه رکعاته مونده کړی نو آیا دا دوه رکعاته ددهٔ دپاره کافی دی او که نهٔ، د هغوی په شان مونځ به کوی؟ نو ابن عمرؓ اُوخندل او وے فرمایل : (یصلی بصلاتهم) (د هغوی په شان مونځ به کوی) (بیهقی ١٥٧/٣) اسناد صحیح کما فی الارواء (٢٢/٣)

عموم ددے احادیثو شامل دے هر حالت ته یعنی که یو مُسافر مُقیم امام لره په هر حالت کښې لاندے کړی نو اتمام به کوی) والله اعلم۔

درجة الحدیث : اسناده ضعیف : اخرجه ابوداود الطیالسی (٨٥٨) واحمد فی المسند

(٤٣٠/٤) وابوداود (١٢٢٩) والترمذى (٥٤٥) وفى اسناده على بن زيد بن جدعان ضعيف وحسنه الترمذى لشواهده لان على بن زيد صدوق عند الترمذى كما فى الميزان وغيره فلاجل ذلك حسنه وكم من حديث ضعيف قد حسنه الترمذى لشواهده (تحفة الاحوذى)

١١- وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ ﷺ الظُّهْرَ فِي السَّفَرِ رَكْعَتَيْنِ، وَبَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ. وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ: صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ ﷺ فِي الْحَضَرِ وَالسَّفَرِ، فَصَلَّيْتُ مَعَهُ فِي الْحَضَرِ الظُّهْرَ أَرْبَعًا، وَبَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ، وَصَلَّيْتُ مَعَهُ فِي السَّفَرِ الظُّهْرَ رَكْعَتَيْنِ، وَبَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ، وَالْعَصْرَ رَكْعَتَيْنِ، وَلَمْ يُصَلِّ بَعْدَهَا شَيْئًا، وَالْمَغْرِبَ فِي الْحَضَرِ وَالسَّفَرِ سَوَاءً ثَلَاثَ رَكَعَاتٍ، وَلَا يَنْقُصُ فِي حَضَرٍ وَلَا سَفَرٍ، وَهِيَ وِتْرُ النَّهَارِ وَبَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : او ابن عمر ﷺ فرمائي : ما د نبي ﷺ سره په سفر كښ د ماسپښين مونځ دوه ركعاته كړيدے او د هغے نه روستو (مے) دوه ركعاته (كړيدى) او په يو روايت كښ دى : ابن عمرؓ فرمائي : ما د نبي ﷺ سره په حضر او سفر (دواړو) كښ مونځ كړيدے، او په حضر (ښار) كښ مے د هغۀ سره د ماسپښين څلور ركعاته كړيدى او د هغے نه روستو دوه ركعاته (نفل)، او په سفر كښ مے د هغۀ سره د ماسپښين دوه ركعاته (فرض) كړى دى، او د هغے نه روستو دوه ركعاته (نفل كړيدى) او مازيګر مے ورسره دوه ركعاته كړيدى او د مازيګر نه روستو ئے هيڅ (نفل) مونځ اُونۀ كړو، او په ماښام كښ ئے په حضر او سفر كښ برابر درے ركعاته كړى دى، او په حضر او سفر (دواړو) كښ به ئے هيڅ كمے نۀ كولو، او د ماښام مونځ د ورځے وتر دى، او د ماښام نه روستو به ئے دوه ركعاته كول۔ (ترمذيؒ)۔

تشريح : د حديث نه معلومه شوه چه د سفر په حالت كښ قصر صرف په هغۀ مونځونو كښ جائز دے چه څلور ركعاتى وى، او كوم مونځ چه څلور ركعاتى نۀ وى لكه مغرب او فجر نو په هغے كښ قصر جائز نۀ دے، دا مونځ لكه څنګه چه په حضر كښ كيږى دغه شان به په سفر كښ هم كولے شى۔

ددے حديث نه بعض علماء استدلال كوى چه سنت په سفر كښ پكار دى ليكن دلته دا سنت نۀ دى بلكه دا نوافلو درجه كښ دى ځكه چه ظهر كښ ئے صرف روستنى دوه ركعاته كړيدى نو كه دا سنت راتبه وے نو مخكښى به ئے هم كړى وے، او كه سنت شى نو بيا بياناً للجواز ددے كول هم احياناً جائز دى۔ ليكن اوله خبره ډيره راجحه ده۔

وتر النهار مطلب دا دے چه لکه څنګه چه د شپے وتروی نو دغه شان د ماښام مونځ د ورځے وتر دی، او وتر بهتر مونځ دے، نو دا تشبیه په نفس وتریت کښې ده، ددے نه دا استدلال کول – چه وتر درے رکعاته دی د ماښام په شان – بعید دی، ځکه چه د ماښام په شان وتر کولو نه په صحیح حدیث کښې نهی راغلے ده، لکه مخکښې تیر شویدی، بلکه دا چه تشبیه من کل الوجوه نۀ ده بلکه په نفس تاك والی کښې ده او درے رکعاته خو ثابت دی خو ډیره غوره او صحیح طریقه پکښې دا ده چه درے رکعاته په دوه سلامونو سره اُوکړے شی لکه دا د بخاریؒ او مسلمؒ په روایتونو کښې راغلی دی او یا په یو سلام اُو یوه قعده سره اُوکړے شی۔ لهٰذا دا استدلال د اشارے نه دے او بل طرفته نصوص موجود دی۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف والحديث صحيح لغيره لشواهده : اخرجه الترمذی (۵۵۲) والبغوی فی شرح السنة (۱۰۳۵) وقال الترمذی حديث حسن وسمعت محمداً يعني البخاری – يقول : ما روی ابن ابی ليلی حديثاً اعجب الی من هذا ولا اروی عنه شيئاً آه۔ مع انه سیء الحفظ وشيخه فيه عطية العوفی ضعيف ومدلس لكن فی الباب احاديث اخریٰ تدل علی هذا المعنی۔ انظر المرعاة (۴۰۴/۴)

---

۱۲ – وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ فِي غَزْوَةِ تَبُوْكَ : اِذَا زَاغَتِ الشَّمْسُ قَبْلَ أَنْ يَّرْتَحِلَ، جَمَعَ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ، وَاِنِ ارْتَحَلَ قَبْلَ أَنْ تَزِيْغَ الشَّمْسُ أَخَّرَ الظُّهْرَ حَتّٰى يَنْزِلَ لِلْعَصْرِ وَفِي الْمَغْرِبِ مِثْلَ ذٰلِكَ اِذَا غَابَتِ الشَّمْسُ قَبْلَ أَنْ يَّرْتَحِلَ جَمَعَ بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ، وَاِنِ ارْتَحَلَ قَبْلَ أَنْ تَغِيْبَ الشَّمْسُ أَخَّرَ الْمَغْرِبَ حَتّٰى يَنْزِلَ لِلْعِشَاءِ، ثُمَّ يَجْمَعُ بَيْنَهُمَا. رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : او معاذ بن جبل ؓ فرمائی : نبی ﷺ په غزوه د تبوك کښې وو، (داسے عمل به ئے کولو چه) کله به نمر زائل شو د سفر شروع کولو نه مخکښې به ئے د ماسپښین او مازیګر مونځونه (په یو وخت کښې) جمع کړل او کله چه به ئے د نمر زائل کیدو نه مخکښې مخکښې سفر شروع کولو نو ماسپښین به ئے روستو کړو تردے چه مازیګر مانځه ته به راکوز شو (او د مازیګر په وخت کښې به ئے ماسپښین اُوکړو بیا به د مازیګر اُوکړو) او په ماښام کښې به ئے (هم) دغه شان کار کولو کله چه به نمر ډوب شوے وو د سفر شروع کولو نه به ئے مخکښې د ماښام او ماسخوتن مونځ جمع کړو او کۀ د نمر غائبیدو نه مخکښې به ئے سفر شروع کولو نو د ماښام مونځ به ئے روستو کړو تردے چه د ماسخوتن دپاره به راکوز شو بیا به ئے دواړه

(مونځونه په يو وخت کښې) جمع کړل۔ (ابوداوّد، ترمذیؒ)

تشریح : دا حدیث صریح دلیل دے چه په سفر کښې جمع بین الصلاتین جمع حقیقی شویده او جمع تقدیم ده او په يو وخت کښې دواړه مونځونه شویدی۔ ځکه چه د سفر شروع کولو نه مخکښې بعد الزوال چه دواړه مونځونه جمع کوی نو ضرور به دا د ظهر وخت وی او دواړه په کښې جمع شویدی۔

وَاِنِ ارْتَحَلَ : دے کښې جمع تاخیر ذکر ده۔ او جمع صوری پکښې نشته۔

او باقی تاویلاتو ته پکښې ضرورت نشته۔ د الله د نبی صفا احادیث دی لیکن مقلدینو موټر ته ګران کړیدی، هر حدیث کښې ئے ځایه خبرے او تاویلات کړیدی نو ځکه د هغے نشاندهی کیږی۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه احمد فى المسند (۲۴۱/۵-۲۴۲) والدارمى (۳۵۶/۱) وابوداود (۱۲۲۰) والترمذى (۵۵۳) وقال حديث حسن غريب وتفرد به قتيبة آه ولكن قتيبة ثقة وكذلك سائر الرواة ثم ليس هو متفرداً بل فى الباب احاديث عن انس وابن عمر وابن عباس كما مرت فى تفصيل المسئلة)

۱۳ – وَعَنْ اَنَسٍ، قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِذَا سَافَرَ وَاَرَادَ اَنْ يَّتَطَوَّعَ، اسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ بِنَاقَتِهٖ، فَكَبَّرَ ثُمَّ صَلّٰى حَيْثُ وَجَّهَهٗ رِكَابُهٗ. رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او انس رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ به چه کله سفر کولو او (په لاره به ئے) اراده وه چه نفل اُوکړی نو خپله اُوښه به ئے قبلے ته متوجه کړهٔ او الله اکبر به ئے اُووئیلو، بیا به ئے مونځ کولو هر طرف ته به چه اُوښه متوجه کړو۔ (ابوداوّد)

تشریح: دا دلیل دے چه په سفر کښې نوافل شته او کول ئے پکار دی، د نبی علیه السلام تابعداری ده۔

بیا قانون دا دے چه يو فرائض دی او بل نوافل، فرائض په هغه سورلئ نهٔ کیږی په کوم کښې چه رکوع او سجده نهٔ کیږی لکه بس، موټر وغیره لیکن که دے کښې رکوع او سجده لګیدله نو بیا جائز ده اګرکه په ناسته وی یعنی که په ولاړه مونځ پکښې کیدے شو نو بالکل جائز او که په ناسته کیدے شو خو رکوع او سجده پکښې لګیدله لکه په مینځ د بس کښې کینی نو بیا جائز ده او دغه شان حکم د جهاز او ریل ګاړی دے۔

دلیل پدے باندے احادیث د سفینه دی۔ ابن عمر رضی الله عنه فرمائی : نبی کریم ﷺ نه تپوس اُوشو په باره د مانځه کښې په کشتئ کښې، چه زه په کشتئ کښې څنګه مونځ اُوکړم ؟ نبی

ﷺ اُوفرمايل : (صل فيها قائمًا الا ان تخاف الغرق) (په ولاړه ئې اوکړه مګر د غرق کيدو نه يريږې (نو بيا په ناسته اُوکړه) (اخرجه الحاكم ۲۷۵/۱) وقال صحيح الاسناد، قال الذهبي على شرط مسلم) وصححه الالباني في صفة الصلاة ص (۷۹)

۲- عبد الله بن ابى عتبة فرمائى : زهٔ د جابر بن عبد الله او ابو سعيد الخدرى او ابو هريره (رضى الله عنهم) سره په کشتئ کښې ملګرے شوم نو هغوى په ولاړه جمعے سره مونځ اُوکړو بعضو ورته امامتى کوله او دوى قادر وو په غاړه د درياب باندے (چه کوز شوى وے او په زمکه ئے مونځ کړے وے ليکن بيا ئے هم په کشتئ کښې اُوکړو دا دليل د جواز دے) (سنن سعيد بن منصور) والمصنف لعبد الرزاق (۵۸۲/۲)

۳- انس بن مالك ﷺ خپلو ملګروته په کشتئ کښې مونځ اُوکړو چه په بستره باندے ناست وو- (عبد الرزاق ۵۸۲/۲) وابن ابى شيبة (۴۱۶/۱) -

بيا فرائض چه په سورلئ کوى نو پدے کښې استقبال الى القبله فرض دے، او په اول د تکبير تحريمه کښې به خو ضرور استقبال کوى که روستو د ضرورت په بناء اُونه شو نو خير دے، ساقط دے- او په اول کښې ضرورت نشته- او بل طرفته استقبال الى القبله قرآنى حکم دے نو دا به د سخت ضرورت په صورت کښې ساقطيږى-

او کله چه سخت ضرورت راپيښ شى لکه زمکه باندے باران شوے وى او اُوګده لاره وى، ختے او اُوبه وى، د کوزيدو اِمکان نهٔ وى نو بيا په اشارے سره هم په سورلئ مونځ کيږى لکه پدے باره کښې انس بن سيرينؒ وائى زهٔ د انس بن مالك ﷺ سره په يو بارانى ورځ کښې روان وم او مونږ په سورلو وو او زمکه ډيره کولاوه وه (د کوزيدو امکان نهٔ وو) نو انسؓ مونږ ته د مازيګر مونځ په خر باندے اُوکړو چه په سر به ئے اشاره کوله او سجده به ئے د رکوع نه زياته خکته کوله- (عبد الرزاق رقم ۴۵۱۱) والطبرانى فى الكبير ورجاله ثقات كما فى مجمع الزوائد (۱۶۲/۲)

ابو عيسى الترمذىؒ فرمائى : د انس بن مالكؓ نه مروى دى چه هغه په اُوبه او ختو کښې په دَابه (سورلئ) باندے مونځ کړيدے او پدے باندے د اهل علمو په نيز عمل دے او دا قول د احمدؒ او اسحاقؒ دے-انتهىٰ-

او پدے باره کښې يو مرفوع حديث د يعلىٰ بن مره هم نقل دے چه نبى ﷺ په باران کښې په سورلئ باندے صحابه کرامؓ ته امامتى کړيده ليکن د هغے په سند کښې عمر بن الرماح البلخى متفرد دے اګرکه ثقه دے ليکن نور راويان په کښې متکلم فيهم دى-امام بيهقىؒ (۷/۲) او شيخ البانىؒ ضعيف کړيدے-

صاحب د تحفة الاحوذی (۳۱۷/۱) د ابو الطيب المدنیؒ نه نقل کړيدی: چه دا حديث دليل دے په جواز د فرائضو په دابه باندے په حالت د عذر کښ انتهی۔

علامه شوکانیؒ فرمائی: ظاهر دا ده چه فرض په سفر کښ په سورلئ باندے جائز دی د هغه چا دپاره چه دغه شان عذر د باران او د زمکے د لوندوالی پرے راشی اګرکه دا په کجاوه کښ نۀ وی او دا قول د احمدؒ او اسحاقؒ دے او علامه عراقیؒ په شرح د ترمذی کښ د امام شافعیؒ نه نقل کړيدے۔ (نيل الاوطار ۱٤٨/٢)

او ابن عساکرؒ د انس بن مالکؓ نه بل روايت راوړيدے چه نبی ﷺ فرض مونځ په ختو کښ په خر باندے کړيدے۔ (کنز العمال رقم: ٥٦٦٥) و کشف النقاب (٤١٧/٥)

او علامه مُقبلیؒ په المنار (١٤٩/١) کښ فرمائی: په کوم روايت کښ چه دا دی چه فرض مونځ به ئے په سورلئ نۀ کولو د هغے نه مراد هغه حالت دے چه عذر نۀ وی او رکوع او سجده هم نۀ لګيږی او کله چه عذر وی نو په دغه روايت کښ د هغے نه منع نۀ ده راغلے لهذا دا معارض نۀ ګرځی د هغه رواياتو چه په هغے کښ د عذر په وجه فرض مونځ په سورلئ راغلے دے۔ انتهیٰ۔

علامه ابن حزمؒ فرمائی: په آيت: ﴿فَاِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالاً اَوْ رُكْبَاناً﴾ کښ پياده او په سورلئ باندے مونځ راغلے دے په حالت د خوف کښ او دا خوف عام دے شارع پکښ تخصيص نۀ دے کړے هر قسم خوف ته شامل دے که دا خوف د دشمن وی او که د ختو وغيره وی نو ددے تخصيص نۀ دے جائز۔

(المحلی ١١٦/٢) و کذا قاله القرطبیؒ فی تفسيره (٢٢٣/٣)

دويم نوافل دی: نو دا په هر حالت کښ په سورلئ جائز دی، برابره ده چه په زمکه دکوزيدو اِمکان وی او که نه، او د رکوع او سجدے امکان وی، او که اشاره وی خو په اوله کښ استقبال الی القبله مستحب دے روستو که هر طرفته سورلئ متوجه شی خير دے۔

وجه دا ده چه پدے کښ تابعداری ده د عمل د نبی ﷺ چه هغه په ابتداء کښ داسے عمل کړيدے او که عذر وی نو بيا استقبال ضروری نۀ دے ځکه چه دے باره کښ احاديث مطلقه هم راغلی دی چه په هغے کښ د استقبال الی القبله هيڅ تذکره نشته۔ کما فی رواية عامر بن ربيعة وعبد الله بن عمر وجابر بن عبد الله۔ (زاد المعاد ٤٥٨/١)

لهذا معلوميږی چه استقبال الی القبله کله کله شويدے او په دوام باندے دلالت نۀ کوی۔ او په نوافلو کښ توسع وی۔ او د امام شافعیؒ په نيز دا توجه الی القبله واجب ده۔

انظر لتفصيل المسئلة عون المعبود ٤٧٣/٢) والمجموع شرح المهذب (٢٣٢/٣) وشرح السنة

(٥٤٤/٢) والمغنی (٤٣٦/١) والمرعاة (٤٠٠/٤) وفتاوی الدين الخالص (٣٦/٤) و(٢٠٢/٥)

درجة الحديث : اسناده حسن : اخرجه ابوداود (١٢٢٥) والدارقطني (٣٩٦/١ رقم ٣٢٢١) والبيهقي في الكبرى (٥/٢) وصححه ابن السكن وحسنه الحافظ في بلوغ المرام (٤٣/١) والالباني في صحيح ابي داود (٢٢٦/١) روضة المحدثين (٨٦/٩)

---

١٤ – وَعَنْ جَابِرٍ، قَالَ: بَعَثَنِي رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فِيْ حَاجَةٍ، فَجِئْتُ وَهُوَ يُصَلِّيْ عَلٰى رَاحِلَتِهٖ نَحْوَ الْمَشْرِقِ، وَيَجْعَلُ السُّجُوْدَ أَخْفَضَ مِنَ الرُّكُوْعِ. رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او جابر ؓ فرمائی : زهٔ (يوه ورځ) رسول الله ﷺ د يو حاجت (کار) پسے اُوليږلم، نو (کله چه) زهٔ راغلم، هغهٔ په اُوښهٔ باندے مشرق طرف مونځ کولو، او سجده به ئے د رکوع نه (په اشاره کښې) خکته کوله۔ (ابوداودؔ)

تشريح : د بعض علماؤ رايه دا ده چه په کلی کښې په حضر کښې په سورلئ باندے مونځ نهٔ کيږی، ليکن تحقيقی قول دا دے چه په حضر کښې هم په سورلئ مونځ جائز دے مثلاً ته د پشاور نه کارخانو ته ځے نو په لاره په ګاړی کښې د اشراق مونځ اُوکړه هلته به دوکاندارئ ته فارغ ئے۔ او که ته په لاره کوزيږے نو بيا به ګرانه شی۔او دلته نبی ﷺ دا کار په مدينه کښې کړيدے۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه احمد في المسند (٣٣٢/٣) والدارمي (٣٥٦/١) وابوداود (١٢٢٧) واسناده صحيح على شرط مسلم لولا عنعنة ابي الزبير فانه مدلس لكن قد صرح بالتحديث في رواية البيهقي في الكبرىٰ (٥/٢) واخرجه الترمذی (٣٥١)

الفصل الثالث

١٥ – عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: صَلّٰى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ بِمِنًى رَكْعَتَيْنِ، وَأَبُوْبَكْرٍ بَعْدَهٗ، وَعُمَرُ بَعْدَ أَبِيْ بَكْرٍ، وَعُثْمَانُ صَدْرًا مِنْ خِلَافَتِهٖ. ثُمَّ إِنَّ عُثْمَانَ صَلّٰى بَعْدُ أَرْبَعًا. فَكَانَ ابْنُ عُمَرَ إِذَا صَلّٰى مَعَ الْإِمَامِ صَلّٰى أَرْبَعًا، وَإِذَا صَلَّاهَا وَحْدَهٗ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : ابن عمر ؓ فرمائی : رسول الله ﷺ په مِنیٰ کښې دوه رکعاته کړی دی، او د هغهٔ نه روستو ابوبکر او د ابوبکر نه روستو عمر، او عثمان په ابتداء د خلافت کښې (دوه رکعاته کړيدی) بيا ددے نه روستو به عثمان ؓ (په مِنیٰ کښې) څلور رکعاته کول، نو عبد

الله بن عمرؓ به چه کله د امام سره مونځ کولو نو څلور رکعاته به ئے کول او چه کله به ئے یوائځے مونځ کولو نو دوه رکعاته به ئے کول۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح :

عثمان ولے مسافرانه مونځ مکمل کولو؟

دلته دا مسئله بیان کړه چه عثمان ؓ ولے د نبی ﷺ په ظاهر کښ مخالفت کولو چه دهٔ به په مِنیٰ کښ اتمام کولو او نبی ﷺ او مخکنو خلفاؤ به قصر کولو؟ نو ددے نهه (۹) عذرونه دی چه اکثرو باندے اعتراض واردیږی صرف یو عذر صحیح دے۔

لکه بعض دا دی : ۱- بعض وائی : عثمان خلیفه وو او د خلیفه دپاره هرځائے دار الاقامه وی۔ دا عذر صحیح نهٔ دے ځکه چه نبی ﷺ خود عثمان نه غټ خلیفه وو نو هغه ولے اتمام نه کولو۔

۲- بعض روایاتو کښ راغلی دی (کما فی مسند احمد) چه عثمان نه چا تپوس اوکړو چه ته ولے اتمام (څلور رکعاته) کوے؟ نو هغه اوفرمایل : (یا ایها الناس انی قد تأهلت بمكة وانی سمعت رسول الله ﷺ يقول : من تأهل فی بلد فليصل صلاة المقيم) اے خلقو ما وادهٔ کړے په مکه کښ او نبی ﷺ نه مے اَوریدلی دی چه چا په یو کلی کښ وادهٔ اُوکړو نو هلته به د مقیم مونځ کوی) دا عذر هم صحیح نهٔ دے ځکه دا روایت ضعیف دے په سند کښ ئے عکرمه بن ابراهیم الباهلی مجهول الحال راوی دے۔ بلکه دا چه په مکه کښ خو نور صحابه کرامؓ هم مقیم وو لکه مخکښ حارثه بن وهب الخزاعی حدیث کښ ذکر شو۔ او هغوی په مِنیٰ کښ د نبی ﷺ سره قصر کړیدے۔

۳- دریم دا په تاریخ کښ نشته چه عثمان په مکه کښ وادهٔ کړے وو۔

۳- **عذر** : بعض وائی : د أعرابو د تعلیم دپاره ئے څلور کړیدی چه چرته دوی گمان اُونکړی چه مونځ دوه رکعاته شو۔ دا عذر هم خطاء دے ځکه چه دا خطره خو د نبی ﷺ په زمانه کښ وه چه نوی أحکام به راتلل نو نبی ﷺ او ابوبکر له دا کار پکار وو لهذا اُوس دا وَهم نهٔ دے پاتے۔ او د نبی علیه ﷺ د دور نه تر د عثمان دور پورے (۲۵) کالو کښ به قصر کیدو۔ نو دا وَهم ولے نه کیدو؟۔

٤- **عذر** : په مِنیٰ کښ ئے زمکه اَخستے وه۔

۵- عثمان به مکے ته د تولو خلقو نه مخکښ راتلو نو هلته به مُقیم شو۔ لیکن پدے عذرونو هیڅ دلیل نشته۔ او دا اعذار د روستو حدیث د عائشےؓ مخالف دی چه هغے کښ

دی چه عائشہؓ د عثمان په شان تاویل کړے وو نو د عائشہؓ په حق کښې خو دغه اَعذار نهٔ صحيح کيږی لهذا دغه حقيقی او اصلی عذرونه نهٔ دی بلکه :

٦- **صحيح عُذر** دا دئے چه دا د عثمانؓ اجتهاد وو چه پدے مقام کښې قصر او اتمام دواړه جائز دی نو په يو جائز کارئے عمل کړيدے او اتمام ورته اَفضل ښکاره شويدے پدے وجه چه پدےکښې مشقت زيات دے۔ لکه څنګه چه دا مذهب د امام شافعیؒ دے په سفر کښې۔ او د عائشہ هم دا نظريه وه چه نبی ﷺ کوم قصر کړيدے نو هغهٔ ئے د اُمت دپاره په آسانئ باندے عمل کړے دے او مونږ په سخت کار عمل کوو چه هغه اتمام دے۔ (قاله ابن بطال ورجحه القرطبی) لکه د عائشہؓ نه عروهؒ تپوس اُوکړو چه تاسو په سفر کښې ولے اتمام کوئ نو هغے اُوفرمايل : (يا ابن اختی انه لا يَشُقُّ عَلَیَّ) (السنن الكبری ١٤٣/٣) (د مونږ په پوره والی کښې ما ته څه مشقت نشته)

٧- **حافظ ابن حجرؒ** وائی : دا هم نقل شويدی چه رأی د عثمان دا وه چه قصر مختص دے د هغه چا پورے چه روان وی، مزل کونکے وی، او څوك چه په سفر کښې په يو مكان کښې قيام اُوکړی نو د هغه دپاره حکم د مقيم دے، نو اتمام به کوی۔ او دليل ئے روايت د عبد الله بن زبيرؓ دے چه باسناد حسن امام احمدؒ نقل کړيدے۔

عبد الله بن الزبيرؓ فرمائی : کله چه مونږ ته معاويهؓ حج کونکے راغلو نو په مکه کښې ئے مونږ ته دوه رکعاته د ظهر اُوکړل بيا دار الندوه ته لاړو نو مروان او عمرو بن عثمان ورته ورداخل شو دواړو اُووئيل : تا خو د خپل تره څوی په کار باندے عيب اُولګولو چه هغه به اتمام کولو (او تا قصر اُوکړو) دے فرمائی : عثمان به چه کله مکے ته راغلو نو د ظهر، عصر او عشاء مونځونه به ئے اتمام سره (څلور څلور) کول بيا چه مِنیٰ، عرفات ته به لاړو نو قصر به ئے کولو او کله چه به د حج نه فارغ شو او مِنیٰ کښې به مقيم شو نو اتمام به ئے کولو۔حافظ ابن حجرؒ وائی دا عذر ډير اولیٰ دے ځکه پدے کښې راوی خپله په سبب باندے تصريح کړيده۔ (فتح الباری)

فَكَانَ ابْنُ عُمَرَ : يعنی ابن عمرؓ به پدے مسئله کښې د خليفة المسلمين سره جګړه او مخالفت نهٔ کولو بلکه د هغهٔ په تابعداریٔ کښې به ئے مکمل مونځ کولو، اګرکه دا به مسافر وو۔ ددے نه مونږ ته دا سبق ملاوېږی چه پداسے مسئلو کښې به مسلمانان خپل کښې داسے اختلاف نهٔ کوی چه د يو بل بے احترامی اُوکړی ځکه چه دا د کفر او د اسلام مسئله نهٔ ده چه انسان پکښې سخت اِختلاف اُوکړی بلکه مستحب کښې اختلاف دے۔ پدے سره به مسلمانان خپل مينځ کښې محبت نهٔ ختموی۔

لهٰذا دا هم دليـل دے چـه قصر بهتر دے او اتمام هم كله كله جائز دے لكه په تابعدارى د يـو امـام كـښې ئے انسان اُوكړى نو جائز به وى۔ او كه د مقيم امام پسے اُودريدے نو بيا خو به ضرور څلور ركعاته كوے اقتداء د امام ضرورى ده۔

ابـن حزمؒ پـدے كـښې اختـلاف كوى او هغه دا حديث ليدلے دے۔ ليكن دا ورته د صحابى خپـل اجتهـادى عمل ښكاره شويدے او مرفوع حديث ئے نهٔ دے گنړلے لهٰذا د هغه په نيز دا حجت نهٔ دے۔

---

۱۶ – وَعَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: فُرِضَتِ الصَّلَاةُ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ هَاجَرَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ، فَفُرِضَتْ اَرْبَعًا، وَتُرِكَتْ صَلَاةُ السَّفَرِ عَلَى الْفَرِيْضَةِ الْاُوْلٰى. قَالَ الزُّهْرِيُّ: قُلْتُ لِعُرْوَةَ: مَا بَالُ عَائِشَةَ تُتِمُّ؟ قَالَ: تَأَوَّلَتْ كَمَا تَأَوَّلَ عُثْمَانُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: او عـائشـه رضى الله عنها فرمائى: (په ابتداء كښې په سفر او حضر كښې) مونځ دوه ركـعاته فرض شوے وو، بيا رسول الله ﷺ هجرت اُوكړو نو (د مقيم دپاره) څلور ركعاته فـرض شـو او د سفر مونځ په اولنى (دوه ركعاته) فرضو باندے پاتے شو۔ امام زهرىؒ فرمائى: مـا عروه بن زبيرؒ ته اُووئيل: چه عائشےؓ له څهٔ وجه وه چه هغے به (په سفر كښې) پوره (څلور ركـعاته) مونځ كولو؟ ۔ هغوى اُوفرمايل : هغے هم داسے تاويل كولو لكه څنګه چه عثمان تاويل كړيدے۔ (بخارىؒ ومسلمؒ)

تشريح : يعنى ابتداء كښې مونځ دوه دوه ركعاته فرض وو سِوئ د ماښام نه بيا د هجرت نـه روستـود ظهـر او عـصـر او عشاء مونځونو سره دوه دوه ركعاته زيات فرض شو نو څلور ركـعاته شو بيا د سفر په حالت كښې رجوع بيرتـه اول حالت ته اُوشوه نو څلور ركعاتى مونځ بـه دوه ركـعاته كولے شى او ماښام كښې چونكه اول نه تبديلى نهٔ وه نو هغه به په سفر كښې هم په زوړ حالت باندے باقى پاتے وى۔

لهٰذا ددے نه دا معلوميږى چه سفر كښې قصر عزيمت (لازم) دے او رخصت نهٔ دے،ځكه دا ابتـدائـى فـريـضـه بـانـدے عمل دے او په حضر كښې زيادت شويدے۔ او په اَصلى فرضو بـانـدے عـمـل كـول لازم وى۔ لهـٰذا قـصـر عـزيـمـت شو۔ ليكن ددے جواب مخكښې ذكر شويدے چه قصر سنت دے نهٔ واجب۔ د وجه د نورو دلائلو نه۔

مَا بَالُ عَائِشَةَ : يـعـنـى زهرىؒ عروةؒ ته اُووئيل چه ددے روايت نه خو معلوميږى چه نبى ﷺ بـه پـه سفر كښې قصر كولو نو بيا عائشهؓ څنګه ددے خلاف كوى او هغه په سفر كښې

اتمام كوى؟ نو عروة ورته اُوفرمايل : عائشةؓ داسے تاويل كړے وو لكه څنګه چه عثمانؓ كړے وو او هغه تاويل كښ ډير صورتونه مخكښ ذكر شويدى۔
راجح پكښ دا دے چه د عائشةؓ او د عثمانؓ دا مذهب وو چه په سفر كښ قصر او اتمام دواړه جائز دى او په اتمام كښ چونكه مشقت زيات وى لهذا دا بهتر دے۔
تعارض : بيا دا حديث رد دے په يوه قاعده د احنافو باندے چه وائى : (الراوى اذا عَمِلَ بخلاف مَروِيِّهٖ فالعبرة لِرَأيِ الراوى لا لِروايته) (راوى چه كله د خپل روايت خلاف عمل اُوكړى نو اعتبار به رأى د راوى له وى نهٔ روايت له) څكه چه دا به دليل وى چه ددهٔ په نيز دا حديث يا منسوخ دے يا ددے نه بل روايت راجح دے۔ لكه دا خبره ئے په مسئله د سُور الكلب كښ كړے وه چه ابو هريرةؓ لوښے اُووه كرتے نهٔ دے وينځلے او روايت ئے د اُووه كرتو نقل كړيدے نو هلته ئے رأى د ابو هريرةؓ اخستے ده (سره ددے نه چه ابو هريرةؓ ددوى په نيز فقيه هم نهٔ دے) او روايت ئے ورله ترك كړيدے۔
نو دلته د عائشةؓ په سفر كښ عمل اتمام د مانخه وو او روايت ئے د قصر نقل كړيدے او حال دا چه احنافو دلته روايت اخستے دے او عمل ئے ترك كړيدے۔ نو قاعده پرے اُولټه شويده۔ او په خبره كښ ئے تعارض پيدا شو۔ دا دليل دے چه دا اُصول د امام ابوحنيفةؒ نه ندى نقل بلكه دا روستو مُوليانو مقرر كړيدى او د امام ابوحنيفةؒ مسائلو دپاره ئے ذهنى قواعد مستنبط كړيدى۔ امام حافظ ابن القيمؒ فرمائى : په دين به هله پو هيږے چه كله عندى قواعد وران كړے او د هغے نه يَره نهٔ محسوس كوے، او كهٔ ددے فرضى قواعدو نه انسان يَريږى نو بيا په دين باندے نشى پو هيدلے۔ (اعلام الموقعين والصواعق المرسلة ١/٣٤١) والقصيدة النونية ص (٢٢٠)
بلكه صحيح خبره د جمهورو ده چه روايت د راوى له اعتبار دے، نهٔ عمل د راوى له څكه چه روايت حجت دے او عمل د راوى حجت نهٔ دے۔ د عمل دپاره ډير احتمالات كيدے شى چه ممكن ده چه هغه اجتهاد كړے وى، يا ترے خپل حديث هير شوے وى لكه ددے ډير مثالونه مخكښ تير شوى دى۔ او په روايت كښ احتمالات نهٔ وى۔

---

١٧ - وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: فَرَضَ اللهُ الصَّلَاةَ عَلٰى لِسَانِ نَبِيِّكُمْ ﷺ فِي الْحَضَرِ اَرْبَعًا، وَفِي السَّفَرِ رَكْعَتَيْنِ، وَفِي الْخَوْفِ رَكْعَةً. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او ابن عباس ؓ فرمائى : الله تعالىٰ ستاسو د نبى ﷺ په ژبه مونځ په حضر

کښې څلور رکعاته او په سفر کښې دوه رکعاته او په خوف کښې یو رکعت فرض کړیدے۔ (مسلمؒ)

تشریح : په خوف کښې یو رکعت څنګه فرض دے؟ نو پدے کښې جُمهور وائي : دا یو رکعت مستقلًا نۀ دے بلکه مع الامام (د امام سره) یو رکعت مراد دے لکه څنګه چه په صلاة الخوف کښې به راشي چه هره طائفه به د امام سره یو یو رکعت اُوکړي او یو رکعت به ځانله کوي۔ لیکن بعض سلفو (حسن بصریؒ، ضحاکؒ، اسحاق بن راهویهؒ، عطاءؒ، طاووسؒ، مجاهدؒ، حکم بن عتیبهؒ، قتادهؒ، ثوریؒ، او ابن عباسؓ، ابو هریرهؓ، اوابو موسی الاشعری رضی الله عنهم) دا په ظاهر باندے حمل کړیدے چه په صلاة الخوف کښې یو رکعت هم مستقلًا راغلے دے لکه څنګه چه دوه ثابت دی او د مع الامام قید لګول تاویل دے په حدیث کښې او دیته ضرورت نشته۔ او دا هغه حقه مسئله ده چه په حدیث کښې ثابته ده او ائمه اربعه ؤ پرے قول نۀ دے کړے۔

۱۸ – وَعَنْهُ، وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَا: سَنَّ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ صَلَاةَ السَّفَرِ رَكْعَتَيْنِ، وَهُمَا تَمَامٌ غَيْرُ قَصْرٍ، وَالْوِتْرُ فِي السَّفَرِ سُنَّةٌ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او د ابن عباس او ابن عمر رضی الله عنهما نه نقل دی فرمائي: رسول الله ﷺ د سفر مونځ دوه رکعاته مقرر کړیدے، او دا دواړه پوره مونځ دے، ناقص نۀ دے، او په سفر کښې وتر سنت دی۔ (ابن ماجهؒ)۔

تشریح : وَهُمَا تَمَامٌ :ددے مقصد دا دے چه د سفر مونځ ابتداءً دوه رکعاته مشروع شوے دے، داسے نۀ ده چه اول څلور رکعاته مشروع وو بیا دوه رکعاته کم کړے شو۔ لهذا دا حدیث دلیل دے چه صلاة السفر دوه رکعاته دے او دا په اَجر کښې پوره دے، داسے به نۀ وائے چه اصل مونځ څلور دے خو مونږ دوه رکعاته کم کوو، اجر به کم وی نۀ بلکه ددے پوره اجر ملاویږی د څلورو په شان۔

سُنَّةٌ: ددے نه مراد اصطلاحی سنت نۀ دی بلکه معنیٰ دا ده چه وتر په سفر کښې ثابت دی په سنت، یا معنیٰ دا ده چه وتر په سفر کښې په دین کښې مشروعه طریقه ده۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف: اخرجه ابن ماجه (١١٩٤) و كذا في مسند احمد (١/٢٤١) واسناده ضعيف جداً فيه جابر وهو ابن يزيد الجعفي وهو متهم كما في الزوائد)

۱۹ – وَعَنْ مَالِكٍ بَلَغَهُ اَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ كَانَ يَقْصُرُ فِي الصَّلَاةِ فِي مِثْلِ مَا يَكُوْنُ بَيْنَ مَكَّةَ وَالطَّائِفِ، وَفِي مِثْلِ مَا يَكُوْنُ بَيْنَ مَكَّةَ وَعُسْفَانَ، وَفِي مِثْلِ مَا بَيْنَ مَكَّةَ وَجُدَّةَ. قَالَ مَالِكٌ: وَذٰلِكَ اَرْبَعَةُ بُرُدٍ. رَوَاهُ فِي الْمَوَطَّأ. ______

ترجمه: او مالك رحمه الله ته رسیدلی دی چې ابن عباس ﷺ به د هغهٔ مسافت په دوران کښې – چه د مکے او طائف ترمینځ او د مکے او عُسفان ترمینځ او د مکے او جُدے ترمینځ وو، – په مانځه کښې قصر کولو۔ امام مالك فرمائی: او دا مسافت څلور برید دے۔ (موطأ)

تشریح: دا بل روایت دے د ابن عباسؓ نه چه هغه وائی څوك څلور بریدو ((۴۸) میلو) نه زیات لاړو نو بس مقیم به وی۔ او ددے مسئلے تفصیل په ابتداء د باب کښې تیر شویدے۔

بَيْنَ مَكَّةَ وَالطَّائِفِ: علامه یاقوت حمویؒ په معجم البلدان کښې لیکی: د مکے او د طائف ترمینځ فاصله کله چه د مکے نه راخیژی طائف ته نو د یوے ورځے فاصله ده او چه مکے ته کوزیږی نو نیمه ورځ ده۔ او دائے هم وئیلی دی: چه طائف ته وادی وج وائی، او دا د ثقیف ښارونه دی او ددے او د مکے ترمینځ دولس فرسخه فاصله ده۔ انتهیٰ۔

بعض وائی: د عرفات په لاره ددے او د مکے ترمینځ نهه نوی (۹۹) کلومیتره فاصله ده یعنی تقریباً دوه شپیته (۶۲) میله۔

وَعُسْفَانَ: علامه زرقانیؒ وائی: ددے او د مکے ترمینځ درے مراحل فاصله ده۔

علامه یاقوتؒ وائی: بعض وائی: عسفان یو جامع کلے دے چه په هغے کښې کجورے او فصلونه وغیره دی او د مکے نه د شپږ دیرش میلو په فاصله باندے پروت دے۔ او دا د تهامے حدود دی۔

بَيْنَ مَكَّةَ وَجُدَّةَ: جده (په ضمه د جیم او تشدید د دال) یو ښار دے چه د بحر الیمن په غاړه باندے واقع دے، ددے او د مکے ترمینځ درے شپے مزل دے او بعض وائی: یوه ورځ او یوه شپه فاصله ده او بعض وائی: ددے او د مکے ترمینځ درے اَوویا (۷۳) کلومیتر فاصله ده یعنی تقریباً شپږ څلویښت (۴۶) میله فاصله ده۔

قَالَ مَالِكٌ: وَذٰلِكَ: دا اشاره ده (اقل ما ذکر من المواضع) ته یعنی پدے کښې کمه فاصله تقریباً څلور بریدو ته رسیږی۔

اَرْبَعَةُ بُرُدٍ: یو برید څلور فرسخه وی او یو فرسخ درے میله وی چه دا ټول اته څلویښت (۴۸) میله جوړیږی چه د کلومیترو په اعتبار سره تقریباً دوه اَوویا (۷۲) جوړیږی۔ (شرح

بلوغ المرام لعطية سالم)
درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه مالك فى الموطأ (۱۴۸/۱ رقم ۱۵) بلاغاً بلا اسناد) لكنه موصول فى ابن ابى شيبة (۱۰۸/۲) ومسند الشافعى وسنن البيهقى (۱۳۷/۳) انظر التلخيص (۱۲۹) وارواء الغليل (۱۸/۳) فصل فى صلاة المسافر)

---

۲۰ - وَعَنِ الْبَرَاءِ، قَالَ: صَحِبْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ ثَمَانِيَةَ عَشَرَ سَفَرًا، فَمَا رَأَيْتُهُ تَرَكَ رَكْعَتَيْنِ إِذَا زَاغَتِ الشَّمْسُ قَبْلَ الظُّهْرِ. رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.

ترجمه : او براء بن عازب ﷺ فرمائى : زۀ د رسول الله ﷺ سره په اتلس سفرونو كښې ملګرے شوے يم، نو ما هغۀ نۀ دے ليدلے چه د نمر زائلو كيدو نه پس د ماسپښين نه مخكښې ئے دوه ركعاته پريخى وى۔ (ابوداودؒ، ترمذىؒ) او امام ترمذىؒ وئيلى دى : دا حديث غريب دے۔
تشريح : دا مونځ د زوال نه پس او د ماسپښين نه مخكښې اداء كولے شى او دا نفل مونځ دے، ديته صلاة الزوال وائى۔ او ددے نه د ماسپښين سنت نۀ دى مراد۔ ځكه عشاء كښې ئے ندى كړى۔ لهذا دا دليل د سنتو كولو نۀ كيږى۔ يا بياناً للجواز ئے سنت كړيدى۔
درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه ابوداود (۱۲۲۲) والترمذى (۵۵۰) وقال حديث غريب وسألت محمداً فلم يعرفه الا من حدث الليث بن سعد ولم يعرف اسم ابى بسرة الغفارى قال الذهبى لا يعرف) ورآه البخارى حسناً (فتح البارى ۵۷۹/۲)

---

۲۱ - وَعَنْ نَافِعٍ، قَالَ: إِنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ كَانَ يَرَى ابْنَهُ عُبَيْدَ اللهِ يَتَنَفَّلُ فِي السَّفَرِ فَلَا يُنْكِرُ عَلَيْهِ. رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه : او نافع رحمه الله فرمائى: چه عبد الله بن عمر ﷺ به خپل ځوى عبيد الله ليدلو چه په سفر كښې به ئے نفل كول نو په هغۀ باندے به ئے هيڅ انكار نۀ كولو۔ (مالك)
تشريح : ددے روايت نه معلومه شوه چه عبد الله بن عمرؓ به د نفلو نه منع نۀ كوله بلكه د سنتونه به ئے منع كوله لكه دا خبره په ابتداء ددے باب كښې ذكر شوه۔
درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه مالك فى الموطأ (۲۴/۱۵۰/۱) وقال بلغنى عن نافع...... فهو منقطع.

باب الجمعة

د جُمعے بيان

جُمُعه مشهور قراءت پكښې ضمه د جيم او ميم دے او دا ضمه د ميم تابع ده د ضمے د جيم لكه په عُسُرٌ كښې عُسُر وئيلے شي دا اسم مصدر د اجتماع دے، كله ورته د يوم اضافت كيږي او كله د صلاة يعني يوم الجمعه او صلاة الجمعه (ورځ د اجتماع او مونځ د اجتماع) بيا ترے د كثرت استعمال د وجه نه دا حذف كيږي۔

۲– دويم قراءت پكښې سكون د ميم هم جائز دے او دا لغت د بنوتميم دے يعني هغه ورځ چه پدے كښې جمع كيدل كيدے شي۔

۳–فتحه د ميم هم جائز ده مَعنىٰ به ئے د فاعل وي يعني هغه ورځ چه راجمع كونكے ده خلقو لره او پدے ورځ كښې خلق ډير وي لكه دا وزن دلالت كوي په كثرت باندے لكه د هُمَزَةٍ لُمَزَةٍ (ډير عيب لگونكے) كښې چه معنىٰ د كثرت همز او كثرت لمز ده۔

جُمعه ئے اسلامي نوم دے، په جاهليت كښې به دے ورځے ته يوم العَرُوبَة وئيلے شوه۔ او ددے په وجه د تسميه كښې علماؤ ډير اقوال ذكر كړيدي چه دے ورځے ته جُمعه ولے وائي :

۱– بعض وائي پدے ورځ باندے د آدم ﷺ تخليق جمع او پوره شوے وو۔

۲– بعض وائي : وجه دا ده چه كله چه آدم عليه السلام د جنت نه راكوز شو نو پدے ورځ د حواء رضي الله عنها سره يو ځائے شو۔

۳– بعض وائي : پدے ورځ خلق د الله عبادت او طاعت دپاره راجمع كيږي۔ او اَسعد بن زراره رضي الله عنه به خلق پدے ورځ راجمع كول، وعظ او نصيحت به ئے ورته كولو او مونځ به ئے كولو نو بيا به ئے دے ورځے ته يوم الجُمعه وئيله۔ ٤– او يوم الاجتماع لرب العالمين هم ده۔ بعض نورے وجے هم بيان كړيدي ليكن ضعيفے دي۔

په شريعت كښې ددے ډير فضائل او اَهميت راغلے دے چه په راتلونكي احاديثو كښې به واضح شي۔

الله رب العالمين ته د بندگانو عبادت ډير خوښ دے پدے وجه ئے د دوي دپاره مختلف ماحولونه او موقعے مقرر كړيدي چه په هغے كښې بندگان الله ته قريب شي او د كوم مقصد

دپاره چه پیدا شویدی چه د هغې نه غافل نهٔ شي، پدې وجه ئې په هفته کښې یوه ورځ ددې دپاره مقرر کړه چه خلق به پدې کښې د الله عبادت ته راجمع کیږي او هفته کښې به ضرور وعظ او نصیحت او د دین خبرې اَوري، ځکه چه انسان کله د دین خبرې نهٔ اَوري نو زړه ئې سختیږي چه دا بیا مَجْمَع د خبائث او فساداتو جوړیږي او دا ورځ چونکه ډیر فضیلت والا وه، الله ته خوښه وه نو ځکه ئې دې اُمت ته دا ورځ ورکړه چه دوی ته په کښې ډیر خیر ملاؤ شي۔

پخوانو اُمتونو ته الله ددې ورځې د عبادت کولو حکم کړے وو چه تاسو ځان له یوه ورځ د عبادت مقرر کړئ چه په هغې کښې به راجمع کیږئ او خالص زما بندګي به کوئ او دا ئې ورته اُوفرمایل چه د جُمعې ورځ درله غوره ده لیکن خوښه ئې ورکړے وه چه تاسو هره ورځ غوره کوئ نو هغوی راولګیدل او خپله خوښه ئې استعمال کړه، نویهودو خالي (هفتې) ورځ ځان له مقرر کړه چه په دې ورځ کښې الله تعالیٰ د تول مخلوقاتو د پیدائش نه فارغ شوے وو، نو مناسب ده چه مونږ هم پدې ورځ د الله عبادت ته ځان فارغ کړو۔ او عیسایانو ځان له د اتوار (یکشنبې) ورځ اِختیار کړه ځکه چه دا هغه ورځ ده چه الله پکښې د مخلوقاتو پیدائش شروع کړے دے نو دا سبب د شکر او عبادت ده او مسلمانانو ته الله تعالیٰ د خپلې خوښې د استعمال موقعه ورنکړه بلکه دوی له ئې بغیر د اختیار نه د جُمعې ورځ د عبادت دپاره مقرر کړه۔ ځکه چه دا غوره اُمت دے نو غوره ورځ ورله الله ورکړه۔

او پدے ورځ باندې د آدم عليه السلام د پیدائش تکمیل شویدے او انسان الله د خپلې بندګۍ دپاره پیدا کړیدے نو پدے ورځ عبادت کولو دپاره ځان فارغ کول ډیر مناسب دي۔

نو دا دواړه فرقې پدې ورځو کښې د عبادت اِهتمام کوي او خپلو کیرجو او چرچونو او عبادت خانو ته روان وي۔ پدې وجه عیسایانو د اِتوار په ورځ د تمام کارونو، دفاتر او تعلیمي ادارو وغیره چهټي وي، اُوس هم د بعض اسلامي حکومتونو د عیسائیت پسندۍ او مرعوبیت په وجه هغوی د عیسائي خالص مذهبي طرز زندګي اختیار کړیده او په خپل ملکونو کښې ئې د جُمعې مُبارکې ورځې په ځائې د اِتوار په ورځ سرکاري چهټیانې کوي، دې دپاره چه خپل بالداران ترې خوشحاله وي۔ د جُمعې تعظیم ئې خراب کړو، د الله شعائر ئې بدل کړل۔

د جمعې ابتداء:

د جُمعې ابتداء د هجرت نه مخکښې په مدینه طیبه کښې شویده چه اَسعد بن زراره رضي الله عنه او مصعب بن عمیر رضي الله عنه به د اَسعد په کور کښې پدې ورځ خلقو ته د دین بیان او وعظ کولو او بیا به ئې مونځ کولو نو الله ته دا عمل ډیر خوښ شو، نبي عليه السلام لا په مکه

کښې وو چه وحی ورته اُوشوه چه جُمعې مونځ او د هغې خطبه په تاسو فرض شوه۔ او نبی علیه السلام چه کله مدینې ته هجرت اُوکړو او قباء کښې د یوم الاثنین نه تر یوم الخمیس پورې اُوسیدو بیا د جُمعې په ورځ مدینې طرفته رارواں شو نو په لاره کښې په وادی د بنی سالم بن عوف کښې ئې د هغوی په مسجد کښې د جُمعې مونځ اُوکړو او اَوله خطبه ئې پکښې اُوفرمایله۔ (القرطبی (الجامع لاحکام القرآن ۹۷/۱۸)

بیا په دې اول باب کښې فضائل راوړی بیا به ئې احکام راوړی۔

الفصل الاول

۱ – عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «نَحْنُ الآخِرُوْنَ السَّابِقُوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، بَيْدَ اَنَّهُمْ اُوتُوْا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِنَا، وَاُوتِيْنَاهُ مِنْ بَعْدِهِمْ، ثُمَّ هٰذَا يَوْمُهُمُ الَّذِيْ فُرِضَ عَلَيْهِمْ – يَعْنِيْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ – فَاخْتَلَفُوْا فِيْهِ، فَهَدَانَا اللهُ لَهٗ، وَالنَّاسُ لَنَا فِيْهِ تَبَعٌ، اَلْيَهُوْدُ غَدًا، وَالنَّصَارٰى بَعْدَ غَدٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ، قَالَ: «نَحْنُ الآخِرُوْنَ الْاَوَّلُوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَنَحْنُ اَوَّلُ مَنْ يَّدْخُلُ الْجَنَّةَ، بَيْدَ اَنَّهُمْ» وَذَكَرَ نَحْوَهٗ اِلٰى آخِرِهٖ.

۲ – وَفِيْ اُخْرٰى لَهٗ عَنْهُ، وَعَنْ حُذَيْفَةَ، قَالَا: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فِيْ آخِرِ الْحَدِيْثِ: «نَحْنُ الآخِرُوْنَ مِنْ اَهْلِ الدُّنْيَا، وَالْاَوَّلُوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الْمَقْضِيُّ لَهُمْ قَبْلَ الْخَلَائِقِ».

ترجمه : ابو هریره ؓ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمایلی دی: «مونږ (په دنیا کښې) روستو راغلی یو او د قیامت په ورځ (به په مرتبه او شرف کښې) د تولو نه مخکښې یو، علاوه دا چه اهل کتاب (یهود او نصاریٰ) ته (د الله د طرفنه) زمونږ نه مخکښې کتاب ورکړې شوې دې، او مونږ د هغوی نه روستو کتاب راکړې شوې دې، بیا دا ورځ یعنی د جُمعې ورځ په هغوی باندې فرض کړې شوې وه، لیکن هغوی پدې کښې اِختلاف اُوکړو، نو الله تعالیٰ مونږ ته ددې هدایت اُوکړو (مونږ ته ئې د عبادت دپاره راکړه) او خلق (یعنی یهود او نصاریٰ نهٔ صرف د شرف او فضیلت په اعتبار بلکه د ورځې په اعتبار سره هم) زمونږ تابع دی، یهودو صبا (یعنی د خالی ورځ) اِختیار کړه او نصاراؤ بل صبا (یعنی د اِتوار ورځ) اِختیار کړهٔ۔ (بخاریؒ ومسلمؒ) او د مسلمؒ په روایت کښې دی: نبی ﷺ اُوفرمایل : مونږ (په دنیا کښې) روستو راغلی یو او د قیامت په ورځ به (د تولو خلقو نه) مخکښې یو، او مونږ به اَول جنت ته داخلیدونکی یو، علاوه دا چه" او د مخکښې په شان روایت ئې ذکر

کړو، او یو بل روایت د مُسلم کښې د ابو هریره او حذیفه رضی الله عنهما دواړه فرمائی: رسول الله ﷺ د حدیث په آخر کښې اُوفرمایل: (دنیا ته د راتلو په اعتبار سره) مونږ د تولو نه روستو یو او د قیامت په ورځ به د تولو نه مخکښې یو چه د تولو مخلوقاتو نه ړومبے به زمونږ دپاره (د حساب او د جنت ته داخلیدو) حکم کولے شی»۔

تشریح: یعنی مونږ په دنیا کښې د زمانے په لحاظ روستنی یو، لیکن السابقون د اهل کتابو نه به د قیامت په ورځ په مرتبه او کرامت او حشر او حساب کتاب او فیصله کښې مقدم یو۔ او جنت ته داخلیدو کښې به هم مخکښې یو۔ یعنی دا اُمت اگرکه روستو راغلے دے لیکن الله به دوی له داسے شرافت ورکوی چه په قیامت کښې به ئے د تولو خلقو نه په مرتبه او شرافت کښې مقدم کړی او مخکښې به ئے جنت ته داخل کړی۔ دوی به اول راپورته کولے شی، اول به ورسره حساب کولے شی، اول به پرے فیصله کولے شی، او اول به جنت ته داخلولے شی۔

بعض وائی: معنیٰ دا ده چه مونږ روستو راغلی یو لیکن په فضیلت کښې مخکښې کیدونکی یو چه هغه د جمعے ورځ ده یعنی الله مونږ له غوره ورځ راکړه او مخکنی ئے ترے محرومه کړل۔ لیکن اول قول غوره دے۔

فَاخْتَلَفُوْا فِيْهِ: یعنی بنی اسرائیلو ته الله تعالیٰ د موسیٰ علیه السلام په ذریعه اُوفرمایل چه د جُمعے ورځ کښې به تاسو زما تعظیم کوئ لیکن هغوی اُووئیل: چه د جُمعے ورځ صحیح نۀ ده بلکه د خالی ورځ بنه ده ځکه چه پدے ورځ الله د پیدائش د مخلوقاتو نه فارغ شوے دے۔ نو دوی خپله رأیه او خپل ذوق او خپل دلیل د موسیٰ علیه السلام په اَمر مقدم کړو نو ځکه الله ددے عظیم سعادت او لوئی خیر نه محروم کړل۔ او دغه شان عیسایانو۔

نو دا حدیث دلیل دے چه قیاس په مقابله د نص کښې ساقط دے ځکه دلته دواړو فرقو ته نص وئیل شوے وو لیکن هغوی خپل عقل مقدم کړو په نص باندے نو څوك چه د نص په مقابله کښې خپله رأیه، خپل عقل او قیاس او خپل مذهب پیش پیش کوی نو دغه شان د خیر نه به محرومیږی۔

فَهَدَانَا اللّٰهُ لَهُ: ددے نه استدلال کیدے شی په دے خبره چه د جُمعے مونځ په هر ځائے کښې کیږی ځکه (هدانا) کښې ضمیر د جَمع دے تولو ته شامل دے، ځکه که په کلو والو باندے جُمعے مونځ رانشی نو بیا خو هغوی ته ددے ورځے هدایت اُونشو۔

وَالنَّاسُ لَنَا فِيْهِ تَبَعٌ: یعنی مونږ د پخوانو اُمتونو نه روستو راغلی یو لیکن مخکنئ ورځ راته ملاؤ شوه چه هغه د جُمعے ورځ ده ځکه د یهودیانو خالی (هفتے) ورځ صبا له

راځی او د عیسایانو اتوار ورځ بله ورځ راځی نو زمونږ ورځ مخکښې شوه د دوی د ورځو نه نو دغه شان مونږ به د قیامت په ورځ د یهود او نصاراؤ نه په هر څه کښې مقدم یو او دوی به زمونږ په هر کار کښې تابع وی۔

غَدًا: دا منصوب دے په ظرفیت باندے یعنی (اَلْیَهُوْدُ یُعَظِّمُوْنَ غَدًا) (یهودیان د صبائې ورځے تعظیم کوی او عیسایان د بل صبائې ورځے)

او حدیث دلیل دے چه جُمعه فرض ده ځکه لفظ د (فرض الله علیهم) راغلے دے لکه په بل روایت کښې (کُتب علینا) لفظ دے۔

۳- وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ خَیْرُ یَوْمٍ طَلَعَتْ عَلَیْهِ الشَّمْسُ یَوْمُ الْجُمُعَةِ، فِیْهِ خُلِقَ آدَمُ، وَفِیْهِ اُدْخِلَ الْجَنَّةَ، وَفِیْهِ اُخْرِجَ مِنْهَا، وَلَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ اِلَّا فِیْ یَوْمِ الْجُمُعَةِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او ابو هریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ فرمایلی دی: «غوره هغۀ ورځ چه په هغے کښې نمر راخیژی د جُمعے ورځ ده، (ځکه) پدے کښې آدم (ﷺ) پیدا کړے شوے دے (یعنی د هغۀ تخلیق مکمل شوے دے) او پدے کښې جنت ته داخل شوے دے، او پدے کښې د جنت نه راویستلے شوے دے، او قیامت به هم په دے ورځ قائمیږی»۔ (مسلمؒ)

تشریح: دلته دوه مسئلے دی ۱- یو دا چه کومه ورځ افضله ده؟ درے اقوال دی:

۱- **اول قول**: یوم الجُمعه غوره ده ځکه چه دلته په اَیامو کښې یوم الجمعه ته افضل اُووئیل شو نو بس دا به د عرفے نه هم زیاته اَفضله وی لکه دا قول د ابوبکر ابن العربیؒ دے۔

۲- **قول ثانی** دا دے چه د عرفے او د یوم النحر ورځ افضل ده ځکه حدیث د جابرؓ کښې مرفوعاً دی: (ما من یوم افضل عند الله من یوم عرفة) (صحیح ابن حبان ٦/ ٦١) رقم (٣٨٤٣) او په حدیث د عبد الله بن قرط الشحالیؓ کښې دی رسول الله ﷺ فرمایلی دی: (افضل الایام عند الله یوم النحر ثم یوم القر) وهو الغد من یوم النحر) (احمد ٤/ ٣٥٠) والحاکم (٤/ ٢٢١) باسناد صحیح) دا دواړه حدیثونه دلیل دے چه د ټولو ورځو نه د عرفے او د اختر ورځ افضله ده۔ او د جُمعے ورځ په باره کښې داسے وئیل شویدی (ان من افضل ایامکم یوم الجمعة فیه خلق آدم......) (صحیح سنن النسائی ١/ ١٩٧) رقم (١٣٠١) نو دلته من تبعیضی دے یعنی د جُمعے ورځے هم د غوره ورځو نه ده۔ نۀ دا چه دا د ټولو ورځو نه افضله ده۔

۳- **قول ثالث** محاکمه ده، علامه حافظ ابن القیمؒ او حافظ عراقیؒ دا راجح کړیده چه د دواړو خبرو هیڅ تعارض نشته ځکه چه د کال په ورځو کښې د عرفے ورځ د ټولو نه افضل

ده او د هفتے په ورځو کښې د جُمعے ورځ افضل ده او که د جمعے او عرفے ورځ دواړه په یو ورځ جمعه شي نو بیا به مطلقاً دا ورځ په ټولو ورځو غوره وي. اګرکه علامه عراقيؒ دا تصریح هم کړیده چه حدیث د افضلیت د جُمعے ډیر صحیح دے. وهو الحق لکه روستو روایاتو کښې راځي.

٢- بعض وائي: یوم النحر د اُضحیه او هدی په وجه افضل ده او یوم الجمعه د خطبے او ساعة الاجابة وغیره په وجه افضل ده.

او ددے ټول اختلاف نه مونږ ته دا فائده حاصلیږي چه دا ټولے ورځے بهترے دي، کار پکښې پکار دے.

دویمه مسئله : د جُمعے خصوصیات :

د جُمعے په خصوصیاتو امام سیوطيؒ کتاب لیکلے دے (اللمعة في خصائص الجمعة) چه په هغے کښې ئے یوسل یو خصوصیات جمع کړیدي او علامه ابن القیمؒ په زاد المعاد کښې تقریباً درے دیرش ذکر کړیدي. او ابویوسف محمد زایدؒ په (المتعه في خواص یوم الجمعه) کښې درے دیرش په بیل انداز ذکر کړیدي او دلته په مشکوٰة کښې تقریباً (١٥) دي. چه هغه دا دي: ١-غسل کول. ٢-خوشبو لګول. ٣- پاکے یا نوے جامے اَغوستل. ٤- مانځه ته وختي تلل. ٥- د جُمعے د ورځے د سحر مونځ غوره دے.

٦- پدے ورځ جنت پیدا شویدے. ٧- آدم علیه السلام جنت ته داخل شویدے.

٨- د جنت نه راوتے دے. ٩- پدے ورځ به قیامت قائمیږي.

١٠- د جُمعے په ورځ چه مومن مړ شي نو د قبر عذاب پرے نهٔ وي.

١١- پدے کښې یو ساعت د اجابت دے. ١٢- پدے ورځ د درود وئیلو زیات فضیلت راغلے دے. ١٣- د جمعے ورځ ته روښانه وئیلے شویده. ١٤- د جُمعے شپے ته لیلة اَغر وئیلے شویده. ١٥- د جمعے په ورځ د جِمَاع فضیلت راغلے دے.

بیا حافظ ابن القیمؒ صاحب دلته بعض کمزورے مسئلے ذکر کړیدي چه د جُمعے په ورځ مړي ملاقاتونه کوي او خوراکونه کوي وغیره وغیره چه په هغے باندے هیڅ اثارة من علم نشته. اعراض ترے ضروري دے.

اُدْخِلَ الْجَنَّةَ : دا دلیل دے چه آدم علیه السلام په جنت کښې نه دے پیدا شوے بلکه بهر پیدا شویدے او بیا ورته داخل شویدے. بعض وائي: جنت ته داخلول او خارجول دواړه په یو ورځ کښې شویدي. او دا احتمال هم شته چه د جمعے په ورځ پیدا شوے وي او بیا د بلے جمعے پورے حصار شوے وي او بیا په هغے کښې داخل شوے وي او دغه شان راتلو کښې هم واخله.

بيا د آدم راوتـل او د قيامت راتلل څنګه سبب د فضيلت د جُمعې ګرځي حال دا چه دا خو په ظاهر کښ يو قسم د خفګان او شدت سبب دے۔ او دا څنګه نعمت شمارلے شويدے؟ نو وجه دا ده چه د آدم راوتلو کښ ډير حکمتونه وو، د هغه د جنت نه راوتل په زمکه باندے د هغه په اولادو کښ د انبياء، رسل او اولياؤ د پيدائش سبب اُوګرځيدو او د هغوی د زندګيانو نه دے شماره حسناتو د ظهور سبب جوړ شو۔ الله بندګانو ته اُوپيژندلے شو۔ او د قيامت راتلل سبب د جنت د داخليدو دے، ځکه که قيامت رانهٔ شي نو بيا به نيك عملو ته د هغوی د عملونو عظيمه بدله د کوم ځائے نه حاصله شي؟، لهذا د جُمعې ورځ د ايمان والو دپاره سبب د حاصلولو د نعمتونو د الله ده۔

٤ – وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: اِنَّ فِي الْجُمُعَةِ لَسَاعَةً لَايُوَافِقُهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ يَسْأَلُ اللهَ فِيْهَا خَيْرًا اِلَّا أَعْطَاهُ اِيَّاهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَزَادَ مُسْلِمٌ: قَالَ:«وَهِيَ سَاعَةٌ خَفِيْفَةٌ». وَفِيْ رِوَايَةٍ لَهُمَا، قَالَ: «اِنَّ فِي الْجُمُعَةِ لَسَاعَةً لَايُوَافِقُهَا مُسْلِمٌ قَائِمٌ يُصَلِّيْ يَسْأَلُ اللهَ خَيْرًا اِلَّا أَعْطَاهُ اِيَّاهُ».

ترجمه: او ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمايلي دی: «د جُمعې په ورځ کښ يو داسے وخت دے چه د هغې سره يو بنده مسلمان نهٔ موافق کيږی چه د الله نه په کښ څهٔ خير اُوغواړی مګر الله به ئے ضرور ورکوی»۔ (بخاریؒ ومسلمؒ) امام مسلمؒ دا الفاظ زيات کړيدی فرمائي: «او دا معمولي شان وخت دے»، او يو روايت د بخاری او مسلمؒ کښ دی: نبی ﷺ اُوفرمايل: «په جُمعه کښ يو داسے وخت دے چه د هغې سره يو مسلمان نهٔ موافق کيږی چه په مانځه ولاړ وی او د الله نه څهٔ خير غواړی نو الله به ئے ضرور ورکړی»۔

تشريح: لَسَاعَةً : دا ساعت الله د بندګانو نه پټ ساتلے دے، وجه دا ده چه بندګان د الله په هر وخت کښ بندګي اُوکړی او ددے په تالاش کښ مصروف شي۔ لکه د ليلة القدر شپه ئے پټه ساتلے ده، يا اسم اعظم، او په هره شپه کښ يو وخت دے چه ضرور پکښ دعاء قبليږی۔ هغهٔ ئے پټ ساتلے دے۔

د يوم الجمعة ساعة الاجابة کوم يو دے؟

بيا ددے ساعت په تعيين کښ علماؤ درے څلويښت اقوال ذکر کړيدی چه فتح الباری، شرح مسلم او زاد المعاد وغيره کښ ذکر شويدی۔ او علامه عراقیؒ په طرح التثريب کښ (۲۱) اقوال ذکر کړيدی ليکن کله چه څومره اقوال زياتيږی نو هغه خفي کيږی او دا

اقوال پدے وجه ډیر شویدی چه روایات پدے باره کښې ډیر زیات راغلی دی، بعض صحیح دی او بعض ضعیف دی او بعض مرفوع او بعض موقوف۔

لکه اجمالًا داسے دی : ١-د جُمعے په ورځ د صبا د اذان وخت۔ ٢-د فجر د طلوع نه تر طلوع الشمس پورے وقت۔ ٣-د عصر وخت نه تر غروب کیدو وخت پورے۔

٤- د خطبے نه بعد تر د امام د تکبیر تحریمه وئیلو پورے وقت۔

٥- د نمر ختلو نه فوراً روستو ساعت۔ ٦- د نمر ختاته وخت۔

٧-د ورځے آخری درے گینټے۔ ٨-د زوال د شروع کیدونه د نیمائی لاس سوری راتلو پورے وقت۔ ٩- د زوال د شروع کیدونه یو لاس سوری تلو پورے وقت۔

١٠- عین د زوال وخت۔ ١١-د جمعے د مانځه دپاره د مؤذن د اذان د وئیلو وخت۔

١٢-د زوال د شروع کیدو نه د جمعے په مانځه کښې د داخلیدو پورے وقت۔

١٣-د زوال د شروع کیدو نه تر د امام د مانځه نه د فارغیدو پورے وقت۔

١٤-د زوال نه تر غروب پورے وقت۔

١٥-د امام په منبر باندے د کیناستو نه تر مانځه شروع کیدو پورے۔ ١٦-خطبے دپاره د امام په منبر باندے کیناستلو او د مانځه د اداکولو ترمینځ وخت۔

١٧- د اذان نه تر مانځه ادا کولو پورے وخت۔١٨-د خرید وفروخت د حرامیدو نه تر حلالیدو ترمینځ وخت۔ یعنی د اذان نه تر مانځه ختمیدو پورے ١٩- اذان ته نزدے وخت۔

٢٠-د امام د خطبے شروع کولو نه تر ختمولو پورے وقت۔ ٢١-د دوارو خطبو ترمینځ د امام کیناستلو وخت۔ ٢٢-د خطبے د فراغت نه روستو د امام د منبر نه د راکوزیدو وخت۔

٢٣-د تکبیر تحریمه د شروع کیدو نه تر مانځه اختتام پورے۔

٢٤- د مازیگر مانځه نه بعد تر غروب الشمس پورے وقت ۔٢٥- د مازیگر نه روستو د ورځے آخری ساعت۔٢٦- بالکل د نمر ډوبیدو وخت۔

مگر حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری کښې دوه اقوال راجح کړیدی یو هغه چه روستو په حدیث د ابو موسی الاشعری کښې راغلے دے چه دا د امام په منبر باندے د کیناستو نه واخله تر د مانځه اختتام پورے وخت دے۔ او دویم حدیث د ابو هریرةؓ چه روستو فصل ثانی کښې راځی چه عبد الله بن سلام فرمائی : دا د جُمعے د مازیگر نه روستو ساعت دے۔ علامه محب الطبریؒ فرمائی : پدے کښې ډیر اصح د احادیثو نه حدیث د ابو موسیٰ دے او اشهر الاقوال پکښې قول د عبد الله بن سلام دے۔ انتهیٰ۔ فتح الباری (٤٢٢/٢) (نیل الاوطار (٢٩٦/٣) طرح التثریب (١٣٠/٤) المرعاة (٤٢٥/٤) وتحفة الاحوذی (٥٠٤/٢)

بيا حافظ وائي : باقي اقوال يا ددے دوارو سره موافق كيدے شي يا ديو سرۀ او يا ضعيف الاسناد دي يا موقوف دي چه قائل ئے اجتهاد ته استناد كړيدے بغير د توقيف نه.
او ددے دوارو سره حديث د ابو سعيد معارض نهٔ ګرځي چه دا ساعت د نبي ﷺ نه هير شويدے ځكه احتمال شته چه دے دوارو د نبي ﷺ نه ددے وخت تعيين مخكښ د نسيان نه اوريدلے وي، لكه ديته بيهقيؒ وغيره اشاره كړيده. بيا سلفو پدے كښ اختلاف كړيدے چه په دغه دوارو قولينو كښ كوم يو ډير راجح دے؟.
١- نو امام مسلمؒ حديث د ابو موسیٰ ته ترجيح وركړيده او پدے باندے قول كړيدے يو جماعت چه هغوى كښ بيهقيؒ، ابن العربيؒ او القرطبيؒ دے.
امام قرطبيؒ فرمائي : دا حديث نص دے په موضع د خلاف كښ نو غير ته به التفات نشي كيدے، امام نوويؒ فرمائي : هو الصحيح بل الصواب) (الخلاصة) او ديته ترجيح پدے وجه هم شته چه دا مرفوع او صريح حديث دے او بل دا په احد الصحيحين كښ دے.
٢- او نور اهل علمو د عبد الله بن سلام قول ته ترجيح وركړيده امام ترمذيؒ د امام احمدؒ نه نقل كوى چه اكثر احاديث پدے باره كښ راغلي دي. او سعيد بن منصور باسناد صحيح د عبد الرحمن بن ابى سلمةؓ نه نقل كړيدى چه څه صحابه كرام راجمع شو نو د ساعة الجمعة تذكره ئے اوكړه بيا جدا شو نو د دوى اختلاف پدے كښ نهٔ وو چه دا آخرى ساعت دے د ورځے د جمعے نه. او دا قول ډير امامانو راجح كړيدے لكه احمدؒ، اسحاقؒ، او دا علامه ابن قيمؒ راجح كړيدے په زاد المعاد (١٠٧/١) كښ.
ليكن دے باندے دا اشكال كيږى چه د غير الصحيحين حديث څنګه په حديث د احد الصحيحين باندے راجح كړے شي او حال دا چه دا د اصول الحديث خلاف ده. ددے جواب دا دے چه دا په هغه صورت كښ دے چه كله د احد الصحيحينو په حديث باندے حفاظ علماؤ څه انتقاد نهٔ وي كړے او دلته په حديث د مسلم باندے بعض حفاظو دا انتقاد كړيدے چه بعض ئے موقوف ګرځوى لكه دارقطني وغيره او بعض ئے مرفوع، او شك نشته چه هغه حديث چه يقيني مرفوع وي راجح دے په هغه چه اختلافي مرفوع وي. او علامه شوكانيؒ فرمائي : ددے دپاره څلور مرجحات دي.
او بعض علماؤ د دوارو حديثونو ترمينځ داسے تطبيق كړيدے چه ساعة الاجابة بدليږى رابدليږى نو په يوه جمعه كښ د امام د ناستے نه تر مانځه ختميدو پورے وي او په بله جمعه كښ په آخر د ورځ كښ وي. ابن عبد البرؒ وائي : پدے دوارو وختونو كښ مناسب ده چه دعاء اوكړے شي. حافظ فرمائي : دا ډيره غوره جمع او تطبيق دے.

علامه ابن القيم رحمه الله فرمائي : د دواړو حديثونو ترمينځ هيڅ تعارض او منافات نشته ځکه چه ساعة الاجابة اگر که د مازيگر مانځه نه پس آخري وخت د جمعے دے مگر د مانځه وخت ساعة د اجابت کيدل هم ددے نه ډير اولیٰ او غوره دی لکه څنگه چه (مسجد اسس على التقوى) مسجد قباء دے ليکن مسجد نبوی ددے نه ډير اولیٰ دے۔ (اعلام الموقعين ٢٨٦/٤)

زاد المعاد کښ فرمائي: دا وخت د اِجابت منحصر دے په يو ددے دواړو وختونو کښ او يو د بل معارض نهٔ دے ځکه دا احتمال شته چه نبی ﷺ په يو وخت کښ يو خودلے وی او په بل وخت کښ بل خودلے وی لهذا په دواړو کښ اجتهاد په دعاء کښ پکار دے۔ او ددے خبرے تجويز د امام احمدؒ نه هم نقل دے۔ لهذا اصل وخت د مازيگر نه روستو دے چه نهٔ مخکښ کيږی او نهٔ روستو کيږی او د مانځه وخت د مانځه تابع دے۔ مخکښ کيدے او روستو کيدے شی۔ (زاد المعاد ٣٧٥/١ ونيل الاوطار ٣٠٠/٣)

قَائِمٌ يُصَلِّيْ : ددے نه مراد په مانځه اُودريدل او د مانځه په انتظار کښ کيناستل دواړه مراد دی لکه روستو حديث د عبد الله بن سلام کښ به دغه معنیٰ راشی۔

۵– وَعَنْ اَبِيْ بُرْدَةَ بْنِ اَبِيْ مُوْسٰى، قَالَ: سَمِعْتُ اَبِيْ يَقُوْلُ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ فِيْ شَاْنِ سَاعَةِ الْجُمُعَةِ: «هِيَ مَا بَيْنَ اَنْ يَّجْلِسَ الْاِمَامُ اِلٰى اَنْ تُقْضَى الصَّلَاةُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او ابوبرده بن ابی موسیٰ ؓ فرمائي: ما د خپل والد نه اوريدلی چه فرمايل ئے : ما د رسول الله ﷺ نه اَوريدلی دی چه د جُمعے (په ورځ د دعاء د قبوليت) وخت په باره کښ ئے فرمايل : « دا وخت د امام د ناستے نه تر مانځه ادا کيدو پورے درمیانی وخت دے »۔ (مسلمؒ)

ابی برده دده نوم عامر يا حارث دے د اوساط التابعين نه ثقه تابعی دے په سنه (۱۰۴ھ) کښ وفات دے، د اتيا کالو نه اوريدلے وو۔

تشريح : مَا بَيْنَ اَنْ يَّجْلِسَ : مطلب د حديث دا دے چه د ساعت الاجابت پدے وخت کښ هم ډير امکان شته او دا مطلب نهٔ دے چه همدا وخت دے او بل وخت نهٔ دے، ولے که داسے شی نو بيا خو متعين شو او مُبهم نهٔ شو۔ نو کيدے شی چه دا وخت وی او کيدے شی چه د مازيگر آخری وخت وی۔

عوف بن مالك ؓ فرمائي: (انی لارجو ان تكون ساعة الاجابة فی احدى الساعات

الثلاث اذا اذن المؤذن ومادام الامام على المنبر وعند الاقامة) (دا د اذان، او د امام د ناستے او د مانځه وخت دے)۔ (طبراني- تنوير الحوالك ١٣٠/١ للسيوطي)

بیا ددے ساعت د موندلو طریقه دا ده چه په اوله جمعه کښ به د سحر مانځه نه پس تر نمر خاته پورے کینے او په بله جمعه کښ به د نمرخاته نه تر لسو بجو پورے کینے او په دریمه جمعه کښ به د لسو نه تر مانځه پورے کینے او بیا د مانځه نه تر مازیګر پورے الخ نو پدے طریقه به دا وخت په یو څو جمعو کښ رالاندے کړے شی۔

الفصل الثاني

٦- عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ، قَالَ: خَرَجْتُ اِلَى الطُّوْرِ، فَلَقِيْتُ كَعْبَ الْاَحْبَارِ، فَجَلَسْتُ مَعَهٗ، فَحَدَّثَنِيْ عَنِ التَّوْرَاةِ، وَحَدَّثْتُهٗ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ، فَكَانَ فِيْمَا حَدَّثْتُهٗ اَنْ قُلْتُ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «خَيْرُ يَوْمٍ طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ، فِيْهِ خُلِقَ آدَمُ، وَفِيْهِ اُهْبِطَ، وَفِيْهِ تِيْبَ عَلَيْهِ، وَفِيْهِ مَاتَ، وَفِيْهِ تَقُوْمُ السَّاعَةُ، وَمَا مِنْ دَابَّةٍ اِلَّا وَهِيَ مُصِيْخَةٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ مِنْ حِيْنِ تُصْبِحُ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ، شَفَقًا مِنَ السَّاعَةِ، اِلَّا الْجِنُّ وَالْاِنْسُ. وَفِيْهِ سَاعَةٌ لَايُصَادِفُهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ وَهُوَ يُصَلِّيْ يَسْأَلُ اللهَ شَيْئًا اِلَّا اَعْطَاهُ اِيَّاهُ». قَالَ كَعْبٌ: ذٰلِكَ فِيْ كُلِّ سَنَةٍ يَوْمٌ؟ فَقُلْتُ: بَلْ فِيْ كُلِّ جُمُعَةٍ. فَقَرَاَ كَعْبٌ التَّوْرَاةَ، فَقَالَ صَدَقَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ. قَالَ اَبُوْهُرَيْرَةَ: لَقِيْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ سَلَامٍ، فَحَدَّثْتُهٗ بِمَجْلِسِيْ مَعَ كَعْبِ الْاَحْبَارِ وَمَا حَدَّثْتُهٗ فِيْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ، فَقُلْتُ لَهٗ: قَالَ كَعْبٌ: ذٰلِكَ فِيْ كُلِّ سَنَةٍ يَوْمٌ؟ قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَلَامٍ: كَذَبَ كَعْبٌ. فَقُلْتُ لَهٗ: ثُمَّ قَرَاَ كَعْبٌ التَّوْرَاةَ، فَقَالَ: بَلْ هِيَ فِيْ كُلِّ جُمُعَةٍ. فَقَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَلَامٍ: صَدَقَ كَعْبٌ. ثُمَّ قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَلَامٍ: قَدْ عَلِمْتُ اَيَّةَ سَاعَةٍ هِيَ؟ قَالَ اَبُوْهُرَيْرَةَ: فَقُلْتُ: اَخْبِرْنِيْ بِهَا وَلَا تَضِنَّ عَلَيَّ. فَقَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَلَامٍ: هِيَ آخِرُ سَاعَةٍ فِيْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ. قَالَ اَبُوْهُرَيْرَةَ: فَقُلْتُ: وَكَيْفَ تَكُوْنُ آخِرَ سَاعَةٍ فِيْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ وَقَدْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «لَايُصَادِفُهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ وَهُوَ يُصَلِّيْ فِيْهَا؟ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَلَامٍ: اَلَمْ يَقُلْ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَنْ جَلَسَ مَجْلِسًا يَنْتَظِرُ الصَّلَاةَ، فَهُوَ فِيْ صَلَاةٍ حَتّٰى يُصَلِّيَ؟» قَالَ اَبُوْهُرَيْرَةَ: فَقُلْتُ: بَلٰى. قَالَ: فَهُوَ ذٰلِكَ. رَوَاهُ مَالِكٌ، وَاَبُوْدَاوٗدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، وَرَوٰى اَحْمَدُ اِلٰى قَوْلِهٖ: صَدَقَ كَعْبٌ.

ترجمه: ابو هریره ﷺ فرمائی: زهٔ (یوه ورځ) کُوه طرف ته روان شوم او هلته مے د کعب

الاحبار (رحمه الله) سره ملاقات أوكرو د هغهٔ سره كيناستم نو هغهٔ راته د تورات نه څهٔ خبرے بيان كړے او ما ورته د رسول الله ﷺ احاديث بيان كړل، په هغهٔ خبرو كښې چه ما هغهٔ ته بيان كړل يوه دا وه چه ما أووئيل: رسول الله ﷺ فرمايلي دی : «غوره هغهٔ ورځ چه په هغے كښې نمر راخيژی د جُمعے ورځ ده، پدے كښې آدم ؑ پيدا شوے دے، او پدے كښې (د جنت نه زمكے ته) راكوز شوے دے، او پدے كښې په هغهٔ باندے توبه ويستلے شوے ده (توبه ئے قبوله شوے ده) او پدے ورځ باندے وفات شوے دے، او د جُمعے په ورځ به قيامت قائميږی، او داسے څهٔ زندهٔ سَر (حيوانات، چارپايان) نشته مگر هغهٔ د صبا كيدو نه تر نمر ختلو پورے د جُمعے ورځے ته غوږ ايخے وی (منتظر وی يعنی چارپايانو ته هم دا معلومه وی چه د جُمعے په ورځ به قيامت راځی) پدے وجه د قيامت نه ويريږی سوا د جنات او انسانانو نه (چه دوی ددے انتظار نه غافل دی) او د جُمعے په ورځ يو ساعت دے چه د هغے سره مسلمان بنده نهٔ مخامخ كيږی چه مونځ كوی او د الله نه (د دنيا يا د آخرت) څهٔ شے غواړی مگر الله ئے هغهٔ ته وركوی»۔ كعب احبارؒ أوفرمايل : دا ورځ (چه پدے كښې ساعت د قبوليت وی) دا په كال كښې يوه ورځ وی، ما أووئيل : نهٔ بلكه دا په هرهٔ جُمعه كښې وی، نو كعبؒ (ددے خبرے د تصديق دپاره) تورات أولوستلو، او (دے نه بعد ئے) أوفرمايل : چه رسول الله ﷺ رشتيا وئيلی دی۔ ابو هريره ؓ فرمائی: بيا زهٔ د عبد الله بن سلام سره ملاؤ شوم، هغهٔ ته مے د كعب الاحبار سره د كيناستلو تذكره أوكړه او هغهٔ خبره مے ورته ذكر كړه كومه چه ما كعبؒ ته د جُمعے په باره كښې بيان كړے وه نو ما ورته أووئيل : كعبؒ اووئيل : دا په هر كال كښې يوه ورځ وی۔ عبد الله بن سلام أوفرمايل : كعب غلط وئيلی دی۔ ما أووئيل: بيا كعبؒ تورات أولوستلو او وے فرمايل: (د رسول الله ﷺ وينا رشتيا ده) چه دا په هره جُمعه كښې ده، نو عبد الله بن سلام أوفرمايل : كعبؒ دا صحيح أووئيل۔ بيا عبد الله بن سلام أوفرمايل : ما ته يقينی معلومه ده چه دا كومه ورځ ده، ابو هريره ؓ أوفرمايل : ما عرض أوكړو : (بيا خو) ما ته ئے أوښايه او بخل نه كار مهٔ اخله، نو عبد الله بن سلام أوفرمايل : دا د جُمعے په ورځ آخری ساعت دے، ابو هريرهؓ أوفرمايل : ما عرض أوكړو : دا به څنګه د جُمعے د ورځے په آخر كښې وی حال دا چه رسول الله ﷺ فرمايلی دی : «ددے ساعت سره يو بنده مسلمان نهٔ مخامخ كيږی چه مونځ كوی پدے كښې»۔ (او د ورځے په آخر كښې خو مونځ مكروه دے) عبد الله بن سلام أوفرمايل : آيا رسول الله ﷺ دا نهٔ دی فرمايلی : «څوك چه په يو ځائے كښې د مانځه په انتظار كښې كينی نو دا په مانځه كښې (حساب) دے، تر دے چه مونځ أوكړی»۔ ابو هريره ؓ فرمائی : ما أووئيل : آؤ (ولے نهٔ) عبد

الله بن سلام اُوفرمايل : د مانځه نه مراد د مانځه انتظار دے۔ (او د ورځې په آخر کښې د مانځه په انتظار کيناستل منع نهٔ دي په هغهٔ وخت کښې کهٔ څوك دعاء غواړي نو ضرور قبليږي)۔ (مالكٌ، ابوداودٌ، ترمذيٌ، نسائيٌ) او امام احمدٌ (دا روايت) ددے قول پورے نقل کړيدے: "صدق كعب" (كعب رشتيا وئيلی دی)۔

تشريح : خَرَجْتُ اِلَى الطُّوْرِ : ابو هريره ؓ طور ته تلے وو او ابوبصره الغفاري ؓ منع کړے وو چه ته څه له تلے ؟ آيا تا د نبي ﷺ نه ندی اَوريدلی چه په غير د درے جماعتونو نه نورو ځايونو ته سفر کول (په نيت د عبادت) باندے ناروا دی لکه دا مخکښې تير شويدی۔

تعارف د كعب الاحبار : يو تابعي عالم دے او تاريخ ئے په كتاب العلم کښې تير شويدے۔ (۱/۶۳۰) حديث رقم (۶۱) نوم ئے كعب بن ماتع وو، يهودي عالم وو، بيا ئے اسلام راوړو، او تورات باندے ډير ښه پوهيدو، صحابه كرامؓ به ترے تپوسونه هم کول لکه مخکښې كتاب العلم کښې تير شوي وو عمر ترے تپوس کړے وو (من ارباب العلم) باب رؤية الله کښې به راشي چه ابن عباسؓ ترے د مسئلے د تپوس کړے وو او عثمان به ترے هم تپوسونه کول۔ (رضى الله عنهم)

او عمرؓ ترے تپوس اُوکړو تقوئ څه ته وائی؟ نو هغه ورته بيان اُوکړو۔ او بخاري کښې راځي معاويه ؓ فرمائي : (كُنَّا نَبْلُوْ عَلَيْهِ الْكَذِبَ) معنیٰ دا ده چه دۀ به قصے بيانولے نو په قصو کښې به ئے متضادے خبرے راتلے (لکه څنګه چه قصے همدغه شان وی) نو په هغے کښې به دروغ هم راتلل او دا مطلب نۀ دے چه دا دروغجن وو۔

فَحَدَّثَنِي عَنِ التَّوْرَاةِ: مخکښې كتاب العلم کښې مونږ وئيلی وو چه پس د وفات د نبي ﷺ نه د تورات لوستل يا د هغے کتل (مطالعه) جائز دی، دلته ابو هريرهؓ په كعب الاحبارؒ رد نۀ کوی چه تۀ ما ته ولے د تورات خبرے بيانوے؟ ځکه اُوس هغه محذور نۀ لازميږی کوم چه د نبي ﷺ په زمانه کښې لازميدو، او که تورات څوك پدے نيت ګوری چه بصيرت او تصديق ئے د الله په كتاب (قرآن) باندے زيات شي او د دواړو تطبيق اُوشي نو دا ناروا نۀ ده (ليستيقن الذين اوتوا الكتاب ويزداد الذين آمنوا ايماناً) ۔ اُوس هم حديثو کښې ډيرے داسے خبرے راځي چه هغه بعينه په تورات کښې هم وی او رسول الله ﷺ هغه ندے لوستلے نو دا په حقاينت د نبي ﷺ باندے دليل دے۔

وَفِيْهِ مَاتَ: موت د آدم ﷺ هم نعمت دے ځکه چه جنت ته اُورسيدو۔

مِنْ دَابَّةٍ: حيواناتو له هم الله دا شعور ورکړيدے چه پدے ورځ به قيامت راځي نو ځکه هغوی پدے ورځ په سحر کښې پريشانه وی۔

فِيْ كُلِّ سَنَةٍ : يعنى كعبؒ د ابو هريرهؓ خبره رد كړه چه دا ساعت په هره جمعه كښې نۀ دے بلكه په كال كښې په يوه جُمعه كښې راځي۔

نو ابو هريرهؓ ورته اُوفرمايل : چه ستا خبره خطاء ده بلكه دا په هره جمعه كښې دے۔ نو كعبؒ تورات لوستلو ته رجوع اُوكړه نو په هغې كښې ئے بعينهٖ د نبی ﷺ د حديث په شان خبره اُوموندله۔نو بيا ئے د ابو هريره تصديق اُوكړو۔

كَذَبَ كَعْبٌ : عبد الله بن سلام سمدست په كعب باندے رد اُوكړو چه دا خطاء شويدے (كذب دلته په معنى د خطائى دے) نو دا دليل دے چه په لوئى عالم به هم رد كولے شى چه كله ئے خبره د كتاب او سنت خلاف وه۔او كله ئے چه خبره حقه وى نو بيا به ئے تائيد كولے شى لكه روستو عبد الله بن سلام د هغه د حقے خبرے تائيد اُوكړو۔ زمونږ د اَشخاصو سره كار نشته بلكه د حق سره مو كار دے۔

وَهُوَ يُصَلِّيْ فِيْهَا : د ابو هريرهؓ د خبرے مطلب دا دے چه دا ساعت خو آخرى ساعت د جُمعے نشى كيدے ځكه چه پدے وخت كښې خو مونځ نۀ كيږى، مكروه وخت دے، او نبى ﷺ خو مونځ ذكر كړيدے۔ نو عبد الله بن سلام ورته تاويل كوى او دواړه خبرے ثابتوى۔

يَنْتَظِرُ الصَّلَاةَ: ابو هريره ﷺ ظاهرى الفاظ اخستى دى، او عبد الله بن سلام ورته تاويل كوى چه نبى ﷺ فرمائيلى دى څوك چه د مانځه په انتظار كښې ناست وى هغه هم په مانځه كښې دے او د مانځه حكم لرى لهذا د غروب نه مخكښې چه څوك ناست وى اګركه په دغه وخت كښې مونځ نۀ كيږى ليكن دا داسے دے لكه په مانځه كښې چه وى نو دواړه خبرے صحيح شوے۔

وَلَا تَضِنُّ : په كسره د ضاد او تشديد د نون د فتح يفتح نه دے۔ بخل كولو ته وائى۔

حديث دليل دے چه فقاهت انسان ته په احاديثو سره حاصليږى ځكه چه عبد الله بن سلام هم احاديث پيش كړل او ابو هريرهؓ هم او بيا عبد الله بل حديث پيش كړو نو د ابو هريره ذهن سم دَواره واخستو۔ او دليل دے په فقاهت د ابو هريره رضى الله عنه هم ځكه چه ابو هريرهؓ هم استدلالى نظر لرى، په حديث سره ئے د عبد الله په خبره معارضه اُوكړه، نو دا خبره د بعض موليانو صحيح نۀ ده چه ابو هريره فقيه نۀ دے۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه مالك فى الموطأ (١٦) واحمد (٤٨٦/٢) وابوداود (١٠٤٦) والترمذى (٤٩١) والنسائى (١١٣/٣، ١١٥) وابن حبان (١٩١/٤ رقم ٧٦١– الاحسان)

٧– وَعَنْ اَنَسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :«اِلْتَمِسُوا السَّاعَةَ الَّتِيْ تُرْجٰى فِيْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ

بَعْدَ الْعَصْرِ اِلٰى غَيْبُوْبَةِ الشَّمْسِ». رَوَاهُ التِرْمِذِيُّ.

ترجمه: او انس ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «د جُمعے په ورځ هغهٔ ساعت چه په هغے (کښې د دعاء د قبوليت) اُميد کيدے شي، د مازيګر نه بعد تر نمر غائبيدو پورے طلب (تلاش) کرئ!»۔ (ترمذي)

پدے حديث کښې تصريح راغله چه دا ساعة الاجابة د زمايګر نه روستو آخري وخت دے۔ بيا مصنفؒ ددے ساعت په تعيين کښې صرف دوه رواياتونه راوړل پدے کښې اشاره ده چه ددهٔ په نيز باندے دا دواړه اقوال قوي دي او باقي ورته ضعيف ښکاره شويدي ځکه ئے هغه رانهٔ وړل۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف وبسند آخر صحيح: اخرجه الترمذي (٤٨٩) وقال حديث غريب ومحمد بن ابي حميد يضعف من قبل حفظه آه، لكن الحديث لم يتفرد به كما اشار اليه الترمذي بقوله: وفي الباب عن انس من غير هذا الوجه وفي الباب عن جابر رواه ابوداود (١٠٤٨) والنسائي (٩٩/٣) والحاكم (٢٧٩/١) وقال صحيح على شرط مسلم ووافقه الذهبي۔

٨ – وَعَنْ أَوْسِ بْنِ اَوْسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اِنَّ مِنْ أَفْضَلِ أَيَّامِكُمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، فِيْهِ خُلِقَ آدَمُ، وَفِيْهِ قُبِضَ، وَفِيْهِ النَّفْخَةُ، وَفِيْهِ الصَّعْقَةُ، فَأَكْثِرُوْا عَلَيَّ مِنَ الصَّلَاةِ فِيْهِ، فَاِنَّ صَلَاتَكُمْ مَعْرُوْضَةٌ عَلَيَّ». قَالُوْا: يَارَسُوْلَ اللهِ! وَكَيْفَ تُعْرَضُ صَلَاتُنَا عَلَيْكَ وَقَدْ اَرِمْتَ؟ قَالَ: يَقُوْلُوْنَ بَلِيْتَ. قَالَ: «اِنَّ اللهَ حَرَّمَ عَلَى الْاَرْضِ أَجْسَادَ الْاَنْبِيَاءِ». رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَه، وَالدَّارِمِيُّ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي الدَّعْوَاتِ الْكَبِيْرِ.

ترجمه: او اَوس بن اَوس ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «د جُمعے ورځ ستاسو د بهترينو ورځو نه ده، (ځکه) پدے کښې آدم (عليه السلام) پيدا شوے دے، او پدے کښې وفات شوے دے، او پدے کښې به (اَولنئ) شپيلئ وي، (چه د هغے په آواز سره به قيامت قائميږي) او پدے کښې به (د خلقو) بيهوشي وي، نو پدے ورځ په ما باندے زيات درود وايئ، ځکه چه ستاسو درود ما ته پيش کولے شي، صحابه کرامو عرض اُوکړو يا رسول الله! : زمونږ درود به تا ته څنګه پيش کړے شي او حال دا چه تهٔ (خو) به زره زره شوے ئے (يعني ستا بدن به خاورے شوے وي) راوي وائي: د صحابه کرامو د «اَرِمْتَ» لفظ نه مراد

(بَلِيْتَ) لفظ دے (يعنى ستا بدن به زوړ شوے وى)، رسول الله ﷺ اُوفرمايل: «الله تعالىٰ په زمكه باندے حرام كړيدى چه د اَنبياؤ بدنونه اُوخورى»۔ (ابوداودّ، نسائىّ، ابن ماجهؒ، دارمیؒ، بيهقىؒ فى الدعواتِ الكبير)

تعارف د اَوس بن اَوس ﷛: اَوس بن اوس: ثقفى صحابى دے په دمشق كښى اُوسيدلے دے او هلته بيا وفات شوے هم دے، دوه حديثونه ئے اُمت ته رانقل كړيدى يو په باره د روژو كښى دے او بل د جُمعے په باره كښى۔

تشريح: وَقَدْ اَرَمْتَ: د ضرب يضرب نه دے او د سَمِعَ نه هم جائز دے (اَرِمْتَ) په كسره د راء سره۔ اصل كښى اَرْمَمْتَ ته وو، (اے صرت رميماً) (ته به ذرهٔ ذرهٔ شوے ئے) نو يو ميم د تخفيف د وجه نه حذف شو لكه ظَلِلْتَ كښى ظَلْتَ او اَحْسَسْتَ كښى اَحَسْتَ وئيلے شى۔ معنىٰ ئے دَه زړيدل او د زمكے خوراك كيدل۔ يعنى ته به زمكے خوړلے ئے۔

او حاصل مطلب ئے دا دے چه ته به وفات شوے ئے نو زمونږ درود به تا ته څنګه پيش كولے شى۔او مړى خو اَوريدل نشى كولے۔

بعض وائى: دا صيغه د غائب دَه يعنى (اَرَمْتُ) ضمير پكښى عظام ته راجع دے۔ يعنى ستا هډوكى به زاړه شوى وى۔ بعض وائى: اَرَمَ په معنى د فَنِيَ (ختميدو) سره دے۔

يَقُوْلُوْنَ بَلِيْتَ.: يعنى صحابه كرام د (اَرَمْتَ) مَعنىٰ په (بَلِيْتَ) سره كوى۔

أَجْسَادَ الْاَنْبِيَاءِ: يعنى اَنبياءِ په قبرونو كښى په برزخى ژوند سره ژوندى دى چه هغه د دنيا د ژوند په شان ژوند نهٔ دے بلكه ډير قوى او كامل دے، د شهيدانو نه هم زيات قوى دے۔ او كرامت او معجزه ئے دا دَه چه د هغوى بدن هم الله نهٔ خاورے كوى بلكه روغ پراته وى۔

حديث دليل دے چه هركله د جُمعے ورځ ډيره غوره ورځ دَه نو پدے ورځ درود ډير وئيل پكار دى او دا په نبى ﷺ باندے پيش كولے شى، د هغهٔ روح دے باندے خوشحاليږى۔

النفخه نه مراد اوله شپيلئ دَه چه پدے سره به د قيامت ابتداء كيږى، او د صعقه (چغے) نه مراد هم اوله شپيلئ دَه ليكن دا ئے دويم صفت دے لكه قرآن كريم كښى دى: (ونفخ فى الصور فصعق من فى السموات ومن فى الارض الا من شاء الله)۔

نو دا تكرار پكښى باعتبار الوصفين شويدے۔ يعنى پدے ورځ به پدے شپيلئ سره خلقو باندے بے هوشى هم راځى۔

على القارىؒ فرمائى: د نفخه نه دويمه شپيلئ مراد دَه او د صعقه نه اوله مراد دَه او اولے ته صَعْقه ځكه اُووئيلے شوه چه دا صعقه (چغه، بيهوشى) به مرتب كيږى په اوله شپيلئ باندے۔

بعض وائی ددے نه د موسی ﷺ صعقه (بیهوشی) مراد ده چه هغه هم د جُمعے په ورځ وه۔ لیکن قول د قاریؒ صحیح دے۔

فائده : نبی او نور انبیاء علیهم الصلاة والسلام وفات دی لکه دا حدیث پرے دلیل دے، نو د دنیوی حیاة الانبیاء عقیده غلطه ده کما مر من هذا الکتاب (۲۱٦/۱)

درجة الحدیث : اسناده صحیح : اخرجه احمد (۸/٤) وابوداود (۱۰٤۷) والنسائی (۳/۹۱-۹۲) وابن ماجه (۱۰۸۵) والدارمی (۳٦۹/۱) والحاکم (۲۷۸/۱) والبیهقی فی الشعب (۲۷٦۸) وقال الحاکم اسناده صحیح علی شرط البخاری ووافقه الذهبی۔

۹- وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اَلْیَوْمُ الْمَوْعُوْدُ یَوْمُ الْقِیَامَةِ، وَالْیَوْمُ الْمَشْهُوْدُ یَوْمُ عَرَفَةَ وَالشَّاهِدُ یَوْمُ الْجُمُعَةِ، وَمَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ وَلَاغَرَبَتْ عَلٰی یَوْمٍ اَفْضَلَ مِنْهُ، فِیْهِ سَاعَةٌ لَایُوَافِقُهَا عَبْدٌ مُؤْمِنٌ یَدْعُو اللهَ بِخَیْرٍ اِلَّا اسْتَجَابَ اللهُ لَهٗ، وَلَا یَسْتَعِیْذُ مِنْ شَیْءٍ اِلَّا اَعَاذَهٗ مِنْهُ». رَوَاهُ اَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِیُّ، وَقَالَ: هٰذَا حَدِیْثٌ غَرِیْبٌ لَایُعْرَفُ اِلَّا مِنْ حَدِیْثِ مُوْسَی بْنِ عُبَیْدَةَ وَهُوَ یُضَعَّفُ.

ترجمه : او ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی : « الیوم الموعود، د قیامت ورځ ده، او "الیوم المشهود" د عرفے ورځ ده، او "شاهد" د جُمعے ورځ ده، او په هیڅ یوه داسے ورځ باندے نمر نهٔ دے راختلے او نهٔ پریوتے دے چه هغهٔ د جمعے ورځے نه غوره وی، (ځکه) پدے (جُمعه) کښې یو ساعت دے چه د هغے سره یو بنده مومن نهٔ موافق کیږی چه د الله نه (پدے کښې) د یو خیر دعاء اُوغواړی مګر الله به ورله ضرور دعاء قبلوی، او د یو شی نه پناه نهٔ غواړی مګر الله به د هغے نه ورله پناه ورکوی»۔ (احمدؒ، ترمذیؒ) او امام ترمذیؒ وئیلی دی : دا حدیث غریب دے او دا روایت صرف د حدیث د موسی بن عبیده نه پیژندلے شی او هغهٔ (په روایت کښې) ضعیف شمارلے شی۔

تشریح : یعنی قرآن کریم کښې چه (الیوم الموعود) ذکر ده نو هغے نه مراد د قیامت ورځ ده چه وعده ئے شویده۔ یوم عرفه ته ئے مشهود ځکه اُووئیله چه خلق پدے ورځ عرفات ته ځی او هلته حاضریږی نو هغه مشهود شوه (هغے ته حاضری اُوشوه) او د جُمعے ورځے ته ئے (شاهد) اُووئیله ځکه چه خلق په خپلو ځایونو کښې وی او دا ورځ پرے راځی۔

دلته ساعة الاجابت ډیر مبهم شویدے او مخکښو حدیثونو کښې ئے څه نا څه تعیین شویدے۔ او پدے کښې مونږ ته ترغیب دے چه دومره بهترین وخت درله الله درکړیدے نو

پدے کښې سوالونه اُوکړئ او پناهي اُوغواړئ۔

درجة الحديث : الحديث صحيح : اخرجه احمد (۲۹۸/۲- ۲۹۹) والترمذى (۳۳۳۹) وموسى بن عبيدة ضعيف جداً مترجم فى التهذيب والتاريخ الكبير للبخارى (۲۹۱/۱/٤) والصغير (۱۷۲-۱۷۳) وابن ابى حاتم (۱۵۱/٤) فقال البخارى منكر الحديث وقال ابوحاتم : منكر الحديث۔ ولكن الشيخ احمد شاكر صحح الحديث فى المسند (۷۹٦۰) وقال ان الحديث لم يذكره الهيثمى من وجه آخر عن ابى هريرة وهذا الوجه الآخر لم يروه احمد فى المسند وصححه الالبانى فى صحيح الترمذى (۲٦۵۹) وحسنه فى الجامع الصغير راجع السلسلة الصحيحة (۱۵۰۲) ۔

الفصل الثالث

۱۰ – عَنْ اَبِي لُبَابَةَ بْنِ عَبْدِ الْمُنْذِرِ، قَالَ قَالَ النَّبِيُّ ﷺ: «اِنَّ يَوْمَ الْجُمُعَةِ سَيِّدُ الْاَيَّامِ وَأَعْظَمُهَا عِنْدَ اللهِ، وَهُوَ أَعْظَمُ عِنْدَ اللهِ مِنْ يَوْمِ الْاَضْحٰى وَيَوْمِ الْفِطْرِ، فِيْهِ خَمْسُ خِلَالٍ: خَلَقَ اللهُ فِيْهِ آدَمَ، وَأَهْبَطَ اللهُ فِيْهِ آدَمَ اِلَى الْاَرْضِ، وَفِيْهِ تَوَفَّى اللهُ آدَمَ، وَفِيْهِ سَاعَةٌ لَايَسْأَلُ الْعَبْدُ فِيْهَا شَيْئًا اِلَّا أَعْطَاهُ، مَا لَمْ يَسْأَلْ حَرَامًا، وَفِيْهِ تَقُوْمُ السَّاعَةُ، مَا مِنْ مَلَكٍ مُقَرَّبٍ وَلَاسَمَاءٍ وَلَا اَرْضٍ وَلَارِيَاحٍ وَلَا جِبَالٍ وَلَابَحْرٍ اِلَّا هُوَ مُشْفِقٌ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه.

ترجمه : ابولبابه بن عبد المنذر ﷺ فرمائي : نبي ﷺ فرمايلي دي : «بيشکه د جُمعے ورځ د ټولو ورځو سرداره ده، او د الله په نزد د ټولو ورځو نه ډيره عظمت والا ده، او دا ورځ د الله په نزد يوم الاضحیٰ او يوم الفطر نه (هم) ډيره عظمت والا ده، پدے کښې پنځه خصلتونه دي : (اول) پدے کښې الله آدم (عليه السلام) پيدا کړيدے، او پدے کښې الله آدم زمکے ته راکوز کړيدے، او پدے کښې الله آدم وفات کړيدے، او پدے کښې يو داسے ساعت دے چه په هغے کښې يو بنده د څۀ شي سوال نۀ کوی مګر الله ئے ضرور ورکوی، ترڅو ئے چه د حرامو سوال ئے نۀ وی کړے، او پدے کښې به قيامت قائميږی، هيڅ مقرّب ملائك، آسمان، زمکه، هواګانے، غرونه او دريابونه نشته مګر دا (ټول) د جُمعے ورځے نه يَريږی» (پدے وجه چه پدے کښې قيامت قائميږی او پته نۀ لګی چه کوم وخت به راځی) (ابن ماجة)

تشريح : دا دليل دے چه د جمعے ورځ مطلقاً په ټولوورځو غوره ده اګرکه د عرفے او يوم النحر وی په هغوی هم غوره ده۔ او ددے ورځے ډير هيبت دے چه غير ذی روح څيزونو ته هم الله ددے خبر ورکړيدے چه پدے ورځ به قيامت راځی۔

درجة الحديث : اسناده حسن : اخرجه ابن ماجه (١٠٨٤) واحمد (٤٣٠/٣) قال المنذري في الترغيب (٤٩٠/١) في اسناده عبد الله بن محمد بن عقيل وهو ممن احتج به احمد وغيره وحسنه الالباني في صحيح الجامع (٢٢٧٦) وفي صحيح الترغيب (٦٩٥)

---

١١ – وَرَوٰى أَحْمَدُ عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ: اَنَّ رَجُلًا مِنَ الْاَنْصَارِ اَتَى النَّبِيَّ ﷺ فَقَالَ: اَخْبِرْنَا عَنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ مَاذَا فِيْهِ مِنَ الْخَيْرِ؟ قَالَ: «فِيْهِ خَمْسُ خِلَالٍ» وَسَاقَ اِلٰى آخِرِ الْحَدِيْثِ.

ترجمه : او امام احمدؒ د سعد بن معاذ ؓ نه روايت نقل کړيدے چه د انصارو نه يو سړے نبي ﷺ خواته راغلو عرض ئے اُوکړو : د جُمعے ورځے متعلق مونږ ته بيان کړه چه پدے کښې څه خوبيانے دي ؟ نبي ﷺ اُوفرمايل : « چه په دے ورځ کښې پنځه خصلتونه دي »، او (مذکوره) حديث ئے آخر پورے ذکر کړو۔

تشريح : د مشکاة په بعضو نسخو کښې سعد بن معاذ ذکر دے او په بعضو کښې سعيد بن معاذ دے او دا واړه د ليکونکو دا خطائي ده ځکه چه دا روايت په مروياتو د سعد بن معاذ کښې نشته بلکه دا په مروياتو د سعد بن عباده رئيس الخزرج کښې دے۔ او د سعيد بن معاذ په نوم څوک راوي نشته۔

درجة الحديث : اسناده حسن : اخرجه احمد (٢٨٤/٥) والبزار في مسنده (٢٩٤/١ رقم ٦١٥) وقال الهيثمي في المجمع (١٦٤/٢) فيه عبد الله بن محمد بن عقيل وفيه كلام وقد وثقه وبقية رجاله ثقات۔

---

١٢ – وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ، قَالَ: قِيْلَ لِلنَّبِيِّ ﷺ : لِأَيِّ شَيْءٍ سُمِّيَ يَوْمُ الْجُمُعَةِ؟ قَالَ: «لِأَنَّ فِيْهَا طُبِعَتْ طِيْنَةُ اَبِيْكَ آدَمَ، وَفِيْهَا الصَّعْقَةُ وَالْبَعْثَةُ وَفِيْهَا الْبَطْشَةُ، وَفِيْ آخِرِ ثَلَاثِ سَاعَاتٍ مِنْهَا سَاعَةٌ مَنْ دَعَا اللّٰهَ فِيْهَا اسْتُجِيْبَ لَهٗ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه : او ابو هريره ؓ فرمائي : نبي ﷺ ته اُووئيلے شو چه جُمعے ورځے ته په څۀ وجه (د جمعے) نوم کيخودے شوے دے؟ وے فرمايل : « پدے وجه چه پدے کښې ستا د پلار آدم (عليه السلام) ختهه پيدا شوے ده، او پدے کښې به صعقه (بيهوشي – شپيلۍ د قيامت) او (د قبرونو نه د دوباره ژوند دپاره) راپورته کيدل وي، او پدے کښې به بطشه (سخت رانيول) وي، او ددے په آخري درے وختونو کښې يو وخت دے (يعني د جُمعے آخري ساعت) چه چا

په هغې کښې د الله نه دعاء اُوکړه، دهغهٔ دپاره به قبوله شي»۔ (احمدؔ)

تشريح : مطلب د سوال دا دے چه جُمعه کښې خو معنیٰ د راجمع کيدلو ده نو دے کوم کارونو راجمع کړيدی؟ او څه خوبيانے پکښې دی۔

صعقه نه مراد اوله شپيلئ ده او د بعثت نه مراد دويمه شپيلئ ده چه په هغې سره به خلق راپورته کولے شي۔ او د بطشه نه مراد هغه جتکه وی چه په هغې کښې به د ټولو کائناتو په يو جرق رانيول وی۔

پدے روايت کښې هم دا بيان راغلو چه ساعت الاجابة په آخری درے ساعتونو کښې دريم ساعت دے، کوم چه غروب ته نزدے دے۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه احمد (۳۱۱/۲) وفيه علتان الفرج بن فضالة ضعيف وكذلك علي بن ابی طلحة لم يسمع من ابی هريرة كما اخبر الحافظ ابن حجر فی الفتح (۳٤٦/۲) بخلاف ما ذكره الهيثمی فی المجمع (١٦٤/۲) بقوله علی هذا الحديث مع حديث آخر اسناده صحيح رجالهما رجال الصحيح فليس بجيد حيث ان الفرج بن فضالة ضعيف فكيف يكون من رجال الصحيح. وضعفه الالبانی.

---

۱۳ – وَعَنْ اَبِي الدَّرْدَاءِ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «أَكْثِرُوا الصَّلَاةَ عَلَيَّ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، فَاِنَّهٗ مَشْهُوْدٌ تَشْهَدُهُ الْمَلَائِكَةُ، وَاِنَّ اَحَدًا لَنْ يُّصَلِّيَ عَلَيَّ اِلَّا عُرِضَتْ عَلَيَّ صَلَاتُهٗ حَتّٰى يَفْرُغَ مِنْهَا». قَالَ: قُلْتُ: وَبَعْدَ الْمَوْتِ؟ قَالَ: «اِنَّ اللهَ حَرَّمَ عَلَى الْاَرْضِ اَنْ تَاْكُلَ اَجْسَادَ الْاَنْبِيَاءِ، فَنَبِيُّ اللهِ حَيٌّ يُّرْزَقُ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او ابودرداء ؓ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمايلی دی : «د جُمعے په ورځ په ما باندے درود زيات وايئ، ځکه د جُمعے ورځ مشهود (يعنی حاضر شوے) ده، پدے ورځ ملائك حاضريږی، او هرڅوك چه پدے ورځ په ما باندے درود اُووائی، ما ته پيش کولے شی تردے چه هغهٔ ددے نه فارغيږی»۔ ابودرداء وائی : ما عرض اُوکړو چه آيا د مرګ نه روستو (هم تاسو ته درود پيش کيږی؟) وے فرمايل : «الله تعالیٰ په زمکه باندے حرام کړی دی چه د انبياؤ بدنونه اُوخوری، (بلکه) د الله نبی ژوندے وی (په برزخی ژوند سره) چه خوراکونه ورکولے شی»۔ (ابن ماجهؔ)

تشريح : وَبَعْدَ الْمَوْتِ؟ : مطلب د سوال دا دے چه پس د مرګ نه خو به ستاسو بدن مُبارك خاورے شوے وی نو څنګه به ستاسو حضور ته درود پيش کړے شی ؟ نو نبی ﷺ

اُوفرمایل : په زمکه باندے حرام دی چه د انبیاؤ بدنونه خاورے کړی بلکه د الله نبی په قبر کښې په برزخی ژوند سره ژوندے وی او د جنت نه ورته رزقونه او خوراکونه ورکولے شی او هر چه د دنیا په اعتبار سره دے نو وفات دے د دنیا سره ئے هیڅ تعلق نشته۔ انك میت وانهم میتون۔ الله ورته میت (مړ) وئیلے دے۔ لکه ددے خبرو تحقیق مخکښې جلدونو کښې تفصیلا ذکر شوے دے۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه ابن ماجه (١٦٣٧) والحديث رجاله ثقات الا انه فيه زيد بن ايمن لم يوثقه غير ابن حبان ولم يرو عنه غير سعيد بن ابى هلال وترجمه الحافظ بقوله : مقبول" لكنه فى عداد المجهولين وزاد البخارى فذكر فيه علة اخرىٰ وهى ان رواية زيد عن عبادة بن السنى مرسلة آه راجع تهذيب التهذيب ولكن الحديث يشهد له حديث (٨) اوس بن اوس المتقدم۔

١٤ – وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَمُوْتُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَوْ لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ اِلَّا وَقَاهُ اللّٰهُ فِتْنَةَ الْقَبْرِ». رَوَاهُ اَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ وَلَيْسَ اِسْنَادُهُ بِمُتَّصِلٍ.

ترجمه : او عبد الله بن عمرو رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی : « نشته یو مسلمان چه د جُمعے په ورځ یا د جُمعے په شپه وفات شی مګر الله به ئے د قبر د فتنے (عذاب) نه بچ ساتی »۔ (احمدؒ، ترمذیؒ) او امام ترمذیؒ وئیلی دی : دا حدیث غریب دے او سند ئے متصل نهٔ دے۔

تشریح : دا روایت ثابت دے او پدے کښې عظیم فضیلت دے د بنده دپاره چه مؤمن وی او د جُمعے په ورځ یا د جُمعے په شپه مړ شی نو د قبر د عذاب نه به محفوظ وی خو دا فضیلت ګوره د مؤمن دپاره دے، نهٔ د مشرك کافر دپاره، که مشرك او کافر د عرفے په ورځ او د جُمعے په ورځ هم وفات شی، هُم د هغه دپاره د قبر عذاب نهٔ معاف کیدل شته او نه آسانیدل، او کوم روایات چه بعض مقلدینو لکه احسن الفتاوی والا ذکر کړیدی چه د جُمعے په ورځ په کفار او مشرکانو باندے عذابونه آسانیږی نو د هغے هیڅ حواله نشته او هسے خبره ده۔ او وائی دا ابونعیم النسفی په خپل کتاب کښې ذکر کړیدی۔ حال دا چه دا خو څه د حدیثو کتاب نهٔ دے۔ او نهٔ د دغه خبرو څه صحیح ثبوت شته۔

درجة الحديث : اسناده حسن : اخرجه احمد (١٦٩/٢) والترمذى ورجاله موثقون الا انه منقطع ربيعة بن سيف لم يسمع من عبد الله بن عمرو كما ذكر الترمذى لكن رواه الطبرانى موصولاً كما فى الفيض" وله طريق اخرىٰ فى المسند (١٧٦/٢ - ٢٢٠) وبه يتحسن الاسناد

وانظر تحفة الاحوذى)۔

١٥ - وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: اَنَّهُ قَرَأَ: ﴿اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ﴾ الآية، وَعِنْدَهُ يَهُوْدِيٌّ. فَقَالَ: لَوْ نَزَلَتْ هٰذِهِ الآيَةُ عَلَيْنَا لَاتَّخَذْنَاهَا عِيْدًا. فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: فَاِنَّهَا نَزَلَتْ فِي يَوْمِ عِيْدَيْنِ، فِيْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ، وَيَوْمِ عَرَفَةَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ غَرِيْبٌ.

ترجمه: او ابن عباس ﷺ نه روایت دے چه هغهٔ دا آیت تلاوت کړو: « الیوم اکملت لکم ودینکم" الآیة، او د هغهٔ په خوا کښې یو یهودی وو، وے وئیل: کهٔ دا آیت په مونږ نازل شوے وے نو مونږ به ددے آیت نه (او د هغهٔ ورځے نه) اختر جوړ کړے وے۔ نو ابن عباس ﷺ اُوفرمایل: (خبره شهٔ) دا آیت د دوه اخترونو په ورځ نازل شوے دے، چه د جُمعے او عرفے ورځ وه"۔ (ترمذیؒ) او امام ترمذیؒ وئیلی دی: دا حدیث حسن غریب دے۔

تشریح: بخاری کښې راځی چه دا سوال بعینهٖ یو یهودی په عمر فاروق باندے کړے وو، مقصد ددے یهودی دا وو چه صحابه کرامؓ په خپل دین کښې بدعات پیدا کړی او صحیح دین ګډوډ شی یا ئے دغه مقصد نهٔ وو خو هسے ورانے رابنکاره کول ئے مقصد وو۔ او خپل غلط خواهش ئے رابنکاره کړو۔ لیکن ابن عباسؓ او عمر فاروق ورته ډیر مزیدار جواب ورکړو چه اسلام کښې بل اختر پیدا کولو ته هیڅ ضرورت نشته او دا آیت په دوه اخترونو کښې نازل دے چه یو د جُمعے ورځ وه او بل د عرفے ورځ وه نو دین کښې مونږ بدعات نهٔ پیدا کوو۔ لهذا عُرسونه او عید میلاد النبی وغیره پیدا کول ټول سُو چه بدعات دی۔

دا حدیث قوی دلیل دے په رد د بدعاتو کښې چه کوم شی له الله څو مره مرتبه ورکړی وی نو د هغے نه به پکښې د ځان نه زیادت نهٔ کوے، او د ځان نه به وختونو او ځیزونو ته فضیلتونه نشی ورکولے ورنه بیا به بدعت جوړ شی۔

نو قبر، خانقاه، غارونو ته به د ځان نه شریف نشی وئیلے۔

بیا عید اختر ته وائی لیکن په عرف کښې هر د خوشحالئ ورځے ته عید وئیلے شی۔

درجة الحدیث: اسناده صحیح: اخرجه الترمذی) وقال الالبانی فی تعلیق المشکاة (صحیح)

١٦ - وَعَنْ اَنَسٍ، قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَا دَخَلَ رَجَبُ قَالَ: «اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيْ رَجَبَ وَشَعْبَانَ وَبَلِّغْنَا رَمَضَانَ». قَالَ: وَكَانَ يَقُوْلُ: «لَيْلَةُ الْجُمُعَةِ لَيْلَةٌ اَغَرُّ، وَيَوْمُ الْجُمُعَةِ يَوْمٌ اَزْهَرُ». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي الدَّعَوَاتِ الْكَبِيْرِ.

ترجمه : او انس ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ به چه کله رجب داخل شو نو داسے به ئے فرمايل : «اللهم بارك الخ» (اے الله ! په رجب او شعبان کښې مونږ له برکت واچوے او رمضان ته مو (په خير سره) ورسوے» انسؓ وائي : رسول الله ﷺ به فرمايل : «د جُمعے شپه روښانه (ښائسته) شپه ده، او د جُمعے ورځ پرقيدونکے ورځ ده»۔ (بيهقيؒ)

تشريح : ددے نه د نبي ﷺ د رمضان او د هغے د برکات او عباداتو سره د شوق اندازه کيږي چه د رمضان د راتلو دپاره به ئے د مخکښې نه دعا طلب کوله، ځکه د نبي ﷺ د سترګو يخوالے د الله په عبادت کښې وو۔

لَيْلَةٌ اَغَرُّ : مطلب دا چه کله به د جُمعے شپه وه نو نبي ﷺ به فرمايل : "هذه ليلة اغر" دا سپينه شرافت والا شپه ده۔ او د جُمعے ورځ باره کښې به ئے وئيل : "هذا يوم ازهر" دا د چمك والا ورځ ده۔ چه دا دلالت کوي په فضيلت ددے ورځ او ددے شپے۔ دا يا نورانيت يا ذاتي دے يا د عبادت په وجه دے کوم چه په دے کښې واقع کيږي۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف: اخرجه البيهقي في الدعوات الكبير وكذلك في الشعب وتفرد به زياد النميري وعنه زائدة بن ابي الرقاد وقال البخاري زائدة عن زياد منكر الحديث وجهله جماعة ولكن قال البزار : لا بأس به وانما نكتب من حديثه ما لم نجد عند غيره كذا في التهذيب وفيه ايضاً زياد وهو ضعيف ۔ ومن طريقه رواه ابن عساكر في تاريخه (٢٣٢/١١)

انتهى المجلد الخامس من الحق الصريح

بحمد الله وكرمه ويتلوه المجلد السادس من باب وجوب الجمعة - ان شاء الله تعالىٰ - والحمد لله اَولاً وآخراً ظاهراً وباطناً وسبحانك اللهم وبحمدك اشهد ان لا اله الا انت استغفرك واتوب اليك

وكتبه ابوزهير سيف الله البشاوري وصلى الله على نبينا محمد وآله وصحبه وسلم

(١٤٣٠/ آخرجمادى الاولىٰ الهجرية - الموافق : ٢١/٥/٢٠٠٩)



فهرست د الحق الصريح شرح مشكوة المصابيح (۵) جلد

